مظاهر حق

د مشکوٰة المصابیح پښتو شرحه

تالیف

علامه نواب قطب ال…

ترتیب او تر…

مولانا عبدالله جاوید غازی پوری (فاضل دار العلوم دیوبند)

دوهم جلد ۲

مباحث

کتاب الصلوٰة

۱. حدیثونه د اعراب سره
۲. تحت لفظي ترجمه
۳. حدیثونو تخریج
۴. د لغاتو حل

صداقت کتب خانه
ارگ بازار کندهار

مظاهر حق جدید

د مشکوه المصابیح پښتو شرحه

دوهم جلد

(۲)

تالیف

علامه نواب محمدقطب الدین خان دهلوي رحمة الله علیه

تزئین اوترتیب

مولاناعبدالله جاوید غازي پوري (فاضل دارالعلوم دیوبند)

ځانګړتیاوي

١ : حدیثونه د اعراب سره.

٢: تحت لفظي ترجمه.

٣: د حدیثونو تخریج.

٤: د لغاتو حل .

مباحث

کتاب الصلوة

صداقت کتب خانه

بسم الله الرحمن الرحیم

(د مشکوٰة المصابیح پښتو شرحه)

مظاهر حق

تالیف: نواب محمدقطب الدین خان دهلوي رحمه الله

ترتیب او تزئین: مولاناعبدالله جاوید غازي پوري (فاضل دیوبند)

خپرندوی: صداقت خپرندویه ټولنه

پښتو ژباړه: محمد رسول سعید

تصحیح کوونکي: بسم الله رحیمي، مولوي عبدالکریم کریمي، مولوي عبدالجبار

لومړی چاپ: ۱۳۹۲ش - ۲۰۱۴ ع.

پنځم چاپ :۱۳۹۹ل. / ۲۰۲۰م.

د خپرونو لړ: ۱۸۳

چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

د تر لاسه کولو ځایونه:

صداقت خپرندویه ټولنه-کندهار

اوله ناحیه، نوی سړک- کریم اعتماد مارکېټ

Sadaqat.books@gmail.com / ۰۷۰۰۳۰۵۴۰۷

کندهار: صداقت خپرندویه ټولنه- ارگ بازار- قلم او کتاب مارکېټ ۰۷۰۰۳۰۹۲۴۴ .

کابل: صداقت خپرندویه ټولنه،کوټه سنگي مینه یار مارکېټ او **اکسوس کتاب پلورنځی**. **هلمند** :تاج منور خپرندویه ټولنه. **هرات:** صداقت کتاب پلورنځی- کوچه گدام. **جلال آباد:** مومند خپرندویه ټولنه.ننگرهار مارکېټ. **غزني:** نعماني کتاب پلورنځی. **پکتیکا:** مجاهد کتاب پلورنځی. **خوست:** اسلامي کتاب پلورنځی.

د مظاهر حق دوهم جلد فهرست

بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيمِ

كِتَابُ الصَّلٰوةِ

د لمانځه بيان

صلوة په لغت کي دعاء ته وايي او د شريعت په اصطلاح کي صلوة يو څو خاصو خبرو او کارو ته وايي چي د هغه پيل د تکبير څخه او ختم يې پر سلام باندي کيږي ، د صلوة دمادې د اشتقاق په باره کي يو څو قولونه نقل کيږي :

امام نووي رحمة الله عليه د مسلم په شرح کي ويلي دي چي د صلوة ماده اشتقاق (صلوين) ده چي د سرين (کوناټو) دوا ړو هډوکو ته وائي، په لمانځه کي ددې دوا ړو هډوکو درکوع او سجدې په وخت کي زيات حرکت وي نو په دې وجه لمانځه ته صلوة ويل سوي دي .

ځيني عالمان وايي چي صلوة په اصل کي د مصلی څخه اخيستل سوی دی ددې معنی ده کوږ لرګی په اور ګرمولو سره سيده کول ، نو لمونځ ته صلوة ځکه وائي چي د انسان په مزاج کي د نفس اماره په وجه کوږ والي وي هرکله چي يو سړي لمونځ کوي نو دالله پاک دعظمت او بيري د ګرمۍ په وجه چي هغه په عبادت کي دانتهائي قرب خداوند په وجه حاصليږي هغه کوږوالي ختمويٌ . ګويا مُصلي يعني (لمونځ کونکی) دهغه مادې اشتقاق له مخه دخپل نفس اماره دعظمت خداوندي او هيبت ګرمي سره ګرمونکي سو . نو کوم سړی چي د لمانځه په حرارت سره ګرم سو او د هغه کوږ والي دلمانځه په وجه ليري سو نو هغه ته دآخرت د اور يعني دوزخ څخه دګرميدو ضرورت پاته نه سو .ځکه چي د الله پاک څخه دا اميد دی چي هغه خپل د غه بنده چي هغه په دنيا کي دلمانځه پابندي وکړه اويوداسي حرکت يي نه وکړ چي د عذاب خداوندي موجب وي نو هغه به په اورکي نسي اچول کېدلای .

ددې اصطلاحي تعريف څخه وروسته په دې پوه سه چي لمونځ داسلام هغه لوی رکن اوستن ده چي د هغې د ارزښت او عظمت په باره کي داميرالمؤمنين حضرت علي کرم الله وجهه دا تاثر نقل سوی دی چي هرکله به د لمونځ وخت راغلی نو دده مبارک رنګ به بدل سو خلکو پوښتنه وکړه چي امير المؤمنين : ستا دا څه حالت دی فرمائي چي اوس ددې امانت [۱] داداء

۱- دا اشاره ده دې قرآني آيت ته : انا عرضنا الامانة على السماوات والارض والجبال فابين ان يحملنها واشفقن.... .

کولو وخت راغلی دی چي الله تعالی خپل آسمانونو غرونو او مځکي ته پيښ کړی وو او هغو ټولو د دې امانت داخيستلو څخه وبيرېدل او انکار يي وکړ. احياء العلوم

دلمانځه په تاکيد اوفضائلو د قرآن مجيد مخونه ډک دي.. لمونځ ادا کولو اود هغه پابندي کولو لپاره چي په کومه سختۍ سره حکم سوی دی هغه خپله ددې عبادت د ارزښت او فضيلت دليل دی، د ايمان څخه وروسته تر ټولو زيات پر لمانځه باندي زور ورکړل سوی دی.

د قرآن کريم دا يو څو آياتونه ولولئ :

إِنَّ الصَّلاَةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَّوْقُوتًا ۱۰۳. سورة النساء

ژباړه : بيشکه پر مؤمنانو باندي لمونځ پر خپل وخت باندي فرض دي.

حَافِظُواْ عَلَى الصَّلَوَاتِ والصَّلاَةِ الْوُسْطَى . سورة البقرة ۲۳۸

ژباړه : پابندي کوئ د لمنځونه په خاصه توګه د منځني (مازديګر) دلمانځه.

اِنَّ الْحَسَناتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ

ژباړه: ښېله شکه نيکۍ (يعني لمونځ) انسان د بدو او خرابو کارو څخه ساتي.

إِنَّ الصَّلاَةَ تَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاء وَالْمُنكَرِ وَلَذِكْرُ اللهِ أَكْبَرُ . سورة عنكبوت ۳۶

ژباړه : بېشکه لمونځ د بدو او خرابو کارونو څخه انسان ساتي او بيشکه د الله تعالی د ذکر لويه مرتبه او لوی اثر دی.

په هر حال لمونځ يو داسي غوره او محبوب عبادت دی چي د هغه دبرکتونو او او سعادتونو څخه يې د هيڅ نبي شريعت نه دی محروم کړي، د حضرت آدم عليه السلام څخه تر نبي آخر زمان ﷺ پوري د ټولو رسولانو پر امت باندي لمونځ فرض وو. ليکن د لمانځه په کيفيت اوتعين کي د هر امت لپاره تغير کيدی، د رسول الله ﷺ پر امت په ابتداء رسالت کي دوه وخته لمونځ فرض وو يو د لمر ختلو مخکي او يو د لمر ډوبيدو مخکي، د هجرت څخه يو نيم کال مخکي چي رسول الله ﷺ په معراج کي د ذات حق تعالي جل مجده دقربت حقيقي عظيم او افضل ترين شرف تر لاسه کړ نوپر دې مقدس او با سعادت موقع باندي د پنځه وخته لمونځ دغه لويه او عزتمنده تحفه هم ورته وسپارل سول. د سهار، ماپښين، مازديګر، ماښام او ماخستن ددې پنځه وخته لمنځونو فريضه يوازي ددې امت امتيازي خصوصيت دی. د مخکي پر امتونو يوازي د سهار لمونځ فرض وو او پر چا د ماپښين او پر چا د مازديګر. د اسلام په ټولو عباداتو کي يوازي لمونځ هغه عبادت دی چي تر ټولو افضل او اعلی مقام ورته حاصل

دی پر دې اتفاق دی چي لمونځ د اسلام لوی رکن دی بلکه که داسي وويل سي چي د اسلام دار او مدار پر دې عبادت دي نو مبالغه به نه وي .

پر هر عاقل بالغ مسلمان باندي پنځه وخته لمونځ فرض عين دی . امير وي که فقير وي، ناروغ وي که روغ، مقيم وي که مسافر، هر يوه ته پنځه وخته په هغه آدابو او شرائطو او طريقه سره چي الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ دلمانځه په اړه ښودلې ده د الله ﷻ په دربار کي حاضري ورکول او د خداوند قدوس عظمت او لوئي او خپله بې کسي او لاچاري او د عجز او غريبۍ ښکاره کول ضروري ده، تردې چي کوم وخت په ميدان جنګ کي چي د جنګ شغلې خيږي او ښځه تر ټولو ځخه زياته او سخت درد کي اخته وي .بيا هم ورته دلمانځه پريښودل جائز نه دي بلکه دهغه په ادا کولو کي دتاخير کولو هم اجازت نسته تردې که د يوې ښځی د ماشوم دپيدا کېدو پر وخت د ماشوم يو برخه دهغې دخاص برخي ځخه را ووځي . که څه هم وينه وتلې وي نو هغه وخت هم هغې ته دلمانځه کولو امر سوی دی او په لمانځه کي توقف کول جائز[1] نه دي .

کوم سړی چي دلمانځه د فرضيت ځخه انکار وکړي ،هغه کافر دی .او د هغه پرېښودونکی دګناه کبيره مرتکب، فاسق او فاجر دی، بلکه ځيني جليل القدر صحابه کرام مثلا حضرت عمر فاروق ﷜ وغيره لمونځ پريښودونکي ته کافر وائي . د امام احمد رحمة الله عليه هم دا مذهب دی، امام شافعي او امام مالک رحمة الله عليه په لمانځه پريښودلو سزا دځټ وهلو قائل دي ،امام اعظم رحمة الله عليه که څه هم هغه د کفر قائل نه دی مګر د هغوی په نزد هم د لمانځه پرېښودونکي لپاره سخته سزا ده .

د دې سره سم د لمانځه په اړه هغه ټول احاديث ذکر کيږي، چي د هغه ځخه دلمانځه د ارزښت او عظمت او د هغه د فضيلت ځرګندونه کيږي او د لمانځه چي کوم احکام او فضائل دي دهغو ثبوت کيږي .

---

[1] - علم الفقه ۱۲.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

﴿۵۱۸﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابوهريرة رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل :

وَسَلَّمَ: الصَّلَوَاتُ الْخَمْسُ وَالْجُمُعَةُ إِلَى الْجُمُعَةِ وَرَمَضَانُ إِلَى رَمَضَانَ

پنځه لمنځونه او د يوې جمعې څخه تر بلي جمعې پوري او د رمضان څخه تر بل رمضان پوري

مُكَفِّرَاتٌ لِمَا بَيْنَهُنَّ إِذَا اجْتَنَبَ الْكَبَائِرَ . رواه مسلم

هغه ګناهونه رژوي چي د دې په منځ کي وي په دې شرط چي د لويو ګناهو څخه ځان وساتي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۱\۲۰۹، رقم: ۱۶- ۲۳۳.

تشريح :د حديث مطلب دادی که يو سړی په پابندي سره پنځه وخته لمونځ وکړي د جمعي لمونځ په پوره آداب سره ادا کړي او همداسي د روژي شريفي روژي ونيسي نو د دې په مينځ کي چي کوم کوچني ګناهونه صادر سوي دي هغه ټول ختميږي البته کبيره ګناهونه نشي بخښل کيدای، هو که الله پاک وغواړي نو هغه هم معاف کولای سي .

دلته يو معمولي اشتباه پيدا کيږي چي هره ورځ په پنځه وخته لمنځونو کي ټول ګناهونه معاف کيږي نو بيا دا جمعه وغيره کوم ګناهونه ختم کوي؟ د دې شبهې دفعه کولو لپاره ملا علي قاري رحمة الله عليه فرمائي چي په دې ټولو کي د ګناهونو معاف کولو او ختمولو صلاحيت دی . که ګناه صغيره وي ،نو دا دړې سره ختموي کنې په هغه کي د هر يوه په بدله کي بې شميره نيکی ليکل سوي دي چي د هغه په وجه په درجو کي لوړوالی راځي .

شيخ عبد الحق رحمه الله عليه فرمائيلي دي چي دغه دړې سره صغيره ګناهونو لپاره کفاره دي او د هغو د ختمولو صلاحيت لري او که په هغو کي يو د ګناه کفاره جوړه نه سي ،نو دوهم کفاره کيږي،مثلا په لمانځه کي د کمي او د نقصان په وجه که هغه لمونځ د ګناهولپاره کفاره جوړه نسي نو جمعه هغه ختموي او په جمعه کي هم که د يوې کمی په وجه د کفاره کيدو صلاحيت پاته نسي نو بيا روژه د هغه لپاره کفاره کيږي او که ټول د کفاره کيدو صلاحيت لري نو د دا ټولو يو ځاي کيدو سره ګناوي ټوله په بنه ډول ختموي او د کفارې د زياتوب باعث کيږي . د

دې مثال داسې دی لکه د یو څو ډیوو که په یو ځای کې یوه ډیوه وي نو تیاره به ختمه سي او رڼا به کمه وي او که ډیوې زیاتې وی نو نور او رڼا به په هغه حیثیت سره زیاته وي.

﴿۵۱۹﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَأَيْتُمْ لَوْ أَنَّ نَهْرًا

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: ایا تاسو لیدلی دی چې ویاله وي

بِبَابِ أَحَدِكُمْ يَغْتَسِلُ مِنْهُ كُلَّ يَوْمٍ خَمْسَ مَرَّاتٍ هَلْ يَبْقَى مِنْ دَرَنِهِ شَيْءٌ

د یو چا په دروازه کې او هغه هره ورځ پنځه ځله په هغه کې غسل کوي نو ایا د هغه پر بدن به خیري پاته سي،

قَالُوا لَا يَبْقَى مِنْ دَرَنِهِ شَيْءٌ قَالَ فَذٰلِكَ مَثَلُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ يَمْحُو اللّٰهُ

صحابه کرامو عرض وکړ چې د هغه پر بدن به په داسې حالت کې هیڅ خیره پاته نه سي نو رسول الله ﷺ وفرمایل: د پنځو لمونځونو هم دا کیفیت دی الله تعالی معافوي

بِهِنَّ الْخَطَايَا . متفق عليه

ددې له کبله (کوچني) ګناهونه. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\ ۱۱، رقم: ۵۲۸، ومسلم ۱\ ۴۶۲، ۴۶۳، رقم: ۲۸۳- ۶۶۷.

﴿۵۲۰﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ إِنَّ رَجُلًا أَصَابَ مِنِ امْرَأَةٍ قُبْلَةً فَأَتَى النَّبِيَّ

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی چې یو سړي د یوې ښځې څخه مچه واخیستل، نو هغه راغلی نبي کریم ﷺ ته

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالَى (وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ

او د پیښې څخه یې خبر کړ، نو الله تعالی دا آیت نازل کړ: واقم الصلوة طرفي النهار

وَزُلَفًا مِّنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ) فَقَالَ الرَّجُلُ يَا رَسُولَ

و زلفا من الليل....) يعني ته د ورځي په دواړو طرفونو كي سهار او ماښام او څو ساعته د شپې لمونځ قائم ساته ښشكه نيكۍ بدۍ ليري كوي ، هغه سړي وويل اې د الله رسوله !

اللهِ أَلِيْ هٰذَا ؟ قَالَ لِجَمِيْعِ أُمَّتِيْ كُلِّهِمْ . وفي رواية لِمَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ أُمَّتِيْ .

متفق عليه

ايا دا حكم زما لپاره دى؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : زما د ټول امت لپاره دى ، او په يوه روايت كي دا الفاظ دي كوم سړي چي زما په امت كي په دې عمل وكړ د هغه لپاره دا حكم دى . بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ٢\٨، رقم: ٥٢٦، ومسلم ٤\٢١١٦، رقم: ٤٢- ٢٧٦٣.

تشريح : د كوم چا چي دا واقعه ده چي هغه يوه پردۍ ښځه مچ كړل او د هغه نوم ابو ليسير رضي الله عنه وو، ترمذي د هغه يو روايت نقل كړى دى چي په هغه كي راوړي چي ماته يوه ښځه د خرما اخيستلو لپاره راغله،ما هغې ته وويل چي زما په كور كي تر دې ښه خرما ده هلته ورسه او وه يې ګوره، نو هغه زما سره زما كورته راغله هلته زه د شيطان په فريب كي راغلم او د جذبات په غالبيدو سره مي د هغه ښځي سره مچه وغيره وكړل هغې زما پر دې ناوړه رويه باندي زما په تنبيه كولو سره وويل د الله بنده د الله جل جلاله د قهر څخه وبيرېږه نو د الله جل جلاله د بيري څخه زما زړه وريپيدى ، او زه ډير شرمنده او مخ توريدو سره د رسالت په دربار كي حاضر سوم نو د رسالت په دربار كي چي كومه معامله وسوه هغه په دغه حديث كي ذكر سوې ده .

په آيت كريمه كي (طرف النهار) يعني د ورځي د اول او د آخــري څخه د ورځي ابتدائي برخه او انتهائي برخه مراد ده .ددې مطلب دا سو چي د ورځي د اولي برخي څخه فجر (سهار) لمونځ او آخري برخي څخه د ماپښين او مازديګر لمونځ مراد دى. همدارنګه د (زلفا من الليل) يعني د شپې څو ساعته څخه د ماښام او ماخستن لمونځ مراد دى . همدارنګه اوس به ددې آيت كريم مطلب دا وي چي سهار،ماپښين، مازديګر ،ماښام او ماخستن به لمونځ كوي ځكه نيكي يعني لمنځونه بدي ختموي .

﴿٥٢١﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنِّيْ أَصَبْتُ حَدًّا فَأَقِمْهُ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دى چي يو سړى حاضر سو او عرض يې وكړ چي اې د الله رسوله ! ما يو داسي كار وكړ چي پر هغه حد واجب دى نو تاسو حد جاري كړئ

عَلَيَّ قَالَ وَلَمْ يَسْئَلْهُ عَنْهُ وَحَضَرَتِ الصَّلاَةُ فصلى مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

پر ما باندي ، د راوي بيان دی چي رسول الله ﷺ د هغه څخه هيڅ پوښتنه ونه کړل او د لمانځه وخت راغلی هغه سړي د رسول الله ﷺ سره لمونځ ادا کړ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّلٰوةَ قَامَ الرَّجُلُ فَقَالَ

کوم وخت چي رسول الله ﷺ د لمانځه څخه فارغ سو نو هغه سړی ودرېدی او عرض يې وکړ چي

يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي أَصَبْتُ حَدًّا فَأَقِمْ فِيَّ كِتٰبَ اللّٰهِ قَالَ أَلَيْسَ قَدْ صَلَّيْتَ مَعَنَا

اې د الله رسوله ! ما د حد وړ جرم کړی دی تاسو د کلام الهي سره سم پر ما حکم وکړئ ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ايا تا زموږ سره لمونځ نه وکړ ؟

قَالَ نَعَمْ قَالَ فَإِنَّ اللّٰهَ قَدْ غَفَرَ لَكَ ذَنْبَكَ أَوْ حَدَّكَ . متفق عليه

هغه وويل: هو، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : الله ﷻ ستا ګناه يا ستا حد و بخښي .بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۱۲\ ۱۳۳، رقم: ۶۸۲۳، ومسلم ۴\ ۲۱۱۷، رقم: ۴۴- ۲۷۶۴.

تشريح : دلته دا مه ګڼئ چي د هغه سړي الفاظ اصبت احدا (يعني زما څخه دا سي کار سوي دی) چي پر هغه حد واجب دی، د دې څخه دا معلوميږي چي هغه يو داسي کبيره ګناه مثلا غلا وغيره کړې وه چي پر هغه حد واجبيږي،او رسول اللهﷺ هغه ته د لمانځه زيري واوروی، نو د دې څخه دا ثابته سوه چي د لمانځه په وجه کبيره ګناه هم بخښل کيدای سي .

بلکه د دې مطلب دا دی چي د هغه څخه يو داسي ګناه صغيره سوې ده چي په حقيقت کي خو داسي نه وه چي پر هغه حد جاري سوی وای، مګر هغه سړي د (صحابيت) پر عظيمه مرتبه وو، چيري چي په معمولي ګناه سره هم د الله ﷻ د ېيري زړه لړزيږي او يو معمولي معصيت هم د زړه او دماغ هر کونج ته ځي ،ځکه هغه دا ګمان وکړ چي زما څخه يو داسي کار سوی دی چي په هغه کي د شريعت له مخي حد جاري سي نو هغه د رسالت و دربار ته په راتلو سره داسي ذکر وکړ چي د هغه څخه په ښکاره معلوميده چي د هغه څخه واقعي يو داسي لويه ګناه سوې ده چي د يو سختي سزا يعني د حد مستوجب (لايق) دی يا داسي وويل سي چي حد څخه د هغه مراد تعزير (سزا) وه

رسول الله ﷺ د هغه سړي څخه د هغه ګناه حقیقت ځکه نه وپوښتی چې رسول الله ﷺ ته د وحي په ذریعه معلومه سوې وه چې هغه سړي څه ډول ګناه کړې ده ځکه رسول الله ﷺ چې هغه ته د ګناه د بخښني زیری ورکړی نو د خپل ځان څخه یې دا فیصله نه وه کړې ، بلکه څه وخت چې رسول الله ﷺ ته د وحي په ذریعه الله تعالی وښودل چې د ده ګناه داسي ګناه نه ده چې پر هغه حد جاري کړل سي بلکه داسي ګناه ده چې د لمانځه په ذریعه معاف سوې ده نو رسول الله ﷺ هغه ته دا زیری ورکړ.

﴿۵۲۲﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابن مسعود ﷜ څخه روایت دی چې ما د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه:

أَيُّ الْأَعْمَالِ أَحَبُّ إِلَى اللهِ قَالَ الصَّلَاةُ عَلَى وَقْتِهَا قُلْتُ ثُمَّ أَيٌّ قَالَ ثُمَّ بِرُّ

د الله ﷻ په نزد تر ټولو غوره کوم عمل دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : پر خپل وخت لمونځ کول ، ما بیا پوښتنه وکړه چې تر دې وروسته کوم عمل غوره دی؟ . رسول الله ﷺ وفرمایل : نیکي کول

الْوَالِدَيْنِ قُلْتُ ثُمَّ أَيٌّ قَالَ ثُمَّ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ قَالَ حَدَّثَنِي بِهِنَّ

د مور او پلار سره ، ما بیا پوښتنه وکړه چې تر دې وروسته کوم عمل، رسول الله ﷺ وفرمایل د الله په لاره کي جهاد کول، ابن مسعود ﷜ وایي دا خبري ما ته رسول الله ﷺ وفرمایلې

وَلَوِ اسْتَزَدْتُهُ لَزَادَنِي. متفق علیه

او که ما نوري پوښتلي وای نو ده مبارک به نوري هم را ته ښودلي وای . بخاري او مسلم .

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري) ۹/۱۲، رقم ۵۲۷ ومسلم ۱/۹۰، رقم: ۱۳۹ - ۸۵.

تشریح : په دې پوه سئ چې د غوره او افضل اعمالو په باره کي مختلف احادیث نقل سوي دي .د دې حدیث څخه دا معلومیږي چې د الله تعالی په نزد د ټولو څخه غوره او محبوب اعمال دا دري دي خو په نورو حدیثونو کي مذکور دي چې د اسلام بهترین او افضل اعمال دا دي چې (غریبانو او مسکینانو باندي) ډوډي وخوري، د اسلام تبلیغ وکړلای سي او په شپه کي هغه وخت چې خلک په آرام سره په بسترو کي په خواږه خوب بیده وي د الله تعالی عبادت او لمونځ وکړلای سي.

همداسي په ځينو حديثونو كي نقل سوي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل تر ټولو بهترين او افضل عمل دادي چي خلک ستا د ژبي او ستا د لاس څخه يعني تكليف څخه محفوظ وي .د ځينو حديثونو څخه دا معلوميږي چي افضل عمل د الله جلاله ذكر دی .

په هر حال همداسي په نورو حديثونو كي د نورو عملونو په باره كي فرمايل سوي دي ، چي دا اعمال بهترين او افضل دي .

نو اوس په دې ټولو حديثو كي به تطبيق داسي وي چي دا به وويل سي چي رسول الله ﷺ د هر يوه د رضا او شوق او د هغه د مزاج سره سم جواب ورکړی دی، يعني چا چي د بهترين عمل په باره كي پوښتنه وكړه هغه ته يې هغه عمل وښودی چي د هغه وړيې وګڼلو او څه چي د هغه د فطرت او مزاج او د هغه د حال مناسب معلوم سول، دا بالكل داسي دی څرنګه چي موږ اكثر د يو خاص شي په باره كي يو وخت ووايو چي دا فلانی شی خو تر ټولو ښه دی، حال دا چي په زړه كي يې د هغه د ښه والي او فضيلت په باره كي دا خيال نه وي چي دا شی به په هر وخت او هر حال كي او د هر يوه لپاره تر ټولو غوره وي ،بلكه په زړه كي يې دا خيال وي چي دا شی په يو خاص وخت كي ښه او غوره دی نه چي هر وخت مثلا د خاموشي او سكوت معامله ده ،چيري چي مناسب وي ويلاي سي چي د سكوت يا د چوپتيا څخه افضل هيڅ شی نسته .

مقصد دا چي رسول الله ﷺ هر عمل ته د حال او مقام سره سم افضل فرمايلي دي .مثلا د اسلام په ابتداء كي جهاد د خلكو د حال مناسب وو، ځكه جهاد يې وفرمايلو چي دا تر ټولو بهترين او افضل عمل دی . يا همداسي يو سړی يا يو جماعت ئې وږي او برباد وليدی نو هغوی د مرستي او اعانت په وجه صدقه او خيرات طرف ته خلكو ته رغبت وركړ او وه يې فرمايل چي صدقه غوره عمل دی يا لمونځ د حق تعالی د قرب حقيقي ذريعه كيدو په وجه تر ټولو زيات ښه او غوره عمل وګرځوی . په هر حال په دې كي هر عمل د افضل ويلو وجهي او حيثيتونه مختلف دي .د هر يوه وجه او حيثيت پر خپل ځاي تر بلي افضل او اعلیٰ دی .

﴿۵۲۳﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ الْعَبْدِ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ و فرمايل : د (مسلمان) بنده

وَبَيْنَ الْكُفْرِ تَرْكُ الصَّلاَةِ . رواه مسلم .

او كفر تر منځ پريښودل د لمانځه دي . (يعني لمونځ يې پرده ده) . مسلم .

تخريج: صحيح مسلم ۱\ ۸۸، رقم: ۳۴ - ۸۲.

تشريح : دلته د (بين) لفظ محذوف دی يعني په دغه حديث کي دا عبارت پټ دی چي :تترک الصلواة وصلت بين العبد المسلم وبين الكفر : د دې مطلب دا سو چي لمونځ د مومن بنده او كفر په مابينځ كی په مثال د ديوال دی، چي بنده د دې په وجه كفر ته نسي رسيدلاي خو هر كله چي لمونځ پريښول سي نو داسي دي لكه د مابينځ ديوال چي وغورځـــــول سي، نو لمونځ پريښودل به د دي خبري سبب وي چي لمونځ پريښودونكی مسلمان كفر ته رسيږي .

په هر حال دا حديث د لمانځه پريښودونكي لپاره سخت تهديد (گواښنه) دی . او په دې كي دې ته اشاره ده چي هغه سړی چي لمونځ پريږدي دا ممكنه ده چي هغه كافر سي هر كله چي هغه د كفر او اسلام په مابينځ كي ديوال ختم كړو ،نو گويا هغه د كفر حد ته رسيدلی دی او هر كله چي هغه د كفر حد ته ورسيدی،نو كيدای سي چي دا لمونځ ترک كول هغه فسق وفجور او د الله جَلَّ جَلَالُهُ څخه په بغاوت او سركښی زړه ور كړي چي هغه د كفرپه دائره كي داخل كړي .

دا په پيل كي ښودل سوي دي چي د لمانځه پريښودونكي په باره كي د علماؤ مختلف اقوال دي اصحاب ظواهر خپله دا وايي چي لمونځ پريښودونكی كافر كيږي ،حضرت امام مالک او حضرت امام شافعي رحمة الله عليهما وايي چي د لمونځ پرېښودونكی كه څه هم نه كافر كيږي مگر د دې سركښۍ او بغاوت په وجه د دې وړ دی چي د هغه غاړه پرې كړل سي . د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه مذهب دادی چي كوم سړی لمونځ پريږدي د هغه سړی وهل او په بندي خانه كي اچول واجب دي تر داسي وخته چي دی لمونځ پيل كړي .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

﴿۵۲۴﴾: عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبادة بن صامت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روايت دی چي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل :

خَمْسَ صَلَوَاتٍ افْتَرَضَهُنَّ اللّٰهُ تَعَالٰى مَنْ أَحْسَنَ وُضُوْءَهُنَّ وَصَلاَّهُنَّ

پنځه لمنځونه دي چي الله جَلَّ جَلَالُهُ فرض كړي دي، كوم سړی چي د دې لمونځونو لپاره ښه اودس وكړي او ادا كړي دغه لمونځونه

لِوَقْتِهِنَّ وَأَتَمَّ رُكُوعَهُنَّ وَخُشُوعَهُنَّ كَانَ لَهُ عَلَى اللهِ عَهْدٌ أَنْ يَغْفِرَ لَهُ وَمَنْ

پر خپل وخت او ركوع يې په ښه ډول ادا كړي او د زړه په حضور سره يې ادا كړي د هغه لپاره د الله جل جلاله وعده ده چي هغه به بخښي او څوك چي

لَّمْ يَفْعَلْ فَلَيْسَ لَهُ عَلَى اللهِ عَهْدٌ إِنْ شَاءَ غَفَرَ لَهُ وَإِنْ شَاءَ عَذَّبَهُ.

رواه أحمد وأبو داود وروى مالك والنسائي نحوه.

داسي ونه كړي د هغه لپاره د الله هيڅ وعده نسته كه هغه بخښي او كه عذاب وركوي. احمد، ابوداؤد، مالك او نسائي

تخريج: الامام احمد في مسنده ٥\ ٣١٧ وابوداؤد ١\ ٢٩٥، ٢٩٦، رقم: ٤٢٥، والامام مالك في الموطا ١\ ١٢٣، رقم: ١٤ والنسائي ١\ ٢٣٠، رقم: ٤٦٠.

تشريح: دا حديث شريف ددې خبري دليل دى چي لمونځ پريښودونكى كافر نه دى بلكه د ګناه كبيره مرتكب كيږي. د ګناه كبيره د مرتكب په باره كي هم په دې ځان پوه كول پكار دي چي هغه دادى چي پر الله تعالى باندي دا واجب نه دي چي مرتكب كبيره ته عذاب وركړي بلكه ددې دار او مدار د هغه پر خوښي دى، كه وغواړي په عذاب كي به يې اخته كړي او كه وغواړي په خپل فضل او كرم سره به يې وبخښي، همدارنګه په دې هم پوهيدل پكار دي چي د ګناه كبيره مرتكب يعني كونكى به هميشه په دوږخ كي نه وي بلكه د الله په حكم سره به هغه چي څومره وخت لپاره په دوزخ كي واچول سي د هغه وروسته هغه خپله سزا پوره كولو سره جنت كي د داخليدو مستحق سي، دا اهل سنت والجماعت دا مذهب دى.

﴿٥٢٥﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوامامة رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

صَلُّوا خَمْسَكُمْ وَصُومُوا شَهْرَكُمْ وَأَدُّوا زَكَاةَ أَمْوَالِكُمْ وَأَطِيعُوا ذَا أَمْرِكُمْ

خپل پنځه لمنځونه كوئ او د (رمضان) د مياشتي روژې نيسئ د خپل مال زكوة ادا كوئ او د خپل حاكم اطاعت كوئ

تَدْخُلُوا جَنَّةَ رَبِّكُمْ . رواه أحمد والترمذي .

او تاسو به د خپل رب په جنت كي داخل سئ . احمد او ترمذي

تخريج: الامام احمد في مسنده ۵\۲۵۱، ۲۶۲، والترمذي ۲\۵۱۶، رقم: ۶۱۶.

تشريح: د حاكم څخه مراد پاچا، امير او مشر دى .ددې مطلب دادى چي مسلمانانو ته دا پكار ده چي د خپل باچا او امير د حكمو تابعداري او د هغوى د امر اطاعت وكړي مگر په دې كي يو شرط دى چي د اطاعت او فرمانبرداری دا حكم به تر هغه وخته پوري وي چي د هغوى يو حكم لا به د شريعت څخه وتلى نه وي او د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ د فرمان خلاف نه وي، كه داسي وي چي اميران او پاچاهان د شريعت د حدودو څخه تجاوز وكړي او يا غلط احكام وركړي يا داسي امر وكړي چي د قرآن او سنت خلاف وي،نو بيا يوازي دا نه چي د هغوى اطاعت او فرمانبرداري ضروري نه ده بلكه داسي پاچهان او اميران په صحيح لاره راوستلو او هغوى د قرآن او سنت پر بنو دل سوو لارو باندي په تلو او د هيواد او قوم چلولو لپاره مجبور كړل سوي دي .

او يا د حاكم څخه مراد علماء دي چي قرآن، سنت او د اسلامي شريعت د علم خاوندان چي هر كله مسلمانانو ته يو شرعي حكم وركړي،او هغوى دين او شريعت طرف ته راوبلي نو د هغوى پيروي پر هر مسلمان باندي لازمه ده . همدارنگه د حاكم څخه هر هغه سړى مراد كيداى سي چي د يو كار لپاره حكم او كار ساز ټاكل سوي وي يعني كه يو مسلمان يو سړى خپله په يو معامله كي حاكم او رهبر مقرر كړي نو د هغه لپاره ضروري ده چي هغه د هغه حاكم رهبر مشورې ومني او هغه چي كوم صحيح حكم وركړي د هغه پابندي لازمه ده .

﴿۵۲۶﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى

عمرو بن شعيب د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت كوي چي رسول ﷺ وفرمايل :

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرُوْا أَوْلَادَكُمْ بِالصَّلَاةِ وَهُمْ أَبْنَاءُ سَبْعِ سِنِيْنَ وَاضْرِبُوْهُمْ

كله چي ستاسو ماشومان د اوو كالو سي نو هغوى ته د لمانځه كولو حكم وركوئ او وهئ يې

عَلَيْهَا وَهُمْ أَبْنَاءُ عَشْرِ سِنِيْنَ وَفَرِّقُوْا بَيْنَهُمْ فِي الْمَضَاجِعِ . رواه أبو داود

چي لمونځ کوي کله چي د لسو کالو سي او د هغوی د خوب ځايونه سره جلا کړئ. ابوداؤد

وكذا رواه في شرح السنة عنه، وفي المصابيح عن سبرة بن معبد.

او همدا رنګه په شرح السنة او مصابيح کي د سبرة بن معبد څخه.

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\ ۳۳۴، رقم: ۴۹۵، البغوي في شرح السنة ۲\ ۴۰۶، رقم: ۵۰۵. مصابيح السنة ۱\ ۲۵۳، رقم: ۴۰۰.

تشريح: د دې حديث په ذريعه مسلمانانو ته حکم ورکول کيږي چي کله د هغوی ماشومان د اوو کالو سي نو د هغه وخت څخه دي دوی ته د لمانځه تاکيد ورکړي چي کله دی په کم عمري کي پر لمانځه کولو عادت سي او هر کله چي هغه بالغ کيدو ته نژدې سي يعني هغه د لسو کالو سي نو که يي د هغوی د ويلو او اوريدلو سره لمونځ نه کوی نو هغوی ته په تاکيد او وهلو سره لمونځ کول پکار دي او څرنګه چي په دې عمر کي د لمانځه کولو تاکيد ضروري دی همدا سي هغوی ته د لمانځه شرائط وغيره وربنودل هم پکار دي چي هغوی ته ورسره ورسره د لمونځ کولو صحيح طريقه معلومه سي.

د حديث د آخري جملې مطلب دادی چي ماشوم کله دغه عمر ته ورسيږي نو بيل بيل يې بيده کول پکار دي که دوه وروڼه، خور او ورور يا دوه نا بلده هلک او انجلۍ په يوه بستره کي بديږي نو په دې عمر کي د هغوی بسترې جلا کول پکار دي او دا پکار دي چي دوی يو ځاي بيده نه سي.

﴿۵۲۷﴾: وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْعَهْدُ الَّذِيْ

د حضرت بريدة رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه عهد

بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمُ الصَّلَاةُ فَمَنْ تَرَكَهَا فَقَدْ كَفَرَ. رواه أحمد والترمذي و النسائي وابن ماجه.

چي زموږ او د منافقانو په منځ کي دی هغه لمونځ دی چا چي لمونځ پرېښود ی هغه کافر سو. احمد، ترمذي، نسائي او ابن ماجه

تخريج: الامام احمد في مسنده ۵\ ۳۴۶ والترمذي ۵\ ۱۵، رقم: ۲۶۲۱، والنسائي ۱\ ۲۳۱، ۲۳۲، رقم: ۴۶۲ وابن ماجه ۱\ ۳۴۲، رقم: ۱۰۷۹.

تشریح: ددې مطلب دادی چي زموږ او د منافقانو تر مینځ د امن او امان معاهده (تړون) سوې ده چي موږ به هغوی نه قتلوو او د اسلام احکام به هغوی نه نافذ کوي نو ددې وجه داده چي هغوی به لمونځ کوی په جماعت کي به حاضریده او د اسلام د نورو ظاهري احکامو د تابعداری کولو په وجه مسلمانانو سره مشابهت لري نو چاچي لمونځ چي په ټولو عبادتونو کي غوره عبادت دی پرېښودی نو هغه د کافر په ډول سو نو مسلمانانو ته دا پکار ده چي هغوی د لمونځ په پرېښودلو سره کفر ظاهر نه کړي همداسي د دې جملې (فقد کفر) معنی دا سوه چي چا لمونځ پرېښودی هغه کفر ښکاره کړ.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

﴿۵۲۸﴾: عَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت عبدالله بن مسعود رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي یو سړی رسول الله ﷺ ته راغلی

وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي عَالَجْتُ امْرَأَةً فِي أَقْصَى الْمَدِينَةِ وَإِنِّي أَصَبْتُ

او ویې ویل: اې دالله رسوله! ما د مدینې پر غاړه د یوې ښځي سره ملاعبت (تر غاړه کېدل) وکړل او زه ورسېدم

مِنْهَا مَا دُونَ أَنْ أَمَسَّهَا فَأَنَا هٰذَا فَاقْضِ فِيَّ مَا شِئْتَ فَقَالَ لَهُ عُمَرُ لَقَدْ

د هغې سره ماسیوا د صحبت تر حده زه حاضر یم کوم حد (شرعي سزا) چي تاسو پر ما جاري کول غواړئ، عمر رضی اللہ عنہ ورته وویل:

سَتَرَكَ اللّٰهُ لَوْ سَتَرْتَ نَفْسَكَ قَالَ وَلَمْ يَرُدَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا

الله جل جلالہ ستا پرده پټه کړې وه (غوره وه) چي تا هم خپل عیب پټ کړی وای، عبدالله بن مسعود رضی اللہ عنہ وایي چي رسول الله ﷺ د هغه هیڅ جواب ورنه کړ

وَقَامَ الرَّجُلُ فَانْطَلَقَ فَأَتْبَعَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا فَدَعَاهُ

هغه سړی ولاړ سو او روان سو، رسول الله ﷺ د هغه رابللو لپاره یو سړی واستوی هغه راغلی

وَتَلاَ عَلَيْهِ هَذِهِ الْآيَةَ: وَ أَقِمْ الصَّلاَةَ طَرَفَيْ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنْ اللَّيْلِ إِنَّ

نو رسول الله ﷺ د هغه په مخكي دا آيت تلاوت كړ: و اقم الصلوة .. (سهار او ماښام او د شپې په څه برخه كي لمونځ كوه په تحقيق سره

الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذَلِكَ ذِكْرَى لِلذَّاكِرِينَ . فَقَالَ رَجُلٌ مِنْ

نيكي بدۍ رژوي دا د نصيحت منونكي لپاره نصيحت دى) په ناستو خلكو كي يوه سړي وويل:

الْقَوْمِ يَا نَبِيَّ اللَّهِ هَذَا لَهُ خَاصَّةً قَالَ بَلْ لِلنَّاسِ كَافَّةً. رواه مسلم

اې د الله رسوله ! دا حكم د دې سړي لپاره دى يا د ټولو لپاره ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل د ټولو خلكو لپاره دى .مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۴\۲۱۱۶–۲۱۱۷، رقم: ۴۲– ۲۷۶۳.

د لغاتو حل: (عالجت): أي داعبتها وزاولت منها ما يكون بين الرجل والمرأة غير أني ما جامعتها. (لوبي مني ورسره وكړې).

تشريح: ددې باب په اول فصل دريم حديث كي هم ددې آيت په باره كي ښودل سوي دي چي د ورځي اول څخه سهار او آخر څخه ماپښين او مازديگر مراد دى همداسي د شپې څو ساعته ماښام او ماخستن مراد دي، ابن حجر رحمة الله عليه ليكلي دي په اول فصل كي همداسي په حديث ۳ كي تير سوي دي هغه خو د يو سړي (ابواليسير) واقعه ده او دغه حديث چي دلته ذكر سوى دى دا د يو بل صاحب واقعه ده نو كيداى سي چي دغه آيت هم د هغه سړي د پاره په دوهم وار نازل سوى وي، خو محققينو ليكلي دي چي تعدد واقعه سره دا نه لازميږي چي آيت هم مكرر نازل سوي وي او نه دا حديث پر دغه دلالت كوي بلكه رسول الله ﷺ هغه آيت چي د مخكي سړي په باره كي نازل سوى وو د سند په توگه د دې سړي په مخ كي تلاوت كړ.

﴿۵۲۹﴾: وَعَنْ أَبِيْ ذَرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ زَمَنَ الشِّتَاءِ

د حضرت ابوذر ﷺ څخه روايت دى چي نبي كريم دباندي راووتى د يخ په فصل (ژمي) كي

وَالْوَرَقُ يَتَهَافَتُ فَأَخَذَ بِغُصْنَيْنِ مِنْ شَجَرَةٍ قَالَ فَجَعَلَ ذَلِكَ الْوَرَقُ يَتَهَافَتُ

چي د ونو پاڼي رژېدلې رسول الله ﷺ د يوې وني ښاخ ونيوى او د هغه څخه پاڼي راتوى سوې

قَالَ فَقَالَ يَا أَبَا ذَرٍّ قُلْتُ لَبَّيْكَ يَارَسُوْلَ اللهِ قَالَ إِنَّ الْعَبْدَ الْمُسْلِمَ لِيُصَلِّي

رسول الله ﷺ وفرمايل : اې ابوذره ! ما وويل: لبيک اې د الله رسوله ! نو رسول الله ﷺ راته وفرمايل : هر كله چي مسلمان بنده خاص د الله ﷻ لپاره لمونځ کوي

الصَّلاَةَ يُرِيْدُ بِهَا وَجْهَ اللهِ فَتَهَافَتُ عَنْهُ ذُنُوْبُهُ كَمَا يَتَهَافَتُ هٰذَا الْوَرَقُ

نو د هغه ګناهونه داسي رژيږي لکه څرنګه رژيږي دغه پاڼي

عَنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ . رواه أحمد

د دغي درختي څخه. احمد

تخريج: الامام احمد في مسنده ۵\ ۱۷۹.

د لغاتو حل: (يتهافت) : اي طفق الورق من الغصنين يتساقط تساقطا سريعا (رالويږي).

تشريح : خالص د الله ﷻ لپاره د لمونځ کولو مطلب دادی چي لمونځ چا ته د ښودلو يا يو بل مقصد لپاره و نه کړل سي بلکه يوازي او يوازي د خپل پروردګار د خوشحاله کيدو او فرمانبرداری او د هغه د رضا د طلب لپاره وکړل سي.

﴿۵۳۰﴾: وَعَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت زيد بن خالد الجهني رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

مَنْ صَلَّى سَجْدَتَيْنِ لاَ يَسْهُوْ فِيْهِمَا غَفَرَ اللهُ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ . رواه أحمد

چا چي دوه رکعته لمونځ وکړ او خطا نه سو نو الله ﷻ به د هغه ټول مخکني ګناهونه معاف کړي. احمد.

تخريج: الامام احمد في مسنده ۵\ ۱۹۴.

﴿۵۳۱﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه روايت کوي چي

أَنَّهُ ذَكَرَ الصَّلاَةَ يَوْمًا فَقَالَ، مَنْ حَافَظَ عَلَيْهَا كَانَتْ لَهُ نُوْرًا وَبُرْهَانًا وَنَجَاةً يَّوْمَ

رسول الله ﷺ یوه ورځ د لمانځه یادونه وکړه او وه یې فرمایل: څوک چې د لمانځه ساتنه کوي دا لمونځ به د هغه لپاره د نور سبب وي د پوره ایمان دلیل به وي او خلاصون به وي په ورځ

الْقِيَامَةِ وَمَنْ لَّمْ يُحَافِظْ عَلَيْهَا لَمْ تَكُنْ لَّهُ نُورٌ وَّلاَ بُرْهَانًا وَّلاَ نَجَاةً وَكَانَ

د قیامت او څوک چې د لمانځه ساتنه نه کوي نو د هغه لپاره به نه د نور سبب وي نه د پوره ایمان او نه د بخښني ذریعه او هغه به وي

يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَعَ قَارُوْنَ وَفِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَأُبَيِّ بْنِ خَلَفٍ. رواه أحمد والدارمي والبيهقي في شعب الإيمان

د قیامت په ورځ د قارون، فرعون، هامان او ابی بن خلف سره وي. احمد، دارمي او بیهقي.

تخریج: الامام احمد في مسنده ۲\۱٦۹، والدارمي ۲\۳۹۰، ۲۹۱، رقم: ۲۷۲۱، والبیهقي في شعب الایمان، رقم: ۲٦۲۲.

تشریح: د لمانځه د ساتني مطلب دادی چې لمونځ په ښه توګه او پوره پابندي سره کوي، قضائي (ناغه) پکښي نه وي د لمانځه ټول فرائض، واجبات، سنتونه او مستحبات اداء کړل سي همداسي کله چې یو سړي لمونځ کوي نو ویل کیدای سي چې هغه د لمانځه ساتنه وکړه او د ذکر سوي ثواب حقدار به وي، او کوم سړي چې د دې برعکس عمل اختیار کړي چې نه لمونځ په ترتیب او پابندۍ سره کوي او نه د لمانځه د فرائضو، واجباتو، سنتو او مستحباتو رعایت کوي نو د هغه په باره کي به وویل سي چې هغه د دې شیانو د پریښودلو په وجه د پورتني عذاب ور به وي.

فکر کول پکار دي چې د لمانځه پابندي او پر دي همیشتوب اختیارولو څومره تاکید دی ځکه په دې کي کوتاهي کول په اصل کي د الله تعالی عذاب او د خپلي بربادۍ دعوت ورکول دي او دا هم خیال ساتل پکار دي چې هرکله د لمانځه محافظت نه کولو باندي دومره سزا ده چې د داسي سړي حال به د مذکوره خلکو په شان لعین او د بد بخت کفارو سره د کیدو خبر ورکول سي نو د هغه سړي به څه حال وي چې لمونځ پریږدي اویو وخت هم د الله تعالی په مخکي سجده نه کوي.

د قارون او فرعون په شان مشهور لعنتي او بد بخت خو ټول پیژني، هامان د فرعون وزیر وو، ابی بن خلف هغه مشهور مشرک دی چې د رسول الله ﷺ ځاني دښمن وو، او رسول الله

ﷺ په جنګ احد کي په خپل لاس مبارک سره هغه د مرګ په کنده کي غورځولو سره جهنم ته رسولی وو ، له دې کبله دا لعين ته د امت په بد بختو کي تر ټولو ډېر زيات بد بخت ويل کيږي .

په آخر کي په دې خبره هم پوه سئ چي په دغه حديث کي دې ته اشاره ده چي کوم سړی د لمانځه ساتنه کوي يعني په پوره اخلاص او ټولو فرائضو ، واجباتو ، سننو او مستحباتو سره لمونځ هميشه په پابندي سره کوي ، نو په قيامت کي به هغه د انبياء کرام ، صديقين ، شهداء او صلحاء سره ملګري وي .

الله تعالی دي موږ ټولو ته د لمانځه د پابندۍ او پوره ذوق او شوق سره ادا کولو توفيق راکړي چي موږ ټول د دې سعادت څخه برخه من سو .

﴿۵۳۲﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شَقِيْقٍ قَالَ كَانَ أَصْحَابُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت عبدالله بن شقيق رضي الله عنه څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ اصحابو به

وَسَلَّمَ لَا يَرَوْنَ شَيْئًا مِّنَ الْأَعْمَالِ تَرْكُهُ كُفْرٌ غَيْرَ الصَّلَاةِ . رواه الترمذي .

د يوه عمل پرېښودل کفر نه باله پرته د لمانځه څخه . ترمذي

تخريج : سنن الترمذي ۵\ ۱۵، رقم: ۲۶۲۲.

تشريح : دلته چي په وضاحت سره دا فرمايل سوي دي چي د صحابه کرامو رضي الله عنهم پرته د لمانځه څخه يو بل عمل پرېښودل کفر نه ګڼي نو په دې کي د دې خبرې دليل دی چي د صحابه کرامو په نزد نه يوازي دا چي لمونځ پرېښودل د ډېري سختۍ ګناه خبره وه بلکه دا يې کفر ته نژدې بلل .

﴿۵۳۳﴾: وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ أَوْصَانِيْ خَلِيْلِيْ أَنْ لَّا تُشْرِكْ بِاللهِ شَيْئًا وَّإِنْ

د حضرت ابو درداء رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما ته زما ملګري (رسول الله ﷺ) دا وصيت کړی دی چي ته هيڅوک د الله جل جلاله سره شريک مه نيسه که څه هم

قُطِّعْتَ وَحُرِّقْتَ وَلَا تَتْرُكْ صَلَاةً مَّكْتُوْبَةً مُتَعَمِّدًا فَمَنْ تَرَكَهَا مُتَعَمِّدًا فَقَدْ

ستا بدن ټوټې ټوټې سي او ته په اور کي و سوزول سې او فرض لمونځ په قصد سره مه پرېږده ځکه چي چا فرض لمونځ پرېښودی په قصد سره نو په تحقيق سره

بَرِئَتْ مِنْهُ الذِّمَّةُ وَلاَ تَشْرَبِ الْخَمْرَ فَإِنَّهَا مِفْتَاحُ كُلِّ شَرٍّ . رواه ابن ماجه

د هغه څخه د اسلام ذمه خلاصه ده او ته شراب مه چښه ځکه چي دا د ټولو خرابيو کيلي ده. ابن ماجه.

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\۱۳۳۹، رقم: ۴۰۳۴.

تشريح : رسول الله ﷺ ابو درداء رضي الله عنه ته د اصل خبري تعليم ورکړ که ته ټوټه ټوټه او سوځل کيږې نو هم شرک مه کوه کنې د جبر په حالت کي هر کله چي غاړه د توري په مخ کي وي نو په زړه کي د ايمان او يقين پوره دولت آخستي ژبي سره کلمه کفر اداء کول جائز دي د (ذمه بري کيدو) مطلب دادی چي کوم سړی قصدا لمونځ پريږدي نو هغه داسي دی لکه د اسلام د يو لوی او بنيادي قانون او حکم څخه چي بغاوت وکړي چي د هغه په وجه د اسلام عهد د هغه څخه ختم سو او هغه د اسلام د دائرې څخه خارج سو د دې مطلب د وضاحت کولو وروسته به وويل سي چي د رسول الله ﷺ دا ارشاد د لمانځه لپاره پرېښودو لپاره د سختي زورونې او تنبيه لپاره دی.

او يا د ذمې وتلو څخه مراد دادی چي د ايمان راوړلو او د اسلام اطاعت قبلولو په وجه اسلام د هغه د ځان او مال د حفاظت کولو ضمانت چي اخيستی وو په اسلامي رياست کي هغه ته امان حاصل وو اوس هغه د لمانځه د پرېښودو په وجه د اسلام د امان او ضمانت څخه ووتی، شرابو ته يې د ټولو خرابيو کيلي ځکه فرمايلې ده چي شراب په بنيادي توګه سره د انسان زړه او دماغ او ذهن او فکر بالکل بيکاره کوي او ختموي يې د هغه نتيجه داسي چي شراب چيښونکی سړی چي د نشې په وجه د خپل عقل څخه لاس په سر سي نو د دنيا ټولي خرابۍ د هغه څخه واقع کيدل پيل سي دا وجه ده چي شراب ته ام الخبائث يعني د خبائثو مور ويل سوې ده.

==========

بَابُ الْمَوَاقِيْتِ (د لمانځه د وختونو بيان)

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

﴿۵۳۴﴾: عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

وَقْتُ الظُّهْرِ إِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ وَكَانَ ظِلُّ الرَّجُلِ كَطُوْلِهِ مَا لَمْ يَحْضُرِ الْعَصْرُ

د ماپښين وخت هغه دی چي زوال وسي او د سړي سايه د هغه د قد برابر سي تر څو پوري چي د مازديګر وخته را نه سي

وَوَقْتُ الْعَصْرِ مَا لَمْ تَصْفَرَّ الشَّمْسُ وَوَقْتُ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ مَا لَمْ يَغِبِ الشَّفَقُ

او د مازديګر وخت هغه دی چي تر دې څخه وروسته وي بيا تر هغه وخته پوري چي لمر ژړ سي او د ماښام وخت تر هغه وخته پوري دی چي تر څو پوري شفق غائب نه سي

وَوَقْتُ صَلَاةِ الْعِشَاءِ إِلَى نِصْفِ اللَّيْلِ الْأَوْسَطِ وَوَقْتُ صَلَاةِ الصُّبْحِ مِنْ طُلُوْعِ

او د ماخستن لمونځ تر نيمي شپې پوري دی او د سهار د لمانځه وخت د ختلو څخه

الْفَجْرِ مَا لَمْ تَطْلُعِ الشَّمْسُ فَإِذَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ فَأَمْسِكْ عَنِ الصَّلَاةِ فَإِنَّهَا

د صبح صادق تر هغه وخته پوري چي لمر نه وي راختلی نو هر کله چي لمر را وخيږي نو د لمانځه څخه منعه سئ ځکه چي لمر

تَطْلُعُ بَيْنَ قَرْنَيْ شَيْطَانٍ. رواه مسلم

د شيطان د دوو ښکرو په منځ کي راوزي .مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱\۴۲۷، رقم: ۱۷۳- ۶۱۲ و ۱۷۴- ۶۱۲.

تشريح: د دې څخه مخکي چي د حديث د تشريح کولو سره د لمانځه د وختونو په باره کي عرض وکړل سي مناسب معلوميږي چي د هغه په يو څو اصطلاحي الفاظو معنی بيان کړل سي

چي په هغه د پوهيدو وروسته به مقصد ته په رسيدو كي ډيره آساني وي .
زوال : د لمر كښته كيدو ته زوال وايي چي زموږ په اصطلاح كي غرمې ته ويل كيږي .
اصلي سايه : دا هغه سايې ته وايي چي د زوال په وخت كي باقي پاته كيږي دا سايه د هر ښار په اعتبار مختلف وي چيري لويه وي او چيري كوچنۍ وي او چيري بالكل نه وي لكه په مكه معظمه او په مدينه منوره كي .
د زوال او اصلي سايې د پيژندلو آسانه ترتيب دادی چي يو سيده لرګی پر اواره مځكه باندي ښخ كړي او تر كوم ځايه چي د هغه سايه ورسيږي پر هغه ځاي باندي يوه نښه جوړه كړي بيا وګوري چي هغه سايه چي د هغه نښې څخه څومره ليري ځي يا شاته پاته كيږي كه مخكي ځي نو په دې پوه سه چي اوس لا زوال نه دی سوی او كه چيري وروسته ځي نو زوال وسواو كه چيري يو ډول هم نه وي نو دې ته استواء وايي مثال :د اصلي سايي څخه ماسوا چي د هرشي سايه د هغه دوچنده سي، مثال دوهم : د اصلي سايي څخه ماسوا چي د هر شي سايه د هغه څخه دو چنده سي
ددې په اصطلاحي تعريفونو باندي د پوهيدو وروسته اوس د حديث خوا ته راسئ رسول الله ﷺ د لمانځه د وختونو په اړه تر ټولو وړاندي د ماپښين ذكر كړی دی د دې وجه داده چي جبرائيل عليه السلام د لمانځه د وخت د تعليم په اړه تر ټولو وړاندي رسول الله ﷺ ته دا لمونځ وركړی وو د دې وجه داده چي د ماپښين لمانځه ته نماز پيشين ويل سوي دي .
د ماپښين د لمانځه اول وخت هغه وخت پيل كيږي هر كله چي د آسمان په مابينځ كي لمر مغرب طرف ته لږ شان مائل وي چي هغه ته زوال وايي او د دې آخري وخت هغه دی هر كله چي د سړي سايه د هغه د طول برابر پرته د اصلي سايه سي د اصلي سايې په باره كي دا ښودل سوي دي چي دا هغه سايه ده چي د زوال په وخت وي يعني پر اكثرو ځايو باندي هر كله چي لمر پر سر باندي نه راځي نو هلته بالكل د غرمې وخت د هر شي لږ سايه وي هغه سايه پريښودو سره تر څوپوري چي د يوه شي د طول برابر سايه وي د ماپښين وخت به پاته وي
ما لم يحضر العصر (د مازديګر تر وخت راتلو پوري) دا جمله په اصل كي د اولي جملې تاكيد دی هر كله چي يوه مثل ته سايه ورسيده نو د ماپښين وخت ختم سو او د مازديګروخت پيل سو، ددې جملې مطلب د مخكي د جملي سره اداء سوی وو، هو دومره خبره نوره ويل كيږي چي دا جمله د هغه شي دليل دی چي د ماپښين او مازديګر وخت پيل كيږي د آخري وخت خبره داده چي تر څو پوري لمر ژړ سوی نه وي د مازديګر وخت بلا كراهيته پاته وي په حديث كي د دې

ته اشاره ده البته دډ وروسته تر لمر پټيدو پوري د جواز وخت پاته دی.

اوس سوال دا پيدا کيږي چي د لمر د ژړوالي څخه څه مراد دی؟ نو ځيني حضرات دا وايي چي د لمر د ژړکيدو څخه دا مراد دی چي د لمر ټکی دومره بدله سي چي هغه ته د کتلو سره سترګي نه بريښي ځينو حضراتو ويلي دي چي ددې مطلب دادی چي د لمر شعاع پر ديوال وغيره باندي ولوږي نو په هغه کي تغير راسي.

په دې خبره هم پوه سئ چي امام شافعي رحمة الله عليه، امام مالک رحمة الله عليه، امام احمد رحمة الله عليه او صاحبين رحمة الله عليهما (يعني امام ابو يوسف او امام محمد) او د امام زفر رحمة الله عليه مذهب دادی چي د ماپښين وخت تر يوه مثله پوري پاته وي تر دې وروسته د مازديګر وخت پيل کيږي د دې حضراتو دليل دا حديث دی چي د هغه څخه دا معلوميږي چي د ماپښين آخري وخت تر يو مثل پوري وي

او کوم چي د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه تعلق دی د يو روايت سره سم د هغه هم هغه مذهب دی کوم چي د جمهورو علماؤ دی بلکه ځيني حضراتو خو دا ليکلي دي چي د امام اعظم رحمة الله عليه فتوی هم پر دې مذهب ده، در مختار د ډيرو کتابونو په حواله دې مذهب ته ترجيح ورکړې ده خو د دوی مشهور مذهب دادی چي د ماپښين وخت تر دوه مثله پوري وي د دوی دلائل په هدايه وغيره کي مذکور دي

په هر حال علماء په دې سلسله کي يوه صفا او سيده لار ښودلې ده، هغوی وايي مناسب داده چي د ماپښين لمونځ خو په يوه مثل کي دننه دننه وکړل سي او د مازديګر لمونځ دوه مثل څخه وروسته وکړل سي چي دواړه لمنځونه بيله اختلافه ادا سي، د ماښام وخت د لمر لوېدو وروسته پيل کيږي او تر شفق غائب کېدو پوري ختميږي، د اکثرو امامانو په نزد شفق هغه سرخي (سوروالي) ته وايي چي د لمر لوېدو وروسته ښکاره کيږي د اهل لغت وينا هم داده مګر د امام اعظم رحمة الله عليه او د علماؤ د يو بلي ډلي قول دادی چي شفق د هغه سپين والي نوم دی چي د سوروالي د ختميدو وروسته ښکاره کيږي

د اهل لغت او نورو امامانو د وينا سره سم د امام اعظم رحمة الله عليه يو قول دا هم دی چي شفق د سوروالي نوم دی، په شرح وقايه کي فتوی پر دې قول مذکوره ده، نو د احتياط غوښتنه داده چي د ماښام لمونځ د سوروالي د پټيدو څخه مخکي وکړل سي او د ماخستن لمونځ د سپين والي د پټيدو وروسته ادا کړل سي چي دواړه لمنځونه بيله اختلافه ادا سي.

د ماخستن په باره کي مختار مذهب او فيصله داده چي وخت د شفق کيدو څخه وروسته

پيل کيږي او تر نيمي شپې پوري بلا کراهت پاته وي البته د جواز وخت د طلوع فجر څخه مخکي پوري دي، د سهار د لمانځه وخت د صبح صادق د راختو څخه وروسته پيل کيږي او د لمر پر راختلو باندي ختميږي ، په ظاهره خو د حديث څخه دا معلوميږي چي طلوع صبح صادق څخه وروسته تر لمر ختو پوري ټول وخت د سهار د لمانځه لپاره غوره دی مګر ځيني حضرات وايي چي د سهار لمونځ مختار وخت تر ښه رڼا پوري دی د دې څخه وروسته د جواز وخت دی.

د لمانځه د وختونو په تفصيل باندي د پوهيدو څخه وروسته اوس د حديث شريف د آخري جملې په مطلب باندي هم پوه سئ :

ارشاد يې فرمايلی دی کله چي لمر راوخيژي نو د لمانځه څخه منعه سئ ځکه چي لمر د شيطان د دواړو ښکرونو په مينځ کي راخيژي ، د دې مطلب دا نه دی چي د لمر راختلو ځای د شيطان دواړه ښکرونه دي چي لمر د هغه څخه دننه راخيژي بلکه د دې مطلب خپله يو روايت ښودلی دی چي د لمر ختلو وخت شيطان د لمر مخته په راتلو سره ودريږي او خپل سر لمر ته نژدې کوي همداسي د لمر د ډوبيدو وخت کوي د هغه د دې طرز عمل سبب دادي چي کوم خلک د لمر عبادت کوي او د هغه مخته سجده کوي د دې کفارو د دې طرز عمل په ذريعه هغه دا ګمان کوي چي دا خلک زما عبادت کوي همداسي هغه خپل د تابعدارانو په ذهن کي دا خبره کښينوي چي دا خلک د لمر مخکي سجده نه کوي بلکه په حقيقت کي زما عبادت کوي او زما په مخ کي تندی پر مځکه ايږدي ځکه رسول الله ﷺ خپل امت ته د دې خبري حکم ورکړی دی چي په دې وختونو کي دي هغوی لمونځ نه کوي چي د مسلمانانو عبادت د شيطان د عبادت کونکو د عبادت په وختونو کي نه وي

﴿۵۳۵﴾: وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ اِنَّ رَجُلاً سَأَلَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت بريدة رضي الله عنه څخه روايت دی چي يو سړي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه

عَنْ وَقْتِ الصَّلاَةِ فَقَالَ لَهُ صَلِّ مَعَنَا هٰذَيْنِ يَعْنِي الْيَوْمَيْنِ فَلَمَّا زَالَتِ الشَّمْسُ

د لمونځونو د وختونو په اړه رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : دا دوې ورځي زموږ سره لمونځ وکړه، کله چي لمر پر زوال سو

أَمَرَ بِلاَلاً فَأَذَّنَ ثُمَّ أَمَرَهُ فَأَقَامَ الظُّهْرَ ثُمَّ أَمَرَهُ فَأَقَامَ الْعَصْرَ وَالشَّمْسُ

نو رسول الله ﷺ حضرت بلال رضی اللہ عنہ ته حکم ورکړ، هغه آذان وکړ بيا يې هغه ته حکم ورکړ هغه تکبير (اقامت) وکړ رسول الله ﷺ د ماپښين لمونځ ادا کړ، بيا رسول الله ﷺ د مازديګر د تکبير حکم وکړ نو رسول الله ﷺ د مازديګر لمونځ ادا کړ کوم وخت چې لمر

مُرْتَفِعَةٌ بَيْضَاءُ نَقِيَّةٌ ثُمَّ أَمَرَهُ فَأَقَامَ الْمَغْرِبَ حِينَ غَابَتِ الشَّمْسُ ثُمَّ أَمَرَهُ

پورته او صاف وو، د هغه وروسته يې د ماښام حکم وکړ کوم وخت چې لمر غائب سو بيا يې حکم ورکړ هغه ته

فَأَقَامَ الْعِشَاءَ حِينَ غَابَ الشَّفَقُ ثُمَّ أَمَرَهُ فَأَقَامَ الْفَجْرَ حِينَ طَلَعَ الْفَجْرُ

نو هغه اقامت وکړ د ماخستن د لمانځه کوم وخت چې شفق غائب سو، رسول الله ﷺ بيا د سهار د لمانځه حکم ورکړ کله چې سهار سو

فَلَمَّا أَنْ كَانَ الْيَوْمُ الثَّانِي أَمَرَهُ فَأَبْرَدَ بِالظُّهْرِ فَأَبْرَدَ بِهَا فَأَنْعَمَ أَنْ يُبْرِدَ بِهَا

بيا دوهمه ورځ سوه نو رسول الله ﷺ د ورځي تر يخېدو پوري د انتظار حکم وکړ چې ورځ ښه يخه سوه نو رسول الله ﷺ د ماپښين لمونځ هغه وخت وکړ

وَصَلَّى الْعَصْرَ وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ أَخَّرَهَا فَوْقَ الَّذِي كَانَ وَصَلَّى الْمَغْرِبَ قَبْلَ

او د مازديګر لمونځ يې هغه وخت وکړ کله چې لمر پر آخري لوړوالي وو (يعني په آخر وخت کي يې لمونځ وکړ) او د ماښام لمونځ يې ادا کړ مخکي تر

أَنْ يَغِيبَ الشَّفَقُ وَصَلَّى الْعِشَاءَ بَعْدَمَا ذَهَبَ ثُلُثُ اللَّيْلِ وَصَلَّى الْفَجْرَ

غائبېدو د شفق او د ماخستن لمونځ يې د شپې د دريمي برخي تيريدو وروسته ادا کړ او د سهار لمونځ يې ادا کړ

فَأَسْفَرَ بِهَا ثُمَّ قَالَ أَيْنَ السَّائِلُ عَنْ وَقْتِ الصَّلَاةِ فَقَالَ الرَّجُلُ أَنَا يَا رَسُولَ

په ښه رڼا کي، بيا يې وفرمايل: د لمانځه د وختونو پوښتنه کونکی چيري دی؟ هغه سړي وويل اې د الله رسوله! زه حاضر يم،

اللهِ قَالَ وَقْتُ صَلَاتِكُمْ بَيْنَ مَا رَأَيْتُمْ. رواه مسلم

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ستا د لمانځه وخت هغه دی چي د دې دواړو ورځو د وختونو په منځ کي دی. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ١١ ٤٢٨، رقم: ١٧٦- ٦١٣.

تشريح: د پوښتنه کونکي مطلب دا وو چي د لمنځونو د وختونو په اړه دا ښودل سوي دي چي د لمانځه اول وخت څه دی رسول الله ﷺ هغه ته د لمنځونو وختونه په ژبه ښودلو پر ځاي زيات غوره دا وګڼل چي هغه ته يې په عملي توګه وښيي چي وختونه د هغه په ذهن کي کښيني ځکه نو رسول الله ﷺ هغه ته د لمانځه اول او آخر دواړه وختونه ښودلو لپاره په اوله ورځ خو لمنځونه اول وخت کي ورکړل او په دوهمه ورځ يې په آخر وخت کي ورکړل.

په حديث کي اول د ماپښين ذکر سوی دی چي کله لمر زوال سي نو رسول الله ﷺ بلال رضي الله عنه ته د اذان کولو حکم ورکړ، هغه اذان وکړ. بيا رسول الله ﷺ د اقامت حکم وکړ د هغه څخه وروسته د مازديګر ذکر سوی دی مګر نه خو د مازديګر د وخت ذکر سوی دی او نه د مازديګر او د هغه وروسته د اذانونو ذکر سوی دی د دې وجه داده چي دا مشهور دي.

په دوهمه ورځ رسول الله ﷺ د ماپښين په يخيدو سره لمونځ ورکړ، يعني د اولي ورځي په مقابله کي په دوهمه ورځ د ماپښين لمونځ يې دومره په زنډ سره ورکړ چي د ګرمي شدت او سختي تللې وه، د مازديګر لمونځ رسول الله ﷺ د تاخير په مقابله کي زيات په زنډ سره يعني دوه مثل څخه وروسته وکړ مګر د اولي ورځي د زنډ مطلب دادی چي د مازديګر په لمانځه کي په اوله تاخير وسو بلکه د دې مطلب دادی چي د ماپښين د لمانځه څخه زنډ سوی وو.

په دوهمه ورځ رسول الله ﷺ ټول لمنځونه په زنډ سره يعني په آخري وختونو کي ادا کړل څرنګه چي اوس ذکر وسو مګر رسول الله ﷺ د ماخستن لمونځ تر آخر وخته پوري زنډ ولی وو نو په هغه سره به خلکو ته تر ډيره وخته پوري د ويښ پاته کيدو په وجه تکليف او پريشاني وه اوکه رسول الله ﷺ د ماخستن څخه مخکي بيده کيدی نو مناسب نه وه ځکه چي د ماخستن څخه مخکي بيده کيدل مکروه دي.

د حديث د آخري جملې مطلب دادی چي تا په دغه دوو ورځو کي زموږ سره په لمونځ کولو وليدل چي د لمنځونو اول وخت کوم دی او آخري وخت کوم دی، نو د پيل څخه تر پايه پوري اول وخت هم دی، اوسط هم او آخر وخت هم دی، د دې په مينځ کي چي ته کله غواړې لمونځ کولای سې، د آخر وخت څخه مراد وخت مختار دی نه چي وخت جواز ځکه د لمنځونو کوم آخري وخت

رسول الله ﷺ بیان فرمایلی دي د هغه څخه وروسته هم د لمانځه وخت پاته وي مګر هغه وخت جوازوي وخت مختار نه وي.

اَلْفَصْلُ الثاني (دوهم فصل)

﴿۵۳۶﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَمَّنِي

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : ماته امامت راکړ

جِبْرِئِيْلُ عَلَيْهِ السَّلَام عِنْدَ الْبَيْتِ مَرَّتَيْنِ فَصَلَّى بِيَ الظُّهْرَ حِيْنَ زَالَتِ الشَّمْسُ

جبرائیل علیه السلام کعبې ته نژدې دوه ځله یعني ما ته یې دوې ورځي لمونځ راکړ، ما ته یې د ماپښین لمونځ راکړ کوم وخت چي د لمر زوال سوی وو

وَ كَانَتْ قَدْرُ الشِّرَاكِ وَ صَلَّى بِيَ الْعَصْرَ حِينَ صَارَ ظِلُّ كُلِّ شَيْءٍ مِثْلَ ظِلِّهِ وَ

او اصلي سایه د تسمې د چپلکي په ډول وه، او ما ته یې د مازدیګر لمونځ راکړ کله چي د هر شي سایه (د اصلي سایې څخه پرته) د هغه برابر سوه او

صَلَّى بِيَ الْمَغْرِبَ حِينَ أَفْطَرَ الصَّائِمُ وَصَلَّى بِيَ الْعِشَاءَ حِينَ غَابَ الشَّفَقُ وَ

ما ته یې د ماښام لمونځ راکړ کوم وخت چي روژه دار روژه ماتوي او ما ته یې د ماخستن لمونځ راکړ کوم وخت چي شفق غائب سو او

صَلَّى بِيَ الْفَجْرَ حِينَ حَرُمَ الطَّعَامُ وَالشَّرَابُ عَلَى الصَّائِمِ فَلَمَّا كَانَ الْغَدُ صَلَّى

ما ته یې د سهار لمونځ راکړ کوم وخت چي پر روژه دار خوراک او څښاک حرام سي، کله چي دوهمه ورځ سوه نو ما ته یې لمونځ راکړ

بِيَ الظُّهْرَ حِينَ كَانَ ظِلُّ كُلِّ شَيْءٍ مِثْلَهُ وَ صَلَّى بِيَ الْعَصْرَ حِينَ كَانَ ظِلُّ كُلِّ

د ماپښین کوم وخت چي د هر شي سایه د هغه برابر سوه او د مازدیګر لمونځ یې راکړ کوم وخت چي سایه د هر

شَيْءٍ مِثْلَيْهِ وَ صَلّٰى بِيَ الْمَغْرِبَ حِيْنَ اَفْطَرَ الصَّائِمُ وَ صَلّٰى بِيَ الْعِشَاءَ اِلٰى ثُلُثِ

شي دوچنده سوه او د مابنام لمونځ يې راكړ كوم وخت چي روژه دار روژه ماتوي او د ماخستن لمونځ يې د اولي دريمي برخي

اللَّيْلِ وَصَلّٰى بِيَ الْفَجْرَ فَأَسْفَرَ ثُمَّ الْتَفَتَ إِلَيَّ جِبْرِيلُ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ هٰذَا وَقْتُ

د شپې پوري راكړ او د سهار لمونځ يې راكړ كله چي سهار ښه ځلانده سو، بيا جبرائيل عليه السلام ما ته متوجه سو او وه يې فرمايل: اې محمده! دا وخت

الْأَنْبِيَاءِ مِنْ قَبْلِكَ وَالْوَقْتُ مَا بَيْنَ هٰذَيْنِ الْوَقْتَيْنِ. رواه ابوداؤد والترمذي

ستا څخه مخكي د انبياؤ وو او ستا د لمانځه وخت د دې دوو وختو په منځ كي دى. ابوداؤد او ترمذي.

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\ ۲۷۴، رقم: ۳۹۳، والترمذي ۱\ ۲۷۸- ۲۸۰، رقم: ۱۴۹.

د لغاتو حل: (الشراک): أي: مثل شراک النعل، وهو أحد سيور النعل الذي على وجهها.

تشريح: د ځاي او وخت په اعتبار اصلي سايه مختلف وي او په ځينو ځايو كي خو اصلي سايه زياته وي او په ځينو ځايو كي كمه وي او په ځينو ځايو ځيني وخت اصلي سايه بالكل نه وي څرنګه چي په مكه معظمه كي په نولسم سرطان سايه بالكل نه وي ځكه چي رسول الله ﷺ د اولي ورځي د ماپښين د لمانځه په باره كي فرمايلي دي چي حبرائيل عليه السلام په اوله ورځ ماته د ماپښين لمونځ هغه وخت راكړ كله چي په دغه ورځو كي په مكه معظمه كي اصلي سايه د څپليو د تسمو د پلنوالي برابر وه كه څه هم ماپښين اول وخت وو.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

﴿۵۳۷﴾: عَنِ ابْنِ شِهَابٍ أَنَّ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيزِ أَخَّرَ الْعَصْرَ شَيْئًا فَقَالَ

د حضرت ابن شهاب [1] رضي الله عنه څخه روايت دى چي عمر بن عبد العزيز د ماز ديګر لمونځ لږ ناوخته وكړ نو وويل

---

۱ - نوم يې محمد بن عبد الله بن شهاب دى، د زهري په نسبت سره مشهور دى، نوموړي يو جليل القدر تابعي دي او د رمضان المبارك په مياشتي كي په كال (۱۲۴هـ) كي وفات سوى دى. ۱۲۰

لَهُ عُرْوَةُ أَمَا إِنَّ جِبْرِيلَ قَدْ نَزَلَ فَصَلَّى إِمَامَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ده ته عروة : جبرائيل عليه السلام راغلی او هغه رسول الله ﷺ ته لمونځ ورکړ ،

فَقَالَ لَهُ عُمَرُ اعْلَمْ مَا تَقُولُ يَا عُرْوَةُ فَقَالَ سَمِعْتُ بَشِيرَ بْنَ أَبِي مَسْعُودٍ

عمر بن عبد العزيز ورته وويل: څه چي ته وايي په هغه ځان پوه کړه اې عروه، عروه وويل ما د بشر بن مسعود څخه اوريدلي دي

يَقُولُ سَمِعْتُ أَبَا مَسْعُودٍ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

هغه وايي چي ما د ابو مسعود رضي الله عنه څخه اوريدلي دي او هغه وويل چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي

يَقُولُ نَزَلَ جِبْرِيلُ فَأَمَّنِي فَصَلَّيْتُ مَعَهُ ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَهُ ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَهُ

چي فرمايل يې: جبرائيل عليه السلام راغلی او هغه زما امامت وکړ نو ما د هغه سره لمونځ وکړ بيا ما د هغه سره لمونځ وکړ

ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَهُ ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَهُ يَحْسُبُ بِأَصَابِعِهِ خَمْسَ صَلَوَاتٍ. متفق عليه

بيا ما د هغه سره لمونځو کړ بيا ما د هغه سره لمونځ وکړ بيا ما د هغه سره لمونځ وکړ رسول الله ﷺ به داسي فرمايل او پر خپلو ګوتو يې حساب کاوه يعني پنځه لمنځونه. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۱۶/ ۳۰۵، ۳۰۶، رقم: ۳۲۲۱ ومسلم ۱/ ۴۲۵، رقم: ۱۶۶- ۶۱۰

تشريح: د حضرت عروه رحمة الله عليه دا مقصدوو چي عمر بن عبد العزيز ته دا ياد کړي چي د جبرائيل عليه السلام د امامت په باره کي چي کوم حديث راغلی دی چي هغه رسول الله ﷺ ته په اوله ورځ په اول وخت کي لمنځونه ورکړي وه نو د دې څخه دا معلومه سوه چي لمنځونه په اول وخت کي ادا کول افضل دي ځکه تاسو په دې وخت په لمانځه کي تاخير وکړی که دا تاخير زيات نه وو د فضيلت سعادت ولي ترک کړ، عمر بن عبد العزيز رحمة الله عليه چي په جواب کي دا وويل چي اې عروه لږ په فکر سره خبره کوه دا څه وايې؟ د دې څخه د هغه مطلب دا وو چي د رسول الله ﷺ احاديث بيانول يو معمولي خبره نه ده بلکه دا يو ډير اهم او عظيم الشان شی دی په حديث بيانولو کي د احتياط ضرورت دی او حديث بغير د يو سند څخه بيانول نه دي

پکار ځکه په فکر سره حديث بيانوه او په سند سره يې بيانوه
د حضرت عروه رحمة الله عليه د جلالت شان او رفعت علم او وفضل تقاضا خو دا وه چي د هغه سره يي دا ډول خبره نه واى کړې مگر د روايت حديث عظمت شان سره سم ځکه دې طرف ته يې د هغه توجه راوګرځول بيا عروه رحمة الله عليه هم د روايت حديث د هغه د عظمت سره سم د عمر بن عبد العزيز توجه ګرځول نه يوازې دا چي د خپل علم او فضل خلاف يي ونه ګڼل ، بلکه د خپل خير او برکت ګڼلو سره سره په منتبه شو او د حديث پوره سند بيانولو سره د خپل قوت حفظ او ذهانت اظهار کولو سره دا خبره يي واضح کړل چي زه کومه خبره کوم هغه د معمولي درجې نه ده بلکه د هغې د صداقت زه يقيني علم لرم ځکه چي دا هغه روايت دى چي ما د بشير رحمة الله عليه څخه اوريدليدى او هغه د يو جليل القدر صحابي ابو مسعود رضي الله عنه څخه اوريدلى دى او هغه خپله د رسول اللهﷺ د ژبي مبارکي څخه اوريدلى دى، په دې حديث کي راوي د لمانځه وختونه نه دي بيان کړي ددې وجه داده چي مخاطب ته د وختونو پوره تفصيل معلوم وو ځکه دلته خو يوازې واقعه بيان کړل سوې ده هو په نورو روايتو کي د وختونو تفصيل هم بيان سوى دى.

﴿۵۳۸﴾ : وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ أَنَّهُ كَتَبَ إِلَى عُمَّالِهِ إِنَّ أَهَمَّ أُمُورِكُمْ عِنْدِي

د حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روايت دى چي هغه خپلو واليانو ته وليکل چي زما په نزد ستاسو په کارونو کي تر ټولو مهم کار

الصَّلَاةُ فَمَنْ حَفِظَهَا وَحَافَظَ عَلَيْهَا حَفِظَ دِينَهُ وَمَنْ ضَيَّعَهَا فَهُوَ لِمَا سِوَاهَا

لمونځ دى نو چا چي د لمانځه ساتنه وکړه نو هغه د خپل دين ساتنه وکړه او چا چي لمونځ ضائع کړ هغه هر څه ضائع کړل ،

أَضْيَعُ ثُمَّ كَتَبَ أَنْ صَلُّوا الظُّهْرَ إِذَا كَانَ الْفَيْءُ ذِرَاعًا إِلَى أَنْ يَكُونَ ظِلُّ أَحَدِكُمْ

تر دې وروسته عمر بن الخطاب رضي الله عنه وليکل د ماپښين لمونځ کوئ هر کله چي سايه اصلي وي تر هغه وخته پوري چي ستاسو سايه ستاسو

مِثْلَهُ وَالْعَصْرَ وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ بَيْضَاءُ نَقِيَّةٌ قَدْرَ مَا يَسِيرُ الرَّاكِبُ

د قد برابر وي او د ماز ديگر لمونځ کوئ تر هغه وخته پوري چي لمر لوړ او سپين وي په اندازه د هغه چي مزل کوي سپور

فَرْسَخَيْنِ أَوْ ثَلاثَةً قَبْلَ مَغِيْبِ الشَّمْسِ وَالْمَغْرِبَ إِذَا غَابَتِ الشَّمْسُ وَالْعِشَاءَ

دوه فرسخه يا درې فرسخه مخکي تر ډوبيدو د لمر او د ماښام لمونځ کوئ د لمر لوېدو څخه وروسته او د ماخستن لمونځ کوئ

إِذَا غَابَ الشَّفَقَ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ فَمَنْ نَامَ فَلاَ نَامَتْ عَيْنُهُ فَمَنْ نَامَ فَلاَ نَامَتْ

هر کله چي شفق ولاړ سي بيا د دريمي برخي تر شپې پوري ، کوم سړی چي بيده سي (د ماخستن دلمانځه څخه مخکي) نو بيديدې دي نه سي

عَيْنُهُ فَمَنْ نَامَ فَلاَ نَامَتْ عَيْنُهُ وَالصُّبْحَ وَالنُّجُوْمُ بَادِيَةٌ مُشْتَبِكَةٌ . رواه مالك

د هغه سترګي او څوک چي بيده سي د هغه سترګي دي بيدې نه سي او څوک چي بيده سي د هغه سترګي دي بيدې نه سي (دا ښيرا ده) او د سهار لمونځ کوئ هر کله چي ستوري ښکاره او ګڼ وي .مالک .

تخريج: الامام مالک في الموطا ۱\۶-۷، رقم: ۶.

د لغاتو حل: (بادية): اى ظاهرة (ښکاره) . (مشتبكة): أي مختلطة (ګڼ او ډېر) .

تشريح: لمونځ د دين ستن او بنياد دی، لمونځ هغه عبادت دی چي څوک د بديو څخه منعه کوي او د نيکۍ او سعادت پر لار يي روانوي ځکه حضرت عمر فاروق ﷛ وفرمايل چا چي د لمانځه ساتنه وکړه لکه هغه چي د دين د ټولو کارونو ساتنه وکړه، او داسي يې وفرمايل چي چا لمونځ ضايع کړي يعني لمونځ يې بالکل نه وکړ اوکه وه يې هم کړي د شرائطو او واجباتو يې لحاظ ونه کړ نو هغه د لمانځه څخه پرته د نورو واجباتو او مستحباتو او ديني امورو ډېر زيات ضائع کونکی دی ځکه چي لمونځ د عباداتو اصل دی، هر کله چي د هغه خيال ونه ساتي نو د هغه څخه د دين د نورو امورو خيال ساتلو او په هغه د عمل کولو څه اميد کيدای سي، د حضرت عمر فاروق ﷛ دا حکم چي د ماپښين لمونځ يو ګز سايه کيدو وخت يعني ددې څخه سمدستي وروسته چي هغه د ماپښين اول وخت دی کوه هغه ځايو لپاره دی چيري چي اصلي سايه دومره قدر وي څرنګه چي مخکي ښودل سوي دي که اصلي سايه د ځايو او وخت په

اعتبار وي نو چيري خو زياته وي او چيري كمه . حضرت عمر رضي الله عنه د ماخستن تر لمانځه مخکي بيده کيدونکي په باره کي درې ځله ښيرا په تاکيد اوتهديد سره کړې ده د هغه مطلب دادی چي ماخستن څخه مخکي لمونځ کولو پرته چي کوم سړی بيده سي الله پاک دي د هغه د سترګو خوب نصيب نه کړي يعني هغه دي بې آرامي او بې قراري کي اخت وي

حضرت ابن حجر شافعي رحمة الله عليه فرمايي چي ددې څخه دا معلومه سوه چي د ماخستن دلمانځه څخه مخکي بيده کيدل حرام دي مګر د حنفيه په نزد دا حکم پر تفصيل باندي محمول دی يعني که د يو لمانځه وخت پيل کيدو څخه مخکي بيده سي او هغه ته دا خبره نه وي معلومه چي زه به د لمانځه تر آخره وخته پوري بيده يم نو د هغه لپاره بيده کيدل جائز نه دي او که د هغه پر ځان کامل اعتماد وي چي زه به پرته د ويښېدو څخه داسي وخت راپورته سم چي په وخت کي دننه دننه به پوره لمونځ وکړم نو د هغه لپاره به بيده کيدل جائز وي.

پورتنی حکم د وخت پيل کيدو څخه وروسته د بيده کيدو په اړه دی مګر د وخت د پيل کيدو څخه مخکي د بيده کيدو په باره کي هم د علماؤ اختلاف دی ځيني حضرات وايي چي د دې په باره کي به هم هغه اول تفصيل کيږي او ځيني حضرات وايي چي د وخت د پيل کيدو څخه مخکي بيده کيدل مطلق حرام نه دي ځکه چي هيڅ سړي د وخت پيل کيدو څخه مخکي د لمانځه لپاره نه مکلف کيږي .

﴿۵۳۹﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ كَانَ قَدْرُ صَلَاةِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم د لمانځه اندازه

وَسَلَّمَ الظُّهْرَ فِي الصَّيْفِ ثَلَاثَةَ أَقْدَامٍ إِلٰى خَمْسَةِ أَقْدَامٍ وَفِي الشِّتَاءِ خَمْسَةَ

د ماپښين په ګرمۍ کي د درو قدمونو څخه تر پنځو قدمونو پوري او په يخ (ژمي) کي د پنځو

أَقْدَامٍ إِلٰى سَبْعَةِ أَقْدَامٍ . رواه أبو داود والنسائي .

قدمونو څخه تر اوو قدمونو پوري وه. ابوداؤد او نسائي

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\ ۲۸۲، ۲۸۳، رقم: ۴۰۰ والنسائي ۱\ ۲۵۰، ۲۵۱، رقم: ۵۰۲.

تشريح : په دواړو موسمونو کي ددې فرق وجه داده چي د يخ په موسم کي اصلي سايه زياته وي او د ګرمۍ په موسم کي اصلي سايه کمه وي په خاصه توګه په حرمين کي دا دواړه وختونه

برابر دي ، دا حديث په هر صورت د زوال څخه وروسته د ماپښين د لمانځه په زنډولو باندي دلالت كوي د قد څخه مراد د هر سړي د قد اوومه برخه ده په دې اعتبار د هر سړي د قد طول د هغه اوه قدمه برابر وي د هر شي طول اووه قدمه مقرر (۱) دی.

==========

بَابُ تَعْجِيْلِ الصَّلٰوةِ

په تلوار د لمانځه كولو بيان

د الله تعالى ارشاد دي: (:فاستبقو الخيرات) يعني په نيكيو كي تلوار وكړئ، د آيت څخه دا معلومه سوه چي د لمانځه په باره كي اصل دادی چي دغه دي ژر يعني په اول وخت كي ادا كړل سي مگر په دومره خبره پوه سئ چي د آيت مفهوم خو دادی چي د نيكۍ په ټولو كارو كي چي په هغه كي لمونځ هم شامل دی تلوار كول مناسب او غوره دي خو د كومو واقعو لپاره چي شرح ليكونكو د تاخير حكم فرمايلی دی هلته بيا تاخير كول اعلی او غوره دي.

د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد لمنځونه په اول وخت كي اداء كول مطلقا مستحب دي خود امام ابو حنيفه رحمة الله عليه په نزد دلته څه تفصيل دی هغه فرمايي د يخ په موسم كي خود ماپښين لمونځ په اول وخت كي كول پكار دي مگر د گرمۍ په موسم كي د ماپښين په يخېدو سره لمونځ كول پكار دي همداسي د سهار لمونځ په هر موسم كي په رڼا كي كول پكار دي او د مازديگر لمونځ هم په تاخير سره كول پكار دی خو په دې كي دومره تاخير نه وي چي لمر متغير سي لمنځونه په تلوار سره د كولو مقصد دادی چي د هغه د اول وخت مخكي نيمه برخه كي ادا كړل سي

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

﴿۵۴۰﴾: عَنْ سَيَّارِ بْنِ سَلَامَةَ قَالَ دَخَلْتُ اَنَا وَ اَبِيْ عَلٰى اَبِيْ بَرْزَةَ الْأَسْلَمِيِّ

د حضرت سيار بن سلامة څخه روايت دی چي زه او زما پلار ابو ذر اسلمي ته ورغلو

---

۱ د دې حديث د تشريح څخه وروسته مصنف رحمة الله عليه يو جدول نقل كړي دي چي هغه بوجوه طوالت نقل كولای نسي نن صبا د هغې څخه استفاده ممكنه نه ده.

فَقَالَ لَهُ كَيْفَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الْمَكْتُوبَةَ فَقَالَ

زما پلار د هغه څخه پوښتنه وکړه چي رسول الله ﷺ به فرض لمونځ څنګه کاوه ؟هغه وويل:

كَانَ يُصَلِّي الْهَجِيْرَ الَّتِيْ تَدْعُوْنَهَا الْاُوْلٰى حِيْنَ تَدْحَضُ الشَّمْسُ وَيُصَلِّي الْعَصْرَ

د ماپښين لمونځ چي هغه ته تاسو لومړی وایاست د لمر د زوال سره به يې کاوه او د مازديګر لمونځ به يې هغه وخت کاوه

ثُمَّ يَرْجِعُ اَحَدُنَا اِلٰى رَحْلِهِ فِيْ اَقْصَى الْمَدِيْنَةِ وَالشَّمْسُ حَيَّةٌ وَنَسِيْتُ مَا قَالَ

چي د لمونځ کولو څخه وروسته به په موږ کي يو څوک راستنېدی او د ښار آخري غاړي ته به رسيدی نو لمر به روښانه او صاف وو ، د سيار بيان دی چي زما څخه هېر سوه هغه چي ابو هريرهؓ وويل

فِي الْمَغْرِبِ وَكَانَ يَسْتَحِبُّ اَنْ يُؤَخِّرَ الْعِشَاءَ الَّتِيْ تَدْعُوْنَهَا الْعَتَمَةَ وَكَانَ يَكْرَهُ

د ماښام د لمانځه په اړه او ابو هريرةؓ وويل چي رسول الله ﷺ به د ماخستن لمونځ چي هغه ته تاسو عتمه وایاست ځنډ خوښوی او مکروه يې ګڼل

النَّوْمَ قَبْلَهَا وَالْحَدِيْثَ بَعْدَهَا وَكَانَ يَنْفَتِلُ مِنْ صَلٰوةِ الْغَدَاةِ حِيْنَ يَعْرِفُ

بېدېدل د ماخستن څخه مخکي او خبري کول وروسته يې او د سهار لمونځ به رسول الله ﷺ هغه وخت کاوه چي پېژندی به

الرَّجُلُ جَلِيْسَهُ وَ يَقْرَءُ بِالسِّتِّيْنَ اِلَى الْمِائَةِ وَفِيْ رِوَايَةٍ وَ لَا يُبَالِيْ بِتَاْخِيْرِ

سړی خپل ملګري او رسول الله ﷺ به د سهار په لمانځه کي د شپېتو آياتونو څخه تر سلو آياتو پوري وويل او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ به هيڅ پروا نه کول په ځنډ کي

الْعِشَاءِ اِلٰى ثُلُثِ اللَّيْلِ وَلَا يُحِبُّ النَّوْمَ قَبْلَهَا وَالْحَدِيْثَ بَعْدَهَا. متفق عليه

د ماخستن د لمانځه په اولي دريمي برخي د شپې او د ماخستن د لمانځه مخکي بېدېدل به يې ښه نه ګڼل او همدا سي د ماخستن د لمانځه وروسته خبري کول يې هم نه خوښول . بخاري او مسلم.

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\ ۲۲، رقم: ۵۴۱، ومسلم ۱\ ۴۴۷، رقم: ۲۳۵- ۲۴۷ و: ۲۳۶- ۶۴۷ و: ۲۳۷- ۷۴۷.

د لغاتو حل: (الهجير): هي صلاة الظهر، سميت كذلک لانها تصلي في الهاجرة وهي اشتداد الحر في نصف النهار. (د ماپښين لمونځ). (تدحض): تزول. (زائل کيږي)

تشريح: دلته د ماپښين د لمانځه په باره کي چي کم وخت ذکر سوی دی د هغه څخه په ښکاره دا معلوميږي چي رسول الله ﷺ به د يخ په موسم کي د ماپښين لمونځ په اول وخت کي کوی ځکه چي دا قولا او فعلا ثابت سوې ده چي رسول الله ﷺ به د ګرمۍ په موسم کي د ماپښين په يخيدو سره لمونځ ادا کوي.

عتمه هغه تاريکۍ ته وايي چي د شفق د پټيدو وروسته راسي، مخکي په عربو کي عتمه به يې ماخستن ته ويل مګر وروسته رسول الله ﷺ خلک منعه کړل چي ماخستن ته دي عتمه نه ويل کيږي، د تاخير (زنډ) څخه دا مراد دی چي رسول الله ﷺ به د ماخستن لمونځ تر دريمي برخي د شپې پوري په تاخير کولو سره کوی، رسول الله ﷺ به د ماخستن د لمانځه وروسته د دنيا خبري کول نه خوښول او د دې مقصد دادی چي د اعمالو خاتمه پر عبادت او ذکر الله باندي کيدل پکار دي ځکه چي خوب په شان د مرګ دی.

په شرح السنه کي نقل دي چي د ماخستن د لمانځه کولو څخه مخکي بيده کيدو ته اکثرو علماؤ مکروه ويلي دي او ځينو حضراتو د بيده کيدو اجازه ورکړې ده، د حضرت عمر رضي الله عنه په باره کي ويل سوي دي چي هغه به د ماخستن څخه مخکي بيده کيدی او د ځينو علماؤ په نزد يوازي په روژه کي تر ماخستن مخکي بيده کيدل جائز دي.

حضرت امام نووي رحمة الله عليه فرمايي که د خوب غلبه وي او دا بيــــره نه وي چي د ماخستن دلمانځه په وخت کي د بيده کيدو بيره نه وي نو بيده کيدل مکروه نه دي، د ماخستن وروسته په خبرو کي بوختيا ته د علماؤ يو ډلي مکروه ويلي دي، د سعيد ابن مسيب رضي الله عنه په باره کي هم نقل سوي دي چي هغه به ويل زما په نزد د ماخستن د لمانځه کولو څخه پرته بيده کيدل غوره نه دي چي د ماخستن د لمانځه څخه وروسته يو سړی خبري اتري او په دنياوي خبرو کي مشغول سي.

ځيني علماء د ماخستن څخه وروسته د علم د خبرو کولو اجازه ورکړې ده همداسي د ضرورت او حاجت په اړه يا د کورنۍ او ميلمنو سره د خبرو کولو اجازه هم ورکړې ده.

(ملا علي قاري رحمة الله عليه).

شیخ عبدالحق محدث دهلوي رحمة الله علیه فرمایي چي دا دواړه شیان نه دي جائز، یعني که یو سړی د ماخستن د لمانځه څخه مخکي د سستی او کهالۍ په وجه د نشاط او تازګۍ حاصلولو لپاره بیده کیدل غواړي نو د هغه لپاره جائز دي همداسي د ماخستن د لمانځه څخه وروسته داسي خبري کول چي ضروري وي او بې معنی نه وي جائز دي

﴿۵۴۱﴾: عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ قَالَ سَأَلْنَا جَابِرَ بْنَ عَبْدِ

د حضرت محمد بن عرو بن الحسین بن علي رضی الله عنه څخه روایت دی چي موږ د جابر بن عبدالله رضی الله عنه څخه پوښتنه وکړه چي

اللهِ عَنْ صَلٰوةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ كَانَ يُصَلِّي الظُّهْرَ بِالْهَاجِرَةِ

د رسول الله ﷺ د لمانځه کیفیت څنګه وو؟ هغه وویل چي رسول الله ﷺ به د زوال کېدو سره د ماپښین لمونځ کاوه

وَالْعَصْرَ وَالشَّمْسُ حَيَّةٌ وَالْمَغْرِبَ إِذَا وَجَبَتْ وَالْعِشَاءَ اِذَا كَثُرَ النَّاسُ عَجَّلَ

او د مازدیګر لمونځ به یې هغه وخت کاوه چي لمر به ځلانده وو او د ماښام لمونځ به یې هغه وخت کاوه چي لمر به ولوېدی او ماخستن لمونځ به یې هغه وخت کاوه کله چي به ډېر خلک یو ځای سول نو ژر به یې کاوه

وَإِذَا قَلُّوْا أَخَّرَ وَالصُّبْحَ بِغَلَسٍ . متفق علیه

او کله چي به خلک لږ وه نو لږ په زنډ سره به یې کاوه او دسهار لمونځ به یې په تیاره کي کاوه. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري) ۲\۴۷، رقم: ۵۶۵، ومسلم ۱\۴۴۶، رقم: ۲۳۳-۶۴۶.

د لغاتو حل: (اذا وجبت): ای اذا سقطت الشمس (چي کله لمر ولویږي).

تشریح: د ماخستن د لمانځه په باره کي دلته وضاحت سوی دی چي کله به خلک زیات راغلل نو لمونځ به یې ژر کوی او که خلک به کم راغلل نو په زنډ سره به یې کوی د دې څخه دا معلومه سوه چي د جماعت د زیاتوالي په وجه لمونځ په اول وخت کي په ځنډ کولو سره جائز دی بلکه مستحب دی، علماء دا لیکي چي امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه او د هغوی پیروانو په اول

وخت كي د لمانځه كولو التزام ځكه نه دى كړى چي په ځنډ سره لمونځ كولو كي په جماعت كي زياتوب كيږي نه دا چي د دې حضراتو په نزد افضل نه دى بلكه اول وخت خو به په هر صورت كي افضل وي مګر ځيني خارجي عوارض لكه د جماعت كثرت وغيره په وجه زنډ غوره دى.

د سهار لمونځ په تياره كي د كولو په وجه په ښكاره دا معلوميږي چي صحابه رضي الله عنهم به تولهشپه د خوب پر ځاي په ذكر او عبادت كي د مشغوليدو په وجه د سهار د وختونو په مسجد كي موجود وو ځكه چي رسول الله ﷺ به د جماعت د كثرت په وجه لمونځ ژر كوى.

په پاى كي په دې خبره باندي پوه سئ چي د دې حديث څخه دا بالكل نه ثابتيږي چي رسول الله ﷺ مستقلا په تياره كي د سهار لمونځ كوى او كه ځيني وختونه دا ومنل هم سي نو دا ثابته ده چي خپله رسول الله ﷺ د سهار لمونځ په رڼا كي د كولو حكم وركړى دى او د حنيفه په نزد د فعل په مقابله كي امر يعني حكم ته ترجيح وركول سوې ده.

﴿۵۴۲﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كُنَّا إِذَا صَلَّيْنَا خَلْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دى چي موږ د رسول الله ﷺ سره دماپښين لمونځ كاوه

بِالظَّهَائِرِ سَجَدْنَا عَلَى ثِيَابِنَا اتِّقَاءِ الْحَرِّ. متفق عليه و لفظه للبخاري

نو د ګرمي څخه د خلاصون لپاره به مو پر خپلو جامو سجده كول. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۲۲-۲۳، رقم: ۵۴۲ ومسلم: ۱\۴۳۳، رقم: ۱۹۱-۶۲۰.

تشريح: د حنفيه په نزد لمونځ كونكى پر خپل اغوستو كالو باندي سجده كولاى سي ځكه دا حضرات دا حديث د خپل مذهب په دليل وړاندي كولو سره وايي چي د دې څخه دا معلومه سوه چي لمونځ كونكي ته پر خپلو اغوستو كالو باندي لمونځ كول صحيح دي، د شوافع حضراتو په نزد پر داسي كالو باندي چي د لمونځ كونكي په ښورېدو سره حركت كوي سجده كول جائز نه دي ځكه دا حضرت د دې حديث دا تاويل كوي چي صحابه كرامو پر جامو باندي سجده كول هغه به د هغوى پر بدن نه وه بلكه د ګرمۍ څخه د ساتني په وجه هغه به يې پر جلا فرش باندي اچول.

دا حديث مصنف په مشكوات باب تعجيل الصلواة كي نقل كړى دى چي دا خبره واضحه سي چي په مځكه د ګرمۍ د تاو څخه په اول وخت كي وي نو د دې څخه دا معلومه سوه چي رسول الله ﷺ به د ګرمي په موسم كي د ماپښين لمونځ په اول وخت كي كوى حال دا چي دا

خبره د دې حدیث څخه معلومیږي چي ډیر واره بلکه د زیاتي ګرمۍ په موسم کي د اول وخت په نسبت وروسته زیاته ګرمي وي.

﴿۵۴۳﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اشْتَدَّ

د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله چي سخته وي

الْحَرُّ فَأَبْرِدُوا بِالصَّلوٰةِ وَفِي رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيِّ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ بِالظُّهْرِ فَإِنَّ شِدَّةَ

ګرمي نو لمونځ په یخ کي کوئ او د بخاري په یوه روایت کي د ابوسعید څخه دا الفاظ نقل دي چي د ماپښین لمونځ د یخ په وخت کي کوئ ځکه سختي

الْحَرِّ مِنْ فَيْحِ جَهَنَّمَ وَاشْتَكَتِ النَّارُ إِلَى رَبِّهَا فَقَالَتْ يَا رَبِّ أَكَلَ بَعْضِي بَعْضًا

د ګرمۍ د جنهم تونښ دی او رسول الله ﷺ وفرمایل: دوږخ خپل رب ته شکایت وکړ او عرض یې وکړ چي زما ځیني برخي ځیني برخي خوري

فَأَذِنَ لَهَا بِنَفَسَيْنِ نَفَسٍ فِي الشِّتَاءِ وَنَفَسٍ فِي الصَّيْفِ أَشَدُّ مَا تَجِدُونَ مِنَ

نو الله تعالی ورته د دوو ساه اخیستو اجازه ورکړه یوه ساه په یخ کي او یوه ساه په ګرمي کي هر کله چي تاسو وینئ سختي د

الْحَرِّ وَأَشَدُّ مَا تَجِدُونَ مِنَ الزَّمْهَرِيرِ. متفق علیه. و روایة للبخاري فاشد ما تجدون من الحر فمن سمومها واشد ما تجدون من البرد فمن زمهریرها.

د ګرمۍ او یخ نو دا هغه دوې ساوې دي. (بخاري او مسلم) د بخاري په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي د ګرمي په وخت کي چي تاسو کومه سختي وینئ هغه د دې (دوږخ) د ګرمۍ د ساه له کبله ده او په یخ کي چي کومه سختي وینئ هغه د دې د یخي ساه له کبله ده. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري) ۲\ ۱۵، رقم: ۵۳۳ وفي ۲\ ۱۸ رقم: ۵۳۶، ومسلم: ۱\ ۴۳۰، رقم: ۱۸۰- ۶۱۵.

تشریح: پروردګار ته د دوږخ اور دا شکایت وکړ چي زما ځیني شغلې ځیني خوري، دا کنایه ده دا جزایي اور د کثرت او په خپلو کي اختلاط څخه، یعني د اور شغلې دومره زیاتي وي او

دومره شدت سره وي چي په هغه کي هره یوه دا غواړي چي دوهمه شغله ختمه کړي او د هغه ځاي خپله ونیسي نو پروردګار عالم هغه ته د دوو ساه آخیستو اجازه ورکړه، د ساه څخه مراد شغله فناء کول او د هغه د دوزخ څخه د باندي وتل دي څرنګه چي ساه اخستونکی ساه اخلي نو هوا د باندي راوځي.

په هر حال داسي وخت سره ددې چي مشقت ډیر وي د لمونځ کولو څخه منعه سوې ده ځکه چي په داسي وخت کي هر کله چي د ګرمۍ دومره شدت وي نو زړه او دماغ د تاو په وجه بې آرامه وي او د خشوع، سکون او اطمینان څخه حاصلیږي چي د لمانځه روح ده دلته په عقلي توګه سره یو څو اشکاله (شکونه) پیدا کیږي چي د هغو وضاحت کول ضروري دي :

اول اشکال (شک) دا پیدا کیږي چي دا خبره ثابته سوې ده چي د ګرمۍ او یخ شدت د مځکي حرکت عرض البلد د لمر په وجه وي ځکه دا څرنګه ویلاي سو چي د ګرمي شدت د دوزخ د توښ څخه وي.

ددې اول جواب خو دادی چي دلته د دوزخ توښ د ګرمۍ د تاو سبب ښودل سوی دی نه دا چي د اصلي ګرمۍ، پر دې دا اعتراض نسي کیداي چي د ګرمۍ او یخ شدت هم د لمر د نژدې والي په وجه دي ځکه چي د دې باوجود کیدای سي چي دوزخ ساه په هغه کي نور شدت پیدا کوي ددې څخه انکار د ریښتوني خبر راوړونکی ﷺ د خبر ورکولو سره د طریقه اسلام خلاف دی.

دوهم جواب دادی چي دومره خبره خو فیصله ده چي د مځکي د حرارت علت د لمر په مقابله او د هغه د شعاع پریوتل دي اودا هیڅ چیري نه ده ثابته سوې چي لمر دوزخ نه دی نو کیدای ي چي ز موږ د نظام دوزخ دا وي چي هغه ته موږ لمر وایو ځکه چي په لمر کي د داو کمي او زیاتي او د ګرمۍ صفت دومره دی چي د دوزخ ټوله صفات په دې منطبق کیدای سي او که دا ثابته هم سي چي لمر دوزخ نه دی نودا هم بالکل لیري او ناممکن نه ده چي دوزخ جلا وي او د هغې د ګرمي اثر پر مځکه پریوځي

دوهم اشکال دا پیدا کیږي چي دوزخ شکایت څرنګه وکړ ځکه چي د دوزخ ژبه نسته او بېله ژبي د مدعا اظهارول څرنګه کولای سي ددې جواب دادی چي څرنګه د ژبي لپاره تلفظ ضروري نه دی همداسي د تلفظ لپاره ژبه هم ضروري نه ده ځکه چي د اکثرو حیوانانو ژبه وي خو هغوي تلفظ نه کوي همداسي ډیر شیان داسي دي چي د هغوی ژبه نه وي مګر خبري کوي نو دا اشکال چي پرته د ژبي څخه خبري کول نا ممکن دي د کم فهمۍ خبره ده که څوک دا پوښتنه وکړي چي په ژبي سره خبره ولي کولاي سي ددې څخه د اوریدو کار ولي نسي

آخیستلاي، په سترګو سره لیدل او په غوږو سره اوریدل ولي کولای سي په دې سره خبري ولي نه کوي هر کله چي ټول اعضاء په ښکاره د یوې مادې څخه جوړ دي چي نطفه ده نو د هر یوه قوت د تخصیص په وجه د یو خاص شي سره ده

نو ددې جواب به دا ورکوو چي دا د جوړونکي رب قدرت دی چي خبري کول د ژبي سره خاص کړل سوي دي او کتل د سترګو سره او اوریدل د غوږو سره کنه دا ټول اعضاء دغوښي یوه برخه کیدو کي برابر دي بالکل همداسي دلته به دا هم ویلای سي چي آیا دجوړونکي رب دا قدرت نسي کیدای چي هغه خپل یو مخلوق ته د وینا قوت ورکړي او د حکماؤ یو جماعت خو دا هم وايي چي اجرام فلکیه کي نفوس دی او په هغوی کي دا احساس او ادراک قوت دي نو په دې صورت کي خبري کول څه بعید یعني لیري نه دي، دریم اشکال دا پیدا کیږي چي دوزخ ساه درلودونکی نه دی هغه ساه څرنګه اخیستلاي سي، د دې جواب دادی چي په دوږخ کي د نفس کیدو څخه هیڅ مانع نه دی او هرکله چي د پورتني بحث څخه د هغه تکلم ثابت کیدای سي نو په ساه آخیستو کي څه اشکال پیدا کیږي

څلورم اشکار دادی چي د اور د یخي ساه اخیستو څه معنی ده؟ ددې مختصر جواب دادی چي د اور څخه مراد د دوزخ اور دی او په هغه کي یوه طبقه زمهریر هم ده.

پنځم اشکال دا پیدا کیدای سي چي ددې حدیث د مفهوم سره سم خو پکار دا وه چي د سخت یخ په موسم کي په سهار کي هم په تاخیر سره د لمانځه کولو حکم ورکړل سوی دی حال دا چي داسي نه ده او د دې جواب دادی چي په یخ کي په سهار کي د لمر ختو پوري دومره شدت سره وي که تر لمر ختو پوري په لمانځه کي ځنډ کوي نو هلته به وخت ختم کیدی.

په هر حال ددې حدیث څخه دا معلومه سوه چي د ګرمۍ په موسم کي د ماپښین لمونځ په تاخیر سره کول مستحب دي د دې وجه داده چي خپله صحابه کرامو رضي الله عنهم د ګرمۍ په موسم کي د ماپښین په یخولو سره کوی، د بخاري په یوه روایت کي نقل سوي دي چي صحابه کرامو به د ماپښین لمونځ په ځنډ سره یعني د ماپښین په یخولو سره کوی تردې چي د غونډیانو سایه به پر مځکه پریوتل او په دې ټول پوهیږي چي غونډۍ خپرې ورې پرتې وي ځکه د هغو سایه پر مځکه ډیره وروسته پریوځي، په خلاف د اوږدو شیانو مثلا مینار وغیره چي د هغو سایه ژر پریوځي.

په ځینو روایتونو کي نقل سوي دي چي صحابه کرامو رضي الله عنهم به د ماپښین لمونځ لپاره د دیوالونو په سایو کي تلل . د دیوالونو په باره کي تحقیق هم سوی دی چي هغه وخت

ديوالونه په عامه توگه سره اوه اوه (شرعي) گزه وه نود هغو په سايه كي تلل به هغه وخت په كار وه هر كله چي لمر ډير لاندي وو ځيني حضراتو د تاخير حد نيم وخت مقرر كړى دى يعني څه علماء دا وايي چي د گرمۍ په موسم كي د ماپښين لمونځ نيم وختة تاخير كولو سره اداء كول پكار دي ځيني شوافع حضرات د حديث څخه ثابت سوى ابراد يعني لمونځ په يخولو سره ادا كولو محمل وخت زوال ښيي، يعني د هغوى وينا داده چي ددې ابراد مقصد د ماپښين په لمانځه كي دومره تاخير نه دى كوم چي حنفيه ښيي بلكه ددې مطلب دادى چي څه وخت د استواء د سختي گرمۍ څخه د ځان ساتني لپاره د زوال په وخت كي د ماپښين لمونځ وسي، ددې حضراتو داتاويل نه يوازي داچي بعيد ازمفهوم يعني د پوهيدو څخه ليري دى بلكه د مشاهدې خلاف هم دى ځكه چي د وخت استواء په مقابله كي د زوال په وخت كي د گرمۍ شدت كي د كمي راتلو خيال خلاف تجربه او مشاهده دى په هدايه كي ذكر سوي دي چي په كومو ښارونو كي چي د گرمۍ شدت د لمر يو مثل سايې ته د رسيدو په وخت كي وي هلته خو د ابراد مقصد هغه وخت حاصليداى سي هر كله چي لمونځ يو مثل سمدستي څخه وروسته اداء كړاى سي حاصل دا چي د ماپښين لمونځ په ابراد كي يعني يخولو په باره كي ډير زيات حديثونه راغلي دي چي د هغو څخه په اتفاق دا ثابتيږي چي په گرمۍ كي د ماپښين لمونځ په يخولو سره افضل او غوره دى تر څو پوري د حديث حباب رضي الله عنه تعلق دى چي په هغه كي روايت دى چي موږ رسول الله ﷺ ته د گرمۍ په موسم كي د غرمې يعني سختي گرمۍ د شدت په باره كي شكايت وكړ نو رسول الله ﷺ زموږ خواست قبول نه كړ، ددې مطلب دادى چي رسول الله ﷺ ته د گرمۍ په موسم كي د ماپښين د لمانځه د زنډولو خواست كړى وو ځكه چي رسول الله ﷺ هغه قبول نه كړ كه هغومره ځنډ وسي نو د لمونځ وخت به ووځي امام شافعي رحمة الله عليه فرمايي چي ابراد رخصت دى او هغه هم د ټولو لپاره نه بلكه د هغو خلكو لپاره دى چي دجماعت لپاره مسجد ته په تللو كي د سختۍ او محنت سره مقابله كوي ، كوم خلك چي يوازي لمونځ كوي يعني بيله جماعته يا خپل د همسايه او د محلې مسجد ته د لمانځه لپاره راځي د هغوى لپاره زما په نزد دا ښه ده چي په اول وخت كي تاخير ونه كړي دا قول د ظاهر حديث خلاف دي ځكه چي ددې اتباع نسي كيداى . امام ترمذي رحمة الله عليه يو حديث نقل كړى دى چي د هغه څخه دا معلوميږي چي رسول الله ﷺ په سفر كي هم سره ددې چي ټول به يو ځاى وه د ابراد حكم فرمايه، او امام ترمذي فرمايي كوم سړى چي د گرمۍ د شدت څخه د ساتني لپاره د ماپښين لمونځ په ځنډ سره كولو لپاره وايي د هغه مذهب د اتباع سنت په وجه اولى او افضل دي.

﴿۵۴۴﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يُصَلِّي الْعَصْرَ وَالشَّمْسُ

د انس رضی اللہ عنہ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د مازديگر لمونځ هغه وخت کاوه چي لمر به

مُرْتَفِعَةٌ حَيَّةٌ فَيَذْهَبُ الذَّاهِبُ إِلَى الْعَوَالِي فَيَأْتِي الْعَوَالِيَ وَالشَّمْسُ

لوړ او ځلانده وو ، تلونکي به عوالي (د ښار څخه دباندي ابادي) ته تلل او لمر به

مُرْتَفِعَةٌ وَبَعْضُ الْعَوَالِيْ مِنَ الْمَدِيْنَةِ عَلَى أَرْبَعَةِ أَمْيَالٍ أَوْ نَحْوِهِ. متفق عليه

لوړ وو او د عوالي ځيني برخي د مديني څخه څلور ميله يا ددې شاوخوا وې. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\۲۸، رقم: ۵۵۰، ومسلم ۱\۴۳۳، رقم: ۱۹۲– ۶۲۱.

تشريح : عوالي د عاليه جمعه ده د مديني منوري د ښار څخه دباندي ځو کلي وه هغه ته عوالي ويل کېدل او مسجد بني قريظه هم دې خوا ته دی.

﴿۵۴۵﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِلْكَ صَلَاةُ الْمُنَافِقِ

د حضرت انس رضی اللہ عنہ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دا د منافق لمونځ دی چي د مازديگر لمونځ په آخر وخت کي کوي

يَجْلِسُ يَرْقُبُ الشَّمْسَ حَتَّى إِذَا صُفَرَّتْ وَكَانَتْ بَيْنَ قَرْنَيِ الشَّيْطَانِ قَامَ

ناست وي انتظار کوي تر دې چي لمر ژړ سي او د شيطان په دواړو ښکرو کي راسي نو ودريږي

فَنَقَرَهَا أَرْبَعًا لَا يَذْكُرُ اللهَ فِيهَا إِلَّا قَلِيلاً. رواه مسلم

او څلور منبکي وهي هغه په دې کي ډېر لږ د الله ذکر کوي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۱\۴۳۴، رقم: ۱۹۵– ۶۲۲.

تشريح : د منبکه وهلو مطلب دادی چي هغه پرته د ارامتيا او سکون څخه همداسي په تلوار تلوار سجدې کوي لکه څرنګه چي مرغان په منبکه وهلو سره دانې راټولوي، د مازديگرپه لمانځه کي سجدې خو اته دي مګر دلته څلور واره فرمايل سوي دي چي هغه په اوله سجده کولو کي سر په ښه طريقه کښېنه نه کړ، نو دا داسي دي چي دواړي سجدې د يوې سجدې په حکم کي راغلې يا دواړي سجدې د يوه رکن په اعتبار کولو سره پر ځاي د اتو د څلور شمير

فرمايلی دی. لته يوازي د مازديگر د لمانځه ذکر سوی دی د نورو لمنځو ذکر نه دی سوی د دې وجه داده چي دا منځنی لمونځ دی او هسي خو هم په ټولو لمنځو کي د ارکان او آداب لحاظ نه ساتل بده خبره ده مگر د نورو لمنځو په نسبت دا لمونځ په اطمينان او سکون نه کول ډيره زياته بده خبره ده.

مولانا مظهر رحمة الله عليه فرمايي: کوم سړی چي د مازديگر لمونځ تر لمر ژړ کيدو پوري و زنډوی نو هغه خپل ځان د منافقينو په شان ثرگند کړ ځکه چي منافق د لمانځه د صحت او تکميل هيڅ خيال نه ساتي هغه يوازي په ظاهري توگه سره د مسلمان جوړيدو د الزام څخه د ساتني په باره کي لمونځ کوي او هغه ته په لمانځه کي د دومره زيات زنډ پروا نه وي ځکه چي هغه ته د اجر او ثواب ضرورت نه وي نو مسلمان ته پکار ده چي هغه د منافقينو عملا او فعلا مخالفت کولو سره د مازديگر لمونځ په مختار وخت کي کوي.

﴿۵۴۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

اَلَّذِيْ تَفُوْتُهُ صَلاَةُ الْعَصْرِ فَكَأَنَّمَا وُتِرَ أَهْلُهُ وَمَالُهُ. متفق عليه

د کوم چا څخه چي د مازديگر لمونځ قضا سي د هغه حالت داسي دی لکه د هغه اهل او عيال، مال او دولت چي لوټ سو. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\۳۰، رقم: ۵۵۲، ومسلم ۱\ ۴۳۵، رقم: ۲۰۰- ۶۲۶.

د لغاتو حل: (وُتِرَ): سُلِب و اُخِذ (واخيستل سي).

تشريح : مطلب دادی د کوم سړي چي د مازديگر لمونځ قضا سي نو هغه داسي دی لکه د هغه چي کور، کورنی، مال او اولاد هر څه ختم سول، يا په هغه کي کمي راغلل نو ثرنگه چي يو سړی د خپل کورنی د تباهی او بربادی او د مال او سامان د تاوان څخه بيريږي. مخکي هم دا ښودل سوې ده چي دلته يوازي د مازديگر د لمانځه د ذکر کولو وجه داده چي دا لمونځ منځنی لمونځ دی د دي پريښودل د نورو لمنځونو د پريښودلو په مقابله کي زياته سخته گناه ده.

﴿۵۴۷﴾: وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَرَكَ

د حضرت بريدة رضی اللہ عنہ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چي قضا کړ

صَلاَةُ الْعَصْرِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُ. رواه البخاري.

د مازديگر لمونځ هغه خپل عمل ضائع کړ. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\۳۱، رقم: ۵۵۳ وفي ۲\۶۶، رقم: ۵۹۴.

تشريح: ددې حديث څخه په څرګنده خو دا معلوميږي چي کوم سړي د مازديگر لمونځ پريښودى د هغه ټوله نيک اعمال برباد سول حال دا چي داسي نه ده ځکه چي د ټولو اعمالو د بربادۍ خو يوازي د هغه سړي په برخه کي راځي چي مرتد وي نو ددې مطلب دادى چي کوم سړى د مازديگر لمونځ پريږدي نو ددې لمانځه په وجه هغه ته چي کوم اجر او ثواب تر لاسه کيدى او د هغه په نيکيو کي چي کمي او زياتوب کيدى د هغه څخه محروم سو، يا دا چي د هغه د ورځي په اعمالو کي چي کوم کمال هغه ته د مازديگر د لمونځ په وجه هغه ته تر لاسه کيدى هغه ټول ضائع سوه په هغه سره د هغه په اعمالو کي کمي واقع سوه.

د حنيفه په نزد په مرتد کيدو سره ټول اعمال باطل کيږي د هغه په نزد د مرګ قيد نسته تر داسي وخته که پر يو سړي باندي حج واجب وي او هغه د حج وروسته مرتد سو بيا وروسته الله تعالي هغه ته هدايت وکړ او هغه په اسلام کي داخل سو نو هغه به حج دوهم وار کوي د معتزلوو په نزد په کبيره ګناه کولو سره اعمال باطل کيږي. والله اعلم.

﴿۵۴۸﴾: وَعَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيْجٍ قَالَ كُنَّا نُصَلِّيَ الْمَغْرِبَ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى

د رافع بن خديج رضي الله عنه څخه روايت دى چي موږ به د رسول الله ﷺ سره د ماښام لمونځ ادا کوى

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَنْصَرِفُ أَحَدُنَا وَإِنَّهُ لَيُبْصِرُ مَوَاقِعَ نَبْلِهِ. متفق عليه

نو په موږ کي چي به څوک بيرته ستنېدى نو هغه به د خپل غشي د غورځېدو ځاى ليدى. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\۴۰، رقم ۵۵۹، ومسلم ۱\۴۴۱، رقمګ ۲۱۷- ۶۳۷.

تشريح: ددې مطلب دادى چي موږ خلکو به د رسول الله ﷺ سره د ماښام لمونځ داسي په اول وخت کي کوئ چي د لمانځه کولو سره د بيرته راتلو وروسته که يو سړي به غشي وويشتى نو هغه به دا ليدلاي سول چي هغه غشى په کوم ځاى کي ومونښتى.

په هر حال د ټولو علماؤ په نزد په اتفاق سره د ماښام لمونځ په اول وخت کي اداء کول مستحب دي.

﴿۵۴۹﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانُوْا يُصَلُّوْنَ الْعَتَمَةَ فِيْمَا بَيْنَ أَنْ يَّغِيْبَ الشَّفَقَ إِلٰى ثُلُثِ اللَّيْلِ الْأَوَّلُ. (متفق عليه)

د حضرت عائشې ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ او صحابه كرامو به د ماخستن لمونځ د شفق د غائب كېدو وروسته تر دريمي برخي د شپې پوري كوی. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\۳۴۷، رقم: ۸۶۴، ولم نجده عند مسلم.

د لغاتو حل: (العَتَمَة): العشاء (ماخستن).

تشريح: د دې تر مخه دا ښودل سوي دي چي مخكي به په عربو كي خلكو عشاء (ماخستن) ته عتمه ويل نو رسول الله ﷺ چي عشاء ته د عتمه ويلو څخه منعه وكړل نو بيا دا نوم ترک كړل سو مګر دلته بي بي عائشې رضي الله عنها ماخستن ته عتمه ويلي دي نو د دې وجه دا كيدای سي چي تر دغه وخته پوري بي بي عائشې رضي الله عنها ته دا معلومه نه وه چي رسول الله ﷺ عشاء ته د عتمه ويلو څخه منعه فرمايلې ده، د عشاء (ماخستن) د وخت په اړه دا هم ښودل سوي دي چي د شپې تر دريمي برخي پوري مختار وخت دی او د سهار د راختلو څخه مخكي مخكي پوري د جواز وخت وي.

﴿۵۵۰﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيُصَلِّيَ الصُّبْحَ

د حضرت عائشې ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د سهار لمونځ هغه وخت كوی چي

فَتَنْصَرِفُ النِّسَاءَ مُتَلِّفِعَاتٍ بِمُرُوْطِهِنَّ مَا يُعْرَفْنَ مِنَ الْغَلَسِ. متفق عليه

(د لمانځه كولو وروسته) به ښځي په پرده كي بيرته ستنېدې نو د تيارې له كبله به هيچا هغوی نه پيژندلې. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\۳۴۹، رقم: ۸۶۷، ومسلم ۱\۴۴۶، رقم: ۲۲۲- ۶۴۵.

د لغاتو حل: (متلفعات): ای مستترات وجوههن وابدانهن (په پرده كي). (بمروطهن): المِرط: كساء من صوف او خز يؤتزر به وقيل الجلباب، وقيل الملحفة. مرقات. (چادري).

﴿۵۵۱﴾: وَعَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَزَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ

حضرت قتاده د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ او زيد بن ثابت رضي الله عنه

تَسَحَّرَا فَلَمَّا فَرَغَا مِنْ سُحُوْرِهِمَا قَامَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى

دواړو پيشلمی وکړ د پيشلمي څخه تر فراغت وروسته رسول الله ﷺ ودرېدی لپاره

الصَّلاَةِ فَصَلّٰى. قُلْنَا لِأَنَسٍ كَمْ كَانَ بَيْنَ فَرَاغِهِمَا مِنْ سُحُوْرِهِمَا وَدُخُوْلِهِمَا

د سهار د لمانځه او لمونځ يې وکړ، موږ د انس ﷜ څخه پوښتنه وکړه چي د پيشلمي کولو او د سهار د لمانځه په منځ کي څومره وخت وو؟

فِي الصَّلاَةِ؟ قَالَ قَدْرُ مَا يَقْرَأُ الرَّجُلُ خَمْسِيْنَ آيَةً. رواه البخاري

هغه وويل يوازي دومره وخت چي يو سړی پکښي پنځوس آيا تونه تلاوت کړي. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\۵۴، رقم: ۵۷۶.

تشريح: علامه توريشتي رحمة الله عليه فرمايي چي: دلته د وخت کومه اندازه بيان سوې ده په هغه سره عامو خلکو ته عمل کول جائز نه دي ځکه چي د رسول الله ﷺ دا عمل د الله تعالی د لوري څخه د خبر کېدو وروسته وو، دوهم دا چي رسول الله ﷺ خو د دين په معامله کي معصوم من الخطاء (د ګناهو څخه پاک) وو چي په ديني معامله کي لږ تصور نسي کيدای او ښکاره ده چي دا مرتبه د هرچا چيري په برخه کيدای سي.

﴿۵۵۲﴾: وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ لِي رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كَيْفَ أَنْتَ

د حضرت ابوذر ﷜ څخه روايت دی چي ما ته رسول الله ﷺ وفرمايل ستا به څه حال وي

إِذَا كَانَتْ عَلَيْكَ أُمَرَاءُ يُمِيْتُوْنَ الصَّلاَةَ أَوْ يُؤَخِّرُوْنَ عَنْ وَقْتِهَا قُلْتُ فَمَا تَأْمُرُنِي

هغه وخت چي پر تا داسي حاکمان يا سرداران مسلط سي چي لمونځونه مړه کوي او يا يې په زنډ سره کوي، ابوذر ﷜ وايي چي ما عرض وکړ نو بيا تاسو د هغه وخت لپاره څه حکم راکوئ؟

قَالَ صَلِّ الصَّلاَةَ لِوَقْتِهَا فَإِنْ أَدْرَكْتَهَا مَعَهُمْ فَصَلِّ فَإِنَّهَا لَكَ نَافِلَةٌ. رواه مسلم

رسول الله ﷺ وفرمايل: ته لمونځ پر وخت کوه که ته د دوی سره لمونځ کوې نو دوهم ځل يې ورسره وکړه او دا به ستا لپاره نفل وي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۴۴۸، رقم: ۲۳۸.

تشریح : د حدیث الفاظ (او کانوا یؤخرون عن وقتها) کي په لفظ د (او) کي د راوي شک دی یعني د حدیث یو راوي ته شک سوی دی چي د هغه څخه مخکي راوي لفظ یمیتون ویلی دی که یؤخرون هسي خو د معنی په اعتبار په دواړو کي هیڅ فرق نسته، د حدیث خلاصه داده چي هغه وخت به ته څه کوې هر کله چي ته دا ووینې چي کوم سړی ستا حاکم او سردار وي په لمانځه کي سستي او کهالي کوي لمونځ پر خپل اول وخت کي نه کوي غیر مختار تاخیر کوي او هغه ستاسو حاکم وي ځکه ته به پر هغه قادر نه یې چي د هغه څخه مخالفت کولو سره پر سیده لار یې سم کړې تاته به دا بیره وي که لمونځ د هغه سره کوې نو د اول وخت لمونځ کولو فضیلت د لاس څخه وځي او که د هغه مخالفت کوې نو نه یوازي دا چي د هغه د خوا څخه د تکلیف رسیدو بلکه د جماعت فضیلت څخه محروم کیدو بیره به هم وي نو ابو ذر ﷺ د داسي موقع لپاره حکم هم وپوښتی چي هر کله داسي وخت راسي نو ماته څه طریقه اختیارول پکار دي؟

پر دې باندي رسول الله ﷺ هغه ته سیده لار وښودل چي کله داسي وخت وي نو کم تر کمه ته خپل لمونځ پر صحیح وخت ادا کوه بیا د هغه وروسته که په اتفاق سره د هغوی په لمانځه کي د ګډون کولو موقع هم وي نو د هغوی سره هم لمونځ کوه ستا دا لمونځ به نفل سي همداسي به بیا یو په دوه ثواب وي، د دې څخه دا معلومه سوه که یو امام په لمانځه کي زنډ وکړ نو مقتدیانو ته دا پکار ده چي هغوی خپل لمونځ په اول وخت کي اداء کړي بیا وروسته د امام سره دي هم لمونځ وکړي چي داسي د وخت او جماعت دواړو فضیلت ترلاسه کړي، مګر په دې پوهیدل پکار دي چي دا حکم یوازي د ماپښین او ماخستن په باره کي دی ځکه چي په سهار او مازدیګر کي خو د فرض ادا کولو وروسته نفل لمونځ کول مکروه دي او درې رکعته نفل مشروع نه دی ځکه په ماښام کي هم دا طریقه اختیارید لای سي.

او کوم چي د حدیث د اطلاق تعلق دی نو په دې اړه به وویل سي چي دا دضرورت په وجه دی چي د امیرانو او حکامو سره لمونځ نه کول او د هغوی خلاف کولو کي فتنه او فساد کي د اخته کیدو بیره وه ځکه رسول الله ﷺ د ماپښین او ماخستن قید و نه لګوی چي د مکروهاتو مخنیوی ددې څخه غوره دی چي فتنه او فساد پیدا کړای سي بیا په داسي موقع باندي مکروهات هم مباح کیږي، په پای کي په دې خبره باندي هم پوه سئ چي رسول الله ﷺ ابو ذر ﷺ ته دا فرمایلي وه هغه یوازي د وړاند ویني په توګه یې نه وه فرمایلي بلکه په اصل کي رسول الله ﷺ د معجزې په توګه یې د راتلونکي پېښېدو حالاتو وړاند وینه فرمایلې وه،

پوهیدونکي خلک پوهیږي چي د بني امیه په دور کي دا وړاند وینه په پوره صداقت سره صحیح سوه چي د هغه زمانې امراء او حاکمان به په لمانځه کي ډېره سستي کول او لمونځ به يې د مختار وخت څخه په ځنډ سره کوی.

﴿۵۵۳﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَدْرَكَ

د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم څوک چي ونیسي

رَكْعَةً مِنَ الصُّبْحِ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ فَقَدْ أَدْرَكَ الصُّبْحَ وَمَنْ أَدْرَكَ

د سهار یو رکعت د لمر ختلو څخه مخکي نو هغه لکه د سهار لمونځ چي وکړاو چا چي ونیوی

رَكْعَةً مِنَ الْعَصْرِ قَبْلَ أَنْ تَغْرُبَ الشَّمْسُ فَقَدْ أَدْرَكَ الْعَصْرَ. متفق علیه

د مازدیگر یو رکعت د لمر لوېدو څخه مخکي ونیوی نو هغه د مازدیگر لمونځ تر لاسه کړ.
بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۲\۵۶، رقم: ۵۷۹، ومسلم ۱\ ۴۲۴، رقم: ۱۶۳ - ۶۰۸.

تشریح: د مسئلې صورت دا دی چي مثلاً یو سړی د مازدیگر لمونځ کولو لپاره بالکل په اخر وخت کي ودریدی او س هغه لا یو رکعت لمونځ کړی وو چي لمر ډوب سو همداسي یو سړي د سهار لمونځ کولو لپاره بالکل په آخري وخت کي ودریدی چي د یوه رکعته وروسته لمر راوختی نو د دې حدیث له مخي د دواړو لمنځونه صحیح سوه.

مگر په دې مسئلې کي د علماؤ اختلاف دی د اکثرو علماؤ په نزد د دې حدیث سره سم د لمر ختو او کښېنته کیدو پر وجه د سهار او مازدیگر لمونځ نه باطل کیږي مگر د امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه او د هغوی متبعین فرمايي چي د مازدیگر لمونځ خو په دغه صورت کي صحیح دی چي د لمر د کښېنته کیدو په وجه د مازدیگر لمونځ نه باطل کیږي مگر د سهار په باره کي به معامله بالکل مختلف وي په دې توګه چي د لمر ختلو څخه مخکي د سهار لمونځ باطل کیږي همداسي دا حدیث به د امام اعظم رحمة الله علیه خلاف وي ځکه د دې جواب دا ورکول کیږي چي د دغه حدیث او د نورو حدیثونو په مینځ کي چي د هغه څخه دا ثابتیږي چي د لمر ختلو او کښېنته کیدو په وخت کي لمونځ که نفل وي او که فرض کول ممنوع دي، په دغه دواړو حدیثونو کي ټکر واقع کیږي ځکه موږ د اصول فقه دې قاعدې سره سم چي هر کله په دوو

حدیثونو کي تعارض واقع سي نو د حدیث طرف ته رجوع کول پکار دي او هر کله چي په دوو آیاتونو کي تعارض وي نو د قیاس مرسته اخیستل پکارده پر قیاس باندي عمل څه دي قیاس ددې حدیث حکم ته د مازدیګر په لمانځه کي ترجیح ورکړه او حدیثونه نهي د سهار په لمونځ کي ترجیح ورکړه او د دې وجه داده چي د فجر مخکي هر کله چي لمونځ پیل کیږي نو د هغه د صفت کمال سره واجب کیږي چي د هغه تقاضا داده چي څرنګه ابتداء صفت کمال سره ثابته سوې ده همداسي اختتام هم په صفت کمال سره یعني په وخت کي دننه وي خو هر کله چي یو رکعت څخه وروسته لمر راوختی نو ددې مطلب داسو چي د وخت ختمیدو په وجه په لمانځه کي تاوان پیدا سو نو دا لمونځ چي په کوم صفت کمال سره واجب سوی وو هغسي اداء نه سو نو ګویا پوره لمونځ باطل سو.

ددې بر عکس په مازدیګر کي دوهم شکل دی هغه دا چي د مازدیګر په لمانځه کي تر لمر پریوتو پوري پوره وخت کامل نه وي یعني تر څو پوري چي لمر ژړ نسي تر هغه وخته پوري خو وخت مختار یا خو وخت کامل وي خو لمر تر ژړیدو وروسته په آخر کي وخت مکروه کیږي نو د مازدیګر لمونځ هر کله چي وخت بالکل په اخر کي یعني وخت ناقص کي پیل کیږي نو د هغې مطلب به دا وي چي د هغه ابتداء وخت ناقص کي وسوه ځکه د هغې وجوب هم په صفت تاوان سره وسو نو د هغه اختتام هرکله چي د لمر په ډوبیدو باندي وي نو دا به وویل سي چي د لمر د ډوبیدو سره په لمونځ کي د تاوان پیدا کیدو په وجه لمونځ فاسد نه سو ځکه څرنګه چي د هغه ابتداء په ناقص وخت کي سوې ده همداسي د هغه انتهاء هم په ناقص وخت کي وسوه ګویا په کوم صفت سره چي لمونځ واجب سوی وو په هغه صفت سره یعني ناقص ادا سو.

د کومو حدیثو څخه چي معلومیږي چي د لمر ختلو اولمر کښېنته کیدو او نصف النهار (زوال) په وخت کي لمونځ کول ممنوع دي د هغه په باره کي امام شافعي رحمة الله علیه فرمایي چي د دې حدیث تعلق د نوافل سره دی یعني که یو سړی په دغه درو وختونو کي نفل لمونځ کول غواړي نو د هغه لپاره به دا جائزه نه وي البته په فرض لمنځونو کي به په دغه درې سره وختونه کي هم جائز وي مګر د حدیث الفاظ د امام شافعي رحمة الله علیه د مذهب تائید نه کوي ځکه چي په حدیث کي د فرض او نفل هیڅ تخصیص نه دی سوی بلکه په عامه توګه سره د ټولو لمنځونو په باره کي ویل سوي دي نود دې په باره کي که د یوه لمونځ تخصیص کیږي نو دا به وویل سي چي دا حدیث د ښکاره منشاء او مفهوم سراسر خلاف دی.

ابن مالک رحمة الله علیه فرمایي ددې حدیث د اولي جملې مطلب دا دی چي کوم سړي د

لمر ختلو څخه مخکي د سهار لمونځ یو رکعت وکړ نو بېشکه هغه د لمونځ وخت تر لاسه کړ که څه هم هغه وخت د لمانځه مناسب نه وو مګر بیا هغه وخت د لمونځ مناسب ځکه شو چي د یوه رکعت مقدار وخت په هر حال باقي پاته سوی وو نو هغه لمونځ به د هغه سړي لپاره لازم وي.

﴿۵۵۴﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَدْرَكَ أَحَدُكُمْ

د حضرت ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په تاسو کي چي څوک ونیسي

سَجْدَةً مِّنْ صَلَاةِ الْعَصْرِ قَبْلَ أَنْ تَغْرُبَ الشَّمْسُ فَلْيُتِمَّ صَلَاتَهُ وَإِذَا أَدْرَكَ

د مازدیګر یو رکعت د لمر لوېدو څخه مخکي نو هغه ته پکار دي چي خپل لمونځ پوره کړي او څوک چي ونیسي

سَجْدَةً مِّنْ صَلَاةِ الصُّبْحِ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ فَلْيُتِمَّ صَلَاتَهُ. رواه البخاري

د سهار یو رکعت د لمر ختلو څخه مخکي نو هغه باید خپل لمونځ پوره کړي. بخاري

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري) ۲\۳۷ - ۳۸، رقم: ۵۵۶.

تشریح: هغه ته پکار ده چي خپل لمونځ پوره وکړي، حنفیه خو ددې جملې مطلب داسي بیانوي چي هغه دي خپل لمونځ را وګرځوي یعني د هغه قضاء دي وکړي او د شوافع په نزد هغه معنی ده چي ددې څخه په مخکي حدیث کي ذکر سوې ده.

﴿۵۵۵﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ نَسِيَ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د چا څخه چي هېر سي

صَلَاةً أَوْ نَامَ عَنْهَا فَكَفَّارَتُهَا أَنْ يُصَلِّيَهَا إِذَا ذَكَرَهَا وَفِيْ رِوَايَةٍ لَا كَفَّارَةَ لَهَا

لمونځ یا بیده سي نو د هغه بدله داده چي کله هم ورپه یاد سي نو سمدستي دي یې وکړي، او په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي نه سته کفاره د غه لره

إِلَّا ذٰلِكَ. متفق علیه

مګر دا چي ویې کړي. بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۲\۷۰، رقم: ۵۹۷، ومسلم ۱\۴۷۷، رقم: ۳۱۵ - ۶۸۴.

تشريح : كه د يوه سړي ځخه لمونځ كول هير سي يا د لمانځه په وخت كي داسي غافله بيده سي چي د لمانځه وخت تير سي او لمونځ ونه كړي نو د هغه كفاره يوازي داده چي كله هم ورته را ياد سي يا كله هم د خوب ځخه راپورته سي نو قضاء لمونځ دي وكړي دانه چي ځرنګه بغير عذر ځخه هم د كفارې په توګه ځو لمنځونه كول پر ذمه سي يا صدقه وغيره وركول پر ذمه سي، ابن ملك رحمة الله عليه فرمايي چي د دې حديث ځخه دا خبره ثابتيږي چي كوم لمونځ د كولو ځخه پاته سي هغه چي كله ور ياد سي د هغه په كولو كي تاخير كول نه دى پكار.

﴿۵۵٦﴾: وَعَنْ أَبِيْ قَتَادَةَ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د حضرت ابوقتاده رضي الله عنه ځخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

لَيْسَ فِي النَّوْمِ تَفْرِيْطٌ إِنَّمَا التَّفْرِيْطُ فِي الْيَقْظَةِ فَإِذَا نَسِيَ أَحَدُكُمْ صَلَاةً أَوْ

د خوب په حالت كي د لمانځه ځخه ناخبره كېدو سره د خوب له كبله ځه قصور نسته البته د ويښي په حالت كي قصور سته هر كله چي په تاسو كي د يو چا ځخه لمونځ هير سي يا

نَامَ عَنْهَا فَلْيُصَلِّهَا إِذَا ذَكَرَهَا فَإِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى قَالَ (وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِيْ).

رواه مسلم

بيده سي نو كوم وخت چي ور په ياد سي سمدستي دي يې وكړي لكه چي الله تعالى فرمايي : (زما د ياد لپاره لمونځ ادا كړه). مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۱\ ۴۷۳، رقم: ۳۱۱- ٦۸۱.

تشريح : مطلب دادى كه يو سړي د لمانځه مخكي په غافل كيدو سره بيده سي نو په هغه حالت كي دي د لمانځه د تاخير او قصور نسبت بيده كيدونكي ته نه كيږي ځكه چي هغه د خوب بيده كيدو كي مكلف نه دى بلكه مجبور دى البته هغه ته د قصور نسبت به د ويښي په حالت كي كيږي چي هغه داسي طريقه ولي اختيار كړل چي د هغه په وجه هغه د لمانځه كولو پرته بيده سي مثلا د وخت تر مخه بيده سو نو په دې كي د هغه خطا ده همداسي هغه داسي كارونه وكړل چي د هيري سبب وي مثلا په پريوتو يا د سطرنج په لوبه يا داسي نور كارونو كي بوخت سي چي د هيري باعث وي نو په دې كي د هغه قصور دى.

د آيت مطلب دادى چي د لمانځه يادول په منزله د الله جل جلاله د يادولو دي ځكه د لمانځه

ياد ول الله جل جلاله دخپل يادولو سره وفرمايل كله چي ما يادوى يعني لمونځ چي هر كله تاسو ته راياد سي چي هغه زما د يادولو سبب دي نو كوئ يې، ځيني حضرات وايي چي (لذكري) معنى ده چي كله درته لمونځ راياد كړم نو هغه وخت لمونځ كوئ ستاسو څه قصور نه دى.

اَلْفَصْلُ الثاني (دوهم فصل)

﴿۵۵۷﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا عَلِيُّ ثَلَاثٌ

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: اې علي! په درو شيانو كي

لَا تُؤَخِّرْهَا الصَّلَاةُ إِذَا أَتَتْ وَالْجَنَازَةُ إِذَا حَضَرَتْ وَالْأَيِّمُ إِذَا وَجَدْتَ لَهَا كُفُؤًا. رواه الترمذي.

زنډ كول نه دي پكار ۱: يو خو د لمانځه په ادا كولو كي چي كله يې وخت سي ۲: دويم. په جنازه كي چي كله تيار سي ۳: او دريم د بې خاونده ښځي په نكاح كي هر كله چي د هغې سيال خاوند پيدا سي. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۱۱۳۲۰، رقم: ۱۷۱.

تشريح: رسول الله ﷺ حضرت علي رضي الله عنه ته په درو كارونو كي د زنډ نه كولو نصيحت فرمايلى دى اول خو د لمانځه په باره كي يې وفرمايل چي كله د لمانځه مختار وخت سي نو په هغه كي تاخير كول نه دي پكار بلكه تر ټولو تر مخه لمونځ كوئ د هغه وروسته بل كار كوئ دوهم د جنازې په باره كي فرمايلي دي چي كوم وخت جنازه تياره سي نو د هغې په لمانځه او ښخولو كي قطعا تاخير نه دى پكار، اشرف علي رحمة الله عليه قول د علامه طيبي شافعي نقل كوي چي ددې څخه دا معلومه سوه چي د جنازې لمونځ په مكروه وختونو يعني لمر ختلو، لمر كښېنته كېدو او د زوال په وخت كي كول مكروه نه دي هو كه صورت داسي وي چي جنازه د دغه وختونو څخه مخكي راسي نو بيا په دغه وختونو كي به لمونځ كول مكروه دي داده سجده تلاوت هم حكم دي په هر حال د دې درو مكروه وختونو څخه پرته په ټولو وختو كي حتى چي د سهار څخه مخكي او وروسته او د مازديگر دلمانځه وروسته هم دا دواړه شيان يعني د جنازې لمونځ او سجده تلاوت مكروه نه دي.

دريم شی رسول الله ﷺ دا وفرمايه چي د بې خاونده ښځي کفو يعني هم قوم سړی چي کله پيدا اسي نو د هغه سره په نکاح کولو کي تاخير کول نه دي پکار.

(ايّم) بې خاونده ښځي ته وايي که هغه پيغله وي يا مطلقه يعني طلاقه سوې او يا کونډه وي خو علامه طيبي فرمايي چي ايم هغه ښځي ته وايي چي د هغه زوج (يعني جوړه) نه وي که څه هم هغه سړی وي يا ښځه او ښځه که څه هم ثيب[1] وي او پېغله وي

د کفو مطلب دادی چي سړی په هغه ټولو صفتونو کي د ښځي هم مثله (برابر) وي، هغه اوصاف دادي : يو نسب دوهم اسلام دريم حريت يعني ازادي څلورم ديانت پنځم مال شپږم کسب. په دې ځای کي د حديث مناسبت يو تکليفي صورت حال ته د مسلمانانو توجه ګرځول ضروري ده نن صبا دا عام رواج جوړ سوی دی چي د انجونو واده په ډير زنډ سره کيږي اکثر زنډ خو د نوي تهذيب د پيروي او د رسم او رواج د پابندۍ نتيجه ده دا شی نه يوازي دا چي د پيغمبر رسول الله ﷺ د حکم او فرمان خلاف دی بلکه د انجونو د فطرت او د هغوی د جذباتو ختمولو سره پر هغوی د ظلم برابر دی د دې نتائج چي نن سبا په کوم انداز سره مخته راځي د هغه څخه هر سړی ښه خبر دی چي د زنا لعنت عام سوی دی د بې حيايي او بې غيرتۍ دور دی او اخلاق او کردار ډير راکښته سوي دي ، بيا نه يوازي داچي د پيغلو انجونو په واده کي تاخير کيږي بلکه که يوه ښځه د خاوند په وفات يا طلاق په وجه کونډه کيږي نو د هغې دوهمه نکاح ډير عيب ګڼل کيږي همداسي د هغې خواري (بې چاري) ټول جذبات او خواهشات په ختميدو سره د هغې ټوله ژوند په نا اميدۍ، غم درد او حسرت او بې کيفي کي تير يږي.

په دې خو تقريبا ټول پوهيږي چي د ټولو اهل سنت والجماعت په اتفاق سره دا عقيده ده چي کوم سړی د معمولي سنت څخه هم انکار وکړي يا د هغه تحقير يعني سپکاوی وکړي نو هغه کافر کيږي او په دې ټول خلک پوهيږي چي د ښځي نکاح کول د پيغمبر اسلام ﷺ هغه عظيم او مشهور سنت دی چي د هغه تاکيد د بې شميره حديثونو څخه ثابت دی مګر افسوس دی چي مسلمانان چي د اسلام دعوه کوي د رسول الله ﷺ ذات اقدس سره د محبت اقرار کوي د رسول الله ﷺ په دې سنت باندي په پابندي سره د عمل کولو جذبه نه لري دا څومره د تعجب خبره ده چي يو سړی خو د خپل مجبورۍ په وجه د انجونو په واده کي ځنډ کوي څوک د نوي

---

[1] يعني هغه ښځه چي د هغې نکاح سوې وي مګر خاوند يې مړ سوی وي يا طلاق يې ورکړی وي يا پيغله ناواده کړې انجلۍ وي.

تهذیب او فیشن سره د دې نیک بختۍ څخه ځان محرومه کوي او ځیني خلک د پیغور او ملامیتا د خوف څخه د کونډې سره د واده کولو انکار کوي ګویا هغه د خلکو پیغور او ملامتیا د رسول الله ﷺ په حکم او سنت باندې ترجیح ورکوي حال دا چې د هوښیارتوب تقاضا داده چې هغه د خلکو دغه پیغور او خبرې د ځان لپاره باعث د سعادت او قابل د فخر وګڼي چې د انبیاء علیهم السلام او د الله ﷻ د نیک بندګانو پر ښه کارونو باندې همیشه خلکو پیغور او خبرې کړې دي مګر هغه خلکو د الله ﷻ په حکم، اطاعت، فرمانبردارۍ او نیکو کارونوکې هیڅ کله کوتاهي یا قصور نه دی کړی.

دلته د یو بزرګ په زړه پورې حکایت واورئ: ویل کیږي چې یو بزرګ د خپل لور نکاح د یو مرید سره چې د هغه انجلۍ مناسب او وړ وو وکړل او په دې یې هیڅ څوک خبر نه کړل حال دا چې د خپل ښځې څخه یې هم دا خبره پټه ساتلې وه وروسته چې د هغه ښځې ته دا معلومه سوه نو په جذبه کې سوه او هغه ته یې وویل چې تا ددې خبرې هم خیال نه وساتی چې ستا په دې چم کولو سره ستا پزه پرې کیدای سي او بیا څرنګه چې د هغو ناقص العقل ښځو عادت دی هغه بزرګ ته یې ډیر بد او رد وویل هغه بزرګ دا وګڼل چې د ښځو سره په دې باره کې څه ویل د خپل عقل خرابول دي نو دی هم پټه خوله سو بیا د باندې راغلی د مریدانو څخه یې پوښتنه وکړه چې ولې ورونو زما پر مخ هم پزه سته یا نه هغوی په تعجب سره وویل چې هو ولې نسته، هغه ورته وویل زما ښځه وایي چې زما پزه پریکړه سوه، ددې څخه د دوی مطلب دا وو چې سړي ته دا پکار ده چې په نیک کار کولو کې د چا د پیغور او ملامتیا خیال نه وساتي ځکه چې په حقیقت کې کومه خبره خرابه نه وي هغه د چا په وینا سره نه خرابیږي او نه د هغه کارکونکې پر ذات او شخصیت د رواغ لګیدلای سي.

حضرت مولانا شاه عبد القادر رحمة الله علیه ددې آیت (و انکحو الایامي) په ضمن کې ددې حدیث ترجمه داسې کړې ده چې:

رسول الله ﷺ وفرمایل (اې علي ﷺ په درو کارونو کې تاخیر مه کوه اول د فرض لمانځه په اداکولو کې هرکله چې د هغه وخت سي دوهم په جنازه کې چې موجود سې دریم د کونډې ښځې په نکاح کې هر کله چې د هغې د ذات او مرتبې سړی مړ سي او کوم سړی چې پر کونډې باندې د دوهم خاوند عیب لګوي نو پوه سه چې د هغه ایمان سلامت نه دی او کومه مینځه یا غلام چې نیک وي یعني د واده څخه وروسته د هغوی د مغرور کیدو خوف نه وي او تاسو ته باور وي چې دا نیک بخت دي د واده څخه وروسته به زموږ کار نه پریږدي نو د هغوی هم نکاح کوئ.

﴿۵۵۸﴾: وَعَنْ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

الْوَقْتُ الْأَوَّلُ مِنَ الصَّلَاةِ رِضْوَانُ اللّٰهِ وَالْوَقْتُ الْآخِرُ عَفْوُ اللّٰهِ . رواه الترمذي

په اول وخت کي د لمانځه ادا کول د الله د رضا سبب دی او په آخري وخت کي د الله تعالی د معافی سبب دی. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۱\۳۲۱، رقم: ۱۷۲.

تشريح د اول وخت څخه مراد اول مختار وخت دی او ددې قيد لګولو ضرورت داسي وسو چي د حنفيه په نزد په ځينو لمنځونو کي ځنډ کول لکه د سهار لمونځ او په ګرمۍ کي د ماپښين لمونځ په ځنډ کولو سره کول مستحب دی نو دا لمنځونه مستثنی دي ځکه چي د دې اول وخت مختار نه دي بلکه په دې کي ځنډ مختار دي

د آخر وخت څخه مراد مکروه وخت دی مثلا د مازديګر په لمانځه کي د لمر په بدليدو يا د ماخستن په لمانځه کي وخت د نيمي شپې څخه زيات تيريدل ددې جملې مطلب دادی چي په آخر وخت کي د لمانځه فرضيت خو په هر حال اداء کيږي چي د هغه په وجه هغه وخت په لمانځه کونکي د لمانځه د پريښودلو د ګناه څخه ژغورل کيږي او پر هغه به څه مواخذه نه وي .

﴿۵۵۹﴾: وَعَنْ أُمِّ فَرْوَةَ قَالَتْ سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الْأَعْمَالِ

د حضرت ام فروة څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چي کوم عمل

أَفْضَلُ ؟ قَالَ الصَّلَاةُ لِأَوَّلِ وَقْتِهَا . رواه أحمد والترمذي وأبو داود . وقال الترمذي لا يروى الحديث إلا من حديث عبد الله بن عمر العمري وهو ليس بالقوي عند أهل الحديث .

تر ټولو غوره دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : په اول وخت کي لمونځ ادا کول ،(احمد ، ترمذي) ترمذي په دې کي دا هم ليکلي دي چي دا حديث پرته د عبد الله بن عمر عمري د حوالې څخه څه بله لار نه پيدا کيږي چي نه دی قوي په نزد د اهل حديث

تخريج: الامام احمد في مسنده ٦\ ٣٧٤، ٣٧٥، ٤٤٠، وابوداؤد: ١\ ٢٩٦، رقم: ٤٢٦، والترمذي ١\ ٣١٩، ٣٢٠، رقم: ١٧٠.

تشريح: مطلب دادى چي تر ايمان وروسته افضل عمل دادى چي لمونځ د هغه په اول وخت كي په جماعت سره اداء سي، د كتاب الصلوات پنځم نمبر حديث په تشريح كي ښودل سوي ده چي د ښه اعمالو په اړه ډېر زيات حديثونه راغلي دي چي په هغه كي مختلف اعمالو ته افضل اعمال ويل سوي دي او هغه هر يو پر خپل خپل ځاى او د مناسبت په وجه يقينا افضل دي.

دلته بيا هم پوه سئ چي په نورو حديثونو كي كومو اعمالو ته افضل ويل سوي دي نو هلته فضليت اضافي مراد دى يعني ځيني اعمال په ځيني حيثيث سره افضل دي او ځيني اعمال ته د نورو وجهو او حيثيت سره پر نورو اعمالو باندي فضيلت حاصل دى مگر لمونځ علي الاطلاق په ټولو وجهو تر ايمان وروسته تر ټولو اعمالو غوره او اشرف دى.

ترمذي ددې حديث په باره كي ويلي دي چي د دې راوي يوازي يو يعني عبد الله بن عمر عمري دي او هغه هم د محدثينو په نزد قوي نه دى د عبد الله بن عمري په باره كي غالبا مخكي هم د يو حديث په تشريح كي ښودل سوي دي چي دى د حضرت عمر رضي الله عنه د كورنۍ څخه دى ځكه ورته عمري ويل سوي دي د نسب لړۍ يې داده: عبد الله بن عمر حفص بن عاصم بن عمر فاروق، په هر حال د ترمذي د ويلو مقصد دادى چي دا حديث د صحت مرتبې ته نسي رسيدلاى حال دا چي نورو حضراتو ويلي دي چي دا حديث صحيح دى.

﴿٥٦٠﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا صَلَّى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صلاة

د حضرت عائشې ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ تر آخره وخته پوري هيڅكله لمونځ

لِوَقْتِهَا الْآخِرِ مَرَّتَيْنِ حَتّٰى قَبَضَهُ اللّٰهُ تَعَالٰى. رواه الترمذي.

په آخري وخت كي دوهم ځل نه دى كړى. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ١\ ٣٢٨، رقم: ١٧٤.

تشريح: د بي بي عائشې صديقې رضي الله عنها د ارشاد مطلب دادى چي رسول الله ﷺ به لمنځونه په هغه مختار وختوونو كي كول په مكروه وختونو كي به يې نه كول يوازي يو وار د بيان جواز لپاره رسول الله صلي الله عليه وسلم په اخري وخت كي كړي وو تر هغه برخي پوري لمونځ جائز كيداى سي، معلوميږي چي بي بي عائشې رضي الله عنها هغه لمونځ نه دى

شمیرلی کوم چي رسول الله ﷺ د جبرائیل علیه السلام په ملګرتیا کي په اخر وخت کي د لمانځه کولو اتفاق سوی وو همداسي یو وار رسول الله ﷺ یو پوښتنه کونکي ته یوه ورځ په اول وخت کي او یوه ورځ په اخر وخت کي لمونځ کولو سره ښودلې وه دا هم بي بي عائشې رضي الله عنها نه دی شمیرلی ځکه چي دا پر تعلیم باندي محمول دی.

﴿۵۶۱﴾: وَعَنْ أَبِيْ أَيُّوْبَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ يَزَالُ

د حضرت ابو ایوب رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : همېشه به

أُمَّتِيْ بِخَيْرٍ أَوْ قَالَ عَلَى الْفِطْرَةِ مَا لَمْ يُؤَخِّرُوْا الْمَغْرِبَ إِلٰى أَنْ تَشْتَبِكَ النُّجُوْمُ . رواه أبو داود . ورواه الدارمي عن العباس .

زما امت د خیر په حالت کي وي یا دا الفاظ رسول الله ﷺ وفرمایل چي زما امت به همیشه پر دین فطرت وي تر څو پوري چي هغوی د ماښام په لمانځه کي زنډ نه کوي .یعني د و مره زنډ چي راښکاره سي ستوري .ابوداؤد او دارمي

تخریج: سنن ابي داؤد ۱\۲۹۱، رقم: ۴۱۸، سنن الدارمي ۱\ ۲۹۷، ۲۹۸، رقم: ۱۲۱۰.

تشریح: د دې حدیث څخه دا معلومه سوه چي د ماښام په وخت کي یوازي په ستورو لیدو سره کراهیت نه راځي البته ستوري په ګڼ کیدو سره چي ځلیدل پیل سي نو بیا وخت مکروه کیږي رسول الله ﷺ یو وار د ماښام لمونځ په ځنډولو سره کړی وو او هغه هم د بیان جواز لپاره کنه رسول الله ﷺ به همیشه په اول وخت کي د ماښام لمونځ ادا کوی.

﴿۵۶۲﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْلاَ أَنْ

د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : که چیري

أَشُقَّ عَلٰى أُمَّتِيْ لَأَمَرْتُهُمْ أَنْ يُّؤَخِّرُوْا الْعِشَاءَ إِلٰى ثُلُثِ اللَّيْلِ أَوْ نِصْفِهِ . رواه أحمد والترمذي وابن ماجه .

ما پر خپل امت مشکل نه ګڼلای نو ما به دا حکم کړی وای چي د ماخستن لمونځ د شپې تر دریمي برخي پوري و زنډول سي

تخريج: الامام احمد في مسنده: ۲\ ۲۵۰، ۴۳۳، والترمذي ۱\ ۳۱۰، ۳۱۱، رقم: ۱٦۷، وابن ماجه ۱\ ۲۲٦، رقم: ٦۹۱.

﴿۵٦۳﴾: وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْتِمُوا بِهٰذِهِ الصَّلَاةِ فَإِنَّكُمْ قَدْ فُضِّلْتُمْ بِهَا عَلٰى سَائِرِ الْأُمَمِ وَلَمْ تُصَلِّهَا أُمَّةٌ قَبْلَكُمْ . رواه أبو داود .

د حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو د (ماختستن په لمانځه كي) زنډ كوئ ځكه چي تاسي بيشكه بهتر كړل سوي ياست په دې لمانځه سره پر (ټولو) نورو امتونو او نه دي كړي يو امت مخكي تر تاسي دا لمونځ (ماخستن) . ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\ ۲۹۲- ۲۹۳، رقم: ۴۲۱.

تشريح: ددې څخه مخكي په باب المواقيت دريم نمبر حديث كي تير سوي دي چي رسول الله ﷺ ته جبرائيل عليه السلام د پنځو وختونو لمونځ وركړو او دا يې ورته وويل چي (هذا وقت الانبياء من قبلك) ددې څخه خو دامعلوميږي چي تيرو انبياء عليهم السلام هم د ماخستن لمونځ كوی كوم حديث چي دلته ذكر سوی دی د هغه څخه دا معلوميږي چي د ماخستن لمونځ يوازي پر دې امت فرض دی پر مخكنيو امتونو باندي فرض نه وو محدثينو په دې دواړو حديثونو كي دا تطبيق كړی دی چي په مخكنيو امتونو كي د ماخستن لمونځ به يوازي پيغمبر او رسول كوی ځكه چي دا لمونځ د هغوی پر امت واجب نه وو څرنګه چي د ځينو علماؤ د قول سره سم د تهجد لمونځ پر رسول الله ﷺ باندي واجب وو او د رسول الله ﷺ پر امت واجب نه دی ځكه د جبرائيل عليه السلام د ارشاد (هذا وقت الانبياء) څخه پر مخكنو امتونو باندي د ماخستن وجوب ثابت نه سو بلكه ددې مفهوم داسو چي دا لمونځ به انبياء عليهم السلام كوی او په دې حديث كي چي دا وفرمايل سوه چي مخكنيو انبياء عليهم السلام هم د ماخستن لمونځ نه كوی بلكه ددې مفهوم داسو چي دا لمونځ د مخكنيو امتونو خلكو نه كوی بلكه دا لمونځ ددې امت د خلكو سره خاص دی همداسي په دې دواړو حديثو كي هيڅ اختلاف پاته نه سو په آخر كي په دِې خبره باندي پوه سئ چي هذا وقت الانبياء من قبلك كي دا الفاظ هذا څخه د فجر وخت اسفار ته اشاره ده چي پر خلاف د نورو وختونو په دې كي ټول انبياء عليهم السلام شريک دي .

﴿۵۶۴﴾: وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيْرٍ قَالَ أَنَا أَعْلَمُ بِوَقْتِ هٰذِهِ الصَّلَاةِ صَلَاةِ

د حضرت نعمان بن بشير رضي الله عنه څخه روايت دی چي زه د دې لمانځه وخت ښه پيژنم يعني لمونځ

الْعِشَاءِ الْآخِرَةِ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْهَا لِسُقُوْطِ الْقَمَرِ

لِثَالِثَةٍ . رواه أبو داود والدارمي .

د ماخستن، رسول الله ﷺ به د شپې د دريمي برخي د سپوږمۍ د ډوبېدو په وخت کي کاوه .
ابوداؤد او دارمي

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\ ۲۹۱، رقم: ۴۱۹، والدارمي ۱\ ۲۹۸، رقم: ۱۲۱۱.

تشريح: د دريمي شپې سپوږمۍ د شپې تقريبا پنځمه برخه کي لويږي همداسي دا حديث هم پر دې خبره دلالت کوي چي د ماخستن لمونځ په ځنډ کولو سره مستحب دی د ماخستن لمونځ ته دوهمه عشاء ځکه ويل سوي دي چي ډير واره ماښام ته هم عشاء ويل سوي دي د دې اعتبار څخه دا دوهم عشاء سو .

﴿۵۶۵﴾: وَعَنْ رَّافِعِ بْنِ خَدِيْجٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت رافع بن خديج رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

أَسْفِرُوْا بِالْفَجْرِ فَإِنَّهُ أَعْظَمُ لِلْأَجْرِ . رواه الترمذي وأبو داود والدارمي
وليس عند النسائي فإنه أعظم للأجر .

د سهار لمونځ په رڼا کي کوئ ځکه چي په رڼا کي د دې کول لوی اجر لري . ترمذي، ابوداؤد او دارمي

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\ ۲۹۴، رقم: ۴۲۴، والترمذي ۱\ ۲۸۹، رقم: ۱۵۴، والنسائي ۱\ ۲۷۲، رقم: ۵۴۸ والدارمي ۱\ ۳۰۰-۳۰۱، رقم: ۱۲۱۷.

تشريح: د دې حديث څخه د ښکاره الفاظو څخه دا معلوميږي چي د سهار لمونځ په رڼا کي کول پکاردي لکه د حنفيو ښکاره مذهب هم دادی چي د سهار د لمانځه شروع او ختم دي دواړه په رڼا کي وي مګر امام طحاوي (چي د حنفي مذهب يو جليل القدر امام دی) فرمايي چي په اول کي په (غلس) يعني تياره کي پکار ده او ختم يې په رڼا کي ، د دې طريقه داده چي

قرائت دومره اوږد کړي چي په ويلو ويلو سره رڼا سي ، له دې وجه علماء فرمايي چي د امام طحاوي رحمة الله عليه دا تاويل ښه او احسن دی ځکه چي په دې سره په ټولو حديثونو کي مطابقت پيدا کيږي چي په هغه کي ځيني علماء خو پر تياره باندي دلالت کوي او د ځينو څخه دا معلوميږي چي په رڼا کي لمونځ کول افضل دي څرنګه د دې حديث څخه دا معلومه سوه .

په دې حديث کي د يو دوهم تطبيق وجه خپله يو حديث هم په دې شرح السنة کي نقل سوی دی د هغه څخه دا معلوميږي چي په دې اړه به د موسم اعتبار وي يعني د يخ په موسم کي به په تياره کي لمونځ کول غوره وي او د ګرمۍ په موسم کي به په رڼا کي لمونځ کول غوره وي د حديث الفاظ دا دي :

قال معاذ بعثني رسول الله صلى الله عليه وسلم الى اليمن فقال اذا كان في الشتاء فغلس بالفجر واطل القراءة قدر ما يطيق الناس ولا تملهم واذا كان في الصيف فاسفر بالفجر فان الليل قصير والناس نيام فامهلم حتى ادركوا يعني الصلوة

ترجمه: حضرت معاذ رضي الله عنه وايي چي کله زه رسول الله صلى الله عليه وسلم يمن ته وليږلم نو دا يې راته وفرمايل چي کله د يخ موسم سي نو د سهار لمونځ په تياره کي کوه او قرائت اوږد وايه (مګر دومره) چي پر خلکو باندي بوج نه وي چي هغوی تنګ نسي او هر کله چي د ګرمۍ موسم سي نو د سهار لمونځ په رڼا کي کوه ځکه چي د ګرمۍ شپې د کوچنۍ کېدو په وجه خلک بيده وي ځکه هغوی ته دومره موقع ورکړه چي هغوی په لمانځه کي ګډون وکړئ .

په هر حال د حنفيه علماؤ په نزد د سهار د رڼا حد دادی چي تر لمر ختو پوري دومره وخت وي چي په هغه کي قرائت مسنون د څلويښت څخه تر شپيته يا سلو اياتونو پوري ترتيل د قرآن شريف داسي ويل چي هر ټکی او هر لفظ خپل مخرج په ښه طريقه او خيال سره ولولي او د لمانځه وروسته که په پاکي کي څه خلل معلوم سي نو تر لمر ختو مخکي مخکي اودس او دا ذکر سوي طريقې باندي اعاده يعني دوهم وار لمونځ کول ممکن سي .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

﴿۵۲۶﴾: عَنْ رَّافِعِ بْنِ خَدِيْجٍ قَالَ كُنَّا نُصَلِّي الْعَصْرَ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د رافع بن خديج رضي الله عنه څخه روايت دی چي موږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره د ماز ديګر لمونځ ادا کړ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ تُنْحَرُ الْجَزُورُ فَتُقْسَمُ عَشَرَ قِسَمٍ ثُمَّ تُطْبَخُ فَنَأْكُلُ لَحْمًا

بيا به مو اوبښ حلال کړ بيا مو لس ځايه وويشئ بيا به غوښه پخه سول نو موږ به خوړل غوښه

نَضِيجًا قَبْلَ مَغِيبِ الشَّمْسِ. متفق عليه

پخه تر لمر لويدو مخکي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۵\۱۲۸، رقم: ۲۴۸۵ ومسلم ۱\۴۳۵، رقم: ۱۹۸- ۶۲۵.

تشريح: ددې حديث څخه په ښکاره خو دا معلوميږي چي د مازديګر لمونځ ژر يعني يو مثل سايه رسيدو وخت يا تر دې لږ وروسته وکړل سي څرنګه چي د ائمة ثلاثه (درو امامانو) او صاحبينو مذهب دادی او د يوه روايت سره سم د امام اعظم رحمة الله عليه هم دا مذهب دی او د ځينو حضراتو فتوی هم داده چي د مازديګر لمونځ دوه مثل سايه پوري وي د هغوی د طرف څخه به ددې حديث دا تاويل کيږي چي کيدای سي چي د ګرمۍ په موسم کي دا سي کيږي ځکه چي هغه وخت ورځ لويه وي، او ابن همام رحمة الله عليه د هدايې په شرح کي ليکلي دي که چيري د مازديګر لمونځ د لمر متغير کېدو څخه مخکي وکړل سي نو تر لمر لوېدو پوري په پاته وخت کي د تير سوي حديث په ډول عمل په آساني سره کيدای سي، کوم خلک چي د اميرانو او حکامو سره ډوډۍ پخونکي ماهرين په سفر کي پر ډوډۍ پخولو باندي ليدلي وي نو هغوی به دا ليري نه ګڼي.

﴿۵۶۷﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ مَكَثْنَا ذَاتَ لَيْلَةٍ نَنْتَظِرُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى

د حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي يوه شپه موږ د رسول الله ﷺ انتظار کاوه

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِصَلَاةِ الْعِشَاءِ الْآخِرَةِ فَخَرَجَ إِلَيْنَا حِينَ ذَهَبَ ثُلُثُ اللَّيْلِ

د ماخستن د لمانځه لپاره، رسول الله ﷺ راغلی کوم وخت چي د شپې دريمه برخه تيره سوې وه

أَوْ بَعْدَهُ فَلَا نَدْرِي أَشَيْءٌ شَغَلَهُ فِي أَهْلِهِ أَوْ غَيْرُ ذَلِكَ فَقَالَ حِينَ خَرَجَ إِنَّكُمْ

بلکه د دې وروسته هم موږ ته څرګنده نه وه چي رسول الله ﷺ په کور کي په يو کار بوخت وو يا ددې پرته بل څه سبب وو، رسول الله ﷺ چي موږ ته راورسيدی نو وه يې فرمايل: تاسو

لَتَنْتَظِرُونَ صَلاَةً مَا يَنْتَظِرُهَا أَهْلُ دِينٍ غَيْرُكُمْ وَلَوْلاَ أَنْ يَثْقُلَ عَلَى أُمَّتِي

دلمانځه انتظار کوی بل هيڅ اهل مذهب ستاسو څخه پرته ددې لمانځه انتظار نه کوي که زما په امت کي دا امر مشکل نه وای

لَصَلَّيْتُ بِهِمْ هَذِهِ السَّاعَةَ ثُمَّ أَمَرَ الْمُؤَذِّنَ فَأَقَامَ الصَّلاَةَ وَصَلَّى. رواه مسلم

نو ما به په دغه وخت کي په دوی لمونځ کولای بيا يې مؤذن ته حکم وکړ بيا اقامت وسو او لمونځ يې وکړ. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱\ ۴۴۲، رقم: ۲۲۰- ۶۳۹.

تشريح: مطلب دادی چي ستاسو ماسوا د هيڅ دين خلک يعني يهود او نصاری د ماخستن د لمانځه انتظار نه کوي ځکه چي دا لمونځ خو يوازي د دې امت سره خاص فرمايل سوی دی او يو بل امت ته نه دی نصيب سوی نو تاسو دا وخت هر کله چي د ارام وخت دی پر خپل نفس باندي واک راوړلو سره او مشقت وړلو سره د لمانځه چي څومره زيات انتظار کوئ هغومره زيات ثواب به ورکول کيږي.

ددې حديث څخه دا ثابته سوه چي د ماخستن لمونځ د شپې په دريمه برخه کي کول غوره دی ځرنګه چي د امام اعظم رحمة الله عليه مذهب دی مګر کوم چي د رسول الله ﷺ د عمل تعلق دی نو دا ثابته ده چي هر کله د صحابه کرامو د جماعت اکثر برخه به په اول وخت کي جمع کيده نو رسول الله ﷺ به په اول وخت کي لمونځ کوی او کوم حضرات چي به لمانځه ته په ځنډ سره جمع کيدل هغوی به په ځنډ سره لمونځ کوی د امام احمد رحمة الله عليه مذهب دادی چي کوم لمونځ کونکي په اول وخت کي جمع سي هغوی دي په اول وخت کي لمونځ وکړي او کوم چي په ځنډ سره جمعه سوه هغوی به په ځنډ سره لمونځ ادا کوي.

﴿۵۶۸﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت جابر بن سمرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به

يُصَلِّي الصَّلَوَاتِ نَحْوًا مِنْ صَلاَتِكُمْ وَكَانَ يُؤَخِّرُ الْعَتَمَةَ بَعْدَ صَلاَتِكُمْ شَيْئًا وَكَانَ يُخِفُّ الصَّلاَةَ. رواه مسلم

ستاسو د لمنځو په شان لمونځ کاوه البته د ماخستن په لمانځه کي به يې لږ ځنډ کاوه او مختصر لمونځ به يې کوی . مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۴۴۵، رقم: ۲۲۷- ۶۴۳.

تشريح : د منعه کېدو سربيره حضرت جابر رضي الله عنه ماخستن ته عتمه ځکه ويلي دي چي شايد تر دې وخته پوري هغه ته د نهي حکم معلوم نه وويا دا نوم په اهل عرب کي د مخکي څخه پيژندل سوی دی ځکه هغه ته په دې سوچ سره چي په دې نوم سره به خلک دا لمونځ په ښه طريقه سره وپيژني دې ته عتمه وويل .

په هر حال دا حديث هم پر دې خبره په صراحت سره دلالت کوي چي د ماخستن لمونځ په ځنډ سره کول افضل او مستحب دي د مختصر لمونځ کولو مطلب دادی چي رسول الله ﷺ به کوچني کوچني سورتونه ويل مگر علامه ابن حجر رحمة الله عليه فرمايي چي رسول الله ﷺ به په لمانځه کي کوچني کوچني سورتونه هغه وخت ويل کله چي امامت به يې کوی او د ضعيف او کمزورو خلکو رعايت به يې په نظر کي وو او هسي هم دا خبره د اکثريت په اعتبار فرمايل سوې ده ځکه چي دا هم ثابته سوې ده چي رسول الله ﷺ د ماښام په دوو رکعتو کي سورت اعراف هم ويلی دی او زه خو وايم چي د رسول الله ﷺ دومره لوی لوی سورتونو ويلو کي هم په خلکو کي داسي کيف او سرور محسوس کيدی چي اوږد قرائت به هم هغوی ته آسان معلوميدی او د شوق له کبله د اوږده قرائت به زيات غوښتونکي وه د دې پر خلاف د نورو خلکو په امامت کي دا خبره حاصليدل مشکل دي .

﴿۵۶۹﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ صَلَّيْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوسعيد رضي الله عنه څخه روايت دی چي موږ د رسول الله ﷺ سره لمونځ ادا کړ

صَلَاةَ الْعَتَمَةِ فَلَمْ يَخْرُجْ حَتّٰى مَضٰى نَحْوٌ مِّنْ شَطْرِ اللَّيْلِ فَقَالَ خُذُوا

د ماخستن لمونځ ، رسول الله ﷺ د کور څخه هغه وخت تشريف راوړ چي د شپې نيمايي نژدې تيره سوې وه ، رسول الله ﷺ وفرمايل :

مَقَاعِدَكُمْ فَأَخَذْنَا مَقَاعِدَنَا فَقَالَ إِنَّ النَّاسَ قَدْ صَلَّوْا وَأَخَذُوا مَضَاجِعَهُمْ

پر خپل خپل ځای ناست اوسئ نو موږ پر خپل خپل ځای کښېنستلو بيا رسول الله ﷺ وفرمايل

بېشکه خلکو لمونځ وکړ او خپلو خپلو بسترو ته ولاړل

وَإِنَّكُمْ لَنْ تَزَالُوا فِيْ صَلَاةٍ مَا انْتَظَرْتُمُ الصَّلَاةَ وَلَوْلَا ضُعْفُ الضَّعِيْفِ وَسَقَمُ

مګر تاسو دلمانځه انتظار کوئ ستاسو دا ټول وخت په لمانځه کې شمېرل کېږي که ما ته د کمزوري د کمزورۍ او د ناروغ

السَّقِيْمِ لَأَخَّرْتُ هٰذِهِ الصَّلَاةَ إِلٰى شَطْرِ اللَّيْلِ. رواه أبو داود والنسائي.

د ناروغۍ اندېښنه نه وای نو ما به په دې لمانځه کې د شپې تر نیمایي پورې زنډ کولای. ابوداؤد او نسائي.

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\۲۹۳، رقم: ۴۲۲، والنسائي ۱\۲۶۸، رقم: ۵۳۷.

تشريح: څرنګه چې مخکې درسول الله ﷺ ارشاد ذکر سوی دی چې د مسلمانانو څخه پرته د بل هیڅ دین خلک د ماخستن د لمانځه انتظار نه کوي ددې ارشاد په رڼا کې د حدیث الفاظ نورو خلکو ته په لمونځ کولو سره خپلي خپلي بسترې سنبال کړي دي تشریح به دا کیږي چې د بل دین خلکو مثلا یهود او نصارئ خو د ماښام په لمونځ کولو سره یا د خپل مذهب مطابق عبادت کولو سره خپلو خپلو بسترو ته په تللو سره د خوب غیږ ته رسیدلي دي خو ستاسو په نصیب کې ددې لمانځه سعادت او فضیلت د تکمیل له کبله د لمانځه په انتظار کې ناست یاست او تاسو خپل ارام خپل خوب هرڅه د خپل پروردګار د عبادت په انتظار کې قربان کړي دي ځکه ستاسو پروردګار به هم ددې محنت او مشقت صله داسې تاسو ته درکړي چې ستاسو ددې انتظار یوه یوه لحظه به عبادت او باعث د سعادت جوړه کړي، په دې توګه چې ستاسو څومره وخت په انتظار کې تیر سوی دی یا چې څومره وخت تیریږي نو پوه سئ چې هغه په لمانځه کې تیر سوی دی یا تیریږي یعني څومره ثواب چې د لمانځه کولو حاصلیږي هغومره ثواب به ددې انتظار کولو هم درته حاصلیږي.

یا ددې جملې به دا مطلب وي چې د نورو سیمو مسلمانان چې په دې مسجد کې حاضر نه دي د ماخستن د لمانځه په کولو سره بیده سوي دي او تاسو تر اوسه پورې د ماخستن د لمانځه په انتظار کې ناست یاست همداسې د هغو مسلمانانو په مقابله کې تاسو د زیات ثواب او فضیلت حقدار جوړیږئ دا معنی د وروستني الفاظو (و انکم لن تزالو الخ) سره ډېره نژدې او مناسب دي. په هر حال دا حدیث هم پر دې خبره دلالت کوي چې د ماخستن په لمانځه کې تر

نيمي شپې پوري ځنډ جائز دی بلکه د عبادت په اړه د زيات محنت او مشقت کولو په وجه مستحب او افضل دی.

﴿۵۷۰﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَشَدُّ تَعْجِيلاً

د حضرت ام سلمة ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به ډېر تلوار کوی

لِلظُّهْرِ مِنْكُمْ وَأَنْتُمْ أَشَدُّ تَعْجِيلاً لِلْعَصْرِ مِنْهُ. رواه أحمد والترمذي

د ماپښين په لمانځه کې تر تاسو او تاسو د مازديګر په لمانځه کې تر رسول الله ﷺ زيات تلوار کوئ. احمد او ترمذي

تخريج: الامام احمد في مسنده ٦\٢٩، والترمذي ١\٣٠٢، ٣٣، رقم: ١٦١.

تشريح: د بي بي ام سلمه رضي الله عنها مقصد د سنت پر پيروي باندې خلکو ته رغبت ورکول او متوجه کول دي چې هر ځای او په هره موقع باندې د رسول الله ﷺ په پيروي کولو کې چې د مازديګر په لمانځه کې ځنډ کول مستحب دي څرنګه چې د امام اعظم رحمة الله عليه مذهب دی.

﴿۵۷۱﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ الْحَرُّ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به په ګرمۍ کې

أَبْرَدَ بِالصَّلَاةِ وَإِذَا كَانَ الْبَرْدُ عَجَّلَ. رواه النسائي.

په يخ کې لمونځ کوی (د ماپښين) او په يخ کې به يې ژر لمونځ ادا کوی. نسائي

تخريج: سنن النسائي ١\٢٤٨، رقم: ٤٩٨.

تشريح: د ماپښين د وخت په اړه په حديثونو کې چې دا تعارض دی چې د ځينو حديثونو څخه خو دا معلوميږي چې رسول الله ﷺ به د ماپښين لمونځ په ځنډ سره کوی او د ځينو حديثونو څخه دا معلوميږي چې ژر به يې کوی په دې حديث سره دا تعارض (ټکر) ختميږي په دې ډول چې د ګرمۍ په موسم کې به رسول الله ﷺ د ماپښين لمونځ په ځنډ سره کوی او د يخ په موسم کې به يې ژر کوی.

﴿۵۷۲﴾: وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ قَالَ لِيْ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت عبادة بن صامت ﷛ څخه روايت دی چي ما ته رسول الله ﷺ وفرمايل :

وَسَلَّمَ إِنَّهَا سَتَكُوْنُ عَلَيْكُمْ بَعْدِيْ أُمَرَاءُ يَشْغُلُهُمْ أَشْيَاءُ عَنِ الصَّلَاةِ

زما څخه وروسته به ستاسو سرداران داسي وي چي د هغوی کارونه به هغوی پر وخت د لمانځه څخه منعه کوي

لِوَقْتِهَا حَتّٰى يَذْهَبَ وَقْتُهَا فَصَلُّوا الصَّلَاةَ لِوَقْتِهَا . فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ

تر دې چي د لمانځه مستحب وخت به ولاړ سي په دې زمانه کي به تاسو خپل لمونځ پر خپل وخت کوئ ، يو سړي عرض وکړ اې د الله رسوله !

أُصَلِّيْ مَعَهُمْ ؟ قَالَ نَعَمْ . رواه أبو داود

ايا زه د هغوی سره لمونځ کوم ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : هو . ابو داؤد .

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\۳۰۱، رقم: ۴۳۳.

﴿۵۷۳﴾: وَعَنْ قَبِيْصَةَ بْنِ وَقَّاصٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت قبيصه بن وقاص ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

يَكُوْنُ عَلَيْكُمْ أُمَرَاءُ مِنْ بَعْدِيْ يُؤَخِّرُوْنَ الصَّلَاةَ فَهِيَ لَكُمْ وَهِيَ عَلَيْهِمْ

زما څخه وروسته به ستاسو سرداران داسي وي چي لمونځ به په ځنډ سره کوي هغه لمونځ ستاسو لپاره ګټور دی او د هغوی لپاره وبال،

فَصَلُّوْا مَعَهُمْ مَا صَلُّوا الْقِبْلَةَ . رواه أبو داود .

تاسو د هغوی سره لمونځ کوئ تر څو پوري چي هغوی د قبلې په لور لمونځ کوي . ابو داؤد

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\۳۰۱ - ۳۰۲، رقم: ۴۳۴.

تشريح: مطلب دادی که تاسو د مستحب وخت فضيلت حاصلولو له کبله د هغوی د لمانځه څخه مخکي لمونځ وکړئ او بيا د هغه څخه وروسته د هغوی سره هم لمونځ ادا کړئ نو دا دوهم

لمونځ به ستاسو لپاره نفل سي چي د هغه په وجه به تاسو ته ډير زيات ثواب حاصليږي او که د هغوی د لمانځه څخه مخکي يې ونه کړئ بلکه د هغوی سره يو ځاي لمونځ وکړئ نو ددې په باره کي به پر تاسو څه نيوکه نه وي ځکه چي د هغوی سره په مکروه وخت کي ستاسو لمونځ کول به د فتنې د خوف او فساد د دفعي په غرض وي .

همدارنکه د وبال مطلب دادی چي هغه لمونځ به د هغوی لپاره د مواخذې يعني پوښتنه کولو باعث وي چي هغوی په مختار وخت کي لمونځ ادا کولو باندي قادر وه نو د وخت څخه په ځنډ کولو سره غير مطلوب وخت کي لمونځ ولي وکړ او بيا دا چي د دنيا امور هغوی د عقبی د امورو د سرته رسولو څخه منعه کړل چي يقينا هيڅ مسلمان لپاره مناسب نه دي .

﴿۵۷۴﴾: وَعَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عَدِيِّ بْنِ الْخِيَارِ أَنَّهُ دَخَلَ عَلٰى عُثْمَانَ وَهُوَ

د حضرت عبيدالله بن عدي بن الخيار څخه روايت دی چي هغه حضرت عثمان رضي الله عنه ته ورغلی کوم وخت چي هغه

مَحْصُوْرٌ فَقَالَ إِنَّكَ إِمَامُ عَامَّةٍ وَنَزَلَ بِكَ مَا تَرٰی وَيُصَلِّي لَنَا إِمَامُ فِتْنَةٍ

په محاصره کي وو او ورته يې وويل: ته د ټولو خلکو امام يې او س پر تا هغه مصيبت نازل دی چي په هغه کي ته اخته يې او په دې وخت کي د اهل فتنه امام موږ ته لمونځ راکوي

وَنَتَحَرَّجُ . فَقَالَ الصَّلَاةُ أَحْسَنُ مَا يَعْمَلُ النَّاسُ فَإِذَا أَحْسَنَ النَّاسُ

او موږ دا ګناه ګڼو ، حضرت عثمان رضي الله عنه وفرمايل : لمونځ د انسان په ټولو اعمالو کي غوره دی هر کله چي خلک نيکي کوي

فَأَحْسِنْ مَعَهُمْ وَإِذَا أَسَاؤُوْا فَاجْتَنِبْ إِسَاءَتَهُمْ . رواه البخاري .

نو ته هم د هغوی سره په نيکي کي ګډون کوه او کله چي بدي کوي نو خپل ځان د هغوی د بدۍ څخه ساته . بخاري .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\۱۸۸، رقم: ۶۹۵.

تشريح: د فتنې او فساد د امام څخه مراد د سرکښانو مشر دی چي د هغه نوم کنانه بن بشير وو د حديث د آخري جملې مطلب دادی چي د خلکو په نيکيو کي خو شريک کيږي يعني که هغوی

نیک کار کوي نو تاسوهم د هغوی سره نیک کار کوئ البته د هغوی په بدۍ کي مه شریک کیږئ او لمونځ کول خو نیک عمل دي ځکه د سرکښانو په مشر پسي تاسو لمونځ کولای سي دا د کبیره ګناه خبره مه ګڼئ، د حضرت عثمان رضی الله عنه دد ې ارشاد څخه هغوی د عدل، انصاف، حلم او بردبارۍ پرصفت باندي رڼا اچوي چي د هغوی په یوه داسي موقعه چي باغیانو د خپل ظلم او ستم په انتها کولو سره هغوی یې په یو ځای کي محاصره کړي وه او پرهغوی باندي یې تکلیفونه او پریشانیاني راوستلي وې مګر حضرت عثمان رضی الله عنه هغه وخت هم د هغوی نیکي او خیر د بغض او انتقام له مخي په بدۍ سره تعبیر نه کړ بلکه هغه ته یې ښه وویل.

دا ارشاد پر دې هم دلالت کوي چي په هر نیک او بد سړي پسي لمونځ کول جائز دي څرنګه چي د اهل سنت و الجماعت مذهب دی.

=======

بَابُ فِيْ فَضَائِلِ الصَّلٰوةِ[1]

د لمانځه د فضائلو بیان

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

﴿۵۷۵﴾: عَنْ عُمَارَةَ ابْنِ رُوَيْبَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عمارة[1] بن رویبة رضی الله عنه څخه روایت دی چي ما درسول الله ﷺ څخه واوریدل

يَقُولُ لَنْ يَلِجَ النَّارَ أَحَدٌ صَلَّى قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا يَعْنِي الْفَجْرَ وَالْعَصْرَ. رواه مسلم

چي فرمایل یې: هغه سړي به هیڅکله په اور کي داخل نه سي چي د لمر ختلو او لوېدلو څخه مخکي لمونځ کوي یعني د سهار او مازدیګر لمونځ. مسلم

تخریج: صحیح مسلم: ۱\۴۴۰، رقم: ۲۱۳- ۶۳۴.

---

[1] - د حضرت عمیره رویبه زوی د قبیله بن حشیم بن ثقیف څخه دی او کوفي دی ۱۲.

تشریح: مطلب دادی چي کوم سړی دا دواړه لمنځونه په پابندي سره کوي هغه به دوږخ ته نه داخليږي په ښکاره خو دا حديث په دا خبره دلالت کوي چي کوم سړی پر دغه دواړو لمنځونو هميشتوب کوي هغه به د نورو لمنځونو په پرېښودو يا د نورو ګناهونو کولو په وجه په دوزخ کي نسي داخليداي حال دا چي د جمهور علماؤ په نزد دا خبره ثابته ده چي لمنځونه د صغيره ګناهونو کفاره خو جوړيږي مګر د کبيره ګناهونو نه دي .علامه طيبي رحمة الله عليه ددې حديث توجيه داسي بيان کړې ده چي د سهار وخت په عامه توګه سره د آرام وخت وي همداسي د ماښام وخت د تجارت وغيره د مشغوليت وي نو کوم سړی چي ددې دوو موانعو لمنځود دغه دواړو لمنځونو پابندي کوي نو د هغه حال په ژبه ددې خبري اظهار کوي چي هغه په نورو اعمالو کي هم زياتي کونکی نه دی لکه چي د الله ﷻ ارشاد دی: (ان الصلوة تنهى عن الفحشاء والمنكر) بيشکه لمونځ د بې حيايي او خرابو خبرو څخه منعه کوي، نو په دې وجه هغه به د بخښني په سعادت سره ونازول سي او په دوږخ کي به نسي اچول کيدای. او ښکاره خبره داده چي د حديث څخه ددې دواړو لمنځونو د فضيلت او عظمت په بيان کي مبالغه مراد ده چي ددې دواړو لمنځونو فضيلت او عظمت ددې خبري غوښتونکی دی چي ددې ساتونکی سړی به په دوږخ کي نسي اچول کيداي او سربيره ددې چي الله تعالی د بندګانو پر هر عمل باندي جزاء او سزاء ورکوي خو هغه چي وغواړي نو ددې دواړو لمنځونو د اداء کولو په وجه هغه ګناه چي د سړي څخه سوې وي و بخښل سي .

﴿۵۷۶﴾: وَعَنْ أَبِيْ مُوْسٰى قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى

د حضرت ابوموسی ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چي ادا کړل

الْبَرْدَيْنِ دَخَلَ الْجَنَّةَ .(متفق عليه)

د يخ په وخت کي دوه لمنځونه هغه به په جنت کي داخليږي (يعني د سهار او مازديګر يا سهار او ماخستن لمونځ) . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۵۲، رقم: ۵۷۴، ومسلم ۱\۴۴۰ رقم: ۲۱۵- ۶۳۵.

د لغاتو حل : (البردَين): اراد صلاة الصبح والعصر، لبرد الهواء فيهما بالنسبة الى وسط النهار.

﴿۵۷۷﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرتِ ابوهريرة ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

يَتَعَاقَبُونَ فِيكُمْ مَلَائِكَةٌ بِاللَّيْلِ وَمَلَائِكَةٌ بِالنَّهَارِ وَيَجْتَمِعُونَ فِي صَلَاةِ

ستاسو سره د شپې او د ورځي ملائكي ځي راځي او دا ملائكي يو ځاى كيږي

الْفَجْرِ وَصَلَاةِ الْعَصْرِ ثُمَّ يَعْرُجُ الَّذِينَ بَاتُوا فِيكُمْ فَيَسْأَلُهُمْ رَبُّهُمْ وَهُوَ

د سهار او مازديگر په لمونځو كي هغه ملائكي چي ستاسو سره وې كله چي بيرته ولاړي سي نو د هغوى څخه د هغوى رب پوښتنه كوي حال دا چي رب

أَعْلَمُ بِهِمْ كَيْفَ تَرَكْتُمْ عِبَادِي فَيَقُولُونَ تَرَكْنَاهُمْ وَهُمْ يُصَلُّونَ وَأَتَيْنَاهُمْ وَهُمْ يُصَلُّونَ. متفق عليه

د هغو څخه زيات پوهېدونكى دى چي تاسو زما بندګان په كوم حال كي پرېښودل هغوى وايي موږ هغوى د لمانځه په حالت كي پرېښودل او كوم وخت چي موږ هغوى ته ورغلو نو هغه وخت يې هم لمونځ كوى. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۳۳، رقم: ۵۵۵، ومسلم: ۱\۴۳۹، رقم: ۲۱۰- ۶۳۲.

تشريح: د ارشاد مطلب دادى چي د بندګانو اعمال ليكلو او هغه الله تعالي ته د رسولو لپاره د ملائكو دوې ډلي د بندګانو سره ملګري وي يوه ډله د ورځي اعمال ليكي بيا د مازديګر وروسته په ستنېدو سره د الله تعالى په دربار كي خپل رپورټ وړاندي كوي دوهمه ډله د شپې د اعمالو رپورټ وړاندي كوي نو په ورځ او شپه كي دوه وختونه داسي دي چي هركله دا دواړه ډلي جمع كيږي يو وار خو د سهار په وخت كي كله چي د شپې ملائكي بيرته ځي او د ورځي ملائكي د خپل وظيفې په پوره كولو سره بيرته ځي او همدارنګه دغه دواړي ډلي د مازديګر په وخت كي سره يو ځاى كيږي چي كله د ورځي ملائكي خپله وظيفه ادا كړي نو بيرته ولاړي سي او د شپې ملائكي پر خپل كار باندي حاضريږي.

حال دا چي الله تعالي عالم الغيب والشهادت دى او د هغه علم د ځمكي او اسمانونو د ذره ذره را چاپيره دى هغه د ځمكي او اسمانونو د اوسيدونكو يو يو عمل ښه پيژني مګر كله

چي ملائکي د بندګانو د اعمالو رپورټ په اخيستو سره د هغه په دربار کي حاضريږي نو هغه به پوښتنه وکړي چي هر کله تاسو د خپل وظيفې په پوره کولو سره بيرته راځئ نو دا وښياست چي هغه وخت زما بندګانو څه کول او د هغه دا پوښتنه کول نعوذ بالله د علم حاصلولو لپاره نه وي بلکه د دې سوال دا مقصد دی چي د ملائکو په وړاندي د خپلو بندګانو د فضيلت او بزرګۍ څرګندول پکاردي ځکه چي الله تعالی دې دنيا ته کوم وخت چي انسان رالیږل وغوښتل او آدم عليه السلام د پيدا کولو اراده يې وکړه نو ملائکو الله تعالي ته وويل چي اې پروردګاره ته داسي مخلوق پيدا کول غواړې چي په دنيا کي فتنه او فساد وينه تويولو او غلا وغير بازار ګرم کړي او بيا هغوی د خپل غوره والي او لويي په ښکاره کولو سره ويلي وه چي ستا د عبادت لپاره خو موږ کافي يو او موږ ستا عبادت او بندګي کولای هم سو .

نو الله تعالی د هغوی څخه په دغه سوال کولو سره هغوی ته دا څرګندول غواړي چي وګورئ د کوم مخلوق په باره کي چي ستاسو دا خيال وو چي هغوی به په دنيا کي د فتنې او فساد خپرولو نه پرته بل هيڅ کار نه کوي اوس تاسو خپله وليدل چي هغوی زما عبادت څومره په پابندي سره په شوق او ذوق سره کوي په هر حال ددې حديث په ذريعه رسول الله ﷺ مسلمانانو ته دا شوق ورکوي چي دوی په دوو وختونو کي هميشه په پابندي سره لمونځ کوي چي هغه ملائکي ستاسو ښه او غوره اعمال وړاندي کوي او خداوند قدوس ﷻ ستاسو فضيلت او لويي همداسي د ملائکو په وړاندي څرګندوي .

﴿۵۷۸﴾: وَعَنْ جُنْدُبٍ الْقَسْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت جندب القسري رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

مَنْ صَلَّى صَلَاةَ الصُّبْحِ فَهُوَ فِي ذِمَّةِ اللّٰهِ فَلَا يَطْلُبَنَّكُمُ اللّٰهُ مِنْ ذِمَّتِهِ بِشَيْءٍ

چا چي د سهار لمونځ وکړ هغه د الله ﷻ په عهد او ذمه داری کي دی له دې کبله تاسو ته پکار دي چي خپل ځان په داسي حال کي وساتي چي الله ستاسو څخه د خپل عهد او ذمه داری پوښتنه ونه کړي

فَإِنَّهُ مَنْ يَطْلُبْهُ مِنْ ذِمَّتِهِ بِشَيْءٍ يُدْرِكْهُ ثُمَّ يَكُبَّهُ عَلَى وَجْهِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ .

رواه مسلم ، وفي بعض نسخ المصابيح القشيري بدل القسري .

ځکه چي الله تعالی خپل عهد د چا څخه و غواړي نو هغه به بيا هغه پيدا کوي او هغه به پړمخی

په اور کي غورځوي . مسلم .

تخريج: صحيح مسلم ۱\ ۴۵۴، رقم: ۲۶۲- ۶۵۷.

تشريح: مطلب دادی چي کوم سړی د سهار لمونځ وکړي هغه د الله تعالی په عهد او امان کي دی نو مسلمانانو ته دا پکار ده چي هغوی د داسي سړي سره بد چلن ونه کړي، هغه قتل نه کړي د هغه څخه مال په زوره وانخلي د هغه غيبت ونه کړي او د هغه بې عزتي ونه کړي که چا د هغه سره بدچلن وکړ يا د هغه سره يې يو داسي رويه اختيار کړه چي د هغه ځان او مال يا عزت ته تاوان وي نو ددې مطلب به دا وي چي هغه د الله تعالی په عهد او امان کي خلل واچوی نو الله تعالي به د داسي سړي څخه سخته مواخذه وکړي او د کوم بد نصيبه چي الله تعالی په سزا سره ونيسي نو د هغه لپاره به د نجات هيڅ ذريعه نه وي ، او يا د عهد او امان څخه مراد لمونځ دی چي د سهار په لمانځه کولو سره الله تعالی دنيا او آخرت کي د امن ورکولو وعده کړې ده نو مسلمانانو ته دا پکارده چي هغوی د سهار لمونځ هيڅکله قضاء نه کړي کنه د هغوی او پروردګار په مينځ کي چي کوم عهد دی هغه به مات سي چي پر هغه به الله تعالی مواخذه کوي او د هغه د مواخذې څخه د ساتني هيڅ څوک زړه نه سي کولای .

﴿۵۷۹﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ يَعْلَمُ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : که چيري څرګنده سي

النَّاسُ مَا فِي النِّدَاءِ وَالصَّفِّ الْأَوَّلِ ثُمَّ لَمْ يَجِدُوا إِلاَّ أَنْ يَسْتَهِمُوا عَلَيْهِ

خلکو ته چي په اذان کولو کي څومره ثواب دی او د مسجد په اول صف کي د دريدلو څومره ثواب دی نو هغوی به د نه ترلاسه کولو په صورت کي

لَاسْتَهَمُوا وَلَوْ يَعْلَمُونَ مَا فِي التَّهْجِيرِ لَاسْتَبَقُوا إِلَيْهِ وَلَوْ يَعْلَمُونَ مَا فِي

په قرعه اندازي (پچه کولو) سره هغه ترلاسه کړي او که دا ورته څرګنده سي چي د ماپښين د لمانځه لپاره د وختي تللو څومره ثواب دی نو هغوی به په ځغاسته ورځي او که ورته معلوم سي

الْعَتَمَةِ وَالصُّبْحِ لَأَتَوْهُمَا وَلَوْ حَبْوًا . متفق عليه

د ماخستن او سهار د لمانځه فضيلت نو هغوی به د دې لمنځو لپاره پر کوناتو ښکېدو سره راځي . بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\۹۶، رقم: ۶۱۵، ومسلم: ۱\۳۲۵، رقم: ۱۲۹- ۴۳۷.

د لغاتو حل: (التهجير): هنا هو المسارعة الى الطاعة وليس من الهاجرة. (تلوار كول).

تشريح: كه د تهجير معنى دا واخيستل سي د كوم د معنى څخه چي په ښكاره دا معلوميږي يعني د ماپښين د لمانځه لپاره په تلوارسره راتلل نو ددې فضيلت اړه به د ګرمۍ څخه پرته د نورو موسمونو د ماپښين د لمانځه سره وي ځكه چي د ګرمۍ په موسم كي د ماپښين لمونځ د يخ په وخت كي كول مستحب دى بيا د تهجير معنى به د طاعت په لور تلوار كول وي او ځينو حضراتو ددې معنى د جمعې د لمانځه لپاره په غرمه كي تلل هم ليكلي دي. والله تعالى اعلم د كوناټو په زور راتلو مطلب دادى كه يو سړى پر پښو تللو طاقت نه لري نو ددې لمانځه فضيلت حاصلولو لپاره همداسي په ګښېدو به راځي لكه څرنګه چي معذور او ضعيف خلك راځي.

﴿۵۸۰﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ صَلٰوةٌ اَثْقَلَ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هيڅ يو لمونځ دروند نه دئ

عَلَى الْمُنَافِقِيْنَ مِنَ الْفَجْرِ وَالْعِشَاءِ وَلَوْ يَعْلَمُوْنَ مَا فِيْهِمَا لَاَتَوْهُمَا وَلَوْ حَبْوًا.

متفق عليه

پر منافقانو باندي د سهار او ماختستن تر لمونځو كه هغوى ته د دې فضيلت معلوم سي نو د كوناټو په ګښېدو به ورځي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\۱۴۱، رقم: ۶۵۷ ومسلم ۱\۴۵۱- ۴۵۲، رقم: ۲۵۲-۶۵۱.

تشريح: د منافقانو په مزاج كي د عبادت په اړه سستي ډېره وي او بيا كوم لمنځونه چي هغوى كوي هغه هم د خپل ځان د ژغورني لپاره كوي او د دې لپاره يې كوي چي نورو خلكو ته دا وښيي چي زه خو عبادت كوم، بزرګ يم، د سهار او ماختستن دواړه وختونه داسي دي چي اول خو د ارام او استراحت او د خوب لذت حاصلولو او د يخ په موسم كي يخ وي دوهم دا چي په دې وختونو كي د تياري په وجه خلك يو څوك ډېر كم پيژني ځكه دا دواړه لمنځونه پر بد بختانو باندي ډېر بد لګيږي نو دا حديث دې ته اشاره كوي چي مخلص او صادق مومنانو ته دا پكار ده چي هغوى ددې خصلت څخه ځان وساتي چي د منافقينو سره مشابهت ونه لري.

﴿۵۸۱﴾: وَعَنْ عُثْمَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى

د حضرت عثمان رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم څوک چي ادا کړي

الْعِشَاءَ فِي جَمَاعَةٍ فَكَأَنَّمَا قَامَ نِصْفَ اللَّيْلِ وَمَنْ صَلَّى الصُّبْحَ فِي جَمَاعَةٍ فَكَأَنَّمَا صَلَّى اللَّيْلَ كُلَّهُ. رواه مسلم

د ماخستن لمونځ په جماعت سره وکړي هغه لکه د نيمي شپې عبادت چي وکړا و چا چي د سهار لمونځ په جماعت سره وکړ هغه لکه ټوله شپه چي عبادت وکړي . مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱/ ۴۵۴، رقم: ۲۶۰-۶۵۶.

تشريح : که د حديث ښکاره الفاظو ته وکتل سي نو د هغه څخه دا ثابيتږي چي د سهار د لمانځه ثواب د ماخستن د لمانځه تر ثواب زيات دی ځکه نو ويل سوي دي چي د ماخستن لمونځ په جماعت سره کونکی تر نيمي شپې پوري د لمونځ کوتکي برابر دی او د سهار لمونځ په جماعت سره کونکی د ټولي شپې د لمونځ کونکي برابر دی .

يا ددې مطلب به داوي چي کوم سړی د ماخستن لمونځ په جماعت سره کوي نو هغه تر نيمي شپې پوري د لمانځه کولو اندازه ثواب تر لاسه کوي او بيا چي د سهار لمونځ په جماعت سره ادا کړي نو هغه د پاته نيمي شپې د لمانځه کولو اندازه ثواب تر لاسه کوي همداسي د دواړه لمونځونه په کولو سره د ټولي شپې عبادت کونکي د ثواب حقدار سو .

﴿۵۸۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

تَغْلِبَنَّكُمُ الْأَعْرَابُ عَلَى اسْمِ صَلَاتِكُمُ المغرب قال و تقول الاعراب هي

صحرائي خلک دي ستاسو د ماښام پر لمانځه غلبه تر لاسه نه کړي د راوي بيان دي چي صحرايي خلکو به د ماښام لمانځه ته

لَا الْعِشَاءُ وقال لَا تَغْلِبَنَّكُمُ الْأَعْرَابُ عَلَى اسْمِ صَلَاتِكُمُ الْعِشَاء فَإِنَّهَا فِي

د ماخستن لمونځ وايه او نبي کريم ﷺ وفرمايل چي صحرائي خلک چيري ستاسو د ماخستن د

لمانځه پر نوم غلبه تر لاسه نه کړي د دې لمانځه نوم

كِتَابِ اللهِ الْعِشَاءُ وَإِنَّهَا تُعْتِمُ بِحِلاَبِ الإِبِلِ . رواه مسلم

د الله ﷻ په کتاب کي عشاء (ماخستن) دی د دې صحرايانو به د اوښانو د شېدو د لوښلو په سبب زنډ کوی . مسلم .

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۴۴۵، رقم: ۲۲۹- ۶۴۴.

تشريح : د صحرائي خلکو څخه مراد د جاهليت د ورځو خلک دي چي مغرب ته به يې عشاء ويل او عشاء ته به يې عتمه ويل نو رسول الله ﷺ صحابه كرام منعه کړل چي دا نوم دي نه اخلي ځکه چي په دې کي د دوی غالب کېدل لازميږي که د دې خلکو ايښودل سوی نوم استعمال کړئ نو د دې به دا مطلب وي چي تاسو د هغوی ژبه خپل ژبه وګرځول، له دې کبله هغوی به پر تاسو غالب سي نو تاسو هغه نوم استعمالوئ کوم چي په قرآن كريم او حديث کي ذکر سوی دی يعني مغرب او عشاء (ماښام او ماخستن) .

په ځرګنده خو د دې منعه تعلق د صحرائي خلکو سره دی چي هغوی غالب نسي مګر په حقيقت کي د دې نهي تعلق د ټولو مسلمانانو سره دی چي هغوی د دې لمنځونو د نومونو په اړه د صحرائي خلکو موافقت ونه کړي چي پر مسلمانانو باندي د هغوی غالب کېدل لازم نسي.

د دې څخه دا خبره هم معلومه سوه چي مسلمانانو ته دا پکار ده چي هغوی خپله ژبه او خپل کلام د شريعت د کلام سره سم ووايي او کومي خبري چي د کفارو کلام وي د هغه څخه بايد موږ پرهيز وکړو .

د نهي او علت د نهي بيانولو وروسته (فانها تعتم بحلاب الابل) کي رسول الله ﷺ عشاء ته د عتمه ويلو د وجهي هم ارشاد فرمايلی دی (تعتم) په صحيح روايت کي په صيغه معروف سره دی او دا ښودل سوي دي چي عتمه تاريکۍ ته وايي د دې مطلب دا سو چي هغه صحرائي خلکو به د اوښو د شيدو لويشلو په وجه عشاء يې په تياره کي کول په دې توګه چي هغوی په د شفق د پټېدو وروسته به يې عشاء کول په يو دوهم روايت کي لفظ تعتم په صيغه مجهول سره مذکور دی چي د هغه معنی به دا وي چي د اوښو د شيدو لوښلو په وجه د ماخستن لمونځ به يې په تياره کي کوی .

په هر حال د جاهليت په زمانه کي عربو عتمه تاريکۍ ته ويل هر کله چي د اسلام مقدسه رڼا د عربو مځکه د کفر او شرک د تيارو څخه پاکه کړل او لمنځونه مشروع سوه نو د دې نامه څخه

مسلمانان منعه كړل سول او د اهل جاهليت د مشابهت په وجه دا نوم مكروه وګرځول سو دا مخكي هم ځو ځايه ښودل سوي دي چي په كومو روايتونو كي پر ځاي د عشاء عتمه لفظ راغلی دی هغه روايتونه به دديٍ نهي څخه مخكي وي.

﴿۵۸۳﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَ الْخندق

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د خندق په ورځ وفرمايل:

حبسونا عَنِ الصَّلاَةِ الْوُسْطٰى صَلاَةِ الْعَصْرِ مَلأَ اللّٰهُ بُيُوتَهُمْ وَقُبُورَهُمْ نَارًا. متفق عليه.

كافرانو موږ د منځني لمونځ يعني د مازديګر د لمانځه څخه بند كړو الله تعالى دي د دوی كورونه او قبرونه د اور څخه ډک كړي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\۱۹۵، رقم: ۴۵۳۳، ومسلم: ۱\۴۳۷، رقم: ۲۰۵- ۶۲۷.

تشريح: د خندق غزا ته غزوه احزاب هم وايي چي په څلورم يا پنځم هجري كال كي سوې ده دې جنګ ته غزوه خندق ځكه وايي چي ددې غزا پر موقع د سلمان فارسي رضي الله عنه د مشورې مطابق د دشمنانو څخه د ساتني په وجه د مديني څخه شاوخوا كنده وكښل سول په خندق كيندلو كي د ټولو مسلمانانو سره خپله رسول الله ﷺ موږ او زموږ مور او پلار دي پر قربان سي هم بنفس نفيس شريک وو څرنګه چي نور مخلص مومنان ټوله ورځ وږي تږي پاته كيدو سره د الله د دين حفاظت او د خپل محبوب پيغمبر د مشن كاميابۍ لپاره په دې محنت او مشقت مصروف وه همداسي رسول الله ﷺ هم ډير لوی لوی تكليفونه زغملو سره مصائب او رنج اخيستلو سره د لوږي په وجه پر نس د دوو كاڼو تړلو سره د يخ سخته پريشاني او په مځكه كيندلو سره د ډبرو راكښلو سخت محنت زغملو سره خپل جان نثار ملګرو سره خندق كيندی.

په دې جنګ كي د تردد او غشي ويشتلو په وجه د رسول الله ﷺ څخه څلور لمنځونه قضاء سوي وه چي په هغه كي د مازديګر لمونځ فضليت ښكاره كولو لپاره يې دا ښېرا وكړه د هغې مطلب داوو چي څرنګه دې كفارو او مشركينو زموږ لمنځونه په قضاء كولو سره موږ سخت روحاني تكليف او په اذيت كي مبتلا كړي يو الله دي وكړي چي دوی هم د دنيا او آخرت په سخت عذاب كي مبتلا سي يو معمولي شان فكر انديشه دلته واقع كيدای سي چي د جنګ

احد پر موقعه باندي هر كله چي د كفارو د طرف څخه بې انتها تكليف رسولای سو رسول الله ﷺ هلته ښيرا نه وه كړې د دې څه وجه وه ؟

د دې مختصر جواب دادی چي په جنګ احد كي د رسول الله ﷺ د ذات اقدس معامله وه هلته د رسول الله ﷺ د شان رحمت تقاضا وه چي د خپل نفس په معامله كي د چا لپاره ښيرا و نه كړي خو دلته د لمانځه سوال وو چي د هغه تعلق د رسول الله ﷺ د ذات سره نه وو بلكه حقوق الله سره وو ځكه رسول الله ﷺ ښيرا وفرمايل . .

ددې حديث څخه دا ثابته سوه چي (صلوة وسطى) د مازديګر لمانځه ته وايي د صحابه كرامو رضي الله عنهم او تابعينو رحمة الله عليه څخه ډير جليل القدر حضرات، امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه او د امام احمد وغيره قول دادی چي د قرآن شريف آيت كريمه (حافظوا على الصلوات والصلوة الوسطى) يعني تاسو د ټولو لمنځو او د مينځني لمانځه ساتنه كوئ، د وسطى څخه د مازديګر لمونځ تاسو مراد كولای سي چي دا مازديګر ته وايي .

او كوم چي ددې خبري تعلق دی چي په دغه ټاكلو كي د ډيرو صحابه كرامو او تابعينو اختلاف راغلی دی نو په دې وجه په ښكاره دا معلوميږي .

تر هغه وخته پوري هغه حضراتو د رسول الله ﷺ په هغه حديث كي چي په راتلونكي فصل كي به راسي د خپل اجتهاد او رايي په وجه په تعين كي اختلاف كوی نو ددې حديث د صحت څخه وروسته دا متعين سو چي ددې څخه مراد د مازديګر لمونځ دی . والله اعلم.

اَلْفَصْلُ الثاني (دوهم فصل)

﴿۵۸۴﴾: عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ وَسَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالاَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ

د حضرت ابن مسعود او سمرة رضي الله عنهما څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلاَةُ الْوُسْطٰى صَلاَةُ الْعَصْرِ . رواه الترمذي .

درمياني لمونځ د مازديګر لمونځ دی . ترمذي

تخريج : سنن الترمذي ۱\۳۴۰، رقم: ۱۸۱.

تشريح : صلوة الوسطى يعني منځني لمونځ ،د مازديګر لمونځ ځكه ويل كيدای سي چي دا لمونځ د ورځي د دوو لمنځونو يعني سهار او ماپښين او د شپې دوه لمنځونه يعني د ماښام او

ماخستن په ماښېنځ کي راځي.

﴿۵۸۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قَوْلِهِ تَعَالَى (إِنَّ

حضرت ابوهريرة رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه د دې آيت په تفسير کي (ان

قُرْآنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُودًا) قَالَ تَشْهَدُهُ مَلَائِكَةُ اللَّيْلِ وَمَلَائِكَةُ النَّهَارِ.

رواه الترمذي.

قران الفجر...) فرمايي چي د سهار په لمانځه کي د شپې ملائکي او د ورځي ملائکي حاضرېږي. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۵\۲۸۲، رقم: ۳۱۳۵.

تشريح: (ان قرآن الفجر) الآيت معنی داده چي قرائت قرآن فجر دی او ددې څخه مراد د سهار لمونځ دی، قرآن يې ځکه ورته ويلي دي چي قرائت د لمانځه يو رکن دی لکه څرنګه چي په ځينو ځايو کي لمانځه ته رکوع يا سجده ويل سوي دي.

په هر حال د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب دادی چي په دې آيت کريمه کي د مشهود څخه مراد دادی چي د بندګانو د ورځي او شپې اعمال ليکونکي ملائکي دې لمانځه ته حاضرېږي لکه څرنګه چي ددې باب په دريم نمبر حديث کي ددې تفصيل بيان سوی دی.

اَلْفَصْلُ الثالث (دريم فصل)

﴿۵۸۶﴾: عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ وَعَائِشَةَ قَالاَ اَلصَّلاَةُ الْوُسْطَى صَلاَةُ الظُّهْرِ.

رواه مالك عن زيد والترمذي عنهما تعليقا.

د حضرت زيد بن ثابت او عائشة (رض) څخه روايت دی چي درمياني لمونځ د ماپښين لمونځ دی. مالک او ترمذي

تخريج: الامام مالک في الموطا ۱\۱۳۹، رقم: ۲۷ والترمذي ۱\۳۴۱، ۳۴۲، رقم: ۱۸۲.

تشريح: بي بي عائشې رضي الله عنها او حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه (صلوة وسطی) څخه د ماپښين لمونځ ځکه مراد اخيستی دی چي دا لمونځ د ورځي په درميانه برخه کي ادا کيږي.

﴿۵۸۷﴾: وَعَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي

د حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به ادا کوی

الظُّهْرَ بِالْهَاجِرَةِ وَلَمْ يَكُنْ يُصَلِّي صَلاَةً أَشَدَّ عَلَى أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ

د ماپښين لمونځ وختي او په صحابه کرامو کي به په هغه ټولو لمنځو کي د ماپښين تر لمانځه زيات سخت هيڅ لمونځ نه وو

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهَا فَنَزَلَتْ (حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلاَةِ الْوُسْطَى) وَقَالَ إِنَّ

نو دا آيت نازل سو: (حافظوا على الصلوات.....) د ټولو لمونځو او په خاص ډول د درمياني لمانځه ساتنه کوئ، زيد بن ثابت وايي

قَبْلَهَا صَلاَتَيْنِ وَبَعْدَهَا صَلاَتَيْنِ. رواه أحمد وأبو داود.

د درمياني لمانځه څخه دوه لمنځونه مخکي دي او دوه وروسته دی. احمد او ابوداؤد

تخريج: الامام احمد في مسنده ۵\۱۸۳، وابوداؤد ۱\۲۸۸ رقم: ۴۱۱.

تشريح: د حديث د آخري برخي څخه د راوي مقصد دادی چي د درمياني لمونځ څخه مراد د ماپښين لمونځ دی نو په ښکاره دا معلوميږي چي د حضرت زيد رضي الله عنه دا ثابتول چي د منځني لمونځ څخه مراد د ماپښين لمونځ دی نو دا د هغه خپل ذاتي اجتهاد دی ځکه د هغه قول د رسول الله ﷺ د حديث سره مخالف نه دی ځکه چي رسول الله ﷺ خو په صراحت سره فرمايلي دي چي د درمياني لمانځه څخه مراد د مازديگر لمونځ دی.

﴿۵۸۸﴾: وَعَنْ مَالِكٍ بَلَغَهُ أَنَّ عَلِيَّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ وَعَبْدَ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ كَانَا

د حضرت مالک رحمه الله څخه روايت دی چي علی بن ابي طالب رضي الله عنه او عبدالله بن عباس رضي الله عنه

يَقُوْلاَنِ اَلصَّلاَةُ الْوُسْطَى صَلاَةُ الصُّبْحِ. رواه في الموطأ. ورواه الترمذي عن ابن عباس وابن عمر تعليقا

ويل چي د رمياني لمونځ د سهار لمونځ دی. مؤطا او ترمذي.

تخریج: الامام مالک في الموطا ۱\۱۳۹، رقم: ۲۸، سنن الترمذي ۱\۳۴۲، رقم: ۱۸۲.

تشریح: دا هم د دې دواړو حضراتو ذاتي اجتهاد دی چي دغه حضراتو ته به د رسول الله ﷺ حدیث نه وي رسیدلی ځکه دوی د احتمال په توګه وایي چي د درمیاني لمانځه څخه مرا د سهار لمونځ دی، که څه هم حضرت ماروي رحمة الله علیه چي د شوافع د امامانو څخه شمیرل کیږي دا وضاحت کړی دی چي امام شافعي رحمة الله علیه دا صراحت کړی دی چي د سهار لمونځ درمیاني لمونځ دی نو ددې صحیح احادیث لیدو چي د هغه څخه په صراحت ثابته ده چي د مازدیگر لمونځ درمیاني لمونځ دی دا خیال کیدای سي چي شافعي مذهب به هم داوي ځکه چي امام شافعي رحمة الله علیه دا وصیت کړی وو که تاسي یو داسي حدیث عملي کوئ چي د هغه خلاف ما حکم ورکړی وي نو زما صحیح مذهب هغه وګڼئ کوم چي د صحیح حدیث څخه ثابت وي او زما اول حکم پر دیوال وغورځوئ.

﴿۵۸۹﴾: وَعَنْ سَلْمَانَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ

د حضرت سلمان رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه واوریدل چي فرمایل یې:

غَدَا إِلَى صَلَاةِ الصُّبْحِ غَدَا بِرَايَةِ الْإِيْمَانِ وَمَنْ غَدَا إِلَى السُّوْقِ غَدَا بِرَايَةِ إِبْلِيْسَ. رواه ابن ماجه.

کوم سړی چي د سهار لمانځه ته ځي هغه لکه د ایمان بیرغ چي وړي او کوم سړی چي بازار ته ځي هغه لکه د ابلیس بیرغ چي وړي. ابن ماجه

تخریج: سنن ابن ماجه ۲\۷۵۱، رقم: ۲۲۳۴.

تشریح: علامه طیبي رحمة الله علیه فرمایي چي دا حدیث د الله تعالي د لښکر او د شیطان د لښکر بیانولو لپاره مثال دی چي کوم سړی د سهار د لمانځه کولو لپاره سهار وختي د مسجد طرف ته روان وي نو ګویا چي هغه د ایمان بیرغ پورته کړ او د شیطان سره د جنګ کولو لپاره راغلی څرنګه چي غازیان او مجاهدین د دښمنان اسلام سره د جهاد لپاره اسلامي بیرغ اخیستی دی نو د سهار په وخت کي د سهار د لمانځه لپاره تلونکی سړی د الله تعالي د لښکر یو فرد وي او کوم سړی چي د سهار په وخت کي د دنیا د حاصلولو لپاره د بازار طرف ته ځي نو هغه د شیطان د لښکر یو فرد دی په دې توګه چي هغه د الله تعالی د حکم خلاف ورزی کولو

سره د شيطان پيروي او د تابعدارۍ بيرغ پورته کولو سره د هغه شان وشوکت زياتوي.
مګر په دې پوه سئ چي دا مثال د هغه سړي په اړه دی کوم چي د سهار لمونځ او وظيفه کولو څخه پرته بازار ته ځي.
هو کوم سړی چي د لمانځه، تلاوت او وظيفې څخه د فارغه کېدو وروسته د حلال رزق د طلب کولو او د خپل کورنۍ لپاره د رزق حاصلولو په وجه بازار ته ځي نو هغه به د دې تمثيل له مخي د شيطان د لښکر فرد نه وي بلکه د الله تعالی د لښکر فرد به وي.

==========

بَابُ الاَذَانِ (د اذان بيان)

په لغت کي د اذان معنی خبر ورکول دي او د شريعت په اصطلاح کي په خاصو الفاظو سره په خاصو وختونو کي د لمانځه د وخت خبر ورکولو ته اذان وايي د دې تعريف څخه هغه اذان خارج دی کوم چي د لمانځه څخه پرته د نورو کارو لپاره مسنون کړل سوی دی څرنګه چي د ماشوم د زېږيدني وروسته د هغه په غوږ کي د اذان او اقامت کلمات ويل کيږي. او همداسي د هغه سړي په غوږ کي اذان کول مستحب دی چي په يو تکليف کي اخته وي يا هغه ته د مرګي وغيره مرض وي يا د چا چي عادتونه خراب سوي وي که هغه انسان وي او که حيوان.
حضرت ديلمي رحمة الله عليه روايت کوي چي حضرت علي کرم الله وجهه وفرمايل چي يوه ورځ رسول الله ﷺ زما په غمجن ليدو سره راته وفرمايل اې ابن ابي طالب! زه تا غمجن وينم نو ته خپل اهل بيت کي يو چا ته حکم ورکړه چي هغه ستا په غوږ کي اذان ووايي چي په هغه سره ستا غم ختم سي حضرت علي رضی الله عنه فرمايي ما د رسول الله ﷺ د ارشاد سره سم عمل وکړ نو د رسول الله ﷺ خبره مبارکه صحيح ثابته سوه او دا روايت حضرت علي رضی الله عنه پوري نقل کونکي هر راوي ويلي دي چي موږ دا طريقه وفرمايله نو تجربه ثابته سوه همداسي حضرت ديلمي رحمة الله عليه د حضرت علي کرم الله وجهه څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د چا عادتونه چي خراب سوي يي که هغه انسان وي يا حيوان نو د هغه په غوږ کي اذان وکړئ.
په هر حال د فرضو لمنځو لپاره اذان کول سنت مؤکده دی چي خلک د لمانځه پر وخت په مسجد کي راجمع سي او لمونځ وکړي، د اذان د مشروعيت په اړه مشهور او صحيح دا دی چي د اذان د مشروعيت ابتداء د عبد الله ابن زيد انصاري رضی الله عنه او حضرت فاروق رضی الله عنه هغه خوب دی چي د هغه تفصيل به په راتلونکو حديثونو کي راسي.

ځیني حضرات وایي چي د اذان خوب حضرت ابو بکر صدیق رضي الله عنه لیدلی وو او امام غزالي رحمة الله علیه فرمایي چي لسو صحابوو ته په خوب کي د اذان تعلیم ورکړل سوی وو بلکه ځني حضرات وایي چي خوب لیدونکي څورلس صحابه وه .

د ځینو محقیقنو علماؤ قول دادی چي د اذان مشروعیت خپله د رسول الله ﷺ د اجتهاد په نتیجه کي سوی دی،چي د هغه طرف ته د معراج په شپه کي یوې ملائکي رهنمایي کړې وه حضرت علي کرم الله وجهه فرمایي رسول الله ﷺ د معراج په شپه کي چي عرش ته ورسیدی او سرایر ده عزت پوري چي د کبریایي حق جل مجده محل خاص دی ورسیدی نو د هغه ځایه یوه ملائکه راووتل رسول الله ﷺد حضرت جبرائیل علیه السلام څخه پوښتنه وکړه چي دا ملائکه څوک ده؟ جبرائیل علیه السلام ورته وویل په هغه الله دي مي قسم وي چي تاسي یې په حق سره رالیږلي یاست د ټول مخلوق څخه زیات قریب ترین درګاه عزت ته زه یم مګر زما د پیښدا کېدو څخه تر اوسه ما دا ملائکه هیڅ کله نه ده لیدلې نو هغه ملائکي وویل الله اکبر الله اکبر یعني الله ډیر لوی دی الله ډیر لوی دی د پردې د شا څخه اواز راغلی چي زما بنده رښتیا وایي انا اکبر انا اکبر یعني زه ډیر لوی یم زه ډیر لوی یم د دې وروسته هغه ملائکي د اذان نور کلمات ذکر کړل .

د دې روایت څخه دا معلومه سوه چي رسول الله ﷺ د اذان کلمات د صحابه کرامو د خوب څخه هم مخکي د معراج په شپه کي اوریدلي وه، علماء لیکي چي په دې اړه د محقق دا فیصله ده چي رسول الله ﷺ د اذان کلمات د معراج په شپه کي اوریدلي دي مګر د دې کلماتو د اذان کولو لپاره حکم نه وو سوی دا وجه ده چي رسول الله ﷺ به په مکه کي پرته د اذان کولو څخه لمونځ اداکوی تر دې چي مدینې منورې ته یې تشریف راوړ او هلته یې د صحابه کرامو سره مشوره وکړه نو ځینو صحابه کرامو په خوب کي دا کلمات واوریدل د هغه وروسته وحي هم راغلې چي کوم کلمات یې په اسمان واوریدل اوس هغه به پر مخکه د اذان کولو لپاره مسنون کړل سي، والله اعلم.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

﴿۵۹۰﴾:عَنْ أَنَسٍ قَالَ ذَكَرُوا النَّارَ وَالنَّاقُوسَ فَذَكَرُوا الْيَهُوْدَ وَالنَّصَارٰى

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چي خلکو (د لمانځه د وخت معلومولو لپاره) د یهود او نصارا د اور او ناقوس یادونه وکړه

فَأُمِرَ بِلاَلٌ أَنْ يَّشْفَعَ الْأَذَانَ وَأَنْ يُّوتِّرَ الْإِقَامَةَ . قال إسماعيل فذكرته لأيوب . فقال إلا الإقامة . متفق عليه

نو رسول الله ﷺ بلال رضي الله عنه ته حکم وکړ چي د آذان کلمې دوه دوه ځله ووايي او يو يو ځل تکبير وايي .بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\۷۷، رقم: ۶۰۳، ومسلم ۱\۲۸۶، رقم: ۳ - ۳۷۸.

تشريح : کله چي رسول الله ﷺ مدينې منورې ته هجرت وکړ او هلته د مسلمانانو په شمير کي زياتوالی راغلی او مسجد جوړ سو نو رسول الله ﷺ د صحابه کرامو سره مشوره وکړه چي د لمانځه د وخت د اعلان لپاره يو داسي شی ټاکل پکار دی چي ټول خلک به پر وخت په مسجد کي حاضريږي او په جماعت سره لمونځ وکړلای سي نو ځينو صحابه کرامو دا مشوره ورکړه چي د لمانځه پر وخت به پر يو لوړ ځای باندي اور بلوو نو خلک به هغه ويني او لمانځه ته به حاضر سي د ځينو دا رايه سوه چي د ناقوس (زنګ) ږغول پکار دي چي خلک هغه واوري او لمانځه ته حاضر سي.

بلي خو اته ځينو د نظر خاوندانو صحابه کرامو د مشورې په اړه عرض وکړو چي اور خو يهوديان د خپل عبادت په وخت کي بلوي همداسي نصاری د خپل عبادت په وخت کي د اعلان لپاره ناقوس وهي نو موږ ته دا دواړي طريقې اختيارول نه دي پکار چي د يهودو او نصاری سره ورته والی راسي نو د دې څخه پرته يو بله طريقه اختيارول پکار دي.

خبره معقوله وه ځکه نو پرته د يوې پريکړې څخه مجلس پای ته ورسيدی او صحابه کرامو رضي الله عنهم خپل خپل کورو ته راغلل يو مخلص صحابي عبد الله ابن زيد رضي الله عنه چي وليدل چي رسول الله ﷺ په دې اړه ډير فکر مند دی او څه ښه طريقه يې مخته نه راځي نو ډير پريشانه سو د هغه د زړه خواهش وو چي دا مسئله په يو طريقه ژر تر ژره فيصله کول پکار دي چي د رسول الله ﷺ فکر ليري سي نو په دې سوچ کي کور ته راغلي بيده سو په خوب کي يې وليدل چي يوه ملائکه دده په مخکي اذان وايي.

په ځينو روايتونو کي دي چي عبد الله بن زيد رضي الله عنه وفرمايل چي هغه وخت زه بالکل بيده نه وم بلکه د خوب په حالت کي وم او په ځينو روايتونو کي دي چي هغه وفرمايل که د بد ګماني خوف نه وي نو ما به ويلي وای چي زه هغه وخت بيده نه وم په دې وجه ځيني علماء دا واقعه پر

حال او کشف باندي محمول کړې ده چي ارباب باطن ته د بیدارۍ په حالت کي واقع کیږي.

په هر حال عبدالله ابن زید چي سهار راپورته سو نو د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او خپل خوب يې بیان کړ. رسول الله ﷺ وفرمایل بیله شکه دا خوب صحیح دی او وه یې فرمایل چي بلال د ځان سره کړه او هغه ته دغه کلمات د کوم چي تاته په خوب کي ښوونه سوي ده هغه ته یې وروښیه ځکه چي د هغه آواز ستا تر آواز لوړ دی.

نو هر کله چي دواړو هغسي اذان وکړ او د حضرت بلال آواز ښار ته ورسیدی نو حضرت عمر فاروق په منډه راغلی او عرض یې وکړ اې د الله رسوله! په هغه ذات مي دي قسم وي چي تاسو یې په حق سره را استولي یاست او س چي کوم کلمات ادا کړل سوي دي ما هم په خوب کي دا کلمات اوریدلي دي د دې په اوریدو سره رسول الله ﷺ د الله تعالی شکر ادا کړ. ویل کیږي چي په هغه شپه شور لسو صحابه کرامو همداسي خوب لیدلی وو.

ناقوس د نصاری په نزد د عبادت په وخت کي د خبرو په اړه استعمالیدی او د هغه شکل دا ړو چي خلکو به یو لوی په یو کوچني لرګی وهی د هغه څخه به چي کوم آواز پیدا کیدی هغه به د عبادت د وخت اعلان وو.

د یهودیانو په باره کي خو دا مشهوره ده چي هغوی به د خپل عبادت په وخت کي ښکر وهئ د اور بلولو ذکر یوازي د حضرت انس په دغه حدیث کي ذکر سوی دی او په یو بل روایت کي د دې تذکره نسته، د دې څخه دا معلومیږي چي د یهودیانو دوې ډلي وې. یوې ډلي به ناقوس وهئ، او دویمي ډلي به اور بلوی، دغه د حدیث پر دې خبره دلالت کوي چي د آذان کلمې د شروع د الله اکبر څخه ماسوا جفت دي او د اقامت کلمې طاق دي لکه څرنګه چي د صحابوو او تابعینو اکثره د علم خاوندان امام زهري، امام مالک، امام شافعي. امام اوزاعي. امام اسحاق او د امام محمد رحمهم الله دغه قول او مذهب دی لیکن د امام ابوحنیفة رحمه الله د دوی د مقلدینو په نزد د آذان او اقامت دواړو کلمات جفت دي. د دوی دلیل به وروسته راسي.

﴿۵۹۱﴾: وَعَنْ أَبِيْ مَحْذُوْرَةَ قَالَ أَلْقٰى عَلَيَّ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو محذوره [۷] څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به ښودی ما ته

۷ - د نوموړي نوم سمره بن معبر دی او په ابو محذوره کنیت سره مشهور دی. نوموړي هجرت نه دی کړی. نوموړی مؤذن وو او په مکه مکرمه کي کي وفات سوی دی.

التَّأْذِيْنَ هُوَ بِنَفْسِهِ فَقَالَ قُلْ اَللّٰهُ أَكْبَرُ اَللّٰهُ أَكْبَرُ اَللّٰهُ أَكْبَرُ اَللّٰهُ أَكْبَرُ أَشْهَدُ أَنْ

آذان پخپله، رسول الله ﷺ به فرمايل: ووايه: الله ډير لوى دى الله ډير لوى دى، الله ډير لوى، الله ډير لوى، زه شاهدي وركوم چي

لاَّ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ أَشْهَدُ أَنْ لاَّ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهَ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ أَشْهَدُ أَنَّ

د الله ﷻ څخه پرته بل د عبادت وړ نسته، زه شاهدي وركوم چي د الله ﷻ څخه پرته بل د عبادت وړ نسته، زه شاهدي وركوم چي محمد ﷺ د الله ﷻ رسول دى، زه شاهدي وركوم چي

مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللّٰهِ . ثُمَّ تَعُوْدُ فَتَقُوْلُ أَشْهَدُ أَنْ لاَّ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ أَشْهَدُ أَنْ لاَّ إِلٰهَ

محمد ﷺ د الله ﷻ رسول دى.. بيا يې وفرمايل هغه جملې بيا دوهم ځل ووايه كومې چې دې مخكې ويلي وې. نو ته به وايې چې اشهد ان لااله الاالله، اشهد ان لااله

إِلاَّ اللّٰهَ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللّٰهِ حَيَّ عَلَى

الا الله، اشهد ان محمدا رسول الله، اشهد ان محمدا رسول الله، راسئ

الصَّلاَةِ حَيَّ عَلَى الصَّلاَةِ حَيَّ عَلَى الْفَلاَحِ حَيَّ عَلَى الْفَلاَحِ . اَللّٰهُ أَكْبَرُ اَللّٰهُ أَكْبَرُ لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ . رواه مسلم .

لمانځه ته، راسئ لمانځه ته، راسي د خلاصون په لور، راسئ د خلاصون په لار، . الله ډير لوى دى الله ډير لوى دى، لااله الاالله، د الله څخه پرته بل د عبادت وړ نسته. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱\۲۸۷، رقم: ٦- ۳۷۹.

تشريح: د الله اكبر معنى داده چي د الله تعالى ذات ددې څخه ډير اعلى دى چي يو سړى د هغه د كبريايي او عظمت حقيقت وپيژني يا دا چي الله تعالى ددې حيثيت څخه ډير لوى دى چي د هغه ذات طرف ته د هغه شيانو نسبت وكړلاى سي كوم چي د هغه د عظمت او بزرگۍ مناسب نه دي يا ددې معنى به دا وي چي الله تعالى رب العزت تر ټولو شيانو لوى دى.

په آذان او تكبير كي په لفظ د الله اكبر كي د راء حرف ساكن وي، او امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه، امام شافعي رحمة الله عليه، امام احمد رحمة الله عليه او د جمهورو علماؤ په

نزد دا کلمه په اذان کي په اول وار څلور واره ویل کیږي او د امام مالک رحمة الله علیه په نزد دوه واره ویل کیږي، ددې کلمې څلور واره په ویلو کي دا نکته ده چي ګویا دا حکم دی په څلور کونجه دنیا کي جاري او ساري دي او عناصر اربعه څخه مرکب د نفس انساني د خواهشاتو د تزکیه لپاره ډیر موثر دی، د حي علی الفلاح معنی داده چي تاسو د هرمکروه شي څخه بیل سئ او هر ښه شي ته راسئ، ځینو حضراتو ویلي دي چي د فلاح معنی د بقاء ده یعني هغه شي ته راوځغلئ چي د عذاب څخه د خلاصون ذریعه ده او د ثواب د حاصلیدو سبب وي او په آخرت کي د بقاء ذریعه وي او هغه شی لمونځ دی، د امام شافعي رحمة الله علیه او امام مالک رحمة الله علیه په نزد په اذان کي ترجیح یعني شهادتونه دوه واره ویل سنت دي د ترجیح شکل داوي چي مخکي شهادتین دوه واره په کرار اواز سره وویل سي بیا دوه واره په لوړ اواز سره ددې حضراتو دلیل دا حدیث دی.

علماء حنفیه فرمایي چي دا تکرار یوازي د حضرت ابو محذوره رضی الله عنه د ښوونې لپاره وو نه چي د تشریع لپاره یعني په اول وار ابو محذوره رضی الله عنه چي شهادتین په کرار اواز سره وویل نو رسول الله ﷺ هغه ته وفرمایل چي دا کلمات بیا اداء کړه او په لوړ اواز سره یې اداکړه په دې اړه د حضرت ابو محذوره رضی الله عنه یو بل روایت هم نقل سوی دی.

او د حضرت عبد الله ابن زید رضی الله عنه په حدیث کي هم چي د اذان په باب کي د اصل حیثیت لري ترجیح نسته همداسي د حضرت بلال رضی الله عنه چي د اذان کونکو سردار دی نه د هغه په اذان کي او نه د ابن ام مکتوم رضی الله عنه په اذان کي چي په مسجد نبوي کي یې اذان کوی او نه د سعد قرظ په اذان کي چي د مسجد قباء مؤذن وو ترجیح منقول ده بیا داچې په دې اړه حضرت ابو محذوره رضی الله عنه سره کومه واقعه پیښه سوې ده د هغې څخه هم دا ثابتیږي چي دا تکرار د شهادتین د تعلیم لپاره دی.

اَلْفَصْلُ الثاني (دوهم فصل)

﴿۵۹۲﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ الْأَذَانُ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي د آذان

وَسَلَّمَ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ وَالْإِقَامَةُ مَرَّةً مَرَّةً غَيْرَ أَنَّهُ كَانَ يَقُوْلُ قَدْ قَامَتِ

دوې دوې كلمې وې او د اقامت يوه يوه مگر په اقامت كي به قدقامت

الصَّلاَةُ قَدْ قَامَتِ الصَّلاَةُ. رواه أبو داود والنسائي والدارمي.

الصلوة دوه ځله ويل كيدى. ابوداؤد، نسائي او دارمي

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\ ۳۵۰، رقم: ۵۱۰، والنسائي ۲\ ۲۱، رقم: ۶۶۷، والدارمي ۱\ ۲۹۰، رقم: ۱۱۹۳.

تشريح: ابن عمر رضي الله عنه چي دا فرمايلي دي چي د رسول الله ﷺ په مباركه زمانه كي به د اذان كلمات دوه دوه واره ويل كيده ددې څخه دا مراد دى چي په اول سر كي الله اكبر به يې څلور وار ه وايه او په آخر كي به يې لااله الا الله يو وار ويل ددې دواړو كلماتو څخه ماسوا پاته كلمات به يې دوه دوه واره ويل.
په اقامت كي ځرنگه چي د قدقامت الصلوة استثنى سوې ده همداسي د تكبير يعني الله اكبر هم مستثنى كول مناسب ده ځكه چي تكبير هم بيله اختلافه په اول او آخر كي مكرر دى.

﴿۵۹۳﴾: وَعَنْ أَبِي مَحْذُورَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَّمَهُ الْأَذَانَ تِسْعَ

د حضرت ابومحذوره رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ هغه ته د آذان نولس

عَشَرَةَ كَلِمَةً وَالْإِقَامَةَ سَبْعَ عَشَرَةَ كَلِمَةً. رواه أحمد والترمذي وأبو داود والنسائي والدارمي وابن ماجه.

كلمې او د اقامت اووه لس كلمې وښودلې. احمد، ترمذي، ابوداؤد، نسائي، دارمي او ابن ماجه

تخريج: الامام احمد في مسنده ۳\ ۴۰۹، وابوداؤد ۱\ ۳۴۲، رقم: ۵۰۲، والترمذي ۱\ ۳۶۷، رقم: ۱۹۲، والنسائي: ۲\ ۴، رقم: ۶۲۹، وابن ماجه ۱\ ۳۵، رقم: ۷۰۹ والدارمي: ۱\ ۳۹۲، رقم: ۱۱۹۷.

تشريح: په حنفي مذهب كي د اذان پنځلس كلمات دي خو په دې حديث كي نولس ذكر سوي دي د دې وجه داده چي نولس كلمات په ترجيح سره دي ځرنگه چي د امام شافعي رحمة الله عليه مذهب دى او په دوهم نمبر حديث كي ښودل سوي دي چي د حنفيه په ترجيح تعليم باندي محمول دي هغه مشروع نه دى.
د تكبير (اقامت) اووه لس كلمات ښودل سوي دي په دې توگه چي د ترجيح څلور كلمات په جلا كولو سره او دوه كلمات قد قامت الصلوة په زياتولو سره د تكبير كلمات اوولس سوه د

تكبير كلمات په تعين كي د حنفيه له خوا ښخه دا حديث د دليل په توګه مخته كيږي.
ددې ښخه مخكي حديث چي په هغه كي د امام شافعي رحمة الله عليه د مذهب مطابق د تكبير د كلماتو تعداد يوولس ثابتيږي كه صحيح دي نو په دې حديث سره منسوخ دي.

﴿۵۹۴﴾: وَعَنْهُ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ عَلِّمْنِيْ سُنَّةَ الْأَذَانِ قَالَ فَمَسَحَ مُقَدَّمَ

د حضرت ابو محذوره رضي الله عنه ښخه روايت دى چي ما رسول الله ﷺ ته وويل: اې د الله رسوله! ما ته د آذان طريقه و ښيه، د راوي بيان دى چي د دې په اوريدو سره رسول الله ﷺ د ابو محذوره

رَأْسِهٖ قَالَ تَقُوْلُ اَللّٰهُ أَكْبَرُ اَللّٰهُ أَكْبَرُ اَللّٰهُ أَكْبَرُ اَللّٰهُ أَكْبَرُ تَرْفَعُ بِهَا صَوْتَكَ ثُمَّ

پر تندي لاس را تير كړ او بيا يې وفرمايل په لوړ آواز سره ووايه. الله اكبر الله اكبر الله اكبر الله اكبر، دغه الفاظ په لوړ آواز ووايه، بيا

تَقُوْلُ أَشْهَدُ أَنْ لَّآ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ أَشْهَدُ أَنْ لَّآ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ

ووايه اشهد ان لااله الاالله اشهد ان لااله الاالله اشهد ان محمدا رسول الله اشهد ان محمدا رسول

اللّٰهِ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللّٰهِ تَخْفِضُ بِهَا صَوْتَكَ ثُمَّ تَرْفَعُ صَوْتَكَ

الله، اشهد ان محمدا رسول الله، د مخكي آواز ښخه لږ كراريې ووايه بيا په لوړ آواز سره

بِالشَّهَادَةِ أَشْهَدُ أَنْ لَّآ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ أَشْهَدُ أَنْ لَّآ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا

دكلمه شهادت تكرار وكړه اشهد ان لااله الاالله اشهد ان لااله الاالله اشهد ان محمدا

رَّسُوْلُ اللّٰهِ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللّٰهِ حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ حَيَّ

رسول الله اشهد ان محمدا رسول الله، د دې وروسته دا كلمات حى علي الصلوة حي علي الصلوة حي

عَلَى الْفَلَاحِ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ فَإِنْ كَانَ صَلَاةُ الصُّبْحِ قُلْتَ اَلصَّلَاةُ خَيْرٌ مِّنَ

على الفلاح حي على الفلاح ووايه كه د سهار لمونځ وي نو دا الفاظ هم ووايه الصلوة خير من

النَّوْمِ اَلصَّلَاةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْمِ اَللّٰهُ أَكْبَرُ اَللّٰهُ أَكْبَرُ لَآ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ. رواه أبو داود

النوم الصلوة خير من النوم (لمونځ تر خوب غوره دی) د دې وروسته دوه ځله الله اکبر او يو ځل لااله الاالله وو ايه. ابوداؤد،

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\۳۴۰، رقم: ۵۰۰.

تشريح: فمسح مقدم راسه: معنی يا خو هغه دي چي د ترجمې څخه ښکاره دي چي رسول الله ﷺ د ابو محذره رضي الله عنه پر سر خپل لاس مبارک کښيښنودی چي د هغه برکت د ابو محذوره رضي الله عنه ته ورسيدی او ددين خبري ياد وساتي په يوه صحيح نسخه کي دا الفاظ داسي دي (فمسح راسي) يعني رسول الله ﷺ زما په سر خپل لاس مبارک کښيښنودی نو دا الفاظ د هغه معنی تائيد کوي کوم چي په ترجمه کي تير سوي دي يا ددې مطلب دادی چي رسول الله ﷺ په اتفاقي توګه خپل لاس مبارک پرخپل سر باندي کښېښنودی، راوي پوره واقعه د نقل کولو په غرض سره د دې تذکره هم راوړې ده.

په هر حال ددې اولي ترجمې چي توجيه سوې ده چي په کومو حديثو کي اذان د شهادتين د تکرار ذکر سوی دی هغه پر تعليم محمول دی نو هغه توجيه په ښکاره ددې حديث خلاف ده نو بهتره داده چي دا وويل سي چي په دې اړه موږ هم ډيرو روايتونو ته ترجيح ورکړې ده چي په هغه کي د ترجيح ذکر نه دی سوی د ابو محذوره رضي الله عنه روايت دی چي د هغه څخه دا ترجيح ثابته ده د هغه مخکي دي او هغه حديثونه چي په هغه کي ترجيح مذکوره نه ده هغه وروسته وي ځکه د ابو محذوره رضي الله عنه روايت دی او په روايتونو سره منسوخ دي. والله اعلم.

د الصلوة خير من النوم مطلب دادی چي د شوق او ذوق خاوندان او په عشق خداوندي سره د مينو خلکو په نزد د لمانځه لذت او خوند د خوب د لذت او خوند څخه په څو درجو غوره دی.

﴿۵۹۵﴾: وَعَنْ بِلَالٍ قَالَ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُثَوِّبَنَّ فِيْ شَيْءٍ

د حضرت بلال رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما ته رسول الله ﷺ وفرمايل: تثويب (دوهم ځل اګاه کول) مه کوه په هيڅ شي کي

مِنَ الصَّلَوَاتِ إِلَّا فِيْ صَلَاةِ الْفَجْرِ. رواه الترمذي وابن ماجه وقال الترمذي أبو إسرائيل الراوي ليس هو بذاك القوي عند أهل الحديث.

د لمونځونو څخه مګر د سهار په لمانځه کي، نو د سهار په آذان کي د حي على الفلاح وروسته الصلوة خير من النوم ويل تثوب دي. ترمذي او ابن ماجه

تخریج: سنن الترمذي ۱\۳۷۸، رقم: ۱۹۸، وابن ماجه ۱\۲۳۷، رقم: ۷۱۵.

د لغاتو حل: (التثویب): هو قول المؤذن في اذان الفجر: الصلوة خیر من النوم. (مرقات).

تشریح: (تثویب) هغه خبر وَي چي د هغه تر مخه یو اعلان سوی وي او د هغه غرض او د هغه تر مخه اعلان غرض یو وي مثلا اول اعلان څخه د خلکو د لمانځه لپاره بلل مقصود وي نو د دې اعلان څخه هم دا مقصد دي چي د تثویب څو قسمونه دي یو خو دا چي د سهار په اذان کي الصلوة خیر من النوم ویل دا تثویب د دې لپاره دی چي یو وار خو حي علی الصلوة په ویلو سره خلک د لمانځه لپاره وبلل سي بیا دوهم وار الصلوة خیر من النوم سره خلک خبر کړل سي دا تثویب د رسول الله ﷺ په زمانه کي رواج وو او مسنون دادي، بیا د هغه وروسته د کوفې علماء د اذان او تکبیر درمیاني وقفه کي حي علی الفلاح، حي علی الفلاح ویل رواج کول د هغه وروسته د هرې طبقې خلکو د خپل خپل عرف مطابق څه نه څه طریقه د تثویب په طور رواج کړل سي خو دا ټول تثویبونه د سهار د لمانځه لپاره رواج سول ځکه چي د سهار په وخت کي د خوب او غفلت وخت وي.

بیا په آخر کي متاخرین علماؤ د ټولو لمنځونو لپاره تثویب رواج کړی او دې ته یې په ښه نظر وکتل حال دا چي د مقدمینو په نزد دا مکروه دي ځکه چي دا حدث او بدعت دی، د حضرت علي رضي الله عنه څخه هم د دې انکار په دې توګه منقول دی چي یو سړی په تثویب ویلو سره حضرت د هغه په باره کي وفرمایل چي اخرجوا هذا المبتدع من المسجد یعني دا بدعتي سړی د مسجد څخه دباندي راوباسئ.

د حضرت عمر رضي الله عنه په باره کي نقل سوي دي چي هغه یوه ورځ په مسجد کي د مؤذن څخه په غیر فجر کي تثویب کول واوریدل نو د مسجد څخه دباندي راووتی او نورو ته یې هم وویل د دې سړي په مخکي مه اوسئ دباندي راووځي ځکه چي دی بدعتي دی.

﴿۵۹۶﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِبِلَالٍ إِذَا أَذَّنْتَ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ بلال رضي الله عنه ته وفرمایل: کوم وخت چي ته آذان کوې

فَتَرَسَّلْ وَإِذَا أَقَمْتَ فَاحْدُرْ وَاجْعَلْ بَيْنَ أَذَانِكَ وَإِقَامَتِكَ قَدْرَ مَا يَفْرُغُ الْاٰكِلُ

نو په کراره کراره یې کوه (ډیر په تلوار یې مه کوه) او هر کله چي اقامت کوې نو په تلوار تلوار

يې کوه او د آذان او اقامت په منځ کي دومره فاصله ساته چي فارغ سي خوړونکی

مِنْ أَكْلِهِ وَالشَّارِبُ مِنْ شُرْبِهِ وَالْمُعْتَصِرُ إِذَا دَخَلَ لِقَضَاءِ حَاجَتِهِ وَلَا تَقُوْمُوْا

د خوراک څخه او څښونکی د څښاک څخه او قضاء حاجت کوونکی د حاجت څخه فارغ سي او تر هغه وخته لمانځه ته مه دریږه

حَتّٰى تَرَوْنِيْ. رواه الترمذي وقال لا نعرفه إلا ن حديث عبد المنعم وهو إسناد مجهول

تر څو پوري چي ما ونه وينې. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۱\ ۳۷۳، ۳۷۴، رقم: ۱۹۵ و ۱۹۶.

د لغاتو حل: (فترسل): ای تمهل وافصل الكلمات بعضها عن بعض بسكنة خفيفة. (فاحذر): ای اسرع وصل الكلمات من غير درج ولادمج.

تشريح: د آذان په کراره کراه ویلو سره مطلب دادی چي د اذان کلمات یو د بل څخه جلا کولو سره او په لږ سکتي سره په کراره کراره اداء کوئ؟

علامه ابن حجر رحمة الله علیه فرمايي ددې مطلب دادی چي د اذان د کلماتو په ادا کولو کي دومره زنډ کول چي کلمات بغير کشولو د حد څخه تجاوز نه دي واضح وويل سي په دې وجه د مؤذنانو لپاره تاکید دی چي هغوی د اذان د کلمات په ادا کولو کي د احتياط څخه کار واخلي او د قواعد سره سم اذان وکړي چي د غلطيو کړنه ونسي ځکه چي ځيني غلطۍ داسي دي چي د هغه په قصدا کولو سره د کفر حد ته رسيدلای سي لکه د اشهد الف په مد سره ادا کول چي دا استفهام کيږي او د هغه معنی دا کيږي چي ايا زه ګواهي ورکړم الخ - يا په الله اکبر کي په مد کشولو سره (کبار) ويل چي دا لفظ د کبر جمع کيږي چي د هغه معنی ده د طبلې راځي چي د هغې يوه خوله وي او د دائرې په شکل کي وي يا همداسي پر اله باندي وقف کول او د الله څخه ابتداء کول.

د حديث د آخري جملې مطلب دادی هر کله چي مؤذن د تکبير لپاره ودريږي نو تر څو پوري چي مسجد ته راتلونکي ونه وينې د لمانځه لپاره مه دريږه ځکه چي د امام د راتلو څخه مخکي دريدل خامخا تکليف وړل دي چي د هغه هيڅ فائده نسته غالبا رسول الله ﷺ به د

لمانځه ورکولو لپاره خپل حجرې مبارکي ته هغه وخت تلی کله چي به مؤذن تکبير پيل کړ او هر کله چي مؤذن په تکبير ويلو سره حي علي الصلوة ته رسيدلی وو نو رسول الله ﷺ به هغه وخت په محراب کي داخل سوي وو په دې وجه زموږ امامانو دا ويلي دي چي کله مؤذن تکبير پيل کړي او حي علي الصلوة ته ورسيږي نو امام او مقتديانو ته يې اوريدل پکار دی او کله چي مؤذن قد قامت الصلوة ته ورسيږي نو لمونځ پيل کول پکار دي .

﴿۵۹۷﴾: وَعَنْ زِيَادِ بْنِ الْحَارِثِ الصُّدَائِيِّ قَالَ أَمَرَنِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت زياد بن الحارث الصدائي ﷺ څخه روايت دی چي ما ته رسول الله ﷺ حکم وکړ چي

وَسَلَّمَ أَنْ اِذِّنْ فِيْ صَلَاةِ الْفَجْرِ فَأَذَّنْتُ فَأَرَادَ بِلَالٌ أَنْ يُّقِيْمَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ

د سهار آذان وکړه ما آذان وکړ بيا بلال ﷺ د اقامت اراده وکړه نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل:

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَخَا صُدَاءٍ قَدْ أَذَّنَ وَمَنْ أَذَّنَ فَهُوَ يُقِيْمُ .

رواه الترمذي وأبو داود وابن ماجه .

ستا ورور صدايي آذان کړی دی او کوم سړی چي آذان وکړي هغه دي اقامت هم وکړي .
ترمذي، ابوداؤد او ابن ماجه

تخريج: سنن ابي داؤد: ۱\ ۳۵۲، رقم: ۵۱۴، والترمذي ۱\ ۳۸۳، ۳۸۴، رقم: ۱۹۹ وابن ماجه: ۱\ ۲۳۷، رقم: ۷۱٦.

تشريح : اخاء صداء يعني د صدايي د ورور څخه مراد زياد ابن حارث صدايي دی په عربو کي دا قاعده وه چي کوم سړي به د کومي قبيلې سره تعلق درلودی هغه ته به يې د هغه قبيلې ورور ويل ، د امام شافعي په نزد ددې حديث مطابق غير مؤذن له تکبير کول مکروه دي د امام اعظم رحمة الله عليه په نزد مکروه نه دي ځکه چي دا ثابته ده چي اکثر به ابن مکتوم ﷺ اذان کوی او بلال ﷺ به اقامت کوی د امام صاحب په نزد په دې خبره محمول دي که غير مؤذن اقامت ويل غواړي نو د مؤذن څخه دي اجازه واخلي که مؤذن ته د بل چا اقامت کول خوښ نه وي نو بيا غير مؤذن ته اقامت ويل مناسب نه وي .

اَلْفَصْلُ الثالث (دريم فصل)

﴿۵۹۸﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ الْمُسْلِمُونَ حِينَ قَدِمُوا الْمَدِينَةَ يَجْتَمِعُونَ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی کوم وخت چي مسلمانانو هجرت وکړ مدينې ته راغلل نو يو ځای به سول

فَيَتَحَيَّنُونَ الصَّلَوَاتِ وَلَيْسَ يُنَادِي بِهَا أَحَدٌ فَتَكَلَّمُوا يَوْمًا فِي ذَلِكَ فَقَالَ

وخت به يې اندازه کوی او يو وخت به يې تاکی او د هغه لپاره يو ثوک اعلان کونکی نه وو، يوه ورځ پر دې مشوره وکړل سوه نو وويل

بَعْضُهُمْ اتَّخِذُوا نَاقُوسًا مِثْلَ نَاقُوسِ النَّصَارَى وَقَالَ بَعْضُهُمْ قَرْنًا مِثْلَ

ځينو چي د نصاراوو په ډول ناقوس واخلئ، ځينو وويل چي ښکر واخلئ لکه

قَرْنِ الْيَهُودِ فَقَالَ عُمَرُ أَوَلَا تَبْعَثُونَ رَجُلًا يُنَادِي بِالصَّلَاةِ فَقَالَ رَسُولُ

د يهودو ښکر، حضرت عمر رضي الله عنه وويل يو سړی دي و تاکل سي چي د لمانځه بلنه ورکوي، رسول الله صلى الله عليه وسلم و فرمايل:

اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا بِلَالُ قُمْ فَنَادِ بِالصَّلَاةِ. متفق عليه.

بلاله! ودرېږه او د لمانځه اعلان وکړه. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري ۲\۷۷، رقم: ۶۰۴، ومسلم: ۱\۲۸۵، رقم: ۱- ۳۷۷.

تشريح: رسول الله صلى الله عليه وسلم چي بلال رضي الله عنه ته د اعلان کولو لپاره کوم حکم ورکړی وو د هغه به دا مطلب وي چي کله د لمانځه وخت سي نو پر يو لوړ ځای د درېدو سره (الصلوة جامعت) د دې اواز د اورېدو سره به خلک به د لمانځه لپاره حاضرېږي نو د منادي څخه مراد د لمانځه لپاره صرف اعلان کول دي نه چي د دې شرعي منادي يعني اذان مراد دی په دې توجيه سره د مخکنيو حديثونو تطبيق کيږي چي مخکي په يو مجلس کي په دې بحث مباحثه وسوه نو عبد الله بن زيد رضي الله عنه د اذان خوب وليدی او رسول الله صلى الله عليه وسلم يا خو د وحي د راتلو څخه مخکي يا د خپل اجتهاد څخه کار اخستلو سره د عبد الله بن زيد رضي الله عنه د خوب مطابق اذان مشروع وفرمايه.

﴿۵۹۹﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَبْدِ رَبِّهٖ قَالَ لَمَّا أَمَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت عبدالله بن زيد بن عبدربه رضي الله عنه څخه روايت دی چې کله رسول الله ﷺ حکم وکړ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالنَّاقُوْسِ يَعْمَلُ لِيُضْرَبَ بِهٖ لِلنَّاسِ لِجَمْعِ الصَّلَاةِ طَافَ بِيْ وَأَنَا

د ناقوس وهلو (يعني اراده يې وکړه) چې د هغه په وهلو سره خلک د لمانځه لپاره يو ځای کړي ما ته په خوب کې يو سړی څرګند سو

نَائِمٌ رَجُلٌ يَّحْمِلُ نَاقُوْسًا فِيْ يَدِهٖ فَقُلْتُ يَا عَبْدَ اللّٰهِ أَتَبِيْعُ النَّاقُوْسَ قَالَ وَمَا

چې د هغه په لاس کې ناقوس وو ما په خوب کې د هغه څخه پوښتنه وکړه اې د الله بنده ! ايا ته دا ناقوس پلورې ؟ هغه وويل:

تَصْنَعُ بِهٖ فَقُلْتُ نَدْعُوْ بِهٖ إِلَى الصَّلَاةِ قَالَ أَفَلَا أَدُلُّكَ عَلٰى مَا هُوَ خَيْرٌ مِّنْ ذٰلِكَ

ناقوس څه کوې ؟ ما ورته وويل موږ په دې سره خلک لمانځه ته رابولو نو هغه راته وويل ايا زه تا ته داسې شی نه وښيم چې د دې څخه غوره وي ؟

فَقُلْتُ لَهٗ بَلٰى قَالَ فَقَالَ تَقُوْلُ اَللّٰهُ أَكْبَرُ إِلٰى آخِرِهٖ وَكَذَا الْإِقَامَةَ فَلَمَّا أَصْبَحْتُ

ما ورته وويل هو، نو هغه وويل الله اکبر الله اکبر ... الخ، او همداسې تکبير (اقامت)، کله چې سهار سو

أَتَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرْتُهٗ بِمَا رَأَيْتُ فَقَالَ إِنَّهَا لَرُؤْيَا

نو زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سوم او خپل خوب مې ورته بيان کړ رسول الله ﷺ وفرمايل: بېله شکه دغه خوب

حَقٌّ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ فَقُمْ مَعَ بِلَالٍ فَأَلْقِ عَلَيْهِ مَا رَأَيْتَ فَلْيُؤَذِّنْ بِهٖ فَإِنَّهٗ أَنْدٰى

حق دی که الله جل جلاله وغواړي، ته د بلال سره ودرېږه او څه چې دې په خوب کې ليدلي دي هغه ورته وښيه او هغه دې آذان وکړي ځکه چې د هغه آواز ستا تر آواز لوړ دی،

صَوْتًا مِّنْكَ فَقُمْتُ مَعَ بِلَالٍ فَجَعَلْتُ أُلْقِيْهِ عَلَيْهِ وَيُؤَذِّنُ بِهٖ قَالَ فَسَمِعَ بِذٰلِكَ

نو زه د بلال سره ودريدم او هغه ته مي د آذان کلمې و ښوولې او هغه به آذان کوی ، راوي بيان کوي کوم وخت چي واوريدل دغه الفاظ

عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ وَهُوَ فِي بَيْتِهِ فَخَرَجَ يَجُرُّ رِدَاءَهُ وَيَقُولُ يَا رَسُولَ اللهِ وَالَّذِي

حضرت عمر رضي الله عنه په خپل کور کي نو په څادر کشولو سره د کور څخه د باندي راووتی او رسول الله ﷺ ته يې عرض وکړ : په هغه ذات دي مي قسم وي

بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَقَدْ رَأَيْتُ مِثْلَ مَا أُرِيَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

چي تاسو يې په حق سره راليږلی ياست ما هم داسي خوب ليدلی دی لکه څرنګه چي عبد الله ته ښودل سوی دی نو رسول الله ﷺ وفرمايل :

فَلِلَّهِ الْحَمْدُ . رواه أبو داود والدارمي وابن ماجه إلا أنه لم يذكر الإقامة .

وقال الترمذي هذا حديث صحيح لكنه لم يصرح قصة الناقوس .

الحمد لله (الله تعالی لره ټول تعريفونه دي) . ابوداؤد ، دارمي او ابن ماجه .

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\ ۳۳۷ ، ۳۳۸ ، رقم: ۴۹۹ ، والدارمي ۱\ ۲۸۶ ، ۲۸۷ ، رقم: ۱۱۸۷ ، وابن ماجه ۱\ ۲۳۲ ، ۲۳۳ ، رقم: ۷۰۶ ، والترمذي ۱\ ۳۵۸ ، ۳۵۹ ، رقم: ۱۸۹ .

تشريح : د حديث د لومړنی برخي مطلب دا نه دی چي نبي کريم ﷺ د ناقوس په رغولو امر کړی وو بلکه دلته د حکم مطلب دادی چي کله په دې اړه صحابه کرامو مشوره وکړل او يوه مناسبه پريکړه ذهن ته نه راغلل نو نبي کريم ﷺ د ناقوس وهلو د حکم اراده وکړل ، ليکن الله جل جلاله د عبد الله بن زيد رضي الله عنه د خوب په ذريعه د دغه حکم نوبت نه راوستی ، او د دغه حديث د حنفيه د مذهب تاکيد کونکی دی چي د هغه څخه دا ثابتيږي چي د اقامت او اذان په کلماتو کي څه فرق نسته لکه څرنګه چي د اذان د کلماتو په پيل کي الله اکبر الله اکبر او په آخر کي لااله الا الله دوه دوه واره ويل کيږي همداسي د اقامت کلمې هم دوه دوه واره ويل کيږي البته په اقامت کي يوازي د قد قامت الصلوة اضافه ده چي په اذان کي نسته .

د حضرت عبد الله رضي الله عنه د خوب په اوريدو سره رسول الله ﷺ د هغه تصديق وکړ چي دا خوب رښتيا دی اوس د دې تصديق تعلق به يا د وحي سره وي چي الله تعالی د وحي په ذريعه د هغه خوب د رښتيا کولو خبر ورکړی وو څکه چي رسول الله ﷺ هغه ته حق وو ايه ، يا رسول الله

ﷺ د خپل اجتهاد په وجه هغه خوب رښتيا وګڼئ او دلته د رسول الله ﷺ انشاء الله ويل د برکت او د اظهار طمانيت په توګه وه نه دا چي د شک په توګه، د اذان د آواز په اوريدو سره حضرت عمر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او دا يې وويل چي ما هم داسي خوب ليدلی وو کيدای سي چي هغوی دا خبره هغه وخت کړې وي کله چي هغوی ته دا معلومه سوې وي چي دا اذان د عبد الله بن زيد رضي الله عنه د خوب په نتيجه کي ويل سوی دی يا هغوی ته دده خوب علم د مکاشفې په توګه سوی وي، امام نووي رحمة الله عليه فرمايي په دې حديث کي دا مسئله راوځي چي د مؤذن په لوړ اواز او خوش اوازه کېدل مستحب دي، په پای کي په دې خبره ځان پوه کړئ چي د آذان مشروعيت په دوهمه هجري سنه کي سوی دی ليکن د ځينو علماؤ تحقيق دی چي اذان د هجرت په اول کال پيل سوی دی.

﴿۶۰۰﴾: وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ خَرَجْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِصَلَاةِ

د حضرت ابوبكرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي زه د رسول الله ﷺ سره ووتلم لپاره د لمانځه

الصُّبْحِ فَكَانَ لَا يَمُرُّ بِرَجُلٍ إِلَّا نَادَاهُ بِالصَّلَاةِ أَوْ حَرَّكَهُ بِرِجْلِهِ . رواه أبو داود

د سهار نو کوم سړی چي به په لاره کي يو ځای کيدی رسول الله ﷺ به هغه د لمانځه لپاره رابللی (او که به بيده وونو په خپل پښه سره به يې) د هغه پښه ښورول. ابو داؤد.

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\۴۹، رقم: ۱۲۶۴.

تشريح: د دې حديث څخه دا معلومه سوه که يو سړی د لمانځه پر وخت بيده وي نو د هغه د لمانځه لپاره وېښول جائز دي که څه هم په اواز ورکولو سره يې بيداره کړي يا يې وښوروي.

﴿۶۰۱﴾: وَعَنْ مَالِكٍ بَلَغَهُ أَنَّ الْمُؤَذِّنَ جَاءَ عُمَرَ يُؤْذِنُهُ لِصَلَاةِ الصُّبْحِ فَوَجَدَهُ

حضرت مالک رضي الله عنه ته دا حديث رسيدلی دی چي مؤذن حضرت عمر رضي الله عنه ته راغلی چي د سهار د لمانځه خبر ورکړي، مؤذن حضرت عمر رضي الله عنه

نَائِمًا فَقَالَ الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْمِ فَأَمَرَهُ عُمَرُ أَنْ يَّجْعَلَهَا فِيْ نِدَاءِ الصُّبْحِ .

رواه في الموطأ .

بيده پيدا کړی نو وه يې ويل د خوب څخه لمونځ غوره دی، حضرت عمر رضي الله عنه حکم وکړ چي دا

کلمه د سهار په آذان کي ګډه کړه . مؤطا

تخريج : الامام مالک في الموطا ۱\۷۲، رقم: ۸.

تشريح : په ښکاره خو ددې حديث څخه دا معلوميږي چي د سهار د لمانځه په اذان کي (الصلوة خير من النوم) کلمه حضرت عمر رضي الله عنه اضافه کړې ده حال دا چي داسي نه ده، د سهار په اذان کي دا کلمه ويل خو د پيل څخه مسنون وه ددې حديث توجيهات سوي دي مګر زيات مناسب او بهترين توجيه داده چي کله مؤذن حضرت عمر رضي الله عنه په بيده ليدلو سره دا کلمه وويل نو هغه ته ډيره ګرانه پريوتل او وه يې فرمايل چي دا کلمه دي د سهار په اذن کي شامله کړل سي يعني دا کلمه د سهار په اذان کي ويل مناسب دي او په هغه وخت کي تاته دا کلمه ويل پکار ده د اذان څخه پرته د بيده سړي د بيداره کولو لپاره هم دا کلمه استعمالول مناسب نه ده.

﴿۶۰۲﴾: وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ سَعْدِ بْنِ عَمَّارِ بْنِ سَعْدٍ مُّؤَذِّنِ رَسُوْلِ اللّٰهِ

د حضرت عبدالرحمن بن سعد بن عمار بن سعد د رسول الله ﷺ مؤذن روايت کوي چي

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ حَدَّثَنِيْ أَبِيْ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهٖ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ أَمَرَ

ما ته زما پلار سعد او هغه د خپل پلار عمار څخه دا حديث روايت کړی دی او عمار د سعد څخه چي رسول الله ﷺ حکم وکړ

بِلَالًا أَنْ يَّجْعَلَ أُصْبَعَيْهِ فِيْ أُذُنَيْهِ قَالَ إِنَّهٗ أَرْفَعُ لِصَوْتِكَ . رواه ابن ماجه .

بلال رضي الله عنه ته چي د آذان کولو په وخت کي خپلي ګوتي په غوږو کي دننه کړي دا به ستا آواز ډير لوړ کړي. ابن ماجه.

تخريج : سنن ابن ماجه ۱\۲۳۶، رقم: ۷۱۰.

تشريح : حضرت سعد رضي الله عنه صحابي دی او د رسول الله ﷺ له خوا په مسجد قباء کي مؤذن وو د رسول الله ﷺ تر وفات پوري يې په مسجد کي اذان کوی د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته حضرت بلال رضي الله عنه په مسجد نبوي کي اذان کول پريښودل او شام ته ولاړی نو حضرت ابو بکر رضي الله عنه سعد رضي الله عنه مسجد قباء ته په رابللو سره په مسجد نبوي کي د اذان کولو په خدمت مامور کړ چي د خپل ژوند آخري لحظې يې په دغه سعادت درلودونکي خدمت کي تيري کړې د حضرت سعد

زوی حضرت عمار تابعي رحمہ اللہ مقبول دی او د هغه د زوي يعني د سعد د لمسي نوم هم سعد دی او دده زوی حضرت عبد الرحمن مسطور دی همداسي د عمار رحمہ اللہ پلار حضرت سعد رضی اللہ عنہ د هغه د زوی سعد رحمہ اللہ نیکه سو.

دا حدیث عبدالرحمن د خپل نیکه حضرت سعد رضی اللہ عنہ څخه نقل کړی دی او هغه د خپل پلار عمار رحمہ اللہ څخه نقل کړی دی چي تابعي دی او هغه د خپل محترم پلار حضرت سعد رضی اللہ عنہ څخه اوریدلی دی چي د صحابیت په سعادت سره برخمن د ، د ابیه او جده دواړو ضمیرونه د ابي لفظ ته راجع دي.

د دې حدیث څخه معلومه سوه چي د آذان په وخت کي ګوتي په غوږونو کي ځکه نیول کیږي چي د آذان آواز زیات لوړ سي او په دې کي کیدای سي حکمت داوي چي په غوږونو کي په ګوتو اچولو سره لوړ آواز د مؤذن په غوږونو کي راسي ځکه نو هغه په ددې هڅه کوي چي څومره کیدای سي ښه په زور سره آذان وکړي.

=========

بَابُ فَضْلِ الاَذَانِ وَاِجَابَةِ الْمُؤَذِّنِ

د اذان فضیلت او د آذان کوونکي جواب

اذان د الله تعالی د اذکارو څخه یو لوی ذکردی په دې کي د توحید او رسالت په شهادت سره اعلان کیږي په دې کي د اسلام شان او شوکت ښکاره کیږي ددې وجه داده چي د اذان کولو فضیلت او ددې ثواب ډیر زیات دی ددې عنوان سره سم هغه حدیثونه ذکر کیږي چي د هغو څخه به معلومه سي چي اذان کول په حقیقت کي د برکت او سعادت څخه خپل لمن ډکول دي.

اوس په دې کي کلام دی چي ایا اذان کول زیات افضل دي یا امامت کول؟ نو مختار او معتمد قول دادی چي که چیري یو سړي ته دا یقین وي چي هغه به د امامت پوره حقوق پر ځای کوي نو هغه ته امامت کول افضل دي کنه نو په دا صورت کي د هغه لپاره اذان کول به اعلی وي.

، د علماؤ په دې معامله کي اختلاف دی چي ایا رسول الله ﷺ هم اذان کړی دی که یا ؟ که څه هم په یوه حدیث کي وارد دي چي رسول الله ﷺ اذان کړی دی خو ځیني حضرات وایي چي رسول الله ﷺ په حکم ورکولو سره اذان کړی دی دا حکم داسي تعبیر کړل سوی دی څرنګه چي په محاوره کي ویل سوي دي چي فلانی بادشاه قلعه جوړه کړه حال دا چي هغه په خپل لاس سره

قلعه نه جوړوي د دار قطني رحمة الله عليه په يوه روايت كي د دې هم وضاحت سته چي رسول الله ﷺ د اذان كولو حكم وركړى وو او خپله يې اذان نه دى كړى. والله اعلم.

د اذان جواب وركول واجب دي كه تر څو يو سړي په يو ځاي كي اذان وركړي نو په دې شكل كي به حرمت د اول لپاره وي يعني كه چيري د مختلفو سيمو د مسجدو اذان واوري نو يوازي د خپل مسجد د مؤذن جواب وركول به واجب وي او كه څوك د اذان په وخت په مسجد كي ناست وي نو د هغه لپاره د اذان جواب واجب نه دى ځكه چي په دې صورت كي خو هغه ته اجابت فعلي حاصل دى په دې مسئله كي د علماؤ اختلاف دى چي قرآن ويونكى سړى دي د اذان جوا ب وركړي كه يا؟ په دې مسئله كي مختار قول دادى چي هغه دي د اذان جواب نه وركوي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړى فصل)

﴿۶۰۳﴾: عَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:

د حضرت ماوية رضي الله عنه څخه روايت دى چي ما درسول الله ﷺ اوريدلي دي چي فرمايل يې:

الْمُؤَذِّنُونَ أَطْوَلُ النَّاسِ أَعْنَاقًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رواه مسلم

آذان كونكي خلك به د قيامت په ورځ لوړو غاړو والا وي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۱\۲۹۰، رقم: ۱۴- ۳۸۷.

تشريح: د لوړي غاړي معنى په تعين كي مختلفه ده ځيني حضرات وايي چي ددې معنى داده چي كوم خلك په دنيا كي اذن كوي هغوى به د قيامت په ورځ ډير زيات ثواب والا او مرتبې والا خلك وي ځيني علماء وايي چي مؤذن به د قيامت په ورځ سردار وي ځني حضرات وايي ددې معنى داده چي د قيامت په ورځ به مؤذن د ډير زيات ثواب اميد وار وي ځكه چي كوم سړى د كوم شي د حصول اميد لري هغه په غاړه لوړولو سره هغه شي ته ګوري همداسي په ميدان حشر كي چي تمام خلك د حساب او كتاب په وجه په غم او فكر كي وي نو مؤذن به په ارام او راحت سره ددې خبري منتظر وي چي اوس به په جنت كي د داخلې حكم ورته وركړل سي، ځينو حضراتو ددې معنى داهم بيان كړې ده چي د قيامت په ورځ به مؤذنانو ته د الله تعالى په دربار كي د قرب او عزت مقام حاصل وي.

﴿۶۰۴﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا نُوْدِيَ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ و فرمايل : هر كله چي آذان كيږي

لِلصَّلَاةِ أَدْبَرَ الشَّيْطَانُ لَهُ ضُرَاطٌ حَتَّى لَا يَسْمَعَ التَّأْذِيْنَ فَإِذَا قُضِيَ التَّأْذِيْنُ

د لمانځه لپاره نو شيطان پر شا تښتي او د هغه د ګوز آواز خيژي چي د آذان آواز د هغه غوږو ته ونه رسي كوم وخت چي آذان ختم سي

أَقْبَلَ حَتَّى إِذَا ثُوِّبَ بِالصَّلَاةِ أَدْبَرَ حَتَّى إِذَا قُضِيَ التَّثْوِيْبُ أَقْبَلَ حَتَّى يَخْطُرَ

نو بيرته راسي بيا چي اقامت كول كيږي نو مخ پر شا تښتي او د اقامت ختمېدو وروسته بيا راسي چي د انسان په زړه كي وسوسه اچوي .

بَيْنَ الْمَرْءِ وَنَفْسِهِ يَقُوْلُ لَهُ اذْكُرْ كَذَا وَاذْكُرْ كَذَا لِمَا لَمْ يَكُنْ يَذْكُرُ حَتّٰى

او هغه ته هغه شيان ور يادوي چي په ياد يې نه وي

يَظَلَّ الرَّجُلُ لَا يَدْرِي كَمْ صَلّٰى. رواه البخاري

تر دې چي د سړي څخه هېر سي چي څو ركعاته لمونځ يې كړی وو. بخاري .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۸۴– ۸۵، رقم: ۶۰۸ و مسلم ۱\ ۲۹۱– ۲۹۲، رقم: ۱۹–۳۸۹.

تشريح : ځيني وايي چي د شيطان ګوزونه اچول حقيقتا وي ځكه چي هغه هم جسم لري ځكه داسي كيدل د تعجب خبره نه ده ځرنګه چي پر خره باندي بار زيات سي نو هغه هم د وزن د زياتوالي په وجه ګوزونه اچوي همداسي پر شيطان باندي هم دا آذان ډير درون وي او هغه ګوزونه اچوي .

ځيني حضرات وايي چي كله اذان پيل كيږي نو شيطان يو اواز وكاږي چي غوږ ډكوي او د هغه څخه دده مقصد داوي چي وانه وريدل سي د اواز د خرابۍ بيانولو لپاره دلته په ګوزونو اچولو سره تعبير كړل سوی دی .

د انسان او د هغه د زړه په مينځ كي د خطرو پيدا كيدو مطلب دادی چي شيطان د لمونځ كونكي او د هغه د زړه په مينځ كي وسوسې او خطرې حائل كوي او د هغه زړه د دنيا د خبرو طرف ته لګوي چي په لمانځه كي د زړه د حضور دولت ور په برخه نسي .

كه څوک دا پوښتنه وکړي چي د دې څه وجه ده چي شيطان د قران کريم د قرائت او د لمانځه څخه نه تښتي مګر د آذان څخه تښتي؟ ددې جواب دا کيدای سي چي الله تعالی د اذان په کلماتو کي داسي هيبت او عظمت ايښی دی چي شيطان په خوف او بيره کي اخته کوي.

﴿۶۰۵﴾: وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوسعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

لاَ يَسْمَعُ مَدٰى صَوْتِ الْمُؤَذِّنِ جِنٌّ وَّلاَ إِنْسٌ وَلاَ شَيْءٌ إِلاَّ شَهِدَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رواه البخاري.

پيريانان، انسانان او نور شيان چي د مؤذن آواز اوري نو د قيامت په ورځ به د دې شهادت کوي. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\۸۷-۸۸، رقم: ۶۰۹.

تشريح: مدٰی معنی انتهاء يعني آخر، د آواز انتها داده چي د هغه آواز په غوږو کي راځي او دا معلومه نسي چي اواز کونکی څه وايي دلته اګر که دا معنی کافي ده چي د مؤذن اواز تر کومه ځايه پوري رسيږي الخ- مګر مدی په معنی د انتهاء ذکر کولو سره دې ته اشاره مقصد وه چي د چا په غوږو کي د اذان صرف بنګ پريوځي هرکله چي هغوی د مؤذن د ايمان ګواهي ورکوي نو هغه خلک خو په طريقه اولی ګواه وي چي د مؤذن نژدې وي او اذان د نژدې څخه نه اوري. علماء ليکي چي په حقيقت کي ددې حديث څخه مؤذنانو ته ترغيب ورکول مقصد دي چي اذان په ډير لوړ اواز سره کوي چي د هغوی د ايمان ګواهي ورکونکي زيات سي.

﴿۶۰۶﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ

د حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَمِعْتُمُ الْمُؤَذِّنَ فَقُوْلُوا مِثْلَ مَا يَقُوْلُ ثُمَّ صَلُّوا عَلَيَّ فَإِنَّهُ

کله چي تاسو د آذان الفاظ واورئ نو کوم الفاظ چي هغه وايي تاسو هم هغه وايا ست بيا پر ما درود ووايا ست ځکه

مَنْ صَلَّى عَلَيَّ صَلاَةً صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ بِهَا عَشْرًا ثُمَّ سَلُوا اللَّهَ لِي الْوَسِيلَةَ فَإِنَّهَا

کوم څوک چي پر ما یو ځل درود وایي نو ددې په سبب به الله ﷻ پر هغه لس ځله رحمت نازلوي ، بیا دالله څخه زما لپاره وسیله وغواړئ

مَنْزِلَةٌ فِي الْجَنَّةِ لاَ تَنْبَغِي إِلاَّ لِعَبْدٍ مِنْ عِبَادِ اللَّهِ وَأَرْجُو أَنْ أَكُونَ أَنَا هُوَ فَمَنْ

چي په جنت کي یو ځای دی او دا ځای د الله ﷻ د بندګانو څخه د یوه بنده لپاره دی او زه امید لرم چي هغه سړی به زه یم نو کوم څوک چي

سَأَلَ لِي الْوَسِيلَةَ حَلَّتْ لَهُ الشَّفَاعَةُ . رواه مسلم

زما لپاره وسیله طلب کړي د هغه لپاره زما شفاعت حلال دی . مسلم .

تخریج : صحیح مسلم: ۱۱\۲۸۸ – ۲۸۹، رقم : ۱۱ – ۳۸۴.

تشریح : مطلب دادی چي کله مؤذن اذان وکړي نو تاسو هم د مؤذن سره د اذان کلمې دوهم وار وایاست البته کوم کلمات چي داسي دي چي دوهم واریې ویل نه دي پکار بلکه د هغو په جواب کي نور کلمات ویل پکار دي چي د هغه تفصیل به په راتلونکو حدیثونو کي راسي لکه د سهار په اذان کي چي مؤذن (الصلوة خیر من النوم) ووایي نو د هغه په جواب کي (صدقت وبررت وبالحق نطقت) یعني تا رښتیا وویل او د خیر کثیر مالک سوې او تا رښتیا خبره وکړه – ویل پکار دي . وسیله په اصل کي هغه شي ته وایي چي د هغه په ذریعه یو مطلوبه شی حاصل کړل سي او د هغه په وجه سره د مطلوبه شي قرب حاصل وي د جنت د یو خاص او اعلی درجې نوم وسیله ځکه دی چي کوم سړي په هغه کي داخل سي هغه ته د باري تعالی قرب حاصلیږي او د هغه د دیدار سعادت میسر کیږي او کوم فضیلت او بزرګي چي دغه درجو والا ته حاصلیږي هغه نورو درجو والا ته نسي تر لاسه کیدای .

د رسول الله ﷺ ارجوا یعني زه امید لرم فرمایل د عاجزۍ او انکسارۍ په توګه دي ځکه چي رسول الله ﷺ د ټول جهان څخه افضل او غوره دی دا درجه یقینا د رسول الله ﷺ لپاره ده بل څوک ددې درجې څه ډول وړ کیدای سي نو ددې لفظ تاویل به دا وي چي دا یقین نه بلکه کنایه ده چي دا درجه به ماته حاصلیږي .

﴿۶۰۷﴾: وَعَنْ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَالَ

د حضرت عمر رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : کله چي ووایي

الْمُؤَذِّنُ اللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ فَقَالَ أَحَدُكُمْ اللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ ثُمَّ قَالَ أَشْهَدُ

مؤذن الله اکبر الله اکبر نوتاسو هم داسي وایاست ، بیا کله چي مؤذن ووایي: اشهد

أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللّٰهُ قَالَ أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللّٰهُ ثُمَّ قَالَ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا

ان لااله الاالله نو تاسو هم داسي وایاست او بیا کله چي هغه ووایي اشهدان محمدا

رَسُولُ اللّٰهِ قَالَ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ ثُمَّ قَالَ حَيَّ عَلَى الصَّلاَةِ قَالَ

رسول الله نو تاسو يې هم داسي وایاست بیا چي هغه حی علي الصلوة وایي نو تاسو

لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللّٰهِ ثُمَّ قَالَ حَيَّ عَلَى الْفَلاَحِ قَالَ لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ

لاحول ولاقوة الا بالله وایاست بیا چي هغه حي علي الفلاح وایي نو تاسو لاحول ولاقوة

إِلاَّ بِاللّٰهِ ثُمَّ قَالَ اللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ قَالَ اللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ ثُمَّ قَالَ لاَ إِلَهَ

الا بالله وایاست بیا چي هغه الله اکبر الله اکبر وایي نو تاسو هم الله اکبر الله اکبر وایاست او بیا کله چي هغه لااله

إِلاَّ اللّٰهُ قَالَ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللّٰهُ مِنْ قَلْبِهِ دَخَلَ الْجَنَّةَ . رواه مسلم

الاالله ووایي نو تاسو هم د زړه په صداقت سره ووایاست لااله الاالله ، نو په جنت کي به داخل سئ . مسلم

تخریج: صحیح مسلم ۱\ ۲۸۸ - ۲۸۹، رقم: ۱۲ - ۳۸۵.

تشریح : دلته (الله اکبر) د مختصر والي لپاره دوه واره ذکر سوی دی چي د پوهیدونکي لپاره دوه واره ویل يې کافي دي ځکه شهادتین یعني اشهد ان لااله الا الله او اشهد ان محمد رسول الله هم یوازي یو وار ذکر سوي دي، لاحول ولا قوة الا بالله : معنی يې داده چي د بدیو څخه د ژغورني او د ښه کارونو کولو قوت د الله تعالی په لاس کي دی هرکله چي مؤذن حي علی

الصلوة او حي على الفلاح وو ايي هغه خلک د لمانځه لپاره بولي نو د هغه په جواب کي دا کلمه ويونکی ګویا دا ښکاره کوي چي دا یو لوی کار او زبردست فرض د اداکولو معامله ده، زه یو کمزور او عاجزه بنده يم زما د قوت او طاقت څه مجال چي د دې ذمه دار وي چي د اداء کولو وړ او لائق وي داخو یوازي د الله تعالی په مرسته او نصرت سره کیږي چي موږ دا امر عظیم پوره کوو او د لمانځه لپاره د راتلو طاقت او قوت د الله تعالی په مرسته سره کیږي نو الله تعالی زموږ مرسته کوي او موږ د لمانځه لپاره راځو .

امام نووي رحمة الله علیه فرمايي هر کله چي مؤذن اذان کوي نو د هغه ويل سوي کلمات همغسي دوهم واروېل يعني د هغه جواب ورکول مستحب دي البته حيعلتين يعني حي على الصلوة او حي على الفلاح په جواب کي لاحول ولا قوة الا بالله ويل پکار دي پر ځينو ځايو باندي ځيني حضرات د حي على الصلوة او حي على الفلاح په جواب کي ماشاء الله کن ولم يشاء لم يكن وايي دا غلط او د مسنون طريقې خلاف دی .

د اذان جواب هر اوريدونکي ته پکار دي که څه هم په اوداسه کي وي يا بې اودسه که جنوب وي يا حائض په دې شرط چي په جواب ورکولوکي يو شی مانع نه وي مثلا په بيت الخلاء کي يا جماع کوي يا لمونځ کوي يا بل يو مانع وي نو په هغه وخت کي دي جواب نه ورکوي مګر د هغه لپاره ضروري ده چي د هغه کارو څخه د فارغه کېدو ورسته د اذان د کلمو جواب ورکړي .

د زړه په صدق سره ويلو يا خو لاحول ولا قوة الا بالله سره دی چي دا کلمه د زړه په صدق سره وويل سي او په ښکاره توګه هم دا مفهوم کیږي چي د دې تعلق پوره د اذان سره دی .

په جنت کي خو به ټول مسلمانان داخليږي که څه هم هغوی د عذاب څخه پرته داخل سي يا د عذاب وروسته، دلته په جنت کي د داخليدو څخه مراد دادی چي داسي سړی چي د اذان جواب د زړه په صدق سره ورکوي يعني په ژبي سره خو دا کلمې اداء کوي او په زړه کي د دې کلمو پر صداقت پوره اعتقاد لري نو هغه به د خلاصون تر لاسه کونکو خلکو سره په جنت کي داخليږي .

﴿۶۰۸﴾ : وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَالَ حِيْنَ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي وو ايي هغه وخت

يَسْمَعُ النِّدَاءَ اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ وَالصَّلَاةِ الْقَائِمَةِ آتِ مُحَمَّدًا

چي آذان واوري (يعني د اذان وروسته دا دعاء وكړي) اللهم رب ..... الخ ژباړه: اې ددې پوره دعاء پرودرګاره او د قائم لمونځ پرودرګاره ته محمد ته وركړه

الْوَسِيْلَةَ وَالْفَضِيْلَةَ وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَّحْمُوْدَا الَّذِيْ وَعَدتَّهُ حَلَّتْ لَهُ شَفَاعَتِيْ

وسيله او بزرګي او مقام محمود ته يې ورسوه چي د هغه تا وعده كړې ده ، نو د هغه لپاره حلال سو زما شفاعت

يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رواه البخاري.

د قيامت په ورځ . بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\ ۹۴، رقم: ۶۱۴.

تشريح : دلته آذان په دعاء سره تعبير كړل سوى دى ددې وجه داده چي آذان خلک لمونځ او د الله ﷻ ذكر ته رابولي، لمانځه ته قائمه ځكه ويل سوي دي چي لمونځ هميشه تر قيامته پوري قايم او دائم وي په دې دعا كي والفضيلة څخه وروسته والدرجة الرفيعة الفاظ هم ويل كيداى سي مګر دا په يو روايت كي نه دي راغلي،مقام محمود د شفاعت تظمي مقام دى او دا به هغه مقام وي چيري چي رسول الله صلي الله عليه وسلم د قيامت په ورځ د ګناه كارانو د شفاعت كولو لپاره دريږي.

د حشر په ميدان كي به هري خواته د نفسي نفسي عالم وي د الله تعالى مخلوق به د حساب او كتاب په پريشانيو كي اخته وي او ټول خلک به هلته د سختيو په وجه حيران او سرګردان وي نو يو په بل پسي به ټول انبياء عليهم السلام ته د شفاعت لپاره ورسي خو هغوى ټول به د هيبت او دهشت په وجه د شفاعت جرائت ونه كړاى سي او وايي به چي رسول الله ﷺ ته ورسئ ځكه چي د هغوى مخكني او وروستني ټول ګناهونه معاف سوي دي هغوى د مخلوق خدا د شفاعت حقدار دى ټول خلک به د رسول الله ﷺ په خدمت كي د حاضريدو سره په ژبه د رسول الله ﷺ تعريف وي او حق تعالى به هم د رسول الله ﷺ تعريف كوي وګوره شان محمديت پوره پروه ظهور به وي او ټول مخلوق به د رسول الله ﷺ عظمت او غوره والي ته د فخر په نظر ګوري.

(وعدته) يعني د هغه چي دي ورسره وعده كړې ده، د دې څخه دې آيت شريف ته اشاره ده.

عَسَى أَن يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُودًا

ژباړه : اميد دى چي ستا پروردګار به تاسو ته په مقام محمود كي ځاى دركړي.

يعني الله تعالى به ډير ژر تا د شافع محشر جوړولو سره په مقام محمود كي ودروي او دا هغه عزت او كرامت د چي په انسانانو كي د رسول الله ﷺ څخه پرته د بل چا په برخه نه دى ځكه چي پر رسول الله ﷺ باندي زيات عبادت او د شپې بيداره كول فرض سوي دي.

دلا بسوزي تو كار ها بكند دعائي نيم شب دفع صد بلا بكند

د بيهقي په روايت كي په دغه دعاء كي د وعدته څخه وروسته انک لاتخلف الميعاد، يعني بيشكه ته وعده خلافي نه كوې، الفاظ هم مذكور دي ځيني خلک ددې څخه مخكي يا ارحم الراحمين هم وايي حال دا چي په حديث كي ددې يادونه نسته.

﴿۶۰۹﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُغِيرُ إِذَا طَلَعَ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ به (پر كفارو) هغه وخت حمله كول كله چي به ځلانده سو

الْفَجْرُ وَكَانَ يَسْتَمِعُ الْأَذَانَ فَإِنْ سَمِعَ أَذَانًا أَمْسَكَ وَإِلاَّ أَغَارَ فَسَمِعَ رَجُلاً يَقُولُ

سهار او د آذان اوريدو ته به يې غوږ ونيوى، د اذان انتظار به يې كوى كه آذان به يې واورېدى نو د حملې څخه به منعه سو كه به يې اذان وا نه وريدئ نو حمله به يې كول پر دښمن، يوه ورځ چي رسول الله ﷺ د حملې لپاره تلى نو وايې وريدل چي يو سړى وايي

اللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْفِطْرَةِ ثُمَّ

الله اكبر الله اكبر ، نو رسول الله ﷺ وفرمايل : دا سړى پر اسلام دى ، بيا

قَالَ أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

هغه سړي وويل اشهد ان لااله الاالله ، نو رسول الله ﷺ وفرمايل :

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجْتَ مِنَ النَّارِ فَنَظَرُوا إِلَيْهِ فَإِذَا هُوَ رَاعِي مِعْزًى. رواه مسلم

ته د دوږخ څخه ووتې، صحابه كرامو چي هغه سړي ته وكتل نو هغه يو شپون وو. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱\۲۸۸، رقم: ۹- ۳۸۲.

تشريح: د رسول الله ﷺ عادت مبارک داوو چي كله به يې پر دښمنانو د حملې كولو لپاره تشريف راوړ نو دا خيال به يې ساتى چي د سهار وخت سي نو ددې خبري به په ښه طريقه اندازه

ولګيږي چي پر کومي سيمي باندي حمله وکړل سي په هغه کي مسلمانان دي که کافران، څرنګه چي د حضرت انس رضي الله عنه د اشارې څخه معلوميږي چي رسول الله ﷺ به په سهار کيدو باندي د اذان انتظار کوی پر کومه سيمه چي به يې حمله کول که چيري د هغه څخه به د اذان اواز راغلی نو دا به يې ګڼل چي دلته مسلمانان دي نو رسول الله ﷺ به د حملې څخه منعه کيدی او که د آذان اواز به نه راغلی نو بيا به يې پر هغه سيمي باندي حمله کول د اذان انتظار رسول الله ﷺ ځکه کوی چي داسي نه وي په دې سيمه کي مسلمانان وي او په ناخبری کي هغوی د اسلامي لښکر تر بريد لاندي راسي.

ددې څخه دا معلومه سوه چي رسول الله ﷺ به د اذان کيدل او نه کيدل د ايمان او کفر نښه ګڼل له دې کبله په فقه کي راغي چي کوم خلک اذان پريږدي نو سره ددې چي اذان سنت دی داسي خلک به د قتال وړ وي ځکه چي اذان د اسلامي شعارو څخه دی.

﴿۶۱۰﴾: وَعَنْ سَعْدِ بْنِ اَبِيْ وَقَّاصٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

مَنْ قَالَ حِينَ يَسْمَعُ الْمُؤَذِّنَ أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ وَ أَنَّ

کوم سړی چي د مؤذن پر اشهدان لااله الاالله وحده لاشريک له او ان

مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ رَضِيتُ بِاللّٰهِ رَبًّا وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولاً وَبِالإِسْلاَمِ دِينًا

محمدا عبده ورسوله. باندي ووايي : رضيت باالله ربا و بمحمد رسولا و بالاسلام دينا

غُفِرَ لَهُ ذَنْبُهُ. رواه مسلم

نو د هغه ټول کوچني ګناهونه وبخښل سوه. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱۱/ ۲۹۰، رقم: ۱۳- ۳۸۶.

تشريح په دې کي اختيار دی چي دا کلمات يا خو هغه وخت وويل سي هر کله چي مؤذن اشهدان لااله الا الله ووايي يا د اذان ختميدو وروسته يې ووايي مګر مناسب داده چي اذان د ختميدو وروسته دا کلمې ووايي چي دا اذان د نورو کلمو جواب ترک نه سي او ښکاره خو داده چي مذکوره ثواب هغه وخت حاصليږي هر کله چي د اذان د کلمو په جواب ورکولو سره وروسته

دا كلمې وويل سي .

﴿۶۱۱﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ مُغَفَّلٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن مغفل رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

بَيْنَ كُلِّ أَذَانَيْنِ صَلاَةٌ قَالَهَا ثَلاَثًا قَالَ فِي الثَّالِثَةِ لِمَنْ شَاءَ. متفق عليه

د دواړو (يعني آذان او اقامت) په منځ كي لمونځ د ی، رسول الله ﷺ دا جملې درې ځله وفرمايلې او په دريم ځل يې وفرمايل د هغه چا لپاره چي كول غواړي . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۱۱۰، رقم: ۶۲۷ ومسلم: ۱\۵۷۳، رقم: ۳۰۴-۸۳۸.

تشريح : د دوو اذانونو څخه مراد اذان او اقامت دی يعني د اذان او اقامت په مينځ كي لمونځ كول د فلاح او سعادت خبره ده رسول الله ﷺ د اذان او اقامت په مينځ كي د نفل كولو د شوق لپاره دا جمله مكرر وفرمايل ځكه چي د اذان او اقامت په مينځ كي وخت ډير زيات بابركت او د فضيلت حامل وي ځكه داوخت په لمانځه كولو سره چي كومه دعا غوښتل كيږي هغه د الله تعالى د دربار څخه نه رد كيږي بلكه د قبوليت درجه تر لاسه كوي او بيا دا چي په بابركت او بافضيلت وخت كي د عبادت ثواب هم ډير زيات وي حاصل دا چي د اذان او اقامت په مينځ كي لمونځ كول سنت دی مگر رسول الله ﷺ لمن شاء فرمايلو سره دې ته اشاره هم كړې ده چي د اول وخت لمونځ كول واجب نه دي بلكه مستحب دي دا امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه په نزد په مابنام كي د اذان او اقامت په منځ كي نفل كول مكروه دي ځكه حضرت بريده اسلمي رضي الله عنه راوي دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل چي د مابنام څخه پرته په نورو وختونو كي د اذان او اقامت په منځ كي دوه ركعته لمونځ دی .

اَلْفَصْلُ الثاني (دوهم فصل)

﴿۶۱۲﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلإِمَامُ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : امام

ضَامِنٌ وَالْمُؤَذِّنُ مُؤْتَمَنٌ اَللّٰهُمَّ أَرْشِدِ الأَئِمَّةَ وَاغْفِرْ لِلْمُؤَذِّنِيْنَ . رواه أحمد

وأبو داود والترمذي والشافعي وفي أخرى له بلفظ المصابيح.

ضامن دی او آذان کونکی امانت دار دی ، اې الله ! امامانو ته هدايت وکړې او آذان کونکی و بخښې. احمد، ابوداؤد، ترمذي او شافعي

تخريج: الامام احمد في مسنده ۲\ ۴۶۱، ۴۷۲، وابوداؤد ۱\ ۳۵۶، رقم: ۵۱۷، ۵۱۸، والترمذي ۱\ ۴۰۲، رقم: ۲۰۷ والشافعي في الام ۱\ ۸۷.

تشريح: د ضامن مطلب دادی چي امام د نورو د لمنځونو ذمه دار وي په دې توګه چي هغه د مقتديانو د لمانځه د امورو مثلا د قرائت او که مقتدی په رکوع کي د امام سره يو ځای سي نو د قيام و غيره متکفل کيږي همداسي هغه د ټولو لمنځونو د افعالو او ارکانو او د رکنونو په شمير کي نظر لري، د مؤذنانو د امانت دار کيدو مطلب دادی چي خلک په لمونځ کولو ، روژې نيولو او د روژه مات کولو په اړه د هغوی په آوازونو (آذان) باندي اعتماد او باور کوي .

﴿۶۱۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَذَّنَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي آذان وکړي

سَبْعَ سِنِيْنَ مُحْتَسِبًا كُتِبَ لَهُ بَرَاءَةٌ مِّنَ النَّارِ . رواه الترمذي وأبو داود وابن ماجه.

يوازي د ثواب په نيت اووه کاله نو د هغه لپاره د دوږخ څخه خلاصون ليکل کيږي. ترمذي، ابوداؤد او ابن ماجه.

تخريج: سنن الترمذي ۱\ ۴۰۰، رقم: ۲۰۶. وابن ماجه ۱\ ۲۴۰، رقم: ۷۲۷ ولم نجده عند ابي داؤد.

﴿۶۱۴﴾: وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عقبة بن عامر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

يَعْجَبُ رَبُّكَ مِنْ رَّاعِي غَنَمٍ فِيْ رَأْسِ شَظِيَّةٍ لِّلْجَبَلِ يُؤَذِّنُ بِالصَّلَاةِ وَيُصَلِّيْ

ستا رب د پسو څروونکو څخه چي د غره په لمن کي پسونه پيايي راضي کيږي کله چي هغه د

لمانځه لپاره آذان کوي او لمونځ کوي،

فَيَقُولُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ انْظُرُوْا إِلٰى عَبْدِيْ هٰذَا يُؤَذِّنُ وَيُقِيْمُ الصَّلَاةَ يَخَافُ

الله تعالی ملائکو ته فرمايي زما دې بنده ته وګورئ! هغه آذان کوي او لمونځ کوي او بيريږي

مِنِّيْ قَدْ غَفَرْتُ لِعَبْدِيْ وَأَدْخَلْتُهُ الْجَنَّةَ. رواه أبو داود والنسائي.

زما څخه ما دا خپل بنده و بخښی او زه به دی په جنت کې داخل کړم. ابوداؤد او نسائي

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\۹، رقم: ۱۲۰۳، والنسائي ۲\۲۰، رقم: ٦٦٥.

تشريح: يعني هغه شپانه چې د خلکو څخه په کونج نشيني اختيارولو سره او د دنيوي تعلقاتو څخه لاس پر سر کېدو سره د غره پر څوکه هستوګن سي، کله چې د لمانځه وخت راسي نو اذان کولو سره الله او دهغه د رسول نوم په لوړي کوي او په پابندي سره لمونځ اداء کولو سره د خپل پروردګار رضا تر لاسه کوي.

ابن ملک رحمة الله عليه فرمايي چې د هغه د اذان کولو فائده داده چې د اذان په ذريعه ملائکي او جنات د لمانځه د وخت څخه خبروي او دا چې هغه اذان په مخلوقاتو کي کوم شی هم اوري د قيامت په ورځ به د هغه د ايمان شاهدي ورکوي او د سنت پيروي کيږي او د جماعت په اړه د مسلمانانو سره مشابهت کيږي.

د اذان څخه اعلان يعني اذان او اقامت دواړه مراد دي ځيني حضرات وايي چې داسي سړي چې اذان او اقامت کوي نو ملائکي د هغه سره په لمانځه کي دريږي چې د هغه په وجه هغه ته د جماعت ثواب حاصليږي. والله اعلم.

زما څخه بيريږي: ددې مطلب دادی چې د دغه بنده د عبادت مقصد ځان ښودنه او ريا نه ده بلکه هغه زما د عذاب څخه بيريږي ځکه اذان هم کوي او لمونځ هم کوي ددې څخه دا معلومه سوه چې يوه سړي ته اذان او اقامت دواړه کول مستحب دي.

﴿٦١٥﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةٌ عَلٰى

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: دري کسان به

كُثْبَانِ الْمِسْكِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَبْدٌ أَدّٰى حَقَّ اللّٰهِ وَحَقَّ مَوْلَاهُ وَرَجُلٌ أَمَّ قَوْمًا

د مشکو پر غونډۍ وي د قیامت په ورځ ۱: هغه غلام چي هغه د اللهﷻ حق ادا کړی او بیا د خپل مالک حق هم ادا کړي ۲: هغه کس چي هغه د قوم امامت وکړی

وَهُمْ بِهِ رَاضُوْنَ وَرَجُلٌ يُّنَادِيْ بِالصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ كُلَّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ.

رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

او هغه قوم دده څخه خوښ وي.، ۳: او هغه کس چي په ورځ او شپه کي د پنځو لمنځو آذان کوي. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی

تخريج: سنن الترمذي ۴\۳۱۲، رقم: ۱۹۸۶.

تشريح: د (عبد) څخه مراد مملوک دی که هغه غلام وي يا مينزه، د امام څخه د خلکو د خوشحاله کيدو مطلب دادی چي مقتدي د خپل امام څخه ددې وجي څخه مطمئن او راضي وي چي هغه د لمانځه احکام او ارکان او د سنن او آداب پوره پوره رعايت کوي مګر د دومره خبري خيال ساتل پکار دي چي په دې اړه اعتبار د اکثرو خلکو دی چي صاحب علم او فراست دي.

په هر حال د قيامت په ورځ به دغه درو سره کسانو ته د مشک غونډۍ ځکه حاصله وي چي دغه خلکو په دنيا کي د نفساني خواهشاتو لذتونه پر اطاعت الهي او فرمانبرداري رسول الله ﷺ پر سختيو باندي قربان کړي وه ځکه پروردګار عالم به د هغه په صله کي هغوی ته د خوشبويي په صورت کي عظيم انعام ورکړي چي نورو خلکو ته د هغوی عظمت او بزرګي ښکاره سي.

﴿۶۱۶﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْمُؤَذِّنُ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د آذان کونکي ته

يُغْفَرُ لَهُ مَدَ صَوْتِهِ وَيَشْهَدُ لَهُ كُلُّ رَطْبٍ وَّيَابِسٍ وَّشَاهِدُ الصَّلَاةِ يُكْتَبُ لَهُ

بخښنه کيږي د هغه د آواز د لوړوالی په اندازه او د هغه لپاره وچ او لانده ددې شاهدي ورکوي، لمانځه ته د حاضرېدونکي لپاره

خَمْسٌ وَّعِشْرُوْنَ صَلٰوةً وَّيُكَفِّرُ عَنْهُ مَا بَيْنَهُمَا. رواه أحمد وأبو داود وابن ماجه وروى النسائي إلى قوله كل رطب ويابس. وقال وله مثل أجر من صلى

د پنځه ويشت لمنځو ثواب ليکل کيږي د هغه هغه ګناه چي د دوو لمنځو په منځ کي وي ليري کيږي . احمد ، ابوداؤد ، ابن ماجه او نسائي

تخريج: الامام احمد في مسنده ۲\ ۴۱۱، ۴۲۹، ۴۶۱، وابوداؤد ۱\ ۳۵۳، ۳۵۵، رقم: ۵۱۵، وابن ماجه: ۱\ ۲۴۰، رقم: ۷۲۴، والنسائي: ۲\ ۱۳، رقم: ۶۴۴.

تشريح : د آواز د لوړتيا سره سم د بخښنې مطلب دادی چي مؤذن د اذان کولو په وخت کي چي په څومره لوړ آواز آذان کوي په هغه اندازه به د هغه بخښنه کيږي او که هغه اواز انتهايي درجې ته رسوي يعني د هغه چي څومره طاقت وي هغومره اواز لوړ کړي نو مغفرت به يې هم پوره کيږي ځينو ددې مفهوم داسي بيان کړی دی چي که چيري د ګناه جسم فرض کړل سي او هغه دومره وي چي د مؤذن اذان تر کومه ځايه پوري رسيږي تر هغه پوري ځای سي نو د هغه ټول ګناهونه معاف کيږي ، رطب ددې څخه مراد هغه مخلوق دی چي په هغه کي نمو کيږي لکه انسان او نباتات وغيره او يا وچ نباتات يعني ډبري ، خاوره وغيره مراد دي .

علامه طيبي رحمة الله عليه فرمايي چي لفظ د (وشاهد الصلوة) پر لفظ د المؤذن باندي عطف کړل سوی دی په دې ډول د پوره جملې مطلب به داوي چي مغفرت کيږي د مؤذن او د هغه خلکو چي په جماعت کي حاضريږي .

خو علامه قاري رحمة الله عليه فرمايي زما په نزد صحيح داده چي د دې عطف پر کل رطب باندي دی او دې ته عطف خاص علی العام ويل کيږي د يکتب له او د عنه ضمير يا خو شاهد ته راجع دی يا مؤذن ته به راجع وي، د حديث د آخري جملې مطلب دادی چي مؤذن ته به د لمونځ کونکي په ډول ثواب تر لاسه کيږي. ځکه چي دی هغوی زموږ خوا ته رابولي او په حديث کي دي چي کوم سړي د نيکي خبري باعث کيږي هغه ته به د هغه نيکي کونکي په ډول ثواب حاصليږي .

﴿۶۱۷﴾: وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ اِجْعَلْنِيْ إِمَامَ

د حضرت عثمان بن ابي العاص رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما رسول الله ﷺ ته وويل: اې د الله رسوله ! ما وټاکه امام

قَوْمِيْ فَقَالَ أَنْتَ إِمَامُهُمْ وَاقْتَدِ بِأَضْعَفِهِمْ وَاتَّخِذْ مُؤَذِّنًا لاَ يَأْخُذُ عَلَى أَذَانِهِ أَجْرًا . رواه أحمد وأبو داود والنسائي .

زما د قوم لپاره ، رسول الله ﷺ وفرمايل : ما ته امام و ټاکلې ته په هغوی کې د کمزوري او ضعيف زيات خيال ساته او ته داسې مؤذن وټاکه چې د آذان کولو مزدوري نه غواړي . احمد، ابوداؤد او نسائي

تخريج: الامام احمد في مسنده ۴\۲۱۷، وابوداؤد ۱\۳۶۳، رقم: ۵۳۱ والنسائي ۲\۲۳، رقم: ۶۷۱.

تشريح : د ضعيفانو د اقتداء کولو مطلب دادی چې په امامت کې د ضعيف او کمزور خلکو رعايت وکړل سي يعني قرائت دومره اوږد نه کړي او د لمانځه ارکان داسې ادا نه کړل سي چې هغه خلک تنګ او پريشان کړي او په جماعت سره لمونځ کول پريږدي .

ددې حديث څخه دا معلومه سوه چې د امام او مؤذن لپاره د لمانځه ورکولو او اذان کولو مزدوري حلاله نه ده مګر علماؤ دا ليکلي دي که چيري امام او مؤذن د خپل لوري مزدوري ونه ټاکي بلکه خلک په خپله د هغوی د اړتيا سره سم روپې ورليږي نو دا به جائز او حلال وي نو خلکو ته پکار ده چې د امام او مؤذن خبر اخيستنه وکړي او هغوی ته په خپله ډوډي او مال ور واستوي چې په هغه سره د هغه ضروريات پوره سي .

په فتاوی قاضي خان کې ليکلي دي چې کوم مؤذن چې د لمانځه د وختونو وغيره په اړه علم نه لري هغه ته د اذان کولو ثواب نه حاصليږي ځکه نو کوم مؤذن چې مزدوري اخلي هغه ته بطريق اولی ثواب نه حاصليږي .

﴿۶۱۸﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ عَلَّمَنِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ

د حضرت ام سلمة رضي الله عنها څخه روايت دی چې ما ته رسول الله ﷺ وښودل چې

أَقُوْلَ عِنْدَ أَذَانِ الْمَغْرِبِ اَللّٰهُمَّ هٰذَا إِقْبَالُ لَيْلِكَ وَإِدْبَارُ نَهَارِكَ وَأَصْوَاتُ

زه د ماښام د آذان وروسته دا دعاء وکړم: (اې الله ! دا وخت ستا د شپې د راتللو او ستا د ورځې د تللو او د آوازونو

دُعَاتِكَ فَاغْفِرْ لِيْ . رواه أبو داود والبيهقي في الدعوات الكبير .

ستا د بلونکي دی نو ما و بخښې .ابوداؤد او بيهقي په دعوات کبير کې.

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\۳۶۲، رقم: ۵۳۰.

تشريح : په ښکاره دا معلوميږي چې دا دعا خو د اذان کولو په دوران کې وويل سي يا د جواب د فارغه کېدو ورسته وکړل سي دا حديث پر دې خبره دلالت کوي چې د اذان وخت د الله

تعالی په دربار کې د دعاء د قبولیت وخت وي ځکه داسې وخت د خپلو ګناهونو معافي او د خیر او نیکۍ پر لار د تلو توفیق غوښتل او زیاتې دعاوې غوښتل پکار دي چې د قبولیت مرتبې ته ورسیږي.

﴿۶۱۹﴾: وَعَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ أَوْ بَعْضِ أَصْحَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوامامه رضی الله عنه او یا ځینې اصحابو څخه روایت دی چې

قَالَ إِنَّ بِلَالًا أَخَذَ فِي الْإِقَامَةِ فَلَمَّا أَنْ قَالَ قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ

هغه وویل: بلال رضی الله عنه اقامت ویل پیل کړل کوم وخت چې هغه قد قامت الصلوة وویل نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقَامَهَا اللّٰهُ وَأَدَامَهَا وَقَالَ فِيْ سَائِرِ الْإِقَامَةِ كَنَحْوِ حَدِيْثِ عُمَرَ فِي الْأَذَانِ. رواه أبو داود.

اقامها الله و ادامها، (الله دې لمونځ قائم او همیشه ولري) او په نورو اقامت کې یې هغه وفرمایل چې د هغه ذکر د عمر د آذان په حدیث کې تیر سوی دی. ابوداؤد

تخریج: سنن ابي داؤد ۱\۳۶۱– ۳۶۲، رقم: ۵۲۸.

تشریح: مطلب دادی چې ددې باب په دریم نمبر حدیث کې د اذان کلمې او د هغه د جواب چې څرنګه ذکر سوی دی همداسې د اقامت پر وخت مؤذن چې کومې کلمې ویلې رسول الله صلی الله علیه وسلم هم هغسې کلمې دوهم وار ویلې، البته د حي علی الصلوة او حي علی الفلاح په جواب کې یې لاحول ولا قوة الا بالله ویل او د قد قامت الصلوة په جواب کې به یې اقامها الله و ادامها ویل.

﴿۶۲۰﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُرَدُّ الدُّعَاءُ

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دعاء نه رد کیږي

بَيْنَ الْأَذَانِ وَالْإِقَامَةِ. رواه أبو داود والترمذي.

د اذان او اقامت په منځ کې. ابوداؤد او ترمذي.

تخریج: سنن ابي داؤد ۱\۳۵۸، ۳۵۹، رقم: ۵۲۱ والترمذي ۱\۴۱۶، رقم: ۲۱۲.

م ـ ۲

تشريح : هسي خو پروردګار عالم د خپل رحمت او شفقت له مخي هر وخت د خپلو بندګانو دعا قبلوي او د هغوی د امید لمن د خپل فضل، کرم او ملغلرو څخه ډکوي خو ددې ارشاد په ذريعه مسلمانان په دې پوه کول کیږي چي د اذان او اقامت په مینځ کي وخت دومره بابرکت او با سعادت وي چي هغه وخت بنده د پروردګار عالم په مخکي د کوم حاجت لپاره لمن غوړوي هغه ضرور قبلیږي نو مسلمانانو ته دا پکار ده چي هغوی دغه وخت خپل ديني او دنياوي فلاح وسعادت او کامیابي او کامراني لپاره ضروري دعاوي کوي.

په دې اړه يو بل روایت هم منقول دی چي دعا که د اذان وروسته متصلا وغوښتل سي یا څه وخت وروسته په هر صورت کي قبليږي خو صحيح او اولی دادی چي د اذان څخه سمدستي وروسته دعاء غوښتل پکار ده.

﴿۶۲۱﴾: وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل :

ثِنْتَانِ لاَ تُرَدَّانِ أَوْ قَلَّمَا تُرَدَّانِ الدُّعَاءُ عِنْدَ النِّدَاءِ وَعِنْدَ الْبَأْسِ حِيْنَ

دوې دعاوي نه رد کيږي یا ډير کم رد کيږي یو خو د آذان په وخت کي دعاء او دوهم د جهاد په وخت کي دعاء کله چي

يُلْحِمُ بَعْضُهُمْ بَعْضًا وَفِيْ رِوَايَةٍ وَتَحْتَ الْمَطَرِ . رواه أبو داود والدارمي إلا أنه لم يذكر وتحت المطر .

سخت جنګ وي او په يوه روایت کي دا الفاظ دي (يعني د جهاد پر ځای) په باران کي دعاء کول. ابوداؤد او دارمي

تخريج : سنن ابي داؤد ۳\۴۵، رقم: ۲۵۴۰، والدارمي ۱\۲۹۳، رقم: ۱۲۰۰.

﴿۶۲۲﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَجُلٌ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّ الْمُؤَذِّنِيْنَ

د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روایت دی چي یو سړي رسول الله ﷺ ته وویل: اې دالله رسوله آذان کونکی

يَفْضُلُوْنَنَا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْ كَمَا يَقُوْلُوْنَ فَإِذَا

پر موږ فضيلت لري ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : څنګه چې آذان کوونکی وايي همداسي ته هم وايه او کوم وخت چې

اِنْتَهَيْتَ فَسَلْ تُعْطَ . رواه أبو داود .

ته د آذان څخه فارغ سې نو د الله ﷻ څخه سوال وکړه درکول به سي . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\۳۶۰، رقم: ۵۲۴.

تشريح: د صحابي ﷺ مطلب داوو چې کوم خلک اذان کوي هغوی خو د اذان کولو د سعادت او برکت په وجه ز موږ په نسبت د زيات ثواب حقدار دي ځکه موږ ته هم يو طريقه وښياست چې پر هغه د عمل کولو سره موږ هم په ثواب کي د هغوی برابر سو د دې په جواب کي رسول الله ﷺ هغوی ته دا طريقه وښودل چې هر کله مؤذن د اذان کلمې وايي نو تاسو هم د هغه سره هغه کلمې واياست پرته د حي علی الصلوة او حي علی الفلاح څخه چې د هغه په جواب کي لاحول ولا قوة الا بالله ويل پکار دي همداسي تا سو ته به هم د هغوی د اصل ثواب په څېر ثواب تر لاسه کيږي.

ددې وروسته رسول الله ﷺ يو دوهم شی د اذان د جواب څخه د فراغت وروسته په دعا غوښتلو سره دې ته اشاره وکړل که د اذان جواب ورکولو وروسته دعا وغوښتل سي نو په فضيلت او بزرګي کي به يې نور هم زياتوب سي .

ددې حديث څخه معلومه سوه که چيري يو سړی د اذان په وخت کي په مسجد کي موجود وي نو هغه ته هم دا پکار ده چې د اذان د کلمو جواب ورکړي کوم خلک چې دا وايي چې د اذان په وخت کي په مسجد کي موجود سړی دي د اذان جواب نه ورکوي ځکه چې دا وخت چې اجابت فعلي حاصل دی نو د اجابت قولي څه ضرورت دی نو دا خبره زړه ته ښه نه معلوميږي .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

﴿۶۲۳﴾: عَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّ

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چې ما د رسول الله ﷺ څخه واوريدل چې فرمايل يې :

الشَّيْطَانَ إِذَا سَمِعَ النِّدَاءَ بِالصَّلَاةِ ذَهَبَ حَتّٰى يَكُوْنَ مَكَانَ الرَّوْحَاءِ، قَالَ

شیطان چي د آذان آواز واوري نو تښتي تر دې چي د روحا ځای ته ورسیږي ، ویلي دي

الرَّاوِيُ وَالرَّوْحَاءُ مِنَ الْمَدِيْنَةِ عَلٰى سِتَّةٍ وَثَلٰثِيْنَ مِيْلاً . رواه مسلم .

راوي چي روحا د مديني څخه شپږ دیرش میله لیري دی . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۱/ ۲۹۰، رقم: ۱۵- ۳۸۸.

تشريح : د شيطان څخه مراد جنس شيطان دی یعني په اذان اوریدو سره یا خو ټول شیطانان تښتي یا د هغوی مشر وتښتي او صحيح دادی، او کوم چي د حدیث د آخري برخي مطلب دی چي په اذان اوریدو سره شیطان د لمونځ کونکي څخه دومره لیري سي څومره لیري چي د مديني څخه روحا دی، د راوي څخه د ابو سفيان نافع ابن طلحه ذات مراد دی چي هغه دا حدیث د حضرت جابر رضي الله عنه څخه نقل کړی دی .

﴿۶۲۴﴾: وَعَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَقَّاصٍ قَالَ إِنِّيْ لَعِنْدَ مُعَاوِيَةَ إِذْ أَذَّنَ مُؤَذِّنُهُ فَقَالَ

د حضرت علقمة بن وقاص رضي الله عنه څخه روایت دی چي زه د حضرت معاویه رضي الله عنه سره ناست وم چي د هغه مؤذن آذان وکړ

مُعَاوِيَةُ كَمَا قَالَ مُؤَذِّنُهُ حَتّٰى إِذَا قَالَ حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ قَالَ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا

حضرت معاویه هم هغه الفاظ ویل کوم چي مؤذن ویل، تر دې چي مؤذن حي علي الصلوة وویل نو حضرت معاویة لاحول ولاقوة الا

بِاللّٰهِ فَلَمَّا قَالَ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ قَالَ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ

باالله وویل او کله چي مؤذن حی علی الفلاح وویل نو حضرت معاویه لاحول ولاقوة الا باالله العلي العظيم وويل ،

وَقَالَ بَعْدَ ذٰلِكَ مَا قَالَ الْمُؤَذِّنُ ثُمَّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ذٰلِكَ . رواه أحمد .

بيا وروسته حضرت معاوية هغه جملې وويل كوم چې مؤذن ويلې ، حضرت معاوية ﷺ وويل ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چې هغوى به داسې فرمايل . احمد .

تخريج: الامام احمد في مسنده ۴\۹۱- ۹۲.

تشريح : علامه طيبي رحمة الله عليه فرمايي چې د حي على الصلوة په جواب كې لاحول ولا قوة الا با الله څخه وروسته د العلي العظيم اضافه په رواياتو كې نادره ده .

﴿۶۲۵﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَامَ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دى چې موږ د رسول الله ﷺ سره ملګري وو نو ودريدى

بِلَالٌ يُنَادِيْ فَلَمَّا سَكَتَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَالَ مِثْلَ

بلال ﷺ او آذان يې كاوه كوم وخت چې بلال ﷺ پټه خوله سو نو رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چې

هٰذَا يَقِيْنًا دَخَلَ الْجَنَّةَ . رواه النسائي .

په يقين سره داسې (د اذان په جواب كې) ووايي نو هغه به په جنت كې داخل سي .نسائي.

تخريج: سنن النسائي ۲\۲۴، رقم: ۶۷۳.

تشريح : مطلب دادى چې كوم سړى د يقين او اعتماد په پوره قوت او د زړه په پوره خلوص سره دغه كلمات يا په اذان كې ووايي يا د اذان په جواب كې يې ووايي يا يې مطلقا ووايي نو هغه به جنت ته د داخلېدو حقدار سي يا به د خلاصون تر لاسه كوونكو سره يو ځاى جنت ته داخل سي .

﴿۶۲۶﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَمِعَ الْمُؤَذِّنَ

د حضرت عائشې ﷺ څخه روايت دى چې كله به رسول الله ﷺ د مؤذن شهادتونه واوريدل

يَتَشَهَّدُ قَالَ وَأَنَا وَأَنَا . رواه أبو داود .

نو فرمايل به يې او زه هم شهادت وركوم او زه هم شهادت وركوم . ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\۳۶۰، ۳۶۱، رقم: ۵۲۶.

تشريح : يعني كله چي مؤذن په اذان كي اشهد ان لا اله الا الله او اشهد ان محمد رسول الله ويل نو رسول الله ﷺ به د شهادتين په جواب كي دوه واره فرمايل وانا وانا اوزه هم اوزه هم، يعني څرنګه چي ته د الله د وحدانيت او د رسول الله ﷺ د رسالت شاهدي وركوې همداسي زه هم د وحدانيت الهي او رسالت رسول شاهدي وركوم.

ددې څخه دا معلومه سوه چي د ټولو امتونو په ډول خپله رسول الله ﷺ هم د خپل رسالت د شاهدۍ وركولو مكلف وو اوس په دې كي اختلاف دى چي ايا رسول الله ﷺ د امت د نورو كسانو په ډول اشهد ان محمد رسول الله (زه شاهدي وركوم چي محمد ﷺ د الله تعالى رسول دى، په ويلو سره شاهدي وركول او كه اشهداني رسول الله (زه شاهدي وركوم چي زه د الله تعالى رسول يم) په ويلو شاهدي وركول؟

علماء ليكي چي صحيح قول دادى چي رسول الله ﷺ د امت د نورو افرادو په ډول د خپل رسالت شاهدي وركول لكه څرنګه چي اوس په تير سوي حديث كي د معاويه رضي الله عنه په باره كي تير سوي دي چي هغوى د اذان په جواب كي اشهد ان محمدا رسول الله وويل او بيا يې وفرمايل ما د رسول الله ﷺ څخه همداسي فرمايل اوريدلي دي يعني رسول الله ﷺ به هم د اذان په جواب كي اشهد ان محمد رسول الله ويل.

همداسي د بي بي عائشې صديقې رضي الله عنها په دې روايت كي او د معاويه رضي الله عنه په روايت كي ټكر پيدا كيږي ځكه ويل سوي دي چي رسول الله ﷺ به كله داسي فرمايل څرنګه چي حضرت معاويه رضي الله عنه بيان كړى دى او كله به يې داسي فرمايل لكه څرنګه چي بي بي عائشې رضي الله عنها دلته ښودلي دي.

﴿۶۲۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَذَّنَ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي آذان وكړي

ثِنْتَيْ عَشَرَةَ سَنَةً وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ وَكُتِبَ لَهُ بِتَأْذِيْنِهِ فِيْ كُلِّ يَوْمٍ سِتُّوْنَ

دوولس كاله د هغه لپاره جنت واجب سي او د هغه د آذان په بدله كي هره ورځ شپيته

حَسَنَةً وَلِكُلِّ إِقَامَةٍ ثَلَاثُوْنَ حَسَنَةً. رواه ابن ماجه.

نيكۍ او د اقامت په بدله كي ديرش نيكۍ ليكل كيږي. ابن ماجه

تخريج: سنن ابن ماجه ۱\ ۲۴۱، رقم: ۷۲۸.

تشريح: د اذان په نسبت د اقامت ثواب نيم ځکه دی چي اقامت په خاصه توګه سره د هغه خلکو د خبرکولو لپاره وي چي په مسجد کي حاضر وي او د اذان په ذريعه په عامه توګه سره حاضرين او غائبين ټول خبرول کيږي يا دا وجه به يې وي چي په اذان کي به زيات محنت زغمل وي او په اقامت کي د هغه په نسبت کم محنت وي.

﴿۶۲۸﴾: وَعَنْهُ قَالَ كُنَّا نُؤمَرُ بِالدُّعَاءِ عِنْدَ أَذَانِ الْمَغْرِبِ. رواه البيهقي في دعوات الكبير.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي موږ ته د ماښام د آذان کولو په وخت کي د دعاء حکم راکړل سو ی دی بيهقي

تخريج: البيهقي في الدعوات الكبير.

تشريح: غالبا دلته هم هغه مراد دی چي د هغه تذکره د بي بي ام سلمه رضي الله عنها په حديث نمبر ۵ کي راغلې ده يعني اللهم هذا اقبال ليلک و ادبار نهارک ......الخ.

===========

بَابُ فِيْ بَيَانِ بَعْضِ اَحْكَامِ الاَذَانِ

د آذان د ځينو احکامو بيان

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

﴿۶۲۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ بِلالاً

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : بيشکه بلال

يُؤَذِّنُ بِلَيْلٍ فَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتّٰى يُنَادِيَ ابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ قَالَ وَكَانَ ام مكتوم

د شپې آذان کوي نو تاسو خورئ او څښئ (په روژه کي پيشلمی کوئ) تر دې چي ابن مکتوم آذان وکړي د ابن عمر رضي الله عنه بيان دی چي ابن مکتوم

رَجُلاً أَعْمٰى لاَ يُنَادِيْ حَتّٰى يُقَالَ لَهُ أَصْبَحْتَ أَصْبَحْتَ . متفق عليه

ړوند سړی وو او هغه به هغه وخت آذان کاوه چي کله به ورته وویل سول چي سهار سو سهار سو.
بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲ ۹۹، رقم: ۶۱۷ وفي ۲ ۱۰۱، رقم: ۶۲۰ ومسلم ۲\ ۷۶۸، رقم: ۳۸-۱۰۹۲.

تشريح: ددې حديث څخه دا معلومه سوه چي د رسول الله ﷺ دوه مؤذنان وه يو مؤذن به د سهار د لمانځه د وخت څخه مخکي په شپه کي اذان کویاو دوهم به د سهار د لمانځه د وخت پيل کيدو وروسته اذان کوی د شافعي حضراتو په نزد دوه مؤذنان تاکل سنت دي يو د سهار د لمانځه تر مخه په اخيره نيمه شپه کي اذان کولو لپاره او دوهم د فجر په اول وخت کي د اذان کولو لپاره . حنفيه حضرات فرمايي چي اول مؤذن د سهار لپاره يا د تهجد لپاره وو ددې تعلق د سهار د لمانځه د اذان سره نه وو ځکه چي په يوه روايت کي خپله رسول الله ﷺ د سهار د وخت څخه مخکي د اذان کولو څخه منعه فرمايلې ده ځکه چي د حنفيه په نزد د سهار د لمانځه لپاره د وخت څخه مخکي په شپه کي اذان کول جائز دي .

د حديث په آخري جمله اصبحت يعني تا سهار کړ تا سهار کړ، په دې کـي دا اشکال پيدا کيږي چي کله ابن ام مکتوم ﷺ د صبا کيدو ورسته اذان کوی نو تر هغه وخته پوري پيشلمی کول څرنګه جائز سو .

ددې جواب دادی چي د اصبحت معنی د سهار کيدونکي ده د مبالغې په توګه په اصبحت سره تعبير کړل سوی ده .

﴿۶۳۰﴾: وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت سمرة بن جندب ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

لاَ يَمْنَعَنَّكُمْ مِنْ سُحُوْرِكُمْ أَذَانُ بِلاَلٍ وَلاَ الْفَجْرُ الْمُسْتَطِيْلُ وَلٰكِنَّ الْفَجْرَ الْمُسْتَطِيْرَ فِي الْأُفُقِ . رواه مسلم ولفظه للترمذي .

د بلال آذان دي تاسو د پيشلمي څخه منعه نه کړي او نه صبح کاذب البته کله چي صبح صادق (خپور) څرګند سي نو (پيشلمي کول پريږدئ) مسلم او ترمذي

تخريج: صحيح مسلم ۱۲\۷۷۰، رقم: ۴۳- ۱۰۹۴، والترمذي ۳\۸٦۱، رقم: ۷۰٦.

﴿٦۳۱﴾: وَعَنْ مَالِكِ بْنِ الْحُوَيْرِثِ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا وَابْنُ عَمٍّ لِيْ فَقَالَ إِذَا سَافَرْتُمَا فَأَذِّنَا وَأَقِيْمَا وَلْيُؤَمَّكُمَا أَكْبَرُكُمَا. رواه البخاري

د حضرت مالک بن الحویرث ﷛ څخه روایت دی چي زه راغلم نبي کریم ﷺ ته او زما دا کازوی نو رسول الله ﷺ وفرمایل هر کله چي تاسو دواړه په سفر ځئ نو اذان او اقامت کوئ او په تاسو کي چي کوم یو مشروي هغه دي امامت وکړي. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\۱۱۰، رقم: ٦۳۸ ومسلم ۱\٤٦٦، رقم: ۲۹۳- ٦۷٤.

تشريح : غالبا دا دواړه حضرات به په علم او تقوی کي برابر وه ځکه رسول الله ﷺ د امام جوړيدو حقدار هغه وګرځوی چي په عمر کي زيات وي يا د اکبر څخه مراد افضل دی چي په دواړو کي کوم يو غوره وي هغه دي امامت کوي ددې څخه دا معلومه سوه چي دا فضيلت په اذان کي شرط نه د مګر پکار داده چي آذان هغه سړی وکړي کوم چي د لمنځو د وختونو علم لري نيک او ديندار وي لوړ اواز او خوش آوازه وي د اذان کلمې صحيح صحيح ادا کولای سي.

﴿٦۳۲﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ لَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلُّوا كَمَا رَأَيْتُمُوْنِيْ أُصَلِّيْ فَإِذَا حَضَرَتِ الصَّلَاةُ فَلْيُؤَذِّنْ لَكُمْ أَحَدُكُمْ ثُمَّ وَلْيُؤَمَّكُمْ أَكْبَرُكُمْ. متفق عليه

د حضرت مالک بن حويرث ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ موږ ته وفرمايل: تاسو داسي لمونځ کوئ لکه څرنګه چي زموږ لمونځ کول وينئ او کله چي د لمانځه وخت سي نو په تاسو کي دي يو سړی آذان وکړي او کوم يو چي تر ټولو مشروي هغه دي ستاسو امام سي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\۱۱۱، رقم: ٦۳۱ ولم نجده عند مسلم.

تشريح : مطلب دادى چي د ايمان او اسلام په حالت كي تير سي يعني كوم خلك چي د اسلام قبلولو ډير وخت وروسته تير سوي وي هغه دي حكما د هغو خلكو څخه مشر وګرځول سي چي د هغه وروسته د ايمان او اسلام په سعادت سره مشرف وي كه څه هم هغه په عمر كي د هغو ټولو څخه كوچني وي ځكه چي مخكي اسلام قبلونكي سړي ته د دين او شريعت علم وروسته د اسلام پيرو كيدونكو څخه زيات وي.

﴿۶۳۳﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دى چي ښېله شكه رسول الله ﷺ

حِيْنَ قَفَلَ مِنْ غَزْوَةِ خَيْبَرَ سَارَ لَيْلَةً حَتّٰى إِذَا أَدْرَكَهُ الْكَرٰى عَرَّسَ

كله چي راوګرځېدى د خيبر د غزا څخه را نو د شپې يې سفر وكړ تر دې چي پر رسول الله ﷺ پر كالي (د خوب اثر) راغلل نو د آرام كولو لپاره را تا سو

وَقَالَ لِبِلَالٍ اكْلَأْ لَنَا اللَّيْلَ فَصَلّٰى بِلَالٌ مَا قُدِّرَ لَهُ وَنَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ

او بلال رضي الله عنه ته يې وفرمايل چي ته زموږ ساتنه كوه (يعني سهار مو ويښ كړه) بلال رضي الله عنه د تهجد په لمانځه كي بوخت سو او څومره لمونځ چي ممكن وو هغه يې وكړ او بيده سو رسول الله ﷺ

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ فَلَمَّا تَقَارَبَ الْفَجْرُ اسْتَنَدَ بِلَالٌ إِلٰى

او صحابه كرام ، كله چي سهار نژدې سو نو څنګ ووهى بلال رضي الله عنه

رَاحِلَتِهِ مُوَاجِهَ الْفَجْرِ فَغَلَبَتْ بِلَالًا عَيْنَاهُ وَهُوَ مُسْتَنِدٌ إِلٰى رَاحِلَتِهِ

خپلي سپرلى ته او د لمر خاته لوري ته يې مخ كړ مګر د بلال ستركي د خوب څخه ډكي سوې او هغه هم د اوښ سره تكيه ولګول او بيده سو

فَلَمْ يَسْتَيْقِظْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا بِلَالٌ وَلَا أَحَدٌ

اوس نو نه د رسول الله ﷺ نه د بلال، او نه د صحابه كرامو ستركي و لغړېدلې

مِنْ أَصْحَابِهِ حَتَّى ضَرَبَتْهُمُ الشَّمْسُ فَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د صحابه کرامو څخه ، تر دې چې د لمر ګرمي سوه او د رسول الله ﷺ

أَوَّلَهُمُ اسْتِيقَاظًا فَفَزِعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَيْ

تر ټولو وړاندي سترګي ولغړېدلې (ويښ سو)رسول الله ﷺ په بيره وويل اې

بِلَالُ فَقَالَ بِلَالٌ أَخَذَ بِنَفْسِي الَّذِي أَخَذَ بِنَفْسِكَ قَالَ اقْتَادُوا

بلاله! په تا څه وسول؟ بلال عرض وکړ پر ما هم خوب غالب سو کوم چې پر تاسو غالب سو رسول الله ﷺ و فرمايل راپورته سئ

فَاقْتَادُوا رَوَاحِلَهُمْ شَيْئًا ثُمَّ تَوَضَّأَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او خپل اوښان بوزئ ، اوښان مو د هغه ځايه لږ ليري بوتلل بيا رسول الله ﷺ اودس وکړ

وَأَمَرَ بِلَالًا فَأَقَامَ الصَّلَاةَ فَصَلَّى بِهِمُ الصُّبْحَ فَلَمَّا قَضَى الصَّلَاةَ قَالَ:

او بلال ته يې د آذان حکم وکړ بيا رسول الله ﷺ د سهار لمونځ ورکړ ، کله چې رسول الله ﷺ د لمانځه څخه فارغ سو نو وه يې فرمايل :

مَنْ نَسِيَ الصَّلَاةَ فَلْيُصَلِّهَا إِذَا ذَكَرَهَا فَإِنَّ اللَّهَ قَالَ وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ لِذِكْرِيْ . رواه مسلم

د چا څخه چې لمونځ هير سي هغه ته پکار ده چې کله هم ور ياد سي هغه وخت يې ادا کړي ځکه چې الله تعالى فرمايلي دي و اقم الصلوة لذکري . مسلم .

تخريج: صحيح مسلم ۱\ ۳۷۱، رقم: ۳۰۹ - ۶۸۰.

د لغاتو حل: (الكرى): النعاس. (د خوب غلبه). (عرس): من التعريس اى نزل آخر الليل للاستراحة. (د شپې په آخره کې د ارام لپاره پړاو اچول).

تشريح: خيبر د مدينې منورې څخه تقريبا پر سل ميله فاصله باندي دی د بنو نصير يهوديان

چي د مدينې څخه ووتل نو په خيبر کي ميشت سول بيا خيبر د يهوديانو د سازشونو اډه او مرکز جوړ سو نو د اسلام د حفاظت له کبله ددې خبري ضرورت محسوس کړل سو چي د هغوی دا شرارتي مرکز وران کړل سي نو په اووم هجري کال کي تقريبا د شپاړلس سوو مسلمانانو مجاهدينو لشکر د رسول الله ﷺ په مشرتابه کي خيبر ته روان سو هلته په رسيدو سره يهوديان محاصره کړل سول دا محاصره تقريبا تر لسو ورځو پوري جاري وه تردې چي الله تعالی مسلمانانو ته فتح نصيب کړه او د خيبر په ټولو کلاګانو قبضه وسوه ددې غزا د کاميابی تاج د حضرت علي کرم الله وجهه پر سر وو او هغه د فاتح خيبر په عظيم لقب سره ونازول سو، رسول الله ﷺ د اسلامي لښکر بيرغ د هغه په لاس کي ورکړی وو او د اسلامي لښکر قومنداني يې کول ددې څخه ماسوا الله تعالی د هغه په لاسه يوه خاصه ميړانه دا ښکاره کړل چي د خيبر دروازه چي اويا خلکو هم نه سوه پورته کولای هغه يوازي حضرت علي ﷛ په را کښلو سره وغورځول کوم وخت چي خيبر فتح سو نو د مسلمانانو او د هغه ځای د يهوديانو په مينځ کي يوه معاهده وسوه چي د هغې دوه خاص تړونونه دا وه:

اول : تر څو پوري چي مسلمانان غواړي يهوديان به په خيبر کي پاته وي او کله چي ويستل وغواړي نو هغوی به د خيبر څخه وځي.

دوهم : د حاصلاتو يوه برخه به مسلمانانو ته ورکول کيږي، په هر حال په حديث کي مذکوره واقعه ددغه غزا څخه د بيرته تګ پر وخت مخي ته راغلل اوس دلته يو سوال پيدا کيږي چي تر لمر ختلو وروسته چي بېدار سول نو په هغه ځای کي رسول الله ﷺ قضاء لمونځ ولي ونه کړ او صحابه کرامو ته د هغه ځای څخه د روانيدو حکم ورکولو سبب څه وو؟ په دې اړه د علماؤ مختلف اقوال دي، حنفي علماء چي د هغوی په نزد تر لمر ختلو په وخت کي قضاء لمونځ کول منعه دي فرمايي چي رسول الله ﷺ ددې ځای څخه د تللو حکم ورکړی وو چي لمر لوړ سي او د لمانځه لپاره مکروه وخت ووځي.

شافعي علماء چي د هغوی په نزد د لمر ختلو په وخت قضاء لمونځ کول جائز دي وايي چي رسول الله ﷺ د قضاء لمونځ کولو پرته سمدستي د هغه ځای څخه ځکه روان سول چي هغه ځاي د شيطانانو مسکن وو څرنګه چي په نورو روايتونو کي ددې تصريح موجوده ده د مسلم د يو روايت الفاظ دادي چي په لمر راختلو باندي رسول الله ﷺ دا حکم ورکړ چي هر سړی دي د خپل سپرلی واګي ونيسي او روان دي سي ځکه چي په دې ځاي کي موږ ته شيطان راغلی دی.

رسول الله ﷺ بلال ﷛ ته يوازي د اقامت کولو حکم ورکړی وو د اذان لپاره يې نه وه

فرمايلي ددې څخه په ښکاره دا معلوميږي چي د قضاء لمانځه لپاره اذان کول ضروري نه دی ځرنګه چي د جديد قول سره سم د امام شافعي رحمة الله عليه مذهب دادی چي د قضاء لمانځه لپاره هم اذان کول پکار دي، د ځينو روايتونو څخه دا معلوميږي چي هغه وخت د لمانځه اذان سوی وو په هدايه کي ذکر سوي دي چي رسول الله ﷺ د ليلة التعريس (يعني د مذکوره شپې) د سهار د لمانځه قضاء په اذان او اقامت سره کړی وو.

شيخ ابن الهمام رحمة الله عليه په دې اړه د مسلم او ابو داود رحمة الله عليهما څو حديثونه نقل کړي دي او فرمايلي يې دي چي د مسلم رحمة الله عليه په دې روايت کي چي ذکر سوي دي چي رسول الله ﷺ حضرت بلال رضي الله عنه ته اقامت حکم ورکړ نو هغه اقامت وکړه غير مرادف نه دي ځکه چي د رسول الله ﷺ په باره کي په صحيح توګه سره دا ثابته سوې ده چي هغه وخت يې په اذان او اقامت سره لمونځ کړی وو نو په دې روايت کي فاقام الصلوة معنی داده چي هغوی د لمانځه لپاره د اذان څخه وروسته اقامت وکړ.

دلته يو معمولي سوال پيدا کيږي چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي چي زما سترګي بيدې وې او زما زړه بيدار وي نو د زړه د ويښ کيدو سربيره ددې څه وجه وه چي صبح صادق کيدو باندي رسول الله ﷺ خبر نه سو؟ د دې جواب دادی چي د لمر راختل او لوېدل د سترګو کار دی د زړه کار نه دی نو د زړه د بيدارۍ سربيره د صبح صادق پر طلوع کيدو باندي رسول الله ﷺ ځکه خبر نه سو چي سترګي يې بيدې وې.

او که څوک دا سوال وکړي چي رسول الله ﷺ ته د کشف يا وحي په ذريعه اطلاع ولي نه وسول؟ نو ددې جواب به دا وي چي دا خو د الله تعالی پر مرضۍ موقف دی دوهم دا چي په دې کي حکمت هم وو چي په دا طريقه سره امت ته د قضاء احکام معلوم سول.

﴿۶۳۴﴾: وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُقِيمَتِ

د حضرت ابو قتاده رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي اقامت وسي

الصَّلَاةُ فَلَا تَقُومُوا حَتَّى تَرَوْنِي قَدْ خَرَجْتُ. متفق عليه

د لمانځه لپاره نو تاسو تر هغه وخته مه ولاړيږئ تر څو چي ما (د کور څخه) راوتونکی ونه وينئ. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\۱۱۹، رقم: ۶۳۷، ومسلم ۱\۴۲۲، رقم: ۱۵۶-۶۰۴.

تشریح : فقهاؤ لیکلي دي چي کله اقامت کونکی حي علی الصلوة ووايي نو مقتديانو ته هغه وخت دريدل پکار دي نو رسول الله ﷺ به هم هغه وخت د خپل خوني څخه وتونکی وو.

﴿۶۳۵﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُقِيْمَتِ

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کله چي اقامت وسي

الصَّلاةُ فَلاَ تَأْتُوْهَا تَسْعَوْنَ وَأْتُوْهَا تَمْشُوْنَ وَعَلَيْكُمُ السَّكِيْنَةَ فَمَا أَدْرَكْتُمْ

د لمانځه لپاره نو تاسو په منډه مه راځئ بلکه په کراره راځئ او څومره لمونځ چي ونيسئ

فَصَلُّوْا وَمَا فَاتَكُمْ فَأَتِمُّوْا. متفق عليه وَفِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ فَإِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا

نو وه يې کړئ او کوم چي تير سي هغه پوره کړئ. بخاري او مسلم. د مسلم په يوه روايت کي دا الفاظ دی هر کله چي په تاسو کي يو څوک

كَانَ يَعْمِدُ إِلَى الصَّلاَةِ فَهُوَ فِي الصَّلاَةِ. وَهٰذَا الْبَابُ خَالٍ عَنِ الْفَصْلِ الثَّانِيْ

د لمانځه اراده کوي نو لکه دی چي د هغه وخت څخه په لمانځه کي وي. په دې باب کي دوهم فصل نسته.

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\ ۳۹۰، رقم: ۹۰۸ ومسلم ۱\ ۴۲۰، ۴۲۱، رقم: ۱۵۱- ۶۰۲.

تشریح : په عامه توګه دا ليدل سوې ده چي کله لمونځ ودريږي نو هغه خلک چي په ځنډ سره مسجد ته راسي په لمانځه کي د شامليدو لپاره او خصوصا هغه وخت چي امام رکوع ته ځي په ډيره منډه راځي او په لمانځه کي ګډون کوي نو داسي خلکو ته د حديث څخه خبريدل پکار دي چي د هغوی دا طريقه د شريعت خلاف ده نو نه يوازي دا چي د حديث څخه دا معلومه سوه چي د جماعت په دريدو سره په منډه راتلل نه دي جائز بلکه علماؤ داهم ليکلي دي چي د لمانځه لپاره په منډه راتلل د عقل کمزوري او د غفلت نښه ده ځکه چي د لمانځه لپاره تيزي او چالاکي هسي خو د شريعت په نظر کي به قابل تعريف وي که چا د تکبير اولی د فوت کيدو يا يو رکعت تلو بيره وي نو هغه دي د مخکي څخه تلوار کوي او د جماعت پيل کيدو څخه مخکي دي مسجد ته راځي. (حضرت شيخ عبد الحق رحمة الله عليه).

ملا علي قاري رحمة الله عليه فرمايي چي د علماؤ په نزد په دې اړه اختلاف دی که يو

سړي ته د تكبير اولي د فوت كيدو بيره وي نو ايا هغه دي په ځغاسته راسي كه يا؟ ځينو حضراتو ويلي دي چي داسي سړی دي په منډه راسي ځكه چي د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په باره كي نقل سوې دي چي هغه په بقيع كي وو چي د مسجد څخه يې د اقامت اواز واوريدی نو په منډه مسجد ته راغلی.

او ځيني علماء دامناسب ګڼي چي داسي سړي ته ددې حديث سره سم په وقار او آرامتيا سره مسجد ته راتلل پكار دي مګر په دې خبره پوهيدل پكار دي چي دا حكم به د هغو خلكو لپاره وي چي د ناخبرۍ يا د يو مجبورۍ او معذورۍ په وجه و زنډيږي او كه يو سړی په خبرتيا سره لمانځه ته په راتلو كي ځنډ وكړي نو هغه په دې كي شامل نه دی.

په هر حال په دې اړه صحيح او مناسب دادي چي كه يو سړي په ځنډ سره مسجد ته راورسيږي نو هغه ته دا پكار ده چي هغه په جماعت كي د شريكيدو لپاره په وقار او طمانيت سره په تيز تيز تلو سره راسي بالكل بېكاره طريقې سره په منډه دي نه راځي چي په دغه حديث باندي عمل هم وسي نو د تكبير اولی ثواب به هم د لاس څخه ولاړ نسي همداسي د جمعې د لمانځه حكم هم دادی كه چيري د يو سړی څخه مسجد ته په رسيدو كي ځنډ وسي او ددې خبري ورته يقين وي كه تلوار نه وكړي نو امام به سلام وګرځوي او زه به د لمانځه څخه پاته سم نو هغه ته په تلوار سره تلل او د امام سره په لمانځه كي شريكيدل پكار دي.

وهذا الباب خال عن الفصل الثاني.

په دغه باب كي دوهم فصل نسته.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

﴿۶۳۶﴾: عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ قَالَ عَرَّسَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةً

د حضرت زيد بن اسلم رضی الله عنه څخه روايت دی چي يوه شپه رسول الله صلی الله علیه وسلم قيام (هستوګنه) وكړ

بِطَرِيْقِ مَكَّةَ وَوَكَّلَ بِلَالًا أَنْ يُّوْقِظَهُمْ لِلصَّلَاةِ فَرَقَدَ بِلَالٌ وَرَقَدُوْا حَتّٰى

د مكې مكرمې په لار كي او بلال ته يې دا خدمت و سپاری چي هغه يې (د لمانځه لپاره) راويښ كړي، بلال ته هم خوب ورغلی او نور هم بيده سوه تر دې چي

اسْتَيْقَظُوْا وَقَدْ طَلَعَتْ عَلَيْهِمُ الشَّمْسُ فَاسْتَيْقَظَ الْقَوْمُ فَقَدْ فَزِعُوْا

راويښ سوه هغه وخت چي لمر راختلى وو او د سهار د لمانځه نه كولوله كبله ډېر په بيره كي سول

فَأَمَرَهُمْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَرْكَبُوْا حَتّٰى يَخْرُجُوْا مِنْ ذٰلِكَ

رسول الله ﷺ خلكو ته حكم وركړ چي سمدستي سپاره سئ تر دې چي ووځي د دغي

الْوَادِيْ وَقَالَ إِنَّ هٰذَا وَادٍ بِهِ شَيْطَانٌ . فَرَكِبُوْا حَتّٰى خَرَجُوْا مِنْ ذٰلِكَ الْوَادِيْ

شيلې څخه، او رسول الله ﷺ وفرمايل: دا يوه داسي شېله ده چي شيطان پر مسلط دی، نو ټول سپاره سول تر دې چي ووتل د دغي شيلې څخه،

ثُمَّ أَمَرَهُمْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَنْزِلُوْا وَأَنْ يَتَوَضَّئُوْا وَأَمَرَ

لږ چي ولاړل نو رسول الله ﷺ حكم وكړ چي دلته كښته سئ او اودس وكړئ، او حكم يې وكړ

بِلَالًا أَنْ يُنَادِيَ لِلصَّلَاةِ أَوْ يُقِيْمَ فَصَلّٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالنَّاسِ

بلال ته چي آذان يا اقامت وكړي بيا رسول الله ﷺ خلكو ته لمونځ وركړ

ثُمَّ انْصَرَفَ وَقَدْ رَأٰى مِنْ فَزَعِهِمْ فَقَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ اللهَ قَبَضَ

او كله چي د لمانځه څخه فارغ سو او ستنېدل نو خلك يې په بيره كي وليدل نو ويې فرمايل: خلكو! الله تعالى قبض كړي وه

أَرْوَاحَنَا وَلَوْ شَاءَ لَرَدَّهَا إِلَيْنَا فِيْ حِيْنٍ غَيْرِ هٰذَا فَإِذَا رَقَدَ أَحَدُكُمْ عَنِ الصَّلَاةِ

زموږ روحونه، كه هغه غوښتل نو زموږ روحونه به يې په دوهم وخت كي راكړي واى (يعني د هغه وخت څخه مخكي او د لمانځه په وخت كي) هر كله چي په تاسو كي يو څوك بيده سي او د لمانځه څخه غافل سي

أَوْ نَسِيَهَا ثُمَّ فَزِعَ إِلَيْهَا فَلْيُصَلِّهَا كَمَا كَانَ يُصَلِّيْهَا فِيْ وَقْتِهَا ثُمَّ الْتَفَتَ

يا لمونځ ځيني هير سي او د هغه غفلت يا هيري له كبله په بيره كي سي نو هغه ته پكار دي چي

هغه لمونځ هما غسي وکړي لکه څرنګه چي يې په خپل وخت کي کوي ، بيا متوجه سو

رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلٰى أَبِيْ بَكْرِ الصِّدِّيْقِ فَقَالَ إِنَّ الشَّيْطَانَ أَتٰى

رسول الله ﷺ ابوبکر صديق رضي الله عنه ته او وه يې فرمايل : شيطان راغلی

بِلَالًا وَهُوَ قَائِمٌ يُصَلِّيْ فَأَضْجَعَهُ ثُمَّ لَمْ يَزَلْ يُهْدِئُهُ كَمَا يُهْدَأُ الصَّبِيُّ حَتّٰى

بلال ته او هغه ولاړ وو لمونځ يې کوی او هغه يې تکيه لګولو ته تيار کړ بيا چي کله هغه بيده سو نو تر ډيره وخته پوري يې د خوب لپاره ښوروی لکه کوچني چي ښورول کيږي تر دې چي

نَامَ ثُمَّ دَعَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِلَالًا فَأَخْبَرَ بِلَالٌ رَسُوْلَ اللّٰهِ

هغه بيده سو ، تر دې وروسته رسول الله ﷺ بلال را وغوښتی، بلال رضي الله عنه بيان کړی

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ الَّذِيْ أَخْبَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

هغه صورت کوم چي بيان کړی وو رسول الله ﷺ

أَبَا بَكْرٍ فَقَالَ أَبُوْ بَكْرٍ أَشْهَدُ أَنَّكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ . رواه مالك مرسلا .

ابوبکر صديق ته بيان کړی وو ، ابوبکر صديق چي د بلال خبري واوريدی نو وه يې ويل زه شاهدي ورکوم چي تاسو د الله رښتوني رسول ياست . مالک مرسلا .

تخريج: الامام مالک في الموطا ۱\۱۴ - ۱۵، رقم: ۲۶.

تشريح : دا ډول يوه بله واقعه په حديث نمبر پنځم کي ذکر سوې ده مګر په ښکاره دا معلوميږي چي دا واقعه د اولي واقعې څخه بيله يوه دوهمه واقعه ده چي هغه واقعه خو د مدينې او خيبر په لار کي پيښه سوې ده او دا واقعه څرنګه چي ددې حديث څخه ثابتيږي د مکې او مدينې په مينځ کي پيښه سوې ده .

ددغه حديث په الفاظو (ان ينادي للصلوة او يقيم) کي لفظ د (او) د جمعي مفهوم اداء کوي څرنګه چي حرف د (و) د دوو شيانو په جمع کولو په موقع باندي استعماليږي همدا سي ددې معنی څرنګه چي په ترجمه کي ښکاره سوې ده دابه وي چي رسول الله ﷺ حضرت بلال رضي الله عنه ته د اذان او اقامت کولو حکم ورکړ بيا لفظ د او خپل حقيقي مفهوم يعني شک ښکاره

کوي چي د رسول الله ﷺ بلال رضی الله عنه ته د اذان یا د اقامت ویلو حکم ورکړ مګر صحیح او غوره دادي ځکه چي ددې تائید د ابو داود د روایت څخه هم کیږي چي د هغه الفاظ دادي انه ﷺ امر بلالا بالاذان والاقامة یعني رسول الله ﷺ بلال رضی الله عنه ته د اذان او اقامت حکم ورکړ.

فلیصلها کما کان یصلیها في وقتها : هغوی دي دا لمونځ داسي کوي لکه څرنګه چي دا یې په دا وخت کي کوی د الفاظ په ښکاره پر دې خبره دلالت کوي که جهري لمونځ قضاء سوی وي نو د هغه قضاء دي هم په جهر سره وکړي او که خفي لمونځ قضاء سوی وي نو د هغه قضاء دي هم سري یعني په پټه خوله سره کول واجب دي.

اضجعه د اسنده په مفهوم کي دی یعني شیطان بلال رضی الله عنه ته داسي چم وکړ چي پر هغه غفلت خپور سو څرنګه چي د مخکي واقعې په اړه تیر سوي دي چي بلال رضی الله عنه د تهجد د لمانځه څخه د فارغه کېدو وروسته د خپل کجاوې سره په تکیه کولو بیده سوی دی.

دلته یو سوال دا پیداکیږي چي رسول الله ﷺ د قضاء د لمانځه کولو وروسته صحابه کرامو ته د مخاطب کولو سره ان الله قبض ارواحنا (الله تعالی زموږ روحونه قبض کړي وه) فرمایلو سره دې ته اشاره کړې ده چي زموږ د ټولو په دغه موقع باندي بیده کیدل په حقیقت کي د تقدیر الهي په وجه وو چي الله تعالی پر موږ داسي د غفلت خوب مسلط کړ چي موږ د لمانځه پر وخت بېداره نه سوو ، لیکن وروسته نبي کریم ﷺ ابوبکر صدیق رضی الله عنه د مخکني حال بیانولو سره سره د خوب د دغه غفلت نسبت شیطان و طرفته وکړی چي شیطان داسي یوه طریقه اختیار کړه چي بلال رضی الله عنه غافل سو او بېده سو او پر وخت بیداره سو چي د هغه نتیجه دا سوه چي ټول خلګ بېده پاته سول او لمونځ قضاء سو ، ددې څخه په ښکاره دا معلومیږي په دوو خبرو کي تعارض په نظر راځي چي مخکي خو د غفلت نسبت یې الله تعالی ته وکړ بیا وروسته ددې غفلت نسبت یې د شیطان خوا ته وکړ .ددې جواب دادی چي دا مسئله خلک افعال سره متعلق دي یعني الله تعالی په دې خلکو کي د نسیان او غفلت پیداکولو اراده وکړ نو هغه شیطان په دې خبره قادر کړ چي هغه مذکوره طریقې سره یعني د بلال رضی الله عنه په وجه خلک د غفلت په خوب کي مبتلا کړي.

داحدیث د رسول الله ﷺ د معجزې پوره تائید کوي چي د معجزې په توګه یې د بلال رضی الله عنه د بیده کیدو پوره حقیقت بیان کړ سره ددې چي په خپلو ښکاره سترګو سره یې ددې حقیقت مشاهده نه وه کړې نو حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د اشهد انک رسول الله په ویلو سره ددې اعجازي شان تصدیق وکړ.

﴿۶۳۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَصْلَتَانِ

د حضرت ابن عمر ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : دوه کارونه دي

مُعَلَّقَتَانِ فِيْ أَعْنَاقِ الْمُؤَذِّنِيْنَ لِلْمُسْلِمِيْنَ صِيَامُهُمْ وَصَلَاتُهُمْ . رواه ابن ماجه

د آذان کونکو پر غاړه د مسلمانانو لپاره (یعني دوې ذمه داری دي) د هغوی روژې او د هغوی لمونځ (یعني د هغوی په آذان سره د خلکو روژې او لمنځونه) .ابن ماجه

تخریج: سنن ابن ماجه ۱\ ۲۳۶، رقم: ۷۱۲.

تشریح: مطلب دادی چي د مسلمانانو دوه اهم او بنیادي اعمال داسي دي چي پر مؤذن باندي موقف دي یعني مؤذنان د هغه اعمال د صحت او تکمیل ذمه دار وي .

اول شی خو روژه ده چي مسلمانان د مؤذنان په اذان باور کولو سره روژه ماتوي، دوهم لمونځ دی چي د هغه اداکول د مؤذنان د اذان سره وي .

په هر حال د حدیث حاصل دادي چي مؤذنانو ته دا پکار ده چي هغوی د خپل دغه عظیمي ذمه داری په احساس کولو سره په ډیر احتیاط سره او د وختونو په پوره رعایت کولو سره اذان کوي چي د مسلمانانو په دغه دوو اعمالو کي خلل واقع نسي .

======

بَابُ الْمَسَاجِدِ وَ مَوَاضِعِ الصَّلٰوةِ

د مسجدونو او د لمانځه د ځایونو بیان

دلته د لمانځه د مقاماتو څخه هغه ځایونه مراد دي چي په هغه کي لمونځ کول مکروه یا غیر مکروه دی د داسي ځایو وضاحت به په راتلونکو حدیثونو کي وکړل سي د مسجدونو فضائل او برکاتو په اړه ډیر زیات احادیث نقل سوي دي په هغو کي چي کوم حدیثونه مشکوة نقل کړي دي هغه به د دې عنوان لاندي نقل کړل سي البته هغه حدیثونه چي هغه صاحب مشکوة نه دي نقل کړي بلکه د حدیثو په نورو کتابو کي نقل سوي دي د حصول سعادت او برکت له کبله په هغو کي د ځیني ترجمي دلته نقل سوي دي چي د مسلمانانو په ذهن کي د مسجدو د عظمت او فضیلت احساس ځای ونیسي چي د هغه په وجه هغوی د الله تعالی د عبادت لپاره مسجدو ته تلل د دیني او دنیاوي فلاح او کامیابی ذریعه وګڼي .

حضرت ابو ذر غفاري رضي الله عنه خپل زوي ته په نصيحت كولو سره و فرمايل اې زما زويه! مسجد ستا كور كيدل پكار دي ځكه چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي مسجدونه د پرهيز گارو كورونه دي نو د چا كور چي مسجد وي الله تعالى د راحت او رحمت او پل صراط باندي جنت و خوا ته د هغه د تيريدو ضامن دى حضرت عبد الله بن مغفل رضي الله عنه فرمايي موږ ته به بيان كيدى چي شيطان څخه د ساتني لپاره مسجد يوه ټينګه قلعه ده ،

حضرت عمر فاروق رضي الله عنه راوي دى چي مسجدونه د مځكي پر سر د الله جل جلاله كورونه دي او د چاچي زيارت سوى دى پر هغه دا حق دى چي هغه د خپل زيارت كونكي اعزاز او اكرام كوي يعني كوم سړى چي مسجد ته راځي هغه گويا د الله تعالى زيارت كوي همداسي مسجدو ته تلونكي بندگان زيارت كونكي سول او د چا چي زيارت وسو هغه د الله تعالي ذات سو، نو الله تعاليمسجد ته د راتلونكو بندگانو اعزاز او اكرام كوي او هغوى د خپل فضل اوكرم په سعادتونو سره نازوي .

رسول الله ﷺ وفرمايل هر كله چي يو سړى په مسجد كي د لمانځه كولو لپاره الله تعالى د يادولو لپاره ځاى نيسي الله تعالى هغه ته د رحمت او شفقت په نظر گوري څرنگه چي د هغه سړي كورني چي د يو وخت وروسته خپل كورته راستنه سوې وي د هغه سره محبت او په شفقت سره مخامخ كيږي، په دې خبره پوه سه چي كوم حديثونه چي د هغه څخه دا معلوميږي چي په مسجد كي يو مخصوص ځاى داسي اختياروي چي د هغه ځاي څخه ماسوا په بل ځاي كي نه كښيني نو دا ممنوع ده كه څه هم د هغه يو مخصوص ځاى اختيارول دلمانځه او د الله تعالى د ذكر لپاره وي .ځكه چي په داسي كولو سره دريا او ځان ښوونى د شبهې كيدو خطره ده .او دا ډول نور هغه حديثونه چي په هغو كي د مسجد د ځاي نيولو د فضيلت اظهار كيږي په دې خبره محمول دي چي مسجد د يو دنياوي غرض او منفعت څخه قطع نظر خاص لمونځ كولو او د الله تعالى په ذكر كي د مشغوليدو په نيت سره وگرځول سي .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړى فصل)

﴿٦٣٨﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَمَّا دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبَيْتَ دَعَا

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دى كله چي رسول الله ﷺ (د مكې د فتح په ورځ) خانه كعبې ته داخل سو نو دعاء يې وكړل

فِيْ نَوَاحِيْهِ كُلِّهَا وَلَمْ يُصَلِّ حَتّٰى خَرَجَ مِنْهُ فَلَمَّا خَرَجَ رَكَعَ رَكْعَتَيْنِ فِيْ قُبُلِ

د هغې په ټولو كنجانو كي مګر لمونځ يې نه وكړ او د باندي راووتى بيا يې دوه ركعته لمونځ ادا كړ مخته

الْكَعْبَةِ وَقَالَ هٰذِهِ الْقِبْلَةَ . رواه البخاري . ورواه مسلم عنه عن أسامة بن زيد

د كعبې او وه يې فرمايل دا قبله ده . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۱\۵۰۱، رقم: ۳۹۸. و مسلم ۲\۹۶۸، رقم: ۳۹۵- ۱۳۳۰.

تشريح : كعبې شريفي ته په اشاره كولو سره دا فرمايل چي دا قبله ده ددې خبري اعلان كول وه چي دغه خوا ته په مخ كولو سره د لمانځه حكم په دائمي توګه سوى دى او دا قبله تل سوې ده چي اوس به په هيڅ حالت كي نه منسوخ كيږي ددې مطلب دا نه وو چي قبله دغه مخكي خوا ته ده نورو خوا وو ته په متوجه كيدو سره لمونځ كول صحيح نه دي او نه ددې مطلب دادى چي د دباندي خوا څخه د قبلې طرف ته متوجه كيدل معتبر دي دننه برخه كي لمونځ صحيح نه دي لكه څرنګه چي امام مالك رحمه الله فرمايي چي د كعبې شريفي دننه فرض لمونځ كول صحيح نه دى، په كعبه كي دننه نفل كول په اتفاق سره د ټولو علماؤ په نزد جائز دي ځكه چي راتلونكى د عبد الله بن عمر رضي الله عنه حديث ددې جواز واضح دليل دى .

البته د فرض لمانځه په اړه د علماؤ په نزد اختلاف دى اكثر علماء په كعبه كي دننه فرض كول هم جائز ګرځوي مګر امام مالك رحمة الله عليه او امام احمد رحمة الله عليه په كعبه كي دننه د فرض لمانځه د اداكولو څخه منعه كوي .

﴿۶۳۹﴾: وَعَنْ عبدالله ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ

د حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ دننه سو

الْكَعْبَةَ هُوَ وَأُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ وَعُثْمَانُ بْنُ طَلْحَةَ الْحَجَبِيُّ وَبِلَالُ بْنُ رَبَاحٍ

كعبې ته او اسامه بن زيد، عثمان بن طلحه الحجبي او بلال بن رباح

فَأَغْلَقَهَا عَلَيْهِ وَ مَكَثَ فِيهَا فَسَأَلْتُ بِلَالاً حِيْنَ خَرَجَ مَا صَنَعَ رَسُوْلُ اللّٰهِ

او بلال يا عثمان د ننه كعبه بنده كړه (چي د خلكو ګڼه ګوڼه نه سي) او هلته يې لږ وخت قيام وكړ،

عبداللہ بن عمر رضی اللہ عنہ وايي کله چي بلال رضی اللہ عنہ د کعبې څخه راووتی نو ما پوښتنه وکړه چي رسول الله ﷺ دننه څه وکړل؟

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ جَعَلَ عَمُوْدًا عَنْ يَسَارِهِ وَعَمُوْدَيْنِ عَنْ يَمِيْنِهِ وَثَلَاثَةَ

هغه ووېل: يوه ستنه د رسول الله ﷺ چپه خوا ته وه او دوې ستني راسته خوا ته وې او درې

أَعْمِدَةٍ وَرَاءَهُ وَكَانَ الْبَيْتُ يَوْمَئِذٍ عَلَى سِتَّةِ أَعْمِدَةٍ ثُمَّ صَلَّى. متفق عليه

ستني يې وروسته وې او په دغه ورځو کي په خانه کعبه کي شپږ ستني وې (نن سبا درې ستني لري) او بيا رسول الله ﷺ د هغو په منځ کي لمونځ ادا کړ. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح ا ي) ١\٥٧٨، رقم: ٥٠٥، ومسلم: ٢\٩٦٦، رقم: ٣٨٨- ١٣٢٩.

تشريح: ددې حديث څخه خو دا معلوميږي چي رسول الله ﷺ په خانه کعبه کي دننه لمونځ کړی وو مګر ددې څخه مخکي دا مضمون د اسامه بن زيد رضي الله عنه څخه د ابن عباس رضی اللہ عنہ روايت سوی حديث تير سوي دي د هغه څخه دا معلوميږي چي رسول الله ﷺ په خانه کعبه کي دننه لمونځ نه وه کړی نو په دغه دواړو حديثونو کي مطابقت به داسي وي چي دا به ووېل سي چي د رسول الله ﷺ سره دا حضرات په خانه کعبه کي دننه داخل سول او دروازه بنده کړل سول نو رسول الله ﷺ په دعا کولو باندي ليدو سره اسامه رضی اللہ عنہ هم يو بل کونج ته په ورتلو سره په دعا کي مشغول سو رسول الله ﷺ چي په کوم کونج کي ولاړ وو اسامه رضی اللہ عنہ خو ليري وو مګر بلال رضی اللہ عنہ د رسول ﷺ نژدې وو ځکه بلال رضی اللہ عنہ رسول الله ﷺ په لمانځه کولو وليدی او اسامه رضی اللہ عنہ اول خو د رسول الله ﷺ څخه په فاصله وو دوهم دا چي خپله هم په لمانځه کي مشغول وو بيا دا چي رسول الله ﷺ هم لمونځ په تلوار کړی وو ځکه هغه رسول الله ﷺ هغه پر لمانځه کولو باندي ونه ليدی.

بيا ددې څخه پرته داهم نقل سوي دي چي د بيت الله د ديوالونو څخه د عکسونو ليري کولو لپاره رسول الله ﷺ اسامه رضی اللہ عنہ د اوبو راوړلو لپاره استولی وو ځکه نو کيدای سي چي کوم وخت هغه دباندي راغلی نو رسول الله ﷺ به په هغه وخت کي لمونځ کړی وو په هر حال اسامه رضی اللہ عنہ او بلال رضی اللہ عنہ دواړو د خپل علم او مشاهدې سره سم خبر ورکړی دی او بهر صورت د لمانځه ادا کول ثابت کول مختار دي ددې نفي نسته.

﴿۶۴۰﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلاَةٌ فِي

د حضرت ابوهريرة ﷛ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : لمونځ ادا كول

مَسْجِدِي هٰذَا خَيْرٌ مِنْ اَلْفِ صَلاَةٍ فِيْمَا سِوَاهُ إِلاَّ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ. متفق عليه

زما په دغه مسجد (مسجد نبوي) كي پرته د مسجد حرام څخه تر نورو مسجدونو تر زرو لمونځونو غوره دى. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۳\۶۳، رقم: ۱۱۹۰ و مسلم ۲\۱۰۱۲، رقم: ۵۰۵- ۱۳۹۴.

تشريح: مسحد حرام ځكه مستثنى كړل سوى دى چي په مسجد حرام كي نه يوازي دا چي د نورو مسجدونو په مقابله كي زيات بابركت دى بلكه د خپل عظمت، بركت او فصيلت په اعتبار د مسجد نبوي څخه هم افضل دى لكه چي نقل سوي دي چي په مسجد حرام كي د يوه لمونځ ثواب د يوه لک لمنځو د ثواب برابر دى.

اوس په دې كي د علماؤ اختلاف دى چي په حرم كي هغه كوم ځاى دى چي هلته د لمانځه په اداكولو باندي دومره ثواب حاصليږي نو اول قول خو دادى چي هغه يو ځاى نه دى بلكه ټول حرم ته ددې بركت او فضيلت حاصل دى.

دوهم قول دادى چي په كوم ځاي كي حماعت كيږي، د علماء حنفيه د اقوالو څخه هم دا ښكاره كيږي او دا قول ځينو شافعي علماؤ هم اختيار كړى دى د علماء حنفيه په نزد د ثواب ددې زياتوب فضيلت په خاصه توګه سره د فرائض سره متعلق دي د نوافل سره نه دي، دريم قول دادى چي هغه ځاى كعبه ده دا څلورم قول په دغه څلورو اقوالو كي تر ټولو ضعيف دى (څلورم قول دلته نه دى ذكر سوى.

﴿۶۴۱﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوسعيد خدري ﷛ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

لاَ تَشُدُّوا الرِّحَالَ إِلاَّ إِلَى ثَلاَثَةِ مَسَاجِدَ اَمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَالْمَسْجِدِ الْاَقْصَى وَمَسْجِدِي هٰذَا. متفق عليه

د درو مسجدو څخه پرته بل مسجد ته كجاوې مه تړئ (يعني سفر مه كوئ) مسجد حرام ته،

مسجد اقصی ته او زما دغه مسجد ته . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۳\۷۰، رقم: ۱۱۹۷، ومسلم ۲\۹۷۶، رقم: ۴۱۵- ۸۲۷.

تشريح : د حديث څخه دا معلوميږي چي د دغو درو مسجدو څخه پرته چي الله تعالی د هغه عظمت او بزرگي په وجه هغه ته امتيازي شان عطا کړی دی د يو بل ځاي سفر جائز نه دی مگر په دې پوه سئ چي ددې ممانعت او نهي تعلق تقرب او عبادت سره دی يعني تقرب الي الله او عبادت گڼلو سره دی ددې درو ځايو څخه پرته د بل هيڅ ځای سفر کول نه دي پکار .

هو که چيري يو بل ځای د علم حاصلولو، حقوق اداء کولو، تجارت يا داسي بل يو ضرورت په وجه سفر کول وي نو دا بيل شی دی په دې کي څه قباحت نسته البته د اولياء الله د قبرونو زيارت کول او متبرک ځايونو ته د تللو په اړه د علماؤ اختلاف دی ځينو حضراتو خو دا مباح گرځولي دي او د ځينو حضراتو رايه داده چي دا حرام دي يعني صرف د اولياء الله زيارت کول او متبرک ځايو ته رسيدو سره د حصول برکت له خاطره مستقل سفر کول مطلقا جائز نه دي .

ځيني حضراتو ددې حديث مطلب دا بيان کړی دی چي ددغه درو مسجدونو څخه پرته د بل ځای د نذر په نيت د سفر قصد کول نه دی پکار، همداسي که د دغه درو مسجدونو څخه پرته د يو بل ځای نذر ومنل سي نو هغه نذر پوره کول واجب نه دي ځيني علماء فرمايي چي ددې نهي تعلق يوازي د مسجدونو سره دی يعني حصول برکت او زيارت په اراده د درو مسجدونو څخه پرته د يو بل مسجد لپاره سفر کول جائز نه دي نو په دې حديث کي د مسجدونو څخه پرته نور مقامات د مفهوم څخه خارج دي، شيخ عبد الحق دهلوي رحمة الله عليه فرمايي ددې حديث مطلب دانه دی چي د دغه درو مقاماتو څخه پرته د نورو ځايونو سفر کول صحيح نه دي بلکه ددې ارشاد مقصد په اصل کي ددغه مسجدونو ارزښت، عظمت او فضيلت او ددې لپاره د سفر کولو سعادت او خوش بختي ښکاره کول دي يعني د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب دادی چي د مسلمانانو په ذهن کي دا احساس پيدا کيدل پکار دي چي که هغوی سفر کول غواړي نو د دغه درو مسجدو د زيارت لپاره دي سفر وکړي چي دا مساجد تر ټولو زيات باعظمت او فضيلت او متبرک ترين ځايونه دي ددې څخه پرته د يو بل ځای سفر کول د فلاح او سعادت خبره نه ده بلکه بې فائدې پريشاني زغمل ده.

شاه ولي الله دهلوي رحمة الله عليه په خپل مشهور معرکة الاراء تصنيف حجت الله البالغة کي ددې حديث وضاحت په دوران کي تحرير کړي دي چي زه خو دا وايم چي د جاهليت په زمانه

كي خلكو يو ځو ځايونه د خپل ګمان او خيال سره سم باعظمت او بابركت تصور كولو سره هلته سفر كوي او د هغه ځای زيارت كول به يې د سعادت او بركت ذريعه ګڼل ښكاره خبره ده چي دا ډول د خپل وهم او ګمان سره سم يو ځای او مقام باعث بركت او فضيلت ګڼل او بيا په خاصه توګه د هغه د زيارت لپاره تلل نه دا چي يوازي د حقيقت څخه انحراف او د عقيدې او ذهن و فكر د كمزوری نښه ده بلكه د فتنې او فساد سبب هم دی ځكه رسول الله ﷺ پر عقيده او عمل باندي قايم ساتلو په خاطر دا غلطه طريقه بنده كړې وه چي اسلامي شعار سره غير اسلامي شعار جمع سي او دا طريقه د غير الله د عبادت او پرستش سبب جوړه نسي نو زما په نزد صحيح خبره داده چي د اولياء الله مزارونه د عبادت كولو ځايونو ترديّ چي كوه طور دا ټول په دې اړه برابر دي چي په خاصه طور سره زيارت يا حصول د بركت او سعادت جذبې سره ددې مقامات سفر كول مناسب نه دي .

﴿٦٤٢﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا بَيْنَ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په منځ كي

بَيْتِي وَمِنْبَرِي رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ وَمِنْبَرِي عَلَى حَوْضِي . متفق عليه

زما د كور او زما د منبر د جنت د باغو څخه يو باغ دی او زما منبر زما پر حوض دی . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۳\۷۰، رقم: ۱۱۹۶، ومسلم ۲\۱۰۱۱، رقم: ۵۰۲- ۱۳۹۱.

تشريح : ددې ارشاد مطلب دادی چي كوم سړی زما مكان او مسجد نبوي كي زما د منبر واقع ځای باندي عبادت كوي نو هغه ته به ددې عظيم سعادت په صله كي د جنت يو باغ حاصليږي او كوم سړی چي زما منبر ته نژدې په عبادت كي مشغول وي نو د قيامت په ورځ به هغه په حوض كوثر اوبه كيږي، امام مالک رحمة الله عليه فرمايي دا حديث خپله ښكاره معنی باندي محمول دی ځكه چي د روضه معنی د ټوټې ده نو ددې مطلب به دا وي چي د رسول الله ﷺ د مكان او منبر په مينځ كي هغه ټوټه چي د جنت څخه پر مځكه دي ځاي ته منتقل كړل سوې وه او دا ټوټه د مځكي د نورو برخو په ډول د قيامت په ورځ به نه فناء كيږي بلكه همدا سي به په جنت كي ستنيږي .

علامه توربشتي رحمة الله عليه فرمايي چي د مسجد نبوي منبر او حجره رسول ﷺ په مينځ كي ځای ته روضه وايي ځكه ويل كيدای سي چي دلته د رسول الله ﷺ د قبر زيارت

کونکي هلته حاضر ملائکه او جن او انس همیشه په عبادت او ذکر الله کي مشغول وي یو جماعت ځي نو دوهم جماعت راځي همداسي مسلسل هلته د عبادت کونکو د تلو راتلو لړاره سلسله جاري وي نو ددې مناسبت سره دا ځاي په روضه سره تعبیر فرمایل سوی دی څرنګه چي د ذکر خلکو ته ریاض جنت فرمایل سوي دي .

﴿۶۴۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِي

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به راتلی

مَسْجِدَ قُبَاءٍ كُلَّ سَبْتٍ مَاشِيًا وَرَاكِبًا وَيُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ . متفق علیه

مسجد قباء ته هره د شنبې ورځ پر پښو هم او پر سپرلي هم او هلته به یې دوه رکعته لمونځ ادا کاوه . بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري) ۳\۶۹، رقم: ۱۱۹۳، ومسلم: ۲\۱۰۱۶، رقم: ۵۱۶ - ۱۳۹۹.

تشریح : قباء د یو ځای نوم دی چي مدینې منورې څخه په درې میله فاصله باندي واقع دی دا هغه ځای دی چي رسول الله ﷺ د مکې معظمې څخه د هجرت کولو په وخت کي مدینه منوره کي د داخلیدو څخه مخکي قیام کړی وو او دلته یې یو مسجد جوړ کړی چي د مسجد قباء په نامه سره مشهور سو ددې مسجد فضیلت ډیر زیات دی علامه ابن حجر رحمة الله علیه فرمایي چي د نبي کریم ﷺ دا صحیح ارشاد منقول دی چي په مسجد قباء کي لمونځ کول د عمرې ادا کولو په ډول دی ،جلیل القدر او باعظمت صحابي سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه فرمایي چي بیت المقدس کي دوه واره حاضري ورکولو څخه زیات زه دا خوښوم چي په مسجد قباء کي لمونځ وکړم او که خلکو ته معلومه سي چي مسجد قباء کي د لمانځه کولو څومره ثواب دی نو هغوی به د سفر تکلیفونه زغملو سره دلیري لیري ځایو څخه د دغه مسجد یعني مسجد قباء ته راتلل پیل کړي .

په هر حال د رسول الله ﷺ دا معمول وو چي د هري شنبې په ورځ به مسجد قباء ته راتللی او په هغه کي به یې دوه رکعته تحیة المسجد او یا یو بل لمونځ چي د تحیة المسجد قائم مقام وي کوی د رسول الله ﷺ د دغه مبارک عمل څخه دا معلومیږي چي د شنبې په ورځ علماء او صلحاء او بزرګانو سره ملاقات کول سنت دي .

﴿۶۴۴﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَبُّ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تر ټولو غوره

الْبِلَادِ إِلَى اللّٰهِ مَسَاجِدُهَا وَأَبْغَضُ الْبِلَادِ إِلَى اللّٰهِ أَسْوَاقُهَا . رواه مسلم

په ټولو ځايونو کي د الله جل جلاله په نزد مسجدونه دي او بدترين ځايونه بازارونه دي . مسلم

تخريج: صحيح امسلم ۱\ ۴۶۴، رقم: ۲۸۸- ۶۷۱.

تشريح : مسجدونه د الله جل جلاله د عبادت ځايونه دي ځکه د الله جل جلاله په نزد مساجد محبوب او خوښ مقامات دي ددې مطلب دادی چي کوم سړی په مسجد کي وي . الله جل جلاله به پر هغه خپل د رحمت سايه کوي او هغه په خير او نيکۍ سره نازوي د دې په مقابله کي بازار هغه ځای دی چيري چي د شيطان د ټولو څخه زيات تسلط وي حرص، طمع، خيانت او بد دیانتي، درواغ او د الله تعالی د ياد څخه غافل کيدل هغه شيان دي چي د بازار څخه جلا کونکې برخه ده او شيطان د خوشحالۍ ذريعه ده د الله تعالی په نزد بازارونه بد ترين او ناخوښه ځايونه دي ددې مطلب داسو چي کوم سړي د خپل ضروریاتو د تکميل څخه پرته صرف د سيل او تفريح په غرض په بازارونو کي اوسي پر هغه د محرومۍ او خرابۍ سايه کيږي او هغه د الله تعالی د رحمت څخه ليري وي ، دلته يو اعتراض پيدا کيږي چي بت خانې، شراب خانې وغيره ځايونه ولي نه دي ويل سوي او بازار ته ولي ويل سوي دي؟ ددې جواب دا کيدای سي چي د بازارونو قائمولو حکم د شارع د خوا څخه دی او دا شيان داسي دي چي د هغه د جوړولو او ساتلو حکم د شارع د خوا څخه وي نو د ارشاد مطلب دادی چي د کوموځايونو جوړول او قائمول جائز دي په هغه کي بد ترين او ناخوښه شي بازار دی .

﴿۶۴۵﴾: وَعَنْ عُثْمَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ بَنٰي

د حضرت عثمان رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي جوړ کړي

مَسْجِدًا لِلّٰهِ بَنَى اللّٰهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ . متفق عليه

مسجد د الله جل جلاله د رضا لپاره ، الله تعالی د هغه لپاره په جنت کي يو کور جوړوي . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۱\ ۵۴۴، رقم: ۴۵۰، ومسلم: ۱\ ۳۷۸، رقم: ۲۴- ۵۳۳.

تشریح: د الله ﷻ لپاره د مسجد جوړولو مطلب دادی چي کوم سړي خاص د الله تعالی د رضا او خوښۍ لپاره مسجد جوړوي نه چي د نامه لپاره یا د ښودني لپاره چي خلک ووایي دا سړی ډیر بزرګ دی نو الله تعالی د هغه په بدله کي د هغه سړي لپاره په جنت کي ځای جوړوي ځکه دا ویل کیږي چي کوم سړی مسجد جوړولو سره پر هغه خپل نوم لیکي چي د تشهیر ذریعه سي نو دا هغه د عدم اخلاص دلیل دی.

په لفظ مسجدا کي عمومیت د تقلیل لپاره دی یعني که څه هم یو سړی مسجد کوچنی جوړ کړي هغه ته به د هغه په بدله کي هم هغسي ورکوي ځرنګه چي د یو لوی او عالیشان مسجد جوړونکي ته یې ورکوي، په یوه روایت کي داسي الفاظ دي اګر که هغه مسجد د مرغه د ځالي په ډول وي. دا د مسجد په تنګوالي او اختصار کي مبالغه ده ددې مطلب دادی چي الله تعالی خو نیت ته ګوري که یو سړي د دنیا د شهرت او ښووني د جذبې څخه لاس په سر کیدو سره یوازي د الله تعالی د رضا او خوښۍ په غرض او د خپل نیت په پوره اخلاص سره مسجد جوړوي نو هغه به په جنت کي د الله له طرف څخه د یوه مکان حقدار وي اګر که د هغه جوړ سوی مسجد څومره کوچني او مختصر وي.

﴿٦٤٦﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ غَدَا

د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي د ورځي په لومړی برخه کي

إِلَى الْمَسْجِدِ أَوْ رَاحَ أَعَدَّ اللّٰهُ لَهُ فِي الْجَنَّةِ نُزُلاً كُلَّمَا غَدَا أَوْ رَاحَ. متفق عليه

یا آخره برخه کي مسجد ته ولاړ سي نو الله تعالی په جنت کي د هغه میلمستیا کوي که هغه سهار ولاړ سي که ماښام. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\۱۴۸، رقم: ٦٦٢ ومسلم: ۱\۴۳، رقم: ۲۸۵- ٦٦٩.

تشریح: په دغه حدیث شریف کي دې ته اشاره ده چي مسجد د الله تعالی کور دی کوم سړی چي مسجد ته ځي نو الله تعالی د خپل زیارت کونکو میلمستیا کوي او د خپل رحمت څخه یې نه جلا کوي، مسجد ته د تلو ډیر نیتونه کیدای سي په هغه کي یو نیت دا هم کیدای سي ددې کتاب په پیل کي حدیث انما الاعمال بالنیات د تشریح په څنګ کي د نیت ددې مسئلې او ددې اقسامو په مفصل توګه سره ذکر سوی دی.

﴿٦٤٧﴾: وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوموسى الاشعري رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

أَعْظَمُ النَّاسِ أَجْرًا فِي الصَّلَاةِ أَبْعَدُهُمْ إِلَيْهَا مَمْشًى فَأَبْعَدُهُمْ وَالَّذِي يَنْتَظِرُ

د لمانځه تر ټولو زيات ثواب هغه چا ته رسيږي چي د هغه كور تر ټولو ليري وي نو ليري دي وي دوى له جهته د راتللو او كوم څوک چي انتظار كوي

الصَّلَاةَ حَتَّى يُصَلِّيَهَا مَعَ الْإِمَامِ أَعْظَمُ أَجْرًا مِنَ الَّذِي يُصَلِّيهَا ثُمَّ يَنَامُ.

متفق عليه

د لمانځه او د امام سره لمونځ وكړي نو د هغه ثواب تر هغه چا زيات دى چي يوازي لمونځ وكړي او بيده سي . بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\۱۳۷، رقم: ٦٥١ و مسلم ۱\٤٦٠، رقم: ۲۷۷- ٦٦۲.

تشريح : د حديث د دوهم جز مطلب دادى چي كوم سړى په لمانځه كي د دې لپاره ځنډ وكړي چي د امام سره لمونځ وكړاى سي نو د هغه سړي لپاره په مقابله كي چي د امام انتظار كولو بغير په تنها لمونځ كولو سره بيده سي كه څه هم هغه په مختار وخت كي لمونځ ولي ادا نه كړي زيات ثواب حاصليږي همداسي يو سړى هغه دى چي په كوچني او مختصر مسجد كي لمونځ كوي يا د يو داسي امام سره لمونځ اداء كوي چي د امامت حق لري او دوهم هغه سړى دى چي د انتظار څخه وروسته په لوى جماعت سره لمونځ كوي يا د داسي امام سره لمونځ اداء كوي چي د امامت حق لري د اول سړي په مقابله كي خصوصا هر كله چي هغه د سستۍ او تلوار په جذبې سره داسي كوي زيات ثواب حاصليږي .

﴿٦٤٨﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ خَلَتِ الْبِقَاعُ حَوْلَ الْمَسْجِدِ فَأَرَادَ بَنُو سَلِمَةَ أَنْ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دى چي مسجد ته نژدې څه ځايونه خالي سول نو راده وكړه د بنو سلمه د قبيلې خلكو

يَنْتَقِلُوا قُرْبَ الْمَسْجِدِ فَبَلَغَ ذٰلِكَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ

چي نقل سي نژدې مسجد ته ، رسول الله ﷺ ته چي دا حال معلوم سو نو و يې فرمايل

لَهُمْ بَلَغَنِي أَنَّكُمْ تُرِيدُونَ أَنْ تَنْتَقِلُوا قُرْبَ الْمَسْجِدِ قَالُوا نَعَمْ يَا رَسُولَ اللهِ

دوى ته: ما ته ښکنده سوې ده چي تاسو مسجد ته د نژدې راتلو اراده لرئ ؟ هغوى وويل: هو، اې دالله رسوله!

قَدْ أَرَدْنَا ذَلِكَ فَقَالَ يَا بَنِي سَلِمَةَ دِيَارَكُمْ تُكْتَبْ آثَارُكُمْ دِيَارَكُمْ تُكْتَبْ آثَارُكُمْ . رواه مسلم

موږ داسي اراده کړې ده رسول الله ﷺ وفرمايل اې بنو سلمه ! تاسو په خپلو زړو کورونو کي اوسئ (مسجد ته په راتلو کي) ستاسو قدمونه په حساب کي ليکل کيږي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۴۶۲ ، رقم: ۲۸۰- ٦٦٥.

تشريح : بنو سلمه انصار د مديني يو خاندان دى ددې خاندان افراد د مسجد نبوي څخه ليري اوسيدل کوم وخت چي مسجد نبوي ته نژدې اوسيدونکو خلکو کي د ځينو خلکو د وفات يا دوهم ځاى ته د تلو په وجه د هغو ځايونه خالي سوه نو بنو سلمه مسجد نبوي ته د نژدې اوسيدو د سعادت په وجه هغه ځايو ته د نقل کېدو اراده وکړه، رسول الله ﷺ چي د هغوى ددغه ارادې څخه خبر سو نو هغوى ته يې وفرمايل چي دا وخت تاسو په کوم ځاى کي ياست هغه ځاى د سعادت او خير په وجه ستاسو لپاره غوره دى ځکه چي تاسو خلک څومره د مسجد څخه ليري ياست مسجد ته د راتلو لپاره به تاسو ته هغومره تلل پکار وي او د لمانځه لپاره چي تاسو څومره زيات قدمونه اخلئ ستاسو په اعمال نامه کي به د هغه په بدله کي زيات ثواب ليکل کيږي ځکه نو خير او بهتري په دې کي ده چي تاسو په خپل پخواني ځاى کي اباد اوسئ.

﴿٦٤٩﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْعَةٌ

د حضرت ابوهريرة ﷛ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : اووه خلک دي چي

يُظِلُّهُمُ اللهُ فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لاَ ظِلَّ إِلاَّ ظِلُّهُ الإِمَامُ الْعَادِلُ وَشَابٌّ نَشَأَ بِعِبَادَةِ اللهِ

الله پاک به يې په هغه ورځ په خپل سايه کي ساتي په کومه ورځ چي د الله ﷻ د سايې څخه پرته

بله سایه نه وي، یو عادل امام، دوهم هغه زلمی چي خپله ځواني د الله ﷻ په عبادت کي تیره کړي

وَرَجُلٌ قَلْبُهُ مُعَلَّقٌ فِي الْمَسَاجِدِ إِذَا خَرَجَ مِنْهُ حَتّٰى يَعُوْدُ إِلَيْهِ وَرَجُلَانِ

دریم هغه سړی چي د هغه زړه د مسجد سره لګېدلی وي کله چي هغه د مسجد څخه راوځي تر څو پوري چي مسجد ته بیرته نه يې تللی نو بې تابه وي، څلورم هغه دوه خلک چي

تَحَابَّا فِي اللّٰهِ اجْتَمَعَا عَلَيْهِ وَتَفَرَّقَا عَلَيْهِ وَرَجُلٌ ذَكَرَ اللّٰهَ خَالِيًا فَفَاضَتْ

یوازي د الله ﷻ لپاره په خپل منځ کي مینه ساتي که یو ځای کیږي نو دالله ﷻ د رضا لپاره او که بیلیږي نو دالله ﷻ د رضا لپاره، پنځم هغه سړی چي په یوازیوالي کي الله ﷻ یادوي او بهیږي

عَيْنَاهُ وَرَجُلٌ دَعَتْهُ امْرَأَةٌ ذَاتَ حَسَبٍ وَّ جَمَالٍ فَقَالَ إِنِّيْ أَخَافُ اللّٰهَ وَرَجُلٌ

سترګي يې د الله ﷻ د ذکر له کبله، شپږم هغه کس چي هغه یو خانداني او ښکلې ښځه د بدي په ارادې سره وغواړي او دی ورته ووايي چي زه د الله ﷻ څخه بیریږم، اووم هغه کس چي

تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ فَأَخْفَاهَا حَتّٰى لَا تَعْلَمُ شِمَالُهُ مَا تُنْفِقُ يَمِيْنُهُ . متفق عليه

داسي په پټه خیرات کوي چي د هغه چپه لاس ته هم څرګنده نه وي چي د هغه راسته لاس څه مصرف کړي دي . بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۱۴۳، رقم: ٦٦٠ ومسلم ۲\۷۱۵ - ۷۱٦، رقم: ۹۱ - ۱۰۳۱.

تشريح: دلته د هغو اوو خوشبختو خلکو وضاحت سوی دی چي د خپل اعمال او کردار په وجه به د قیامت په ورځ د حشر په میدان کي د الله تعالی په سایه کي وي یعني الله تعالی به دغه کسانو ته د رحمت په لمن کي ځای ورکوي او هغوی به د آخرت د سختیو څخه ساتي، ځینو حضراتو ویلي دي چي د الله تعالی د سایې څخه مراد د عرش سایه ده یعني د قیامت په ورځ به هر کله چي ټول خلک پریشان او حیران وي نو دا اووه خلک به د عرش په سایه کي د رحمت خداوندي د سعادتونو څخه برخمن وي .

د حدیث د اخري جملې مطلب دادی چي اووم سړی هغه دی چي د الله تعالی په لار کي او د هغه خوښۍ حاصلولو لپاره خپل مال دومره په پټه طریقې سره خرچ کوي چي هغه په خپل راسته لاس یو سړي ته یو شی ورکوي نو د هغه چپه خوا ته ناست سړی هم نه وي په خبر او داسي د هغه

د پټولو مقصد داوي چي د رياءاو ځان ښودني جذبه پيدا نسي چي د هغه په وجه د ثواب څخه محروم سي . ځينو علماؤ ددې حقيقي معنى مراد اخيستې ده يعني هغه سړى په دومره پټه طريقې سره صدقه او خيرات كوي چي د هغه چپه لاس هم خبر نه وي چي د هغه راسته لاس څا ته څه وركړي دي، په دې صورت كي دا جمله به د پوره پټوالي څخه كنايه وي .

﴿۶۵۰﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلاَةُ الرَّجُلِ فِي

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د سړي لمونځ په

جَمَاعَةٍ تَزِيدُ عَلَى صَلاَتِهِ فِي بَيْتِهِ وَصَلاَتِهِ فِي سُوقِهِ خَمْسًا وَّعِشْرِينَ ضِعْفًا

جماعت سره تر هغه لمونځ چي په كور يا بازار كي يې وكړي پنځه ويشت درجې زيات ثواب لري

وَذٰلِكَ أَنَّهُ إِذَا تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ ثُمَّ خَرَجَ إِلَى الْمَسْجِدِ لاَيُخْرِجُهُ إِلاَّ

او دا په دې وجه چي هغه اودس وكړ او په ښه ډول يې اودس وكړ بيا د مسجد په لور يوازې د لمانځه په نيت ولاړ ى

الصَّلاَةُ لَمْ يَخْطُ خَطْوَةً إِلاَّ رُفِعَتْ لَهُ بِهَا دَرَجَةٌ وَحُطَّ عَنْهُ بِهَا خَطِيئَةٌ فَإِذَا

نو كوم قدم چي هغه د مسجد په لور ايږدي د هغه هر قدم په بركت به د هغه درجه لوړيږي او ددې په سبب به د هغه ګناه ليري كيږي بيا چي هغه

صَلَّى لَمْ تَزَلِ الْمَلاَئِكَةُ تُصَلِّي عَلَيْهِ مَا دَامَ فِي مُصَلاَّهُ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَيْهِ اللّٰهُمَّ

لمونځ كوي نو تر څو پوري چي په لمانځه كي بوخت وي ملائكي د هغه لپاره دا دعاء كوي : اللهم صل عليه اللهم ارحمه : اې الله دا سړى و بخښې اې الله

ارْحَمْهُ وَلاَيَزَالُ أَحَدُكُمْ فِي صَلٰوةٍ مَا انْتَظَرَ الصَّلٰوةَ وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ إِذَا دَخَلَ

پر ده رحم وكړې، او تر څو پوري چي تاسو د لمانځه په انتظار كي ياست تر هغو پوري ستاسو وخت په لمانځه كي شميرل كيږي ، په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي كوم وخت داخل سي

الْمَسْجِدَ كَانَتِ الصَّلاَةُ تَحْبِسُهُ وَزَادَ فِي دُعَاءِ الْمَلاَئِكَةِ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهُ اللّٰهُمَّ

مسجد ته او هلته د لمانځه له کبله انتظار کوئ او د ملائکو په دعاء کي دا الفاظ زيات دي :
اللهم اغفرله، اې الله دی و بخښې اې الله!

تُبْ عَلَيْهِ مَالَمْ يُؤْذِفِيهِ مَالَمْ يُحْدِثْ فِيهِ. متفق عليه

دده توبه قبوله کړې ، تر څو چي دی په مسجد کي چا ته تکليف ور نه کړي او تر څو پوري چي اودس يې مات نه سي . بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۱۳۱، رقم: ۶۴۷، ومسلم ۱\۴۵۹، رقم: ۲۷۲- ۶۴۹.

تشريح : د دې حديث څخه دا معلومه سوه چي تر پنځه ويشت درجې زيات فضيلت هغه وخت حاصليږي کله چي لمونځ په جماعت سره په مسجد کي وکړل سي د حديث د اخري برخي مطلب دادی چي ملائکي د لمانځه کونکي په حق کي د الله تعالی د رحمت او برکت دعا تر هغه وخته پوري کوي تر څو چي هغه مسلمانانو ته په خپل يو عمل يا قول سره شر ونه رسوي ګويا د ملائکو د دعا کولو په حق کي دا حديث معنوي دی ددې وروسته د حدث ښکاره ذکر سوی دی چي تر څو پوري لمونځ کونکی په اوداسه وي يعني که يو لمونځ کونکی يو مسلمان ته تکليف و رسوي يا د هغه اودس مات سي نو ملائکي د هغه لپاره د رحمت او برکت او مغفرت دعا نه کوي .

او د دې څخه دا هم معلومه سوه چي د ملائکو د دعا فضيلت هغه وخت حاصليږي کله چي لمونځ کونکی په لمانځه کولو سره هلته پر مصلی باندي ناست وي او د هغه ځايه څخه په پورته کيدو سره که په دوهم ځای کي کښيني نو دا فضيلت نه حاصليږي .

ځيني مشائخ او بزرګان په لمونځ کولو سره د رياء او ځان ښوونې د بيري څخه د مصلی څخه ولاړ سي او پر کټ وغيره باندي په ناسته سره په ذکر او تسبيح کي مشغوليږي اګر که د هغوی نيت صحيح او د هغوی دا طريقه قابل جزا او انعام ده چي هغوی ته د ذکر او تسبيح فضيلت حاصليږي نو په لمونځ کولو سره پر مصلی د ناستي چي کوم فضيلت دی هغه هغوی ته نه حاصليږي .

﴿۶۵۱﴾ : وَعَنْ اَبِيْ اُسَيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا دَخَلَ

د حضرت ابو اسيد[1] رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي داخل سي

۱- د مالک بن ربيعه زوی او ساعدي انصاري دی ، نوموړی په بدري صحابه کرامو کي شامل دی او تر ټولو وروسته په (۶۰هـ) کي د (۸۷) کالو په عمر وفات سوی دی

أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيَقُلْ اللَّهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ وَإِذَا خَرَجَ فَلْيَقُلْ

په تاسو كي يو څوک مسجد ته نو هغه ته پكار دي چي دا دعاء وكړي (اې الله د خپل رحمت دروازې را باندي خلاصي كړه) او كله چي د مسجد څخه د باندي وځي نو دا كلمات دي وايي

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ. رواه مسلم

(اې الله زه ستا څخه ستا فضل غواړم). مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱\ ۴۹۴، رقم: ۶۸ - ۷۱۳.

تشريح: د اولي دعا مطلب خو دادی چي اې الله د دې مقدس او محترم ځاي له بركته يا خو په دې مسجد كي د لمانځه كولو د توفيق راكولو په وجه يا د لمانځه د حقائقو ښكاره كولو په وجه پر ما د خپل رحمتونو، نازونو او نعمتونو دروازې خلاصي كړې په دويمي دعا كي د فضل څخه مراد حلال رزق دی ځكه چي د لمانځه څخه د فارغيدو وروسته بنده د معيشت د اسباب په لټون كي مشغوليږي.

《۶۵۲》: وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا دَخَلَ

د حضرت ابو قتادة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر كله چي داخل سي

أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ يَجْلِسَ. متفق عليه

په تاسو كي يو څوک مسجد ته نو هغه ته پكار ده چي د ناستي څخه وړاندي دوه ركعته لمونځ وكړي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱\ ۵۳۷، رقم: ۴۴۴، ومسلم ۱\ ۴۹۵، رقم: ۶۹ - ۷۱۴.

تشريح: دا حديث د امام شافعي رحمة الله عليه د مذهب دليل دی هغه وايي چي تحية المسجد يعني په مسجد كي د داخليدو وروسته دوه ركعته لمونځ كول واجب دي ځكه چي په دې حديث كي امر د وجوب لپاره دی د حنفيه په نزد تحية المسجد واجب نه دی مستحب دی ځكه هغه حضرات وايي چي دلته امر يعني حكم د وجوب لپاره نه دی بلكه د استحباب لپاره دی.

﴿۶۵۳﴾: وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَقْدَمُ

د حضرت كعب بن مالك رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به نه راستنېدی

مِنْ سَفَرٍ إِلَّا نَهَارًا فِي الضُّحَى فَإِذَا قَدِمَ بَدَأَ بِالْمَسْجِدِ فَصَلَّى فِيهِ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ جَلَسَ فِيهِ. متفق عليه

د سفر څخه مګر د ورځي د څاښت په وخت کي به راتلی او تر ټولو وړاندي به مسجد ته تلی او دوه رکعته لمونځ به يې کوی او بيا به په مسجد کي لږ وخت ناست وو . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۹۳\۶، رقم: ۳۰۸۸، ومسلم ۱\۴۹۶، رقم: ۷۴-۷۱۶.

تشريح: د سفر څخه په ستنېدو به رسول الله ﷺ په مسجد کي دوه رکعته لمونځ کولو سره به هلته د لږ ګړي لپاره ناست وو چي صحابه کرام چي د رسول الله ﷺ د نه شتون په وجه به د رسول الله ﷺ د صحبت څخه محروم وه دلته به د رسول الله ﷺ د ملاقات شرف او د خدمت سعادت حاصل کړل سي ددې حديث څخه دا معلومه سوه چي د مسافر لپاره دا مستحب ده چي د سفر څخه د ستنېدو په وخت کور ته د تلو څخه مخکي اول مسجد ته په راتلو سره لونځ وکړي او د لږ ګړي لپاره هلته کښيني .

﴿۶۵۴﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَمِعَ .

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي واوري

رَجُلًا يَنْشُدُ ضَالَّةً فِي الْمَسْجِدِ فَلْيَقُلْ لَا رَدَّهَا اللّٰهُ عَلَيْكَ فَإِنَّ الْمَسَاجِدَ لَمْ تُبْنَ لِهٰذَا. رواه مسلم

چي يو څوک خپل ورک سوی شی په مسجد کي لټوي نو هغه ته پکار ده چي دا ووايي چي الله دي د هغه شي نه پيدا کوي ځکه چي مسجد ونه ددې لپاره نه دي جوړ سوي . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۱\۳۹۷، رقم: ۷۹-۵۶۸.

تشريح: په دې اړه په ښکنده خو دا معلومېږي چي پر داسي موقع باندي دا کلمې د هغه سړي د تنبيه او توبيخ لپاره يوازي په ژبي سره اداء کړل سي په زړه سره دي بله دعاء نه کوي او نه په

حقیقت کي دا خواهش وي چي د مسلمانان ورک سوی شی دي هغه ته تر لاسه نسي او که يو سړی په حقیقت کي د زړه خواهش لري چي دا سړي ته دي ورک سوی شی حاصل نسي چي د راتلونکي لپاره هغه ته عبرت وي او د خپل نا مناسب کار سزا ومومي او دا چي بیا اینده هغه داسي حرکت و نه کړي نو تر یو حده پوري دا صحیح ده.

په دې اړه د مسجد د عظمت او تقدس تقاضا داده چي یوازي د ورک سوي شي د لټولو تخصیص نه دی بلکه هر هغه شی چي ممنوع دی هغه اختیارول د مسجد د بناء او غرض خلاف وي لکه رانیول، خرڅول او داسي نور، د سلفو د زمانې ځیني علماء په دې وجه چي مسجدونه یوازي د الله تعالی د عبادت لپاره وي د بل يو مقصد د تکمیل لپاره نه وي نو په مسجد کي يو سوالگر ته صدقه وغیره ورکول هم روا نه گڼي.

﴿۶۵۵﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَكَلَ مِنْ

د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ و فرمایل: کوم څوک چي وخوري له

هٰذِهِ الشَّجَرَةِ الْمُنْتِنَةِ فَلَا يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَأَذَّى مِمَّا يَتَأَذَّى مِنْهُ الْإِنْسُ. متفق عليه

د بدبویه شیانو څخه یو شی و خوري (یعني وږه، پیاز وغیره) نو هغه دي زموږ مسجد ته نژدې نه راځي ځکه چي ملائکو ته هم د هغه شي څخه تکلیف رسیږي کوم چي انسان ته رسیږي.
بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۲\۳۳۹، رقم: ۸۵۴، ۸۵۵ ومسلم: ۱\۳۹۴، رقم: ۷۲-۵۶۳.

د لغاتو حل: (الْمُنتِنَة): ای الثوم (وږه).

تشریح: مطلب دادی چي څرنگه بدبویه شی انسان ته تکلیف رسوي همداسي ملائکي هم په هغه سره تکلیف محسوسوي نو مسلمانانو ته دا پکار ده چي هغوی پیاز، وږه او داسي بل شي په خوړلو سره مسجد ته نه راځي ځکه چي مسجدونه د ملائکو د راتلو ځایونه دي ځکه هغوی ته به تکلیف وي په دې حکم کي هر هغه شي داخل دی چي بدبویه وي د هغه تعلق که د خوراک، څیښاک سره وي یا د هستوگني سره مثلا د خولې غلاظت او بدبویي د بغل وغیره گندگي او تعفن وغیره بیا د مسجد په ډول د نورو ځایونو هم دا حکم دی کوم ځای چي مجالس عبادت او

وعظ منعقد كيږي يا چيري چي د قرآن كريم او حديث تعليم كيږي يا چيري چي د ذكر او تسبيح حلقې وي چي په دې ځايونو كي په بدبويي راتللو سره تلل نه دي پكار.

﴿۶۵۶﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبُزَاقُ فِي

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تُوكل په

الْمَسْجِدِ خَطِيئَةٌ وَكَفَّارَتُهَا دَفْنُهَا. متفق عليه

مسجد كي ګناه ده او ددې كفاره داده چي هغه ښخ كړل سي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱\ ۵۱۱، رقم: ۴۱۵ ومسلم ۱\ ۳۹۰، رقم: ۵۵- ۵۵۲.

تشريح: د مسجد د تقدس او احترام تقاضا داده چي هلته دي په توكلو سره نجاست او مرداري خپره نسي او كه اتفاقا داسي غلطي وسي نو ددې ګناه د دفع طريقه داده چي هغه توک دي په مځكه غور ځولو سره ښخ كړل سي.

﴿۶۵۷﴾: وَعَنْ اَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُرِضَتْ عَلَيَّ

د حضرت ابوذر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: وړاندي سول ما ته

أَعْمَالُ أُمَّتِي حَسَنُهَا وَسَيِّئُهَا فَوَجَدْتُ فِي مَحَاسِنِ أَعْمَالِهَا الْأَذَى يُمَاطُ عَنْ

زما د امت نيک او بد اعمال نو ما د هغوی په نيكو اعمالو كي وليدل ليري كول د تكليف وركوونكي شي د

الطَّرِيقِ وَوَجَدْتُ فِي مَسَاوِي أَعْمَالِهَا النُّخَاعَةَ تَكُونُ فِي الْمَسْجِدِ لَا تُدْفَنُ.

رواه مسلم

لاري څخه او په بدو اعمالو كي په مسجد كي توكل چي هغه ښخ كړل سوي نه وه. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱\ ۳۹۰، رقم: ۵۷- ۵۵۴.

د لغاتو حل: (النخاعة): البَزقة التي تخرج من اقصى الحلق. (بلغم).

﴿۶۵۸﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كله چي ودريږي

أَحَدُكُمْ إِلَى الصَّلاَةِ فَلاَ يَبْصُقْ أَمَامَهُ فَإِنَّمَا يُنَاجِي اللهَ مَا دَامَ فِيْ مُصَلاَّهُ وَ

په تاسو كي يو څوک د لمانځه لپاره نو هغه دي خپل مخ ته نه توكي ځكه چي تر څو پوري هغه د لمانځه په حالت كي وي نو هغه خداى ته مخاطب دى ، او

لاَ عَنْ يَمِيْنِهِ فَإِنَّ عَنْ يَمِيْنِهِ مَلَكًا وَلْيَبْصُقْ عَنْ يَسَارِهِ أَوْ تَحْتَ قَدَمَيْهِ

نه دي راسته لوري ته توكي ځكه چي دېخوا ته ملائكي وي بلكه چپه لوري ته دي توكي يا د قدمونو لاندي

فَيَدْفِنُهَا . وفي رواية أبي سعيد تحت قدمه اليسرى . متفق عليه

او بيا دي هغه ښخ كړي او د ابوسعيد په روايت كي دا الفاظ دي چي د چپه قدم لاندي دي توكي . بخاري او مسلم .

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱ \ ۵۱۲، رقم: ۴۱۶، ومسلم ۱۱ \ ۳۸۹، رقم: ۵۳- ۵۵۰.

تشريح : په دې حديث كي لمونځ كونكي ته د هغه سړي سره تشبيه وركړل سوې ده چي د خپل مالک مخ ته په دريدو سره په غوږ كي خبري كوي څرنګه چي په داسي ځاى كي هغه سړى د خپل مالک د عزت او احترام ټول آداب ملحوظ ساتي همداسي د لمونځ كونكي لپاره هم واجب ده چي كله هغه د خپل پروردګار حقيقي په مخكي د لمانځه لپاره ودريږي نو د حضورى د ټولو شرائطو او آدابو پوره پوره خيال دي ساتي او په دې اړه يو اهم ادب دادى چي مخ ته دي نه توكي اګركه د خداوند قدوس پاک ذات د جهت او خوا د قيود څخه پاک دى خو مخته د نه توكلو قيد لګولو سره د اداب حضورى سره لار روښانه كيږي چي د پروردګار عالم په دربار كي د حاضرۍ په وخت كي داسي يو طريقه اختيار نه كړي چي د رب ذوالجلال د شان عظمت او كبريايي خلاف وي .

د ملائكي څخه مراد يا خو د كراما كاتبين څخه پرته هغه ملائكه ده چي په خاص توګه سره د لمانځه په وخت كي د لمونځ كونكي تائيد كوي او د هغه رهبري كوي او د هغه پر دعا

آمين ويلو كي حاضري وي نو پر لمونځ كونكي باندي واجب ده چي ددغه ملائكي د ميلمستيا د خيال كولو سره كراما كاتبين څخه زيات ددې اكرام او احترام وكړي ځكه چي كراما كاتبين خو هر وخت ورسره وي او ددې د احترام او اكرام شكل دا كيداى سي چي د لمانځه په دوران كي خپل راسته خوا ته نه توكي ځكه دا ملائكه دې خوا ته وي.

او يا د ملائكي څخه مراد كراما كاتبين دي په دې صورت كي به دا وويل سي چي رسول اللهﷺ راسته خوا ته د توكلو څخه ځكه منعه فرمايلې ده چي دا ښكاره خبره ده چي د راسته خوا ملائكه چي د بنده نيک اعمال ليكي د چپه خوا پر ملائكي چي بد اعمال ليكي د مرتبې په لحاظ زياته افضله ده ځرنګه چي راسته خوا د چپې خوا څخه افضله وي يا د رحمت ملائكه د عذاب د ملائكي څخه زياته افضله ده.

﴿۶۵۹﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِيْ مَرَضِهِ الَّذِيْ

د حضرت عائشي ﵂ څخه روايت دى چي رسول اللهﷺ په مرض الموت كي وفرمايل:

لَمْ يَقُمْ مِنْهُ لَعَنَ اللهُ الْيَهُوْدَ وَالنَّصَارٰى اتَّخَذُوْا قُبُوْرَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ.

متفق عليه

پر يهودو او نصاراوو دي د الله لعنت وي چي هغوى د خپل انبياؤ قبرونه د سجدو ځايونه جوړ كړل. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\ ۱۴۰، رقم: ۴۴۴۳ و ۴۴۴۴ و مسلم ۱\ ۳۷۷، رقم: ۲۲- ۵۳۱.

تشريح: د رسول اللهﷺ د ژوند پيمانه چي ډكه سوه او رسول اللهﷺ ته دا يقين سو چي اوس ددې دنيا څخه د رخصتئ په حالت كي دى نو رسول اللهﷺ ددې بيري څخه چي زما امت هم د يهوديانو او عيسائيانو په شان قبرونه سجده ګاه جوړ نه كړي ددې خراب فعل د ممانعت اظهار د يهوديانو او عيسائيانو باندي په لعنت كولو سره يې وفرمايل ځكه چي ددې امتونو خلك د خپل انبياؤ پر قبرونو سجده كوي، قبرونه سجده ګاه جوړول په دوو طريقو سره كيږي يو خو دا چي صاحب قبر يا محض د قبر د عبادت او پرستش مقصد سره قبرونو باندي سجده وكړل سي ځرنګه چي بت پرست د بتانو عبادت كوي دوهمه طريقه داده چي سجده خو قبر ته وكړل سي خو د هغه مقصد دا وي چي د الله تعالى عبادت او پرستش وي او اعتقاد وي چي همداسي د قبر خواته لمونځ كول او سجده كول په حقيقت كي د حقيقي پروردګار عبادت كول دي او دا چي په

دې طريقه سره د پروردګار رضا او خوښي حاصليږي او د هغه نزديکت تر لاسه کيږي دا دواړي طريقې خو ښکاره کفر او شرک دي دوهمه طريقه هم حرامه ده ځکه چي په دې کي د الله تعالی په بندګۍ او عبادت کي دوهم شريکول لازميږي اګر که شرک خفي دی دا دواړي طريقې د الله تعالي د لعنت سبب دي.

په دې خبره هم پوه سه چي د نبي ﷺ قبر يا د يو بزرګ او ولي د قبرو خوا ته د تعظيم له مخي لمونځ کول حرام دي په دې کي د هيچا اختلاف نسته.

﴿۶۶۰﴾: وَعَنْ جُنْدُبٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ أَلَا وَإِنَّ

د حضرت جندب ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : خبردار اوسئ

مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ كَانُوا يَتَّخِذُونَ قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ وَصَالِحِيهِمْ مَسَاجِدَ أَلَا

ستاسو څخه وړاندي چي کوم خلک وه هغوی د خپلو پيغمبرانو او بزرګانو قبرونه د سجدو ځايونه جوړ کړل، خبردار اوسئ!

فَلَا تَتَّخِذُوا الْقُبُورَ مَسَاجِدَ إِنِّي أَنْهَاكُمْ عَنْ ذَلِكَ . رواه مسلم

تاسو د قبرو څخه د سجدې ځايونه جوړ نه کړئ زه تاسو د دې څخه منعه کوم. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۱\ ۳۷۸، رقم: ۲۳- ۵۳۲.

﴿۶۶۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابن عمر ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

اِجْعَلُوا فِي بُيُوتِكُمْ مِنْ صَلَاتِكُمْ وَلَا تَتَّخِذُوهَا قُبُورًا. متفق عليه

: په خپلو کورونو کي هم يو څه لمنځونه کوئ او د کورو څخه قبرونه مه جوړوئ .بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱\ ۵۲۸- ۵۲۹، رقم: ۴۳۲ و مسلم ۱\ ۳۸ رقم: ۲۰۸- ۷۷۷.

تشريح : د کورونو څخه د قبرونو جوړولو مطلب دادی چي په خپلو کورونو کي قبرونه مه جوړوئ او خپل يو مړی په کور کي مه ښخوئ ددې څخه مراد دادی چي قبرونه د کور په ډول مه ګڼئ يعني څرنګه چي د يو حاجت او ضرورت په وخت کي خلک د خپلو کورونو په خوا ئي

چي هغه حاجت او ضرورت پوره کړل سي همداسي که چاته يو حاجت او ضرورت پيښ وي نو هغه دي د قبرونو خواته نه ځغلي او د صاحب قبر څخه دي مرادونه نه غواړي بلکه که څه حاجت او ضرورت سي نو د الله تعالی څخه دي هر څه غواړي او د هغه مخکي دي د سوال لاس اوږد وي چي ټول خلک د هغه محتاج سي تر دې چي پير او صاحب قبر حاجت روا (مرادونه پوره کونکی) وګڼل سي هغه هم د الله د رحم او کرم او د فضل محتاج دی يا بيا ددې څخه مراد دادی چي څرنګه په هديرو کي لمونځ نه کيږي همداسي خپل کورونه هم د الله تعالی د ذکر څخه خالي مه پريږدئ بلکه په کورونو کي هم لمنځونه کوئ چي د لمانځه او ذکر الله د برکته په کور کي رحمت خداوندي نازليږي ځکه علماء ليکي چي د فرض لمانځه څخه پرته سنت او نوافل وغيره د مسجد په نسبت په کورونو کي کول زيات افضل دي .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

﴿۶۶۲﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ قِبْلَةٌ . رواه الترمذي .

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په منځ کي د ختيځ او لويديځ قبله ده . ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۲\۱۷۳، رقم: ۳۴۴.

تشريح : ددې حديث تعلق د مدينې منورې د اوسيدونکو سره دی ځکه چي د مدينې منورې مخکي قبله جنوب ته واقع وه او ددې حديث تعلق د هغه اطرافو د خلکو سره دی چي د هغوی قبله د مدينې منورې مطابق جنوب ته واقع ده نو ددې اعتبار څخه ددې خلکو به قبله د مشرق او مغرب په منځ کي وه .

﴿۶۶۳﴾: وَعَنْ طَلْقِ بْنِ عَلِيٍّ قَالَ خَرَجْنَا وَفْدًا إِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت طلق بن علي رضي الله عنه څخه روايت دی چي موږ د يو جماعت په صورت کي د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو

وَسَلَّمَ فَبَايَعْنَاهُ وَصَلَّيْنَا مَعَهُ وَأَخْبَرْنَاهُ أَنَّ بِأَرْضِنَا بِيْعَةٌ لَّنَا فَاسْتَوْهَبْنَاهُ مِنْ

او د رسول الله ﷺ پر لاس مو بيعت وکړ او د رسول الله ﷺ سره مو لمونځ وکړ بيا موږ د نصاراوو د عبادت خانو په اړه د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه (چې هغه ماتي کړو که يا) بيا موږ وغوښتلې

فَضْلِ طُهُوْرِهٖ فَدَعَا بِمَاءٍ فَتَوَضَّأَ وَتَمَضْمَضَ ثُمَّ صَبَّهُ فِيْ إِدَاوَةٍ وَّأَمَرَنَا فَقَالَ

د رسول الله ﷺ د اودس څخه پاته سوي اوبه رسول الله ﷺ اوبه را وغوښتلې اودس يې وکړ بيا يې په پاته اوبو سره خوله مبارکه پريولل او د خولې اوبه يې په اوبو کې واچولې او د هغه اوبو څخه يې زموږ پتک ډک کړل بيا يې حکم راکړ او وه يې فرمايل :

اخْرُجُوْا فَإِذَا أَتَيْتُمْ أَرْضَكُمْ فَاكْسِرُوْا بِيْعَتَكُمْ وَانْضَحُوْا مَكَانَهَا بِهٰذَا الْمَاءِ

اوس تاسو ولاړ سئ او کوم وخت چې تاسو خپل ښار ته ورسيږئ د نصاراوو عبادت خانې ونړوئ او پر هغه ځای دا اوبه وپاشئ

وَاتَّخِذُوْهَا مَسْجِدًا قُلْنَا إِنَّ الْبَلَدَ بَعِيْدٌ وَالْحَرُّ شَدِيْدٌ وَالْمَاءُ يُنْشَفُ فَقَالَ

او هلته مسجد جوړ کړئ ، موږ وويل: زموږ ښار ډير ليري دی او سخته ګرمي ده او به وچې سي ، رسول الله ﷺ وفرمايل :

مُدُّوْهُ مِنَ الْمَاءِ فَإِنَّهُ لَا يَزِيْدُهُ إِلَّا طِيْبًا . رواه النسائي .

په دې کي نوري اوبه واچوئ زياتي يې کړئ په دې سره به د هغه په پاکۍ او برکت کي زياتوالی وسي . نسائي

تخريج: سنن النسائي: ۲\۳۸-۳۹، رقم: ۷۰۰.

د لغاتو حل : (بِيعة): معبد النصارى: (د نصاراوو د عبادت ځای).(مُدُوه): ای زيدوا ماء علی فضل ماء الوضوء. (يعني اوبه ورزياتي کړئ).

تشريح : بيعة د نصاراوو عبادت خانې ته وايي چې موږ ورته ګرجا وايو دا حضرات چې د رسول الله ﷺ په خدمت کي په حاضريدو سره په اسلام مشرف سوي وه د نصاری قوم څخه وه هر کله چې دا خلک د ايمان او اسلام په دولت سره مشرف سوي وه نو د هغوی خواهش وسو چې خپله بيعه د اول مذهب يادګار او عبادت ګاه دي ماته کړل سي او ددې پر ځاي دي د برکت حاصلولو لپاره رسول الله ﷺ پاته سوي او د خولې مبارکي څخه وتلي مقدسي اوبه وپاشل سي

چي په دې ځاي كي د يو دوهم مذهب د عبادت ګاه كيدو په وجه چي هلته د كفر او شرک كوم جراثيم پيدا سوي دي هغه ددې او بو له بركته ختم سي او هلته د دين اسلام فيوض او بركات خپاره سي، نو په لفظ د (فاستوهبناه) كي دغه طرف ته اشاره ده .

د حديث د اخري جملې مطلب دادى چي كه چيري د ګرمۍ د شدت او اوږده مسافت په وجه دا اوبه وچي سي او تاسو ددې خبري بيره لرئ چي منزل مقصود ته په رسيدو سره به دا اوبه وچي سي نو په دې اوبو كي دي نوري اوبه ګډي ګړل سي مګر ددې څخه دا مه ګڼئ چي نوري اوبه په يو ځاى كولو سره بهٔ د هغو اوبو بركت او فضيلت ختم سوي دي يا كم سوي دي بلكه يا خو اولي اوبه چي په پتک كي وي وروسته اچول سوي په هغو اوبو كي خير اوبركت زيات كړي يا وروسته اچول سوي په هغه دويمي اوبو كي د الله تعالى له طرفه د اشرف او فضيلت پيدا سي چي د هغه په وجه به په پتک كي موجود په مخكني اوبو كي نور خير او بركت زيات سي دا حديث پر دې خبره دلالت كوي آب زمزم باعث د خير او بركت ګڼل او بيا هغه د تبرک په توګه بل ځاى ته وړل جائز دي .

او پر دې قياس كيداى سي چي د مسلمانانو مشائخو او اولياء الله پاته خوراک او ځيښاک يا د هغوى د بدن كښېل سوي كالي د خير او بركت باعث ګڼل او هغه په متبرک ګڼلو سره استعمال يې جائز دى په دې شرط چي په هغه كي د شريعت څخه زيات تجاوز نه وكړي يعني څومره شيان په متبرک او مقدس ګڼلو سره د هغوى د حد څخه زيات تعظيم او تكريم يا نعوذ باالله د هغوى عبادت كول پيل نه كړي .

﴿۲۶۴﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أَمَرَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِبِنَاءِ

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ موږ ته حكم راكړى دى د جوړولو

الْمَسْجِدِ فِي الدُّوْرِ وَأَنْ يُّنَظَّفَ وَيُطَيَّبَ . رواه أبو داود والترمذي وابن ماجه

د مسجدونو په خپلو سيمو كي اودا چي پاک او صاف اوسو او خوشبويي لګوو. ابوداؤد، ترمذي او ابن ماجه.

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\ ۳۱۴، رقم: ۴۵۵، والترمذي ۲\ ۴۸۹، ۴۹۰، رقم: ۵۹۴، و ۵۹۶ وابن ماجه ۱\ ۲۵۰، رقم: ۷۵۸

تشريح : ددې حديث څخه دا معلومه سوه چي په كليو كي مسجدونه جوړول ډير ضروري دي ځكه چي د مسجدونو قيام نه يوازي دا چي د مسلمانانو د ديني او مذهبي حيثيت او قوم

بيداري ثبوت دی بلکه د هغه په وجه پر اهل محله باندي د الله تعالی رحمتونه نازليږي مګر په دې خبره پوه سه چي د مسجدونو صرف جوړول د ايماني حرارت، ديني او مذهبي بيداری ثبوت نه دي بلکه ضروري ده چي مسجدونه آباد هم وساتل سي هلته هيڅ ډول نجاست او مرداري اچول نه دي پکار او نه يې هلته پرېښودل پکار دي او هغه دي په ګربتۍ، عطر وغيره سره هم ښه وساتل سي او ددې شيانو کولو په وخت ددې محترم ځای د تعظيم او تکريم په نيت وکړل سي او دا نيت دي هم وکړل سي چي د پاکۍ او صفايي او خوښي په وجه مسجد ته راتلونکي ملائکي او مسلمانان ورونه خوشحاله سي نو په ثواب کي به يې ډير زياتوب وسي.

﴿٦٦٥﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

مَا أُمِرْتُ بِتَشْيِيدِ الْمَسَاجِدِ. قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لَتُزَخْرِفُنَّهَا كَمَا زَخْرَفَتِ الْيَهُودُ وَالنَّصَارٰى. رواه أبو داود.

ما ته د مسجدونو د لوړولو او ښکلي کولو حکم نه دی سوی، مګر ابن عباس ويلي دي چي تاسو به د مسجدونو زينت (ښکلا) کوئ لکه څرنګه چي يهود او نصارا د خپلو عبادت خانو زينت کوي. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داؤد ١\ ٣١٠، رقم: ۴۴۸.

د لغاتو حل: (بِتَشْيِيد): ای برفعها و تجصيصها: (لوړول او رنګول). مرقات.

تشريح: زخرف وايي علماؤ ته او د يو شي پوره خوشبويي ته، د حضرت ابن عباس رضي الله عنه د ارشاد مطلب دادی چي خلک به په مسجدونو کي نقش و نګار کوي او د هغه پر دروازو او ديوالو باندي به سره زر ايږدي، د حضرت ابن عباس رضي الله عنه دا قول د رسول الله ﷺ څخه وروسته د انساني عادت سره سم د افعالو خبر ورکولو مترادف دی يعني په راتلونکي کي به داسي خلک پيدا سي چي مسجدونه به ښکلي کوي او نقش ونګار به کوي حالانکه د هغوی طريقه به خلاف سنت وي ځکه چي اسلام د سادګۍ پسند فطرت دی د دا ډول شيانو محتمل نسي کيدای، دوهم دا چي په دې طريقې سره د يهود او نصاراو مشابهت کيږي. متاخرين علماء د مسجدو د ښکلا او نقش ونګار اجازه ورکړې ده او ويلي يې دي چي خلک خپل سرايونه لوړ جوړوي او

هغه منقش او مزين كوي كه مسلمانان خپل مسجدونه د لرګو او خاورو څخه بالكل ساده جوړ كړي نو كيداى سي چي د عوامو په نظر كي د هغه وقعت او عظمت نه وي ځكه د مسجدونو په داسي طريقې سره د جوړولو اجازه وركړل سوې ده چي د او سنۍ زمانې په معيار وقيع او محترم وګڼل سي.

مسجد نبوي د رسول الله ﷺ په زمانه كي بالكل ساده او اوم جوړ سوى وو، ديوالونه يې د خښتو او بام يې د خرماو د ښاخو څخه وو او د هغه ستني د خرماد لرګي وې بيا چي حضرت عمر رضي الله عنه هغه دوهم وار جوړ كړ نو هغه هم بالكل هم هغسي مسجد ساده وساتى، ددې څخه وروسته حضرت عثمان رضي الله عنه د خپل خلافت په زمانه كي دا مسجد په نوي ډول جوړ كړ، هغه نه يوازي دا چي مسجد پراخ جوړ كړ بلكه د هغه په ديوالونو كي يې منقش ډبري او بام يې د لرګيو څخه جوړ كړ، همداسي مسجد نبوي د رسول الله ﷺ د زمانې په مقابله كي ډير لوى او ښكلي سو.

﴿۶۶۶﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ مِنْ أَشْرَاطِ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د نښو څخه

السَّاعَةِ أَنْ يَّتَبَاهِيَ النَّاسُ فِي الْمَسَاجِدِ.

رواه أبو داود والنسائي والدارمي وابن ماجه.

د قيامت يوه دا هم ده چي په مسجدونو به خلك فخر كوي. ابوداؤد، نسائي، دارمي او ابن ماجه

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\ ۳۱۱، رقم: ۴۴۹ والنسائي ۲\ ۳۲، رقم: ۶۸۸ وابن ماجه ۱\ ۲۴۴، رقم: ۷۳۹ والدارمي ۱\ ۳۸۳، رقم: ۱۴۰۸.

تشريح: مطلب دادى چي قيامت ته نژدې خلك به لوى لوى مسجدونه جوړوي او هغه به ښكلي كوي او د هغه څخه به د خلكو مقصد دا وي چي او د هغوى نيت به خالصا لله نه وي بلكه د هغوى مقصد به دا وي چي هغوى په لوى فخر سره خپل دا كارنامه د دنيا مخته وړاندي كوي او دنيا والا په د دوى تعريف وكړي.

﴿۶۶۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُرِضَتْ عَلَيَّ أُجُوْر

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ماته وړاندي سوه ثوابو

أُمَّتِيْ حَتَّى الْقَذَاةُ يُخْرِجُهَا الرَّجُلُ مِنَ الْمَسْجِدِ وَعُرِضَتْ عَلَيَّ ذُنُوْبُ أُمَّتِيْ

زما د امت تر دې چي د مسجد څخه د خاشو او ګرد ليري کولو ثواب هم، او زما په وړاندي زما د امت ګناهونه وړاندي کړل سول

فَلَمْ أَرَ ذَنْبًا أَعْظَمُ مِنْ سُوْرَةٍ مِّنَ الْقُرْآنِ أَوْ آيَةٍ أُوْتِيَهَا رَجُلٌ ثُمَّ نَسِيَهَا.

رواه الترمذي وأبو داود.

په هغو کي ما ته د دې څخه لويه ګناه په نظر نه راغلل چي د چا د قرآن کريم يو سورت يا يو آيت په ياد وي بيا يې هير کړي .ترمذي او ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\۳۱٦، رقم: ۴٦۱ والترمذي ۵\۱٦۲، رقم: ۲۹۱٦.

تشريح: د يو چا د قرآن کريم سورت يا ايت ياد کيدل د الله تعالى لوى نعمت دى او چاچي د يادولو وروسته هير کړو ګويا هغه سړى د دې لوي نعمت سخته بې قدري او ناشکري وکړه او د دې قدر يې و نه پيژندى نو داسي سړى بهٔ سخت ګناه کار سي .

﴿٦٦٨﴾: وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: بَشِّرِ

د حضرت بريدة رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زيرى ورسوه

الْمَشَّائِيْنَ فِي الظُّلَمِ إِلَى الْمَسَاجِدِ بِالنُّوْرِ التَّامِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رواه الترمذي وأبو داود. ورواه ابن ماجه عن سهل بن سعد وأنس.

هغه خلکو ته چي په تياره کي د مسجدو په لوري ځي ، د قيامت په ورځ به هغوى ته پوره رڼا په برخه وي . (ترمذي، ابوداؤد)

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\۳۷۹، رقم: ۵٦۱ والترمذي ۱\۴۳۵، رقم: ۲۲۳. وابن ماجه: ۱\۲۵٦، رقم: ۷۸۰

تشريح : په دغه ارشاد کي دې آيت ته اشاره ده :

نُوْرُهُمْ يَسْعَى بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَبِأَيْمَانِهِمْ يَقُولُوْنَ رَبَّنَا أَتْمِمْ لَنَا نُوْرَنَا

ژباړه : د هغوى نور به د هغوى راسته او چپه خوا ته ځغلي او داسي دعاء به کوي چي اې زموږ ربه ! زموږ لپاره دا نور تر آخره پوري قائم ولرې .

﴿۶۶۹﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

إِذَا رَأَيْتُمُ الرَّجُلَ يَتَعَاهَدُ الْمَسْجِدَ فَاشْهَدُوْا لَهُ بِالْإِيْمَانِ فَإِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى

کله چي تاسو يو څوک د مسجد خبر اخيستونکی ووينئ نو د هغه د ايمان شاهدي ورکړئ ځکه الله جل جلاله

يَقُوْلُ (إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللّٰهِ مَنْ آمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ .

رواه الترمذي وابن ماجه والدارمي .

فرمايي: (مسجدونه هغه څوک ابادوي چي پر الله جل جلاله او د قيامت پر ورځ ايمان لري). ترمذي ، ابن ماجه او دارمي

تخريج: سنن الترمذي ۵\۱۴، رقم: ۲۶۱۷، وابن ماجه: ۱\۲۶۳، رقم: ۸۰۲، والدارمي ۱\۳۰۲، رقم: ۱۲۲۳.

تشريح : ددې ارشاد مطلب دادی چي که چيري تاسو داسي يو سړی ووينئ چي هغه د الله تعالی جل جلاله د کور خبر اخلي يعني هغه د مسجد ساتنه او جوړول کوي د هغه د پاکی خيال ساتي او په دې کي يې لمونځ کوی او په دې کي يې عبادت کوی او د ديني علومو او درسونو کي بوخت وو نو تاسو دده په اړه شاهدي ورکړئ چي هغه مومن د الله جل جلاله او د هغه د رسول ﷺ فرمانبردار بنده دی .

﴿۶۷۰﴾: وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ مَظْعُوْنٍ قَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ائْذَنْ لَنَا فِي الْاِخْتِصَاءِ

د حضرت عثمان[1] بن مظعون رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما رسول الله ﷺ ته وويل: اې د الله رسوله! ما ته د ځان خصي کولو اجازه راکړئ (د زنا د بيري څخه)

فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ مِنَّا مَنْ خَصٰى وَلَا اخْتَصٰى إِنَّ

رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه سړی زموږ د ډلي څخه نه دی چي خپل ځان خصي کړي او يا بل

[1] د نوموړي نوم عثمان بن مظعون او کنيت يې ابوسائب دی نوموړی يو جليل القدر صحابي او څلورلسم مسلمان سړی دی ، په هجرت حبشه کي هغه او د هغه زوی سائب رضي الله عنه شامل وه او د مدينې په هجرت کي هم شامل سول ، په مهاجرينو کي لومړنی صحابي دی چي په مدينه منوره کي په (۲ه) وفات سو ، رسول الله ﷺ دده بدن مبارک مچ کړی وو .

خصي كړي، بېله شكه

خَصَاءَ أُمَّتِيْ الصِّيَامَ . فَقَالَ ائْذَنْ لَنَا فِي السِّيَاحَةِ . قَالَ إِنَّ سِيَاحَةَ أُمَّتِيْ

زما د امت لپاره د شهوت ختمولو طريقه روژه نيول دي ، بيا عثمان بن مظعون رضي الله عنه وويل: ما ته د سياحت اجازه راكړئ، رسول الله ﷺ وفرمايل: زما د امت سياحت

اَلْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ . فَقَالَ ائْذَنْ لَنَا فِي التَّرَهُّبِ فَقَالَ إِنَّ تَرَهُّبَ أُمَّتِيْ

د الله جل جلاله په لاره كي په جهاد تلل دي، بيا عثمان رضي الله عنه وويل: ما ته د دنيا پرېښودلو اجازه راكړئ رسول الله ﷺ وفرمايل : زما د امت لپاره د دنيا پرېښودل دا دي چي

اَلْجُلُوْسُ فِي الْمَسَاجِدِ انْتِظَارًا الصَّلَاةِ . رواه في شرح السنة .

هغوی په مسجد كي كښيني او د لمانځه انتظار وكړي .

تخريج : البغوي في شرح السنة ۲\۳۷۰، رقم: ۴۸۴.

تشريح : د حضرت عثمان ابن مظعون رضي الله عنه خواهش دا وو چي هغه داسي كار وكړي چي په هغه سره د دنيا لذتونه، نفساني خواهشات او شيطاني حركات كي اخته نسي چي د الله تعالى رضا او خوښي حاصله كړي نو تر ټولو تر مخه هغه د رسول الله ﷺ د دې خبري اجازه وغوښتل چي هغه د خپل قوت مردي په ختمولو سره بالكل نامرد جوړ سي چي د زنا په ډول لويه ګناه كي د اخته كيدو بيره پاته نسي نو رسول الله ﷺ د هغه دا خواهش د انساني فطرت او اسلامي روح خلاف ګڼلو سره هغه ته د دې فعل څخه د منعه كيدو حكم وركړ او ورته يې وفرمايل كه ته غواړې چي د نفساني خواهشاتو څخه ځان وساتې او روحاني او عرفاني خواهشات غالبه سي نو د هغه آسان علاج دادی چي روژه ونيسه ځكه چي روژه شهوت ختموي او د تعلق مع الله جذبات ته ځلا وركوي بيا هغه د سيل او سياحت اجازه وغوښتل چي په دې شغلې سره نفساني خواهشات كي كمي راسي رسول الله ﷺ ددې څخه هم منعه كړ ځكه چي پر مځكه باندي ګرځيدل او د ليري ليري ځايو سفر اختيارول يوازي په جهاد في سبيل الله كي مطلوب او محمود دي صرف د سيل او سياحت په خاطر د دنيا چكر وهل لكه څرنګه چي ځيني فقير قسم خلك يې كوي دا د عقلمندۍ خبره نه ده او نه د دې څخه اخروي منفعت او خير حاصليږي ددې وروسته هغه د راهب جوړيدو خواهش ظاهر كړ څرنګه چي په اهل كتاب كي هغه خلك چي

ديندار او مذهبي وي د دنياوي تعلقاتو نه كونج نشيني اختياروي او د دنيا ټول لذتونه او مشغوليات پرېږدي تر دې چې نه ښځو ته ورځي او نه د نورو خلكو سره يو ځاى كيږي رسول الله ﷺ د هغه د دغه خواهش رد وكړ ځكه چې رهبانيت د اهل كتاب طريقه ده دا د اسلام د تعليماتو او د اسلامي فطرت بالكل خلاف ده.

رسول الله ﷺ وفرمايل: زموږ په امت كي رهبانيت يوازي په دومره اندازه دی چې په مسجدونو كي د لمونځوپه انتظار كي كښينئ ځكه چې داسي دټولو خلكو او د دنيا دټولو شيانو څخه د لمونځ په ګرځولو سره د پروردګار خوا ته توجه كيږي او پر دې بي شميره اجر او ثواب ترلاسه كيږي ددې په مقابله كي د اهل كتاب چې كوم رهبانيت دی هغه بالكل بې ګټې او بيكاره دی چې د دې انجام د دين او دنيا په اعتبار سره ښه نه وي.

﴿٦٧١﴾: وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَائِشٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت عبدالرحمن بن عائش ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

وَسَلَّمَ رَأَيْتُ رَبِّيْ عَزَّ وَجَلَّ فِيْ أَحْسَنِ صُوْرَةٍ قَالَ فِبِمَ يَخْتَصِمُ الْمَلأُ الْأَعْلٰى؟

ما خپل پروردګار په خوب كي په غوره صورت كي وليدی الله تعالى زما څخه پوښتنه وكړه مقربينو ملائكو په كومه معامله كي بحث كوی؟

قُلْتُ أَنْتَ أَعْلَمُ قَالَ فَوَضَعَ كَفَّهُ بَيْنَ كَتِفَيَّ فَوَجَدْتُ بَرْدَهَا بَيْنَ ثَدْيَيَّ

ماوويل: اې الله! ته ښه پوهيږې، د دې په اوريدو سره الله تعالى خپل لاس زما د تيانو په منځ كي كښېښودی چې د هغه يخوالى ما په خپله سينه كي محسوس كړ

فَعَلِمْتُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَتَلاَ (وَكَذٰلِكَ نُرِيْ إِبْرَاهِيْمَ مَلَكُوْتَ

او ما ته د آسمانو او مځكو د ټولو شيانو علم ترلاسه سو بيا رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت كړ: (همداسي موږ ابراهيم عليه السلام ته وښودی تصرف

السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلِيَكُوْنَ مِنَ الْمُوْقِنِيْنَ). رواه الدارمي مرسلا

د آسمانو او مځكي چې هغه يقين كوونكو خلكو كي شامل سي، (دارمي مرسلا)

وَلِلتِّرْمِذِيِّ نَحْوَهُ عَنْهُ . وَعَنِ ابْنَ عَبَّاسٍ وَ مَعَاذِ ابْنِ جَبَلٍ وَ زَادَ فِيهِ قَالَ :يَا

او ترمذي هم دا حديث د عبد الرحمن بن عائش ابن عباس او معاذ بن جبل څخه روايت کړی دی او دا الفاظ يې پکښې زيات کړي دي چي الله تعالی پوښتنه وکړه اې

مُحَمَّدُ هَلْ تَدْرِيْ فِيْمَ يَخْتَصِمُ الْمَلأُ الأَعْلىٰ قُلْتُ نَعَمْ فِي الْكَفَّارَاتِ

محمده ! تا ته څرګنده ده چي مقربينو ملائکو پر کوم شي بحث کوئ . رسول الله ﷺ وفرمايل هو، ما ته څرګنده ده هغوی د (ګناهو) پر کفارو بحث کوي

وَالْكَفَّارَاتُ الْمَكْثُ فِي الْمَسَاجِدِ بَعْدَ الصَّلَوَاتِ وَالْمَشْيُ عَلَى الأَقْدَامِ إِلىٰ

او هغه کفارې د لمونځونو څخه وروسته په مسجدو کي ناسته او د بل وخت د لمانځه انتظار کول او پر پښو تلل

الْجَمَاعَاتِ وَإِبْلاَغُ الْوُضُوْءِ فِي الْمَكَارِهِ وَمَنْ فَعَلَ ذَالِكَ عَاشَ بِخَيْرٍ وَّمَاتَ

مسجدو ته او د سختۍ (يخ يا ناروغۍ) په حالت کي په اوبو اودس کول دا چي داسي وکړل هغه به پر نيکي ژوندی وي او مړ کيږي به

بِخَيْرٍ وَّ كَانَ مِنْ خَطِيْئَتِهِ كَيَوْمٍ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ وَ قَالَ يَا مُحَمَّدُ إِذَا صَلَّيْتَ فَقُلْ

پر نيکي او د ګناهو څخه به داسي پاک سي لکه نن چي د مور څخه پيدا سوی وي بيا الله تعالی وفرمايل : اې محمد ﷺ ! هر کله چي ته د لمانځه څخه فارغ سي نو دا دعاء کوه :

اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ اَسْأَلُكَ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ وَ تَرْكَ الْمُنْكَرَاتِ وَ حُبَّ الْمَسَاكِيْنِ فَإِذَا

اللهم اني .... غير مفتون. (اې الله زه ستا څخه د نيکو اعمالو توفيق غواړم او د خرابو کارونو د پرېښودلو او د مسکينانو سره د محبت سا تلو او اې الله! کله چي

اَرَدْتَ بِعِبَادِكَ فِتْنَةً فَاقْبِضْنِيْ اِلَيْكَ غَيْرَ مَفْتُوْنٍ قَالَ وَ الدَّرَجَاتُ اِفْشَاءُ

ته د خپلو بندګانو په فتنه کي د اچولو اراده وکړې نو زما روح قبض کړې چي ما ته فتنه ونه رسيږي ، ددې وروسته رسول الله ﷺ د امت د تعليم لپاره وفرمايل : الله تعالی نبي ته د هدايت

لپاره وویل چي درجې لوړونکي دا شیان دي

السَّلَامِ وَاِطْعَامُ الطَّعَامِ وَالصَّلٰوةُ بِالَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ وَ لَفْظُ هٰذَا الْحَدِيْثِ كَمَا فِي الْمَصَابِيْحِ لَمْ اَجِدْهُ عَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ اِلاَّ فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ .

سلام رواج کول یعني هر سړي ته سلام کول ، ډوډۍ ورکول، د شپې چي خلک بیده وي نو لمونځ کول، په مصابیح کي چي څرنګه ددې الفاظ دي ما د شرح السنة څخه پرته دا روایت د عبدالرحمن څخه منقول پیدا نه کړ .

تخريج: سنن الدارمي ۲\ ۱۷۰، رقم: ۲۱۴۹ والترمذي ۵\ ۳۴۳، رقم: ۳۲۳۵، مصابيح السنة ۱\ ۲۹۰، رقم: ۵۱۲ البغوي في شرح السنة ۴\ ۳۵ - ۳۷، رقم: ۹۲۴.

تشريح : که رسول الله ﷺ الله تعالی په خوب کي لیدلی وي لکه څرنګه چي په یو بل روایت کي ددې وضاحت دی نو په دې کي څه اشکال نسته ځکه چي انسان ډیر واره شکل لرونکی شکل پرته د شکل څخه ويني او یو شکل نه لرونکی شی د شکل په صوْرت کي ويني، هو که دا وويل سي چي رسول الله ﷺ الله تعالی د بیدارۍ په عالم کي لیدلی نو بیا ددې تاویل کول ضروري دي او تاویل به دا وي چي د صورت څخه مراد صفت دی چي حق تعالی جل شانه د صفت جمال او لطف و کرم سره تجلي وفرمایل، دا تاویل حقیقت او محاورې ته بالکل نژدې دی، ځکه چي اکثرو د صورت اطلاق پر صفت باندي کیږي څرنګه چي په ورځني خبرو اترو کي د یو شي د حقیقت او کیفیت د بیان پر وخت ویل کیږي چي صورت حال دادی ، یا ددې مسئلې صورت دادی او داسي نور او دا هم غوره ده چي دا صورت د معنی محمول د رسول الله ﷺ ذات اقدس وګرځول سي همداسي د رسول الله ﷺ د ارشاد به معنا دا وي چي ما خپله رب ولیدی او هغه وخت زه په ښه صورت کي وم .

د رسول الله ﷺ څخه د الله تعالی د پوښتني مطلب دا وو چي مقربین ملائکو د کوم اعمالو د فضیلت او عظمت په باره کي بحث کوی یا هغه کوم اعمال دي چي هغه مقام قبولیت ته په رسولو کي ملائکو په خپلو کي بحث کوی ، په دې توګه چي یوه ملائکه خو وایي چي دا عمل به مقام قبولیت ته زه مخکي رسوم او دوهمه وایي چي زه به یې وړم .

د رسول الله ﷺ د اوږو په مینځ کي د الله تعالی لاس ایښودل په حقیقي معنی کي نه دي چي واقعي الله تعالی خپل لاس د رسول الله ﷺ د اوږو په مینځ کي ایښی وو، ځکه چي الله

تعالی د ظاهري اجسام د ثقالت څخه پاک دی بلکه په اصل کي دا د هغه شي څخه کنایه ده چي الله تعالی رسول الله ﷺ د خپل فضل، کرم او د جزاء او انعام په زیاتوب سره په خاصه توګه ځرنګه چي په دنیاوي ژوند کي موږ وینو چي هر کله یو پاچا یا امیر پر خپل خاص خادم باندي ډیر زیات مهربان وي او د هغه څخه ډیر زیات خوشحاله وي نو هغه د هغه خادم پر ملا یا د هغه پر غاړه لاس راتیر کړي، دا ددې خبري اظهار دی چي هغه د خادم څخه ډیر زیات خوشحاله دی او پر هغه د انعام او اکرام باران کونکی دی، په سینه کي یخوالی محسوس کول د فیض رباني د اثر رسیدو څخه کنایه ده، رسول الله ﷺ فرمایي چي کله فیض رباني سینې ته ورسیدی نو د ځمکي او آسمان ټولي پردې پورته سوې او د ټولو شیانو علم ما ته حاصل سو نو رسول الله ﷺ ددې موقع او حال مناسبت او د هغه پر امکان باندي د شاهدي ورکولو په ارادې سره مذکور آیت تلاوت کړ، ددې مطلب دادی چي اې محمد! ﷺ ځرنګه چي موږ ستا د مخ څخه د ځمکي او آسمانو پردې پورته کړې د هغه په نتیجه کي تا ته د ټولو شیانو علم حاصل سو، همداسي موږ خپل جلیل القدر پیغمبر او خلیل حضرت ابراهیم علیه السلام باندي هم د عالم ربوبیت او الوهیت حقیقتونه ظاهري کړي وه او پر هغه مو د ځمکي او آسمانو د ټولو شیانو لیدنه کړې وه چي هغه د الله تعالی پر ربوبیت او الوهیت باندي د پوره یقین کونکو څخه سي، همداسي د آیت د آخري الفاظو (ولیکون من الموقنین) معطوف علیه به محذوف وي او پوره عبارت به داسي وي چي موږ حضرت ابراهیم علیه السلام ته عالم ربوبیت او الوهیت ښودلی وو چي هغه ددې په ذریعه زموږ د ذات د وجود په اړه دلیل ونیسي او د یقین کونکو څخه سي.

د حدیث د آخري برخي مطلب دادی چي انسان ته پکار ده چي هغه د غرور او تکبر خراب عادتونه په لیري کېدو سره په خپل ځان کي د تواضع، انکسارۍ، عاجزۍ، سخا او بخښني، عبادت او ریاضت جذبات او اوصاف پیدا کړي، او ددې عرفاني اصولو په رڼا سره خپل زړه او دماغ منور کولو سره نه یوازي دا چي د الله تعالی حقیقي بنده جوړ سي بلکه د پوره انسانت لپاره د رحمت او راحت باعث جوړ سي.

شرف مردي جو دست و کرامت بسجود   هر که این هر دو ندارد عدمش به زوجود

﴿۶۷۲﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةٌ

د حضرت ابوامامه رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: درې کسان دي چي

كُلُّهُمْ ضَامِنٌ عَلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ رَجُلٌ خَرَجَ غَازِيًا فِي سَبِيْلِ اللهِ فَهُوَ ضَامِنٌ

د هغوی ذمه داري الله تعالی پر ځان اخیستې ده: یو غازي چي د الله ﷻ په لار کي د غزا لپاره د کور څخه وتلی وي هغه د الل ﷻ په ذمه داری کي دي

عَلَى اللهِ حَتّٰى يَتَوَفَّاهُ فَيُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ أَوْ يَرُدَّهُ بِمَا نَالَ مِنْ أَجْرٍ أَوْ غَنِيْمَةٍ وَرَجُلٌ

تر څو چي هغه شهید سي نو په جنت کي به داخل کړل سي او که ژوندی پاته سي نو ثواب او مال غنیمت سره به بیرته راستون سي، دوهم هغه کس چي

رَاحَ إِلَى الْمَسْجِدِ فَهُوَ ضَامِنٌ عَلَى اللهِ وَرَجُلٌ دَخَلَ بَيْتَهُ بِسَلَامٍ فَهُوَ ضَامِنٌ عَلَى اللهِ. رواه أبو داود.

د مسجد په لور ولاړ ی هغه هم د الله په ساتنه کي دی او دریم هغه سړی چي خپل کور ته په سلام کولو سره داخل سي هغه هم د الله په ذمه داری کي دی. ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داؤد: ۳\۱۶۱–۱۷، رقم: ۲۴۹۴.

تشریح: پر الله تعالی باندي د لومړني سړي لپاره چي کومه ذمه ده هغه خو بیان کړل سوه چي هغه په دین او دنیا دواړه ځایو کي انعامات حاصلیږي مګر د دوهم او دریم سړي لپاره چي کومه ذمه پر الله تعالی ده هغه خو څرګنده وه ځکه د هغه د بیانولو ضرورت محسوس نه سو، په کور کي په سلام کولو سره داخل سئ، ددې دوې معناوي دي یو خو دا چي په کور کي داخل سي نو کورنۍ ته دي سلام وکړي، په دې صورت کي د هغه لپاره پر الله تعالی دا ذمه ده چي هغه او د هغه کورنۍ په خیر او برکت سره وکړځوي او پر هغه د خپل رحمتونو او مهربانیو دروازې خلاصي کړي.

دوهمه معنی داده چي کله په کور کي داخل سي نو د خلکو د صحبت څخه د امت او سلامتۍ تر لاسه کولو لپاره په کور کي او سیدل پر خپل ځان لازم کړي او د کور څخه د باندي نه وځي نو په دې صورت کي د هغه لپاره پر الله تعالی باندي دا ذمه ده چي هغه به د مصیبتو او آفاتو څخه خوندي او سلامت ساتي.

﴿۶۷۳﴾ : وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ خَرَجَ مِنْ بَيْتِهِ

د حضرت ابو امامه رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوک چي ووزي د خپل کور څخه

مُتَطَهِّرًا إِلَى صَلَاةٍ مَكْتُوبَةٍ فَأَجْرُهُ كَأَجْرِ الْحَاجِّ الْمُحْرِمِ وَمَنْ خَرَجَ إِلَى

چي اودس وکړي او د فرض لمانځه ادا کولو لپاره مسجد ته ولاړ سي هغه ته به دومره ثواب ورکول کیږي لکه څومره چي احرام تړونکي حاجي ته ورکول کیږي او کوم سړی چي ووزي

تَسْبِيحِ الضُّحَى لَا يُنْصِبُهُ إِلَّا إِيَّاهُ فَأَجْرُهُ كَأَجْرِ الْمُعْتَمِرِ وَصَلَاةٌ عَلَى إِثْرِ صَلَاةٍ

د څاښت د لمانځه لپاره د کور څخه او خاص د څاښت د لمانځه کولو په نیت مسجد ته ولاړ سي د هغه ثواب د عمره کوونکي د ثواب برابر دی او د یوه لمونځ وروسته دوهم لمونځ کول

لَا لَغْوَ بَيْنَهُمَا كِتَابٌ فِي عِلِّيِّينَ . رواه أحمد وأبو داود .

او د دې دوو لمنځو په منځ کي پالتو خبري نه کول داسي عمل دی چي په علیین کي لیکل کیږي .احمد ، ابوداؤد

تخریج : الامام احمد في مسنده ۵\۲۶۸ و ابوداؤد ۱\۲۷۷، رقم: ۵۵۸.

تشریح : په دې حدیث کي اوداسه ته په احرام سره او لمانځه ته په حج سره مشابهت ورکړل سوی دی او په دواړو کي د تشبیه وجه داده چي څرنګه حاجي د حج په اراده د کور څخه وځي او په احرام تړلو سره حج ته ځي نو هغه چي کله د کور څخه وځي هغه ته هم د هغه وخت څخه ثواب تر لاسه کېدل پیل کیږئ او د هغه د ثواب لړۍ د هغه د راتلو پوري جاري وي همداسي کوم سړی چي صرف د لمانځه په ارادې سره وځي نو هغه چي کله د کور څخه وځي هغه ته هم د هغه وخت څخه ثواب تر لاسه کیدل پیل کیږي او تر څو پوري چي هغه د لمانځه وغیره څخه د فارغه کېدو سره کور ته راځي نو هغه ته ثواب رسیږي مګر په دې خبره هم پوه سئ چي د لمونځ کونکي او حاجي په ثواب کي دغه برابري د ټولو وجو څخه نه وي کنه نو بیا د حج کولو څه معنی پاته کیږي، یعني ددې مطلب دا نه دی چي په ثواب کي بالکل دواړه برابر دي ځکه چي د حاجي ثواب د لمونځ کونکي د ثواب څخه ډیر زیات وي .

د دغه حديث څخه دا خبره هم معلومه سوه چي د حج په نسبت عمرې ته هغه حيثيت حاصل دی کوم چي د فرض لمانځه په نسبت نفل لمانځه ته حاصل دی . د كتاب في عليين څخه د حديث د آخري برخي مطلب كناية دا معلوميږي چي كوم سړی د لمانځه پابندي او ساتنه كوي يعني ټول لمنځونه په پابندي سره ادا كوي او د لمانځه د هغه ټولو شرطونو او ادبونو لحاظ كولو سره داسي كوي چي د هغه په دغه عمل او نيت كي د لمانځه خلاف د هيڅ شي دخل نه وي نو دا يو داسي شی دی چي ددې څخه اعلی او غوره هيڅ عمل نسته . كومي ملائكي چي پر نيكۍ ليكلو باندي ماموره دي د هغوی ددفتر نوم عليين دی چي ټول اعمال هلته جمع كيږي .

﴿٦٧٤﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كله چي

مَرَرْتُمْ بِرِيَاضِ الْجَنَّةِ فَارْتَعُوْا قِيْلَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَمَا رِيَاضُ الْجَنَّةِ ؟ قَالَ:

تاسو د جنت باغو ته ولاړ سئ نو هلته ميوه خورئ ، د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسوه چي : اې دالله رسوله ! د جنت باغونه كوم دي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل :

الْمَسَاجِدُ . قِيْلَ وَمَا الرَّتْعُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ؟ قَالَ: سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ . رواه الترمذي .

مسجدونه ، او پوښتنه وسول چي ددې ميوه څه شي ده ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ . ترمذي .

تخريج : سنن الترمذي: ٥\٤٩٧ - ٤٩٨، رقم: ٣٥٠٩.

تشريح : مسجدو ته د جنت باغونه ځكه ويل سوي دي چي په دې كي عبادت كول او لمونځ د جنت د باغونو د تر لاسه كولو سبب دي ، رتع په اصل كي دې ته وايي چي باغ ته ولاړ سي ښه ميوې وخوري او خوندور شيان وخوړل سي او د ويالو وغيره سيل وكړل سي څرنګه چي باغو ته تلونكي داسي كوي بيا دا لفظ د ثواب عظيم مرتبې ته د رسيدو په معنی كي استعمال سوی دی .

په هر حال ددې حديث حاصل دادی چي كله تاسو مسجدونو ته ولاړ سئ نو مذكوره تسبيحات و اياست ځكه چي په دې سره ډير زيات ثواب تر لاسه كيږي .

﴿۶۷۵﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَتَى الْمَسْجِدَ لِشَيْءٍ فَهُوَ حَظُّهُ. رواه أبو داود

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ و فرمايل: كوم څوک چي مسجد ته د يو مقصد لپاره راځي (يعني ديني يا دنيوي مقصد) نو هغه د هغه نصيب دی. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داؤد: ۱۱ / ۳۲۰، رقم: ۴۷۲.

تشريح: مطلب دادی چي كوم سړی مسجد ته د كوم مقصد لپاره راسي نو هغه ته به هغه شی په برخه كيږي، يعني كه چيري د عبادت لپاره ځي نو د هغه ثواب به ورته تر لاسه كيږي او كه د يو دنياوي مقصد لپاره راځي نو په ګناه اخته كيږي، دا حديث د مضمون په اعتبار د نيت د مشهور حديث انما الاعمال بالنيات يو برخه ده.

﴿۶۷۶﴾: وَعَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ الْحُسَيْنِ عَنْ جَدَّتِهَا فَاطِمَةَ الْكُبْرٰى قَالَتْ كَانَ

بي بي فاطمه بنت حُسين د خپلي انا بي بي فاطمي رضي الله عنها څخه روايت كوي چي كله به

النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ الْمَسْجِدَ صَلّٰى عَلٰى مُحَمَّدٍ وَسَلَّمَ وَقَالَ

رسول الله ﷺ مسجد ته ننوتی نو پر محمد ﷺ باندي به يې درود او سلام وايه يعني دا الفاظ به يې فرمايل: صل علي محمد وسلم، بيا به يې دا دعاء كول:

رَبِّ اغْفِرْ لِيْ ذُنُوْبِيْ وَافْتَحْ لِيْ أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ وَإِذَا خَرَجَ صَلّٰى عَلٰى مُحَمَّدٍ وَسَلَّمَ

رب اغفرلي ..... رحمتک، (اې پروردګاره زما ګناهونه و بخښې او زما لپاره د رحمت دروازې خلاصي كړې، او هر كله چي به د مسجد څخه وتی نو دورد به يې وايه پر محمد ﷺ

وَقَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِيْ ذُنُوْبِيْ وَافْتَحْ لِيْ أَبْوَابَ فَضْلِكَ. رواه الترمذي وأحمد وابن ماجه وفي روايتهما قالت إذا دخل المسجد وكذا إذا خرج قال بسم الله والسلام على رسول الله بدل صلى على محمد وسلم. وقال الترمذي ليس

إسناده بمتصل وفاطمة بنت الحسين لم تدرك فاطمة الكبرى .

او ويل به يې اې ربه! زما ګناهونه وبخښې او خلاصي کړې ما ته دروازې د فضل خپلي (ترمذي، احمد ،ابن ماجه) د احمد او ابن ماجه په يوه روايت کي دا الفاظ دي کله چي به رسول الله ﷺ مسجد ته ننوتى يا راوتى نو دا الفاظ به يې ويل : بسم الله والسلام على رسول الله .

تخريج: سنن الترمذي ٢\ ١٢٧، ١٢٨، رقم: ٣١٤ والامام احمد في مسنده ٦\ ٢٨٢، وابن ماجه: ١\ ٢٥٣، ٢٥٤،رقم: ٧٧١.

تشريح : رسول الله ﷺ د درود او سلام الفاظ داسي نه دي فرمايلي چي اللهم صل على ، يا اللهم اغفر لمحمد ، ځکه چي د درود او سلام سره د اسم شريف مناسبت دی، همداسي رب اغفرلي ارشاد فرمايلو کي د رسول الله ﷺ د تواضع او عاجزی اظهار کيږي يا دا به وويل سي چي رسول الله ﷺ دا الفاظ د امت د تعليم لپاره وفرمايل چي خلکو ته دا معلومه سي چي درود او سلام په کومو الفاظو په ذريعه استول کيږي .

بي بي فاطمه صغرى چي ددې حديث راوي ده او د حضرت امام حسين رضي الله عنه لور ده هغې د خپل انا زمانه نه ده ليدلې ځکه چي کوم وخت حضرت امام حسين رضي الله عنه عمر اته کاله وو نو ددې حديث سند متصل نه سو ځکه چي په مينځ کي يو راوي متروک دی .

﴿٦٧٧﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى

حضرت عمرو بن شعيب د خپل پلار څخه او هغه دده د نيکه څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ تَنَاشُدِ الْأَشْعَارِ فِي الْمَسْجِدِ وَعَنِ الْبَيْعِ وَالْإِشْتِرَاءِ

په مسجد کي د اشعارو ويلو څخه او پلورلو او رانيولو څخه منعه فرمايلې ده

فِيْهِ وَأَنْ يَّتَحَلَّقَ النَّاسُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ قَبْلَ الصَّلَاةِ فِي الْمَسْجِدِ .

رواه أبو داود والترمذي .

او د جمعې په ورځ د لمانځه څخه مخکي حلقه جوړولو څخه يې منعه فرمايلې ده . ابوداؤد او ترمذي

تخريج: سنن ابي داؤد ١\ ٦٥١،رقم: ١٠٧٩ والترمذي ٢\ ١٣٩،رقم: ٣٢٢؟

تشريح : د اشعار څخه مراد داسي اشعار دي چي په هغه کي درواغ او پالتو خبري ذکر سوي وي ځکه چي مسجد د الله تعالی د عبادت کولو ځای دی هلته د شریعت خلاف او پالتو خبري بیانول ناجائز دي البته داسي اشعار چي په هغو کي د الله تعالی توحید او مناجات او د رسول الله ﷺ یا د هغوی د مخلص متبعینو او فرمانبردارو امتیانو تعریف او توصیف د دین او مذهب او اخلاق ځلونکو خبرو ذکر وي نو د هغو ویل په هر ځای کي جائز او مستحسن دي ، رسول الله ﷺ به د شاعر اسلام حضرت حسان رضي الله عنه لپاره چي د خپلو اشعارو په ذریعه به یې د رسول الله ﷺ صفت او د کفارو بد بیانول په مسجد نبوي کي به یې منبر اچوی ، حضرت حسان رضي الله عنه به پر هغه منبر دریدی او دا ډول پاک اشعار به یې ویل، او رسول الله ﷺ به فرمایل چي جبرائیل علیه السلام د حسان رضي الله عنه تائید کوي ځکه چي هغه د خپل اشعارو په ذریعه د الله تعالی د لوري د کفارو مقابله کوي ، په مسجد کي ځرنګه چي رانیول او پلورل منعه دي همـــــــدارنګه هلته نور دنیاوي معاملات هم منعه دي .

د جمعي په ورځ د لمانځه کولو څخه مخکي په مسجد کي حلقه جوړولو سره ناسته چي رسول الله ﷺ منعه فرمایلې ده ، علماؤ ددې مختلف وجهي بیانوي، ویل کیږي چي رسول الله ﷺ ددې څخه ځکه منعه فرمایلې ده چي د حقلې جوړلو سره ناسته د لمونځ کونکو د هیئت اجماع خلاف ده، دوهم دا چي د جمعې د لمانځه لپاره په مسجد کي جمع کېدل خپله یو مستقل او عظیم الشیان کار دی تر څو پوري چي ددغه کار څخه یعني د جمعې دلمانځه څخه فارغ نسي په دوهم کار کي بوخت کېدل مناسب نه دي او دا چي په حلقه جوړولو سره ناسته د غفلت سبب دی په دغه دوو صورتونو کي ددې نهي تعلق به په خاصه توګه سره د خطبې وخت سره نه وي .

دریمه وجه دا بیانیږي چي هغه وخت د پټه خوله اوسیدو دی او په زیاته توجه سره د امام د خطبې د اوریدو دی او په حلقه جوړولو سره په ناستي سره د امام خطبې ته توجه کمه وي نو دا صحیح نه ده ، په دې صورت کي به ددې منعه تعلق یوازي د خطبې وخت سره وي نو د لومړني او دویمي توجیه په صورت کي به دا نهي تنزیهي وي او د دویمي توجه په صورت کي به دا نهي تحریمي وي.

﴿۶۲۸﴾ : وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَۃَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ اِذَا رَاَیْتُمْ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي تاسو ووینئ

مَنْ يَبِيعُ أَوْ يَبْتَاعُ فِي الْمَسْجِدِ فَقُولُوا لاَ أَرْبَحَ اللهُ تِجَارَتَكَ وَإِذَا رَأَيْتُمْ مَنْ

چي يو څوک رانيول او پلورل کوي په مسجد کي نو هغه ته ووایاست چي الله ﷻ دي ستا په تجارت کي تا ته ګټه نه در کوي، او هر کله چي تاسو ووينئ

يَنْشُدُ فِيهِ ضَالَّةً فَقُولُوا لاَ رَدَّ اللهُ عَلَيْكَ . رواه الترمذي والدارمي

چي يو څوک د ورک سوي شي لټه کوي نو ووایاست چي الله ﷻ دي ستا شی نه در پيدا کوي .ترمذي او دارمي

تخريج: سنن الترمذي ۳\۶۱۰-۶۱۱، رقم: ۱۳۲۱، والدارمي ۱\ ۳۷۹، ۳۸۰، رقم: ۱۴۰۱.

﴿۶۷۹﴾: وَعَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ

د حضرت حکيم بن حزام رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ منعه فرمايلې ده د دې څخه چي

يُسْتَقَادَ فِي الْمَسْجِدِ وَأَنْ يُنْشَدَ فِيهِ الْأَشْعَارُ وَأَنْ تُقَامَ فِيهِ الْحُدُودُ . رواه أبو داود في سننه وصاحب جامع الأصول فيه عن حكيم . وفي المصابيح عن جابر .

په مسجد کي قصاص واخيستل سي او همداسي د اشعارو ويلو او په مسجد کي د حد جاري کولو څخه منعه فرمايلې ده . ابو داؤد

تخريج: سنن ابي داؤد ۴\ ۶۲۹، رقم: ۴۴۹۰ وجامع الاصول ۳\ ۳۴۶، رقم: ۱۹۳۹.

﴿۶۸۰﴾: وَعَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ قُرَّةَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى

حضرت معاوية بن قرة د خپل پلار څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ منعه فرمايلې ده

عَنْ هَاتَيْنِ الشَّجَرَتَيْنِ يَعْنِي الْبَصَلَ وَالثُّومَ وَقَالَ مَنْ أَكَلَهُمَا فَلاَ يَقْرَبَنَّ

د دې دوو بوټو (يعني پياز او وږه) څخه او فرمايلې يې دي کوم څوک چي دا شيان وخوري هغه دي نژدې نه راځي

مَسْجِدَنَا وَقَالَ إِنْ كُنْتُمْ لاَبُدَّ آكِلِيهِمَا فَأَمِيتُوهُمَا طَبْخًا . رواه أبو داود .

زموږ مسجدو ته نژدې نه راځي او دا يې فرمايلي دي كه ددې خوراک ضروري وي نو پوخ كړې يې خورئ . ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داؤد ۴\۱۷۲، رقم: ۳۸۲۷.

تشريح: (من اكلهما) د لومړنۍ جملې بيان دى، د رسول الله ﷺ دا فرمايل چي كوم سړى دا وخوري هغه دي مسجد ته نژدې نه راځي ، د پياز، وږي په خوړلو سره په مسجد كي دداخلې منعه د مبالغې په توګه بيانول دي ، ددې مطلب دادى چي كوم سړى دا بدبويه شيان وخوري هغه ته پكار ده چي هغه د مسجد د عظمت او احترام سره سم مسجد ته نژدې هم رانسي او مسجد ته داخلېدل خو پر ځاى پرېږده ، يا نژدې دي رانه سي: دا كنايه ده په مسجد كي د نه داخليدو چي كوم سړى پياز او يا وږه خوړلې وي هغه دي په مسجد كي نه داخلېږي .

﴿۶۸۱﴾: وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْأَرْضُ

د حضرت ابوسعيد رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : مځكه

كُلُّهَا مَسْجِدٌ إِلاَّ الْمَقْبُرَةَ وَالْحَمَّامَ . رواه أبو داود والترمذي والدارمي

ټوله مسجد ده پرته د هديرې او حمام څخه په دې كي لمونځ كول صحيح نه دي . ابوداؤد، ترمذي او دارمي

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\۳۳۰، رقم: ۴۹۲، والترمذي ۲\۱۳۱، رقم: ۳۱۷، والدارمي ۱\۳۷۵، رقم: ۱۳۹۰

﴿۶۸۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُّصَلّٰى فِيْ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ منعه فرمايلې ده د لمانځه څخه په

سَبْعَةِ مَوَاطِنَ فِي الْمَزْبَلَةِ وَالْمَجْزَرَةِ وَالْمَقْبَرَةِ وَقَارِعَةِ الطَّرِيْقِ وَفِي الْحَمَّامِ

په اوو ځايو كي ۱: په امبارو كي ۲: د حيوانانو د حلالولو په ځاى كي ۳: په هديره كي ۴: د لاري په منځ كي ۵: په حمام كي

وَفِيْ مَعَاطِنِ الْإِبِلِ وَفَوْقَ ظَهْرِ بَيْتِ اللّٰهِ . رواه الترمذي وابن ماجه .

۶: د اوښانو د تړلو په ځاى كي ۷: د خانه كعبې پر بام . ترمذي او ابن ماجه

تخریج: سنن الترمذي ۲\۱۷۷، ۱۷۸، رقم: ۳۴۶ وابن ماجه ۱\۲۴۶، رقم: ۷۴۶.

تشریح: ځیني پخواني علماء خو د حدیث ظاهري الفاظو کتلو سره دا فرمایي چي په هدیره کي دننه لمونځ مکروه دي او د ځینو علماؤ په نزد په هدیره کي لمونځ کول جائز دي مګر قبر ته لمونځ کول په اتفاق سره د علماؤ حرام دي، پر امبارو او مذبح (د حلالیدو ځای) کي لمونځ کول ځکه مکروه دي چي په دغه دواړو ځایونو کي نجاست او مرداري وي، په دغه ځایو کي که داسي ځای لمونځ وکړل سي چي پاک وي مګر د هغه نژدې نجاست هم پروت وي یا پر نجاست باندي مصلی اچولو سره لمونځ وکړل سي نو دا مکروه ده ځکه چي په دې سره ددین سپکوالی او بې وقعتي ظاهرېږي او د لمانځه لوړ شان ددې خبري متقاضي دی چي پر پاک ځای باندي ادا کړل سي نه دا چي هلته نجاست او مرداري خپره سوې وي، د لاري په مینځ کي لمونځ کول ځکه منعه دي چي هلته د خلکو د تلو راتلو په وجه خیال بلي خوا ته کیږئ او توجه نه تر لاسه کیږي او په دې سره د خلکو په تلو راتلو کي تکلیف وي ، دوهم دا چي د عامي لاري په وجه که خلک د مجبوری په وجه د لمونځ کونکي مخته تیر سي نو لمونځ کونکی به ګناه کار وي، په حمام کي لمونځ کول ځکه مکروه دي چي هغه د ستر خلاصولو او د شیطان د اوسیدو ځای دی، د کعبې شریفي پر بام باندي هم لمونځ کول ځکه مکروه دي چي په دې سره د کعبة الله بې ادبي کیږي ، اوس د علماؤ په نزد په دې کي اختلاف دی چي په دغه اووه ځایونو کي لمونځ کولو ته چي مکروه ویل سوي دي نو ایا دا مکروه تنزیهي دي او که مکروه تحریمي، د ځینو علماؤ په نزد په دغه اوو ځایو کي لمونځ کول مکروه تنزیهي دي او ځیني علماء فرمایي چي دا مکروه تحریمي دي.

﴿۶۸۳﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلُّوْا فِيْ

د حضرت ابو هریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : (که اړتیا وي) لمونځ کوئ

مَرَابِضِ الْغَنَمِ وَلَا تُصَلُّوْا فِيْ أَعْطَانِ الْإِبِلِ. رواه الترمذي

د پسو د تړلو په ځای کي مګر د اوښانو د تړلو په ځای کي (لمونځ) مه کوئ. .ترمذي

تخریج: سنن الترمذي: ۲\۱۸۰– ۱۸۱، رقم: ۳۴۸.

تشریح: د اوښانو تړلو په ځای کي د لمانځه کولو څخه ځکه منعه فرمایل سوې ده چي د اوښانو سره په لمونځ کولو کي دا اندیښنه ده چي اوښان په خلاصېدو سره لغته وغیره ونه وهي

په دې سره نه يوازې دا چې لمونځ کونکي ته د تکليف رسيدو خطره وي بلکه دا سي لمونځ هم په ډاډ او اطمينان سره ادا کيدا ينسي البته د پسو څخه دا ډول خطره نه وي ځکه د هغوی په ځای کې د لمانځه کولو اجازه ورکړل سوې ده .

﴿۶۸۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَعَنَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَائِرَاتِ الْقُبُوْرِ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ لعنت کړی دی د قبرو پر زيارت کونکو ښځو باندې

وَالْمُتَّخِذِيْنَ عَلَيْهَا الْمَسَاجِدَ وَالسُّرُجَ . رواه أبو داود والترمذي والنسائي.

او د قبرو څخه مسجد جوړونکو او پر قبرو څراغ بلوونکو باندې لعنت کړی دی . ابوداؤد، ترمذي او نسائي

تخريج: سنن ابي داؤد ۳\۵۵۸، رقم: ۳۲۳۶، والترمذي ۲\۱۳۶، رقم: ۳۲۰ والنسائي ۴\۹۴-۹۵، رقم: ۲۰۴۲.

تشريح: رسول الله ﷺ د اسلام په پيل کې د قبرونو د زيارت کولو څخه منعه فرمايلې ده ، بيا وروسته يې ددې اجازه ورکړې ده، ځيني علماء فرمايي چې دا اجازه د خلکو او ښځو دواړه په اړه ده ، ښځو ته وړاندې د قبرونو د زيارت کولو اجازه نه وه مګر اوس ددې عامه اجازه درست او جائز ده، ځيني علماء فرمايي چې ددې اجازې تعلق يوازې د سړو سره دی د ښځو په حق کې هغه نهې اوس هم باقي ده او وجه ددې دا بيانوي چې د ښځو زړونه کمزوري او غير صابري وي په هغوی کې د ژړا او انګولا عادت وي ځکه د هغوی لپاره دا مناسب نه دي چې قبرونو ته ولاړې سي، دا حديث هم په ظاهره ددغه علماؤ تائيد کوي .

د رسول الله ﷺ د قبر مبارک زيارت د جمهورو علماؤ په نزد ددې حکم څخه مستثنی دی يعني د رسول الله ﷺ د قبر زيارت د خلکو او ښځو دواړو لپاره جائز دی ، پر قبر باندې څراغونه بلول ځکه حرام دي چې په دې سره اسراف او مال ضائع کيږي .

البته ځيني علماء وايي که چيرې د قبر سره لار وي نو د هغه لارې د آسانی لپاره څراغ ولګول سي يا هلته په رڼا کې د يو کار کولو لپاره څراغ ولګول سي نو دا جائز دي ځکه چې په دې سره به پر قبر باندې څراغ لګول مقصد نه وي بلکه بل ضرورت او حاجت به وي .

د شاه محمد اسحاق محدث دهلوي رحمة الله عليه تحقيق دا دی چې صحيح او معتمد قول سره سم ښځو ته زيارت کول مکروه تحريمي دي ، په مستملي کې ليکل سوي دي چې د

قبرونو زيارت د خلکو لپاره مستحب دی او د ښځو لپاره مکروه دی، په کتاب مجلس واعظیه کي مذکور دي چي د ښځو لپاره دا حلال نه دي چي هغوی قبرونو ته ولاړي سي ،ځکه چي د ابوهریره ﷺ روايت دی چي : انه علیه السلام لعن زورات القبور، یعني رسول الله ﷺ د قبرونو پر زيارت کونکو ښځو باندي لعنت ویلی دی .

په نصاب الاحتساب کي منقول دي چي د ښځو قبرونو ته د تلو جواز او د هغه د خرابۍ او قباحت په باره کي د قاضي څخه پوښتنه وسول ؟ نو هغه وفرمایل : ددې جواز او فساد پوښتنه مه کوه بلکه دا پوښتنه وکړه چي پر دې چي کوم لعنت اوریږي د هغه مقدار څه دی ؟ نو پوه سه چي کله ښځه قبر د تلو اراده وکړي نو د الله تعالی او د ملائکو په لعنت کي اخته کيږي او هر کله چي قبر ته ځي نو د هر طرف څخه شیطانان پر رامات سي او کله چي قبر ته ورسيږي نو د مړي روح پر هغې لعنت وایي او کله چي د قبر څخه راستنيږي نو د الله تعالی په لعنت کي اخته سي .

په حدیث شریف کي راغلي دي چي کومه ښځه هدیرې ته ځي نو د اوو مځکو او اوو آسمانونو ملائکي پر هغې لعنت وايي ، نو هغه د الله تعالی په لعنت کي د هديرې لارپرې کوي او کومه ښځه چي په کور کي ناسته د مړي لپاره دعاوي کوي نو الله تعالی هغې ته د حج او عمرې ثواب ورکوي.

د حضرت سلمان او ابوهريره رضي الله عنهما يو روايت دی چي يوه ورځ رسول الله ﷺ د مسجد څخه په وتلو سره د خپل سرای پر دروازه ولاړ وو چي د دباندي څخه بي بي فاطمه رضي الله عنها راغلل ، هغې عرض وکړ چي فلانۍ ښځه وفات سوې ده د هغې کور ته ورغلې وم ، رسول الله ﷺ پوښتنه ځيني وکړه چي ايا ته د هغې قبر ته هم ورغلې وې ؟ بي بي فاطمې رضي الله عنها وويل : معاذ الله ايا زه هغه عمل کولای سم چي د هغه په باره کي ما ستاسو څخه اوریدلي دي ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : تا ښه وکړل چي د هغې قبر ته نه ورغلې که چیري ته د هغې قبر ته تللې وای نو د جنت بوی به هم درته تر لاسه سوی نه وای .

قاضي ثناء الله پاني پتي په خپل کتاب مالابد منه کي لیکلي دي چي : د قبرونو زيارت خلکو ته خو جائز دی مگر د ښځو لپاره نه دی .

﴿۶۸۵﴾: وَعَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ قَالَ إِنَّ حِبْرًا مِّنَ الْيَهُوْدِ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابو امامه ﷺ څخه روايت دی چي د یهودو يو ډلي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه:

وَسَلَّمَ أَيُّ الْبِقَاعِ خَيْرٌ ؟ فَسَكَتَ عَنْهُ وَقَالَ أَسْكُتُ حَتّٰى يَجِيْءُ جِبْرِيْلُ

کوم ځای غوره دی؟ رسول الله ﷺ پټه خوله سو، او وه يې ويل چي پټه خوله کيږم تر هغو چي جبرائيل عليه السلام راځي،

فَسَكَتَ وَجَاءَ جِبْرِيْلُ عَلَيْهِ السَّلاَمِ فَسَأَلَ فَقَالَ مَا الْمَسْؤُوْلُ عَنْهَا بِأَعْلَمَ

نو چوپ سو او کله چي جبرائيل عليه السلام تشريف راوړ نو رسول الله ﷺ د هغه څخه پوښتنه وکړه، جبرائيل عليه السلام ورته وويل په دې اړه زه ستا څخه زيات نه پوهيږم

مِنَ السَّائِلِ وَلٰكِنْ أَسْأَلُ رَبِّيْ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى . ثُمَّ قَالَ جِبْرِيْلُ يَا مُحَمَّدُ إِنِّيْ

مگر زه به د خپل رب څخه پوښتنه وکړم، تر دې وروسته جبرائيل عليه السلام وويل: اې محمده! زه

دَنَوْتُ مِنَ اللهِ دُنُوًّا مَا دَنَوْتُ مِنْهُ قَطُّ . قَالَ وَكَيْفَ كَانَ يَا جِبْرِيْلُ ؟ قَالَ كَانَ

نن الله جل جلاله ته دومره نژدې ورسيدم چي ددې مخکي هيڅکله دومره نژدې سوی نه وم رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه چي اې جبرائيل! څنګه او څومره؟. جبرائيل عليه السلام وويل:

بَيْنِيْ وَبَيْنَهُ سَبْعُوْنَ أَلْفَ حِجَابٍ مِّنْ نُوْرٍ . فَقَالَ شَرُّ الْبِقَاعِ أَسْوَاقُهَا وَخَيْرُ

زما او د الله جل جلاله په منځ کي يوازي اويا زره پردې د نور پاته وې، الله جل جلاله وفرمايل: بدترين ځايونه بازارونه دي او غوره ځايونه

الْبِقَاعِ مَسَاجِدُهَا . رواه ابن حبان في صحيحه عن ابن عمر

مسجدونه دي. ابن حبان.

تخريج: اخرجه الطبراني في المعجم الكبير ۱۲\۱۲۸، رقم: ۱۵۴۵ و ۱۵۴۶ والامام احمد في المسند ۸۱\۴.

تشريح: دغه پردې د مخلوق د نسبت څخه دی د الله تعالی د نسبت څخه نه دي ځکه چي الله تعالی په پردو کي نه دی بلکه مخلوق په پردو کي دی او هغه جسماني او نفساني پردې دي، ددې مثال د يو ړانده لپاره د لمر په ډول دی چي څرنګه لمر په پرده کي نه دی بلکه خپله د ړانده پر سترګو باندي پرده پرته وي او هغه لمر نسي ليدلای او لمر هغهويني يعني خپل رڼا پر اچوي.

پوښتنه کوونکي خو يوازي د غوره ځای په اړه پوښتنه کړې وه مګر په جواب کي د مقابلې

په توګه د غوره او بد دواړو مقامات وښودل سول چي د رحمان او شيطان دواړو كورونه معلوم سي.

د دې حديث څخه معلومه سوه كه چيري د يو سړي څخه يو داسي مسئله وپوښتل سي چي هغه ته په پوره توګه سره معلومه نه ده نو هغه ته پكار ده چي په جواب وركولو كي تلوار ونه كړي بلكه د چا په باره كي چي پوهيږي چي هغه د دغه سوال جواب په ښه ډول پيژني نو د هغه څخه دي پوښتنه وكړي او د ځان څخه د زيات علم والا څخه په پوښتنه كولو كي دي څه شرم نه محسوس كوي.

ځكه چي دا د رسول الله ﷺ او د جبرائيل عليه السلام سنت دي، د مشكوة شريف په اصل نسخه كي د رواه څخه وروسته ځاى خالي دى ځكه چي د مشكوة مصنف ته د هغه كتاب نوم معلوم نه وو چي د هغه څخه دا روايت نقل كړل سوى دى، وروسته ځينو علماؤ دا كتاب مذكوره ليكلى دى.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

﴿٦٨٦﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ څخه واورېدل چي فرمايل يې:

مَنْ جَاءَ مَسْجِدِيْ هٰذَا لَمْ يَأْتِ إِلاَّ لِخَيْرٍ يَّتَعَلَّمُهُ أَوْ يُعَلِّمُهُ فَهُوَ بِمَنْزِلَةِ

كوم څوك چي زما دا مسجد (مسجد نبوي) ته په دې مقصد راسي چي نيكي زده كړي يا يې بل ته وښيي نو د هغه مرتبه به

الْمُجَاهِدِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ وَمَنْ جَاءَ لِغَيْرِ ذٰلِكَ فَهُوَ بِمَنْزِلَةِ الرَّجُلِ يَنْظُرُ إِلٰى

د الله تعالى په لار كي د جهاد كونكي مرتبه وي او څوك چي په دې غرض سره را نه سي يعني بل څه مقصد يې وي نو هغه به د هغه سړي په ډول وي چي ګوري

مَتَاعِ غَيْرِهِ. رواه ابن ماجه والبيهقي في شعب الإيمان.

د بل مال ته په افسوس سره. ابن ماجه او بيهقي.

تخريج: سنن ابن ماجه ۱\ ۸۲– ۸۳، رقم: ۲۲۷ والبيهقي في شعب الايمان ۲\ ۲۶۳، رقم: ۱۶۹۸.

تشريح: د رسول الله ﷺ د خپل مسجد يعني مسجد نبـــوي په خاص كولو سره دې ته اشاره فرمايلې ده چي زما مسجد ته د خپل عظمت او فضيلت په اعتبار تر ټولو اعلى او لوړ دى او

نور مسجدونه ددې تابع دي ځکه چي مذکوره حکم د ټولو مسجدونو لپاره یو ډول دی ، د نیک کار کولو او ښودلو تخصیص یوازي د هغه د فضیلت او اهمیت د اظهار په شکل کي دی کنه د لمانځه، اعتکاف، تلاوت او د ذکر ټولو دا حکم دی .

د حدیث د آخري برخي مطلب دا دی چي کوم سړی مسجد ته د نیک مقصد لپاره نه راځي د هغه مثال د هغه سړي دي چي د هغه سره هیڅ شی نه وي نو هغه د هغه شي څخه بل چا سره لیدو سره د حسرت او افسوس اظهار کوي دا سړي هم چي په آخرت کي د هغه سړي ثواب چي نیک مقصد او نیک نیت سره مسجد ته راغلی وو وویني او ورته معلومه سي چي مسجد خو د سعادت او د خیر د تر لاسه کولو ځای وو نو هغه ډیر په غم او حسرت کي اخته سي چي زه ولي ددغه دولت څخه محروم سوم .

یا ددې معنی داده چي یو غیر سړی سره د یو شي په لیدو سره هغه ته په بد نظر سره کتل منعه دي همداسي په مسجد کي د نیک کار د نیت څخه بغیر راتلل هم منعه دي .

﴿۶۸۷﴾: وَعَنِ الْحَسَنِ مُرْسَلاً قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِيْ

د حضرت حسن رضی الله عنه څخه مرسلا روایت دی چي نبي کریم ﷺ وفرمایل: ډیر ژر به راسي

عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ يَكُوْنُ حَدِيْثُهُمْ فِيْ مَسَاجِدِهِمْ فِيْ أَمْرِ دُنْيَاهُمْ

پر خلکو باندي یو وخت چي خلک به په مسجدو کي دنیوي خبري کوي ،

فَلَا تُجَالِسُوْهُمْ فَلَيْسَ لِلّٰهِ فِيْهِمْ حَاجَةٌ . رواه البيهقي في شعب الإيمان.

نو تاسو د هغو خلکو سره مه کښینئ الله تعالی ته د داسي خلکو هیڅ ضرورت نسته . بیهقي

تخریج: رواه البيهقي في شعب الايمان.

تشریح : دا ددې خبري کنایه ده چي الله تعالی د داسي خلکو څخه بیزاره دی او هغوی د الله تعالی د پناه او رحمت څخه وتلي دي او ددې خبري څخه هم کنایه ده چي د الله تعالی په دربار کي د هغوی اطاعت او عبادت د قبولیت درجه نسي تر لاسه کولای .

دا حدیث پر دې خبره دلالت کوي چي په مسجد کي د دنیاوي خبرو کول مکروه دي او په ډیرو حدیثونو کي هم په مسجد کي د دنیاوي خبرو څخه منعه سوې ده او د دنیاوي خبرو څخه مراد داسي خبري دي چي عبث ، بې ګټې او د حد څخه زیاتي وي او که دنیاوي خبري یوازي د

يوې كلمې وي يا ددې درجي نه وي نو هغه په دغه حكم كي داخل نه دي .

﴿۶۸۸﴾: وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيْدَ قَالَ كُنْتُ نَائِمًا فِي الْمَسْجِدِ فَحَصَبَنِيْ رَجُلٌ

د حضرت سائب رضي الله عنه څخه روايت دی چي زه په مسجد كي بيده وم چي يو سړي زه په شګه وويشتم

فَنَظَرْتُ فَإِذَا هُوَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فَقَالَ اذْهَبْ فَأْتِنِيْ بِهٰذَيْنِ فَجِئْتُهُ بِهِمَا

ما چي وكتل نو هغه عمر بن خطاب رضي الله عنه وو ، هغه ما ته وويل: ورسه او دغه دوه خلک را وغواړه (چي په مسجد كي په لوړ آواز) خبري كوي ، ما هغوی را وغوښتل

فَقَالَ مِمَّنْ أَنْتُمَا أَوْ مِنْ أَيْنَ أَنْتُمَا قَالَا مِنْ أَهْلِ الطَّائِفِ . قَالَ لَوْ كُنْتُمَا مِنْ

حضرت عمر رضي الله عنه پوښتنه ځيني وكړه تاسو څوک ياست؟ يا د كوم ځای اوسيدونكي ياست ؟ هغوی وويل مونږ د طائف اوسيدونكي يو ، حضرت عمر رضي الله عنه ورته وويل: كه تاسو وای

أَهْلِ الْمَدِيْنَةِ لَأَوْجَعْتُكُمَا تَرْفَعَانِ أَصْوَاتَكُمَا فِيْ مَسْجِدِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ .

رواه البخاري .

د مدينې او سيدونكي نو ما به سزا دركړې وای تاسو د رسول الله ﷺ په مسجد كي په زوره زوره خبري كوئ . بخاري .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۱/ ۵۶۰، رقم: ۴۷۰.

د لغاتو حل: (فَحَصَبَنِي): اى رجمني بالحصباء وهي الحجارة الصغيرة. (په شګه ويشل).

تشريح : په (او من اين انتما) جمله كي لفظ د (او) د شک لپاره دی يعني راوي ته شک واقع كيږئ چي حضرت عمر رضي الله عنه دا وفرمايل چي تاسو څوک ياست ، يا دايې وفرمايل چي تاسو د كوم ځای اوسيدونكي ياست ، په هر حال په مسجد كي په لوړ آواز سره خبري كول مكروه دي.

﴿۶۸۹﴾: وَعَنْ مَالِكٍ قَالَ بَنٰى عُمَرُ رَحْبَةً فِيْ نَاحِيَةِ الْمَسْجِدِ تُسَمَّى الْبُطَيْحَا

د حضرت مالک څخه روايت دی چي حضرت عمر رضي الله عنه د مسجد په يوه كونج كي يوه دوكانچه جوړه كړې وه چي د هغې نوم بطيحا وه

وَقَالَ مَنْ كَانَ يُرِيْدُ أَنْ يَّلْغَطَ أَوْ يُنْشِدَ شِعْرًا أَوْ يَرْفَعَ صَوْتَهُ فَلْيَخْرُجْ إِلٰى هٰذِهِ الرَّحْبَةِ . رواه في الموطأ .

او خلکو ته يې ويلي وه کوم چا ته چې د خبرو کولو ضرورت وي يا شعر ويل غواړي يا په لوړ آواز سره خبري کول هغه دي د مسجد څخه د باندي وځي او په دې بطيحا کي دي کښيني. مؤطا.

تخريج: الامام مالک في الموطا ۱\۱۷۵، رقم: ۹۳.

﴿۶۹۰﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ رَأَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نُخَامَةً فِي الْقِبْلَةِ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د قبلې په لور ګروړبې وليدی

فَشَقَّ ذٰلِكَ عَلَيْهِ حَتّٰى رُئِيَ فِي وَجْهِهِ فَقَامَ فَحَكَّهُ بِيَدِهِ فَقَالَ إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا

نو ډير بد پر ولګېدی تر دې چي پر مخ مبارک يې د ناخوښۍ اثر څرګند سو ، رسول الله ﷺ ودرېدی او په خپل لاس مبارک سره يې هغه ګروول بيا يې وفرمايل : کله چي په تاسو کي يو څوک

قَامَ فِي صَلَاتِهِ فَإِنَّمَا يُنَاجِي رَبَّهُ وَ إِنَّ رَبَّهُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ فَلَا يَبْزُقَنَّ

د لمانځه لپاره درېږئ نو د خپل پروردګار سره خبري کوي او د غه وخت ستاسو پروردګار ستاسو او د قبلې په منځ کي وي په داسي حالت کي دي نه توکي

أَحَدُكُمْ قِبَلَ قِبْلَتِهِ وَلٰكِنْ عَنْ يَّسَارِهِ أَوْ تَحْتَ قَدَمِهِ ثُمَّ أَخَذَ طَرَفَ رِدَائِهِ

هيڅوک ستاسو څخه د قبلې په لور بلکه چپه لوري ته يا د پښو لاندي دي تو کړي ، ددې وروسته رسول الله ﷺ د خپل څادر په يو کونج کي

فَبَصَقَ فِيْهِ ثُمَّ رَدَّ بَعْضَهُ عَلٰى بَعْضٍ فَقَالَ أَوْ يَفْعَلُ هٰكَذَا . رواه البخاري .

تو کړل او هغه يې و موړی او وه يې فرمايل داسي دي کوي . بخاري .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۱\۵۰۷، ۵۰۸، رقم: ۴۰۵.

تشريح: د هغه پروردګار د هغه او د قبلې په مينځ کي وي ددې دا معنی ده چي هر کله يو سړی د لمانځه لپاره درېږي نو هغه د قبلې خواته په متوجه کيدو سره د خپل رب خوا ته متوجه سي او

د هغه د قرب اراده لري نو د هغه مطلوب او مقصود د هغه او قبلې په مينځ كي دى ځكه دا حكم وسو چي د قبلې خوا ته د توكلو څخه ځان منعه كړئ . چپې خوا ته يا د پښو لاندي چي د توكلو كوم حكم وركړل سوى دى هغه په دې صورت كي دى چي هركله يو سړى په مسجد كي لمونځ كوي په مسجد كي د لمانځه كولو په صورت كي چپې خواته يا د قدمو لاندي توكل نه دي پكار چي په دې سره د مسجد په اداب او احترام كي فرق راځي بلكه په دې صورت كي كه د توكلو ضرورت محسوس سي نو پر يو جامه باندي دي وتوكي بيا دي هغه په موږلو سره پاكه كړي .

﴿۶۹۱﴾: وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ خَلاَّدٍ وَهُوَ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ

د حضرت سائب بن خلاد رضي الله عنه څخه چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم يو صحابي دى ، روايت دى چي

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّ رَجُلاً أَمَّ قَوْمًا فَبَصَقَ فِي الْقِبْلَةِ وَرَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ

يو سړى د مسجد امام جوړ سو ، هغه د لمانځه په حالت كي د قبلې په لور و تُوكل ، رسول الله صلى الله عليه وسلم

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْظُرُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ فَرَغَ لاَ يُصَلِّيْ

هغه وليدى كوم وخت چي هغه لمونځ وكړ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم خلكو ته وويل: لمونځ دي نه دركوي

لَكُمْ فَأَرَادَ بَعْدَ ذٰلِكَ أَنْ يُّصَلِّيْ لَهُمْ فَمَنَعُوْهُ وَأَخْبَرُوْهُ بِقَوْلِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى

دا سړى تاسو ته تر دې وروسته كله چي هغه سړي د لمانځه وركولو اراده وكړه نو هغوى په ده پسي د لمانځه كولو څخه انكار وكړ او هغه يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د قول څخه خبر كړ ،

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذٰلِكَ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ نَعَمْ

هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر سو او د دې پيښې يادونه يې ورته وكړه ، رسول الله صلى الله عليه وسلم د دې تصديق وكړ ،

وَحَسِبْتَ أَنَّهُ قَالَ إِنَّكَ آذَيْتَ اللهَ وَرَسُوْلَهُ . رواه أبو داود .

د راوي بيان دى چي رسول الله صلى الله عليه وسلم دا الفاظ هم ويل تا خداى جل جلاله او د هغه رسول ته تكليف ورسوى . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\ ۳۲۴، رقم: ۴۸۱.

﴿۶۹۲﴾: وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ احْتُبِسَ عَنَّا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت معاذ بن جبل رضی اللہ عنہ څخه روايت دی چي زند وکړ موږ ته په راتګ کي رسول الله ﷺ

ذَاتَ غَدَاةٍ عَنْ صَلاَةِ الصُّبْحِ حَتَّى كِدْنَا نَتَرَاءَى عَيْنَ الشَّمْسِ فَخَرَجَ سَرِيعًا

يوه ورځ د سهار په لمانځه کي، نژدې وو چي لمر د ختيځ څخه څرګند سي چي رسول الله ﷺ تشريف راوړی

فَثُوِّبَ بِالصَّلاَةِ فَصَلَّى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَجَوَّزَ فِي صَلاَتِهِ

اقامت وکړل سو د لمانځه او رسول الله ﷺ لمونځ ورکړ او تخفيف يې وکړ په قرائت او د لمانځه په ارکانو کي

فَلَمَّا سَلَّمَ دَعَا بِصَوْتِهِ فَقَالَ لَنَا عَلَى مَصَافِّكُمْ كَمَا أَنْتُمْ ثُمَّ انْفَتَلَ إِلَيْنَا ثُمَّ

د سلام ګرځولو وروسته يې په لوړ آواز سره وفرمايل: چيري چي ناست ياست هلته ناست اوسئ، تر دې وروسته زموږ په لور متوجه سو

قَالَ أَمَا إِنِّي سَأُحَدِّثُكُمْ مَا حَبَسَنِي عَنْكُمُ الْغَدَاةَ أَنِّي قُمْتُ مِنَ اللَّيْلِ

وه يې فرمايل: خبر اوسئ تاسو چي زه خبروم تاسو چي ولي سهار تاسو ته نه راغلم، د شپې (د تهجد لپاره) پورته سوم

فَتَوَضَّأْتُ وَصَلَّيْتُ مَا قُدِّرَ لِي فَنَعَسْتُ فِي صَلاَتِي حتى اسْتَثْقَلْتُ فَإِذَا أَنَا بِرَبِّي

اودس مي وکړ او څومره لمونځ چي په مقدر کي وو هغه مي ادا کړ په لمانځه کي زه کهاله سوم تر دې چي خوب را باندي غالب سو ناڅاپه ما خپل پروردګار وليدی

تَبَارَكَ وَتَعَالَى فِي أَحْسَنِ صُورَةٍ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ قُلْتُ لَبَّيْكَ رَبِّ قَالَ فِيمَ

په ډير ښه شکل او صورت کي، الله تعالی ما ته وفرمايل: اې محمد! ما وويل: حاضريم اې ربه، الله پاک وفرمايل: په کوم شي کي

يَخْتَصِمُ الْمَلأُ الأَعْلَى قُلْتُ لاَ أَدْرِي قَالَهَا ثَلاَثًا قَالَ فَرَأَيْتُهُ وَضَعَ كَفَّهُ بَيْنَ

بحث کوي مقربي ملائکي ؟ ما عرض وکړ ما ته نه ده معلومه ، درې ځله الله پاک دغه پوښتنه وکړه او ما دغه جواب ورکړ ، بيا ما وليدل چي الله تعالى خپل لاس کښېښود په منځ کي

كَتِفَيَّ حَتَّى وَجَدْتُ بَرْدَ أَنَامِلِهِ بَيْنَ ثَدْيَيَّ فَتَجَلَّى لِي كُلُّ شَيْءٍ وَعَرَفْتُ فَقَالَ

زما د دواړو اوږو چي د هغه يخ والى ما په خپله سينه کي حس کړ او هر شی زما لپاره ځلانده کړل سو او زه د ټولو شيانو څخه خبر کړل سوم بيا الله تعالى و فرمايل :

يَا مُحَمَّدُ قُلْتُ لَبَّيْكَ رَبِّ قَالَ فِيمَ يَخْتَصِمُ الْمَلأُ الأَعْلَى قُلْتُ فِي الْكَفَّارَاتِ

اې محمد ! ما وويل حاضر يم اې زما ربه ! الله تعالى و فرمايل : مقربي ملائکي په کوم شي کي خبري کوي ما عرض وکړ د ګناهونو د کفارې په مسئله کي ،

قَالَ مَا هُنَّ قُلْتُ مَشْيُ الأَقْدَامِ إِلَى الْجَمَاعَاتِ وَالْجُلُوسُ فِي الْمَسَاجِدِ بَعْدَ

الله تعالى پوښتنه وکړه : د ګناهونو کفاره څه شي ده ؟ ما عرض وکړ مسجدو ته پر پښو تلل او کښېنستل په مسجدونو کي وروسته

الصَّلَوَاتِ وَإِسْبَاغُ الْوُضُوءِ حِينَ الْكَرِيهَاتِ قَالَ ثُمَّ فِيمَ قُلْتُ فِي الدَّرَجٰتِ

تر لمانځه او د نورو لمنځو انتظار کول او پوره او دس کول دي په سخت حالت کي ، تر دې وروسته الله تعالى پوښتنه وکړه : ملائکي په بله کومه خبره کي بحث کوي؟ ما عرض وکړ چي د درجاتو په اړه ،

قَالَ وَمَا هُنَّ قُلْتُ إِطْعَامُ الطَّعَامِ وَلِينُ الْكَلاَمِ وَالصَّلاَةُ بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ

الله تعالى پوښتنه وکړه : هغه درجات څه شي دي ؟ ما عرض وکړ : ډوډۍ ورکول ، اخلاق او په نرمي سره خبري کول او هر کله چي خلک د شپې بيده وي نو لمونځ کول ،

قَالَ سَلْ قَالَ قُلْتُ اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ وَتَرْكَ الْمُنْكَرَاتِ وَحُبَّ

بيا الله تعالى و فرمايل هره دعاء چي د ځان لپاره غوره ګڼې هغه وغواړه : ما عرض وکړ : اللهم

اني اسئلک ... الى حبک، (اې الله زه ستا څخه سوال کوم د ښو کارونو د کولو، د خرابو کارونو د پرېښودلو، د دوستي ساتلو

الْمَسَاكِينِ وَأَنْ تَغْفِرَ لِي وَتَرْحَمَنِي وَإِذَا أَرَدْتَ فِتْنَةً فِي قَوْمٍ فَتَوَفَّنِي غَيْرَ

د مسکینانو سره او دا چي ته ما و بخښې او پر ما رحم وکړې او هر کله چي ته یو قوم په فتنه کي د اخته کولو اراده وکړې نو په فتنه کي د اخته کیدو څخه مخکي ما وفات کړې غیر

مَفْتُونٍ وَأَسْأَلُكَ حُبَّكَ وَحُبَّ مَنْ يُحِبُّكَ وَحُبَّ عَمَلٍ يُقَرِّبُنِي إِلَى حُبِّكَ فَقَالَ

له فتنې څخه او زه ستا څخه ستا محبت غواړم او د هغه چا محبت چي ته یې خوښوې او د هغه کار محبت چي ما ستا محبت ته نژدې کوي، تر دې وروسته رسول الله ﷺ خلکو ته وفرمایل:

رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهَا حَقٌّ فَادْرُسُوهَا ثُمَّ تَعَلَّمُوهَا. رواه احمد والترمذي وقال هذا حديث حسن صحيح وسالت محمد بن اسماعيل عن هذا الحديث فقال هذا حديث صحيح.

دا خوب حق دی دا په یاد ولرئ او نورو ته یې ورسوئ (احمد، ترمذي) ترمذي ویلي دا حدیث حسن صحیح دی او ما د محمد بن اسماعیل څخه په دې اړه پوښتنه وکړه نو هغه وویل دا حدیث صحیح دی. احمد او ترمذي

تخریج: الامام احمد في مسنده ۵\ ۲۴۳، وسنن الترمذي ۵\ ۳۴۳ - ۳۴۴، رقم: ۳۲۳۵.

تشریح: ددې حدیث وضاحت ددې باب د حدیث (۶۷۱) په تشریح کي سوی دی ځکه اوس دلته د نور وضاحت ضرورت نسته مګر په دې خبره باندي پوه سئ چي ددې حدیث څخه په راحت دا معلومیږي چي رسول الله ﷺ الله تعالی په خوب کي لیدلی وو او دا سوال او جواب د خوب په حالت کي سوي وه.

﴿۶۹۳﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

د حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما څخه روایت دی چي کله رسول الله ﷺ به

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِذَا دَخَلَ الْمَسْجِدَ أَعُوْذُ بِاللّٰهِ الْعَظِيْمِ وَبِوَجْهِهِ الْكَرِيْمِ

فرمایل کله چې به مسجد ته ننوتی : اعوذ بالله.... الخ ، (زه د شیطان رټل سوي څخه د الله په ذریعه د هغه بزرګ او برتر ذات په واسطه

وَسُلْطَانِهِ الْقَدِيْمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ قَالَ فَإِذَا قَالَ ذٰلِكَ قَالَ الشَّيْطَانُ

او د قدیم سلطنت په ذریعه پناه غواړم) ددې وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل کوم مسلمان چې دغه دعاء ویلو سره مسجد ته ننوزي نو شیطان وایي

حُفِظَ مِنِّيْ سَائِرَ الْيَوْمِ . رواه أبو داود .

دا سړی ټوله ورځ زما د شر څخه خلاص سو . ابوداؤد

تخریج: سنن ابي داؤد ۱\۳۱۸، رقم: ۴۶۶.

﴿۶۹۴﴾: وَعَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عطاء بن یسار رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل :

اَللّٰهُمَّ لَا تَجْعَلْ قَبْرِيْ وَثَنًا يُّعْبَدُ اشْتَدَّ غَضَبُ اللّٰهِ عَلٰى قَوْمٍ اتَّخَذُوْا قُبُوْرَ

اې الله ! زما قبر بُت مه جوړوې چې خلک یې عبادت کوي، بیا یې وفرمایل : پر هغه قوم د الله جل جلاله غضب نازل سو کومو چې

أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ . رواه مالك مرسلا .

د خپلو انبیاؤ قبرو ته سجدې کولې . مالک

تخریج: الامام مالک في الموطا ۱\۱۷۲، رقم: ۸۵.

تشریح: د رسول ﷺ د دعا مطلب دادی چې پروردګاره! ته زما قبر په دې معامله کې د بتانو په ډول چې زما د امت خلک زما د قبر د شریعت خلاف تعظیم پیل کړي یا په څو څو واره د زیارت کولو لپاره د میلې په توګه راځي یا زما قبر د سجدې ځای و ګرځوي او خپل تندی چې یوازې ستا لپاره د ایښودو وړ دی په هغه ایږدې او سجده کول پیل کړي، دا حدیث او دا دعا

څو واره وواياست او بيا لږ د نن سبا پر حالاتو دا منطبق كړئ بيا به تاسو ته معلومه سي چي د رسول ﷺ ددغه دعا تعلق د راتلونكي زمانې سره وو د رسول الله ﷺ عرفاني نظر وليدل چي هغه وخت راتلونكى دى چي زما قبر خو بيل سو د اولياء الله پر مزارونه به سجدې كيږي ، پر هديرو باندي ميلې جوړيږي هلته به عروس او شوقونه كيږي، پر قبرونو باندي به څادرونه او ګلونه پاشل كيږي ، مقصد دا چي څرنګه چي بت پرست قوم د الله تعالى د عبادت او فرمانبردارۍ څخه په سركښۍ كولو سره د بتانو سره معامله كوي زما د امت بدبخته او بد نصيبه خلك به چي زما د نامه مينه وال به ګڼل كيږي زما د ميني دعوا به كوي ، زما د راوړل سوي پاك شريعت په پناه كي به زما د دين په نامه هغه معامله د قبرونو سره كوي ، نو رسول الله ﷺ دعاء وغوښتل چي اې پروردګاره ! ته زما امت په داسي ګمراهۍ كي اخته مه كړې چي هغوى زما د قبر عبادت پيل كړي .

د دې جملې (اشتد غضب ..... الخ) تعلق د دعاء سره نه دى بلكه دا جمله مستانفه يعني يوه بيله جمله ده ، ګويا رسول الله ﷺ چي دا دعاء وكړه نو خلكو پوښتنه وكړه چي تاسو دا دعاء ولي كوئ ؟ نو په جواب كي رسول الله ﷺ دا وفرمايل : اشتد .... الخ، يعني زه پر خپل امت باندي د ډير شفقت او مهربانۍ لپاره دا دعاء كوم چي داسي نه دوى هم په دغه لعنت كي اخته سي څرنګه چي يهود او نصارى وغيره په دغه لعنت كي په اخته كېدو سره د الله تعالى په غضب كي اخته سول .

﴿۶۹۵﴾: وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَحِبُّ

د حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ به خوښول

الصَّلَاةَ فِي الْحِيطَانِ قَالَ بَعْضُ رُوَاتِهِ يَعْنِي الْبَسَاتِيْنَ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب لا نعرفه إلا من حديث الحسن بن أبي جعفر وقد ضعفه يحيى ابن سعيد وغيره .

په باغو كي لمونځ كول او ځيني روايتونه وايي چي مراد د حيطان څخه باغونه دي . (احمد او ترمذي) ويلي دي چي دا حديث غريب دى چي حسن بن ابي جعفر څخه پرته موږ ته معلوم نه سو او حسن بن ابي جعفر يحيى بن سعيد او نورو ضعيف ګرځولى دى . ترمذي

تخریج: سنن الترمذي ۲\ ۱۵۵ - ۱۵٦، رقم: ۳۳٤.

﴿۷۹٦﴾: وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةُ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : لمونځ

الرَّجُلِ فِيْ بَيْتِهِ بِصَلَاةٍ وَّصَلَاتُهُ فِيْ مَسْجِدِ الْقَبَائِلِ بِخَمْسٍ وَعِشْرِيْنَ صَلٰوةً

د سړي په خپل کور کي د یوه لمانځه برابر او د محل په مسجد کي د پنځه ویشت لمنځو برابر دی

وَصَلٰوتُهُ فِي الْمَسْجِدِ الَّذِيْ يُجَمَّعُ فِيْهِ بِخَمْسِ مِئَةِ صَلَاةٍ وَصَلَاتُهُ فِي

او په هغه مسجد کي په کوم کي چي د جمعې لمونځ کیږي د پنځو سوو لمنځو برابر او په

الْمَسْجِدِ الْأَقْصٰى بِخَمْسِيْنَ أَلْفِ صَلَاةٍ وَصَلَاتُهُ فِيْ مَسْجِدِيْ بِخَمْسِيْنَ أَلْفِ

مسجد اقصی کي د پنځوسو زرو لمنځو برابر او زما په دې مسجد (مسجد نبوي) کي د پنځوسو زرو

صَلَاةٍ وَصَلَاتُهُ فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ بِمِائَةِ أَلْفِ صَلَاةٍ. رواه ابن ماجه.

لمنځو برابر او په مسجد حرام کي د یوه لک لمنځو برابر دی. ابن ماجه.

تخریج: سنن ابن ماجه ۱\ ٤٥۳، رقم: ۱٤۱۳.

تشریح: د دې حدیث په ذریعه د مسجدونو مرتبې او په هغه کي د لمانځه کولو ثواب د فرق او درجو معلومات کیږي لکه چي فرمایل سوي دي چي تر ټولو کمه درجه خو د یو چا کور دی، یعني که یو سړی د خپل سیمي په کور کي لمونځ کوي نو هغه ته د پنځه ویشت لمنځو ثواب تر لاسه کیږي، همداسي که په جامع مسجد کي لمونځ کوي نو هغه ته د پنځه سوو او په بیت المقدس او مسجد نبوي کي لمونځ کونکي ته د هغه د یوه لمانځه په بدله کي د پنځوسو زرو لمنځو ثواب ورکول کیږي او که یو سړی په مسجد حرام کي د لمانځه کولو سعادت تر لاسه کړي نو هغه ته د یوه لمانځه په بدله کي د یوه لک لمنځو ثواب ورکول کیږي.

۶۹۷: وَعَنْ أَبِي ذَرٍ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ أَيُّ مَسْجِدٍ وُّضِعَ فِي الأَرْضِ أَوَّلُ؟

د حضرت ابوذر رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما رسول الله ﷺ ته وويل: اې د الله رسوله! تر ټولو وړاندې پر مځکه کوم مسجد جوړ سوی دی؟

قَالَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ قَالَ قُلْتُ ثُمَّ أَيُّ؟ قَالَ ثُمَّ الْمَسْجِدَ الأَقْصٰى. قُلْتُ

رسول الله ﷺ وفرمايل مسجد حرام، ما عرض وکړ ددې وروسته؟ رسول الله ﷺ وفرمايل مسجد اقصی، ما بيا پوښتنه وکړه چي

كَمْ بَيْنَهُمَا؟ قَالَ أَرْبَعُوْنَ عَامًا ثُمَّ الأَرْضُ لَكَ مَسْجِدٌ فَحَيْثُ مَا أَدْرَكَتْكَ الصَّلاَةُ فَصَلِّ. متفق عليه

ددې دواړو د جوړېدو په منځ کي څومره فرق وو؟ رسول الله ﷺ وفرمايل څلوېښت کاله، ددې وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل هو، اوس خو ټوله مځکه ستا لپاره مسجد دی کوم ځای چي دي د لمانځه وخت سي هلته يې وکړه. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ٦\٤٠٧، رقم: ٣٣٦٦ و مسلم ١\٣٧٠، رقم: ٢- ٥٢٠.

تشريح: دلته يو اشکال پيدا کيږي او هغه دا چي د کعبة الله جوړونکي حضرت ابراهيم عليه السلام دی او د بيت المقدس بنسټ اېښودونکی حضرت سليمان عليه السلام دی او په تاريخي توګه سره دا ثابته ده چي ددغه دواړو پيغمبرانو په مېنځ کي د زرو کالو څخه زيات فرق دی نو رسول الله ﷺ دا په کوم اعتبار وفرمايل چي د کعبة الله او بيت المقدس د جوړېدو په مېنځ کي يوازې د څلوېښتو کالو فرق دی؟. ددې په جواب کي علامه ابن جوزي رحمة الله عليه فرمايي چي: ددې حديث په ذريعه ددغه دواړو مسجدونو د جوړېدو اول ظرف ته اشاره ده چي د کعبې جوړونکی حضرت ابراهيم عليه السلام نه دی.

همداسي د بيت المقدس اول جوړونکی هم حضرت سليمان عليه السلام نه دی بلکه د کعبې جوړېدل تر ټولو مخکي حضرت آدم عليه السلام کړې ده بيا د حضرت آدم عليه السلام څخه وروسته د هغه اولاد پر ټوله مځکه خپاره سول نو کيدای سي چي د هغه د اولاد څخه يو چاد بيت المقدس بناء اېښې وي او د ددغه دواړو جوړېدو تر مېنځ د څلوېښتو کالو فرق وي بيا د هغه څخه وروسته

حضرت ابراهيم عليه السلام كعبه جوړه كړه او حضرت سليمان عليه السلام بيت المقدس تعمير كړ.
علامه ابن حجر عسقلاني رحمة الله عليه فرمايي چي : ما ته ددې حديث توثيق د علامه ابن هشام ددغه مقولې څخه كيږي چي هغه په كتاب التسبيحات كي ليكلي دي چي كله حضرت آدم عليه السلام د كعبة الله د جوړېدو څخه فارغ سو نو هغه ته الله تعالى حكم وركړ چي اوس د بيت المقدس په سيل كولو سره هغه جوړ كړه نو هغه د حكم تعميل كي بيت المقدس جوړ كړ او په هغه كي يې عبادت وكړ نو كيداى سي چي ددغه دواړو په جوړېدو كي د څلوېښتو كالو فرق وي . يعني د علماؤ څخه ددغه حديث توجيه دا منقول ده چي : كله چي حضرت ابراهيم عليه السلام كعبه جوړول نو د مسجد حد يې ټاكلى وو همداسي د بيت المقدس به يې هم حد ټاكلى وي نو كيداى سي چي ددغه حدونو د ټاكلو درمياني وقفه څلوېښت كاله وي .

=======

بَابُ السَّتْرِ (د ستر بيان)

د لمانځه په صحيح توګه ادا كولو كي چي كوم شرطونه دي په هغو كي يو شرط ستر يعني د عورت پټول هم دي، د مشكوة شريف مصنف رحمة الله عليه په دغه باب كي د ستر په اړه حديثونه بياوي ، ددې څخه پرته په دې باب كي مصنف رحمة الله عليه د هغه جامو په اړه هم حديثونه نقل كوي په كوم كي چي رسول الله ﷺ او صحابه كرامو لمنځونه كړي دي .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړى فصل)

﴿۶۹۸﴾: عَنْ عُمَرَ بْنِ اَبِيْ سَلْمَةَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عمر بن ابي سلمة رضي الله عنه څخه روايت دى چي ما رسول الله ﷺ ليدلى دى

يُصَلِّي فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ مُشْتَمِلاً بِهِ فِي بَيْتِ أُمِّ سَلَمَةَ وَاضِعًا طَرَفَيْهِ عَلَى عَاتِقَيْهِ. متفق عليه

چي لمونځ يې كوى يوازي په يوه جامه كي يعني رسول الله ﷺ د بي بي ام سلمه په كور كي يوه جامه پر بدن مبارك داسي اچولې وه چي د هغې دوه طرفه د رسول الله ﷺ پر مباركو اوږو وه.

بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱\۱ ۴۶۹، رقم: ۳۵۶ ومسلم ۱\۱ ۳۶۸، رقم: ۲۷۸- ۵۱۷.

تشريح: اشتمال دې ته وايي چي د جامې هغه کونج چي پر راسته اوږه وي د چپه لاس لاندي را وايستل سي او بيا هغه څنډه اخيستو سره چي د راسته لاس د لاندي څخه پر چپه لاس باندي اچول سوې وي دواړه په يو ځاى کولو سره پر سينه غوټه کړل سي مګر د غوټې ورکولو ضرورت يوازي په هغه صورت کي وي هر کله چي د جامې څنډې اوږدې نه وي او د هغه د خلاصېدو بيړه وي، که څونډې اوږدې وي نو بيا د غوټې ورکولو ضرورت نسته څرنګه چي د يمن د سفيرانو د جامو څخه څرګنده ده دا وجه ده چي د ځينو شارحينو په عبارتونو کي د غوټې ورکولو ذکر نه دى سوى، په دغه حديثو کي د مشتمل، متوشح او مخالف بين طرفيه کوم الفاظ چي راغلي دي د ټولو يوه معنى ده او د ټولو يو مذکوره صورت دى.

﴿۶۹۹﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُصَلِّي أَحَدُكُمْ فِي الثَّوْبِ الْوَاحِدِ لَيْسَ عَلَى عَاتِقَيْهِ مِنْهُ شَيْءٌ. متفق عليه

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: لمونځ دي نه کوي په تاسو کي يو څوک په يوه جامه کي ترڅو پوري چي د هغه د جامې يوه برخه پر اوږو نه وي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱\۱ ۴۷۱، رقم: ۳۵۹، ومسلم ۱\ ۳۶۸، رقم: ۲۷۷- ۵۱۶.

تشريح: مطلب دادى چي د اشتمال په صورت کي خو د لمانځه کولو اجازه ده ځکه چي په هغه کي د جامې يو برخه پر اوږو وي او که پر اوږو د جامې يو برخه هم نه وي نو په دې صورت کي به د لمانځه کولو اجازه نه وي او ددې حکمت علماء دا ليکي که يوازي يوه جامه وي او هغه بنده کړل سي او د هغه يو برخه پر اوږو وانه چول سي نو په دې صورت کي د حاضري وخت کېدو په وجه دا د بې ادبۍ شکل دى.

حضرت امام اعظم رحمة الله عليه، حضرت امام مالک رحمة الله عليه، حضرت امام شافعي رحمة الله عليه او د جمهورو علماؤ په نزد دا نهي تنزيهي ده تحريمي نه ده، دا حضرات فرمايي که يو سړى يوازي په يوه جامه کي داسي لمونځ وکړي چي د هغه جامې هيڅ ډول برخه پر اوږو نه وي مګر ستر پټ وي نو د هغه لمونځ کيږي مګر په کراهيت سره به وي، حضرت امام

احمد رحمة الله علیه او نور علماء سلف د حدیث پر ظاهر باندي په عمل کولو سره فرمایي چي په دې صورت کي د هغه سرې لمونځ نه کیږي .

﴿۷۰۰﴾: وَعَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ صَلّٰى فِيْ

د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي فرمایل یې: کوم څوک چي لمونځ کوي په

ثَوْبٍ وَّاحِدٍ فَلْيُخَالِفْ بَيْنَ طَرَفَيْهِ . رواه البخاري .

یوه جامه کي هغه ته پکار دي چي د دې جامې دواړه طرفونه (څوکي) واړوي یو تر بل. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) : ۱\ ۴۷۱، رقم: ۳۶۰.

﴿۷۰۱﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ صَلَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ خَمِيْصَةٍ لَهَا

د حضرت عائشي رضی الله عنها څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ په یو داسي څادر کي لمونځ وکړ چي

أَعْلَامٌ فَنَظَرَ إِلٰى أَعْلَامِهَا نَظْرَةً فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ اذْهَبُوْا بِخَمِيْصَتِيْ هٰذِهٖ إِلٰى

هغه پلوونه درلودل کوم وخت چي رسول الله ﷺ د لمانځه څخه فارغ سو نو وه یې فرمایل: دا څادر

أَبِيْ جَهْمٍ وَّأْتُوْنِيْ بِأَنْبِجَانِيَّةِ أَبِيْ جَهْمٍ فَإِنَّهَا أَلْهَتْنِيْ آنِفًا عَنْ صَلَاتِيْ . متفق عليه، وفي رواية للبخاري قال كنت أنظر إلى علمها وأنا في الصلاة فأخاف أن يفتنني .

ابي جهم (تجار) ته حواله کړئ او د هغه څخه ما ته انبجانیه څادر راوړئ، دې څادر زه د لمانځه وایستم (یعني حضور قلب راته تر لاسه نه سو) بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) : ۱\ ۴۸۲، رقم: ۳۷۳ ومسلم ۱\ ۳۹۱، رقم: ۶۲ - ۵۵۶.

د لغاتو حل: (خَمِيصَة): كساء من صوف او خز، معلمته سوداء. (یو ډول جامې). (انبِجَانِية): هي كساء لا علم له.

تشریح: خمیصه یو څادر ته وایي د وړې څخه وي د هغه رنګ تور وي او کرښي لرونکی وي

نو (لها اعلام) جمله یا خو د خمیصه تاکید دی یا ددې بیان دی ، دا څادر یو صحابي حضرت ابو جهم رضی الله عنه د تحفې په توګه د رسول الله ﷺ په خدمت کې وړاندي کړی وو ، رسول الله ﷺ چې د هغه په اچولو سره لمونځ وکړ او د لمانځه په دوران کې یې نظر پر کړښو باندي ولویدی نو په زړه مبارک کې یې څه فرق محسوس کړ، د لمانځه څخه د فارغه کېدو سره یې صحابه کرامو ته وفرمایل چې دا ابو جهم ته بیرته ورکړئ ، رسول الله ﷺ ته دا خیال پیدا سو چې کیدای سي د څادر په بیرته ورکولو سره د یو مخلص صحابي زړه مات سي ځکه یې نو دا وفرمایل چې ددې په بدله کې د هغه څخه اینجانیه راوړی، اینجان د یو ښار نوم دی چې د هغه ښار څادرونه به بالکل تور وه نو څادر هم د هغه ښار په خاطر سره اینجانیه بلل کیدی . .

د دې حدیث څخه معلومه سوه چې ظاهري نقش او نګار پاک نفسونه او صاف زړونه هم متاثر کوي او دا تاثیر د زړه د زیاتي صفائي او لطافت په وجه وي څرنګه چې یو صاف او سپین څادر باندي معمولي تور ټکی هم لویږي نو هغه سمدستي معلومیږي او ناخوښه څرګندیږي او څادر چې څومره زیات سپین وي هغه تور ټکی هغومره زیات څرګندیږي ، همدا حال د هغه نفسو قدسیه دی چې د چا زړه او دماغ تعلق مع الله او د ریاضت او مجاهده په وجه دومره پاک سي چې ګناه او معصیت خو بیل شی دی د یو معمولي مباح شي ادنی قصور هم پر زړه او دماغ باندي اثر کوي مګر د هغوی په مقابله باندي خراب باطن خلک هم وي چې د هغوی پر زړه او دماغ باندي لوی لوی ګناهونه هم اثر نه کوي . زموږ خیال دی چې ددې حدیث په ذریعه امت ته دا تعلیم ورکول مقصد دي چې د لمانځه په اړه داسي شیانو څخه احتیاط کول پکار دي چې د لمانځه څخه د خیال اړولو سبب جوړیږي .

﴿۷۵۲﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ قِرَامٌ لِّعَائِشَةَ سَتَرَتْ بِهِ جَانِبَ بَيْتِهَا فَقَالَ لَهَا

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دی چې عائشې رضی الله عنها د خپل سرای په یوه کونج کې پرده اچولې وه نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل:

النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمِيطِي عَنَّا قِرَامَكِ هٰذَا فَإِنَّهُ لَا يَزَالُ تَصَاوِيرُهُ تَعْرِضُ لِي فِي صَلَاتِي . رواه البخاري .

ته دا پرده زموږ د مخه څخه لیري کړه ددې عکسونه په لمانځه کې زما مخ ته برابر وي . بخاري

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱\ ۴۸۴، رقم: ۳۷۴.

د لغاتو حل: (قِرام): سَتر رقيق فيه نقوس. (نقش لرونکې نازکه پرده).

تشريح: په ښکاره خو دا معلوميږي چې دا پرده بي بي عائشې صديقې رضي الله عنها د ديوال پټولو دپاره پر ديوال ايښې وه خو ځيني حضرات وايي چې دا پرده د چپرکټ په طريقه وه، په هر حال بي بي عائشې رضي الله عنها دا پرده تر هغه وخته پوري لګولې وه تر څو پوري چې هغې ته د حديث نهي معلومه نه وه کله چې رسول مبارک ﷺ هغه منعه کړل نو هغې هغه پرده ليري کړه.

﴿۷۰۳﴾: وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ أُهْدِيَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عقبة بن عامر رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ ته په تحفه کې ورکړل سوه

فَرُّوجُ حَرِيرٍ فَلَبِسَهُ ثُمَّ صَلَّى فِيهِ ثُمَّ انْصَرَفَ فَنَزَعَهُ نَزْعًا شَدِيدًا كَالْكَارِهِ

يوه رېښمينه قبا (چپنه)، رسول الله ﷺ هغه واغوستل او لمونځ يې پکښې وکړ، بيرته راغلی او په ډيره سختۍ سره يې وکښل لکه رسول الله ﷺ چې د هغه څخه نفرت کوی

لَهُ ثُمَّ قَالَ لَا يَنْبَغِي هَذَا لِلْمُتَّقِينَ. متفق عليه

بيا يې وفرمايل: د پرهيزګارانو لپاره دا جامه وړ نه ده. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري):۱\ ۴۸۴، رقم: ۳۷۵، وفي ۱۰\ ۲۶۹، رقم: ۵۸۰۱ ومسلم ۳\ ۱۶۴۶، رقم: ۲۱- ۲۰۷۵.

د لغاتو حل: (فروج): هو القباء الذي شق من خلفه. (يو ډول چپنه).

تشريح: (فروج) هغه قباء (کرتې) ته وايي چې د هغه وروسته خوا چاک وي دا فروج د رسول الله ﷺ په خدمت کې اکيدر پاچا رومه يا پاچا سکندريه تحفه را ليږلې وه هغه وخت خلکو ته ريښمينه جامه اغوستل حرام نه وه ځکه رسول الله ﷺ هغه واغوستل او لمونځ يې پکښې وکړ خو ددې سوچ سره چې ريښمينه جامه اغوستلو سره غرور راځي نو رسول الله ﷺ هغه نا خوښه کړه او وه يې غورځول همدا سي رسول الله ﷺ خپل په دې عمل سره دا اظهار وکړ چې اګر که ددې اغوستل مباح دي مګر د الله تعالی نيک بندګان او متقي او پرهيزګاره خلک د ځان لپاره مناسب او غوره نه ګڼي چې د رېښمو جامه واغوندي بيا وروسته ريښم اغوستل د ټولو مسلمانانو لپاره که متقي وي يا غير متقي حرام سول، يا کيدای سي چې دا نهي په دې

صورت کي سوړ وي نو په دې صورت کي به متقي عن الشرک مراد وي، يعني مسلمانانو ته دغه اغوستل نه دي پکار.

اَلْفَصْلُ الثاني (دوهم فصل)

﴿۷۰۴﴾: عَنْ سَلْمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنِّيْ رَجُلٌ أَصِيْدُ

د حضرت سلمة بن الاكوع رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما رسول الله ﷺ ته وويل: اې د الله رسوله! زه يو ښکاري سړی يم

أَفَأُصَلِّيْ فِيْ الْقَمِيْصِ الْوَاحِدِ؟ قَالَ نَعَمْ وَازْرُرْهُ وَلَوْ بِشَوْكَةٍ. رواه أبو داود وروى النسائي نحوه.

ايا زه په يوه قميص کي لمونځ کوم؟ رسول الله ﷺ راته وفرمايل: هو، او په هغه کي تڼۍ ولګوه که څه هم د ازغي وي. ابوداؤد او نسائي

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\۴۱۶، رقم: ۶۳۲ والنسائي ۲\۷۰، رقم: ۷۶۴.

تشريح: ښکاريان په ښکار کي کمه جامه اغوندي د زياتو جامو اغوستل په ښکاره کي خنډ وي ځکه د هغه صحابي د سوال مقصد دا وو چي زه ښکار کونکی سړی يم او د ښکار په وخت کي په عامه توګه يوازي يو قميص مي اغوستی وي او لاندي لونګ مي نه وي چي کله په ښکار پسي ځغلم نو اساني وي نو ايا زه په دغه يوه قميص کي لمونځ کوم؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ته په يوه قيمص کي لمونځ کولای سې مګر د هغه قميص چاک دي دومره خلاص وي که د رکوع او سجدې په وخت کي د ستر خلاصېدو اندېښنه وي نو د هغه چاک تړه او که هغه وخت د چاک بندولو يو شی موجود نه وي نو په هغه کي اغزي ورکوه چي ستر خلاص نسي.

﴿۷۰۵﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ بَيْنَمَا رَجُلٌ يُّصَلِّيْ مُسْبِلٌ إِزَارَهُ قَالَ لَهُ رَسُوْلُ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي يو سړي په زړېدلي پرتوګ سره لمونځ کاوه، رسول الله ﷺ هغه ته وفرمايل:

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذْهَبْ فَتَوَضَّأْ فَذَهَبَ وَتَوَضَّأَ ثُمَّ جَاءَ فَقَالَ رَجُلٌ

ولاړ سه اودس وکړه ، هغه ولاړی اودس يې وکړ بیا حاضر سو ، يو چا وویل:

يَارَسُوْلَ اللهِ مَا لَكَ أَمَرْتَهُ أَنْ يَتَوَضَّأَ ؟ قَالَ إِنَّهُ كَانَ يُصَلِّيْ وَهُوَ مُسْبِلٌ إِزَارَهُ

اې دالله رسوله! تاسو د څه لپاره هغه ته د اودس کولو حکم ورکړ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : دې سړي په زړېدلي پرتوګ سره لمونځ کوی

وَإِنَّ اللهَ تَعَالٰى لَا يَقْبَلُ صَلَاةَ رَجُلٍ مُسْبِلٍ إِزَارَهُ . رواه أبو داود .

او کوم څوک چې په زړېدلي پرتوګ سره لمونځ کوي الله تعالی د هغه لمونځ نه قبلوي . ابوداؤد

تخریج: سنن ابي داؤد ۱\۴۱۹، رقم: ۶۳۸.

تشریح: (اسبال) دې ته وايي چې يو جامه دومره اوږده واغوستل چې هغه د ناز او کبر په توګه پر مځکه کشیږي که څه هم د لونګ سره مخصوص نه دی مګر ددې استعمال اکثره د لونګ لپاره دی ، نو پرتوګ، لونګ وغیره د غرور او تکبر په وجه د بجلکو څخه لاندي زړېدل مکروه دي ، دا وجه ده چې رسول الله ﷺ هغه سړی په لونګ زړولو سره په لمانځه کولو سره ولیدی نو وه يې فرمایل چې کوم سړی لونګ زړېدلی پرېږدي الله تعالی د هغه لمونځ نه قبلوي یعني الله تعالی د داسي سړي د لمانځه کمال نه قبلوي او هغه ته ثواب نه ورکوي که څه هم لمونځ کیږي .

ددې سربیره چې هغه په اوداسه کي وو مګر رسول الله ﷺ هغه ته د اوداسه کولو حکم په دې حکمت سره ورکړ چې هغه سړی ددې سبب په معلومولو کي فکر وکړي او ددې بد فعل د خرابۍ احساس ورته وسي او دا چې الله تعالی د رسول الله ﷺ د حکم په برکت او ظاهري طهارت یعني اودس په وجه د هغه باطن د غرور او تکبر څخه پاک کړي ځکه چې ظاهري طهارت د باطني طهارت ذریعه جوړیږي .

﴿۷۰۶﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُقْبَلُ

د حضرت عائشة ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : نه قبلیږي

صَلَاةُ حَائِضٍ إِلَّا بِخِمَارٍ . رواه أبو داود والترمذي .

لمونځ د بالغي ښځي پرته د پوړنی څخه . ابوداؤد او ترمذي

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\ ۴۲۱، رقم: ۶۴۱ والترمذي ۲\ ۲۱۵، رقم: ۳۷۷.

د لغاتو حل: (حائض): اى بالغة (بالغه).

تشريح: د (حائض) څخه مراد بالغه ښځه ده چي د حيض عمر ته ورسيږي که څه هم هغې ته حيض راځي يا نه راځي، دا حديث پر دې خبره دلالت کوي چي د ښځي سر او ويښتان په ستر کي داخل دي که يوه ښځه سرتوره لمونځ کوي نو د هغې لمونځ نه صحيح کيږي مګر په دې پوه سه چي دا حکم د ازادي ښځي لپاره دى مينځه په دې حکم کي نه ده داخله د هغې لمونځ سر تور سر هم کيږي ځکه چي د هغې سر ستر نه دى د هغې ستر د سړي په ډول د نامه لاندي څخه تر زنګنو پوري دى او نس، ملا او بغل يې هم.

﴿۷۰۷﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّهَا سَأَلَتْ رَسُوْلَ اللهَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتُصَلِّيْ

د حضرت ام سلمة رضي الله عنها څخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه: آيا لمونځ کولاى سي

الْمَرْأَةُ فِيْ دِرْعٍ وَخِمَارٍ لَيْسَ عَلَيْهَا إِزَارٌ؟ قَالَ إِذَا كَانَ الدِّرْعُ سَابِغًا يُغَطِّيْ ظُهُوْرَ قَدَمَيْهَا. رواه أبو داود وذكر جماعة وقفوه على أم سلمة.

ښځه يوازي په قميص او پوړني کي چي پرتوګ يې نه وي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: که قميص دومره اوږد وي چي د قدمو شا ته ورسي نو جائز دى. ابو داؤد

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\ ۴۲۰، رقم: ۶۴۰.

د لغاتو حل: (دِرع): القميص.

تشريح: دا حديث پر دې خبره دلالت کوي چي د ښځي د پښې شا هم په ستر کي داخله ده هغه په لمانځه کي پټول واجب دي.

﴿۷۰۸﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ منعه فرمايلې ده د

السَّدْلِ فِي الصَّلَاةِ وَأَنْ يُّغَطِّيَ الرَّجُلُ فَاهُ. رواه أبو داود والترمذي.

سدل او په لمانځه کي د مخ پټولو څخه . (سدل :داسي جامه اغوستل چي دواړه طرفه پر اوږو زړیږي). ابوداؤد او ترمذي

تخریج: سنن ابي داؤد ۱\ ۴۲۳، رقم: ۶۴۳، والترمذي ۲\ ۲۱۷، رقم: ۳۷۸.

د لغاتو حل: (السدل): هو ان یضع الثوب علی کتفیه ویرسل اطرافه من جوانبه (پر اوږو څادر اچول او دواړو څوکي یې شاوخوا ایله کول).

تشریح: د سدل معنی داده چي جامه پر خپل سر یا اوږه اچولو سره دواړو خواوو ته و زړول سي د جامو استعمالولو دا طریقه مطلقا ممنوع ده ځکه چي په دې سره د غرور او تکبر شان پیدا کیږي او په لمانځه کي خو دا طریقه ډیره خرابه ده همداسي په لمانځه کولو سره لمونځ مکروه کیږي .

ځیني علماء وایي چي د سدل مطلب دادی چي یو سړی جامه پر ځان اچولو سره خپل لاس د هغه دننه کړي او همداسي رکوع او سجده کوي دا طریقه د یهودانو وه ځکه رسول الله ﷺ ددې څخه منعه وفرمایل، په عربو کي د لنګوټې په ول سره به یې خوله پټول چي په هغه سره به خوله پټه سوه ، رسول الله ﷺ ددې څخه منعه فرمایلې ده ځکه چي په داسي توګه نه خو قرائت په ښه ډول ادا کیدای سي او نه سجده په پوره توګه سره کیږي هو که چیري په لمانځه کي تهږ راځي یا د خولې څخه بدبویي راځي نو هغه ته خوله پټول مستحب دي .

﴿۷۰۹﴾: وَعَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت شداد بن اوس ﷜ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل :

خَالِفُوا الْيَهُودَ فَإِنَّهُمْ لاَ يُصَلُّونَ فِيْ نِعَالِهِمْ وَلاَ خِفَافِهِمْ . رواه أبو داود .

په لمانځه کي د یهودو مخالفت کوئ یعني هغوی د څپلیو او موزو سره لمونځ نه کوي . ابوداؤد

تخریج: سنن ابي داؤد ۱\ ۴۲۸، رقم: ۶۵۲.

تشریح: یهودیانو به د څپلیو او موزو سره لمونځ نه کوی ځکه رسول ﷺ وفرمایل چي تاسو خلک د یهودو مخالفت وکړئ او د څپلیو او مزو په پښو کولو سره په شرط ددې چي هغه پاکي وي لمونځ کوئ .ددې حدیث څخه دا معلومه سوه چي دګمراه خلکو د مخالفت ښکاره کولو په غرض یو مباح شي باندي عمل کول غوره دي او وجه یې داده چي داسي ګمراه خلکو مخالف لازمیږي ځکه مباح شی هم د عزیمت یعني د اولولیت حکم پیدا کوي .

﴿۷۱۰﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ بَيْنَمَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوسعيد خدري ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ

يُصَلِّي بِأَصْحَابِهِ إِذْ خَلَعَ نَعْلَيْهِ فَوَضَعَهُمَا عَنْ يَسَارِهِ فَلَمَّا رَأَى ذٰلِكَ الْقَوْمُ

د خپلو اصحابو سره لمونځ کوی چي رسول الله ﷺ خپل څپلۍ و کښلې او چپه لوري ته يې کښېښودلې ، خلکو چي د رسول الله ﷺ دې کار ته وکتل

أَلْقَوْا نِعَالَهُمْ فَلَمَّا قَضٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاتَهُ قَالَ مَا

نو هغوی هم خپل څپلۍ و کښلې ،کله چي رسول ﷺ د لمانځه څخه فارغ سو نو وه يې فرمايل :

حَمَلَكُمْ عَلٰى إِلْقَائِكُمْ نِعَالَكُمْ ؟ قَالُوْا رَأَيْنَاكَ أَلْقَيْتَ نَعْلَيْكَ فَأَلْقَيْنَا نِعَالَنَا

تاسو ولي خپل څپلۍ و کښلې ؟ هغوی وويل موږ ته وليدی چي څپلۍ دي و کښې نو موږ هم څپلۍ و کښلې ،

فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ جِبْرِيْلَ أَتَانِيْ فَأَخْبَرَنِيْ أَنَّ فِيْهِمَا

رسول الله ﷺ ورته و فرمايل : جبرائيل ؑ ما ته راغلی او زه يې خبردار کړم چي ستا پر څپليو

قَذَرًا إِذَا جَاءَ أَحَدُكُمْ إِلَى الْمَسْجِدِ فَلْيَنْظُرْ فَإِنْ رَأٰى فِيْ نَعْلَيْهِ قَذَرًا

نجاست لګېدلی دی ، اوس چي په تاسو کي څوک مسجد ته د ننه راځي نو خپل څپلۍ دي ګوري که پر هغو څه نجاست وي

فَلْيَمْسَحْهُ وَلْيُصَلِّ فِيْهِمَا . رواه أبو داود والدارمي .

نو وچ يې کړئ بيا دي ورسره لمونځ کوي. ابوداؤد او دارمي .

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\ ۴۲۶– ۴۲۷، رقم: ۶۵۰ والدارمي ۱\ ۳۷۰، رقم: ۱۳۷۸.

تشريح: قذر د قاف په زور سره او د دال معجمه سره هغه شي ته وايي چي طبيعت يې بد ګڼي نو د دې لفظ څخه په ښکاره دا معلومېږي چي د رسول الله ﷺ په څپليو کي به داسي نجاست نه وو لګېدلی چي په هغه سره به يې لمونځ نه صحيح کېږي بلکه يو کرکه راويستونکی شی ګرځنګ

وغیره به لګیدلي وه ځکه که نجاست لګیدلی وای نو رسول ﷺ به د سره لمونځ کوی حالانکه رسول الله ﷺ چي څومره لمونځ کړی وو نه خو یې هغه دوهم وار وکړ نه یې د نوي سره وکړ د جبرائیل علیه السلام خبر ورکول او بیا د هغه خبر په وجه د رسول الله ﷺ څپلۍ کښل ځکه وو چي د رسول الله ﷺ په ذات اقدس کي صفایي او پاکي ډیره زیاته وه ځکه په څپلیو د کرکي راویستونکي شي لګیدل هم د رسول الله ﷺ د مزاج مناسب نه وه او ځیني شوافع حضرات وایي که د ي لمونځ کونکي پر کالو وغیره باندي لږ نجاست لویدلی وي او هغه ته هم د هغه علم نه وي یعني په خبر نه وي نو لمونځ یې نه کیږي د امام شافعي رحمة الله علیه دا قول قدیم دی په هر حال دا حدیث پر دې خبره دلالت کوي چي د رسول الله ﷺ متابعت واجب دی ځکه چي صحابه رض د یو سبب د پوښتني بغیر یوازي د رسول الله ﷺ د څپلیو کښلو سره خپل څپلۍ سمدستي وکښلې بیا رسول الله ﷺ هم هغه جائز وګڼی .

﴿۷۱۱﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى

د حضرت ابو هریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي لمونځ کوي

أَحَدُكُمْ فَلاَ يَضَعْ نَعْلَيْهِ عَنْ يَّمِيْنِهِ وَلاَ عَنْ يَّسَارِهِ فَتَكُوْنَ عَنْ يَّمِيْنِ غَيْرِهِ

په تاسو کي یو څوک نو خپلي څپلۍ دي راسته او چپه طرف ته نه ایږدي ځکه چي چپه طرف ته اېښودل به د بل سړي راسته طرف وي ،

إِلاَّ أَنْ لاَّ يَكُوْنَ عَنْ يَّسَارِهِ أَحَدٌ وَلْيَضَعْهُمَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ . وَفِيْ رِوَايَةٍ أَوْ لِيُصَلِّ فِيْهِمَا . رواه أبو داود وروى ابن ماجه معناه .

بلکه تاسو خپل څپلۍ د دواړو پښو په منځ کي ساتئ . او په یوه روایت کي دا دي چي د څپلیو سره لمونځ کوئ . ابوداؤد او ابن ماجه .

تخریج: سنن ابي داؤد ۱\۴۲۸، رقم: ۶۵۴ وابن ماجه ۱\۴۶۰، رقم: ۱۴۳۳.

تشریح : مطلب دادی چي د لمانځه په دوران کي څپلۍ دي خپل راسته طرف ته نه ایږدي او چپې خوا ته دي یې هم نه ایږدي ځکه کوم سړی چي د هغه چپه خوا ته دریږي نو دا څپلۍ کوم چي خپل چپه خوا ته یې ایښي دي د هغه سړي راسته طرف ته راځي هر کله چي خپل راسته خوا

ته ځپلی اېښودل يې خوښ نه کړل نو هغه ځپلی د بل سړي راسته خوا ته ولي کښيښودل سي ځکه نو د مسلمانانو لپاره ضروري ده چي کوم شيان د خپل ځان لپاره نه خوښوي هغه دي د خپلو مسلمانانو ورونو لپاره هم نه خوښوي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

﴿۷۱۲﴾: عَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو سعيد رضي الله عنه څخه روايت دی چي زه د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سوم

فَرَأَيْتُهُ يُصَلِّي عَلَى حَصِيرٍ يَّسْجُدُ عَلَيْهِ قَالَ وَرَأَيْتُهُ يُصَلِّي فِي ثَوْبٍ وَّاحِدٍ مُتَوَشِّحًا بِهِ. رواه مسلم

نو رسول الله ﷺ مي وليدی چي په ځپليو کي يې لمونځ کوی، رسول الله ﷺ به پر چوټايي سجده کول، د راوي بيان دی چي ما رسول الله ﷺ په يوه جامه کي چي پر بدن يې راګرزولې وه په لمونځ کولو وليدی. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱۱/۳۶۹، رقم: ۲۸۴- ۵۱۹.

تشريح: دا حديث پر دې خبره دلالت کوي چي لمونځ پر هر هغه شي باندي جائز دي چي د لمونځ کونکي او مځکي په مينځ کي حائل وي که څه هم هغه شي د بوری وغيره څخه وي يا د کالو وړئ پشم وغيره د ډول څخه وي که څه هم په حديث کي يوازي د بوريا ذکر سوی دی مګر د علماؤ په نزد نور دلائل داسي دي چي د هغه تر مخه هغوی د بوريا څخه ماسوا پر کپړه وغيره باندي لمونځ کول جائز ګڼي،.قاضي عياض رحمة الله عليه فرمايي چي پرته د يو شي او ارولو څخه پر مځکه لمونځ کول افضل دي ځکه چي خضوع او عاجزي د لمانځه اصل روح دی اودا شيان پر مځکه لمونځ کولو سره حاصل کيږي هو که يو مجبوري وي مثلاً د ګرمی يا يخ په وجه بغير څه اوارولو پر مځکه لمونځ کول ممکن نه وي نو يو شی اوارول غوره دي. ځيني حضرات وايي کوم شيان چي د مځکي څخه نه وي پيدا سوي پر هغه لمونځ کول غوره نه دي يعني بوريا وغيره باندي لمونځ کول غوره نه دی.

﴿۷۱۳﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ حَافِيًا وَمُتَنَعِّلاً. رواه أبو داود.

حضرت عمرو بن شعيب د خپل پلار ځخه او هغه د خپل پلار ځخه روايت دی چي ما رسول الله ﷺ په لوڅو پښو او د څپليو سره په دواړو حالاتو کي پر لمانځه کولو ليدلی دی. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\۴۲۷، ۴۲۸، رقم: ۶۵۳.

﴿۷۱۴﴾: وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ قَالَ صَلَّى جَابِرٌ فِيْ إِزَارٍ قَدْ عَقَدَهُ مِنْ قِبَلِ

د حضرت محمد بن المنکدر ځخه روايت دی چي حضرت جابر رضي الله عنه زموږ سره په لنګ کي لمونځ وکړ چي هغه د څټ لوري ته تړلی وو

قَفَاهُ وَثِيَابُهُ مَوْضُوْعَةٌ عَلَى الْمِشْجَبِ فَقَالَ لَهُ قَائِلٌ تُصَلِّيْ فِيْ إِزَارٍ وَّاحِدٍ فَقَالَ

او د هغه جامه پر سه پايه پرته وه، يوه سړي ورته وويل ايا ته يوازي په لنګ کي لمونځ کوې؟ جابر رضي الله عنه ورته وويل

إِنَّمَا صَنَعْتُ ذٰلِكَ لِيَرَانِيْ أَحْمَقُ مِثْلُكَ وَأَيُّنَا كَانَ لَهُ ثَوْبَانِ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه البخاري.

داسي ما ځکه کړي دي چي ستا په ډول بې عقل ته وښيم او د رسول الله ﷺ په زمانه کي په موږ کي د هيچا سره دوې جامې نه وې. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۱\۴۶۷، رقم: ۳۵۲.

د لغاتو حل: (المِشجب): عيدان يُضم رؤوسها ويفرج بين قوائمها، يوضع عليها الثياب.

تشريح: د (مشجب) عامه معنی د موړي او ميخ کيدای سي ځکه چي مشجب هغه شي ته وايي چي پر هغه جامې زړيدلای يا اېښودل کيږي، او يا هغه شي ته وايي چي پر هغه کله اوبه يخولو لپاره ژی زړول کيږي، په هر حال حضرت جابر رضي الله عنه خپل جامې پر هغه ايښي وې او لمونځ يې يوازي په يوه جامه کي داسي کوی چي د هغه جامې تهبند يې جوړ کړی وو او د هغه

يو كونج يې پورته د غاړې سره تړلی وو ، يو سړي دا طريقه د سنت خلاف گڼلو سره بد خيال كړل او حضرت جابر رضي الله عنه څخه يې پوښتنه وكړه چې تاسو د دومره جامو په شتون كې يوازې په يوه جامه كې لمونځ كوئ نو ددې وجه څه ده ؟ د هغه په جواب كې يې ورته وفرمايل چې زه يوازې په يوه جامه كې لمونځ ځكه كوم چې ستا په ډول كم علمه ما ووينې او پوه سې چې لمونځ يوازې په يوه جامه كې هم كيداى سي ، دا د سنت خلاف نه ده نو ددې مقصد سره سم هغه ته يې زورونه وركړه او ورته يې وويل چې ناپوهه ته دا بد ولې گڼې د رسول الله ﷺ په زمانه كې په موږ كې څوك وو چې د هغه سره دوې جامې وې ، زموږ سره خو به يوازې يوه جامه وې او په هغې كې به مو لمونځ كوى او هغه به مو د نورو ضرورتونو لپاره هم استعمالول .

په دې اړه د علماؤ اجماع ده چې په دوو جامو كې لمونځ كول افضل دي واجب نه دي ځكه چې په دې كې تنگي ده او رسول الله ﷺ او صحابه كرامو په يوه جامه كې لمونځ كله خو ددې لپاره كړى دى چې د هغوى سره يوازې يوه جامه وه او كله د بيان جواز په خاطر په يوه جامه كې يې لمونځ كړى دى، خلاصه داده كه يو سړى په يوه جامه كې ځكه لمونځ كوي چې د هغه سره دوهمه جامه نه وي يا د بيان جواز په خاطر يې كوي نو جائز ده او كه يو سړى د سستي او د حقارت په نظر داسي كوي نو دا مناسب نه ده .

د حضرت جابر رضي الله عنه د ارشاد څخه دا اشاره حاصليږي چې هيچا ته د صحابه كرامو پر ترك سنت باندې لعن او طعن كول نه دي پكار او د هغوى په اړه نيك گمان كول پكار دي يعني كه د يو صحابي رضي الله عنه څخه يو داسي فعل كېدل معلوم سي چې په ظاهره د سنت خلاف معلوميږي نو په دې اړه دا خيال كول پكار دي چې دا د بيان جواز لپاره دي يا په هغه كې به يو عذر وي .

﴿۷۱۵﴾ : وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ اَلصَّلَاةُ فِي الثَّوْبِ الْوَاحِدِ سُنَّةٌ كُنَّا نَفْعَلُهُ مَعَ

د ابي بن كعب رضي الله عنه څخه روايت دى چې په يوه جامه كې لمونځ كول سنت دى لكه څرنگه چې موږ

رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا يُعَابُ عَلَيْنَا . فَقَالَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ إِنَّمَا كَانَ

د رسول الله ﷺ سره ادا كوى پر دې به هيچا پر موږ تور نه لگاوه (يعني بد يې نه ويل) ، ابن مسعود رضي الله عنه وايي

ذَاكَ إِذَا كَانَ فِي الثِّيَابِ قِلَّةٌ فَأَمَّا إِذَا وَسَّعَ اللّٰهُ فَالصَّلَاةُ فِي الثَّوْبَيْنِ أَزْكٰى . رواه أحمد

دا هغه وخت وو چي جامې ډيري كمي وې مگر هر كله چي الله ﷻ پراخي راوستل نو په دوو جامو كي لمونځ كول غوره دی. احمد

تخريج: الامام احمد في مسنده ۵\۱۴۱.

==========

بَابُ السُّتْرَةِ

(د سُترې بيان)

دلته د سترې څخه مراد هر هغه شی دی چي د لمانځه كونكي مخته ته درول كيږي لكه ديوال، ستن، لرگی، وسپنه او داسي نور، د لمانځه كونكي مخته ستره ځكه درول كيږي چي د هغه په وجه د سجدې ځای بيل كړل سي او د لمانځه كونكي مخته د تيرېدو والا سړی گناه كار نسي، د سترې اوږدوالي كم تر كمه د يوه لاس په اندازه او د يوې گوتي په اندازه پنډ كېدل ضروري دي، د مقتديانو لپاره د امام ستره كافي ده يعني د امام مخته كه ستره ولاړه وي نو د مقتديانو مخته تېرېدل جائز دي كه څه هم د هغوی مخته يو شی حائل نه وي.

د امام او سترې په مينځ كي تيرېدل جائز نه دي هو كه داسي صورت وي چي يو لمونځ كونكی د شا څخه په مخكني صف كي خالي ځای ويني نو د هغه لپاره جائز ده چي د وروسته صف مخته په تيرېدو سره په لومړي صف كي خالي ځای ته په رسيدو سره ودرېږي ځكه چي دا د وروسته صف والا قصور دی چي په هغوی كي د مخته كېدو سره د لومړي صف ځای ولي ډك نه دی، د سترې مفصل احكام به په راتلونكو حديثونو كي د تشريح په ضمن كي راسي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د سترې په اړه د رسول الله ﷺ معمول

﴿۷۱۶﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْدُوْ إِلَى الْمُصَلَّى

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د ورځي په اوله برخه كي عيدگاه ته تشريف وړی

وَالْعَنَزَةُ بَيْنَ يَدَيْهِ تُحْمَلُ وَتُنْصَبُ بِالْمُصَلّٰى بَيْنَ يَدَيْهِ فَيُصَلِّيْ إِلَيْهَا . رواه البخاري

د رسول الله ﷺ په وړاندي به يو نيزه وړونكى وو او څه وخت چي به عيدګاه ته ورسيدى نو نيزه به د رسول الله ﷺ مخته و دروله سوه او رسول الله ﷺ به د هغې په لور لمونځ كوى . بخاري .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۴۶۳، رقم: ۹۷۳.

تشريح: د نبي كريم ﷺ معمول به دا وو چي د سترې كولو او لوټو وغيره ماتولو دپاره به اكثره وخت خادمانو د نبي كريم ﷺ سره يوه نېزه ګرځول، همداسي په عيدګاه كي مخامخ خو څه ديوال او يا بل شى نه وو بلكه ټول ميدان ميدان وو، ددې وجهي څخه هلته هم د دوى سره نيزه وړل كېدل او هغه به رسول الله ﷺ خپل مخ ته كښېښودل .

د الله جل جلاله تعريف او د سُترې مخته د تيرېدو حكم

﴿۷۱۷﴾: وَعَنْ اَبِيْ جُحَيْفَةَ قَالَ رَاَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ

د حضرت ابو جحيفة رضي الله عنه څخه روايت دى چي ما رسول الله ﷺ په مكه معظمه كي وليدى

وَهُوَ بِالْاَبْطَحِ فِيْ قُبَّةٍ حَمْرَاءَ مِنْ اَدَمٍ وَرَاَيْتُ بِلَالًا اَخَذَ وَضُوْءَ رَسُوْلِ اللّٰهِ

چي د ابطح په ځاى كي د څرمني په يوې سرې خيمې كي وو او حضرت بلال رضي الله عنه مي وليدى چي هغه د رسول الله ﷺ د اوداسه څخه پاته سوي اوبه راوړلې

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ رَاَيْتُ النَّاسَ يَبْتَدِرُوْنَ ذٰلِكَ الْوَضُوْءَ فَمَنْ اَصَابَ

او ما وليدل چي خلكو ور وځغستل او هغه اوبه يې واخيستلې چا ته چي په لاس ورغلې

مِنْهُ شَيْئًا تَمَسَّحَ بِهِ وَمَنْ لَمْ يُصِبْ مِنْهُ اَخَذَ مِنْ بَلَلِ يَدِ صَاحِبِهِ ثُمَّ رَاَيْتُ

هغه پر موږ و موږلې او چا چي تر لاسه نه كړې هغو د نورو د لاس د لوند والي څخه ګټه تر لاسه كړه ، بيا ما وليدل چي

بِلَالًا اَخْرَجَ عَنَزَةً فَرَكَزَهَا وَخَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ حُلَّةٍ

بلال رضي الله عنه يوه نېزه پر ځمكه ښخ كړه او رسول الله ﷺ په سره جامه كي راووتى

حَمْرَاءَ مُشَمِّرًا صَلَّى إِلَى الْعَنَزَةِ بِالنَّاسِ رَكْعَتَيْنِ وَرَأَيْتُ النَّاسَ وَالدَّوَابَّ

چي پر هغې باندي كربښي وې او د نيزې په لورو درېدى او خلكو ته يې دوه ركعته لمونځ وركړ او ما وليدل چي خلك او حيوانان به

يَمُرُّونَ بَيْنَ يَدَيِ الْعَنَزَةِ. متفق عليه

د نيزې تر شا تيرېدل. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١١ ٤٨٥، رقم: ٣٧٦ وفي ١١ ٢٩٤، رقم: ١٨٧ ومسلم ١١ ٣٦٠-٣٦١، رقم: ٢٤٩- ٥٠٣.

د لغاتو حل: (أَبطح): مكان قريب من مِنى : (مِنا ته نژدې يوه سيمه).

تشريح: (ابطح) د يوې نالۍ نوم دى چي د مدينې منورې په لار كي مكې مكرمې ته نژدې واقع ده دغه نالۍ ته محصب او بطحا هم وايي د بطحا وجه تسميه داده چي په دغه نالۍ كي ډبري دي چي په لاره كي پرتې دي.

حله دوو جامو يعني لونګ او څادر ته وايي، رسول الله ﷺ حله اچولې وه هغه سرې ليكي درلودې او تولـه جامه سره نه وه كوم چي د خلكو لپاره اغوستل يې مكروه تحريمي دي، ددې حديث څخه معلومه سوه چي د سترې مخته د خلكو او حيوانانو تيرېدل صحيح دي.

د حيوان ستره جوړول

﴿۷۱۸﴾: وَعَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَعْرِضُ

د حضرت نافع بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ به په پلنوالي كښېنول

رَاحِلَتَهُ فَيُصَلِّيْ إِلَيْهَا . وزاد البخاري قلت أفرأيت إذا هبت الركاب . قال كان يأخذ الرحل فيعدله فيصلي إلى آخرته

خپله اوښه او د هغه لور ته به يې لمونځ كوى. بخاري او مسلم، نافع وايي ما د ابن عمر رضي الله عنه څخه پوښتنه وكړه چي هر كله به اوښان څرانـد ته ولاړل نو بيا به رسول الله ﷺ څه كول؟ (يعني څه شي به يې ستره كوى) هغه وويل كجاوه به يې مخ ته كښېښودل او د هغه طرف ته به يې لمونځ كوى.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ١١ ٥٨٠، رقم ٥٠٧ ومسلم ١١ ٣٥٩، رقم ٢٤٧- ٥٠٢.

﴿۷۱۹﴾: وَعَنْ طَلْحَةَ ابْنِ عُبَيْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت طلحة بن عبيدالله رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

إِذَا وَضَعَ أَحَدُكُمْ بَيْنَ يَدَيْهِ مِثْلَ مُؤْخِرَةِ الرَّحْلِ فَلْيُصَلِّ وَلاَ يُبَالِ مَنْ مَرَّ وَرَاءَ ذٰلِكَ. رواه مسلم

هر كله چي په تاسو كي يو څوک خپل مخته د كجاوې د پاى د لرگي په ډول يو لوړ لرگي كښيږدي نو هغه لوري ته دي لمونځ وكړي او مخته د تيريدونكو پروا دي نه كوي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۱\ ۳۵۸، رقم: ۲۴۱- ۴۹۹.

د لغاتو حل: (مُؤْخِرَة): هي الخشبة التي يستند اليها الراكب. (كجاوه).

تشريح: مطلب دا چي هر كله يو لمونځ كونكى د سترې وړ يو شى مخته كښيږدي او د سترې مخته څوک تيريږي نو د هغه خيال دي نه كوي ځكه چي د سترې په شتون كي مخته د چا تيريدل د لمانځه پر خشوع اثر نه اچوي، يا پرواه دي نه كوي ددې تعلق به د تيريدونكي سرې سره وي يعني كه د لمونځ كونكي مخته ستره وي نو د هغه د مخ څخه تيريدونكى سړى دي څه پرواه نه كوي ځكه چي د سترې په شتون كي د لمونځ كونكي مخته د تېرېدو په وجه به هغه گناه كار نه وي.

د لمونځ كوونكي مخته تير يدل ډېره لويه گناه ده

﴿۷۲۰﴾: وَعَنْ اَبِيْ جُهَيْمٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ يَعْلَمُ الْمَارُّ

د ابو جهيم رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كه چيري پوه سي تېرېدونكى

بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّي مَاذَا عَلَيْهِ لَكَانَ أَنْ يَقِفَ أَرْبَعِينَ خَيْرًا لَهُ مِنْ أَنْ يَمُرَّ بَيْنَ

د لمونځ كوونكي مخته چي ددې څومره لويه گناه ده نو هغه به د لمونځ كونكي مخته تر څلوېښتو (ورځو يا مياشتو يا كالو) پوري ولاړ وي او نه تيريدل به غوره گڼي،

يَدَيْهِ قَالَ أَبُو النَّضْرِ لاَ أَدْرِي قَالَ أَرْبَعِينَ يَوْمًا أَوْ شَهْرًا أَوْ سَنَةً. متفق عليه

د ابو نصر راوي بيان دي چي د څلوېښتو څخه مراد دى ددې په اړه ما ته علم نه سته چي څلوېښت ورځي، مياشتي يا كلونه مراد دى. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱\ ۵۸۴، رقم: ۵۱۰ ومسلم ۱\ ۳۶۳- ۳۶۴، رقم: ۲۶۱- ۵۰۷.

تشريح: حضرت امام طحاوي رحمة الله عليه په مشكل الاثار كي فرمايلي دي چې دلته څلويښت كاله مراد دي نه چې څلويښت مياښتي يا څلويښت ورځي او هغه دا خبره د ابو هريره رضي الله عنه په دې حديث ثابته ده چې رسول الله ﷺ وفرمايل كوم سړى چې د خپل ورور تر مخه داسي تير سي چې هغه د خپل رب سره مناجات كوي يعني لمونځ كوي او هغه د هغه په ګناه پوه سي نو د هغه لپاره پر خپل ځاى تر سل كاله پوري دريدل د قدم پورته كولو څخه غوره دي.

په هر حال د حديثونو څخه معلومه سوه چې د لمونځ كونكي مخته تيريدل ډيره غټه ګناه ده چې د هغه ارزښت څخه اندازه معلوميږي كه يو سړي ته دا معلومه سي چې د لمونځ كونكي مخته تيريدل څومره لويه ګناه ده او د هغه سزاه څومره سخته ده نو هغه به څلويښت كاله يا د ابو هريره رضي الله عنه د روايت سره سم تر سل كاله پوري پر خپل ځاي مستقلا دريدل زيات غوره وګڼي په نسبت د دې چې هغه د لمونځ كونكي مخته تير سي.

د سترې او لمونځ كونكي په مينځ كي تير بدونكي ته په سختۍ سره د منعه كولو حكم

﴿۲۱﴾: وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى

د حضرت ابو سعيد رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چې لمونځ كوي

أَحَدُكُمْ إِلٰى شَيْءٍ يَسْتُرُهُ مِنَ النَّاسِ فَأَرَادَ أَحَدٌ أَنْ يَّجْتَازَ بَيْنَ يَدَيْهِ فَلْيَدْفَعْهُ

په تاسو كي يو څوك چې ستره يې درولې وي نو په داسي حالت كي كه څوك د سترې پروا ونه كړي او د لمونځ كونكي مخته تيريدل غواړي نو لمونځ كونكي ته پكار ده چې هغه منعه كړي

فَإِنْ أَبٰى فَلْيُقَاتِلْهُ فَإِنَّمَا هُوَ شَيْطَانٌ. هذا لفظ البخاري ولمسلم معناه.

او كه هغه نه منعه كيږي نو هغه دي قتل كړي ځكه چې هغه شيطان دى. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱\ ۵۸۱- ۵۸۲، رقم: ۵۰۹ ومسلم ۱\ ۳۶۳، رقم: ۲۵۹- ۵۰۵.

تشريح: د قتل دا مطلب نه دى چې حقيقتا داسي سړى وژل پكار دي بلكه د قتل څخه مراد دادى چې د لمونځ كونكي مخته تيريدل ډير بدكار دى ځكه يو سړى د لمونځ كونكي مخته تيريدل غواړي نو په پوره طاقت او قوت سره د تيريدو څخه منعه او هغه دي د دومره لوى

غلطي ځخه وساتي.

قاضي عياض رحمه الله وايي داسي سړی دي د يو شي په ذريعه منعه کړل سي چي د هغه استعمال د دې د منعه کولو په صورت کي جائز وي او د د ې په منعه کولو کي تيريدونکی سړی مړ سي نو د علماؤ په نزد په متفقه توګه به د هغه قصاص نه وي مګر په ديت کيدو کي د علماؤ اختلاف دی ځيني علماء وايي په داسي صورت کي به ديت واجب وي او ځيني وايي واجب به نه وي. .په حديث کي داسي سړي ته شيطان ويل سوی دی د دې مطلب دادی چي شيطان هغه سړی په غلولو سره پر غلط کار کولو مجبور کړ نو هغه سړی د هغه شيطاني کار کولو په وجه په منزله د شيطان سو .يا د دې ځخه مراد دادی چي داسي غلط کارکونکی سړی شيطان دي د شيطان معنی د سرکش ده که هغه انسانان وي يا جنات ځکه شرير النفس سړي ته شيطاني انس ويل کيږي.

ستره د لمانځه ساتنه کوي

﴿۷۲﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَقْطَعُ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه ځخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ماتوي

الصَّلاَةَ الْمَرْأَةُ وَالْحِمَارُ وَالْكَلْبُ وَيَقِي ذٰلِكَ مِثْلُ مُؤْخِرَةِ الرَّحْلِ . رواه مسلم

لمونځ د لمونځ کونکي مخته د ښځي، خره او سپي تېرېدل او د کجاوې د لرګي په ډول لرګی درول هغوی منعه کوئ .(د جمهورو علماؤ او صحابه کرامو په مذهب په دې سره لمونځ نه ماتيږي د دې حديث ځخه د سترې ټېنګار مقصد دی) . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱\ ۳۶۵، ۳۶۶ رقم: ۲۶۶- ۵۱۱.

تشريح: د جمهور علماوو، صحابوو او داسي نورو هم دا مذهب دی که يو شی يا سړی د لمونځ کونکي مخته تير سي نو لمونځ نه باطل کيږي که ځه هم پورتني ذکر سوي درې شيان وي يا د هغوی پرته نور شيان وي تر ځو پوري چي د دې حديث يا دا ډول د نورو حديثونو تعلق دی ټول په اصل کي د لمونځ کونکي مخته تيرسي نو په لمانځه کي خشوع ،خضوع او د زړه حضور ضائع کوي چي په حقيقت کي د لمانځه اصل او روح دی يا د دې ځخه دا مراد هم اخيستل کيږي چي د لمونځ کونکي مخته د دغه شيانو په تيريدو سره لمونځ کونکي زړه د هغه ځخه په آخوا کيدو سره دې شيانو خوا ته متوجه سي ځکه لمونځ هم باطل کيدو ته نژدې وي.

د ښځي، خره او سپي د تخصيص وجه

د حديث څخه په څرګنده خو دا مفهوم کيږي چي د لمانځه کونکي مخته د دغه درو شيانو په تيريدو سره پر لمانځه اثر لويږي ، ددې څخه پرته د نورو شيانو په تيريدو سره پر لمانځه اثر نه لويږي حال دا چي داسي نه ده بلکه د پورتني ذکر سوو شيانو تخصيص ځکه سوی دی چي د هغوی خوا ته زړه زيات متوجه کيږي د ښځي حيثيت ظاهر دی ، د خره معامله هم داده چي د خره سره اکثر شيطانان وي او دا وجه ده چي د هغه د آواز کولو په وخت کي اعوذبالله ويل مستحب ده ځکه خر چي د لمانځه کونکي مخته تيريږي نو د لمانځه کونکي زړه ددې احساس په وجه چي د هغه سره به شيطانان وي د خره خوا ته متوجه سي يا همداسي د سپي څخه يوازي دا چي نجس عين دی بلکه د هغه څخه د تکليف رسيدو هم خطره وي ځکه د هغه د تيريدو په صورت کي هم ذهن په پوره تيزي سره د هغه خوا ته ګرځي .

د لمونځ کونکي مخته د ښځي په راتلو سره لمونځ نه باطل کيږي

﴿۷۲۳﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي مِنَ

د حضرت عائشي رضي الله عنها څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به لمونځ کوی

اللَّيْلِ وَأَنَا مُعْتَرِضَةٌ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ كَاعْتِرَاضِ الْجَنَازَةِ . متفق عليه

د شپې او زه به د رسول الله ﷺ او قبلې په منځ کي داسي پرته وم لکه څرنګه چي جنازه ايښودل کيږي . بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱\۴۹۲، رقم: ۳۸۳ و ۳۸۴ ومسلم ۱\۳۶۶، رقم: ۲۶۷- ۵۱۲.

تشريح : د جنازې په مثال ورکولو سره دې ته اشاره کيږي چي کوم وخت به رسول الله ﷺ په لمانځه کي مصروف وو نو زه به هغه وخت د رسول الله ﷺ مخته پر يو کټ وغيره نه وم پرته بلکه د رسول الله ﷺ مخته به په پوره توګه سره پرته وم او ددې سربيره به رسول الله ﷺ لمونځ کوی ددې څخه دا معلومه سوه چي په لمانځه کي د لمونځ کونکي مخته د ښځي په راتلو سره لمونځ نه باطل کيږي .

د لمونځ کونکي مخته د خره وغيره تېريدل لمونځ نه باطلوي

﴿۴۲۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أَقْبَلْتُ رَاكِبًا عَلَى أَتَانٍ وَأَنَا يَوْمَئِذٍ قَدْ

د ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي زه يوه ورځ پر خرې سپور راغلم او زه په دغه ورځو کي

نَاهَزْتُ الاِحْتِلاَمَ وَرَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي بِالنَّاسِ بِمِنًى

بالغ کېدو ته نژدې وم او دغه وخت رسول الله ﷺ په مِنا کي خلکو ته لمونځ ورکوی

اِلٰى غَيْرِ جِدَارٍ فَمَرَرْتُ بَيْنَ يَدَيْ بَعْضِ الصَّفِّ فَنَزَلْتُ فَأَرْسَلْتُ الْأَتَانَ تَرْتَعُ

او د رسول الله ﷺ په مخ کي ستره نه وه زه د لمونځ کونکو د ځينو صفو مخته تير سوم او د خره
څخه تا سوم هغه مي څر ته پرېښوده

وَدَخَلْتُ فِي الصَّفِّ فَلَمْ يُنْكِرْ ذٰلِكَ عَلَيَّ أَحَدٌ. متفق عليه

او بيا مي په صف کي ګډون وکړ او چا څه نه وويل. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱ \ ۵۷۱، رقم: ۴۹۳، ومسلم ۱ \ ۳۶۱، رقم: ۲۵۴- ۵۰۴.

تشريح: ددې واقعې بيانولو څخه د ابن عباس رضي الله عنه د ا ښودل مقصد دي چي د لمونځ کونکي مخته د خرې په تيريدو سره لمونځ نه باطل کيږي نو هغه وخت ابن عباس رضي الله عنه بالغ نه وو ځکه هغه چي د لمونځ کونکي مخته تيرسو نو هيڅ چا هم څه ورته ونه ويل.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د عصا (لکړي) د سترې په شان استعمالولو کي د علماؤ اختلاف

﴿۴۲۵﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي لمونځ کوي

أَحَدُكُمْ فَلْيَجْعَلْ تِلْقَاءَ وَجْهِهِ شَيْئًا فَإِنْ لَّمْ يَجِدْ فَلْيَنْصِبْ عَصَاهُ فَإِنْ لَّمْ يَكُنْ

په تاسو کي يو څوک نو هغه دي خپل مخ ته يو شی کښيږدي او که هيڅ شی نه وي نو خپله لکړه
دي ودروي او که نه وي

مَّعَهُ عَصًى فَلْيَخْطُطْ خَطًّا ثُمَّ لَا يَضُرُّهُ مَا مَرَّ أَمَامَهُ . رواه أبو داود وابن ماجه

دده سره لکړه نو يو خط (کرښه) دي وکاږي بيا به يې مخته د يو چا تيريدل ضرر نه کوي

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\ ۴۴۳، رقم: ۶۸۹ وابن ماجه ۱\ ۳۰۳، رقم: ۹۴۳.

تشريح: دا حديث ددې خبرې اجازه ورکوي که يو لمونځ کونکي ته يو داسي شی پيدا نه سي چې د سترې کار وکړي نو هغه دي خپل لکړه مخته د سترې جوړولو لپاره ودروي اوس په دې اړه دا نور سهولت هم ورکړل سوی دی که مځکه نرمه وي نو لکړه دي په مځکه کي ښخه کړي او که مځکه سخته وي او لکړه ښخول مشکل وي نو بيا په دي صورت کي د لکړي ښخولو پر ځاي خپل مخته دي په اوږدوالي کښېښنودل سي نو د ښخولو مشابهت به حاصل سي.

د فقهي په کتاب شرح منيه کي ليکلي دي که يو لمونځ کونکی خپله لکړه د سترې په توګه په مځکه کي د ښخولو پر ځای خپل مخته کښيږي نو د ځيني علماؤ په نزد خو د هغه لپاره دا دسترې په توګه کافي کيږي د سترې حکم به پوره سي مګر د ځينو علماؤ په نزد دا ستره نه کافي کيږي په کفايه کي ليکلي دي که يو لمونځ کونکي د سترې په توګه لکړه پر ځای د ښخولو خپل مخته ايښودل غواړي نو هغه ته لکړه په اوږدوالي اېښودل پکار دي نه په پلنوالي.

د سترې نه موجود کېدو په صورت کي د کرښي په کښلو کي اختلاف

د دې حديث څخه يوه خبره دا معلوميږي که يو لمونځ کونکي ته د سترې جوړولو لپاره يو شی حاصل نسي تر دې چي د هغه سره لکړه هم نه وي نو هغه دي خپل مخ ته يوازي د يوې کرښي په کښلو سره لمونځ وکړي د هغه لپاره به دا کرښه ستره جوړه سي، دا امام شافعي رحمة الله عليه قديم قول او دا امام احمد رحمة الله عليه مذهب دادی بلکه په حنفيه کي هم وروسته ځينو علماؤ دا قول اختيار کړی دی د حنفيه اکثر علماء او امام مالک رحمة الله عليه ددې قائل نه دی ځکه چي د هغوی په نزد کرښه راکښل معتبر نه دی امام شافعي رحمة الله عليه هم خپل نوی قول په هغه کي د مخکني قول څخه انکار کړی دی او ويلي يې دی چي په دې اړه کوم حديث وارد دی هغه ضعيف او مضطرب دی او دا چي د لمونځ کونکي د مخ تيريدونکي په مينځ کي د سترې په توګه يوازي د کرښي حائل کيدو نه يوازي دا چي څه اعتبار نه لري بلکه د ليري څخه هم دامعلومول او پېژندل کيږي ، د صاحب هدايه رحمة الله عليه هم دا مذهب دی د شيخ ابن الهمام رحمة الله عليه د قول مفهوم هم دادی چي د کرښي د کښلو پر ځاي د سترې درول د اتباع سنت په وجه اولی او غوره دي ځکه چي مخته دريدل سوې ستره په پوره توګه سره

د ښکاره کېدو په وجه امتياز هم لري او د لمونځ کونکي د زړه څخه شکونه او شبهات په ايسته کولو سره د سکون زړه او اطمينان باعث کيږي . د دې څخه وروسته علماؤ د خط په وصف کې هم اختلاف کړی دی چې کرښه څرنګه کښل پکار ده د ځينو علماؤ په نزد کرښه د هلال په شکل کښل پکار ده او ځيني حضرات وايي چې د قبلې خوا ته طولا کښل پکار دي او مختار طولا کښل دي .

ستره باندي نژدې ودرول سي

﴿۷۲۶﴾: وَعَنْ سَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت سهل بن ابو حثمة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل :

إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ إِلَى سُتْرَةٍ فَلْيَدْنُ مِنْهَا لَا يَقْطَعُ الشَّيْطَانُ عَلَيْهِ صَلَاتَهُ .

رواه أبو داود.

څوک چې په تاسو کې د سترې په لور لمونځ کوي نو ستره دې د ځان خوا ته نژدې ودروي چې شيطان د هغه لمونځ مات نه کړي. ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\۴۴۶، رقم: ۶۹۵.

تشريح : د سترې نژدې کيدو مطلب دادی چې ستره نژدې ودروي چې سجده د هغه سره نژدې وکړل سي چې شيطان د هغه په لمانځه کې خلل وانه چوي ځکه لمونځ کونکی که د سترې څخه ليري ودريږي نو د هغه مخته د يو چا تيرېدو احتمال به وي ، شيطان په داسي صورت کې د هغه په زړه کې د وسوسو او شکونو تخم کري چې په هغه سره د زړه په حضور کې فرق راځي او په هر لمانځه کې د زړه د حضورۍ دولت نه تر لاسه کيږي نو د سترې په نژدې درولو سره به د دې آفت څخه ساتنه په برخه سي .

ستره د تندي مخامخ درول نه ده پکار

﴿۷۲۷﴾: وَعَنِ الْمِقْدَادِ بْنِ الْأَسْوَدِ قَالَ مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت مقداد بن الاسود رضي الله عنه څخه روايت دی چې ما رسول الله ﷺ وليدی چې

وَسَلَّمَ يُصَلِّي إِلَى عُودٍ وَلَا عَمُودٍ وَلَا شَجَرَةٍ إِلَّا جَعَلَهُ عَلَى حَاجِبِهِ الْأَيْمَنِ أَوِ

لمونځ به يې كوى د لرګي يا ستني او يا درختي په لور بلكه د سترې شى به د رسول الله ﷺ راسته يا

الْأَيْسَرِ وَلَا يَصْمُدُ لَهُ صَمْدًا . رواه أبو داود

چپه ورځي ته مخامخ وو او هيڅ كله به يې په منځ كي د اينبودلو قصد نه كاوه . ابو داؤد

تخريج: سنن ابي داؤد: ۱\۴۴۵، رقم: ۶۹۳.

د لغاتو حل: (لايصمد له صمدا): اى لايجعله بين عينيه حذرا عن التشبه بعبادة الاصنام.

تشريح: مطلب دا چي كله به رسول الله ﷺ ستره ودرول نو د دې خبري به پې په خاصه توګه سره خيال ساتى چي ستره بالكل د تندي مخته نه وي بلكه رسول الله ﷺ به ستره د چپه يا راسته ورځو مخته ودرول او د دې څخه به د رسول الله ﷺ مقصد داوو چي د بت پرستى مشابهت نه وي .

د لمونځ كونكي مخته د سپي او خره تيرېدل لمونځ نه باطلوي

﴿۷۲۸﴾: وَعَنِ الْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أَتَانَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت فضل بن عباس رضي الله عنه څخه روايت دى چي موږ رسول الله ﷺ ته راغلو

وَنَحْنُ فِيْ بَادِيَةٍ لَّنَا وَمَعُه عَبَّاسٌ فَصَلّٰى فِيْ صَحْرَاءٍ لَيْسَ بَيْنَ يَدَيْهِ سُتْرَةٌ

او موږ ذغه وخت په يو ځنګل كي وو ، د رسول الله ﷺ سره عباس رضي الله عنه هم وو ، رسول الله ﷺ په ځنګل كي لمونځ وكړ او مخته يې ستره وه

وَحِمَارَةٌ لَّنَا وَكَلْبَةٌ تَعْبَثَانِ بَيْنَ يَدَيْهِ فَمَا بَالٰى ذٰلِكَ . رواه أبو داود وللنسائي نحوه

او زموږ يوه خره او يوه سپى وه چي د رسول الله ﷺ مخته يې لوبي كولې ، رسول الله ﷺ د هغو پروا ونه كړل . ابو داؤد او نسائي .

تخريج: سنن ابي داؤد: ۱\۴۵۹، رقم: ۷۱۸ والنسائي ۲\۶۵، رقم: ۷۵۲.

تشريح: د اهل عربو دا رواج وو چي هغوى به د څو ورځو لپاره په ځنګل كي خيمه درول او هلته به اوسيدل د هري ډلي خپل ځانګړى ځنګل وو د حضرت عباس رضي الله عنه هم يو ځنګل وو په كومو ورځو كي چي هغه په ځنګل كي خيمه درول رسول الله ﷺ هم هغوى ته تشريف يوړو ، راوي د هغه ځاى واقعه بيانوي . د دې حديث څخه دا معلوميږي چي د لمونځ كونكي مخته كه خرونه ،

سپیان وغیره تیر سي نو لمونځ نه باطل کیږي هلته دا خبره هم ثابتیږي چي په عامه لاره کي د لمونځ کولو په صورت کي لمونځ کونکي ته ستره درول واجب نه ده بلکه مستحب ده.

د لمونځ کونکي مخته د یو چا په تیریدو سره لمونځ نه باطلیږي

﴿۷۲۹﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَقْطَعُ

د حضرت ابوسعید رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: نه ماتوي

الصَّلَاةَ شَيْءٌ وَادْرَؤُوا مَا اسْتَطَعْتُمْ فَإِنَّمَا هُوَ شَيْطَانٌ. رواه أبو داود.

لمونځ هیڅ شی کوم چي د لمونځ کونکي مخ ته تیر سي تر څو پوري چي ممکن وي یو شی د مخته تیریدو څخه منعه کړئ ځکه چي تېرېدونکي شیطان دی. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داؤد ۱/ ۴۶۰، رقم: ۷۱۹.

تشريح: ددې حدیث څخه هم دا معلومیږي چي د لمونځ کونکي مخته د هر شي تیریدل لمونځ نه باطل کوي که څه هم هغه ښځه وي یا سپی وي یا خروي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

﴿۷۳۰﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أَنَامُ بَيْنَ يَدَيْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

د حضرت عائشي رضي الله عنها څخه روایت دی چي زه به د رسول الله ﷺ مخ ته داسي بیده کېدم چي

وَسَلَّمَ وَرِجْلَايَ فِي قِبْلَتِهِ فَإِذَا سَجَدَ غَمَزَنِي فَقَبَضْتُ رِجْلَيَّ وَإِذَا قَامَ

زما پښې به د رسول الله ﷺ د قبلې لور ته وې (یعني د سجدې پر ځای) کوم وخت چي به رسول الله ﷺ سجده کول نو زما پښې به یې کښېښلې نو ما به پښې راټولي کړې او هر کله چي به رسول الله ﷺ سجده وکړه

بَسَطْتُهُمَا قَالَتْ وَالْبُيُوتُ يَوْمَئِذٍ لَيْسَ فِيهَا مَصَابِيحُ. متفق عليه

نو ما به بیا پښې وغزولې، بي بي عائشه فرمایي چي په دغه ورځو کي په کورو کي څراغ نه بلیدی. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱\ ۵۸۸، رقم: ۵۱۳ و مسلم ۱\ ۳۶۷، رقم: ۲۷۲ - ۵۱۲.

تشريح: د حديث په اخري جمله کي بي بي عائشې رضي الله عنها خپل دا عذر بيانول غواړي چي ما به د رسول الله ﷺ د سجدې پر ځاي پښې ځکه غزولې چي د رڼا نه کيدو په وجه ما ته هيڅ نه معلوميده تر څو پوري چي د بي بي عائشې رضي الله عنها ددې عمل تعلق دی چي کله به رسول الله ﷺ د هغې پر پښو زور وکړ نو هغې به خپل پښې راټولې کړې او څه وخت چي به رسول الله ﷺ ودريدی نو هغې به خپل پښې وغزولې نو دا د رسول الله ﷺ په تقرير يعني د هغوی په دې عمل د رسول ﷺ د خوا څخه د انکار د نه کيدو په وجه وو.

د لمونځ کونکي مخته تير يدل لوی جرم دی

﴿۷۳۱﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ يَعْلَمُ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: که چيري پوه سي

أَحَدُكُمْ مَا لَهُ فِيْ أَنْ يَّمُرَّ بَيْنَ يَدَيْ أَخِيْهِ مُعْتَرِضًا فِي الصَّلَاةِ كَانَ لِأَنْ يُّقِيْمَ

په تاسو کي يو څوک چي د خپل يو مسلمان ورور مخته تيريدل (کله چي لمونځ کوي) څومره ګناه ده نو هغه به دريدل

مِائَةَ عَامٍ خَيْرٌ لَّهُ مِنَ الْخُطْوَةِ الَّتِيْ خَطَا. رواه ابن ماجه

سل کاله د لمونځ کونکي تر تيريدو زيات غوره وګڼي. ابن ماجه.

تخريج: سنن ابن ماجه ۱\ ۳۰۴، رقم: ۹۴۶.

﴿۷۳۲﴾: وَعَنْ كَعْبِ الْأَحْبَارِ قَالَ لَوْ يَعْلَمُ الْمَارُّ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّيْ مَاذَا عَلَيْهِ

د حضرت کعب احبار رضي الله عنه څخه روايت دی چي که چيري د لمونځ کونکي مخته تيريدونکی ته دا معلومه سي چي ددې څومره ګناه ده

لَكَانَ أَنْ يُّخْسَفَ بِهِ خَيْرًا لَّهُ مِنْ أَنْ يَّمُرَّ بَيْنَ يَدَيْهِ. وفي رواية أهون عليه.

رواه مالك.

نو هغه به په مځکه کي (ژوندی) ښخېدل د لمونځ کونکي تر مخ تېرېدو څخه زيات خوښ کړي او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي هغه ته به په مځکه کي ښخېدل زيات اسان معلوم سي . مالک

تخريج: الامام مالک في الموطا ۱\ ۱۵۵، رقم: ۳۵.

د لمونځ کونکي د مخ څخه څومره ليري تېرېدل پکار دي

﴿۷۳۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلّٰى

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کله چي لمونځ کوي

أَحَدُكُمْ إِلَى غَيْرِ السُّتْرَةِ فَإِنَّهٗ يَقْطَعُ صَلَاتَهُ الْحِمَارُ وَالْخِنْزِيْرُ وَالْيَهُوْدِيُّ

په تاسو کي يو څوک پرته د ستري څخه نو د هغه لمونځ ماتيږي د هغه مخته د خره، خنزير، يهودي،

وَالْمَجُوْسِيُّ وَالْمَرْأَةُ وَتُجْزِئُ عَنْهُ إِذَا مَرُّوْا بَيْنَ يَدَيْهِ عَلٰى قَذْفَةٍ بِحَجَرٍ .

رواه أبو داود

مجوسي او ښځي تيرېدو سره ماتيږي، او که تېرېدونکی د يوې ډبري ويشتلو په اندازه ليري وي نو بيا پروا نه لري . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\ ۴۵۳، رقم: ۷۰۴.

تشريح: مطلب دا دی چي د ويشتلو وروسته ډبره څومره ليري ځي د هغه فاصلې وروسته دا مذکوره شيان که د لمونځ کونکي مخته تير سي نو څه پرواه نسته يعني په لمانځه کي څه خلل او قصور نه راځي، علماء ليکي چي په ډبره غورځولو سره مراد په حج کي رمي جمار دی يعني په حج کي پر منارو چي کومي ډبري په کومه فاصله ويشتل کيږي او د هغه اندازه يې درې لاسه ليکلي دي دلته هغه مراد دي، د دې حديث تاويل به هم هغه وي کوم چي په دې باب په حديث نمبر اووم د تشريح په ځنګ کي سوی دی چي د لمانځه ماتېدو څخه څه مراد دی .

========

بَابُ صِفَةِ الصَّلٰوةِ

د لمانځه د ترتيب بيان

په دې باب کې هغه حديثونه نقل کيږي چې د هغه څخه د لمانځه کولو ترکيب معلوميږي چې لمونځ څرنګه کول پکار دي او د لمانځه ارکان او اجزاء څه دي؟

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د لمانځه صحيح طريقه

﴿۷۳۴﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ رَجُلًا دَخَلَ الْمَسْجِدَ وَرَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوهريرة ﷛ څخه روايت دی چې يو سړی مسجد ته راغلی او رسول الله ﷺ

جَالِسٌ فِيْ نَاحِيَةِ الْمَسْجِدِ فَصَلَّى ثُمَّ جَاءَ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ

د مسجد په يو کونج کې ناست وو، هغه سړي لمونځ وکړ بيا د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سو سلام يې ادا کړ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل:

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْكَ السَّلَامُ ارْجِعْ فَصَلِّ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ فَرَجَعَ

وعليک السلام او ورته وه يې فرمايل: ولاړ سه بيا لمونځ وکړه ځکه چې تا لمونځ نه دی کړی هغه بيرته ولاړی

فَصَلَّى ثُمَّ جَاءَ فَسَلَّمَ فَقَالَ وَعَلَيْكَ السَّلَامُ ثُمَّ قَالَ ارْجِعْ فَصَلِّ فَإِنَّكَ

او لمونځ يې وکړ، بيا راغلی او سلام يې ادا کړ نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: وعليک السلام، بيا يې ورته وفرمايل چې بېرته ولاړ سه او لمونځ وکړه ځکه تا

لَمْ تُصَلِّ فَقَالَ فِي الثَّالِثَةِ اَوْ فِي الَّتِيْ بَعْدَهَا عَلِّمْنِيْ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ فَقَالَ إِذَا قُمْتَ

لمونځ ونه کړ، په دريم ځل يا د هغه څخه وروسته هغه سړي عرض وکړ اې د الله رسوله! ما ته وښيه (چې څنګه لمونځ وکړم) رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: هر کله چې ته ولاړ سې

إِلَى الصَّلَاةِ فَأَسْبِغِ الْوُضُوءَ ثُمَّ اسْتَقْبِلِ الْقِبْلَةَ فَكَبِّرْ ثُمَّ اقْرَأْ بِمَا تَيَسَّرَ مَعَكَ

د لمانځه لپاره نو په ښه ډول اودس وکړه بیا مخ پر قبله سه الله اکبر ووایه بیا ووایه هغه چې درته اسانه وي

مِنَ الْقُرْآنِ ثُمَّ ارْكَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ رَاكِعًا ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَسْتَوِيَ قَائِمًا ثُمَّ

د قرآن څخه ، بیا په اطمینان سره رکوع وکړه بیا سر پورته کړه تر دې چې سیده سې ، بیا

اسْجُدْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ جَالِسًا، ثُمَّ اسْجُدْ حَتَّى

په اطمینان سره سجده وکړه بیا سر پورته کړه او په اطمینان سره کښینه بیا سجده وکړه تر دې چې

تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ جَالِسًا وفي رواية ثم ارفع حتى تستوي قائما ثُمَّ افْعَلْ ذَلِكَ فِي صَلَاتِكَ كُلِّهَا . متفق عليه

په اطمینان سره سجده وکړې او بیا سر پورته کړه او په اطمینان سره کښینه او په یوه روایت کې دا الفاظ دي چې بیا سر پورته کړه او سیده سه او همداسې لمونځ پوره کړه . بخاري او مسلم .

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\۲۳۷، رقم: ۷۵۷، ومسلم: ۱\۲۹۸، رقم: ۴۵- ۳۹۷.

تشریح: د اطمینان څخه مطلب دادی چې په رکوع او په سجده وغیره کې داسې پوره د زړه حضور او سکون راسي چې د بدن ټول بندونه خپل خپل ځای اختیار کړي او د هغه په ارکانو کې چې کوم تسبیحات ویل کیږي هغه په پوره اطمینان سره وویل سي .

په رکوع، سجده او داسې نورو کې اطمینان فرض دی که واجب ؟

امام شافعي رحمة الله علیه، امام احمد رحمة الله علیه او امام یوسف رحمة الله علیه ددې حدیث سره سم په رکوع، سجده، قومه او جلسه کې د طمانیت د فرضیت د فقدان په وجه د لمانځه نفي فرمایلې ده او دا شی د فرضیت نښه ده چې یو کار د هغه د کیدو څخه منتفي او باطل سي نو دا حضرات وایي که یو سړی په دې ارکانو کې اطمینان اختیار نه کړي نو د هغه لمونځ به باطل سي چې د هغه اعاده یعني راګرځول به ضروري وي .

دامام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه او امام محمد رحمة الله علیه په نزد په رکوع او سجده کې اطمینان واجب دی او قومه یعني په ولاړه او سجده کې سنت دی دا حضرات ددې حدیث

توجيه دا کوي چي دلته د لمانځه نفي مراد نه دی ځکه چي ددې حديث اخري الفاظ چي ابو داود ترمذي او نسائي کي نقل دي دادی چي رسول الله ﷺ هغه سړي ته وفرمايل که تا دا يعني اطمينان پوره کړ نو ستا لمونځ مکمل سو او که په دې کي دي کم کړل نو تا خپل لمونځ ناقص کړ نو دا ډول حکم د وجوب او سنت نښه ده چي د دې څخه پرته فعل ناقص او ناتمام دی نو معلومه سوه چي رسول ﷺ هغه سړي ته د لمانځه د بيا کولو حکم ځکه ورکړی وو چي د هغه لمونځ د سره نه وو سوی بلکه د هغه د راګرځولو حکم مطلب داوو چي لمونځ په پوره کمال او پرته د کراهيت او تاوان اداکيدل پکار دي او که اطمينان فرض وي نو رسول الله ﷺ به د پيل څخه په منعه کولو سره لمونځ کولو منعه کړې وای او هغه به يې بغير فرائض څخه لمونځ کولو ته نه پريښودی.

ددې حديث څخه څو خبرو ته اشاره کيږي اول شی خو دادی چي عالم او ناصح لپاره دا مناسب ده چي هغه يو جاهل او غلط کارکونکی په ډيره نرمي او اخلاق سره پوه کړی او د هغه سره د نصيحت داسي نرمه معامله وکړي چي هغه سړی د هغه خبري منلو او پر هغه عمل کولو ته خپله مجبور سي ځکه چي ډير واره د نصيحت په معامله کي بد اخلاقي او ترش رويي د اصلاح پيدا کولو پر ځاي د نور زيات ضد او ګمراهۍ سبب جوړيږي، دوهم شی دا چي دا ثابتيږي چي د ملاقات په وخت که څه هم مکرر او لږ ساعت وروسته وي سلام کول مستحب دی ، دريم شی دا ثابتيږي که يو سړی د خپل لمونځ واجبات کي څه خلل او تاوان پيدا کړي نو د هغه لمونځ نه صحيح کيږي او هغه ته په حقيقي معنی کي لمونځ کونکي نسي ويل کيدای بلکه د هغه په باره کي به دا وويل سي چي هغه سړي لمونځ نه دی کړی په اول روايت کي جلسه استراحت يعني په اول او دريم رکعت کي د دويمي سجدې څخه د راپورته کيدو ذکر هم سوی دی د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد جلسه استراحت سنت ده مګر د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه په نزد سنت نه ده ددې مفصل تحقيق به انشاء الله مخته راسي.

د رسول الله ﷺ د لمانځه ترتيب

﴿۷۳۵﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَفْتِحُ

د حضرت عائشي رضي الله عنها څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به پيل کوی

الصَّلَاةَ بِالتَّكْبِيرِ وَالْقِرَاءَةَ بِالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَكَانَ إِذَا رَكَعَ لَمْ يُشْخِصْ

د لمانځه په تکبير سره او قرائت به يې د الحمدلله څخه پيلوی او کله چي به يې رکوع کول نو سر

به يې نه زيات لوړ

رَأْسَهُ وَلَمْ يُصَوِّبْهُ وَلَكِنْ بَيْنَ ذَلِكَ وَكَانَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ لَمْ يَسْجُدْ

او نه زيات کښته کوی بلکه په درميانه حالت کي به يې ساتی، د رکوع څخه به يې چي سر پورته کړ نو تر هغه وخته به سجدې ته نه تلی

حَتَّى يَسْتَوِيَ قَائِمًا وَكَانَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ السَّجْدَةِ لَمْ يَسْجُدْ حَتَّى يَسْتَوِيَ

تر څو پوري چي به سيده دريدلی نه وو، او کله چي به يې د سجدې څخه سر پورته کوی نو تر هغه وخته پوري به يې دوهمه سجده نه کول تر څو پوري چي به سيده ناست نه وو

جَالِسًا وَكَانَ يَقُولُ فِي كُلِّ رَكْعَتَيْنِ التَّحِيَّةَ وَكَانَ يَفْرِشُ رِجْلَهُ الْيُسْرَى

او په هر دواړو رکعتو کي به يې التحيات ويل او د ناستي په حالت کي به يې خپله چپه پښه و غوړول

وَيَنْصِبُ رِجْلَهُ الْيُمْنَى وَكَانَ يَنْهَى عَنْ عُقْبَةِ الشَّيْطَانِ وَيَنْهَى أَنْ يَفْتَرِشَ

او راسته پښه به يې ودرول او د شيطان د پيروی څخه به يې منعه فرمايل او دواړه لاسونه به يې په سجده کي

الرَّجُلُ ذِرَاعَيْهِ افْتِرَاشَ السَّبُعِ وَكَانَ يَخْتِمُ الصَّلَاةَ بِالتَّسْلِيمِ. رواه مسلم

پر مځکه داسي اېښودلو څخه هم منعه فرمايلې ده لکه حيوانان چي يې غزوي او رسول الله ﷺ به لمونځ په سلام سره ختموی. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱/۳۵۷، ۳۵۸، رقم: ۲۴۰–۴۹۸.

د لغاتو حل: (لم يشخص): الاشخاص: الرفع، والتصويب، الانزال. (پورته کول). (عن عقبة الشيطان): هو ان يضع اليته علی عقبيه.

تشريح د بي بي عائشې رضي الله عنها دا فرمايل چي رسول الله ﷺ به لمونځ د تکبير څخه پيل کوی او د قرائت پيل به يې د الحمد لله رب العلمين څخه کوی نو ددې څخه دا خبره ثابته سوه چي رسول الله ﷺ به بسم الله کرار ويل څرنګه چي د امام اعظم رحمة الله عليه مذهب هم دادی.

په قعده کي د ناستي طريقې او په هغو کي د امامانو اختلاف

وكان يفرش رجله اليسرى وينصب رجله اليمني: يعني رسول الله ﷺ به د ناستي لپاره خپل چپه پښه غزول او راسته پښه به يې ولاړه ساتل، ددې عبارت څخه په ښکاره دا معلومېږي چي رسول الله ﷺ به په دواړو قعدو کي همداسي کښېنستی، د امام اعظم رحمة الله عليه دا مذهب دی چي په دواړو قعدو کي همداسي کښېنستل پکار دي.

راتلونکی حديث چي د ابو حميد ساعدي رضي الله عنه څخه نقل سوی دی د هغه څخه دا ثابتيږي چي رسول الله ﷺ به په اوله قعده کي پښه غزول مګر په دوهمه قعده کي به يې تورک اختيار وی، د امام شافعي رحمة الله عليه مذهب دادی چي په اوله قعده کي افتراش (يعني پښه غوړول) پکار ده او په دوهمه قعده کي تورک.

د امام مالک رحمة الله عليه په نزد په دواړو قعدو کي تورک دی او د امام احمد رحمة الله عليه مذهب دادی چي په کوم لمانځه کي دوې تشهدي وي نو د هغه په اخري تشهد کي تورک کيدل پکار دي او په کوم لمانځه کي چي يوه تشهد وي په هغه کي افتراش پکار دي.

د امام اعظم رحمة الله عليه د مذهب دليل

په بنيادي توګه د امام اعظم رحمة الله عليه د مذهب دليل دا حديث دی نه يوازې دا چي دا حديث بلکه نور ډير حديثونه وارد دي چي په هغو کي مطلقا د پښې په غزولو ذکر دی او دا هم وارد دي چي په تشهد کي سنت دادی او دا چي رسول ﷺ پرته د اولي او دوېمې قعدې په قيد د تهشد کي همداسي کښېنستی بيا دوهم شی داهم دی چي په تشهد کي د ناستي کومه طريقه چي امام اعظم رحمة الله عليه اختيار کړې ده هغه د نورو طريقوپه مقابله کي زياته بامشقته او مشکله ده او په حديثو کي په صراحت سره دا خبره فرمايل سوې ده چي په اعمالو کي زيات افضل او اعلی عمل هغه دی چي په هغه کولو کي مشقت او سختي زياته وي. په کومو حديثونو کي چي د رسول الله ﷺ په باره کي دا نقل سوي دي چي رسول الله ﷺ به په دوهمه قعده کي په کهولو کښېنستی څرنګه چي د امام شافعي رحمة الله عليه مذهب دی هغه پر دې خبره محمول دی چي رسول الله ﷺ به په حالت د ضعف او په ډير عمري کي داسي کښېنستی ځکه چي په دوهمه قعده کي تر زياته وخته پوري ناسته وي او په کناټو ناسته زياته آسانه ده.

د عقبه شيطان مطلب

عقبه شيطان په اصل کي په يو خاص طريقې سره د ناستي نوم دی چي د هغه شکل دادی

چي دواړه کناتي پر مځکه اېښودلو سره دواړي پنډۍ ودرول سي بيا دواړه لاسونه په منيځ کي اېښودو سره کښيني ځرنګه چي سپی کښيني په قعده کي د ناستي دا طريقه اختيارول په متفقه توګه سره د ټولو علماؤ په نزد مکروه ده علامه طيبي رحمة الله عليه فرمايي چي د عقبه شيطان مطلب دادی چي پر دواړو کناتو باندي پوندي کښېږدي دا معنی د لفظ د اعتبار عقبه رعايت سره زياته مناسبه ده رسول الله ﷺ نارينه ددې ځخه منعه کړي دي چي هغه د سجدې په حالت کي پر مځکه خپل دواړه لاسونه داسي کښېږدي ځرنګه چي سپی وغيره کښيني، په دې اړه د سړي د تخصيص وجه داده چي د سجدې په وخت کي ښځوته همداسي دواړه لاسونه اېښودل پکار دي ځکه چي داسي د ښځي د جسم نمائش نه کېږي.

د حديث د آخري جملې مطلب دادی چي رسول الله ﷺ به لمونځ په سلام سره ختم کوی خو دومره خبره واوری چي په لمانځه کي سلام ګرځول د حنفيه په نزد واجب دی مګر د شوافع په نزد فرض دی.

د تکبير تحريمې پر وخت لاسونه پورته کول

﴿۷۳۶﴾: وَعَنْ أَبِيْ حُمَيْدِ السَّاعِدِيِّ قَالَ فِيْ نَفَرٍ مِّنْ أَصْحَابِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى

د ابو حميد ﷺ ځخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ د صحابه کرامو يو ډلي ته ما وويل:

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا أَحْفَظُكُمْ لِصَلَاةِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَيْتُهُ

زه د رسول الله ﷺ د لمانځه طريقه ښه پېژنم، ما رسول الله ﷺ ليدلی دی چي

إِذَا كَبَّرَ جَعَلَ يَدَيْهِ حِذَاءَ مَنْكِبَيْهِ وَإِذَا رَكَعَ أَمْكَنَ يَدَيْهِ مِنْ رُكْبَتَيْهِ ثُمَّ

کله چي به يې تکبير وايه نو خپل دواړه لاسونه به يې تر اوږو پوري پورته کول کله چي به يې رکوع کول نو خپل دواړه زنګنونه به يې ټينګ نيول بيا به يې

هَصَرَ ظَهْرَهُ فَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ اسْتَوٰى حَتّٰى يَعُوْدُ كُلُّ فَقَارٍ مَّكَانَهُ فَإِذَا سَجَدَ

خپله ملا کښته کړل هر کله چي به يې سر پورته کوی نو سيده به ودريدی چي د ملا د هډوکو بندونه به يې خپل ځای ته راغلل بيا به يې سجده کول

وَضَعَ يَدَيْهِ غَيْرَ مُفْتَرِشٍ وَلَا قَابِضِهِمَا وَاسْتَقْبَلَ بِأَطْرَافِ أَصَابِعِ رِجْلَيْهِ

نو دواړه لاسونه به يې پر مخکه داسي ايښودل چي ځنګلي به يې نه خو غزولي او نه به يې ځنګ ته راټولوې او د پښو ګوتي به يې

الْقِبْلَةَ فَإِذَا جَلَسَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ جَلَسَ عَلٰى رِجْلِهِ الْيُسْرٰى وَنَصَبَ الْيُمْنٰى

د قبلې طرف ته وې بيا کله چي به د دوو رکعتو وروسته کښېنستی نو چپه پښه به يې و غزول پر هغې به کښينستی او راسته پښه به يې ودرول

فَإِذَا جَلَسَ فِي الرَّكْعَةِ الْآخِرَةِ قَدَّمَ رِجْلَهُ الْيُسْرٰى وَنَصَبَ الْأُخْرٰى وَقَعَدَ عَلٰى مَقْعَدَتِهِ . رواه البخاري .

او هر کله چي به په آخري رکعت کي کښينستی نو چپه پښه به يې مخته و کښل او بله پښه به يې ودرول او پر مقعد به کښينستی . بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۳۰۵، رقم: ۸۲۸.

د لغاتو حل: (هَصَرَ): ای ثناه وخفضه حتی صار کالغصن المنهصر وهو المنكسر من غير بينونة.

تشريح : د حديث څخه دا معلومه سوه چي رسول الله ﷺ به کله تکبير کوی نو خپل لاسونه به يې د اوږو برابر پورته کول د امام شافعي مذهب دادی .

د امام اعظم رحمة الله عليه په نزد د تکبير تحريمه په وخت کي لاسونه د غوږو تر نرميو پوري پورته کول پکار دي ځکه چي په نورو حديثو کي هم همداسي روايتونه دي او په ځينو روايتونو کي ددې دواړو څخه بيل يوه دريمه طريقه يعني د لاسو تر غوږو پوري پورته کول هم راغلي دي ځکه امام اعظم رحمة الله عليه خو نه د غوږو لاندي يعني تر اوږو پوري د پورته کولو طريقه اختيار کړله او نه د غوږو لوړ پورته کولو طريقه اختيار کړل بلکه منځنی طريقه يې اختيار کړه.

امام شافعي رحمة الله عليه ددې روايت سره سم فرمايلي دي چي د تکبير تحريمه په وخت کي لاسونه داسي پورته کول پکار دي چي د لاس ورغوي خو د اوږو برابر وي بټې ګوتي د غوږو د پوستکو (نرمۍ) په مقابل کي او د ګوتو سرېنه د غوږو پر نوړه برخه باندي کښيښنول سي چي په دې طريقه سره په ټولو حديثونو باندي عمل ممکن سي او په روايتونو کي د اختلاف څه ځای پاته نسي په دې حديثو کي يو دوهم تطبيق داهم کيدای سي چي دا حديثونه په

مختلفو وختونو سره اړه ولري يعني د تكبير تحريمه په وخت كي رسول ﷺ كله داسي لاسونه پورته كول او كله هغسي.

د رسول الله ﷺ د ركوع دا طريقه وه چي په دواړو لاسونو سره به يې دواړه زنګنونه ټينګ نيول او ګوتي به يې خلاصي كړې او بيا غاړه مباركه په كښته كولو سره بالكل ملا (شا) برابره كړه، ليكي چي په ركوع كي خو ګوتي خلاصي ساتل پكار دي او په سجده كي په بندي او په تكبير تحريمه او تشهد كي هغه پر خپل حالت باندي پريښودل پكار دي.

په سجده كي پر مخكه لاس ايښول د هغه شخه دا معلوميږي چي د سجدې په حالت كي ګوتي او ورغوي پر مځكه ايښودل او مړوندونه دي پورته وي او بغل داسي بيل ساتل پكار دي كه مرغومى وغواړي نو د لاندي شخه دي تير سي.

په دې حديث كي د دې خبري هيڅ ذكر نه دى سوى چي د قومې (ولاړي) شخه سجدې ته د تلو په وخت كي پر مځكه مخكي زنګنونه ايښودل پكار دي يا لاسونه نو په دې اړه صحيح مسئله داده چي صحيح خو دواړي طريقې دي مګر د اكثر امامانو په نزد افضل او مختار دادى چي پر مځكه اول زنګنونه ايښودل پكار دي.

رفع يدين (لاسونه پورته كول)

﴿۳۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه شخه روايت دى چي د لمانځه پيل كولو پر وخت به رسول الله ﷺ دواړه لاسونه پورته كول

حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلَاةَ وَإِذَا كَبَّرَ لِلرُّكُوْعِ وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوْعِ

تر اوږو پوري كله چي شروع به يې كول د لمانځه او كله چي به يې د ركوع لپاره تكبير كوى او د ركوع شخه به يې سر پورته كوى

رَفَعَهُمَا كَذٰلِكَ وَقَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ وَكَانَ لَا يَفْعَلُ ذٰلِكَ فِي السُّجُوْدِ. متفق عليه

نو بيا به يې همداسي دواړه لاسونه تر اوږو پوري پورته كول او د ركوع شخه د سر پورته كولو سره به يې ويل: سمع الله لمن حمده ربنا لك الحمد، او په سجده كي به يې داسي نه كول. بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۲\۲۱۸، رقم: ۷۳۵، ومسلم ۱\۲۹۲، رقم: ۲۱-۳۹۰.

تشریح: د ربنا لک الحمد مطلب دادی چي اې پروردګاره د دنیا ټول تعریفونه تا لره دي تر دې که یو سړی د بل کس تعریف کوي ځکه چي د ټولو پیدا کونکي ته یې ځکه د مصنوع تعریف په اصل کي د صانع تعریف دی

د حدیث ددې برخي څخه معلومه سوه چي هر لمونځ کونکي ته سمع الله لمن حمده او ربنا لک الحمد دواړه کلمات ویل پکار دي مګر امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه فرمایي که یو سړی یوازي لمونځ کوي نو هغه ته دا دواړه کلمات ویل پکار دي مګر د جماعت په صورت کي امام دي یوازي سمع الله لمن حمده او مقتدي دي ربنا لک الحمد وایي، امام ابو یوسف رحمة الله علیه او امام محمد رحمہ اللہ فرمایي چي امام ته دواړه کلمات ویل پکار دی دا قول امام طحاوي رحمة الله علیه هم اختیار کړی دی بلکه امام اعظم ابو حنیفه رحمہ اللہ څخه هم یو روایت دي چي د مقتدي په باره کي د هغوئ رایه داده چي هغه دي یوازي ربنا لک الحمد وایي.

وکان لا یفعل ذالک في السجود: یعني رسول الله ﷺ به په سجده کي داسي نه کول، ددې مطلب دادی چي څرنګه د تکبیر تحریمه څخه وروسته رسول الله ﷺ به رکوع ته د تللو څخه مخکي او د رکوع څخه د سر پورته کولو همداسي چي سجدې ته به تلی یا د سجدې څخه به یې سر پورته کوی نو رفع یدین به یې کول د شافعینو حضراتو په نزد مختار مذهب دادی چي په دې وختونو کي رفع یدین نه دی کول پکار ددې حضراتو په نزد د رفع یدین چي کوم صورت دی هغه دادی چي رفع یدین یوازي تکبیر تحریمه او رکوع ته د تللو په وخت کي او د رکوع څخه د سر پورته کولو په وخت کي ددې درو ځایو څخه پرته پر بل ځای باندي دا حضرات رفع یدین صحیح نه بولي.

﴿۴۳۸﴾: وَعَنْ نَافِعٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ إِذَا دَخَلَ فِي الصَّلَاةِ كَبَّرَ وَرَفَعَ يَدَيْهِ وَإِذَا

د حضرت نافع رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي هر کله به حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ لمونځ پیل کوی نو دواړه لاسونه به یې پورته کړل تکبیر به یې وایه او کله چي به یې

رَكَعَ رَفَعَ يَدَيْهِ وَإِذَا قَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ رَفَعَ يَدَيْهِ وَإِذَا قَامَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ

رکوع کول نو بیا به یې هم دواړه لاسونه پورته کول او کله چي به یې سمع الله لمن حمده ویل نو بیا به یې هم لاسونه پورته کول او کله چي به یې دواړه رکعتونه پوره کړل او ولاړېدی به

رَفَعَ يَدَيْهِ وَرَفَعَ ذٰلِكَ ابْنُ عُمَرَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رواه البخاري

نو هم به يې لاسونه پورته كول دا روايت ابن عمر تر رسول الله ﷺ پورې مرفوع كړى دى . بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۲۲۲، رقم: ۷۳۹.

د لاسو پورته كولو په مسئله كې د حنفيه مستدل حديثونه

﴿۴۳۹﴾: وَعَنْ مَالِكِ ابْنِ الْحُوَيْرِثِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت مالک بن حويرث رضي الله عنه څخه روايت دى چې كله به رسول الله ﷺ

إِذَا كَبَّرَ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتّٰى يُحَاذِيَ بِهِمَا أُذُنَيْهِ وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ فَقَالَ

تكبير وايه نو دواړه لاسونه به يې تر غوږو پورې پورته كول تر داسې اندازې چې برابر به يې كړل له غوږو خپلو سره او هر كله چې د ركوع څخه به يې سر پورته كوى نو ويل به يې

سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ فَعَلَ مِثْلَ ذٰلِكَ . وفي رواية حتى يحاذي بهما فروع اذنيه . متفق عليه

سمع الله لمن حمده، او همداسې به يې لاسونه پورته كول، او په يوه روايت كې دا الفاظ دي چې لاسونه به يې تر غوږو پورې پورته كول. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۲۱۹، رقم: ۷۳۷، ومسلم: ۱\۲۹۳، رقم: ۲۵- ۳۹۱.

تشريح: د تكبير تحريمه په وخت كې خو رفع يدين يعني په لاسونو پورته كولو كې څه اختلاف نشته بلكه ټوله علماء او امامان پر دې خبره متفق دي چې د تكبير تحريمه په وخت كې رفع يدين كول پكار دي د تكبير تحريمه څخه پرته پر نورو ځايو باندې د رفع يدين مسئله د حنفيه او شوافعو په مينځ كې د يو معركة الاراء مسئلې حيثيت لري د حنفيه په نزد يوازې تكبير تحريمه په وخت كې رفع يدين كول پكار دى او د شوافع په نزد د تكبير تحريمه څخه ماسوا ركوع ته د تللو په وخت كې د ركوع څخه سر پورته كولو په وخت كې رفع يدين كول پكار دي. حق خبره خو داده چې دواړو خواوو ته د دلائلو ذخيرې دي او د حديثو ذخيرې دي چې د هغه پر بنيادو باندې طرفين د خپل مذهب عمارت دروي علماء حنفيه په ټولو حديثوكې د دا تطبيق پيدا كولو هڅه كوي ددې حضراتو له خوا ويل سوي دي چې كيداى سي رسول الله ﷺ خو رفع

یدین کړی وي او کله بې نه وي کړی یا دا چې چې مخکې بې رفع یدین کوی مګر وروسته به بې د تکبیر تحریمه څخه ماسوا د نورو موقعو لپاره رفع یدین منسوخ ګرځول سوی وي د حنفیه سره د خپل مذهب په تائید کې ډیر زیات حدیثونه او اثار دي هغه دلته ذکر سوي دي

امام ترمذي رحمة الله علیه په خپل جامع ترمذي کې دوه بابه قائم کړي دي اول باب خو د رکوع په وخت د رفع یدین دی په دې ضمن کې امام ترمذي رحمة الله علیه د ابن عمر رضي الله عنه حدیث نقل کوي کوم چې مخکې تیر سو، دوهم باب دادی چې لاس پورته کول یوازي د لمانځه په پیل کې سوی دی ددې باب په ضمن کې امام ترمذي رحمة الله علیه د حضرت علقمه رضي الله عنه هغه حدیث چې ابن مسعود رضي الله عنه خپلو ملګرو ته وفرمایل زه ستاسو سره د رسول الله ﷺ لمونځ ادا کوم ابن مسعود رضي الله عنه لمونځ ادا کړو او هغه یوازي اول وار یعني د تکبیر تحریمه په وخت کې لاسونه پورته کړل په دې باب کې امام ترمذي د براء بن عازب رضي الله عنه څخه هم همداسي نقل کړی دی او امام موصوف ویلي دي چې د ابن مسعود رضي الله عنه حدیث حسن دی او په صحابه کرامو او تابعینو کې اکثر اهل علم ددې قائل دي او د سفیان ثوري او اهل کوفه قول هم دادی . په جامع الاصول کې د ابن مسعود رضي الله عنه حدیث د ابوداود او نسائي په حواله سره او د براء ابن عازب رضي الله عنه حدیث هم د ابو داؤد د حوالې سره نقل سوی دی د هغه الفاظ دادي چې ابن مسعود رضي الله عنه وفرمایل چې ما رسول الله ﷺ ولیدی چې کله به بې لمونځ پیل کړ نو د تکبیر تحریمه په وخت کې به یې خپل دواړه لاسونه د خپلو دواړو اوږو نژدې پورته کول او داسي به بې دوه واره نه کول او په یو بل روایت کې داسي دي چې دوهم وار بې لاسونه نه پورته کول تر دې چې رسول الله ﷺ به د لمانځه څخه فارغه سو .

دلته دا خبره هم واورئ چې د دې حدیث په باره کې ابوداؤد چې دا ویلي دي چې دا حدیث صحیح نه دی نو کیدای سي چې د هغوی په نزد په صحیح نه کیدو سره مراد دا وي چې هغه خاص سند او طریقې سره صحیح ثابت نه دی نو په یوه خاص طریقې سره صحیح نه ثابت کیږي د اصل حدیث پر صحت باندي څه اثر نه کیږي یا بیا دا احتمال وي چې د ابوداؤد ددې حدیث حسن ثابتول وي څرنګه چې ترمذي ویلي دي نو په دې صورت کې به وویل سي چې د ټولو امامانو او محدثینو په نزد حسن حدیث د استدلال قابل وي .

امام محمد رحمة الله علیه په خپل کتاب مؤطا کې د ابن عمر رضي الله عنه دا روایت چې د هغه څخه رکوع او د رکوع څخه سر پورته کولو په وخت کې رفع یدین ثابتیږي په نقل کولو سره فرمایي داسنت دی چې هر وار په کښته کیدو سره او پورته کیدو سره تکبیر وویل سي مګر د رفع یدین

پرته د یوه وار یعني تکبیر په وخت کي پر نورو ځایو نه وي او دا قول د امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه دی او په دې اړه ډیر زیات اثار وارد دي ددې وروسته د عاصم ابن کلیب خرمي یو روایت دی چي عاصم د خپل پلار څخه چي د حضرت علي رضي الله عنه د تابعینو څخه دی روایت کړی دی او نقل کوي چي حضرت علي کرم الله وجهه به د تکبیر اولی پرته رفع یدین نه کول.

د عبدالعزیز ابن حکیم روایت نقل سوی دی چي هغه وویل ما ابن عمر رضي الله عنه ولیدیچي هغه به د لمانځه په پیل کي د اول تکبیر کولو په وخت کي لاسونه پورته کول ددې څخه پرته په بل یو ځای کي به رفع یدین نه کوی.

دمجاهد رحمة الله علیه روایت دی هغه وویل ما په ابن عمر رضي الله عنه پسي لمونځ کوی هغه به یوازي په تکبیر اولی کي رفع یدین کول، د اسود رضي الله عنه څخه نقل سوي دي چي ما حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه ولیدی چي هغه به یوازي په تکبیر اولی کي رفع یدین کولی

نو هرکله چي حضرت عمر رضي الله عنه ، حضرت ابن مسعود رضي الله عنه او د حضرت علي رضي الله عنه په ډول جلیل القدر صحابه کرام چي د رسول الله ﷺ مبارک سره بې ډیر نژدې والی درلودی ترک رفع یدین باندي به بې عمل کوی نو هغه کار چي ددې پر خلاف دی د قبلولو په اړه به اولی یعني افضل او غوره وي.

په شرح ابن همام کي یو روایت دارقطني رحمة الله علیه او ابن عدي رحمة الله علیه څخه نقل سوی دی چي هغوی د محمد ابن جابر څخه او هغوی د حماد ابن سلیمان څخه او هغوی د علقمه او هغوی د عبد الله څخه روایت کړی دی چي عبد الله رضي الله عنه وفرمایل ما رسول الله ﷺ، حضرت ابوبکر رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه سره لمونځ کړی دی هغوی د تکبیر اولی څخه پرته پر بل یو ځای باندي رفع یدین نه کوی.

منقول دي چي یو وار امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه او امام اوزاعي رحمة الله علیه په مکه معظمه کي په دارالخیاطین کي جمع سول امام اوزاعي رحمة الله علیه د امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه څخه پوښتنه وکړه چي تاسو رکوع ته د تللو په وخت کي او د رکوع څخه د را پورته کیدو په وخت کي رفع یدین ولي نه کوی؟ امام اعظم رحمة الله علیه جواب ورکړ ځکه چي د رسول الله ﷺ څخه په دې اړه په صحت سره څه ثابت نه دي، امام اوزاعي رحمة الله علیه وفرمایل ماته زهري رحمة الله علیه د حضرت سالم رضي الله عنه دا حدیث بیان کړ چي هغه د خپل پلار ابن عمر رضي الله عنه څخه نقل کړی دی چي رسول الله ﷺ به د تکبیر اولی په وخت کي، رکوع ته د تللو په وخت کي او د رکوع څخه د سر پورته کیدو په وخت کي رفع یدین کول، امام اعظم ابو حنیفه

رحمة الله عليه وفرمايل ماته حماد رحمة الله عليه او هغه ته ابراهيم او هغه ته علقمه او اسود او دې دواړو د عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه څخه دا حديث نقل کړی دی چي رسول الله ﷺ به يوازي د لمانځه په پيل كي دواړه لاسونه پورته كول او دوهم وار به بې داسي نه كول دد ې روايت په اوريدو سره امام اوزاعي رحمة الله عليه وويل ما خو د زهري رحمة الله عليه څخه نقل کړی دی او هغوی د سالم رحمة الله عليه او هغوی د خپل پلار ابن عمر رضي الله عنه څخه نقل کړی دی او تاسو د هغه په مقابله كي د حماد څخه روايت کړی دی يعني زما بيان سوی سند ستاسو د بيان سوي سند څخه عالي او افضل دي.

نو امام اعظم رحمة الله عليه ورته وفرمايل كه دا خبره وي نو بيا واوره چي حمار د زهري رحمة الله عليه څخه زيات ديني عالم دی او ابراهيم رحمة الله عليه د سالم رحمة الله عليه څخه زيات فقيه دی او همداسي علقمه رحمة الله عليه هم د ابن عمر رضي الله عنه په مقابله كي په فقه كي څه كم نه دی دا بيله خبره ده چي ابن عمر رضي الله عنه ته د رسول الله ﷺ د رفاقت او صحابيت شرف حاصل دی او اسود رحمة الله عليه ته هم ډير زيات فضيلت حاصل دی او عبد الله خو خپله عبد الله دی او كنه، يعني د عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه څه تعريف او توصيف وكړل سي چي په علم فقه كي د خپل عظمت شان او د رسول الله ﷺ د رفاقت او د صحابيت د سعادت او شرف په وجه مشهور دی.

گويا امام اوزاعي رحمة الله عليه د اسناد د عالي كيدو حيثيت څخه حديث ته ترجيح وركړه او امام اعظم رحمة الله عليه د راويان حديث د فقيه كيدو د اعتبار څخه حديث ته ترجيح وركړه او د امام اعظم رحمة الله عليه اصول دادي چي هغه د فقه راويانو ته په غير فقيه راويانو ترجيح وركوي څرنگه چي په اصول فقه كي ذكر سوي دي.

په نهايه شرح هدايه كي د عبد الله ابن زبير رضي الله عنه په باره كي نقل دي چي هغه يو سړی پر لمانځه باندي په مسجد حرام كي وليدی چي ركوع ته د تللو په وخت كي او دركوع څخه بې دسر راپورته كيدو په وخت كي رفع يدين كوی نو هغه سړي ته يې وويل داسي مه كوه ځكه چي دا يو داسي عمل دی چي رسول الله ﷺ مخكي اختيا ركړی وو او وروسته بې پريښودی يعني پر دغه ځايو باندي د رفع يدين حكم مخكي وو اوس منسوخ سوی دی.

عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي چي رسول الله ﷺ رفع يدين وكړ نو موږ هم رفع يدين وكړ او كله چي رسول الله ﷺ دا پريښودی نو موږ هم پرېښودی.

ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چي عشره مبشره يعني هغه لس خوشبخته صحابه كرام چي رسول

الله ﷺ د هغوی ته په ژوند کي د جنتي کیدو زیری ورکړی وو هغو به یوازي د لمانځه په پیل کي رفع یدین کول، مجاهد رحمة الله علیه د ابن عمر رضی الله عنه څخه نقل کوي چي ما په ابن عمر رضی الله عنه پسي څو کاله لمونځ کړی دی مگر ما هغه د لمانځه د پیل څخه پرته پر بل ځای باندي په رفع یدین کولو سره نه دی لیدلی حال دا چي د ابن عمر رضی الله عنه هغه روایت تیر سوی دی چي په هغه کي پر درو ځایو باندي د رفع یدین اثبات کیږي او د شافعیانو تر ټولو اهم دلیل دی، د اصول حدیث قاعده ده چي د راوي عمل که خپله د هغه روایت خلاف وي نو پر روایت باندي عمل نه کیږي ځکه د ابن عمر رضی الله عنه هغه روایت به ساقط العمل وگرځول سي

په هر حال ددې روایاتو او اثارو څخه معلومه سوه چي رفع یدین د دواړو په اثبات کي حدیثونه او اثار وارد دي او د صحابه کرامو یو جماعت خصوصا عبد الله بن مسعود رضی الله عنه او د هغوی تابعین د رفع یدین نه کولو په حق کي دي نو ددې ټولو موافق او مختلف حدیثونه محمول دا کیدای سي چي موږ دا وایو چي رسول الله ﷺ څخه په مختلفو وختونو کي دا دواړي طریقې په وجود کي راغلي دي او د امام اعظم رحمة الله علیه د علم فقه او د هغوی اسناد د نقطې منتهی ابن مسعود رضی الله عنه او د هغوی د تابعینو ذات دی او د هغوی رجحان عدم رفع یدین طرفته دی ځکه امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه د ترک رفع یدین مذهب اختیار کړی دی او س ټوله احناف ددې مذهب حامي او پر دې مذهب عامل دي.

علماء حنفیه یوازي دو مره نه وایي بلکه ددې حضراتو په نزد د تکبیر تحریمه څخه ماسوا پر نورو ځایونو باندي د رفع یدین حکم منسوخ دی هر کله چي د ابن عمر رضی الله عنه په باره کي دا ثابته سوه چي د رسول الله ﷺ څخه وروسته ترک رفع یدین اختیارول باوجود ددې چي رفع یدین حدیث راوي هم دوی دي ددې څخه دا معلومه سوه چي مخکي خو به د رفع یدین حکم پاته سوی وو مگر وروسته دا حکم باوجود د کثرت احادیث او اثارو دا منسوخ دی چي د هغوی په نزد رفع یدین او عدم رفع یدین دواړه سنت دي خو رفع یدین کول اعلی او راجح دي البته د نورو علماء حنفیه مذهب دادی چي د رفع یدین حکم او طریقه منسوخ ده حضرت شیخ عبد الحق محدث دهلوي په پوره تفصیل سره په خپل کتاب شرح السفر السعادة کي نقل کړي دی چي د هغه خلاصه دلته وړاندي سوې ده د هغه د تحقیق حاصل دادی چي د هغوی په نزد رفع الیدین او عدم رفع الیدین دواړه سنت دي مگر رفع الیدین نه کول اولی او راجح دي، البته د نورو علماء احنافو مذهب دادی چي د رفع الیدین حکم او طریقه منسوخ ده. والله اعلم

د جلسه استراحت مسئله

﴿۷۴۰﴾: وَعَنْهُ أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فَإِذَا كَانَ فِي وِتْرٍ مِّنْ

د حضرت مالک بن حويرث رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما رسول الله صلی الله علیه وسلم پر لمانځه کولو وليدی چي کله به د طاق رکعت د سجدې څخه سر مبارک پورته کوی

صَلَاتِهِ لَمْ يَنْهَضْ حَتَّى يَسْتَوِيَ قَاعِدًا. رواه البخاري.

نو د درېدو څخه مخکي به کښېنستی او بيا به ولاړ سو .بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۳۰۲، رقم: ۸۲۳.

تشريح: مطلب دا چي کله به رسول الله صلی الله علیه وسلم لمونځ کوی او په اول يا دريم رکعت کي به يې د دويمي سجدې څخه سر پورته کړ نو مخکي به کښېنستی او د هغه وروسته به د راتلونکي رکعت لپاره پورته کيدی دې ته جلسه استراحت وايي.

جلسه استراحت سنت ده که يا؟

د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد جلسه استراحت سنت ده او ددې طريقه هغه ده کوم چي په اوله قعده کي د ناستي وه او دا چي د ناستي وروسته په دواړو لاسونو سره د مځکي په مرسته پورته کيدل پکار دي، امام اعظم ابو حنيفه او د امام احمد رحمة الله عليه مختار قول دادی چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم جلسه استراحت کول د زيات عمرۍ او ضعف يعني سپين ږيرتوب په وجه وه ځکه نو کوم سړي ته چي د جلسه استراحت حاجت نه وي د هغه لپاره دا سنت نه ده.

د امام شافعي رحمة الله عليه مستدل دا حديث دی او د امام اعظم رحمة الله عليه دليل د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی چي ترمذي هم نقل کړی دي چي هغوی وفرمايل: نبي کريم صلی الله علیه وسلم به د لومړي او دريم رکعت د دوهمي سجدې څخه وروسته (د قدم په ملا) يعني بېله ناستي ولاړي که څه هم دد غه حديث بعض اطراف ضعيف دي ليکن حديث صحيح اصل دی..

ابن ابي شيبه د ابن مسعود رضي الله عنه په باره کي نقل کوي چي هغه به د قدم په ملا باندي بغير د ناستي ولاړېدی دوی د علي، عمر، ابن عمر او ابن زبير رضي الله عنهم په باره کي هم داسي نقل کوي او د نعمان بن ابي عباس په باره کي يې نقل کړي دي چي هغه وفرمايل: ما ډير صحابه کرام ليدلي دي چي هغوی په اول او دريم رکعت کي د سجدې څخه سر پورته کولو نو په کوم حالت کي چي به وه په هغه حالت کي به بغير د ناستي پورته کيدل په هر حال په دې اړه ډير زيات حديثونه او

اثار وارد دي او كوم حديثونه چي ددې برعكس وارد دي د هغه محمول د ضعف او سپين ږيرتوب دی څرنگه چي ددې حديث په باره كي ذكر دی چي رسول الله ﷺ د سپين ږيرتوب او ضعف په وجه جلسه استراحت اختيارول.

د تكبير تحريمې وروسته د لاسونو ايښودل

﴿۷۸۱﴾: وَعَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَفَعَ يَدَيْهِ

د وائل[1] بن حجر رضي الله عنه څخه روايت دی چي هغه رسول الله ﷺ وليدی چي لاسونه يې پورته كړل

حِينَ دَخَلَ فِي الصَّلَاةِ كَبَّرَ ثُمَّ الْتَحَفَ بِثَوْبِهِ ثُمَّ وَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى الْيُسْرَى

د لمانځه پيل كولو په وخت كي د الله اكبر سره بيا رسول الله ﷺ خپل لاسونه په جامه كي پټ كړل او راسته لاس يې پر چپه لاس كښېښود

فَلَمَّا أَرَادَ أَنْ يَرْكَعَ أَخْرَجَ يَدَيْهِ مِنَ الثَّوْبِ ثُمَّ رَفَعَهُمَا ثُمَّ كَبَّرَ فَرَكَعَ فَلَمَّا

بيا چي يې د ركوع اراده وكړل نو د جامې څخه به يې لاس و كښې هغه به يې پورته كړل او تكبير يې وويل او ركوع يې وكړل بيا يې

قَالَ سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ رَفَعَ يَدَيْهِ فَلَمَّا سَجَدَ سَجَدَ بَيْنَ كَفَّيْهِ. رواه مسلم

سمع الله لمن حمده وويل نو لاسونه يې پورته كړل او كوم وخت چي يې سجده كول نو د دواړو لاسو په منځ كي يې وكړه. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۳۰۱، رقم: ۵۴- ۴۰۱.

تشريح: په ښكاره خو دا معلوميږي چي رسول الله ﷺ به د تكبير تحريمه څخه وروسته خپل دواړه لاسونه په څادر كي پټ كړل او نيت يې وتړی مگر ځيني حضرات فرمايي چي رسول الله ﷺ په څادر كي لاسونه نه وه پټ كړي بلكه په خپلو لستونو كي يې پټ كړي وه په هر حال علماء ليكي چي رسول الله ﷺ خپل لاسونه په كالو كي پټ كړي وه نو د هغه وجه به د يخ شدت وو.

۱- وائل بن حجر حضرمي دی نوموړی د حضرت موت د رئيسانو څخه دی، كله چي دی د خپل قبيلې له لوري په قاصد جوړېدو سره د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سو نو رسول الله ﷺ خپل څادر مبارك پر ځمكه هوار كړ او هغه يې پر كښېنسوی بيا هغه اسلام قبول كړ، علقمه او عبد الجبار د هغه زامن دي.

د تکبیر تحریمه وروسته راسته لاس پر چپه لاس ایښودل خو د ټولو امامانو په نزد یو متفق علیه مسئله ده مګر د امام مالک رحمة الله علیه په نزد پرېښودل يې اولی دي او تړل هم جائز دي.

په دې باره کي د امامانو اختلاف دی چي لاسونه کوم ځای وتړل سي، امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه فرمايي چي لاسونه د نامه لاندي تړل پکار دي او امام شافعي رحمة الله علیه فرمايي چي سينې ته نژدې يعني د نامه پورته تړل پکار دي د دواړو حضراتو مطابق حديثونه وارد دي علماء ليکي چي په دې اړه حکم دادی چي چيري و غواړي لاسونه دي کښېږدي صحيح به وي مګر په دومره خبره پوهيدل پکار دي چي په دې مسئله کي څه خاصه طريقه د حديثو په ذريعه ټاکلې نه ده يعني نه خو نامه پورته په لاس تړلو يو طريقه په خاصه توګه سره ثابته ده او نه د نامه لاندي بلکه دواړي طريقې د حديثونو په ذريعه ثابتي دي، امام اعظم رحمة الله علیه په دغه دواړو صورتو کي دا صورت اختيار کړ چي د ادب او تعظيم په اړه ټاکلی او معتارف دی، او هغه تر نامه لاندي لاسونه نيول څکه چي د زيات تعظيم او تکريم او ادب په وخت کي لاسونه تر نامه لاندي تړلو سره دريږي.

د دې حديث څخه معلومه سوه چي د تکبير ويلو او رفع يدين کولو په وخت کي د جامو څخه لاسونه را ايستل پکار دي.

﴿۷۴۲﴾: وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ كَانَ النَّاسُ يُؤْمَرُوْنَ أَنْ يَّضَعَ الرَّجُلُ

د حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه څخه روايت دی چي خلکو ته حکم ورکړل سوی دی چي په لمانځه کي دي نارينه ايږدي

الْيَدَ الْيُمْنٰى عَلٰى ذِرَاعِهِ الْيُسْرٰى فِي الصَّلَاةِ. رواه البخاري.

راسته لاس پر چپه لاس .بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۲۲۴، رقم: ۷۴۰.

تشريح: په دې حديث کي دې ته اشاره مقصد ده چي د احکم الحاکمين او پروردګار عالم په مخکي درېدونکي لپاره لازم ده چي هغه په ادب او احترام سره ودريږي، ددې طريقه داده چي راسته لاس دې پر چپه لاس سربېره تر نامه لاندي ونيسي، سر دي کښته وي لکه څرنګه چي د پاچاهانو په مخکي دريږي.

﴿۴۴۳﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ

د حضرت ابوهريرة ﷛ څخه روايت دى چي كله به رسول الله ﷺ ولاړ سو

إِلَى الصَّلَاةِ يُكَبِّرُ حِينَ يَقُومُ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَرْكَعُ ثُمَّ يَقُولُ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ

لمانځه ته نو د درېدو سره به يې تكبير وو ايه بيا به يې ركوع ته په تلو كي تكبير وايه بيا د ركوع څخه راپورته كيدو سره به يې سمع الله لمن

حَمِدَهُ حِينَ يَرْفَعُ صُلْبَهُ مِنَ الرُّكُوعِ ثُمَّ يَقُولُ وَهُوَ قَائِمٌ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ

حمده ويل بيا چي به په ښه ډول ودرېدى نو ربنا لک الحمد به يې ويل ،

ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَهْوِي ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَرْفَعُ رَأْسَهُ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَسْجُدُ ثُمَّ

بيا سجدې ته په تلو كي به يې الله اكبر وايه بيا دويمي سجدې ته په تلو سره به يې الله اكبر وايه

يُكَبِّرُ حِينَ يَرْفَعُ رَأْسَهُ ثُمَّ يَفْعَلُ ذٰلِكَ فِي الصَّلَاةِ كُلِّهَا حَتَّى يَقْضِيَهَا وَيُكَبِّرُ

بيا د سجدې څخه سر پورته كولو سره به يې الله اكبر وايه او همدا سي به يې ټول لمونځ كوى تر دې چي لمونځ به يې پوره كړ

حِينَ يَقُومُ مِنَ الثِّنْتَيْنِ بَعْدَ الْجُلُوسِ . متفق عليه

او هر كله چي به د دوو ركعتو پوره كولو سره درېدى نو الله اكبر به يې ويل . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\ ۲۷۲، رقم: ۷۸۹ و مسلم ۱\ ۲۹۳، ۲۹۴، رقم: ۲۸- ۳۹۲.

تشريح: په دې حديث كي د تكبير تحريمه او د ركوع او سجدې په موقع باندي يوازي د تكبيراتو ذكر سوى دى د لاس پورته كولو ذكر نه دى سوى .

غوره لمونځ كوم دى ؟

﴿۴۴۴﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْضَلُ الصَّلَاةِ طُولُ الْقُنُوتِ . رواه مسلم

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: غوره لمونځ هغه دی چي په هغه کي اوږده ولاړه وي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱/ ۵۲۰، رقم: ۱۶۴- ۷۵۶.

تشريح: ددې حديث څخه دا معلومه سوه چي په لمانځه کي اوږده قيام کول يعني تر زيات وخته پوري دريدل او اوږده سورتونه ويل افضل او اعلی دي ځکه چي ددې په وجه مشقت او محنت زيات وي او د جذبه خدمت او اطاعت اظهار کيږي کوم چي د عبادت روح دی.

په لمانځه کي قيام (ولاړه) غوره ده که سجده؟

د علماء په نزد په دې خبره کي اختلاف دی چي په لمانځه کي قيام افضل ده که سجده؟ ځيني حضرات خو وايي چي په لمانځه کي سجده افضل ده او ځيني حضرات وايي چي قيام افضل ده ددې حضراتو دليل دا حديث دی او ددې وجه دا بيانوي چي په قيام کي قرآن ويل کيږي او په سجده کي تسبيح ويل کيږي، او ښکاره خبره ده چي قرآن کريم د تسبيح څخه زيات افضل دی، د حنفيه مذهب هم دادی.

اَلْفَصْلُ الثاني (دوهم فصل)

د رسول الله ﷺ د لمانځه طريقه

﴿۷۲۵﴾: عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ قَالَ فِي عَشْرَةٍ مِّنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ

د حضرت ابو حميد الساعدي رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ د لسو صحابه کرامو ډلي ته وويل چي

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا أَعْلَمُكُمْ بِصَلَاةِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوْا

زه د رسول الله ﷺ د لمانځه په اړه ستاسو څخه زيات خبر يم، صحابه کرامو وويل:

فَاعْرِضْ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ رَفَعَ يَدَيْهِ

ښه نو بيان يې کړه: هغه وويل کله چي به رسول الله ﷺ د لمانځه لپاره دريدی نو دواړه لاسونه به يې پورته کول.

حَتّٰى يُحَاذِيَ بِهِمَا مَنْكِبَيْهِ ثُمَّ يُكَبِّرُ ثُمَّ يَقْرَأُ ثُمَّ يُكَبِّرُ وَيَرْفَعُ يَدَيْهِ حَتّٰى

تر او ږو پوري بیا به یې د الله اکبر ویلو څخه وروسته قرائت وایه بیا د الله اکبر په ویلو سره به یې دواړه لاسونه پورته کول تر

يُحَاذِيَ بِهِمَا مَنْكِبَيْهِ ثُمَّ يَرْكَعُ وَيَضَعُ رَاحَتَيْهِ عَلٰى رُكْبَتَيْهِ ثُمَّ يَعْتَدِلُ

او ږو پوري بیا به رکوع ته تلی او خپل دواړه لاسونه به یې پر خپلو زنګنو ایښودل او ملا به یې سیده ساتل

فَلَا يُصَبِّيْ رَأْسَهُ وَلَا يُقْنِعُ ثُمَّ يَرْفَعُ رَأْسَهُ فَيَقُوْلُ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ ثُمَّ

نه به یې سر پورته کوی او نه کښته، بیا به یې سر پورته کړ او سمع الله لمن حمده یې وایه بیا یې

يَرْفَعُ يَدَيْهِ حَتّٰى يُحَاذِيَ بِهِمَا مَنْكِبَيْهِ مُعْتَدِلًا ثُمَّ يَقُوْلُ اَللّٰهُ أَكْبَرُ ثُمَّ يَهْوِيْ

دواړه لاسونه تر اوږو پوري پورته کول او سیده به ودریدی بیا به په الله اکبر ویلو سره کښته کېدی

إِلَى الْأَرْضِ سَاجِدًا فَيُجَافِيْ يَدَيْهِ عَنْ جَنْبَيْهِ وَيَفْتَحُ أَصَابِعَ رِجْلَيْهِ ثُمَّ يَرْفَعُ

د مځکي په لور او سجده به یې کول په دې حالت کي به یې دواړه لاسونه د خپلو بغلو څخه لیري ساتل او د پښو ګوتي به یې مخ پر قبله کړې وې بیا به یې پورته کړ

رَأْسَهُ وَيَثْنِيْ رِجْلَهُ الْيُسْرٰى فَيَقْعُدُ عَلَيْهَا ثُمَّ يَعْتَدِلُ حَتّٰى يَرْجِعَ كُلُّ عَظْمٍ

سر خپل د سجدې څخه او چپه پښه به یې وغزول پر هغې به کښېنستی دومره سیده به کښېنستی چي هر هډوکی به راغلی

إِلٰى مَوْضِعِهِ مُعْتَدِلًا ثُمَّ يَسْجُدُ ثُمَّ يَقُوْلُ اَللّٰهُ أَكْبَرُ وَيَرْفَعُ وَيَثْنِيْ رِجْلَهُ

خپل ځای ته بیا به یې سجده کول بیا به په الله اکبر ویلو سره پر چپه پښه سیده کښېنستی

الْيُسْرٰى فَيَقْعُدُ عَلَيْهَا ثُمَّ يَعْتَدِلُ حَتّٰى يَرْجِعَ كُلُّ عَظْمٍ إِلٰى مَوَاضِعِهِ ثُمَّ

چي بند به برابر سو او هر ځای به خپل ځای ته ورغلی بیا به

يَنْهَضُ ثُمَّ يَصْنَعُ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ مِثْلَ ذٰلِكَ ثُمَّ إِذَا قَامَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ

ودريدى، او بيا به ولاړ سو دوهم ركعت به يې هم داسي كوى، بيا د دوه ركعته پوره كولو څخه وروسته چي به ولاړيدى

كَبَّرَ وَرَفَعَ يَدَيْهِ حَتّٰى يُحَاذِيَ بِهِمَا مَنْكِبَيْهِ كَمَا كَبَّرَ عِنْدَ افْتِتَاحِ الصَّلَاةِ ثُمَّ

نو الله اكبر به يې وايه او دواړه لاسونه به يې تر اوږو پوري پورته كول يعني څرنگه چي د لمانځه په پيل كي يې الله اكبر ويلي وو بيا به يې

يَصْنَعُ ذٰلِكَ فِيْ بَقِيَّةِ صَلَاتِهِ حَتّٰى إِذَا كَانَتِ السَّجْدَةُ الَّتِيْ فِيْهَا التَّسْلِيْمُ

په نور لمانځه كي هم داسي كول تر دې چي هغه سجده به يې وكړه چي د هغې څخه وروسته سلام گرزول كيږي

أَخْرَجَ رِجْلَهُ الْيُسْرٰى وَقَعَدَ مُتَوَرِّكًا عَلٰى شِقِّهِ الْأَيْسَرِ ثُمَّ سَلَّمَ. قَالُوْا

نو د سجدې څخه د پورته كيدو سره به يې چپه پښه د باندي راوكښل او د چپه طرف پر اړخ به كښېنستى او بيا به يې سلام وگرزوى، صحابه كرامو ددې په اوريدو سره ورته وويل:

صَدَقْتَ هٰكَذَا كَانَ يُصَلِّيْ .رواه أبو داود والدارمي وروى الترمذي وابن

تا درست بيان وكړ رسول الله ﷺ همداسي لمونځ كوى، (ابوداؤد، دارمي) ترمذي او ابن

ماجه معناه وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح . وفي رواية لأبي

ماجه ددې هم معنا حديث بيان كړى دى او ترمذي ويلي دي چي دا حديث حسن صحيح دى او د

داود من حديث أبي حُميد ثُمَّ رَكَعَ فَوَضَعَ يَدَيْهِ عَلٰى رُكْبَتَيْهِ كَأَنَّهُ قَابِضٌ

ابوداؤد په يوه حديث كي چي د ابو حميد څخه نقل دى دا الفاظ دي چي بيا رسول الله ﷺ ركوع وكړه او خپل دواړه لاسونه يې پر خپلو دواړو زنگنو كښېښودل گويا چي رسول الله ﷺ ټينگ نيولى وه

عَلَيْهِمَا وَوَتَّرَ يَدَيْهِ فَنَحَّاهُمَا عَنْ جَنْبَيْهِ وَقَالَ ثُمَّ سَجَدَ فَأَمْكَنَ أَنْفَهُ

او د لیندۍ په شان د دواړو لاسونو څنګلي او موټي يې د بغلو څخه لیري وساتل، ددې
وروسته د راوي بیان دی چې بیا رسول الله ﷺ سجده وکړه او خپله پزه

وَجَبْهَتَهُ الْأَرْضَ وَنَحّٰى يَدَيْهِ عَنْ جَنْبَيْهِ وَوَضَعَ كَفَّيْهِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ وَفَرَّجَ

او تندی يې پر مځکه کښېښودل او دواړه لاسونه يې د بغلو څخه لیري او د اوږو برابر وساتل او
دواړه زنګنونه يې خلاص

بَيْنَ فَخِذَيْهِ غَيْرَ حَامِلٍ بَطْنَهُ عَلٰى شَيْءٍ مِّنْ فَخِذَيْهِ حَتّٰى فَرَغَ ثُمَّ جَلَسَ

او د نس څخه لیري وساتل تر دې چې د سجدو څخه فارغ سو بیا داسې کښېنستی

فَافْتَرَشَ رِجْلَهُ الْيُسْرٰى وَأَقْبَلَ بِصَدْرِ الْيُمْنٰى عَلٰى قِبْلَتِهِ وَوَضَعَ كَفَّهُ الْيُمْنٰى

چې چپه پښه يې وغوړول او د راسته پښې شا يې د قبلې لور ته کړل او راسته لاس يې

عَلٰى رُكْبَتِهِ الْيُمْنٰى وَكَفَّهُ الْيُسْرٰى عَلٰى رُكْبَتِهِ الْيُسْرٰى وَأَشَارَ بِأُصْبَعِهِ يَعْنِي

پر راسته زنګون او چپه لاس يې پر چپه زنګون کښېښودی او په ګوته يې اشاره وکړه یعني

السَّبَّابَةَ . وَفِيْ أُخْرٰى لَهُ وَإِذَا قَعَدَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ قَعَدَ عَلٰى بَطْنِ قَدَمِهِ

د شهادت په ګوته، او د ابوداؤد په یو بل روایت کې دا الفاظ دي او هر کله چې به پر دوو رکعتو
کښېنستی نو د چپه پښې پر تلي به کښېنستی

الْيُسْرٰى وَنَصَبَ الْيُمْنٰى وَإِذَا كَانَ فِي الرَّابِعَةِ أَفْضٰى بِوَرِكِهِ الْيُسْرٰى إِلٰى

او راسته پښه به يې ودرول او په څلور رکعته کې چې به کښېنستی نو چپه اړخ (ورون) به

الْأَرْضِ وَأَخْرَجَ قَدَمَيْهِ مِنْ نَاحِيَةٍ وَّاحِدَةٍ .

د مځکې خوا ته وکښی او دواړې پښې به يې یوه طرف ته وکښلې.

تخریج: سنن ابي داؤد ۱\ ۴۶۷، رقم: ۷۳۰، والدارمي ۱\ ۳۶۱، ۳۶۲، رقم: ۱۳۵۶ والترمذي ۲\ ۱۰۵-۱۰۸، رقم: ۳۰۵و ۳۰۵، وابن ماجه ۱\ ۳۳۷، رقم: ۱۰۶۱.

د لغاتو حل: (لايُصَبي): اي لايُنزل راسه عن ظهره. (سر تر ملا نه کښته کول). (لايُقنع): لايرفع

حتى يكون اعلى من ظهره (نه يې پورته كوي).

تشريح : (انا اعلمكم بصلوة رسول الله صلي الله عليه وسلم): يعني زه د رسول الله ﷺ د لمانځه طريقه تر تاسو زيات ښه پيژنم، ددې الفاظو څخه دا معلومه سوه چي كه يو سړى د يو خاص حكمت او ضرورت په وجه پرته د غرور او تكبر څخه او د نفسانيت د اظهار حقيقت په توګه د خپل علم د زيادتوب دعوه وكړي نو دا جائز ده.

د تكبير تحريمې څخه مخكي لاسونه پورته كول پكار دي

د حديث الفاظ رفع يديه حتى يحاذي بهما منكبيه ثم يكبر څخه په صراحت معلوميږي چي رسول الله ﷺ به كله د لمانځه لپاره ودريدى نو مخكي به يې رفع يدين كول د هغه وروسته به يې تكبير تحريمه ويل د امام اعظم رحمه الله هم دا مذهب دى چي مخكي لاسونه پورته كړل سي د هغه وروسته تكبير تحريمه وويل سي.

د سجدې پوره والى پر مځكه پزه او تندى دواړه ايښودو سره كيږي

فامكن انفه وجبهته الارض څخه معلومه سوه چي په سجده كي تندى او پزه دواړه پر مځكه ايښودل پكار دي ځكه چي رسول الله ﷺ به په ځانګړې توګه سره سجده همداسي كول او حديثونه هم ددې موافق وارد دي نو مكمل سجده هلته كيږي چي پزه او تندى دواړه پر مځكه كښيښودل سي، كه د څه مجبورى او عذر پر بناء په سجده كي ددغه دواړو څخه يو پر مځكه كښېښودل سي نو مكروه نه دى او كه بغير څه عذر او مجبوري داسي وكړي نو هغه به داسي صورت وي كه پر مځكه دا تندى ايښى وي پزه يې نه وي ايښې نو دا په متفقه توګه سره جائز وي البته سجده به مكروه وي او كه تندى يې نه كښېښودى بلكه پزه يې كښيښودل نو د امام اعظم رحمة الله عليه په نزد دا هم كراهيت سره جائز دى مګر د امام يوسف رحمة الله عليه او امام احمد رحمة الله عليه په نزد جائز نه دي او پر دې فتوى ده.

د شهادت د ګوتي تحقيق

سبابه د شهادت ګوتي ته وايي د سب لغوي معنى ښكنځل دي د جاهليت په ورځو كي چي عربو به چاته ښكنځل كول نو دا ګوته به يې پورته كول په دې مناسبت سره ددې ګوتي نوم د هغه وخت څخه سبابه رواج سو بيا وروسته ددې ګوتي اسلامي نوم مسبح او سباحه سوه ځكه چي د تسبيح او توحيد په وخت دا ګوته پورته كيږي.

په هر حال د حديث د الفاظو مطلب دادى چي رسول الله ﷺ په التحيات كي د كلمه شهادت

ويلو په وخت كي دا اشاره كول چي نفي يعني اشهد ان لااله الا الله د ويلو په وخت كي ګوته پورته كول او د اثبات يعني الا الله پر وخت به يې ګوته كښته كول. ٦٧

د تكبير تحريمې او لاسو پورته كولو طريقه

﴿۷۴۶﴾: وَعَنْ وَّائِلِ بْنِ حُجْرٍ أَنَّهُ أَبْصَرَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ قَامَ

د حضرت وائل بن حجر رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما رسول الله ﷺ وليدی كله چي هغه ودرېدی

إِلَى الصَّلَاةِ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى كَانَتَا بِحِيَالِ مِنْكَبَيْهِ وَحَاذٰى بِإِبْهَامَيْهِ أُذُنَيْهِ ثُمَّ

د لمانځه لپاره نو خپل دواړه لاسونه يې تر اوږو پوري پورته كړل او د لاسو بټې ګوتې يې د غوږو برابر كښېښودلې بيا يې

كَبَّرَ. رواه أبو داود. وفي رواية له يرفع إبهاميه إلى شحمة أذنيه.

الله اكبر ووايه ابوداؤد، د ابوداؤد په دوهم روايت كي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ دواړي بټې ګوتې د غوږو تر نرميو پوري پورته كړې.

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\ ۴۶۵، رقم: ۷۲۴.

تشريح: دا حديث هم د امام اعظم رحمة الله عليه د مذهب تائيد كوي رسول الله ﷺ به د لاسونو پورته كولو وروسته تكبير وايه او بټې ګوتې به يې د غوږونو تر نرمۍ پوري پورته كولې.

د لاسونو نيولو حكم

﴿۷۴۷﴾: وَعَنْ قَبِيْصَةَ بْنِ هُلْبٍ عَنْ أَبِيْهِ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

حضرت قبيصة بن هلب د خپل پلار څخه روايت كوی چي رسول الله ﷺ به

وَسَلَّمَ يَؤُمُّنَا فَيَأْخُذُ شِمَالَهُ بِيَمِيْنِهِ. رواه الترمذي وابن ماجه.

موږ ته لمونځ راكوی نو په راسته لاس سره به يې چپه لاس نيوی. ترمذي او ابن ماجه

تخريج: سنن الترمذي ۲\ ۳۲، رقم: ۲۵۲ وابن ماجه: ۱\ ۲۶۶، رقم: ۸۰۹.

د تعديل اركان ښوونه

﴿۷۴۸﴾: وَعَنْ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ فَصَلّٰى فِي الْمَسْجِدِ ثُمَّ جَاءَ

د حضرت رفاعة بن رافع رضي الله عنه څخه روايت دی چي يو سړی مسجد ته راغلی او لمونځ وکړ بيا د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر ۱۷

فَسَلَّمَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعِدْ

او سلام يې ادا کړ ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ته چي ته راوګرځوه

صَلَاتَكَ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ فَقَالَ عَلِّمْنِيْ يَا رَسُوْلَ اللهِ كَيْفَ أُصَلِّيْ ؟ قَالَ إِذَا

لمونځ ستا، ځکه چي تا لمونځ نه دی کړی ، هغه سړي عرض وکړ اې د الله رسوله ! ما ته وښيه چي څنګه لمونځ وکړم ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :

تَوَجَّهْتَ إِلَى الْقِبْلَةِ فَكَبِّرْ ثُمَّ اقْرَأْ بِأُمِّ الْقُرْآنِ وَمَا شَاءَ اللهُ أَنْ تَقْرَأَ فَإِذَا

د قبلې په لور مخ کړه الله اکبر ووايه بيا سورة فاتحه ووايه او څه چي الله تعالی وغواړي چي ته يې ووايې (يعني د سورة فاتحې څخه پرته د قرآن څخه نور څه) زيات ووايه بيا کله چي

رَكَعْتَ فَاجْعَلْ رَاحَتَيْكَ عَلَى رُكْبَتَيْكَ وَمَكِّنْ رُكُوْعَكَ وَامْدُدْ ظَهْرَكَ فَإِذَا

ته رکوع وکړې نو خپل دواړه لاسونه پر خپلو زنګنو کښېږده او په رکوع کي قائم اوسه او ملا سيده لره بيا کله چي

رَفَعْتَ فَأَقِمْ صُلْبَكَ وَارْفَعْ رَأْسَكَ حَتّٰى تَرْجِعَ الْعِظَامُ إِلَى مَفَاصِلِهَا فَإِذَا

ته سر پورته کړې نو خپله ملا سيده ساته او سر پورته کړه يعني سيده ودرېږه چي د ملا هډوکي خپل ځای ته راسي بيا کله چي

سَجَدْتَّ فَمَكِّنْ لِلسُّجُوْدِ فَإِذَا رَفَعْتَ فَاجْلِسْ عَلَى فَخِذِكَ الْيُسْرٰى ثُمَّ اصْنَعْ

ته سجده وکړې نو په اطمينان سره سجده وکړه بيا د سجدې څخه چي سر پورته کړې نو پر خپل چپه ورون باندي کښېنه بيا همداسي وکړه

ذٰلِكَ فِيْ كُلِّ رَكْعَةٍ وَسَجْدَةٍ حَتّٰى تَطْمَئِنَّ . هٰذَا لَفْظُ الْمَصَابِيْحِ . وَرَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ

په هره رکوع او سجده کي تر دې چي هر رکن په اطمينان سره ادا کړې ، دا الفاظ د مصابيح دي او ابوداؤد

مَعَ تَغْيِيْرٍ يَسِيْرٍ وَرَوَى التِّرْمِذِيّ وَالنِّسَائِيُّ مَعْنَاهُ. وَفِيْ رِوَايَةٍ لِّلتِّرْمِذِيِّ قَالَ

په لږ فرق سره روايت کړی دی او د ترمذي د يوه روايت الفاظ دا دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

إِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلَاةِ فَتَوَضَّأْ كَمَا أَمَرَكَ اللّٰهُ بِهِ ثُمَّ تَشَهَّدْ فَأَقِمْ فَإِنْ كَانَ مَعَكَ

کله چي ته د لمانځه لپاره ودريږې نو داسي اودس وکړه څنګه چي الله تعالی درته حکم کړی دی بيا کلمه شهادت ووايه بيا په تکبير ويلو سره لمانځه ته ودريږه

قُرْآنٌ فَاقْرَأْ وَإِلَّا فَاحْمَدِ اللّٰهَ وَكَبِّرْهُ وَهَلِّلْهُ ثُمَّ ارْكَعْ.

او د قرآن څخه چي څه درته ياد وي هغه ووايه که څه دي په ياد نه وي نو الحمد لله الله اکبر لااله الاالله ووايه او بيا رکوع وکړه.

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\ ۵۳۷–۵۳۸، رقم: ۸۵۹، والنسائي ۲\ ۱۹۳، رقم: ۱۰۵۲ والترمذي ۲\ ۱۰۲، رقم: ۳۰۲.

تشريح: د حديث د اخري الفاظو څخه دا خبره معلوميږي چي کوم سړی چي د قرآن کريم يو سورت يې ياد نه وي نو هغه ته پکار ده چي هغه د قرائت پر ځاي سبحان الله و الحمد لله الله اکبر ولا اله الا الله والله اکبر ووايي، همداسي دا يوه مسئله ده که يو کافر مسلمان سي نو د هغه لپاره دا ضروري ده چي هغه د لمانځه د وخت تر راتلو پوري د قرآن کريم کم تر کمه دومره اياتونه چي د هغه ويل په لمانځه کي فرض دي ياد کړي که په دې دوران کي هغه ته هيڅ هم ياد نسي نو هغه دي د قرائت پر ځاي ذکر، تسبيح او تهليل کوي د هغه لمونځ به ادا سي.

د لمانځه وروسته دعاء غوښتل

﴿۷۴۹﴾: وَعَنِ الْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت فضل بن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

اَلصَّلَاةُ مَثْنَى مَثْنَى تَشَهَّدُ فِيْ كُلِّ رَكْعَتَيْنِ وَتَخَشَّعُ وَتَضَرَّعُ وَتَمَسْكَنُ ثُمَّ

لمونځ دوه دوه رکعته دی او په هر رکعت کي التحيات ده او خشوع ده او د عاجزۍ څرګندونه ده

تُقْنِعُ يَدَيْكَ يَقُوْلُ تَرْفَعُهُمَا إِلَى رَبِّكَ مُسْتَقْبِلًا بِبُطُوْنِهِمَا وَجْهَكَ وَتَقُوْلُ

بيا ته خپل دواړه لاسونه پورته کړه، د راوي بيان دی چي د لاس پورته کولو دا مطلب دی چي ته

خپل دواړه لاسونه د خپل رب په لور داسي پورته کړه چي د لاسو دواړه ورغوي د مخ طرف ته وي او دا و وايه

يَا رَبِّ يَا رَبِّ وَمَنْ لَمْ يَفْعَلْ ذَلِكَ فَهُوَ كَذَا وَكَذَا . و في رواية فهو خِدَاجٌ.

رواه الترمذي

اې زما ربه، اې زما ربه او چا چي داسي ونه کړل يعني دعاء يې ونه کړل يا لمونځ يې په دې طريقه ونه کړ نو هغه داسي او داسي دی ، او په يوه روايت کي دا الفاظ دی چي د هغه لمونځ ناقص دی .ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۲\ ۲۲۵، ۲۲۶، رقم: ۳۸۵.

تشريح ددغه حديث څخه دې شيانو ته اشاره کيږي :يعني اول شی خو دادی چي نفل لمونځ دې دوه دوه رکعته کول کيږي كه څه هم هغه د ورځي وي يا د شپې يعني د هر دوو رکعتو وروسته دي سلام وګرځول سي د څلورو رکعتو وروسته دي سلام نه وګرځول سي، امام شافعي رحمة الله عليه په دې حديث باندي عمل کولو سره ويلي دي چي نفل لمونځ دوه دوه رکعته کول افضل دي، امام اعظم رحمة الله عليه فرمايي كه شپه وي يا ورځ نفل لمونځ څلور څلور رکعته کول افضل دي د ابو يوسف او امام محمد رحمة الله عليه په نزد په شپه کي دوه دوه رکعته او په ورځ کي څلور رکعته کول افضل دي .

د امام شافعي رحمة الله عليه دليل خو دا حديث دی، امام ابو يوسف رحمة الله عليه او امام محمد رحمة الله عليه پر تراويح باندي په قياس کولو سره دا حکم کړی دی او امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه د خپل دليل په توګه فرمايي چي دا خبره په صحيح توګه ثابته سوې ده چي رسول الله ﷺ به د ماخستن د لمانځه وروسته څلور رکعته کول او د ماپښين په لمانځه کي څلور رکعته کول ثابت دي، بيا ددې څخه پرته يو شی دا هم دی چي څلور څلور رکعته کولو کي په تحريمه کي دننه زيات وخت پوري د پاته کيدو په وجه زيات مشقت او محنت برداشت کول وي او دا ښودل سوي دي چي په کوم عبادت کي مشقت زيات وي هغه افضل دی ،امام اعظم رحمة الله عليه د رسول الله ﷺ ددې ارشاد الصلوة مثنی تاويل دا کوي چي د دې ارشاد مطلب دادی چي نفل لمونځ طاق نه وي بلکه اولی درجه دوه رکعته وي دوهم شی دادی چي د لمانځه روح او د لمانځه معراج خشوع او تضرع او د عاجزۍ اظهار دی، بنده چي په لمانځه کي څومره خشوع کوي ، د تضرع

ثخه کار اخلي او د پروردګار په مخکي په دربدو سره د هغه لويي او عظمت او خپل زياته بيچاري او د اړتيا اظهار کوي لمونځ په هغه اندازه د مقبوليت درجو ته رسيږي ، د خشوع مطلب دادی چي په باطن کي بنده د خپل عجز احساس وکړي خپل نفس د عاجزۍ او انکسارۍ پر لار ولري ګويا خشوع د باطني عجز نوم دی او د تضرع مطلب دادی چي بنده په ظاهري توګه سره خپل هر عمل او زاويې ثخه د خپل عجز او انکسارۍ اظهار وکړي ګويا تضرع د ظاهري عجز نوم دی .

دريم دا چي د لمانځه ثخه وروسته دعاء غوښتل پکار ده يعني هر کله چي بنده د الله تعالی په دربار کي حاضري ورکړي او د لمانځه په کولو سره د خپل عبوديت او فرمانبردارۍ اظهار وکړي نو د هغه لپاره دا هم ضروري ده چي د لمانځه ثخه وروسته د الله تعالی په دربار کي خپل دواړه لاسونه پورته کړي او د خپل محتاجۍ او بيچارۍ په اظهار کولو سره خپل ديني او دنياوي خير کي د الله تعالی د مرستي او نصرت غوښتونکی سي .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

امام دي تکبيرات په لوړ آواز وايي

﴿۷۵۰﴾: عَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ الْمُعَلّٰى قَالَ صَلّٰى لَنَا اَبُوْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ

د سعيد بن حارث بن المعلي ثخه روايت دی چي ابوسعيد خدري ﷺ موږ ته لمونځ راکړ

فَجَهَرَ بِالتَّكْبِيْرِ حِيْنَ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ السُّجُوْدِ وَحِيْنَ سَجَدَ وَحِيْنَ رَفَعَ مِنَ

نو په لوړ آواز سره يې الله اکبر ووايه کله چي د سجدې ثخه يې سر پورته کړ او کله چي يې سجده وکړه او کوم وخت چي پورته کېدی

الرَّكْعَتَيْنِ وَقَالَ هٰكَذَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رواه البخاري

د دوو رکعتو وروسته ، او وه يې ويل ما رسول الله ﷺ په داسي کولو ليدلی دی . بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۳۰۳ ، رقم: ۸۲۵.

تشريح ددې حديث بيانولو مقصد دا ښودل سوی دي چي امام ته پکار ده چي هغه په لمانځه کي تکبيرات په لوړ آواز سره وايي دلته يوازي د دوو ځايو د تکبيرانو ذکر په اتفاق سره

سوی دی یا بیا ځینو خلکو به ددې وختونو د تکبیرانو څخه انکار کړی وي ځکه راوي یوازي دا تکبیرات ذکر کړل ، هسي د اسماعیل په روایت کي د پاته تکبیراتو ذکر هم موجود دی، د هغه د روایت په پیل کي دا الفاظ هم مذکور دي چي ابو هریره رضي الله عنه ناروغ سوی وو یا یو ځای تللی وو نو د هغه په نه شتون کي ابو سعید رضي الله عنه لمونځ ورکړ هغه د لمانځه په پیل کېدو او لمانځه ته د تلو په وخت کي تکبیرونه په لوړ آواز سره وویل ددې څخه وروسته پاته حدیث بیان سوی دی .

﴿۷۵۱﴾: وَعَنْ عَكْرِمَةَ قَالَ صَلَّيْتُ خَلْفَ شَيْخٍ بِمَكَّةَ فَكَبَّرَ ثِنْتَيْنِ وَعِشْرِيْنَ

د حضرت عکرمة[1] رضي الله عنه څخه روایت دی چي ما په مکه معظمه کي په یو شیخ (یعني ابو هریرة) پسي لمونځ وکړ هغه په لمانځه کي دوه ویشت تکبیرونه وویل ،

تَكْبِيْرَةً فَقُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ إِنَّهُ أَحْمَقُ فَقَالَ ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ سُنَّةُ أَبِي الْقَاسِمِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رواه البخاري

ما ابن عباس رضي الله عنه ته وویل چي دا سړی احمق (بې عقل) دی (چي دومره تکبیرونه وایي) ابن عباس رضي الله عنه وویل مور دي د ربانديي بوره سي دا طريقه د ابو القاسم (رسول الله صلی الله علیه وسلم) ده . بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\ ۲۷۲، رقم: ۷۸۸.

تشريح: په څلور رکعتو کي د تکبیر تحریمه سره دوه ویشت تکبیرات کیږي په هغه زمانه کي مروان او بني امیه په لمانځه کي تکبیرونه په لوړ اواز سره ویل پرې ایښي وه ددغه وجهي څخه چي کله ابو هریره رضي الله عنه تکبیرات په لوړ اواز وویل نو عکرمه ته سخت تعجب وسو .

﴿۷۵۲﴾: وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ الْحُسَيْنِ مُرْسَلاً قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت علي بن الحسين رضي الله عنه څخه مرسلا روايت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم به

وَسَلَّمَ يُكَبِّرُ فِي الصَّلَاةِ كُلَّمَا خَفَضَ وَرَفَعَ فَلَمْ يَزَلْ تِلْكَ صَلَاتُهُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى لَقِيَ اللّٰهَ تَعَالٰى . رواه مالك .

[1]- نوموړی د حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنه آزاد سوی غلام وو نوم يې عکرمه او کنيت يې ابو عبد الله وو، په (۱۵ه) کال کي د اتيا کالو په عمر وفات سوی دی .

په هر لمانځه کې چې کښته کېدی او ولاړېدی نو تکبیر به یې وایه او رسول الله ﷺ به تل داسې لمونځ کوی تر څو چې د الله تعالی سره یې ملاقات وکړ (یعني وفات سو.). مالک.

تخريج: الامام مالک في الموطا ۱\ ۷۶، رقم: ۱۷.

رفع يدين يوازي د تكبير تحريمې پر وخت

﴿۷۵۳﴾: وَعَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ قَالَ لَنَا ابْنُ مَسْعُودٍ أَلاَ أُصَلِّي بِكُمْ صَلاَةَ رَسُولِ

د حضرت علقمة رضي الله عنه څخه روایت دی چې موږ ته ابن مسعود رضي الله عنه وویل: ایا زه تاسو ته د رسول الله ﷺ په ډول لمونځ نه درکړم؟

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ فَصَلَّى وَلَمْ يَرْفَعْ يَدَيْهِ إِلاَّ مَرَّةً وَّاحِدَةً مَعَ تَكْبِيرِ الْاِفْتِتَاحِ. رواه الترمذي وأبو داود والنسائي. وقال أبو داود ليس هو بصحيح على هذا المعنى.

نو هغه لمونځ راکړ او یوازې یو ځل په تکبیر تحریمه کې یې لاسونه پورته کړل. (ترمذي، ابوداؤد، نسائي) ابوداؤد ویلي دي دا حدیث په دې معنا کې صحیح نه دی

تخريج: سنن الترمذي ۲\ ۴۰، رقم: ۲۵۷ وابوداؤد ۱\ ۴۷۷، ۴۷۸، رقم: ۷۴۸ والنسائي ۲\ ۱۹۵، رقم: ۱۰۵۷.

تشريح: امام ترمذي رحمة الله عليه په خپل کتاب کې د رفع یدین سره متعلق دوهم باب قائم کړی دی یو باب د رفع الیدین په اثبات کې او دوهم باب د عدم رفع الیدین په اثبات کې په دوهم باب کې امام موصوف دا حدیث نقل کړی دی او ویلي یې دي په دې اړه براء بن عازب رضي الله عنه څخه هم حدیث منقول دی او د ابن مسعود رضي الله عنه حدیث حسن دی، د دې تابع د صحابه کرامو او تابعینو رحمة الله علیهم یو ډله ده او د سفیان ثوري او اهل کوفه مذهب هم د دې حدیث سره سم دی.

البته امام موصوف په اول باب کې د عبد الله ابن مبارک رحمة الله علیه دا قول نقل کړی دی چې د رفع الیدین حدیث ثابت دی او د عدم رفع الیدین په اړه د عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه حدیث چې د حنفیه مستدل دی ثابت نه دی

په هر حال د دې مخکې دا ښودل سوي دي چې د حنفیه مذهب د عدم رفع یدین په اثبات کې د دې د حدیث څخه پرته نور ډېر زیات حدیث او اثار وارد دي چې مخکې هم ذکر سوي دي.

﴿۷۵۴﴾: وَعَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ اسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ وَرَفَعَ يَدَيْهِ وَقَالَ اللهُ أَكْبَرُ. رواه ابن ماجه

د حضرت ابو حميد ساعدي رضي الله عنه څخه روايت دی چي کله به رسول الله ﷺ لمانځه ته ودريدی نو د قبلې په لور به يې مخ کړ او دواړه لاسونه به يې پورته کول او الله اکبر به يې وايه. ابن ماجه.

تخريج: سنن ابن ماجه ۱\ ۲۶۴، رقم: ۸۰۳.

د رسول الله ﷺ د شا څخه د شيانو ليدل د معجزې په توګه

﴿۷۵۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ صَلَّى بِنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الظُّهْرَ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ موږ ته د ماپښين لمونځ راکړ

وَفِي مُؤَخَّرِ الصُّفُوْفِ رَجُلٌ فَأَسَاءَ الصَّلَاةَ فَلَمَّا سَلَّمَ نَادَاهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ

په آخري صف کي يو سړی وو چي په خرابه طريقه سره يې لمونځ کوی کله چي رسول الله ﷺ سلام وګرزوی نو هغه ته يې ږغ کړ چي

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا فُلَانُ أَلَا تَتَّقِي اللهَ ؟ أَلَا تَرٰى كَيْفَ تُصَلِّيْ ؟ إِنَّكُمْ تُرَوْنَ أَنَّهُ

اې فلانه! ايا ته د الله جل جلاله څخه نه بيريږې؟ ته نه وينې چي څنګه لمونځ کوې شايد تاسو دا خيال کوئ چي تاسو څه کوی

يَخْفٰى عَلَيَّ شَيْءٌ مِّمَّا تَصْنَعُوْنَ وَاللهِ إِنِّيْ لَأَرٰى مِنْ خَلْفِيْ كَمَا أَرٰى مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ رواه أحمد.

هغه زما څخه پټ دي؟ په الله دي مي قسم وي څرنګه چي زه مخ ته وينم همداسي شا ته هم وينم. احمد

تخريج: الامام احمد في مسنده ۲\ ۴۴۹.

تشريح الله تعالی په دې دنيا کي رسول الله ﷺ په حق شريعت ورکولو سره رالواستوی چيري چي رسول الله ﷺ ته يې د رسالت او نبوت دلائل او شواهد کي ډير شيان ورکړل هلته يې ورته معجزات هم ورکړل چي د هغه په ذريعه د خلکو په ذهن او فکر باندي د رسول الله ﷺ عظمت او

برتري او صداقت ښكاره سي رسول الله ﷺ ته دا خصوصيت حاصل وو چي څرنګه به يې خپل مخ ته شيان ليدل همداسي خپل وروسته شيان ليدو باندي هم قادر وو او وروسته ليدل د خارق العادت يعني د معجزې په توګه وه، د هغه رهنمايي به د وحي او الهام په ذريعه كيدل.

خو دومره خبره ياد لرئ چي د دې معجزې څخه دا نسي ثابت كيداى چي رسول الله ﷺ ته علم غيب وو ځكه اول خودا ښودل سوي دي چي رسول الله ﷺ ته دا خصوصيت يوازي د معجزې په توګه حاصل وو دوهم دا چي رسول الله ﷺ پر دغه وصف باندي په خپله قادر نه وو بلكه په دې اړه د وحي او الهام په ذريعه به د رسول الله ﷺ رهنمايي كيدل بيا دا چي رسول الله ﷺ ته دا وصف هميشه حاصل نه وو بلكه كله كله به داسي كيدل كه رسول الله ﷺ ته علم غيب حاصل واى نو نه يوازي دا چي رسول الله ﷺ به د وحي الهام د رهنمايي پرته خپله پر دې وصف قادر واى بلكه دا وصف به رسول الله ﷺ ته هميشه حاصل واى، ددې تائيد خپله يو روايت چي د غزوه تبوك پر موقع باندي د رسول الله ﷺ اوښه وركه سوه، د ډير لټون وروسته يې هم د اوښي معلومات ونه كړ، منافقانو دا وويل چي رسول الله ﷺ خو دا وايي چي زه د اسمان خبري تاسو ته رسوم او اوس دومره معلومات نسي كولاى چي اوښه يې چيري ده، رسول الله ﷺ وفرمايل قسم په خداى زه خو يوازي په هغو شيانو پوهيداى سم چي د هغه په باره كي زما الله ماته علم راكړى دى او اوس زما الله ﷻ ماته وښودل چي زما اوښه په فلاني ځاى كي ده او د هغه مهار د يوې درختي په څانګه كي لګيدلى دى ددې څخه پرته د رسول الله ﷺ دا ارشاد هم نقل دى چي زه انسان يم خو د الله تعالى د ښوونې بغير په دې هم نه پوهيږم چي د دې د ديوال شاته څه شي دي.

شيخ سعدي رحمة الله عليه ددې حقيقت ترجماني داسي كړې ده:

ګهې برطاري اعلي نشينم ګهې بر پشت پايي خود نه بينم

په هر حال د رسول الله ﷺ د لمانځه حالت به د نورو حالاتو په مقابله كي زيات افضل او اعلى وو ځكه د نورو مواقعو په نسبت به رسول الله ﷺ د لمانځه په حالت كي د كائنات د شيانو حقيقت او معرفت په كامل طور سره ښكاره كيدى بيا دا چي د رسول الله ﷺ په لمانځه كي د الله تعالى په مخكي حاضريدل او متوجه الي الله كيدل دا معنى نه وي چي رسول الله ﷺ به د كائناتو څخه نا خبره كيدى بلكه دلمانځه په حالت كي به رسول الله ﷺ د كائنات د شيانو څخه پوره خبريدى او د رسول الله ﷺ احساس او شعور به په پوره قوت سره د اشياء عالم ادراك كوى د الله تعالى هغه نيك او فرمانبردار بندګان هم چي رياضت او مجاهده او د تعلق مع الله

په وجه د کاملین په درجه کي وي د لمانځه په حالت کي د کائناتو د شیانو څخه باخبره وي که یو خوا ته د هغوی زړونه په دربار خداوندي کي په پوره توګه سره حاضر وي نو بلي خوا ته د هغوی احساس او شعور د دنیا د شیانو څخه هم خبردار اوسي په دې وجه مشائخ وایي چي لمونځ کشف او حضور مقام دی نه محل غیبت او استغراق.

ځیني حضرات ددې ټولو مباحثو څخه په آخوا کیدو سره دا هم ویلي دي چي د رسول الله ﷺ د دواړو اوږو په مینځ کي دوه سوري وه چي د هغه په ذریعه به رسول الله ﷺ د شا خوا ته کتل دا روایت صحیح نه دی او نه د دې څه ثبوت سته بلکه د یو ذهن صرف افتراع ده.

==========

بَابُ مَا يَقْرَءُ بَعْدَ التَّكْبِيْرِ

د تکبیر تحریمې وروسته د ویونکو شیانو بیان

د لمانځه په پیل کي چي د کومو دعاؤ او اذکارو ویل په صحیح حدیثو ثابت دي د مثال په توګه اني وجهت.....الخ، یا سبحانک اللهم.... الخ یا ددې څخه پرته نوري دعاګاني دا ټولي یا ځیني په فرائض او نوافل کي ویل د امام شافعي رحمة الله علیه په نزد مستحب دي، امام اعظم رحمة الله علیه، امام مالک رحمة الله علیه او امام احمد رحمة الله علیه فرمایي چي یوازي سبحانک اللهم..... الخ دي وویل سي او د دې څخه پرته چي کومي دعاګاني ثابتي دي هغه ټولي پر نوافل محمول دي یعني رسول الله ﷺ به دا دعاګاني په نفلو کي ویلې. دامام ابو یوسف رحمة الله علیه په نزد سبحانک اللهم.... الخ او اني وجهت.... الخ دواړي دعاوي ویل پکار دي، امام طحاوي رحمة الله علیه هم دا اختیار کړې ده چي د دی دواړو دعاګانو په ترتیب کي لمونځ کونکي ته اختیار دی که څه هم هغه مخکي سبحانک اللهم ووایي یا اني وجهت.. مخکي ووایي هسي مشهور دادی چي اني وجهت د سبحان اللهم وروسته ووایي.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ (لومړی فصل)

د تکبیر تحریمې او قرائت په مینځ کي د رسول الله ﷺ دعاء

﴿۷۵۶﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْكُتُ

د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به په پوره ډول سره پټه خوله وو

بَيْنَ التَّكْبِيْرِ وَبَيْنَ الْقِرَاءَةِ اِسْكَاتَهُ فَقُلْتُ بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي يَا رَسُولَ اللّٰهِ

د تکبير تحريمې او قرائت په منځ کي، يوه ورځ ما عرض وکړ اې دالله رسوله! زما مور او پلار دي پر تاسو قربان وي

اِسْكَاتُكَ بَيْنَ التَّكْبِيْرِ وَبَيْنَ الْقِرَاءَةِ مَا تَقُولُ قَالَ أَقُولُ اللّٰهُمَّ بَاعِدْ بَيْنِي

تاسو چي د تکبير او قرائت په منځ کي پټه خوله ياست نو څه وايا ست؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: زه دا وايم (اللهم باعد...... والثلج والبرد) ژباړه (اې الله! ليري والی راولې زما

وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ اللّٰهُمَّ نَقِّنِي مِنْ خَطَايَايَ

او زما د ګناهونو په منځ کي لکه څرنګه چي تا ختيځ د لويديځ څخه ليري کړی دی همداسي ما زما د ګناهو څخه ليري وساته اې الله! ما د ګناهو څخه داسي پاک کړه

كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الْأَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ اللّٰهُمَّ اغْسِلْنِي مِنْ خَطَايَايَ بِالثَّلْجِ وَالْمَاءِ وَالْبَرَدِ. متفق عليه

لکه څرنګه چي سپينه جامه د خيري څخه پاکيږي، اې الله! زما ګناهونه په اوبو، واوري، او ژلی سره پريوله.) بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۲۲۷، رقم: ۷۴۴ ومسلم ۱\۴۱۹، رقم: ۱۴۷ – ۵۹۸.

تشريح: د دعا اخري جمله (اې الله زما ګناهونه په اوبو، واوري او ژليو سره پريولې) ددې څخه مراد دادی چي اې الله! زما ګناهونه د خپل فضل او کرم په مختلفو طريقو سره وبخښې ګويا دلته په بخښنه کي مبالغه مقصد ده نه چي حقيقتا په دې شيانو سره ګناهونه پريولي.

رسول الله ﷺ به په کوم وخت کي کومه دعاء ويل

﴿۷۵۷﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی چي کله به رسول الله ﷺ لمانځه ته درېدی

وَفِي رِوَايَةٍ كَانَ إِذَا فْتَتَحَ الصَّلٰوةَ كَبَّرَ ثُمَّ قَالَ وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ

او په یوه روایت کي دا الفاظ دي کوم وخت چي به یې لمونځ پیلوی نو الله اکبر به یې وایه بیا به یې دا ویل (اني وجهت.....الخ) ژباړه : (زه هغه ذات ته متوجه سوم چي هغه پیدا کړي دي

السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ حَنِيفًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ إِنَّ صَلاَتِي وَنُسُكِي

آسمانونه او مځکي ، د حق لوري ته متوجه کیدونکی او د باطل څخه بیزاره کیدونکي او زه د هغه خلکو څخه نه یم چي شرک کوي ، زما لمونځ زما عبادت،

وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ لاَ شَرِيكَ لَهُ وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا مِنَ

او زما ژوند او زما مرګ ټول د الله ﷻ لپاره دي چي د دواړو جهانو پروردګار دی هیڅوک د هغه شریک نسته او ددې حکم ما ته راکړل سوی دی او زه له

الْمُسْلِمِينَ اللَّهُمَّ أَنْتَ الْمَلِكُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَنْتَ رَبِّي وَأَنَا عَبْدُكَ ظَلَمْتُ نَفْسِي

مسلمانانو څخه یم، اې الله ! ته پاچا یې ستا څخه پرته بل د عبادت وړ نسته ته زما رب یې او زه ستا بنده یم ما پر خپل ځان ظلم کړی دی

وَاعْتَرَفْتُ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ لِي ذُنُوبِي جَمِيعًا إِنَّهُ لاَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلاَّ أَنْتَ وَاهْدِنِي

او زه د خپلو ګناهو اقرار کوم، ته زما ټول ګناهونه و بخښې ستا څخه پرته ګناهونه بخښونکی هیڅوک نسته او زما راهنمایي وکړې

لأَحْسَنِ الأَخْلاَقِ لاَ يَهْدِي لأَحْسَنِهَا إِلاَّ أَنْتَ وَاصْرِفْ عَنِّي سَيِّئَهَا لاَ يَصْرِفُ

د غوره اخلاقو په لور ،ځکه چي دې لوري ته بس ته زما رهنمایي کولای سې او د بد ترین اخلاقو څخه ما وساتې، ساتنه نه سي کولای

عَنِّي سَيِّئَهَا إِلاَّ أَنْتَ لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ وَالْخَيْرُ كُلُّهُ فِي يَدَيْكَ وَالشَّرُّ لَيْسَ إِلَيْكَ

زما د بدو اخلاقو څخه مګر یوازي ته، زه ستا په خدمت کي حاضر یم او ستا حکم پر ځای راوړلو ته تیار یم ټولي نیکۍ او بدۍ ستا په لاس کي دي او بدۍ ستا لوري ته منسوب کیدلای نه سي

أَنَا بِكَ وَإِلَيْكَ تَبَارَكْتَ وَتَعَالَيْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ وَإِذَا رَكَعَ قَالَ اللَّهُمَّ

زه پر تا تکیه کوم او ستا په قدرت سره قائم یم ته د برکت خاوند یې او لوړ او برتر یې زه ستا ښخه بخښنه غواړم او تا ته توبه کوم) او رسول الله ﷺ چې به کله رکوع کول نو ویل به یې: اللهم لک رکعت.....الخ (اې الله!

لَكَ رَكَعْتُ وَبِكَ آمَنْتُ وَلَكَ أَسْلَمْتُ خَشَعَ لَكَ سَمْعِي وَبَصَرِي وَمُخِّي

ما ستا لپاره رکوع وکړه پر تا مې ایمان راوړ او ستا د رضا لپاره مې اسلام قبول کړ او ستا لپاره عاجزي وکړه زما غوږونو، سترګو، مغز،

وَعَظْمِي وَعَصَبِي وَإِذَا رَفَعَ قَالَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ مِلْءَ السَّمَاوَاتِ

او هډوکو زما او دماغ زما)، بیا چې کله به یې د رکوع ښخه سر راپورته کړه نو ویل به یې: (اې الله زموږ ټول حمد او ستاینه دې ستا لپاره وي دومره چې د هغو ښخه د آسمانو

وَالْأَرْضِ وَمِلْءَ مَا بَيْنَهُمَا وَمِلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ وَإِذَا سَجَدَ قَالَ

او مځکې او پراخوالی ډک سي او په مځکه او آسمان کې چې کومه لړۍ ستا په منشور کې ده د هغې هم ټول اړخونه ډک سي) بیا چې به رسول الله ﷺ سجده کول نو ویل به یې

اللَّهُمَّ لَكَ سَجَدْتُ وَبِكَ آمَنْتُ وَلَكَ أَسْلَمْتُ سَجَدَ وَجْهِي لِلَّذِي خَلَقَهُ

(اې الله ما ستا لپاره سجده وکړه پر تا مې ایمان راوړ او ستا د رضا لپاره مې اسلام قبول کړ زما مخ هغه ذات ته سجده وکړه چې هغه یې پیدا کړ

وَصَوَّرَهُ وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ تَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ ثُمَّ يَكُونُ مِنْ آخِرِ

او هغه لره یې صورت ورکړ او سترګو او غوږونو لره یې خلاص کړل، الله ډیر برکت والا او غوره خالق دی) بیا به یې

مَا يَقُولُ بَيْنَ التَّشَهُّدِ وَالتَّسْلِيمِ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ وَمَا

د التحیات او سلام په منځ کې دا ویل: اللهم اغفرلي.....الخ (اې الله زما هغه ګناهونه و بخښې چې ما مخکې کړې دي او وروسته مې کړې دي او هغه چې

أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ وَمَا أَسْرَفْتُ وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي أَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَأَنْتَ

په پټه مي كړي دي او په ښكاره مي كړي دي او هغه ګناه راته و بخښې چي په اعمالو وغيره كي مي زياتوب كړى دى او هغه ګناه مي و بخښې چي د هغې زما څخه زيات علم تا ته دى ته خپلو بندګانو لره په عزت كي مخته كوونكى يې او ته

الْمُؤَخِّرُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ . رواه مسلم، و في رواية للشافعي والشر ليس اليك

د عزت او مرتبې وروسته غورځوونكى يې او ستا څخه پرته بل د عبادت وړ نسته) مسلم، او د شافعي په يوه روايت كي په دې دعاء كي چي د تكبير تحريمي څخه وروسته رسول الله ﷺ كړې ده (والخير كله في يديک) څخه وروسته دا الفاظ دي (والشر ليس اليک ...) او بدي ستا په لور منسوبه نه ده

والمهدي من هديت انابك واليك لامنجا منك ولا ملجا الا اليك

تباركت . رواه مسلم

او هدايت يافته هغه څوک دى چا ته چي ته هدايت وكړې زه ستا د توان په ذريعه قائم يم او ستا په لور زه رجوع كوم ستا د ذات څخه پرته خلاصون او پناه نسته ته د بركت خاوند يې . مسلم .

تخريج: صحيح مسلم: ١\ ٥٣٤- ٥٣٦، رقم: ٢٠١- ٧٧١ و ٢٠٢- ٧٧١.

تشريح: والشر ليس..........اليک (يعني شر ستا سو خوا ته منسوب نه دى) د دې مطلب دادى چي د ادب او تعظيم له مخي د شر نسبت ستا خوا ته نسي كيداى كه څه هم د خير او شر مالک ته يې كه يوې خوا ته دي خير پيدا كړى دى نو بلي خوا ته يې د شر تخليق هم كړى دى او حقيقت دادى چي كه حق تعالى شر پيدا كړى واى نو په دې كي څه قباحت نسته بلكه په دې كي هم ډير حكمتونه او مصلحتونه پټ دي كه څه قباحت او شر واى نو هغه د بنده ارتكاب كي دى لكه چي ارشاد دى من شر ما خلق يعني زه د مخلوق د شر څخه پناه غواړم. ځيني حضرات وايي والشر ليس اليک معنى دا چي شر هغه شى دى چي ستا د قرب او ستا د خوښۍ د حصول ذريعه نه ده يا دا چي ستا خوا ته ختل (صعود) نه كوي يعني ستا په دربار كي نه قبليږي څرنګه چي د خير په باره كي فرمايل سوي دي چي اليک يصعد الكلم الطيب يعني د پروردګار خوا ته نيكي او پاكي خبري صعود كوي يعني د مقبوليت درجه ورته حاصليږي .

﴿۷۵۸﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَجُلاً جَاءَ فَدَخَلَ الصَّفَّ وَقَدْ حَفَزَهُ النَّفَسُ فَقَالَ

د حضرت انس رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي یو سړی راغلی او دلمانځه په صف کي شامل سو ساه يې په ختلو وه او په دې حال کي يې وویل:

اللهُ اكبر اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ فَلَمَّا قَضَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى

(الله اکبر ....) ژباړه (الله ډیر لوی دی د الله لپاره ډیر پاک او برکت والا تعریف دی) رسول الله ﷺ چي لمونځ وکړ

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلاَتَهُ قَالَ أَيُّكُمُ الْمُتَكَلِّمُ بِالْكَلِمَاتِ فَأَرَمَّ الْقَوْمُ فَقَالَ أَيُّكُمُ

نو وه يې فرمايل په تاسو کي دا کلمات چا وويل؟ خلک پټه خوله سول، رسول الله ﷺ بيا وفرمايل په تاسو کي

الْمُتَكَلِّمُ بِهَا فَإِنَّهُ لَمْ يَقُلْ بَأْسًا فَقَالَ رَجُلٌ جِئْتُ وَقَدْ حَفَزَنِي النَّفَسُ فَقُلْتُهَا

دا کلمات چا وويل؟ بيا هم خلک پټه خوله وه، په دريم ځل رسول الله ﷺ وفرمايل دا کلمات چي چا ويلي دي هغه څه بده خبره نه ده کړې، د دې په اوريدو سره هغه سړي وويل زه (مسجد) ته راغلم او زما ساه بنده وه او ما دا کلمات وويل،

فَقَالَ لَقَدْ رَأَيْتُ اثْنَيْ عَشَرَ مَلَكًا يَبْتَدِرُونَهَا أَيُّهُمْ يَرْفَعُهَا. رواه مسلم

نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: په تحقيق سره ما دوولس ملائکي وليدې چي په دغه کلماتو وړلو کي يې تلوار کوی چي په هغوی کي يې کومه ملائکه الله تعالى ته مخکي يوسي. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱\ ۴۱۹، ۴۲۰، رقم: ۱۴۹ – ۶۰۰.

د لغاتو حل: حَفَزَه: اى جهده وضاق به. (تنګېدل). (فَأَرَم): اى سکتوا: (چوپ سوه).

تشريح: دغه سړی د رسول الله ﷺ په پوښتنه کي چي دا وويل چي کله وخت زه راغلم نو زما ساه په ختلو وه او ما دا کلمات ويلي وه نو د هغه دا وويل د بيان حقيقت او اظهار واقعې په توګه وه د هغه کلمات د ويلو په اړه د يو عذر بيانول مقصد نه وو.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د تکبیر تحریمې څخه وروسته دعاء

﴿۷۵۹﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلَاةَ

د حضرت عائشې ﷺ څخه روایت دی چې کله به رسول الله ﷺ لمونځ پیلوی

قَالَ سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالَى جَدُّكَ وَلَا إِلٰهَ غَيْرُكَ.

رواه الترمذي و ابوداؤد و رواه ابن ماجة عن ابي سعيد و قال الترمذي هذا حديث لا نعرفه الا من حارثة و قد تكلم فيه من قبل حفظه.

نو ویل به یې (سبحانک اللهم ....) ژباړه (اې الله! ته پاک یې او موږ ستا په تعریف سره ستا پاکي بیانوو او ستا نوم برکت والا دی او ستا بزرګي لویه ده او ستا څخه پرته بل د عبادت وړ نسته)، ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجه، ترمذي ویلي دي دا حدیث پرته د حارثه څخه موږ نه پیژنو او د هغه په حافظه کې کلام دی.

تخریج: سنن ابي داؤد ۱\ ۴۹۱، رقم: ۷۷۶ والترمذي ۲\ ۱۱، رقم: ۲۴۳، وابن ماجه: ۱\ ۲۶۴، رقم: ۸۰۴.

تشریح: علامه طیبي شافعي رحمة الله علیه ددې حدیث په باره کې ویلي دي چې دا حدیث حسن مشهور دی او په دی حدیث باندې خلفاء راشدینو کې حضرت عمر فاروق ﷺ عمل کړی دی او دا حدیث په مسلم کې نقل سوی دی په دې موقع باندې علامه موصوف ددې حدیث د تقویت په باره کې ډیر زیات اوږد بحث کړی دی چې اهل علم او نظر یې د هغوی په کتاب کې کتلای سئ.

﴿۷۶۰﴾: وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ أَنَّهُ رَأَى رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت جبیر بن مطعم ﷺ څخه روایت دی چې هغه رسول الله ﷺ ولیدی

يُصَلِّي صَلَاةً قَالَ اَللّٰهُ أَكْبَرُ كَبِيْرًا اَللّٰهُ أَكْبَرُ كَبِيْرًا اَللّٰهُ أَكْبَرُ كَبِيْرًا وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ

چې لمونځ یې کوی، ده مبارک به تکبیر تحریمه ویل (الله اکبر کبیر....) (الله ډیر لوی دی الله

ډير لوی دی او الله لره ټول تعريفونه دي

كَثِيْرًا وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيْرًا وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيْرًا وَسُبْحَانَ اللهِ بُكْرَةً وَّأَصِيْلاً ثَلاَثًا

او الله لره ټول تعريفونه دي او زه سهار مابنام د الله پاکي بيانوم او زه سهار مابنام د الله پاکي بيانوم او زه سهار مابنام د الله پاکي بيانوم

أَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ مِنْ نَفْخِهِ وَنَفْثِهِ وَهَمْزِهِ . رواه أبو داود وابن ماجه إِلاَّ أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيْرًا . وَذَكَرَ فِيْ آخِرِهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ وَقَالَ عُمَرُ نَفْخُهُ الْكِبْرُ وَنَفْثُهُ الشِّعْرُ وَهَمْزُهُ الْمُوْتَةُ .

او زه د الله په ذريعه د شيطان د هغه د تکبر څخه او د هغه د وسوسو څخه پناه غواړم) . ابوداؤد، مگر ابن ماجه د الحمد لله کثيرا کلمات نه دي روايت کړي خو په آخر کي يې من الشيطان الرجيم وويل، د حضرت عمر په روايت کي داسي دي چي د شيطان نفخ کبر دی د ده نفث شعر دی او د همزه څخه يې مراد مرگ دی .

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\ ۴۸۶، رقم: ۷۶۴ وابن ماجه ۱\ ۲۶۵، رقم: ۸۹۷.

د لغاتو حل: (همزه): النخس، الدفع والحركة. (نفثه): هو شبيه بالنفخ وهو اقل من التفل. (المُوتَة): هو نوع من الجنون والصرع.

تشريح: د نفخ شيطان څخه مراد تکبر او غرور دی چي په هغه کي شيطان سړی داسي مبتلا وي چي هغه د هغه په نظر کي په دې حيثيت سره ښيي چي هغه سړی خپل ځان په ښه او اعلیٰ گڼلو سره په تکبر کي اخته سي همداسي شيطان په سړي د تکبر عمل کوي گويا د نفخ شيطان مطلب دا سو چي شيطان په سړي کي د تکبر هوا پو کي . د نفث نه چي د هغه معنی د پو کلو ده د سحر مراد اخستلای سو چي شيطان يې په سړي کوي يا ديو سړي څخه پر بل سړي يې کوي دا معنی د ارشاد رباني ومن شر النفاثات في العقد مناسبت سره زياته اولی ده ځکه چي په دې ايت کريمه کي د نفاثات څخه مراد جادو کونکي ښځي ته وايي

ځيني حضرات وايي چي د نفث څخه مراد غير مناسب او د خرابو مضمونو اشعار دي چي شيطان يې د سړي په تخيل کي اچوي او بيا د هغه پر ژبه يې صادروي لکه خراب منتر يا هغه

غلط اشعار چي په هغه کي د مسلمانانو بد ګويي او د کفر او فسق الفاظ وي، د همز څخه مراد غيبت کول او لعن طعن کول دي ځينو حضراتو ويلي دي چي د شيطان د همز څخه هغه وسوسه مراد ده څرنګه چي په دې ايت کي اعوذبک من همزات الشيطن کي د همزات څخه مراد د شيطان وسوسې اخيستل سوي دي.

په هر حال دا معنى هغه وخت مراد اخستل کيداى سي چي په حديث کي د حضرت عمر رضي الله عنه څخه د دغو درو الفاظو چي توضيح نقل سوې ده هغه د حضرت عمر رضي الله عنه قول نه بلکه د يو راوي دى که دا توضيح په صحيح توګه سره د حضرت عمر رضي الله عنه څخه ثابت وي نو بيا هغه معنى مراد وي کومه چي د حضرت عمر رضي الله عنه څخه نقل سوې ده د هغه څخه پرته نوري معناوي به مراد نسي اخستلاي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم به په لمانځه کي دوه ځايه سکوت (پټه خوله کېدل) اختياروى

﴿۷۶۱﴾: وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ أَنَّهُ حَفِظَ عَنْ رَّسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت سمره بن جندب رضي الله عنه څخه روايت دى چي هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم دوه سکوته (پټه خوله کېدل) ياد ساتلي دي.

سَكْتَتَيْنِ سَكْتَةً إِذَا كَبَّرَ وَسَكْتَةً إِذَا فَرَغَ مِنْ قِرَاءَةِ (غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ

يو سکوت هغه وخت چي تکبير تحريمه به يې وايه او دوهم سکوت هغه وخت چي غير المغضوب عليهم

وَلاَ الضَّالِّيْنَ) فَصَدَّقَهُ أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ. رواه أبو داود وروى الترمذي وابن ماجه والدارمي نحوه.

ولا الضالين به يې وايه، ابى بن کعب د دې تصديق وکړ. ابوداؤد، ترمذي، ابن ماجه او دارمي.

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\ ۴۹۲، ۴۹۳، رقم: ۷۷۹ والترمذي ۲\ ۳۰-۳۱، رقم: ۲۵۱، وابن ماجه ۱\ ۲۷۵، رقم: ۸۴۴ والدارمي ۱\ ۳۱۳، رقم: ۱۲۴۳.

تشريح: د تکبير تحريمه څخه وروسته پټه خوله اختيارولو څخه مراد دا دى چي رسول الله صلی الله علیه وسلم به هغه وخت په لوړ اواز سره نه ويل پر دې موقعه دعايي استفتاح (سبحانک اللهم الخ) ويلو لپاره خاموشي اختيارول د ټولو امامانو په نزد متفق عليه مسئله ده دوهم ځاى يعني د سورة

فاتحه ختمولو وروسته خاموشي اختيارول د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد سنت دی چي مقتدي دي په دغه دوران کي سورة فاتحه ووايي او د امام سره منازعت لازم نسي چي ممنوع ده، په حنفيه او مالكيه مذهب کي د سوره فاتحه ويلو وروسته خاموشي اختيارول مکروه ده.

﴿۷۶۲﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا نَهَضَ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی كله چي به رسول الله ﷺ ولاړ سو

مِنَ الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ اسْتَفْتَحَ الْقِرَاءَةَ بِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ وَلَمْ يَسْكُتْ. هٰكَذَا فِيْ صَحِيْحِ مُسْلِمٍ. وَذَكَرَهُ الْحُمَيْدِيُّ فِيْ إِفْرَادِهِ وَكَذَا صَاحِبُ الْجَامِعِ عَنْ مُسْلِمٍ وَحْدَهُ.

دوهم ركعت ته به نو پيل به يې كوی په الحمد لله رب العالمين.. او پټه خوله به نه پاته كېدی.
صحيح مسلم او حميدي

تخريج: صحيح مسلم ۱\۴۱۹، رقم: ۱۴۸-۵۹۹.

تشريح: دا وهم كيداي سو چي د دوهم ركعت څخه وروسته په دوهمه شفعه پيل كيدو په وخت كيداى سي د سبحانك اللهم ويلو لپاره خاموشي اختياروي ځكه ابو هريره رضي الله عنه ددې وضاحت وكړ چي كله به رسول الله ﷺ د دوهم ركعت څخه وروسته د دويمي شفعې لپاره پورته كيدی نو سبحانك اللهم به يې نه ويل بلكه الحمد لله رب العلمين به يې پيل كول دا هم محتمل دی چي رسول الله ﷺ به د دوهم ركعت لپاره پورته كيدی نو الحمد لله رب العلمين به يې پيل كول. والله اعلم.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ (دريم فصل)

د تكبير تحريمې وروسته دعاء

﴿۷۶۳﴾: عَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلَاةَ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي كله به رسول الله ﷺ لمونځ پيلوی

كَبَّرَ ثُمَّ قَالَ إِنَّ صَلاَتِيْ وَنُسُكِيْ وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِيْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ لاَ شَرِيْكَ لَهُ

نو الله اكبر به يې وايه او د هغه وروسته به يې دا دعاء كول (ان صلاتي ..) ژباړه (زما لمونځ، زما عبادت، زما ژوند او مرګ ټول الله لره دي چي رب د مخلقوقاتو دى پروردګار دى هيڅوک د هغه شريک نسته

وَبِذٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِيْنَ اَللّٰهُمَّ اهْدِنِيْ لِأَحْسَنِ الْأَعْمَالِ وَأَحْسَنِ

او ددې ما ته حكم سوى دى او زه په مسلمانانو كي اول يم، اې الله ! ما ته ښه اخلاق او ښه اعمال راكړې

الْأَخْلاَقِ لاَ يَهْدِيْ لِأَحْسَنِهَا إِلاَّ أَنْتَ وَقِنِيْ سَيِّئَ الْأَعْمَالِ وَسَيِّئَ الْأَخْلاَقِ لاَ يَقِيْ سَيِّئَهَا إِلاَّ أَنْتَ . رواه النسائي .

د بدو اعمالو او بدو اخلاقو څخه ساتونكى ته يې د ښو اعمالو او اخلاقو يوازي ته هدايت كونكى يې ما د خرابو اعمالو او اخلاقو څخه وساتې .) نسائي .

تخريج: سنن النسائي ۲\۱۲۹، رقم: ۸۹۵.

تشريح: انا اول المسلمين يعني زه تر ټولو اول مسلمان يم په تشريح كي علماء ليكي چي دا خصوصيت يوازي رسول الله ﷺ ته حاصل دى چي د ټولو مخكي اسلام د رسول الله ﷺ دى ځكه پيغمبر په خپل امت كي تر ټولو اول مسلمان وي په قرآن كريم كي رسول الله ﷺ ته ددې حكم وركړل سوى دى همداسي د رسول الله ﷺ څخه پرته د بل چا لپاره دا خبره كول چي هغه (انا اول المسلمين) وايي صحيح نه دي بلكه يو ډول درواغ به وي، ځينو حضراتو ويلي دي كه يو سړى په لمانځه كي داسي ووايي نو د هغه لمونځ فاسد كيږي مګر په دې اړه صحيح دادى كه يوسړى دا الفاظ د آيت قرآني د تلاوت په نيت سره چي د خپل حالت خبر وركولو په نيت سره ادا كړي نو لمونځ نه فاسد كيږي . په دې مسئله كي يو خيال دادى كه يو سړى دا جمله خبر و نه ګرځوي بلكه د هغه تجديد ايمان او د اسلام انشاء او اطاعت او فرمانبردارى ښكاره كړي نو څه پرواه نسته څرنګه چي د سلاطين او امراء تابعدار خلک د يو حكم د راتلو په وخت وايي چي څه حكم وي د هغه اطاعت چي مخكي څوک كوي هغه به زه يم كه څه هم دا اطاعت او فرمانبرداري اظهار مقصد وي .

﴿۷۶۴﴾: وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ مَسْلَمَةَ قَالَ إِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا

د حضرت محمد بن مسلمة رضي الله عنه څخه روايت دی چي کله به رسول الله ﷺ

قَامَ يُصَلِّيْ تَطَوُّعًا قَالَ اللّٰهُ أَكْبَرُ وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِيْ فَطَرَ السَّمَاوَاتِ

د نفل لمانځه لپاره ودرېدی نو ويل به يې: «اللّٰهُ أَكْبَرُ وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِيْ فَطَرَ السَّمَاوَاتِ

وَالْأَرْضَ حَنِيْفًا وَّمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ . وَذَكَرَ الْحَدِيْثَ مِثْلَ حَدِيْثِ جَابِرٍ

وَالْأَرْضَ حَنِيْفًا وَّمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ» بيا يې د حضرت جابر د روايت په ډول حديث بيان کړ،

إِلاَّ أَنَّهُ قَالَ وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ . ثُمَّ قَالَ اللّٰهُمَّ أَنْتَ الْمَلِكُ لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ

مګر هغه د (انا اول المسلمين) پر ځای (وانا من المسلمين) ويلي دي، ددې وروسته يې ووېل: (اللهم انت الملک.....) (اې الله ته پاچا يې ستا څخه پرته بل د عبادت وړ نسته

سُبْحَانَكَ وَبِحَمْدِكَ ثُمَّ يَقْرَأُ . رواه النسائي

ته پاک يې او تا لره تعريف دی) او ددې وروسته به رسول الله ﷺ قرائت وايه. نسائي

تخريج: سنن النسائي: ۲\۱۳۱، رقم: ۸۹۷.

========

بَابُ الْقِرَاءَةِ فِي الصَّلٰوةِ

په لمانځه کي د قرائت بيان

په څومره رکعتونو کي قرائت فرض دی؟

په لمانځه کي قرائت يعني قرآن کريم ويل د ټولو علماؤ په نزد په اتفاق سره فرض دی البته په دې کي اختلاف دی چي په څومره رکعتونو کي ويل فرض دی؟ د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد په پوره لمانځه کي قرائت فرض دی د امام مالک رحمة الله عليه په نزد للاكثر حكم الكل يعني كثرت د كل په حكم كي دی د كليې سره سم په درو ركعتونو كي فرض دی، د امام اعظم

ابو حنیفه رحمة الله علیه د مذهب سره سم په دوو رکعتونو کي قرائت فرض دی، د امام احمد رحمة الله علیه مذهب د مشهود مذهب موافق دی د حضرت بصري رحمة الله علیه او حضرت زفر رحمة الله علیه په نزد په یوه رکعت کي قرائت فرض دی.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

﴿۷۶۵﴾: عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبادة بن صامت ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ. وفي رواية لمسلم لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِأُمِّ الْقُرْآنِ فَصَاعِدًا.

څوک چي په لمانځه کي الحمد لله و نه وایي نو د هغه لمونځ نه کیږي. بخاري او مسلم، د مسلم په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي څوک الحمد لله او د الحمد لله وروسته څه نور و نه وایي نو د هغه لمونځ نه کیږي.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۲۳۶/۲ - ۲۳۷، رقم: ۷۵۶ و مسلم ۲۹۵/۱، رقم: ۳۴ - ۳۹۴.

تشریح: د مسلم د اخري حدیث مطلب دا دی چي په لمانځه کي سورة فاتحه د قرآن کریم د یو بل سورت یا نورو آیاتو څخه ویل هم ضروري دی.

په لمانځه کي د سورة فاتحې ویلو په مسئله کي د امامانو مذهب

ددې حدیث څخه دا معلومیږي چي په لمانځه کي سورة فاتحه ویل فرض دي که یو سړی سورة فاتحه و نه وایي نو د هغه لمونځ نه کیږي ددې حدیث څخه امام شافعي رحمة الله علیه او د یو روایت سره سم امام احمد رحمة الله علیه دا استدلال کړی دی چي په لمانځه کي سورة فاتحه ویل فرض دي ځکه چي دا حدیث په صراحت سره د داسي سړي د لمانځه نفي کړې ده چي هغه په لمانځه کي سورة فاتحه نه وایي.

د امام اعظم رحمة الله علیه په نزد په لمانځه کي سورة فاتحه ویل فرض نه بلکه واجب ده ددې حدیث په باره کي امام صاحب فرمایي چي دلته نفي کمال مراد دی یعني بغیر د سورة فاتحه خو لمونځ ادا کیږي مګر په مکمله توګه باندي نه ادا کیږي د هغوی دلیل د قرآن کریم

آيت دی (فاقراءوا ما تيسر من القرآن) يعني د قرآن كريم څخه چي تاسو ته څه اسانه وي هغه ووایاست، ددې څخه معلومه سوه چي په لمانځه کي سورة فاتحه ویل فرض نه ده بلکه مطلق د قرآن کريم سورة يا اياتونه ويل فرض دي ددې څخه پرته خپله هم رسول الله ﷺ د يو اعرابي د لمانځه په اړه دا تعليم فرمايلی دی (فا قرءوا ما تيسر من القرآن) يعني تاته چي د قرآن څخه څه هم آسان وي هغه ووایه . په هر حال د حنفيه مذهب سره سم په لمانځه کي فرض چي د هغه څخه پرته لمونځ نه ادا کيږي د قرآن کريم د يوه ايت يا درې اياتونه ويل دي كه څه هم هغه سورة فاتحه وي يا بل يو سورت او ايت، او سورة فاتحه ويل واجب ده ددې څخه پرته لمونځ ناقص اداء کيږي .

د سورة فاتحې په نه ويلو سره لمونځ ناقص ادا کيږي

﴿۷۶۶﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي لمونځ وکړي

صَلَاةً لَمْ يَقْرَأْ فِيهَا بِأُمِّ الْقُرْآنِ فَهِيَ خِدَاجٌ ثَلَاثًا غَيْرُ تَمَامٍ فَقِيلَ لِأَبِي

او په هغه کي الحمد لله و نه وايي نو هغه لمونځ ناقص دی (رسول الله ﷺ دا الفاظ درې واره وويل) ابوهريرة رضي الله عنه ته وويل سول

هُرَيْرَةَ إِنَّا نَكُونُ وَرَاءَ الْإِمَامِ فَقَالَ اقْرَأْ بِهَا فِي نَفْسِكَ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ

هر كله چي موږ په امام پسي لمونځ كوو نو موږ الحمد لله وايو؟ هغه ورته وويل هو، په خپل زړه کي يې واياست ځکه چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي

اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ قَالَ اللَّهُ تَعَالَى قَسَمْتُ الصَّلَاةَ بَيْنِي وَبَيْنَ

چي فرمايل يې: الله جل جلاله وفرمايل : ما ويشلی دی لمونځ خپل او د خپل بنده په منځ کي

عَبْدِي نِصْفَيْنِ وَلِعَبْدِي مَا سَأَلَ فَإِذَا قَالَ الْعَبْدُ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ

نيم پر نيم ويشلی دی زما بنده چي څه زما څخه غواړي هغه د هغه لپاره دي، هر كله چي بنده وايي : الحمد لله رب العلمين،

قَالَ اللّٰهُ تَعَالَى حَمِدَنِي عَبْدِي وَإِذَا قَالَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ قَالَ اللّٰهُ تَعَالَى أَثْنَى
نو الله تعالى فرمايي زما بنده زما تعريف وكړ او هر كله چي هغه وايي الرحمن الرحيم نو الله تعالى فرمايي زما بنده زما ثناء وكړه
عَلَيَّ عَبْدِي وَإِذَا قَالَ مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ قَالَ مَجَّدَنِي عَبْدِي وَإِذَا قَالَ إِيَّاكَ
او كوم وخت چي مالک يوم الدين وايي نو الله تعالى فرمايي زما بنده زما عظمت بيان كړ او هر كله چي اياک
نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ قَالَ هٰذَا بَيْنِي وَبَيْنَ عَبْدِي وَلِعَبْدِي مَا سَأَلَ فَإِذَا
نعبد و اياک نستعين وايي نو الله تعالى فرمايي دا آيت زما او زما د بنده په منځ كي دى او څه چي زما بنده غوښتي دي هغه د هغه لپاره دي او كله چي
قَالَ اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ
هغه ووايي اهدنا الصراط المستقيم صراط الذين انعمت عليهم غير المغضوب
عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ قَالَ هٰذَا لِعَبْدِي وَلِعَبْدِي مَا سَأَلَ . رواه مسلم
عليهم ولا الضالين نو الله تعالى فرمايي دا زما د بنده لپاره دي او څه چي زما بنده غواړي هغه د هغه لپاره دي . مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۲۹٦۱، رقم: ۳۸- ۳۹۵.

تشريح: قسمت الصلوة بيني وبين عبدي نصفين : ما لمونځ خپل او د خپل بنده په مينځ كي نيم په نيمه ويشلى دى په دې كي د لمانځه څخه مراد سورة فاتحه ده څرنګه چي په ترجمه كي ښكاره ده دا وجه ده چي ابو هريره ﷺ مقتدي ته هم د سورة فاتحې ويلو لپاره وويل او د مابعد حديث څخه يې استدلال وكړ چي كله د سورة فاتحې داسي فضيلت دى نو مقتدي ته هم ويل پكار دي .

د حديث خلاصه داده چي سورة فاتحه اوه اياتونه دي درې اياتونه يعني د الحمد څخه تر مالک يوم الدين پوري خاص د الله تعالى په مدح او ثناء كي دي او يو ايت اياک نعبد وا ياک نستعين د الله او بنده تر منځ مشترک دى، او نيم ايت يعني واياک نستعين كي د بنده لخوا د

حاجت طلب او د مرستي درخواست دی اوورسته چي درې اياتونه دي يوازي د بنده پر دعا باندي اشتمال لري .

بسم الله د سورة فاتحې جزء نه دی

دا حديث پر دې خبره دلالت کوي چي بسمله يعني بسم الله الرحمن الرحيم په سورة فاتحه کي داخل او د هغې جزء نه دی ځرنګه چي د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه مذهب دی که بسم الله د سورة فاتحې په جزء ګرځولو سره د اوو پر ځاي اته اياتونه شمير کړل سي نو تقسيم نه صحيح کيږي يوې خواته خو به ځلورنيم اياتونه سي او بلي خواته به درې نيم پاته سي په دې صورت کي د نصف نقسيم صحيح نه پاته کيږي او دا حديث پر دې دلالت کوي چي د سورة فاتحې په اوو اياتونو کي صراط الذين انعمت عليهم هم يو ايت دی .

د سورة فاتحې په اړه ددې باب اول حديث د تشريح په ضمن کي د امامانو مذاهب نقل سوي وه او د حنفي مذهب وضاحت سوی وو مګر په دې موقع باندي دا بحث به نيمګړی پاته سوی وي ځکه موږ دلته څه وضاحت سره دا بحث وړاندي کوو .

مقتدي ته سورة فاتحه ويل پکار دي که نه؟

د سورة فاتحې په اړه د امامانو په نزد دوه بحثونه کيږي اول خو دا چي مطلقا سورة فاتحه ويل فرض دی که نه؟ ددې بحث وضاحت مخکي سوی دی د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد سورة فاتحه ويل فرض دي اود امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه په نزد واجب، دوهم بحث دادی چي سورة فاتحه مقتدي ته ويل پکار دي که نه؟ د ابو هريره رضي الله عنه ددې قول څخه خو دا خبره معلوميږي چي مقتدي ته سورة فاتحه ويل پکار ده امام شافعي رحمة الله عليه څخه صحيح روايت کي منقول دي چي پر مقتدي باندي سورة فاتحه ويل فرض دي که د لوړ اواز لمونځ کوي يا په کراره اواز، او دغه مذهب د امام محمد صاحب هم دی ، دامام مالک رحمة الله عليه په نزد فرض نه ده ليکن په کښته اواز لمانځه کي مستحب ده ، دامام ابو حنيفة رحمة الله عليه او صاحبينو مذهب دادی چي په کرار اواز او لوړ اواز دواړه ډوله لمنځونه په هغه کي سورة فاتحه ويل پر مقتدي باندي فرض نه ده بلکه حنفي فقهاء خو دا مکروه تحريمي ليکي .

دامام محمد رحمة الله عليه د مذهب تحقيق

اوس موږ پورته ليکلي دي چي د امام اعظم رحمة الله عليه او صاحبينو په اتفاق باندي دا مذهب دی چي پر مقتديانو باندي سورة فاتحه ويل نه دی فرض مګر په دې اړه څه غلط فهمي پيدا سوې ده چي د هغه په وجه د ځينو خلکو خيال دی چي د امام محمد رحمة الله عليه

مذهب د امام اعظم رحمة الله عليه او امام ابو يوسف رحمة الله عليه څخه مختلف دی، ملا علي قاري رحمة الله عليه په مرقاة شرح مشكوة كي او ځني نورو علماؤ په خپلو كتابونو كي ليكلي دي چي امام محمد رحمة الله عليه ددې قائل دی جي د كرار اواز په لمانځه كي پر مقتدي باندي سورة فاتحه ويل فرض دي موږ هم پوهيږو چي امام محمد رحمة الله عليه خوا ته دد غه قول نسبت د څه غلط فهمي نتيجه ده ځكه چي هغه په دې اړه شيخين يعني امام اعظم رحمة الله عليه او امام ابو يوسف رحمة الله عليه سره بالكل متفق دی، امام محمد رحمة الله عليه په خپل كتاب كي ليكلي دي:

لا قرائة خلف الامام فيما جهر فيه ولا فيما لَمْ يَجْهر بذالك جاءت عامة الاثار وهو قول ابي حنيفة رحْمة الله عليه .

ژباړه : لمونځ كه څه هم په لوړ آواز سره وي يا په كرار آواز سره په هيڅ حال كي هم په امام پسي قرائت نسته ، ددې سره سم موږ ته ډير حديثونه رسيدلي دي او دا قول د امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه دی .

او امام موصوف په خپل دوهم تصنيف كتاب الاثار كي د قرائت خلف امام په عدم اثبات كي په اثار نقل كولو سره داسي تحرير كړی دی .

و به ناخذ لانرى القرآئة خلف الامام في شئ من الصلوة يجهر فيه او لا يجهر فيه

ژباړه : او دا يعني عدم قرائت خلف الامام زموږ هم مذهب دی موږ قرائت خلف الامام په هيڅ لمانځه كي هم كه څه هم هغه د لوړ آواز وي يا د كښنته آواز لمونځ وي رواه نه گڼو .

په هر حال پورتني مذهب ته په كتلو سره دا خبره واضحه سوه چي د سورة فاتحې حنفيه د دوو شيانو قائل دي اول خو دا چي پر مقتدي باندي د سورة فاتحې ويل په هيڅ حال كي هم فرض نه دي كه څه هم هغه لمونځ د لوړ اواز وي يا دكرار اواز، او دوهم دا كه يو مقتدی سورة فاتحه وايي نو گويا هغه د مكروه تحريمي ارتكاب كوي په دې موقع باندي موږ دومره وايو چي سورة فاتحه ويل ولي فرض نه دي او د دې دلائل څه دي ؟

نو پوهيدل پكار دي چي كوم حضرات وايي چي پر مقتدي باندي سورة فاتحه ويل فرض دي د هغوی ټولو دليل ددې باب اول حديث يعني (لاصلوة الا بفاتحة الكتاب) ددې حضراتو په نزد د امام ويل د مقتدي په حق كي كافي نه دي بلكه هر سړي ته خپله ويل ضروري دي .

امام اعظم رحمة الله عليه فرمايي چي د امام ويل د مقتدي لپاره كافي دي هر كله چي امام

روایه نو ددې مطلب دا سو چي پوره جماعت وو ایه هغوی د خپل قول په تائید کي دا حدیث ورانديکوي: من کان له امام فقراءة الامام قراءة له، یعني کوم سړی چي په امام پسي لمونځ کوي نو د هغه امام قرائت به د هغه مقتدي قرائت هم ګڼل کیږي که څه هم ځینو علماؤ ددې حدیث په صحت کي کلام کړی دی مګر په حقیقت کي د هغوی خبري صحیح نه دی ځکه چي دا حدیث د ډیرو اسنادو څخه ثابت دی چي په هغو کي ځیني اسناد خو ددې درجې صحیح او سالم دي چي په هغو کي د هیڅ ځای نسته.

په هر حال د دې حدیث څخه دا خبره ثابتیږي چي مقتدي ته د قرائت ویلو ضرورت نسته نه د سورة فاتحې او نه د یو بل سورت، په دې صورت احتمال هم نسي پیدا کیدای چي کیدای سي ددې حدیث تعلق د لوړ آواز د لمانځه سره وي ځکه چي دا خبره هم په صحیح توګه ثابته ده چي د رسول الله ﷺ دا ارشاد د مازدیګر د لمانځه په وخت کي وو چي د کرار آواز لمونځ دی او کله چي د کرار په لمانځه کي دا حکم دی نو د لوړ آواز په لمانځه کي خو به په درجه اولی دا حکم وي.

بسم الله په لوړ آواز ویل پکار ده که په کرار

﴿۷۶۷﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ كَانُوا

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ، ابوبکر صدیق او عمر رضي الله عنهم به

يَفْتَتِحُونَ الصَّلَاةَ بِـ (الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ). رواه مسلم.

لمونځ د سورة فاتحې څخه پیل کوی. مسلم

تخریج: صحیح مسلم: ۱\۲۹۹–۳۰۰، رقم: ۵۲–۳۹۹.

تشریح: په ظاهره خو ددې حدیث څخه دا معلومیږي چي رسول الله ﷺ به د لمانځه پیل کولو په وخت کي د سورة فاتحې څخه مخکي بسم الله نه ویل، مګر د سورة فاتحې څخه مخکي بسم الله ویل د ټولو امامانو په نزد متفق علیه دی ځکه چي په نورو حدیثونو کي بسم الله ثابت ده خواه سورة فاتحه د بسم الله جزء ومنل سي لکه څرنګه چي شوافع وایي او که و نه ومنل سي لکه څرنګه چي حنفیه وایي.

امام شافعي رحمة الله علیه فرمایي چي دلته الحمد لله رب العلمین څخه مراد سورة فاتحه ده یعني رسول الله ﷺ به د سورة فاتحې څخه لمونځ پیل کوی لکه چي دا وویل سي چي فلانی سړی آلم وو ایه نو ددې څخه مراد سورة بقره اخستل کیږي او دا مخکي بنو دل سوي دي چي د

امام شافعي رحمة الله عليه په نزد بسم الله د سورت جزء دی نو ددې قول څخه دا ثابته نه سوه چي رسول اللهﷺ به بسم الله نه ويل.

د حنفيه له خوا ددې تاويل دا کيږي چي دلته مطلق نفي مراد نه دي بلکه ددې قول مطلب دادی چي رسول الله ﷺ به بسم الله په لوړ اواز سره ويل او په لوړ اواز سره به يې د لمانځه پيل د الحمد لله رب العلمين څخه نه کوی ځکه چي دا خبره پوره صحت سره ثابته ده چي رسول الله ﷺ، خلفاء راشدين او نور صحابه کرامو رضي الله عنهم به بسم الله په لوړ اواز سره نه ويل تر دې چي په لوړ اواز سره کيدونکی لمونځ کي بې هم په کراره ويل.

شيخ ابن الهمام رحمة الله عليه د ځينو حفاظ حديث يعني هغه خلک چي هغو ته ډير حديثونه په ياد وي څخه نقل کړی دی چي هيڅ داسي ثابت نه دی چي په هغه کي بسم الله په لوړ اواز سره ويل ثابتيږي که يو داسي حديث ثابت هم وي چي د هغه څخه بسم الله په لوړ اواز ثابتيږي نو د هغه په اسناد کي به کلام سوي وي.

ددې څخه پرته د صحابه کرامو او تابعينو د يو لوی ډلي څخه بسم الله په کښته اواز سره ويل په کثرت سره منقول دي که په اتفاقي توګه سره په لوړ اواز ويل ثابت وي نو د هغه وجه به دا وي چي يا خو به د هغو خلکو د تعليم لپاره بسم الله په لوړ اواز سره ويلې وي او يا د هغه مقتديانو روايت دی چي د هغوی بالکل نژدې په لمانځه کي دريدل، که هغوی به بسم الله په کراره ويل نو مقتديانو به اوريدل او دا هغوی په لوړ اواز سره تعبير کړل.

امام ترمذي رحمة الله عليه په خپل کتاب جامع ترمذي کي ددې مسئلې سره متعلق دوه بابه قائم کړي دي په يوه باب کي خو هغه حديثونه نقل کړي دي چي په هغه کي بسم الله په لوړ اواز سره ويل ثابت دي او په دوهم باب کي هغه حديثونه نقل دي چي په کرار اواز سره دلالت کوي او امام موصوف ترجيح هغه احاديثو ته ورکړې ده يعني د بسم الله کرار ويلو د مذهب په حق کي اکثر علماء اهل علم مثلا په صحابه کرامو کي حضرت ابوبکرصديق رضي الله عنه، حضرت عمر رضي الله عنه، حضرت عثمان رضي الله عنه، حضرت علي رضي الله عنه، تابعين او داسي نور دي.

د آمين ويلو حکم

﴿۷۶۸﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَمَّنَ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي آمين وو ايي

الْإِمَامُ فَأَمِّنُوْا فَإِنَّهُ مَنْ وَّافَقَ تَأْمِيْنُهُ تَأْمِيْنَ الْمَلَائِكَةِ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ

امام نو تاسو هم آمين وايا ست ځکه چي د چا امين د ملائکو د امين سره موافق سي نو د هغه تير سوي ګناهونه معاف کيږي

ذَنْبِهِ. متفق عليه. وَفِيْ رِوَايَةٍ قَالَ إِذَا قَالَ الْإِمَامُ (غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ

(بخاري او مسلم)په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ دا فرمايلي دي هر كله چي امام غير المغضوب عليهم

وَلَا الضَّآلِّيْنَ) فَقُوْلُوْا آمِيْنَ فَإِنَّهُ مَنْ وَافَقَ قَوْلُهُ قَوْلَ الْمَلَائِكَةِ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ . هذا لفظ البخاري ولمسلم نحوه . وفي أخرى للبخاري قال إذا أمن القارئ فأمنوا فإن الملائكة تؤمن فمن وافق تأمينه تأمين الملائكة غفر له ما تقدم من ذنبه .

ولا الضالين ووايي نو تاسو آمين ووايا ست ځکه چي د کوم سړي آمين د ملائکو د آمين سره موافق سي د هغه تير سوي ګناهونه معافيږي (بخاري او مسلم) د بخاري په يوه روايت کي دا الفاظ هم دي هر کله چي قرائت والا آمين ووايي نو تاسو هم آمين وايا ست ځکه چي ملائکي هم په دا سي وخت کي آمين وايي د چا آمين چي د ملائکو د آمين سره موافق سي د هغه تير سوي ګناهونه بخښل کيږي .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۲۶۲، رقم: ۷۸۰ و مسلم: ۱\۳۰۷، رقم: ۷۲- ۴۱۰.

تشريح: آمين معنی دا چي اې الله زما دعا قبوله کړې، هر کله چي امام غير المغضوب عليهم ولا الضالين ووايي نو مقتديانو ته پکار ده چي هغوی هم آمين ووايي . آمين ويونکي ملائکي ددې څخه مراد هغه ملائکي دي چي اعمال ليکي، ځيني حضراتو دا هم ويلي دي چي دلته د هغوی څخه پرته نوري ملائکي مراد دي .

د مقتدي د لمانځه طريقه

﴿۷۶۹﴾: وَعَنْ اَبِيْ مُوْسَى الْاَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوموسی الاشعري رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

إِذَا صَلَّيْتُمْ فَأَقِيمُوا صُفُوفَكُمْ ثُمَّ لِيَؤُمَّكُمْ أَحَدُكُمْ فَإِذَا كَبَّرَ فَكَبِّرُوا وَإِذْ

هر کله چي تاسو (په جماعت سره) لمونځ کوئ نو خپل صفونه سیده کړئ بیا په تاسو کي یو سړی امام سئ یعني یو نفر دي امام سي کوم وخت چي هغه الله اکبر ووايي نو تاسو هم الله اکبر ووایاست او کله چي

قَالَ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلاَ الضَّالِّينَ فَقُولُوا آمِينَ يُجِبْكُمُ اللّٰهُ فَإِذَا كَبَّرَ

امام غیر المغضوب علیهم ولا الضالین ووايي نو تاسو آمین ووایاست نو ستاسو د عاء به الله جل جلاله قبوله کړي بیا چي هغه الله اکبر ووايي

وَرَكَعَ فَكَبِّرُوا وَارْكَعُوا فَإِنَّ الإِمَامَ يَرْكَعُ قَبْلَكُمْ وَيَرْفَعُ قَبْلَكُمْ فَقَالَ

رکوع وکړي نو تاسو هم الله اکبر ووایاست رکوع وکړئ او امام ستاسو څخه وړاندي رکوع کوي او ستاسو څخه مخکي سر پورته کوي ، بیا وفرمايل

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتِلْكَ بِتِلْكَ قَالَ وَإِذَا قَالَ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ

رسول الله ﷺ : د امام سر پورته کول د لومړی رکوع کولو بدله ده او کله چي امام سمع الله لمن

حَمِدَهُ فَقُولُوا اللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ يَسْمَعُ اللّٰهُ لَكُمْ . رواه مسلم . و في رواية له عن ابي هريرة و قتادة و اذا قرا فانصتوا .

حمده ووايي نو تاسو اللهم ربنا لک الحمد ووایاست ، د مسلم په یو بل روایت کي دي چي ابو هریرة او قتادة څخه نقل دا الفاظ دي هر کله چي امام قرائت وايي نو تاسو پټه خوله اوسئ .

تخريج: صحیح مسلم ۱\ ۳۰۳، ۳۰۴، رقم: ۶۲ - ۴۰۴.

د لغاتو حل : (فتلک بتلک): یعني ان اللحظة التي سبقکم بها الامام عند الرکوع تنجبر باللحظة التي تتاخرون بها عنه بعد رفعه. مرقات بتصر.

تشريح : د حديث الفاظ (فتلک بتلک) يعني د امام مخکي سر پورته کول د مخکي رکوع کولو بدله ده، ددې مطلب دادی چي امام د مقتدي ځخه مخکي د رکوع ځخه ځکه سر پورته کوي چي د امام او مقتدي د رکوع اندازه برابر سي، ګويا د رسول الله ﷺ دا ارشاد په ځرګنده داسي دی چي هر کله امام په رکوع کي ستاسو ځخه مخکي ولاړ سي نو ګويا هغه وخت ستاسو او د امام د رکوع اندازه برابر نسوه مګر کله چي امام د رکوع ځخه ستاسو ځخه مخکي سر پورته کړي او تاسو د هغه ځخه وروسته سر پورته کړی نو ګويا ستاسو په دغه زنډ سره هغه لحظه پوره سوه چي په هغه کي امام رکوع ته په تلو کي ستاسو ځخه مخکي سوی وو، او ځرنګه چي تاسو رکوع ته د امام ځخه وروسته ولاړاست همداسي د رکوع ځخه د امام وروسته پورته کيږئ، نو د امام او مقتديانو دواړو د رکوع اندازه به پوره سي.

د دې روايت ځخه معلوميږي چي کله امام سمع الله لمن حمده ووايي نو مقتديان دي اللهم ربنا لک الحمد وايي، مګر په يو بل روايت کي ربنا ولک الحمد (يعني په واو سره) الفاظ روايت دي، او په يوه روايت کي اللهم ربنا ولک الحمد هم راغلي دي.

دا حديث د امام ابو حنيفة رحمه الله په دې مسئله کي مستدل دی چي امام دي د رکوع ځخه د پورته کېدو په وخت کي يوازي سمع الله لمن حمده وايي او مقتديان دي ربنا لک الحمد ووايي ، د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد امام، مقتدی او منفرد ټولو ته دا دواړي کلمې ويل پکار دي، او د صاحبينو ځخه په يو روايت کي دا منقول دي مګر په دې قيد سره چي امام ربنا لک الحمد په کرار آواز سره ووايي.

د منفرد يعني يوازي لمونځ کونکي سړي په اړه په اتفاق سره دا حکم دی چي هغه به دواړي کلمې وايي که ځه هم پر يوه باندي اکتفاء کول جائز دي ، او ظاهره داده چي اکتفاء پر ربنا لک الحمد باندي وکړل سي ، د دواړو کلمو ويلو په صورت کي سمع الله لمن حمده دي د رکوع ځخه د ولاړېدو په وخت کي او ربنا لک الحمد دي د ولاړي په حالت کي وويل سي . د حديث آخري جمله (و اذا قرا فانصتوا) : يعني کله چي امام قرائت وايي نو تاسو پټه خوله اوسئ ، دا د امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه د مذهب دليل دی چي مقتدي ته په امام پسي پټه خوله اوسيدل پکار دي قرائت ويل نه دي پکار که ځه هم لمونځ په لوړ آواز وي او که په کرار آواز.

په لمانځه کي د قرائت طريقه

﴿۷۷۰﴾ : وَعَنْ أَبِيْ قَتَادَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الظُّهْرِ فِي

د حضرت ابوقتادة رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به د ماپښین په لمانځه کي

الْأُولَيَيْنِ بِأُمِّ الْكِتَابِ وَسُورَتَيْنِ وَفِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُخْرَيَيْنِ بِأُمِّ الْكِتَابِ

په لومړيو دوو رکعتو کي سورة فاتحه او دوه سورتونه ويل يعني په هر رکعت کي الحمد لله او يو سورت او (د فرضو په آخري دوو رکعتو کي) به يې يوازي الحمد لله ويل

وَيُسْمِعُنَا الْآيَةَ أَحْيَانًا وَيُطَوِّلُ فِي الرَّكْعَةِ الْأُولَى مَا لَا يُطَوِّلُ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ وَهٰكَذَا فِي الْعَصْرِ وَهٰكَذَا فِي الصُّبْحِ. متفق عليه

او کله يو آيت به يې هم موږ ته اوروی او لومړی رکعت به يې د دوهم رکعت څخه زيات اوږد کوی او داسي به يې د مازديګر او سهار لمونځ کوی. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۲۶۰، رقم: ۷۷۶، ومسلم: ۱\۳۳۳، رقم: ۱۵۴-۴۵۱.

تشريح: د ماپښين په لمانځه کي خو قرائت سري (يعني په کراره سره) کيږي او همداسي به رسول الله ﷺ کول، مګر دا معلوميږي چي ډير واره رسول الله ﷺ به يو آيت يا يو سورت په لوړ آواز سره هم وايه، او ددې څخه د رسول الله ﷺ مقصد دا وو چي خلک پوه سي چي د سورة فاتحې څخه وروسته يو سورة يا آيت هم وويل سي، يا خلکو ته ددې خبري ښودل وسي چي رسول الله ﷺ د فلاني سورة قرائت کوي، په دې خبره هم پوهېدل پکار دي چي دلته د ماپښين خاصوالی تقيدي نه دی بلکه اتفاقي دی يعني رسول الله ﷺ به په هر لمانځه کي داسي کول.

د اول رکعت د اوږدوالي مسئله

ددې حديث څخه دا معلوميږي چي اول رکعت تر نورو رکعتونو زيات اوږدول پکار دي د امام شافعي رحمة الله عليه، امام مالک رحمة الله عليه او امام احمد رحمة الله عليه مذهب دادی چي په ټولو لمنځونو کي اول رکعت د نورو رکعتونو په نسبت اوږدول پکار دي، په حنفيه کي د امام محمد رحمة الله عليه هم دا مذهب دی، دې حضراتو د ماپښين، مازديګر او سهار په لمنځونو کي د اول رکعت اوږدولو مسئله د حديثو څخه ثابته کړې ده او ماښام او ماخستن يې پر دغه درو باندي قياس کړې دی، عبد الرزاق رحمة الله عليه ددې حديث په آخر کي د معمر رحمة الله عليه څخه هم دا نقل کړی دی چي زموږ خيال دادی چي رسول الله ﷺ به په اول رکعت کي ځکه اوږدوالی کوی چي خلک اول رکعت ونيسي، امام ابو داود او ابن خزيمه رحمة الله

عليهما هم دا ليکلي دي.
د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه او امام ابو يوسف رحمة الله عليه په نزد اول رکعت او دوهم رکعت اوږدول يوازي د سهار په لمانځه کي خاص دي ځکه چې دا وخت د خوب او غفلت وي کنې دواړه رکعتونه په استحقاق قرات کي برابر دي ځکه نو د قرائت په اندازه کي هم برابر کيدل پکار دي، په يوه حديث کي ددې وضاحت سوی دی چي رسول الله ﷺ به په هر رکعت کي د ديرشو آياتونو په اندازه قرات وايه، کوم چي ددې حديث تعلق دی چي ددې څخه د اول رکعت د اوږديدو اثبات کيږي نو دا به پر دې خبره محمول وي چي په اول رکعت کي دعا استفتاح يعني سبحانک اللهم او اعوذ بالله او بسم الله وويل سي ځکه نو اول رکعت اوږد معلوم سي او دا چي دا اوږدوالی به د درو آياتونو څخه هم په کمه اندازه کي کيدی.

په لمانځه کي د رسول کريم ﷺ د ولاړي اندازه

﴿۷۷﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ كُنَّا نَحْزِرُ قِيَامَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

د ابو سعيد خدري ﷺ څخه روايت دی چي موږ به اندازه لګول د د رسول الله ﷺ د ولاړي

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ فَحَزَرْنَا قِيَامَهُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ مِنَ

د ماپښين او مازديګر په لمانځه کي نو موږ اندازه ولګول چي رسول الله ﷺ به د ماپښين په اولو دوو رکعتو کي

الظُّهْرِ قَدْرَ قِرَاءَةِ الم تَنْزِيلُ السَّجْدَةِ وَفِي رِوَايَةٍ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ قَدْرَ ثَلَاثِينَ

د سورة الم تنزيل السجده ويلو په اندازه درېدی او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي په هر رکعت کي به د د ديرشو

آيَةً وَحَزَرْنَا قِيَامَهُ فِي الْأُخْرَيَيْنِ قَدْرَ النِّصْفِ مِنْ ذَلِكَ وَحَزَرْنَا قِيَامَهُ فِي

آياتو ويلو په اندازه دريدی او موږ اندازه ولګول چي د ماپښين دوه آخري رکعتو کي به يې ددې په نيمه ولاړه کول. او موږ د رسول الله ﷺ د مازديګر

الرَّكْعَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ مِنَ الْعَصْرِ عَلَى قَدْرِ قِيَامِهِ فِي الْأُخْرَيَيْنِ مِنَ الظُّهْرِ وَفِي الْأُخْرَيَيْنِ مِنَ الْعَصْرِ عَلَى النِّصْفِ مِنْ ذَلِكَ. رواه مسلم

د دوو رکعتو د ولاړي د ماپښین د آخري دوو رکعتو د ولاړي مطابق پیدا کړ او د مازدیګر آخري دوه رکعتو کي مو د قیام مقابله وکړه نو هغه د مخکنیو رکعتو د ولاړي په نیمایي وو. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم: ۱\۳۳۴، رقم: ۱۵۶- ۴۵۲.

تشریح: په اندازه د الم تنزیل السجده مطلب یا خو دا دی چي په دواړو رکعتونو کي د رسول الله ﷺ د مجموعي قیام مقدار به سورة آلم تنزیل السجده وو یا ددئ مطلب دا هم کیدای سي چي رسول الله ﷺ به په هر رکعت کي د آلم تنزیل السجده ویلو په اندازه قرائت وایه، ددي اخري مطلب تائید دوهم روایت هم کوي چي د هغه څخه معلومیږي چي رسول الله ﷺ به په هر رکعت کي د دیرشو آیاتونو په اندازه قرائت وایه او په الم تنزیل السجده کي نهه ویشت آیاتونه دي، که لومړنی مطلب صحیح وګڼل سي نو دا به د دوهم روایت خلاف وي نو غوره به دا وي چي دا وویل سي چي رسول الله ﷺ به په هر رکعت کي د الم تنزیل السجده په اندازه قرائت وایه.

په اخري رکعتونو کي د قرائت مسئله

د حدیث د الفاظو (وحزرنا قیامه في الاخرین) یعني د ماپښین په دوو رکعتونو کي د هغه د نیمایي موږ اندازه وکړل، ددئ څخه دا معلومیږي چي رسول الله ﷺ بهٔ د ماپښین په دوو رکعتونو کي هم سورة فاتحه سره یو دوهم سورة چي د مخکني دوو رکعتونو د سورتونو څخه به مختصر وه ویل، د امام شافعي رحمة الله علیه مذهب د نوي قول مطابق دادی مګر دده په نزد پر قول قدیم باندي ده چي د امام ابو حنیفة رحمة الله علیه د مذهب مطابق دی چي په آخري دوو رکعتونو کي د سورة فاتحې سره یو بل سورت ویل ضروري نه دی.

نو ددئ حدیث تاویل به دا وي چي د رسول الله ﷺ دا فعل پر سنت باندي محمول نه دی بلکه پر بیان جواز باندي محمول دی یعني ددئ مطلب دا سو چي رسول الله ﷺ به په اخري دوو رکعتونو کي د سورة فاتحې سره کله کله یو بل سورة هم په یو ځاي کولو سره وایه چي خلکو ته معلومه سي چي داسي ویل هم جائز دي مګر په دېٔ خبره پوهیدل پکار دي چي د ټولو امامانو په نزد په آخري دوو رکعتو کي یوازي سورة فاتحه ویل سنت ده بلکه حنفیه خو وایي که یو سړی سورة فاتحه و نه وایي بلکه یوازي تسبیح ووایي نو هم جائز دي مګر قرائت افضل دی، د امام نخعي رحمة الله علیه، امام ثوري رحمة الله علیه او د کوفې ټولو علماؤ هم دا قول دی.

په محیط کي دا لیکلي دي که یو سړی په اخري دوو رکعتو کي د سورة فاتحې ویلو پر ځاي په قصد سره پټه خوله درېدل اختیار کړي نو دا به خلاف سنت کیدو په وجه غلط کار وي،

حسن بن زیاد رحمة الله علیه د امام اعظم رحمة الله علیه دا روایت هم نقل کوي چي په اخري دوو رکعتو کي قرائت ویل واجب دی، ابن ابي شیبه د حضرت علي رضي الله عنه او حضرت مسعود رضي الله عنه داقول نقل کوي چي په اولو دوو رکعتو کي قرائت وایاست او په اخري دوو رکعتو کي پر تسبیح باندي اکتفاء کوئ او دا یې هم ویلي دي که یو سړی په اخري دوو رکعتو کي د سورة فاتحې سره یو بل سورة هم ووایي نو سجده سهوه نه واجبیږي او دا صحیح هم دي ځکه چي په آخري دواړو رکعتو کي سورة فاتحه ویل سنت ده او د یو بل سورت پرېښودل واجب نه دي او ظاهره ده چي سجده سهوه د یو واجب پر پرېښودو یا پر واجب باندي د عمل نه کولو په وجه ضروري کیږي.

د امام احمد رحمة الله علیه په نزد اولی او صحیح داده چي په آخري دوو رکعتو کي د سورة فاتحې سره یو دوهم سورت ویل مکروه نه دي ځکه چي د رسول الله ﷺ په باره کي منقول دي چي په آخري دوو رکعتو کي به یې کله کله سورة فاتحې څخه پرته یو بل سورة یا څه نور آیاتونه هم ویل مګر د سورة فاتحې سره یو بل سورة نه ویل مستحب دي.

د ماپښین د لمانځه قرائت

﴿۷۷۲﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي

د حضرت جابر بن سمرة رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به وایه

الظُّهْرِ بِاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى وفي رواية بِسَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰى وَفِي الْعَصْرِ نَحْوَ ذٰلِكَ وَفِي الصُّبْحِ أَطْوَلَ مِنْ ذٰلِكَ . رواه مسلم

د ماپښین په لمانځه کي واللیل اذا یغشی او په یوه روایت کي دي چي سبح اسم ربک الاعلی به یې وایه او د مازدیګر په لمانځه کي هم ددې په شان او د سهار په لمانځه کي یې ددې څخه اوږد قرائت وایه. مسلم

تخریج: صحیح مسلم: ۱\۳۳۷، رقم: ۱۷۰- ۴۵۹.

تشریح: څرنګه چي په نورو حدیثونو کي روایت دي چي رسول الله ﷺ به په فلاني لمانځه کي فلانی سورت وایه او د هغه څه وضاحت نسته چي هغه سورت به یې په اول رکعت کي وایه که په دوهم کي یا په یو رکعت کي پرته د اول او دوهم تعین به یې وایه، همدارنګه په دې حدیث هم

څه وضاحت نه دی سوی چي رسول الله ﷺ به د ماپښنين په لمانځه کي سورة والليل اذا يغشى په کوم رکعت کي وايه (ايا په لومړني رکعت کي که په دوهم رکعت کي)،

په دې اړه دوه احتماله کيدای سي يا خو دا چي رسول الله ﷺ يو سورت په دوو رکعتو کي وايه يا دا چي د يو سورت يو څه برخه به يې په لومړني رکعت کي ويل او څه برخه به يې په دوهم رکعت ويل، په لومړني احتمال کي تکرار لازميږي او په دوهم کي تبعيض يعني د يو سورت يو څه برخه په لومړني رکعت کي او څه برخه په دوهم رکعت کي ويل لازميږي، او دا دواړه يعني تکرار او تبعيض غير اولی دی که څه هم جائز دی ځکه چي د رسول الله ﷺ څخه تکرار او تبعيض ثابت نه دی، فقهاؤ ليکلي دي چي په يوه رکعت کي پوره سورت ويل که څه هم کوچنی وي افضل دی په نسبت ددې چي په يوه رکعت کي د يو سورت يو څه برخه وويل سي که څه هم هغه صورت اوږد وي، مګر په دې مسئله کي تراويح مستثنی دي ځکه چي په دې کي خو پوره قرآن کريم په ټوله مياشت کي ختمول افضل دي، نو دا دواړه احتمالات او په دې کي پيدا سوي اشکالونو ليدو سره که دريم احتمال پيدا کړل سي چي د حديث د منشاء سره سم او د هغه سره مناسب دی هغه دادی چي رسول الله ﷺ د مذکوره سورت څخه پرته دوهم سورت به هم وايه مګر په لومړني رکعت کي يې وايه يا په دوهم کي.

د ماښام د لمانځه قرائت

﴿۷۷۳﴾: وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْمَغْرِبِ بِالطُّوْرِ. (متفق عليه)

د حضرت جبير بن مطعم رضی الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي د ماښام په لمانځه کي به يې سورة طور وايه. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۲۴۷، رقم: ۷۶۵، ومسلم: ۱\۳۳۸، رقم: ۱۷۴- ۴۶۳.

د فقهاؤ له لوري د قرائت ټاکلو دليل

﴿۷۷۴﴾: وَعَنْ أُمِّ الْفَضْلِ بِنْتِ الْحَارِثِ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت بي بي ام افضل بنت حارث څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ اوريدلي دي چي

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْمَغْرِبِ بِ (اَلْمُرْسَلَاتُ عُرْفًا) متفق عليه

د مابنام په لمانځه کي يې سورة (والمرسلات عرفا) ويل . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\۲۴۶، رقم: ۷۶۳ ومسلم ۱\۳۳۸، رقم: ۱۷۳- ۴۶۲.

تشريح: دا حديثونه او هغه حديث چي په هغه کي نقل دي چي رسول ﷺ د مابنام په لمانځه کي سورة اعراف، سورة انفال او سورة دخان ووايه يا دا ډول نور حديثونه ټول پر دې خبره دلالت کوي چي په لمنځو کي د يو خاص او ټاکل سوي سورت ويل ضروري نه دی بلکه دلمانځه کونکي د اسانۍ او سهولت بآندي مواقف ده چي هغه په کوم لمانځه کي کوم سورة ويل غواړي ويلای سي.

فقهاء چي دا ليکي چي په سهار او ماپښين کي طوال مفصل په مازيگر او ماخستن کي اوساط مفصل او په په مابنام کي قصار مفصل ويل پکار دي نو ددې تعين قرائت اصلي دليل دادی چي امير المومنين عمر فاروق رضي الله عنه حضرت ابو موسی اشعري رضي الله عنه ته چي په هغه زمانه کي د کوفې والي وو يو خط ليکلی وو چي په هغه کي دا پورتني تفصيل مذکور وو، د هغه سره سم په لمنځو کي د قرائت همداسي تعين وګرځول سو ددې مسئلې حاصل دادی چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي د طول او قصر په اړه د قرائت مسئله د اختلاف احوال او اوقات او مصلحت په جواز سره مختلف وو بيا وروسته د حضرت عمر رضي الله عنه د هغه ليک په رڼا کي د قرائت يوه طريقه او اصول وټاکل سول چي د فقهاؤ په اصطلاح کي طول مفصل، اوسط مفصل او قصار مفصل نوم ورکړل سو، او کيدای سي چي په دې اړه حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ته يو دليل د رسول الله ﷺ د يو قول او فعل څخه لاس ته ورغلی وي او رسول الله ﷺ د هغه طريقې سره سم کله کله قرائت کړی وي چي هغه حضرت عمر رضي الله عنه په خپل ليک کي تحرير فرمايلی دی او کله کله د هغه برعکس د رسول الله ﷺ هغه معمول پاته سوی وي کوم چي په دغه احاديثو کي مذکور دی، په هر حال موږ خو دا ګڼو چي د فقهاؤ ددغه ټاکل سوو اصول لپاره د حضرت عمر رضي الله عنه دا قول د دليل لپاره کافي دی.

فرض لمونځ کونکي ته په نفل کونکي پسي اقتداء جائز ده که يا؟

﴿۷۷۵﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ مُعَاذٌ يُصَلِّي مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي معاذ بن جبل رضي الله عنه به د رسول الله ﷺ سره لمونځ کوی

ثُمَّ يَأْتِي فَيَؤُمُّ قَوْمَهُ فَصَلَّى لَيْلَةً مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِشَاءَ ثُمَّ

او بيا به يې د خپل قوم امامت کوی يوه ورځ يې د رسول الله ﷺ سره د ماختن لمونځ وکړ بيا

أَتَى قَوْمَهُ فَأَمَّهُمْ فَافْتَتَحَ بِسُورَةِ الْبَقَرَةِ فَانْحَرَفَ رَجُلٌ فَسَلَّمَ ثُمَّ صَلَّى

خپل قوم ته لمونځ ورکړ او سورة بقرة يې پيل کړه يوه سړي د جماعت څخه سلام وګرځوي او ووتی يوازي يې لمونځ وکړ

وَحْدَهُ وَانْصَرَفَ فَقَالُوا لَهُ أَنَافَقْتَ يَا فُلاَنُ قَالَ لاَ وَاللَّهِ وَلآتِيَنَّ رَسُولَ اللَّهِ

او ولاړی، خلکو هغه ته وويل اې فلانه ! ايا ته منافق سوې هغه وويل : نه، په الله دي مي قسم وي زه به د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سم

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلأُخْبِرَنَّهُ فَأَتَى رَسُولَ اللَّهِ ﷺ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ

او د ټولي پېښي څخه به يې خبر کړم ، نو هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض يې وکړ اې د الله رسوله !

إِنَّا أَصْحَابُ نَوَاضِحَ نَعْمَلُ بِالنَّهَارِ وَإِنَّ مُعَاذًا صَلَّى مَعَكَ الْعِشَاءَ ثُمَّ أَتَى

موږ اوښانو والا يو ټوله ورځ (په مزدوري) پردي مځکي اوبه کوو او معاذ ستاسو سره د ماختن لمونځ وکړ بيا راغلی

قَوْمَهُ فَافْتَتَحَ بِسُورَةِ الْبَقَرَةِ فَأَقْبَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى

خپل قوم ته او په لمانځه کي يې سورة بقرة پيل کړه ، رسول الله ﷺ معاذ ته متوجه سو

مُعَاذٍ فَقَالَ يَا مُعَاذُ أَفَتَّانٌ أَنْتَ اقْرَأْ وَالشَّمْسِ وَضُحَاهَا وَالضُّحَى وَاللَّيْلِ

او وه يې فرمايل : اې معاذ ! ايا ته خلک په فتنه کي اچوې د ماختن په لمانځه کي (والشمس وضحها)، (والضحی والليل

إِذَا يَغْشَى وَسَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الأَعْلَى . متفق عليه

اذا يغشی)، (سبح اسم ربک الاعلی)، دا سورتونه وايه. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\۲۰۰، رقم: ۷۰۵، ومسلم: ۱\۳۳۹-۳۴۰، رقم: ۱۷۸-۴۶۵

د لغاتو حل: (نواضح): الابل التي يستقى عليه للشجر والزرع (هغه اوښ چي کښت په اوبه کيږي).

تشريح : دا سړی نعوذ بالله د مسجد يا لمانځه څخه متنفر سوی نه وو بلکه ټوله ورځ د محنت او سختۍ په وجه ستړی ستومانه وو ځکه نو کله چي قرائت اوږد سو او لمونځ اوږدوالی اختيار کړ نو دی په مجبور کېدو سره د مسجد څخه راووتی او يوازي يې لمونځ وکړ، ددې سربيره چي د سلام ګرځولو موقع او محل نه وو هغه سلام وګرځوی هغه فکر وکړ چي د لمانځه څخه په سلام ګرځولو ووځي چي د کم لمانځه پوره کولو مشابهت خو وسي.

په يو بل روايت کي: سبح اسم ربک الاعلی څخه وروسته نور سورتونه هم ذکر سوي دي مثلا اذا السماء انفطرت، اذا السماء انشقت او سورة بروج او سورة طارق.

شوافعو ددې حديث څخه دا استدلال کړی دی چي فرض لمونځ کونکي ته د نفل لمونځ کونکي اقتداء کول جائز ده ځکه چي معاذ ﷺ به د رسول الله ﷺ سره لمونځ کوی نو د هغه فرض لمونځ به ادا کيدی او په خپل جماعت سره يې چي کوم لمونځ کوی هغه به نفل وو. او د هغه د مقتديانو لمونځ به فرض وو، او رسول الله ﷺ د معاذ ﷺ دا عمل جائز وګرځوی او هغه يې ددې څخه منعه نه کړ.

د علماء حنفيه په نزد فرض لمونځ کونکي ته د نفل لمونځ کونکي په امامت کي لمونځ کول جائز نه دي ځکه شافعيانو حضراتو ته جواب ورکول کيږي چي نيت يو داسي شی دی چي په هغه يو بل څوک خبر کيدای نسي تر څو پوري چي خپله نيت کونکی دا ونه ښيي چي هغه څه نيت کړی وو، نو دا اغلب ده چي معاذ ابن جبل ﷺ د رسول الله ﷺ سره د فرض په نيت نه بلکه د رسول الله ﷺ د لمانځه طريقه زده کولو او د رسول الله ﷺ د لمانځه څخه د برکت او فضيلت تر لاسه کولو او د نفاق د تهمت څخه د ساتني په خاطر به نيت د نفل لمونځ کوی او بيا خپل قوم ته په راتللو سره هغوی ته يې فرض لمونځ ورکوی چي دواړه فضيلتونه حاصل سي، د حضرت معاذ ﷺ دا عمل پر دې صورت محمول کول اولی دی ځکه چي دا صورت خو په اتفاق د ټولو علماؤ په نزد جائز دي په خلاف د لومړني صورت چي په هغه کي د علماؤ اختلاف دی.

امام ته د مقتديانو خيال ساتل پکار دي

دا حديث پر دې خبره دلالت کوي چي امام ته د ضعيف او کمزورو مقتديانو د خيال ساتلو سره سم په لمانځه کي تخفيف کول سنت دي، که هغه ته ددې خبري احساس وي چي تر شا ولاړ مقتديان ضعيف او کمزوري دي، يا ټوله ورځ په محنت او مشقت کولو سره ستړي ستومانه دي

یا یو بله مجبوري او تکلیف ورته پېښ وي نو هغه ته لنډ لمونځ ورکول پکار دي دومره اوږد قرائت ویل نه دي پکار چي په هغه سره ضعیف او کمزوري خلک په تکلیف او پریشاني کي سي او په دې وجه د جماعت په پرېښودو باندي مجبور سي.

د ماخستن په لمانځه کي قرائت

﴿۷۷۶﴾: وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ فِي الْعِشَاءِ

د حضرت براء رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي چي د ماخستن په لمانځه کي یې

بِالتِّيْنِ وَالزَّيْتُوْنِ فَمَا سَمِعْتُ أَحَدًا أَحْسَنَ صَوْتًا مِنْهُ. متفق علیه

(والتین والزیتون) سورت وایه او هیڅوک مي تر رسول الله ﷺ زیات خوش آوازه نه دی لیدلی. بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۲\ ۲۵۰، رقم: ۷۶۷، ومسلم ۱\ ۳۳۹، رقم: ۱۷۷- ۴۶۴.

تشریح: رسول الله ﷺ چي څرنګه په باطني توګه سره د دنیا تر ټولو مکمل او اکمل انسان وو همداسي الله تعالی رسول الله ﷺ په ظاهري، جسماني، حسن او ښکلا سره هم تر ټولو اعلی او ارفع مرتبه باندي فائز کړی وو، بیا دا چي الله تعالی څرنګه رسول الله ﷺ د حسن صورت تر ټولو اعلی نمونه جوړ کړی وو همداسي ورته حسن آواز کي هم تر ټولو امتیازي درجه عنایت کړې وه، د براء بن عازب رضی اللہ عنہ دا شاهدي چي ما د رسول الله ﷺ د آواز څخه زیات ښه آواز د بل چا نه دی اورېدلی صرف د یو جذباتي عقیدت یا تاثر یا مبالغه نه ده بلکه د یو داسي حقیقت شاهدي ده چي د هغه د صداقت خپل خو پرېږده پردیو هم د چیلنج کولو جرئت نه دی کړی.

څرنګه چي اوس د اتم نمبر حدیث په تشریح کي ذکر سوي دي دلته هم ددې حدیث دا وضاحت دی چي رسول الله ﷺ به د ماخستن په لمانځه کي سورة والتین والزیتون په یوه رکعت کي وایه او په دوهم رکعت کي به یې د یو بل سورت قرائت وایه.

د سهار د لمانځه قرائت

﴿۷۷۷﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي

د حضرت جابر بن سمرة رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به د سهار په لمانځه کي

الْفَجْرِ بِق وَالْقُرْآنِ الْمَجِيدِ ونحوها وَكَانَ صَلَاتُهُ بَعْدُ تَخْفِيفًا. رواه مسلم

(ق والقرآن المجيد) او ددې په ډول سورت وايه او ددې وروسته لمنځو كي به يې ددې څخه كم سورتونه ويل. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱۱/۳۳۷، رقم: ۱۶۸– ۴۵۸.

تشريح: د حديث د آخري جملې مطلب دا دی چې رسول الله ﷺ به د سهار د لمانځه څخه پرته د نورو وختونو په لمنځو كي زياته اوږدونه نه كول او د سهار په لمانځه كي به يې اوږد قرائت وايه ځكه چې د سهار وخت د الله ﷻ په دربار كي د دعا قبليدو او بركت تر لاسه كولو وخت دی.

﴿۷۷۸﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْفَجْرِ وَاللَّيْلِ إِذَا عَسْعَسَ. رواه مسلم

د حضرت عمرو بن حريث رضي الله عنه څخه روايت دی چې هغه د رسول الله ﷺ څخه د سهار په لمانځه كي (والليل اذا عسعس) ويل اوريدلي دي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۱۱/۳۳۶، رقم: ۱۶۴– ۴۵۶.

﴿۷۷۹﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ السَّائِبِ قَالَ صَلَّى لَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن السائب رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ موږ ته لمونځ راكړ

الصُّبْحَ بِمَكَّةَ فَاسْتَفْتَحَ سُورَةَ الْمُؤْمِنِينَ حَتَّى جَاءَ ذِكْرُ مُوسَى وَهَارُونَ أَوْ

د سهار په مكه معظمه كي او سورة مؤمنون يې پيل كړ او كوم وخت چې د موسى او هارون ذكر راغلی يا

ذِكْرُ عِيسَى أَخَذَتْ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَعْلَةٌ فَرَكَعَ. رواه مسلم

د حضرت عيسى عليه السلام ذكر راغلی نو رسول الله ﷺ ته ټوخی راغلی او ركوع ته ولاړ ی. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱۱/۳۳۶، رقم: ۱۶۳۱– ۴۵۶.

تشريح: مطلب دا دی چې رسول الله ﷺ په قرائت كي سورة قد افلح المؤمنون پيل كړ او كله چې دغه آيت (ثم ارسلنا موسى واخاه هارون) ته چې په هغه كي د موسى عليه السلام او هارون عليه السلام ذكر

دی یا دې آیت ته (وجعلنا ابن مریم و امه ...) ته چي په هغه کي د عیسی علیه السلام ذکر دی ورسیدی نو د دغه جلیل القدر پیغمبرانو ذکر سره د رسول الله ﷺ زړه ډک سو او په ژړا سو چي د هغه په وجه د تهوخي غلبه پر وسوه، نو رسول الله ﷺ د هغه ژړا او تهوخي په وجه سورة پوره نه کړ او د هغه آیت په ختمولو سره رکوع ته ولاړی.

د جمعې په ورځ د سهار د لمانځه قرائت

﴿۸۰﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْفَجْرِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ بِ (الم تَنْزِيْلُ) فِي الرَّكْعَةِ الْأُوْلٰى وَفِي الثَّانِيَةِ (هَلْ أَتٰى عَلَى الْإِنْسَانِ) . متفق علیه

د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د جمعې په ورځ سهار د لمانځه په اول رکعت کي (الم تنزیل) سورت ووایه او په دوهم رکعت کي به یې (سورة هل اتی علی الانسان) وایه. بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۲\۳۷۷، رقم: ۸۹۱ ومسلم ۲\۵۹۹، رقم: ۶۵ - ۸۸۰.

تشریح: شوافع حضرات پر دغه حدیث باندي په عمل کولو سره وایي چي د جمعې په ورځ د سهار په لمانځه کي د پورتني حدیث سورتونه ویل پکار دي، مګر حنفیه د سورة ټاکلو څخه منعه کوي ځکه وایي چي دا اولی نه دی چي یو خاص صورت د یو خاص لمانځه سره داسي و ټاکل سي چي د هغه څخه پرته بل سورت نه وایي، ددې حضراتو په نزد د قرائت او سورة د ټاکلو ممانعت په وجه یوازي دا چي د یو خاص لمانځه سره د یو خاص سورت ټاکل خلک به هغه یو سورت لازم او واجب ګڼلو سره یوازي هغه سورت وایي او د هغه څخه پرته نور سورتونه ویل به مکروه ګڼي.

او که چیري یو سړی د مثال په توګه ددې حدیث سره سم د جمعې په ورځ د سهار د لمانځه په لومړني رکعت کي الم تنزیل (سورة سجده) او په دوهم رکعت کي هل اتی علی الانسان (سورة الدهر) د رسول الله ﷺ د قرائت د برکت تر لاسه کولو او د اتباع سنت په جذبه سره ووایي نو په دې کي څه پرواه نسته، په شرط ددې چي ددغه سورتونو څخه پرته کله کله نور سورتونه هم وایي چي کم علم او عوام خلک دا ونه ګڼي چي ددغه سورتونو څخه پرته یو بل سورت ویل جائز نه دی.

د دې څخه پرته د حنفیه حضراتو یو بل دلیل دا هم دی چې پر دې عمل باندې د رسول الله ﷺ همیشتوب ثابت نه دی بلکه رسول الله ﷺ به کله کله دا سورتونه ویل، نو کله کله ویل خو د هر سرې لپاره افضل دي.

دلته دا مسئله هم واورئ که یو سړی د سهار په لمانځه کې سورة السجده وواېي نو هغه ته سجده کول هم پکار ده که څه هم د شوافع حضراتو ځینو علماؤ په ځینو ورځو کې د امام لپاره ددې پرېښودل اولی ګرځولي دي مګر د رسول الله ﷺ څخه سجده تلاوت کول ثابت دي.

د جمعې د لمانځه قرائت

﴿۷۸۱﴾: وَعَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ أَبِي رَافِعٍ قَالَ اسْتَخْلَفَ مَرْوَانُ أَبَا هُرَيْرَةَ عَلَى

د عبيدالله بن ابو رافع رضی الله عنه څخه روایت دی چې مروان حضرت ابوهریرة د مدینې حکومت کې

الْمَدِينَةِ وَخَرَجَ إِلَى مَكَّةَ فَصَلَّى لَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ الْجُمُعَةَ فَقَرَأَ سُورَةَ (الْجُمُعَةِ)

مروان د مکې په لور ولاړی ابوهریرة رضی الله عنه موږ ته د جمعې لمونځ راکړ او سورة جمعه یې وویل

فِي السَّجْدَةِ الْأُولَى وَفِي الْآخِرَةِ (إِذَا جَاءَكَ الْمُنَافِقُونَ) فَقَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ

په لومړي رکعت کې او په دوهم رکعت کې یې سورة (اذا جاءک المنفقون) وویل بیا یې وفرمایل: ما د رسول الله ﷺ څخه

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ بِهِمَا يَوْمَ الْجُمُعَةِ. رواه مسلم.

د جمعې په ورځ دا دواړه سورتونه ویل اورېدلي دي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۲\ ۵۹۷، ۵۹۸، رقم: ۶۱- ۸۷۷.

د اخترو او جمعې د لمنځو قرائت

﴿۷۸۲﴾: وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت نعمان بن بشیر رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به

يَقْرَأُ فِي الْعِيدَيْنِ وَفِي الْجُمُعَةِ بِسَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى وَهَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ

د جمعې او اخترو په لمانځه کې (سبح اسم ربک الاعلی) او (هل اتک حدیث

الْغَاشِيَةِ قَالَ وَإِذَا اجْتَمَعَ الْعِيدُ وَالْجُمُعَةُ فِي يَوْمٍ وَاحِدٍ يَقْرَأُ بِهِمَا فِي الصَّلَاتَيْنِ. رواه مسلم

الغاشية) سورتونه ويل او نعمان وويل هر كله چي به اختر او جمعه سره يو ځای سول نو بيا به هم رسول الله ﷺ دا دواړه سورتونه په دواړو لمنځو كي ويل. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۲\ ۵۹۸، رقم: ۶۲ - ۸۷۸.

تشريح: د دې حديث څخه كه دا هم معلومه سوه چي د اخترونو او جمعې په لمانځه كي د دغه دوو سورتونو ويل سنت مؤكده دي نو هلته دا هم معلومه سوه چي رسول الله ﷺ به د جمعې په لمانځه كي سورة جمعه او سورة منافقون هميشه او تل وايه.

﴿۷۸۳﴾: وَعَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ سَأَلَ أَبَا وَاقِدٍ اللَّيْثِيَّ مَا كَانَ

د عبيد الله رضي الله عنه څخه روايت دی چي عمر بن الخطاب رضي الله عنه د ابو واقد ليثي څخه پوښتنه وكړه

يَقْرَأُ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْأَضْحَى وَالْفِطْرِ فَقَالَ كَانَ يَقْرَأُ

رسول الله ﷺ په كوچني او لوی اختر كي كوم سورتونه ويل، هغه ورته وويل په دواړو اخترو

فِيهِمَا بِق وَالْقُرْآنِ الْمَجِيدِ وَاقْتَرَبَتْ السَّاعَةَ. رواه مسلم

كي به يې (ق والقرآن المجيد) او (اقتربت) سورتونه ويل. مسلم

تخريج: صحيح مسلم۲\ ۶۰۷، رقم: ۱۴ - ۸۹۱.

تشريح: حضرت عمر فاروق رضي الله عنه و رسول الله ﷺ ته پوره نژدې او قريب وو او د نبي كريم ﷺ د احوال او كيفيت څخه په ښه ډول خبر وو، دا خو نسي ويل كيدای چي هغوی د ابو واقعد ليثي رضي الله عنه څخه دا پوښتنه ځكه كړې وه چي په دغه لمنځو كي د رسول الله ﷺ د قرائت په اړه پوه سي البته دا ويل كيدای سي چي ددغه پوښتني څخه د هغه مقصد دا وو چي حاضرينو ته ددغه سوال او جواب په وجه د رسول الله ﷺ د قرائت په ښه ډول معلومات وسي او دا خبربدل په ذهن كي قائم وساتل سي

د سهار په سنت لمانځه کي قرائت

﴿۷۸۴﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ فِي رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ وَقُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ . رواه مسلم

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د سهار د لمانځه په دواړو رکعتو کي (قل يا ايها الکافرون) او (قل هو الله احد) وايه . مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۵۰۲، رقم: ۹۸– ۷۲۶.

﴿۷۸۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ قُولُوا آمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْنَا وَالَّتِي فِي آلِ عِمْرَانَ تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ . رواه مسلم

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د سهار د لمانځه په دواړو رکعتو (قولوا امنا بالله و ما انزل الينا) او هغه آيت چي په سورة آل عمران کي دی يعني (قل يا اهل الکتٰب تعالوا الی کلمة سواء بيننا و بينکم) وايه . مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۵۰۲، رقم: ۱۰۰– ۷۲۷.

تشريح: لومړنی آيت د سورة بقرة په پوره توګه داسي دی :

قُولُوٓاْ آمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْنَا وَمَا أُنزِلَ إِلَىٰٓ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحٰقَ وَيَعْقُوبَ وَالأَسْبَاطِ وَمَا أُوتِيَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ وَمَا أُوتِيَ النَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمْ لاَ نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ . سورة بقرة ۱۳۶

ژباړه : (اې مسلمانانو !) وواياست چي موږ پر الله تعالی ايمان راوړ او کوم کتاب چي پر موږ نازل سو پر هغه او کومي صحيفې چي پر ابراهيم، اسماعيل، اسحاق، يعقوب او د هغوی پر اولاد (عليهم السلام) نازل سوي دي پر هغو او کوم کتابو چي پر موسی عليه السلام او عيسی عليه السلام ته ورکړل سوي دي پر هغو او کوم چي پر نورو پيغمبرانو د هغوی د پروردګار د لوري نازل سوي دي پر هغه ټولو (مو ايمان راوړی دی) موږ په دغه پيغمبرانو کي هيڅ فرق نه کوو او د يوه الله تعالی فرمانبرداريو .

د سورة آل عمران پوره آيت دادی :

قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْاْ إِلَى كَلَمَةٍ سَوَاء بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلاَّ نَعْبُدَ إِلاَّ اللّهَ وَلاَ نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلاَ يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضاً أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللّهِ فَإِن تَوَلَّوْاْ فَقُولُواْ اشْهَدُواْ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ ٦٤. سورة آل عمران

ژباړه : (اې محمد ﷺ!) ووايه چي اې اهل كتابو (يهودو او نصاراوو) كومه خبره چي زموږ او ستاسو په مينځ كي يو ډول او تسليم سوې ده د هغه په لور راسئ هغه دا چي د الله تعالى څخه پرته به موږ د هيڅا عبادت نه كوو او د هغه سره به هيڅوک نه شريكوو او په موږ كي به هيڅوک د الله تعالى څخه پرته بل څوک خپل كار ساز نه ګڼو، كه دا خلک (دا خبره) نه ومني نو ورته ووايه تاسو شاهدان سئ چي موږ د الله تعالى فرمانبرداريو .

په ډاګه ده دا معلوميږي چي رسول الله ﷺ به د سهار په سنتو كي كله كله دا دواړه آياتونه ويل او اكثر به يې قل ياايها الكافرون او قل هو الله احد ويل، د دې حديث څخه دا هم معلومه سوه چي په لمانځه كي د سورة يوه برخه په خاصه توګه د مينځ څخه ويل مكروه نه دي .

اَلْفَصْلُ الثاني (دوهم فصل)

د لمانځه په پيل كي بسم الله ويل

﴿۷۸٦﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْتَتِحُ صَلَاتَهُ بِ (بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ) . رواه الترمذي وقال هذا حديث ليس إسناده بذاك .

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به خپل لمونځ په بسم الله الرحمن الرحيم سره پيلوی . ترمذي

تخريج : سنن الترمذي ۲\۱۴، رقم: ۲۴۵.

تشريح : په بسم الله د لمانځه پيل كولو مقصد دادی چي رسول الله ﷺ به د لمانځه په پيل كي بسم الله الرحمن الرحيم په كرار آواز سره ويل، بيا به يې قرائت پيل كوی، د كرار آواز يو قيد ځكه لګول سوی دی چي دا حديث د تيرو حديثونو خلاف نسي د كوم څخه چي ثابتيږي چي رسول الله ﷺ به د خپل لمانځه پيل د الحمد لله رب العالمين څخه كوی .

میرک شاه ویلي دي چي امام ترمذي دغه حدیث ته ضعیف الاسناد ویل د فکر محل دی
ځکه چي دا حدیث حسن دی او دده اسناد بالکل صحیح دي.

آمین په لوړ آواز ویل پکار دي که په کرار آواز؟

﴿۷۸۴﴾: وَعَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ (غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلاَ الضَّآلِّيْنَ) فَقَالَ آمِيْنَ مَدَّ بِهَا صَوْتَهُ. رواه الترمذي وأبو داود والدارمي وابن ماجه.

د حضرت وائل بن حجر رضي الله عنه څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه د غیر المغضوب علیهم ولا الضالین وروسته په لوړ آواز سره آمین ویل اوریدلي دي. ترمذي، ابوداؤد، دارمي او ابن ماجه

تخریج: سنن الترمذي ۲\۲۷، رقم: ۲۴۸ وابوداؤد: ۱\ ۵۷۴، رقم: ۹۳۲، والدارمي ۱\ ۳۱۵، رقم: ۱۲۴۷ وابن ماجه ۱\ ۲۷۸، رقم: ۸۵۵.

تشریح: په اوږده اواز سره د آمین ویلو مطلب دادی چي رسول الله ﷺ په لوړ آواز سره امین وویل، یا دا مطلب چي په لفظ د آمین کي الف په مد سره یعني په غځولو سره وواییي.

د آمین ویلو مسئله د امامانو په نزد مبحث فیه ده، .په دې اړه د ټولو تر مخه په دې خبره پوهیدل پکار دي چي په دې مسئله کي خو ټول امامان متفق دي چي د سورة فاتحې وروسته آمین ویل د هر لمونځ کونکي لپاره سنت دی که منفرد وي یا امام، همداسي مقتدي ته هم آمین ویل سنت دي که امام يې وواییي که یا، اوس اختلاف په دې کي دی چي ایا آمین په کرار اواز سره وویل سي که په لوړ اواز سره، د امام شافعي رحمة الله علیه او امام محمد رحمة الله علیه په نزد په لوړ اواز سره ویل پکار دي، د امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه په نزد آمین په کرار اواز سره ویل پکار دي هغوی د حدیث په باره کي چي د هغه څخه امین په لوړ آواز سره ثابت دی او د شوافع وغیره مستدل دی دا وایي چي دا ټول حدیثونه پر دې خبري محمول دي چي د اسلام په پیل کي رسول الله ﷺ د تعلیم ورکولو په خاطر آمین په لوړ اواز سره وایه چي صحابه کرام پوه سي چي د سورة فاتحې وروسته آمین ویل پکار دي، صحابه کرام چي په دې پوه سوه نو بیا رسول الله ﷺ آمین په کرار اواز سره وایه، ابن همام رحمة الله علیه ویلي دي چي احمد رحمة الله علیه، ابو یعلي رحمة الله علیه، طبراني، دارمي او حاکم د شعبه رحمة الله علیه دا حدیث نقل

کړې دې چي: علقمه ابن وائل د خپل پلار حضرت وائل رضی الله عنه څخه نقل کوي چي هغه د رسول الله ﷺ سره لمونځ وکړ رسول الله ﷺ چي غیر المغضوب علیهم ولا الضالین ته ورسیدی نو په کرار اواز سره یې آمین ووایه، د ابن عمر رضی الله عنه په باره کي نقل سوي دي چي هغه وفرمایل: څلور شیان داسي دي چي امام ته په کرار اواز سره ویل پکار دي او هغه دادي: اول اعوذبالله، دوهم بسم الله، دریم سبحانک اللهم او څلورم آمین.

د ابن مسعود رضی الله عنه په باره کي هم نقل دي چي هغه به هم امین په کرار اواز سره وایه، ددې څخه پرته په دې خبره هم پوهیدل پکار دي چي د دعا کلمات په کرار اواز سره ویل غوره او صحیح دي ځکه چي الله تعالی خپله فرمایي (ادعوا ربکم تضرعا و خفیة) یعني د خپل رب څخه دعا په عاجزي او پټه وغواړئ.

او په دې کي شک نسته چي آمین هم دعا ده نو آمین کرار ویل په دې آیت باندي عمل کول دي او پر دې خبره اجماع ده چي آمین د قرآن کریم لفظ نه دی ځکه مناسب داده چي ددې آواز د قرآن پاک د اواز سره یو ډول نه وي څرنګه چي دا په مصحف (یعني د قرآن کریم په صفحو) کي لیکل جائز نه دي.

د آمین برکت

﴿۷۸۸﴾: وَعَنْ أَبِيْ زُهَيْرِ النُّمَيْرِيْ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابو زهیر النمیري رضی الله عنه څخه روایت دی چي یوه شپه موږ د رسول الله ﷺ سره ووتلو

وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ فَأَتَيْنَا عَلٰى رَجُلٍ قَدْ أَلَحَّ فِيْ الْمَسْأَلَةِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ

او یو داسي سړي ته ورسیدو چي په سوال کولو کي یې د مبالغې څخه کار اخیستی رسول الله ﷺ وفرمایل:

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْجَبَ إِنْ خَتَمَ فَقَالَ رَجُلٌ مِّنَ الْقَوْمِ بِأَيِّ شَيْءٍ يَخْتِمُ ؟ قَالَ بِآمِيْنَ. رواه أبو داود.

واجب یې کړل که مُهر یې کړل، په حاضرینو کي یو سړي پوښتنه وکړه په څه شي سره یې مهر کړل؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: په آمین سره. ابو داوُد.

تخریج: سنن ابي داوُد ۱\ ۵۷۷، رقم: ۹۳۸.

تشريح : (واجب سوه كه ختم يې كړه) ددې مطلب دادى كه دا سړې پر خپل دعا باندې په آمين ويلو سره مهر ولګوي يا پر آمين باندې ختم كړې نو دده لپاره جنت او مغفرت واجب سو يعني هغه د جنت او مغفرت حقدار سو يا د هغه دعا قبوله سوه.

د ختم دوې معناوي نقل سوي دي مهر لګول يا ختمول اوله معنى ددې حديث آمين خاتم رب العالمين په مناسبت زيات غوره او اولى دى، ددې مطلب دادى چې آمين د رب العالمين مهر دى ددې په وجه آفات او بلاګاني ختميږي څرنګه چې په مهر سره خط ساتل كيږي يا هغه شيان قابل اعتماد كيږي چې پر هغه مهر لګيدلى وي.

د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب دا وو كه يو سړى د خپل پروردګار څخه دعا غواړي نو هغه ته پكار ده چې د دعاء د كلمو ويلو څخه وروسته دې آمين هم ووايي چې د هغه په بركته هغه د قاضي الحاجات په دربار كې د مقبوليت په مرتبې سره ونازول سي او هغه دعا كامله سي ځكه چې آمين په منزله د مهر دى.

رسول الله ﷺ به د ماښام په لمانځه كې اوږد قرائت هم وايه

﴿۷۸۹﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى الْمَغْرِبَ بِسُوْرَةِ (الْأَعْرَافِ) فَرَّقَهَا فِي الرَّكْعَتَيْنِ. رواه النسائي.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دى چې رسول الله د ماښام په لمانځه كې سورة اعراف ووايه او په دواړو ركعتو كې يې دا سورت وويشى. نسائي

تخريج: سنن النسائي ۲\۱۷۰، رقم: ۹۹۰.

تشريح : رسول الله ﷺ د ماښام په لمانځه كې قرائت مختصر كړ خو كله به يې د جواز بيان لپاره اوږد قرائت هم وايه چې خلكو ته معلومه سي چې د ماښام په لمانځه كې اوږد قرائت ويل هم جائز دى، د ماښام په لمانځه كې سورة اعراف ويل ددې مقصد همدا وو، او كوم چې د وخت د تنګۍ تعلق دى په دې كې شک نسته چې د ماښام وخت د اوږد قرائت ګنجائش لري په خاصه توګه هر كله چې د شفق اطلاق پر سپين والي وكړل سي، په دواړو ركعتونو كې د ويش مطلب دادى چې رسول الله ﷺ به ددې سورت څه برخه په اول ركعت كې ويل او څه برخه به يې په دوهم ركعت كې ويل همدا سي پوره سورت به يې په دوو ركعتو كې ختموى.

د سورة الفلق او سورة الناس فضيلت

﴿۷۹۰﴾: وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ كُنْتُ أَقُوْدُ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت عقبة بن عامر رضي الله عنه څخه روايت دی چي په يوه سفر كي مي د رسول الله ﷺ اوښ مهار

وَسَلَّمَ نَاقَتَهُ فِي السَّفَرِ فَقَالَ لِيْ يَا عُقْبَةُ أَلاَ أُعَلِّمُكَ خَيْرَ سُوْرَتَيْنِ قُرِئَتَا ؟

نيولى روان وم، ما ته رسول الله ﷺ وفرمايل عقبه ! ايا زه تا ته دوه غوره سورتونه چي ويل كيږي ونه ښيم؟

فَعَلَّمَنِيْ (قُلْ أَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ وَ قُلْ اَعُوْذُبِرَبِّ النَّاسِ) قَالَ فَلَمْ يَرَنِيْ

بيا يې ما ته (قل اعوذبرب الفلق او قل اعوذبرب الناس) وښودل ، عقبه وايي هر كله چي

سُرِرْتُ بِهِمَا جِدًّا فَلَمَّا نَزَلَ لِصَلاَةِ الصُّبْحِ صَلَّى بِهِمَا صَلاَةَ الصُّبْحِ لِلنَّاسِ

رسول الله ﷺ ددې سورتو له كبله زه خوشحاله و نه ليدم نو د سهار په وخت كي په كښته كېدو سره يې د سهار لمونځ راكړ او په هغه كي يې دغه دواړه سورتونه وويل ،

فَلَمَّا فَرَغَ الْتَفَتَ إِلَيَّ فَقَالَ يَا عُقْبَةُ كَيْفَ رَأَيْتَ ؟ . رواه أحمد وأبو داود والنسائي

كله چي د لمانځه څخه فارغ سو نو ما ته يې وويل : عقبه ! تا ددې فضيلت وليدی . احمد ، ابوداؤد او نسائي .

تخريج: الامام احمد في مسنده ۴\۱۴۹، ۱۵۰، وابوداؤد ۲\۱۵۲، رقم: ۱۴۶۲ والنسائي: ۲\۱۵۸، رقم: ۹۵۲.

تشريح: د غوره سورتونو مطلب دادی چي د شيطان مردود د مكر او فريب او د نفس د گمراهی څخه د الله تعالى د پناه غوښتلو په حالت كي معوذتين غوره سورتونه دي .

رسول الله ﷺ چي عقبه رضي الله عنه ته د دغه سورتونو ښودلو وروسته وليدل چي هغه په دې سورتونو سره زيات خوشحاله نه سو ځكه چي د نورو سورتونو په ډول په دې سورتونو كي د الله تعالى د وحدانيت او پاكی بيان نسته نو رسول الله ﷺ د سهار په لمانځه كي دا دواړه سورتونه په ويلو سره دا وفرمايل: اې عقبه! تا ددې سورتونو فضيلت وليدی چي ما دا د سهار په لمانځه كي چي تر ټولو افضل لمونځ دي او په هغه كي اوږد قرائت ويل مستحب دی وويل .

د جمعې په ورځ د ماښام د لمانځه قرائت

﴿۷۹۱﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي صَلَاةِ الْمَغْرِبِ لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ (قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُوْنَ) وَ(قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ). رواه في شرح السنة . ورواه ابن ماجه عن ابن عمر إلا أنه لم يذكر ليلة الجمعة

د حضرت جابر بن سمرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د جمعې په شپه د ماښام په لمانځه کي (قل يا ايها الکافرون) او (قل هو الله احد) وويل. شرح السنه او ابن ماجه

تخريج: البغوي في شرح السنة ۳\۸۱، رقم: ۶۰۵. سنن ابن ماجه ۱\ ۲۷۲، رقم: ۸۳۳.

تشريح: په لمانځه کي د ماښام د لمانځه څخه مراد د ماښام فرض لمونځ دی، يعني رسول الله ﷺ به د جمعې په ورځ د ماښام په فرض لمانځه کي دا دواړه سورتونه ويل او دا هم احتمال دی چي د ماښام د لمانځه څخه د ماښام سنت مراد وي والله اعلم.

ابن حبان د قل هو الله الفاظ څخه وروسته دا الفاظ هم نقل کړي دي چي وفي العشاء سورة الجمعه والمنافقون يعني د جمعې په شپه کي به رسول الله ﷺ د ماخستن په لمانځه کي سورة جمعه او سورة منافقون ويل.

ابن ملک رحمة الله عليه ويلي دي دا حديث او دا ډول نور حديثونه پر دوام باندي محمول نه دي يعني د رسول الله ﷺ دا هميشه معمول (طريقه) نه وه بلکه کله به يې نور سورتونه هم ويل او کله به يې ددې سورتونو قرائت کوی چي خلک پوه سي چي هر يو سورت ويل جائز دي يو خاص سورت ويل ضروري نه دی.

﴿۷۹۲﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ مَا أُحْصِيْ مَا سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ وَفِي الرَّكْعَتَيْنِ قَبْلَ صَلَاةِ الْفَجْرِ (قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُوْنَ) وَ(قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ) رواه الترمذي. ورواه ابن ماجه عن أبي هريرة إلا أنه لم يذكر بعد المغرب.

د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چي زه دا نه سم شميرلای چي ما څو ځله

د رسول الله ﷺ څخه د ماښام د لمانځه وړاندي سنتو کي او د سهار د لمانځه وړاندي دوه رکعاتو سنتو کي قل یا ایها الکافرون ویل او ریدلي دي . ترمذي او ابن ماجه

تخریج: سنن الترمذي ۲\۲۹۶ - ۲۹۷، رقم: ۴۳۱، سنن ابن ماجه: ۱\۳۶۹، رقم: ۱۱۶۶.

تشریح: مطلب دادی چي رسول الله ﷺ به د ماښام په دوو رکعتو سنتو او د سهار په دوو رکعتو سنتو کي قل یا ایها الکافرون او قل هو الله احد دواړه سورتونه په دومره کثرت سره ویل چي زه هغه نه سم شمیرلای .

﴿۷۹۳﴾: وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ مَاصَلَّيْتُ وَرَاءَ أَحَدٍ

حضرت سلیمان بن یسار د ابو هریرة رضی الله عنه څخه روایت کوي چي ابو هریرة رضی الله عنه وویل: ما په هیڅ یو داسي سړي پسي لمونځ نه دی کړی

أَشْبَهَ صَلاَةً بِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ فُلاَنٍ قَالَ سُلَيْمَانَ صَلَّيْتُ

چي د رسول الله ﷺ د لمانځه مشابه وي پرته د فلاني سړي څخه (یعني حضرت علي رضی الله عنه یا دمدیني حاکم چي د مروان د لوري ټاکل سوی وو) سلیمان وایي ما هم په هغه سړي پسي لمونځ وکړ

خَلْفَهُ فَكَانَ يُطِيْلُ الرَّكْعَتَيْنِ الْأُوْلَيَيْنِ مِنَ الظُّهْرِ وَيُخَفِّفُ الْأُخْرَيَيْنِ

هغه به د ماپښین په اولو دوو رکعتو کي اوږدوالی کوي او په آخري دوو . رکعتو کي به یې لنډوالی

وَيُخَفِّفُ الْعَصْرَ وَيَقْرَأُ فِي الْمَغْرِبِ بِقِصَارِ الْمُفَصَّلِ وَيَقْرَأُ فِي الْعِشَاءِ بِوَسَطِ

او د مازدیګر په لمانځه کي به یې تخفیف کوی او په ماښام کي به یې کوچني کوچني سورتونه ویل او د ماخستن په لمانځه کي به یې درمیانه سورتونه

الْمُفَصَّلِ وَيَقْرَأُ فِي الصُّبْحِ بِطِوَالِ الْمُفَصَّلِ . رواه النسائي وروى ابن ماجه إلى ويخفف العصر .

او د سهار په لمانځه کي به یې لوی سورتونه ویل . نسائي او ابن ماجه .

تخریج: سنن النسائي ۲\۱۶۷، رقم: ۹۸۱، وابن ماجه ۱\۲۷۰، ۲۷۱، رقم: ۸۲۷.

تشریح: د فلاني سړي د تعین په اړه ځیني حضرات دا فرمایي چي د حضرت علي کرم الله

وجهه ذات مراد دی او د ځینو رايه داده چي د فلاني سړي څخه مراد هغه سړی مراد دی چي خليفه مروان په مدينه كي حاكم ټاكلی وو.

په دې حديث كي د ماپښين او مازديگر قرائت په اجمالي توگه سره ذكر سوی دی دا نه دي ويل سوي دي چي رسول الله ﷺ به د ماپښين په لمانځه كي طوال مفصل ويل، بلكه يوازي دومره ذكر سوي دي چي د ماپښين په لمانځه كي به يې اوږد قرائت وايه، همداسي د مازديگر په لمانځه كي هم وضاحت نه دی سوی چي په هغه كي قصار مفصل ويل يا اوساط مفصل، يوازي دومره ذكر سوي دي چي رسول الله ﷺ به د مازديگر په لمانځه كي تخفيف كوی.

په هر حال د لمنځو د قرائت په اړه د فقهاؤ يو اصول او طريقه ټاكلې ده د هغې مقصد دادی چي په لمنځونو كي د قرائت ويلو په اړه په عملي توگه سره هيڅ خلل واقع نسي، او هغه دا چي د سهار او ماپښين په لمانځه كي طوال مفصل، د مازديگر او ماخستن په لمانځه كي اوساط مفصل او د ماښام په لمانځه كي قصار مفصل وويل سي.

د دې مسئلې وضاحت د دې څخه مخكي هم د يو حديث د تشريح په ځنگ كي سوی دی او هلته د دې د اصطلاحي نومونو تعريفونه هم سوي دي، يو وار بيا پوه سئ چي د فقهاؤ په اصطلاح كي مفصل د سورة حجرات څخه تر سورة والناس پوري سورتونه مراد دي، دغه سورتونو ته مفصل د دې وجهي ويل كيږي چي د فصل معنی د جلاوالي ده نو د سورة حجرات څخه د دغه كوچني كوچني سورتو لړۍ پيل كيږي چي د يو بل په مينځ كي د بسم الله ويلو په وجه بيليږي، او بيا مفصل يعني د سورة حجرات څخه تر سورة والناس پوري سورتونه په درو درجو كي ويشل سوي دي: (۱) كوچني سورتونه، (۲) درميانه سورتونه (۳) لوی سورتونه.

د سورة حجرات څخه تر سورة بروج پوري طوال مفصل يعني د مفصل لوی سورتونه دي.

د سورة بروج څخه تر سورة لم يكن پوري اوساط مفصل يعني د مفصل درمياني سورتونه دي.

او د سورة لم يكن څخه تر سورة والناس پوري قصار مفصل يعني د مفصل كوچني سورتونه دي.

په امام پسي د سورة فاتحې ويلو بيان

﴿۷۹۴﴾: وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ كُنَّا خَلْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبادة بن الصامت ؓ څخه روايت دی چي موږ د نبي كريم ﷺ تر شا وو

فِيْ صَلَاةِ الْفَجْرِ فَقَرَأَ فَثَقُلَتْ عَلَيْهِ الْقِرَاءَةُ فَلَمَّا فَرَغَ قَالَ لَعَلَّكُمْ تَقْرَؤُوْنَ

د سهار په لمانځه کي، قرائت يې پيل کړ نو پر رسول الله ﷺ باندي قرائت ويل بوج سول بيا چي رسول الله ﷺ د لمانځه څخه فارغ سو نو وه يې فرمايل: شايد تاسو يو څه واياست

خَلْفَ إِمَامِكُمْ ؟ قُلْنَا نَعَمْ يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ لاَ تَفْعَلُوْا إِلاَّ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ

په خپل امام پسي، موږ عرض وکړ: هو، اې دالله رسوله! نو رسول الله ﷺ وفرمايل: پرته د الحمد لله څخه نور څه مه واياست

فَإِنَّهُ لاَ صَلاَةَ لِمَنْ لَّمْ يَقْرَأْ بِهَا . رواه أبو داود والترمذي وللنسائي معناه وفي رواية لأبي داود قال وأنا أقول مالي ينازعني القرآن ؟ فلا تقرؤوا بشيء من القرآن إذا جهرت إلا بأم القرآن .

ځکه چي څوک الحمد لله و نه وايي نو د هغه لمونځ نه کيږي (ابوداؤد، ترمذي، نسائي) او د ابوداؤد په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ د صحابه کرامو په جواب اوريدو سره وفرمايل هر کله چي قرائت پر ما دروند سو نو په خپل زړه کي مي ويلى دي چي قرآن ولي پر ما دروند سوى دى هر کله چي جهري لمونځ وي نو پرته د الحمد لله څخه نور څه مه واياست.

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\۵۱۵، رقم: ۸۲۳ والترمذي ۲\۱۱۶، رقم: ۳۱۱ والنسائي ۲\۱۴۱، رقم: ۹۱۹.

تشريح: رسول الله ﷺ په لمانځه کي په لوړ اواز سره قرات وايه وروسته مقتديان صحابه کرام پر ځای د دې چي پټه خوله سي د رسول الله ﷺ قرائت يې اوريدى او خپله يې هم قرات پيل کړ د هغه تنيجه دا سوه چي د مقتديانو قرائت د رسول الله ﷺ په قرائت کي اثرولوېدى او د رسول الله ﷺ په لمانځه کي حرج پيدا سو چي د هغه په وجه د رسول الله ﷺ لپاره قرائت ويل مشکل سول ځکه ډير واره پر کامل شي باندي د ناقص شى هم اثر کيږي څرنګه چي د کتاب الطهارت يو حديث تير سوى دى چي يوه ورځ رسول الله ﷺ د سهار په لمانځه کي قرائت پيل کړ بيا ناپامه ودريدى بيا د دې دريدو وجه يې دا بيان کړه چي داسي خلک په ما پسي لمونځ کوي چي د هغوى اودس ناقص دى د هغه په وجه زما پر لمانځه او قرائت اثر لويږي په ښکاره خو د دې حديث څخه دا معلوميږي چي په لمانځه کي سورة فاتحه ويل فرض ده مګر څه چي مخکي عرض سوى دى د امامانو په نزد په مسئله کي اختلاف دى د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه مذهب دادى چي امام او منفرد يعني يوائي لمونځ کونکي لپاره د سورة فاتحې ويل واجب دى

مگر د مقتدي لپاره واجب نه دی که څه هم لمونځ د لوړ اواز وي يا د کرار اواز د هغوی دليل د قرآن کريم دا آيت دی :

وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا

ژباړه : (په لمانځه کي) چي کله قرآن کريم ويل کيږي نو اورئ يې او پټه خوله سئ .

امام ابوحنيفة رحمه الله دغه حديث پر ابتداء باندي محمول کوي يعني دا حکم د اسلام په ابتداء کي وو بيا منسوخ سو .

﴿۷۹۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْصَرَفَ مِنْ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي کله به رسول الله ﷺ د جهري لمونځ څخه فارغ سو

صَلاَةٍ جَهَرَ فِيْهَا بِالْقِرَاءَةِ فَقَالَ هَلْ قَرَأَ مَعِيَ أَحَدٌ مِّنْكُمْ آنِفًا ؟ فَقَالَ رَجُلٌ

نو لمونځ کونکو ته به يې وفرمايل : ايا په تاسو کي يو چا زما سره اوس اوس (په لمانځه کي) قرائت وايه، يو سړي عرض وکړ

نَعَمْ يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ إِنِّي أَقُوْلُ مَا لِي أُنَازِعُ الْقُرْآنَ . قَالَ فَانْتَهَى النَّاسُ عَنِ

هو ، اې د الله رسوله ! ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ما (په زړه کي) ويل څه وجه ده چي ما ته د قرآن په ويلو کي ستونزه پېښيږي ، د راوي بيان دي چي بيا خلک منعه سوه

الْقِرَاءَةِ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْمَا جَهَرَ فِيْهِ بِالْقِرَاءَةِ مِنَ الصَّلَوَاتِ حِيْنَ سَمِعُوْا ذٰلِكَ مِنْ رَّسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رواه مالك وأحمد وأبو داود والترمذي والنسائي وروى ابن ماجه نحوه .

د رسول الله ﷺ سره په جهر لمنځو کي د قرآن ويلو څخه چي دا يې واوريدل د رسول الله ﷺ څخه. مالک ، احمد ، ابوداؤد ، ترمذي ، نسائي او ابن ماجه

تخريج : الامام مالک في الموطا ۱\ ۸۶ - ۸۷، رقم: ۴۴ والامام احمد في مسنده ۲\ ۲۴۰، وابوداؤد ۱\ ۵۱۶، ۵۱۷، رقم: ۸۲۶ والترمذي ۲\ ۱۱۸، رقم: ۳۱۲ والنسائي ۲\ ۱۴۰، ۱۴۱، رقم: ۹۱۸ وابن ماجه : ۱\ ۲۷۶، رقم: ۸۴۸.

تشريح : د دې حديث څخه په څرګنده معلومه سوه چې صحابه کرامو په جهري لمونځ کې په امام پسې مطلقا څه نه ويل نه به يې د سورة فاتحې قرائت کوی او نه د يو بل سورة او آيت نو د حنفيه مذهب ثابت سو چې په امام پسې د مقتديانو قرائت.کول جائز نه دی

کيدای سي چې دا حديث دې د مخکې تير حديث لپاره ناسخ وي چې په هغه کې ويل سوي دي چې په امام پسې سورة فاتحه ويل پکار دي ابو هريره رضي الله عنه وروسته اسلام راوړی دی ځکه د هغه روايت سوی حديث به هم ددې حديث څخه وروسته وي او ښکاره ده چې وروسته حکم د مخکې حکم لپاره ناسخ وي .

﴿۴۹۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ وَالْبَيَاضِيِّ قَالَا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْمُصَلِّيَ يُنَاجِي رَبَّهُ فَلْيَنْظُرْ مَا يُنَاجِيهِ بِهِ وَلَا يَجْهَرْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَعْضٍ بِالْقُرْآنِ . رواه أحمد .

د حضرت ابن عمر او بياضي (رض) څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : لمونځ کونکی د الله تعالی مناجات کوي نو پکار دي چې کوم مناجات هغه کوي په هغه کې فکر کوي د بل ويونکي د ويلو پر وخت په لوړ آواز سره قرآن نه وايي . احمد .

تخريج: الامام احمد في مسنده ۲\۶۷.

تشريح : د حديث د آخري جملې مطلب دادی چې کوم سړی قرآن کريم وايي که څه هم په لمانځه کې يې وايي يا دلمونځ څخه پرته نو هغه ته ددې خبرې خيال ساتل پکار دي چې د هغه اواز د بل لمونځ کونکي يا دوهم قاري پر اواز پورته نسي همداسي د يوه ذکر کونکي يا بيده سړي مخکې دي هم په لوړ اواز سره نه وايي چې دغو خلکو ته د هغه په وجه تکليف ونه رسيږي .

د امام پيروي کول

﴿۴۹۷﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا جُعِلَ الْإِمَامُ لِيُؤْتَمَّ بِهِ فَإِذَا كَبَّرَ فَكَبِّرُوا وَإِذَا قَرَأَ فَأَنْصِتُوا . رواه أبو داود والنسائي وابن ماجه

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : امام ددې لپاره ټاکل سوی دی چې تاسو د هغه پيروي وکړئ هر کله چې هغه الله اکبر ووايي نو تاسو هم الله. اکبر وواياست

او کله چي هغه په لمانځه کي قرائت وايي نو تاسو پټه خوله اوسئ. ابوداؤد، نسائي او ابن ماجه.

تخریج: سنن ابي داؤد ۱\ ۴۰۴-۴۰۵، رقم: ۶۰۴، والنسائي ۲\ ۱۴۲، رقم: ۹۲۱ وابن ماجه: ۱\ ۲۷۶، رقم: ۸۴۶.

تشریح: فاذا کبر فکبروا په وضاحت کولو سره علامه ابن حجر فرمايي چي مقتدی دي تکبير د امام د تکبير ويلو وروسته وايي نه دي يې د هغه سره وايي او نه دي يې د هغه څخه مخکي وايي او دا حکم په تکبير تحريمه کي خو واجب دی البته په نورو تکبيرو کي مستحب دی د حديث دوهم جزء فاذا قراء څخه مراد مطلق قرائت دی يعني که څه هم امام په لوړ اواز سره قرائت کوي يا په کرار اواز سره قرائت کوي په دواړو صورتونو کي مقتديانو ته پټه خوله اختيارول پکار ده ځکه چي رسول الله ﷺ (فانصتوا) يعني چپ اوسئ وفرمايل، فاستمعوا يعني وا يې ورئ نه وفرمايل، ارشاد رباني دی :

وَإِذَا قُرِىءَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُواْ لَهُ وَأَنصِتُواْ

ژباړه : هر کله چي قرآن کريم ويل کيږي نو (په لوړ آواز کي د ويلو په صورت کي) هغه اورئ او (د کرار آواز ويلو په صورت کي) پټه خوله اوسئ، د دغه څخه معلومه سوه چي په امام پسي د مقتديانو قرائت ويل مطلق منعه دی که لمونځ جهري (لوړ آواز والا) وي او يا سري (کښته اواز والا) وي.

د سورة فاتحې په قرائت کي د امامانو مذهب

امام شافعي رحمة الله عليه فرمايي مقتدي ته سورة فاتحه ويل که څه هم لمونځ جهري وي يا سري واجب دی او د سورة فاتحې څخه پرته بل سورة وغيره ويل جائز دی.

امام احمد رحمة الله عليه، امام مالک رحمة الله عليه او د يوقول سره سم خپله د امام شافعي رحمة الله عليه مذهب هم دا دی چي د مقتدي لپاره سورة فاتحه ويل په سري لمانځه کي واجب دی او په جهري لمانځه کي محض د امام قرائت اوريدل کافي دی.

د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه په نزد لمونځ سري وي که جهري په دواړو صورتونو کي قرائت د مقتدي لپاره ممنوع دی او د صاحبين يعني امام ابو يوسف او امام محمد رحمة الله عليه په نزد هم مقتدي ته ويل مکروه دی، امام محمد چي د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه جليل القدر شاګرد وو او د فقه حنفيه امام دی فرمايي چي د صحابه کرامو د يو جماعت د قول مطابق په امام پسي که مقتدی د سورة فاتحې قرائت وکړي نو لمونځ فاسد کيږي نو په دغه وجه د احتياط تقاضا داده چي عمل دي پر هغه دليل وکړي چي زيات قوي او مضبوط وي د

حنفيه دليل دا حديث دی.

من كان له امام فقراءة الامام قراءة له

ژباړه: يعني په لمانځه کي د کوم سړي چي امام وي نو د امام قرائت د هغه (مقتدي) قرائت دی.

دا حديث بالكل صحيح دی، د بخاري او مسلم څخه پرته نور ټولو دا نقل کړی دی او په هدايه کي خو تر دې مذکور دي چي: عليه اجماع الصحابه يعني پر دې د صحابه کرامو اجماع او اتفاق وو.

که د چا قران ياد نه وي نو څه ووايي؟

﴿۷۹۸﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي أَوْفٰى قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت عبد الله بن ابي اوفی رضي الله عنه څخه روايت دی چي يو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو

وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّيْ لَا أَسْتَطِيْعُ أَنْ آخُذَ مِنَ الْقُرْآنِ شَيْئًا فَعَلِّمْنِيْ مَا يُجْزِئُنِيْ

او ويې ويل: زما سره د قرآن کريم څخه د څه يادولو توان نسته نو ما ته يو داسي شی وښيه چي زما لپاره کافي وي،

قَالَ قُلْ سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ته دا وايه: (سبحان الله......) (الله پاک دی او ټول تعريفونه الله لره دي د الله څخه پرته بل د عبادت وړ نسته الله ډير لوی دی او د الله د مرستي څخه پرته د بدو څخه د راګرځېدو او پر عبادت کولو (د هيڅا) توان نسته)

إِلَّا بِاللهِ. قَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ هٰذَا لِلّٰهِ فَمَا ذَا لِيْ؟ قَالَ قُلْ اَللّٰهُمَّ ارْحَمْنِيْ

هغه سړي عرض وکړ اې د الله رسوله! دا خو د الله جل جلاله لپاره سو زما لپاره څه دي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: د ځان لپاره دا وايه: (اللهم....) اې الله پر ما رحم وکړې

وَعَافِنِيْ وَاهْدِنِيْ وَارْزُقْنِيْ. فَقَالَ هٰكَذَا بِيَدَيْهِ وَقَبَضَهُمَا. فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ

ما سلامت ولرې ما ته هدايت وکړې او ما ته روزي راکړې) نو هغه سړي په خپلو دواړو لاسو سره داسي اشاره وکړه او بندي يې کړل نو رسول الله ﷺ وفرمايل

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَّا هٰذَا فَقَدْ مَلَأَ يَدَيْهِ مِنَ الْخَيْرِ . رواه أبو داود وانتهت رواية النسائي عند قوله إلا بالله

ده خپل لاسونه د خیر څخه ډک کړل. ابوداؤد او نسائي.

تخریج: سنن ابي داؤد ۱\۵۲۱، رقم: ۸۳۲، والنسائي ۲\۱۴۳، رقم: ۹۲۳.

تشریح: د حدیث د آخري جملو مطلب دادی چي پوښتنه کونکي د قرائت یو بدل وپوښتی او رسول الله ﷺ هغه ته وښودل نو هغه په خپلو دواړو لاسونو سره اشاره وکړه او هغه یې بند کړل او په خپل دې عمل سره ګویا هغه ددې خبري اقرار وکړ چي رسول الله ﷺ څه وفرمایل ما هغه ربنتیا او حق وګڼل او هغه مي په یقین او اعتماد سره په زړه کي کښینول څرنګه چي یو خاص سړي ته یو عهده او اعلي شی لاس ته ورسي نو هغه شی په خپل موټو کي بند کړي.

مصنف مشکوٰۃ علیه الرحمة دا حدیث په باب القرائت کي نقل کړی دی ددې څخه دا خبره ښکاره سوه چي پوښتنه کوونکي د قرآن کریم څخه دومره څه هم نه سوه یادولای چي د هغه سره یې لمونځ صحیح سوی وای خو دلته یو شکل پیدا کیږي او هغه دا چي لیري معلومیږي چي یو سړی چي د عربي ژبي څخه پوره خبر وي ایا دومره یې هم نه سوه یادولای چي هغه په لمانځه کي ووایي بیا داچي څومره کلمات هغه ته ښودل سوي دي که هغه د دروکلماتو برابر د قرآن څخه څه یاد کړي نو هغه د لمانځه د ادا کولو لپاره بس وه او ددې لنډ جواب دادی چي پوښتنه کوونکي هغه وخت مسلمان سوی وو چي د لمانځه وخت راغلی او هغه په سمدستي توګه پر هغه قادر کیدای نه سو چي د قرآن څخه څه یاد کړي ځکه د آسانۍ او سهولت لپاره دا کلمات ورته وښودل سول.

بیا دا حدیث به د اسلام پرپیل باندي محمول کیږي چي په هغه ورځو کي د دیني احکام او مسائل د نفاذ په اړه زیاته اساني او سهولت سره سم دا کلمې ورته وښودل سوې.

پر احکام الهي باندي د رسول الله ﷺ د عمل یو مثال

﴿۷۹۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا قَرَأَ (سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلٰى) قَالَ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلٰى . رواه أبو داود

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به کله سبح اسم ربک الاعلی وایه نو

دا کلمات به يې ارشاد فرمايل: سبحان ربي الاعلى. ابوداؤد

تخريج: الامام احمد في مسنده ۱\ ۲۳۲ وابوداؤد ۱\ ۵۴۹، رقم: ۸۸۳.

تشريح: رسول الله ﷺ چې پر احکام الهي باندې څومره عمل کوی ددې اندازه ددې حديث څخه کيږي چې د رسول الله ﷺ د مبارک ژوند بنيادي اصول هم دا وو چې پروردگار عالم کوم حکم وکړي سمدستي د هغه اطاعت او فرمانبرداري وکړي او د هغه وروسته په دغه حکم خپل متبعين هم روان کړي، رسول الله ﷺ چې به کله په لمانځه کې سورة اعلى وايه نو څرنګه چې ددې سورة د پيل په الفاظو کې سبح اسم ربک الاعلى مطلب دادی چې د خپل پروردګار پاکي بيان کړي چې د لوړي مرتبې خاوند دی، څکه رسول الله ﷺ به د هغه پر ځای راوړلو پر وخت دا وفرمايل چې سبحان ربي الاعلى زه د خپل پروردګار پاکي بيانوم چې ډير لويې مرتبې والا دی.

په لمانځه کې د کومو آياتونو د قرآئت وروسته څه ويل پکار دي

﴿۸۰۰﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَرَأَ

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې ووايي

مِنْكُمْ بِالتِّيْنِ وَالزَّيْتُوْنِ فَانْتَهٰى إِلٰى (أَلَيْسَ اللّٰهُ بِأَحْكَمِ الْحَاكِمِيْنَ) فَلْيَقُلْ

په تاسو کې (والتين والزيتون) او تر (اليس الله باحکم الحاکمين) پوري ورسيږي نو دې وايي

بَلٰى وَأَنَا عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ. وَمَنْ قَرَأَ (لَا أُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيَامَةِ)

(بلى وانا على ذالک من الشاهدين) (هو، او زه پر دې شاهدي يم) او څوک چې (لا اقسم بيوم القيمة) ووايي

فَانْتَهٰى إِلٰى (أَلَيْسَ ذٰلِكَ بِقَادِرٍ عَلٰى أَنْ يُّحْيِيَ الْمَوْتٰى) فَلْيَقُلْ بَلٰى. وَمَنْ قَرَأَ

او تر (اليس ذلک بقادر على ان يحيى الموتى) پوري ورسيږي نو دا دې ووايي (بلى) يعني هو، پر دې قادر دی، او څوک چې ووايي

(وَالْمُرْسَلَاتِ) فَبَلَغَ (فَبِأَيِّ حَدِيْثٍ بَعْدَهُ يُؤْمِنُوْنَ) فَلْيَقُلْ آمَنَّا بِاللّٰهِ. رواه أبو داود والترمذي إلى قوله وأنا على ذلك من الشاهدين.

والمرسلات او (تر فباي حديث بعده يومنون) پوري ورسيږي نو دا دي ووايي (امنابالله)
موږ پر الله ايمان راوړی دی. ابوداؤد او ترمذي

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\۵۵۰، رقم: ۸۸۷، والترمذي ۵\۴۱۳، رقم: ۳۳۴۷.

تشريح: ددې اياتونو يا دا ډول نورو آياتونو د جواب وركولو په اړه د علماؤ په نزد اختلاف دی ، امام شافعي رحمة الله عليه فرمايي كه دا آياتونه په لمانځه كي ويل كيږي يا د لمانځه څخه وروسته ويل كيږي په هر صورت ددې په جواب كي پورتني الفاظ ويل پكار دي او لمونځ كه څه هم نفل وي يا فرض، امام مالک رحمة الله عليه فرمايي چي د لمانځه څخه دباندي ويل او په نفل لمنځو كي د قرائت ويلو په صورت كي خو جواب وركول پكار دي په فرض لمنځو كي نه. امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه فرمايي يوازي د لمانځه څخه دباندي ويلو په صورت كي جواب دي وركړل سي په لمانځه كي نه، لمونځ كه فرض وي يا نفل چي دا وهم رانسي چي دا الفاظ د قرآن كريم دي .

علامه توربشتي رحمة الله عليه فرمايي كه يو سړی د حديث پر ظاهري اطلاق باندي په نظر كولو سره ووايي چي د رسول الله ﷺ دا حكم خو د لمانځه كونكي په اړه دی (نو پكار ده چي دا جواب په لمانځه كي هم وركړل سي) نو موږ به وايو چي كيدای سي چي دا حكم د نفل لمنځو په باره كي وي د فرض لمنځو په باره كي نه وي ځكه چي خپله د رسول الله ﷺ په باره كي د حذيفه رضي الله عنه دا روايت منقول دی چي رسول الله ﷺ به د شپې په لمانځه كي هر كله چي يو داسي آيت ته به ورسيدی چي په هغه كي به د رحمت الهي ذكر كيدی نو رسول الله ﷺ به هلته په تم كېدو سره د پروردګار څخه د رحمت د طلب كولو خواست كوی او كله چي به يو داسي آيت ته ورسيدی چي په هغه كي به د عذاب الهي ذكر كيدی نو رسول الله ﷺ به هلته قرائت په تم كولو سره د پروردګار د عذاب څخه پناه غوښتل او د رسول الله ﷺ دا معمول يا حكم هيڅ صحابي هم د جهري فرضو لمنځو په اړه روايت كړی نه دی .

﴿۸۰۱﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أَصْحَابِهِ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د صحابه كرامو يو ټولی ته تشريف يووړ

فَقَرَأَ عَلَيْهِمْ سُورَةَ الرَّحْمٰنِ مِنْ أَوَّلِهَا إِلَى آخِرِهَا فَسَكَتُوا فَقَالَ لَقَدْ قَرَأْتُهَا

او دهغوی په وړاندي يې د سر څخه تر پايه پوري سورة الرحمن ووايه او صحابه كرامو پټه

خوله اوريدى كله چي ختم سو نو رسول الله ﷺ وفرمايل : ما و وايه دغه سورت

عَلَى الْجِنِّ لَيْلَةَ الْجِنِّ فَكَانُوا أَحْسَنَ مَرْدُودًا مِنْكُمْ كُنْتُ كُلَّمَا أَتَيْتُ عَلَى قَوْلِهِ

د پيريانانو په وړاندي په هغه شپه چي پيريانانو اسلام قبلوى او د قرآن اوريدو لپاره يو ځاى سوي وه هغوى ستاسو څخه زيات ښه جواب وركونكي وه كله چي به

فَبِأَيِّ آلاَءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ قَالُوا لاَ بِشَيْءٍ مِنْ نِعَمِكَ رَبَّنَا نُكَذِّبُ فَلَكَ الْحَمْدُ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب .

(فباي الاء ربكما تكذبان) وايه ، نو هغوى به ويل (لا بشئ .... فلک الحمد) (اې پروردګاره! ستا په نعمتو كي داسي هيڅ نسته چي هغه موږ دروا غ كړاى سو او تعريف هم تالره دى).
ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دى .

تخريج : سنن الترمذي ٥\٣٧٢، ٣٧٣، رقم: ٣٢٩١.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

په دوو ركعتو كي يو سورت ويل

﴿٨٠٢﴾ : عَنْ مُعَاذِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْجُهَنِيِّ قَالَ إِنَّ رَجُلاً مِنْ جُهَيْنَةَ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ

د معاذ بن عبد الله الجهني رضي الله عنه څخه روايت دى چي د جهينه قبيلې يو سړي ما ته وويل چي هغه

سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ فِي الصُّبْحِ (إِذَا زُلْزِلَتْ) فِي

د سهار په لمانځه كي د رسول الله ﷺ څخه (اذا زلزلت الارض) اوريدلى دى

الرَّكْعَتَيْنِ كِلْتَيْهِمَا فَلاَ أَدْرِيْ أَنَسِيَ أَمْ قَرَأَ ذٰلِكَ عَمَدًا . رواه أبو داود

په دواړو ركعتونو كي . زه نه سم ويلاى چي رسول الله ﷺ په قصد سره داسي وكړل او كه په هيره سره . ابوداؤد

تخريج : سنن ابي داؤد ١\٥١٠، ٥١١، رقم: ٨١٦.

تشريح: مطلب دادی چي د سهار په دوو رکعتو کي يو سورة اذا زلزلت الارض زلزالها داسي وويلو چي په اول رکعت کي يې پوره سورت وواېه بيا په دوهم رکعت کي يې هم هغه سورت پوره وواېه او په ښکاره دا معلوميږي چي رسول الله ﷺ داسي په قصد سره د بيان جواز لپاره کړی وو چي خلکو ته معلومه سي چي اصل سنت داسي هم ادا کيږي تر څو پوري چي د مسئلې تعلق دی نو خبره داده چي افضل تکرار کول دي يعني يو سورت دی په دوو رکعتو کي مکرر نه ويل کيږي او خصوصا په فرائض کي خو د دې خيال ساتل پکار دي.

﴿۸۰۳﴾: وَعَنْ عُرْوَةَ قَالَ إِنَّ أَبَا بَكْرِ الصِّدِّيقِ صَلَّى الصُّبْحَ فَقَرَأَ فِيهِمَا بِسُورَةِ الْبَقَرَةِ فِي الرَّكْعَتَيْنِ كِلْتَيْهِمَا. رواه مالك.

د حضرت عروة رضي الله عنه څخه روايت دی چي ابوبکر صديق رضي الله عنه د سهار لمونځ وکړ او په دواړو رکعتو کي يې سورة بقرة وويل. مالک

تخريج: الامام مالک في الموطا ۱\۸۲، رقم: ۳۳.

تشريح: په دواړو رکعتونو کي د سورة بقره ويلو مطلب دادی چي د دې سورة څه برخه يې په يوه رکعت کي او دا يې هم د بيان جواز لپاره وکړل ځکه چي د رسول الله ﷺ پر دې هميشتوب ثابت نه دی بلکه رسول الله ﷺ به اکثر په يوه رکعت کي پوره سورت وايه او په دواړو رکعتو کي يو سورت همداسي په متفرقه توګه سره ويل نادر دي.

حضرت عثمان رضي الله عنه به د سهار په لمانځه کي سورة يوسف زيات وايه

﴿۸۰۴﴾: وَعَنِ الْفَرَافِصَةِ بْنِ عُمَيْرِ الْحَنَفِيِّ قَالَ مَا أَخَذْتُ سُورَةَ يُوسُفَ إِلاَّ مِنْ قِرَاءَةِ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ إِيَّاهَا فِي الصُّبْحِ مِنْ كَثْرَةِ مَا كَانَ يُرَدِّدُهَا. رواه مالك

د حضرت فرافصه[1] بن عمير الحنفي رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما سورة يوسف د حضرت عثمان رضي الله عنه څخه په دا ډول ياد کړی دی چي هغه به اکثر د سهار په لمانځه کي وايه. مالک

تخريج: الامام مالک في الموطا ۱\۸۲، رقم: ۳۵.

۱- فرافصه د مديني منورې او سيدونکی او مشهور تابعي دی، د قبيلې بن حنفيه په لور د نسبت په وجه حنفي ورته ويل کيږي.

تشريح: كه دا اشكال پيدا اسي چي علماء خو په لمنځو كي يو خاص متعين سورت باندي هم هميشه ويل مكروه ليكي ځكه چي د قرآن كريم پاته سورتونه پريښودل لازم نسي حالانكه د حضرت عثمان رضي الله عنه دا معمول ددې منافي دی نو ددې جواب به داوي چي علماء چي مكروه ليكي ددې څخه د هغوی مراد په ټولو لمنځو كي پر يو متعين سورت باندي همېشتوب كول دي او د حضرت عثمان رضي الله عنه چي كوم معمول ثابت دی هغه داسي نه دی بلكه هغوی خو يوازي د سهار په لمانځه كي سورة يوسف ډير وايه په ټولو لمنځونو كي نه. ځيني علماء د سورة يوسف دا اثر نقلوي چي سورة يوسف په ويلو باندي هميشتوب كول د شهادت د سعادت حاصلولو سبب دی چي د هغه ښكاره ثبوت خپله د حضرت عثمان رضي الله عنه ذات دی چي شهيد سو.

﴿۸۰۵﴾: وَعَنْ عَامِرِ بْنِ رَبِيْعَةَ قَالَ صَلَّيْنَا وَرَاءَ عُمَرَ ابْنِ الْخَطَّابِ الصُّبْحَ

د عامر بن ربيعة رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما په عمر بن الخطاب رضي الله عنه پسي د سهار لمونځ وكړ

فَقَرَأَ فِيْهِمَا بِسُوْرَةِ يُوْسُفَ وَسُوْرَةِ الْحَجِّ قِرَاءَةً بَطِيْئَةً قِيْلَ لَهُ إِذًا لَقَدْ كَانَ

هغه په دواړو ركعتو كي سورة يوسف او سورة حج په كراره كراره وويل، د عامر څخه پوښتنه وسول چي حضرت عمر رضي الله عنه به

يَقُوْمُ حِيْنَ يَطْلُعُ الْفَجْرُ قَالَ أَجَلْ. رواه مالك.

د سهار په اول وخت كي د لمانځه لپاره دربدی؟ هغه جواب وركړ: هو. مالك

تخريج: الامام مالک في الموطا ۱\ ۸۲، رقم: ۳۴.

تشريح: د سهار په لمانځه كي په اول وخت كي په اتفاق سره د ټولو په نزد جائز دی دا حديث پر جواز باندي محمول دی مختار يعني اوليت باندي نه دی ځكه چي ددې حديث څخه په هيڅ طريقه دا نه ثابتيږي چي حضرت عمر رضي الله عنه به هميشه په اول وخت كي دريدی.

﴿۸۰۶﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ مَا مِنَ الْمُفَصَّلِ سُوْرَةٌ صَغِيْرَةٌ وَلَا كَبِيْرَةٌ إِلَّا قَدْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَؤُمُّ بِهَا النَّاسَ فِي الصَّلَاةِ الْمَكْتُوْبَةِ. رواه مالك.

حضرت عمرو بن شعیب د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روایت کوي چي په مفصل سورتو کي هیڅ یو کوچنی یا لوی سورت رسول الله ﷺ په فرض لمانځه کي نه دی پرې ایښی چي ما د رسول الله ﷺ څخه نه وي اوریدلی . مالک

تخريج: لم نجده عند مالک، بل هو عند ابي داؤد بلفظه ١\ ٥١٠، رقم: ٨١٤.

تشریح : رسول الله ﷺ د بیان جواز په توګه مفصل ټوله سورتونه په جلا وختونو کي په ویلو سره خلکو ته دا ووښودل چي په لمانځه کي د هر سورت ویل جائز دي .

﴿۸۰۷﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَرَأَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ صَلاَةِ الْمَغْرِبِ بِ (حم الدُّخَانِ) . رواه النسائي مرسلا .

د حضرت عبدالله رضي الله عنه څخه روایت دی چي د ماښام په لمانځه کي رسول الله ﷺ سورة حم الدخان ووایه . نسائي

تخريج: سنن النسائي ٢\ ١٦٩، رقم: ٩٨٧.

تشریح : دلته دواړه احتمال دی یا خو رسول الله ﷺ د ماښام په دواړو رکعتو کي حم الدخان پوري سورت ووایه یا دا چي د هغه څه برخه يې لږلږ په دواړو رکعتو کي وویل والله اعلم.

========

بَابُ الرُّكُوْعِ (د رکوع بیان)

د رکوع معنی په لغت کي کښته کیدل دي او د شریعت په اصطلاح کي د لمانځه یو رکن یعني د هغه حالت نوم دی کله چي په قیام کي د قرائت څخه د فارغیدو وروسته سر کښته کړي چي د قرآن او حدیث څخه ثابت دي ددې په باره کي دا امتیاز امت محمدیه ته حاصل دی چي د رکوع رکن یوازي ددې امت په لمانځه کي مشروع دی د نورو امتونو په لمنځو کي مشروع نه وو .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

رکوع او سجده سم کوئ

﴿۸۰۸﴾: عَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقِيْمُوا الرُّكُوْعَ

وَالسُّجُودَ فَوَاللهِ إِنِّي لَأَرَاكُمْ مِنْ بَعْدِي. متفق عليه

د حضرت انس رضی اللہ عنہ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ركوع او سجده په ښه ډول كوئ په الله دي مي قسم وي زه تاسو د شا د لوري څخه هم وينم. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲۲۵|۲، رقم: ۷۴۲ ومسلم ۱\۳۱۹-۳۲۰، رقم: ۱۱۰-۴۲۵.

تشريح: اقيموا الركوع والسجود مطلب دا چي ركوع او سجده د قاعدې سره سم په كراره كراره په ښه اطمينان او سكون سره كوئ دا اركان په تلوار سره مه كوئ چي په هغه سره نه ركوع په پوره توګه ادا سي او نه سجده، په حقيقيتي معنى كي د سجدې ويلو مستحق وي.. د خپل تر شا وروسته ليدو مطلب دا دى چي څرنګه تاسو خلک زما په مخ خوا كي په نظر راځئ همداسي د معجزې په ډول تاسو خلک زما تر شا هم په نظر راځئ او ستاسو ټول حركاتو او سكناتو ټولو باندي زما نظر وي، ددې مسئلې وضاحت په ښه ډول د باب صفة الصلوة په دريم فصل كي تير سوى دى.

﴿۸۰۹﴾: وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ كَانَ رُكُوعُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ سُجُودُهُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ وَ اِذَا رَفَعَ مِنَ الرُّكُوعِ مَا خَلَا الْقِيَامَ وَالْقُعُودَ قَرِيبًا مِنَ السَّوَاءِ. متفق عليه

د حضرت براء رضی اللہ عنہ څخه روايت دى چي د ناستي او ولاړي څخه پرته د رسول الله ﷺ ركوع، سجده، د دوو سجدو په منځ كي ناسته او د ركوع څخه پورته كيدل دا څلور سره شيان به په يوه اندازه وه. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۲۷۶، رقم: ۷۹۲ ومسلم ۱\۳۴۳، رقم: ۱۹۳-۴۷۱.

تشريح: په دې حديث كي د رسول الله ﷺ د لمانځه د اركانو مقدار داسي ښيانيږي چي څلور اركان يعني ركوع، قومه، سجده .او جلسه ټول په خپلو كي برابر وه، البته په قيام كي به ېې قرائت وايه او په قعده كي به ېې التحيات ويل ځكه نو دا دواړه اركان به د پاته اركانو په مقابله كي اوږده وه.

د رسول الله ﷺ قومه او جلسه

﴿۸۱۰﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَالَ سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ قَامَ حَتَّى نَقُولَ قَدْ أَوْهَمَ ثُمَّ يَسْجُدُ وَيَقْعُدُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ حَتَّى نَقُولَ قَدْ أَوْهَمَ . رواه مسلم

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی کله چي به رسول الله ﷺ سمع الله لمن حمده وو ایه نو دریدی به تر دې چي زموږ به دا خیال سو چي رسول الله ﷺ شاید هغه رکعت پرېښودی بیا به رسول الله ﷺ سجدې ته تلی او د دواړو سجدو په منځ کي به دومره کښېنستی چي زموږ به بیا هم هغه خیال سو . مسلم.

تخریج: صحیح مسلم: ۱/ ۳۴۴، رقم: ۱۹۶- ۴۷۳.

تشریح: د حضرت انس ﷺ د ارشاد مطلب دادی چي رسول الله ﷺ به د رکوع څخه سر پورته کړ نو په قومه کي به تر ډیره وخته پوري ولاړ وو تر دې چي ډیر واره تر دومره وخته پوري په قومه کي پاته کیدی چي موږ به په دې ګمان کي اخته کېدو چي کیدای سي رسول اللهﷺ دا رکعت چي هغه د رکوع څخه رسول الله ﷺ فارغ سو ختم کړ او اوس د نوي سره لمونځ بې پیل کړ همداسي رسول الله ﷺ د پورته کیدو سره د دواړو سجدو په مینځ په جلسه کي تر دومره وخته پوري به کښېنستی چي موږ ته به خیال راغلی چي رسول الله ﷺ د اولي سجدې چي د هغه څخه بې اوس سر پورته کړی دی ختم کړې ده او په ښکاره دا معلومیږي چي رسول الله ﷺ به په قومه او جلسه کي دومره اوږدوالی په نفل لمنځو کي کوی او دا هم امکان دی چي د بیان جواز په خاطر په فرض لمنځو کي هم کله کله کړی وي .

﴿۸۱۱﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَقُولَ فِي رُكُوعِهِ وَسُجُودِهِ سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي يَتَأَوَّلُ الْقُرْآنَ. متفق علیه

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به په خپل رکوع او سجده کي زیات وخت دا الفاظ ویل : سبحانک اللهم ربنا و بحمدک اللهم اغفرلي .... . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۹۹\۲، رقم: ۸۱۷ ومسلم ۱\۳۵۰، رقم: ۲۱۷- ۴۸۴.

تشريح : مطلب دادى چي په قرآن كريم كي الله تعالى فرمايلي دي چي فسبح بحمد ربک واستغفره يعني د خپل پروردگار د تعريف سره پاكي بيانوه او د هغه څخه بخښنه غواړه ځکه چي رسول الله ﷺ دده حكم پر ځاي راوړلو لپاره به ركوع او سجود كي د خپل پروردګار تسبيح او تعريف كوي او د هغه څخه يې مغفرت غوښتی ځکه چي د خشوع او خضوع په ټولو مواقعو او احوالو كي د ركوع او سجود ډېره ښه موقع او ځاى دى د ځينو نورو حديثو څخه هم دا معلوميږي چي رسول الله ﷺ به د ركوع او سجود څخه پرته دده دعا ورد كوى په ځينو حديثو كي ذكر دي چي سورة اذا جاء په هغه كي دا ايت مذكور دى د نازليدو وروسته رسول الله ﷺ په اخر عمر كي دا ذكر كوى.

﴿۸۱۲﴾: وَعَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ فِي رُكُوعِهِ وَسُجُودِهِ سُبُّوحٌ قُدُّوسٌ رَبُّ الْمَلَائِكَةِ وَالرُّوحِ. رواه مسلم

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ به په سجده او ركوع كي دا الفاظ هم ويل: ډير پاک دى د ملائكو او جبرائيل پروردګار. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۳۵۳، رقم: ۲۲۳- ۴۸۷.

په سجده او ركوع كي قرانكريم ويل منعه دي

﴿۸۱۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا إِنِّي نُهِيتُ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: خبردار! زه منعه كړل سوى يم

أَنْ أَقْرَأَ الْقُرْآنَ رَاكِعًا أَوْ سَاجِدًا فَأَمَّا الرُّكُوعُ فَعَظِّمُوا فِيهِ الرَّبَّ عَزَّ وَجَلَّ

چي په ركوع او سجده كي قرآن كريم ووايم، تاسو هم په ركوع كي د الله جل جلاله عظمت بيانوئ

وَأَمَّا السُّجُودُ فَاجْتَهِدُوا فِي الدُّعَاءِ فَقَمِنٌ أَنْ يُسْتَجَابَ لَكُمْ. رواه مسلم

او په سجده كي د دعاء غوښتلو هڅه وكړئ، مناسب داده چي هغه دعاء ستاسو لپاره قبوله سي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۳۴۸، رقم: ۲۰۷- ۴۷۹.

د لغاتو حل : (قَمِن): جدير وخليق (مناسب).

تشريح : ځيني حضرات خو وايي چي دا نهي تنزيهي ده او د ځينو خيال دی چي دا نهي تحريمي ده او قياس هم دا وايي ځکه چي الله تعالى د لمانځه د ټولو حالتونو څخه د هر حالت د ذکر د انواع څخه د هر يوه نوع ذکر کولو لپاره ټاکلي دي مثلا قيام چي د لمانځه په هيئتونو او حالتونو کي تر ټولو افضل او لوی رکن دی د قرآن کريم د ويلو لپاره مقرر دی چي په ټولو اذکارو کي تر ټولو افضل او د اعلى درجې ذکر دی نو د الله تعالى له خوا د حالت قيام يوازي د قرآن کريم ويلو لپاره مقرر کولو ورسته هيڅ ډول ګنجائش نسته چي دد ې خلاف وکړل سي او يا که څوک دد ې خلاف وکړي نو هغه به بالفعل د حرام مرتکب وي يا د هغه دا کار به مکروه وي همداسي د نورو ارکانو په باره کي هم قياس کيدای سي دا وجه ده چي رسول الله ﷺ وفرمايل زه دد ې خبري څخه منعه کړل سوی يم چي زه په رکوع او سجده کي قرآن پاک ووايم ځکه چي رکوع او سجده دد ې لپاره ټاکل سوي دي چي په هغه کي د پروردګار عالم لويي بيان سي او دعا وغوښتل سي.

په رکوع کي د لويي بيانولو مطلب دا دی چي سبحان ربي العظيم ووايي او په سجده کي د دعا غوښتلو حکم سوی دی نو پوه سه چي د دعا دوه ډولونه دي د دعا يو ډول خو دا دی چي پروردګار ته د خپل مطلب او مراد لپاره خواست وکړل سي او د دعا دوهم ډول دا دی چي د پروردګار حمد ،ثناء او تکبير وکړل سي او د هغه په ذکر کي مشغول سي ځکه چي د رحيم او کريم تعريف وغيره بيانول او د هغه په ذکر کي په کثرت سره د دعا کولو چي کوم حکم سوی دی په هغه کي دواړه ډوله دعاوي شاملي دي دد ې څخه دا معلومه سوه چي د حنفيه پر ذکر باندي اکتفاء کول او صريحا دعا څخه منعه کول هم د دعا حکم کي عيني پر ځای راوړل دي ځکه چي د الله تعالى ارشاد دی چي (من شغله ذکري عن مسئلتي اعطيته افضل ما اعطي السائلين) :کوم سړی چي زما ذکر د سوال کولو څخه منعه کړي داسي چي هغه سړی زما په ذکر کي د مشغوليدو په وجه زما څخه سوال ونه کړی نو زه به هغه سړي ته د هغه شيانو کوم چي غوښتونکو ته يې ورکوم غوره شي ورکوم، مګر شرط دا دی چي هغه سړی هغه وخت د پروردګار په ذکر کي د زړه د اخلاصه بوخت وي.

ځيني حنفيه محققين په دغه دواړو شيانو کي دا تطبيق کوي چي په نوافل کي خو ښکاره دعا غوښتل پکار دي او په فرائض کي يوازي پر تسبيحات باندي اکتفاء کول پکار دي.

﴿۸۱۴﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَالَ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کله چي ووايي

الْإِمَامُ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ فَقُوْلُوا اللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ فَإِنَّهُ مَنْ وَافَقَ

امام سمع الله لمن حمده نو تاسو اللهم ربنا لک الحمد وايا ست ځکه چي د چا قول موافق سي

قَوْلُهُ قَوْلَ الْمَلَائِكَةِ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ . متفق عليه

د ملائکو د قول سره نو دهغه تير سوي ګناهونه بخښل کيږي . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۲۸۳، رقم: ۷۹۶ ومسلم: ۱\۳۰۶، رقم: ۷۱-۴۰۹.

تشريح: ددې موضوع سره متعلق د باب القرائت په اول فصل کي په ښه طريقه وضاحت سوی دی د حديث د آخري جملې مطلب دادی چي کوم سړی دا عمل اختيار کړي نو انشاء الله د وعدې مطابق د هغه ټول صغيره ګناهونه بخښل سي د کبيره ګناهونو معامله داده چي که الله تعالی وغواړي نو هغه به هم په خپل فضل اوکرم سره و بخښي ځکه چي د هغه ذات ډېر رحيم ،کريم او غفور دی .

د قومې دعاء

﴿۸۱۵﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ اَبِيْ اَوْفٰى قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن ابي اوفي ﷺ څخه روايت دی چي کله به رسول الله ﷺ

إِذَا رَفَعَ ظَهْرَهُ مِنَ الرُّكُوعِ قَالَ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ اللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ

د رکوع څخه ملا پورته کړل نو ويل به يې سمع الله لمن حمده ...... (الله اوري څوک چي د هغه تعريف وکړي ، اې الله زموږ ربه بس يوازي ستا تعريف دی

مِلْءُ السَّمَاوَاتِ وَمِلْءُ الْأَرْضِ وَمِلْءُ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ . رواه مسلم

په ډولو آسمانو او ځمکو کي او د هغه شيانو برابر چي ته يې غواړي .) مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۳۴۶، رقم: ۲۰۲-۴۷۶.

تشريح: حنيفه وايي چي په حديث کي په ذکر سوو کلمو کي د ربنا لک الحمد څخه وروسته

کلمې يعني ملا السماوات څخه تر اخره پورې يوازې په نفل لمنځو کې ويل پکار دي په فرائضو کې نه.

﴿۸۱۶﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوسعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت دی چې کله به رسول الله ﷺ

إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ قَالَ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ مِلْءُ السَّمَاوَاتِ وَمِلْءُ

د رکوع څخه سر پورته کړی نو دا به يې ويل: اللهم ربنا ....(اې الله اې زموږ ربه بس يوازې ستا تعريف دی په ټولو آسمانو او ټولو

الْأَرْضِ وَمِلْءُ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ أَهْلَ الثَّنَاءِ وَالْمَجْدِ أَحَقُّ مَا قَالَ

مځکو کې او د هغه شي برابر چې ته يې وغواړې اې د تعريف او عظمت وړ وسته ته د هغه تعريف او تمجيد زيات وړ يې کوم چې بنده يې کوي

الْعَبْدُ وَكُلُّنَا لَكَ عَبْدٌ اللَّهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ. رواه مسلم

او موږ ټول ستا بندګان يو اې الله ستا ورکړه څوک منعه کولای نه سي او نه څوک چا ته څه ورکولای سي چې ته يې ورکول نه غواړې او نه شتمن ستا د عذاب څخه شتمني خلاصولای سي.) مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۳۴۷، رقم: ۲۰۵- ۴۷۷.

﴿۸۱۷﴾: وَعَنْ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعٍ قَالَ كُنَّا نُصَلِّيْ وَرَاءَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت رفاعة بن رافع رضي الله عنه څخه روايت دی چې موږ په نبي کريم ﷺ پسې لمونځ کوی

فَلَمَّا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرَّكْعَةِ قَالَ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ. فَقَالَ رَجُلٌ وَرَاءَهُ

کله چې رسول الله ﷺ د رکوع څخه سر را پورته کړی نو وه يې فرمايل: سمع الله لمن حمده، يو سړی چې په رسول الله ﷺ پسې يې لمونځ کوی دا يې وويل:

رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيْهِ فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ مَنِ

ربنالک الحمد حمدا کثیرا طیبا مبارکا فیه، کله چي رسول الله ﷺ د لمانځه څخه فارغ سو نو وه یې فرمایل:

الْمُتَكَلِّمُ آنِفًا؟ قَالَ أَنَا قَالَ رَأَيْتُ بِضْعَةً وَثَلَاثِيْنَ مَلَكًا يَبْتَدِرُوْنَهَا أَيُّهُمْ يَكْتُبُهَا أَوَّلُ. رواه البخاري.

دا کلمات چا وویل؟ یو سړي وویل هغه زه وم، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: ما د دیرشو څخه زیاتي ملائکي ولیدې چي ددې کلماتو په ثواب لیکلو کي یې تلوار کوئ چي څوک یې مخکي ولیکي. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\ ۲۸۴، رقم: ۷۹۹.

اَلْفَصْلُ الثاني (دوهم فصل)

د ارکانو د تعدیل حکم او د امامانو مذهب

﴿۸۱۸﴾: عَنْ أَبِيْ مَسْعُوْدِ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُجْزِئُ صَلَاةُ الرَّجُلِ حَتّٰى يُقِيْمَ ظَهْرَهُ فِي الرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ. رواه أبو داود والترمذي والنسائي وابن ماجه والدارمي وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح.

د حضرت ابو مسعود الانصاري ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: تر څو پوري چي لمونځ کونکی په رکوع او سجده کي خپله ملا سیده نه کړي نو د هغه لمونځ نه پوره کیږي. ابوداؤد، ترمذي، نسائي، ابن ماجه او دارمي. ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن صحیح دی

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\ ۵۳۳- ۵۳۴، رقم: ۸۵۵ والترمذي ۲\ ۵۱، رقم: ۲۶۵ والنسائي ۲\ ۱۸۳، رقم: ۱۰۲۶ وابن ماجه ۱\ ۲۸۲، رقم: ۷۸۰، والدارمي: ۱\ ۳۵۰، رقم: ۱۳۲۵.

تشریح : په شرح منیة المصلي کي لیکلي دي چي تعدیل ارکان یعني په رکوع او سجده کي دومره دریدل پکار دي چي د بدن ټول اندامونه خپل خپل ځای ته ورسیږي، دديې حدیث په وجه د امام شافعي رحمة الله علیه، د امام مالک رحمة الله علیه، امام احمد رحمة الله علیه او په حنفیه کي د امام ابو یوسف رحمة الله علیه په نزد فرض دی او ددې ادني مقدار د یوه تسبیح په اندازه دی د امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه او امام محمد رحمة الله علیه په نزد تعدیل د ارکانو واجب دی

او بیا په منیة المصلي کي داهم لیکلي دي چي د رکوع څخه د راپورته کیدو په وخت کي دریدل یعني قومه او په دواړو سجدو کي ناسته یعني جلسه او طمانیت دا ټول شیان هم د امام ابویوسف رحمة الله علیه په نزد فرض او د امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه او امام محمد رحمة الله علیه په نزد سنت دی د علامه ابن همام رحمة الله علیه رایه داده چي د قومې او جلسې په باره کي مناسب او غوره دادی چي دې دواړو ته واجب وویل سي ، والله اعلم.

د رکوع او سجدې تسبیحات

﴿۸۱۹﴾: وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ (فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ)

د حضرت عقبة بن عامر ﷺ څخه روایت دی چي کله سبح اسم ربک العظیم ، نازل سو

قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِجْعَلُوْهَا فِيْ رُكُوْعِكُمْ فَلَمَّا نَزَلَتْ (سَبِّحِ

نو رسول الله ﷺ وفرمایل دا په خپل رکوع کي وایاست او کوم وخت چي سبح

اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِجْعَلُوْهَا فِيْ

سُجُوْدِكُمْ . رواه أبو داود وابن ماجه والدارمي .

اسم ربک الاعلی نازل سو نو بیا یې وفرمایل : دا په خپل سجده کي وایاست . ابوداؤد، ابن ماجه او دارمي

تخریج : سنن ابي داؤد ۱\۵۴۲، رقم: ۸۶۹، وابن ماجه ۱\۲۸۶، رقم: ۸۸۷ والدارمي ۱\۳۴۱، رقم: ۱۳۰۵

﴿۸۲۰﴾: وَعَنْ عَوْنِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى

حضرت عون بن عبدالله د ابن مسعود ﷺ څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل :

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَكَعَ أَحَدُكُمْ فَقَالَ فِيْ رُكُوْعِهِ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ ثَلَاثَ

هر کله چي په تاسو کي يو څوک رکوع وکړي نو په رکوع کي دي درې ځله سبحان ربي العظيم ووايي

مَرَّاتٍ فَقَدْ تَمَّ رُكُوْعُهُ وَذٰلِكَ أَدْنَاهُ وَإِذَا سَجَدَ فَقَالَ فِيْ سُجُوْدِهِ سُبْحَانَ رَبِّيَ

او په دې سره دده رکوع پوره سوه او (دا درې ځله ويل) کمه اندازه ده، او هر کله چي سجده وکړي نو په سجده کي دي درې ځله سبحان ربي

الْأَعْلٰى ثَلَاثَ مَرَّاتٍ فَقَدْ تَمَّ سُجُوْدُهُ وَذٰلِكَ أَدْنَاهُ. رواه الترمذي وأبو داود ابن ماجه. وقال الترمذي ليس إسناده بمتصل لأن عونا لم يلق ابن مسعود.

الاعلى ووايي او په دې سره دده سجده پوره سوه او دا ادنا درجه ده .ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجه

تخريج: سنن ابي داؤد ١\ ٥٥٠، رقم: ٨٨٦، والترمذي ٢\ ٤٦-٤٧، رقم: ٢٦١ وابن ماجه ١\ ٢٨٧، ٢٨٨، رقم: ٨٩٠.

تشريح: په رکوع او سجدو کي دا تسبيحات درې واره ويل د کامل سنت ادنى درجه ده کنه اصل سنت په يو وار ادا کيږي او د کمال اوسط درجه پنځه واره او اعلى درجه اووه واره ويل دي او د انتهايي کمال څه حد نسته اګر که ځيني حضراتو لس واره ويلي دي او ځينو حضراتو خو تقريبا د قيام د مقدار پوري ويلي دي مګر په هر صورت پر امام باندي د مقتديانو رعايت کول لازم دي.

په فني توګه په دې خبره هم پوه سئ چي حديث منقطع مستدل جوړول غلط نه دی بلکه په اتفاق سره د ټولو په نزد د فضائل اعمال په اړه پر حديث منقطع باندي هم عمل کول جائز دي.

﴿۸۲۱﴾: وَعَنْ حُذَيْفَةَ أَنَّهُ صَلّٰى مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ يَقُوْلُ فِيْ

د حضرت حذيفة رضي الله عنه څخه روايت دی چي ده د رسول الله ﷺ سره لمونځ وکړ او ده مبارک به ويل په

رُكُوْعِهِ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ وَفِيْ سُجُوْدِهِ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلٰى وَمَا أَتٰى عَلٰى آيَةِ

رکوع کي سبحان ربي العظيم او په سجده کي به يې سبحان ربي الاعلى ويل او کله چي به يو آيت په قرآئت کي راغلی

رَحْمَةٍ إِلاَّ وَقَفَ وَسَأَلَ وَمَا أَتىٰ عَلٰى آيَةِ عَذَابٍ إِلاَّ وَقَفَ وَتَعَوَّذَ. رواه الترمذي وأبو داود والدارمي وروى النسائي وابن ماجه إلى قوله الأعلى . وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح .

د رحمت نو رسول الله ﷺ به ودريدى او دعاء به يې غوښتل او كله چې به د عذاب يو آيت راغلى نو دريدى به او پناه به يې غوښتل. ترمذي، ابوداؤد، دارمي، نسائي او ابن ماجه

تخريج: سنن الترمذي ۲\ ۴۸، رقم: ۲۶۲ وابوداؤد ۱\ ۵۴۳، رقم: ۸۷۱، والدارمي ۱\ ۳۴۱، رقم: ۱۳۰۶، والنسائي ۲\ ۱۹۰، رقم: ۱۰۴۵ وابن ماجه ۱\ ۲۸۷، رقم: ۸۸۸.

تشريح: علماء حنفيه او علماء مالكيه دا حديث د رسول الله ﷺ پر نفل لمنځو باندي محمول كوي ځكه چي ددې حضراتو په نزد په فرض لمانځه كي د قرائت په مينځ كي دعا غوښتل او پناه غوښتل جائز نه دي بلكه دا حديث پر جواز باندي حمل كول هم ممكن دى ځكه چي كيداى سي چي رسول الله ﷺ كله د بيان جواز په خاطر په فرض لمانځه كي هم داسي كړي وي. شيخ جزري رحمة الله عليه ليكلي دي چي دا حديث مسلم نقل كړى دى نو د مشكواة مصنف ته دا حديث د دوهم فصل پرځاى په اول فصل كي نقل كول پكار وه.

اَلْفَصْلُ الثالث (دريم فصل)

﴿۸۲۲﴾: عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قُمْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عوف بن مالك رضي الله عنه څخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ سره لمونځ وكړ،

فَلَمَّا رَكَعَ مَكَثَ قَدْرَ سُوْرَةِ الْبَقَرَةِ وَيَقُوْلُ فِيْ رُكُوْعِهِ سُبْحَانَ ذِيْ الْجَبَرُوْتِ وَالْمَلَكُوْتِ وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْعَظَمَةِ . رواه النسائي .

كله چي رسول الله ﷺ ركوع وكړه نو په ركوع كي د سورة بقرة د ويلو په اندازه ودريدى، رسول الله ﷺ به په ركوع كي سبحان ذي الجبروت...). (دا كيداى سي چي د تهجد يا لمر تندره نيولو لمونځ وي). نسائي

تخريج: سنن النسائي: ۲\۱۹۱، رقم: ۱۰۴۸.

تشريح : دا د فرض لمانځه ذکر نه دی بلکه د ځينو حضراتو په نزد د قول مطابق دا د تهجد لمونځ وو او ځيني حضرات وايي چي دا د لمر تندره نيولو لمونځ يعني نماز کسوف وو.

﴿۸۲۳﴾: وَعَنِ ابْنِ جُبَيْرٍ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسَ بْنِ مَالِكٍ يَقُوْلُ مَا صَلَّيْتُ وَرَاءَ

د حضرت ابن جبير رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د انس بن مالک رضي الله عنه څخه واوريدل چي ويل يې ما لمونځ نه دی کړی تر شا

أَحَدٍ بَعْدَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَشْبَهَ صَلاَةً بِصَلاَةِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى

د هيچا وروسته د رسول الله ﷺ څخه چي د هغه لمونځ د رسول الله ﷺ د لمانځه سره زيات ورته وي

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ هٰذَا الْفَتٰى يَعْنِيْ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيْزِ قَالَ قَالَ فَحَزَرْنَا

پرته ددې زلمي څخه (يعني عمر بن عبد العزيز)، ابن جبير وايي انس بن مالک وويل موږ اندازه ولګول

رُكُوْعَهُ عَشْرَ تَسْبِيْحَاتٍ وَّسُجُوْدَهُ عَشْرَ تَسْبِيْحَاتٍ . رواه أبو داود والنسائي

ددې زلمي د رکوع لس ځله د سبحان الله ويلو اندازه او د سجدې هم دغه اندازه ولګول، ابوداؤد او نسائي.

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\۵۵۱، رقم: ۸۸۸ والنسائي: ۲\ ۲۲۴، ۲۲۵، رقم: ۱۱۳۴.

تشريح : مطلب دادی چي په څومره وخت کي هغوی رکوع يا سجده کول موږ به لس تسبيحات ويل نو هغوی به هم لس يا کم او زيات تسبيحات ويل.

﴿۸۲۴﴾: وَعَنْ شَقِيْقٍ قَالَ إِنَّ حُذَيْفَةَ رَأٰى رَجُلاً لاَ يُتِمُّ رُكُوْعَهُ وَلاَ سُجُوْدَهُ

د حضرت شقيق څخه روايت دی چي حذيفه رضي الله عنه يو سړی وليدی چي رکوع او سجده يې په پوره ډول سره نه کول،

فَلَمَّا قَضٰى صَلاَتَهُ دَعَاهُ فَقَالَ لَهُ حُذَيْفَةُ مَا صَلَّيْتَ . قَالَ وَأَحْسَبُهُ قَالَ وَلَوْ

کله چي هغه لمونځ وکړ نو حضرت حذيفه رضي الله عنه را وغوښتی او ورته وه يې ويل: تا لمونځ نه

وکړ، د راوي بيان دی چي زما دا خيال دی چي حذيفه هغه ته دا هم وويل :

مُتَّ مُتَّ عَلَىٰ غَيْرِ الْفِطْرَةِ الَّتِيْ فَطَرَ اللّٰهُ مُحَمَّدًا ﷺ. رواه البخاري

که ته په دې حالت کي مړ سې چي داسي لمونځ کوې نو د هغه فطرت پر طريقه مړ نه سوې پر کومه چي الله جلّ جلاله محمد ﷺ پيدا کړی دی. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ٢\٢٧٤ - ٢٧٥، رقم: ٧٩٣.

﴿٨٢٥﴾: وَعَنْ أَبِيْ قَتَادَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْوَأُ

د حضرت ابو قتادة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : بدترين

النَّاسِ سَرِقَةً الَّذِيْ يَسْرِقُ مِنْ صَلَاتِهِ. قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَكَيْفَ يُسْرِقُ

غله هغه دي چي په لمانځه کي غلا کوي، صحابه کرامو پوښتنه وکړه اې د الله رسوله ! څنګه غلا کيږي

مِنْ صَلَاتِهِ؟ قَالَ لَا يَتِمُّ رُكُوْعَهَا وَلَا سُجُوْدَهَا. رواه أحمد.

په لمانځه کي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل چي رکوع او سجده پوره ونه وکړل سي. احمد

تخريج: الامام احمد في مسنده : ٥\٣١٠.

تشريح: د مال غلا کونکی سړی څخه د لمانځه غلا کونکي سړي ځکه خراب وي چي د مال غلا کونکی کم از کم د غلا د مال څخه په دنيا کي خوګټه اخلي او بيا دا چي د مالک د معاف کولو وروسته يا د سزا په توګه د اسلامي قانون سره سم خپل لاس پريکولو سره د آخرت د مواخذې څخه و ژغورل سي، مګر ددې پرخلاف د لمانځه غلا کونکی سړی د ثواب په اړه د خپل نفس حق وهي او د هغه په بدله کي د آخرت عذاب اخلي مګر ددې تاوانونو او خطرو څخه پرته د هغه لاس ته نور هيڅ نه ورځي.

﴿٨٢٦﴾: وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ مُرَّةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا

د حضرت نعمان بن مرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

تَرَوْنَ فِي الشَّارِبِ وَالزَّانِيْ وَالسَّارِقِ ؟ وَذٰلِكَ قَبْلَ أَنْ تُنْزَلَ فِيْهِمُ الْحُدُوْدُ

تاسو د شرابي، زناكار، او غله په اړه څه فكر كوئ؟ دا د هغه وخت پېښه ده چي حدود نه وه نازل سوي

قَالُوْا اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ . قَالَ هُنَّ فَوَاحِشُ وَفِيْهِنَّ عُقُوْبَةٌ وَأَسْوَأُ السَّرِقَةِ

صحابه كرامو عرض وكړ الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ ښه پوهيږي. رسول الله ﷺ وفرمايل: دا لوی گناهونه دي او سزا لري خو بدترينه غلا

اَلَّذِيْ يَسْرِقُ مِنْ صَلاَتِهٖ قَالُوْا وَكَيْفَ يَسْرِقُ مِنْ صَلاَتِهٖ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ؟ قَالَ

هغه ده چي انسان يې په خپل لمانځه كي كوي، صحابوو عرض وكړ اې د الله رسوله ! د لمانځه غلا څنگه كيږي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل:

لاَ يُتِمُّ رُكُوْعَهَا وَلاَ سُجُوْدَهَا . رواه مالك وأحمد وروى الدارمي نحوه .

چي ركوع او سجده پوره نه كوي. مالك، احمد او دارمي.

تخريج: الامام مالک في الموطا ۱\ ۱۶۷، رقم: ۷۲ والامام احمد في مسنده ۳\ ۵۶ والدارمي: ۱\ ۳۵۰، رقم: ۱۳۲۸.

تشريح: : په نقل سوي روايت كي (تَرَوْنَ) د تا په زور سره معنی يې داده چي تاسو څه عقيده لرئ، مگر په يوه نسخه كي د تا په پيښ سره هم دی چي د هغه معنی داده چي ستا څه خيال دی، د راوي په الفاظو كي دا پوښتنه د حدود نازليدو مخكي وه، وجه سوال ښكاره كوي چي رسول الله ﷺ دا پوښتنه د صحابه كرامو څخه هغه وخت كړې وه كله چي د دغه كارو خرابي صحابه كرامو ته په ښه توگه معلومه نه وه هر كله چي د دې بدو كارو حدود و ټاكل سول نو بيا د ټولو په ذهن كي د دې خرابي پخه سوه او په هغه كي څه شک او شبه پاته نه سوه.

==========

بَابُ السُّجُوْدِ وَفَضْلِهِ

د سجدې كيفيت او د هغې دفضيلت بيان

پر مځكه سر ايښودل او عاجزي ښكاره كول د سجدې لغوي معنى ده، د شريعت په اصطلاح كي سجده دې ته وايي چي د الله تعالى په مخكي د خپل عبوديت او كمال عجز او انكسارۍ د اظهار په توګه بنده خپل سر پر مځكه كښېږدي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړى فصل)

د سجدې اندامونه

﴿۸۲۷﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُمِرْتُ أَنْ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ما ته حكم سوى دى چي

اَسْجُدَ عَلَى سَبْعَةِ اَعْظُمٍ عَلَى الْجَبْهَةِ وَالْيَدَيْنِ وَالرُّكْبَتَيْنِ وَاَطْرَافِ

سجده وكړم پر اوو هډوكو، په تندي په دواړو لاسونو، په زنګنو، په پنجو

الْقَدَمَيْنِ وَلَا نَكْفِتَ الثِّيَابَ وَالشَّعْرَ. متفق عليه

د پښو او دا حكم راكړل سوى دى چي په لمانځه كي نه جامې را ټولي كړو او نه ورېښتان سم كړو. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۲۹۷، رقم: ۸۱۲ ومسلم: ۱\۳۵۴، رقم: ۲۳۰-۴۹۰.

د لغاتو حل: (نَكف): نجمع ونضم (راټولول).

تشريح ددې حديث په ذريعه ښودل كيږي چي په سجده كي د بدن كوم كوم اندامونه پر مځكه اېښودل پكار دي نو حكم سوى دى چي د سجدې په وخت كي تندى، دواړه لاسونه، دواړه زنګنونه او د دواړو پښو پنجې پر مځكه لګول پكار دي.

د اكثرو امامانو مذهب دا دى چي سجده په پزه او تندي دواړو سره كول پكار ده پر ته ددغه دواړو پر مځكه اېښودو سره سجده جائز نه ده مګر امام اعظم ابوحنيفة رحمة الله عليه او صاحبين فرمايي كه صرف د تندي په اېښودو سره سجده وكړل سي نو جائز ده، البته د يو عذر

پرته داسي کول مکروه دي، د امام شافعي رحمة الله علیه او صاحبینو په نزد صرف د پزي پر مځکه اېښودو سره سجده کول جائز نه ده هو که یو داسي عذر وي چي تندی پر مځکه اېښودل ممکن نه وي نو بیا جائز دي، په دې اړه د امام اعظم ابو حنیفة رحمة الله علیه دوه قوله دي یو قول دادی چي دا جائز نه دي او دوهم قول دادی چي جائز دي مګر د کراهیت سره.

په سجده کي دواړي پښې پر مځکه اېښودل ضروري دي که یو سړی په سجده کي دواړي پښي د مځکي څخه پورته کړي نو د هغه لمونځ فاسد کېږي او که یوه پښه پورته کړي نو سجده مکروه کېږي په سجده کي د پښو ګوتي د قبلې خوا ته کول فرض دي که څه هم یوه ګوته کښېږدي که چیري ګوته د قبلې خوا ته نه وي نو جائز به نه وي.

په درمختار کي ذکر دي چي په تندي او دواړو پښو سره سجده کول فرض ده او په دواړو پښو کي کم تر کمه یوه ګوته پر مځکه اېښودل شرط دي او لاسونه او زنګنونه پر مځکه اېښودل سنت دي، د حنیفه او شافعیه مذهب دادی.

په سجده کي د وېښتانو او جامو لیري کولو او راټولولو څخه ممانعت

د حدیث د آخري جملې مطلب دادی چي سجدې د تللو په وخت کي ورېښتان او جامه په دې غرض سره راټولول چي هغه په خاورو نسي منعه دي، هسي هم ددې مقصد څخه پرته د جامې او ورېښتانو راټولول یا لمن وغیره تړل ممنوع دي.

د ورېښتانو راټولولو مطلب دادی چي د سر ورېښتان په یو ځای کولو سره په لنګوټه، خولۍ وغیره کي دننه کړل سي چي په سجده کي زړېدلي نه وي ددې څخه هم منعه کړل سوې ده، ددې مسئله داده چي ورېښتان همداسي پرېښودل پکار چي هغه هم سجده وکړي.

په سجده کي د اطمینان حکم

﴿۸۲۸﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اعْتَدِلُوا فِي السُّجُوْدِ وَلَا يَبْسُطْ أَحَدُكُمْ ذِرَاعَيْهِ انْبِسَاطَ الْكَلْبِ. متفق علیه

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: تاسو په سجده کي اعتدال کوئ (یعني په اطمینان سره سجده کوئ) او په تاسو کي دي هیڅوک د سجدې په حالت کي د سپي په ډول څنګلي نه غوړوي. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۲\۳۰۱، رقم: ۸۲۲ ومسلم: ۱\۳۵۵، رقم: ۲۲۳-۴۹۳.

تشريح : په ښکاره خو دا معلوميږي چي په سجده کي د اعتدال څخه مراد دادی چي په سجده کي دي په اطمينان سره تم سي او په سجده کي چي کوم تسبيحات ويل کيږئ هغه دي په اطمينان سره وويل سي،

علامه طيبي رحمة الله عليه فرمايي چي په سجده کي د اعتدال څخه مراد دادی چي ملا دي هواره وساتي، دواړه لاسونه دي پر مځکه کښېږدي څنګلي دي د مځکي څخه پورته او نس دي د زنګنونو څخه بيل وساتي.

په سجده کي د لاسو او څنګلو ايښودو طريقه

﴿۸۲۹﴾: وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَجَدْتَ فَضَعْ كَفَّيْكَ وَارْفَعْ مِرْفَقَيْكَ . رواه مسلم

د حضرت براء بن عازب رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي تاسو سجده کوئ نو پر مځکه ورغوي کښېږدئ او څنګلي پورته لرئ. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۳۵۶، رقم: ۲۳۴- ۴۹۴.

تشريح : په سجده کي د لاسونو ايښودو طريقه داده چي د دواړو لاسونو ورغوي پر مځکه د غوږو مخته پراته وي، ګوتي په خپلو کي يو ځای وي او دا چي لاسونه خلاص وي په يو جامه وغيره کي د هغه د ننه پټول مکروه دي.

د څنګلو پورته ساتلو دوې معناوي کيدای سي : يو خو دا چي څنګلي د مځکي څخه پورته وي يا دا چي د دواړو بغلونو څخه پورته وي، بهر صورت دا حکم په خاصه توګه سره د نارينو لپاره دی ښځي په دې حکم کي شاملي نه دي ځکه چي ښځو ته په سجده کي د څنګلو پر مځکه د بغلونو سره د يو ځای ساتلو حکم دی په دې توګه د بدن څرګندوالی نه کيږي او پرده په ښه توګه وي.

﴿۸۳۰﴾: وَعَنْ مَيْمُونَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَجَدَ جَافَى بَيْنَ يَدَيْهِ حَتّٰى لَوْ أَنَّ بَهْمَةً أَرَادَتْ أَنْ تَمُرَّ تَحْتَ يَدَيْهِ مَرَّتْ . هٰذَا لفظ أبي داود كما صرح في شرح السنة بإسناده . ولمسلم بمعناه قالت كان النبي ﷺ إذا سجد لوشاءت بهمة أن تمر بين يديه لمرت (متفق عليه)

د حضرت میمونة (رض) څخه روایت دی چي کله به رسول الله ﷺ سجده کول نو خپل لاسونه به يې بيل ساتل تر دې که مرغومي په منځ کي تيريدل غوښتل نو تيريداى به سو. دا الفاظ دا بوداؤد دي لکه څنګه چي امام بغوي په شرح السنة کي په خپل سند سره بیان کړي دی د مسلم الفاظ دادي کله چي به يې سجده کول نو مرغومي که غوښتل نو د رسول الله ﷺ د دواړو لاسو په منځ کي تیرېدای سو. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): سنن ابي داؤد ۱\ ۵۵۴، رقم: ۸۹۸، البغوي في شرح السنة ۳\ ۱۴۵،۱۴۶، رقم: ۶۵۲.

تشريح: د لاسونو په منځ کي د فرق ساتلو مطلب دادی چي رسول الله ﷺ به په سجده کي خپل دواړه بازوګان د بغل څخه او نس د ورانه څخه بيل ساتی.

په حديث کي د مرغومي لپاره د بهمه لفظ استعمال سوی دی، بهمه هغه مرغومي ته وايي چي پر خپل پښنو باندي ګرځېدل يې پيل کړي وي او کله چي پيدا سي نو هغه ته سخله وايي.

او د (هذا لفظ ابوداؤد) څخه د مشکوة شريف د مصنف مقصد پر صاحب د مصابيح باندي اعتراض کول دي چي دا حديث په دې الفاظو سره د ابوداؤد دی، چي په لومړي فصل کي يې نقل کول نه وو پکار ځکه چي په لومړي فصل کي يوازي د شيخينو يعني امام بخاري او امام مسلم روايت سوي حديثونه نقل کيږي.

﴿۸۳۱﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ مَالِكٍ ابْنِ بُجَيْنَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَجَدَ فَرَّجَ بَيْنَ يَدَيْهِ حَتَّى يَبْدُوَ بَيَاضُ إِبْطَيْهِ. متفق عليه

د حضرت عبد الله بن مالک بجينة څخه روايت دی چي کله به رسول الله ﷺ سجده کول نو دواړه لاسونه به يې خلاص ساتل تردې چي د رسول الله ﷺ د بغلو سپين والی به معلوميدی

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱\ ۴۹۶، رقم: ۳۹۰، ومسلم ۱\ ۳۵۶، رقم: ۲۳۵- ۴۹۵.

تشريح: بحينه د عبد الله د مور نوم دی او مالک د هغه د پلار نوم دی، دا وجه ده چي د مالک او ابن په مينځ کي الف په پاته ساتلو سره مالک په تنوين سره ويل کيږي چي خلکو ته دا غلط فهمي ونسي چي مالک د بحينه د زوی نوم دی بلکه په دې پوه سئ چي د بحينه زوی عبد الله دی او ابن مالک او ابن بحينه دواړه نسبتونه د هغه دي.

په هر حال په څرګنده دا معلوميږي چي عبد الله رضي الله عنه رسول الله ﷺ پر لمونځ کولو ليدلی وو

او هغه وخت د رسول الله ﷺ پر بدن مبارک جامه نه وه یا د هغه مراد به دا وي چي د رسول الله ﷺ بغل معلوميدی او د بغلو سپين والی یې ځکه ویلی دی چي د رسول الله ﷺ بغل مبارک بالکل سپين او پاک وو لکه څرنګه چي د رسول الله ﷺ ټول بدن مبارک د هنداري په ډول سپين او پاک وو ، د نورو خلکو په ډول د رسول الله ﷺ بغلو نه تور او خيرن نه وه .

په سجده کي د رسول الله ﷺ دعاء

﴿۸۳۲﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ فِي سُجُودِهِ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي كُلَّهُ دِقَّهُ وَجِلَّهُ وَاَوَّلَهُ وَآخِرَهُ وَعَلَانِيَتَهُ وَسِرَّهُ. رواه مسلم

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به په سجده کي دا ویل : (اې الله زما ګناهونه و بخښې ټول کوچني او لوی ، لومړي او وروستني څرګند او پټ .)مسلم

تخريج : صحيح مسلم: ۱\ ۳۵۰، رقم: ۲۱۶- ۴۸۳.

تشريح : مطلب دا دی چي رسول الله ﷺ به کله کله په سجده کي دا دعاء هم کول ، بيا دلته دا احتمال هم سته چي رسول الله ﷺ به دا دعاء د تسبيح يعني سبحان ربي العظيم سره ويل ، يا پرته د تسبيح څخه يوازي پر دغه دعاء به یې اکتفاء کول .

د پټو ګناهونو څخه مراد هغه ګناهونه دي چي د انسان د ليدو څخه پټ وي کنه الله تعالى ته خو پټ او څرګند ګناهونه يو ډول څرګند وي ، يعلم السر واخفی ، يعني الله تعالى خو د پټ څخه پټ شيانو څخه هم خبر دی .

﴿۸۳۳﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ فَقَدْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةً

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چي يوه شپه ما رسول الله ﷺ په بستره کي ونه ليدی

مِنَ الْفِرَاشِ فَالْتَمَسْتُهُ فَوَقَعَتْ يَدِي عَلَى بَطْنِ قَدَمَيْهِ وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ وَهُمَا

نو ما رسول الله ﷺ ولټوی نو زما لاس ونه د رسول الله ﷺ پر قدمو پريوتل دا وخت رسول الله ﷺ په سجده کي وو او دواړي پښي يې

مَنْصُوبَتَانِ وَهُوَ يَقُولُ اللّٰهُمَّ أَعُوذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ

ولاړي وې او رسول الله ﷺ په سجده کي دا ويل : (اې الله زه ستا د رضا مندی په ذريعه ستا د

غضب څخه پناه غواړم او ستا د معافي ورکولو په ذريعه

عُقُوبَتِكَ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْكَ لاَ أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ .

رواه مسلم

ستا د عذاب څخه او زه پناه غواړم ستا د عذاب څخه د خلاصون دپاره ستا په پناه کي راځم او زه ستا تعريف شميرلای نه سم ته همغسي يې لکه څرنګه چي تا خپل تعريف فرمايلی دی .) مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱\ ۳۵۲، رقم: ۲۲۲- ۴۸۶.

تشريح: د دې حديث څخه معلومه سوه چي ښځي ته په لاس ور وړلو سره د سړي اودس نه ماتيږي لکه څرنګه چي د حنفيه مذهب دی چي د ښځي مس کول اودس ماتونکی نه دی .

د (لا احصی ثناء عليک) مطلب دادی چي اې پروردګاره ! په ما کي دومره توان او طاقت نسته چي ستا داسي تعريف وکړم لکه څرنګه چي ستا د شان وړ دی ته داسي يې لکه څرنګه چي تا خپل تعريف داسي کړی دی :

فَلِلَّهِ الْحَمْدُ رَبِّ السَّمَاوَاتِ وَرَبِّ الْأَرْضِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ٣٦ وَلَهُ الْكِبْرِيَاءُ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ٣٧

ژباړه : ټول تعريفونه الله تعالی لره چي د آسمانونو، مځکو او جهانو پروردګار دی او په مځکي او آسمانو کي د هغه لپاره لويي او بزرګي ده او هغه غالب او حکيم ذات دی .

سجده پروردګار ته د نژدې کيدو ذريعه ده

﴿۸۳۴﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقْرَبُ مَا يَكُوْنُ الْعَبْدُ مِنْ رَبِّهِ وَهُوَ سَاجِدٌ فَأَكْثِرُوا الدُّعَاءَ . رواه مسلم

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د بنده الله جل جلاله ته ډير نژدې کيدل هغه وخت وي چي هغه په سجده کي وي له دې کبله تاسو په سجده کي زياته دعاء کوئ .مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱\ ۳۵۰، رقم: ۲۱۵- ۴۸۲.

تشريح: هسي خو الله تعالی په هر وخت کي او په هر ځای کي خپلو بندګانو ته نژدې دی مګر تر ټولو زيات نژدې هغه وخت وي کله چي بنده په سجده کي وي يعني د سجدې په حالت کي

الله تعالی د بنده څخه راضي کیږئ او دعاء یې قبلوي ځکه نو رسول الله ﷺ حکم کړی دی چې په سجدې کې زیاتې دعاوې غوښتل پکار دي چې د قبولیت درجې ته ورسیږي.

د سجده تلاوت په وخت کې د شیطان ژړا

﴿۸۳۵﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَرَأَ ابْنُ آدَمَ السَّجْدَةَ

د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله چې انسان د سجدې آیت وایي

فَسَجَدَ اعْتَزَلَ الشَّيْطَانُ يَبْكِي يَقُولُ يَا وَيْلَتَى أُمِرَ ابْنُ آدَمَ بِالسُّجُودِ

او بیا سجده کوي نو شیطان په ژړا تښتي او وایي افسوس! د آدم زوی ته د سجدې حکم وسو

فَسَجَدَ فَلَهُ الْجَنَّةُ وَأُمِرْتُ بِالسُّجُودِ فَأَبَيْتُ فَلِي النَّارُ. رواه مسلم

نو هغه سجده وکړه نو د هغه لپاره جنت دی او ما ته د سجدې حکم وسو ما انکار وکړ نو زما لپاره د دوږخ اور دی. مسلم

تخریج: صحیح مسلم: ۱\۸۷، رقم: ۱۳۳ – ۸۱.

ډیرې سجدې د رسول الله ﷺ د ملګرتیا ذریعه ده

﴿۸۳۶﴾: وَعَنْ رَبِيعَةَ ابْنِ كَعْبٍ قَالَ كُنْتُ أَبِيتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

د حضرت ربیعه[1] بن کعب رضي الله عنه څخه روایت دی چې زه به د شپې د رسول الله ﷺ په خدمت کې وم

وَسَلَّمَ فَأَتَيْتُهُ بِوَضُوئِهِ وَحَاجَتِهِ فَقَالَ لِي سَلْ فَقُلْتُ أَسْأَلُكَ مُرَافَقَتَكَ فِي

رسول الله ﷺ ته مې د اوداسه اوبه د کوم شي (مسواک او داسې نور) چې به ضرورت وو هغه به مې ورکول، یوه ورځ رسول الله ﷺ ما ته وفرمایل د دین او دنیا کوم خیر چې غواړې هغه وغواړه ما عرض وکړ اې د الله رسوله! زه خو ستا ملګرتیا غواړم په

الْجَنَّةِ قَالَ أَوْ غَيْرَ ذَلِكَ قُلْتُ هُوَ ذَاكَ قَالَ فَأَعِنِّي عَلَى نَفْسِكَ بِكَثْرَةِ السُّجُودِ.

رواه مسلم

---

۱ – د نوموړي نوم ربیعه ابن کعب او کنیت یې ابو فراس دی، په سفر او حضر کې به د رسول الله ﷺ سره ملګری وو، په کال (۶۳هـ) کې وفات سوی دی.

جنت کي، رسول الله ﷺ وفرمايل د دې پرته نور څه هم غواړې ؟ ما عرض وکړ بس هم دغه غواړم، رسول الله ﷺ راته وفرمايل : ته په زياتو سجدو کولو سره د خپل نفس پر خلاف زما مرسته کوه .مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱۱/ ۳۵۳، رقم: ۲۲۶- ۴۸۹.

تشريح : حضرت ربيعه ﷛ به د رسول الله ﷺ په خدمت کي اوسيدی او د رسول الله ﷺ پر اړتياوو وړاندي کولو مامور وو ځکه ددې خدمت او جذبې څخه د طاعت او فرمانبرداری په صله کي رسول الله ﷺ هغه ته وفرمايل چي ته ددين او دنيا کوم خير غواړې نو وه يې غواړه، ظاهره ده چي يو وفادار خادم او ځان قربانونکی غلام د دې څخه زيات بله څه غوښتنه لري چي د هغه هغه بادار چي د هغه په خدمت کي ددين او دنيا عظيم سعادتونو سره نازولی دی په جنت کي هم د هغه د ملګرتيا سعادت ورته تر لاسه سي نو هغه وويل : اې الله رسوله ! زما تر ټولو لوی ارمان او لوی خواهش دادی چي څرنګه تاسو ما ته په خپل قدمونو کي ځای راکړی دی همداسي د جنت د نيک بختۍ څخه په ډکه فضا کي هم ستاسو د رفاقت شرف راته تر لاسه سي، مخکي خو رسول الله ﷺ وغوښتل چي ددې څخه پرته نور څه هم وغواړه مګر کله چي رسول الله ﷺ وليدل چي هغه پر دغه خواهش اصرار کوي نو ورته يې وفرمايل : ددغه لوی سعادت تر لاسه کولو لپاره ته د زياتو سجدو په ذريعه د خپل ذات سره زما مرسته کوه ، يعني که ستا دا اصرار دی او ددې خواهش پوره والی غواړې نو بيا راسه چي زه تا ته يو داسي لار وښيم چي تا به منزل مقصود ته ورسوي او هغه دا چي کله چي ته لمونځ کوې او د الله تعالی په دربار کي په زياتو سجدو کولو سره د خپل عجز او بې چارۍ اظهار کوې او په سجده کي دعاء کوې ، او دېخوا ته زه به هم دعاء کوم او ستا ددغه خواهش د پوره کېدو لپاره به هڅه کوم مګر شرط دادی چي زه تا ته څه وښيم په هغه پوره پوره عمل کوه چي د سعادت د لار تر لاسه کولو تدبير دادی او انشاء الله ددې څخه وروسته به ته خپل منزل مقصود ته ورسيږې

فتح قفل او چه کليد است اې عزيز جنبش از دست تو خواهند نيز

يعني اې زما ګرانه ! که څه هم قلف په کيلي سره خلاصيږي مګر ستا د لاس حرکت هم ضروري دی.

د دې حديث څخه معلومه سوه چي د بزرګانو خدمت کول او د هغوی رضا تر لاسه کول په حقيقت کي د سعادت او فضيلت د تر لاسه کولو ذريعه ده ، په خاصه توګه د رسول الله ﷺ رضا مد نظر ساتل ددين او دنيا تر ټولو لوی سعادت او خير دی.

په دې حديث کې پر دې خبره هم خبرداری دی چې طالب صادق ته پکار ده چې د هغه مطلوب يوازې د آخرت نعمتونه وي چې هغه ته دوام او بقاء تر لاسه ده ، د دنيا د لذتونو خوا ته دې نظر نه کوي چې فاني او ختمېدونکي دي ، مګر شرط دا هم دی چې په بندګۍ کې د خپل طرف څخه څه قصور نه وي ځکه چې محض آرزو او خواهش منزل مقصود ته سړی نسي رسولای بلکه په دې کې د خپل خوا څخه هڅه او سعي ته هم دخل دی لکه څرنګه چې بزرګانو فرمايلي دي چې د يو آرزو او خواهش لپاره هڅه او سعي نه کول بلکه بيکاره ناسته پخه او سپنه پرې کول دي .

کارکن کار بگذر از گفتار   کاندرين راه کار دارد کار

﴿۸۳۷﴾: وَعَنْ مَعْدَانَ ابْنِ طَلْحَةَ قَالَ لَقِيتُ ثَوْبَانَ مَوْلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى

د حضرت معدان بن طلحه رضي الله عنه څخه روايت دی چې ما د رسول الله ﷺ د آزاد کړل سوي غلام ثوبان رضي الله عنه سره ملاقات وکړ

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ أَخْبِرْنِي بِعَمَلٍ أَعْمَلُهُ يُدْخِلُنِي اللّٰهُ بِهِ الْجَنَّةَ فَسَكَتَ

او هغه ته مې وويل: ما ته يو داسې عمل وښيه چې زه د هغه په کولو سره الله جل جلاله ما په جنت کې داخل کړي هغه پټه خوله سو ،

ثُمَّ سَأَلْتُهُ فَسَكَتَ ثُمَّ سَأَلْتُهُ الثَّالِثَةَ فَقَالَ سَأَلْتُ عَنْ ذٰلِكَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى

ما بيا پوښتنه وکړه بيا هغه پټه خوله پاته وو ، په دريم ځل چې ما پوښتنه وکړه نو هغه وويل ما هم د رسول الله ﷺ څخه دا پوښتنه کړې وه

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ عَلَيْكَ بِكَثْرَةِ السُّجُودِ لِلّٰهِ فَإِنَّكَ لَا تَسْجُدُ لِلّٰهِ سَجْدَةً

د هغه په جواب کې رسول الله ﷺ راته وفرمايل : ته د الله جل جلاله لپاره زياتې سجدې پر ځان لازمي کړه (يعني زياتې سجدې کوه)

إِلَّا رَفَعَكَ اللّٰهُ بِهَا دَرَجَةً وَحَطَّ عَنْكَ بِهَا خَطِيئَةً ، قَالَ مَعْدَانُ ثُمَّ لَقِيتُ أَبَا

ځکه چې ته د الله جل جلاله لپاره کومه سجده کوې الله جل جلاله به د هغې په بدله کې ستا مرتبې پورته کوي او د دې په سبب به ستا ګناهونه ليرې کوي ، معدان وايي د دې وروسته زه

الدَّرْدَاءِ فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ لِي مِثْلَ مَا قَالَ لِي ثَوْبَانُ. رواه مسلم

د ابودرداء رضي الله عنه سره يو ځای سوم د هغه څخه مي هم دغه پوښتنه وکړه نو هغه هم دغه جواب راکړ كوم چي ثوبان راکړی وو. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۳۵۳، رقم: ۲۲۵-۴۸۸.

تشريح: د معدان رحمة الله عليه پر دوه واره سوال كولو باندي ثوبان ﷺ ځكه جواب نه وركړ ي د پوښتنه كونكي شوق زيات سي او د شوق په اور زياتېدو سره د جواب د ارزښت او عظمت احساس وكړل سي او عملي قوت يې پوره بيدار سي، د سجدو څخه مراد خاص سجدې نه دي بلكه د لمانځه سجدې هم مراد كيدای سي او سجده تلاوت او سجده شكر هم مراد كيدای سي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د سجدې كولو طريقه

﴿۸۳۸﴾: عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا

د حضرت وائل بن حجر رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما رسول الله ﷺ وليدی كله چي به هغه

سَجَدَ وَضَعَ رُكْبَتَيْهِ قَبْلَ يَدَيْهِ وَإِذَا نَهَضَ رَفَعَ يَدَيْهِ قَبْلَ رُكْبَتَيْهِ. رواه أبو داود والترمذي والنسائي وابن ماجه والدارمي.

سجده كول نو د لاسونو څخه وړاندي به يې دواړي ګونډې پر مځكه لګولې او كله چي به د سجدې څخه راپورته كيدی نو مخكي به يې لاسونه را پورته كول. نسائي، ابن ماجه، دارمي.

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\۵۲۴، رقم: ۸۳۸، والترمذي ۲\۵٦ رقم: ۲٦۸ والنسائي ۲\۲۰۵، رقم: ۱۰۸۵، وابن ماجه ۱\۲۸٦، رقم: ۸۸۲ والدارمي ۲\۳۴۷، رقم: ۱۳۲۰.

تشريح: د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه او امام شافعي رحمة الله عليه مذهب هم دا دی چي د سجدې كولو مخكي دواړه زنګنونه پر مځكه كښېږدي ددې وروسته دي دواړه لاسونه كښېږدي همداسي د سجدې څخه د راپورته كيدو مخكي بيا دواړه لاسونه بيا دواړه زنګنونه پورته كول پكار دي.

د ابوداود په يوه روايت كي دى چي رسول الله ﷺ د سجدې څخه د زنګنو په زور پورته كيدى او خپل دواړه لاسونه به يې پر ورونو ايښودل.

علماؤ د سجدې اندامونه پر مځكه ايښودو په اړه اصول ټاكلي دى او هغه دا چي د سجدې اندامونه پر مځكه ايښودل د مځكي د نژدېوالي په اعتبار دي يعني كوم اندام چي مځكي ته ډير زيات نژدې وي مخكي هغه پر مځكه ايښودل پكار دي په دې ترتيب سره دي ټول اندامونه ايږدي او د سجدې څخه د راپورته كيدو په وخت كي ددې برعكس كيدل پكار دي يعني كوم اندام چي د مځكي سره تر ټولو زيات نژدې وي هغه تر ټولو وروسته پورته كول پكار دي.

پر مځكه د پزي او تندي ايښودو په اړه مسئله خو داده چي پزه او تندى دواړه د يو اندام په حكم كي دي چي دواړه اندامونه يو ځاي پر مځكه ايښودل پكار دي مګر د ځينو حضراتو په نزد پزه مځكي ته نژدې وي ځكه نو مخكي پزه ايښودل پكار دي ددې وروسته دي تندى ايږدي، علامه شمي فرمايي چي سجدې ته د تللو په وخت كي كه د څه عذر مثلا موزه، وغيره په وجه دواړه لاسونه مخكي ايښودل ګران وي نو اول دي دواړه لاسونه پر مځكه كښيږدي تر هغه وروسته دي دواړه ځنګنونه كښيږدي.

﴿۸۳۹﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَجَدَ أَحَدُكُمْ فَلاَ يَبْرُكُ كَمَا يَبْرُكُ الْبَعِيرُ وَلْيَضَعْ يَدَيْهِ قَبْلَ رُكْبَتَيْهِ . رواه أبو داود والنسائي . والدارمي قال أبو سليمان الخطابي حديث وائل بن حجر أثبت من هذا وقيل هذا منسوخ .

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر كله چي په تاسو كي يو څوك سجده كوي نو داسي دي نه كښيني لكه څرنګه چي اوښ كښيني بلكه سجدې څخه د تلو په وخت كي دي مخكي خپل لاسونه پر مځكه لګوي . ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\ ۵۲۵ رقم: ۸۴۰، والنسائي ۲\ ۲۰۷، رقم: ۱۰۹۰ والدارمي ۱\ ۳۴۷، رقم: ۱۳۲۱.

تشريح: د اوښ په ډول د نه كښېنستو مطلب دادى چي څرنګه اوښ د ناستي په وخت كي خپل دواړي ګونډې پر مځكه لګوي همداسي سجدې ته د تلو په وخت كي دواړي ګونډې مخكي پر مځكه لګول نه دي پكار.

رسول الله ﷺ د اوښ د ناستي سره مشابهت ورکړی دی د دې سربیره چي اوښ د ناستي پر وخت پر مخکه د پښنو اېښودو څخه مخکي لاس ايږدي ددې وجه داده چي د انسان گونډې په پښه کي وي او د حيوانانو گونډې په لاسو کي وي، هر کله چي يو سړی سجدې ته د تلو په وخت کي پر مخکه دواړي گونډې ايږدي نو د اوښ د ناستي سره به يې مشابهت وي.

په هر حال دا حديث د پورتني حديث مخالف دی ځکه چي لومړنی حديث خو پر دې خبره دلالت کوي چي مخکي گونډې پر مخکه کښېښودل سي دا وجه ده چي په دې مسئله کي د علماؤ هم اختلاف دی څرنگه چي په پورتني حديث کي تشريح سوې ده ، جمهور علماء، امام اعظم رحمة الله عليه ، امام شافعي رحمة الله عليه او امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه پر پورتني حديث باندي چي د وائل ابن حجر رضي الله عنه څخه روايت دی عمل کولو سره وايي چي مخکي دواړي گونډې دي پر مځکه ولگوي.

حضرت امام مالک رحمة الله عليه ، اوزاعي او ځيني نور علماء د حضرت ابوهريره رضي الله عنه پر دې حديث باندي په عمل کولو سره وايي چي مخکي پر مځکه دواړه لاسونه اېښودل پکار دي.

د دې دواړو حديثو په اړه علماء وايي چي د ابوهريره رضي الله عنه د دغه روايت څخه د وائل ابن حجر رحمة الله عليه پورته حديث زيات صحيح، قوي او مشهور دی او د حفاظ حديث يو ډله دا حديث د صحت مرتبې په رسولو سره دې ته ترجيح ورکړې ده او د فن حديث دا قاعده ده چي هر کله دوه حديثونه د يو بل مخالف وي نو عمل به پر قوي او صحيح حديث باندي کيږي ، همدا وجه ده چي ځينو علماؤ د ابوهريره رضي الله عنه روايت د وائل د روايت په ذريعه منسوخ گرځولی دی ، او په يوه روايت کي د ابن خزيمه رحمة الله عليه څخه هم روايت دی چي رسول الله ﷺ به سجدې ته تلی نو د سجدې پيل به يې د گونډو څخه کوی ، دغه وجوهاتو ته د مشکوة مؤلف قال ابوسليمان ويلو سره اشاره کړې ده.

د دوو سجدو په مينځ کي د رسول الله ﷺ دعاء

﴿۸۴۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ بَيْنَ السُّجْدَتَيْنِ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ وَارْحَمْنِيْ وَاهْدِنِيْ وَعَافِنِيْ وَارْزُقْنِيْ. رواه أبو داود والترمذي.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د دوو سجدو په منځ کي دا دعاء ويل: (اې الله! ما و بخښې پر ما رحم وکړې ما ته هدايت وکړې ما په عافيت کي ولرې او ما ته

رزق راكړې.) ابوداؤد او ترمذي

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\ ۵۳۰- ۵۳۱، رقم: ۸۵۰، والترمذي ۲\ ۷۶، رقم: ۲۸۴.

﴿۸۴۱﴾: وَعَنْ حُذَيْفَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُوْلُ بَيْنَ السُّجْدَتَيْنِ رَبِّ اغْفِرْ لِيْ. رواه النسائي والدارمي.

د حضرت حذيفة رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ به د دوو سجدو په منځ كي (رب اغفرلي) ويل. نسائي او دارمي

تخريج: سنن النسائي ۲\ ۲۳۱، رقم: ۱۰۹۰ والدارمي ۱\ ۳۴۸، ۳۴۹، رقم: ۱۳۲۴.

تشريح: دا روايت ابن ماجه رحمة الله عليه هم نقل كړى دى مګر د هغه روايت سوي دغه دعائيه كلمات درې واره مذكور دي يعني رسول الله ﷺ به د دواړو سجدو په مينځ كي دغه دعاوي درې واره ويلې.

اَلْفَصْلُ الثالث (درېيم فصل)

په تلوار سره د سجدې كولو منعه

﴿۸۴۲﴾: عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ شِبْلٍ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالرحمن بن شبل رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ منعه فرمايلې ده

عَنْ نُقْرَةِ الْغُرَابِ وَافْتِرَاشِ السَّبُعِ وَأَنْ يُّوَطِّنَ الرَّجُلُ الْمَكَانَ فِي الْمَسْجِدِ

د كارګه په ډول د مښوكي وهلو څخه او د حيوانانو په ډول د لاسونو غزولو څخه او ددې څخه چي سړى په مسجد كي ځاى و ټاكي

كَمَا يُوَطِّنُ الْبَعِيْرُ. رواه أبو داود والنسائي والدارمي.

د اوښ په ډول. ابوداؤد، نسائي او دارمي.

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\ ۵۳۸- ۵۳۹، رقم: ۸۶۲ والنسائي ۲\ ۲۱۴، رقم: ۱۱۱۱ والدارمي ۱\ ۳۴۸، رقم: ۱۲۲۳.

تشريح : په دې حديث كې د درو شيانو څخه منعه كيږي: اول شى خو دا چې څرنگه كارگه د دانې ټولو لپاره ژر ژر پر مځكه موښكه وهلو سره دانې ټولوي همداسې د سجدې څخه په تلواره سر نه پورته كوي، دوهم دا چې حيوانان د مثال په توگه سپى ، شرموښ او داسې نور چې څرنگه خپل مړوندونه پر مځكه خپرولو سره كښيني همداسې د سجدې په وخت كې دې مړوندونه پر مځكه نه خپروي ، دريم شى دا چې څرنگه اوښ د خپل ناستې لپاره يو ځاى ټاكي چې د هغه څخه پرته بل اوښ هلته نسي كښينستلاى همداسې په مسجد كې يو ځاى دې د ځان لپاره نه ټاكي چې پر هغه ځاى بل ثوک نسي كښينستلاى ځكه چې مسجد د ټولو لپاره دى ثوک چې چيرې غواړي هلته كښينستلاى سې د ځان لپاره يو ځاى ټاكلو سره هلته دوهم سړى د ناستې څخه منعه كول مكروه او ممنوع دي .

علامه حلواني رحمة الله عليه ليكي چې زموږ د علماؤ په نزد دا مكروه دي چې په مسجد كې يو خاص جامه د دې لپاره و ټاكل سي چې د هغه پرته پر بله جامه به لمونځ نه كوي ځكه چې په دې ډول عبادت د هغه خاص جامې سره عادت جوړيږي چې د هغه څخه پرته پر يو بله جامه باندې لمونځ كول د سختۍ او گرانۍ باعث جوړيږي حال دا چې عبادت په عادت سي نو هغه پرېښودل پكار دي په دې وجه هميشه روژل نيول مكروه دي، دا مسئله پر دې قياس كيږي چې په مسجد كې يو ځاى د ځان لپاره ټاكل او هلته بل سړى د ناستې څخه منعه كول د شريعت په نگاه كې يو مستحسن كار نسي كيداى هر كله چې د هغه څخه مقصد هم ښه نه وي .

د سجدو په مينځ كې اقعاء منعه ده

﴿۸۴۳﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا عَلِيُّ إِنِّيْ أُحِبُّ لَكَ مَا أُحِبُّ لِنَفْسِيْ وَأَكْرَهُ لَكَ مَا أَكْرَهُ لِنَفْسِيْ لاَ تُقْعِ بَيْنَ السُّجْدَتَيْنِ . رواه الترمذي .

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل : اې علي ! زه ستا لپاره هغه شى خوښوم كوم چې د ځان لپاره خوښوم او هغه شى ستا لپاره بد گڼم كوم چې د ځان لپاره بد گڼم نو ته د دوو سجدو په منځ كې اقعاء (د سپي په ډول ناسته) مه كوه . ترمذي .

تخريج: سنن الترمذي ۲\۷۲، رقم: ۲۸۲.

تشريح : د رسول الله ﷺ ذات اقدس خو د ټول عالم لپاره سر تر پايه رحمت او شفقت وو مګر د خپل امت د خلکو لپاره بې پايه شفيق وو د شفقت او محبت ېې دا اثر وو چي کوم شی به ېې د ځان لپاره خوښوی هغه به ېې د خپل امت لپاره هم خوښوی او کوم چي به ېې نه خوښوی هغه به ېې د خپل امت لپاره هم نه خوښوی، ددې جذبې اظهار ېې حضرت علي رضي الله عنه ته وفرمايه او دا ېې ښکاره کړه چي زه د دواړو سجدو په مينځ کي اقعاء د ځان لپاره نه خوښوم ځکه ستا او د نورو خلکو لپاره ېې هم نه خوښوم ددې څخه ځان وساتئ.

د اقعاء تحقيق : د اقعاء مطلب دادی چي داسي کښيني چي کوناټي ېې پر مځکه لګولي وي او ورنونه او پنډۍ ېې ولاړې وي او لاسونه ېې پر مځکه ايښي وي څرنګه چي پر مځکه کښيني د اقعاء صحيح معنی خو داده البته ځيني حضراتو ددې مطلب دا اخيستی دی چي د دواړو سجدو په مينځ کي د پښو په پنجو دريدو سره پر پنډۍ چي کښيني ددې څخه ماسوا ددې نوري معناوي ېې هم ليکلي دي په هر حال د اقعاء کوم شکل چي اختيار کړل سوی دی د دواړو سجدو په مينځ کي هغه اختيارول د ټولو علماؤ په اتفاق سره مکروه دی.

په رکوع او سجده کي ملا سيده کول

﴿۸۴۴﴾: وَعَنْ طَلْقِ بْنِ عَلِيٍّ الْحَنَفِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ يَنْظُرُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ إِلٰى صَلاَةِ عَبْدٍ لاَ يُقِيْمُ فِيْهَا صُلْبَهُ بَيْنَ رُكُوْعِهَا وَسُجُوْدِهَا. رواه أحمد.

د حضرت طلق بن علي الحنفي رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله جل جلاله د هغه بنده لمانځه ته نه ګوري چي د خپل لمانځه په رکوع او سجده کي خپله ملا نه سيده کوي. احمد

تخريج: الامام احمد في مسنده ۴\۲۲.

تشريح : د الله جل جلاله په دربار کي هغه لمونځ د مقبوليت درجې ته رسيږي چي د هغه ټوله ارکان په پوره توګه سره اداء کړل سي که يو ر رکن د خپل قواعد او آداب سره سم صحيح نه وي نو لمونځ د مقبوليت درجې ته نه رسيږي رکوع او سجده د لمانځه مهم ارکان دی که په دې کي نقص پاته سي نو ګويا پوره لمونځ ناقص سو چي د هغه په وجه هغه لمونځ د پوره والي او کمال مرتبې ته نه رسيږي نو ددې حديث په ذريعه خبر ورکول کيږي چي په رکوع او سجدو کي پوره

احتیاط کول پکار دي یعني د مخکي رکوع او سجدې څخه د را پورته کیدو ورسته ملا په کړولو سره بغیر د دویمي رکوع او سجدې ژر ژر ولاړ سي نو هغه رکوع او سجده به د ادا کولو مستحق نه وي د هغه نتیجه به دا وي چي هغه لمانځه ته به خداوند قدوس و نه ګوري یعني هغه به قبول نه کړي.

لاسونه هم سجده کوي

﴿۸۲۵﴾: وَعَنْ نَّافِعٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ يَقُوْلُ مَنْ وَضَعَ جَبْهَتَهُ بِالْأَرْضِ فَلْيَضَعْ كَفَّيْهِ عَلَى الَّذِيْ وَضَعَ عَلَيْهِ جَبْهَتَهُ ثُمَّ إِذَا رَفَعَ فَلْيَرْفَعْهُمَا فَإِنَّ الْيَدَيْنِ تَسْجُدَانِ كَمَا يَسْجُدُ الْوَجْهُ. رواه مالك.

د حضرت نافع رضي الله عنه څخه روایت دی چي ابن عمر رضي الله عنه به ویل ثوک چي خپل تندی پر مځکه ولګوي یعني سجده وکړي نو هغه ته پکار ده چي خپل لاسونه پر هغه ځای ولګوي چي پر کوم یې تندی ایښی وي بیا چي د سجدې څخه پورته کیږي نو دواړه لاسونه دي پورته کړي ځکه چي لاسونه هم داسي سجده کوي لکه ثرنګه چي مخ سجده کوي، مالک

تخریج: مالک في الموطا ۱\۱۶۳، رقم: ۶۰.

تشریح : لمونځ کونکی چي سجدې ته ځي نو یوازي د هغه تندی او پزه سجده نه کوي بلکه د هغه هر اندام په دربار الهي کي کښته کیږي او سجده کوي ځکه فرمایل سوي دي چي د سجدې په وخت کي لاسونه هم پر مځکه د تندي ایښودو پر ځای یعني د تندي برابر ایښول پکار دي چي د لاسونو سجده هم پوره سي.

په سجدې کي دواړه لاسونه په کوم ځای کي کښېږدي.

ددې حدیث څخه معلومه سوه چي په سجده کي دواړه لاسونه دې د تندي برابر ایږدي د حنفیه مختار مذهب هم دادی د شافعیانو حضراتو په نزد مختار مذهب دادی چي په سجده کي دواړه لاسونه د اوږو برابر ایښودل پکار دي.

د حدیث الفاظ (فالیضع کفیه علي الذي ...الخ) مطلب یې دادی چي دواړه لاسونه دي د تندي برابر کښېښودل سي مګر ددې معنی دا هم اخیستل کیدای سي چي دواړه لاسونه دي هم پر مځکه داسي کښېږدي ثنګه چي تندی یې ایښی وي یعني مخ پر قبله دي ساتي. والله اعلم

============

بَابُ التَّشَهُّدِ (د التحيات بيان)

د شهادت معنی شاهدي ورکول او داسي ربښتيا خبره کول چي په هغه کي زړه د ژبي سره وي يعني کومه خبره چي په ژبي سره ورکړل سي هغه په زړه کي هم وي ، تشهد وايي شاهد کيدو ته او د هغه علم اظهار ته چي په زړه کي وي .

د شريعت په اصطلاح کي تشهد (اشهد ان لااله الا الله و اشهد ان محمد ا رسول الله) او هغه ذکر چي د لمانځه په قعده کي يې وايي هغه ته هم ويلای سې ګويا التحيات ته تشها. ځکه وايي چي په دې کي د شهادتين کلمه هم ويل کيدا ی سي .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

په تشهد کي د لاسو ايښودو طريقه

﴿۸۴۶﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا قَعَدَ فِي التَّشَهُّدِ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي کله به رسول الله ﷺ د تشهد لپاره کښېناستی

وَضَعَ يَدَهُ الْيُسْرَى عَلَى رُكْبَتِهِ الْيُسْرَى وَوَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى رُكْبَتِهِ

نو چپه لاس به يې پر چپه ورانه او راسته لاس به يې پر راسته ورانه کښېښودی

الْيُمْنَى وَعَقَدَ ثَلَاثَةً وَخَمْسِينَ وَأَشَارَ بِالسَّبَّابَةِ و في رواية كَانَ إِذَا جَلَسَ فِي

او خپل لاس به يې د (۵۳) عدد په ډول بندوی او د شهادت په ګوتي سره به يې اشاره کول ، په يو بل روايت کي دا الفاظ دي کله چي به رسول الله ﷺ کښېنستی په

الصَّلَاةِ وَضَعَ يَدَيْهِ عَلَى رُكْبَتَيْهِ وَرَفَعَ إِصْبَعَهُ الْيُمْنَى الَّتِي تَلِي الْإِبْهَامَ فَدَعَا

لمانځه کي نو دواړه لاسونه به يې پر خپلو ورنو ايښودل او د راسته لاس هغه ګوته چي د بټي ګوتي سره ده پورته کول او دعاء به يې غوښتل ،

بِهَا وَيَدُهُ الْيُسْرَى عَلَى رُكْبَتِهِ الْيُسْرَى بَاسِطُهَا عَلَيْهَا . رواه مسلم

او چپه لاس به یې خلاص پر چپه ورون ایښودی . مسلم

تخریج: صحیح مسلم ۱\۴۰۸، رقم: ۱۱۵- ۵۸۰.

تشریح: د درو پنځوس عدد په ډول: مطلب دادی چې اهل حساب د شمیر په وخت کې ګوتې څنګه بندوي هغوی هره ګوته د یو ټاکلي عدد لپاره ټاکلې ده چې هغه د یویز لپاره دلته کښېښودل سي او د لسیز او سلیز او زریز لپاره فلانی ځای ، نو د راوي د ویلو مطلب دادی چې رسول الله ﷺ د شهادت ګوته د اشارې لپاره د پورته کولو وخت کې پاته ګوتې داسې بندولې لکه څرنګه چې د درو پنځوس لپاره ګوتې بندوي او د هغه صورت دادی چې غچې ګوته د هغه نژدې ګوته او د مینځ ګوته بنده کړل سي او د شهادت ګوته خلاصه کړل سي او د بټې ګوتې سره د شهادت د ګوتې په بیخ کې کښېښودل سي دې ته د درو پنځوس عدد وایي، امام شافعي رحمة الله علیه او د یوه روایت سره سم امام احمد رحمة الله علیه پر دغه حدیث باندې د عمل کولو سره دا طریقه اختیار کړې ده.

د حنفیه په نزد د شهادت د ګوتې پورته کولو طریقه

اوس تاسو د دروپنځوس عدد په وضاحت سره ووایه همداسې یو عدد تسعین (۹۰) دی د هغه شکل داوی چې غچې ګوته او نژدې ګوته بنده کړل سي او د شهادت ګوته خلاصه سي او د بټې ګوتې سر د مینځ د ګوتې پر سر د ایښودو سره د حلقې شکل ورکړې امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه فرمایي د شهادت د ګوتې د پورته کولو لپاره دا طریقه اختیارول پکار دي د امام احمد رحمة الله علیه یو قول هم دادی د امام شافعي رحمة الله علیه قول قدیم هم دادی او دا طریقه د مسلم رحمة الله علیه د راتلونکي روایت څخه هم ثابته ده چې عبد الله بن زبیر ﷺ څخه روایت دی همداسې احمد رحمة الله علیه او ابو داود رحمة الله علیه هم د حضرت وائل ابن حجر رض څخه نقل کړی دی .

د امام مالک رحمة الله علیه مذهب دادی چې د راسته لاس ټولې ګوتې دې بندې کړل سي او د شهادت ګوته دې پورته کړل سي .

په ځینو حدیثو کې د ګوتو بندولو بغیر د شهادت په ګوتې سره اشاره کول هم ثابت دي د ځینو حنفي علماوو په نزد داسې معلومیږي چې خپله د رسول الله ﷺ عمل به هم همداسې مختلف وو چې کله به یې اشاره بغیر د حلقه جوړولو او کله به یې په عقد سره کول په دې وجه ددې مختلو حدیثو توجیه چې د هغه څخه دا دواړه حدیثونه ثابتیږي داسې کیږي .

ماوراء النهر يعني بخارا او سمرقند وغيره او د هندوستان حنفيه دا عمل د عقل او اشارت يعني د راسته لاس گوتي بندولو سره د شهادت گوته پورته کول ترک کړی دی ممکنه ده د صاحب مظاهر حق علامه نواب قطب الدين په زمانه کي د هندوستان حنفيه د عمل عقد او اشارت د پرېښولو قائل وو خو اوس ټول حنفي ددې قائل دي که څه هم متدقمين کي دا عمل جاري وو خو متاخرينو په دې کي اختلاف کړی دی مگر د حرمين او دعرب د نورو په رقمو علماوو په نزد مختار مذهب عقد و اشارت کول دي.

علامه شيخ ابن الهمام رحمة الله عليه چي د هغه شمير محققينو په حنفيه کي کيږي فرمايلي دي چي اول تشهد يعني په التحيات کي تر شهادتين پوري خولاس خلاص ساتل پکار دی او د تهليل يعني لا اله الا الله ويلو ذکر کولو تسبيح ويلو په وخت کي گوتي بندول پکار دي او د شهادت په گوتي سره اشاره کول پکار دي موصوف ليکي چي د اشاره کولو څخه منعه کول د روايت څخه خلاف دی.

په محيط کي ذکر دي چي د راسته لاس د شهادت گوته پورته کول د امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه او د امام محمد رحمة الله عليه په نزد سنت دي او د امام ابويوسف رحمة الله عليه څخه هم ثابت دي علامه نجم الدين زاهدي رحمة الله عليه فرمايي ز موږ د علماوو په متفقه طور سره دا قول دی چي د اشارت عمل سنت دی هر کله چي د صحابهٔ کرام رضي الله عنهم تابعينو آئمه دين محدثين عظام فقهايي امت او د علماېي کوفه او د مدينه ټولو علماؤ مذهب دادی چي په التحيات کي د شهادت په وخت د راسته لاس د شهادت گوته پورته کول يعني د وحدانيت اشاره کول پکار دي او دا چي ددې ثبوت کي ډير حديثونه او د صحابه رض اقوال وارد دي نو بيا په دې عمل کول اولي او ارجح دي.

د اشاره کولو طريقه داده چي کله کلمه شهادت ته ورسيږي نو د شافعيه په نزد الا الله ويلو په وخت د شهادت گوته پورته کول پکار ده او د حنفيه په نزد کم وخت چي لا اله الا الله وايي نو گوته دي پورته کړي او کله چي الا الله ووايي نو گوته دې کښېږدي په دې سلسله کي دومره خبره هم نوره ياد ساتل پکار دي چي د گوتي پورته خوا ته دي اشاره نه کوي چي د جهت وهم پيدا نه سي.

د حديث الفاظ يدعوا بها دې سره دعا غوښتلو مطلب دادی چي رسول الله صلي الله عليه وآله وسلم به د شهادت گوته پورته کولو سره د وحدانيت اشاره کوله چي د هغه خوا ته په ترجمه کي اشارہ سوې ده يا د دعا څخه مراد ذکر دی ځکه چي ذکر کونکی هم د انعام او اکرام مستحق وي.

د حديث آخري جمله چي چپه لاس به يې پر خپلو ورنو خلاص ساتلو ددې مطلب دادی چي چپه لاس به يې زنګون ته نژدې يعني پر ورنو باندې خلاص مخ پر قبله ایښودی.

﴿۸۴۷﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ الزُّبَيْرِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنه څخه روایت دی چي کله به رسول الله صلی الله علیه وسلم

إِذَا قَعَدَ يَدْعُو وَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى فَخِذِهِ الْيُمْنَى وَيَدَهُ الْيُسْرَى عَلَى فَخِذِهِ

په لمانځه کي کښېنستی نو راسته لاس به يې پر راسته ورانه کښېښودی او چپه لاس به يې پر

الْيُسْرَى وَأَشَارَ بِإِصْبَعِهِ السَّبَّابَةِ وَوَضَعَ إِبْهَامَهُ عَلَى إِصْبَعِهِ الْوُسْطَى وَيُلْقِمُ كَفَّهُ الْيُسْرَى رُكْبَتَهُ. رواه مسلم

چپه ورانه ایښودی او د شهادت په ګوته سره به يې اشاره کول او بټه ګوته به يې د منځنۍ ګوتي سره يو ځای کولو څخه حلقه جوړول او په چپه لاس سره به يې خپل چپه زنګون نیوی .مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۴۰۸، رقم: ۱۱۳– ۵۷۹.

تشريح: څرنګه چي اوس مخکي ښودل سوي دي د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه مذهب دادی چي په التحيات کي کلمه شهادت د ويلو په وخت کي د راسته لاس ګوته پورته کولو په وخت دا طريقه اختيارول پکار دي چي غچۍ ګوته او د هغه نژدې ګوته بنده کړل سي او د بټي ګوتي سر د مينځ ګوتي پر سر ایښودو سره حلقه جوړه کړل سي او د شهادت ګوته پورته کړل سي.

د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد د التحيات ويلو سره د ناستي په وخت کي همدا سي حلقه جوړول پکار ده مګر د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه په نزد دا حلقه د ګوتي پورته کولو پر وخت جوړول پکار دي.

﴿۸۴۸﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ كُنَّا إِذَا صَلَّيْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ

د حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی چي کله به موږ د نبي کريم صلی الله علیه وسلم سره لمونځ کوی

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْنَا السَّلَامُ عَلَى اللهِ قَبْلَ عِبَادِهِ السَّلَامُ عَلَى جِبْرِئِيلَ السَّلَامُ

نو په ناسته کي به مو دا ویل : پر الله دي سلام وي د بندګانو څخه وړاندي پر جبرائیل علیه السلام دي سلام وي او سلام دي وي

عَلٰى مِيكَائِيلَ اَلسَّلَامُ عَلٰى فُلَانٍ فَلَمَّا انْصَرَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

پر میکائیل علیه السلام او پر فلان دي سلام وي، یوه ورځ چي رسول الله ﷺ د لمانځه څخه فارغ سو

اَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهٖ قَالَ لَا تَقُوْلُوْا اَلسَّلَامُ عَلَى اللّٰهِ فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ السَّلَامُ فَاِذَا

نو موږ ته متوجه سو او وه یې فرمایل : پر الله جل جلاله سلام مه وایاست ځکه چي الله جل جلاله په خپله سلام دی کله چي

جَلَسَ أَحَدُكُمْ فِي الصَّلَاةِ فَلْيَقُلِ التَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ السَّلَامُ

تاسو لمونځ کوئ نو په ناسته کي دا وایاست (التحيات لله والصلوات والطيبات السلام

عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ

عليک ايها النبي ورحمة الله وبركاته ، السلام علينا وعلى عباده الله

الصَّالِحِينَ فَإِذَا قَالَهَا أَصَابَتْ كُلَّ عَبْدٍ لِلّٰهِ صَالِحٍ فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ أَشْهَدُ

الصالحين، څوک چي دا کلمات ووایي نو د هغه سلام هر نیک بنده ته چي په آسمان او ځمکي کي وي رسیږي بیا دا کلمات رسول الله ﷺ پر دې الفاظو ختم کړل (اشهد

أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ ثُمَّ يَتَخَيَّرُ مِنَ الدُّعَاءِ أَعْجَبَهُ إِلَيْهِ فَيَدْعُوْهُ . متفق عليه

ان لا اله الا الله......) او ددې وروسته چي کومه دعاء به یې خوښه وه د الله څخه به یې غوښتل. بخاري او مسلم.

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۱۳۱، رقم: ۶۲۳۰ ومسلم ۱\۳۰۱- ۳۰۲، رقم: ۵۵- ۴۰۲.

تشريح : ابن مالک رحمة الله عليه فرمايي چي کله رسول الله ﷺ ته معراج حاصل سو او د الله تعالی په دربار کي حاضر سو نو د الله جل شانه په تعریف کي يې دا کلمات وويل :

التَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ

ژباړه : ټول تعريفونه ، مالي او بدني عبادتونه الله تعالى لره دي .

د دې په جواب کي د الله تعالى د لوري دا وفرمايل سول :

السَّلاَمُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ

ژباړه: پر تا دي سلام وي او د الله تعالى رحمتونه او برکتونه .

د دې وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل :

السَّلاَمُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِينَ

ژباړه : پر موږ دي هم سلام وي او د الله تعالى پر نيکو بندګانو دي هم سلام وي .

بيا جبرائيل عليه السلام وويل :

أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ

ژباړه : زه ددې شاهدي ورکوم چي د الله تعالى څخه پرته بل معبود نسته او شاهدي ورکوم چي محمد ﷺ د الله تعالى رسول دی .

په هر حال په ‹السَّلاَمُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِينَ› کي د نيکو بندګانو په قيد لګولو سره دې ته اشاره سوې ده چي پر بدبخت او بدکاره بندګانو باندي سلام ليږل يا هغوی ته سلام کول مناسب نه دي ددې سعادت حقدار او وړ هغه بندګان دي چي د خپل عقيدې، فکر، اعمال او کړنو په اعتبار د الله تعالى او د هغه د رسول په نظر کي خوښ وي چي صالح ورته ويل کيږي ، او صالح بنده هغه دی چي د حقوق الله او حقوق العباد دواړو خيال په نظر کي ساتي او دواړه پوره کوي .

شيخ عبدالقادر جيلاني رحمة الله عليه فرمايلي دي چي صلاح په اصل کي د هغه حالت نوم دی چي په هغه کي د بنده ذاتي ارادې او خواهشات د مرګ پر ګودر راکښنته سي او د الله تعالى په مراد او مقصد قائم پاته سي چي د هغه په وجه هغه بنده د صالح ويلو مستحق سي ، نو بنده ته پکار ده چي هغه د پروردګار پر رضا او خواهش باندي په دې کيفيت سره راضي او خپل ټول امور الله تعالى ته داسي وسپاري لکه څرنګه چي نوی پيدا سوی ماشوم د تي ورکونکي په لاس کي يا مړی د غسل ورکونکي په لاس کي وي .

علماء ليکي چي هر کله بنده دې مرتبې ته ورسيږي او د هغه د بندګی او اطاعت جذبه دومره لطيفه او پاکه سي نو هغه په يقيني توګه سره د ټولو دنياوي او جسماني او نفساني آفات او بلاګانو څخه محفوظ او مامون وي ، په آخر کي په دې خبره هم پوه سئ چي التحيات د دواړو

قعدو په مینځ کي ویل پکار ده او دا چي د مینځ قعده واجب ده او آخري قعده فرض ده.

﴿۸۴۹﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به

يُعَلِّمُنَا التَّشَهُّدَ كَمَا يُعَلِّمُنَا السُّورَةَ مِنَ الْقُرْآنِ فَكَانَ يَقُولُ التَّحِيَّاتُ

موږ ته تشهد داسي را ښودل لکه څرنګه چي به يې د قرآن يو سورت را ښودی، رسول الله ﷺ به ویل: التَّحِيَّاتُ

الْمُبَارَكَاتُ الصَّلَوَاتُ الطَّيِّبَاتُ لِلَّهِ سَلَامٌ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ

الْمُبَارَكَاتُ الصَّلَوَاتُ الطَّيِّبَاتُ لِلَّهِ سَلَامٌ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ

وَبَرَكَاتُهُ سَلَامٌ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِينَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ

وَبَرَكَاتُهُ سَلَامٌ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِينَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ

وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ. رواه مسلم، ولم اجد في الصحيحين ولا في الجمع بين الصحيحين سلام عليك و سلام علينا بغير الف ولام ولكن رواه صاحب الجامع عن الترمذي.

وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ) مسلم. ما سلام علیک او سلام علینا بېله الف او لام څخه نه په صحیحین کي لیدلی دی او نه د بین الصحیحین په جمع کي مګر صاحب د جامع د ترمذي څخه روایت کړی دی.

تخريج: صحيح مسلم ١\٣٠٢، ٣٠٣، رقم: ٦٠ - ٤٠٣، و سنن الترمذي ٢\٨٣، رقم: ٢٩٠.

تشريح: په دې روایت کي ابن عباس رضي الله عنه د تشهد یعني التحیات کوم الفاظ چي نقل کړي دي پر هغه شافعیه حضرات عمل کوي او د التحیات دا الفاظ وایي مګر د حنفیه حضراتو په نزد دلته د ابن مسعود رضي الله عنه روایت سوی تشهد الفاظو باندي چي د دې څخه په مخکي روایت کي تیر سوي دي عمل کیږي د عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه روایت سوی حدیث د تشهد په باره کي

محدثين صراحت كوي چي دا صحيح دى.

علامه ابن حجر شافعي رحمة الله عليه فرمايي چي د تشهد په اړه څومره حديثونه چي روايت دي په هغه ټولو كي د عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه روايت سوي حديثونه تر ټولو زيات دي.

امام احمد رحمة الله عليه هم د ابن مسعود رضي الله عنه په حديث عمل كوي او صحابه او تابعين كي د اكثر اهل علم معمول هم د دوى د حديث مطابق وو بيا خپله د رسول الله ﷺ په باره كي نقل دي چي رسول الله ﷺ د ابن مسعود رضي الله عنه روايت سوى حديث د تشهد په باره كي حكم فرمايلى وو چي دا دى خلكو ته وښودل سي په مسند امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه كي نقل دي چي رسول الله ﷺ ابن مسعود رضي الله عنه ته حكم وركړى وو چي هغه دا تشهد خلكو ته وروښيي.

په يو دوهم روايت كي ذكر دي چي ابن مسعود رضي الله عنه و فرمايل چي رسول الله ﷺ زما لاس ونيوى څرنگه چي ماته يې د قرآن تعليم راكوى همداسي ماته يې دا تشهد هم وښودى.

بيا د ابن مسعود رضي الله عنه او ابن عباس رضي الله عنه په روايتونو كي دا هم لوى فرق دى چي د ابن مسعود رضي الله عنه او ابن عباس رضي الله عنه روايت يوازي په مسلم كي نقل سوى دى هر كله چي د ابن عباس رضي الله عنه روايت يوازي په مسلم كي نقل سوى دى د امام مالک رحمة الله عليه په باره كي ويلي دي چي هغوى هغه تشهد اختيار كړ كوم چي د حضرت عمر رضي الله عنه څخه نقل دى التحيات لله الزاكيات لله الطيبات لله الصلواة عليک ايها النبي ...... الخ)

په هر حال علماء دا ليكي چي دا پوره بحث يوازي د اوليت او افضليت سره متعلق دى يعني د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه په نزد د ابن مسعود رضي الله عنه تشهد ويل افضل دى او د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد د ابن عباس رضي الله عنه روايت سوى تشهد افضل دى مگر تر څوپوري چي د جواز سوال دى نو مسئله داده چي په دې كي كوم تشهد هم وغواړي ويل يې جائز دي.

د روايت اخري الفاظ (ولم اجد الخ) څخه در اصل مولف مشكوة صاحب پر مصابيح باندي يو اعتراض كيږي هغه دا چي صاحب مصابيح د ابن عباس رضي الله عنه څخه په روايت سوي تشهد كي سلام عليک او سلام علينا بغير الف لام ذكر كړى دى حالانكه دغسي دا روايت په بخاري او مسلم كي نقل دى نو د صاحب مصابيح دا روايت په اول فصل كي ذكر كول صحيح نه دى. والله اعلم.

اَلْفَصْلُ الثاني (دوهم فصل)

د اشارې پر وخت د شهادت ګوته متحرک اېښودل

﴿۸۵۰﴾: وَعَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ عَنْ رَّسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ثُمَّ

د حضرت وائل بن حجر رضي الله عنه څخه روايت دی چې هغه وويل: بيا رسول الله ﷺ

جَلَسَ فَافْتَرَشَ رِجْلَهُ الْيُسْرٰى وَوَضَعَ يَدَهُ الْيُسْرٰى عَلٰى فَخِذِهِ الْيُسْرٰى

په لمانځه کې کښېنستی چپه پښه يې و غزول او چپه لاس يې پر چپه ورون کښېښودی

وَمَدَّ مِرْفَقَهُ الْيُمْنٰى عَلٰى فَخِذِهِ الْيُمْنٰى وَقَبَضَ ثِنْتَيْنِ وَحَلَقَ حَلْقَةً ثُمَّ رَفَعَ

او د راسته لاس څنګل يې د بغل څخه جلا کړه راسته لاس يې پر راسته ورون کښېښودی او دوې ګوتې يعني کوچنۍ او د هغې سره بله ګوته يې بنده کړه او د منځنۍ ګوتې او بټې ګوتې حلقه يې جوړه کړه او بيا يې پورته کړه

اِصْبَعَهُ فَرَاَيْتُهُ يُحَرِّكُهَا يَدْعُوْ بِهَا. رواه أبو داود والدارمي.

د شهادت ګوته ، ما وليدل چې رسول الله ﷺ به دې ګوتې ته حرکت ورکوی او په دې سره به يې اشاره کول .ابوداؤد او دارمي .

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\ ۵۸۷، رقم: ۹۵۷، والدارمي ۱\ ۳۶۲، رقم: ۱۳۵۷.

د لغاتو حل: (وحد): ای فصل بين مرفقه وجنبه (څنګل او بغل بېلول).

تشريح : دا حديث د يو مسلسل حديث ټوټه ده چې په هغه کې د رسول الله ﷺ د ټول لمانځه تفصيل ذکر سوی دی په دې موقع باندې د لمانځه رعايت پيش نظر د جلسې کيفيت ذکر کول مقصد وه ځکه (ثم جلس) څخه يوازې دا ټوټه ذکر سوې ده .

ددې حديث څخه دا معلومېږي چې د شهادت ګوته په پورته کولو سره هغه متحرک اېښودل پکار ده د امام مالک رحمة الله عليه مذهب دادی چې د اشارې په وخت ګوته پورته کول پکار دي مګر د امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه په نزد ګوته متحرک نه ده ساتل پکار ځکه چې ددې وروسته حديث لايتحرکها په ويلو سره په صراحت سره ددې فعل څخه منعه کړې ده .

تر څو پورې چې ددې حديث د الفاظو تعلق دى نو ويل كيداى سي چې دلته (يتحركها) يعني حركت وركولو څخه مراد ګوته پورته كول دي ځكه چې ګوته پورته كولو كي هم په هر حال حركت وي په دې توجيه په دې حديث او مابعد حديث كي تطبيق به هم وسي.

د اشارې پر وخت ګوته متحرك ابښودل نه ده پكار

﴿۸۵۱﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُشِيْرُ بِأُصْبَعِهِ إِذَا دَعَا وَلاَ يُحَرِّكُهَا. رواه أبو داود والنسائي وزاد أبو داود ولا يجاوز بصره إشارته.

د حضرت عبد الله بن زبير ﷺ څخه روايت دى چې كله به رسول الله ﷺ په لمانځه كي كلمه شهادت ويل نو په ګوتي سره به يې اشاره كول مګر دې ته به يې حركت نه وركوى. ابوداؤد او نسائي

تخريج: سنن ابي داؤد ۱/ ۶۰۴، رقم: ۹۹۰ والنسائي ۳/ ۳۷، رقم: ۱۲۶۹.

تشريح: د ابوداود دا روايت سوي اخري الفاظ مطلب دا دى چې د ګوته پورته كولو په وخت كي د رسول الله ﷺ نظر به پر ګوتي وو بلي خوا ته به يې نه كتل چې د خيالاتو رخ بلي خوا ته نسي بلكه د توحيد مضمون به يې په زړه كي وو او خشوع او خضوع ورته حاصله سي.

اشاره يوازي په ګوته سره كول پكار ده

﴿۸۵۲﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ إِنَّ رَجُلاً كَانَ يَدْعُوْ بِأُصْبَعَيْهِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ أَحِّدْ أَحِّدْ. رواه الترمذي والنسائي والبيهقي في الدعوات الكبير.

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دى چې يو سړي په لمانځه كي په دوو ګوتو سره اشاره وكړه نو رسول الله ﷺ هغه ته وفرمايل په يوې ګوتي سره، په يوې ګوتي سره (اشاره كوه).

تخريج: سنن الترمذي ۵/ ۵۲۰، رقم: ۳۵۵۷ والنسائي ۳/ ۳۸، رقم: ۱۲۷۱.

تشريح: خرنګه چې ابوداؤد او نسائي صراحت كړى دى سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه په قعده كي په ګوتو سره كلمه شهادت ويلو سره د واړو لاسونو سره د شهادت د ګوتو سره د وحدانيت اشاره كول، رسول الله ﷺ دا وليدل نو هغه يې ددې طريقې څخه منعه كړ او هغه ته يې حكم وركړ چې د قاعدې مطابق يوازي يوه ګوته يعني د راسته لاس د شهادت ګوته پورته كول پكاره ده.

په قعده کي د لاسو په زور کښېنستل نه دي پکار

﴿۸۵۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَّجْلِسَ الرَّجُلُ فِي الصَّلَاةِ وَهُوَ مُعْتَمِدٌ عَلٰى يَدِهِ. رواه أحمد وأبو داود. وفي رواية له نهى أن يعتمد الرجل على يديه إذا نهض في الصلاة

د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ دد ې څخه منعه فرمايلې ده چي سړی په لمانځه کي په لاسو تکيه کولو سره کښېني، احمد او ابوداؤد. او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ دد ې څخه منعه فرمايلې ده چي د سجدې څخه د خپلو لاسو په مرسته راپورته سي.

تخريج: الامام احمد في مسنده ۲\۱۴۷، وابوداؤد ۱\۶۰۴، رقم: ۹۹۲.

تشريح: د حديث د اول جزء مطلب خو دادی چي هر کله يو سړی په قعده کي کښېني يا د قعدې څخه ودرېږي نو هغه ته پکار ده چي د لاس په زور نه کښېنيني او نه ولاړ سي.

د دوهم جزء مطلب دادی چي د سجدې وغيره څخه د راپورته کېدو وخت هم د لاسونو مرسته اخيستل نه دي پکار يعني لاسونه پر مځکه د اېښودو بغير دي د ګونډو په مرسته راپورته سي د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه عمل پر دې حديث دی.

د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد لاسونه پر مځکه اېښودو سره د سجدې وغير څخه راپورته کېدل صحيح دي، د هغه مستدل هغه حديث دی چي د هغه څخه ثابتېږي چي رسول الله ﷺ د راپورته کېدو په وخت کي لاسونه پر مځکه اېښودل، حنفيه ددې حديث تاويل دا کوي چي رسول الله ﷺ دا کار پر ضعف او سپين ږيرتوب باندي محمول وو چي هغه وخت به د ضعف او کمزوري په وجه رسول الله ﷺ لپاره بغير د لاسو اېښودلو ممکن نه وه ځکه د لاسونو په زور به پورته کېدی کنه رسول الله ﷺ به بغير د څه عذر لاسونه پر مځکه د اېښودو سره نه راپورته کېدی.

د قعدو په اندازه کي فرق

﴿۸۵۴﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُوْلَيَيْنِ كَأَنَّهٗ عَلَى الرَّضْفِ حَتّٰى يَقُوْمَ. رواه الترمذي وأبو داود والنسائي

د حضرت عبدالله ابن مسعود ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د اولو دوو رکعتو په ناسته کي دومره کښېنستی لکه پر تودې ډبري چي ناست وي تر هغو چي دريدی به . ترمذي، ابوداؤد او نسائي

تخريج: سنن ابي داؤد ١\٦٠٦، رقم: ٩٩٥، والترمذي ٢\٢٠٢، رقم: ٣٦٦ والنسائي ٢\٢٥٣، رقم: ١١٧٥

د لغاتو حل: (الرَّصف): الحجارة المحماة على النار (پر اور توده سوې ډبره).

تشريح: مطلب دادی چي څرنګه يو سړی پر توده ډبري تر زيات وخت پوري نسي کښېنستلای بلکه ژر راپورته کيږي همداسي رسول الله ﷺ به په اوله قعده کي يوازي التحيات ويل نوري دعاګاني درود وغيره به يې نه وايه ځکه د التحيات په ويلو سره به پورته کيدو ددې برعکس په آخري قعده کي د التحيات سره به يې درود او نوري دعاګاني هم ويلې ځکه چي په هغه کي به د ناستي مقدار په اولي قعدې کي د ناستي مقدار څخه زيات وو .

اَلْفَصْلُ الثالث (دريم فصل)

﴿٨٥٥﴾: عَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعَلِّمُنَا التَّشَهُّدَ

د حضرت جابر ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به موږ ته تشهد داسي رابنودل

كَمَا يُعَلِّمُنَا السُّوْرَةَ مِنَ الْقُرْآنِ بِسْمِ اللهِ وَبِاللهِ التَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ

لکه د قرآن کريم يو سورت ، او هغه تشهد دادی: بِسْمِ اللهِ وَبِاللهِ التَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ

وَالطَّيِّبَاتُ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى

وَالطَّيِّبَاتُ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى

عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِيْنَ أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ

عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِيْنَ أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ

وَرَسُوْلُهُ أَسْأَلُ اللهَ الْجَنَّةَ وَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ النَّارِ . رواه النسائي .

وَرَسُوْلُهُ أَسْأَلُ اللهَ الْجَنَّةَ وَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ النَّارِ . نسائي .

تخريج: سنن النسائي ۲\۲۴۳، رقم: ۱۱۷۴.

د شهادت ګوته د شيطان لپاره د تکليف باعث ده

﴿۸۵۶﴾: وَعَنْ نَّافِعٍ قَالَ كَانَ عَبْدُ اللهِ بْنِ عُمَرَ إِذَا جَلَسَ فِي الصَّلَاةِ وَضَعَ

د حضرت نافع رضي الله عنه څخه روايت دی چي کله به عبد الله بن عمر رضي الله عنه په لمانځه کي کښېنستی نو اېښودل يې

يَدَيْهِ عَلَى رُكْبَتَيْهِ وَأَشَارَ بِأُصْبَعِهِ وَأَتْبَعَهَا بَصَرَهُ ثُمَّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ

دواړه لاسونه پر زنګنو او په ګوتي سره به يې اشاره کول او نظر به يې پر ګوته ساتی بيا يې وويل چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

لَهِيَ أَشَدُّ عَلَى الشَّيْطَانِ مِنَ الْحَدِيْدِ. يَعْنِيْ السَّبَابَةَ. رواه أحمد.

دا ګوته (پورته کول) پر شيطان باندي تر اوسپني زياته سخته ده. احمد

تخريج: الامام احمد في مسنده ۲\۱۱۹.

تشريح: مطلب دادی چي د شيطان خواهش خو دادی چي هر سړی په ضلالت، ګمراهي، کفر او شرک کي اخته کړي مګر کله چي هغه يو لمونځ کونکي ويني چي د هغه د خواهش خلاف د کفر او شرک څخه بيزاري کولو سره د شهادت په ګوته په اشاره کولو سره د الله وحدانيت ښکاره کوي نو د هغه په اميدونو پربښه پريوځي او هغه وخت هغه ته دومره سخت تکليف ورسيږي څومره چي د نيزې وغيره په وهلو سره رسيږي.

تشهد په کرار اواز ويل سنت ده

﴿۸۵۷﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ كَانَ يَقُوْلُ مِنَ السُّنَّةِ إِخْفَاءُ التَّشَهُّدِ. رواه أبو داود والترمذي وقال هذا حديث حسن غريب.

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چي هغه به ويل چي تشهد کرار ويل سنت دی. ابوداؤد او ترمذي. ترمذي دا هم روايت کړي دي چي دا حديث حسن غريب دی

تخريج: سنن ابي داؤد: ۱\۶۰۲، رقم: ۹۸۶، والترمذي ۲\۸۴–۸۵، رقم: ۲۹۱.

تشریح : هر کله چي يو صحابي د يو کار په باره کي دا ووايي چي دا سنت دی نو د هغه دا قول به د قال رسول الله ﷺ په حکم کي وي يعني هغه حديث به مرفوع وي د ابن مسعود رضی الله عنه د دې حديث پيش نظر د جمهور محدثينو او فقهاؤ مذهب دادی چي تشهد يعني التحيات په کرار او از سره ويل پکار ده .

==========

بَابُ الصَّلٰوةِ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ وَ فَضْلِهَا

د درود شريف د فضيلت بيان

په لغوي توګه د صلوة معنی دعا، رحمت او استغفار ده او د درود مطلب دی د بندګانو له خوا د رسول الله ﷺ لپاره د الله تعالی څخه داسي رحمت غوښتل چي د دنيا او آخرت دواړو خير پکښي شامل وي .

الله تعالی بندګانو ته پر رسول الله ﷺ باندي د صلوة او سلام يعني درود ليږلو حکم کړی دی : ارشاد رباني دی :

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا

ژباړه : اې مؤمنانو ! پر رسول الله ﷺ باندي رحمت او سلام وليږئ .

د امت د علماؤ پر دې خبره اجماع ده چي د الله تعالی دا حکم د وجوب لپاره دی ځينو حضراتو ويلي دي څو مره چي د رسول الله ﷺ نوم مبارک واوريدل سي هغو مره واره درود ويل پکار دی ځيني حضرات وايي چي په ټول ژوند کي يوازي يو وار د رسول الله ﷺ د نبوت ګواهي ورکول فرض ده همداسي په پوره عمر کي يوازي يو وار پر رسول الله ﷺ درود ويل فرض دی ددې وروسته زيات نه زيات درود ويل مستحب، مسنون او د شعار اسلام څخه دی چي په هغه کي د بې حسابه اجر او ثواب وعده ده .

قاضي ابوبکر رحمة الله عليه فرمايي الله تعالی پر مؤمنانو فرض کړي دي چي پر رسول الله ﷺ باندي درود او سلام وليږئ په دې اړه يو خاص وخت ټاکلی نه دی ځکه واجب دي چي درود او سلام زيات تر زياته وويل سي ، او په دې اړه غفلت ونه کړل سي مګر ځينو حضراتو د قاضي ابوبکر رحمة الله عليه ددې قول په مقابله کي لومړني قول ته ترجيح ورکړې ده .

په التحیات کي درود ویل سنت دي که فرض ؟

امام شافعي رحمة الله علیه په التحیات کي درود ویلو ته فرض ویلي دي مګر علماؤ صراحت کړی دی چي د امام شافعي رحمة الله علیه دا قول نادر دی ، په دې مسئله کي د امام شافعي رحمة الله علیه موافق هیڅ عالم نسته .

د امام اعظم ابو حنیفة رحمة الله علیه معتمد او مفتی به قول دا دی که یو سړی په یو مجلس کي څو واره د رسول الله ﷺ نوم مبارک واوري نو پر هغه باندي یوازي یو وار درود ویل واجب دي او هر وار ویل مستحب دي او په التحیات کي درود ویل سنت دي .

د صلوة او سلام الفاظ د انبیاؤ څخه پرته د بل چا لپاره جائز دی که یا ؟

د علماؤ په نزد په دې خبره کي اختلاف دی چي د انبیاؤ څخه پرته د نورو خلکو د نومو سره د صلوة او سلام الفاظ استعمال جائز دي که یا ، د مثال په توګه د رسول الله ﷺ د نامه سره د صلی الله علیه وسلم یا د نورو انبیاؤ د نومو سره علیه السلام وایي او لیکي، نو همداسي د انبیاؤ څخه پرته د یو بل چا لپاره دې الفاظو استعمال جائز نه دی ، البته د نورو خلکو د نومو سره غفرله ، رحمه الله، رضي الله عنه او داسي نور الفاظ استعمالیدای سي .

علامه طیبي رحمة الله علیه نقل کړي ذي چي د انبیاؤ څخه پرته د نورو خلکو لپاره درود ویل خلاف اولی دی ، ځینو حضراتو ورته حرام او مکروه هم ویلي دي .

په دې مسئله کي صحیح خبره داده چي پرته د انبیاؤ او ملائکو باندي صلوة او سلام لیږل ابتداء او مستقلا لیږل مکروه تنزیهي دي ځکه چي دا د اهل بدعت شعار دی ، البته د انبیاؤ سره پر هغوی لیږل جائز دي مثلا داسي ویل کیدای سي : صلی الله علی محمد وعلی آله واصحابه وسلم، یعني پر محمد ﷺ باندي، دهغوی پر آل او اولاد باندي او د هغوی پر صحابه کرامو دي د الله تعالی رحمتونه او برکتونه وي . والله اعلم .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

په تشهد کي د درود ویلو طریقه

﴿۸۵۸﴾ : عَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ بْنِ اَبِي لَيْلٰى قَالَ لَقِيَنِي كَعْبُ بْنُ عُجْرَةَ فَقَالَ اَلَا

د حضرت عبد الرحمن بي ابي لیلی رضی الله عنه څخه روایت دی چي زما سره کعب بن عجره ملاقات وکړ هغه وویل : ایا

أُهْدِي لَكَ هَدِيَّةً سَمِعْتُهَا النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ فَقُلْتُ بَلٰى

زه تا ته هغه شی تحفه نه کړم کوم چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي وو، ما ورته وویل ولي نه

فَاهْدِهَا لِيْ فَقَالَ سَأَلْنَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْنَا يَارَسُوْلَ اللّٰهِ

خامخا یې را تحفه کړه، نو هغه وویل موږ د رسول ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي اې د الله رسوله!

كَيْفَ الصَّلٰوةُ عَلَيْكُمْ اَهْلَ الْبَيْتِ فَاِنَّ اللّٰهَ قَدْ عَلَّمَنَا كَيْفَ نُسَلِّمُ عَلَيْكَ قَالَ

موږ پر تاسو او اهل بیتو څنګه درود وو ایو؟ الله ﷻ خو د سلام لیږلو طریقه موږ ته ښودلې ده،
رسول الله ﷺ وفرمایل:

قُوْلُوا اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى

داسي وایاست: اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى

آلِ إِبْرَاهِيْمَ إِنَّكَ حَمِيْدٌ مَجِيْدٌ اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ

آلِ إِبْرَاهِيْمَ إِنَّكَ حَمِيْدٌ مَجِيْدٌ اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ

كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى إِبْرَاهِيْمَ وعلى آلِ إِبْرَاهِيْمَ إِنَّكَ حَمِيْدٌ مَجِيْدٌ . متفق

عليه، الا ان مسلماً لم يذكر على ابراهيم في الموضعين.

كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى إِبْرَاهِيْمَ وعلى آلِ إِبْرَاهِيْمَ إِنَّكَ حَمِيْدٌ مَجِيْدٌ. بخاري او مسلم.

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٤٠٨، رقم: ٣٣٧٠ ومسلم ١\٣٠٥، رقم: ٦٦-٤٠٦.

تشریح: د صحابه کرامو رضي الله عنهم د سوال مقصد دادی چي الله تعالی موږ ته کوم حکم راکړی دی چي پر تاسو باندي درود او سلام استوو نو د سلام کولو طریقه خو موږ ته معلومه سوې ده چي رسول الله ﷺ موږ ته دا ښودلې ده چي په التحیات کي دي موږ السلام علیک ایها النبي وایو اوس دا راته هم وښیاست چي درود څرنګه وایو.

د صحابه کرامو دا قول چي: الله تعالی موږ ته را ښودلي دي چي پر رسول الله ﷺ باندي سلام څرنګه استوو ددې مطلب دادی چي رسول الله ﷺ د ژبي مبارکي په ذریعه موږ ته د سلام

لیږلو تعلیم راکړی دی دې ته د الله تعالی له خوا تعلیم ځکه ویل سوی دی چې په حقیقت کې د رسول الله ﷺ تعلیم د الله تعالی تعلیم دی رسول الله ﷺ چې کوم احکام فرمایلي دي هغه يې د خپل ذهن څخه نه دي فرمایلي بلکه هغه احکام د وحي په ذریعه د الله تعالی له خوا رسول الله ﷺ ته ورکړل سوي دي هغه يې د خپل ژبې مبارکې په ذریعه جاري کړل.

د آل تعریف او پلټنه

آل اهل او عیال ته وایي ددې معنی د تابعدار هم اخیستل کیدای سي په وعلی آل محمد کې د آل د تعین په اړه د علماؤ اختلاف دی ځیني حضرات وایي چې آل محمد څخه مراد یوازې د رسول الله ﷺ اهل او عیال دی او ځیني حضرات وایي چې د آل څخه تابعدار مراد دي ځیني حضرات وایي چې هر مومن د آل محمد څخه دی، ځینو ویلي دي چې هر متقي په آل محمد کې شامل دی دا ټول د علماؤ اقوال دي مګر په ښکاره دا معلومیږي چې په دې حدیث کې د آل څخه مراد تابعدار دي که څه هم ځیني علماء د آل تفسیر په اهل بیت کړی دی یعني ددې حضراتو په نزد آل محمد څخه اهل بیت یعني هغه خلک مراد دي چې پر هغوی صدقه حرامه ده او هغوی ته بني هاشم ویل کیږي.

امام فخر الدین رازي رحمة الله علیه ویلي دي چې په اهل بیت کې ازواج مطهرات د رسول الله ﷺ بیبیاني مبارکې او اولاد شامل دي دا د حضرت علي رضی الله عنه ربط هم دی په دې ټولو سره د بي بي فاطمې رضی الله عنها په وجه ډیر زیات وو ځکه هغوی هم په اهل بیت کې داخل دي.

په (کما صلیت علي ابراهیم) کې یوازې د حضرت ابراهیم علیه السلام تخصیص سوی دی بل یو نبي نه دی ذکر سوی ددې وجه داده چې اول خو حضرت ابراهیم علیه السلام د رسول الله ﷺ مشر نیکه دی دوهم دا چې په اصول دین کې شریعت محمدي د هغوی تابع دی.

اې الله پر محمد ﷺ باندې برکت نازل کړې ددې مطلب دادی چې الله تعالی چې ز موږ نبي او سردار رحمت عالم ﷺ ته کوم شرف او فضیلت ورکړی دی او کومه بزرګي چې يې ورکړې ده هغه همیشه او باقي ولرې.

د روایت په اخري الفاظو کې الا ان مسلما لم یذکر ....الخ: ددې مطلب دادی چې مسلم کوم روایت نقل کړی دی د هغه څخه مخکې او په نورو دوو درودو کې علی ابراهیم الفاظ نسته یعني د هغه الفاظ داسي دي کما صلیت علي ابراهیم او کما بارکت علی ابراهیم.

﴿۸۵۹﴾: وَعَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ قَالَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ كَيْفَ نُصَلِّي عَلَيْكَ قَالَ قُولُوا اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى أَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى أَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ. متفق عليه

د حضرت ابو حميد ساعدي رضي الله عنه څخه روايت دی چې صحابه کرامو د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې اې دالله رسوله ! موږ پر تاسو څنګه درود ووايو ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : داسي ووايا ست : اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى أَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى أَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۱۶۹، رقم: ۶۳۶۰ ومسلم ۱\۳۰۶، رقم: ۶۹- ۴۰۷.

تشريح : د درود الفاظ په مختلفو طريقو سره راغلي دي څرنګه چې اوس تاسو وليدل په اول حديث كي د درود الفاظ څه نور دي هغه ويل كافي دي په ځينو روايتونو كي و ارحم كما رحمت وترحمت الفاظ هم ذكر دي خو دا الفاظ په صحيح توګه نه دي ثابت .

ځينو محدثينو وضاحت کړی دی چې په کوم حديث کي دا الفاظ وترحم علي محمد وآل محمد كما ترحمت علي ابراهيم وعلى آل ابراهيم هم اضافه ده هغه حديث حسن دی .والله اعلم

د درود شريف فضيلت

﴿۸۶۰﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى عَلَيَّ وَاحِدَةً صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ عَشْرًا . رواه مسلم.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چې پر ما يو ځل درود ووايي نو الله تعالى به پر هغه لس ځله رحمت نازل کړي . مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۳۰۶، رقم: ۷۰- ۴۰۸.

تشريح : لکه څرنګه چې د الله تعالى ارشاد دی: من جاء بالحسنة فله عشر امثالها : يعني کوم سړی چې يوه نيکي کوي نو د هغه لپاره د هغه په مثل د لسو نيکيو ثواب ورکول کيږي

ځکه کوم سړی چي پر رسول الله ﷺ باندي يو وار درود استوي نو الله تعال د دغه زيري سره سم پر هغه سړي لس رحمتونه نازلوي.

اَلْفَصْلُ الثاني (دوهم فصل)

﴿۸۶۱﴾: عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى عَلَيَّ

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي درود ووايي پر ما

صَلَاةً وَّاحِدَةً صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ عَشْرَ صَلَوَاتٍ وَحُطَّتْ عَنْهُ عَشْرُ خَطِيْئَاتٍ

يو ځل نو الله تعالى به پر هغه لس ځله رحمت نازل کړي او د هغه لس ګناهونه به معاف کړي

وَرُفِعَتْ لَهُ عَشْرُ دَرَجَاتٍ. رواه النسائي.

او لس لوړي درجې به ورکړي. نسائي

تخريج: سنن النسائي: ۳\۵۰۱، رقم: ۱۲۹۶.

﴿۸۶۲﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْلَى النَّاسِ بِيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَكْثَرُهُمْ عَلَيَّ صَلَاةً. رواه الترمذي.

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به په خلکو کي تر ټولو ما ته نژدې هغه څوک وي چي پر ما يې زيات درود ويلي وي. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي: ۲\۳۵۴، رقم: ۴۸۴.

تشريح: ابن حبان رحمة الله عليه د دغه حديث په وضاحت کولو سره ويلي دي چي د رسول الله ﷺ دا لوی زيری چي پر محدثينو کرام رحمة الله عليهم زيات صادق راځي هيڅ يو ډله د محدثينو څخه زيات پر رسول الله ﷺ درود نه استوي ځکه د قيامت په ورځ به په ټولو خلکو کي تر ټولو زيات دا مقدسه طبقه وي.

ملائکي د امتیانو سلام رسول الله ﷺ ته رسوي

﴿۸۶۳﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِلّٰهِ مَلَائِكَةً سَيَّاحِينَ فِي الْأَرْضِ يُبَلِّغُونِي مِنْ أُمَّتِيَ السَّلَامَ. رواه النسائي والدارمي.

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د الله ډیري ملائکي پر مځکه گرځي هغوی ما ته زما د امت سلام رارسوي. نسائي او دارمي.

تخريج: سنن النسائي ۳\۴۳، رقم: ۱۲۸۱ والدارمي ۲\۴۰۹، رقم: ۲۷۷۴.

تشریح: ددې حدیث تعلق د هغه خلکو سره دی چي د روضة اقدس (د نبي کریم ﷺ روضه مبارکه) څخه لیري اوسیږي او هغوی ته په روضه اقدس کي د حاضرۍ عزت نه وي حاصل سوی داسي خلک چي پر رسول الله ﷺ باندي لږیا ډیر شمېر کي سلام واستوي نو ملائکي د هغوی سلام په دربار نبوت کي په ډیر عقیدت او احترام سره وړاندي کوي.

البته هغه حضرات چي الله تعالی د خپل محبوب د روضه اقدس د حاضرۍ په سعادت نازولي وي نو هغوی چي په دربار نبوت کي سلام وړاندي کوي نو رسول الله ﷺ ته د رسولو لپاره د ملائکو ضرورت نه وي ځکه چي په روضه اقدس باندي د حاضریدونکي سلام رسول الله ﷺ خپله اوري.

ددې حدیث څخه پر څو خبرو باندي رڼا لویږي: اول دا چي رسول الله ﷺ ته حیات جسماني حاصل دی څرنگه چي په دنیا کي رسول الله ﷺ ته ژوند حاصل وو همداسي په قبر کي هم ژوند ورته حاصل دی، دوهم دا چي د رسول الله ﷺ د امت خلک چي پر رسول الله ﷺ باندي سلام لیږي نو رسول الله ﷺ خوشحاله کیږي چي د سلام استونکو په حق کي د انتهایي سعادت او خوشبختۍ خبره ده، دریم شی دا چي کله ملائکي د یو امتي سلام دربار نبوت کي وړاندي کوي نو ددې مطلب دا وي چي سلام د قبولیت درجې ته رسیدلی دی او د راتلونکي حدیث څخه دا معلومیږي چي رسول الله ﷺ د سلام استونکو د سلام جواب هم ورکوي، او په یو روایت کي ذکر دي چي کله ملائکي د سلام رسولو سره دربار نبوت کي حاضریږي نو د سلام استونکي نوم هم اخلي مثلا هغوی ورځي ورته وایي چي یا رسول الله مولانا محمد قطب الدین ابن محي الدین په خدمت یا برکت کي سلام عرض کوي یا ستاسو یو ادنی غلام عبدالله جاوید ابن محمد عبدالحق په خدمت اقدس کي سلام وړاندي کوي یا فقیر محمد اصغر په خدمت

عاليه کي سلام عرض کوي .

جال مي دهم در آرزو اې قاصد آخر باز گو   در مجلس آن نازنين حرفې که از مامي رود

رسول الله ﷺ د سلام ليږونکي جواب ورکوي

﴿۸٦۴﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ أَحَدٍ يُسَلِّمُ عَلَيَّ إِلاَّ رَدَّ اللّٰهُ عَلَيَّ رُوْحِيْ حَتّٰى أَرُدَّ عَلَيْهِ السَّلَامَ . رواه أبو داود والبيهقي في الدعوات الكبير .

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو کي هيڅوک داسي نسته چي پر ما سلام ووايي مگر الله يې زما روح بيرته را رسوي چي زه د هغه د سلام جواب ورکړم . ابوداؤد ، بيهقي .

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\ ۵۳۴، رقم: ۲۰۴۱.

تشريح : د اهل سنت والجماعت دا مسلمه عقيده ده چي رسول الله ﷺ (زموږ مور او پلار دي تر قربان وي) په عالم برزخ کي ژوندی دی نو ددې حديث څخه معلوميږي چي رسول الله ﷺ په عالم برزخ کي ژوندی نه دی بلکه کله چي يو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کي سلام وړاندي کوي نو هغه وخت د رسول الله ﷺ روح مبارک جسم مبارک ته بيرته راځي او بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم د سلام جواب ورکوي .

ددې تعارض جواب دادی چي د حديث الفاظ د روح بيرته راتلو مطلب دا نه دی چي روح مبارک د رسول الله ﷺ په مقدس بدن کي هر وخت موجود نه وي يوازي د سلام استولو په وخت کي د هغه څه وخت لپاره بدن ته ستنيږي بلکه ددې مطلب دادی چي د رسول الله ﷺ روح مبارک هر وخت د رب العالمين مشاهده کي مستغرق وي ځکه هغه د حالت استغراق او مشاهدې څخه آخوا کولو سره هغه عالم طرف ته متوجه کيږي چي رسول الله ﷺ د خپلو امتيانو درود او سلام واوري او د هغه جواب ورکړي د روح مبارک دا متوجه کول او اګاه کول د دې الفاظو سره تعبير کړل سوی دی چي الله تعالی زما روح ماته بيرته راکړي کنه ټول انبياء صلوة الله عليهم اجمعين په خپلو قبرونو کي ژوندي دي .

اوس سوال دا پاته سو چي په حديث کي مذکوره فضيلت په خاصه توګه د هغو خلکو سره

متعلق دی چي په روضة اقدس باندي حاضری ورکوي او د هغه زیارت کوي یا په عامه توګه سره د ټولو خلکو لپاره دی . نو په ښکاره دا معلومیږي چي د دې فضیلت تعلق په عمومي طور سره دی یعني که څه هم یو سړی د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر مزار اقدس په حاضریدو سره سلام وړاندي کوي یا د یو لیري سیمي څخه سلام استوي البته فرق یوازي دومره دی چي کووم سړی پر روضة اقدس باندي د حاضریدو سره سلام وړاندي کوي نو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه د ملائکو د واسطې څخه پرته خپله اوري او چاته چي پر روضة اقدس باندي د حاضري شرف نسي حاصلیدای نو د هغوی سلام د ملائکو په واسطه اوري څرنګه چي په دریم فصل کي به د حضرت ابو هریره رضی الله عنه د راتلونکي حدیث څخه معلومه سي .

قبرونه کورونه مه جوړوئ

﴿۸۶۵﴾: وَعَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا تَجْعَلُوا

د حضرت ابو هریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي فرمایل يې: مه ګرځوئ

بُيُوتَكُمْ قُبُورًا وَّلَا تَجْعَلُوا قَبْرِيْ عِيدًا وَصَلُّوا عَلَيَّ فَإِنَّ صَلَاتَكُمْ تَبْلُغُنِيْ حَيْثُ كُنْتُمْ . رواه النسائي

خپل کورونه د قبرو په ډول او زما پر قبر اختر او خوشحالي مه کوئ البته پر ما درود وایاست ځکه چي ستاسو درود ما ته را رسیږي که څه هم تاسو هر چیري یاست . نسائي

تخریج: لم نجده عند النسائي وهو عند ابي داؤد ۲\۵۳۴، رقم: ۲۰۴۳.

تشریح: د حدیث د اول جزء دري مطلبه کیدای سي: اول دا چي کورونه د قبرو په ډول مه ګڼئ چي څرنګه مړی په خپل کور کي پراته وي تاسو هم په خپلو کورونو کي د مړو په ډول اوسئ چي په هغه کي نه عبادت کوی نه لمونځ کوي بلکه څرنګه چي په مسجدونو کي په عبادت او لمونځ کولو سره د هغه انوار او برکات حاصلیږئ همداسي په خپلو کورونو کي هم عبادت او لمونځ کوئ چي د هغه انوار او برکات کور او کورنۍ ته هم ورسیږي او د هغه صورت دا کیدل پکار دي چي فرض لمنځونه په مسجدونو کي ادا کوئ او سنت او نفلونه خپل کور ته په راتلو سره اداء کوئ ځکه چي نفلونه د مسجد و په نسبت په کور کي اداء کول زیات افضل دي .

دوهم مطلب دا كيداى سي چي په خپلو كورونو كي مړي مه ښخوئ په دې صورت كي دا اشكال مه پيدا كوئ چي خپله رسول الله ﷺ خو په خپل كور كي ارام فرما دى ځكه چي دا يوازي د رسول الله صلي الله عليه وسلم سره مختص دى د بل چا ليپاره داسي كول نه دي پكار.

دريم مطلب دا كيداى سي: چي قبرونه د سكونت ځاى مه جوړوئ څرنګه چي نن صبا د اولياء مزارات او پر هديرو باندي د هغوى پر خادمانو هستوګنه اختيار كړې ده چي د زړه نرمي او د مزاج شفقت او رحمت ختم نسي بلكه داسي كول پكار دي چي د قبرونو زيارت كولو سره او پر هغوى فاتحه خواني وغيره ويلو سره خپلو كورونو ته بيرته راسئ.

د حديث دوهم جزء چي زما قبر د اختر په ډول ميله مه ګرځوى ددې مطلب دادى چي زما قبر د عيد ګاه په ډول مه ګڼئ چي هلته په جمع كيدو سره زيب وزينت او لهو ولعب سره خوشحالي كوئ لكه څرنګه چي يهود او نصارى د خپلو انبياوو پر قبرونو باندي دا ډول حركتونه كوي.

ددې حديث ددې جزء څخه د نن صبا په نامه ملايانو او بدعت پرستو ته سبق حاصلول پكار دى چي هغوى د اولياء الله مزارات د نفساني خواهشات او دنياوي اغراضو منبع او مرجع جوړه كړې ده او ددې مقدس بزرګانو مزارات باندي د عرس په نامه د دنيا هغه خرافات او هنګامه آرائي كوي چي په هغه كفر او شرک هم خندا كوي خو افسوس دادى چي د هغوى حلوه ګانو نذر ونياز وغيره د هغوى پر عقل د نفس پرستي او هوس كاري هغه پردې اچولي دي چي د هغه په موجودګي كي نه هغوى ته نعوذ بالله د قرآني احكام ضرورت سته او نه د يو حديث حاجت دى، الله دي دغه خلكو ته هدايت وكړې. آمين.

ځيني علماء ددې جزء تشريح داسي كړې ده چي د اختر په ډول په كال كي يوازي يو واريا دوه واره زما د قبر زيارت ته مه راځى بلكه اكثر يعني زيات حاضريږئ په دې صورت كي رسول الله ﷺ د خپل قبر د زيات زيارت او په دې محيط كي علم وعرفان او منبع امن او سكون باندي اكثر د امت خلكو ته د حاضرۍ ترغيب وركړى دى.

د حديث د اخري جزء مطلب دادى چي پر ما باندي زيات درود ليږئ كه يو سړى زما د روضې څخه ليري وي نو هغه ته دا خيال نه دى كول پكار بلكه هغه ته پكار دي چي پر خپل ځاى باندي ناست پر ما باندي درود ووايي هغه ماته رارسيږي همداسي رسول الله ﷺ هغه مشتاقان زيارت ته چي هغوى ته د روضې اقدس د حاضرۍ خوشبختي حاصله نسي تسلي وركړې ده كه د مجبورۍ په وجه تاسو زما څخه ليري ياست مګر تاسو ته پكار ده چي توجه او حضور زړه

ځخه غافل نسئ.

د درود شريف نه ليږلو سزا

﴿۸۶۶﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه ځخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

رَغِمَ أَنْفُ رَجُلٍ ذُكِرْتُ عِنْدَهُ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيَّ وَرَغِمَ أَنْفُ رَجُلٍ دَخَلَ عَلَيْهِ

د هغه چا پزه دي په خاورو ولړل سي چي د هغه په وړاندي زما يادونه وسي او هغه پر ما درود ونه وايي او د هغه چا پزه دي په خاورو ولړل سي چي پر هغه راسي

رَمَضَانُ ثُمَّ انْسَلَخَ قَبْلَ أَنْ يُغْفَرَ لَهُ وَرَغِمَ أَنْفُ رَجُلٍ أَدْرَكَ عِنْدَهُ أَبَوَاهُ الْكِبَرَ فَلَمْ يُدْخِلَاهُ الْجَنَّةَ. رواه الترمذي

د رمضان (مياشت) راسي او تيره سي مگر هغه بخښنه تر لاسه نه کړي او هغه چا پزه دي په خاورو ولړل سي چي د هغه مور او پلار دواړه يا په هغو کي يو د سپين ږيرتيا حالت ته ورسيږي او هغوی هغه په جنت کي داخل نه کړئ. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\ ۵۱۴. رقم: ۳۵۴۵.

تشريح: په دې حديث کي د درو ډولو خلکو لپاره سزا بيانيږي: لومړی تر ټولو مخکي د هغه خلکو په باره کي ويل سوي دي چي د هغوی مخکي د رسول الله ﷺ نوم مبارک واخستل سي او درود نه وو وايي نو د هغه دي پزه په خاورو ککړه سي يعني ذليل، خوار او هلاک سي.

په ښکاره خو ددې حديث ځخه دا معلوميږي چي په يوه مجلس کي کله هم د رسول الله ﷺ نوم مبارک واخستل سي نو هر وار صلي الله عليه وسلم ويل واجب کيږي ځکه چي ددې په پرهېښودو سره په شدت سره د سزا بيان سوی دی حال دا چي داسي نه ده ځکه چي په تيرو صفحو کي ښودل سوي دي چي هر وار درود ليږل واجب نه دی يوازي يو وار درود ويل واجب دی البته هر وار درود ويل مستحب او افضل دی او س ددې حديث توجيه به دا کيږي چي د وجوب دليل د آخرت سزاده او ددې سزا تعلق د آخرت سره نه دی ځکه ددې انتهائي امر دادی چي دا سزا د هر وار درود ويلو پر استحباب باندي دلالت کوي نه پر وجوب باندي.

دوهم هغه ډول خلک چي د هغوی لپاره سزا بيانيږي هغه دي چي د روژې حقوق نه ادا کوي نه خو سمه روژه نيسي اونه په روژه کي په پوره ذوق اوشوق سره عبادت کوي دا تول شيان د مغفرت او بخښني ذريعه وي ځکه فرمايل سوي دي چي د هغوی په باره کي دي تباهي او هلاکت وي چي په روژه کي دديٍ مقدسي مياشتي د فضل او شرف څخه محروم کيږي د هغه تنيجه داسي چي دديٍ مياشتي د بخښني په سعادت سره هم نسي پاللاي او دا مياشت په خپل ټولو سعادتونو سره تيريږي ، دريم داسي خلک دي چي د هغوی سره دديٍ وعيد تعلق دی چي هغه د مور پلار اطاعت کونکي او فرمانبردار نه وي د حديث حاصل دادی چي کومو خلکو د موراو پلار سره حسن سلوک ونه کړ د هغوی حقوق يي ادا نه کړل د هغوی د رضامندي او خوښۍ خيال يې ونه کړ او په خاصه توګه د هغوی په سپين ږيرتوب کي يې د هغوی خدمت و نه کړ نو په حقيقت کي هغه ډير بد نصيبه دی ځکه چي هغوی د دا شيانو په پرېښودلو سره د آخرت عذاب او تاوان پر سر اخستی دی چي دا شيان په جنت کي د داخليدو سبب او ذريعه دي .

د درود شريف فضيلت

﴿۸۶۷﴾: وَعَنْ أَبِيْ طَلْحَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَ ذَاتَ يَوْمٍ

د حضرت ابوطلحه ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ يوه ورځ تشريف راوړ

وَالْبِشْرُ فِيْ وَجْهِهِ فَقَالَ إِنَّهُ جَاءَنِيْ جِبْرِيْلُ فَقَالَ إِنَّ رَبَّكَ يَقُوْلُ أَمَا يُرْضِيْكَ

او پر مخ مبارک يې د خوښۍ اثرات وه ، رسول الله ﷺ وفرمايل : جبرائيل ﷺ ما ته راغلی او ويل يې ستا پروردګار وفرمايل : ايا ستا دا خوښه نه ده

يَا مُحَمَّدُ أَنْ لاَّ يُصَلِّيْ عَلَيْكَ أَحَدٌ مِّنْ أُمَّتِكَ إِلاَّ صَلَّيْتُ عَلَيْهِ عَشْرًا وَلاَ يُسَلِّمُ

اې محمد ! چي ستا په امت کي يو څوک پر تا درود ووايي او زه پر هغه لس ځله رحمت نازل کړم ، او سلام ووايي

عَلَيْكَ أَحَدٌ مِّنْ أُمَّتِكَ إِلاَّ سَلَّمْتُ عَلَيْهِ عَشْرًا ؟ . رواه النسائي والدارمي

ستا امت پر تا او زه لس ځله پر هغه سلام وليږم. نسائي او دارمي .

تخريج: سنن النسائي ۳\۴۴، رقم: ۱۲۸۴، والدارمي ۲\۴۰۸، رقم: ۲۷۷۳.

تشریح: رسول الله ﷺ د خپل امت په حق کي ډیر زیات مشفق او مهربان وو او د امت لپاره د خیر طلب ګاروو، د رسول الله ﷺ انتهایي غرض او خواهش وو ځکه د جبرائیل علیه السلام په ذریعه ورته زیری ورکړل سو نو مخ مبارک بې د خوشحالی څخه وځلیدی دا لویی زیری بې صحابه کرامو ته او د هغوی په ذریعه ټول امت ته ورسوی.

د درود شریف او سلام ویلو حد معلوم نه دی

﴿۸۶۸﴾: وَعَنْ اُبَيِّ ابْنِ كَعْبٍ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي أُكْثِرُ الصَّلَاةَ عَلَيْكَ

د حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه څخه روایت دی چي ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړ: اې د الله رسوله! زه پر تاسو باندي ډیر درود وایم

فَكَمْ أَجْعَلُ لَكَ مِنْ صَلَاتِي فَقَالَ مَا شِئْتَ قَالَ قُلْتُ الرُّبُعَ قَالَ مَا شِئْتَ فَإِنْ

نو تاسو ما ته و وایاست چي زه د خپل اعمالو څخه د دې لپاره څومره وخت وټاکم؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: څومره چي ته غواړې، که زیات کوې نو ستا لپاره غوره دی، ما عرض وکړ ځلورمه حصه وخت ورته وټاکم؟ رسول الله ﷺ وفرمایل څومره چي ته غواړې که

زِدْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ قُلْتُ النِّصْفَ قَالَ مَا شِئْتَ فَإِنْ زِدْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ قَالَ

زیات کوې نو ستا لپاره غوره ده، ما بیا عرض وکړ: نیم وخت ورته وټاکم؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: څومره چي ته غواړې که زیات کوې نو ستا لپاره غوره دی، ما بیا عرض وکړ:

قُلْتُ فَالثُّلُثَيْنِ قَالَ مَا شِئْتَ فَإِنْ زِدْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ قُلْتُ أَجْعَلُ لَكَ صَلَاتِي

دریمه برخه وخت ورته وټاکم؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: څومره چي ته غواړې که زیات کوې نو ستا لپاره غوره دی. ما عرض وکړ: د خپلي دعاء ټول وخت ورته وټاکم؟

كُلَّهَا قَالَ إِذًا تُكْفَى هَمَّكَ وَيُغْفَرُ لَكَ ذَنْبُكَ. رواه الترمذي

رسول الله ﷺ وفرمایل دا کافي ده او ستا د دین او دنیا مقصدونه به پوره کړل سي او ستا ګناهونه به لیري کړل سي. ترمذي.

تخریج: سنن الترمذي ۴\۵۴۹، رقم: ۲۴۵۷.

تشریح: په (اجعل لک من صلاتي) کي لفظ د صلوة څخه مراد دعا ده، د ابی ابن کعب رضی الله عنه

د ويلو مطلب دا وو چي زما خواهش دی چي پر تا ډير زيات درود ووايم ما د خپل وختونو څخه يو خاص وخت د دې لپاره مقرر کړی دی چي زه په هغه وخت کي پر تاسو ډير زيات زيات درود ووايم نو تاسو يې و تاکئ چي د هغه وخت څومره برخه زه ستاسو په درود کي تيره کړم.

رسول الله ﷺ د هغه پر دې درخواست د درود ويلو لپاره د هغه وخت څه برخه مقرره نه کړل بلکه هغه يې د هغه پر اختيار پريښودل او وه يې فرمايل چي ته خپله پوهيږې چي د درود ويلو څومره فضيلت دی او ددې څه څه فضائل او برکات دي ددې مقدس کار لپاره ستا سعادت چي څومره وخت غواړې مقرر کړه خو په دې پوه سه چي ته ددې کار لپاره څومره زيات وخت ورکړې هغومره به ستا په حق کي غوره وي هر کله چي هغه د خپل پوره وخت درود شريف ويلو باندي د صرف کولو اظهار وکړ نو رسول الله ﷺ د اطمينان او خوشحالی اظهار وفرمايه چي تا يو مستقل وخت ددې مقدس کار لپاره خاص کولو سره او حقيقت د دنيا او آخرت خير او مقاصد حاصل کړ هر کله چي بنده خپله غوښتنه او رغبت د الله تعالی په خوښ او محبوب شي کي خرڅ کړي او د الله تعالی رضا او خوښي خپل خواهشاتو او خپلو مقصدو باندي مقدم کړي نو الله تعالی د هغه ټول امور او حاجات کي د هغه مددګار او حامي کيږي چي د هغه په وجه د هغه ټوله دنيوي او ديني مقصدونه پوره کيږي (من كان لله كان الله له) يعني څوک چي د الله تعالی سي نو الله تعالی د هغه سي.

ددې څخه معلومه سوه چي درود شريف دا برکت او فضيلت لري چي کوم سړی چي وظيفه کوي او د خپل ژوند يو ضرورت جزء يې جوړ کړی وي نو د هغه لپاره دين او دنيا دواړه ځايه په اساني او سهولتونه فراهم کيږي او د هغه ټول د خير مقصدونه پوره کيږي.

شيخ عبد الحق محدث دهلوي رحمة الله عليه فرمايي کوم وخت چي زما شيخ عبد الوهاب متقي رحمة الله عليه زه د مديني منورې د زيارت لپاره رخصت کړم نو دا الفاظ يې ارشاد فرمايل څه او ياد لره چي په دې لاره کي د فرض ادا کولو وروسته هيڅ عبادت د رسول الله صلي الله عليه وسلم باندي د درود ويلو څخه نسته نو خپل وختونه دي په مقدسه مشغله کي يوازي کوه او په څه بل شي کي مه مصروف کيږه، شيخ عبد الحق رحمة الله عليه فرمايي ما عرض وکړ او که ددې لپاره يو شمير و ټاکل سي چي زه په دومره شمير کي درود شريف ووايم شيخ عبد الحق رحمة الله عليه وفرمايل په دې اړه يو شمير ټاکل شرط نه دی بلکه درود شريف په دومره کثرت سره ويل چي په هغه سره رطب اللسان صفت کونکي سي او په دې رنګ کي رنګين سي او په دې کي مستغرق سي.

د حصن حصين مصنف علام په مفتاح كي ليكلي دي چي پر رسول الله ﷺ باندي درود شريف ويل ددې بې شميره فائدې دي او د دنيا او اخرت لپاره د هغه بې شميره ميوې مرتب كيږي خصوصا تنګی او پريشاني ليري كيږي يو خاصكار او مطلب پوره كيدو په اړه په دې باره كي تجربه سوې ده خپله زما تجربه ده چي زه اكثر د خوف او د هلاكت په ځاي كي راګير سم او ماته هلته پر رسول الله ﷺ باندي په درود ويلو باندي نجات حاصل سوى دى.

د درود شريف وروسته دعاء قبليږي

﴿۸۶۹﴾: وَعَنْ فَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ قَالَ بَيْنَمَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت فضالة بن عبيد رضي الله عنه څخه روايت دى چي يوه ورځ رسول الله ﷺ تشريف فرما وو

قَاعِدٌ إِذْ دَخَلَ رَجُلٌ فَصَلَّى فَقَالَ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ

چي يو سړى حاضر سو، لمونځ يې وكړ او بيا يې دا دعاء وغوښتل : اې الله ما و بخښې او پر ما رحم وكړې، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَجِلْتَ أَيُّهَا الْمُصَلِّي إِذَا صَلَّيْتَ فَقَعَدْتَ فَاحْمَدْ اللَّهَ

اې لمونځ كونكې ! تا تلوار وكړ هر كله چي ته لمونځ وكړې نو په آخر كي كښينه او د الله جل جلاله تعريف داسي وكړه

بِمَا هُوَ أَهْلُهُ وَصَلِّ عَلَيَّ ثُمَّ ادْعُهُ قَالَ ثُمَّ صَلَّى رَجُلٌ آخَرُ بَعْدَ ذَلِكَ فَحَمِدَ

چي د هغه د عظمت وړ وي بيا پر ما درود ووايه بيا چي د الله جل جلاله څخه څه غواړې هغه و غواړه ، راوي وايي د دې وروسته يو بل سړى راغلى لمونځ يې وكړ د الله جل جلاله تعريف يې وكړ

اللَّهَ وَصَلَّى عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

او پر نبي ﷺ يې درود ووايه ، نو نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل :

وَسَلَّمَ أَيُّهَا الْمُصَلِّي ادْعُ تُجَبْ . رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي نحوه.

اې لمونځ كونكې ! د ځان لپاره دعاء وكړه قبوله به سي . ترمذي، ابوداؤد او نسائي .

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\ ۶۳۷، رقم: ۱۴۸۱ والترمذي ۵\ ۴۸۲، رقم: ۳۴۷۶ ، والنسائي ۳\ ۴۴- ۴۵، رقم: ۱۲۸۳

﴿۸۷۰﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ كُنْتُ أُصَلِّي وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی چي ما لمونځ کوی او نبي کریم ﷺ حاضروو

وَسَلَّمَ وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ مَعَهُ فَلَمَّا جَلَسْتُ بَدَأْتُ بِالثَّنَاءِ عَلَى اللهِ ثُمَّ الصَّلَاةَ

او ابوبکر رضی الله عنه او عمر رضی الله عنه هم ورسره وه کله چي زه د لمانځه وروسته کښېنستم نو د الله جل جلاله
تعریف مي بیان کړ بیا مي درود ووایه

عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ دَعَوْتُ لِنَفْسِي فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ

پر نبي ﷺ او بیا مي د ځان لپاره دعاء وکړل (د دې په اوریدو سره) رسول الله ﷺ وفرمایل:

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَلْ تُعْطَهُ سَلْ تُعْطَهُ. رواه الترمذي

غواړه یې دربه کړل سي، غواړه یې دربه کړل سي. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۲\۴۸۸، رقم: ۵۹۳.

اَلْفَصْلُ الثالث (دریم فصل)

د اُمي پلټنه

﴿۸۷۱﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَرَّهُ

د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: که څوک خوښوي

أَنْ يُكْتَالَ بِالْمِكْيَالِ الْأَوْفَى إِذَا صَلَّى عَلَيْنَا أَهْلَ الْبَيْتِ فَلْيَقُلْ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَى

چي هغه ته پوره ثواب ورسیږي نو کله چي زموږ پر اهل بیتو درود وایي نو هغه ته پکار دي چي
داسي درود ووایي: اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى

مُحَمَّدٍ النَّبِيِّ الْأُمِّيِّ وَ أَزْوَاجِهِ أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِيْنَ وَذُرِّيَّتِهِ وَأَهْلِ بَيْتِهِ كَمَا

مُحَمَّدٍ النَّبِيِّ الْأُمِّيِّ وَ أَزْوَاجِهِ أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِيْنَ وَذُرِّيَّتِهِ وَأَهْلِ بَيْتِهِ كَمَا

صَلَّيْتَ عَلٰى إِبْرَاهِيْمَ إِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ . رواه أبو داود

صَلَّيْتَ عَلٰى إِبْرَاهِيْمَ إِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ . ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\۶۰۱، رقم: ۹۸۲.

تشريح : څرنګه چي د رسول الله ﷺ نور ډير نومونه دي چي د رسول الله ﷺ پر مختلفو خصوصياتو او صفاتو دلالت كوي همداسي د رسول الله صلي الله عليه وسلم يو خاص او عظيم الشان لقب امي هم دی د رسول الله صلي الله عليه وسلم دا لقب مبارک په تورات انجيل او د اسمان په نازل سوي ټولو كتابونو كي ذكر سوی دی امي په لغت كي هغه سړي ته وايي چي ليک او لوست ېې زده نه وي نه يو مكتب او مدرسې ته تللی وي او نه ېې د چا څخه تعليم حاصل كړی وي او امي منسوب دی ام يعني د مور خوا ته په دې مناسبت سره مطلب دا سو چي داسي سړی چي د مور د نس څخه د پيدا كونكي بچي په ډول وي چي هغه ته چا د ليكلو او نه د ويلو تعليم وركړی وي .

هر كله چي رسول الله ﷺ دې دنيا ته د آخري نبي په حيثيت سره را واستول سو نو الله تعالی د يو استاذ مكتب او تعليم محتاج ونه ګڼئ بلكه خپل د دين او دنيا د ټولو علومو سره په پوره طور سره دې دنياته را واستوی په دې دنيا كي رسول الله صلي الله عليه وسلم نه خو په يوه مكتب كي قدم كښيښودی او نه ېې د كوم استاذ شاګردي وكړه بلكه په ښكاره ېې نه ليكل وكړه نه ويل په دې وجه ده مبارک ته امي ويل كيږي .

نګار من كه به مكتب رفط و خط نه نوشت　　بغمزه مسئله آموز صد مدرس شد

يتيمي كه نا كرده قرآن درست　　كتب نانه چند ملت بشست

به تعليم و آداب او راچي نسبت　　كه خود زاآغاز او آمد مودب

ځيني حضرات وايي چي امي په اصل كي ام القرای يعني د مكې و خواته منسوب دی چي د ټولي مځكي اصل دی .

درود شريف نه ويونكی بخيل دی

﴿۸۶۲﴾: وعن علي قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْبَخِيْلُ الَّذِيْ مَنْ ذُكِرْتُ عِنْدَهٗ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيَّ . رواه الترمذي ورواه أحمد عن الحسين

بن علي رضي الله عنهما . وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح غريب .

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : بخيل هغه سړی دی چي د هغه په وړاندي زما يادونه وسي او هغه پر ما درود ونه وايي . ترمذي او احمد ، ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح غريب دی

تخريج : سنن الترمذي ۵\۵۱۵، رقم: ۳۵۴۶ والامام احمد في مسنده: ۱\۲۰۱.

تشريح : مطلب دادی چي يو بخيل خو د مال وي چي هغه د مال د خواهش په وجه د خپل طبعي جبلت په تقاضا بخل کوي چي چاته خپل مال نه ورکوي مگر لوی بخيل هغه سړی دی چي د خپل غفلت او سستۍ د غلطي په وجه د رسول الله ﷺ پر نامه مبارک د خولي ژبي او خپل زړه درود يوه کلمه هم نا باسي او همداسي هغه د نعمت د شکر او حق لحاظ هم نه کوي حال دا چي د رسول الله ﷺ پر امت هغه احسان او انعام دی چي د امت خلک د رسول الله ﷺ پر نامه مبارک خپل ځانونه هم قربان کړي نو کم دی او بيا په مجلس کي د رسول الله صلي الله عليه وسلم مبارک ذکر کوي او د هغه نوم مبارک واخستل سي او د هغه د ژبي څخه او د هغه د زړه څخه د درود شريف څو الفاظ راونه وځي.

درود رسول الله ﷺ ته رسيږي

﴿۸۷۳﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى عَلَيَّ عِنْدَ قَبْرِي سَمِعْتُهُ وَمَنْ صَلَّى عَلَيَّ نَائِيًا أُبْلِغْتُهُ . رواه البيهقي في شعب الإيمان

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل څوک چي زما د قبر سره پر ما درود ووايي نو زه هغه اورم او څوک چي د ليري څخه پر ما درود ووايي نو هغه ما ته را رسيږي . بيهقي

تخريج : البيهقي في شعب الايمان: ۲\۲۱۸، رقم: ۱۵۸۳.

تشريح : مطلب دادی چي که چاته زما د قبر د زيارت سعادت حاصل سي او هغه دلته پا حاضريدو سره سلام استوي نو زه پر ته د يو واسطي د هغه سلام اورم او چاته چي دا سعادت نه حاصليږي بلکه هغه چي د کوم ځای څخه پر ما سلام را استوي نو د هغه سلام ملائکي سياحين يعني سيل کونکي ملائکي ماته را رسوي او د سلام جواب زه په دواړو صورتونو کي ورکوم.

ددې حديث څخه اندازه ولګيدل چي پر رسول الله ﷺ باندي سلام استولو څومره فضيلت او سعادت دی او دا چي رسول الله ﷺ باندي سلام استونکي ته په خاصه توګه سره هغه سړي ته چي په کثرت سره پر رسول الله ﷺ باندي سلام استوي څومره شرف او مرتبه چي ده ته حاصله ده که چاته د يوه سلام جواب هم د دربار نبوت حاصل سي نو ډير لوی سعادت دی نو بيا څه چي برابر او د هر سلام ورته جواب ورکول کيږي.

بهر سلام مکن رنجه درجواب آن لب که صد سلام مرا بس يکې جواب از تو

د درود شريف فضائل

﴿۸۷۴﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ مَنْ صَلَّى عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاحِدَةً صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَمَلَائِكَتُهُ سَبْعِيْنَ صَلَاةً. رواه أحمد.

د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روايت دی چي څوک پر نبي کريم ﷺ يو ځل درود ووايي نو الله او ملائکي پر هغه اويا ځله درود وايي. احمد

تخريج: الامام احمد في مسنده ۱۸۷\۲.

تشريح: په ښکاره خو دا معلوميږي چي د يو وار درود ويلو دا ثواب د جمعې د ورځي سره متعلق دی ځکه چي دا ثابته ده چي حج اکبر کوم حج چي د جمعې په ورځ وي د اويا حجو برابر دی.

که دا حديث موقوف دی يعني د عبدالله ابن عمر رضي الله عنه قول دی مګر بيا هم د مرفوع په حکم کي دی ځکه چي هيڅ صحابي د اعمالو ثواب د خپل ځان څخه نسي بيانولای تر څو چي هغه د رسول الله ﷺ څخه نه وي اوريدلي ځکه يقيني خبره ده چي حضرت عبدالله رضي الله عنه به دا مضمون د رسول الله ﷺ څخه اوريدلی وي.

﴿۸۷۵﴾: وَعَنْ رُوَيْفِعٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ صَلَّى عَلَى

د حضرت رويفع رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي درود ووايي پر

مُحَمَّدٍ وَقَالَ اَللّٰهُمَّ أَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَجَبَتْ لَهُ شَفَاعَتِيْ. رواه أحمد.

محمد رضي الله عنه باندي او بيا ووايي (اې الله ده ته هغه ځای ورکړې چي د قيامت په ورځ ستا په نزد

مقرب دی) نو د هغه شفاعت واجب کیږي. احمد

تخریج: الامام احمد في مسنده: ۱۰۸\۴.

تشریح: د مقام مقرب څخه مراد مقام محمود دی چې د قیامت په ورځ به د رسول الله ﷺ په دریدو سره د الله تعالی ثناء او تعریف بیان کړي او د بندګانو په حق کې به شفاعت کوي.

د رسول الله ﷺ شفاعت د ټولو مسلمانانو لپاره ثابت دي او د هر امتي لپاره به شفاعت کوي مګر بیا هم هغه سړی ته چې د درود څخه وروسته مذکوره دعاء وایي په یوه خاصه درجه حاصل وي چې د هغه لپاره به د رسول الله ﷺ شفاعت واجب وي، یا په نورو الفاظو کې داسې هم ویل کیږي چې د دې ارشاد څخه په حقیقت کې د داسې سړي د خاتمې بالخیر وخواته اشاره مقصد ده چې انشاء الله تعالی د داسې سړي خاتمه به په خیر وي.

﴿۸۷٦﴾: وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ قَالَ خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ (د کور څخه) ووتی

حَتّٰى دَخَلَ نَخْلاً فَسَجَدَ فَأَطَالَ السُّجُوْدَ حَتّٰى خَشِيْتُ أَنْ يَّكُوْنَ اللّٰهُ تَعَالٰى

او یو باغ ته داخل سو بیا یې اوږده سجده وکړه تر دې چې زما بیره پیدا سوه چې الله تعالی

قَدْ تَوَفَّاهُ. قَالَ فَجِئْتُ أَنْظُرُ فَرَفَعَ رَأْسَهُ فَقَالَ مَا لَكَ؟ فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ. قَالَ

وفات کړی دی، ما د رسول الله ﷺ په لور وکتل چې رسول الله ﷺ خپل سر مبارک را پورته کړ او ورته یې فرمایل: په ته څه وسول؟ ما رسول الله ﷺ د پیښې څخه خبر کړی، راوي وایي چې

فَقَالَ إِنَّ جِبْرِيْلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ قَالَ لِيْ أَلَا أُبَشِّرُكَ أَنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ يَقُوْلُ

نبي کریم ﷺ وفرمایل: جبرائیل علیه السلام ما ته وویل: ایا زه تا ته د دې زیری درنه کړم؟ چې الله پاک فرمایي:

لَكَ مَنْ صَلّٰى عَلَيْكَ صَلَاةً صَلَّيْتُ عَلَيْهِ وَمَنْ سَلَّمَ عَلَيْكَ سَلَّمْتُ عَلَيْهِ. رواه أحمد

څوک چې پر محمد ﷺ یو ځل درود ووایي زه به پر هغه رحمت نازل کړم او څوک چې پر محمد ﷺ سلام ووایي زه به پر هغه سلام ولیږم. احمد

تخریج: الامام احمد في مسنده: ۱۹۱\۱.

د لغاتو حل: (نخلا): اى بستان نخل. (د خرما باغ).

تشريح: امام حنبل رحمة الله عليه په خپل نورو روايتونو په آخر كي دا الفاظ هم نقل كړي دي او ويلي يې دي چي دا حديث صحيح دی او د سجده شكر په اړه تر دې زيات صحيح حديث زما په نظر كي نسته او دا روايت په مختلفو طريقو سره روايت دی.

د دعاء قبليدل پر درود باندي موقوف وي

﴿۸۷۷﴾: وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ إِنَّ الدُّعَاءَ مَوْقُوفٌ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ لَا يَصْعَدُ مِنْهُ شَيْءٌ حَتّٰى تُصَلِّيَ عَلٰى نَبِيِّكَ. رواه الترمذي.

د حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روايت دی چي دعاء تر هغه وخته پوري د آسمان او مځكي په منځ كي زړيدلې وي او د هغه څخه هيڅ شی پورته نه ځي تر څو پوري چي ته پر نبي كريم ﷺ درود ونه ليږې. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۲\۳۵۶، رقم: ۴۸۶.

تشريح: مطلب دادی چي د دعا قبوليت پر درود شريف باندي موقف دی، درود شريف خپله مقبول دی ځكه د دې په توسط او وسيلې سره دعا هم قبليږي.

مور مسكن هوسي داشت كه در كعبه رسد دست در پايي كبوتر زده ناگاه رسيد

په حصن حصين كي نقل دي چي شيخ ابو سليمان داراني رحمة الله عليه وفرمايل هر كله چي تاسو د الله تعالى په مخكي د خپل يو حاجت د تكميل لپاره د دعا لاس اوږد كړئ نو پيل د رسول الله ﷺ د درود شريف پر ويلو كوئ د دې وروسته چي څه غواړې د هغه لپاره دعا وكړئ او دعا پر درود شريف باندي ختموئ يعني د دعا مخكي دي هم درود شريف وايي او د دعا وروسته هم، نو بيا الله جل جلاله دا د دعا ضرور قبلوي ځكه چي د الله تعالى رحم او كرم څخه دا ډيره ليري خبره ده چي هغه دي دواړه درودونه خو قبول كړي مگر د دوو درودو په مينځ كي دعا نه كړي قبوله.

علامه طيبي رحمة الله عليه د دې حديث په باره كي فرمايي دا هم ممكنه ده چي دا خپله د حضرت عمر رضي الله عنه قول وي په دې صورت كي به دا حديث موقوف وي او دا هم ممكنه ده چي د رسول الله ﷺ ارشاد وي په دې صورت كي به دا حديث مرفوع وي او صحيح دادی چي دا حديث موقوف دی يعني د حضرت عمر رضي الله عنه قول دی مگر محققين علماء دا حديث فرمايي چي

۱ دول خبره هيڅ راوي د خپل ځان څخه نسي كولاى څرنګه چي ددې باب په حديث نمبر (۸۷۴) په تشريح كس ښودل سوي دي ځكه دا حديث رواية خو موقوف دى مګر حكما مرفوع دى.

==============

بَابُ الدّعَاءِ فِي التّشَهّد

په تشهد كي د دعاء بيان

په آخري قعده كي د التحيات او درود شريف وروسته دعا غوښتل سنت دي د فقي په كتابو كي ليكلي دي چي لمونځ كونكى دي د التحيات او درود شريف وروسته د خپلي خوښي سره سم دعاء غواړي مګر دعا دې د عامو خلكو د كلام (خبرو) مشابه نه وي لكه څوك چي دعا غوښتل پيل كړي چي يا الله ماته ډوډى راكړې ماته جامې راكړې دا ډول دعا غوښتل مناسب نه دي . اوس په باب التشهد كي هم تاسو هغه حديث وواىه چي د ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دى په هغه كي هم دا لفاظ نقل سوي دي چي هغه ته رسول الله ﷺ د التحيات تعليم په وركولو سره فرمايلي دي چي بيا هغه دعاګاني اختيار كړه كومي چي ته خوښوې او په تشهد كي د رسول الله صلي الله عليه وسلم دعاګاني نقل سوي دي چي په تشهد كي به يې هغه دعاګاني ويلې نو د خوښي څخه مراد د رسول الله ﷺ نقل سوي دعاګاني كيداى سي .

په هر حال حاصل دادى چي په تشهد كي هغه دعاګاني ويل كوم چي د رسول الله ﷺ څخه نقل سوي دي زيات اولى او افضل دي ځكه چي هغه دعاګاني د دنيا او آخرت د دواړو مقصدو جامع دي په دې باب كي هغه دعاګاني نقل كيږي كوم چي رسول الله ﷺ په تشهد كي ويلې يا د هغه تعليم يې نورو خلكو ته وركړى دى .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړى فصل)

په تشهد كي د رسول الله ﷺ دعاء

﴿۸۷۸﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْعُو فِي الصَّلَاةِ

د حضرت عائشي رضي الله عنها څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ به په لمانځه كي دعاء غوښتل (يعني د

لمانځه وروسته) او دا به یې ویل:

اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ

(اې الله زه ستا پناه غواړم د قبر د عذاب څخه د مسيح دجال د فتنې څخه

وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْمَأْثَمِ

او پناه غواړم د ژوند او مرګ د فتنې څخه، اې الله! زه ستا پناه غواړم د ګناه څخه

وَالْمَغْرَمِ فَقَالَ لَهُ قَائِلٌ مَا أَكْثَرَ مَا تَسْتَعِيذُ مِنَ الْمَغْرَمِ فَقَالَ إِنَّ الرَّجُلَ

او د پور څخه)، د دې په اوریدو سره یو سړي عرض وکړ اې د الله رسوله! د تعجب خبره ده تاسو د پور څخه پناه غواړئ، رسول الله ﷺ وفرمایل:

إِذَا غَرِمَ حَدَّثَ فَكَذَبَ وَوَعَدَ فَأَخْلَفَ. متفق عليه

هر کله چې سړی پوروړی سي نو چې خبري کوي دروواغ وايي او چې وعده کوي نو د وعدې خلاف ورزي کوي د پور د ادا کولو لپاره چې څه چم کیږئ د هغه لپاره د درواغو عذرونه جوړوي او د پور ادا کولو وعده په عام ډول سره نه پوره کوي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲ ۳۱۷، رقم: ۸۳۲، ومسلم ۱\ ۴۱۲، رقم: ۱۲۹- ۵۸۹.

تشريح: دجال به په آخره زمانه کي قيامت ته نژدې پيدا کيږي چې د خدايي دعوه به وکړي او خلک به خپل مکر او فريب سره ګمراه کوي ددې مفصل ذکر به انشاءالله تعالى د مشکوة شريف په اخري بابو کي راسي.

دجال ته مسيح ولي وايي؟ دجال ته مسيح ځکه وايي چې د هغه یوه سترګه به چپه وي یعني هغه به یو سترګی وي او هغه به ممسوح وي ځکه په دې مناسبت سره هغه ته مسيح ويل کيږي د ممسوح مطلب دی د ټولو نيکيو خير او برکت څخه بالکل ليري نااشنا او داسي لکه چي په هغه کله ددی شيانو سايه هم نه وي لوېدلې او ښکاره ده چې دومره خراب خصلتونه حاصل دجال څخه ماسوا بل څوک کيدای سي.

حضرت عيسىٰ ﷤ ته د مسيح ويلو وجه څه ده؟

د حضرت عيسى عليه السلام لقب هم مسيح دی چې د هغه اصل مسيحا دی او مسيحا په

عبراني ژبه کي مبارک ته وايي يا دا چي د مسيح معنی ده ډير سيل کونکی (ډېر ګرځېدونکي)، قيامت ته نژدې به حضرت عيسي عليه السلام دې دنيا ته د آسمان څخه را کښته کړل سي او د دنيا څخه به د ګمراهي او ضلالت بيخونه وباسي او بيا به پر ټوله نړۍ باندي د الله تعالی د خليفه په حيثيت پر حکمرانۍ کولو باندي مامور کړل سي او په دې اړه به نوموړي ته د امور سلطنت سنبالولو او د الله دين او په نړۍ کي د دين خپرولو او د دجال وژلو لپاره تقريبا په پوره دنيا کي ګرځيدل وي ځکه په دې مناسبت سره مسيح د حضرت عيسی عليه السلام لقب مبارک وګرځيدی . په هر حال د لفظ مسيح اطلاق پر حضرت عيسي عليه السلام او د جال ملعون دواړو باندي کيږي او د دواړو په مينځ کي امتيازي فرق دادی چي هر کله يوازي مسيح وليکل سي نو ددې څخه حضرت عيسي عليه السلام مراد دی او هر کله چي دجال ملعون مراد وي نو لفظ مسيح دجال سره مقيد کيږي يعني دجال ليکل او ويل کيږي .

رسول الله ﷺ په دعا کي د شپږو شيانو څخه د الله تعالی پناه غوښتې ده: اول د قبر د عذاب څخه، دوهم د دجال د فتنې څخه، دريم د ژوند د فتنې څخه، څلورم د مرګ د فتنې څخه، پنځم د ګناه څخه، شپږم د پور څخه، داشپږ شيان د خپل هيبت، هلاکت، ديني او دنياوي تاوانونو په وجه ډير ارزښت لري، که ددې شيانو څخه الله تعالی چاته نجات ورکړی نو پر هغه باندي بې خپل فضل او کرم وکړ نو د دين او دنيا کاميابي رحمت او سعادت به يې په نصيب سي او که خدای مه کړه يو بد نصيب ته په دې کي يو هم پيش سو نو پوه سئ چي دنيا به يې تباه سي او د آخرت ټولو سهولتونو آسانيو رحمتونو او سعادتونو څخه بهٔ محرومه سي او د عذاب خداوندي مستحق به سي ځکه رسول الله ﷺ خپله د دغه شيانو څخه د پناه غوښتلو سره د امت لپاره د تعليم دروازه خلاصه کړې ده چي هر مسلمانه ته پکار ده چي د خپل پروردګار څخه د دغه سختو او هيبت ناکو شيانو پناه وغواړي چي پروردګار يې د هغه څخه محفوظ او مامون وساتي .

د قبر عذاب او د دجال فتنه خو بالکل ښکاره شيان دي، ددې د تشريح او وضاحت ضرورت نسته البته د ژوند فتنه داده چي د صبر او رضا د نيستۍ په وجه د ژوند په مصيبتو او بلاګانو کي اخته سي کوم چي يې د هدايت او د حق د لاري څخه منعه کړي او د ژوند په ګمراهۍ او ضلالت کي يې وغورځوي .

د مرګ د فتنې څخه مراد دادی چي لعنتي شيطان د زکندن په حالت کي د خپل مکر او د فريب جال اوارولو سره او د مړکيدو په حالت کي په زړه کي دا وسوسې او شبهې ور واچوي په

آخري لحظه چي هغه د هميشه نجات او عذاب دار او مدار دی په خرابي او گمراهي کي ړې غورځوي چي د دې دنيا څخه د رخصت کېدونکي نعوذبالله په ايمان او يقين سره نه بلکه د کفر او شک سره وفات سي همداسي د منکر نکير د سوالونو سختي د قبر عذاب شدت او د عقبی په عذاب کي گرفتا ري هم د مرگ فتنې دي الله تعالی دې دې ټولو څخه هر مسلمان محفوظ او مامون کړي . آمين

لفظ ماثم يا خو مصدر دی يعني گناه کول يا د دې څخه مراد هغه شی دی چي د گناه باعث وي .

په هر حال د دې مطلب دا دی چي هغه گناوي موږ د الله تعالی څخه پناه ږې غواړو چي د هغه په نتيجه کي بنده د آخرت د عذاب او د الله تعالی د ناراضگۍ اخلي بيا د هغه شيانو څخه د الله پناه چي د گناه کيدو ذريعه وي يا د هغه په اختيارولو سره بنده د سيده لاري څخه ليري کيږي او د ضلالت او گمراهۍ پر لار روانيږي .

د پور څخه د پناه غوښتلو وجه

د پور څخه پر پناه غوښتلو باندي يو صحابي ته تعجب وسو چي په پور کي داسي کومه خرابي ده چي د هغه څخه پناه وغوښتل سي بلکه په دې سره خو ډير ضرورتمندو ته کار پيدا کيږي او په دنياوي معاملاتو کي تر ډيره حده پوري مرسته رسيږي رسول الله صلي الله عليه وسلم د دې قباحت او خرابۍ د بنيادي حقيقت خوا ته توجه وگرځول چي هغه يقينا داسي شی دی چي د هغه څخه پناه غوښتل پکار ده اول خو په دنياوي اعتبار سره هم د يو چا پوروړی کيدل ښه خبره نه ده بلکه د دين او اخرت چي کوم تعلق دی نو د دې په وجه د داسي شيانو کول کيږي چي د شريعت په نظر کي نه يوازي دا چي داسي شيان معيوب دي بلکه اکثر پور غوښتونکي په سوونو بهانې لټوي ، غلطي خبري جوړوي او د خپل مقصد پوره کولو لپاره لوی لوی دروا غ ويلو کي هيڅ انديښنه هم نه محسوس کوي .

د دې څخه وروسته د وهمه مرحله د پور د ادا کولو وي چي پوروړی د پور اخيستو وخت ټاکي چي په هغه کي د پور د ادا کولو وعده کوي مگر تجربه شاهده ده چي ډير لږ پوروړي به داسي وي چي پر ټاکلي وخت به پور ادا کوي کنه اکثر خلک وعده خلافي کوي ، دلته نه يوازي دا ي وعده خلافي کوي بلکه د نه ادا کولو په عذر کي هر ډول درواغ وايي ، همداسي د پور په وعده خلافي او درواغ ويلو سره گناه کار کيږي ، او بيا د نه ادا کولو دا عذر يو وار يا دوه واره نه ختميږي همداسي پوروړي پر له پسې درواغ وايي هر وار وعده خلافي کوي او همداسي د گناه بار زياتوي ، ظاهره ده چي دا شيان د الله تعالی د عذاب او د آخرت د نيو کي سبب کيږي

ځکه نو د داسي غلط شي څخه د الله تعالی پناه غوښتل سوې ده.

د لمانځه وروسته د کومو شيانو څخه پناه غوښتل پکار ده

﴿۸۷۹﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا فَرَغَ أَحَدُكُمْ

د حضرت ابو هريرة رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ و فرمايل: هر کله چي فارغ سي په تاسو کي يو څوک

مِنَ التَّشَهُّدِ الْآخِرِ فَلْيَتَعَوَّذْ بِاللّٰهِ مِنْ أَرْبَعٍ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ وَمِنْ عَذَابِ

د آخري تشهد څخه نو د څلورو شيانو څخه د ساتلو لپاره د الله جل جلاله څخه دعاء غواړئ ۱: د دوږخ د عذاب څخه ۲: د عذاب څخه

الْقَبْرِ وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ وَمِنْ شَرِّ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ. رواه مسلم

د قبر ۳: د ژوند او مرګ د فتنې څخه ۴: د مسيح دجال د شر او فتنې څخه. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۴۱۲، رقم: ۱۳۴-۵۹۰.

تشريح: مطلب دادی چي په اخري قعده کي د تشهد څخه د فراغت وروسته دغه دعاء ويل کيږي: اللهم اني اعوذبك من عذاب جهنم ومن عذاب القبر ومن فتنة المحيا والممات ومن شر المسيح الدجال. ترجمه: اې الله! زه پناه غواړم په تا سره د دوږخ د عذاب څخه د قبر د عذاب څخه د ژوند او مرګ د فتنې څخه او د مسيح دجال د شر او فتنې څخه.

﴿۸۸۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُعَلِّمُهُمْ

د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به ده ته ښودل

هٰذَا الدُّعَاءَ كَمَا يُعَلِّمُهُمُ السُّورَةَ مِنَ الْقُرْآنِ يَقُولُ قُولُوا اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ

دا دعاء داسي لکه قرآن کريم چي به يې ښودی، فرمايل به يې داسي دعاء غواړئ: (اې الله زه ستا پناه غواړم

مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ

د دوږخ د عذاب څخه او ستا پناه غواړم د قبر د عذاب څخه او پناه غواړم د فتنې څخه د مسيح

الدَّجَّالِ وَأَعُوذُبِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ . رواه مسلم

دجال او د ژوند او مرګ د فتنې څخه) مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱\ ۴۱۳. رقم: ۱۳۴- ۵۹۰.

د تشهد او درود څخه وروسته دعاء

﴿۸۸۱﴾: وَعَنْ اَبِيْ بَكْرِ الصِّدِّيْقِ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوبکر صديق[1] رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما وويل : اې دالله رسوله !

عَلِّمْنِي دُعَاءً أَدْعُو بِهِ فِي صَلَاتِي قَالَ قُلِ اللَّهُمَّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي ظُلْمًا كَثِيرًا

ما ته يوه دعاء وښيه چي په لمانځه کي يې کوم (يعني دلمانځه وروسته) رسول الله ﷺ وفرمايل : ووايه : (اې الله ! ما پر خپل ځان ډير ظلم کړی دی

وَلَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ فَاغْفِرْ لِي مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ وَارْحَمْنِي إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ. متفق عليه

او ستا څخه پرته څوک ګناهونه نه سي بخښلای ته ما په خاص ډول سره و بخښې او پر ما رحم وکړې ته بخښونکی او رحم کونکی يې) .بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\ ۳۱۷، رقم: ۸۳۴ و مسلم ۴\ ۲۰۷۸، رقم: ۴۸- ۲۰۷۵.

تشريح : په دې روايت کي لفظ كثيرا په ثاء ممثله سره ذکر سوی دی او د مسلم په ځينو روايتونو کي په باء موحده سره يعني کبيرا ذکر کړل سوی دی نو دا دعا په دواړو الفاظو سره ويل کيږي يعني کله خو کثيرا او کله کبيرا ويلای سي .

[1] - د نوموړي نوم عبد الله او کنيت يې ابوبکر دی او لقب يې صديق او عتيق دی، د محققينو مطابق د نوموړي اصل نوم عبد الکعبه وو ، بيا رسول الله ﷺ د هغه نوم عبد الله کښېښود ی ، د پلار نوم يې عثمان او کنيت يې ابوقحافه وو، په ټولو مسلمانانو نارينوو کي يې لومړی اسلام راوړ او په هجرت کي د رسول الله ﷺ د غار ملګری وو، د رسول الله ﷺ د وصال څخه وروسته نوموړی خليفه جوړ کړل سو ، په کال (۱۳هـ) کي د (۶۳) کالو په عمر وفات سو او په روضه اطهر کي دفن کړل سو .

د سلام گرځولو بیان

﴿۸۸۲﴾: عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كُنْتُ أَرَى رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَلِّمُ عَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ يَسَارِهِ حَتَّى أَرَى بَيَاضَ خَدِّهِ. رواه مسلم

حضرت عامر بن سعید د خپل پلار څخه روایت کوي چي ما رسول الله ﷺ راسته او چپه لوري ته په سلام گرځولو سره لیدلی دی تر دې چي د رسول الله ﷺ د بغلو سپین والی به ما لیدی (یعني دومره زیات مخ به یې گرزوی) مسلم

تخریج: صحیح مسلم: ۱\۴۰۹، رقم: ۱۱۹- ۵۸۲.

تشریح: مطلب دادی چي رسول الله ﷺ به د سلام گرځولو په وخت کي خپل مخ مبارک دومره گرځوی چي منور باړخو مبارک به یې معلوم سو.

د حضرت سعد ﷛ پر سعادت قربان چي هغوی ته به په لمانځه کي د رحمت عالم صلي الله علیه وسلم طرف مبارک نصیب کیدلی.

کاشکي اندر نمازم جاشود پهلویي تو تابه تقریب سلام افتد نظر بر رویي تو

د لمانځه وروسته دي امام د مقتدیانو خواته مخ کوي او کښېني به

﴿۸۸۳﴾: وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت سمرة بن جندب ﷛ څخه روایت دی چي کله به رسول الله ﷺ

إِذَا صَلَّى أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ. رواه البخاري.

لمونځ وکړ نو زموږ په لور به یې مخ کړ. بخاري

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري) ۲\۳۳۳، رقم: ۸۴۵.

تشریح: مطلب دادی چي کله به جماعت به ختم سو نو خپل مخ مبارک به یې د مقتدیانو خواته په متوجه کولو سره کښېنستی.

﴿۸۸۴﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْصَرِفُ عَنْ يَمِينِهِ. رواه مسلم

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي د لمونځ کولو څخه وروسته به رسول الله ﷺ راسته لوري ته راګرزيدی . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۱\ ۴۹۲، رقم: ۶۱– ۷۰۸.

﴿۸۸۵﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ لاَ يَجْعَلُ أَحَدُكُمْ لِلشَّيْطَانِ شَيْئًا

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چي په تاسو کي دي هيڅوک په خپل لمانځه کي د شيطان لپاره برخه و نه ټاکي يعني دا امر لازم کول چي

مِنْ صَلٰوتِهِ يَرَى أَنَّ حَقًّا عَلَيْهِ أَنْ لاَ يَنْصَرِفَ إِلاَّ عَنْ يَمِينِهِ لَقَدْ رَأَيْتُ

(دلمانځه وروسته) راسته لوري ته راوګرزي ځکه چي ما ليدلی دی

رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَثِيْرًا يَنْصَرِفُ عَنْ يَّسَارِهِ . متفق عليه

رسول الله ﷺ زيات وخت چپه لوري ته راګرزيدونکی . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\ ۳۳۷، رقم: ۸۵۲، ومسلم ۱\ ۴۹۲، رقم: ۵۹– ۷۰۷.

تشريح: ددې حديث حاصل دا دی چي رسول الله ﷺ به د سلام ګرځولو وروسته کله خو راسته خوا ته ګرځيدی او چپه خوا ته به کښينستی او ډيره واره داسي سوي دي چي د سلام ګرځولو څخه وروسته به يې دعاء کول او د خپل حجرې مبارکي خوا ته چي چپه خوا ته وه هلته به يې تشريف وړی او کله به يې ددې برعکس کوی چي چپه خوا څخه په ګرځېدو سره به راسته خوا ته کښينستی .

لومړنی طريقه پر اوليت يعني غوره والي باندي حمل کړل سوې ده ځکه چي په دې کي د راسته خوا څخه پيل کيږي او د رسول الله ﷺ فعل به اکثر داسي وو، مګر ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي چي دوهم صورت چپه خوا ته ګرځېدل که څه هم رخصت يعني جائز دی او دا صورت به اختياريږي هم کم مګر سنت ته د واجب درجه ورکول صحيح نه دي ځکه يوازي په لومړني صورت يعني راسته خوا ته ګرځېدل لازم او واجب ګرځول نه دي پکار او د شارع د لوري ورکړل سوی رخصت چي هغه دوهم صورت دی ناقابل اختيار وګڼل سي ځکه په دې حديث کي وارد دي چي حق تعالی دا خبره خوښوي چي د هغه د لوري پر ورکړل سوو رخصتونو باندي

عمل و کړل سي لکه څرنګه چي هغه پر عزیمتونو باندي عمل کول خوښوي.

یعني څرنګه چي د الله تعالی په نزد دا شی غوره او محبوب دی چي هغه عمل دي اختیار کړل سي چي په هغه کي عزیمت یعني اولیت وي همداسي د هغه په نزد دا شی هم قابل قبول او غوره دی چي هغه اعمال هم اختیار کړل سي چي الله تعالی اولی او افضل نه وي ټاکلي بلکه په هر حال یې جائز ټاکلی دی

شوافع حضراتو ددغه حدیث څخه د مصلی لپاره دا درمیانه طریقه اختیار کړې ده چي هغوی خپل ضرورت او سهولت کومي خوا ته چي وویني نو هغه خوا ته دي وګرځي یعني که د هغه کور وغیره د هغه راسته خوا ته وي نو هغه ته راسته خوا ته ګرځېدل پکار دي او که چپه خوا ته وي نو هغه ته چپه خوا ته ګرځېدل پکار دي، د حضرت علي رضی الله عنه څخه هم منقول دي چي رسول الله ﷺ به کله مقتدیانو خوا ته هم مخ کولو سره او شا قبلې ته کولو سره کښېنستی لکه څرنګه چي په پورتني حدیث کي تیر سول.

په لمانځه کي د شیطان برخه څکه ویل سوي دي چي هر کله یو سړی یو غیر لازم شی پر خپل ځان باندي د واجب او لازم کېدو اعتقاد کوي نو ګویا هغه د شیطان تابع سو او د هغه د لمانځه کمال ولاړی، علامه طیبي رحمة الله علیه فرمایي په دې کي پر دې خبره دلیل دی چي کوم سړی یو امر مستحب په مستقله توګه سره اختیار کړي او هغه ته د لازم درجه ورکړي او پر جواز باندي عمل ونه کړي نو پوه سه چي شیطان د هغه د ګمراه کولو لپاره هغه ته رسیدلی دی.

آرمان چي اهل بدعت په خپلو ګریوانونو کي په سر کښته کولو سره وګوري چي هغوی امر مستحب څه چي خلاف شریعت شیان او بدعات پر خپل ځان باندي لازم او واجب ګرځولو سره ځان یې د ضلالت او ګمراهي په شیله کي اچولې دی او پر ځان یې شیطان مسلط کړی دی.

دا څلور حدیثونه یعني حدیث عامر، حدیث سمره، حدیث انس او حدیث عبدالله رضي الله عنهم ددې باب د موضوع سره اړوند خو نه دي البته ددې د متعلقاتو څخه دي.

د لمانځه وروسته دعاء

﴿۸۸۶﴾: عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ كُنَّا إِذَا صَلَّيْنَا خَلْفَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت براء رضی الله عنه څخه روایت دی چي کله به موږ په رسول الله ﷺ پسي لمونځ کوی

وَسَلَّمَ أَحْبَبْنَا أَنْ تَكُونَ عَنْ يَمِينِهِ يُقْبِلُ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ قَالَ فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ

نو زموږ زړه به دا غوښتل چي موږ د رسول الله ﷺ راسته لوري ته يو چي دلمانځه څخه وروسته رسول الله ﷺ زموږ لوري ته مخ کړي او کښيني، براء ﷛ وايي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي ويل يې

رَبِّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ أَوْ تَجْمَعُ عِبَادَكَ. رواه مسلم

(اې زما ربه ! ما د خپل عذاب څخه وساتې په هغه ورځ چي ته خپل بندګان را پاڅوې يا يوځای کوي .) مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ١\٤٩٢- ٤٩٣، رقم: ٦٣- ٧٠٩.

تشريح: يا خو به رسول الله ﷺ دا دعاء د تواضع او عاجزۍ په وجه کول يا مقصد يې امت ته تعليم ورکول وه چي خلک د لمانځه څخه وروسته دا دعاء کوي، په تبعث او تجمع کي راوي ته شک دی چي رسول الله ﷺ تبعث فرمايلي دي او که تجمع، په هر حال دا دعاء په دواړو الفاظو کي په يوه لفظ سره ويل کيږي .

د لمانځه وروسته مقتديانو ته د امام څخه مخکي ولاړيدل ښه نه دي

﴿٨٨٧﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ إِنَّ النِّسَاءَ فِيْ عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت ام سلمة ﷞ څخه روايت دی چي ښځي د رسول الله ﷺ په زمانه کي

وَسَلَّمَ كُنَّ إِذَا سَلَّمْنَ مِنَ الْمَكْتُوْبَةِ قُمْنَ وَثَبَتَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

کله چي به ښځو فرض لمونځ وکړ نو سمدستي به ولاړيدې او کور ته به تلې ، رسول الله ﷺ

وَسَلَّمَ وَمَنْ صَلَّى مِنَ الرِّجَالِ مَا شَاءَ اللهُ فَإِذَا قَامَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ الرِّجَالُ . رواه البخاري. وسنذكر حديث جابر بن سمرة في باب الضحك إن شاء الله تعالى .

او نور ټول لمونځ کونکی به ناست وه تر څه وخته چي به د الله ﷻ رضا وه کله چي به رسول الله ﷺ ولاړ سو نو نور خلک به هم ولاړ سول او تلل به . بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٢\٣٤٩، رقم: ٨٦٦.

تشریح : ددې ارشاد مطلب دادی چې د رسول الله ﷺ په مبارکه زمانه کې به هم ښځو د خلکو سره په رسول الله ﷺ پسې جماعت کوی هغه وخت د ښځو دا رواج وو چې څرنګه به رسول الله ﷺ سلام ګرځوی نو ښځې به سمدستي ولاړېدلې چې په لاره کې د خلکو سره یو ځای رواني او ګډې نسي نو خپلو کورو ته به رواني سوې .

د لمانځه وروسته د رسول الله ﷺ د ناستي په باره کي یو دائمي معمول مذکور نه دی چې د ټولو لمنځونو وروسته به هغه همیشه د دومره وخت لپاره کښېنستی بلکه ددې انحصار د وختو پر اختلاف باندي وو د سلام ګرځولو سره خو به رسول الله ﷺ اللهم انت السلام .....الخ تر ویلوپوري به ناست وو او کله به دومره کښېنستی چې د دعاء څخه د فارغیدو وروسته به یې قرآن کریم وایه او صحابه کرامو ته به یې د احکام الهي تعلیم ورکوی او کله به د سهار په لمانځه کي پر مصلي باندي تر لمر ختلو پوري ناست وو .

د حدیث څخه دا خبره معلومه سوه چې د امام لپاره د دا ډول ضرورت پر وخت د لمانځه وروسته پر مصلی باندي تر لږ ساعته پوري ناسته مستحب ده او همداسي مقتدیانو ته دا پکار ده چې تر څوپوري امام د مصلی څخه نه وي ولاړ سوی نو هغوی دي هم نه ولاړیږي (وسنذکر حدیث جابر بن سمره في باب الضحک انشاء الله تعالی) او د جابر بن سمره هغه حدیثونه چې په هغه کي به د لمانځه وروسته تر لمر ختلو پوري د رسول الله ﷺ ناسته مذکوره ده چې صاحب مصابیح دلته نقل کړي دي انشاءالله تعالی موږ به یې په باب الضحک کي نقل کړو .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

دلمانځه وروسته دعاء

﴿۸۸۸﴾ : عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ أَخَذَ بِيَدِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه څخه روایت دی چې (یوه ورځ) رسول الله ﷺ زه تر لاس ونیولم

فَقَالَ إِنِّيْ لَأُحِبُّكَ يَا مُعَاذُ . فَقُلْتُ وَأَنَا أُحِبُّكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ . قَالَ فَلَا تَدَعْ أَنْ

او وه یې فرمایل اې معاذ ! زما ستا سره مینه ده، ما عرض وکړ اې د الله رسوله ! زه هم ستا سره مینه لرم، رسول الله ﷺ وفرمایل : د هر لمانځه وروسته دا دعاء کوه او هیڅ کله یې مه پرېږده :

تَقُوْلَ فِيْ دُبُرِ كُلِّ صَلاَةٍ رَبِّ أَعِنِّيْ عَلٰى ذِكْرِكَ وَشُكْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ . رواه أحمد وأبو داود والنسائي إلا أن أبا داود لم يذكر قال معاذ وأنا أحبك .

(اې زما ربه ! زما مرسته وكړې چي زه ستا ذكر وكړم او ستا شكر ادا كړم او په ښه ډول ستا عبادت وكړم) احمد، ابوداؤد او نسائي .

تخريج: الامام احمد في مسنده ۵\ ۲۴۴ - ۲۴۵ وابوداؤد ۲\ ۱۸۰ - ۱۸۴، رقم: ۹۹۶، والترمذي ۵\ ۴۹۲، رقم: ۳۴۹۹ والنسائي: ۳\ ۶۳، رقم: ۱۳۲۱.

تشريح: د ښه عبادت مطلب دا دی چي هر يو عبادت وي كه بدني وي يا مالي په پوره كمال او د زړه په حضور په هغه كيفيت سره وسي ګويا چي عبادت كونكی الله جل شانهويني او د هغه عبادت كوي د كتاب الايمان په يوه حديث كي هم د ښه عبادت دا مطلب بيان سوی دی ددې وضاحت په ښه طريقه سوی دی ددې حديث څخه معلومه سوه چي كه يو سړی يو انډيوال لري نو د هغه لپاره مستحب دی چي هغه د خپلي دوستي او محبت اظهار د هغه سره وكړي .

دا حديث پر دې فعل او قول (اخذ بيدي او يقول انا احبک) سره اړوند دی د دې اصطلاح او تعريف علماء او محدثين په ښه توګه پيژني د عوامو ددې سره تعلق نسته ځكه د هغوی مخكي ددې د وضاحت ضرورت نسته .

د سلام ګرزولو طريقه

﴿۸۸۹﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چي كله به رسول الله ﷺ

كَانَ يُسَلِّمُ عَنْ يَّمِيْنِهِ السَّلاَمُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ حَتّٰى يُرٰى بَيَاضُ خَدِّهِ

سلام وګرزوی نو راسته لوري ته يې السلام عليكم ويل تر دې چي د راسته لوري د بغل سپين والی به يې معلوميدی

الْأَيْمَنِ وَعَنْ يَسَارِهِ اَلسَّلاَمُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ حَتّٰى يُرٰى بَيَاضُ خَدِّهِ الْأَيْسَرِ . رواه أبو داود والنسائي والترمذي ولم يذكر الترمذي حتى يرى

بياض خده. ورواه ابن ماجه عن عمار بن ياسر.

او چپه لوري ته په سلام گرزولو سره به يې ويل السلام عليكم تر دې چي د چپه بغل سپين والى به يې معلوميدى. ابوداؤد، نسائي او ترمذي

تخريج: سنن ابي داؤد ١\٦٠٦، رقم: ٩٩٦، والترمذي ٥\٤٩٢، رقم: ٣٤٩٩ والنسائي ٣\٦٣، رقم: ١٣٢١

تشريح: ابوداؤد او نسائي دا روايت په دغه الفاظو سره نقل كړى دى مگر امام ترمذي په خپل روايت كي (حتى يرى بياض خده) نه دى نقل كړى بلكه هغه يوازي دا نقل كړي دي چي (كان يسلم عن يمينه السلام عليكم ورحمة الله وعن يساره السلام عليكم ورحمة الله)

په څرگنده دا معلوميږي چي ابن ماجه رحمة الله عليه د عمار بن ياسر ﷺ څخه دا حديث پوره داسي نقل كړى نه دى چي د ترمذي په ډول د هغه يو څه برخه يې نقل كړې ده.

رسول الله ﷺ به اكثر د لمانځه وروسته چپه خوا ته په گرځېدو سره كښينستى

﴿۸۹۰﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ كَانَ أَكْثَرُ انْصِرَافِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ صَلَاتِهِ إِلَى شِقِّهِ الْأَيْسَرِ إِلَى حُجْرَتِهِ. رواه في شرح السنة.

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د لمانځه څخه وروسته زيات وخت چپه لوري ته گرزيدى يعني د خپلي حجرې په لور. شرح السنة

تخريج: البغوي في شرح السنة ٣\٢١٠-٢١١. رقم: ٧٠٢.

تشريح: مطلب دادى چي د رسول الله ﷺ د حجرې مباركي دروازه په مسجد كي چپه محراب ته وه ځكه رسول الله ﷺ چي به د لمانځه څخه فارغ سو نو اكثر به چپې خوا ته گرځيدى او خپلي حجرې مباركي ته به يې تشريف وړى.

د فرض وروسته د سنت لپاره د ځاى بدلول پكار دي

﴿۸۹۱﴾: وَعَنْ عَطَاءِ الْخُرَاسَانِيِّ عَنِ الْمُغِيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ

حضرت عطاء خراساني د حضرت مغيرة ﷺ څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُصَلِّي الْإِمَامُ فِي الْمَوْضِعِ الَّذِي صَلَّى فِيْهِ حَتَّى يَتَحَوَّلَ. رواه

أبو داود وقال عطاء الخرساني لم يدرك المغيرة.

امام دي په هغه ځای کي لمونځ نه کوي چي (اوس يې) لمونځ کړی دی بلکه لږ آخوا دې خوا دي سي. ابو داؤد.

تخريج: سنن ابي داؤد ١\٤٠٩-٤١٠، رقم: ٦١٦.

تشريح: دلته دا حکم ورکول سوی دی چي کوم ځای فرض لمونځ سوی وی هلته دي سنت نه کول کيږي بلکه د هغه ځای څخه په لږ آخوا کيدو سره او ځای بدليدو سره په دوهم ځاي کي دي سنت کوي په دې اړه په دې خبره پوهيدل پکار ده چي ددې حديث څخه په ښکاره خو دا معلوميږي چي دا حکم په خاصه توګه د امام لپاره دی مقتدي په دې کي نه دی شامل حالانکه داسي نه ده بلکه دا حکم په مجموعي توګه سره د امام او مقتدي د ټولو لپاره دی.

فرض او سنت دواړه يو ځاي د کولو څخه منعه ځکه سوې ده چي يو راتلونکی دا ګمان و نه کړي چي لمونځ کونکي اوس فرض کوي يا دا چي دواړه ځايونه د قيامت په ورځ د پروردګار په مخ کي د لمونځ کونکي د اطاعت ګزاري ګواهي ورکوي چي د هغه سره د هغه په مرتبه کي اضافه وسي. ملا علي قاري رحمة الله عليه ليکلي دي چي د ځينو علماوو قول دادی چي دا حکم د هغه فرض لمنځونو په باره کي دی چي د هغه وروسته سنت موکده دی او کم فرض لمنځو وروسته چي سنت نه سي ويلاي لکه سهار او مازديګر نو د هغه په باره کي دا حکم نه دی خو د ځينو علماؤ دا رايه ده چي دا حکم د ټولو لمنځونو په باره کي يو ډول دی.

﴿۸۹۲﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَضَّهُمْ عَلَى الصَّلَاةِ وَنَهَاهُمْ أَنْ يَّنْصَرِفُوْا قَبْلَ انْصِرَافِهِ مِنَ الصَّلَاةِ. رواه أبو داود.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم به صحابه کرامو ته د لمانځه ترغيب ورکوی او ددې څخه به يې منعه فرمايل چي هغوی دې د لمانځه څخه وروسته د رسول الله صلى الله عليه وسلم د بيرته ستنېدو څخه مخکي وګرزي. ابو داؤد.

تخريج: سنن ابي داؤد ١\٤١٣، رقم: ٦٢٤.

تشريح: د حديث د اول جزء مطلب دادی چي يا خو به رسول الله صلي الله عليه وسلم صحابه کرامو ته مطلقا د لمانځه کولو تاکيد فرمايه يا هغوی ته به يې ددې خبري رغبت ورکوی چي

لمونځ په جماعت کولو سره ادا کړي . د رسول الله ﷺ د ارشاد د دوهم جزء مطلب دا دی چې هر کله لمونځ ختم سي او د دعا وغیره څخه فارغ سي نو تر څو پوري چې زه نه یم ولاړ سوی نو مقتدیان دي نه ولاړیږي چې په لاره کي ښځي او نارینه یو ځای نسي څرنګه چې مخکي حدیث کي تیر سوي دي چې د لمانځه وروسته به رسول الله ﷺ او نور خلک ناست وه تر دې چې ښځي به په ولاړیدو سره ولاړې نو مخکي به رسول الله ﷺ پورته کیدی او د هغه وروسته به نور خلک پورته کیدل او خپلو کورونو ته به تلل په دې صورت کي دا نهي تنزیهي ده . دا هم احتمال دی چې دلته مخکي د پورته کیدو څخه مراد د مسبوق پورته کیدل وي په دې صورت کي به ددې ارشاد مطلب داوی چې تر څو پوري امام سلام نه وګرځوي تر هغه وخته پوري دي مسبوق په خپلو پاته رکعتونو کي د ویلو لپاره نه دریږي بلکه کله چې امام سلام وګرځوي بیا دي مسبوق ولاړسي دلته په دې خبره باندي هم پوه سه چې دا صورت یعني د مسبوق د امام سلام ګرځولو څخه مخکي پورته کیدل د حنفیه په نزد حرام دی .

اَلْفَصْلُ الثالث (دریم فصل)

د تشهد وروسته د رسول الله ﷺ دعاء

﴿۸۹۲﴾: عَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ

د حضرت شداد بن اوس رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به دا دعاء کول

فِيْ صَلَاتِهِ اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ الثَّبَاتَ فِي الْأَمْرِ وَالْعَزِيْمَةَ عَلَى الرُّشْدِ وَأَسْأَلُكَ

په لمانځه کي : ژباړه(اې الله ! زه ستا څخه په دین کي ثابت قدمي غواړم او قصد کول

شُكْرَ نِعْمَتِكَ وَحُسْنَ عِبَادَتِكَ وَأَسْأَلُكَ قَلْبًا سَلِيْمًا وَلِسَانًا صَادِقًا وَأَسْأَلُكَ

شکر ته او سوال کوم چې ما ته د خپلو نعمتو د شکر ادا کولو توفیق راکړې او ستا د ښه عبادت توفیق راکړې او ما ته قلب سلیم او رېښتونې ژبه راکړې

مِنْ خَيْرِ مَا تَعْلَمُ وَأَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا تَعْلَمُ وَأَسْتَغْفِرُكَ لِمَا تَعْلَمُ . رواه النسائي وروى أحمد نحوه .

او ما ته هغه خير هم راکړې چي ته يې غواړې زه د هغه بدی څخه چي تا ته معلومه ده پناه غواړم او د هغه ګناهو څخه چي تا ته معلوم دي معافي غواړم) نسائي او احمد .

تخريج: سنن النسائي ۳\ ۵۴،رقم: ۱۳۰۳. والامام احمد في مسنده: ۴\ ۱۲۳.

تشريح: دا دعا هم د رسول الله ﷺ د ژبي مبارکي څخه د امت د تعليم لپاره ارشاد فرمايل سوې ده چي د امت خلک دي داسي دعا غواړي او تر څو چي د رسول الله ﷺ د ذات تعلق دی نو رسول الله ﷺ ته دا ټول شيان او سعادتونه حاصل وه چي د هغه خوا ته په دعا کي اشاره سوې ده او د ټولو ګناهونو څخه رسول الله ﷺ محفوظ وو او ټول مخکي او ورستني ګناهونه ېې بخښل سوي دي .

د سيده لاري قصد کول: مطلب دادی چي اې الله ماته دې خبري توفيق راکړې چي تا د هدايت کومه لار ښودلې ده هميشه پر هغه ثابت قدمي سره قائم اوسم او هدايت د خپل ژوند لپاره لازم ونيسم ستا د نعمت د شکر او عبادت د حسن خواست کوم ددې مطلب دادی چي اې الله ماته ددې خبري توفيق راکړې چي ستا څخه هغه نعمتونه چي تا ماته راکړي دي ستا اطاعت او فرمانبرداري کي داسي صرف کړم چي ستا د احکامو او فرمان پابند سم او د کومو شيانو څخه چي تا منعه کړي ده د هغه څخه و ژغورل سم او ستا عبادت په پوره شرطونو او ادبونو او پوره ارکانو سره ادا کړم .

سليم زړه : هغه زړه ته وايي چي د خرابو عقيدو، کمزور خيالاتو، غلط اعتقادات او نظريات څخه پاک وي او د نفساني خواهشاتو خوا ته د هغه ميلان نه وي او دا چي هغه د ماسوی الله څخه خالي وي د دعا جمله واسا لک خير ما تعلم کي لفظ ما موصوله دی يا موصوفه او عائد ېې محذوف دی همداسي په دې جمله کي لفظ من زائد دی يا بيانيه او مبين محذوف دی ګويا په اصل کي دا عبارت داسي دی اسا لک شيئا هو خير ما تعلم يعني زه تا ته د هغه شي خواست کوم چي د هغه په باره کي ته پوهيږې چي هغه ښه دی يعني زه د داسي شي خواست نه کوم چي د هغه په باره کي زما خيال دی چي هغه ښه دی ځکه چي بنده خو يو شی ښه ګڼي حالانکه په حقيقت کي هغه ښه نه وي ځکه زه هغه شی غواړم چي ستا په نزد ښه دی همداسي و اعوذبک من شر ماتعلم: مطلب هم دادی چي زه د هغه خراب شي څخه پناه غواړم چي ستا په نزد خراب دی او د هغه په باره کي ستا فيصله ده چي د بنده په حق کي د خرابۍ باعث وي .

﴿۸۹۴﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ فِيْ صَلَاتِهِ بَعْدَ التَّشَهُّدِ أَحْسَنَ الْكَلَامِ كَلَامُ اللهِ وَأَحْسَنُ الْهُدٰي هَدْيُ مُحَمَّدٍ . رواه النسائي

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به په لمانځه کې د تشهد څخه وروسته دا ويل: (په کلامو کې غوره کلام د الله کلام دی او غوره هدايت د محمد ﷺ هدايت دی.) نسائي.

تخريج: سنن النسائي ۳\۵۸، رقم: ۱۳۱۰.

د رسول الله ﷺ د سلام طريقه

﴿۸۹۵﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَلِّمُ فِي الصَّلَاةِ تَسْلِيْمَةً تِلْقَاءَ وَجْهِهِ ثُمَّ تَمِيْلُ إِلَى الشِّقِّ الْأَيْمَنِ شَيْئًا. ترمذي

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به په لمانځه کې سلام د مخ لور ته او بيا لږ راسته لوري ته مخ ګرزولو سره کوی. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۲\۹۰-۹۱، رقم: ۲۹۶.

تشريح: مطلب دا چې کله به رسول الله ﷺ سلام ګرځوی نو دا طريقه به يې اختيارول چې د سلام پيل به يې د قبلې خوا ته کوله بيا په مينځ کې به يې راسته خوا ته دومره مخ مبارک وګرځوی چې د باړخو مبارک سپين والی به يې معلوميدی لکه څرنګه چې مخکې روايتونو کې تير سوی دی همداسې به يې سلام پوره کوی.

ددې حديث څخه په ښکاره دا معلوميږي چې رسول الله ﷺ به په لمانځه کې يو سلام راسته طرف ته ګرځوی، امام مالک رحمة الله عليه ددې پيش نظر فرمايي چې په لمانځه کې يوازې يو سلام مشرع دی امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه، امام شافعي رحمة الله عليه او امام احمد رحمة الله عليه په نزد په اتفاق سره په لمانځه کې راسته او چپه دواړو خواوو ته سلام مشروع دی ځکه چې په دې اړه ډير زيات حديثونه وارد دي چې د هغو څخه ثابتيږي چې چپه او راسته دواړو خواوو ته سلام ګرځول پکار دی.

اوس ددې حديث تاويل ددې درو امامانو له خوا داسې چې يو سلام به د رسول الله صلي

الله عليه وسلم په لوړ اواز سره کوی او دوهم سلام به يې په کرار اواز سره، ځکه بي بي عائشې رضي الله عنها دلته په لوړ اواز سره د ويونکي سلام ته اعتبار ورکړ او يوازي دا يو يې ذکر کړ.

د سلام گرځولو په وخت کي د جواب نيت

﴿۸۹۶﴾: وَعَنْ سَمُرَةَ قَالَ أَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَّرُدَّ عَلَى الْإِمَامِ وَنَتَحَابَّ وَأَنْ يُّسَلِّمَ بَعْضُنَا عَلٰى بَعْضٍ. رواه أبو داود.

د حضرت سمرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به موږ ته حکم راکوی چي په هر سلام گرځولو کي د امام د سلام د جواب نيت وکړو په خپلو کي مينه وساتو او هر يو دي بل ته سلام کوي. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\۶۰۹، رقم: ۱۰۰۱.

تشريح: د اول حکم مطلب دادی چي مقتديان سلام گرځوي نو هغه وخت دي هغوی دا نيت وکړي چي موږ د امام د سلام جواب ورکوو ددې صورت دادی چي کوم مقتديان چي د امام راسته خوا ته وي هغوی دي په دوهم سلام کي او کوم مقتديان چي په چپه خوا کي وي هغوی دي په اول سلام کي د امام د سلام جواب ورکوي. ددې څخه دا خبره معلومه سوه چي هر کله امام سلام وگرځوي نو هغه دي هغه وخت دا نيت وکړي چي زه مقتديانو ته سلام کوم.

د دوهم حکم مطلب دادی چي مسلمانان دي په خپلو کي يعني لمونځ کونکو او د الله تعالی د ټولو بندگانو سره محبت کوي د هغوی سره دي په خوش اخلاقی او ښۀ اخلاقو مخامخ کيږي

د دريم حکم مطلب دادی چي څرنگه امام د سلام گرځولو په وخت کي پر مقتديانو باندي د سلام او مقتديان د سلام گرځولو په وخت کي د امام د سلام د جواب نيت کوي همداسي ټول مقتديان دي په لمانځه کي د سلام گرځولو په وخت کي يو بل ته د سلام نيت کوي داسي چي راسته خوا ته سلام گرځولو په وخت کي د چپه خوا مقتديانو نيت کول پکار دی او هر لمونځ کونکي ته دا پکاره ده چي په دواړو سلامو کي د ملائکو هم نيت کوي ځکه چي په حديثو کي ددې حکم هم ورکول سوی دی او د حنفيه ځيني علماء وايي چي دا سنت دی اگر که نورو حضراتو دا پرې ايښي دي.

==========

بَابُ الذِكْرِ بَعْدَ الدُّعَاءِ

تر لمانځه وروسته د ذکر بیان

په دې باب کي هغه حديثونه ذکر کيږي چي د هغه څخه د لمانځه وروسته د دعا او نورو اورادو او وظائف ويلو ارزښت او فضيلت ښکاره کيږي دلته د ذکر لفظ عام دی چي پر دعا، اورادو او وظائفو ټولو باندي حاوي دی.

په دې مسئله کي اختلاف دی چي د فرض لمانځه وروسته سنت کيږي د هغه وروسته لمونځ کونکی دعاء، اوراد او وظائف لپاره څومره کښينستلای سي، په در مختار کي ليکلي دي چي د فرض لمانځه وروسته په سنتو کي تاخير کول مکروه دی البته اللهم انت السلام (تر پایه پوري) په اندازه د دعاء وغيره کولو لپاره ناسته ثابته ده.

د علامه حلواني رحمة الله عليه قول دادی چي د اورادو او وظائفو ويلو په غرض سره د فرضو او سنتو په درميانه وقفه کي څه پرواه نسته، دا قول کمال رحمة الله عليه هم اختيار کړی دی.

علامه حلبي رحمة الله عليه په دغه دواړو قولونو کي تطبيق داسي پيدا کړی دی چي دلته د مکروه څخه مراد مکروه تحريمي وا نه خيستل سي بلکه مکروه تنزيهي مراد دی نو په دغه دواړو قولونو کي اختلاف نه پاته کيږي ځکه چي د لومړني قول مطلب به دا وي چي د اورادو او وظيفې ويلو لپاره د سنت په کولو کي ځنډ کول د ګناه خبره نه ده البته مکروه تنزيهي ده يعني که ځنډ ونه کړل سي نو غوره به وي ،همداسي د علامه حلواني رحمة الله عليه د قول مطلب به دا وي چي د فرض لمانځه کولو څخه وروسته د اوراد او وظيفې ويلو لپاره په سنتو کي ځنډ کولو کي که څه هم پرواه نسته مګر مناسب داده چي ځنډ ونه کړل سي همداسي دا دواړه قوله پر خپل خپل ځای صحيح کيږي او په دواړو کي تضاد هم نه پاته کيږي.

د صاحب در مختار د يوه قول مطلب دادی چي کيدای سي د فرض او سنت په مينځ کي دعاء، اوراد او وظيفه وويل سي نو تعارض ليري کيږي.

د دې وروسته نوموړی فرمايي چي مستحب داده چي د لمانځه څخه وروسته درې واره استغفرالله وويل سي ،آية الکرسي، معوذات (يعني قل هو الله احد، قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس) وويل سي او سبحان الله، الحمد لله او الله اکبر دې درې ديرش ځله هر يو وويل سي، او بيا يو وار تهليل يعني لا اله الا الله وحده لاشرک .... الخ، ويلو سره د سل عدد

دي پوره کړل سي ، د دې څخه وروسته دي دعا وغواړي او پر دغه جمله دي دعاء ختم کړي :

سبحان ربک رب العزة عما یصفون و سلام علی المرسلین والحمد لله رب العالمین .

د جماعت ختمېدو څخه وروسته چي سنت وکړل سي نو مقتدیانو ته پکار ده چي صفونه مات کړي یعني د سنت کولو لپاره دي په صف بندي سره نه درېږي بلکه مخته او شا ته دي ودرېږي او امام ته هم پکار ده چي هغه هم د امت د مصلی څخه په آخوا کېدو سره مخته یا شاته او یا راسته او چپه خوا ته سي چي د وروسته راتلونکو لمونځ کونکو دا خیال نه سي چي اوس لا جماعت ولاړ دی او یو لمونځ کونکی په دې خیال کي په امام پسي اقتداء کولو سره د لمانځه لپاره ودرېږي او د هغه اقتداء به فاسد سي .

په دغه شي کي هم اختلاف دی چي د سلام ګرځولو څخه وروسته دعاء او اوراد وغیره ویلو لپاره امام ته راسته خوا ته ګرځېدو سره کښېنستل افضل دي یا چپه خوا ته ؟ صحیح قول دادی چي هغه ته اختیار دی ، مګر د اکثرو حضراتو رایه داده چي چپه خوا ته په ګرځېدو سره ناسته په اتفاق سره د ټولو په نزد افضله ده ځکه چي حجره شریفه دې خوا ته ده .

که یو سړی د فرض لمانځه څخه وروسته سنت وکړي او د هغه وروسته په حدیث کي راغلي اوراد او وظائف ووايي نو دا به د هغه بعدیت منافي نه وي کوم چي په احادیث کي مذکور دي چي د لمانځه څخه وروسته فلانی دعاء یا وظیفه دي وویل سي ، که یو سړی د فرض لمانځه کولو سره مخکي سنت وکړي بیا د هغه وروسته مذکوره اوراد ووظائف ووايي نو داسي به نسي ویل کیدای چي دی د فضیلت څخه محروم سو ځکه چي د حدیث مقصد خو دادی چي اوراد او وظائف دي د لمانځه څخه وروسته وویل سي که څه هم د سنت څخه وروسته وي بلکه د سنت څخه وروسته ویل زیات مناسب دي .

همداسي د صحیح حدیثو څخه ثابته ده چي د سهار او ماښام د لمنځونو څخه وروسته (لا اله الا الله وحده لا شریک له له الملک وله الحمد وهو علی کل شئ قدیر) لس واره ویل پکار دي ، یا د دغه لمنځونو څخه وروسته د آیت الکرسي ویل د حدیثو څخه ثابت دي ، که یو سړی ماښام د فرض لمانځه کولو څخه وروسته سنت وکړي او د هغه وروسته آیة الکرسي یا پورتنی تهلیل ووايي نو د حدیث سره سم هغه ته به فضیلت حاصلېږي کوم چي د فرض څخه وروسته ورته حاصلېږي .

ځیني خلک په دا فکر کولو سره چي تلوار هم وسي او د پورتنیو شیانو د ویلو فضیلت هم تر لاسه سي د ماښام په سنتو کي آیت الکرسي وايي دا محض وهم دی ځکه چي د حدیثو څخه ثابته ده چي رسول الله ﷺ به د ماښام په سنتو کي قل یا ایها الکافرون او قل هو الله احد وایه .

دي پوره کړل سي، د دې څخه وروسته دې دعا وغواړي او پر دغه جمله دې دعاء ختم کړي:
سبحان ربک رب العزة عما یصفون و سلام علی المرسلین والحمد لله رب العالمین.

د جماعت ختمېدو څخه وروسته چې سنت وکړل سي نو مقتدیانو ته پکار ده چې صفونه مات کړي یعني د سنت کولو لپاره دې په صف بندي سره نه دریږي بلکه مخته او شا ته دې ودریږي او امام ته هم پکار ده چې هغه هم د امت د مصلی څخه په آخوا کېدو سره مخته یا شاته او یا راسته او چپه خوا ته سي چې د وروسته راتلونکو لمونځ کونکو دا خیال نه سي چې اوس لا جماعت ولاړ دی او یو لمونځ کونکی په دې خیال کي په امام پسې اقتداء کولو سره د لمانځه لپاره ودریږي او د هغه اقتداء به فاسد سي.

په دغه شي کي هم اختلاف دی چې د سلام ګرځولو څخه وروسته دعاء او اوراد وغیره ویلو لپاره امام ته راسته خوا ته ګرځېدو سره کښېنستل افضل دي یا چپه خوا ته؟ صحیح قول دا دی چې هغه ته اختیار دی، مګر د اکثرو حضراتو رایه دا ده چې چپه خوا ته په ګرځېدو سره ناسته په اتفاق سره د ټولو په نزد افضله ده ځکه چې حجره شریفه دې خوا ته ده.

که یو سړی د فرض لمانځه څخه وروسته سنت وکړي او د هغه وروسته په حدیث کي راغلي اوراد او وظائف ووایي نو دا به د هغه بعدیت منافي نه وي کوم چې په احادیث کي مذکور دي چې د لمانځه څخه وروسته فلانی دعاء یا وظیفه دې وویل سي، که یو سړی د فرض لمانځه کولو سره مخکي سنت وکړي بیا د هغه وروسته مذکوره اوراد او وظائف ووایي نو داسي به نسي ویل کیدای چې دی د فضیلت څخه محروم سو ځکه چې د حدیث مقصد خو دا دی چې اوراد او وظائف دې د لمانځه څخه وروسته وویل سي که څه هم د سنت څخه وروسته وي بلکه د سنت څخه وروسته ویل زیات مناسب دي.

همداسي د صحیح حدیثو څخه ثابته ده چې د سهار او ماښام د لمنځونو څخه وروسته (لا اله الاالله وحده لاشریک له له الملک وله الحمد وهو علی کل شئ قدیر) لس واره ویل پکار دي، یا د دغه لمنځونو څخه وروسته د آیت الکرسي ویل د حدیثو څخه ثابت دي، که یو سړی ماښام د فرض لمانځه کولو څخه وروسته سنت وکړي او د هغه وروسته آیة الکرسي یا پورتنی تهلیل ووایي نو د حدیث سره سم هغه ته به فضیلت حاصلیږي کوم چې د فرض څخه وروسته ورته حاصلیږي.

ځیني خلک په دا فکر کولو سره چې تلوار هم وسي او د پورتنیو شیانو د ویلو فضیلت هم تر لاسه سي د ماښام په سنتو کي آیت الکرسي وایي دا محض وهم دی ځکه چې د حدیثو څخه ثابته ده چې رسول الله ﷺ به د ماښام په سنتو کي قل یا ایها الکافرون او قل هو الله احد وایه.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د لمانځه په ختميدو سره الله اكبر ويل

﴿۸۹۷﴾: عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كُنَّا نَعْرِفُ انْقِضَاءَ صَلَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالتَّكْبِيرِ. متفق عليه

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ د لمانځه ختمېدل به په تكبير ويلو سره پيژندل كيده (يعني د لمانځه په آخر كي به يې په لوړ آواز سره تكبير وايه). بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۳۲۵، رقم: ۸۴۲، ومسلم: ۱\۴۱۰، رقم: ۱۲۰- ۵۸۳.

تشريح: پر لمانځه ختميدو باندي د الله اكبر ويلو څخه مراد ذكر دی څرنګه چي په صحيحين كي دا ابن عباس رضي الله عنه روايت نقل دی چي د رسول الله ﷺ په زمانه كي د فرض لمانځه د فراغت وروسته د خلكو لپاره په لوړ اواز سره ذكر تاكلی وو بيا ابن عباس رضي الله عنه وايي چي ما به د لمانځه اختتام ددې په ذريعه پيژندی يعني كله چي به خلكو په لوړ اواز سره ذكر كوی نو ماته به معلومه سوه چي لمونځ سوی دی، د ابن عباس رضي الله عنه دا قول نقل كړی ديكوم چي دلته ذكر سوی دی ددې څخه معلومه سوه چي د تكبير څخه مراد مطلق ذكر دی .

مګر په دې خبره باندي پوه سی چي امام شافعي رض دا ذكر بالجهر د امت پر تعليم محمول كړی دی د بيهقي وغيره په كرار اواز سره ذكر كولو باندي صحيحين ددې حديث څخه استدلال كړی دی او رسول الله ﷺ به صحابه كرامو ته دا حكم وركوی چي هغوی تهليل او تكبير په لوړ اواز سره نه كوي بيا رسول الله ﷺ وفرمايل چي تاسو كوڼ او غائب نه يادوی (يعني الله تعالی) هغه خو ستاسو سره دی او نژدې دی .

ځينو حضراتو ويلي دي چي دلته د تكبير څخه مراد هغه تكبير دی چي د لمانځه وروسته تسبيح او تحميد سره لس واره يا ديرش واره ويل كيږي د ځينو محققينو دا رايه ده چي د رسول الله ﷺ په زمانه كي د لمانځه وروسته يو وار يا درې واره تكبير ويل كيدی .

د ځينو علماء قول دادی چي د ابن عباس رضي الله عنه د دا روايت تعلق د منیٰ د ورځو سره دی چي هلته به يې د تشريق تكبيرات ويل په هر حال دا ټول اقوال مختته په اينبودو سره هم تر ټولو لوی صورت د ابن عباس رضي الله عنه په دې قول سره وارد كيږي چي څه وجه ده چي ابن عباس رض به د سلام

سره خو د لمانځه اختتام نه پیژندی او تکبیر سره به یې پیژندی چې لمونځ سوی دی.
ددې یو جواب خو دا کیدای سي چې ابن عباس رضي الله عنه هغه وخت کم عمر وو ځکه ممکنه ده چې هغه همیشه عبادت کي نه شریکیدی یا دا احتمال دی چې هغه به په جماعت کي خو شریکیدی مګر په وروسته صف کي به دریدی ځکه تر هغه پوري د رسول الله ﷺ د اواز څخه د رسیدو په وجه هغه به پر سلام باندي د لمانځه اختتام نه پیژندی بلکه کله چې به مقتدیانو په لوړ اواز سره تکبیر وایه نو هغه به په دې پوه سو چې لمونځ ختم سو. والله اعلم

د فرض وروسته د رسول الله ﷺ د ناستي اندازه

(۸۹۸): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَلَّمَ

د حضرت عائشي رضي الله عنها څخه روایت دی چې کله به رسول الله ﷺ سلام وګرزوی

لَمْ يَقْعُدْ إِلَّا مِقْدَارَ مَا يَقُولُ اللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ. رواه مسلم

نو ددې دعاء ویلو په اندازه به ناست وو: (اې الله! ته سالم یې، او ستا څخه د بندګانو د ټولو آفتونو څخه سلامتي ده اې د عظمت او بخښني خاونده، ته برکت والا یې) مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۱\ ۴۱۴، رقم: ۱۳۶- ۵۹۲.

تشریح: د حضرت عائشي رضي الله عنها د ارشاد مطلب دادی چې د کوم فرض لمانځه وروسته سنت نه وي لکه د سهار او مازدیګر لمونځ نو د هغه سلام ګرځولو وروسته د رسول الله ﷺ تر دې زیاته ناسته هم ثابته ده له دې کبله علماء وایي چې د دغه لمنځو وروسته تر لمر ختلو او لمر لوېدلو پوري په ذکر کي مصروف کیدل مستحب دی.
د سلام وروسته د نه کښینستلو یوه توجیه دا هم سوې ده چې رسول الله ﷺ به د لمانځه پر هیئت یوازي تر دومره وخته پوري کښینستی چې دا دعا وواییې یا دا چې رسول الله ﷺ به اکثر یوازي دومره کښینستی.
دلته چې کومه دعا ذکر سوې ده په هغه کي دا الفاظ هم ویل کیدای سي: (والیک یرجع السلام فحینا ربنا بالاسلام واد خلنا دار السلام) حال دا چې دا الفاظ د حدیثو څخه ثابت نه دي بلکه وروسته د دې الفاظو اظافه هم سوې ده.

﴿۸۹۹﴾: وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا انْصَرَفَ

د حضرت ثوبان رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ به د لمانځه سلام وګرزوى

مِنْ صَلَاتِهِ اسْتَغْفَرَ ثَلَاثًا وَقَالَ اللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ . رواه مسلم

نو دري ځله يې بخښنه غوښتل بيا يې دا ويل: اللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۱\ ۴۱۴، رقم: ۱۳۶- ۵۹۲.

تشريح: مطلب دادى چي څرنګه به رسول الله ﷺ سلام وګرځوى نو مخکي به يې دري واره استغفار وايه د هغه وروسته به يې پورتنى دعاء ويل.

په ځينو روايتونو کي ذکر سوي دي چي رسول الله ﷺ به دري واره استغفار داسي وايه (استغفر الله الذي لا اله الا هو الحي القيوم و اتوب اليه)

د فرض لمانځه وروسته دعاء

﴿۹۰۰﴾: وَعَنِ الْمُغِيرَةَ بْنِ شُعْبَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ

د حضرت مغيرة بن شعبة رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ به

يَقُولُ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلٰوةٍ مَكْتُوبَةٍ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ

د هر فرض لمانځه وروسته دا ويل: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ

وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ اللّٰهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ وَلَا مُعْطِيَ لِمَا

وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ اللّٰهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ وَلَا مُعْطِيَ لِمَا

مَنَعْتَ وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ. متفق عليه

مَنَعْتَ وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ . بخاري اومسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۲\۳۲۵، رقم: ۸۴۴، ومسلم: ۱\۴۱۴- ۴۱۵، رقم: ۱۳۷- ۵۹۳.

تشريح: د رسول الله ﷺ دغه دعا او نوري دعاوي او كلمات اذكار چي په مختلفو حديثونو كي ذكر دي د لمانځه څخه وروسته به يې ويلې، علماء ليكي چي رسول الله ﷺ به په ځينو وختونو كي د سلام ګرځولو وروسته پرته د څه ويلو څخه ودريدى او په ځينو وختو كي به يې پورتني دعا او د اذكار څخه به يې څه يا ټوله ويل.

څرنګه چي په حديثونو كي د لمانځه وروسته مختلفي دعاوي ثابتي دي له دې كبله ځينو علماؤ د دغه وېلو ترتيب داسي كړى دى چي اول دي استغفار وويل سي ددې وروسته اللهم انت السلام تر اخره پوري وويل سي بيا ددې وروسته دي لااله الا الله وحده لاشريك له تر آخره پوري وويل سي ددې دعاګانو پرته نوري هم زياتي دعاګاني په حديثو كي ذكر سوي دي چي د هغه په باره كي ثابت دي چي رسول الله ﷺ به د لمانځه وروسته ويلې.

په دې خبره باندي هم پوه سه چي د وروسته څخه مراد دا نه دى چي دا دعاګاني د فرض لمنځو وروسته متصل وويل سي كه چيري د سنتو وروسته هم دا دعا ووايي دې ته هم د لمانځه وروسته ويل كيداى سي.

﴿۹۰۱﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ الزُّبَيْرِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن الزبير رضي الله عنه څخه روايت دى چي. كله به رسول الله ﷺ

إِذَا سَلَّمَ مِنْ صَلٰوتِهٖ يَقُوْلُ بِصَوْتِهِ الْاَعْلٰى لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ

سلام وګرزوى نو په لوړ آواز سره به يې ويل: لااله الاالله....) (د الله څخه پرته بل د عبادت وړ نسته، هيڅوك د هغه شريك نسته

الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا

پاچاهي هغه لره ده او ټول تعريفونه هغه لره دي هغه پر هر شي قادر دى، د ګناهو څخه د منعه كيدو او د عبادت كولو توان

اللّٰهُ وَلَا نَعْبُدُ اِلَّا اِيَّاهُ لَهُ النِّعْمَةُ وَلَهُ الْفَضْلُ وَلَهُ الثَّنَاءُ الْحَسَنُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

د الله څخه پرته بل هيڅوك نه سي وركولاى د هغه څخه پرته بل د عبادت وړ نسته او موږ يوازي

د هغه عبادت کوو نعمتونه د هغه دي او د هغه لپاره برزګي ده د هغه لپاره غوره تعريف دی او پرته د الله څخه بل د عبادت وړ نسته

مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ. رواه مسلم

د هغه لپاره خالص دين اختيار وو که څه هم کافريې بد ګڼي).مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۴۱۵-۴۱۶، رقم: ۱۳۹-۵۹۴.

تشريح: علماء ليکي چي رسول الله ﷺ به دا دعا او کلمات هم د امت د تعليم لپاره په لوړ اواز سره ويل، امام نووي رحمة الله عليه په کتاب مهذب کي ليکلي دي دا دعا او ددې څخه ماسوا نوري دعاوي په کرار اواز سره ويل افضل دی که امام وي يا منفرد هو که ددې خبري ضرورت وي چي يوه دعا يو چا ته زده کول وي نو هغه په لوړ اواز سره ويل پکار دي ،دا دعا د رسول الله ﷺ په لوړ اواز سره پر دې محمول ده چي د رسول الله ﷺ مقصد صحابه کرامو رضي الله عنهم ته دا ښودل وو چي په لوړ اواز سره ويل او کله چي خلکو ته دا ياده سوه نو بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم په کرار اواز سره ويل او بيا په کرار اواز سره ويل افضل سوه.

د لمانځه وروسته د کومو شيانو څخه پناه غوښتل پکار ده

﴿۹۰۲﴾: وَعَنْ سَعْدٍ أَنَّهُ كَانَ يُعَلِّمُ بَنِيهِ هٰؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ وَيَقُولُ إِنَّ رَسُولَ اللهِ

حضرت سعد رضي الله عنه وايي چي هغه به خپلو ماشومانو ته دا کلمات ښودل او ويل به يې رسول ﷺ به

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَتَعَوَّذُ بِهِنَّ دُبُرَ الصَّلَاةِ اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ

د لمانځه وروسته په دغه الفاظو سره پناه غوښتل : (اې الله ! زه ستا پناه غواړم له

الْجُبْنِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبُخْلِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ أَرْذَلِ الْعُمُرِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ

الدُّنْيَا وَعَذَابِ الْقَبْرِ. رواه البخاري.

بزدلۍ ، بخل او بېکاره عمر، د دنيا د فتنې او د قبر د عذاب څخه د ساتلو لپاره ستا پناه غواړم). بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۶\۳۵-۳۶، رقم: ۲۸۲۲،

تشريح: دلته د جبن څخه مراد د اطاعت جرئت نه کول دي، د بخل څخه مراد دادی چي بل ته

په مال، علم او خیر خواهی سره گټه ونه رسوي، د بېکاره عمر مطلب دادی چي انسان د ژوند هغه مرحلې ته ورسیږي چیري چي په عقل کي خلل راسي انداموته ضعیف سي طاقت او قوت جواب ورکړي او داسي سړی بالکل شل او گوډ او په معذور کیدو سره ددین اودنیا د دواړو ناکاره جوړ سي داسي عمر څخه پناه غوښتل پکار ده ځکه چي د انساني ژوند حاصل او مقصود خو یوازي دادی چي د الله تعالی په عبادت کي مصرف سي د هغه نعمتونو په ښه ډول شکر اداء کړي او دا ښکاره ده چي په داسي ناکاره عمر کي هیڅ سړي نه په پوره توگه عبادت کولای سي او نه په شکر ادا کولو کي مشغول پاته کیدای سي، همداسي د ژوند او عمر چي کوم مقصد دی هغه فوت سي الله تعالی دي موږ ټول د داسي بیکاره ژوند څخه و ژغوري .آمین.

د لمانځه وروسته تسبیح او د هغه فضیلت

﴿۹۰۳﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ أَنَّ فُقَرَاءَ الْمُهَاجِرِينَ أَتَوْا رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چي فقیران مهاجرین رسول الله ﷺ ته راغلل

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا قَدْ ذَهَبَ أَهْلُ الدُّثُورِ بِالدَّرَجَاتِ الْعُلَى وَالنَّعِيمِ الْمُقِيمِ

او عرض یې وکړ چي شتمنو درجات او د جنتو نعمتونه تر لاسه کړل ،

فَقَالَ وَمَا ذَاكَ قَالُوا يُصَلُّونَ كَمَا نُصَلِّي وَيَصُومُونَ كَمَا نَصُومُ وَيَتَصَدَّقُونَ

رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه چي د دې لامل څه دی؟ هغوی وویل: هغوی لمونځ کوي څنگه چي موږ لمونځ کوو او روژې نیسي څنگه چي موږ روژې نیسو او هغوی خیرات کوي

وَلَا نَتَصَدَّقُ وَيُعْتِقُونَ وَلَا نُعْتِقُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفَلَا

او موږ یې نه سو کولای، هغوی غلامان آزادوي او موږ یې نه سو آزادولای ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل :

أُعَلِّمُكُمْ شَيْئًا تُدْرِكُونَ بِهِ مَنْ سَبَقَكُمْ وَتَسْبِقُونَ بِهِ مَنْ بَعْدَكُمْ وَلَا يَكُونُ

ایا زه تاسو ته داسي شی ونه ښیم چي د هغه له کبله تاسو د هغو خلکو څخه مخکي سئ چي ستاسو څخه وړاندي یې اسلام راوړی دی او د هغه خلکو څخه هم په مرتبه کي زیات سئ چي

ستاسو څخه وروسته به پيدا کيږي او نه به وي

أَحَدٌ أَفْضَلَ مِنْكُمْ إِلاَّ مَنْ صَنَعَ مِثْلَ مَا صَنَعْتُمْ قَالُوا بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ

هيڅوک غوره او افضل تر تاسو خو يوازې هغه څوک چې هغه هم هغه عمل کوي کوم چې تاسو يې کوئ، هغوی عرض وکړ: هو، اې د الله رسوله! نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل:

تُسَبِّحُونَ وَتُكَبِّرُونَ وَتَحْمَدُونَ دُبُرَ كُلِّ صَلاَةٍ ثَلاَثًا وَثَلاَثِينَ مَرَّةً قَالَ أَبُو

د هر لمانځه وروسته (سبحان الله الحمد لله الله اکبر) درو ديرش (۳۳) ځله وايا ست، وويل ابو

صَالِحٍ فَرَجَعَ فُقَرَاءُ الْمُهَاجِرِينَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا

صالح راوي چې دد ې پېښې وروسته فقيران مهاجرين بيا د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سول او عرض يې وکړ:

سَمِعَ إِخْوَانُنَا أَهْلُ الأَمْوَالِ بِمَا فَعَلْنَا فَفَعَلُوا مِثْلَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

زموږ شتمن ورونه زموږ د دې عمل څخه په خبريدو سره هغوی هم په دې عمل پيل کړ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل:

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ. متفق عليه وليس قول ابي صالح الى آخره الا عند مسلم و في رواية للبخاري تسبحون في دبر كل صلوة عشرا و تحمدون عشرا و تكبرون عشرا بدل ثلثا وثلثين.

دا د الله ﷻ فضل دی هغه چې چا ته يې غواړي ورکوي يې. بخاري او مسلم، د بخاري په يوه روايت کې دا الفاظ دي چې پر ځای د درو ديرش ځله د هر لمانځه وروسته لس ځله سبحان الله، لس ځله الحمد لله او لس ځله الله اکبر وايي.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري: ۲\۳۲۵، رقم: ۸۴۳، ومسلم: ۱\۴۱۶-۴۱۷، رقم: ۱۴۲-۵۹۵.

تشريح: په اول روايت کې دا فرمايل سوي دي چې په هر لمانځه پسې سبحان الله، الحمد لله او الله اکبر درو ديرش واره وواييې په دې کې درې احتماله دي: اول خو دا چې دا درې سره کلمات په مجموعي طور سره درو ديرش واره وويل سي همدا سي سبحان الله يو ولس واره الله

اكبر يوولس واره او الحمدلله يوولس واره ، دوهم دا چي دا درې سره بيل بيل درو ديرش درو ديرش واره وويل سي، د مشائخو عمل پر دې دی او دا افضل هم دی او دا چي ددې صراحت هم په ځينو روايتونو كي موجود دی، دريم دا چي دا درې سره كلمات په يوځای كولو سره درو ديرش واره وويل سي همداسي په هغه كي هر يو به هم درو ديرش واره وويل سي .

شكر كوونكی شتمن تر صبر كوونكي غريب غوره دی

د حديث اخري الفاظ : ذالک فضل الله .....الخ، مطلب دادی چي الله تعالی شتمنو خلكو ته پر تاسو فضيلت دركړی دی نو دا صرف د هغه فضل او كرم دی هغه چي چا ته غواړي په خپل فضل او كرم سره په نازولو سره د هغوی په قدمونو كي د مال او دولت امبار لګوي نو تاسو ته پكار ده چي په دې معامله كي د صبر لمن ونيسئ او پر تقدير الهي باندې راضي سئ چي هغه ځينو بندګانو ته پر ځينو باندي فضيلت او بزرګي وركړې ده .

په دې كي دې ته اشاره ده چي شكر كونكی شتمن تر صبر كونكي غريب ډير غوره دی مګر ورسره دومره خبره هم ده چي شتمن د خپل مال او دولت په معامله كي د مختلف ډول ګناهونو د بيري په وجه خالي نه وي هر كله چي فقير او غريب د ګناهو د بيري چي د دولت په وجه صادريږي په امن كي وي .

امام غزالي رحمة الله عليه په احياء العلوم كي فرمايي چي په دې مسئله كي اختلاف دی لكه څرنګه چي حضرت جنيد رحمة الله عليه او اكثر اهل الله د فقر د فضيلت قائل دي او د ابن عطاء قول دادی چي شاكر او شتمن چي د دولت حق اداء كوي د صابر غريب څخه افضل دی .

﴿۹۰۴﴾: وَعَنْ كَعْبِ ابْنِ عُجْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُعَقِّبَاتٌ

د حضرت كعب بن عجرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د لمانځه وروسته د ويلو څو الفاظ دي

لاَ يَخِيبُ قَائِلُهُنَّ أَوْ فَاعِلُهُنَّ دُبُرَ كُلِّ صَلاَةٍ مَكْتُوبَةٍ ثَلاَثٌ وَثَلاَثُونَ

چي د هر فرض لمانځه وروسته ويونكی د ثواب څخه نه نااميده كيږي يعني (۳۳) ځله

تَسْبِيحَةً وَثَلاَثٌ وَثَلاَثُونَ تَحْمِيدَةً وَأَرْبَعٌ وَثَلاَثُونَ تَكْبِيرَةً . رواه مسلم

سبحان الله (۳۳) ځله الحمد لله او (۳۴) ځله الله اكبر ويل. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۴۱۸، رقم: ۱۴۴-۵۹۶.

﴿۹۰۵﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَبَّحَ

د حضرت ابو هريرة ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې سبحان الله ووايي

اللّٰهَ فِيْ دُبُرِ كُلِّ صَلٰوةٍ ثَلٰثًا وَّ ثَلٰثِيْنَ وَ حَمِدَ اللّٰهَ ثَلٰثًا وَّ ثَلٰثِيْنَ وَ كَبَّرَ اللّٰهَ ثَلٰثًا وَّ

د هر لمانځه وروسته (۳۳) ځله او الحمدلله (۳۳) ځله او الله اكبر (۳۳) ځله وايي

ثَلاثِيْنَ فَتِلْكَ تِسْعَةٌ وَ تِسْعُوْنَ وَ قَالَ تَمَامُ الْمِائَةِ لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَحْدَهُ

يعني ټول يو كم سل او د سلو تعداد پوره كولو څخه وروسته دا كلمات ووايي: لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَحْدَهُ

لاَ شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ غُفِرَتْ خَطَايَاهُ

لاَ شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ . نو د هغه ګناهونه بخښل كيږي

وَلَوْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ. رواه مسلم

كه څه هم د درياب د ځګ برابر وي. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۴۱۸، رقم: ۱۴۶- ۵۹۷.

تشريح: په ځينو روايتونو كي د له الحمد څخه وروسته يحيي و يميت او په ځينيو روايتونو كي بيده الخير الفاظ هم نقل سوي دي، پورتني الفاظ چې د لمانځه وروسته وويل سي د هغه مختلف شمير منقول دي رسول الله ﷺ به خپله هم دا په بيل عددو سره ويل ځكه دا كلمات په حديثو كي د پورتني شمير څخه په كم شمير سره هم چې وويل سي نو اصل سنت ادا كيږي، حافظ زين عراقي فرمايي چې پورتني ټول شميرونه غوره دي او كوم عددونه چې تر ټولو زيات دي هغه د الله تعالى په نزد تر ټولو خوښ دي. ددې تسبيحاتو په اړه د رسول الله ﷺ په باره كي ثابت دي چې رسول الله ﷺ به دا پر خپل ګوتو ويل او دا هم نقل دي چې رسول الله ﷺ به صحابه رضي الله عنهم ته فرمايل چې دا پر ګوتو شميرئ ځكه چې د قيامت په ورځ به د ګوتو څخه پوښتنه كيږي او د جواب لپاره به ګوتي شاهدي وركوي د صحابه كرامو په باره كي نقل سوي دي چې هغوى به د خرما پر مندكو ويل په هر حال دا تسبيحات پر ګوتو ويل افضل دي او د

خرما وغيره پر منذ كو ويل هم جائز دي .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د دعاء قبلېدو وخت

﴿۹۰۶﴾: عَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ قِيلَ يَا رَسُوْلَ اللهِ أَيُّ الدُّعَاءِ أَسْمَعُ ؟ قَالَ جَوْفَ اللَّيْلِ الْآخِرِ وَدُبُرَ الصَّلَوَاتِ الْمَكْتُوبَاتِ . رواه الترمذي .

د حضرت ابو امامه رضي الله عنه څخه روايت دى چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چي اې د الله رسوله ! دعاء كوم وخت زياته قبليږي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : د شپې د نيمي آخري درميانه برخه او د فرض لمنځو وروسته . ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۵\۴۹۲، رقم: ۳۴۹۹.

د لمانځه وروسته معوذات ويل

﴿۹۰۷﴾: وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ أَمَرَنِي رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَقْرَأَ بِالْمُعَوِّذَاتِ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ . رواه أحمد وأبو داود والنسائي والبيهقي في الدعوات الكبير .

د حضرت عقبة رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ ما ته حكم راكړى دى چي زه د هر لمانځه وروسته معوذات ووايم (هغه سورتونه چي په پيل كي يې اعوذ وي، او هغه د قرآن كريم آخري دوه سورتونه دي) احمد، ابوداؤد، نسائي او بيهقي

تخريج: الامام احمد في مسنده ۴\۱۵۵ و ابوداؤد ۲\۱۸۱، رقم: ۱۵۲۳ والنسائي ۳\۶۸، رقم: ۱۳۳۶.

تشريح : د قرآن معوذات هغه سورتونو ته وايي چي د هغه په پيل كي اعوذ لفظ وي يعني قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس دلته د دغه دواړو سورتونو لپاره د معوذاتو د جمع صيغه ځكه استعمال سوې ده چي اقل جمع دوه ده او ځيني علماء وايي چي قل هو الله او قل يا ايها الكافرون هم معوذات كي غالبا داخل دي يعني قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس ته په امتياز وركولو سره ټول معوذات سره تعبير كړل شوي دي گويا ددې قول مطابق رسول الله صلي الله عليه وسلم د څلورو سورتونو يعني قل اعوذ برب الفلق، قل اعوذ برب الناس، قل هو الله احد او قل يا ايها الكافرون د ويلو حكم وركړى دى .

تر لمر ختلو او لمر لوېدو پورې په ذکر کې بوخت کېدل

﴿۹۰۸﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَأَنْ أَقْعُدَ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د هغه خلکو سره زما ناسته

مَعَ قَوْمٍ يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ مِنْ صَلَاةِ الْغَدَاةِ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ

چې د سهار د لمانځه وروسته تر لمر راختلو پورې د الله جل جلاله ذکر کوي زما په نزد غوره ده تر دې

أُعْتِقَ أَرْبَعَةً مِّنْ وُّلْدِ إِسْمَاعِيْلَ وَلَأَنْ أَقْعُدَ مَعَ قَوْمٍ يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ مِنْ صَلَاةِ

چې د حضرت اسماعيل عليه السلام د اولاد څخه څلورو غلامان آزاد سي او دا چې زه کښېنيم د هغه قوم سره چې د الله جل جلاله ذکر کوي وروسته تر لمانځه

الْعَصْرِ إِلٰى أَنْ تَغْرُبَ الشَّمْسُ أَحَبُّ إِلَيَّ أَنْ أُعْتِقَ أَرْبَعَةً. رواه أبو داود

د مازديګر تر لمرلوېدو پورې زما په نزد د دې څخه غوره ده چې زه څلور غلامان آزاد کړم. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داؤد ۴\۷۳ – ۷۴، رقم: ۳۶۶۷.

تشريح: په ښکاره دا معلومیږي چې د حديث آخري الفاظو کې هم د څلورو غلامانو څخه مراد د حضرت اسماعيل عليه السلام د اولاد څخه څلور غلامان دي او دا هم احتمال دی چې دلته څلور غلامان مطلقا مراد وي، حضرت اسماعيل عليه السلام د اولاد خاصوالی رسول الله ﷺ ځکه وکړ چې هغوی افضل عرب دي او خپله رسول الله ﷺ هم د هغوی په اولاد کې دی.

﴿۹۰۹﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى الْفَجْرَ فِيْ جَمَاعَةٍ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الﷺ ﷺ وفرمایل: چا چې د سهار لمونځ په جماعت سره وکړ

ثُمَّ قَعَدَ يَذْكُرُ اللّٰهَ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ ثُمَّ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ كَانَتْ لَهُ كَأَجْرِ حَجَّةٍ

او تر لمر ختلو پورې د الله جل جلاله په ذکر کولو کې ناست وو او د لمر ختلو وروسته یې دوه رکعته نفل وکړ نو هغه ته د يوه حج

وَّعُمْرَةٍ . قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَامَّةٍ تَامَّةٍ تَامَّةٍ . رواه الترمذي

او يوې عمرې ثواب رسيږي ، د راوي بيان دی چي د ددې وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل : د پوره حج او عمرې ثواب د پوره حج او عمرې ثواب د پوره حج او عمرې ثواب . ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۲\۴۸۱، رقم: ۵۸۶.

تشريح : مطلب دادی چي کوم سړی د سهار لمونځ په جماعت سره وکړي او هغه په مسجد کي او پر هغه مصلی باندي تر لمر ختلو پوري د الله تعالی په ذکر کي پرله پسې بوخت وي د هغه وروسته دوه رکعته نفل لمونځ وکړي نو د حج او عمرې ثواب ورته حاصليږي که د ذکر په حالت کي د طواف لپاره يا د علم د طلب لپاره په مسجد کي د وعظ مجلس ته د ورتلو لپاره د مصلی څخه ولاړ سي يا همداسي سړی د هغه ځای څخه په ولاړيدو سره خپل کورته راسي او د الله تعالی په ذکر کي بوخت سي نو هغه ته هم ذکر سوی ثواب تر لاسه کيږي .

د ذکر څخه د فارغيدو وروسته دوه رکعته لمونځ د لمر يوه نيزه پورته کيدو وروسته کول پکار دی چي د کراهيت وخت ختم سي او دغه لمانځه ته د اشراق لمونځ وايي او اکثر په حديثو کي ددې نوم صلوة الضحیٰ هم نقل دی، په ښکاره دا معلوميږي چي دا دواړه لمنځونه يو دي چي د هغه جلا جلا دوه نومونه دي ددې ابتدايي وخت د لمر پورته کيدو وروسته پيل کيږي او انتهايي وخت يې د لمر لوېدو مخکي دی په ابتدايي وخت کي کيدونکي لمانځه ته اشراق وايي او په انتهايي وخت کي کيدونکي لمانځه ته د څاښت لمونځ وايي، فرمايل سوي دي چي داسي سړي ته د حج او عمرې دواړو ثواب حاصليږي د حج ثواب خو د فرض لمانځه په جماعت سره اداء کولو په وجه تر لاسه کيږي او د عمرې ثواب د نفل لمانځه يعني د اشراق لمونځ کولو په وجه ورته تر لاسه کيږي .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د دوو لمنځو په مينځ کي وقفه کول پکار ده

﴿۹۱۰﴾: عَنِ الْأَزْرَقِ بْنِ قَيْسٍ قَالَ صَلَّى بِنَا إِمَامٌ لَّنَا يُكَنّٰى أَبَا رِمْثَةَ قَالَ

د حضرت ازرق بن قيس رضي الله عنه څخه روايت دی چي زموږ امام چي نوم يې ابو رمثه وو موږ ته لمونځ راکړ او وه يې ويل

صَلَّيْتُ هٰذِهِ الصَّلَاةَ أَوْ مِثْلَ هٰذِهِ الصَّلَاةَ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دا لمونځ يا ددې لمانځه په ډول ما د رسول الله ﷺ سره کړې وو

قَالَ وَكَانَ أَبُوْبَكْرٍ وَّعُمَرَ يَقُوْمَانِ فِي الصَّفِّ الْمُقَدَّمِ عَنْ يَّمِيْنِهِ وَكَانَ رَجُلٌ

او ابو رمثه دا بيان هم وکړ چي ابوبکر رضی الله عنه او عمر رضی الله عنه په اول صف کي د رسول الله ﷺ راسته لوري ته ولاړ وه او يو سړی وو

قَدْ شَهِدَ التَّكْبِيْرَةَ الْأُوْلٰى مِنَ الصَّلَاةِ فَصَلّٰى نَبِيُّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ

چي د لمانځه په لومړی تکبير کي په لمانځه کي حاضر سو ، د لمانځه وروسته رسول الله ﷺ

سَلَّمَ عَنْ يَّمِيْنِهِ وَعَنْ يَّسَارِهِ حَتّٰى رَأَيْنَا بَيَاضَ خَدَّيْهِ ثُمَّ انْفَتَلَ كَانْفِتَالِ أَبِيْ

راسته او چپه طرف ته سلام وګرزوی تر دې چي موږ د رسول الله ﷺ د بلغو سپين والی وليدی ، بيا رسول الله ﷺ يوې خوا ته راوګرزيدی د ابو رمثه په ډول وګرزيدی ،

رِمْثَةَ يَعْنِيْ نَفْسَهُ فَقَامَ الرَّجُلُ الَّذِيْ أَدْرَكَ مَعَهُ التَّكْبِيْرَةَ الْأُوْلٰى مِنَ

هغه سړي چي په اول تکبير کي شامل سوی وو ودريدی او دوه رکعته لمونځ يې پيل کړ ،

الصَّلَاةِ يَشْفَعُ فَوَثَبَ عُمَرُ فَأَخَذَ بِمَنْكِبَيْهِ فَهَزَّهُ ثُمَّ قَالَ اجْلِسْ فَإِنَّهُ

حضرت عمر رضی الله عنه ودريدی او د هغه سړي دواړو اوږو ته يې حرکت ورکړ بيا يې ورته وويل کښينه ، ځکه چي

لَمْ يَهْلِكْ أَهْلُ الْكِتَابِ إِلاَّ أَنَّهُ لَمْ يَكُنْ بَيْنَ صَلَوَاتِهِمْ فَصْلٌ . فَرَفَعَ النَّبِيُّ

اهل کتاب له دې کبله هلاک سول چي هغوی به د دوو لمنځو په منځ کي څه فرق نه کوی ، د دې په اوريدو سره رسول الله ﷺ راپورته کړې

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَصَرَهُ فَقَالَ أَصَابَ اللّٰهُ بِكَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ . رواه أبو داود

سترګي او وه يې فرمايل : د خطاب زويه ! الله جل جلاله ته راه حق ته ورسولې . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داؤد ۱/۶۱۱-۶۱۲، رقم: ۱۰۰۷.

تشریح : د حدیث په پیل کي ابو رمثه رضی الله عنه د خپل قول (دا لمونځ) څخه دې ته اشاره کړې وه کوم چي هغه د رسول الله ﷺ سره کړی وو او هغه د ماپښین یا مازدیګر لمونځ وو.
په لفظ (مثل هذه الصلوة) کي د حرف او راوي ته شک څرګندوي یعني ددې روایت راوي ته شک دی چي ابو رمثه رضی الله عنه هذه الصلوة فرمایلي دي او که مثل هذه الصلوة.
فرمایل سوي دي چي یو سړی (په وروسته راتلو سره) په تکبیر اولی کي شریک سو، دلته د تکبیر اولی قید ددې لپاره لګول سوی دی چي دا څرګنده سي چي هغه سړی مسبوق نه وو چي د خپل پاته لمانځه لپاره پوره کولو لپاره د سلام څخه وروسته ولاړ سوی وای بلکه هغه د جماعت سره په لومړي رکعت کي ګډون کړی وو او هغه د سلام څخه وروسته د سنت مؤکده کولو لپاره ولاړ سوی وو،
د فرق څخه مراد یا خو په سلام ګرځولو سره فرق کول دي یا د ځای په بدلولو سره فرق کول مراد دي، لکه څرنګه چي د ابو هریره رضی الله عنه په یو روایت کي منقول دي چي په تاسو کي یو سړی لمونځ کوي هغه ته څه ګرانه ده چي هغه مخکي ولاړ سي یا وروسته راسي یا راسته خوا ته په آخوا کېدو سره ودرېږي (یعني د یوه لمونځ کولو سره د دوهم لمونځ کولو لپاره مخکني ځای څخه آخوا کېدل پکار دي) او یا په خبرو کولو او د مسجد څخه په وتلو سره فرق کول مراد دي لکه څرنګه چي د مسلم په یوه روایت کي د حضرت سائب رضی الله عنه څخه نقل دي چي هغه وویل موږ ته رسول الله ﷺ حکم راکړی وو چي موږ د دوو لمنځو په مینځ کي وصل نه کوو تر څو پوري چي خبري ونه کړو یا د باندي ونه وځو (او په دې توګه د دواړو لمنځونو په مینځ کي وقفه وکړو).
دا حدیث د کتاب د مصنف په دې باب یعني باب الذکر بعد الصلوة کي ذکر کولو سره دې ته اشاره کړې ده چي د فرق څخه مراد د فرض لمانځه څخه وروسته ذکر پرېښودل دي یعني د فرض لمانځه څخه وروسته پکار ده چي ذکر وکړل سي چي د دې د دعاګانو په صورت کي حدیثونه مذکور دي، ددې څخه وروسته په ولاړېدو سره دي سنت وکړي.
دا حدیث پر دې خبره دلالت کوي چي د فرض لمانځه سره د نفل لمانځه یو ځای کول نه دي پکار یعني د دواړو لمنځونو په مینځ کي د و مره توقف پکار دی چي په دواړو کي یوه اشتباه نه وي.

د لمانځه وروسته تسبيحات

﴿۹۱۱﴾: وَعَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ أُمِرْنَا أَنْ نُسَبِّحَ فِيْ دُبُرِ كُلِّ صَلاَةٍ ثَلاثًا

د حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه څخه روايت دى چي موږ ته حكم راكړل سوى دى چي موږ د هر لمانځه وروسته (۳۳) ځله سبحان الله

وَّثَلاَثِيْنَ وَنَحْمَدَ ثَلاثًا وَّثَلاَثِيْنَ وَنُكَبِّرَ أَرْبَعًا وَّثَلاَثِيْنَ فَأُتِيَ رَجُلٌ فِي الْمَنَامِ

(۳۳) ځله الحمد لله او (۳۴) ځله الله اكبر ووايو، يوه انصاري په خوب كي يوه ملائكه وليدل

مِنَ الْأَنْصَارِ فَقِيْلَ لَهُ أَمَرَكُمْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تُسَبِّحُوْا

هغې وويل : رسول الله ﷺ تاسو ته دا حكم دركړى دى چي تاسو تسبيح واياست

فِيْ دُبُرِ كُلِّ صَلاَةٍ كَذَا وَكَذَا قَالَ الْأَنْصَارِيُّ فِيْ مَنَامِهِ نَعَمْ قَالَ فَاجْعَلُوْهَا

د هر لمانځه وروسته دومره دومره ، انصاري ملائكي ته په خوب كي وويل هو، ملائكي ورته وويل تاسو د دې درو كلمو شمېر وټاكئ

خَمْسًا وَّعِشْرِيْنَ خَمْسًا وَّعِشْرِيْنَ وَاجْعَلُوْا فِيْهَا التَّهْلِيْلَ فَلَمَّا أَصْبَحَ غَدَا

پنځه ويشت پنځه ويشت او په دې كي لا اله الا الله پنځه ويشت ځله شامل كړئ، كله چي سهار سو

عَلَى النَّبِيِّ ﷺ فَأَخْبَرَهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فَافْعَلُوْا . رواه أحمد والنسائي والدارمي

نو هغه انصاري د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سو او خوب يې ورته وواېه ، رسول الله ﷺ وفرمايل : په دې عمل كوئ . احمد ، نسائي او دارمي .

تخريج: الامام احمد في مسنده ۵\ ۱۸۴، والنسائي ۳\ ۷۶، رقم: ۱۳۴۹، والدارمي ۱\ ۳۶۰، رقم: ۱۳۵۴.

تشريح : د رسول الله ﷺ د دې ارشاد څخه (په دې عمل كوئ) مراد به غالبا دا وي چي څرنګه تاسو ته د تسبيح ويلو حكم سوى دى د غسي يې هم واياست او څرنګه چي ملائكو په خوب كي در ته ښودلي دي هم هغسي يې هم واياست او دا هم د ذكر يوه طريقه ده ځكه رسول الله ﷺ د هغه استحكام وكړ، كه رسول الله ﷺ يې تصديق نه واى كړى نو صرف خوب به په دې اړه څه حجت نه واى .

د آية الكرسي فضيلت

﴿۹۱۲﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى أَعْوَادِ

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه د لرګي

هٰذَا الْمِنْبَرِ يَقُوْلُ مَنْ قَرَأَ آيَةَ الْكُرْسِيِّ فِيْ دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ لَمْ يَمْنَعْهُ مِنْ دُخُوْلِ

پر دغه منبر اوریدلي دي چي څوک د هر لمانځه وروسته آية الكرسي ووايي نو هغه د مرګ څخه پرته هيڅ شی

الْجَنَّةِ إِلاَّ الْمَوْتَ وَمَنْ قَرَأَهَا حِيْنَ يَأْخُذُ مَضْجَعَهُ آمَنَهُ اللّٰهُ عَلٰى دَارِهِ وَدَارِ

جنت ته د تلو څخه نه سي منعه کولای ، څوک چي د بيده کيدو پر وخت آية الكرسي ووايي نو الله تعالی د هغه

جَارِهِ وَأَهْلِ دُوَيْرَاتٍ حَوْلَهُ . رواه البيهقي في شعب الإيمان وقال إسناده ضعيف

او د هغه د همسايه او څو مره کورونه چي د هغه د کور شا وخوا وي ټول په امن کي لري . بيهقي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۲\۴۵۸، رقم: ۳۳۹۵.

تشريح : د حديث د لومړنيو جملو څخه يو اشكال واقع کيږي هغه دا چي مرګ په جنت کي د داخليدو مانع دی بلکه مرګ خو جنت ته د تلو ذريعه ده نو پکار خو دا وه چي پر ځای ددې چي دا فرمايل سوي دي : لم يمنعه من دخول الجنة الا الموت يعني هغه جنت ته د تلو څخه ماسوا د مرګ څخه بل شی منعه کولای نسي دا فرمايل سوي وای چي لم يمنعه من دخول الجنة الا الحيوة يعني هغه جنت ته د تلو څخه د ژوند ماسوا بل شی نسي منعه کولاي ځکه چي انسان دي په دې دنيا کي د ژوند په جا ل کي مبنتی دی هر کله چي ژوند ختم سي او مرګ راسي نو په جنت کي داخليدل به هغه وخت ممکن سي نو په جنت کي د داخليدو مانع مرګ نه دی بلکه ژوند دی . ددې مختصر جواب علامه طيبي رحمة الله عليه دا ورکړی دی چي د بنده او جنت په مينځ کي د مرګ يوه پرده ده چي يو خوا ته خو ژوند دی هر کله چي دا پرده ليري سي يعني بنده ته مرګ راسي نو هغه سمدستي په جنت کي دا خليږي .

ځيني حضرات فرمايي چي دلته د مرګ څخه مراد د بنده د قيامت په ورځ د قبر څخه د

راپورته کیدو مخکي په قبر کي داخلیدل دي هر کله چي بنده د قبر څخه راپورته سي سمدستي په جنت کي داخل سي .دا حدیث که څه هم ضعیف دی مګر څرنګه چي مخکي هم ښودل سوي دي چي د فضائل اعمال په اړه په ضعیف حدیث باندي هم عمل کول جائز دی د حدیث اول جزء نسائي ابن حبان او طبراني هم نقل کړی دی په یوه روایت کي آیت الکرسي سره قل هوالله ویل هم مذکوره دي.

د سهار او ماښام د لمانځه وروسته د ذکر فضیلت

﴿۹۱۳﴾: وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ غَنْمٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

حضرت عبد الرحمن بن غنم رضی الله عنه د رسول الله ﷺ څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

مَنْ قَالَ قَبْلَ أَنْ يَنْصَرِفَ وَيَثْنِيَ رِجْلَيْهِ مِنْ صَلاَةِ الْمَغْرِبِ وَالصُّبْحِ لاَ إِلٰهَ

څوک چي د لمانځه د ځای څخه د پورته کیدو مخکي د ماښام او د سهار تر لمانځه دا کلمات:

لاَ إِلٰهَ

إِلاَّ اللّٰهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيْكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ يُحْيِيْ وَيُمِيْتُ

إِلاَّ اللّٰهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيْكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ يُحْيِيْ وَيُمِيْتُ

وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ عَشْرَ مَرَّاتٍ كُتِبَ لَهُ بِكُلِّ وَاحِدٍ عَشْرُ حَسَنَاتٍ

وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ، لس واره ووایي نو د هغه لپاره د هر ځل په بدله کي لس نیکی لیکل کیږي

وَمُحِيَتْ عَنْهُ عَشْرُ سَيِّئَاتٍ وَّرُفِعَ لَهُ عَشْرُ دَرَجَاتٍ وَكَانَتْ لَهُ حِرْزًا مِّنْ كُلِّ

او لس بدی لیري کیږي او لس درجي یې لوړیږي او دا کلمات د هغه لپاره د هر بد شی څخه

مَكْرُوْهٍ وَحِرْزًا مِّنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ وَلَمْ يُحِلَّ لِذَنْبٍ اَنْ يُّدْرِكَهُ إِلاَّ الشِّرْكُ

او د رټل سوی شیطان څخه آمن جوړیږي او پرته د شرک څخه هیڅ یو ګناه هغه د هلاکت په لور نه سي بیولای،

وَكَانَ مِنْ أَفْضَلِ النَّاسِ عَمَلاً إِلاَّ رَجُلاً يَفْضُلُهُ يَقُوْلُ أَفْضَلَ مِمَّا قَالَ . رواه

أحمد . وروى الترمذي نحوه عن أبي ذر إلى قوله إلا الشرك ولم يذكر صلاة المغرب ولا بيده الخير وقال هذا حديث حسن صحيح غريب .

او هغه کس د عمل په اعتبار غوره انسان دی پرته د هغه چا څخه چي دده څخه زيات عمل کوي هغه به تر ده افضل وي . احمد او ترمذي

تخريج: الامام احمد في مسنده ۴\۲۲۷ و سنن الترمذي ۵\۴۸۱، رقم: ۳۴۷۴.

د سهار د لمانځه وروسته د ذکر فضيلت

﴿۹۱۴﴾: وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ بَعْثًا قِبَلَ

د حضرت عمر بن الخطاب ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ يوه ډله ولېږل په لور

نَجْدٍ فَغَنِمُوْا غَنَائِمَ كَثِيْرَةً وَأَسْرَعُوا الرَّجْعَةَ فَقَالَ رَجُلٌ مِّنَّا لَمْ يَخْرُجْ مَا

د نجد ، دا ډله ډېر غنيمت سره ژر راستنه سول ، په موږ کي يو سړی وويل چي دد غه ډلي سره نه وو تللی

رَأَيْنَا بَعْثًا أَسْرَعَ رَجْعَةً وَلاَ أَفْضَلَ غَنِيْمَةً مِنْ هٰذَا الْبَعْثِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى

موږ هيڅ داسي ډله نه ده ليدلې چي دومره ژر راسي او دومره د غنيمت مال يې راوړی وي . (د دې په اوريدو سره) رسول الله ﷺ وفرمايل :

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلاَ أَدُلُّكُمْ عَلٰى قَوْمٍ أَفْضَلَ غَنِيْمَةً وَأَفْضَلَ رَجْعَةً ؟ قَوْمًا

ايا زه تا ته هغه قوم ونه ښيم چي د غنيمت په مال کي زيات او په ستنېدو کي غوره وي ، دا هغه خلک دي چي

شَهِدُوْا صَلاَةَ الصُّبْحِ ثُمَّ جَلَسُوْا يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ حَتّٰى طَلَعَتِ الشَّمْسُ عَلَيْهِمْ

د سهار په لمانځه کي حاضرېږي او تر لمر ختلو پوري ناست وي د الله ﷻ ذکر کوي

فَأُوْلٰئِكَ أَسْرَعُ رَجْعَةً وَّأَفْضَلُ غَنِيْمَةً . رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب

لا نعرفه إلا من هذا الوجه وحَماد بن أبي حُميد هو الضعيف في الُحديث

دا هغه خلک دي چي په ستنېدو کي افضل دي او په غنيمت کي زيات دي .ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۲۲، رقم: ۳۵۶۱.

تشريح: مطلب دادی چي د هغه لښکر خلکو ته يوازي د دنيا دولت حاصل سو کوم چي فاني دی او دده جماعت خلکو ته لږ شان وخت کي ډير زيات ثواب حاصل سو چي باقي پاتيدونکی دی لکه چي د الله رب العزت ارشاد دی:

مَا عِندَكُمْ يَنفَدُ وَمَا عِندَ اللَّهِ بَاقٍ

ژباړه: څه چي ستاسو سره دي هغه فاني دي او څه چي د الله تعالی سره دي هغه باقي دي.

نو دده ډلي خلک نه يوازي دا چي د مال غنيمت په اعتبار د هغه لښکر د خلکو څخه افضل ثابت سول بلکه په ژر راستنېدو کي هم د هغوی څخه زيات سول.

========

بَابُ مَا لاَ يَجُوْزُ مِنَ الْعَمَلِ فِي الصَّلٰوةِ وَ مَايُبَاحُ مِنْهُ

په لمانځه کي د رواه او نارواه شيانو بيان

په دې باب کي د هغه شيانو ذکر کيږي چي په لمانځه کي اختيارول يې جائز دي او د داسي شيانو ذکر هم کيږي چي په لمانځه کي اختيارول يې حرام، مکروه يا مباح دی او د هغه سره په لمانځه کي په يو حيثيت سره اثر هم لويږي .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

په لمانځه د ترچي کوونکي په جواب کي يرحمک الله ويل لمونځ فاسدوي

﴿۹۱۵﴾: عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ الْحَكَمِ قَالَ بَيْنَا أَنَا أُصَلِّي مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

د حضرت معاوية بن حکم ﷛ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ سره لمونځ کوی

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ عَطَسَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ فَقُلْتُ يَرْحَمُكَ اللَّهُ فَرَمَانِي الْقَوْمُ

ناڅاپه يو سړي و نوږل ما (يرحمک الله) وويل، (د دې په اوريدو سره) خلکو زما په لور

بِأَبْصَارِهِمْ فَقُلْتُ وَا ثُكْلَ أُمِّيَاهُ مَا شَأْنُكُمْ تَنْظُرُونَ إِلَيَّ فَجَعَلُوا يَضْرِبُونَ

سترکي کړې ما په خپل زړه کي وويل مور دې درباندي بوره سي تاسو ولي ما ته ګورئ ، خلکو وهل پيل کړل

بِأَيْدِيهِمْ عَلَى أَفْخَاذِهِمْ فَلَمَّا رَأَيْتُهُمْ يُصَمِّتُونَنِي لَكِنِّي سَكَتُّ فَلَمَّا صَلَّى رَسُولُ

د خپلو لاسونو پر خپلو ورنو (چي زه پته خوله سم) هر کله چي ما وليدل چي هغوی زما پته خوله کول غواړي (نو په غصه سوم) مګر پته خوله سوم ، کله چي رسول الله ﷺ لمونځ وکړ

اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبِأَبِي هُوَ وَأُمِّي مَا رَأَيْتُ مُعَلِّمًا قَبْلَهُ وَلاَ بَعْدَهُ

زما مور او پلار دي تر قربان وي دده مبارک شخه وړاندي او وروسته ما هيڅوک دومره مهربانه استاذ نه دی ليدلی

أَحْسَنَ تَعْلِيمًا مِنْهُ فَوَاللَّهِ مَا كَهَرَنِي وَلاَ ضَرَبَنِي وَلاَ شَتَمَنِي قَالَ إِنَّ هَذِهِ

قسم په الله ! رسول الله ﷺ زه نه وترټلم نه يې ووهلم او نه يې راته شه بد ورد وويل بلکه دا يې وفرمايل: دا

الصَّلاَةَ لاَ يَصْلُحُ فِيهَا شَيْءٌ مِنْ كَلاَمِ النَّاسِ إِنَّمَا هُوَ التَّسْبِيحُ وَالتَّكْبِيرُ

لمونځ دی په دې کي هيڅ داسي يو خبره نه ده پکار کوم چي د خلکو سره کيږي لمونځ خو د تسبيح، تکبير

وَقِرَاءَةُ الْقُرْآنِ أَوْ كَمَا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْتُ يَا رَسُولَ

او قرآن کريم ويلو نوم دی، يا دا ډول نور شه يې وفرمايل ، ما عرض وکړ اې دالله رسوله !

اللَّهِ إِنِّي حَدِيثُ عَهْدٍ بِجَاهِلِيَّةٍ وَقَدْ جَاءَ اللَّهُ بِالإِسْلاَمِ وَإِنَّ مِنَّا رِجَالاً يَأْتُونَ

زما د جاهليت زمانه نژدې ده (يعني نوی مسلمان سوی يم) او بېله شکه الله ﷻ موږ ته دين اسلام راکړی دی او په موږ کي ځيني داسي خلک دي چي ځي

الْكُهَّانَ قَالَ فَلاَ تَأْتِهِمْ قَالَ وَمِنَّا رِجَالٌ يَتَطَيَّرُونَ قَالَ ذَاكَ شَيْءٌ يَجِدُونَهُ

کوډګرانو ته ، رسول الله ﷺ وفرمایل ته هغوی ته مه ورځه، ما عرض وکړ او په موږ کي ځیني خلک بد فالي کوي، رسول الله ﷺ وفرمایل دا هم یو شی دی چي هغوی یې تر لاسه کوي

فِي صُدُورِهِمْ فَلَا يَصُدَّنَّهُمْ قَالَ قُلْتُ وَمِنَّا رِجَالٌ يَخُطُّونَ قَالَ كَانَ نَبِيٌّ مِنْ

په خپلو زړونو کي یعني وهم دی هغوی د څه کار څخه نه منعه کوي ، ما بیا عرض وکړ او په موږ کي ځیني خلک خط کاږي ، رسول الله ﷺ وفرمایل یو نبي وو

الْأَنْبِيَاءِ يَخُطُّ فَمَنْ وَافَقَ خَطَّهُ فَذَاكَ . رواه مسلم . قوله لكني سكت هكذا وجدت في صحيح مسلم وكتاب الحميدي وصحح في جامع الاصول بلفظه كذا فوق لكني .

په نبیانو کي چي خط به یې کښی (د لته د خط څخه مراد د علم رمل کرښي دي) د چا خط چي د هغه پیغمبر سره سم سي نو هغه هغه شی تر لاسه کوي . مسلم.

تخريج: صحیح مسلم ۱\۳۸۱– ۳۸۲، رقم: ۳۳– ۵۳۷.

د لغاتو حل : (كَهَرَنِي): اى زجرني (زه یې وتړټلم). (يَخطونَ): قال الشيخ علي القاري ناقلا عن ابن عباس: ان الخط هو ان يُجعل خطوط في الارض بالعجلة كيلا يلحقها العدد، ثم يمحو منها خطين خطين على مهل، فان بقي خطان فهو علامة النجاح وان بقي واحد فهو علامة الخيبة وهو نوع من التنجيم. مرقات بتصرف.

تشريح : وَا ثكل أميَاهُ: یعني ستا مور دي تا ورک کړي د دې الفاظو تشریح مخکي هم په خپل ځای کي تیره سوې ده، هلته ښودل سوي دي چي د اهل عرب په نزد به دا الفاظ پر داسي وخت استعمالیدل هر کله چي د مخاطب شي خبر یا څه فعل به د تعجب قابل وو .

په ښکار دا معلومیږي چي په لمانځه کي به ﷺ پرنکی الحمد لله ویلې وي او د هغه په جواب کي معاویه ﷺ یرحمک الله وویل د حدیث څخه معلومه سوه چي په لمانځه کي د ترچي په جواب کي یرحمک الله ویل حرام دی په دې سره لمونځ فاسد کیږي اوس اشکال دا پیدا کیږي چي معاویه ﷺ یو لمونځ ماتونکی کار وکړ نو رسول الله ﷺ هغه ته د لمانځه کولو په دوهم وار حکم ولي نه ورکړ، د دې جواب دادی چي هغه نوی مسلمان سوی وو د اسلام قبلولو یې ډیري زیاتي ورځي نه وې تیري سوي ځکه هغه ته معلومه نه وه چي په لمانځه کي خبري کول

منسوخ سوي دي او په خبرو کولو سره لمونځ باطل کیږي ځکه رسول الله ﷺ د هغه د ناخبرتیا په وجه هغه ته دوهم وار د لمانځه کولو حکم ورنه کړ، امام نووي رحمة الله علیه فرمایي که یو سړي په لمانځه کي یرحمک الله ووایي نو د هغه لمونځ باطل کیږي ځکه چي په دې کي بل سړي ته خطاب کول راځي او که یو سړی یرحمه الله ووایي نو لمونځ دده نه باطل کیږي . د ابن همام رحمة الله علیه قول دی که یو سړي د خپل نفس لپاره یرحمک الله ووایي نو د هغه لمونځ نه فاسد کیږي لکه څرنګه چي په یرحمني الله ویلو سره لمونځ نه فاسد کیږي .

ارشاد نبوي (ان هذه الصلوة لا یصلح فیها شيء من کلام الناس) په لمانځه کي د انسان خبره کول مناسبه نه ده په دې کي کلام الناس ځکه فرمایل سوی دی چي د دې حکم څخه هغه تسبیحات او اذکار وځي کوم چي په لمانځه کي ویل کیږي اګر که هغه د انسان خبري دي مګر د هغه څخه د انسان خطاب کولو یا د هغوی د پوهیدلو اراده نه وي نو دلته د کلام الناس څخه مراد هغه خبري دي چي په هغه کي خلکو ته خطاب سوی وي یا خپله د مخاطب اراده وي .

فقهاء لیکي که یو سړی د یوه لمونځ کونکي څخه د لمانځه په حالت کي پوښتنه وکړي چي ستا سره څه او کوم ډول مال دی او هغه په جواب کي دا آیت ووایي (الخیل والبغال والحمیر) آسونه غاتري او خرونه یا د لمونځ کونکي مخته یو کتاب پروت وي او د یو سړي مخته د یحیی په نامه یو څوک ولاړ وي او هغه سړی د خطاب کولو په نیت دا ایت ووایي یٰیحی خذ الکتاب: اې یحیی دا کتاب واخله نو په دې صورتونو کي لمونځ کونکي که څه هم د قرآن ایاتونه ویلي دي مګر دا ایاتونه د دوهم سړي د خطاب کولو په نیت دي ځکه لمونځ یې فاسد کیږي هو که د خطاب اراده نه وي بلکه د قرائت په ارادې سره یې ووایي نو لمونځ یې نه فاسد یږي .

کاهن چاته ویل کیږي ؟

په عربو کي کاهن هغه خلکو ته وایي چي د پیریانو، شیطانانو او د ارواح خبیثه سره تعلق لري او شیطانانو به د رواغ او رشتیا خبرونه هغوی ته ویل همداسي هغو خلکو ته د علم غیب په دعوه کولو سره د شیطانانو او جنات رسول سوي خبرونه د غیب ویلو سره خلکو ته رسول داسي خلکو ته ورتلو څخه رسول الله صلي الله علیه وسلم منعه فرمایلې ده، په یوه بل روایت کي ذکر سوي دي چي رسول الله صلي الله علیه سلم وفرمایل کوم سړی چي یو عراف یا کاهن ته ورځي او د هغه وربښودل سوي خبري رشتیا ګڼي نو هغه بیشکه پر محمد ﷺ نازل سوو شیانو څخه انکار وکړ، دا روایت امام احمد رحمة الله علیه د حضرت ابو هریره ﷺ څخه په صحیح سند سره نقل کړی دی .

عراف چاته وايي ؟ د کاهن تعريف خو معلوم سو او س په دې پوه سئ چي عراف چاته ويل کيږي، عراف هغه سړي ته ويل کيږي چي د يو عمل، جادو او منتر په ذريعه د يوه يوه شي حقيقت بيانوي د غلا د شيانو معلومات ورکوي او د ورک سوي،کور حال او ځای ورته ښيي دوی ته د ورتلو څخه هم رسول الله ﷺ منعه فرمايلې ده.

درمل عمل : څرنگه چي د جنات او شياطين يا علم نجوم په ذريعه د غيب د خبرو معلومولو ځيني خلک هڅه کوي همداسي د رمل په ذريعه هم څه خلک پټو خبرو ته د رسيدو هڅه کوي نو رمل د هغه علم نوم دی چي په هغه کي د خطونو په کښلو سره او د هغه په ذريعه په حساب معلومولو سره په پټو خبرو د پوهيدو هڅه کوي د حديث د الفاظو څخه خو په ښکاره دا معلوميږي چي رسول الله ﷺ د رمل په باره کي يوه داسي کليه بيان کړې ده چي د هغه څخه تر يو حده پوري د علم جواز راوځي حالانکه داسي نه ده مخکي خو په دې پوه سئ چي هغه نبي چي په علم رمل پوهيدی او خطونه يې کښل هغه حضرت ادريس عليه السلام يا حضرت دانيال عليه السلام وو ددې وروسته حديث خوا ته راسئ د رسول الله ﷺ د اشاد څخه د علم جواز نه معلو ميږي ځکه چي بقول خطابي رحمة الله عليه دلته رسول الله ﷺ تعليق بالمحال کړی دی يعني رسول الله ﷺ فمن وافق خطه د زجر په وجه فرمايلې ده د هغه مطلب دادی چي د بل چا خط راکښل د هغه نبي د خط کښلو موافق نسي کيدای ځکه چي هغه خو د هغه نبي معجزه ده او معجزه يوازي د نبي تر ذاته پوري محدوده وي بيا دا که يو خط راکاږي او وايي چي دا د هغه نبي د خط راکښلو مطابق دی نو دا غلطه خبره ده ځکه چي د خط موافقت په صحيح توگه د تواتر يانص څخه ثابتيدای سي چي د رسول الله ﷺ څخه نقل وي د رسول الله ﷺ ﷺ څخه دا نقل سوي نه دي نو ارشاد نبوي څخه دا حاصل سو چي هر کله يو رمال په علم پوهيدونکی او د هغه نبي په خط کي موافق نسي کيدای نو علم رمل اختيارول هم صحيح نه دی همداسي دوې نوري سلسلې دي چي د هغه مدار پر حساب دی چي په اصطلاح کي عمل تکسير او عمل تخريج سره نومول کيږي د هغه په باره کي هم د محققين علماؤ او مشائخو دا فيصله ده چي دا اعمال هم شرعا جائز نه دي او ددې هم هغه حکم دی کوم چي پورته ذکر سوی دی د آخر عبارت مطلب دادی چي لفظ د کذا د صحت نښه ده يعني که دا ضرورت محسوس وي چي په عبارت کي پر داسي لفظو باندي چي د هغه په باره کي د عدم صحت گمان سوی وي نو يو داسي نښه دي ورکول سي چي د هغه په ذريعه د هغه لفظ صحيح کيدل ثابت سي نو پر داسي موقع باندي په هغه لفظ کذا ليکي د هغه مطلب به دا وي چي دا الفاظ داسي صحيح دي ددې حديث لفظ

لكني اصول كي دى خو مصابيح كي نسته په دي صورت كي دا ممكن وو چي ددې لفظ د عدم صحت گمان كيداى ځكه چي صاحب جامع الاصول په دې لفظ كذا ليكلو سره ددې خبري صحيح تصحيح كړې ده چي دا لفظ په اصول كي داسي دى او دا صحيح دى .

په لمانځه كي د سلام جواب منعه دى

﴿۹۱۶﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ كُنَّا نُسَلِّمُ عَلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دى چي موږ به رسول الله ﷺ ته سلام ادا كوى

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ فَيَرُدُّ عَلَيْنَا فَلَمَّا رَجَعْنَا مِنْ عِنْدِ النَّجَاشِيِّ

د لمانځه كولو په حالت كي او رسول الله ﷺ به جواب راكوى بيا چي كله موږ د نجاشي څخه راستانه سو

سَلَّمْنَا عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْنَا فَقُلْنَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ كُنَّا نُسَلِّمُ عَلَيْكَ فِي الصَّلَاةِ

نو موږ سلام ادا كړ رسول الله ﷺ ته خو زموږ د سلام جواب يې را نه كړ ، موږ عرض وكړ اې دالله رسوله ! موږ به تاسو ته لمانځه په حالت كي سلام ادا كوى

فَتَرُدُّ عَلَيْنَا فَقَالَ إِنَّ فِي الصَّلَاةِ شُغْلاً . متفق عليه

او تاسو به جواب راكوى ، رسول الله ﷺ وفرمايل په لمانځه كي بوختيا ده يعني ذكر الهي يا د قرآن كريم قرائت په داسي حالت كي انساني خبري كول منعه ده . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷۲/۳، رقم: ۱۱۹۹ ومسلم ۱/ ۳۸۲، رقم: ۳۴- ۵۳۸.

تشريح: د رسول الله ﷺ د پيغمبرۍ په وخت كي د حبشه هيواد پاچا عيسائي وو د هغه لقب نجاشي وو هغه عالم هم وو كله چي د تورات او انجيل په ذريعه هغه ته د رسول الله ﷺ نبي برحق كيدل معلوم سول نو هغه د رسول الله ﷺ پر رسالت ايمان راوړلو سره د الله تعالى په عبادت كونكو بندګانو كي شامل سو د هجرت په نهم كال هغه وفات سو نو رسول الله ﷺ ډير افسوس وكړ د نجاشي د رسول الله ﷺ سره ډير عقيدت وو كوم وخت چي مسلمانانو د مكې د كفارو دلاسه په سختو تكليفو كي مبتلا سوه او د هغوى د سرونو خطره سوه نو اكثر صحابه كرامو د رسول الله ﷺ په ارشاد د نجاشي پاچا د حبشې په خوا هجرت وكړ هغه په خپل هيواد كي د صحابه كرامو ډير زيات خدمت وكړ او د هغوى سره په ډير زيات حسن سلوك سره راغلل،

وروسته چي صحابه كرامو ته علم وسو چي رسول الله ﷺ د مكې معظمې څخه په هجرت كولو سره مدينې منورې ته تشريف وړی دی نو هغوی هم مدينې منورې ته راغلل.

د دغه وخت واقعه ابن مسعود رضي الله عنه بيانوي چي د حبشې څخه راستنېدونكې قافلې كې زه هم شريک وم كوم وخت چي موږ خلک مدينې شريفې ته په رسيدو سره په دربار نبوت كې حاضر سو نو رسول الله ﷺ هغه وخت لمونځ كوی موږ د معمول مطابق رسول الله ﷺ ته سلام وكړ مګر رسول الله ﷺ زموږ د سلام جواب نه راكړ بيا د لمانځه څخه د فارغه كيدو وروسته رسول الله ﷺ زموږ څخه پوښتنه وكړل چي لمونځ خپله يو ډير لوي شغل دی يعني په لمانځه كي قرآن كريم او تسبيحات او دعا مناجات ويلو شغل د دومره ارزښت او عظمت حامل دی چي په داسي صورت كي د بل سړي سره د سلام كولو څه ګنجائش نسته ښكاره ده چي عاشق او معشوق چي يو ځای سي نو بيا د دريم كس ګنجائش نسته يا دا چي د لمونځ كونكي فرض دی چي هغه په لمانځه كي پوره انهماک مصروفيت سره مشغول وي تر څو چي په لمانځه كي وي وايي هغه فكر كوي او د لمانځه څخه ماسوا بل خوا ته خيال متوجه نه كړي د دې څخه معلومه سوه چي په لمانځه كي د سلام جواب وركول يا د چا سره خبري كول حرام دي ځكه چي په دې سره لمونځ فاسد كيږي.

د سر يا لاس په اشاره سره د سلام جواب وركول لمونځ نه فاسدوي

په شرح منيه كي ليكلي دي كه يو لمونځ كونكي د يو چا د سلام جواب د لاس يا سر په اشاره سره وركړي يا همداسي يو څوک د لمونځ كونكي څخه يو شی وغواړي او هغه د لاس يا سر په اشاره سره د هو يا نه اشاره وكړي نو د هغه لمونځ نه فاسديږي البته مكروه كيږي.

په لمانځه كي د ځمكي سمولو مسئله

﴿۹۱۷﴾: وَعَنْ مُعَيْقِيبٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الرَّجُلِ يُسَوِّي التُّرَابَ حَيْثُ يَسْجُدُ قَالَ إِنْ كُنْتَ فَاعِلاً فَوَاحِدَةً. متفق عليه

حضرت معيقيب رضي الله عنه د نبي كريم ﷺ څخه د هغه سړي په اړه چي په سجده كي به يې خاوره ځان څخه پاكول روايت كوي چي نبي كريم ﷺ وفرمايل كه داسي كول ضروري وي نو يوازي يو ځل (يې كوه) بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\۷۹، رقم: ۱۲۰۷، ومسلم: ۱\۳۸۷، رقم: ۴۷-۵۴۶.

تشريح : په شرح منيه کي ليکلي دي چي د لمانځه په حالت کي د سجدې د ځای څخه ډبري وغيره ليري کول يا مځکه برابرول مکروه دی هو که صورت داسي وي چي د سجدې ځاي د ډبرو ماسوا د کښېنته پورته په وجه پر مځکه پرته د برابرولو څخه پر هغه ځای سجده کول ممکن نه وي نو د هغه ځای څخه دي ډبري ليري کړل سي او مځکه دي پاکه کړل سي هغه هم يووار يا دوه واره نه تر دې زيات .

په لمانځه کي پر تشو لاسونه ايښودل منعه دي

﴿۹۱۸﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْخَصْرِ فِي الصَّلاَةِ . متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ په لمانځه کي پر تشي د لاس ايښودلو څخه منعه فرمايلې ده . بخاري اومسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\۸۸، رقم: ۱۲۲۰ ومسلم: ۱\۳۸۷، رقم: ۴۶- ۵۴۵.

د لغاتو حل: (الخَصرِ): هو وضع اليدين على الخاصرة: (پر تشي لاس ايښودل).

تشريح : په دغه روايت کي لفظ د خصر دی، په ځينو روايتونو کي نهی عن الاختصار او ان يصلي مختصرا الفاظ هم نقل دي

د خصر تعريف

خصر په لغت کي ملا او تشي ته وايي ، د علماؤ په نزد د خصر او اختصار تعريف پر ملا يا تشي باندي لاس ايښودل دي، د حديث خلاصه داده چي په لمانځه کي دي هيڅوک پر خپل تشي يعني بغل باندي په لاس ايښودو سره نه دريږي .

په لمانځه کي خصر ولي ممنوع دی ؟

سوال دا پيدا کيږي چي په لمانځه کي پر تشي باندي دلاس ايښودو څخه ولي منعه فرمايل سوې ده؟ جواب دادی چي ددې مختلف وجوهات دي اول خو دادی چي پر ملا باندي لاس ايښودو سره دريدل په ټولنيز حيثيت سره يو ښه خبره نسي کيداي، پوهيدونکي پوهيږي چي اکثر پر ملا لاس د ايښيدو سره دريدل يا تلل د دنيا د هغه بد نصيبو طريقه ده چي هغوی ته د دنيا او ټولني په هره طبقه کي په ذلت او حقارت کتل کيږي يعني نرښځيان .

ددې ماسوا په يوه بل حديث کي په وضاحت سره ددې توجيه دا فرمايل سوې ده چي

اختصار د اهل نار د ارام د حالت یوه ذریعه ده د هغه تشریح داسي کیږي چي د قیامت په ورځ د حشر په میدان کي هر کله چي ټول خلک د حساب او کتاب په انتظار کي ولاړ وي نو هغه وخت به د مشقت د کثرت او تماشي په وجه هغه خلک چي د هغوی په برخه کي د دوږخ اور دی پر خپلو تشو به یې لاسونه ایښي وي چي همداسي د څه وخت لپاره ارام ورته محسوس سي ځرنګه چي په عام طور سره موږ وینو هر کله چي یو سړی تر ډیر وخت پوري ولاړ سټړی سي نو پر یوه پښه باندي د پوره بدن بوج اچولو سره او پر تشي باندي لاس ایښودو سره دریږي یا دا چي په حدیث کي د لهل نار څخه مراد یهودیان دي چي د هغوی عادت داسي دی چي داسي دریږي . دریمه وجه د یو روایت په رڼا کي داده چي کوم وخت شیطان تر تلی مځکي ته راکښته سي او هغه لعنتي وګرځول سي نو هغه وخت هغه پر خپل تښو باندي لاسونه ایښي ولاړ وي

دا ټوله وجوهات په فکر کي ساتلو سره پر تشي د لاس ایښودو سره دریدل د اهل نار او شیطان ملعون صفت دی ځکه د هغوی مشابهت څخه د ځان ساتني لپاره مسلمان دي ددې خبري څخه منعه سي چي هغوی دي پر تشي د لاس ایښودو سره نه دریږي، نهي عن الخصر صحیح مطلب او صحیح تشریح چي صحابه کرامو او علماء سلف څخه نقل دي پورتني ذکر سوي ده مګر ځینو حضراتو ددې حدیث تشریح دا هم کړي ده چي خصر د مخصره په معنی کي دی، مطلب یې دا دی چي په لمانځه کي د لکړي په زور دریدل نه دي پکار ددې، ددې څخه پرته نوري شرحي هم سوي دي مګر ځرنګه چي پورته ښودل سوي دي صحیح تشریح او وضاحت هم هغه دی کوم چي پورته ذکر سو . اشعة اللمعات .

په لمانځه کي شاوخوا کتل ځرنګه دي؟

﴿۹۱۹﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَأَلْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْاِلْتِفَاتِ

د حضرت عائشي ﷺ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي په لمانځه کي آخوا دېخوا کتل څنګه دي ؟

فِي الصَّلاَةِ فَقَالَ هُوَ اخْتِلاَسٌ يَخْتَلِسُهُ الشَّيْطَانُ مِنْ صَلاَةِ الْعَبْدِ . متفق علیه

رسول الله ﷺ وفرمایل دا په غافله کولو تښتول دي شیطان د انسان په غافله کولو د هغه لمونځ تښتوي . بخاري او مسلم.

تخریج : صحیح البخاري (فتح الباري): ۲\۲۳۴، رقم: ۷۵۱، ولم نجده عند مسلم.

تشريح : مطلب دادى هر كله چي يو سړى په لمانځه كي په پوره توجه او ادب سره نه دريږي بلكه آخوا دېخوا گوري نو شيطان مردود د داسي لمونځ كونكي د لمانځه كمال تښتوي يعني د داسي لمانځه كمال نه پاته كيږي، دلته د آخوا او دېخوا كتلو څخه مراد دادى چي په لمانځه كي يو سړى څټ واړوي يوې او بلې خوا ته داسي وگوري چي مخ د قبلې څخه واوړي، دا مسئله داده چي ددغه سړي لمونځ مكروه كيږي او كه يو سړى په لمانځه كي آخوا دېخوا داسي وگوري چي د مخ سره سره سينه هم د قبلې د خوا څخه بالكل وگرځوي نو د هغه لمونځ فاسد كيږي د ستركو په كونجانو سره آخوا دېخوا كتلو سره نه خو لمونځ فاسد كيږي او نه مكروه كيږي، البته دا هم خلاف اولى دى .

آسمان ته مه گورئ

﴿۹۲۰﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيَنْتَهِيَنَّ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل خلك دي منعه سي

أَقْوَامٌ عَنْ رَفْعِهِمْ أَبْصَارَهُمْ عِنْدَ الدُّعَاءِ فِي الصَّلَاةِ إِلَى السَّمَاءِ أَوْ لَتُخْطَفَنَّ أَبْصَارُهُمْ . رواه مسلم

په لمانځه كي د دعاء پر وخت د آسمان لوري ته د كتلو څخه منعه سي . مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۳۲۱، رقم: ۱۱۸- ۴۲۹.

تشريح : د خلكو متنبه كولو لپاره رسول الله ﷺ دا د زجر په ډول فرمايلي دي چي خلكو ته پكار ده چي په لمانځه كي د دعا غوښتلو په وخت كي خپل نظر د اسمان خواته نه كوي كنه د هغوى نظر به ختم سي .

په دې اړه مسئله داده چي په لمانځه كي مطلقا او په خاصه توگه د دعا په وخت كي د آسمان خواته نظر پورته كول مكروه دي په دې سره ددې خبري وهم پيدا كيږي نعوذ بالله چي الله تعالى لپاره په اسمان كي ځاى مقرر دى چي هغه يوازي په آسمان كي موجود دى حالانكه هغه د مكانيت څخه پاک دى هغه هر ځاى موجود دى .

د لمانځه څخه پرته پر نورو موقعو باندي د اسمان خواته د نظر پورته كولو په باره كي اختلاف دى ځيني علماء وايي چي دا هم مكروه دى او د ځينو حضراتو رايه داده چي جائز دى

خو صحیح خبره داده چي د لمانځه پرته په نورو موقعو کي هم د دعا په وخت نظر پورته کول نه دي پکار په یوه روایت کي نقل سوي دي چي رسول الله ﷺ به خپل نظر مبارک د اسمان خواته پورته کوی کله چي دا آیت نازل سو (والذین هم في صلوتهم خاشعون) نو رسول الله ﷺ به خپل نظر مبارک کښته ساتی.

کوچنی پر اوږه کښېنول اولمونځ کول

﴿۹۲۱﴾: وَعَنْ اَبِيْ قَتَادَةَ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَؤُمُّ النَّاسَ

د ابوقتاده رضي الله عنه څخه روایت دی چي ما رسول الله ﷺ ولیدی چي خلکو ته یې لمونځ ورکوی

وَأُمَامَةُ بِنْتُ أَبِي الْعَاصِ عَلَى عَاتِقِهِ فَإِذَا رَكَعَ وَضَعَهَا وَإِذَا رَفَعَ مِنَ السُّجُودِ أَعَادَهَا. متفق علیه

او د ابو العاص لور امامه د رسول الله ﷺ پر اوږه وه کوم وخت چي به رسول الله ﷺ رکوع کول نو امامه به یې کښته کړل او چي د سجدې څخه به پورته کیدی نو پر خپلو اوږو به یې کښېنول. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري) ۱\۵۹۰، رقم: ۵۱۶ و مسلم ۱\۳۸۶، رقم: ۴۲ – ۵۴۳.

تشریح: ابوالعاص رضي الله عنه د رسول الله ﷺ زوم وو د هغه واده د رسول الله ﷺ د لور بي بي زینب رضي الله عنها سره سوی وو د هغې د لور نوم امامه وه.

یو اشکال او د هغه جواب

دلته دا اشکال پیدا کیږي چي په لمانځه کي د رسول الله ﷺ امامه پورته کول او کښته کول او بیا په لوړولو سره کښېنستل فعل کثیر سو، فعل کثیر هغه دی چي یو کار په وار وار وکړل سي او خصوصا په دواړو لاسونو سره وکړل سي او که فعل کثیر هم نه وي نو فعل قلیل په کیدو کي څه شک نسته ځکه چي د لمانځه په حالت کي دا فعل مکروه خو ضرور وو مگر په پوهه کي نه راځي چي رسول الله ﷺ دا سي ولي وکړل.

خطابي رحمة الله علیه ددې جواب دا ورکړی دی چي د رسول الله ﷺ امامه پورته کول او کښېنول په قصد سره نه وو بلکه امامه رسول الله ﷺ سره ډیره زیاته بلده وه او رسول الله ﷺ د هغه سره ډیره زیاته مینه وه ځکه هغه به د لمانځه په حالت کي هم راغله رسول الله صلي الله علیه

وسلم پوري په وموښتل او د رسول الله ﷺ پر اوږه مبارکه د ختو سره کښينستل بيا چي رکوع په وخت د اوږې څخه په وغورځېدل ګويا همداسي به د رسول الله صلي الله عليه وسلم هغه غورځول د رسول الله ﷺ فعل نه سو بلکه ددې فعل نسبت رسول الله ﷺ نه مجازا سوی دی ددې توجيه پيش نظر دا هم نه سي ويل کيداي چي دا فعل کثير وو ځکه چي فعل کثير خو هغه فعل ته وايي چي پرله پسې وکړل سي او دلته پرله پسې نسي ترلاسه کيدای.

يوه توجيه داهم کيدای سي چي د رسول الله ﷺ دا عمل د هغهٔ وخت دی هر کله چي په لمانځه کي عمل کثير حرام سوی نه وو يا دا هم کيدای سي چي دا فعل يوازي د رسول الله ﷺ سره مخصوص وو.

په لمانځه کي د اررمۍ پر وخت خوله بندول

﴿۹۲۲﴾: وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا

د حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي

تَثَاءَبَ أَحَدُكُمْ فِي الصَّلَاةِ فَلْيَكْظِمْ مَا اسْتَطَاعَ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَدْخُلُ. رواه

په تاسو کي يو چا ته د لمانځه په وخت کي اررمۍ راسي نو تر خپله وسه دي هغه بنده کړي ځکه چي د اررمۍ پر وخت شيطان په خوله کي ننوزي. مسلم،

مسلم. وفي رواية البخاري عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ إِذَا تَثَاءَبَ أَحَدُكُمْ فِي الصَّلَاةِ

د بخاري په يوه روايت کي دا الفاظ دي هر کله چي چا ته په لمانځه کي اررمۍ راسي

فَلْيَكْظِمْ مَا اسْتَطَاعَ وَلَا يَقُلْ هَا فَإِنَّمَا ذٰلِكُمْ مِنَ الشَّيْطَانِ يَضْحَكُ مِنْهُ.

نو تر څو پوري چي ممکن وي هغه دي بنده کړي او (ها) دي نه کوي ځکه چي دا د شيطان د لوري ده په دې پوري هغه خاندي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۴\۲۲۹۳، رقم: ۵۹ - ۲۹۹۵، صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۶۱۱، رقم: ۶۲۲۶

تشريح: د نس ډکولو، د حواس پر چټلتيا او د بدن پر درروند والي په وجه اررمۍ راځي او دا په عبادت کي د سستۍ باعث جوړيږي ځکه ددې نسبت يې شيطان ته کړی دی چي د اررمۍ کولو په وخت کي شيطان په خوله کي ننوځي يعني په داسي حالت کي د هغه لپاره د لمونځ کونکي د

دوكه كولو او د عبادت څخه د منعه كولو ډيره ښه موقع هغه ته په لاس ورځي، او د هغه د خندا څخه مراد دادی چي هغه په داسي حالت كي د لمونځ كونكي په ليدو سره (يعني اررمی كولو) ډير خوشحاله كيږي ځكه چي په دې سره په عبادت كي سستي پيدا كيږي چي د شيطان لعين عين منشا ده . نو فرمايل سوي دي چي كله يو چا ته په لمانځه كي اررمی راسي نو هغه ته پكار ده چي حتى الامكان هغه بنده كړي او په داسي صورت كي د خولې بندولو طريقه دا پكار ده چي شونډان يو ځاى كړل سي او لاندي شونډه په غاښونو سره ونيول سي يا كله چي اررمی راسي نو د چپه لاس شا دي پر خوله كښيږدي .

ځيني حضرات فرمايي چي د اررمی بندولو تر ټولو غوره طريقه داده چي كله اررمی راسي نو سمدستي په زړه كي دا خيال كول پكار دی چي رسول الله ﷺ ته هيڅكله اررمی نه ده راغلې، محض په دې خيال سره به اررمی بنده سي دا طريقه مجربه ده .

د رسول الله ﷺ د پيريانو سره يوه پېښه

﴿۹۲۳﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

عِفْرِيتًا مِنَ الْجِنِّ تَفَلَّتَ الْبَارِحَةَ لِيَقْطَعَ عَلَيَّ صَلَاتِي فَأَمْكَنَنِي اللّٰهُ مِنْهُ

په پيريانو كي يو يو (غټ پيری) نن شپه ناڅاپه راغلی چي زما لمونځ خراب كړي مگر الله جل جلاله ما ته پر هغه قدرت راكړی

فَأَخَذْتُهُ فَأَرَدْتُ أَنْ أَرْبِطَهُ عَلَى سَارِيَةٍ مِنْ سَوَارِي الْمَسْجِدِ حَتَّى تَنْظُرُوا إِلَيْهِ

ما هغه ونيوی او اراده مي وكړه چي د مسجد په يوې ستني پوري يې وتړم چي تاسو ټول خلك يې ووينئ

كُلُّكُمْ فَذَكَرْتُ دَعْوَةَ أَخِي سُلَيْمَانَ رَبِّ هَبْ لِي مُلْكًا لَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ مِنْ بَعْدِي فَرَدَدْتُهُ خَاسِئًا . متفق عليه

سمدستي ما ته د خپل ورور سليمان عليه السلام دا دعاء را په ياد سول چي : (اې زما ربه ! ما ته داسي پاچاهي راكړه چي زما څخه وروسته هيچا ته مناسبه نه وي) نو ما هغه خوار كړه سوی

و شړی. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱\ ۵۵۴. رقم: ۴۶۱، و مسلم ۱\ ۳۸۴، رقم: ۳۹- ۵۴۱.

تشريح: مطلب دادی چي حضرت سليمان عليه السلام كوم پيريان په جزيرو كي بندي كړي وه په هغوی كي يو سركښ پيری جوړيدو سره رسول الله ﷺ ته راغلی چي د رسول الله ﷺ په لمانځه كي خلل واچوي يعني د وسوسو پيدا كولو سره د هغه دلمانځه كمال ختم كړي مگر الله ﷻ رسول الله ﷺ پر هغه برلاسی كړ او رسول الله ﷺ هغه ونيوی.

د حضرت سليمان ﷺ په دعاء كي د پاچاهۍ څخه مراد د جنات او شيطانانو مسخر كول او پر هغوی تصرف حاصلول وه، حضرت سليمان ﷺ د الله تعالی څخه دا دعاء د ځان لپاره غوښتې وه او دا مرتبه يې يوازي د ځان لپاره غوښتې وه ځكه رسول الله ﷺ دا ونه غوښتل چي هغه شيطان د مسجد نبوي د ستني تړلو سره داسي طريقه اختيار كړي ي په هغه سره د سليمان ﷺ پر دغه ځانگړتيا باندي اثر ولويږي او د خپل تصرف اظهار وسي كنه رسول الله ﷺ ته خپله هم دا ځانگړتيا او مرتبه، او پر شيطانانو او جناتو باندي د تصرف قدرت د حضرت سليمان ﷺ څخه زيات وو. د دې حديث څخه معلوميږي چي د شيطان مس كول لمونځ نه ماتوي.

په لمانځه كي په يو خاص شي سره اشاره كېداى سي

﴿۹۲۴﴾: وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ

د حضرت سهل بن سعد ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا ته چي

نَابَهُ شَيْءٌ فِي صَلاَتِهِ فَلْيُسَبِّحْ فَإِنَّمَا التَّصْفِيْقُ لِلنِّسَاءِ .وفي رواية قال التسبيح للرجال والتصفيق للنساء.

په لمانځه كي يو خبره پېښه سي (يعني څوک رابولي يا يو شی غواړي) نو هغه دي (سبحان الله) ووايي او لاسونه ټكول (چكچكي كول) د ښځو لپاره خاص دي، او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل سبحان الله ويل د نارينوو لپاره دي او لاسونه ټكول د ښځو لپاره دي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\ ۱۶۷، رقم: ۶۸۴، ومسلم ۱\ ۳۱۸، رقم: ۱۰۶- ۴۲۲.

تشريح: مطلب دادی چي د لمانځه په حالت كي كه يو خاص واقعه پېښه سي، مثلا يو چا په كور كي لمونځ كوئ او دباندي په دروازه كي يو چا آواز وكړ يا كور ته د راتللو اجازه يې

وغوښتل او هغه ته معلومه نه وه چي د كور خاوند لمونځ كوي او په كور كي يو بل داسي سړى هم موجود نه وي چي د هغه د آواز جواب وركړي نو په داسي صورت كي لمونځ كونكي ته پكار ده چي هغه په لوړ آواز سره سبحان الله ويلو سره په لمانځه كي د بوختيا اشاره وكړي.

همداسي كه يوه ښځه لمونځ كوي نو په پورتني صورت كي د هغې لپاره دا حكم دى چي هغه سبحان الله نه وايي بلكه لاس دي ټكوي او د باندي آواز كونكى دي پوه سي چي په كور كي يوازي ښځه موجود ده او هغه هم لمونځ كوي، د ښځي د سبحان الله ويلو څخه ځكه منعه سوې ده چي څرنګه هغه خپله د غير خلكو مخته نسي راتلاى همداسي هغه خپل آواز هم غير خلكو ته نسي اوروﻻى. او پر داسي موقع باندي د ښځو لپاره د لاس وهلو هم يوه طريقه ده هغه دا چي د راسته لاس ورغوى د چپه لاس په شا سره ووهي، د يوه لاس ورغوى دي د بل لاس په ورغوي سره نه وهي، لكه څرنګه چي سندري ويونكي ښځي لاسونه وهي ځكه په داسي لاسونو وهلو سره لمونځ فاسد يږي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

په لمانځه كي د سلام جواب وركول نه دى پكار

﴿۹۲۵﴾: عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ كُنَّا نُسَلِّمُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبد الله بن مسعود ﷺ څخه روايت دى چي موږ به نبي كريم ﷺ ته سلام ادا كوى

وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ قَبْلَ أَنْ نَأْتِيَ أَرْضَ الْحَبَشَةِ فَيَرُدُّ عَلَيْنَا فَلَمَّا رَجَعْنَا مِنْ أَرْضِ

او رسول الله ﷺ به په لمانځه كي وو او د سلام جواب به يې راكوى، او دا پېښه و حبشې ته د ستنېدو څخه وړاندي وه، بيا چي موږ راستانه سوو

الْحَبَشَةِ أَتَيْتُهُ فَوَجَدْتُهُ يُصَلِّي فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ حَتَّى إِذَا قَضَى

د حبشې څخه نو د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سو او دا وخت هغه مبارك لمونځ كوى ما سلام ادا كړ مګر رسول الله ﷺ زما د سلام جواب رانه كړ، كله چي فارغ سو

صَلَاتَهُ قَالَ إِنَّ اللهَ يُحْدِثُ مِنْ أَمْرِهِ مَا يَشَاءُ وَإِنَّ مِمَّا أَحْدَثَ أَنْ لَا تَتَكَلَّمُوْا

د لمانځه څخه نو وه يې فرمايل: الله ﷻ چي خپل كوم حكم غواړي هغه څرګندوي او اوس

الله ﷻ دا حکم ځرګند کړی دی چي خبري مه کوئ

فِي الصَّلَاةِ فَرَدَّ عَلَيَّ السَّلَامَ وَقَالَ إِنَّمَا الصَّلَاةُ لِقِرَاءَةِ الْقُرْآنِ وَذِكْرِ اللهِ فَإِذَا كُنْتَ فِيهَا فَلْيَكُنْ ذٰلِكَ شَأْنُكَ. رواه أبو داود.

په لمانځه کي، بیا رسول الله ﷺ زما د سلام جواب راکړ او وه یې فرمایل: لمونځ د قرآن ویلو او د الله د ذکر کولو لپاره دی هر کله چي ته د لمانځه په حالت کي یې نو تا ته یوازي دغه کول پکار دي. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داوٗد ۱\۵۶۷، ۵۶۸، رقم: ۹۲۴.

تشریح: ابن مالک رحمة الله علیه فرمایي دا حدیث دد دې خبري دلیل دی چي د لمانځه څخه د فراغت وروسته جواب ورکول مستحب دی همداسي که یو څوک استنجاء کوي، یا قرآن کریم وایي او بل سړی په دې حالت کي هغه ته سلام وکړي نو د هغه لپاره دا مستحب ده چي دد غه کارونو څخه د فارغه کېدو وروسته د سلام جواب ورکړي.

په لمانځه کي په اشاره سره د سلام د جواب ورکولو مسئله

﴿۹۲۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قُلْتُ لِبِلَالٍ كَيْفَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابن عمر ﷛ څخه روایت دی چي ما بلال ﷛ ته وویل چي رسول الله ﷺ به د لمانځه په حالت کي کله چي به موږ ورته سلام وکړ

وَسَلَّمَ يَرُدُّ عَلَيْهِمْ حِينَ كَانُوا يُسَلِّمُونَ عَلَيْهِ وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ قَالَ كَانَ يُشِيرُ بِيَدِهِ، رواه الترمذي و في رواية للنسائي نحوه و عوض بلال صهيب.

څنګه جواب راکوی؟ حضرت بلال ﷛ وویل: رسول الله ﷺ به په خپل لاس سره اشاره کول، ترمذي او صاحب نسائي دا روایت صهیب ته منسوب کړی دی. ترمذي او نسائي

تخريج: سنن الترمذي ۳\۲۰۴، رقم: ۳۶۸.

تشریح: کله چي به رسول الله ﷺ د لمانځه په حالت کي وو او یو چا به ورته سلام وکړ نو رسول الله ﷺ به د لاس په اشارې سره جواب ورکوی، او د اشارې کولو طریقه دا وه چي د لاس پنجه خلاصولو سره د لاس ورغوی به یې د مخکي خوا ته اړوی، لکه څرنګه چي په ابوداؤد وغیره کي دد دې وضاحت هم سوی دی او کله به یې یوازي د ګوتو په اشاره کولو باندي اکتفاء کول.

په لمانځه کي د سلام جواب د لاس يا سر په اشاره سره ورکول مکروه دي

په فتاوی ظهيريه کي مذکور دي که يو سړی د لمانځه په حالت کي د يو چا د سلام په جواب کي په لاس يا سر سره اشاره وکړي نو د هغه لمونځ نه فاسد کيږي.

په خلاصه کي يې ليکلي دي که يو سړی د لاس يا سر په شارې سره جواب ورکړي نو د هغه لمونځ نه فاسد کيږي.

صحيح او مفتی به قول چي په شرح منيه او شامي وغيره کي مذکور دی هغه دادی چي لمونځ کونکي ته د چا د سلام جواب په لاس يا سر اشارې سره ورکول مکروه تنزيهي دي، اوس به دديې حديث توجيه دا کيږي چي رسول الله ﷺ د لمانځه په حالت کي د سلام جواب د لاس مبارک په اشارې سره هغه وخت ورکوی چي په لمانځه کي خبري کول منعه سوې نه وې مگر کله چي په لمانځه کي هر ډول خبري کول منعه سوې نو د سلام جواب هم په ژبه او اشاره سره ورکول منسوخ سول ځکه چي اشاره کول هم يو ډول د خبرو په معنی کي دي.

په لمانځه کي د نږړی وروسته حمد ويل

﴿۹۲۷﴾: وَعَنْ رِفَاعَةَ ابْنِ رَافِعٍ قَالَ صَلَّيْتُ خَلْفَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت رفاعة بن رافع رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما په رسول الله ﷺ پسي لمونځ کوی

وَسَلَّمَ فَعَطَسْتُ فَقُلْتُ الْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ مُبَارَكًا عَلَيْهِ

په لمانځه کي ما ته نږړی راغلی نو ما د لمانځه په حالت کي (الْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ مُبَارَكًا عَلَيْهِ

كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَيَرْضَى فَلَمَّا صَلَّى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْصَرَفَ

كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَيَرْضَى) وويل، کله چي رسول الله ﷺ د لمانځه څخه فارغ سو نو موږ ته متوجه سو

فَقَالَ مَنِ الْمُتَكَلِّمُ فِي الصَّلَاةِ فَلَمْ يَتَكَلَّمْ أَحَدٌ ثُمَّ قَالَهَا الثَّانِيَةَ مَنِ

او وه يې فرمايل: په لمانځه کي چا دا کلمات وويل؟ هيچا جواب نه ورکړ تو ل پټه خوله سول، رسول الله ﷺ بيا پوښتنه وکړل،

الْمُتَكَلِّمُ فِي الصَّلَاةِ فَلَمْ يَتَكَلَّمْ أَحَدٌ ثُمَّ قَالَهَا الثَّالِثَةَ مَنِ الْمُتَكَلِّمُ فِي الصَّلَاةِ

ټول پټه خوله سول، رسول الله ﷺ په دريم ځل پوښتنه وکړه چي په لمانځه کي چا خبري وکړې؟

فَقَالَ رِفَاعَةُ أَنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي

نو رفاعه رضي الله عنه وويل: زه وم، اې دالله رسوله! رسول الله ﷺ وفرمايل: قسم دی په هغه ذات وي

نَفْسِي بِيَدِهِ لَقَدْ ابْتَدَرَهَا بِضْعَةٌ وَثَلَاثُونَ مَلَكًا أَيُّهُمْ يَصْعَدُ بِهَا. رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي.

چي د هغه په لاس کي زما ساه ده د ديرشو څخه زياتو ملائکو د دې کلماتو د وړلو لپاره تلوار کوی چي څوک يې وړاندي يوسي. ترمذي،، ابوداؤد او نسائي.

تخريج: سنن ابي داؤد: ۱\ ۴۸۹، رقم: ۷۷۳ والترمذي ۲\ ۲۵۴، ۲۵۵، رقم: ۴۰۴ والنسائي: ۲\ ۱۴۵، رقم: ۹۳۰.

تشريح: ابن مالک رحمة الله عليه فرمايي چي دا حديث پر دې خبره دلالت کوي چي په لمانځه کي ترچي کونکي ته حمد (الحمدلله) ويل جائز دي مګر غوره داده چي حمد په زړه کي ووايي يا د غوره والي د خلاف کولو څخه د ساتني په خاطر د ترچي څخه وروسته پټه خوله سي لکه څرنګه چي په شرح مينه کي مذکور دي.

ارږمی کول د شيطان اثر دی

﴿۹۲۸﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ التَّثَاؤُبُ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ارږمی کول

فِي الصَّلَاةِ مِنَ الشَّيْطَانِ فَإِذَا تَثَاءَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَكْظِمْ مَا اسْتَطَاعَ. رواه الترمذي و في اخرى له ولابن ماجة فليضع يده على فيه.

په لمانځه کي د شيطان د لوري وي هر کله چي په تاسو کي چا ته په لمانځه کي ارږمی راسي نو څومره چي ممکن وي هغه دي بنده کړي (ترمذي) او ترمذي په بل ځای کي او د ابن ماجه په يوه روايت کي دا الفاظ هم دي چي هغه دي پر خپل خوله لاس کښيږدي.

تخريج: سنن الترمذي ۲\ ۳۰۶، رقم: ۲۷۰.

تشريح : مخکي هم بنودل سوي دي چي اررمې راتلل د شيطان د اثر په وجه وي ځکه چي اررمې په عبادت کي سستي او د خوب او غفلت باعث جوړيږي او شيطان په دغه شيانو سره خوشحاله کيږي ځکه نو اررمې د شيطان خوا ته منسوب سوې ده.

لمانځه ته د ورتګ په لار کي ګوتي په ګوتو کي اچول منعه دي

﴿۹۲۹﴾: وَعَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا

د حضرت کعب بن عجرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي

تَوَضَّأَ أَحَدُكُمْ فَأَحْسَنَ وُضُوءَهُ ثُمَّ خَرَجَ عَامِدًا إِلَى الْمَسْجِدِ فَلَا يُشَبِّكَنَّ

په تاسو کي يو څوک اودس وکړي او په ښه ډول اودس وکړي بيا د لمانځه په اراده د مسجد په لور روان سي نو يو په بله دي ګوتي نه سره ننباسي

بَيْنَ أَصَابِعِهِ فَإِنَّهُ فِي صَلَاةٍ. رواه احمد والترمذي و ابوداؤد والنسائي والدارمي

ځکه چي دی په لمانځه کي دی .. احمد ،ترمذي، ابوداؤد ،نسائي،دارمي.

تخريج: الامام احمد في مسنده ۴\۲۴۱، وابوداؤد ۱\۳۸۰، رقم: ۵۶۲ والترمذي ۲\۲۲۸، رقم: ۳۸۶ لم نجده عند النسائي، سنن الدارمي ۱\۳۸۱، رقم: ۱۴۰۴.

تشريح : د حديث د لومړني جز مطلب دادی هر کله چي يو سړی اودس کوي نو هغه ته پکار ده چي د اوداسه د ټولو شرطونو او اډبونو خيال وساتي او د زړه په حضور سره اودس کوي چي اودس په پوره کمال او حسن سره ادا سي ، علماء ليکي څومره توجه او د زړه حضور چي په اودس کي حاصل سي هغومره به په لمانځه کي خشوع او توجه پيدا کيږي.

تشبيک څه ته وايي ؟ د حديث د دوهم جز مطلب دادی چي هر کله د اوداسه څخه وروسته د لمانځه په ارادې سره د مسجد په لور روان سي نو په لار کي دي د ګوتو په مينځ کي تشبيک نه کوي يعني د يوه لاس ګوتي دي د دوهم لاس په ګوتو کي اچولو سره لوبو کولو سره دي نه ځي ځکه چي هغه د لمانځه په نيت سره د کور څخه وتلی دی نو ګويا هغه په لمانځه کي دی او د خشوع او خضوع خلاف کېدو په وجه تشبيک په لمانځه کي منعه دی ځکه لمانځه ته د تلو په لار کي هم ممنوع دی پر دې دا قياس کيدای سي چي کوم شی په لمانځه کي ممنوع دی نو هغه لمانځه ته د ورتګ پر محال هم ممنوع دی.

د دې حديث څخه په دې خبره خبرداري ورکول مقصد دی چې بنده ته پکار ده چې د لمانځه په لاره کې په حضور او خشوع او ادب سره ځي ، امام بخاري رحمة الله عليه په خپل کتاب صحيح بخاري کې يو باب په مسجد کې تشبيک پر موضوع باندې قائم کړی دی په هغه کې دوه حديثونه نقل کړي دي ددواړه حديثونه پر دې خبره دلالت کوي چې په مسجد کې د ګوتو په مينځ کې تشبيک جائز دی علماؤ ليکلي دي چې ددې حديث څخه دا ثابت سوي ممانعت تعلق د هغه صورت کې دی هر کله چې سړی د ګوتو په مينځ کې تشبيک محض د لوبو او تفريح په خاطر کوي او سړی يې د تمثيل په طريقه وکړي نو جائز دی ، يا د بخاري د روايت سوي احاديث توجيه دا هم کيدای سي چې ددې حديث تعلق د هغه وخت سره دی هر کله چې د ګوتو په مينځ کې د تشبيک د منعه حکم لا نه وو سوی . والله اعلم .

په لمانځه کې شاوخوا کتلو سره ثواب کميږي

﴿۹۳۰﴾: وَعَنْ أَبِيْ ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَزَالُ اللّٰهُ

د حضرت ابوذر ﷜ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله جلاله

عَزَّ وَجَلَّ مُقْبِلاً عَلَى الْعَبْدِ وَهُوَ فِيْ صَلَاتِهِ مَا لَمْ يَلْتَفِتْ فَإِذَا الْتَفَتَ انْصَرَفَ

عَنْهُ . رواه أحمد وأبو داود والنسائي والدارمي

متوجه وي د بنده په لور هر کله چې هغه په لمانځه کې آخوا دېخوا نه ګوري او څه وخت چې هغه آخوا دېخوا وګوري نو د الله تعالی د کرم نظر د هغه څخه ليري سي . احمد ، ابوداؤد ، نسائي او دارمي

تخريج: الامام احمد في مسنده ۵\ ۱۷۲، وابوداؤد ۱\ ۵۶۰، رقم: ۹۰۹ والنسائي ۳\ ۸، رقم: ۱۱۹۴ والدارمي ۱\ ۳۹۰، رقم: ۱۴۲۳.

تشريح : ابن مالک رحمة الله عليه فرمايلي دي چې د الله تعالی څخه د مخ ګرځولو مراد دادی هر کله چې لمونځ کونکی د لمانځه په حالت کې غاړه ګرځولو سره آخوا دېخوا ګوري نو د هغه په ثواب کې هم کمي کيږي .

امام ترمذي د حضرت انس ﷜ څخه يو صحيح روايت نقل کړی دی چې د هغه الفاظ دادی هر کله چې بنده په لمانځه کې ودريږي نو پروردګار د هغه طرف ته متوجه کيږي مګر کله چې بنده په لمانځه کې آخوا دېخوا ګوي او خپل نظر غير طرف ته متوجه کوي نو الله تعالی

فرمايي اې انسانه ! ته کومي خوا ته ګوري ستا لپاره زما څخه څه هم غوره سته چي هغه خوا ته چي ستا نظر متوجه کيږي، زما خوا ته خپل مخ وګرځوه ، بيا چي بنده دوهم وار آخوا ګوري نو څرنګه چي د هغه شيان سره لايق وي د هغه بنده د خوا څخه مخ اړوي .

په لمانځه کي د سجدې ځای ته کتل پکار دي

﴿۹۳۱﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا أَنَسُ اِجْعَلْ بَصَرَكَ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ ما ته وفرمايل : اې انس ! په لمانځه کي خپل نظر هلته لره

حَيْثُ تَسْجُدُ . رواه البيهقي في سننه الكبير من طريق الحسن عن أنس يرفعه

چيري چي سجده کوې ، بيهقي ، سنن کبير په طريقه حسن د انس څخه مرفوعا روايت کړی دی .

تخريج : البيهقي في السنن الكبرى ۲\۲۸۴،

تشريح : د دې حديث څخه په ظاهره خو دا معلوميږي چي په ټول لمانځه کي نظر د سجدې پر ځای ساتل پکار دي، د شافعيانو عمل پر دې دی ، مګر علامه طيبي رحمة الله عليه فرمايلي دي چي مستحب دادي چي د قيام په حالت کي نظر د سجدې پر ځای، په کورع کي د قدم پر ځای، په سجده کي د پزې خوا ته او د ناستي په حالت کي نظر پر زنګون ساتل پکار دي، دا مذهب د حنفيه هم په لږ اضافتو سره دی چي د سلام په وخت کي نظر پر اوږو باندي ساتل پکار دي ، د ځينو علماؤ دا قول هم دی چي په حرم شريف کي نظر پر کعبې ساتل پکار دي .

د دې حديث څخه دا خبره معلومه سوه چي په لمانځه کي سترګي بندول مکروه دي ، په اصل مشکوة کي د رواه څخه وروسته ځای خالي دی او بيا وروسته يو شارح د البيهقي څخه تر آخر پوري د عبارت اضافه کړې ده .

په لمانځه کي په شاوخوا کتلو باندي سزا

﴿۹۳۲﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا بُنَيَّ إِيَّاكَ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ ما ته وفرمايل : اې زويه ! ځان وساته

وَالْاِلْتِفَاتَ فِي الصَّلَاةِ فَإِنَّ الْاِلْتِفَاتَ فِي الصَّلَاةِ هَلَكَةٌ فَإِنْ كَانَ لَابُدَّ فَفِي

په لمانځه کي د آخوا دېخوا کتلو څخه ځکه په لمانځه کي شاوخوا کتل د هلاکت سبب دی که

کتل ضروري وي

التَّطَوُّعِ لاَ فِي الْفَرِيْضَةِ . رواه الترمذي .

نو په نفل لمانځه کي څه پروا نسته مګر په فرض لمانځه کي هيڅکله داسي مه کوه .ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۲\۴۸۴، رقم: ۵۸۹.

تشريح: په لمانځه غاړه آخوا دېخوا ګرځولو سره په آخرت کي د هلاکت سبب ځکه دی چي داسي کونکی په اصل کي د شيطان اطاعت کوي ځکه چي د شيطان هم مقصد دا وي چي بنده په لمانځه کي په پوره توجه سره نه وي بلکه د هغه نظر آخوا ديخوا خپروي .

د حديث ا لفاظ فان کان لا بد ، مطلب دادی که ستا احساس شعور، او سعادت د دې خبري څخه متاثر کيږي چي ستا په لمانځه کي نقصان راسي يا د لمانځه کمال ختم سي نو کم از کم په فرض لمانځه کي خو داسي مه کوه چي آخوا ديخوا کتلو سره د هغه لمونځ کمال ختم کړې هلته نفل لمونځ کي خو تر يوه حده پوري نرمي هم کيدای سي ځکه چي نفل لمونځ د فرض لمانځه په مقابله کي اسان دی چي د فرض لمانځه لپاره ډير زيات او د کامل اهتمام ضرورت وي او په دې کي لږتاوان هم په اخروي حيثيت سره د تباهۍ او هلاکت باعث جوړيدای سي او د عقلمندۍ او سعادت غوښتنه خو دا کيدل پکار ده چي آخوا ديخوا کتلو سره په نفل لمانځه کي هم څه تاوان پيدا کول نه دي پکار چي په حقيقت کي د نفل لمانځه نقصان د فرض لمانځه د نقصان باعث دی ځکه چي نوافل په حقيقت کي د فرائضو تکميل کونکي دي نو د حديث د دې جملې څخه دا مطلب اخيستل کيدای نسي چي په نفل لمانځه کي آخوا دېخوا کتل مکروه نه دي بلکه د دې خبري رغبت ورکول دي چي فرض لمونځ د خپل عظمت او اهميت په اعتبار دا خبره نسي برداشت کولای چي د دې ډول افعالو کولو سره په لمانځه کي دي نقصان پيدا سي .

په ظاهره خو دا معلوميږي چي دا حديث دا خبره واضح کوي چي په لمانځه کي آخوا دېخوا کتلو کراهيت د فرض لمانځه په نسبت په نفل لمانځه کي کم دی .

په لمانځه کي د سترګو په کونجانو سره کتل مکروه نه دي

﴿۹۳۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَلْحَظُ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د سترګو په کونجانو کتل

فِي الصَّلاَةِ يَمِيْنًا وَّشِمَالاً وَّلاَ يَلْوِيْ عُنُقَهُ خَلْفَ ظَهْرِهِ. رواه الترمذي والنسائي

په لمانځه کې يوې او بلې خوا ته مګر غاړه به يې د شا په لور نه ګرزول. ترمذي او نسائي.

تخريج: سنن الترمذي ۲\۴۸۲-۴۸۳، رقم: ۵۸۷ والنسائي ۳\۹-۱۰، رقم: ۱۲۰۰.

تشريح: رسول الله ﷺ په لمانځه کي راسته او چپه خوا ته د سترګو په ګونجانو سره ځکه کتل چي خلکو ته معلومه سي چي په لمانځه کي آخوا دېخوا کتلو سره لمونځ نه باطل کيږي، يا د وروسته ولاړو مقتديانو احوال کتلو لپاره به رسول الله ﷺ داسي کتل.

په هر حال د دې حديث څخه معلومه سوه چي د غاړي په ګرځولو سره آخوا دېخوا کتل مکروه دي مګر داسي کتل چي غاړه ونه ګرځي مکروه نه دي که څه هم داسي کتل هم غوره نه دي.

په لمانځه کي شيطان اثرات

﴿۹۳۴﴾: وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ رَفَعَهُ قَالَ الْعُطَاسُ وَالنُّعَاسُ وَالتَّثَاؤُبُ فِي الصَّلاَةِ وَالْحَيْضُ وَالْقَيْءُ وَالرُّعَافُ مِنَ الشَّيْطَانِ. رواه الترمذي.

حضرت عدي بن ثابت د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه مرفوعا روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ترچى کول، اررمى کول، حيض جاري کيدل، قى وهل او د پزي څخه وينه راتلل په لمانځه کي دا ټول د شيطان د لوري دي. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي: ۲\۸۱-۸۲، رقم: ۲۷۴۸.

تشريح: مطلب دا دی که دا شيان په لمانځه کي پيدا سي نو شيطان ډير زيات خوشحاله کيږي ځکه په دغه شيانو سره پر لمانځه اثر لويږي، دلته د ترچي کولو څخه زيات ترچى کول مراد دى نو دا حديث د هغه روايت خلاف نه دی چي په هغه کي فرمايل سوي دي چي ترچى ايله کوئ ځکه د دغه ترچي کولو څخه مراد په معتدلي طريقې سره ترچي کول دي او د معتدل اطلاق تر دې کم باندي کيږي.

د دغه دواړو حديثو په مينځ کي د تطبيق ظاهري وجه دا کيدای سي چي د لمانځه څخه پرته په نورو وختونو کي ترچى الله ﷻ خوښوي او مکروه ترچى هغه دی چي په لمانځه کي راسي. په دغه شيانو سره شيطان ځکه خوشحاله کيږي چي ترچى د قرائت او د زړه د حضور

مانع دی، اربړمی او ترچی په عبادت کي د سستی باعث دی او حیض او په پزه کي وینه او قی راتلل د لمانځه مفسدات دي یعني لمونځ ماتوي.

په حدیث کي د درو شیانو (ترچی، اربړمی، پرکالي) د ذکر څخه وروسته د لفظ في الصلوٰة ذکر کولو سره د آخر درو شیانو :حیض، قی، په پزه کي وینه راتلل بیل کړل سوي دي او ددې څخه دې ته اشاره مقصد ده چي مخکني درې شیان مفسد صلوٰة نه دي بلکه مکروه دي او کوم چي آخري درې شیان دي هغه مفسد صلوٰة دي یعني په هغو سره لمونځ فاسد کیږي.

په ژړا کولو سره لمونځ نه باطلیږي

﴿۹۳۵﴾: وَعَنْ مُطَرِّفِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ الشِّخِّيْرِ عَنْ أَبِيْهِ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ

حضرت مطرف بن عبد الله بن شخیر د خپل پلار څخه روایت کوي چي زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُصَلِّيْ وَلِجَوْفِهِ أَزِيْزٌ كَأَزِيْزِ الْمِرْجَلِ يَعْنِيْ يَبْكِيْ.

رسول الله ﷺ دغه وخت لمونځ کوی او د رسول الله ﷺ د سینې څخه داسي آواز راتلی لکه د دیګ د ابشیدو آواز چي وي (یعني ژړل یې)

وفي رواية قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ وَفِيْ صَدْرِهِ أَزِيْزٌ كَأَزِيْزِ الرَّحَا مِنَ الْبُكَاءِ. رواه أحمد وروى النسائي الرواية الأولى وأبو داود الثانية

او په یوه بل روایت کي دا الفاظ دي چي ما نبي کریم ﷺ پر لمونځ کولو ولیدی او د رسول الله ﷺ د خولې څخه داسي آواز راتلی لکه د ژرندی آواز چي راځي او دا د رسول الله ﷺ د ژړا آواز وو. احمد.

تخریج: الامام احمد في مسنده ۴\۲۵ والنسائي: ۳\۱۳، رقم: ۱۲۱۳.

تشریح: ددې حدیث څخه معلومه سوه چي په ژړا سره لمونځ نه باطل کیږي په هدایه کي ددې مسئلې وضاحت داسي سوی دی که یو سړی په لمانځه کي ډیر ژاړي او دوږخ یا د عذاب وغیره ذکر او په یاد سره په متاثر کیدو سره آه کوي یا په لوړ اواز سره وژاړي نو د هغه لمونځ نه باطل کیږي او که یو سړی د جسماني درد او تکلیف د شدت په وجه آه وکړي یا په لوړ اواز سره وژاړي نو د هغه لمونځ ماتیږي.

په لمانځه کي شګي ليري کول

﴿۹۳۶﴾: وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ

د حضرت ابو ذر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي دريږي

أَحَدُكُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَلَا يَمْسَحُ الْحَصَى فَإِنَّ الرَّحْمَةَ تُوَاجِهُهُ. رواه احمد والترمذي وابوداؤد والنسائي وابن ماجة.

په تاسو کي يو څوک د لمانځه لپاره نو په لاسو سره دي شګي نه ليري کوي ځکه چي د الله ﷻ رحمت د هغه په وړاندي وي . احمد ،ترمذي، ابوداؤد، نسائي او ابن ماجه

تخريج: الامام احمد في مسنده ۵\ ۱۵۰، وابوداؤد ۱\ ۵۸۱، رقم: ۹۴۵ والترمذي ۲\ ۲۱۹، رقم: ۳۷۹ والنسائي ۳\۶، رقم: ۱۱۹۰ وابن ماجه ۱\ ۳۲۷- ۳۲۸، رقم: ۱۰۲۷.

تشريح : رحمت مخته وي ددې مطلب دادی چي هر کله يو سړی د نيا ته مخ په اړولو سره د لمانځه په حالت کي د خپل پروردګار په مخکي ودريږي نو هغه وخت د هغه مخ ته د الله ﷻ رحمت نازليږي ځکه داسي مقدس او باعظمت موقع باندي لمونځ کونکي لپاره مناسب نه وي چي هغه په ډبرو سره بازی وکړي يا ددې قسم بل څه کار کولو سره د بې ادبي معامله وکړي چي د هغه په وجه الله تعالى د فضل او رحمت د نواز څخه محرومه سي .

د سجدې د ځای پاکولو دپاره په خوله پوکل نه دي پکار

﴿۹۳۷﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ رَأَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غُلَامًا لَنَا يُقَالُ لَهُ أَفْلَحُ إِذَا سَجَدَ نَفَخَ فَقَالَ يَا أَفْلَحُ تَرِّبْ وَجْهَكَ . رواه الترمذي .

د حضرت ام سلمة (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ زموږ غلام وليدی چي د هغه نوم افلح وو چي هغه به سجدې ته تلی نو پوه به يې کوی (چي خاوري ليري کړي) د دې په ليدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل : اې افلح ! خپل مخ په خاورو ولړه . ترمذي .

تخريج: سنن الترمذي ۲\ ۲۲۰- ۲۲۱، رقم: ۳۸۱.

تشريح : د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب دادی چي د سجدې ځاي په پوه کولو سره مه پاکوئ بلکه پريږده چي مخ دي په خاورو ولړل سي ځکه چي په دربار الهي کي د حاضرۍ پر وخت د

عجز او بیکسي د اظهار دا بهترینه ذریعه ده او په دې سره ډېر زیات ثواب حاصلیږي.

پر تشو باندي لاسونه نيول د دوږخيانو د آرام صورت دی

﴿۹۳۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلاِخْتِصَارُ فِي الصَّلَاةِ راحة أَهْلِ النَّارِ. رواه في شرح السنة.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په لمانځه کي پر تشي لاس ايښودل د دوږخيانو د راحت صورت دی. شرح السنة

تخريج: البغوي في شرح السنة: ۳\ ۲۴۷ - ۲۴۸، رقم: ۷۳۰.

تشريح: ددې باب په څلورم نمبر حدیث د تشریح په ځنګ کي د خصر او اختصار وضاحت سوی دی هلته دا هم ښودل سوي دي چي د حشر میدان کي هر کله چي دوږخيان په ولاړه ولاړه ډېر زیات تکلیف محسوس کړي نو هغوی به پر خپلو تشو لاس په ایښودو سره ودریږي او همداسي به هغوی د څه وخت لپاره د ارام او سکون خواهش وکړي ځکه رسول الله ﷺ په لمانځه کي پر تشو لاس د ایښودو سره د دریدو منعه فرمایلې ده چي د دوږخیانو سره يې مشابهت نه وي.

په لمانځه کي مار او لړم مړ کول

﴿۹۳۹﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اُقْتُلُوا الْأَسْوَدَيْنِ فِي الصَّلَاةِ الْحَيَّةُ وَالْعَقْرَبُ. رواه احمد و ابوداؤد والترمذي و للنسائي معناه.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: دوه تور په لمانځه کي وژنئ یعني مار او لړم. احمد، ابوداؤد. ترمذي مګر نسائي ددې حدیث مفهوم بیان کړی دی.

تخريج: الامام احمد في مسنده ۲\ ۲۳۳، وابوداؤد ۱\ ۵۶۶، رقم: ۹۲۱ والترمذي ۲\ ۲۳۳، رقم: ۳۹۰ والنسائي ۳\۱۰، رقم: ۱۲۰۱.

تشريح: ابن ملک رحمة الله علیه فرمایي چي په داسي حالاتو کي هر کله چي د لمانځه کولو په وخت کي مار یا لړم مخته راسي نو د هغه په یو یا دوه واره وژل پکار دي ددې زیات نه دي

وهل پکار څکه چي بيا به عمل کثير سي کم چي په هغه سره لمونځ فاسد کيږي په شرح منيه کي د ځينو مشائخو قول مذکور دی يعني په لمانځه کي د مار لړم د وژلود حکم په هغه صورت کي دی هر کله چي لمونځ کونکي ته ډير زيات يعني درې قدمه پرله پسې تلل نه وي او نه زيات مشغوليت وي يعني ددې ضرورت پيښ نسي او که يو لمونځ کونکي د مار يا لړم وژلو په غرض پرله پسي درې قدمه ځي يا پرله پسې درې واره حمله پر وکړي نو د هغه لمونځ فاسد کيږي ځکه چي دومره زيات تلل يا دومره مشغوليت اختيارول عمل کثير دی.

سرخسي رحمة الله عليه په مبسوط کي ذکر کړي دي پيا يې ويلي دي چي بهتره داده چي په دې اړه دا فرق ونه کړل سي يا درې قدمه په تلو سره يا درې حملې کولو سره لمونځ نه فاسد کيږي ځکه چي د اوداسه ماتيدو په صورت کي د زيات تلو سهولت ورکړل سوی دی همداسي په دې مسئله کي هم سهولت ورکړل سوی دی مګر په تحقيقي طور سره صحيح خبره داده چي درې قدمه په تلو سره يا درې واره حمله کولو سره لمونځ نه فاسد کيږي.

البته دومره سهولت دی چي پر داسي موقع باندي هر کله چي مار يا لړم په لمانځه کي مخ ته راسي او د هغه وژل ضروري وي نو په داسي صورت کي د هغوی د وژلو لپاره لمونځ ماتول مباح دی ځرنګه چي د مظلوم فرياد رسی يا ډوبيدونکي حالت او هلاکت څخه د بچ کيدو په وجه لمونځ ماتول مباح دی يعني که د يو سړي د چيت څخه د لوېدو يا په اور کي د لويدو يا په څاه وغيره کي د لويدو قوي خطره وي او نژدې ورسره يو سړی په لمانځه کي وي نو په دغه صورت کي لمونځ کونکی د هغه د ژغورلو کوښښ وکړي يا همداسي يو لمونځ کونکي ته د لمانځه په حالت کي د خپل يا ماسوا د خپل ځان څخه د يو شي د ضائع کيدو بيره وي او د هغه قيمت تر يو درهم پوري وي نو هغه ته د هغه شی د ساتني لپاره لمونځ ماتول جائز دي.

ددې حديث څخه په ښکاره دا معلومه سوه چي يوازي تورمار وژلای سې حالانکه داسي نه ده بلکه په حديث کي د تورمار تخصيص محض تغليبا سوی دی په هدايه کي ليکلي دي د هر قسم مارانو وژل جائز دی د تور مار تخصيص نسته.

رسول الله ﷺ به د لمانځه په حالت کي دروازه خلاصول

﴿۹۴۰﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي تَطَوُّعًا

د حضرت عائشي رضي الله عنها څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ (په کور کي) نفل لمونځ کوی

وَالْبَابُ عَلَيْهِ مُغْلَقٌ فَجِئْتُ فَاسْتَفْتَحْتُ فَمَشٰى فَفَتَحَ لِي ثُمَّ رَجَعَ إِلٰى مُصَلَّاهُ

او دروازه به يې بندول كله چې به زه كور ته راتلم نو رسول الله ﷺ به دروازه خلاصول بيا به مصلا ته ولاړى او په لمانځه كې به بوخت سو ،

وَذَكَرَتْ اَنَّ الْبَابَ كَانَ فِي الْقِبْلَةِ. رواه ابوداؤد والترمذي و روي النسائي نحوه

بي بي عائشة وايي دروازه د قبلې په لور وه .ابوداؤد، ترمذي او نسائي .

تخريج: الامام احمد في مسنده ٦\٣١، ٢٣٤ وابوداؤد ١\٥٦٦، رقم: ٩٢٢ والترمذي ٢\٤٩٧، رقم: ٦٠١ والنسائي ٣\١١، رقم: ١٢٠٥.

تشريح : مطلب دادى چې دروازه د قبلې خوا ته وه ځكه رسول الله ﷺ د دروازې خلاصولو لپاره تشريف راوړ نو د رسول الله ﷺ مخ مبارك به د قبلې خوا ته ته نه ګرځيدلو ځكه چې قباء مخ ته وه پيا چې مصلي ته به بې دوهم وار تشريف راوړلو نو په وروسته به راتلو چې شاهې د قبلې خوا ته نه سي .

علماء ليكي چې د رسول الله ﷺ حجره مباركه زياته پراخه او عريضه نه وه بلكه ډيره تنګه وه ځكه د يوه قدم څخه زيات تلل به نه پريوتل چې عمل كثير دى مګر ددې باوجود يو اشكال بيا هم واقع كيږي چې دوه قدمه تلل دروازه خلاصول او بيا مصلي ته واپس راتلل دا ټول په يوځاي كيدو سره عمل كثير كيږي ددې جواب دادى چې دا افعال به پرله پسې مسلسل نه وو چې عمل كثير وسي .

په لمانځه كې اودس ماتيدل

﴿۹۲۱﴾: وَعَنْ طَلَقِ ابْنِ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا

د حضرت طلق بن علي رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چې

فَسَا أَحَدُكُمْ فِي الصَّلٰوةِ فَلْيَنْصَرِفْ وَلْيَتَوَضَّأْ وَلْيُعِدِ الصَّلٰوةَ. رواه ابوداؤد و روي الترمذي مع زيادة ونقصان.

په لمانځه كې د يو چا هواء خارج سي نو هغه ته پكار ده چې ولاړ سي اودس وكړي او دوهم ځل لمونځ وكړي، ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داؤد ١\١٤١، رقم: ٢٠٥، والترمذي ٣\٤٦٩، رقم: ١١٦٦.

تشريح: لکه څرنګه چي ددې حديث څخه معلومه سوه که د لمانځه په حالت کي د چا باد ووځي نو هغه ته اودس کول دوباره لمونځ کول افضل دی مګر د فقهي د شرائطو مطابق که يو سړی په اودي کولو سره لمونځ د سره نه وکړي بلکه کم ځاي چي بې لمونځ پرې ايشی وو پر هغه ځاي د پاته لمونځ پيل وکړي نو جائز دی د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه دا مذهب دی او هغوی ددې حديث څخه دا ثابته کړې ده مګر امام شافعي رحمة الله عليه امام مالک رحمة الله عليه او امام احمد رحمة الله عليه په نزد دا جائز نه دی . دا مسئله خو خپله د باد وتلو ده که يو سړی د لمانځه په حالت کي قصدا باد وباسي نو پر هغه دوهم وار اودس کول او لمونځ د سره کول واجب دي .

﴿۹۴۲﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَحْدَثَ أَحَدُكُمْ فِيْ صَلَاتِهِ فَلْيَأْخُذْ بِأَنْفِهِ ثُمَّ لِيَنْصَرِفْ . رواه أبو داود

د حضرت عائشې ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي په تاسو کي د يو چا اودس مات سي نو هغه دي خپل پزه ونيسي او او داسه ته دي ولاړ سي . (چي خلک پوه سي چي د اوداسه ضرورت ورته سوی دی) ابو داؤد .

تخريج: سنن ابي داؤد ١\٦٦٦، رقم: ١١١۴.

تشريح: مطلب دادی چي د لمانځه په حالت کي که د يو سړي باد پرې سي نو هغه ته پکار ده چي په پزه نيولو سره اوداسه ته ولاړ سي چي خلک داګمان وکړي چي د پزي څخه بې وينه راغلې د پزي نيولو حکم ددې لپاره سوی دی چي داسي سړی پر موقعه باندي د شرمندګي څخه بچ سي ځکه چي دا ښکاره کول چي ددې سړي باد ووځي په عام طور سره د شرمندګی باعث جوړيږي بيا خلک ددې په باره کي څه خبري نه کوي بلکه دا وګڼري چي د هغه د پزي څخهويني راغلې چي د هغه په وجه د لمانځه څخه دباندي ووتی .

ځکه علماء ليکي که د يو سړي څخه داسي کار وسي چي د خلکو په نظر کي معيوب او د اعتراض وړ وي نو هغه ته پکار ده چي هغه کار پټ وساتي او په خلکو باندي بې نه کي ښکاره چي خلک بې په بې عزتي پسي نه سي او نه د هغه خوا ته يو عيب منسوخ سي کم چي هغه پټول غواړي او د هغه دا پټول په درواغ کي نه شامليږي بلکه د معاريض د قسم څخه به هم نه وي او

معارض شخه داسي واقعه بيانول دي چي د واقعې پوره وضاحت نه وي داسي انداز ته تعريض وايي .

﴿۹۴۳﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عَمْرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا

د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :هر کله چي

اَحْدَثَ اَحَدُكُمْ وَقَدْ جَلَسَ فِيْ آخِرِ صَلٰوتِهٖ قَبْلَ أَنْ يُسَلِّمَ فَقَدْ جَازَتْ صَلٰوتُهٗ. رواه الترمذي وقال هذا حديث اسناده ليس بالقوي و قد اضطربوا في اسناده .

په تاسو کي د يو چا اودس مات سي او هغه د لمانځه په آخري ناسته کي وي او سلام يې نه وي ګرزولی نو د هغه لمونځ پوره سو . ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۲\۲۶۱، رقم: ۴۰۸.

تشريح : د حديث په پورتني صورت کي د امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه مذهب دادی چي که يو سړی په قصده اودس مات کړي نو د هغه لمونځ پوره کيږي ځکه چي د هغوی په نزد د لمونځ کونکي د خپل څه فعل په ذريعه د لمانځه څخه وتل ضروري دي يعني که يو سړی د لمانځه پوره ارکان د اداکولو وروسته لمونځ په مکمل طور سره ختمول غواړي نو د هغه لپاره ضروري ده چي څه داسي کار اختيار کي چي د لمانځه د خاتمې ذريعه جوړه سي لکه څرنګه چي سلام ګرځول دي .

نو په دې خبره پوه سی چي د امام اعظم رحمة الله عليه په نزد لمونځ يوازي د سلام په ذريعه ختمول فرض دی بلکه يو سړی که د لمانځه د ټولو ارکانو وروسته د سلام ګرځولو پر ځاي څه دوهم کار وکړي چي د لمانځه منافي وي نو د هغه لمونځ پوره کيږي ځکه چي هغه د لمانځه د ارکان پوره کولو وروسته داسي کار کړی دی چي دلمانځه د خاتمې باعث جوړيږي اګر که هغه به د واجب په پرېښودو ګناه کار وي خو فرض به ادا سي ځکه چي د امام اعظم رحمة الله عليه په نزد د سلام په ذريعه لمونځ پوره کول واجب دی صاحبين يعني امام ابويوسف رحمة الله عليه او امام محمد رحمة الله عليه په نزد قصدا اودس ماتول شرط نه دی بلکه دا حضرات فرمايي چي مذکوره صورت کي د چا اودس خپله مات سي نو بيا هم د هغه لمونځ پوره کيږي يعني لمونځ پوره ادا کيږي .

نو د امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه په نزد دا حديث قصدا اودس ماتولو باندي محمول دی او د صاحبين په نزد مطلق دی خو څوک قصدا اودس مات کي يا خپله ېې اودس مات سي داحديث حنفيه خو خصوصا د صاحبين د مذهب مويد دی بخلاف د امام شافعي رحمة الله عليه چي د هغوی په نزد لمونځ يوازي د سلام په ذريعه پوره کول فرض دی.

حديث مضطرب هغه حديث ته وايي چي په مختلفو الفاظو او مختلفو وجهو سره نقل سوی وي او دا شی د حديث د ضعف علامت دی ځکه چي د حديث داسي روايت کيدل ددې خبري دليل دی چي د حديث روايتونه حديث په پوره طور سره ياد نه سي پاته. ملا علي قاري دا حديث ضعف او مظطرب نه دی تسليم کړي بلکه هغوی وويل چي دا حديث په مختلفو طريقو سره روايت دی چي امام طحاوي نقل کړی دی او اصول حديث کي دا خبره مسلم ده چي د ضعيف حديث په متعدد طرق سره روايت کيدل د هغه د حسن قريب کوي.

اَلْفَصْلُ الثالث (دريم فصل)

د رسول الله ﷺ يوه پېښه

﴿۹۴۴﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ إِلَى الصَّلَاةِ فَلَمَّا

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ لمانځه ته تشريف راوړی کله چي

كَبَّرَ انْصَرَفَ وَأَوْمَأَ إِلَيْهِمْ أَنْ كَمَا كُنْتُمْ ثُمَّ خَرَجَ فَاغْتَسَلَ ثُمَّ جَاءَ وَرَأْسُهُ

اقامت وسو نو خپلو صحابوو ته يې مخ راوګرزوی او په اشاره سره يې وويل چي پر خپل خپل ځای ودريږئ، په دې اشاره کولو سره رسول الله ﷺ د مسجد څخه ووتی غسل يې وکړی او په داسي حال کي راغلی چي د سر مبارک څخه يې

يَقْطُرُ فَصَلَّى بِهِمْ فَلَمَّا صَلَّى قَالَ إِنِّي كُنْتُ جُنُبًا فَنَسِيتُ أَنْ أَغْتَسِلَ. رواه أحمد. وروى مالك عن عطاء بن يسار نحوه مرسلا.

د اوبو څاڅکي څڅېدل او صحابه کرامو ته يې لمونځ ورکړ، د لمانځه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل: زه جنب وم، غسل کول را څخه هير سوی وو، احمد او مالک.

تخريج: الامام احمد في مسنده ۲\۴۴۸.

د گرمۍ څخه د ساتنې لپاره د حضرت جابر رضی اللہ عنہ طریقه

﴿۹۴۵﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كُنْتُ أُصَلِّي الظُّهْرَ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت جابر رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چې ما به د ماپښین لمونځ د رسول الله ﷺ سره کوی

فَآخُذُ قَبْضَةً مِّنَ الْحَصٰى لِتَبْرُدَ فِيْ كَفِّيْ أَضَعُهَا لِجَبْهَتِيْ اَسْجُدُ عَلَيْهَا لِشِدَّةِ الْحَرِّ. رواه أبو داود وروى النسائي نحوه.

او د شګو یو ډک موټ به مې ساتی چې پر هغو سجده وکړم او د ګرمي مځکې د ګرمۍ څخه ځان وساتم. ابوداؤد، نسائي

تخریج: سنن ابي داؤد ۱\ ۲۸۲، رقم: ۳۹۹ والنسائي ۲\ ۲۰۴، رقم: ۱۰۸۰.

تشریح: د دې حدیث څخه دا خبره څرګندیږي چې په لمانځه کې دومره اندازه کار کول معاف دي او دومره کار عمل کثیر هم نه دی.

په لمانځه کې د رسول الله ﷺ سره د شیطان یو عجیبه معامله

﴿۹۴۶﴾: وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ

د حضرت ابو درداء رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ لمونځ کوی

فَسَمِعْنَاهُ يَقُوْلُ أَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْكَ ثُمَّ قَالَ أَلْعَنُكَ بِلَعْنَةِ اللّٰهِ ثَلَاثًا وَبَسَطَ يَدَهُ

چې موږ دا ځیني واوریدل: (زه ستا څخه د خلاصون لپاره د الله جل جلاله پناه غواړم) بیا رسول الله ﷺ وفرمایل: (پر تا دې د الله لعنت وي) دا الفاظ رسول الله ﷺ درې ځله وویل بیا رسول الله ﷺ مخ په وړاندې سو

كَأَنَّهُ يَتَنَاوَلُ شَيْئًا فَلَمَّا فَرَغَ مِنَ الصَّلَاةِ قُلْنَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَدْ سَمِعْنَاكَ

لکه چې یو شی نیول غواړي، کله چې رسول الله ﷺ د لمانځه څخه فارغ سو نو موږ عرض وکړ اې د الله رسوله! موږ ستا څخه په لمانځه کې داسې خبرې واوریدلې

تَقُوْلُ فِي الصَّلَاةِ شَيْئًا لَمْ نَسْمَعْكَ تَقُوْلُهُ قَبْلَ ذٰلِكَ وَرَأَيْنَاكَ بَسَطْتَ يَدَكَ

چي تا په لمانځه کي يو څه ويل او تر دې مخکي هم هيڅکله او رېدلي نه وي او موږ ته وليدلې چي لاس دي وړاندي کړې

قَالَ إِنَّ عَدُوَّ اللهِ إِبْلِيسَ جَاءَ بِشِهَابٍ مِنْ نَارٍ لِيَجْعَلَهُ فِي وَجْهِي فَقُلْتُ أَعُوذُ

رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله دښمن شيطان د اور د سکروټو سره راغلی وو چي هغه زما په مخ کي واچوي نو ما وويل چي زه ستا څخه د الله ﷻ په ذريعه پناه غواړم

بِاللهِ مِنْكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ قُلْتُ أَلْعَنُكَ بِلَعْنَةِ اللهِ التَّامَّةِ فَلَمْ يَسْتَأْخِرْ

درې ځله ما دا الفاظ وويل بيا ما وويل زه پر تا پوره لعنت وايم د خدای لعنت درې ځله، مګر هغه زما د مخه څخه ليري نه سو

ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ أَرَدْتُ أَخْذَهُ وَاللهِ لَوْلَا دَعْوَةُ أَخِينَا سُلَيْمَانَ لَأَصْبَحَ مُوثَقًا

بيا ما د هغه د نيولو اراده وکړه قسم په خدای که زموږ د ورور سليمان عليه السلام دعاء نه وای نو سهار به شيطان تړل سوی وای

يَلْعَبُ بِهِ وِلْدَانُ أَهْلِ الْمَدِينَةِ. رواه مسلم

او د مديني ماشومانو به ورباندي لوبي کولای. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱۱ ۳۸۵، رقم: ۴۰- ۵۴۲.

تشريح: ددې باب په نهم نمبر حديث د تشريح په ضمن کي ددې وضاحت سوی دی چي حضرت سليمان عليه السلام پيريانو د تابع کولو او پر هغوی د تصرف کولو لپاره دعا غوښتې وه چي قبوله سوه او جنات د هغوی فرمانبردار سوه رسول الله ﷺ نو په دې سوچ سره چي په دې معامله کي د حضرت سليمان عليه السلام امتيازي حيثيت پريوځي رسول الله ﷺ پيری خپل تابع کول نه وغوښتل ددې حديث څخه دا خبره په پوره قوت سره ثابتيږي چي شيطان يقينا د جنات د قوم څخه نه دی.

په لمانځه کي په اشاره سره د سلام جواب ورکولو مسئله

﴿۹۴۷﴾: وَعَنْ نَافِعٍ قَالَ إِنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ مَرَّ عَلَى رَجُلٍ وَهُوَ يُصَلِّي

د نافع رحمه الله څخه روايت دی چي عبد الله بن عمر رضي الله عنه د يو سړي په خوا کي تير سو چي هغه لمونځ کوی

فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَرَدَّ الرَّجُلُ كَلَامًا فَرَجَعَ إِلَيْهِ عَبْدُ اللهِ بْنِ عُمَرَ فَقَالَ لَهُ إِذَا

هغه ته يې سلام وكړ هغه په خوله د سلام جواب وركړ، عبد الله بن عمر ﷺ بيا هغه ته ورغلی او هغه ته يې وويل هر كله چې

سُلِّمَ عَلَى أَحَدِكُمْ وَهُوَ يُصَلِّيْ فَلَا يَتَكَلَّمْ وَلْيُشِرْ بِيَدِهِ. رواه مالك.

تاسو ته د لمانځه په حالت كې سلام وكړل سي نو د هغه په خوله جواب مه وركوئ بلكه په لاس سره اشاره كوئ. مالک.

تخريج: الامام مالک في الموطا ۱\ ۱۶۸، رقم: ۷۶.

تشريح: په دې باب كې د ابن عمر ﷺ يو روايت تير سوی دی د هغه د تشريح په ضمن كې د لمانځه په حالت كې د سر يا لاس په اشارې سره د جواب وركولو په مسئله كې وضاحت سوی دی دا حكم مخكنی وو وروسته په اشاره سره هم جواب وركول منسوخ سوی دی.

==========

بَابُ السَّهْوِ

د سجده سهو بیان

د لمانځه سنتونه او مستحبات که پاته سي نو په هغه سره په لمانځه کي څه خرابي نه راځي يعني لمونځ صحيح کيږي او د لمانځه د فرضونو څخه که يو شی په هيره سره يا په قصد سره پاته سي نو لمونځ فاسد کيږي او د هغه هيڅ يو تدارک نسته چي د هغه په وجه دلمانځه دوهم وار کول ضروري کيږي ، د لمانځه د واجباتو څخه که يو شی په قصد سره پرېښودل سي نو د هغه هم تدارک نسي کيدای او لمونځ فاسديږي ، او که د لمانځه د واجباتو څخه يو شی په قصد سره نه بلکه په هيره سره پاته سي نو د هغه تدارک کيدای سي او هغه تدارک دادی چي په آخري ناسته کي د التحيات ويلو څخه وروسته راسته خوا ته يو وار سلام ګرځولو سره دوې سجدې وکړي او د سجدې وروسته بيا قعده (ناسته) وکړي او په التحيات، درود شريف او دعاء (اللهم ربنا اتنا .....) ويلو سره سلام وګرځوي او دغه سجدو ته سجده سهوه ويل کيږي .

په دې خبره هم پوه سئ چي د رسول الله ﷺ په هغه اقوال کي چي د شرعي شيانو خبر ورکولو او د ديني احکامو سره متعلق دي نه خو کله سهوه سوې ده او نه دا ممکن ده، هو د رسول الله ﷺ په افعالو کي به سهوه کېدل هغه هم په دې حکمت سره چي د امت خلک ددا ډول سهوو مسائل زده کړي .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د رکعتونو د شمير د هيري په صورت کي د سجده سهوي حکم

﴿۹۴۸﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ

د حضرت ابوهريرة رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

أَحَدَكُمْ إِذَا قَامَ يُصَلِّي جَاءَهُ الشَّيْطَانُ فَلَبَسَ عَلَيْهِ حَتَّى لَا يَدْرِيَ كَمْ

کله چي په تاسي کي يو څوک د لمانځه لپاره ودريږي نو شيطان راسي او هغه په شک کي اچوي تر دې چي هغه ته ياد نه سي چي څومره

صَلَّى فَإِذَا وَجَدَ ذَلِكَ أَحَدُكُمْ فَلْيَسْجُدْ سَجْدَتَيْنِ وَهُوَ جَالِسٌ. متفق عليه

رکعته یې وکړل چي دا سي حالت درته پېښ سي نو کښېنئ دوې سجدې وکړئ یعني سجده سهو. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۱۰۴، رقم: ۱۲۳۲ و مسلم: ۱\ ۳۹۸، رقم: ۸۲-۳۸۹.

تشريح: په حديث کي چي کوم صورت بيان سوی دی هغه د سهوي سره متعلق نه دي بلکه د شک صورت دی او د شک او سهو په مينځ کي دا فرق دي چي په سهو کي د يو جانب تعين وي (چي فلانی شی هیر سو) او په شک کي تردد وي چي ايا دا صحيح دي يا هغه او د شيطان ملعون څه مجال وو چي هغه رسول الله ﷺ په شک او شبه کي اخته کړی دی، هو غلبه استغراق او آخرت ته د بې پايه توجه په وجه رسول الله ﷺ څخه به سهوه کېدل، د سجده سهو واجب کېدو په اړه د شک او سهو دواړو يو ډول حکم دی، په دې مسئله کي پوره وضاحت د راتلونکي حديث په تشريح کي وګورئ

﴿۹۴۹﴾: وَعَنْ عَطَاءِ ابْنِ يَسَارٍ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ

حضرت عطاء بن يسار د ابو سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا شَكَّ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاتِهِ فَلَمْ يَدْرِ كَمْ صَلَّى ثَلَاثًا أَمْ

هر کله چي تاسو ته په لمانځه کي شک پيدا سي چي څو مره لمونځ يې کړی دی يعني درې که

أَرْبَعًا فَلْيَطْرَحِ الشَّكَّ وَلْيَبْنِ عَلَى مَا اسْتَيْقَنَ ثُمَّ يَسْجُدُ سَجْدَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ

څلور رکعته نو خپل شک دي ليري کړي او د يو خاص شمير يقين دي وکړي او بيا دي د هغه يقين پر بناء لمونځ پوره کړي بيا دي دوې سجدې وکړي مخکي تر دې چي

يُسَلِّمَ فَإِنْ كَانَ صَلَّى خَمْسًا شَفَعْنَ لَهُ صَلَاتَهُ وَإِنْ كَانَ صَلَّى إِتْمَامًا لِأَرْبَعٍ

سلام وګرځوي که هغه پنځه رکعته کړي وي نو دا دوې سجدې به هغه شپږ جوړ کړي او که پوره څلور يې کړي وي

كَانَتَا تَرْغِيمًا لِلشَّيْطَانِ. رواه مسلم و رواه مالك عن عطاء مرسلا وفي

روایته شفعا بهاتین السجدتین.

نو دا سجدې به د شیطان د ذلت باعث سي . مسلم.

تخریج : صحیح مسلم: ۱\ ۴۰۰، رقم: ۸۸- ۵۷۱ والامام مالک في الموطا ۱\۹۵، رقم: ۶۲.

تشریح : په دې صورت کي مسئله داسي ده چي یو څوک لمونځ کوي او د لمانځه په دوران کي په شک کي اخته سي او لمونځ کونکي ته دا خبره یاد نه وي چي هغه څو رکعته کړي دي نو هغه ته پکار ده چي هغه د کم عدد تعین وکړي او د هغه غالب گمان کولو سره دي لمونځ وکړي ، د مثال په توگه هغه ته دا شبهه وي چي معلومه نه ده چي ما درې رکعته کړي دي یا څلور، نو په دې صورت کي هغه ته د درو رکعتو تعین کولو سره لمونځ پوره کول پکار دي، بیا په آخري قعده کي د التحیات ویلو څخه وروسته د سلام گرځولو څخه مخکي راسته خوا ته د سلام گرځولو سره د سهوي دوې سجدې کول ورته پکار دي ، د بخاري په روایت کي د سلام گرځولو څخه مخکي د سجده سهو کولو قید نسته په دې وجه د امامانو په نزد دلته په دې خبره کي اختلاف دی چي سجده د سلام گرځولو څخه مخکي کول پکار دي یا د سلام گرځولو څخه وروسته، ددې مسئلې تفصیل به موږ وروسته د یو حدیث د تشریح په څنگ کي بیان کړو .

په حدیث کي د سجده سهو گټه هم ښودل سوې ده ، فرمایل سوي دي که یو سړی په پورتني صورت کي د درو رکعتو په تعین کولو سره یو رکعت نور وکړي حال دا چي هغه په حقیقت کي څلور رکعته مخکي کړي وه همداسي د هغه پنځه رکعته سول نو دا پنځه رکعته به د هغه دوو سجدو په وجه د هغه لمونځ شفع (یعني جفت) کړي، ځکه چي هغه د دوو سجدو په یو ځای کېدو سره به د شپږ رکعته په حکم کي سي او که هغه په حقیقت کي درې رکعته کړي وي او د سهوي په صورت کي هغه د درو په تعین کولو سره یو رکعت نور وکړ او د هغه څلور رکعته پوره سول نو د هغه دواړي سجدې به د شیطان د ذلت سبب جوړي سي یعني په دې صورت کي هر کله چي هغه څلور رکعته کړي دي نو د دوو سجدو ضرورت نه وو چي هغه لمونځ جفت کړي څرنگه چي په اول (یعني د پنځه رکعتو کولو په صورت) کي د هغه دواړو سجدو ضرورت وو ، مگر ددې دواړو سجدو چي په ظاهره زیاتي معلومېږي دا گټه سوه چي په دې سره د شیطان ذلت او ناکامي وسول ځکه چي د شیطان مقصد خو دا وو چي هغه لمونځ کونکی په شک او شبهې کي اخته کولو سره هغه د عبادت څخه منعه کړي ، حال دا چي لمونځ کونکی د هغه برعکس په نور کولو سره د عبادت د پرېښودو پر ځای په هغه کي نور زیاتوب وکړ او زیاتوب

يقيني خبره ده چي د شيطان د ناكامۍ او نامرادۍ باعث دى، د دې حديث څخه په ظاهره دا معلوميږي چي د شک په صورت كي اقل (كم) اختيارپكار دي ، پر تحرى (غالب گمان) باندي عمل نه دى كول پكار ، د جمهورو امامانو دا مذهب دى، د امام ترمذي رحمة الله عليه قول دادى چي په اهل علم كي د ځينو حضراتو مذهب دادى چي د شک په صورت كي لمونځ دوهم وار كول پكار دي يعني كه د لمانځه په مينځ كي يو چا ته د ركعتونو د شمير په اړه شک پيدا سي نو هغه ته پكار ده چي هغه لمونځ د سره وكړي .

په دې مسئله د امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه مذهب حاصل دادى كه يو سړي ته په لمانځه كي شک سي چي څومره ركعتونه يې كړي دي كه د هغه سړي عادت د شک كولو نه وي نو هغه ته پكار ده چي بيا د سره لمونځ وكړي او كه د هغه سړي عادت د شک كولو وي نو پر خپل غالب گمان باندي دي عمل وكړي يعني څومره ركعتونه چي هغه ته په غالب گمان سره ياد وي نو هغومره ركعتونه دي وگڼي چي سوي دي او كه غالب گمان يې يوې خوا ته نه وي نو كم عدد دي اختيار كړي او په يو ركعت نور كولو سره دي لمونځ پوره كړي او بيا دي سجده سهو وكړي .

په دې خبره هم پوه سئ چي پر غالب گمان باندي د عمل كولو وجه داده چي په شريعت كي د غالب گمان اختيارولو اصل موجود دى لكه يو سړى په داسي ځاى كي لمونځ كول غواړي چي هلته هغه ته د قبلې خوا نسي معلوميدلاى نو د هغه لپاره حكم دى چي هغه د كومي خوا په باره كي غالب گمان وكړي چي دې خوا ته قبله ده نو هغه خوا ته په مخ كولو سره دي لمونځ وكړي د هغه لمونځ به وسي، د غالب گمان اختيارولو په اړه حديثونه هم نقل دي ، په صحيحينو كي د ابن مسعود رضي الله عنه يو روايت دى چي د هغه الفاظ دادى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر كله چي په تاسو كي يو چا ته په لمانځه كي شک واقع سي نو هغه ته پكار ده چي د صحيح رايي قائمولو سره دي لمونځ پوره كړي ، دا حديث شمني رحمة الله عليه هم په شرح نقايه كي نقل كړى دى او په جامع الاصول كي هم د نسائي څخه يو حديث پر تحرى باندي د عمل كولو د صحيح كېدو په اړه منقول دى .

امام محمد رحمة الله عليه په خپل كتاب مؤطا كي د تحرى د افاديت په اړه ويلو سره چي د تحرى په اړه ډير آثار وارد دي يوه ډيره ښه خبره يې دا كړې ده چي كه داسي ونه سي يعني كه تحرى قابل قبول ونه گرځول سي نو شک او شبهې څخه د خلاصون تر لاسه كولو لپاره به ډير مشكل وي او د هر شک او شبهې په صورت كي اعاده د لوى مصيبت او پريشانۍ سبب جوړيږي .

شيخ عبد الحق دهلوي رحمة الله عليه دلته د پورتنۍ مسئلې په تجزيه كولو سره ويلي دي

چي په داسي صورت كي د كلام حاصل دادى چي ددې مسئلې په اړه درې حديثونه منقول دي د لومړني حديث مطلب دادى چي په لمانځه كي كله هم يو چا ته شک واقع سي نو هغه دي لمونځ د سره وكړي ، د دوهم حديث مطلب دادى چي هر كله يو چا ته په لمانځه كي شک واقع سي نو هغه ته پكار ده چي هغه د صحيح خبر په تر لاسه كولو كي تحرى (فكر) وكړي او پر غالب گمان باندي عمل وكړي، د دريم حديث مفهوم دادى چي هر كله په لمانځه كي شک واقع سي نو پر يقين باندي عمل كول پكار دي، يعني كومي خوا ته چي يقين وي پر هغه دي عمل وكړي.

امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه دا درې سره حديثونه په خپل مذهب كي يو ځاى كړي دي داسي چي هغوى د لومړني حديث په لومړى ځل د شک واقع كېدو پر صورت باندي محمول كړى دى ، دوهم حديث پر يوې خوا باندي د غالب گمان كېدو پر صورت باندي محمول كړى دى او دريم حديث يوې خوا ته پر غالب گمان نه كېدو باندي محمول كړى دى.

شيخ عبدالحق دهلوي رحمة الله عليه فرمايي: د امام اعظم رحمة الله عليه د مذهب كمال جامعيت او د ډېر محقق كېدو دليل دى.

﴿۹۵۰﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ لمونځ وكړى

الظُّهْرَ خَمْسًا فَقِيْلَ لَهُ اَزِيْدَ فِي الصَّلَاةِ فَقَالَ وَمَا ذَاكَ قَالُوا صَلَّيْتَ خَمْسًا

يو ماپښين پنځه ركعته ، د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول ايا په لمانځه كي زياتوب سوى دى؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: څنگه؟ صحابه كرامو وويل: تاسو پنځه ركعته كړي دي ،

فَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ بَعْدَ مَا سَلَّمَ وَفِيْ رِوَايَةٍ قَالَ إِنَّمَا اَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ اَنْسَى كَمَا

رسول الله ﷺ د سلام گرځولو څخه وروسته دوې سجدې وكړې، او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ د صحابه كرامو د اعتراض په اوريدو سره وفرمايل: زه هم ستاسو په ډول يو انسان يم څنگه چي ستاسو څخه هيره كيږي

تَنْسَوْنَ فَإِذَا نَسِيتُ فَذَكِّرُوْنِي وَإِذَا شَكَّ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاتِهِ فَلْيَتَحَرَّ الصَّوَابَ

همداسي زما څخه هم هيره كيږي هر كله چي زما څخه هير سي نو تاسو يې را يادوى او په تاسو كي چي چا ته په لمانځه كي شک پيدا سي نو هغه دي د يوې صحيح رايې قائمولو قصد وكړي

فَلْيُتِمَّ عَلَيْهِ ثُمَّ لِيَسْجُدْ سَجْدَتَيْنِ . متفق عليه

او دراپې پر بنا دې لمونځ پوره کړې بيا دې سلام وګرځوي دوه سجدې دې وکړي . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱\۵۰۳- ۵۰۴، رقم: ۴۰۱، ومسلم ۱\ ۴۰۰، رقم: ۸۹- ۵۷۲.

تشريح: په دې حديث کې پر کم باندې د عمل کولو نه دې ويل سوي که څه هم مراد دادی که چيري تحری ګټه ور نه کړي يعني د يو شمير په اړه غالب ګمان ونسي نو د کم شمير په اختيارولو سره لمونځ دې پوره کړي ، شافعيان د تحری قائل نه دي ځکه هغوی هم د دې حديث الفاظ (فليتحر الصواب) څخه مراد د کم شمير اختيارول اخلي .

د حنفيه په نزد د پنځو رکعتو اداء کولو په صورت کې د مسئلې تفصيل دی د هغوی مذهب دادی که يو سړی په اخري قعده کې په هيره سره د پنځم رکعت لپاره ودريږي د پنځم رکعت د سجدې کولو مخکې هغه ته ياد سي نو هغه ته پکار ده چې سمدستي کښيني او په التحيات ويلو سره سجده سهو وکړي که د پنځم رکعت سجده يې کړې وي نو بيا نسي کښينستلای او د هغه دا لمونځ که د فرض په نيت سره يې کوی فرض نه ادا کيږي بلکه نفل به سي او هغه ته به اختيار وي چې دی په يوه رکعت سره دوهم رکعت بل يو ځای کړي ځکه چې د مازديګر او د سهار د لمانځه وروسته نفل مکروه دي او دا رکعتونه فرض پاته نسي بلکه نفل سي داسي دی لکه چې د فرض څخه مخکې نفل سوي دي او په دې کې څه مکروه والی نسته د ماښام په فرض کې دا رکعت کافي دی دوهم رکعت ورسره نسي يو ځاي کولای کنه پنځه رکعته به سي او په نفل کې طاق رکعتونه منقول نه دي او په دې صورت کې د سجده سهو ضرورت نسته .

دا صورت خو په اخري قعده کې د ناستې پرته د پنځم رکعت لپاره د ولاړې وو که يو سړی په اخري قعده کې د التحيات ويلو په اندازه په ناستې سره د سلام ګرځولو مخکې د پنځم رکعت لپاره ودريږي که هغه په پنځم رکعت کې سجده نه وکړي نو سمدستي دې کښيني او د سلام په ادا کولو کې چې واجب وو زنډ وسو ځکه نو سجده سهو دې وکړي او که د پنځم رکعت سجدې کولو وروسته ورته ياد سو نو هغه ته پکار ده چې هغه اوس نه کښيني بلکه يو رکعت دې ورسره بل يو ځاي کړي چې دا پنځم رکعت ضائع نسي او که يو رکعت ورسره يو ځاي نه کړي بلکه د پنځو رکعتو وروسته سلام وګرځوي بيا هم جائز دی خو يو ځای کول غوره دي په دې صورت کې د هغه رکعتونه که د فرض په نيت يې کړي يي نو فرض به ادا نه سي نفل به وي د مازديګر او سهار په فرض کې هم دوهم رکعت يو ځای کولای سي ځکه چې د مازديګر او سهار د فرض

وروسته په قصده نفل کول مکروه دي او که په هیره يې وکړي نو څه پرواه نه لري په دې صورت کي د فرض وروسته چي کوم رکعتونه يې کړي دي دا د هغه مؤکده سنتو قائم مقام نسي کیدای کوم چي د فرض وروسته د ماپښين، ماښام او ماخستن وخت مسنون دی ځکه چي ددې سنتو تحریمه نه ادا کول د رسول الله ﷺ څخه منقول دي، دا حدیث پر دې خبره محمول دی چي رسول الله ﷺ د څلورو رکعتونو وروسته په آخري قعده کي د ناستي سره بیا وروسته د رکعت لپاره ولاړ سوی وو ددې حدیث څخه په ښکاره دا معلومیږي چي رسول الله ﷺ په پنځم رکعت سره شپږم رکعت نه وو یو ځای کړی او یوازي پر سجده سهو باندي يې اکتفاء وکړل څرنګه چي د امام شافعي رحمة الله علیه مذهب دی ځکه دا به وویل سي چي دلته دا احتمال دی چي رسول الله ﷺ به د بیان جواز له کبله داسي کړي وي .

﴿۹۵۱﴾: وَعَنِ ابْنِ سِيْرِيْنَ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ صَلَّى بِنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

حضرت ابن سيرين[1] د ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ موږ ته لمونځ راکړی

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِحْدَى صَلَاتَيِ الْعَشِيِّ قَالَ ابْنُ سِيْرِيْنَ قد سَمَّاهَا اَبُوْ هُرَيْرَةَ

د ماپښين یا مازدیګر په لمونځونو کي یو لمونځ چي د هغه نوم ابوهريرة رضي الله عنه ښودلی وو

وَلٰكِنْ نَسِيْتُ اَنَا قَالَ فَصَلّٰى بِنَا رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ فَقَامَ اِلٰى خَشَبَةٍ مَعْرُوْضَةٍ

او زما څخه هیر دی او د دوو رکعتو وروسته رسول الله ﷺ سلام وګرځوی او د هغه لرګي په مرسته ودرېدی چي په مسجد کي لګېدلی وو ،

فِي الْمَسْجِدِ فَاتَّكَاَ عَلَيْهَا كَاَنَّهٗ غَضْبَانُ وَوَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنٰى عَلَى الْيُسْرٰى وَشَبَّكَ

د رسول الله ﷺ د حالت څخه څرګندېده چي غضب ناک دی ، رسول الله ﷺ خپل راسته لاس په چپه لاس کي ورکړ او په ګوتو کي يې ګوتي واچولې

[1] – د نوموړي نوم محمد او کنیت يې ابوبکر دی ، د انس بن مالک رضي الله عنه آزاد سوی غلام دی ، دیرش اولاده يې وه چي د هغه په ژوند کي وفات سول یوازي یو زوی عبدالله بن محمد سیرین ژوندی وو ، د (۷۷) کالو په عمر په کال (۱۱۰ھ) کي وفات سوی دی .

بَيْنَ أَصَابِعِهِ وَوَضَعَ خَدَّهُ الْأَيْمَنَ عَلٰى ظَهْرِ كَفِّهِ الْيُسْرٰى وَخَرَجَتْ سَرْعَانُ

او د چپه لاس پر شا يې خپل راسته باړخو کېښېښودی او تلواري خلک چې د لمانځه څخه سمدستي تلل په ولاړېدو سره

الْقَوْمِ مِنْ أَبْوَابِ الْمَسْجِدِ فَقَالُوْا قُصِرَتِ الصَّلَاةُ وَفِي الْقَوْمِ أَبُوْ بَكْرٍ وَعُمَرُ

د مسجد د دروازې څخه د باندې ووتل، صحابه کرامو په خپلو کې وويل ايا په لمانځه کې کمي راغلې؟ په مسجد کې چې کوم خلک وه په هغو کې ابوبکر رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه هم وه

فَهَابَاهُ أَنْ يُكَلِّمَاهُ وَفِي الْقَوْمِ رَجُلٌ فِيْ يَدَيْهِ طُوْلٌ يُقَالُ لَهُ ذُو الْيَدَيْنِ قَالَ يَا

هغوی دواړو ته د رسول الله ﷺ څخه په پوښتنه کولو کې بيره څرګنده سوه، په خلکو کې يو سړی وو چې د هغه لاسونه اوږده وه او هغه ته به يې ذواليدين وايه، هغه وويل: اې

رَسُوْلَ اللهِ أَنَسِيْتَ أَمْ قُصِرَتِ الصَّلَاةُ قَالَ لَمْ أَنْسَ وَلَمْ تُقْصَرْ فَقَالَ أَكَمَا

د الله رسوله! ايا په لمانځه کې کمي سوې ده يا ستاسو څخه هيره سوې ده، رسول الله ﷺ وفرمايل: نه زما څخه هيره سوې ده او نه په لمانځه کې کمي سوې ده، د دې وروسته رسول الله ﷺ صحابه مخاطب کړل او وه يې فرمايل:

يَقُوْلُ ذُو الْيَدَيْنِ؟ فَقَالُوْا نَعَمْ. فَتَقَدَّمَ فَصَلّٰى مَا تَرَكَ ثُمَّ سَلَّمَ ثُمَّ كَبَّرَ

ايا ذواليدين رښتيا وايي؟ او ستاسو هم دا خيال دی صحابه کرامو عرض وکړ، هو، اې د الله رسوله! ذواليدين سم وايي، رسول الله ﷺ مصلا ته ورغلی او پاته لمونځ يې ورکړ بيا يې سلام وګرځوی بيا يې الله اکبر ووايه

وَسَجَدَ مِثْلَ سُجُوْدِهِ أَوْ أَطْوَلَ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ وَكَبَّرَ ثُمَّ كَبَّرَ وَسَجَدَ مِثْلَ

او د لمانځه د سجدې په ډول بلکه د هغې څخه لږ اوږده سجده يې وکړل بيا يې سر پورته کړ او الله اکبر يې ووايه، بيا يې الله اکبر ووايه او سجده يې وکړه په مثل

سُجُوْدِهِ أَوْ أَطْوَلَ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ وَكَبَّرَ فَرُبَّمَا سَأَلُوْهُ ثُمَّ سَلَّمَ فَيَقُوْلُ نُبِّئْتُ أَنَّ

د لمانځه د سجدې او بلكي تر هغې هم اوږده، بيا يې سر را پورته كړ او الله اكبر يې وو ايه، د راوي ابن سيرين څخه خلكو پوښتنه وكړه ايا تر دې وروسته رسول الله ﷺ سلام وګرځوى؟ ابن سيرين به هر ځل په جواب كي دا ويل ما ته دا خبر را رسيدلى دى چي

عِمْرَانَ بْنَ حُصَيْنٍ قَالَ ثُمَّ سَلَّمَ . متفق عليه، ولفظه للبخاري وفي أخرى لهما فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم بدل لم أنس ولم تقصر كل ذلك لم يكن فقال قد كان بعض ذلك يا رسول الله .

عمران بن حصين دا وويل چي بيا رسول الله ﷺ سلام وګرزوي . بخاري او مسلم، دا الفاظ د بخاري دي د بخاري او مسلم په يو بل روايت كي دا دي چي رسول الله ﷺ د (ولم انس ولم تقصر) پر ځاى دا الفاظ وفرمايل : په دې كي هيڅ نه وو، ذواليدين وويل اې د الله رسوله ! څه خو به وي .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱۰\۱۰ ۴۶۸، رقم: ۶۰۵۱ و مسلم ۱\۴۰۳، رقم: ۹۷- ۵۷۳.

تشريح : په فتح الباري كي ددې حديث ډيره اوږده تشريح سوې ده نو خبره به هم ډيره اوږده سي البته دومره ښودل ضروري دي چي ددې حديث په باره كي دوه اشكاله پيدا كيږي اول دادى چي د علماؤ په نزد دا خبره منل سوې ده چي په خبره كي خو رسول الله ﷺ څخه سهو كيدل نا ممكن دي او په افعالو كي هم اختلاف دى مګر رسول الله ﷺ دلته د ذواليدين په جواب كي هم دا وفرمايل چي نه زما څخه هيره سوې ده او نه په لمانځه كي كمي سوې ده ايا دا خلاف واقعه نه ده ددې څخه دا معلوميږي چي رسول الله ﷺ څخه په خبر كي هم سوه كيداى سوه .

ددې جواب په لنډه توګه دادى چي د رسول الله ﷺ څخه سهو كيدل په هغه خبرو كي نا ممكن دي كوم چي تبليغ شرائع په ديني احكامو او وحي الهي سره متعلق دي نه چي د ټولو خبرو، دوهم اشكال دا وارد كيږي چي د دوو ركعتونو وروسته رسول الله ﷺ څخه افعال هم ښكاره سوه او رسول ﷺ خبري هم وكړې خو ددې باوجود رسول ﷺ د سره لمونځ نه وكړ بلكه كوم ركعتونه چي پاته وه هغه يې پوره كړه ددې څه وجه ده ؟

ددې جواب علماؤ دا وركوي چي لمونځ ماتونكي هغه كلام او افعال دي چي قصدا واقع سوي وي نه هغه كلام او افعال چي په هيره صادر سوي وي څرنګه چي د امام شافعي رحمة الله

علیه مذهب دی دا جواب نه یوازي دا چي په خپل ځان کي جهول لري بلکه د حنفیه د مذهب سره سم هم نه دی ځکه چي د هغوی په نزد مطلقا خبره لمونځ فاسدوي که هغه په قصد صادر سوي وي یا په هیره سره ځکه د علماء حنفیه په نزد ددې اشکالو جواب دا ورکول کیږي چي دا واقعه د هغه وخت ده چي په لمانځه کي د کلام او افعال جواز لا منسوخ سوی نه وو .

د امام احمد رحمة الله علیه مذهب هم دادی چي په لمانځه کي کلام مطلقا مفسد صلوة دی هغه که قصدا وي که سهوا خو ددوی په نزد دومره گنجائش هم نسته چي په لمانځه کي کوم کلام د امام یا مقتدي څخه د لمانځه د یو مصلحت لپاره صادر سي نو هغه به مفسد صلوة یعني لمونځ ماتونکی وي لکه څرنگه چي په پورتني حدیث کي واقع سوی صورت دی .

د حدیث د اخري الفاظو مطلب دادی چي دا حدیث ابن سیرین رحمة الله علیه د خلکو په مخ کي بیان کړی دی نو د هغه څخه د پوښتني په توکه اکثرو خلکو پوښتنه وکړه چي ایا ابوهریره رضی الله عنه ثم بسلم هم ویل گویا د هغه خلکو د پوښتني مطلب دا وو چي رسول الله ﷺ سجده سهو د سلام وروسته کړې وه یا مخکي یې کړې وه ؟

ددې په جواب کي ابن سیرین رحمة الله علیه وویل د ابوهریره رضی الله عنه په روایت کي خو دا الفاظ ماته یاد نه دي مگر عمران ابن حصین رضی الله عنه دا حدیث ماته روایت کړی دی د هغوی په روایت کي ثم سلم الفاظ دي ددې مطلب دادی چي رسول الله ﷺ سجده سهو د سلام وروسته کړې وه او ما د ابوهریره رضی الله عنه څخه په روایت کي ثم سلم الفاظ چي نقل کړي دي هغه مي د عمران ابن حصین رضی الله عنه د روایت څخه نقل کړي دي .

سجده سهوه تر سلام مخکي کیږي او که وروسته

(۹۵۲): وَعَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ بُحَيْنَةَ اَنَّ النَّبِيّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلّٰى بِهِمِ

د حضرت عبد الله بن بحینة رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته لمونځ ورکړ

الظُّهْرَ فَقَامَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْاُوْلَيَيْنِ لَمْ يَجْلِسْ فَقَامَ النَّاسُ مَعَهُ حَتّٰى اِذَا

د ماپښین لمونځ او د دوو رکعتو وروسته په ناسته کي د ناستي پر ځای ولاړ سو ، صحابه کرام هم د رسول الله ﷺ سره ودریدل تر دې چي

قَضٰى صَلَاتَهُ وَانْتَظَرَ النَّاسُ تَسْلِيْمَهُ كَبَّرَ وَهُوَ جَالِسٌ فَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ قَبْلَ

اَنْ يُّسَلِّمَ ثُمَّ سَلَّمَ. متفق عليه

لمونځ يې وكړ او د سلام ګرزولو وخت راغلى نو صحابه كرامو تكبير وو ايه او رسول الله ﷺ دوې سجدې د سلام ګرځولو څخه مخكې وكړې بيا يې سلام وګرزوي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\۹۲، رقم: ۱۲۲۴، ومسلم ۱\۳۹۹، رقمگ ۸۶- ۵۷۰.

تشريح: د امام شافعي رحمة الله عليه په مذهب كې د دې حديث سره سم سجده سهو د سلام ګرځولو څخه مخكې ادا كيږي مګر په نورو روايتونو كې دا هم مذكوره دي چې رسول الله ﷺ د سلام ګرځولو څخه وروسته سجده سهو كړې ده او د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه په باره كې ثابت سوي دي چې هغوى به د سلام ګرځولو وروسته سجده سهو كول نو د حضرت عمر رضي الله عنه عمل پر دې خبره دلالت كوي چې دا حديثونه منسوخ دي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي　　(دوهم فصل)

درود او دعاء د سجده سهوې وروسته ويل كيږي كه مخكې؟

﴿۹۵۳﴾: عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلّٰى بِهِمْ فَسَهَا فَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ تَشَهَّدَ ثُمَّ سَلَّمَ. رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن غريب.

د حضرت عمران بن حصين رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ صحابه كرامو ته لمونځ وركړ او هيره ئېني وسول بيا يې دوې سجدې وكړې بيا يې تشهد وويل او سلام يې وګرځوى. ترمذي ويلي دي چې دغه حديث حسن غريب دى.

تخريج: سنن الترمذي: ۲\۲۴۰- ۲۴۱، رقم: ۳۹۵.

تشريح: د حضرت عمران رحمة الله عليه قول فسجد سجدتين مطلب دادى چې رسول ﷺ د سلام ګرځولو سره دوې سجدې وكړې څرنګه چې د دريم فصل د اول حديث څخه چې د هغوى روايت دى په وضاحت سره معلوميږي.

په دې حديث كې د لمانځه هغه اركان نه دي ذكر سوي چې د هغه په باره كې رسول الله ﷺ ته سهوه وسوه او رسول الله ﷺ څخه د هغه اداكول هير سول او په دې حديث كې سجده سهو

وروسته د تشهد ويلو ذكر سوې ده كله چي په نورو روايتونو كي د تشهد ذكر نسته.

د حضرت عمران رضي الله عنه د هغه روايت په رڼا كي چي په دريم فصل كي به راسي دا حديث د حنفيه مذهب دليل دى چي مخكي په سلام ګرځولو سره سجده سهو كول پكار ده همداسي د امام احمد رحمة الله عليه مذهب دادى بلكه د شافعيانو او مالكيانو ځينو حضراتو هم دا دليل دى په دې مسئله كي د علماؤ اختلاف دى چي د درود او دعاء چي په التحيات كي ويل كيږي هغه په تشهد كي ويل پكار دي كوم چي د سجدې سهو مخكي دي يا د سجده سهو وروسته په تشهد كي ويل پكار دي امام كرخي رحمة الله عليه خو دا اختيار كړى دى چي درود او دعاء دي د سجده سهو وروسته په تشهد كي ويل پكار دي او په هدايه كي هم دې ته صحيح ويل سوي دي البته د هدايې په ځينو شرحو كي دا ويل سوي دي چي د سجده سهو مخكي په تشهد كي ويل ہې پكار دي شيخ ابن همام رحمة الله عليه هم د مام طحاوي رحمة الله عليه د قول په تائيد كولو سره ويلي دي چي احتياط په دې كي دى. د حنفيه په معمول كي دا ښودل سوي دي چي د التحيات ويلو وروسته راسته خواته دي سلام وګرځول سي د هغه وروسته دي د سهوي دوې سجدې وكړي د هغه وروسته دي دوهم وار التحيات او بيا درود شريف او په دعا ويلو سره سلام وګرځول سي.

﴿۹۵۴﴾: وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا

د حضرت مغيرة بن شعبة رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هر كله چي

قَامَ الْإِمَامُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ فَإِنْ ذَكَرَ قَبْلَ أَنْ يَسْتَوِيَ قَائِمًا فَلْيَجْلِسْ وَإِنِ

امام دوه ركعته وكړي او ودريږي (يعني ناسته ونه كړي) او ددې څخه مخكي چي اوس لا سيده دريدلى نه وي او د هغه په ياد سي نو هغه دي كښيني او كه

اسْتَوَى قَائِمًا فَلَا يَجْلِسْ وَيَسْجُدُ سَجْدَتَيِ السَّهْوِ. رواه أبو داود وابن ماجه

سيده دريدلى وي نو نه دي كښيني او دوې سجدې د سهوي دي وكړي. ابوداؤد او ابن ماجه.

تخريج: سنن ابي داؤد: ۱\۶۲۹، رقم: ۱۰۳۶ وابن ماجه: ۱\۳۸۱، رقم: ۱۲۰۸.

تشريح: ددې حديث څخه دا خبره معلومه سوه چي په مذكوره صورت كي معتبر په پوره توګه سره دريدل دي يا په پوره توګه سره دريدل نه دي په دې اړه د حنفيه مذهب دادى كه داسي سړى ناستي ته ډير نژدې يي نو كښېنستل پكار دي او التحيات دي ووايي او كه دريدو ته ډير نژدې وي نو نه دي كښيني بلكه خپل پاته دوه ركعته دي پوره كړي.

د زياتي نژدې ناستي څخه مطلب دادی چي د ولاړيدو وخت د هغه لاندي بدن مثلا پښه وغيره سيده نسي او که لاندي بدن يې سيده سي نو دريدو ته به زيات نژدې وي.

شيخ ابن الهمام رحمة الله عليه ويلي دي د نژدې کيدو په اړه د امام ابويوسف رحمة الله عليه هم يو روايت دی چي د بخاري مشائخ اختيار کړی دی خو څرنګه چي پورته وښودل سوه صحيح مذهب دادی چي تر څو پوري ونه دريږي نو کښېنستلای سي د پوره دريدو په صورت کي کښېنستل نه دي پکار، دا قول صحيح دی او ددې تائيد دا حديث هم کوي که يو سړی د دريدو څخه مخکي د قعدې لپاره ودريږي نو د هغه لپاره د سجده سهو ضرورت نسته هو که سړی پوره ودريږي او اوله قعده پاته سي نو هغه به سجده سهو کوي په دې اړه په دې خبره باندي نور پوه سه چي کله يو سړی په اوله قعده کي د ناستي پرته د دريم رکعت لپاره ودريږي نو اوس هغه ته کښېنستل نه دي پکار ځکه که هغه کښيني نو د هغه لمونځ به مات سي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

﴿۹۵۵﴾: وَعَنْ عِمْرَانَ ابْنِ حُصَيْنٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى

د حضرت عمران بن حصين رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ لمونځ ورکړ

الْعَصْرَ فَسَلَّمَ فِي ثَلَاثِ رَكَعَاتٍ ثُمَّ دَخَلَ مَنْزِلَهُ فَقَامَ إِلَيْهِ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ

د مازديګر او پر درې رکعته يې سلام وګرځوی او خپل کورته ولاړی يو سړی چي د هغه نوم

الْخِرْبَاقُ وَكَانَ فِي يَدَيْهِ طُولٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَذَكَرَ لَهُ صَنِيعَهُ وَخَرَجَ

خرباق وو او د هغه لاسونه اوږده وه هغه ودريدی او وه يې ويل اې د الله رسوله! د دې په ويلو سره هغه پېښه بيان کړه، رسول الله ﷺ دباندي راووتی.

غَضْبَانَ يَجُرُّ رِدَاءَهُ حَتَّى انْتَهَى إِلَى النَّاسِ فَقَالَ أَصَدَقَ هٰذَا قَالُوا نَعَمْ

په غضبناک حالت کي چي څادر يې په ځان پسي راکشوی، صحابه کرامو ته راغلی او پوښتنه يې وکړه ايا دی رښتيا وايي؟ صحابه کرامو وويل: هو،

فَصَلَّى رَكْعَةً ثُمَّ سَلَّمَ ثُمَّ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ. رواه مسلم

نو رسول اللہ ﷺ یو رکعت ورکړ بیا یې سلام وګرځوی او دوې سجدې یې وکړې بیا یې سلام وګرځوی. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم: ۱\ ۴۰۴- ۴۰۵، رقم: ۱۰۱- ۵۷۴.

تشریح: رسول اللہ ﷺ د درو رکعتو وروسته د سلام ګرځولو سره کورته تشریف یووړ او د هغه ځای څخه یې تشریف راوړ په دې دوران کې د قبلې خواته هم مخ مبارک وګرځوی خبري یې هم وکړې او زیات تلل هم وسول مګر ددې سربیره رسول اللہ ﷺ د سره لمونځ نه وکړ بلکه یوازې یو رکعت چې پاته سو هغه یې وکړ نو دا کارونه د سهوا کیدو باوجود هم د حنفیه په مذهب کې لمونځ ماتونکې دې ځکه د حنفیه د خوا ددې حدیث توجیه داسې کیږي چې په لمانځه کې د خبرو په ډول دا هم منسوخ دی یعني دا افعال او کلام دې د دمخکې څخه په لمانځه کې جائز وه بیا وروسته منسوخ سوه او دا واقعه د جواز منسوخ کیدو مخکې ده.

خرباق د هغه ذوالیدین نوم دی چې د هغه حدیث د دې څخه مخکې په څلورم نمبر حدیث کې تیر سو په ښکاره دا معلومیږي چې دا واقعه کوم چې په دې حدیث کې ذکر سوه او هغه واقعه چې په جدیث نمبر څلورم کې ذکر سوه دواړې یو دي لیکن په دې حدیث او هغه حدیث کې په ځینو خبرو کې اختلاف دی ځکه علماء لیکي چې دا دواړې یوه واقعه نه ده بلکه جلا جلا واقعې دي او په دواړو واقعو کې رسول اللہ ﷺ سره خبري کونکی ذوالیدین خرباق وو.

ددې حدیث د اخري جملې څخه دا خبره په وضاحت سره معلومه سوه چې رسول اللہ ﷺ مخکې سلام وګرځوی بیا یې سجده سهو وکړه د هغه وروسته د سلام ګرځولو سره یې لمونځ پوره کړ، علامه طیبي رحمۃ اللہ علیہ ویلي دي دا مذهب د امام اعظم ابو حنیفه رحمۃ اللہ علیہ دی د هغوی په نزد د سلام وروسته د سهوي دوې سجدې زیاتي او د تاوان له کبله کیږي د هغه وروسته تشهد ویل کیږي او بیا سلام ګرځول کیږي.

په لمانځه کې د شک واقع کېدو په صورت کې څه کول پکار دي؟

(۹۵۶): وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت عبد الرحمن[1] بن عوف رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چې ما د رسول اللہ ﷺ څخه اوریدلي دي

[1] - د نوموړي نوم عبد الرحمن او کنیت یې ابو محمد دی، د قریش د یو ښاخ بنو زهره کې پیدا سوی دی، کومو لسو صحابه کرامو ته چې رسول اللہ ﷺ د جنت زیرې ورکړی وو په هغوی کې عبد الرحمن هم دی، د تبوک په غزا کې رسول اللہ ﷺ لمونځ هم ورپسې کړی دی، د (۷۲) کالو په عمر په (۳۲ھ) کال کې وفات سوی دی.

وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ صَلّٰى صَلاَةً يَشُكُّ فِي النُّقْصَانِ فَلْيُصَلِّ حَتّٰى يَشُكَّ فِي الزِّيَادَةِ. رواه أحمد.

چي فرمايل يې: چا چي لمونځ وکړ او هغه ته شک پيدا سو چي لمونځ يې کم کړی دی نو هغه دې نور وکړي تر دې چي د زياتوب شک يې پيدا سي. احمد

تخريج: الامام احمد في مسنده ۱\۱۹۵.

تشريح: مطلب دادی چي د شک راتلو په صورت کي يوې خوا ته غالب گمان نه وي او شک هم په کمي کي واقع وي مثلا په ځلور رکعته والا لمانځه کي شک سي چي معلومه نه ده درې رکعاته يې کړي دي که ځلور نو داسي سړي ته پکاره ده چي هغه په زياتوب کي شک وکړي يعني کم عدد اختيار کړي څرنگه چي په پورتني صورت کي په درو رکعتونو اختيار ولو سره يو رکعت نور وکړي چي اوس د کمي د شک پر ځاي د زياتوب شک سي چي نه ده معلومه ځلور رکعته يې کړي دي که پنځه.

د رسول الله ﷺ څخه په لمانځه کي څو ځايه سهوه سوې وه؟

په لمانځه کي د رسول الله ﷺ څخه څو ځايه سهوه سوې وه اول په اوله قعده کي سهوه ځيني سوې وه څنگه چي د عبدالله ابن بحينه رضی الله عنه په روايت نمبر پنځم کي ذکر سوه، دوهمه سهوه په اخري دوو رکعتونو کي سوې وه لکه څرنگه چي د ذواليدين په واقعه ځلورم حديث کي ذکر سول، دريمه سهوه په اخري رکعت کي سوې وه لکه څرنگه چي د خرباق والا په حديث نمبر اتم کي تيره سوه، ځلورمه سهوه رسول الله ﷺ ته د پنځم رکعت په زياتوب کي وسوه لکه څنگه چي د عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه په حديث نمبر دريم کي تيره سوه نو علماء مجتهدين د رسول الله ﷺ پر عمل د قياس کولو سره دا کليه جوړه کړه که په لمانځه کي د يو سړي څخه د لمانځه په واجباتو کي سهو وسي نو پر هغه سجده سهو واجب کيږي.

په دې لړ کي چي څو مره حديثونه تير سوه د هغه څخه هم دا معلومه سوه چي رسول الله ﷺ د سهو کيدو په صورت کي پر ځينو وخونو باندي خو سجده سهو د سلام څخه مخکي وکړه او پر ځينو وختونو باندي د سلام گرځولو وروسته يې وکړه نو د رسول الله ﷺ عمل دواړه ډوله وو ځکه داسي چي وويل سي چي دواړي طريقې جائز دي ليکن امامان په دې اړه د خپل خپل اجتهاد مطابق جلا جلا صورت مقرر کړی دی.

د سجده سهو د وخت په باره کي د امامانو مذهب

څرنګه چي د امام شافعي رحمة الله عليه مذهب دادی چي پر هر وخت باندي سجده سهو د سلام کولو څخه مخکي کول پکار ده همداسي هغه حديثونه چي د هغه څخه د سلام ګرځولو څخه مخکي سجده سهو کول ثابتيږي پر هغو حديثو باندي چي د هغه څخه د سلام کولو وروسته سجده سهو کول ثابتيږي ترجيح ورکوي .

د امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه مذهب دادی چي پر ټولو ځايو باندي د سلام ګرځولو سره سجده سهو کول پکار ده ځکه چي د دې ثبوت کي ډير زيات حديثونه وارد دي او دا چي ابوداود ابن ماجه احمد او عبدالرازق رحمة الله عليه د ثوبان ﷺ دا روايت نقل کړی دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل د هري سهوي لپاره د سلام ګرځولو وروسته دوې سجدې دي نو کله چي رسول الله ﷺ عمل متضاد روايت دی چي کله د رسول الله ﷺ د سلام ګرځولو څخه مخکي سجده کړې ده او کله د سلام ګرځولو وروسته نو په داسي صورت کي امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه د رسول الله ﷺ قول د دليل په توګه اختيار کړ ځکه چي د هغوی په نزد د قول د فعل څخه قوي دی څرنګه چي په اصول فقه کي ذکر دی .

د امام احمد رحمة الله عليه مذهب دادی چي پر کوم وخت باندي رسول الله ﷺ څخه مخکي سجده کړې ده پر هغه وخت باندي د سلام کولو څخه مخکي سجده کول پکار ده او پر کوم وخت باندي چي د سلام ګرځولو وروسته دي سجده وکړي علماء ليکي چي د امام احمد رحمة الله عليه د قول تر ټولو زيات قوي او غوره دی، .په دې خبره باندي نور پوه سی چي د سجده سهو په باره کي د ټولو اختلافاتو چي سجده سهوه د سلام څخه وروسته کول پکار ده يا مخکي، صرف د فضيلت متعلق دي يعني د ځينو امامانو په نزد د سلام څخه وروسته سجده کول زيات غوره ده او د ځينو په نزد د سلام څخه مخکي غوره ده، او کوم چي د دې جواز تعلق دی لکه څرنګه چي د څلورو امامانو د کتابو څخه معلوميږي ټول پر دې خبره متفق دي چي جائز دواړه ډوله دي ، په هدايه کي ليکلي دي چي زيات صحيح قول دادی چي دواړو خواوو ته په سلام ګرځولو سره سجده سهوه کول پکار ده .

========

بَابُ سُجُوْدِ الْقُرْاٰنِ

په قرآن کریم کي د سجده تلاوت بیان

د امام اعظم ابو حنیفة رحمة الله علیه د مذهب سره سم په قرآن کریم کي څورلس آیاتونه داسي دي چي د هغه په ویلو او اورېدلو سره که څه هم اورېدل په قصد سره نه وي یوه سجده واجبېږي، د دې آیاتونو تفصیل به انشاء الله مخته راسي.

د نورو امامانو په نزد سجده تلاوت واجب نه بلکه سنت ده، سجده تلاوت یوازي یو وارد دوو تکبیرو په مینځ کي (یعني یو تکبیر سجدې ته د تلو په وخت کي او یو تکبیر د سجدې څخه د راپورته کېدو په وخت کي) کول کیږي، د دې سجدې لپاره د لاسو پورته کول، تشهد او د سلام ضرورت نسته.

د سجده تلاوت د صحیح کېدو هغه ټول شرطونه دي کوم چي د لمانځه د صحیح کېدو دي یعني پاکي، د ستر پټول، نیت او قبلې ته مخامخ کېدل، لیکن تکبیر تحریمه په دې کي شرط نه ده، د دې په نیت کي د آیت تعین شرط نه دی چي دا سجده د فلاني آیت لپاره ده، که چیري په لمانځه کي د سجدې آیت وویل سي او سمدستي سجده وکړل سي نو نیت هم شرط نه دی.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د سورة النجم سجده

﴿۹۵۷﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ سَجَدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالنَّجْمِ وَسَجَدَ مَعَهُ الْمُسْلِمُوْنَ وَالْمُشْرِكُوْنَ وَالْجِنِّ وَالْإِنْسِ. رواه البخاري.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د سورة والنجم سجده وکړه او د رسول الله ﷺ سره مسلمانانو، مشرکانو، پیریانانو او انسانانو هم سجده وکړه. بخاري

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۲\۵۵۳، رقم: ۱۰۷۱.

تشریح: رسول الله ﷺ د سورة نجم په تلاوت کولو سره د سجدې آیت:

فَاسْجُدُوا لِلّٰهِ وَاعْبُدُوا ٦٢. سورة النجم

ژباړه: نو سجده وکړئ الله تعالی ته او د هغه عبادت وکړئ.
ته چي کله ورسیدی نو رسول الله ﷺ د الله تعالی ددغه حکم د فرمانبرداری په وجه سجده وکړه، رسول الله ﷺ چي کله سجده وکړه نو ټولو مسلمانانو هم د رسول الله ﷺ په پیروي کي سجده وکړه، همداسي مشرکینو هم د خپلو بتانو یعني لات، منات او عزم نوم واوریدی نو هغو هم سجده وکړه، یا د مشرکینو د سجدې سبب دا وو چي رسول الله ﷺ په مکه کي په مسجد الحرام کي د ننه کله چي د سورة نجم دغه آیاتونه:

أَفَرَأَيْتُمُ اللاَّتَ وَالْعُزَّى ١٩ وَمَنَاةَ الثَّالِثَةَ الأُخْرَى ٢٠ أَلَكُمُ الذَّكَرُ وَلَهُ الأُنثَى ٢١

ژباړه: ایا تاسو خلکو لات او عزی ولیدی او دریم منات ایا ستاسو لپاره زامن دي او د خدای لپاره لوښي دي.
کله چي رسول الله ﷺ دغه آیت ووایه نو شیطان ملعون خپل آواز د رسول الله ﷺ د آواز سره مشابه جوړولو سره وویل:

تلك الغرانيق العلى وان شفاعتهن لترجى

ژباړه: دا بتان لوړي مرغابي دي او بیشکه د دوی شفاعت امیدوار دی.
مشرکینو دا وګڼل چي (نعوذبالله) رسول الله ﷺ زموږ د بتانو تعریف وکړ په دې سره هغوی ډیر زیات خوشحال سول کله چي رسول الله ﷺ سجده وکړه نو هغوی هم سجده وکړه.
ځینو مفسرینو ددې دا تفسیر کړی دی چي دا الفاظ شیطان نه وه ادا کړي بلکه نعوذبالله د رسول الله ﷺ د ژبي مبارکي څخه سهوا ویل سوي وه، دا قول بالکل غلط او ذهني اختراع ده، حقیقت دادی چي شیطان ملعون خپل آواز د رسول الله ﷺ د آواز سره مشابه جوړولو سره دا الفاظ ادا کړل چي په هغه سره مشرکینو دا وګڼل چي خپله محمد ﷺ دا الفاظ ادا کوي.
په حدیث کي د مسلمانانو، مشرکانو، جناتو او ټولو انسانانو څخه مراد هغه دي چي رسول الله ﷺ سره هغه وخت موجود وه، لفظ د انس تعمیم بعد تخصیص دی.

د سورة انشقاق او سورة علق سجدې

﴿۹۵۸﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَجَدْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ وَاقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ. رواه مسلم

د حضرت ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چي موږ د نبي کریم ﷺ سره په (اذا السماء انشقت او

اقراء باسم ربک) کي سجده کړې ده. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۴۰۶، رقم: ۱۰۸- ۵۷۸.

تشريح: په دې حديث سره د امام مالک رحمة الله عليه د هغه قول رد کيږي چي په مفصل کي سجده نسته.

سجده تلاوت واجب ده

﴿۹۵۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ

د حضرت ابن عمر ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به تلاوت کاوه

(اَلسُّجْدَةَ) وَنَحْنُ عِنْدَهُ فَيَسْجُدُ وَنَسْجُدُ مَعَهُ فَنَزْدَحِمُ حَتّٰى مَا يَجِدُ

د سجدې آيت او موږ به ورسره موجود وو ، رسول الله ﷺ به هم سجده کول او موږ به هم سجده کوله او دومره ګڼه ګوڼه به سول چي په موږ کي به ځينو ته د سجدې کولو ځای نه پيدا کېدی

أَحَدُنَا لِجَبْهَتِهِ مَوْضِعًا يَسْجُدُ عَلَيْهِ . متفق عليه

چي خپل تندی پر کښيږدو .بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۵۵۷، رقم: ۱۰۷۶، ومسلم ۱\۴۰۵، رقم: ۱۰۴- ۵۷۵.

تشريح: مطلب دادی چي کله به رسول الله ﷺ د سجدې يو ايت تلاوت کوی نو پر وخت به د رسول الله ﷺ د سجدې کولو لپاره دومره زيات خلک وه چي د ځای تنګي په وجه به ځينو خلکو ته رسول الله ﷺ سره سجده کول هم نه نصيب کيدل او هغو خلکو به بيا وروسته سجده کول .

دا حديث پر دې خبره دلالت کوي چي سجده تلاوت واجب ده که د تلاوت سجده واجب نه وي نو د خلکو به دومره زيات ګڼه ګوڼه ولي وای . پر داسي وخت باندي کله چي تلاوت کونکي سره خلک ناست وي او د هغه تلاوت اوري نو د سجدې يو ايت ويلو وروسته د سجدې کولو په اړه سنت دادی چي تلاوت کونکی سړی دي مخکي سي تلاوت اوريدونکی دي په هغه پسي صف وتړي همداسي ټول خلک دي سجده وکي د اقتداء صورة د حقيقة اقتداء نه ده .

په سورة النجم کي سجده نه کول

﴿۹۶۰﴾: وَعَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ قَرَأْتُ عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

(وَالنَّجْمِ) فَلَمْ يَسْجُدْ فِيهَا. متفق عليه.

د حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ په مخکي سورة والنجم وو ايه، رسول الله ﷺ سجده ونه کړل. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٢\٥٥٤، رقم: ١٠٧٢ ومسلم: ١\٤٠٦، رقم: ١٠٦- ٥٧٧.

تشريح: د امام شافعي رحمة الله عليه له خوا ويل سوي دي چي رسول الله ﷺ په دې موقع سره په نجم كي سجده د بيان جواز لپاره ونه کړه امام مالک رحمة الله عليه فرمايي مفصل کي سجده نسته ځکه چي رسول الله ﷺ سجده ونه کړه او د امام اعظم رحمة الله عليه لخوا ددې حديث توجيه داسي بيانيږي يا خو رسول الله ﷺ پر داسي وخت باندي سجده ځکه نه وکړه چي هغه وخت رسول الله ﷺ په اوداسه کي نه وو يا دا چي دغه وخت د کراهت وو يا نبي کريم ﷺ ددې وجهي سجده پريښودل چي خلکو ته معلومه سي چي سجده سهو فرض نه ده ددې شيانو پرته داهم ويل کيداي سي چي سجده سهو في الفور يعني سمدستي واجب نه ده ځکه کيداي سي چي رسول الله ﷺ هغه وخت خو سجده نه وه کړې البته وروسته بې څه وخت کړې وه نو ددې څخه دي ثوک دا نه ګڼي چي د سورة نجم سجده واجب نه ده ځکه چي ددې څخه مخکي په يوه حديث کي په وضاحت سره تير سوی دی چي خپله رسول الله ﷺ او نورو خلکو هم په سورة نجم سجده کړې ده.

د سورة ص سجده

﴿٩٦١﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: سَجْدَةُ (ص) لَيْسَ مِنْ عَزَائِمِ السُّجُوْدِ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چي د سورة (ص) سجده د تاکيدي سجدو څخه نه ده

وَقَدْ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْجُدُ فِيهَا. وَفِيْ رِوَايَةٍ قَالَ مُجَاهِدٌ

او ما رسول الله ﷺ د دې سورت په سجده کولو ليدلی او په يوه روايت کي راځي چي مجاهد بيان وکړ

قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ أَأَسْجُدُ فِيْ (ص) فَقَرَأَ (وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِ دَاوُدَ وَسُلَيْمَانَ) حَتّٰى أَتٰى

ما د ابن عباس رضي الله عنهما څخه پوښتنه وکړه چي آيا زه په سورة ص کي سجده وکړم؟ ابن عباس رضي الله عنهما دا آيت تلاوت وکړ (ومن ذريته .....)

(فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ) فَقَالَ نَبِيُّكُمْ ﷺ مِمَّنْ أُمِرَ أَنْ يَّقْتَدِيَ بِهِمْ. رواه البخاري

بيا يې وويل ستاسو نبي كريم ﷺ د دې خلكو څخه دی چې هغوی ته حكم وركړل سوی دی چې هغوی د انبياؤو پيروي وكړي .بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۶\۴۵۶، رقم: ۳۴۲۱.

تشريح: ليس من عزائم السجود : يعني د ډير تاكيدي سجدو څخه نه ده ددې مطلب د فقه حنفيه له مخي دادی چې دا سجده د فرائضو څخه نه بلكه د واجباتو تلاوت نه ده .

علماء ليكي چې په سورة ص كي د رسول الله ﷺ سجده كول د حضرت داود عليه السلام موافقت او د هغوی د توبې قبوليت د شكر په توګه وو .

ابن عباس رضي الله عنه د مجاهد رحمه الله د سوال په جواب كي مخكي ايت ووايه د هغه څخه ددې خبري دليل وركول مقصود وه چې رسول الله ﷺ د هغو خلكو څخه دی چې هغوی ته د سابقه انبياء د پيروي حكم وركړل سوی دی د ابن عباس رضي الله عنه د جواب مطلب دادی چې څرنګه رسول الله ﷺ ته د هغوی د پيروي حكم وركړل سوی دی نو بطريق اولی د هغوی پيروي كول پكار ده چې كوم وخت حضرت داود عليه السلام سجده وكړه او رسول الله ﷺ هم د هغوی په پيروي كي سجده وكړه نو مونږ ته پكار ده چې مونږ هم سجده وكړو .

اَلْفَصْلُ الثاني (دوهم فصل)

په قرآن كريم كي ټولي سجدې څو دي ؟

﴿۹۶۲﴾: عَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ أَقْرَأَنِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ هغه ته په قرآن كريم كي و ښودلې

خَمْسَ عَشْرَةَ سُجْدَةً فِي الْقُرْآنِ مِنْهَا ثَلَاثٌ فِي الْمُفَصَّلِ وَفِيْ سُوْرَةِ الْحَجِّ سَجْدَتَيْنِ . رواه أبو داود وابن ماجه .

پنځلس سجدې چې په هغو كي درې په مفصل (سورتو) كي دي او په سورة حج كي دوې سجدې دي . ابوداؤد او ابن ماجه .

تخريج: سنن ابي داوٗد ۱۲٠\۲، رقم: ۱۴٠۱، وابن ماجه ۳۳۵\۱، رقم: ۱٠۵۷.

تشريح: د مشكوة شريف په ځينو نسخو كي د لفظ اقراة پر ځای لفظ اقرءاني دی يعني رسول

الله ﷺ ماته حکم وکړ چي زه د هغوی سجدې ووايم ددې حديث سره سم د قرآن کريم پنځلس اياتونه داسي دي چي د هغه ويلو او اوريدلو سره يوه سجده واجب کيږي ددې اياتونو تفصيل دادی.

۱. د سورة اعراف په آخر کي دا آيت:

إِنَّ الَّذِينَ عِندَ رَبِّكَ لاَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِهِ وَيُسَبِّحُونَهُ وَلَهُ يَسْجُدُونَ ۲۰۶. [۱]

ژباړه: کوم کسان چي (يعني ملائکي) چي ستا د رب سره دي هغوی د هغه د عبادت څخه غرور او انکار نه کوي او د هغه سجده کوي.

۲. د سورة رعد په دوهمه رکوع کي دا آيت:

وَلِلّهِ يَسْجُدُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَظِلالُهُم بِالْغُدُوِّ وَالآصَالِ ۱۵. [۲]

ژباړه: هغه ټول شيان چي په آسمانو او مځکه کي دي الله تعالی ته سجده کوي که په خوښي وي يا په ناخوښي او د هغوی سايه سهار او ماښام.

۳. د سورة نحل د پنځمي رکوع د آخر دا آيت:

وَلِلّهِ يَسْجُدُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الأَرْضِ مِن دَآبَّةٍ وَالْمَلآئِكَةُ وَهُمْ لاَ يَسْتَكْبِرُونَ ۴۹ يَخَافُونَ رَبَّهُم مِّن فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ ۵۰ . [۳]

ژباړه: او ټول ساه لرونکي چي په آسمانو کي دي او په مځکه کي دي ټول د الله تعالی په وړاندي سجده کوي او ملائکي هم او هغوی د ذرې غرور هم نه کوي او د خپل پروردګار څخه چي د هغوی سرپيره دی بيريږي او هغوی ته چي کوم حکم ورکول کيږي هغوی عمل په کوي.

۴. د سورة بني اسرائيل په دوولسمه رکوع کي دا آيت:

وَيَخِرُّونَ لِلأَذْقَانِ يَبْكُونَ وَيَزِيدُهُمْ خُشُوعًا ۱۰۹ . [۴]

ژباړه: او هغوی پرمخي غورځي او ژاړي او ددې څخه د هغوی نوره زياته عاجزي پيدا کيږي (دا د هغه خلکو يادونه ده چي د رسول الله ﷺ څخه مخکي ايمان والا وه).

۱- په دې آيت کي پر (له يسجدون) باندي سجده ده.
۲- په دې آيت کي پر (بالغدو والاصال) باندي سجده ده.
۳ په دې آيت کي پر (و يفعلون ما يؤمرون) باندي سجده ده
۴ په دې آيت کي پر (و يزيدهم خشوعا) باندي سجده ده.

۵. د سورة مريم په څلورمه ركوع كي دا آيت:

إِذَا تُتْلَى عَلَيْهِمْ آيَاتُ الرَّحْمَنِ خَرُّوا سُجَّدًا وَبُكِيًّا ۵۸ . [۱]

ژباړه: هر كله چي پر هغوى د رحمان آياتونه ويل كيږي نو په ژړا سره پر سجده پريوځي (دا د انبياؤ او د هغوى د اصحابو حال بيان سوى دى).

٦. د سورة حج په دوهمه ركوع كي دا آيت:

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يَسْجُدُ لَهُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَمَن فِي الْأَرْضِ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ وَالنُّجُومُ وَالْجِبَالُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَابُّ وَكَثِيرٌ مِّنَ النَّاسِ وَكَثِيرٌ حَقَّ عَلَيْهِ الْعَذَابُ وَمَن يُهِنِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِن مُّكْرِمٍ إِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يَشَاءُ . [۲]

ژباړه: ايا ته و نه ليدل چي كوم مخلوق په آسمانو او مځكه كي دى او لمر او سپوږمۍ او غرونه او درختي او حيوانان او ډير انسانان الله تعالى ته سجده كوي او ډير كسان داسي دي چي پر هغوى عذاب ثابت سوى دى او الله تعالى چي كوم څوك ذليل كړي هغه ته هيڅوک عزت نسي وركولاى بيشكه چي الله تعالى څه غواړي هغه كوي.

۷. د سورة حج د آخري ركوع دا آيت:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ارْكَعُوا وَاسْجُدُوا وَاعْبُدُوا رَبَّكُمْ وَافْعَلُوا الْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ۷۷ . [۳]

ژباړه: اې مؤمنانو! خپل پروردګار ته ركوع او سجده كوئ او د خپل پروردګار عبادت كوئ او د خير كارونه كوئ چي خلاصون تر لاسه كړئ.

۸. د سورة فرقان د پنځمي ركوع دا آيت:

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اسْجُدُوا لِلرَّحْمَنِ قَالُوا وَمَا الرَّحْمَنُ أَنَسْجُدُ لِمَا تَأْمُرُنَا وَزَادَهُمْ نُفُورًا ٦٠ . [٤]

ژباړه: او كله چي دغه (د عربو كافرانو) ته وويل سي چي رحمان ته سجده وكړئ نو وايي چي رحمان څه شي دى ايا موږ هغه چا ته سجده وكړو چا ته چي تاسو وايا ست او زموږ نفرت زياتيږي.

۹. د سورة نمل په دوهمه ركوع كي دا آيت:

---

[۱] په دې آيت كي پر (سجدا و بكيا) باندي سجده ده.

[۲] په دې آيت كي پر (يسجد له) باندي سجده ده، مګر د پوره آيت ويلو وروسته سجده ده.

[۳] په دې آيت كي پر (لعلكم تفلحون) باندي سجده ده.

[٤] په دې آيت كي پر (و زادهم نفورا) باندي سجده ده.

أَلاَّ يَسْجُدُوا لِلَّهِ الَّذِي يُخْرِجُ الْخَبْءَ فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَيَعْلَمُ مَا تُخْفُونَ وَمَا تُعْلِنُونَ ٢٥ اللَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ ٢٦ .[1]

ژباړه : (او نه پوهیږي) چي الله تعالی ته چي په آسمانو او مځکي کي پټ شیان راوباسي او ستاسو پټ او ظاهر اعمال پیژني ولي سجده ونه کړي ، د الله تعالی څخه بل څوک د عبادت وړ نسته هغه د لوی عرش څښتن دی .

۱۰. د سورة الم تنزیل السجده په دویمي رکوع کي دا آیت :

إِنَّمَا يُؤْمِنُ بِآيَاتِنَا الَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا بِهَا خَرُّوا سُجَّدًا وَسَبَّحُوا بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَهُمْ لاَ يَسْتَكْبِرُونَ ١٥ .[2]

ژباړه : زموږ پر آیاتونو باندي هغه خلک ایمان راوړي کله چي هغوی ته هغه آیاتونه یاد سي نو پر سجده پریوځي او د الله تعالی حمد او ثناء بیانوي او دا خلک غرور نه کوي .

۱۱. د سورة ص په دوهمه رکوع کي دا آیت :

وَخَرَّ رَاكِعًا وَأَنَابَ ٢٤ فَغَفَرْنَا لَهُ ذَلِكَ وَإِنَّ لَهُ عِندَنَا لَزُلْفَى وَحُسْنَ مَآبٍ ٢٥ .[3]

ژباړه : او (داؤد علیه السلام) پر سجده پریوتی او توبه یې وکښل نو موږ هغه و بخښی او بیشکه زموږ سره د هغه تقرب او ښه مقام دی .

۱۲. د سورة حم السجده په پنځمه رکوع کي دا آیت :

فَإِنِ اسْتَكْبَرُوا فَالَّذِينَ عِندَ رَبِّكَ يُسَبِّحُونَ لَهُ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَهُمْ لاَ يَسْأَمُونَ ٣٨ .[4]

ژباړه : که دا خلک سرکښي وکړي نو (د الله تعالی هیڅ پرواه نسته) کومي ملائکي چي ستا د پروردګار سره دي هغوی شپه او ورځ د هغه تسبیح کوي او هیڅکله نه ستړي کیږي .

۱۳. د سورة نجم په آخر کي دا آیت :

فَاسْجُدُوا لِلَّهِ وَاعْبُدُوا ٦٢ .[5]

ژباړه : سجده کوئ او د الله تعالی عبادت کوئ .

---

[1] په دي آیت کي د حضرت سلیمان علیه السلام واقعه بیان سوې ده او دلته پر (رب العرش العظیم) او د ځینو په نزد پر (لعلکم تغلبون) باندي سجده ده .

۲ - په دغه آیت کي پر (لا یستکبرون) باندي سجده ده .

۳ په دې آیت کي پر (وحسن ماب) باندي سجده ده .

۴ په دې آیت کي پر (لا یسئمون) باندي سجده ده ، یا پر (تعبدون) باندي سجده ده .

۵ په دې آیت کي پر (واعبدوا) باندي سجده ده

۱۴. په سورة انشقت کي دا آيت :

فَمَا لَهُمْ لاَ يُؤْمِنُونَ ٢٠ وَإِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْآنُ لاَ يَسْجُدُونَ ٢١ .[1]

ژباړه : نو دغه خلکو ته څه سوي دي چي ايمان نه راوړي او کله چي د دوی په وړاندي قرآن کريم وويل سي نو سجده نه کوي ·

۱۵. په سورة اقرا کي دا آيت :

وَاسْجُدْ وَاقْتَرِبْ ١٩ .[2]

ژباړه : (اې محمد ﷺ!) سجده وکړه او الله تعالی ته نژدې سه ·

د امامانو په نزد د سجدو شمېر

د امامانو په نزد دلته په دې خبري کي اختلاف دی چي په قرآن کريم کي څومره اياتونه داسي دي چي د هغو په ويلو او اوريدلو سره سجده تلاوت واجب کيږي، امام احمد رحمة الله عليه ددې حديث سره سم ويلي دي چي داسي اياتونه پنځلس دي چي د هغه تفصيل پورته ذکر سوی دی نو هغوی ددې حديث په ښکاره عمل کړی دی ·

د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد دلته د ايت سجده شمير څوارلس دی، همداسي په سورة حج کي دوې سجدې دي او په سورة ص کي هيڅ سجده نسته د امام مالک رحمة الله عليه په نزد د آيت د سجدو شمير يوولس دي هغه وايي چي سورة ص، سورة نجم ،سورة انشقت او په سور اقرا کي سجده نسته، د امام شافعي رحمة الله عليه قديم قول هم دا دی ·

امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه فرمايي چي د ټولو سجدو شمير څوارلس دی داسي چي په سورة حج کي دوې سجدې نه دي بلکه يوه سجده ده چي په دويمي رکوع کي ده ·

علماء ليکي چي د عمرو ابن العاص رضي الله عنه دا حديث چي د هغه څخه د سجدو شمير ثابتيږي ضعيف دی او دا دليل جوړول صحيح نه دی ځکه چي ددې ځيني راويان مجهول دي ·

د علماؤ پر دې خبره باندي اختلاف دی چي په فرض لمانځه او نفل لمانځه کي که د سجدې يو ايت وويل کړل سي نو په لمانځه کي دې سجده وکړل سي يعني کومه سجده تلاوت چي په لمانځه کي واجب سي هغه دي د لمانځه څخه دباندي نه ادا کوي ، د سجدې ايت که په

[1] په دې آيت کي پر (لا يسجدون) باندي سجده ده .

[2] په دې آيت کي پر (واقترب) باندي سجده ده .

فرض لمانځه کي وويل سي نو د هغه په سجده کي د لمانځه په ډول سبحان ربي الاعلى ويل بهتر دي او که په نفل لمانځه کي وي يا د لمانځه څخه دباندي وويل سي نو د هغه په سجده کي اختيار دی چي سبحان ربي الاعلى وويل سي يا نور تسبيحات کوم چي په احاديثو کي وارد دي وويل سي مثلاً دا تسبيح : سجد وجهي للذي خلقه و صوره و شق سمعه و بصره و بحوله وقوته فتبارک الله احسن الخالقين

زما مخ هغه ذات ته سجده وکړه چي هغه پيدا کړی دی چا چي هغه جوړ کړی دی او په هغه کي يې غوږ او سترګي په خپل قوت سره پيدا کړي دي نو الله ﷻ بزرګ او ښه پيدا کوونکی دی .

په لمانځه کي په آخري سورت کي د سجدې د آيت راتلو مسئله

د ځينو علماؤ دا اختلاف دی چي په لمانځه کي د سجدې کوم ايت په اخر سورت کي راسي نو رکوع کول د سجدې لپاره کافي کيږي دا قول د عبدالله ابن مسعود ﷛ دی او دا مذهب د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه هم دی .

د فقهي په کتابونو کي پر دې مسئلې تفصيل هم داسي مذکور دی که د سجدې آيت په لمانځه کي وويل سي او سمدستي رکوع وکړل سي يا د سجدې د ايات وروسته درې اياتونو په ويلو سره رکوع وکړل سي او په هغه رکوع کي د کښېنته کيدو په وخت کي د سجده تلاوت نيت هم وکړل سي نو سجده ادا کيږي که همداسي د ايت سجده ويلو وروسته د لمانځه سجده وکړل سي بيا هم سجده ادا کيږي او په دې کي د نيت هم ضروت نسته نو شرط دادی چي په هرو دواړو صورتو کي د سجدې د ايت وروسته درې اياتونه زيات نه وي ويل سوي ځکه چي د درو اياتونو په ويلو کي خو اختلاف هم دی خو مسئله متفق عليه ده چي د درو څخه زيات اياتو د ويلو په صورت کي د لمانځه رکوع يا په سجدو کي سجده تلاوت نه ادا کيږي بلکه جلا د تلاوت سجده کول ضروري ده

د دوو سجدو په وجه د سورة حج فضيلت

﴿۹۶۳﴾: وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ فُضِّلَتْ سُوْرَةُ الْحَجِّ

د حضرت عقبة بن عامر ﷛ څخه روايت دی چي ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړ : اې د الله رسوله ! سورة حج ته فضيلت ورکړل سوی دی

بِأَنَّ فِيْهَا سَجْدَتَيْنِ ؟ قَالَ نَعَمْ وَمَنْ لَّمْ يَسْجُدْهُمَا فَلاَ يَقْرَأْهُمَا . رواه أبو

داود والترمذي وقال هذا حديث ليس إسناده بالقوي . وفي المصابيح فلا يقرأها كما في شرح السنة .

له دې کبله چې په دې کې دوې سجدې دي،؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: هو، او څوک چې دا دواړې سجدې نه کوي هغه دې دا دواړه آیاتونه نه وايي . ابوداؤد او ترمذي .

تخريج: سنن ابي داؤد: ۲\ ۱۲۱، رقم: ۱۴۰۲ والترمذي ۲\ ۴۷۰، ۴۷۱، رقم: ۵۷۸، البغوي في شرح السنة ۳\ ۳۰۴، رقم: ۷۶۵.

تشريح: د رسول الله ﷺ د جواب مطلب دادی چې کوم سړی د سجدې دا دواړه ایاتونه نه وایي نو هغه ته دا ایاتونه ویل نه دي پکار چې د ترک واجب گنهار نسي یعني د قرآن کریم د ویلو په حق کي د سجدې دآیت د تلاوت په وجه یوه سجده مشروع سوې ده او سجده تلاوت کول د تلاوت د حقوق نه دی که یو سړی سجده تلاوت د پرېښولو پسې وي نو د هغه لپاره دا مناسب دی چې هغه هغه ایاتونه نه وایي چې د هغه په وجه سجده واجب کیږي ځکه چې واجب ده او ددې پرېښونکی گنهگار دی د ترک سجدې څخه ترک تلاوت اولي دی .

د مشکوة په یو دوهمه نسخه کي پر ځای د فلا یقراهما د فلم یقراها الفاظ دي داسي د رسول الله ﷺ د ارشاد معني به وي چې چا چې دواړې سجدې نه وکي گویا هغه داسي نه دي ویلي یعني هر کله چې هغه ددې ایت پر تقاضا عمل نه وکي نو د هغه ویل او نه ویل دواړه سره برابر دي .

څنگه چې مخکي ښودل سوي دي چې د سورة حج دوهمه سجده دامام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه په مذهب واجب نه ده هغوی فرمایي چې هغه سجده د لمانځه ده ځکه چې هلته لفظ ارکعوا مذکور دلیل دی خبر قرینه ده .

امام ترمذي رحمة الله علیه په اخر کي هذا حديث ليس اسناده بالقوي په ویلو سره دې ته اشاره کړې ده چې دا حدیث ضعیف دی .

د سورة الم تنزيل السجده سجده

﴿۹۶۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَجَدَ فِي صَلَاةِ الظُّهْرِ ثُمَّ قَامَ فَرَكَعَ فَرَأَوْا أَنَّهُ قَرَأَ تَنْزِيلَ السُّجْدَةِ. رواه أبو داود .

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ د ماپښين په لمانځه کې سجده وکړه بيا و دريدی بيا يې رکوع وکړه صحابه کرامو دا خيال سو چې رسول الله ﷺ په لمانځه کې (سورة) الم تنزل السجدة ويلی دی، ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\۵۰۷، رقم: ۸۰۷.

تشريح: صحابه کرامو محضې د سجدې څخه معلومه کړې نه وه چې رسول الله ﷺ آلم تنزيل السجده ويلي دي بلکه د سورت يو ايت به يې د رسول الله ﷺ څخه اوريدلی وي د هغه څخه به هغوی ته معلومه سوې يې چې رسول الله ﷺ دا سورت وايي، په حديثو کې وراد دي چې رسول الله ﷺ به په کرار اواز سره ويونکي لمونځونو کې کله کله يو ايت په لوړ اواز سره هم وايه چې خلکو ته معلومه سي چې د فلانې سورت قرائت کيږي يا دا چې انتهايي شوق او حضور قلب په وجه به بې اختياره د رسول الله ﷺ د ژبې مبارکي څخه يو ايت به په لوړ اواز سره جاري کېدی.

په ښکاره خو د حديث څخه دا معلوميږي چې رسول الله ﷺ د سجدې ايت ويلو سره سجده وکړه او د سجدې څخه چې را پورته کيدی نو پاته سورت به يې نه کړې پوره بلکه رکوع ته ولاړی نو دا جائز دی که څه هم افضل دا دی چې د سجدې څخه د را پورته کيدو سره پاته سورت پوره کې د هغه وروسته دې رکوع وکړل سي نو دا کيداې سي چې رسول الله ﷺ دا سې بيان د جواز له خاطره کړی وی سره ددې چې د نص څخه په صراحت سره خو دا ثابتيږي چې رسول الله ﷺ پاته سورت نه کړو پوره او رکوع ته ولاړی خو په ښکاره سره دا معلوميږي.

رسول الله ﷺ يوازې پر رکوع باندې اکتفاء و نه کړل بلکه مستقلا سجده يې وکړل څرنګه چې د حنفيه په نزد په دا سې صورت کې په رکوع کې سجده ادا کيږي ددې وجه دا ده چې افضل او اولی سجده کول دي او رسول الله ﷺ افضله طريقه اختيار کړه.

سجده تلاوت پر ويونکي او اوريدونکي دواړو واجب ده

﴿۹۶۵﴾: وَعَنْهُ أَنَّهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ عَلَيْنَا الْقُرْآنَ فَإِذَا مَرَّ بِالسُّجْدَةِ كَبَّرَ وَسَجَدَ وَسَجَدْنَا مَعَهُ. رواه أبو داود

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به زموږ په وړاندې قرآن وايه او کله چې به د سجدې آيت را غلی نو رسول الله ﷺ به الله اکبر وايه سجده به يې کول او موږ به هم ور سره سجده کول. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\ ۱۲۵ – ۱۲۶. رقم: ۱۴۱۳.

تشريح: ددې حديث څخه دا خبره په وضاحت سره معلوميږي چي سجده تلاوت پر قاري يعني د قرآن كريم پر ويونكي او سامع يعني اوريدونكي دواړو باندي واجب ده .

يوازي د سجدې پر وخت تكبير ويل كيږي

دا حديث په دې خبره هم دلالت كوي چي د سجده تلاوت لپاره تكبير صرف سجدې ته د تلو په وخت كي ويل پكار دى د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله په دې عمل دي .

البته د امام شافعي رحمه الله په مذهب دا مسئله ده چي هر كله چي يو سړى سجده تلاوت وكړي نو مخكي هغه ته په لاس پورته كولو سره تكبير تحريمه ويل پكار دي د هغه وروسته دي د سجدې لپاره دوهم تكبير وكړي د بي بي عائشې رضي الله عنها د يو روايت په رڼا كي دا ثابته ده چي د سجده تلاوت د وخت څخه مخكي او ريدل او د هغه وروسته سجدې ته تلل مستحب دى .

﴿۹۶۶﴾: وَعَنْهُ أَنَّهُ قَالَ إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ عَامَ الْفَتْحِ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله صلى الله عليه وسلم د مكې د فتح په كال د سجدې يو آيت تلاوت كړ

سَجْدَةً فَسَجَدَ النَّاسُ كُلُّهُمْ مِنْهُمُ الرَّاكِبَ وَالسَّاجِدَ عَلَى الْأَرْضِ حَتَّى إِنَّ الرَّاكِبَ لَيَسْجُدُ عَلَى يَدِهِ . رواه أبو داود .

د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ټولو سجده وكړه په هغوى كي ځيني سپاره وه او ځيني پر مځكه سجده وكړه تردې چي سپرو خلكو پر خپلو لاسو سجده وكړه . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داؤد: ۲\ ۱۲۵، رقم: ۱۴۱۱.

تشريح: رسول الله صلى الله عليه وسلم به يا خو د سجده تلاوت كولو سره نور اياتونه په يوځاي كولو سره ويل يا يوازي ايت سجده به يې د بيان جواز لپاره ويلي وي ځكه چي د حنفيه د مذهب سره سم يوازي د آيت سجده تلاوت كوي د استحباب خلاف دى .

سپرو كسانو به پر خپلو لاسونو سجده كول دې مطلب دادى چي كوم خلك چي پر خپلو آسونو وغيره باندي ناست وه هغوى خپل لاسونه پر زين وغيره د ايښودو سره په هغه به يې سجده كوله همداسي د سجدې په حالت كي به د مځكي په رقم سختي حاصليده .

ابن مالک رحمة الله عليه فرمايي چي ددې ځخه دا خبره ثابتيږي چي که يو سړی ځټ کښته کي او پر خپلو لاسونو سجده وکي نو د هغه سجده جائز کيږي او دا قول د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه دی د امام شافعي رحمة الله عليه دا قول نه دی . ابن مالک رحمة الله عليه چي د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه دا قول ذکر کړی دی دا هغوی مذهب کي غير مشهور دی په شرح منيه کي ليکلي دي که يو سړی د رش په وجه پر خپل ورون باندي سجده وکړي نو جائز ده همداسي د ورون ځخه پرته بل څه اندام باندي هم سجده کول جائز ده هر کله چي هغه ته څه داسي عذر وربيدا سي چي د سجدې کولو ځخه يې منعه کوي بغيره عذر داسي کول نه دي جائز او که يو سړی خپل لاس پر مځکه د اينبودو سره پر هغه سجده وکي که څه هم هغه ته څه عذر نه وي نو جائز دی مګر مکروه دی .

ابن همام رحمة الله عليه ليکلي دي چي که يو ناجوړه سړی د سجدې ايت وواييي او پر سجدې کولو باندي قادره نه وي نو هغه ته د سجدې اشاره کول کافي کيږي .

د رسول الله ﷺ په مفصل سورتونو کي سجده نه کول

﴿۹۶۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَسْجُدْ فِيْ شَيْءٍ مِّنَ الْمُفَصَّلِ مُنْذُ تَحَوَّلَ إِلَى الْمَدِيْنَةِ . رواه أبو داود .

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه ځخه روايت دی چي رسول الله ﷺ مدينې ته د تشريف راوړلو وروسته د مفصل سورتو ځخه په يوه سورت کي هم سجده ونه کړل . ابو داؤد

تخريج: سنن ابي داؤد : ۲\۱۲۱، رقم: ۱۴۰۳.

تشريح : د ابن عباس رضي الله عنه د ارشاد مطلب دادی چي رسول الله ﷺ مدينې منورې ته د راتلو مخکي په مکه کي مفصل سورتونو کي سجده تلاوت کول او نورو خلکو به هم ورسره کوله خو کله چي مدينې منورې ته يې تشريف وېوړلو نو دلته يې په مفصل سورتونو کي سجده تلاوت نه وکړله .

د ابو هريره رضي الله عنه د حديث سره تعارض

په دې حديث کي خو په صراحت سره دا خبره معلومه سوه چي رسول الله ﷺ په مدينه کي مفصل سورتونو کي سجده تلاوت نه ده کړې حال دا چي ددې ځخه مخکي د ابو هريره رض په اول روايت کي تير سو په هغه کي ابو هريره رض فرمايي ما د رسول الله ﷺ (اذا السماء انشقت او اقراء باسم ربک الذي) کي سجده کړې ده اوس چي په دې دواړو حديثو کي ټکر پيدا سو نو

په دې کې به يو راجح ګرځول وي او راجح به د ابوهريره حديث وي ځکه چې ابوهريره رض په اووه هجري کې اسلام راوړی دی او ښکاره ده چې هغوی د دې روايت تعلق د مدينې سره دی او په فني توګه باندې هم د ابوهريره رض روايت زيات صحيح دی بيا دا چې د دوی څخه پرته د ډيرو زياتو صحابه روايت دی چې په مفصل سورتونو کې سجده ده او اصول دادی چې مثبت اړخ پر منفي اړخ فوقيت لري د ابن عباس رضي الله عنه د روايت څخه منفي اړخ ثابتيږي هر کله چې د ابوهريره رضي الله عنه روايت مثبت اړخ ښکاره کوي نو حاصل دا سو چې په مفصل سورتونو کې د رسول الله ص سجده کول ثابت ده ځکه چې په دې سورتونو کې د سجدې چې کم اياتونه دي د هغه تلاوت يا پر اوريدو باندې سجده کول پکار ده، مفصل کوچنيو سورتو ته وايي چې هغه د سورة حجرات تر آخره پورې دي.

د سجده تلاوت تسبيح

﴿۹۶۸﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ فِيْ

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به ويل

سُجُوْدِ الْقُرْآنِ بِاللَّيْلِ سَجَدَ وَجْهِي لِلَّذِيْ خَلَقَهُ وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ بِحَوْلِهِ وَقُوَّتِهِ . رواه أبو داود والترمذي والنسائي وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح .

د قرآن کريم د تلاوت په سجدو کې د شپې (زما مخ هغه ذات ته سجده وکړه چې په خپل قدرت سره يې پيدا کړ غوږونه يې ورته جوړ کړل او سترګې يې ورکړې) ابوداؤد، ترمذي، نسائي

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\ ۱۲٦– ۱۲۷، رقم: ۱۴۱۴، والترمذي ۲\ ۴۷۴، رقم: ۵۸۰، والنسائي: ۲\ ۲۲۲، رقم: ۱۱۲۸.

تشريح : د شپې قيد اتفاقي دی، بي بي عائشې رضي الله عنها به دا تسبيح د شپې اوريدلي وي نو هغه يې بيان کړل کنې د شپې او ورځې قيد څخه پرته پر مطلقا دا ثابته سوې ده چې رسول الله ﷺ به دا تسبيح په سجده تلاوت کې ويل او په ځينې روايتونو کې دا تسبيح هم منقول ده :

ربي اني ظلمت نفسي فاغفرلي : اې زما پروردګاره ما پر خپل نفس ظلم وکی نو ما وبخښې.

د حنفيه صحيح مذهب دادی چې په سجده تلاوت کې سبحان ربي الاعلي ويل کافي دی

ځرنګه چې د لمانځه په سجدو کې وو ایي لیکن په دې کې شبه نسته چې په سجده تلاوت کې کوم تسبیحات ثابت سوي دي د هغه ویل اولی دي.

﴿۹۶۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چې یو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سو

فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ رَأَيْتُنِي اللَّيْلَةَ وَأَنَا نَائِمٌ كَأَنِّي كُنْتُ أُصَلِّي خَلْفَ شَجَرَةٍ

او عرض یې وکړ اې د الله رسوله! د شپې ما خوب ولیدی چې په یوې درختې پسې لمونځ کوم

فَسَجَدْتُ فَسَجَدَتِ الشَّجَرَةُ لِسُجُودِي وَسَمِعْتُهَا وَهِيَ تَقُولُ اللّٰهُمَّ اكْتُبْ

ما د قرآن کریم د تلاوت سجده وکړه او درختې هم زما سره سجده وکړه بیا ما د هغې درختې څخه واوریدل چې ویل یې: (اې الله! ولیکې

لِي بِهَا عِنْدَكَ أَجْرًا وَضَعْ عَنِّي بِهَا وِزْرًا وَاجْعَلْهَا لِي عِنْدَكَ ذُخْرًا وَتَقَبَّلْهَا

د دې سجدې په سبب زما لپاره ثواب او د ګناه بار راڅخه لیرې کړې او د ځان سره زما زخیره وتاکې او زما سجده قبوله کړې

مِنِّي كَمَا تَقَبَّلْتَهَا مِنْ عَبْدِكَ دَاوُدَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَقَرَأَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ

ځنګه چې تا د خپل بنده داؤد سجده قبوله کړه) ابن عباس رضي الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ تلاوت کړ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَجْدَةً ثُمَّ سَجَدَ فَسَمِعْتُهُ وَهُوَ يَقُولُ مِثْلَ مَا أَخْبَرَهُ الرَّجُلُ

د سجدې یو آیت او سجده یې وکړه او ما واوریدل چې رسول الله ﷺ همداسي ویل ځنګه چې هغه سړي پېښنه بیان کړې وه

عَنْ قَوْلِ الشَّجَرَةِ. رواه الترمذي وابن ماجه الا انه لم يذكر وتقبلها مني كما تقبلتها من عبدك داؤد. وقال الترمذي هذا حديث غريب.

د درختې یعني رسول الله ﷺ هم دا دعاء وکړل. ترمذي او ابن ماجه.

تخريج: سنن الترمذي ۲\ ۴۷۲، ۴۷۳، رقم: ۵۷۹، وابن ماجه ۱\ ۳۳۴، رقم: ۱۰۵۳.

د لغاتو حل: (جاء رجل): في هامش المخطوطة: هو ابو سعيد الخدري.

تشريح: په ښکاره دا معلومیږي چي هغه سړی به د سورة ص سجدې ایت ویلي وي او د رسول الله ﷺ په باره کي احتمال دی چي رسول الله ﷺ به هم د سورة ص د سجدې ایت ویلي وي یا سورة سجده به یې هم تلاوت کړې وي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د سورة والنجم سجده

﴿۹۷۰﴾: عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ (وَالنَّجْمِ)

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ سورة نجم تلاوت کړ

فَسَجَدَ فِيْهَا وَسَجَدَ مَنْ كَانَ مَعَهُ غَيْرَ أَنَّ شَيْخًا مِّنْ قُرَيْشٍ أَخَذَ كَفًّا مِنْ

او په هغه کي یې سجده وکړل او کوم خلک چي د رسول الله ﷺ سره موجود وه هغوی هم سجده وکړه مګر د قریشو یو سپینږیری سړي

حَصًى أَوْ تُرَابٍ فَرَفَعَهُ إِلَى جَبْهَتِهِ وَقَالَ يَكْفِيْنِيْ هٰذَا قَالَ عَبْدُ اللهِ فَلَقَدْ

د شګو یا خاورو څخه لاس ډک کړ او هغه یې پر تندي ومونښل او ویل یې زما لپاره دا بس ده، ابن مسعود رضي الله عنه وایي

رَأَيْتُهُ بَعْدُ قُتِلَ كَافِرًا. وزاد البخاري في رواية وهو أمية بن خلف.

د دې پیښې وروسته ما ولیدل چي هغه سپین ږیری سړی د کفر په حالت کي مړ سو. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۲\۶۴۳، رقم: ۱۰۷۰. ومسلم: ۱۱\۴۰۵، رقم: ۱۰۵-۵۷۶.

تشريح: دا واقعه د مکې د فتحي څخه مخکي ده، امیه بن خلف د قریشو سر دار او اثر درلودونکی کس وو اسلام او د رسول الله ﷺ خلاف په ټولو فلانو او دسیسو کي د هغه کردار ډیر اهم وو هغه ته پر خپله لویي هم ناز وو هغه وخت چي کله د رسول الله ﷺ په مجلس کي ټولو خلکو که مسلمانان وه که کافران د رسول الله ﷺ سره یې سجده وکړل مګر دغه سړي د غرور او تکبر په وجه سجده و نه کړل بلکه دا حرکت یې وکړ چي د ډبرو یا خاورو یو مټ اخیستو سره هغه یې پر خپل تندي ومونږل.

د سورة ص سجده

﴿۹۷۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَجَدَ فِيْ (ص) وَقَالَ سَجَدَهَا دَاوُدَ تَوْبَةً وَّنَسْجُدُهَا شُكْرًا. رواه النسائي.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ په سورة ص كي سجده وكړه او وه يې فرمايل: داؤد عليه السلام دا سجده د توبې په ډول كړې وه او موږ يې د شكر په ډول كوو. نسائي

تخريج: سنن النسائي: ۲\۱۵۹، رقم: ۹۵۶.

بَابُ اَوْقَاتِ النَّهْيِ

د ممنوعه وختونو بيان

په دې باب كي هغه حديثونه نقل كيږي كوم چي د نهي وختونه ښكاره كوي يعني په كومو وختونو كي چي لمونځ كول ممنوع دی په دې باب كي هغه درې وختونه شامل دي چي په هغو كي لمونځ كول حرام دی: اول د لمر ختلو وخت، دوهم د لمر كښېنته كيدو وخت او دريم د استواء وخت يعني د غرمې وخت، او په دغه وختونو كي نفل لمونځ كول مكروه دی لكه د سهار او مازديگر د لمانځه وروسته، د طلوع صبح صادق څخه تر لمر ختلو پوري د سهار په وخت كي د سهار د دوو سنتونو څخه پرته نور نوافل مكروه دي البته د فرض او واجب قضاء د مازديگر د فرض وروسته هم كيدای سي.

د حنفيه مذهب داسي نه دی فرضو او نفل دواړه پكښېي شامل دی ځكه چي په اول د دغو وختونو يعني لمر ختلو وخت د لمر كښېنته كيدلو وخت او د غرمې وخت په دې كي لمونځ كول نه دی جائز كه ادا لمونځ وي يا قضاء لمونځ البته د همدغي ورځي د مازديگر لمونځ جائز دی او همدارنگه د جنازې لمونځ جائز دی او د تلاوت سجده كول هم جائز نه ده هو د هغه جنازې لمونځ جائز دی چي په دغه وختونو كي بې راوړې وي همداسي د تلاوت سجده هم جائز ده كوم چي په هغه وخت كي يو چا هغه ايت ويلي وي په كوم كي چي سجده وي د داغه وخت څخه مراد موخر كول اولی دی.

د جنازې لمونځ، سجده تلاوت او قضايي لمونځ د سهار په پوره وخت كي او د مازديگر د

لمانځه وروسته هم جائز دی نفل لمونځ په دغه وخت کي مکروه دی که چیري یو سړی په دغه وخت کي نفل لمونځ پیل کړي نو پر هغه لازمه ده چي خپل لمونځ مات کړي او کله چي مکروه وخت تیر سي نو د هغه وروسته خپل قضایي لمونځ وکړي او که چیري یو سړی لمونځ نه ماتوي او په هغه وخت کي یې پوره کړي نو دی د دغو وختونو وعده خلافي کوي مګر په دغه وختونو کي لمونځ راګرځول غوره خبره ده .

د امام شافعي رحمة الله علیه او امام احمد رحمة الله علیه په نزد په دغه وختونو کي قضاء لمونځ کول او د هغه جنازې لمونځ چي په دې وخت کي راوړل سوې وي جائز دی، د تحیة المسجد لمونځ کول هم جائز دی که په اتفاق سره په مسجد کي داخل سي او که یو سړی په قصده د تحیة المسجد لمونځ کولو په خاطره په دغه وختونو کي یې وکړي نو په دې صورت کي هم نه دی جائز ځکه چي په دې وختونو کي قصداً لمونځونه کول د حدیث په موجب ممنوع دی همداسي د هغوی په مذهب په دې وختونو کي د لمر تندر نیولو لمونځ د اوداسه وروسته دوه رکعته لمونځ او د احرام او د طواف دوه رکعته لمونځ او سجده تلاوت چي د هغه ایت په دغه وختونو کي وویل سي جائز دی .

په دې وختونو کي د لمانځه کولو کراهت د حنفیه په نزد په هره زمانه او هر ځای کي دی مګر د امام شافعي رحمة الله علیه او د هغه د علماؤ په نزد چي امام شافعي رحمة الله علیه سره دی د جمعې په ورځ استواء یعني نصف النهار په وخت کي لمونځ جائز دی او په دې وختونو کي په مکه معظمه کي هم لمونځ جائز دی . په دې خبره باندي نور هم پوه سئ چي د امام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه مذهب په دې اړه پر احتیاط باندي مبني دی ځکه چي د یوه شي په باره کي مباح او حرام دواړه دلائل متعارض دي نو د حرمت اړخ ته ترجیح ورکول سوې ده .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د لمر ختلو او لوېدلو په وخت کي لمونځ کول

﴿۹۷۲﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَتَحَرّٰى

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :اراده دي نه کوي

اَحَدُكُمْ فَيُصَلِّيْ عِنْدَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَلَا عِنْدَ غُرُوْبِهَا وَفِيْ رِوَايَةٍ قَالَ اِذَا

په تاسو کي هيڅوک د لمر ختلو او لمر لوېدو په وخت کي د لمانځه ، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي ويې فرمايل: هر کله چي د لمر غاړه څرګنده سي نو لمونځ پرېږدئ تر څو پوري چي هغه ښه څرګند نه سي هر کله چي

طَلَعَ حَاجِبُ الشَّمْسِ فَدَعُوا الصَّلٰوۃَ حَتّٰی تَبْرُزَ وَإِذَا غَابَ حَاجِبُ الشَّمْسِ

د لمر غاړه راوخيژي نو لمونځ پرېږدئ تر څو پوري چي هغه بيخي ښکاره نه سي او کله چي د لمر غاړه ډوبه سي

فَدَعُوا الصَّلَاۃَ حَتّٰی تَغِيْبَ وَلَا تَحَيَّنُوْا بِصَلٰوتِكُمْ طُلُوْعَ الشَّمْسِ وَلَا غُرُوْبَهَا

نو لمونځ کول پرېږدئ تر څو چي ولوېږي . او د لمر د ختلو ، او لوېدلو په وخت کي د لمانځه اراده مه کوئ

فَإِنَّهَا تَطْلُعُ بَيْنَ قَرْنَيِ الشَّيْطَانِ . متفق عليه

ځکه چي لمر د شيطان د دوو ښکرو په منځ کي راخيژي . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۵۸، رقم: ۵۸۳، ومسلم ۱\۶۸، رقم: ۲۹۱- ۸۲۹.

د لغاتو حل: (ولاتحينوا): اى لاتجعلوا ذلک الوقت للصلاة.

تشريح: د حديث الفاظ قصد دي نه کوي، څخه امام شافعي رحمة الله عليه دا نتيجه اخيستې ده که يو سړی په دغه وختونو کي په قصد سره تحية المسجد او قضاء لمونځ کوي نو ددې حديث خلاف به کوي هو که يو سړی دا اتفاقا وکړي نو جائز دی ليکن حنفيه وايي چي په حديث کي مطلقا په دغه وختونو کي د لمانځه کولو څخه منعه کړل سوې ده په دې کي قصدا يا اتفاقا قيد لګول د حديث د منشاء خلاف دی .

د شيطان د دواړو ښکرونو تر منځ د لمر راختلو مطلب

د شيطان د دواړو ښکرونو په مينځ کي د لمر راختلو مطلب د هغه د سر د دواړو خواوو په مينځ کي د لمر راختل دي يعني شيطان د لمر ختلو په وخت کي د لمر مخکي دريږي چي لمر د هغه سر دواړو خواوو په مينځ کي راووځي او ددې حرکت څخه د هغه مقصد دا وي چي کوم خلک د لمر عبادت کوي شيطان د هغوی قبله جوړوي نو رسول الله ﷺ دا وخت د لمانځه کولو څخه منعه فرمايلې ده چي د الله تعالی د سرکښانو سره مشابهت نسي .

درې منعه وختونه

﴿۹۷۳﴾: وَعَنْ عُقْبَةَ ابْنِ عَامِرٍ قَالَ ثَلاثُ سَاعَاتٍ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ

د حضرت عقبة بن عامر رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به موږ په درو وختو کي د لمونځ کولو څخه منعه کولو

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَانَا أَنْ نُصَلِّيَ فِيهِنَّ أَوْ أَنْ نَقْبُرَ فِيهِنَّ مَوْتَانَا حِينَ تَطْلُعُ

او په دې درو وختو کي به يې د مړو د ښخولو (يعني د جنازې دلمانځه) څخه منعه کولو ١: دلمر ختلو په وخت کي

الشَّمْسُ بَازِغَةً حَتَّى تَرْتَفِعَ وَحِينَ يَقُومُ قَائِمُ الظَّهِيرَةِ حَتَّى تَمِيلَ الشَّمْسُ

تر هغو چي ښه را وخيژي ٢: هغه وخت چي د غرمې سايه قائمه سي تر هغو چي د لمر سايه وګرځي .

وَحِينَ تَضَيَّفُ الشَّمْسُ لِلْغُرُوبِ حَتَّى تَغْرُبَ . رواه مسلم.

٣: او هغه وخت چي لمر په لوېدو وي تر څو چي ډوب سي .مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ١١ /٥٦٨- ٥٦٩، رقم: ٢٩٣- ٨٣١.

تشريح: د مړي ښخولو دا مطلب نه دی چي په دغه وختونو کي دي مړی نه ښخول کيږي بلکه ددې مطلب د جنازې د لمانځه کولو څخه منعه فرمايل ده ځکه چي مړی هر وخت ښخول کيدا ی سي .

د سهار او ماز ديګر وروسته بايد هيڅ لمونځ ونه کړل سي

﴿۹۷۴﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوسعيد الخدري رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

لاَ صَلاَةَ بَعْدَ الصُّبْحِ حَتَّى تَرْتَفِعَ الشَّمْسُ وَلاَ صَلاَةَ بَعْدَ الْعَصْرِ حَتَّى تَغِيبَ الشَّمْسُ . متفق عليه

: د سهار دلمانځه وروسته تر څو پوري چي لمر را ونه خيژي هيڅ لمونځ نسته او د مازديګر د لمانځه وروسته تر څو پوري چي لمر ډوب نه سي هيڅ لمونځ نسته ، مسلم او بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۶۱، رقم: ۵۸۶، ومسلم ۱\۵۶۷، رقم: ۲۸۸- ۸۲۷.

تشريح: دلته د نفي څخه مراد د لمانځه د كمال نفي ده ځكه چي په دې دواړو وختونو كي لمونځ كول حرام نه بلكه مكروه دى.

د لمانځه وختونه

﴿۹۷۵﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ عَبَسَةَ قَالَ قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِيْنَةَ

د حضرت عمرو بن عبسة رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ مديني منورې ته راغلى

فَقَدِمْتُ الْمَدِينَةَ فَدَخَلْتُ عَلَيْهِ فَقُلْتُ أَخْبِرْنِي عَنِ الصَّلَاةِ فَقَالَ صَلِّ

او زه هم مديني ته راغلم او د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سوم ما عرض وكړ چي ما د لمانځه د وختو څخه خبردار كړئ، رسول الله ﷺ راته وفرمايل: لمونځ كوه

صَلَاةَ الصُّبْحِ ثُمَّ أَقْصِرْ عَنِ الصَّلَاةِ حِيْنَ تَطْلُعَ الشَّمْسُ حَتَّى تَرْتَفِعَ فَإِنَّهَا

د سهار لمونځ بيا د لمانځه څخه منعه سه تر څو پوري چي لمر پورته راونه خيژي ځكه چي لمر

تَطْلُعُ حِينَ تَطْلُعُ بَيْنَ قَرْنَيْ شَيْطَانٍ وَحِينَئِذٍ يَسْجُدُ لَهَا الْكُفَّارُ ثُمَّ صَلِّ فَإِنَّ

د شيطان د دوو ښكرو په منځ كي راخيژي او دغه وخت كافر لمر ته سجده كوي بيا د (اشراق) لمونځ وكړه ځكه چي

الصَّلَاةَ مَشْهُودَةٌ مَحْضُورَةٌ حَتَّى يَسْتَقِلَّ الظِّلُّ بِالرُّمْحِ ثُمَّ أَقْصِرْ عَنِ الصَّلَاةِ

ددې وخت لمونځ مشهود دى يعني په دې وخت كي ملائكي حاضريږي او د لمونځ كونكي د لمانځه شهادت كوي بيا د لمانځه څخه منعه سه تر دې چي سايه د نيزې برابر سي او پر مځكه د هغه سايه ونه غوړيږي بيا د لمانځه څخه منعه سه

فَإِنَّ حِيْنَئِذٍ تُسْجَرُ جَهَنَّمُ فَإِذَا أَقْبَلَ الْفَيْءُ فَصَلِّ فَإِنَّ الصَّلَاةَ مَشْهُودَةٌ

ځكه چي په دې وخت كي دوږخ ګرميږي بيا چي سايه كښته سي نو د (ماپښين) لمونځ وكړه ځكه چي دا وخت د ملائكو د حاضرۍ دى

مَحْضُورَةٌ حَتَّى تُصَلِّيَ الْعَصْرَ ثُمَّ أَقْصِرْ عَنِ الصَّلَاةِ حَتَّى تَغْرُبَ الشَّمْسُ

تر دې چې ته د ماز دیگر لمونځ وکړې بیا دلمانځه څخه د لمر تر لوېدو پورې منعه سه

فَإِنَّهَا تَغْرُبُ بَيْنَ قَرْنَيْ شَيْطَانٍ وَحِينَئِذٍ يَسْجُدُ لَهَا الْكُفَّارُ قَالَ فَقُلْتُ يَا

ځکه چې هغه د شیطان د دوو ښکرو په منځ کې ډوبیږي او په دې وخت کې کفار سجده ورته کوي ، د راوي بیان دي چې تر دې وروسته ما وویل اې

نَبِيَّ اللهِ فَالْوُضُوءَ حَدِّثْنِي عَنْهُ قَالَ مَا مِنْكُمْ رَجُلٌ يُقَرِّبُ وَضُوءَهُ فَيَتَمَضْمَضُ

د الله رسوله ! د اوداسه په اړه مې خبر کړه ، رسول الله ﷺ وفرمایل : په تاسو کې چې څوک د لاس پرېوللو څخه وروسته د اوداسه اوبه راواخلي خوله پرېولي

وَيَسْتَنْشِقُ فَيَنْتَثِرُ إِلاَّ خَرَّتْ خَطَايَا وَجْهِهِ وَفِيهِ وَخَيَاشِيمِهِ ثُمَّ إِذَا

بیا په پزه کې اوبه واچوي هغه سوڼ کړي نو د هغه د مخ او خولې او پزې ګناهونه پرېولل سي بیا

غَسَلَ وَجْهَهُ كَمَا أَمَرَهُ اللهُ إِلاَّ خَرَّتْ خَطَايَا وَجْهِهِ مِنْ أَطْرَافِ لِحْيَتِهِ مَعَ

ک له چې هغه مخ پرېولي لکه چې امر کړی دی ده ته الله تعالی ﷻ نو د هغو برخو ګناه پرېولل سي چې د دواړو طرفو په جانب کې دی (یعني د ږیرې د برخو ګناه) له

الْمَاءِ ثُمَّ يَغْسِلُ يَدَيْهِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ إِلاَّ خَرَّتْ خَطَايَا يَدَيْهِ مِنْ أَنَامِلِهِ مَعَ

اوبو سره، بیا چې هغه دواړه لاسونه تر څنګلو پورې پرېولي نو د هغه د لاسو ګناه تر ګوتو پورې پرېولل سي له

الْمَاءِ ثُمَّ يَمْسَحُ رَأْسَهُ إِلاَّ خَرَّتْ خَطَايَا رَأْسِهِ مِنْ أَطْرَافِ شَعْرِهِ مَعَ الْمَاءِ ثُمَّ

اوبو سره، بیا چې هغه د سر مسح کوي نو په اوبو سر د سر ګناه پرېولل سي بیا چې هغه

يَغْسِلُ قَدَمَيْهِ إِلَى الْكَعْبَيْنِ إِلاَّ خَرَّتْ خَطَايَا رِجْلَيْهِ مِنْ أَنَامِلِهِ مَعَ الْمَاءِ

پښې تر بجلکو پورې پرېولي نو د پښو ګناه ترګوتو پورې پرېولل سي له اوبو سره

فَإِنْ هُوَ قَامَ فَصَلَّى فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ وَمَجَّدَهُ بِالَّذِي هُوَ لَهُ أَهْلٌ وَفَرَّغَ

بیا چي هغه ودريږي او لمونځ وکړي او د الله تعالی تعريف او صفت بيان کړي او د هغه د برزګي اظهار وکړي چي يې اهل دی او متوجه وي

قَلْبَهُ لِلّٰهِ إِلاَّ انْصَرَفَ مِنْ خَطِيئَتِهِ كَهَيْئَتِهِ يَوْمَ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ .رواه مسلم

د هغه زړه الله ﷻ ته نو هغه د ګناهو څخه داسي پاک سي لکه نن چي د مور څخه زېږېدلی دي .
مسلم شريف

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۵۶۹- ۵۷۱، رقم: ۲۹۴- ۸۳۲.

تشريح : د حديث الفاظ کله چي سايه نيزې ته ورسيږي او پر مځکه نه پريوځي ددې تعلق د مکې او مدينې منورې او د هغه شاوخوا سره دی ځکه چي په دغه ځايو کي په لويو ورځو کي د غرمې په وخت کي سايه بالکل پر مځکه نه پريوځي .
د حديث اخري الفاظ څخه دا مفهوم کيږي چي صغيره او کبيره ګناه دا ټوله بخښل کيدای سي نو په دې اړه د تحقيق خبره داده چي صغيره ګناه خو ضرور بخښل کيدای سي البته د کبيره ګناهونو د بخښني انحصار د حق تعالی پر مشيت او د هغه پر خوښې دی که غواړي نو په خپل فضل او کرم سره د هغه کبيره ګناوي هم بخښي .

د رسول الله ﷺ د ماز ديګر وروسته دوه رکعته لمونځ کول

﴿۹۷۶﴾: وَعَنْ كُرَيْبٍ اَنَّ بْنَ عَبَّاسَ وَالْمِسْوَرَ بْنَ مَخْرَمَةَ وَعَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ

د حضرت کريب څخه روايت دی چي زه ابن عباس مسور ، بن مخرمه او حضرت عبد الرحمن بن

أَزْهَرَ أَرْسَلُوهُ إِلَى عَائِشَةَ فَقَالُوا اقْرَأْ عَلَيْهَا السَّلاَمَ وَسَلْهَا عَنِ الرَّكْعَتَيْنِ

ازهر زه بي بي عائشې ﵂ ته ولېږم چي سلام يې ور ورسوم او پوښتنه وکړم د دوو رکعتونو

بَعْدَ الْعَصْرِ قَالَ فَدَخَلْتُ عَلَيْهَا وَبَلَّغْتُهَا مَا أَرْسَلُونِي فَقَالَتْ سَلْ أُمَّ سَلَمَةَ

د ماز ديګر وروسته ، نو زه (کريب) د هغې په خدمت کي حاضر سوم د درو سره صحابه کرامو سلام مي ورته ووايه، او پوښتنه مي ورته وړاندي کړل ، بي بي عائشې وفرمايل د بي بي ام سلمه څخه پوښتنه وکړه

فَخَرَجْتُ إِلَيْهِمْ فَرَدُّونِي إِلَى أُمِّ سَلَمَةَ فَقَالَتْ أُمُّ سَلَمَةَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ

زه بيرته ولاړم داسي مي ورته وويل بيا يې زه بي بي ام سلمه ته وليږلم هغې وفرمايل ما د نبي كريم ﷺ څخه اوريدلي دي

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَى عَنْهُمَا ثُمَّ رَأَيْتُهُ يُصَلِّيهِمَا ثُمَّ دَخَلَ فَأَرْسَلْتُ

چي ددې دوو ركعتو څخه منعه فرمايل بيا ما وليدل چي رسول الله ﷺ دا (دوه) ركعتونه كول كله چي رسول الله ﷺ دا دوه ركعته وكړ' كورته راغلی نو ما وليږل

إِلَيْهِ الْجَارِيَةَ فَقُلْتُ قُولِي لَهُ تَقُولُ أُمُّ سَلَمَةَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي أَسْمَعُكَ تَنْهَى

د رسول الله ﷺ په خدمت كي مينځه چي ورته ووايه: ام سلمه وايي چي ما ستاسو څخه ددې ركعتو په اړه منعه اوريدلې ده

عَنْ هَاتَيْنِ الرَّكْعَتَيْنِ وَأَرَاكَ تُصَلِّيهِمَا قَالَ يَا بِنْتَ أَبِي أُمَيَّةَ سَأَلْتِ عَنْ

او اوس ما وليدل چي تاسو دا دوه ركعته كوئ، رسول الله ﷺ وفرمايل : اې د اميه لوري! تا پوښتنه كړې وه

الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ إِنَّهُ أَتَانِي نَاسٌ مِنْ عَبْدِ الْقَيْسِ فَشَغَلُونِي عَنْ

د مازديگر وروسته د دوو ركعتو په اړه نو پېښه داده چي قبيله عبد القيس ځيني خلك ما ته راغلي وه د هغوی سره په خبرو كي د ماپښين څخه وروسته دوه ركعته زما څخه پاته سول

الرَّكْعَتَيْنِ اللَّتَيْنِ بَعْدَ الظُّهْرِ فَهُمَا هَاتَانِ . متفق عليه

نو دا ما د مازديگر وروسته وكړل. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰۵\۳، رقم: ۱۲۳۳، ومسلم ۱\۵۷۱، ۵۷۲، رقم: ۲۹۷- ۸۳۴.

تشريح : د پوښتنه كونكو مطلب داوو چي كله رسول الله ﷺ د مازديگر د لمانځه وروسته نفل وغيره كولو څخه منعه فرمايلې ده نو د مازديگر د لمانځه وروسته دوه ركعته يې ولي وكړل؟ هغه كريب رضي الله عنه د بي بي عائشې رضي الله عنها په خدمت كي واستوی چي بي بي عائشې رضي الله عنها كريب رضي الله عنه ام سلمه رضي الله عنها ته حواله كړ چي د هغې څخه په دې باره كي معلومات تر لاسه كړي ځكه چي ام سلمه رضي الله عنها په دې اړه پوره واقفيت لري او هغې د رسول الله ﷺ څخه ددې عمل په باره كي مخكي هم تحقيق كړی وو، بي بي عائشې رضي الله عنها كريب رضي الله عنه ته ام سلمه رضي الله عنها ته د ورتلو لپاره وويل

نو هغه ته ام سلمه ﷞ ته ورتلل پکار وه خو هغه د آداب له مخي مخکي هغو درو صحابه کرامو ته راغلي چي د هغوی پيغام رسونکي جوړيدو سره د بي بي عائشې ﷞ په خدمت کي حاضر سول هر کله چي هغه صحابه کرام بي بي ام سلمه ﷞ ته ور واستول نو کريب ﷛ ورغلی د صحابه کرامو پيغام يې هغې ته ورسوی او حقيقت حال څخه خبردار سو .

د بي بي ام سلمه ﷞ د جواب مطلب دا وو چي رسول الله ﷺ د مازديگر وروسته د دوو رکعتونو څخه منعه فرمايلې وه نو هغه دوو رکعتو څخه به د رسول الله ﷺ مراد مطلقا نفل لمونځ وو او په دې ضمن کي ددې دوو رکعتو نهي هم شامله وه ليکن دا احتمال دی چي رسول الله ﷺ ددې دوو رکعتونو کولو څخه منعه فرمايلې ده .

ابواميه د بي بي ام سلمه ﷞ د پلار نوم وو رسول الله ﷺ هغه خادمي ته وفرمايل چي ام سلمه رض ته ددې سوال جواب داسي ورکړه ،يا رسول الله ﷺ په خپله ام سلمه ﷞ ته په جواب ورکولو سره د ابواميه لور په ويلو سره مخاطب کړې وه .

دا حديث پر دې خبره دلالت کوي چي ددين علم داحکام شريعت تبليغ او مخلوق ته هدايت کول پر نفل لمانځه باندي مقدم دی که څه هم سنت غير مؤکده وي رسول الله ﷺ د ماپښين د فرض لمانځه وروسته دوه رکعته سنت وځنډول او مخکي د عبدالقيس ډلي ته د دين مسائل او احکام شريعت تعليم ورکړ .

دا حديث پر دې خبره دلالت کوي که نوافل وقتيه فوت سي نو هغه بل وخت قضاء کول پکار دي څرنگه چي د امام شافعي رحمة الله عليه مذهب دی مگر د امام اعظم رحمة الله عليه په مذهب کي نوافل وقتيه يوازي په هغه وختو کي کول پکار دي په غير وخت کي د هغه قضاء نسته د هغوی لخوا ددې حديث تاويل دا کيږي چي کيدای سي رسول الله ﷺ د ماپښين د فرض لمانځه وروسته سنت دوه رکعته کول پيل کړي وه مگر وفد عبدالقيس ته د علم دين د تعليم ورکولو د ضرورت په وجه رسول الله ﷺ لمونځ مات کړی وو په دې وجه رسول الله ﷺ د هغه دوو رکعتو قضاء د مازديگر د لمانځه وروسته کړې وي .

دلته دا ويل کيدای سي چي د حديث څخه خو دا خبره معلوميږي چي رسول الله ﷺ د مازديگر وروسته کوم دوه رکعاتونه کړي وه هغه په اصل کي د ماپښين د فرض وروسته سنت وو چي وفد بدالقيس سره د تعليم دين د مشغوليت په وجه پاته سوی وه ليکن د هغه حديثو څه جواب دی چي د هغه څخه معلوميږي چي رسول الله ﷺ خو هميشه د مازديگر وروسته دوه رکعته نفل کول په صحيح بخاري کي د بي بي عائشې رضي الله عنها دا روايت نقل دی هغه

وفرمایل په هغه الله دي مي قسم وي چي رسول الله ﷺ پې ددې دنیا څخه واخیستی رسول الله ﷺ د مازدیگر د لمانځه وروسته دوه رکعته کول نه پریښول تر دې چي رسول الله ﷺ د خپل پروردګار سره ملاقت وکړ دا دول نور روایتونه هم موجود دي.

د دوی جواب دادی چي د احادیث صحیحه څخه دا ثابته ده چي د مازدیگر د لمانځه وروسته بل لمونځ کول مکروه دی د جمهورو علماؤ هم دا رایه ده، د امیر المؤمنین حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په باره کي هم دا ثابته ده چي هغوی به د مازدیگر د فرض لمانځه وروسته بل لمونځ کولو څخه منعه کول نه یوازي دا بلکه داسي خلک به پې وهل چي د مازدیگر وروسته به یې نفل وغیره کول.

اوس به دا وویل سي چي ددې ممانعت سربیره د رسول الله ﷺ د مازدیگر د لمانځه وروسته دوه رکعته لمونځ کول په اصل کي د رسول الله ﷺ د خصائص څخه نه وو څرنگه چي رسول الله ﷺ صوم وصال یعني پرله پسې روژې نیولې خو نور خلک به پې ددې کار څخه منعه کول.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د سهار د سنتو قضا

﴿۹۷۷﴾: عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ عَنْ قَيْسِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ رَأَى النَّبِيُّ صَلَّى

حضرت محمد بن ابراهیم د قیس بن عمرو رضی الله عنه څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ ولیدی

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلاً يُصَلِّي بَعْدَ صَلَاةِ الصُّبْحِ رَكْعَتَيْنِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ

یو سړي د سهار د لمانځه وروسته پر دوه رکعته کولو باندي ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل:

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةُ الصُّبْحِ رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ فَقَالَ الرَّجُلُ إِنِّيْ

د سهار لمونځ دوه دوه رکعته دی ، هغه سړي وویل

لَمْ أَكُنْ صَلَّيْتُ الرَّكْعَتَيْنِ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا فَصَلَّيْتُهُمَا الْآنَ فَسَكَتَ رَسُوْلُ

د سهار د فرض لمانځه څخه مخکي دوه رکعته سنت ما نه وه کړې هغه ما په دې وخت کي وکړل ، (د دې په اوریدو سره) رسول الله ﷺ پټه خوله سو ،

اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رواه أبو داود وروى الترمذي نحوه وقال إسناد هذا الحديث ليس بمتصل لأن محمد بن إبراهيم يسمع لم يسمع من قيس بن عمرو . وفي شرح السنة ونسخ المصابيح عن قيس بن قهد نحوه .

ترمذي هم دا ډول روايت کړی دی او ويلي يې دي ددې سند متصل نه دی ځکه چې محمد ابن ابراهيم د قيس بن عمر څخه نه دي اوريدلي د شرح السنة او مصابيح په نسخو کې د قيس ابن فهد څخه داسې روايت دی ، د امام شافعي په نزد که د سهار سنت پاته سي نو د لمر ختلو څخه وروسته يې قضا کيږي ، امام اعظم ابو حنيفة او امام يوسف وايي که سنت پاته سي نو قضاء دې يې وکړي که فرض هم پاته سي نو د زوال څخه مخکې دي فرض او سنت دواړه وکړي .

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\ ۵۱، رقم: ۱۲۶۷ والترمذي ۲\ ۲۸۴- ۲۸۵، رقم: ۴۲۲، البغوي في شرح السنة ۳\ ۳۳۴، رقم: ۷۸۱، مصابيح السنة ۱\ ۳۸۷، رقم: ۷۵۰.

تشريح : د حديث جمله صلوة الصبح الركعتين څخه مخکې يو لفظ مقدر يعني پټ دی يعني دا عبارت په پوره توګه سره اجعلوا صلوة الصبح رکعتين ، لفظ د رکعتين نفي د زيات تاکيد لپاره مکرر فرمايل سوی دی مطلب يې دادی چې د سهار فرض دوه رکعته کوه د هغه وروسته څه لمونځ مه کوه رسول الله ﷺ د لمونځ کونکي د جواب په اوريدو سره پټه خوله سو د محدثين په اصطلاح کې دې په ارمتيا تقرير وويل سي چې د رسول الله ص مخکې څه عمل وسو او رسول الله ﷺ پر هغه سکوت وفرمايلو که څه هم رسول الله ﷺ په هغه عمل راضي سو نو ددې حديث څخه دا معلومه سوه که د سهار د فرض لمانځه مخکې دوه رکعاته سنت نه وي سوي نو د فرض لمانځه وروسته د هغه قضاء کول پکار ده د امام شافعي رحمة الله عليه دا مذهب دی .

د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه او امام ابويوسف رحمة الله عليه په نزد په دې اړه مسئله داده چې د سهار د سنتونو قضاء څخه خو د لمر ختو مخکې سته او نه د لمر ختو وروسته ليکن سنت که د فرضو سره فوت سي نو هغه د فرضو سره د لمر کښته کيدو مخکې دي قضاء وکړل سي ،امام محمد رحمة الله عليه فرمايي چې صرف د سنتو هم قضاء کيدای سي خو د لمر ختو څخه د لمر ترکښته کيدو پوري .

د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه او ابويوسف رحمة الله عليه دليل دادی چې په سنتو کې اصل عدم قضا ده او قضا د واجب سره مخصوص ده او حديث چې د سنتو د قضاء اثبات کې

وارد دي هغه د هغه د سنتو په باره كي دى چي د فرضو سره فوت سوى وي پاته سنت به خپل اصل عدم يعني عدم قضاء باندي وي يعني د هغه قضاء به نه سي كولاي تر څو پوري چي ددې حديث تعلق دى محمد ابن ابراهيم دا حديث ضعيف دى ځكه داده څه مذهب بنياد او دليل جوړولو لپاره صحيح نه دى ، همداسي د نورو وختونو د سنتونو مسئله هم داده چي د وخت وروسته تنهاء د هغه قضاء وكړل سي البته هغه سنت چي د فرضو سره فوت سوى وي د فرضو سره د هغه قضاء په باره كي اختلاف دى .

د بيت الله طواف هر وخت كيداى سي

﴿۹۷۸﴾: وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا بَنِيْ

د حضرت جبير بن مطعم رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي اې

عَبْدِ مُنَافٍ لَا تَمْنَعُوْا أَحَدًا طَافَ بِهٰذَا الْبَيْتِ وَصَلّٰى أَيَّةَ سَاعَةٍ شَاءَ مِنْ لَيْلٍ أَوْ نَهَارٍ . رواه الترمذي وأبو داود والنسائي .

د عبد مناف اولاده هيڅوک ددې كور (خانه كعبه) د طواف څخه مه منعه كوئ او په شپه او ورځ كي كله چي څوک غواړي لمونځ دي كوي . ترمذي، ابوداؤد او نسائي

تخريج: سنن ابیٔ داؤد: ۲\ ۴۴۹، ۴۵۰، رقم: ۱۸۹۴ . والترمذي ۳\ ۲۲۰، رقم: ۸۶۸، والنسائي ۱\ ۲۸۴، رقم: ۵۸۴.

تشريح : د خانه كعبه خدمت عبد مناف ته په حواله وو او د هغه انتظامات او مشري د هغوى پر ذمه وه، رسول الله ﷺ هغوى ته حكم وكړ كه د شپې او ورځي هره حصه كي خواه د لمر ختو وخت وي يا نصف النهار يعني غرمه د ټولو علماوو په نزد د خانه كعبه طواف كولاى سي په دې كي هيڅ چاته اختلاف نسته .

په بيت الله شريف كي هر وخت د لمونځ كولو مسئله

البته په دې باره كي د علماوو اختلاف دى چي په خانه كعبه كي د شپې او ورځي په هره برخه كي كه څه هم مكروه وخت وي لمونځ كيداى سي كه نه؟ د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد د حديث په وجه په خانه كعبه كي هر وخت هر څوک لمونځ كه هغه د طواف دوه ركعته وي يا بل لمونځ وي كيداى سي .

د امام احمد رحمه الله مذهب دادی چي په خانه کعبه کي يوازي د طواف دوه رکعته هر وخت کيدای سي د امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله په نزد په خانه کعبه کي دننه په اوقات مکروهه کي هيڅ لمونځ هم نه دی جائز ځکه چي دا وختونه د حرمت او کراهت په اړه د مکي حکم هم د نورو ښارونو په ډول دی او ښکاره ده چي د اوقات د حرمت او کراهت حکم او په هغه کي د لمانځه کولو د ممانعت په اړه کي چي کم حديثونه نقل سوي دي هغه ټول عام دي په هغه کي د هيڅ ځاي او هيڅ ښار تخصيص نسته چي په فلاني ځاي کي خو په دې وختونو کي لمونځ کول جائز دی او په فلاني ځاي کي ناجائز دی تر څو پوري چي د حديث تعلق دی نو په دې اړه ويل سوي دي چي رسول الله ص ددې ارشاد مراد دادی چي په خانه کعبه کي کم وخت وغواړي لمونځ کيدای سي البته په اوقات مکروهه کي هم لمونځ نه سي کيدای په دې تاويل سره په ټولو حديثونو کي موافقت او مطابقت هم کيږي چي يو ضروري شی دی.

د جمعې په ورځ په غرمه کي د لمونځ کولو مسئله

﴿۹۶۹﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الصَّلَاةِ نِصْفَ النَّهَارِ حَتّٰى تَزُوْلَ الشَّمْسُ إِلَّا يَوْمَ الْجُمُعَةِ. رواه الشافعي.

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم د غرمې په وخت کي تر څو پوري چي لمر کښته نه سي د لمونځ کولو څخه منعه فرمايلې ده پرته د جمعې د ورځي. شافعي.

تخريج: الامام الشافعي في مسنده ۱\۱۳۹، رقم: ۴۰۸.

تشريح: د امام شافعي رحمه الله خو دا مذهب دی چي د جمعې په ورځ د غرمې په وخت کي هم لمونځ کيدای سي خو د امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله په مذهب په غرمه کي لمونځ کول صحيح نه دی [1]، ددې وجهي څخه چي هغه حديثونه چي په هغه کي مطلقا نهي ثابت نه ده ددې حديث په مقابله کي زيات مشهور دی او دا حديث ضعيف دی چي د دغه حديثو مقابله نه سي کولای يا داسي به وويل سي چي د قاعدې مطابق هر کله چي د يو شي په مقابله کي د حرام او مباح دواړو دلائل موجود وي نو د حرام دلائلو ته ترجيح ورکول کيږي.

---

[1] - د اما اعظم رحمة الله عليه مذهب خو دادی چي دلته نقل سو خو د ابو يوسف رحمة الله عليه قول صحيح او معتمد دئ كذا في الاشباه.

﴿۹۸۰﴾: وَعَنْ أَبِي الْخَلِيْلِ عَنْ أَبِيْ قَتَادَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت ابوالخليل د ابو قتادة رضي الله عنه څخه روايت كوي چي نبي كريم ﷺ

كَرِهَ الصَّلَاةَ نِصْفَ النَّهَارِ حَتّٰى تَزُوْلَ الشَّمْسُ إِلَّا يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَقَالَ إِنَّ جَهَنَّمَ

د غرمې په وخت كي تر څو پوري چي لمر كښته نه سي لمونځ كول مكروه ګڼل پرته د جمعې د ورځي څخه او وه يې فرمايل: دوږخ

تُسَجَّرُ إِلَّا يَوْمَ الْجُمُعَةَ. رواه أبو داود وقال أبو الخليل لم يلق أبا قتادة.

هره ورځ تو ديږي مګر د جمعې په ورځ نه تو ديږي. ابو داؤد.

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\۶۵۳، رقم: ۱۰۸۳.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ (دريم فصل)

مكروه وختونه

﴿۹۸۱﴾: عَنْ عَبْدِ اللهِ الصَّنَابِحِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله الصنابحي رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

إِنَّ الشَّمْسَ تَطْلُعُ وَمَعَهَا قَرْنُ الشَّيْطَانِ فَإِذَا ارْتَفَعَتْ فَارَقَهَا ثُمَّ إِذَا اسْتَوَتْ

كله چي لمر راخيژي نو د هغه سره د شيطان ښكر وي بيا چي هغه پورته سي نو بيل سي بيا چي ټكنده غرمه سي

قَارَنَهَا فَإِذَا زَالَتْ فَارَقَهَا فَإِذَا دَنَتْ لِلْغُرُوْبِ قَارَنَهَا فَإِذَا غَرَبَتْ فَارَقَهَا وَنَهَى

نو (شيطان) بيا لمر ته راسي او د زوال پر وخت ځيني ليري سي او كله چي لمر لويږي نو بيا (شيطان) ورته نژدې راسي او پر لوېدو باندې ځيني جلا سي او منعه كړې ده

رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الصَّلَاةِ فِيْ تِلْكَ السَّاعَاتِ. رواه مالك وأحمد والنسائي.

رسول الله ﷺ په دې وختو كي د لمانځه كولو څخه منعه فرمايلې ده. مالک، احمد، نسائي.

تخريج: الامام مالک في الموطا ۱\۲۱۹، رقم: ۴۴ و احمد في مسنده ۴\۳۴۸، والنسائي: ۱\۲۷۵، رقم: ۵۵۸.

تشريح: رسول الله ﷺ په دغه وختونو كي د لمونځ كولو څخه منعه فرمايلې ده لمونځ كه حقيقتا وي كه حكما لكه د جنازې لمونځ يا سجده تلاوت او امام مالک رحمة الله عليه باوجود ددې چي دا روايت خپله نقل كړى دى خو هغه د پوره غرمې په وخت كي د لمانځه د حرام كيدو قائل نه دى بلكه هغوى دا هم فرمايلي دي چي مونږ اهل فضل ليدلي دي چي هغوى به كوښښ كوى او په غرمه كي به يې لمونځ ادا كوى.

د مازديگر وروسته د لمانځه منعه

﴿۹۸۲﴾: وَعَنْ اَبِيْ بَصْرَةَ الْغِفَارِيِّ قَالَ صَلَّى بِنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابوبصرة الغفاري رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ موږ ته لمونځ راكړى

وَسَلَّمَ بِالْمُخَمَّصِ صَلاَةَ الْعَصْرَ فَقَالَ إِنَّ هَذِهِ الصَّلاَةَ عُرِضَتْ عَلَى مَنْ كَانَ

د مخمص په ځاى كي د مازديگر لمونځ او وه يې فرمايل: دا هغه لمونځ دى چي وړاندي سوى وو

قَبْلَكُمْ فَضَيَّعُوهَا فَمَنْ حَافَظَ عَلَيْهَا كَانَ لَهُ أَجْرُهُ مَرَّتَيْنِ وَلاَ صَلاَةَ بَعْدَهَا

تر تاسو مخكي قومو ته (يعني لازم كړل سوى وو او هغوى ضائع كړ) اوس چي څوک ددې لمونځ ساتنه كوي هغه ته به دوچنده ثواب وي او د مازديگر وروسته هيڅ لمونځ نه سته

حَتَّى يَطْلُعَ الشَّاهِدُ وَالشَّاهِدُ النَّجْمُ. رواه مسلم

تر څو پوري شاهد طلوع نه سي (را ونه خيژي) او شاهد يو ستورى دى. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۵۶۸، رقم: ۲۹۲- ۸۳۰.

تشريح: د دوه برابر ثواب مطلب دادى چي يو خو به ورته ځكه حاصليږي چي لمونځ كول نيک عمل دى او پر هر نيک عمل باندي ثواب حاصليږي او دوهم ثواب د هغه د لمانځه د حفاظت په وجه به ورته حاصليږي پرخلاف د پخوانو قومونو چي هغوى ددې محافظت نه وكړو ځكه د عذاب مستحق سوه ستوري ته شاهد ځكه وسل سوي دي چي هغه د شپې حاضروي يعني راخيژي او ددې مطلب دادى چي تر خوپوري د لمر غروب كيدل ونسي د ماځيگر د لمانځه وروسته دې هيڅ لمونځ و نه وكړل سي.

د ماز دیګر وروسته د دوو رکعتو منع

﴿۹۸۳﴾: وَعَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ إِنَّكُمْ لَتُصَلُّوْنَ صَلاَةً لَقَدْ صَحِبْنَا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى

د حضرت معاویة رضي الله عنه څخه روایت دی چې تاسو لمونځ کوئ او موږ د رسول الله ﷺ په صحبت کې پاته سوی یو

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَا رَأَيْنَاهُ يُصَلِّيْهِمَا وَلَقَدْ نَهٰى عَنْهُمَا يَعْنِي الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ . رواه البخاري .

مګر موږ هیڅکله رسول الله ﷺ پر دې دوو رکعتو کولو نه دی لیدلی بلکه رسول الله ﷺ د دې کولو څخه منعه فرمایلې ده یعني د ماز دیګر د لمانځه وروسته نفلي دوه رکعته یې منعه کړي دي..بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۶۱، رقم: ۵۸۷.

تشريح : په نورو ایاتونو کې خو په وضاحت سره راغلي دي چې رسول الله ﷺ به د ماز دیګر وروسته دوه رکعته کول لیکن دلته معاویه رضي الله عنه د دې څخه انکار کوي نو د دې حدیث به دا تاویل کیږي چې د معاویه رضي الله عنه ارشاد مراد به دا کیږي چې رسول الله ﷺ دا دوه رکعته د دباندي د خلکو مخکې نه کول البته په کور کې د عامو خلکو د نظر څخه د جلا کیدو سره به یې کول چې نور خلک په دې اړه د رسول الله ﷺ پیروي نه وکړي چې د ماځیګر وروسته دا دوه رکعاته صرف رسول الله ﷺ کول صحیح وو د نورو خلکو لپاره جائز نه وو امام طحاوي رحمة الله علیه په دې مسئله کې ایا د ماځیګر وروسته دوره رکعاته کول جائز دي که نه فرمایي چې رسول الله ﷺ څخه متواتر حدیثونه ثابت دي چې د ماځیګر وروسته د بل لمونځ کولو څخه منعه فرمایلې ده او د صحابه کرامو عمل هم پر دې راغلی دی ، نو د دې وجهي د هیڅ چا لپاره مناسب نه ده چې د دې خلاف کوي یعني د ماز دیګر وروسته لمونځ جائز ګرځوي .

﴿۹۸۴﴾: وَعَنْ أَبِيْ ذَرٍ قَالَ وَقَدْ صَعِدَ عَلٰى دَرَجَةِ الْكَعْبَةِ مَنْ عَرَفَنِيْ فَقَدْ

د حضرت ابوذر رضي الله عنه څخه روایت دی چې هغه د کعبې پر زینو وختی او وه یې ویل کوم څوک چې ما پیژني نو په تحقیق سره

عَرَفَنِيْ وَمَنْ لَّمْ يَعْرِفْنِيْ فَأَنَا جُنْدُبٌ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

پيژني به مي او چا چي زه ونه پيژندلم نو هغه ته ښيم چي زه جندب يم ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي

وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لاَ صَلاَةَ بَعْدَ الصُّبْحِ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسَ وَلاَ بَعْدَ الْعَصْرِ حَتّٰى

چي فرمايل يې: د سهار په وخت کي تر څو پوري چي لمر راونه خيژي هيڅ لمونځ نسته او نه د مازديگر څخه وروسته تر څو پوري چي

تَغْرُبَ الشَّمْسَ إِلاَّ بِمَكَّةَ إِلاَّ بِمَكَّةَ إِلاَّ بِمَكَّةَ . رواه أحمد ورزين .

لمر ونه لويږي خو په مکه کي خو په مکه کي خو په مکه کي . احمد او رزين.

تخريج: الامام احمد في مسنده ۵\۱۶۵-۱۶۶.

تشريح : د بيت الله شريفي دروازه پورته ده ځکه هغه ته د ختلو لپاره زينه وه اوس هم يوه زينه د ممبر په شکل کي ده چي د خانه کعبه مخکي د زمزم د څاه سره ده کله چي خانه کعبه ته دننه داخليږي نو هغه د دروازې مخ ته ايږدي نو احتمال دی چي هغه وخت هم ددې قسم يا څه بل شان زينه به وه چي د هغه په ذريعه به خانه کعبه کي دننه داخليدی.

په هر حال حضرت ابوذر رضي الله عنه چي د هغه نوم جندب وو د کعبې پر زينې د ختلو سره دا خبره ې وکړه چي خلک د هغه صداقت شعاري او د رښتيا په وجه حديث صحيح وګڼي همدا سي ابوذر رضي الله عنه ګويا دې ته اشاره وکړه چي رسول الله ﷺ د هغه په باره کي فرمايلي وه چي ابوذر رض څخه زيات راستګو او رښتنی انسان نه خو د اسمان سايې وکړو او نه د مځکي لوړ.

په مکه مکرمه کي اوقات مکروه کي د لمانځه د جائز کيدو مسئله تر دې مخکي د حديث نمبر اووم په تشريح کي ښودل سوې ده په دې وخت کي په دې خبري باندي پوه سئ چي دا حديث ضعيف دی.

========

بَابُ الْجَمَاعَةِ وَفَضْلِهَا

جماعت او د هغه د فضيلت بيان

د جماعت په فضيلت او تاكيد كي صحيح احاديث دومره ډېر راغلي دي كه ټول يوځاى كړل سي نو يو كتاب ځني جوړيږي ددې باب لاندي داسي حديثونه نقل كيږي چي د هغه څخه د جماعت فضيلت او تاكيد او د هغه د احكامو او مسائلو علم حاصليږي ددې حديثو د ليدو وروسته په يقيني توګه سره تاسو به دا نتيجه واخلئ چي په جماعت سره د لمانځه په تكميل كي د يو اعلي درجې شرط دى رسول الله ﷺ هيڅ كله جماعت نه دى پرې ايښى حتي د مرض په حالت كي هم خپله مسجد ته ورتلل ورته ممكن نه وه نو د دوو خلكو په مرسته سره به مسجد ته بېول كېدى او په جماعت سره به يې لمونځ ادا كوى .

په دې كي هيڅ شک نسته چي په شريعت محمدي كي د جماعت ډېر اهتمام سوى دى او كيدل هم پكار دي ځكه چي د لمانځه په ډول عظيم عبادت ددې متقاضي وو چي په كوم شي سره د دې تكميل كيږي هغه اعلي درجې ته ورسول سي .

جماعت فرض او واجب دى كنه ؟

په دې باره كي د علماؤ اختلاف دى چي ايا جماعت سنت دى كه واجب كه فرض عين يا فرض كفايه د بعضو علماوو رايه داده چي جماعت فرض عين دى مګر كله چي يو عذر وي، دا قول د امام احمد رحمة الله عليه، داؤد رحمة الله عليه، عطاء رحمة الله عليه او ابوثور رحمة الله عليه دى د بعضو علماوو قول دادى چي څوک د لمانځه لپاره اذان واوري او په مسجد كي حاضر نه سي نو د هغه لمونځ نه دى صحيح د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد جماعت فرض كفايه دى .

د امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه او د هغه د متبعينو مذهب دادى چي جماعت سنت موكده واجب قريب دى ليكن د فقهي په كتابو كي دا معلوميږي چي د جماعت په باره كي د حنفي فقهاوو دوه قوله دي په بعضو كتابونو كي جماعت واجب ليكل سوى دى مشهور محقق ابن همام رحمة الله عليه ليكي چي زمونږ د اكثرو مشائخو مذهب دادى چي جماعت واجب دى ليكن دې ته سنت ځكه ويل سوى دى چي د جماعت ثبوت په سنت يعني حديث سره دى نه دا چي خپله جماعت سنت دى څرنګه چي د اختر لمونځونه واجب دي خو هغه ته سنت ځكه ويل سوى دى چي د هغه ثبوت د حديث څخه دي .

د جماعت احکام او مسائل

په کتاب البدائع کي ليکلي دي چي د جماعت لپاره په مسجد کي حاضريدل پر هر عاقل ،بالغ ،غير معذور باندي واجب دی او که په يوه مسجد کي جماعت لاندي نه کي نو په نورو جوماتونو کي گرځيدل واجب نه دی البته د جماعت د سعادت حاصلولوپه خاطر که نورو مسجدونو ته ولاړ سئ نو دا ښه خبره ده قدومي ليکلي دي چي په دې صورت کي په مسجد کي جماعت لاندي نه کي نو پکار ده چي اهل وعيال را جمع کي او په کور کي په جماعت سره لمونځ وکي په دې مسئله کي د علماو و دلته اختلاف دی چي د محلې په مسجد کي جماعت افضل دی که په جامعه مسجد کي که په يوه محله کي دوه مسجدونه وي نو په هغه کي قديم جومات اختيارول پکار دي او که دواړه برابر وي نو بيا کم مسجد چي نژدې وي هغه دي اختيار کړل سي جماعت تراويح په لمانځه کي که څه هم يو قرآن کريم په جماعت سره سوی دی او نماز کسوف لپاره سنت موکده دی د رمضان د مياشتي په وتر لمانځه کي جماعت مستحب دی د روژې څخه پرته په بله زمانه کي يعني په بل وخت کي جماعت مکروه تنزيهي دی خو ددې د مکروه کيدو شرط دادی چي هميشگي وکړل سي که هميشگي نه وکړل سي بلکه کله کله دوه درې خلک په جماعت سره لمونځ وکړي نو مکروه نه دی .

د سپوږمۍ د تندري نيولو په وخت کي او په ټولو نوافلو کي جماعت مکروه تحريمي دی په شرط ددی چي نوافل په هغه اهتمام سره اداء کړل سي په کم اهتمام سره چي د فرائض جماعت کيږي يعني اذان او په اقامت سره يا په څه بلي طريقې سره خلک په راجمع کولو سره هو که بې اذان او بغير را بلني دوه يا درې خلک راټول سي او نفل په جماعت سره وکړي نو هيڅ پرواه نسته .

د جماعت حکمتونه او گټي

د جماعت حکمتونه څه دي او ددې څه فائدې مرتب کيږي په دې موضوع علماو و ډير څه ليکلي دي ليکن په دې سلسله کي امام الکبير شاه ولي الله محدث دهلوي رحمة الله عليه چي کمه لطيفه او جامع خبره کړې ده هغه بل ځای په نظر نه راځي نو پر داسي وخت باندي د هغوی تقرير نقل کولاي سو هغوی فرمايي چي :

۱. اول هيڅ شی تر دې زيات گټور نه دی چي يو عبادت داسي په رسم عام سره وکړل سي چي هغه عبادت يو ضروري عادت جوړ سي چي د هغه پريښنول د يو عادت پريښنولو په رقم نا ممکن سي او په ټولو عبادتونو کي تر لمانځه زيات عظيم او شاندار بل عبادت نسته چي د هغه سره دا خاص اهتمام وکړل سي .

۲. په مذهب كي هر ډول خلك وي جاهل هم عالم هم نو دا ډيره د مصلحت خبره ده چي ټول خلك په راجمع كيدو سره د يوبل مخكي هغه عبادت ادا كړي او كه د چا څخه داسي غلطي سوې وي نو دوهم ېې ورته وښوييي ګويا د الله تعالى عبادت يو زيور سو ټول حاجت كونكي ورته ګوري كمه خرابي چي په هغه كي وي نو ورته وه يې ښيي نو هغه ډيره بده ورته معلوميږي او كمه خوبي چي پكښي وي نو په هغه فخر كوي نو د لمانځه د تكميل به دا يوه ذريعه وي .
۳. كوم خلك چي بې لمانځه وي د هغوى به هم ددې سره حال پيداسي او د هغوى د وعظ ونصيحت موقع به ورته حاصله سي .
۴. د يو څو مسلمانانو په يو ځاي كيدو سره د الله پاك عبادت كول او د هغه څخه دعا غوښتل د حق تعالى د رحمت د نزول او د قبوليت لپاره يو عجيبه خاصيت لري .
۵. ددې امت په ذريعه د الله تعالى دا مقصود وي چي د هغه د نامه كلمه ډيره لوړه سي او د كفر كلمه كښته سي او د مځكي پر مخ هيڅ څوك پر مذهب اسلام باندي غالب نسي او دا خبره هلته كيداي سي چي دا طريقه مقرره كړل سي چي ټول مسلمانان كه هغوى د هري درجې او طبقې وي عام وخاص مسافر او مقيم كوچني او لوئ ټول خپل څه لويي او مشهور عبادت لپاره را جمع سي او د اسلام شان او شوكت او د هغه عظمت د خپل اجتماعيت څخه په څرګنده ددې ټولو مصلحتونو پيش نظر د شريعت پوره توجه د جماعت خواته مصروفه سوه او ددې ترغيب وركړل سو او ددې د پريښودو ممانعت هم وكړل سو .
۶. په جماعت كي دا فائده هم ده چي ټول مسلمانان د يو بل په حال خبريږي او د يو بل په درد او مصيبت كي سره شريك كيږي چي په هغه سره د ديني وروږګلوۍ او ايماني محبت پوره اظهار او استحكام كيږي چي ددې شريعت يو لوي مقصود دى او د هغه تاكيد او فضيلت ځاي پر ځاي په قرآن كريم كي بيان سوى دى .

د اوسنۍ زمانې د نظرياتي دور مطابق كه وكتل سي نو جماعت د اسلام د نظريه مساوات تر ټولو لوړ مظهر دى په ورځ كي پنځه واره د الله تعالى ټول بندګان چي په دنياوي اختيار سره د كم منصب او مرتبې چي وي خپله ټوله برتري او فوقيت او خپل دنياوي جاه وجلال بالايي په ايښودو سره د الله په حضور كي د ټولو مسلمانانو سره په يو ځاي كيدو سره په سجده كيږي او په ژبې سره ددې خبري اقرار كيږي چي :

ایک ہی صف میں کھڑے ہوگئے محمود وایاز نہ کوئی بندہ رہا اونہ کوئی بندہ نواز

د جماعت د پرېښودو عذر

ځرنګه چې ښودل سوي دي چې پر هر عاقل بالغ او غیر معذور باندي جماعت واجب دی لیکن که یو سړی معذور وي یعني هغه ته داسي عذر پېښ وي چې د هغه په وجه هغه مسجد ته د تلو سره په جماعت کي نسي شریک کیدلای نو د هغه لپاره جماعت نه واجب کیږي .فقهاء د جماعت پرېښولو پنځه لس عذرونه بیان کړي دي :

۱. د لمانځه د صحیح کیدو یو شرط طهارت او پاکي یا ستر وغیره نه تر لاسه کېدل

۲. سخت باران وریدل په دې اړه امام محمد رحمة الله علیه په خپل کتاب موطا کي لیکلي دي چي که څه هم د سخت باران په صورت کي مسجد ته نه تلل جائز دی لیکن بهتر داده چي ولاړ سي او په جماعت سره لمونځ وکړي .

۳. د مسجد په لار کي سختي ختهي پرتې وي نو مسجد ته نه تلل جائز دي .

۴. یخ دومره زیات وي چي د کور څخه د راوتلو په وخت کي د ناروغی بېره وي.

۵. مسجد ته د تلو په وخت کي د مال او اسباب د غلا کیدو بیره وي .

۶. مسجد ته په تلو کي دد ښمن بیره وي .

۷. مسجد ته په تلو کي د پوروړي څخه د تکلیف رسیدو بیره وي په شرط ددې چي هغه د پور ادا کولو وړ نه وي او که وړ یې وي نو هغه ظالم ګڼل کیږي او هغه ته په مسجد کي د داخلیدو اجازت نسته .

۸. د شپې دومره سخته تیاره وي چي لار نه سي لیدل کیداي په داسي حالت کي دا ضروري نه ده چي سراغ وغیره په اخستو سره ولاړ سي.

۹. د شپې وخت چي هوا او سیلۍ ډیره سخته چلیږي .

۱۰. د یو مریض خدمت کول وي چي د هغه مسجد ته د تلو سره د هغه مریض د تکلیف یا بل څه بیره وي .

۱۱. بولي یا غټي بولي معلومیږي (زور وکړي) .

۱۲. د سفر اراده لري او بیره لري چي په جماعت سره په لمانځه به ځنډ وسي او سواري به ولاړ سي لکه بس ګاړی ریل ګاډی طیاره وغیره

۱۳. د فقهي وغیره په ویلو یا ښودلو کي داسي مصروفه وي چي بالکل فرصت نه سي تر لاسه کولای .

۱۴. يو داسي ناجوړي مثلا فالج وغيره يا دومره ضعيف وي چي پر تلو باندي نه وي قادره يا ړوند وي که څه هم مسجد ته د رسولو لپاره ورته څوک حاصل سي يا شل و ګډ وي يا لاسونه او پښې پرې وي.

۱۵. ډوډۍ تياره وي يا تيارولو ته نژدې وي او دومره سخت وږی وي چي په لمانځه کي د زړه نه لګېدو بيره وي نو په دغه حالاتو کي جماعت پرېښودلای سي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د جماعت د لمانځه ثواب

﴿۹۸۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةُ الْجَمَاعَةِ أَفْضَلُ مِنْ صَلَاةِ الْفَذِّ بِسَبْعٍ وَعِشْرِينَ دَرَجَةً. متفق عليه

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په ثواب کي د جماعت لمونځ تر يوازي لمانځه اوه ويشت درجې زيات دی. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۱۳۱، رقم: ۶۴۵ ومسلم ۱\۴۵۰، رقم: ۲۴۹– ۶۵۰.

تشريح: د ابن عمر رحمة الله عليه د دې روايت څخه خو د جماعت د لمانځه د ثواب د زياداتي او ويشت درجې معلوميږي خو په نورو روايتونو کي پنځوويشت درجې زياتي مذکوري دي علماء محدثين ليکي چي په اکثرو روايتونو کي دا ثابته ده چي د جماعت د لمانځه د ثواب د ځان ته د لمانځه د ثواب څخه پنځه ويشت درجې زيات ثواب لري د حضرت عمر رضي الله عنه يو داسي روايت دی چي په هغه کي د اووه ويشتو درجو ذکر سوی دی نو په دې حديث کي او په نورو حديثونو کي دا تطبيق پيدا کيږي چي مخکي به د وحي په ذريعه د پنځويشتو درجو د زياد ثواب حاصليدو په باره کي معلومه سوه بيا وروسته به حق تعالی خپله په خپل فضل او کرم سره د اووه ويشتو درجو د زياتي اعلان کړی وي.

د تطبيق يو صورت دا هم دی چي دا وويل سي چي د درجو اختلاف د لمونځ ګزار د احوالو د فرق په وجه دی يعني د يو لمونځ کوونکي د جماعت د لمانځه ثواب د هغه د خپل احوال په وجه اووه ويشت چنده ثواب حاصليږي او د يوه لمونځ کوونکي د جماعت د لمانځه ثواب د هغه خپل د احوالو په وجه پنځه ويشت چنده حاصيږي.

په دې باره کي اختلاف دی چي د ثواب د زیادتي د افضلیت د هغه جماعت په لمانځه سره مختص دی چي په مسجد کي اداء کړل سي بلکه په کور وغیره کي اداء کړل سي د یو څو علماوو رایي خو داده چي دا فضیلت د مسجد په جماعت سره خاص دی نو د نورو بعضو علماوو قول دی چي دا فضیلت په عمومي توګه سره د هر جماعت د لمانځه لپاره دی که په مسجد کي اداکونکی جماعت وي یاد مسجد څخه پرته په بل ځاي کي وي.

د جماعت پر پرېښودو عذاب

﴿۹۸۶﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِيْ

د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: قسم په هغه ذات

نَفْسِيْ بِيَدِهِ لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ آمُرَ بِحَطَبٍ فَيُحْطَبَ ثُمَّ آمُرَ بِالصَّلَاةِ فَيُؤَذِّنُ

چي د هغه په واک کي زما روح دی! ما اراده وکړل چي زه د اور لګولو حکم ورکړم او بیا د لمانځه حکم ورکړم بیا د لمانځه آذان وسي

لَهَا ثُمَّ آمُرَ رَجُلًا فَيَؤُمَّ النَّاسَ ثُمَّ أُخَالِفُ إِلَى رِجَالٍ. وَفِيْ رِوَايَةٍ لَا يَشْهَدُوْنَ

بیا یو امام وټاکم چي خلکو ته لمونځ ورکړي بیا زه هغه خلکو ته ورسم، په یوه روایت کي دي چي لمانځه (جماعت) ته نه حاضرېږي

الصَّلَاةَ فَأُحَرِّقَ عَلَيْهِمْ بُيُوْتَهُمْ وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ لَوْ يَعْلَمُ أَحَدُهُمْ أَنَّهُ

او د هغوی کورونه وسوځم، په هغه ذات دي مي قسم وي چي د هغه په واک کي زما روح ده که په تاسو کي چا ته دا څرګنده سي

يَجِدُ عَرْقًا سَمِيْنًا أَوْ مِرْمَاتَيْنِ حَسَنَتَيْنِ لَشَهِدَ الْعِشَاءَ. رواه البخاري ولمسلم نحوه.

چي په جماعت کي غوړ او سور هډوکي یا د پسه یا غوا دوه نوکي تر لاسه کړي نو هغوی به د ماخستن تر لمانځه پوري حاضر وي. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۲۵\۲، رقم: ۶۴۴، ومسلم ۴۵۱\۱، رقم: ۲۵۱-۶۵۱.

د لغاتو حل: (عَرقا): العرق هو العظم الذي عليه لحم: (هغه هډوکی چي غوښه ولري).
(مرمَاتين): تثنية مرمَاة وهي ظلف الشاة.

تشريح : ددې حديث څخه د جماعت د اهميت اندازه لګول کيږي چي کوم خلک د جماعت لپاره مسجدو ته نه راځي نو هغه خلکو ته په عذاب خداوندي کي د نيولو سزا په څومره مبالغه سره بيانيږي چي رسول اللهﷺ بذات خود دا اراده وکړل چي هغو خلکو ته چي په مسجد کي نه حاضريږي سزا ورکړي د حديث شريف په اخر کي د داسي خلکو ذهني افتاب او د طبعي کمزوري خواته اشاره ده که هغوی ته دا معلومه سي چي په مسجد کي د دنيا څه حقير شئ هم حاصليږي نو هغوی په لمانځه کي د شريکيدو لپاره به په زغاسته راځي خو د اخرت سعادت او د حق تعالى جل شانه د قرب په رقم عظيم او غير قانوني د حول خواته د هغوی ميلان نه وي دا حديث په دې خبره دلالت کوي چي د امام لپاره دا جائز ده چي هغه د څه عذر په وجه ځوک خپل قائم مقام جوړ کړي او خپله د يو خاص ضرورت په وجه ولاړ سي.

ړوند به هم جماعت ته ځي

﴿۹۸۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ أَعْمَى فَقَالَ يَا

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي يو ړوند سړی (عبد الله بن ام مکتوم) د نبي کريمﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض يې وکړ چي:

رَسُولَ اللَّهِ إِنَّهُ لَيْسَ لِي قَائِدٌ يَقُودُنِي إِلَى الْمَسْجِدِ فَسَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

اې د الله رسوله! جماعت ته د راوستلو زما ځوک نسته بيا هغه د رسول اللهﷺ څخه پوښتنه وکړه

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُرَخِّصَ لَهُ فَيُصَلِّيَ فِي بَيْتِهِ فَرَخَّصَ لَهُ فَلَمَّا وَلَّى دَعَاهُ فَقَالَ

چي هغه ته په کور کي د لمانځه کولو اجازت ورکړي، رسول اللهﷺ اجازت ورکړ کله چي هغه روان سو نو رسول اللهﷺ بيا راوغوښتی او ورته وه يې فرمايل:

هَلْ تَسْمَعُ النِّدَاءَ بِالصَّلَاةِ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَأَجِبْ. رواه مسلم.

ايا ته د آذان آواز اورې؟ هغه عرض وکړ: هو، نو رسول اللهﷺ ورته وفرمايل ستا لپاره جماعت ته راتلل ضروري دي. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۴۵۲، رقم: ۲۵۵- ۶۵۳.

تشریح: د صحیحین په حدیث کي نقل دي چي کم وخت چي عتبان ابن مالک رحمة الله علیه د خپل روندوالي شکایت وکړ چي ددې په وجي زه د مسجد د حاضري څخه معذوره یم نو رسول الله ﷺ هغه ته ددې خبري اجازت ورکړ چي په خپل کور کي لمونځ وکي ددې څخه دا معلومه سوه چي نا بینا سړي ته د جماعت پرېښولو اجازت دی خو څنګه چي ددې حدیث څخه معلومه سوه چي رسول الله ﷺ عبدالله ابنٔ مکتوم رضی الله عنه ته د جماعت د پرېښولو اجازت نه ورکړل د هغه وجه دا وه چي هغه د افضلو مهاجرینو څخه وو د هغه د شان سره دا لائقه خبره وه چي هغه پر اولي باندي عمل وکړي یعني په جماعت کي حاضر سي رسول الله ﷺ خو هغه ته مخکي اجازت ورکړه خو بیا وحي راتلو یا د اجتهاد بدلیدو په وجه رسول الله ﷺ اجازت واپس واخستله په دې حدیث کي د اذان د اوریدو وروسته په مسجد کي د حاضري ضرورت او د اهمیت کمال مبالغې سره بیان سوی دی.

په سخت یخ او باران کي جماعت

﴿۹۸۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ أَذَّنَ بِالصَّلَاةِ فِيْ لَيْلَةٍ ذَاتِ بَرْدٍ وَّرِيْحٍ ثُمَّ قَالَ أَلَا

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی چي هغه یوه یخه شپه چي هوا چلیدل د لمانځه آذان وکړې بیا د آذان وروسته یې وویل: خبردار!

صَلُّوْا فِي الرِّحَالِ ثُمَّ قَالَ إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْمُرُ

په خپلو خپلو کورو کي لمونځ وکړئ، ددې وروسته یې وویل رسول الله ﷺ به په داسي وخت کي چي سخت یخ او باران به وو، حکم به یې کوی

الْمُؤَذِّنَ إِذَا كَانَتْ لَيْلَةٌ ذَاتُ بَرْدٍ وَمَطَرٍ يَقُوْلُ أَلَا صَلُّوْا فِي الرِّحَالِ. متفق علیه

مؤذن ته دا حکم ورکوی چي هغه په آذان کي دا هم ووایي چي آګاه سئ په خپلو خپلو کورو کي لمونځ وکړئ. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۲\ ۱۱۲، رقم: ۶۳۲ ومسلم ۱\ ۴۸۴، رقم: ۲۲- ۶۹۷.

تشریح: ددې حدیث څخه معلومه سوه چي په سخت یخ او باران کي هم جماعت پرېښودل عذر دی په داسي وختونو کي د جماعت په پرېښودو سره په خپل کور کي لمونځ کیدای سي.

ابن همام رحمة الله علیه د امام ابویوسف رحمة الله علیه دا قول نقل کوي چي ما د امام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه څخه پوښتنه وکړل چي د خټو وغیره په حالت کي د جماعت لپاره ستاسو څه حکم دی؟ نو

هغوی و فرمایل چي جماعت پرېښودل زما خوښ نه دي.

د لمانځه مخکي ډوډۍ خوړل

﴿۹۸۹﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وُضِعَ عَشَاءُ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ و فرمایل: هر کله چي تاسو ته د شپې ډوډۍ کېښېښودل سي

أَحَدِكُمْ وَأُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَابْدَؤُوا بِالْعَشَاءِ وَلَا يَعْجَلْ حَتَّى يَفْرُغَ مِنْهُ وَكَانَ

او د لمانځه اقامت و سي نو اول ډوډۍ وخورئ او د ډوډۍ په خوړلو کي تلوار مه کوئ او په اطمینان سره د ډوډۍ څخه فارغ سئ،

ابْنُ عُمَرَ يُوضَعُ لَهُ الطَّعَامُ وَتُقَامُ الصَّلَاةُ فَلَا يَأْتِيهَا حَتَّى يَفْرُغَ مِنْهُ وَإِنَّهُ لَيَسْمَعُ قِرَاءَةَ الْإِمَامِ. متفق عليه

د ابن عمر رضي الله عنه مخته به د شپې ډوډۍ کېښېښودل سول او لمونځ به پیل سو نو تر څو چي ډوډۍ به يې نه وه خوړلې لمانځه ته به نه تلی حال دا چي د امام قرائت به يې اوریدی. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۱۵۹، رقم: ۶۷۳ و مسلم ۱\۳۹۲، رقم: ۶۶ – ۵۵۹.

تشريح: څرګنده ده چي دا حکم په هغه صورت کي دی کله چي لمونځ کونکی وږی وي او پوهیږي که د لوږي په حالت کي لمونځ وکړم نو خیال به مي د ډوډۍ خوا ته وي او لمونځ به په اطمینان او سکون سره ادا نه کړای سم نو د هغه لپاره دا غوره ده چي مخکي ډوډۍ وخوري او د هغه وروسته لمونځ وکړي په دې شرط چي په وخت کي پراخي هم وي یعني دومره وخت وي چي هغه د ډوډۍ د فارغه کېدو وروسته په اطمینان سره لمونځ کولای سي.

د تشو او ډکو بولو د حاجت پر وخت لمونځ

﴿۹۹۰﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا صَلَاةَ بِحَضْرَةِ الطَّعَامِ وَلَا هُوَ يُدَافِعُهُ الْأَخْبَثَانِ. رواه مسلم

د حضرت عائشي رضي الله عنها څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي د ډوډۍ د حاضرېدو پر وخت پوره لمونځ نه کیږي او نه هغه وخت چي دوه نجاسته زور وکړي (یعني تشي

او ډكي بولي راسي). مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۳۹۳، رقم: ٦٧ – ٥٦٠.

تشريح: مطلب دادی که د یو سړي مخ ته ډوډۍ راسي یا هغه ته د تشو یا ډکو بولو ضرورت وي نو هغه ته په دغه وخت کي لمونځ کول نه دی پکار، ددې شیانو وروسته دي خپل لمونځ وکړي.

علامه نووي رحمة الله عليه فرمايي: کله چي د چا مخ ته ډوډۍ راسي او ډوډۍ ته د هغه خواهش هم وي یا د تشو او ډکو بولو تقاضا وي نو په داسي صورت کي هغه ته لمونځ کول مکروه دی او باد او قی هم په دې حکم کي شامل دی یعني په دغه وخت کي دي لمونځ نه کوي ځکه چي د هغه په وجه په لمانځه کي د قلب حضوري او خشوع او خضوع نه پاته کیږي چي د هغه په وجه لمونځ په کامله توګه سره نه ادا کیږي خو په دې ټولو صورتو کي د وخت د وسعت شرط دی که وخت تنګ وي نو په هر صورت کي لمونځ کول پکار دی.

د اقامت وروسته یوازي فرض لمونځ کول پکار دی

﴿۹۹۱﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُقِيمَتْ الصَّلاَةُ فَلاَ صَلاَةَ إِلاَّ الْمَكْتُوبَةُ. رواه مسلم

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله چي اقامت وسي نو د فرض لمانځه پرته بل لمونځ نه دی پکار. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۴۹۳، رقم: ٦٣ – ٧١٠.

تشريح: ددې حدیث څخه دا معلومه سول چي د مؤذن د اقامت ویلو وروسته د سهار سنت هم نه دي کول پکار بلکه د امام سره په فرض لمانځه کي ګډېدل پکار دي د امام شافعي رحمة الله عليه دا مذهب دی خو امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه فرمايي که د سهار د سنت کولو وروسته د فرضو د یوه رکعت تېرېدو یقین هم وي نو سنت دي وکړي د هغه وروسته دي په جماعت کي حاضر سي چي د سنتو ثواب هم دلاسه ولاړ نه سي او د جماعت ثواب هم حاصل کړي لیکن په دې وخت کي سنت د صف څخه جلا کول پکار دي هو که په سنت کولو کي د فرض د لمانځه د دواړو رکعتو د تیریدو بیره وي نو په دې صورت کي دي سنت پرېږدي.

ابن مالک رحمة الله عليه فرمايي په دې حدیث کي چي کوم حکم ذکر سوئ دی د سهار سنت د هغه

ځخه مستثني دی ځکه چي د رسول الله ﷺ ارشاد مبارک دی *صلوها طردتكم الخيل) د سهار سنت خامخا کوئ که څه هم لښکر مو شړي ددې ځخه دا معلومه سوه چي د سهار د سنتو لويي تاکید دی هغه پر ښبو دل نه دي پکار . علامه ابن همام رحمة الله عليه فرمايي د سهار سنت په ټولو سنتو کي زيات اهم او قوي دې چي د حسن رحمة الله عليه د امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه ځخه دا روايت دی چي د سهار سنت بلا عذره په ناستي سره کول جائز نه دي .

ښځو ته د جماعت تللو اجازه

﴿۹۹۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَأْذَنَتِ امْرَأَةُ أَحَدِكُمْ إِلَى الْمَسْجِدِ فَلَا يَمْنَعَنَّهَا . متفق عليه

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه ځخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي په تاسو کي د يو چا ښځه جماعت ته د تلو اجازه وغواړي نو تاسو يې مه منعه کوئ . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\۳۳۷، رقم: ۵۲۳۸، ومسلم: ۱\۳۲٦، رقم: ۱۳۴- ۴۴۲.

تشريح : امام نووي رحمة الله عليه فرمايلي دي چي دا نهي پر کراهيت تنزيهي باندي محمول ده او حضرت مظهر رحمة الله عليه فرمايي چي دا حديث پر دې خبره دلالت کوي چي د ښځو دپاره مسجد ته تلل جائز دي ليکن په موجوده زمانه کي د فتنې د بيري د ښځو مسجد ته تلل مکروه دي ددې موئيد د بخاري او مسلم روايت دی چي بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي که رسول الله ﷺ دا شی ووینې کوم چي ښځو پیدا کړی دی نو بیشکه رسول الله ﷺ دا ښځي مسجد ته د تلو ځخه منعه کوي ځنګه چي د بني اسرائيلو ښځي منعه کړل سوي دي او د ابن مسعود رضي الله عنه په باره کي نقل سوي دي چي هغوی ښځي مسجد ته د تللو ځخه منعه کړې خو سپين سرو ښځو ته يې اجازت ورکړل هغه هم په زړو کالو کي .

ددې خلاصه داده که سپين سري ښځي بېله ځان جوړولو او خوشبويي لګولو مسجد ته تلل غواړي نو د هغوی لپاره تر يو حده پوري اجازه ده خو ځوانو ښځو ته مسجد ته د تللو قطعا اجازت نسته يا دا چي په هغه زمانه کي به ښځي مسجد ته په دې وجه تللې چي ديني احکام او مسائل زده کړي ليکن اوس خو ددې هم حاجت نسته ځکه چي ديني مسائل او احکام دومره مشهور او واضح سوي دي چي په کور کي ناستي ښځي يې هم په آساني سره زده کولای سي.

ښځې دې په خوشبويي لګولو سره مسجد ته نه ځي

﴿۹۹۳﴾: وَعَنْ زَيْنَبَ امْرَأَةِ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَتْ قَالَ لَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا شَهِدَتْ إِحْدَاكُنَّ الْمَسْجِدَ فَلَا تَمَسَّ طِيبًا. رواه مسلم

د حضرت زينب ﷺ څخه روايت دى چې موږ ته رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو كي چې څوك جماعت ته ځي نو خوشبويي دې نه لګوي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱۱\ ۳۲۸، رقم: ۱۴۲- ۴۴۳.

﴿۹۹۴﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّمَا امْرَأَةٍ أَصَابَتْ بَخُوْرًا فَلَا تَشْهَدْ مَعَنَا الْعِشَاءَ الْآخِرَةَ. رواه مسلم

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كومه ښځه چې بخور (خوشبويي) ولګوي نو هغه دې زموږ سره د ماخستن په لمانځه كي ګډون نه كوي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱۱\ ۳۲۸، رقم: ۱۴۳- ۴۴۴.

تشريح: د خوشبودار شي بوى اخيستو ته بخور وايي كه بل څه، په دې حديث كي په خاصه توګه د ماخستن د وخت ذكر ځكه سوى دى چې دا د تيارې وخت دى په دې كي د فتنې او شر پيدا كيدو زياته بيره وي همداسي خو په پورته حديث كي تير سوي دي چې رسول اللهﷺ مطلقا په خوشبويې لګولو سره ښځې د مسجد څخه منعه كولې.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د ښځو لپاره كورونه غوره دي

﴿۹۹۵﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَمْنَعُوْا نِسَاءَكُمُ الْمَسَاجِدَ وَبُيُوْتُهُنَّ خَيْرٌ لَّهُنَّ. رواه أبو داود.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو خپلي ښځې جماعت

ته د تلو څخه مه منعه کوئ مګر بیا هم د هغوی لپاره د هغوی کورونه غوره دی . ابوداؤد .

تخریج: سنن ابي داؤد: ۱\۳۸۲، رقم: ۵۶۷.

د ښځي لمونځ چیري غوره دی ؟

﴿۹۹۶﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةُ

د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل :

الْمَرْأَةِ فِيْ بَيْتِهَا أَفْضَلُ مِنْ صَلَاتِهَا فِيْ حُجْرَتِهَا وَصَلَاتُهَا فِيْ مِخْدَعِهَا أَفْضَلُ مِنْ صَلَاتِهَا فِيْ بَيْتِهَا . رواه أبو داود

د ښځي په کور کي دننه لمونځ د غولي د لمانځه څخه غوره دی او د ښځي په خونه کي لمونځ د سرای څخه غوره دی . ابوداؤد

تخریج: سنن ابي داؤد: ۱\۳۸۳، رقم: ۵۷۰.

تشریح : ددې حدیث مطلب دادی چي ښځه څومره پټه او په پرده کي وي د هغې لپاره هغومره افضل دي ځکه چي د هغې ټول دار و مدار پر پرده دی همدا وجه ده چي د ښځو په باره کي ویل سوي دي چي نعم الصهر القبر یعني ښه خسرګني قبر دی، په هر حال ددې څخه دا معلومه سوه چي د ښځو لپاره په لمانځه کولو کي چي پرده څومره زیاته وي هغومره بهتره ده .

﴿۹۹۷﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ إِنِّيْ سَمِعْتُ حِبِّيْ أَبَا الْقَاسِمِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چي ما د ابوالقاسم ﷺ څخه اوریدلي دي

يَقُوْلُ لَا تُقْبَلُ صَلَاةُ امْرَأَةٍ تَطَيَّبَتْ لِلْمَسْجِدِ حَتّٰى تَغْتَسِلَ غُسْلَهَا مِنَ الْجَنَابَةِ . رواه أبو داود وروى أحمد والنسائي نحوه .

چي فرمایل یې: کومه ښځه چي مسجد ته ولاړه سي او خوشبویي ولګوي نو د هغې لمونځ نه قبلیږي تر دې چي د خوشبویي لګولو څخه وروسته هغه په ښه ډول غسل وکړي داسي غسل لکه څرنګه چي د ناپاکي لپاره کیږي . ابوداؤد ،احمد او نسائي

تخريج: سنن ابي داؤد: ۴\۴۰۱، رقم: ۴۱۷۴، والامام احمد في مسنده ۲\۲۴۶، ۲۹۷، ۳۶۵، ۴۴۴، ۴۶۱، والنسائي: ۸\۱۵۳، ۱۵۴، رقم: ۵۱۴۲.

تشريح: په دې حديث کي نور هم په سختۍ سره منعه سوې ده چي هيڅ ښځه دې په خوشبويې لګولو سره مسجد ته د تلو قصد نه کوي تر دې که چا خوشبويې لګولې وي نو هغې ته پکار ده چي مسجد ته د تللو په وخت کي غسل وکړي يعني که هغې پر پوره بدن خوشبويې لګولې وي نو ټول بدن دي په اوبو سره پريولي چي د بدن څخه بې خوشبو ولاړه سي او که د بدن پر يوه خاصه برخه بې خوشبويې لګولې وي نو يوازي هغه برخه دي پريولي نو په دې صورت کي هغه جامې دي بدلي کړي.

خوشبويې لګول د بدن پريول او د جامو بدلول دا په هغه صورت کي دي کله چي مسجد ته د راتللو اراده وکړي او که مسجد ته د تللو اراده نه وي بلکه په کور کي لمونځ کوي نو بيا په دغه حکم عمل کول ضرري نه دي. ابن مالک رحمة الله عليه فرمايي چي دا حکم په خوشبويې لګولو سره مسجد ته د راتلونکو ښځو د زجر د مبالغې په توګه دی ځکه چي په دې صورت کي فتنه او شر زيات پيدا کيږي او د معطرو ښځو خوا ته د خلکو عبور ډير زيات وي.

د ښځي خوشبويي لګول

﴿۹۹۸﴾: وَعَنْ أَبِيْ مُوْسٰى قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ عَيْنٍ

د حضرت ابو موسی رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هره سترګه

زَانِيَةٌ وَإِنَّ الْمَرْأَةَ إِذَا اسْتَعْطَرَتْ فَمَرَّتْ بِالْمَجْلِسِ فَهِيَ كَذَا وَكَذَا. يَعْنِيْ زَانِيَةٌ. رواه الترمذي ولأبي داود والنسائي نحوه.

زنا کونکې ده هر کله چي هغه پردۍ ښځي ته د شهوت په نظر وګوري او کومه ښځه چي خوشبويي ولګوي او دنارينوو پر مجلس تيره سي هغه داسي او داسي ده يعني زنا کاره ده.
ترمذي، ابوداؤد او نسائي.

تخريج: سنن ابي داؤد ۴\۴۰۰، رقم: ۴۱۷۳، والترمذي ۵\۹۸، رقم: ۲۷۸۶، والنسائي: ۸\۱۵۳، رقم: ۵۱۴۱.

تشريح: کومي ښځي چي په خوشبويې لګولو سره د خلکو په مجلس کي ځان جوړ کړي نو هغه زناکاره ده ځکه چي هغې په خوشبويې وهلو سره پرديو خلکو ته د دې خبري ترغيب ورکوي چي

هغوی دې ته وګوري نو هغوی د سترګو په زنا کي اخته سوه او دا ښځه د هغه فتنې خپله باعث جوړه سوه ځکه نو لکه دې چي زنا وکړل.

د سهار او ماخستن د لمونځو فضيلت

﴿۹۹۹﴾: وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ صَلَّى بِنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا

د حضرت أبی بن کعب رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ يوه ورځ موږ ته د سهار لمونځ راکړ

الصُّبْحِ فَلَمَّا سَلَّمَ قَالَ أَشَاهِدٌ فُلاَنٌ ؟ قَالُوْا لاَ قَالَ أَشَاهِدٌ فُلاَنٌ ؟ قَالُوْا لاَ

کله چي يې سلام وګرځوی نو پوښتنه يې وکړه ايا فلانی سړی حاضر دی ، اصحابو وويل:نه، وه يې فرمايل : ايا فلان سړی حاضر دی؟ اصحابو وويل نه،

قَالَ إِنَّ هَاتَيْنِ الصَّلاَتَيْنِ أَثْقَلُ الصَّلَوَاتِ عَلَى الْمُنَافِقِيْنَ وَلَوْ تَعْلَمُوْنَ مَا

رسول الله ﷺ وفرمايل : دا دوه لمنځونه يعني د ماخستن او سهار لمنځونه پر منافقانو تر ټولو لمونځو بوج وي که تاسو ته د دې دواړو لمنځو ثواب معلوم سي

فِيْهِمَا لَأَتَيْتُمُوْهَا وَلَوْ حَبْوًا عَلَى الرُّكَبِ وَإِنَّ الصَّفَّ الْأَوَّلَ عَلٰى مِثْلِ صَفِّ

نو تاسو به په منډه بلکه پر ګونډو راځئ ، د لمانځه لومړی صف د ملائکو د صف په ډول دی

الْمَلاَئِكَةِ وَلَوْ عَلِمْتُمْ مَا فَضِيْلَتُهُ لاَبْتَدَرْتُمُوْهُ وَإِنَّ صَلاَةَ الرَّجُلِ مَعَ الرَّجُلِ

که تاسو ته د لومړي صف فضيلت څرګند سي نو تاسو به ورته ژر د رارسيدو هڅه کوئ ، د سړي لمونځ د سړي سره

أَزْكٰى مِنْ صَلاَتِهِ وَحْدَهُ وَصَلاَتُهُ مَعَ الرَّجُلَيْنِ أَزْكٰى مِنْ صَلاَتِهِ مَعَ الرَّجُلِ وَمَا

تر يوازي لمانځه غوره دی او د دوو خلکو لمونځ تر يوه غوره دی او څومره چي

كَثُرَ فَهُوَ أَحَبُّ إِلَى اللهِ . رواه أبو داود والنسائي .

خلک زيات وي د الله تعالی خوښ وي .ابوداؤد ،نسائي .

تخريج: سنن ابي داؤد: ۱\ ۳۷۵- ۳۷۶،رقم: ۵۵۴ والنسائي ۲\ ۱۰۴- ۱۰۵،رقم: ۸۴۳.

تشريح : د منافق هر كار پر ريا باندي مبني وي او د هغه هر عبادت د ځان ښوونې لپاره وي د سهار او ماخستن څخه پرته د نورو لمونځونو څخه خو پر منافقانو باندي مشكل نه وي ځكه چي په دې لمونځونو كي نه يوازي دا چي زياته سستي هم نه وي بلكه ريا او ځان ښوونه هم ښه كيږي په خلاف ددې چي د سهار او ماخستن لمونځ ځرنگه چي زيات تكليفي وي او سستي هم وي او بيا چي د رياء او ځان ښووني موقع هم زياته نه وي ځكه چي دا دواړه لمونځونه پر منافقانو ډير سخت وي، دې خواته په حديث كي اشاره سوې ده او ددې وروسته ددې دواړو لمونځونو فضليت ښكاره سوى دى چي مخلص او صادق مسلمانان ددغه لمونځونو د سعادت څخه په هيڅ وجه محروم نه سي .

په جماعت سره لمونځ كولو باندي شيطان نه غالب كيږي

﴿۱۰۰۰﴾: وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ

د حضرت ابودرداء رضی اللہ عنہ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

ثَلَاثَةٍ فِيْ قَرْيَةٍ وَلَا بَدْوٍ لَا تُقَامُ فِيْهِمُ الصَّلَاةُ إِلَّا قَدِ اسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطَانُ

په كوم كلي يا ځنگل كي چي درې خلك وي او هغوى په جماعت سره لمونځ نه كوي نو شيطان پر هغوى غالب كيږي

فَعَلَيْكَ بِالْجَمَاعَةِ فَإِنَّمَا يَأْكُلُ الذِّئْبُ الْقَاصِيَةَ . رواه أحمد وأبو داود والنسائي

نو تاسو جماعت ضرور وكړئ ځكه چي يوازي ميږه د شرمښ خوراك سي . احمد .

تخريج: الامام احمد في مسنده ۵\۱۹۶، وابوداؤد ۱\۳۷۱، رقم: ۵۴۷ والنسائي ۲\۱۰۶، رقم: ۸۴۶.

تشريح : په اجتماعيت كي فلاح او كاميابي ده او په انفراديت كي تاوان او ناكامي، اسلام خپل تابع خلكو ته د اجتماعيت تعليم په ډير اهميت سره وركوي او ددې خبري تاكيد كوي كه خپل قومي او ملي شان او شوكت برقرار وساتل سي او خپل امتيازي حيثيت په پوره طاقت سره په دنيا باندي منلى وي نو د اجتماعيت د لاري څخه هيڅكله مه اوړئ همدا وجه ده چي د اسلام اكثره عبادتونه د اجتماعيت د شان حامل دى .

دا خو د دنيا ليدل سوې خبره ده چي كوم سړى يوازې وي نه خو د هغه څه حيثيت او وقعت وي او نه د هغه په څه خبره كي طاقت وي هر كله چي څوك غواړي نو په ډيره اساني سره پر هغه

واک تر لاسه کولای سي مګر کوم خلک چي په اجتماعیت سره اوسي نه دا چي د هغوی په هره خبره کي وزن وي بلکه د هغوی د قوت څخه ټول خلک مرغوب وي دا حالت د شیطان وي چي پر یوازي مسلمان باندي د هغه ډیر ژر اثر کیږي خو ددې پر خلاف د مسلمانانو پر هیڅ جماعت باندي د هغه د مکر او فریب جادو نه چلیږي.

په دې حدیث کي دا ښودل سوي دي چي که په یوې ابادي یا په یو ځنګل کي درې خلک هم اوسي او هغوی د لمانځه لپاره جماعت نه ودروي یعني داسي به که خپل انفرادیت ته د اجتماعیت رنګ ورنه کي نو شیطان پر هغوی غالب کیږي او ددې مثال ورکړل سوی دی چي څنګه یو شرموښ د بزو پر یوې رمې باندي حمله وکړي خو هر کله چي بزه د رمې څخه د جلا کیدو په وخت یوازي پاته سي نو شرموښ پر هغه حمله وکړي او هغه خپل خورک جوړ کړي.

بېله عذره د جماعت پرېښودونکي لمونځ نه صحیح کیږي

﴿۱۰۰۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم څوک چي

سَمِعَ الْمُنَادِيَ فَلَمْ يَمْنَعْهُ مِنْ اِتِّبَاعِهٖ عُذْرٌ قَالُوْا وَمَا الْعُذْرُ ؟ قَالَ خَوْفٌ أَوْ

د مؤذن آذان واوري نو هغه دي د مؤذن د پیروي څخه پرته دیو عذر څخه نه منعه کیږي، صحابه کرامو پوښتنه وکړه چي عذر څه شي دی؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: بیره او

مَرَضٌ لَمْ تُقْبَلْ مِنْهُ الصَّلَاةُ الَّتِيْ صَلّٰى. رواه أبو داود والدار قطني.

ناروغي، بېله جماعته لمونځ نه قبلیږي. ابوداؤد او دار قطني.

تخریج: سنن ابي داؤد ۱\۳۷۳- ۳۷۴، رقم: ۵۵۱، والدار قطني ۱\۴۲۰- ۴۲۱، رقم: ٦.

تشریح: ابن عباس رضي الله عنه دا حدیث بیانوی چي خلکو په خپل منځ کي پوښتنه وکړه چي هغه څه عذر دی چي سړی د جماعت د پرېښودو څخه منعه کوي؟ ابن عباس رضي الله عنه ورته وویل چي بیره که د دښمن څخه د سر بیره وي یا د مال او یا د عزت، ابن مالک رحمة الله علیه د بیري په وضاحت کولو سره وفرمایل چي بیره که د چا د ظلم ښکا کولو یا پوروړی وي او دی د هغه پور د ادا کولو قادر نه وي ددې عذرونو څخه پرته ددې مخکي پاته عذر درک سوی دی مثلاً سخت یخ او باران وي یا ډوډۍ مخ ته راسي یا د استنجاء حاجت او ضرورت وي دا ټول شیان د جماعت د پرېښولو په حق

كي معقول عذرونه دي همداسي ناجوړي هم عذر دی خو داسي ناجوړي چي د هغه په وجه مسجد ته رسيدل ممكن نه وي په هر حال ددې حديث حاصل دادی چي كم سړی د موذن اذان واوري او بيا د موذن تابعداري ونه كړي يعني په جماعت كي بلا عذره شريک نه سي نو د هغه لمونځ نه قبليږي هو كه يو سړی د څه عذر په وجه په جماعت كي ګډونه ونه كړاي سي نو د هغه لمونځ قبليږي خو په دومره خبره باندي پوه سئ چي دلته د قبليدو مطلب دا نه دی چي د هغه لمونځ به د سره نه سي ادا بلكه ددې څخه مراد دی چي د هغه د ذمې څخه د لمانځه فرضيت خو به ساقط كيږي خو هغه ته د لمانځه ثواب نه حاصليږي يا همداسي كه يو سړی پر حرام مال باندي حج وكړي نو د هغه د ذمې څخه فرض استه كيږي هو هغه ته ثواب نه حاصليږي د علماء په دې خبره اتفاق دی چي دې حديث او ددې څخه مخكي حديث پيش نظر هيڅ سړي ته قصدا د جماعت پريښودلو مطلقا اجازت نسته.

د قضاء حاجت وروسته لمونځ

﴿۱۰۰۲﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت عبدالله بن ارقم رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه واوريدل

وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ وَوَجَدَ أَحَدُكُمُ الْخَلَاءَ فَلْيَبْدَأْ بِالْخَلَاءِ.

رواه الترمذي وروى مالك وأبو داود والنسائي نحوه.

چي فرمايل يې: : كه اقامت وويل سي د لمانځه لپاره او په تاسو كي يو چا ته د تشو يا ډكو بولو حاجت سي نو اول دي بولي وكړي. ترمذي، مالک، ابوداؤد او نسائي.

تخريج: الامام مالک في الموطا ۱\۱۵۹، رقم: ۴۹. وابوداؤد: ۱\۶۸، رقم: ۸۸. والترمذي ۱\۲۶۲، رقم: ۱۴۲ والنسائي: ۲\۱۱۰-۱۱۱، رقم: ۸۵۱.

درې منعه شيان

﴿۱۰۰۳﴾: وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثٌ

د حضرت ثوبان رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: درې شيان دي چي

لَا يَحِلُّ لِأَحَدٍ أَنْ يَّفْعَلَهُنَّ لَا يُؤُمَّنَّ رَجُلٌ قَوْمًا فَيَخُصَّ نَفْسَهُ بِالدُّعَاءِ

د هغو كول هيڅ چا ته جائز نه دي ۱: دا چي يو څوک د مسجد امام وي او په دعاء كي هغه خپل ځان خاص كړي

دُوْنَهُمْ فَإِنْ فَعَلَ ذٰلِكَ فَقَدْ خَانَهُمْ . وَلاَ يَنْظُرُ فِيْ قَعْرِ بَيْتٍ قَبْلَ أَنْ

او جماعت پريږدي كه هغه داسي وكړل نو د جماعت خيانت يې وكړ ۲: دا چي د چا كور ته وګوري مخكي تر دې چي

يَّسْتَأْذِنَ فَإِنْ فَعَلَ ذٰلِكَ فَقَدْ خَانَهُمْ وَلاَ يُصَلِّ وَهُوَ حَقِنٌ حَتّٰى يَتَخَفَّفَ .

رواه أبو داود وللترمذي نحوه .

اجازه وغواړي، كه هغه داسي وكړل نو خيانت يې وكړ ۳: دا چي په داسي حالت كي دي لمونځ نه كوي چي تشي يا ډكي بولي يې بندي كړي وي تر دې چي د هغه څخه فارغ نه سي او سپک سي . ابوداؤد، ترمذي.

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\۶۹-۷۰، رقم: ۹۰، والترمذي ۲\۱۸۹، رقم: ۳۵۷.

د خوراک په وجه په لمانځه كي د زنډ څخه منعه

﴿۱۰۰۴﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ تُؤَخِّرُوْا الصَّلاَةَ لِطَعَامٍ وَّلاَ لِغَيْرِهِ . رواه في شرح السنة .

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د خوراک يا بل څه كار له كبله په لمانځه كي زنډ مه كوئ. (دا حكم د تنګ وخت لپاره دى). شرح السنة

تخريج: البغوي في شرح السنة ۳\۳۵۷، رقم: ۸۰۰.

تشريح: د دې څخه مخكي په شپږم حديث كي تير سوي دي د هغه څخه دا معلومه سوه چي هر كله چي ډوډۍ راسي نو مخكي ډوډۍ خوړل پكار دي او د هغه وروسته دي لمونځ وكړل سي او دا فرمايل سوي دي چي د ډوډۍ وغيره په خاطر لمونځ مه ځنډوئ په دې دواړو حديثونو كي اختلاف راځي ځكه پوه سئ چي حديث پر دې خبره دلالت كوي چي د ډوډۍ خوړلو په صورت كي د لمانځه د وخت د ختميدو بيره وي نو بيا حكم دى چي لمونځ دي نه ځنډوي.

او په حديث نمبر شپږم كي تعلق په دې صورت سره دى هر كله چي په وخت كي پراخي وي

او ډوډۍ مخ ته راسي او د هغه د خوړلو خواهش هم وي نو په داسي صورت کي به دا حکم وي چي مخکي دي ډوډۍ وخوري د هغه وروسته دي لمونځ وکي په دې شرح سره په دواړو حديثونو کي هيڅ اختلاف پاته نه سو .

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ (دريم فصل)

د جماعت ټينګار

﴿۱۰۰۵﴾: عَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ لَقَدْ رَأَيْتُنَا وَمَا يَتَخَلَّفُ عَنِ الصَّلاَةِ

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دى چي موږ ليدلي دي چي د لمانځه څخه به نه وروسته کېدى

إِلاَّ مُنَافِقٌ قَدْ عُلِمَ نِفَاقُهُ أَوْ مَرِيضٌ إِنْ كَانَ الْمَرِيضُ لَيَمْشِي بَيْنَ رَجُلَيْنِ

مګر منافق چي د هغه نفاق به ښکاره وو يا ناروغ او هغه ناروغ به هم جماعت ته راتلى چي د دوو خلکو په تکيه به تلى ،

حَتَّى يَأْتِيَ الصَّلاَةَ وَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَّمَنَا سُنَنَ الْهُدَى

ابن مسعود وايي رسول الله ﷺ موږ ته د هدايت لاري وښودلې

وَإِنَّ مِنْ سُنَنِ الْهُدَى الصَّلاَةَ فِي الْمَسْجِدِ الَّذِي يُؤَذَّنُ فِيهِ وفي رواية قال

او په هغو طريقو کي يوه طريقه لمونځ دى چي هغه په جماعت سره وکړل سي په کوم کي چي آذان کيږي ، په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي ابن مسعود رضي الله عنه وويل :

من سره ان يلقى الله غدا مسلما فليحافظ على هذه الصلوات الخمس

د کوم چا چي دا خبره خوښه وي چي هغه دي د يو پوره مسلمان په حيث سبا د الله جل جلاله سره ملاقات وکړي نو هغه ته پکار دي چي ددې پنځو لمنځو پابندي وکړي

حيث ينادي بهن فَإِنَّ اللهَ شَرَعَ لِنَبِيِّكُمْ ﷺ سُنَنَ الْهُدَى وَإِنَّهُنَّ مِنْ

او هلته يې په جماعت سره ادا کړي په کوم ځاى کي چي آذان کيږي او دا چي الله تعالى ستاسو د

نبي ﷺ لپاره د هدايت لارې ټاكلي دي او دا المنځونه

سُنَنِ الْهُدَى وَلَوْ أَنَّكُمْ صَلَّيْتُمْ فِي بُيُوتِكُمْ كَمَا يُصَلِّي هَذَا الْمُتَخَلِّفُ فِي بَيْتِهِ

د هغه هدايت د طريقو څخه دي او كه تاسو د وروسته پاته كيدونكو په ډول په كورو كي لمونځ كوئ

لَتَرَكْتُمْ سُنَّةَ نَبِيِّكُمْ وَلَوْ تَرَكْتُمْ سُنَّةَ نَبِيِّكُمْ لَضَلَلْتُمْ وَمَا مِنْ رَجُلٍ

نو تاسو به د خپل نبي ﷺ د سنت څخه بېګانه او ګمراه سئ او كوم څوك چي په تاسو كي

يَتَطَهَّرُ فَيُحْسِنُ الطُّهُورَ ثُمَّ يَعْمِدُ إِلَى مَسْجِدٍ مِنْ هَذِهِ الْمَسَاجِدِ إِلاَّ كَتَبَ

پاكي تر لاسه كړي يعني په ښه ډول اودس وكړي بيا دي په مسجدونو كي يوه مسجد ته د تلو اراده وكړي چي په هغه كي په جماعت سره لمونځ كيږي نو د هغه لپاره به ليكلي

اللهُ لَهُ بِكُلِّ خَطْوَةٍ يَخْطُوهَا حَسَنَةً وَيَرْفَعُهُ بِهَا دَرَجَةً وَيَحُطُّ عَنْهُ بِهَا سَيِّئَةً

الله ﷻ د هر قدم په بدله كي يوه نيكي او يوه درجه به لوړيږي او يوه بدي به ليري كيږي

وَلَقَدْ رَأَيْتُنَا وَمَا يَتَخَلَّفُ عَنْهَا إِلاَّ مُنَافِقٌ مَعْلُومُ النِّفَاقِ وَلَقَدْ كَانَ الرَّجُلُ

او موږ ليدلي دي چي په جماعت سره د لمانځه څخه يوازي هغه سړي وروسته كيږي چي منافق وي او د هغه نفاق ټولو ته څرګند وي او په هغه زمانه كي داسي سړى هم وو

يُؤْتَى بِهِ يُهَادَى بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ حَتَّى يُقَامَ فِي الصَّفِّ. رواه مسلم

چي دوو خلكو به نيولى جماعت ته راوستى او هغه به په صف كي ودرول سو. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۴۵۳، رقم: ۲۵۶- ۶۵۴.

تشريح : سنن الهدى (د هدايت طريقې) هغه طريقو او لارو ته ويل سوي دي چي پر هغه عمل كول د هدايت موجب او د حق تعالى او د هغه د رضا باعث وي.

د رسول الله ﷺ د كارونو ډولونه

د رسول الله ﷺ د كارو دوه ډوله وه يو ډول افعال خو هغه وه چي رسول الله ﷺ د عبادت په طريقه كول او دوهم قسم افعال هغه وه چي رسول الله ﷺ به د عادت په طريقه كول كم افعال چي به يې د عادت په توګه كول هغه ته سنن زائد ويل كيداى سي او كم كارونه چي به يې د عبادت په

توګه کول هغه ته د سنن هداي په نامه ويل کيږي .بيا د سنن هداي دوه قسمونه دي اول سنن موکده دوهم سنن غير موکده، سنن موکده د رسول الله ﷺ هغه کارونه دي چي رسول اللهﷺ هميشه کړي دي او خلکو ته يې د هغه کارو تاکيد فرمايلی دی .

سنن غير موکده هغه کارونه دي چي نه خو رسول الله ﷺ هميشه کړي دي او نه يې په هغه د عمل کولو لپاره نورو خلکو ته ويلي دي .

په دې حديث کي چي د کومو سنتو يعني سنن هداي ذکر سوی دی د هغه څخه مراد سنن موکده دي، کوم حضرات چي جماعت واجب ګرځوي دا تعريف د هغوی نقطه نظر هم خلاف نه دی ځکه چي واجب هم د سننو هداي په تعريف کي داخل دی .

احمد رحمه الله او طبراني رحمه الله د رسول الله ﷺدا روايت نقل کړی دی رسول الله ﷺ وفرمايل ظلم پوره ظلم د کفر او انفاق حامل هغه سړی دی چي د الله جل جلاله خواته د بلونکي بلنه اوري چي د مسجد خواته د لمانځه لپاره شريکيږي خو هغه سړي جواب نه ورکړ يعني مسجد ته په رسيدو سره يې جماعت نه وکړ ددې روايت په رڼا کي معلومه سوه چي ددې خلکو په باره کي د رسول اللهﷺ دا سخت ترين وعيد دی .(كما يصلي هذا المختلف في بيته) څنګه چي دا وروسته پاته کيدونکی سړی په خپل کور کي لمونځ کوي په ځرګنده معلوميږي چي دا څوک خاص سړی وو چي په جماعت کي نه شريکيدلو ابن مسعود رضي الله عنه هغه خواته په اشاره کولو سره وفرمايل چي څنګه دا سړي د جماعت د سعادت څخه ځان محروم کړي همداسي که تاسو خلک هم په کور کي لمونځ کول شروع کړی نو پوه سئ چي د هغه سړي په ډول ستاسو دا فعل به د رسول الله ﷺ د سنتو د پريښودو برابر وي او ځرګنده ده چي پريښودونکی سړی د ضلالت او ګمراهي په کنده کي لويږي .

د جماعت پرېښودل سخته ګناه ده

﴿۱۰۰۶﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَوْلاَ مَا فِي الْبُيُوْتِ مِنَ النِّسَاءِ وَالذُّرِّيَّةِ أَقَمْتُ صَلاَةَ الْعِشَاءِ وَأَمَرْتُ فِتْيَانِيْ يُحَرِّقُوْنَ مَا فِي الْبُيُوْتِ بِالنَّارِ . رواه أحمد .

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي نبي کريم ﷺ وفرمايل : که په کورونو کي ښځي او ماشومان نه وای نو ما به د ماخستن لمونځ قائموی او خپلو زلمو ته به مي حکم ورکړی وای چي

د هغوی کورونو ته اور ولګوي. احمد.

تخريج: الامام احمد في مسنده ۲\۳٦٧،

تشريح: ددې ارشاد مطلب دادی چي د ښځو او کوچنیانو لپاره په جماعت سره لمونځ کول نه دی واجب ځکه چي د هغوی د ساتلو خیال ضروري دی چي دا بې پامه د نورو په سزا کي تکلیف نه سي او که ښځي او کوچنیان په کورونو کي نه وي نو د ماخستن د لمانځه په قائمولو به مي حکم ورکړی وای، او صحابه ته به مو ویلي وای چي کوم خلک په مسجد کي نه دي حاضر سوي هغوی او د هغوی د کور اسباب په اور کي وسوځئ چي هغوی ته دا احساس وسي چي د جماعت پرېښولو څه سزا ده.

ددې څخه معلومه سوه چي جماعت پرېښودو والا سخت ګناه ګار کیږي چي رسول الله ﷺ د هغه د سوځولو قصد وفرمایه.

د اذان وروسته تر لمانځه مخکي د مسجد څخه وتل

﴿۱۰۰۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ أَمَرَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كُنْتُمْ فِي الْمَسْجِدِ فَنُوْدِيَ بِالصَّلَاةِ فَلَا يَخْرُجْ أَحَدُكُمْ حَتّٰى يُصَلِّيَ. رواه أحمد.

د حضرت ابو هريرة رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ موږ ته حکم راکړی دی چي هر کله تاسو په مسجد کي یاست او د لمانځه لپاره آذان وسي نو تاسو تر هغه وخته د مسجد څخه مه وځي تر څو پوري چي لمونځ ونه کړئ. احمد

تخريج: الامام احمد في مسنده: ۲\۵۳۷.

تشريح: د حنفيه علماؤ په نزد د اذان وروسته د نه وتلو دا حکم د هغه سړي لپاره دی چي د بل جماعت منتظم وي یعني که یو سړی د بل مسجد امام وي نو د اذان وروسته د مسجد څخه وتلای سي او که یو سړی د مسجد امام نه وي یا په وتلو سره بې دوهم وار د راتلو اراده نه وي نو هغه ته په اذان اوریدو سره د مسجد څخه وتل نه دي جائز هو که یو سړي لمونځ کړی وي نو د هغه لپاره د مسجد څخه وتل مکروه نه دي لیکن د ماپښين او ماخستن په لمانځه کي که موذن اقامت ویل شروع کړي نو هغه ته هم د لمانځه کولو باوجود په جماعت کي شریکیدل پکار دي چي د جماعت د پرېښودلو الزام نه راسي، د نورو آئمه په نزد په داسي صورت کي په هر لمانځه کي ګډون کول پکار دي په نزد د دوی په نزد د ماپښين او ماخستن تخصص نسته.

﴿۱۰۰۸﴾: وَعَنْ أَبِي الشَّعْثَاءِ قَالَ خَرَجَ رَجُلٌ مِنَ الْمَسْجِدِ بَعْدَ مَا أُذِّنَ فِيْهِ فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ أَمَّا هٰذَا فَقَدْ عَصَى أَبَا الْقَاسِمِ ﷺ. رواه مسلم

د حضرت ابو الشعشاء څخه روايت دى چې يو سړى د آذان وروسته د مسجد څخه ووتى نو ابوهريرة رضی الله عنه وويل: دې سړي د ابو القاسم ﷺ نافرماني وكړه. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱\ ۴۵۳- ۴۵۴، رقم: ۲۵۸- ۶۵۵.

﴿۱۰۰۹﴾: وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

مَنْ أَدْرَكَهُ الْأَذَانُ فِي الْمَسْجِدِ ثُمَّ خَرَجَ لَمْ يَخْرُجْ لِحَاجَةٍ وَّهُوَ لاَ يُرِيْدُ الرَّجْعَةَ فَهُوَ مُنَافِقٌ. رواه ابن ماجه.

څوک چې د آذان په وخت كې په مسجد كې وي او بيا د يو ضرورت پرته د مسجد څخه ووزي او د بيا راتلو اراده هم نه لري نو هغه منافق دي. ابن ماجه

تخريج: سنن ابن ماجه: ۱\ ۲۴۲، رقم: ۷۳۴.

تشريح: كه يو سړى په مسجد كې موجود وي او اذان وسي بيا هغه د جماعت د سعادت څخه په مخ اړولو سره د مسجد څخه ولاړ سي نو دا ډيره د بد بختي خبره ده نو فرمايل كيداى سي چې داسي سړي ته د جماعت پريښودلو د ګناه ګاريدو په وجه د منافق په رقم سو.

د اذان جواب په زړه او عمل سره وركول

﴿۱۰۱۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ سَمِعَ النِّدَاءَ فَلَمْ يُجِبْهُ فَلاَ صَلاَةَ لَهُ إِلاَّ مِنْ عُذْرٍ. رواه الدار قطني.

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چې آذان واوريدى او د هغه جواب يې ورنه كړ (يعني په جماعت كي حاضر نه سو) نو د هغه لمونځ نسته. (يعني لمونځ يې پوره نه دى) او كه د يو عذر له كبله يې داسي وكړل نو بيا پروا نسته. دار قطني.

تخريج: سنن الدار قطني ۱\۴۲۰، رقم: ۴.

تشريح: د اذان جواب ورکول يو خو په ژبي سره وي څنګه چي موذن د اذان کلمات وايي هغه کلمات اوريدونکی هم ووايي او يو جواب په کار سره وي يعني کم سړی چي د هغوی د اذان اوريدو سره په مسجد کي په جماعت سره د لمانځه لپاره راځي هغه په خپل عمل سره د موذن د اذان جواب ورکوي .ددې حديث څخه معلومه سوه چي د ژبي او عمل دواړو په پر جواب باندي د لمانځه د قبوليت او د لمانځه د تکميل موقيف دی يعني کم سړی چي د اذان په اوريدو سره نه خو په ژبي سره جواب ورکي نو مسجد ته ولاړ سي نو د هغه لمونځ پاته تکميل او باب قبوليت ته نه رسيږي په دومره خبره باندي پوه سئ چي اصل جواب يعني عمل جومات ته تلل راتلل دي او ددې زيات تاکيد دی .

ړانده ته هم جماعت پرېښودل نه دي پکار

﴿۱۰۱۱﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أُمِّ مَكْتُوْمٍ قَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّ الْمَدِيْنَةَ كَثِيْرَةُ

د حضرت عبد الله بن ام مکتوم رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړ اې د الله رسوله ! په مدينه کي ډير ضررناک حيوانان

الْهَوَامِ وَالسِّبَاعِ وَأَنَا ضَرِيْرُ الْبَصَرِ فَهَلْ تَجِدُ لِيْ مِنْ رُخْصَةٍ ؟ قَالَ هَلْ تَسْمَعُ

او درندګان دي او زه ړوند يم ايا تاسو به ما لره د معذور ګڼلو له کبله په کور کي د لمانځه اجازت راکوئ ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ايا ته اورې

حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ ؟ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَحَيَّ هَلاً وَلَمْ يُرَخِّصْ .

رواه أبو داود والنسائي .

د حي على الصلوة او حي علي الفلاح آواز ؟ هغه وويل هو، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل نو ته حاضرېږه او اجازه يې ورنه کړل . ابو دؤد، نسائي .

تخريج: سنن ابي داؤد: ۱\۳۷۵، رقم: ۵۵۳، والنسائي: ۲\۱۱۰، رقم: ۸۵۰.

تشريح: رسول الله ﷺ په خاصه توګه سره د (حي علي الصلوة او حي علي الفلاح) ذکر وکړ ځکه چي په دې الفاظو کي د لمانځه طرف ته بلنه او ترغيب ورکړل سوی دی .

﴿۱۰۱۲﴾: وَعَنْ أُمِّ الدَّرْدَاءِ قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ أَبُو الدَّرْدَاءِ وَهُوَ مُغْضَبٌ فَقُلْتُ

د حضرت ام درداء ﷺ څخه روايت دی چي ابو درداء ﷺ په غضب ناک حالت کي راغلی نو ما ورته وويل:

مَا أَغْضَبَكَ ؟ قَالَ وَاللهِ مَا أَعْرِفُ مِنْ أَمْرِ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دا غضب د څه دی ؟ هغه وويل: قسم په خدای! زه د امت محمديه په هيڅ نظام باندي نه پوهيږم

شَيْئًا إِلاَّ أَنَّهُمْ يُصَلُّونَ جَمِيْعًا . رواه البخاري .

خو يوازي په دې پوهيږم چي هغوی په جماعت سره لمونځ کوي . بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۲\۱۳۷، رقم: ٦٥٠.

د سهار د جماعت فضيلت

﴿۱۰۱۳﴾: وَعَنْ أَبِيْ بَكْرِ بْنِ سُلَيْمَانَ بْنِ أَبِيْ حَثْمَةَ فِيْ صَلٰوةِ الصُّبْحِ وَإِنَّ عُمَرَ

د حضرت ابوبکر بن سليمان څخه روايت دی چي عمر بن خطاب ﷺ د سهار په لمانځه کي

غَدَا إِلَى السُّوْقِ وَمَسْكَنُ سُلَيْمَانَ بَيْنَ الْمَسْجِدِ وَالسُّوْقِ فَمَرَّ عَلَى الشِّفَاءِ أُمِّ

سليمان بن ابي حثمه ونه ليدی او د سليمان کور د مسجد او بازار په منځ کي وو، حضرت عمر ﷺ د سليمان د مور بي بي شفاء په طرف تير سو

سُلَيْمَانَ فَقَالَ لَهَا لَمْ أَرَ سُلَيْمَانَ فِي الصُّبْحِ فَقَالَتْ إِنَّهُ بَاتَ يُصَلِّيْ فَغَلَبَتْهُ

او هغې ته يې وويل د سهار په لمانځه کي ما سليمان ونه ليدی هغې وويل : سليمان ټوله شپه په لمانځه کي مشغول وو د هغه سترګي د خوب څخه ډکي سوې او بيده سو ،

عَيْنَاهُ فَقَالَ عُمَرُ لِأَنْ أَشْهَدَ صَلاَةَ الصُّبْحِ فِي الْجَمَاعَةِ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أَقُوْمَ لَيْلَةً . رواه مالك .

عمر ﷺ ورته وويل ما ته د سهار په جماعت کي حاضريدل تر ټوله شپه عبادت غوره دی . مالک .

تخریج: الامام مالک في الموطا ۱\۱۳۱، رقم: ۷.

تشریح: ددې حدیث څخه د سهار د لمانځه په جماعت سره د کولو اهمیت او فضیلت اندازه لګول کیږي چې سلیمان ټوله شپه په عبادت خداوندي کي مصروفه وو او لمونځ یې کولو خو په سهار کي یې سترګي پټي سوې وې د سهار په جماعت کي نه سو شریک نو حضرت عمر رضي الله عنه د هغه مورته وفرمایل زما په نزد دا غوره نه ده چې ټوله شپه دې عبادت وکړای سي لیکن د سهار جماعت دي پریښول سي که یو سړی ټوله شپه عبادت وکي او د سهار په جماعت کي نه سي داخل چې څرګنده ده چې ددې څخه افضله هیڅ خبره نه سي کیدای چې ټوله شپه په عبادت کي مصروفه سي بیا وروسته د بشریت په غوښتنه د بیده کیدو په وجه د سهار جماعت پریښول سي نو زه دا ښه نه ګڼم بهتره داده چې ټوله شپه ارام وکړي او د سهار په جماعت کي په پابندي سره شرکت وکي .ددې حدیث څخه معلومه سوه چې د شپې عبادت کول او د تهجد د مونځ کولو سره په سهار کي شریکیدل د زیات فضیلت خبره ده .

جماعت د دوو او زیاتو کسانو دی

﴿۱۰۱۴﴾: وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اثْنَانِ فَمَا فَوْقَهُمَا جَمَاعَةٌ . رواه ابن ماجه .

د حضرت ابو موسی الاشعري رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: دوه او د دوو څخه زیات کسان جماعت دی . ابن ماجه

تخریج: سنن ابن ماجه: ۱\۳۱۲، رقم: ۹۷۲.

تشریح: مطلب دادی چې د جماعت لپاره دا ضروري نه ده چې په لویې تعداد کي خلک وي یا کم تر کمه درې خلک کیدل ضروري دي بلکه که یوازي دوه خلک وي او په هغوی کي یو امام جوړ سي او دوهم مقتدي، همداسي د دواړو په یو ځاي کیدو سره دي لمونځ وکړي نو جماعت کیږي او دواړو ته د جماعت ثواب حاصلیږي .

د ښځو مسجد ته تلل

﴿۱۰۱۵﴾: وَعَنْ بِلَالِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى

حضرت بلال بن عبدالله بن عمر د خپل پلار څخه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ تَمْنَعُوا النِّسَاءَ حُظُوظَهُنَّ مِنَ الْمَسَاجِدِ إِذَا اسْتَأْذَنَّكُمْ

هر كله چي ښځي ستاسو څخه اجازه وغواړي نو هغوى د مسجد څخه مه منعه كوئ چي هغوى هم د جماعت څخه خپله برخه تر لاسه كړي ،

فَقَالَ بِلَالٌ وَاللهِ لَنَمْنَعُهُنَّ فَقَالَ لَهُ عَبْدُ اللهِ أَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ

بلال وويل قسم په الله موږ به يې ضرور منعه كړو ، د دې په جواب كي عبد الله وويل زه تا ته وايم چي رسول الله ﷺ د دې اجازه وركړې ده

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَقُولُ أَنْتَ لَنَمْنَعُهُنَّ . وَفِيْ رِوَايَةِ سَالِمٍ عَنْ أَبِيْهِ قَالَ فَأَقْبَلَ

او ته وايي چي موږ به هغوى ته د تلو څخه منعه كړو ، او د سالم په روايت كي دا الفاظ دي چي عبد الله د بلال په لور متوجه سو

عَلَيْهِ عَبْدُ اللهِ فَسَبَّهُ سَبًّا مَا سَمِعْتُهُ سَبَّهُ مِثْلَهُ قَطُّ وَقَالَ أُخْبِرُكَ عَنْ رَّسُوْلِ

دومره بد اورد يې ورته وويل څومره چي يې هيڅكله ورته نه وه ويلي ، بيا يې ورته وويل زه تا د رسول الله ﷺ د حكم څخه اګاه كوم

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَقُوْلُ وَاللهِ لَنَمْنَعُهُنَّ . رواه مسلم .

او ته وايې چي موږ به دوى منعه كړو . مسلم .

تخريج : صحيح مسلم ۱\۳۲۸، رقم: ۱۴۰- ۴۴۲.

تشريح : حضرت عبد الله ابن عمر رضي الله عنه د بلال رضي الله عنه څخه ځكه ناراضه سو او دومره بد يې ورته وويل چي هغه په ښكاره په داسي الفاظو سره جواب وركړ چي د هغه څخه په خپلي رايي د حديث مقابله كيدل معلوميدل، كه بلال رضي الله عنه د وخت د نزاكت احساس كولو سره ويلي واى چي په دې زمانه كي د ښځو مسجد ته تلل مناسب نه دي نو حضرت عبد الله رضي الله عنه به نه خوابدى كيدى، دا وجه ده چي علماء د ماحول د نزاكت پيش نظر ښځي مسجد ته د تلو څخه منعه كړي دي په هدايه كي ليكلي دي چي زمونږ په زمانه كي دي امام د ښځو نيت نه كوي .په دې اړه مخكي هم ښودل سوي دي چي په اوسنۍ زمانه كي د ټولو علماؤ متفقه فيصله ده چي په دغه زمانه كي كله چي د فتنې او شر دور دى نو د ښځو لپاره مسجد ته تلل مكروه دي .

﴿۱۰۱۶﴾: وَعَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت مجاهد د عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ

قَالَ لَا يَمْنَعَنَّ رَجُلٌ أَهْلَهُ أَنْ يَأْتُوا الْمَسَاجِدَ. فَقَالَ ابْنٌ لِعَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ

وفرمایل: هیڅوک دي خپله کورنۍ مسجد ته د تلو څخه نه منعه کوي، د عبدالله بن عمر یو زوی بلال وویل:

فَإِنَّا نَمْنَعُهُنَّ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ أُحَدِّثُكَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

موږ خو به یې منعه کوو، عبدالله بن عمر ورته وویل زه ستا په وړاندي د رسول الله ﷺ حدیث بیانوم

وَتَقُولُ هٰذَا؟ قَالَ فَمَا كَلَّمَهُ عَبْدُ اللهِ حَتّٰى مَاتَ. رواه أحمد.

او ته دا وایي، د مجاهد راوي بیان دی چي عبدالله بن عمر په دې خبره د خپل زوی بلال سره تر آخره عمره پوري خبري ونه کړې تر څو چي هغه وفات سو. احمد.

تخریج: الامام احمد في مسنده ۲\۳۶.

تشریح: ددې حدیث وضاحت هغه دی کم چي مخکي تیر سوی دی چي د خپل زوئ څخه د حضرت عبدالله رضي الله عنه دومره ناراضګي وه چي تر اخر عمر پوري یې د هغه سره خبري نه وکړې یوازي ددې په وجه چي د هغوی زوئ خپل مافي الضمیر په دې اندازه سره ښکاره کړ چي د حدیث نبوي مقابل معلومیدل، په هر حال ددې حدیث څخه دومره خبره معلومه سوه که د یو سړي اولاد سنت پریږدي یا د سنت خلاف خپله رایه په غلط انداز کي پیشه کي نو د هغه سره خبري پریښول کیدای سي.

ددې باب دا اخري حدیث دی ځکه مناسب معلومیږي چي د جماعت د حاصلولو لپاره بعضي طریقې او مسئلې چي د هغو پیژندل ضروري دي نقل کړل سي.

د جماعت یو څو مسائل

که یو سړی خپلي سیمي یا کور ته نژدې مسجد ته په داسي وخت کي ورسیږي چي هلته جماعت سوی وي نو هغه ته مستحب ده چي په بل مسجد کي جماعت وکړي او ده ته دا هم اختیار دی چي خپل کور ته راسي او کور والا ټول رایوځای کړي او په جماعت سره لمونځ ادا

كي .كه يو سړى نفل لمونځ شروع كي او فرض جماعت شروع سي نو هغه ته پكارده چي د دوه ركعاته په كولو سره سلام وګرځوي كه څه هم د څلورو ركعتو نو د نفلو نيت يې كړى وي دا حكم د ماپښين او د جمعې د سنت موكده هم دى او كه سنت يې شروع كړى وي او فرض شروع سي نو د دوه ركعته په كولوسره دي سلام وګرځوي بيا دا سنت دي د فرضونو وروسته ادا كړي د ماپښين سنت دي د هغو سنتونو وروسته وكړل سي چي د فرضو وروسته كيږي .كه فرض لمونځ كېدونكى وي نو بيا سنت وغيره دي نه شروع كوي په شرط د دې چي د يوه ركعت د تلو بيره وي هو كه يقين يا غالب ګمان وي چي هيڅ ركعت به نه ځني ځي نو ودي يې كړي مثلا د ماپښين په وخت كي چي فرض شروع سي او كه بيره وي چي په سنت كولو سره يو ركعت به ځني ولاړ سي نو بيا سنت موكده چي د فرضو مخكي كيږي هغه دي پريږدي او د فرضو وروسته او دوه ركعاته سنت موكده كولو سره دا سنت دي وكړي خو د سهار سنت زياد موكده دي د هغه لپاره دا حكم دى چي كه فرض شروع سوي وي نو بيا دي يې هم ادا كړي په شرط ددې چي د اخري قعدې نيولو اميد وي او كه د آخري قعدې د نيول كېدو بيره وي نو بيا دي يې نه كوي كه دا بيره وي چي د سهار سنت كه د لمانځه د سنتو او مستحباتو وغيره په پابندي سره ادا كړل سي نو جماعت نه لاندي كيږي نو په داسي حالت كي پكار دي چي يوازي پر فرائضو او واجباتو باندي اختصار وكړي او سنتونه وغيره پريږدي د فرضو د شروع كېدو په صورت كي چي كم سنت كولاي سي كه هغه د سهار وي يا څه د بل وخت نو هغه دي پر داسي ځاي وكړل سي چي د مسجد څخه جلا وي ځكه چي چيري فرض لمونځ كيږي نو بيا هلته به لمونځ مكروه تحريمي او كه بيا داسي ځاي ترلاسه نه كي نو د صف څخه جلا د مسجد په يو ګټ كي دي يې وكي او كه داسي هم نه وي نو نه دي يې كوي كه د جماعت قعده لاندي كړي او ركعتو نه لاندي نه كړي بيا هم د جماعت ثواب حاصليږي كه څه هم د فقهاء په اصطلاح كي دې ته د جماعت لمونځ نه سي ويل كيداي په جماعت سره ادا كيدل به هلته ورته وويل سي چي ټول ركعتو نه يا اكثر ركعتو نه لاندي كي مثلا څلور ركعاته والا لمونځ درې ركعاته يا په درو ركعتو والا كي دوه ركعاته لاندي كي اګر كه د بعضو فقهاوو په نزد تر څو پوري ټول ركعتو نه لاندي نه كي په جماعت كي نه سي حسابيدلاي .د كم ركعت چي امام سره لاندي كي نو ګڼل كيږي به چي هغه ركعت يې لاندي كړ هو كه ركوع لاندي نه كي نو بيا د هغه ركعت شمير به په لاندي كيدو كي نه وي.

بَابُ تَسْوِيَةِ الصَّفِّ

د صفونو برابرولو بيان

د صفونو د برابرولو مطلب دادی چي كله خلك د لمانځه لپاره په جماعت كي ودريږي نو پر صف باندي داسي په يو ځاي كيدو سره ودريږي چي د يو بل په مابينځ كي خالي ځاي پاته نه سي او مخكي وروسته كيدو سره ونه دريږي بلكه برابر ودريږي كه څو صفونه وي نو هغه دې داسي قائم كي چي د يوبل د صف په مابينځ كي د شروع څخه تر اخره پوري يو رقم فرق وي داسي نه وي چي په يو ځاي كي خو دوه صفونه په درميانه فاصله كي كمه او چيري زياته وي ددې باب لاندي چي كم حديثونه نقل سوي دي د هغه څخه د صفونو د برابرولو اهميت او تاكيد معلوميږي او د صف بندي چي كم احكام او مسائل دي هغه ښكاره كيږي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د صفو برابرولو حكم

﴿۱۰۱۷﴾: عَنِ النُّعْمَانَ ابْنِ بَشِيْرٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت نعمان بن بشير رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به

يُسَوِّي صُفُوفَنَا حَتَّى كَأَنَّمَا يُسَوِّي بِهَا الْقِدَاحَ حَتَّى رَأَى أَنَّا قَدْ عَقَلْنَا عَنْهُ

زموږ صفونه برابرول تر دې چي لكه رسول الله ﷺ چي به هغه د غشو سره برابرول تر داسي اندازې چي وه به يې ليدل چي موږ پوه سو دده په مطلب،

ثُمَّ خَرَجَ يَوْمًا فَقَامَ حَتَّى كَادَ يُكَبِّرُ فَرَأَى رَجُلًا بَادِيًا صَدْرُهُ مِنَ الصَّفِّ فَقَالَ

يوه ورځ رسول الله ﷺ تشريف راوړ او لمونځ دپاره ودرېدو ته نژدې وو چي تكبير وسي چي رسول الله ﷺ يو سړی وليدی چي د هغه سينه د صف څخه د باندي راوتلې وه رسول الله ﷺ وفرمايل:

عِبَادَ اللّٰهِ لَتُسَوُّنَّ صُفُوفَكُمْ أَوْ لَيُخَالِفَنَّ اللّٰهُ بَيْنَ وُجُوهِكُمْ. رواه مسلم

د الله بندګانو خپل صفونه برابر كړئ كه نه الله به ستاسو په منځ كي اختلاف واچوي.

تخريج: صحيح مسلم ۱\ ۳۲۴، رقم: ۱۲۸- ۴۳۶.

د لغاتو حل: (القِداح): السهام (غشي).

تشريح: په عربو كي د غشي برابري او سېده والى دومره مشهور وو چي د نورو شيانو د هوارۍ او سېده والي تشبيه يې هم په غشي سره وركول، نو دلته يې هم په غشي سره د صفونو د برابر والي مثال وركړ، دا جمله د يو شي د هواري او سيده والي دپاره د مثال په توګه استعمالولای سو ځكه د غشو په ذريعه نور شيان سيده او برابر كيږي او دلته دا دمبالغې په طور استعمال سوې ده چي صفونه به دومره سېده او يو شان وه چي غشي به هم د هغې په ذريعه سيده كيداى سي، ځيني علماء وايي چي دا عبارت پر خپل عكس باندي محمول دی نو ددې وجهي ددې مطلب دغه دی چي صفونه د غشو په ذريعه برابرولای سو، د حديث د آخري جملې مطلب مولانا مظهر دا بيان كړی دی چي ظاهري ادب او فرمانبرداري ونه كړي، ستا دا ظاهري نافرماني به ستا باطن (يعني د زړونو اختلاف) ته ورسيږي او كه دغه نافرماني زياته سي نو په خپلو كي د بغض، عناد او دښمني سبب به جوړ سي او بيا به د زړونو دغه اختلاف او باطني بدخويونه ستاسو په ښكاره ژوند كي هم ننوزي چي ستاسو په مابين كي به بغض او عناد پيداسي نو تاسو به هر يو پر بل باندي اعتراض كوئ او د چا په زړه كي به د بل هيچا دپاره د همدردۍ جذبه پاته نه سي.

په هر حال د حديث حاصل دادی چي د صفونو د سيده كولو او هوارولو ډېر لوی اهميت دی چي كله جماعت ودريږي نو د هر سړي دپاره په كار ده چي خپل ځان د صف سره برابر كړي او د صف څخه مخكي يا شا ته نسي كه د صف د برابرولو دغه حكم تابعداري ونسي نو پوه سئ چي الله تعالی به ددې سزا تاسو ته دا دركړي چي ستاسو په منځ كي به بغض او نفرت پيدا سي چي په هغه سره به ستاسو اجتماعي او ګډ ژوند وپاشل سي.

تر څو چي يو صف پوره نسي دوهم صف مه جوړوئ

﴿۱۰۱۸﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَأَقْبَلَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي د لمانځه اقامت وسو نو رسول الله ﷺ زموږ په لور مخ كړ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِوَجْهِهِ فَقَالَ أَقِيمُوا صُفُوفَكُمْ وَتَرَاصُّوا فَإِنِّي أَرَاكُمْ مِنْ وَرَاءِ

ظَهْرِيْ. رواه البخاري. وفي المتفق عليه قال أتموا الصفوف فإني أراكم من وراء ظهري

او وه يې فرمايل: صفونه برابر کړئ او برابر ودريږئ زه تاسو د شا څخه هم وينم، بخاري، او دبخاري او مسلم په روايتونو کي دا الفاظ هم دي چي زه تاسو د شا څخه هم وينم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۲۰۸، رقم: ۷۱۹، ولم نجد الرواية المتفق عليها.

تشريح: د دوهم روايت الفاظ (صفونه پوره کړئ) مطلب دا دی چي تر څوپوري يو صف پوره نه سي دوهم صف مه جوړوئ داسي نه دي پکار چي په اول صف کي ځاي خالي وي او په هغه کي د زياتو لمونځ ګزارو د دريدو ګنجائش وي ليکن ددې باوجود دوهم صف جوړ کړل سي داسي کول غلط دي.

صف برابرول د لمانځه د تکميل څخه دی

﴿۱۰۱۹﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَوُّوا صُفُوْفَكُمْ فَإِنَّ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: خپل صفونه سيده کړئ ځکه

تَسْوِيَةَ الصُّفُوْفِ مِنْ إِقَامَةِ الصَّلَاةِ. إِلَّا أَنَّ عِنْدَ مُسْلِمٍ مِنْ تَمَامِ الصَّلَاةِ.
متفق عليه

صفونه برابرول د لمانځه قائمولو جز دی، په مسلم کي دا الفاظ دي چي د صفونو برابرول د لمانځه پوره والی دی. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۲۰۹، رقم: ۷۲۳ و مسلم ۱\ ۳۲۴، رقم: ۱۲۴- ۴۳۳.

تشريح: په قران مجيد کي فرمايلي دي (اقيموا الصلواة) يعني لمونځ تعديل ارکان د سنتو او ادابو سره رعايت کړئ دلته په حديث کي الفاظ اقيموا الصلواة څخه دې حديث ته اشاره کيږي چي صفونه برابول هم په اقيموا الصلواة کي داخل دئ.

د صف په نه برابرولو سره په زړونو کي اختلاف پيدا کيږي

﴿۱۰۲۰﴾: وَعَنْ أَبِي مَسْعُوْدِ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابومسعود انصاري رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به

وَسَلَّمَ يَمْسَحُ مَنَاكِبَنَا فِي الصَّلَاةِ وَيَقُوْلُ اسْتَوُوا وَلَا تَخْتَلِفُوا فَتَخْتَلِفَ

په لمانځه کي زموږ پر اوږو لاس کښېښود او فرمايل يې سيده دريږئ او اختلاف مه کوئ په

اختلاف سره به مختلف سي

قُلُوبُكُمْ لِيَلِنِي مِنْكُمْ أُولُو الأَحْلَامِ وَالنُّهَى ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ الَّذِينَ

ستاسو زړونه هم او په تاسو کي چي ثوک بالغ وي ما ته دي نژدې وي او بيا هغه خلک چي هغوی ته نژدې وي او بيا هغه چي

يَلُونَهُمْ قَالَ أَبُو مَسْعُودٍ فَأَنْتُمُ الْيَوْمَ أَشَدُّ اخْتِلَافًا. رواه مسلم

هغوی ته نژدې وي، ابو مسعود وايي نن سبا تاسو د رسول الله ﷺ د دې حکم خلاف ورزي کوئ. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۳۲۳، رقم: ۱۲۳- ۴۳۲.

تشريح: (مختلف کيږئ مه) د دې مطلب دادی چي هر کله په صف بندي کولو سره د لمانځه لپاره ودريږئ نو د دې خبري په خاص توګه سره خيال ساتئ چي د ټولو بدنونه برابر وي د يو بل څخه مخکي وروسته مه دريږئ او د خپل بدن هيڅ اندام د صف څخه د باندي مه کاږئ که تاسو خلک په صف کي د خپل بدن ښکاره اعضاء غير برابر او ناهموار ساتئ نو د هغه اثر به په باطني توګه سره داوي چي ستاسو په زړونو کي به اختلاف راسي ځکه چي د بدن د ښکاره اندامو او د زړه په منځ کي ډير لطيف تعلق دی او د يو بل تاثير ډير عجيبه دي دا د مثال په توګه داسي دی چي څرنګه د څرګندو اعضاوو پټ والي باطني اعضاوو باندي اثر کوي او د باطني اعضاء پټ والی پر ښکاره اعضاء باندي اثر کوي همداسي په صف کي ښکاره بدن غير برابر ساتل پر زړونو باندي اثر کوي چي د هغه خاصه دا ده چي په زړونو کي اختلاف پيدا کيږي .

د صفونو ترتيب

د حديث په دوهم جزء کي د صف ترتيب دا ښودل سوی دی چي زما نژدې دي هغه خلک ودريږي چي صاحب عقل او فهم او بالغه وي يعني په اول صف کي کي دي هغه خلک ودريږي چي بالغ عاقل او د فهم مالکان وي چي هغوی ته د لمانځه کيفيت او احکام وګوري او ياد يې کړي بيا د امت نورو خلکو ته د هغه تعليم ورکي بيا په دوهم صف کي دي هغه خلک ودريږي چي هغوی ته چي بالغ کيدو ته نژدې وي او هلکان بيا په دريم صف کي دي هغه ثوک ودريږي چي د ښځو او سړو د دواړو علامت پکښي وي بيا تر دې وروسته په آخر کي دي ښځي ودريږي دلته په حديث کي د ښځو د صف په باره کي ذکر نه دی سوئ ځکه چي دا متعين دي په آخر کي د

بنځو صف دي . په آخر کي د ابو مسعود رضي الله عنه د ارشاد مطلب دادی چي نن په تاسو کي د افتراق يعني بې اتفاقی چي کم کيفيت پيدا سوی دی او په خپلو کي تاسو خلک دومره اختلاف کوئ او فتنې خپرېږي ددې ټولو وجه داده چي تاسو خلک صفونه نه برابروئ که تاسو ددې فتنو او اختلاف څخه بچ کيدل غواړی نو مخکي خپل ځرګند اختلافات ختم کړئ يعني صفونه برابر کړئ بيا به الله تعالی ستاسو باطني اختلافات هم ختم کړي .

په مسجد کي شور کول منعه دی

﴿۱۰۲۱﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل :

وَسَلَّمَ لِيَلِنِي مِنْكُمْ أُولُو الْأَحْلَامِ وَالنُّهَى ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثَلٰثًا وَإِيَّاكُمْ وَهَيْشَاتِ الْأَسْوَاقِ . رواه مسلم

ما ته نژدې دي هغه څوک وي چي بالغ او عقلمند وي بيا په عقل او بلوغ کي هغوی ته نژدې او بيا هغوی ته نژدې او بيا هغوی ته نژدې درې واره يې دغه وفرمايل، او تاسو خپل ځان په مسجد کي د داسي شور څخه ساتئ لکه څرنګه چي په بازار کي کوئ . مسلم .

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۳۲۳، رقم: ۱۲۳- ۴۳۲.

د لغاتو حل: هَيشات: هي الاختلاط والمعنى لاتختلطوا اختلاط اهل الاسواق.

تشريح : په مخکي حديث کي د بنځو د صف ذکر کول مقصد نه وو ځکه چي هلته (ثم الذين يلونهم) الفاظ دوه واره ذکر کړل سوه او دلته د بنځو د صف ذکر هم پيش نظر وو ځکه دا الفاظ درې واره فرمايل سوي دي همداسي د صف څلور درجې سوې يعني په اول صف کي بالغ او صاحب عقل او د فهم خلک دې ودرېږي د هغه وروسته په صفونو کي دې مراهق او هلکان ودرېږي د هغه وروسته دي مخنث (نر بنځيان) ودرېږي بيا دې د بنځو صف ودرول سي.

﴿۱۰۲۲﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم رَأَى فِي أَصْحَابِهِ تَأَخُّرًا

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل اصحاب وليدل چي وروسته په لمانځه کي درېږي او لومړيو صفو ته نه راځي،

فَقَالَ لَهُمْ تَقَدَّمُوا فَأْتَمُّوا بِي وَلْيَأْتَمَّ بِكُمْ مَنْ بَعْدَكُمْ لاَ يَزَالُ قَوْمٌ

رسول الله ﷺ ورته فرمایل: رامخکي سئ او زما اقتداء کوئ او ستاسو اقتداء دي هغه څوک کوي چي ستاسو څخه وروسته راسي یوه ډله به تل

يَتَأَخَّرُونَ حَتَّى يُؤَخِّرَهُمُ اللهُ. رواه مسلم

د وروسته کیدو هڅه کوي تر دې چي الله ﷻ به هغوی وروسته و غورزوي. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱۱/ ۳۲۵، رقم: ۱۳۰- ۴۳۸.

تشريح: رسول الله ﷺ چي صحابه کرام ولیدل چي هغوی په اول صف کي د دریدو کوشش نه کوي نو هغوی ته یې وفرمایل چي رامخکي سئ او په اول صف کي په دریدو سره زما اقتداء وکړئ یعني په ما پسي ودریږئ همداسي کوم خلک چي ستاسو څخه وروسته ولاړ وي هغوی به ستاسو متابعت کوي ځکه چي د وروستني صف خلک دي د مخکني صف د خلکو متابعت داسي کوي چي په لمانځه کي کوم کارونه اول صف والا کوي هغه دي وروستني صف والا هم کوي نو دا متابعت او اقتداء د ظاهر په اعتبار ده کنه نو په حقیقت کي ټول لمونځ کوونکي د امام تابع وي.

صفونه پوره او برابر جوړول

﴿۱۰۲۳﴾: وَعَنْ جَابِرِ ابْنِ سَمُرَةَ قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت جابر بن سمرة رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ زموږ په لور تشریف راوړ

وَسَلَّمَ فَرَآنَا حَلَقًا فَقَالَ مَالِي أَرَاكُمْ عِزِينَ قَالَ ثُمَّ خَرَجَ عَلَيْنَا فَقَالَ أَلاَ

او موږ یې په حلقو کي ناست ولیدو او وه یې فرمایل په تاسو څه وسول چي زه تاسو په بیلو بیلو ډلو کي وینم، د دې پسي وروسته رسول الله ﷺ یو ځل بیا تشریف راوړ او وه یې فرمایل:

تَصُفُّونَ كَمَا تَصُفُّ الْمَلاَئِكَةُ عِنْدَ رَبِّهَا فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ وَكَيْفَ تَصُفُّ

تاسو په لمانځه کي داسي صفونه ولي نه جوړوئ لکه څرنګه چي ملائکي د خپل پروردګار په حضور کي جوړوي موږ عرض وکړ اې د الله رسوله! ملائکي د خپل رب په حضور کي څنګه صفونه جوړوي؟

الْمَلَائِكَةُ عِنْدَ رَبِّهَا قَالَ يُتِمُّونَ الصُّفُوفَ الْأُوَلَ وَيَتَرَاصُّونَ فِي الصَّفِّ. رواه مسلم

رسول الله ﷺ وفرمايل: هغوى لومړي صفونه پوره كوي او په صفو كي جُخت (نژدې نژدې) دريږي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱\ ۳۲۲، رقم: ۱۱۹– ۴۳۰.

د لغاتو حل: (عزين): اي جماعات متفرقين (بېلي بېلي ډلي)

غوره صف كوم دى؟

﴿۱۰۲۴﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ صُفُوفِ الرِّجَالِ أَوَّلُهَا وَشَرُّهَا آخِرُهَا وَخَيْرُ صُفُوفِ النِّسَاءِ آخِرُهَا وَشَرُّهَا أَوَّلُهَا. رواه مسلم

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د نارينوو په صف كي تر ټولو غوره صف لومړى صف دى او تر ټولو خراب د پاى صف دى او په ښځينوو كي تر ټولو غوره د پاى صف دى او بدترين لومړى صف دى. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱\ ۳۲۶، رقم: ۱۳۲– ۴۴۰.

تشريح: د غوره څخه مراد د ثواب زياتوب دى يعني د اول صف والا د دوهم صف په مقابله كي د ډير زيات ثواب حقدار وي د خلكو لپاره بهترين صف اول صف ځكه ګرځول سوئ دى چي په دې صورت كي هغوى د امام سره نژدې وي او د ښځو څخه ليري او وروستني صف بدترين ځكه وي چي په دې شكل كي دوى د امام څخه ليري وي او ښځو ته نژدې والئ وي همداسي د ښځو لپاره اول صف ځكه بدترين دى چي هغوى په اول صف كي د دريدو سره خلكو ته نژدې كيږي وروسته صف د دې وجه بهترين دى چي په دې صورت كي هغوى د خلكو څخه ليري وي په هر حال د حديث حاصل دا دى چي خلكو ته په اول صف كي د دريدو كوښښ كول پكار دى او ښځو ته په آخري صف كي د دريدو هڅه كول پكار ده.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

په صفو کي خالي ځای

﴿۱۰۲۵﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رُصُّوا صُفُوفَكُمْ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: صفونه جخت (پيوست) ساتئ

وَقَارِبُوا بَيْنَهَا وَحَاذُوا بِالْأَعْنَاقِ فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنِّي لَأَرَى الشَّيْطَانَ

او نژدې نژدې درېږئ او غاړي برابري کړئ، قسم دی مي په هغه ذات وي چي د هغه په واک کي زما روح دی زه د صفو په چاکو (درزونو) کي شيطان وينم

يَدْخُلُ مِنْ خَلَلِ الصَّفِّ كَأَنَّهَا الْحَذَفُ. رواه أبو داود.

ننوتونکی لکه هغه (شيطان) چي د توري بزې زوی دی. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\ ۴۳۴، رقم: ٦٦٧.

صفونه پوره کوئ

﴿۱۰۲٦﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتِمُّوا الصَّفَّ الْمُقَدَّمَ ثُمَّ الَّذِي يَلِيهِ فَمَا كَانَ مِنْ نَقْصٍ فَلْيَكُنْ فِي الصَّفِّ الْمُؤَخَّرِ. رواه أبو داود.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: لومړی اول صف پوره کړئ بيا د هغه پسې او که يو صف کميږي نو اخيري صف دي کم سي. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داؤد: ۱\ ۴۳۵، رقم: ٦٧١.

د لومړنيو صفونو فضيلت

﴿۱۰۲۷﴾: وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت براء بن عازب رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به فرمايل:

يَقُولُ إِنَّ اللهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى الَّذِينَ يَلُونَ الصُّفُوفَ الْأُولَى وَمَا مِنْ

الله ﷻ او د هغه ملائكي پر هغه خلكو رحمتونه نازلوي كوم چي لومړي صف ته نژدې وي او

خُطْوَةٍ أَحَبُّ إِلَى اللهِ مِنْ خُطْوَةٍ يَمْشِيهَا يَصِلُ بِهَا صَفًّا . رواه أبو داود .

هيڅ قدم د الله ﷻ په نزد دومره غوره نه دی مگر كوم چي د صف پوره كولو يا د كولو لپاره پورته سي .ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داؤد: ۱۱\۳۷۰، رقم: ۵۴۳.

تشريح: دوهم صف ته پر هغو صفونو چي د هغه وروسته وي فضيلت حاصل دی ځكه رسول الله ﷺ د اول صف ډېر زيات فضيلت بيان فرمايلئ دی نو په اولو صفونو او پر دوهم صف فضيلت دې خوا ته ېې هم اشاره وفرمايله .

په صف كي راسته خواته درېدل غوره دي

﴿۱۰۲۸﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى مَيَامِنِ الصُّفُوفِ . رواه أبو داود .

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله ﷻ او د هغه ملائكي د صفو پر راسته لور خلكو باندي رحمت نازلوي .ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داؤد : ۱۱\۴۳۷، رقم: ۶۷۶.

تشريح: علماء ليكي چي په صف كي د امام راسته خواته دريدل كه څه هم د امام څخه ليري وي تر چپه خوا دريدو كه څه هم امام ته نژدې وي افضل دی، هو كه په صف كي چپه خوا ته ځاي خالي وي نو بيا به د صف دواړو خواوو ته د برابرولو لپاره چپه خواته دريدل افضل وي.

رسول الله ﷺ به د صفو برابرولو وروسته لمونځ پيل كوی

﴿۱۰۲۹﴾: وَعَنِ النُّعْمَانَ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَوِّي صُفُوفَنَا إِذَا قُمْنَا إِلَى الصَّلَاةِ فَإِذَا اسْتَوَيْنَا كَبَّرَ . رواه أبو داود .

د حضرت نعمان بن بشير رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به زموږ صفونه برابرول كله چي به صفونه سيده سول نو رسول الله ﷺ به تكبير تحريمه وايه . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داؤد: ۱۱\۴۳۲، رقم: ۶۶۵.

﴿۱۰۲۰﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ عَنْ يَّمِيْنِهِ اِعْتَدِلُوْا سَوُّوْا صُفُوْفَكُمْ وَعَنْ يَّسَارِهِ اِعْتَدِلُوْا سَوُّوْا صُفُوْفَكُمْ . رواه أبو داود

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به د خپل راسته لور خلکو ته فرمایل سیده و دریږئ او صفونه برابر کړئ او د چپه لور خلکو ته به یې فرمایل: سیده و دریږئ او صفونه برابر کړئ. ابو داؤد.

تخریج: سنن ابي داؤد: ۱۱/۴۳۵، رقم: ۶۷۰.

تر ټولو غوره خلک

﴿۱۰۲۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خِيَارُكُمْ أَلْيَنُكُمْ مَنَاكِبَ فِي الصَّلَاةِ . رواه أبو داود .

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: په تاسو کي تر ټولو غوره خلک هغه دي چي د هغوی اوږې په لمانځه کي نرمې وي. ابو داؤد

تخریج: سنن ابي داؤد: ۱۱/۴۳۵، رقم: ۶۷۲.

تشریح: په لمانځه کي د نرمي اوږي وضاحت په تشریح کي علماوو ډیر څه لیکلي دي او ددې پې څو معناګاني بیان کړي دي ددې یوه معني خو داده که یو سړی په جماعت کي داسي ولاړ وي چي صف نه وي برابر نو وروسته راتلو سره یو سړی د هغه اوږه ونیسي هغه ته د سیده کیدو لپاره و وایي نو هغه دي ضد او تکبر نه کوي بلکه د هغه سړي خبره دي ومني او صف دي برابر کي دوهمه معني داده چي که یو سړی په صف کي د راتلو سره دریدل غواړي هر کله چي په صف کي ځاي وي نو هغه دي نه منعه کوي بلکه په صف کي دي د دریدو سره دي پې پریږدي ددې دریمه معني داده چي اوږې نرمي ساتل په لمانځه کي خشوع او خضوع او سکون او وقار لپاره کنایه ده یعني په لمانځه کي تر ټولو بهتر هغه سړی دی چي ډیره خاطر جمعي د قلب حضوري او اطمینان او وقار سره لمونځ کوي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

﴿١٠٣٢﴾: عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اسْتَوُوا

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به لمانځه ته ودريدی نو فرمايل يې برابر کړئ

اسْتَوُوا اسْتَوُوا فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنِّي لَأَرَاكُمْ مِنْ خَلْفِي كَمَا أَرَاكُمْ مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ. رواه أبو داود.

برابر کړئ، برابر کړئ برابر کړئ (يعني صفونه)، زما دي په هغه ذات قسم وي چي د هغه په لاس کي زما روح دی زه تاسو د خپل شا څخه هم وينم لکه څرنګه چي مو وړاندي وينم. ابوداؤد.

تخريج: لم نجده عند ابي داؤد بل هو عند النسائي ٢\٩٢، رقم: ٨٠٤.

د لومړي صف په مقابله کي د دوهم صف فضيلت کم دی

﴿١٠٣٣﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ

د حضرت ابوامامه رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالی

وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى الصَّفِّ الْأَوَّلِ قَالُوا يَارَسُولَ اللهِ وَعَلَى الثَّانِي قَالَ إِنَّ

او د هغه ملائکي پر لومړي صف باندي رحمت نازلوي، صحابه کرامو عرض وکړ اې د الله رسوله! پر دوهم صف؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل:

اللهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى الصَّفِّ الْأَوَّلِ قَالُوا يَارَسُولَ اللهِ وَعَلَى الثَّانِي قَالَ

الله جل جلاله او د هغه ملائکي پر لومړي صف رحمت نازلوي، صحابه کرامو عرض وکړ اې د الله رسوله! او پر دوهم صف؟ رسول الله ﷺ وفرمايل:

إِنَّ اللهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى الصَّفِّ الْأَوَّلِ قَالُوا يَارَسُولَ اللهِ وَعَلَى الثَّانِي

الله جل جلاله او د هغه ملائکي پر لومړي صف رحمت نازلوي، صحابه کرامو عرض اې د الله رسوله او پر دوهم صف؟

قَالَ وَعَلَي الثَّانِيْ وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَوُّوا صُفُوفَكُمْ

رسول الله ﷺ ورته وفرمایل او پر دوهم صف هم، د دې وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل: خپل صفونه برابر کړئ

وَحَاذُوا بَيْنَ مَنَاكِبِكُمْ وَلِيْنُوا فِيْ أَيْدِيْ إِخْوَانِكُمْ وَسُدُّوا الْخَلَلَ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ

او اوږې نژدې ساتئ او د خپلو ورونړو په منځ کې نرم اوسئ او خالي ځایونه ډک کړئ ځکه شیطان

يَدْخُلُ فِيمَا بَيْنَكُمْ بِمَنْزِلَةِ الْحَذْفِ يَعْنِيْ أَوْلَادَ الضَّأْنِ الصِّغَارِ. رواه أحمد.

د توري بزې د بچي په ډول ستاسو په منځ کې داخلیږي. احمد.

تخريج: الامام احمد في مسنده ۵\۲۶۲.

تشريح: د صحابه په قول (علي الثاني) کې چې عطف دی دې تـــه عطف تلقین وایي یعني دصحابه کرامو مطلب دا وو چې په اول صف کې فضلیت خو تاسو بیان کړ د دوهم صف فضلیت هم بیان کړئ چې په دوهم صف کې هم الله تعالی او د هغه ملائکي رحمت پر استوي رسول الله ﷺ په دریم وار د دوهم صف هم د اول صف په صفت مذکوره کې شامل کړی د دې څخه معلومه سوه چې د فضیلت د اعتبار څخه د دوهم صف درجه د اول صف څخه کمه ده.

﴿۱۰۳۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقِيمُوا

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: صفونه برابر کړئ

الصُّفُوفَ وَحَاذُوا بَيْنَ الْمَنَاكِبِ وَسُدُّوا الْخَلَلَ وَلِيْنُوا بِأَيْدِيْ إِخْوَانِكُمْ

اوږې یو ځای کړئ او خالي ځایونه ډک کړئ د خپلو ورونړو په لاسونو کې نرم اوسئ

وَلَاتَذَرُوا فُرُجَاتِ الشَّيْطَانِ وَمَنْ وَصَلَ صَفًّا وَصَلَهُ اللهُ وَمَنْ قَطَعَهُ قَطَعَهُ

اللهُ. رواه أبو داود والنسائي منه قوله ومن وصل صفا. إلى أخره.

شیطان لپاره په خپلو صفونو کې درزونه مه پرېږدئ او کوم چا چې صف سم کړی الله به هغه په خپل رحمت او فضل سره یو ځای کړي او چا چې صف مات کړ الله به هغه د خپل رحمت څخه لیري کړي.

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\ ۴۳۳، رقم: ٦٦٦، والنسائي ۲\ ۹۳، رقم: ۸۱۸.

امام دي په منځ كي دريږي

﴿۱۰۳۵﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَسَّطُوا الْإِمَامَ وَسُدُّوا الْخَلَلَ. رواه أبو داود.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: امام په منځ كي لرئ او درزونه (خالي ځايونه) ډک كړئ. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داؤد: ۱\ ۴۳۹، رقم: ٦۸۱.

د صف څخه پاته كېدل.

﴿۱۰۳٦﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَزَالُ قَوْمٌ يَتَأَخَّرُوْنَ عَنِ الصَّفِّ الْأَوَّلِ حَتّٰى يُؤَخِّرَهُمُ اللهُ فِي النَّارِ. رواه أبو داود.

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تل به يو قوم د لومړي صف څخه وروسته پاته كيږي تر دې چي الله به هغوى په دوږخ كي وغورزوي. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داؤد: ۱\ ۴۳۹، رقم: ٦۷۹.

تشريح: (حتي يوخرهم الله في النار) ددې دوې معناوي دي يوه خو دا چي كوم خلک په اول صف كي د ګډيدو كوښښ نه كوي او برابر په وروستنو صفونو كي ګډيږي نو الله تعالى به هغوى آخر الامر دوږخ كي داخل كړي يا دوهمه معني يې داده چي الله تعالى به هغوى په دوږخ كي وروسته په پاته كيدو سره پاته كي په هر حال د حديث حاصل دادى چي داسي خلكو ته پكار خو دا وه چي په اول صف كي د ګډون كوښښ وكړي خو هغوى د خپلي سستي په وجه هميشه په وروستنيو صفونو كي په دريدو سره خپل ځان ددې ثواب څخه محرومه كړي ځكه ددې په بدله كي به هغوى دا سزا تر لاسه كوي.

د صف شاته د يوازي دريدونكي حكم

﴿۱۰۳۷﴾: عَنْ وَابِصَةَ بْنِ مَعْبَدٍ قَالَ رَاٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت وابصة بن معبد رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وليدى

رَجُلاً يُّصَلِّيْ خَلْفَ الصَّفِّ وَحْدَهُ فَأَمَرَهُ أَنْ يُّعِيْدَ الصَّلاَةَ . رواه أحمد والترمذي وأبو داود وقال الترمذي هذا حديث حسن .

يو سړی وليدی چي په يوازي ځف كي يې شاته لمونځ كوی ، رسول الله ﷺ هغه ته د لمانځه بيا كولو حكم وركړ . احمد ،ترمذي او ابوداؤد

تخريج: الامام احمد في مسنده ۴\۲۲۸، وابوداؤد : ۱\۴۳۹، رقم: ۶۸۲ . والترمذي ۱\۴۴۵، رقم: ۲۳۰

تشريح : په اول صف كي ځاي خالي وو ددې سربېره هغه سړی د صف وروسته يوازي ولاړ وو، رسول الله ﷺ هغه ته د استحباب په توګه دوهم وار د لمونځ كولو حكم وركړ يعني په وروستني صف كي د هغه پرته بل لمونځ كونكی نه وي نو د امام احمد رحمة الله عليه د مذهب مطابق د هغه لمونځ نه كيږي خو د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه، امام شافعي رحمة الله عليه او امام مالک رحمة الله عليه ددې درو سره امامانو مذهب دادی چي د هغه لمونځ كيږي خو ددې حضراتو قول دا هم دی چي د صف وروسته ځان ته لمونځ كول نه دي پكار ځكه چي دا مكروه دی .

==========

بَابُ الْمَوْقِفِ

د امام او مقتدي د درېدو د ځای بيان

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

﴿۱۰۳۸﴾: عَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ بِتُّ فِيْ بَيْتِ خَالَتِي مَيْمُوْنَةَ فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فَقُمْتُ عَنْ يَّسَارِهِ فَأَخَذَ بِيَدِي مِنْ وَّرَاءِ

د حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي يوه شپه زه د خپلي خاله ميمونې سره پاته وم رسول الله ﷺ د شپې راپورته سو او لمونځ يې كوی زه هم چپه طرف ته ودريدم رسول الله ﷺ د شا د خوا څخه په خپل لاس سره زما لاس ونيوی

ظَهْرِهٖ فَعَدَلَنِيْ كَذٰلِكَ مِنْ وَرَاءِ ظَهْرِهٖ إِلَى الشِّقِّ الْأَيْمَنِ. متفق عليه

او زه يې خپل راسته طرف ته راکش کړم. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\۱۹۲، رقم: ۶۹۹ و مسلم: ۱\ ۵۲۵، رقم: ۱۸۱- ۷۶۳.

تشريح: په شرح السنة کي ليکلي دي چي ددې حديث څخه د څو مسائلو استنباط کيږي اول نفل لمونځ په جماعت سره کول جائز دی دوهم که جماعت د دوو خلکو وي يعني يو امام وي او يو مقتدي نو مقتدي ته د امام راسته خواته دريدل پکار دي .دريم په لمانځه کي لږ شان عمل جائز دی څلورم مقتدي ته جائز نه دي چي هغه د امام څخه مخکي سي ځکه چي رسول الله ﷺ ابن عباس رضي الله عنه د مخ د خوا څخه د ګرځولو پر ځاي خپل وروسته په ګرځولو سره رسته خواته ږ ودرولو پنځم په داسي سړي پسي اقتداء جائز نه ده چي د هغه د شروع څخه د امامت نيت نه وکړي، په هدايه کي ليکلي دي چي په صورت مذکوره کي يو اځي مقتدي د امام شا خواته يا چپه خواته ته دي لمونځ وکړي نو جائز دی ليکن مناسب نه ده .

د درو کسانو جماعت

﴿۱۰۳۹﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيُصَلِّيَ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ دلمانځه لپاره ولاړ سو

فَجِئْتُ حَتّٰى قُمْتُ عَنْ يَسَارِهٖ فَأَخَذَ بِيَدِيْ فَأَدَارَنِيْ حَتّٰى أَقَامَنِيْ عَنْ يَمِيْنِهٖ

چپه طرف ته يې زه ودريدم، رسول الله ﷺ زما لاس ونيوی او زه يې راسته طرف ته راوستم

ثُمَّ جَاءَ جَبَّارُ بْنُ صَخْرٍ فَقَامَ عَنْ يَسَارِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

بيا جبار بن صخر راغلی او هغه د رسول الله ﷺ چپه طرف ته ودريدی

فَأَخَذَ بِيَدَيْنَا جَمِيْعًا فَدَفَعَنَا حَتّٰى أَقَامَنَا خَلْفَهٗ. رواه مسلم

رسول الله ﷺ زموږ د دواړو لاسونه ونيول او شا ته يې کړو تر دې چي رسول الله ﷺ موږ په ځان پسي شا ته ودرولو. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۴\۲۳۰۶، رقم: ۳۰۱۰.

تشريح : ددې حديث څخه معلومه سوه چي مقتدي يو وي نو هغه دي د امام راسته خواته ودريږي او كه تر يوه زيات وي نو بيا ټول دي د امام وروسته ودريږي قاضي رحمة الله عليه ويلي دي ددې حديث څخه دا هم معلومه سول چي لا سونه پريول بغير د وقفې دوه واره په حركت كي په راوستو سره لمونځ نه باطل كيږي .

ښځي دي شاته دريږي

﴿۱۰۴۰﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ صَلَّيْتُ أَنَا وَيَتِيمٌ فِي بَيْتِنَا خَلْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأُمُّ سُلَيْمٍ خَلْفَنَا . رواه مسلم .

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دى چي ما او يتيم (د انس ورور) په خپل كور كي په رسول الله ﷺ پسي لمونځ وكړ او بي بي ام سليم رضي الله عنها په موږ پسي شاته ولاړه وه . مسلم

تخريج : لم نجده عند مسلم بل هو عند البخاري (فتح الباري): ۲\۲۱۲، رقم: ۷۲۷.

تشريح : ام سليم رضي الله عنها د حضرت انس رضي الله عنه د مور نوم وو او يتيم د هغه د ورور نوم وو د بعضو حضراتو رايه ده چي يتيم د هغه نوم وو ليكن ځينو حضراتو ويلي دي چي د هغه نوم ضمير وو ددې حديث څخه دا خبره ثابته سوه كه د امام وروسته سړى او ښځه دواړه د مقتدي په حيثيت سره په لمانځه كي ګډ سي نو خلكو ته د خپل صف مخكي قائمول پكار دي او د ښځو صف تر شا درول پكار دي .

﴿۱۰۴۱﴾: وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى بِهِ وَبِأُمِّهِ أَوْ خَالَتِهِ قَالَ فَأَقَامَنِي عَنْ يَمِينِهِ وَأَقَامَ الْمَرْأَةَ خَلْفَنَا . رواه مسلم

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د انس او د هغه د مور بي بي ام سليم يا خاله سره لمونځ وكړ ، انس وايي رسول الله ﷺ زه خپل راسته خوا ته كړم او ښځه يې زموږ وروسته كړه . مسلم

تخريج : صحيح مسلم: ۱\۴۵۸، رقم: ۲۶۹- ۶۶۰.

﴿۱۰۴۲﴾: وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ أَنَّهُ انْتَهَى إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ رَاكِعٌ

د حضرت ابوبكرة رضي الله عنه څخه روايت دى چي زه نبي كريم ﷺ ته د ركوع په حالت كي ورسېدم

فَرَكَعَ قَبْلَ أَنْ يَصِلَ إِلَى الصَّفِّ ثُمَّ مَشٰى إِلَى الصَّفِّ فَذَكَرَ ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى

او مخکي ددې څخه چي هغه صف ته ورسي رکوع یې وکړل بیا صف ته ورغلی، وروسته یې ددې یادونه رسول الله ﷺ ته وکړل،

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ زَادَكَ اللهُ حِرْصًا وَلَا تَعُدْ. رواه البخاري.

رسول الله ﷺ وفرمایل: الله جل جلاله دي ستا حرص زیات کړي مګر بیا داسي مه کوه. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲۶۷\۱۲، رقم: ۷۸۳.

تشریح: کله چي ابوبکر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو نو جماعت ولاړ وو او رسول الله ﷺ رکوع ته تللی وو، هغه پر ځای ددې چي په صف کي په شاملیدو سره نیت او د تکبیر تحریمه وروسته رکوع ته تللي واي په صف کي د شاملیدو مخکي نیت او تکبیر تحریمه وروسته رکوع ته ولاړی بیا هلته د دوو قدمونو برابر یا دوو قدمونو څخه زیات غیر متواله (یعني بې درپې) د ایښودو سره بلکه په کرار قدم ایښودو سره ولاړی او په صف کي شامل سو، ددې وجهي څخه چي دوه یا یو قدم تګ سره لمونځ نه فاسدیږي، لیکن اولي دادی چي ددې څخه هم پرهیز وکړل سي د حدیث د اخري لفظ لاتعد په څو رقمه منقول دی یو خو داسي څنګه چي دلته په حدیث کي نقل سوي دي یعني د ت زور او د ع پیښ سره چي عودنا موخوذ کیږي ددې معني ده د مخکي لپاره داسي مه کوه دوهم د ع سکون او د دال په پیښ سره یعني لا تعدُ عدد څخه اخستل سوئ دی داسي ددې لفظ مطلب به دا وي چي آئنده د لمانځه لپاره په تلو کي داسي چابکي مه کوه بلکه په صبر سکون اطمینان او وقار سره ځه تر دې چي په صف کي شامل سي بیا ددې وروسته لمونځ شروع که دریم د ت پیش او د عین زور سره یعني لاتعد چي اعادة څخه ماخوذ دی په دی شکل کي د حدیث معني به دا وي کم لمونځ تا کړی دی هغه دوهم وار مه کوه په هر حال په دې ټولو کي اول قول یعني لاتعد آئنده مه کوه د عقل او نقل په رڼا کي تر ټولو زیات صحیح او اولی دی دا حدیث پر دې خبره دلالت کوي چي د صف په پای کي په یوازي دریدلو سره لمونځ نه باطل کیږي ځکه چي رسول الله ﷺ ابوبکر رضي الله عنه ته د لمانځه د دوهم وار کولو لپاره ونه فرمایل مګر کراهت بلاشبه سته.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

كه درې كسان وي نو جماعت دې كوي

﴿۱۰۴۳﴾: عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ أَمَرَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كُنَّا ثَلَاثَةً أَنْ يَّتَقَدَّمَنَا أَحَدُنَا. رواه الترمذي.

د حضرت سمرة بن جندب ﷛ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ موږ ته حكم راكړ چې كله موږ درې كسه يو نو په موږ كې دې يو امام سي. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي: ۱\۴۵۲، رقم: ۲۳۳.

تشريح: د دې حديث څخه خود درو خلكو د جماعت په باره كې معلومه سوه چې په هغوى كې يو سړى چې د امامت مستحق وي مخته سي او د امامت فريضه پوره كړي دا حكم د دوو خلكو د جماعت هم دى چې يو سړى دې امام جوړ سي او دوهم مقتدي، خو د دوو خلكو د جماعت په صورت كې به امام نه مخته كيږي بلكه دواړه به برابر برابر دريږي يعني امام دې چپه خواته او مقتدي دې رسته خواته وي.

امام ته لوړ دريدل نه دي پكار

﴿۱۰۴۴﴾: وَعَنْ عَمَّارٍ أَنَّه أَمَّ النَّاسَ بِالْمَدَائِنِ وَقَامَ عَلٰى دُكَّانٍ يُصَلِّيْ وَالنَّاسُ

د حضرت عمار ﷛ څخه روايت دى چې ما په مدائن كې خلكو ته امامت وركړ زه پر يو دوكانچه (لوړ ځاى) ودريدم او خلك

أَسْفَلُ مِنْهُ فَتَقَدَّمَ حُذَيْفَةُ فَأَخَذَ عَلٰى يَدَيْهِ فَاتَّبَعَهُ عَمَّارٌ حَتّٰى أَنْزَلَهُ حُذَيْفَةُ

كښته تر هغه، حضرت حذيفة ﷛ را مخته سو زما (عمار) لاس يې ونيوى او ورسره را روان سوم تر څو چې لاندې يې را كښته كړم،

فَلَمَّا فَرَغَ عَمَّارٌ مِنْ صَلَاتِهِ قَالَ لَهُ حُذَيْفَةُ أَلَمْ تَسْمَعْ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ

بيا چې د لمانځه څخه فارغ سو نو حذيفة عمار ته وويل ايا تا د رسول الله ﷺ څخه نه دي اوريدلي

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِذَا أَمَّ الرَّجُلُ الْقَوْمَ فَلَا يَقُمْ فِيْ مَقَامٍ أَرْفَعَ مِنْ مَقَامِهِمْ

چي فرمايل يې: هر كله يو سړی د مسجد امامت كوي نو تر مقتديانو دې پر لوړ ځای نه دريږي

أَوْ نَحْوَ ذٰلِكَ ؟ فَقَالَ عَمَّارٌ لِذٰلِكَ اتَّبَعْتُكَ حِيْنَ أَخَذْتَ عَلٰى يَدَيَّ . رواه أبو داود

يا داسي نور الفاظ يې وفرمايل، عمار وويل كله چي تا زما لاس ونيوی او راكښته دې كړم نو له دې كبله ما ستا پيروي وكړه او را كښته سوم . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داؤد: ۱/۳۹۹، ۴۰۰، رقم: ۵۹۸.

تشريح: په پورتني صورت كي مسئله داده چي امام يوازي پر لوړ ځای داسي ولاړ وي چي څه مقتديان خو ورسره پر لوړ ځاي وي او څه لاندي وي نو دا خو مكروه نه دي البته كه امام ځان ته پر لوړ ځاي ولاړ وي او مقتديان ټوله لاندي وي نو دا به مكروه وي څرنګه چي حضرت عمار رضي الله عنه يې داسي ولېدی چي هغه يوازي پر لوړ ځاي وو او د مقتديانو سره نه وو نو ددې وجهي حضرت حذيفه رضي الله عنه لاندي راكښته كړ او وه يې دروی .

كه امام لاندي او مقتديان پر لوړ ځاي وي نو څه حكم دی ؟

صورت خو دادی چي امام پر لوړ ځاي وي او مقتديان لاندي وي، كه معامله ددې برعكس وي يعني امام لاندي ولاړ وي او مقتديان لوړ وي، نو په مسئله كي د مشائخو اختلاف دی، امام طحاوي رحمة الله عليه فرمايي چي دا مكروه نه دي ځكه چي همداسي اهل الكتاب يعني غير مسلمانانو سره مشابهت نه كيږي ځكه چي د هغوی په مذهب كي امام په خاص توګه پر لوړ ځاي باندي ودرول سي نو امام ته يوازي پر لوړ ځاي باندي دريدل خو د هغوی د مشابهت په وجه مكروه كيداي سي ليكن د امام لاندي او د مقتديانو پر لوړ ځاي باندي دريدل مكروه كيداي نه سي ليكن تر څو پوري چي د ښكاره رواياتو او عقلي تقاضا تعلق وي نودا هم مكروه دي ځكه چي داسي د امام سپكوالی لازميږي او د هغه په عظمت كي فرق راځي، اوس سوال دا پيدا كيږي چي پر څومره لوړ ځای باندي امام ته يوازي دريدل مكروه دي د هغه حد څه دی؟ يعني هغه ځاي چي څومره لوړ وي چي پر هغه دي امام يوازي نه دريږي، په دې اړه د ځينو حضراتو رايه داده چي د انسان د قد په اندازه لوړ والي باندي امام لپاره يوازي دريدل مكروه دي ليكن د نورو حضراتو وينا ده چي د لوړوالي حد يو لاس وي يعني كه پر يو لاس لوړ ځاي باندي امام ولاړ وي نو دا به مكروه وي او په دې قول فتوی ده، دا خو د مسئلې وضاحت وو،

اوس د حديث خواته راسئ د حديث الفاظ (وقام على دكان يصلي) څخه په ښكاره توګه

دا هیڅ نه معلومیږي چي کله حذیفه ﷺ، عمار ﷺ ووهی او هغه یې کښنته راوغورځوی نو هغه وخت عمار ﷺ حقیقتا لمانځه کولو ته دریدلی وو یا یوازي د لمانځه اراده یې کړې وه او دریدلی وو او نیت تړونکی وو چي دا واقعه پیښه سوه اونحو ذالک حذیفه ﷺ چي د رسول الله ﷺ حدیث بیان کړ نو په اخر کي یې دا الفاظ وفرمایل ځکه چي هغه ته د حدیث الفاظ بعینه یاد نه وه نو هغه وفرمایل چي رسول الله ﷺ یا خو بعینه دا الفاظ فرمایلي وه یا داسي نور الفاظ یې ارشاد وفرمایل.

د حدیث د اخري الفاظو څخه معلومیږي چي عمار ﷺ ته دا مسئله معلومه وه او هغه د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي وه چي امام ته یوازي پر لوړ ځاي باندي دریدل نه دي پکار نو دلته دا اشکال پیدا کیږي چي کله عمار ﷺ په ارشاد نبوي خبر وو او هغه ته دا مسئله معلومه وه نو هغه ددې خلاف ولي وکړل؟ ددې مختصر جواب دادی چي عمار ﷺ ته مسئله معلومه وه او هغه د رسول الله ﷺ څخه ددې ممانعت اوریدلی هم وو او هغه ته دا حدیث نه وو په یاد او نه ورته دا مسئله یاد وه، هو حذیفه ﷺ چي تعارض وکړ او دی یې راکښنته کړ نو دغه مسئله یاد سوه نو د صادق او ریښتوني فرمان بردار په حیثیت یې سمدستي په هغه عمل وکړ.

د تعلیم په وجه امام لوړ دریدای سي

﴿۱۰۴۵﴾: وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدِ السَّاعِدِيِّ أَنَّهُ سُئِلَ مِنْ أَيِّ شَيْءٍ الْمِنْبَرَ ؟

د حضرت سهل بن سعد الساعدي ﷺ څخه روایت دی چي د هغه څخه پوښتنه وسول چي د رسول الله ﷺ منبر د څه شي څخه جوړ وو؟

فَقَالَ هُوَ مِنْ أَثْلِ الْغَابَةِ عَمِلَهُ فُلَانٌ مَوْلَى فُلَانَةَ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

هغه وویل چي د جهاؤ (د غره یو درخته) څخه فلاني سړي چي د فلانۍ ښځي آزاد کړی غلام وو د رسول الله ﷺ لپاره جوړ کړی وو

وَسَلَّمَ وَقَامَ عَلَيْهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ عُمِلَ وَوُضِعَ

رسول الله ﷺ هغه ودروی کله چي هغه تیار سو او په مسجد کي کښېښودل سو

فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ وَكَبَّرَ وَقَامَ النَّاسُ خَلْفَهُ فَقَرَأَ وَرَكَعَ وَرَكَعَ النَّاسُ خَلْفَهُ

او د قبلي په لوري ودروی، رسول الله ﷺ تکبیر ووایه او خلک په هغه پسي ودریدل، رسول الله ﷺ

قرآن کریم ووایه او رکوع يې وکړل، د رسول الله ﷺ شا ته خلکو هم رکوع وکړل

ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ ثُمَّ رَجَعَ الْقَهْقَرٰي فَسَجَدَ عَلَى الْأَرْضِ ثُمَّ عَادَ إِلَى الْمِنْبَرِ ثُمَّ

بیا يې سر پورته کړ بیا رسول الله ﷺ مخکي ته را کښته سو او پر مځکه يې سجده وکړه بیا يې منبر ته تشریف یووړ

قَرَأَ ثُمَّ رَكَعَ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ ثُمَّ رَجَعَ الْقَهْقَرٰي حَتّٰى سَجَدَ بِالْأَرْضِ . هٰذَا

او قرائت يې ووایه بیا يې رکوع وکړه بیا يې د رکوع څخه سر راپورته کړ بیا مخکي ته راکښته سو او سجده يې وکړه . دغه

لفظ البخاري وفي المتفق عليه نحوه وقال في آخره فلما فرغ أقبل على الناس فقال أيها الناس إنما صنعت هذا لتأتموا بي ولتعلموا صلاتي .

الفاظ د بخاري دي) بخاري او مسلم په دې ډول یو بل حدیث هم بیان کړی دی او په پای کې يې ویلي دي چي کله رسول الله ﷺ د لمانځه څخه فارغ سو نو خلکو ته متوجه سو او وه يې فرمایل: خلګو! دا ما ددې لپاره وکړل چي تاسو زما پیروي وکړئ او زما لمونځ زده کړئ.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۱۲/۳۹۷، رقم: ۹۱۷.

د لغاتو حل: (اثل): هو شجر شبيه بالطرفاء (وهو نوع من الشجر).

تشريح: د مدینې منورې څخه د نهه کوسه پر دا فاصله باندي یو ځنګل دی هلته د رختي ډیري دي د هغه د لرګیو څخه د رسول الله ﷺ لپاره منبر جوړ سوی وو.

د فلاني سړي څخه مراد قوم رومي وو او د فلانی ښځي څخه د عائشه انصاریه ذات مراد دی، مولانا مظهر رحمة الله علیه لیکلي دي چي په دې منبر د کښته کېدو او پورته کېدو دپاره درې زینې وې چي ډیري نژدې جوړي سوي وې، د هغه په ذریعه پر منبر باندي یو یا دوه قدمه ختل ډیر اسان وه په دې وجه فعل کثیر لازم نه سو چي د رسول الله ﷺ لمونځ باطل سوی وای، ددې حدیث څخه معلومه سوه که امام ددې خبري اراده وکړي چي د هغه د لمانځه حرکات او سکنات او د هغه کیفیات د لیري څخه نژدې ولاړ ټول لمونځ کونکي ووینې او د هغه په ذریعه لمانځه احکام او مسائل زده کړي نو د هغه لپاره پر لوړ ځای باندي یو وازي دریدل جائز دي، هذا لفظ البخاري دا لفظ د بخاري دی او ددې وروسته په عبارت نقل کولو سره د مشکوة مصنف

دې خبرې ته اشاره کړه ده چي دا حديث بخاري او مسلم دواړو نقل کړی دی ځکه چي ددې په اول فصل کي ذکر کول پکار وو ليکن دا حديث په دې فصل کي ځکه نقل سوی دی چي صاحب مصابيح دا حديث د بخاري او مسلم څخه پرته د نورو امامانو نقل کړی وو ځکه د مصابيح په اتباع کي هم په دې فصل کي نقل کول مناسب وګڼي .

په اعتکاف کي د رسول الله ﷺ امامت

﴿۱۰۴۶﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ صَلَّى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ حُجْرَتِهِ وَالنَّاسُ يَأْتَمُّوْنَ بِهِ مِنْ وَرَاءِ الْحُجْرَةِ . رواه أبو داود .

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ په خپلي حجرې (خونه) کي لمونځ وکړ او خلکو د حجرې څخه دباندي د رسول الله ﷺ اقتداء کول . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داؤد: ۱/ ۶۷۱، رقم: ۱۱۲۶.

تشريح : ددې حديث تعلق د روژې سره دی رسول الله ﷺ د مسجد په يوه برخه کي د اعتکاف لپاره د ټاټ يوه کوټه جوړه کړې وه رسول الله ﷺ په دې حجره کي تر څو شپو پوري تراويح او لمونځ کوی، صحابه کرام په دې موقع د حجرې څخه د باندي ولاړ د رسول الله ﷺ اقتداء کول .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د صفو جوړولو طريقه

﴿۱۰۴۷﴾: عَنْ أَبِيْ مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ قَالَ أَلَا أُحَدِّثُكُمْ بِصَلَاةِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى

د حضرت ابو مالک اشعري رضي الله عنه څخه روايت دی چي هغه خلکو ته وويل ايا زه تاسو ته د رسول الله ﷺ د لمانځه کيفت بيان نکړم ؟

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؟ قَالَ أَقَامَ الصَّلَاةَ وَصَفَّ الرِّجَالَ وَصَفَّ خَلْفَهُمُ الْغِلْمَانَ

رسول الله ﷺ لمانځه ته ودريدی او د خلکو صفونه يې جوړ کړل بيا په هغه صف پسي وروسته يې هلکان ودرول

ثُمَّ صَلَّى بِهِمْ فَذَكَرَ صَلَاتَهُ ثُمَّ قَالَ هٰكَذَا صَلَاةٌ قَالَ عَبْدُ الْأَعْلٰى لَا أَحْسِبُهُ

إِلاَّ قَالَ أُمَّتِيْ . رواه أبو داود .

او د هغه وروسته يې لمونځ ورکړ همداسي هغه د رسول الله ﷺ د لمانځه يادونه وکړه او وه يې ويل دا وو د رسول الله ﷺ لمونځ، عبد الاعلى وويل زما خيال دى ابو مالک وويل چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما د امت لمونځ داسي دى . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داؤد : ١\٤٣٧، رقم: ٦٧٧.

تشريح : د حديث د اخري الفاظو مطلب دادى چي زما د امت خلکو ته پکار ده چي د لمانځه کوم کيفيت زما څخه نقل سوئ وي همداسي لمونځ کوي او ددې څخه دا تنبيه هم مقصده ده چي کوم خلک په دې طريقې سره يعني د سنت نبوي مطابق لمونځ نه کوي نو هغوى په خپل دغه عمل سره دا ښکاره کوي چي هغوى د رسول الله ﷺ د تابعدار امت څخه نه دى .

﴿١٠٤٨﴾: وَعَنْ قَيْسِ بْنِ عَبَّادٍ قَالَ بَيْنَا أَنَا فِي الْمَسْجِدِ فِي الصَّفِّ الْمُقَدَّمِ

د حضرت قيس بن عباد رضي الله عنه څخه روايت دى چي کله زه په مسجد کي د ننه په لومړي صف کي وم

فَجَبَذَنِيْ رَجُلٌ مِنْ خَلْفِيْ جَبْذَةً فَنَحَّانِيْ وَقَامَ مَقَامِيْ فَوَاللهِ مَا عَقَلْتُ صَلاَتِيْ

نو يو سړي د شا د خوا څخه کشولم زه يې يوې خوا ته کړم او زما پر ځاى ودريدى ، په الله دي مي قسم وي د غصې له کبله زه په لمانځه پوه نه سوم

فَلَمَّا انْصَرَفَ إِذَا هُوَ أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ فَقَالَ يَا فَتًى لاَ يَسُوْءُكَ اللهُ إِنَّ هٰذَا عَهْدٌ

بيا چي هغه سړى د لمانځه څخه فارغ سو نو وينم چي هغه سړى ابى بن کعب وو هغه ما ته وويل اې زلميه ! الله تعالى دي تا زما ددې کار له کبله غمجن نه کړي دا

مِّنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْنَا أَنْ نَّلِيَهُ ثُمَّ اسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ فَقَالَ هَلَكَ

د نبي کريم ﷺ موږ ته وصيت دى چي موږ د رسول الله ﷺ سره نژدې ودريږو ، د دې وروسته هغه مخ پر قبله سو او و يې وويل : هلاک سول

أَهْلُ الْعَقْدِ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ ثَلاَثًا ثُمَّ قَالَ وَاللهِ مَا عَلَيْهِمْ آسٰى وَلٰكِنْ آسٰى عَلٰى

سرداران د کعبې په رب دي مي قسم وي ، درې ځله يې وويل، د دې وروسته يې وويل : قسم په

الله زما سره د سردارانو يا امامانو غم نسته مګر زه په هغه خلکو خفه يم

مَنْ أَضَلُّوا قُلْتُ يَا أَبَا يَعْقُوبَ مَا تَعْنِيْ بِأَهْلِ الْعَقْدِ؟ قَالَ الْأُمَرَاءُ . رواه النسائي

څوک چې دوی ګمراه کوي ، د راوي بيان دي چې ما د ابی بن کعب څخه پوښتنه وکړه چې د اهل عقد څخه ستا سو څوک مراد دی ؟ هغه وويل د قوم اميران . نسائي .

تخريج : سنن النسائي : ۲\۸۸، رقم : ۸۰۷.

تشريح : د حضرت أبی ابن کعب رضي الله عنه الفاظ (ان هذا عهد من النبي ....الخ) څخه د رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد ته اشاره ده چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي وه (ليلني منکم اولو الاحلام والنهي) : په لمانځه کې په تاسو کې دي صاحب عقل او بالغ ما ته نژدې دريږي.

ددې ارشاد حاصل داوو چې کوم خلک صاحب عقل او فهم او بالغ وي هغوی دي امام ته نژدې دريږي او قيس ابن عباد په هغه ډله کې نه راتلی ځکه حضرت ابی ابن کعب رضي الله عنه د هغه ځای څخه ليري کړ او خپله هلته ودريدی .

(هلک اهل العقد) اهل يعني سرداران او حاکمان مړه سول، ددې مطلب دادی چې د رعايا اعمال او کردار او د هغوی ديني او دنياوي احکام او افعال تر دې چې د صف جوړولو رعايت او حفاظت د حکامو او سردارانو پر ذمه دی مګر هغه حکام او سرداران چې د رعيت په ديني او دنيوي کارونو د مشرتابه په حيثيت سره د خلکو پر افعالو او کردار نظر ن درلودی او د هغوی پر سنت نبوي تلل ختم سوه ځکه نتيجه دا سوه چې د خلکو په ديني کارونو کې سستي پيدا سول او د عمل او فکر غلط انداز پيدا سوی دی په ښکاره دا معلوميږي چې ددې الفاظو په ذريعه حضرت کعب رضي الله عنه د خپلي زمانې پر حاکمانو انتقاد کړی دی ځکه دا به وويل سي چې ددې الفاظو محمل خپله د خليفه ذات نه دی بلکه د حضرت کعب رضي الله عنه مقصد به د حضرت عثمان رضي الله عنه ځيني حاکمان وه چې خپل فرائض يې په پوره توګه سر ته نه رسول .

==========

بَابُ الْإِمَامَةِ (د امامت بيان)

په شريعت کې د لمانځه امامت ډير اهم او عظيم کار دی ، د ټولو مقتديانو د لمانځه د ذمه دار کېدو په وجه د امام د ټاکلو په اړه شريعت يو څو شرطونه او قواعد ټاکلي دي او دا يې ښودلي دي چې ددې اهم او عظيم منصب حامل کوم څوک کيدای سي ، په دې باب کې دا ډول

حدیثونه نقل کیږي چي د هغو څخه معلومیږي چي د امام د ټاکلو په وخت کي د کومو خبرو لحاظ ساتل پکار دي، او دا چي د امامت وړتیا کومو خلکو ته حاصله ده .

په دې اړه صحیح طریقه داده چي مقتدیانو ته پکار ده چي په حاضر مقتدیانو کي په کوم سړي کي چي د امامت وړ زیات صفتونه وي هغه دي امام جوړ کړي که یو سړی داسي وي چي په هغوی کي د امامت وړ وي نو پر کثرت د رایي دي عمل وکړل سي یعني د کوم سړي لپاره چي د زیاتو خلکو رایه وي هغه دي امام جوړ کړل سي که د یو داسي سړي په شتون کي چي د امامت وړ وي یو بل داسي سړی امام جوړ کړل سي چي هغه وړ نه وي نو ټول لمونځ کونکي به د سنت پرېښودو په فتنه کي اخته سي ، د امامت لپاره یو څو خاص صفات دادي :

۱. د امامت تر ټولو زیات حق د هغه سړي دی چي د لمانځه مسائل ښه پیژني په شرط د دې چي په ظاهري توګه سره په هغه کي یو فسق وغیره نه وي او کم تر کمه په اندازه د مسنون قرائت د هغه قرآن کریم یاد وي .
۲. بیا هغه سړی چي قرآن کریم په ښه آواز سره د قرائت د قاعدې سره سم وايي .
۳. بیا هغه سړی چي په ټولو کي زیات ښکلی وي .
۴. بیا هغه سړی چي په ټولو کي یې عمر زیات وي .
۵. بیا هغه سړی چي په ټولو کي زیات اخلاقي وي.
٦. بیا هغه سړی چي په ټولو کي زیات پرهیزګار وي .
۷. بیا هغه سړی چي په ټولو کي ښه جامه اغوندي .
۸. بیا هغه سړی چي د هغه سر تر ټولو زیات غټ وي .
۹. بیا هغه سړی چي مقیم وي په نسبت د مسافرو .
۱۰. بیا هغه سړی چي اصلي آزاد وي .
۱۱. بیا هغه سړی چي د حدث اصغر څخه تیمم کړی وي په نسبت د هغه سړي چي هغه د حدث اکبر څخه تیمم کړی وي ،

په کوم چا کي چي دوه صفتونه تر لاسه سي نو هغه د امامت زیات وړ دی په نسبت د هغه چا چي په هغه کي یو صفت وي ، د مثال په توګه هغه سړی چي د لمانځه مسائل هم ښه پیژني او قرآن کریم هم په ښه ډول ویلای سي د امامت زیات مستحق اهل دی په نسبت د هغه چا چي یوازي د لمانځه مسائل پیژني او قرآن کریم په ښه توګه نسي ویلای .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د امامت ور څوک دی؟

﴿۱۰۲۹﴾: عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابومسعود انصاري رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

يَؤُمُّ الْقَوْمَ أَقْرَؤُهُمْ لِكِتَابِ اللّٰهِ فَإِنْ كَانُوا فِي الْقِرَاءَةِ سَوَاءً فَأَعْلَمُهُمْ بِالسُّنَّةِ

امامت دي هغه څوک کوي چي قرآن کريم په ټولو کي ښه وايي بيا که ټول يې ښه وايي نو د دين په احکامو ښه پوهيدونکی دي امامت کوي

فَإِنْ كَانُوا فِي السُّنَّةِ سَوَاءً فَأَقْدَمُهُمْ هِجْرَةً فَإِنْ كَانُوا فِي الْهِجْرَةِ سَوَاءً فَأَقْدَمُهُمْ

بيا که ټول داسي وي نو کوم يو چي مخکي هجرت کړی وي هغه ته امامت کول پکار دي بيا که په هجرت کي ټول يو ډول وه

سِلْمًا وَلَا يَؤُمَّنَّ الرَّجُلُ الرَّجُلَ فِي سُلْطَانِهِ وَلَا يَقْعُدْ فِي بَيْتِهِ عَلَى تَكْرِمَتِهِ إِلَّا بِإِذْنِهِ. رواه مسلم و في رواية له ولا يؤمن الرجل الرجل في اهله.

نو د زيات عمر خاوند دي امامت وکړي هيڅوک دي د چا د واک پر ځای امامت نه کوي او نه دي څوک د چا په کور کي د هغه پر مسند کښيني البته هلته که چيري اجازه ورته وکړل سي. مسلم، او د مسلم په يوه روايت کي دا الفاظ هيڅوک دي د چا په کور کي امامت نه کوي.

تخريج: صحيح مسلم ۱/ ۴۶۵، رقم: ۲۹۰- ۶۷۳. ولم نجد الرواية الثاني في صحيح مسلم.

تشريح: علامه طيبي رحمة الله عليه فرمايي چي د حديث په الفاظو (فاعلمهم بالسنة) کي د سنت څخه مراد د رسول الله ﷺ حديثونه دي، د صحابه کرامو په زمانه کي چي کوم سړی به په حديثو زيات پوهيدی هغه به لوی فقيه منل کيدی، د امام احمد او ابوسف رحمة الله عليهما عمل پر دې حديث دی، يعني ددې حضراتو په نزد د امامت په اړه قاري پر عالم مقدم دی، د امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه، امام محمد رحمة الله عليه، امام مالک رحمة الله عليه او امام شافعي رحمة الله عليه مذهب دادی چي زيات عالم او فقيه د امامت په اړه پر لوی قاري

مقدم دی، ځکه چي د علم قرائت ضرورت خو د لمانځه یوازي یو رکن کي وي پر خلاف ددې د علم ضرورت د لمانځه په ټولو ارکانو کي وي ، د کومو حدیثو څخه چي دا ثابتیږي چي پر عالم باندي ښه قرآن کریم ویونکی مقدم دی ددې جواب د هغه حضراتو د لوري دا ورکول کیږي چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي چي کوم خلک قاریان وه هغوی به تر ټولو زیات علم والا هم وه ځکه چي هغه خلکو به قرآن کریم مع احکام زده کوی ، په دې وجه په حدیثو کي قاري پر عالم مقدم کړل سوی دی ، او اوس زموږ په زمانه کي داسي نه ده بلکه اکثر قاریان د مسائلو څخه ناخبر وي، ځکه موږ عالم پر قاري مقدم کوو، ددې څخه پرته ددې حضراتو تر ټولو لوی دلیل دادی چي د رسول الله ﷺ د مرګ په ناروغۍ کي حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه خلکو ته لمونځ ورکوی ددې سربیره چي هغه قاري نه وو بلکه تر ټولو زیات عالم وو حال دا چي هغه وخت تر هغه زیات لوی لوی قاریان موجود وه .

د (فاقدهم هجرة) په باره کي ابن مالک رحمة الله علیه فرمایي چي نن سبا هجرت متروک دی ځکه اوس دلته د حقیقي هجرت پر ځای معنوي هجرت (یعني د ګناهو او خرابیو د پرېښودو) اعتبار به وي دا وجه ده چي فقهاء په علم او قرائت کي د برابرۍ څخه وروسته پرهیزګار مقدم کوي یعني که دوه کسان داسي وي چي عالم هم وي او قاري هم وي نو په هغه دواړو کي به د امامت مستحق هغه څوک وي چي د دوهم په نسبت زیات پرهیزګار وي ، په دې حدیث کي د امامت یوازي دومره مراتب ذکر کړل سوي دي مګر علماؤ یو څو نور مراتب هم ذکر کړي دي که په عمر کي ټول برابر وي نو هغه سړی دي امامت وکړي چي تر ټولو زیات ښه اخلاق والا وي ، که په اخلاقو کي هم ټول برابر وي نو هغه سړی دي امامت وکړي چي ښکلی مخ والا یعني ښائسته وي ، او که په ښکلا کي هم ټول برابر وي نو هغه سړی دي امامت وکړي چي تر ټولو ښه جامه یې اغوستې وي یا تر ټولو زیات شریف النسب وي ، که په ټولو صفتونو کي ټول برابر وي نو په دې صورت کي غوره خبره داده چي قرعه (پچه) واچول سي د چا د نامه چي پچه راووځي هغه دي امامت وکړي یا قوم چي څوک غواړي خپل امام دي و ټاکي او په هغه پسي دي لمونځ وکړي.

د حدیث د آخري الفاظو مطلب دادی چي هیڅ سړی دي د دوهم سړي په پاچاهي او سیمه کي امامت نه کوي ، همدارنګه په داسي ځای کي دي امامت نه کوي چي د هغه مالک یو بل څوک وي ځرنګه چي د دوهم روایت د الفاظو (اهله) څخه ثابته سوه، ددې څخه معلومه سوه که پر یو ځای باندي د وخت حاکم امامت کوي یا د حاکم د لوري ټاکل سوی د هغه نائب چي د امیر

او خلیفه په حکم کي داخل دی د امامت فریضه سرته رسوي نو یو بل دوهم سړي لپاره دا مناسب نه ده چي هغه په وړاندي کېدو سره امامت وکړي په خاصه توګه د اخترو او جمعې په لمانځه کي خو دا بالکل مناسب نه ده، همدا رنګه په کوم مسجد کي چي امام تاکل سوی وي یا په یو کور کي د صاحب کور په شتون کي تاکلی امام او صاحب کور د اجازې څخه پرته امامت ته وړاندي کېدل د بل چا حق نه دی، ځکه چي دا سي کارونه په سلطنت کي انحطاط، په خپلو کي بغض او عناد، بې احترامي، اختلاف او د فتنې او فساد دروازه خلاصیږي، هر کله چي د جماعت مشروعیت ددغه غیر اخلاقي شیانو د بندیز لپاره دی، په دې اړه د ابن عمر رضی الله عنه دا رویه د پیروی وړ ده چي د خپل فضل، شرف، علم او تقوای سربیره د حجاج بن یوسف په ډول ظالم او فاسق پسي یې لمونځ کوی.

﴿۱۰۵۰﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوسعید خدري رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

إِذَا كَانُوا ثَلَاثَةً فَلْيَؤُمَّهُمْ أَحَدُهُمْ وَأَحَقُّهُمْ بِالْإِمَامَةِ أَقْرَؤُهُمْ. رواه مسلم

وفي ذكر حديث مالك ابن الحويرث في باب بعد باب فضل الاذان.

هر کله چي تاسو درې یاست نو یو امام جوړ کړئ او په دوی کي د امامت زیات وړ هغه څوک دی چي زیات عالم وي، مسلم، د مالک بن حویرث حدیث د آذان د غوره والی د احکامو څخه وروسته بیان سوی دی.

تخریج: صحیح مسلم ۱\۴۶۴، رقم: ۲۸۹- ۶۷۲.

تشریح: د درو کسانو قید اتفاقي دی، د درو څخه کم یا زیات کېدو په صورت کي هم دا حکم دی چي په هغوی کي دي یو امام جوړ سي او پاته مقتدیان، علامه طیبي رحمة الله علیه فرمایي چي د رسول الله ﷺ د اکثرو صحابه کرامو د عمر یوه لویه برخه تیره سوې وه چي هغوی د اسلام په سعادت سره مشرف سول په دې وجه هغه خلکو به د قرآن کریم ویلو څخه مخکي علم دین زده کوی مګر وروسته دا صورت پاته نه سو بلکه اوس خو خلک د عمر لومړنۍ برخه د علم دین تر لاسه کولو څخه مخکي قرآن کریم ویل زده کوي، په هر حال د امامت په اړه پر ښه قاري باندي هغه فقیه او عالم ته به غوره والی حاصل وي کوم چي د لمانځه احکام او مسائل پېژني، د معاملاتو زیات علم لرونکی پر قاري مقدم کېدای نسي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

﴿۱۰۵۱﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيُؤَذِّنْ لَكُمْ خِيَارُكُمْ وَلْيَؤُمَّكُمْ قُرَّاؤُكُمْ. رواه أبو داود.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كوم څوک چي په تاسو ټولو کي غوره وي نو هغه دي آذان وکړي او څوک چي تر ټولو ښه قرآن کريم وايي نو هغه دي امامت وکړي. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داؤد: ۱\۳۹۶، رقم: ۵۹۰.

تشريح: د لمانځه او روژې د وختونو ذمه داري پر مؤذنانو وي، کله چي مؤذن پر لوړ ځای باندي درېدو سره آذان کوي نو ډېر واره د هغه نظر د خلكو پر كورونو لوېږي، مؤذن كه چيري صاحب ديانت، ديندار او متقي وي نو هغه د لمانځه او روژې د وختونو رعايت هم کوي او خپل نظر هم پر نامحرم باندي د لوېدو څخه ساتي.

﴿۱۰۵۲﴾: وَعَنْ أَبِي عَطِيَّةَ الْعُقَيْلِيِّ قَالَ كَانَ مَالِكُ بْنُ الْحُوَيْرِثِ يَأْتِينَا إِلَى

د حضرت ابو عطية العقيلي څخه روايت دی چي حضرت مالک بن حويرث راتلی

مُصَلاَّنَا يَتَحَدَّثُ فَحَضَرَتِ الصَّلاَةُ يَوْمًا قَالَ أَبُو عَطِيَّةَ فَقُلْنَا لَهُ تَقَدَّمْ فَصَلِّهْ

زموږ مسجد ته او زموږ په وړاندي به يې د رسول الله ﷺ حديثونه بيانول، يوه ورځ په دې خبرو کي د لمانځه وخت راغلی ابو عطيه وايي موږ د حضرت مالک څخه غوښتنه وکړه چي مخته سه او موږ ته لمونځ راکړه

قَالَ لَنَا قَدِّمُوا رَجُلاً مِّنْكُمْ يُصَلِّي بِكُمْ وَسَأُحَدِّثُكُمْ لِمَ لاَ أُصَلِّي بِكُمْ

هغه وويل تاسو په خپلو خلكو کي يو څوک امام کړئ چي لمونځ درکړي او زه تاسو ته ښيم چي ولي لمونځ نه درکوم ددې کبله چي

سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ زَارَ قَوْمًا فَلاَ يَؤُمَّهُمْ

ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي کوم څوک چي یو قوم ته ورسي نو د هغوی امامت نه کوي

وَلْيَؤُمَّهُمْ رَجُلٌ مِنْهُمْ. رواه ابوداؤد والترمذي والنسائي الا انه اقتصر على لفظ النبي صلى الله عليه وسلم.

بلکه د هغوی امامت دي د هغوی څخه یو سړی وکړي. ابوداؤد او ترمذي.

تخریج: سنن ابي داؤد ۱\۳۹۹، رقم: ۵۹۶، والترمذي ۲\۱۸۷، رقم: ۳۵۶ والنسائي ۲\۸۰، رقمگ ۷۸۶

تشریح: حضرت مالک رحمة الله علیه د خپل فضیلت او لویي او د هغه خلکو د اجازې سربیره د امامت فریضه ادا نه کړل ځکه چي د هغه مخته د رسول الله ﷺ دا ارشاد وو او هغه په ظاهري حدیث عمل کول په خپل حق کي غوره ګڼل.

ړوند امام جوړیدای سي

﴿۱۰۵۳﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ اسْتَخْلَفَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابْنَ أُمِّ مَكْتُومٍ يَؤُمُّ النَّاسَ وَهُوَ أَعْمَى. رواه أبو داود

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ ابن مکتوم چي یو ړوند سړی وو د خلکو امام وټاکی. ابوداؤد

تخریج: سنن ابي داؤد ۱\۳۹۸، رقم: ۵۹۵.

تشریح: د دې حدیث څخه دا خبره ثابتیږي چي د ړانده امامت پرته د کراهیت څخه جائز دی، په دې اړه په حنفي مذهب کي دا فقهي روایتونه هم راغلي دي که ړوند د قوم مشر وي نو د هغه امامت جائز دی بلکه ځیني حضرات وایي که ړوند د ډیر زیات علم خاوند وي نو د امامت په اړه هغه اولی دی. (شرح کنز، اشباه النظائر).

د ناخوښه امام لمونځ نه قبلیږي

﴿۱۰۵۴﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةٌ لَا تُجَاوِزُ

د حضرت ابوامامه رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: درې کسان دي چي

صَلَاتُهُمْ آذَانَهُمُ الْعَبْدُ الْآبِقُ حَتَّى يَرْجِعَ وَامْرَأَةٌ بَاتَتْ وَزَوْجُهَا عَلَيْهَا

د هغوی لمونځ د هغوی د غوږونو څخه زیات نه پورته کیږي (یعني نه قبلیږي) یو هغه غلام چي د خاوند څخه تښتېدلی وي تر څو پوري چي بیرته رانه سي، دوهم د هغه ښځي لمونځ چي هغه شپه په داسي حالت کي تیره کړي چي د هغې خاوند د هغې څخه

سَاخِطٌ وَإِمَامُ قَوْمٍ وَهُمْ لَهُ كَارِهُونَ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب

ناراضه وي، دریم هغه امام چي د هغه څخه خلک نفرت کوي. .ترمذي

تخريج: سنن الترمذي۲\۱۹۳، رقم: ۳۶۰.

تشريح: د غلام په حکم کي مینځه هم داخل ده، یعني که چیري مینځه هم د خپل بادار څخه وتښتي نو د هغې حال به دا وي چي تر څو پوري هغه خپل بادار ته رانسي نو د هغې لمونځ نه قبلیږي ، د ښځي په اړه چي فرمایل سوي دي نو دا په هغه صورت کي دي کله چي ښځه بداخلاقه وي او د هغې خاوند د هغې د بداخلاقۍ، نافرمانۍ او بې ادبۍ په وجه د هغې څخه ناراض وي ، او که خاوند بداخلاقه وي او پر ناحقه د خپل ښځي څخه ناراضه او خفه وي نو ښځه به ګناه کاره نه وي بلکه سړی به ګناه کار وي .

د امام په اړه ابن مالک رحمة الله علیه فرمایي چي پر امام به دا ګناه هغه وخت وي هر کله چي د هغه د بدعت او د هغه د فسق یا د هغه د جهل په وجه د هغه مقتدیان د هغه څخه ناراضه وي او که مقتدیان د یو دنیوي غرض په وجه د هغه سره کراهیت او عداوت لري نو امام به مطلقا ګناه کار نه وي او نه د داسي امام په حق کي د حدیث پورتنی حکم دی بلکه مقتدیان به ګناه کار وي ،

په دې خبره پوه سئ چي په پورتني حدیث کي د امام څخه مراد د لمانځه امام هم دی او حاکم او خلیفه هم، یعني که چیري د یو حاکم او خلیفه څخه د هغه رعیت د هغه د بدو اعمالو او غلطو کارو په وجه ناراضه وي نو هغه به هم داسي ګناه کار وي .

د درو کسانو لمونځ نه قبلیږي

﴿۱۰۵۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةٌ

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل :

لَا تُقْبَلُ مِنْهُمْ صَلَاتُهُمْ مَنْ تَقَدَّمَ قَوْمًا وَهُمْ لَهُ كَارِهُونَ وَرَجُلٌ أَتَى الصَّلَاةَ

درې کسان دي چي د هغوی لمونځ نه قبلیږي یو هغه څوک چي د یو قوم امامت کوي او قوم

ځيني خوشحاله نه وي، دوهم هغه څوک چي لمونځ وکړي

دِبَارًا وَالدِّبَارُ أَنْ يَّأْتِيَهَا بَعْدَ أَنْ تَفُوْتَهُ وَرَجُلٌ اعْتَبَدَ مُحَرَّرَةً.

رواه أبو داود وابن ماجه.

د وخت څخه وروسته(قضاء) او دريم هغه څوک چي آزاد سړي غلام کړي. ابوداؤد، ابن ماجه

تخريج: سنن ابي داؤد ١\ ٣٩٧ - ٣٩٨، رقم: ٥٩٣، وابن ماجه: ١\ ٣١١، رقم: ٩٧٠.

د لغاتو حل: (اعتَبَدَ): اى اتخذ نفسا معتقة عبدا او جارية. (يعني يو آزاد سړی مريی يا ازاده ښځه مينزه کړي).

تشريح: (اعتبد محررة) يعني د آزاد غلام ګڼلو مطلب دادی چي غلام آزاد کړي او بيا وروسته په زور سره د هغه څخه خدمت اخلي، يا غلام يې آزاد کړ مګر د هغه آزادي د هغه غلام څخه پټوي، يا د يو آزاد سړي په اړه دعوا وکړي چي دا زما غلام دی او د هغه سره د غلامانو په ډول چلن کوي، يا غلام او مينځه په بيع اخيستو سره پر هغه مالکانه تصرف وکړي مګر په حقيقت کي د هغه رانيول په شرعي توګه باندي نه وي سوي ځرنګه چي خلک په غير شرعي توګه باندي غلام او مينځي په بيع اخلي، د شرعي غلام او مينځي تفصيل فقهاء داسي ليکي که د مسلمانانو ډله د دارالاسلام څخه دارالحرب ته په تلو سره غلبه حاصله کړي او په زور سره حربي کفار که خلک وي يا ښځي لويان وي يا کوچنيان، د غلام او مينځو جوړلو سره دارالاسلام ته راولي، يا همداسي د يو هيواد حربي کفار د بل هيواد حربي کفارو باندي په غلبه ترلاسه کولو سره هغوی په زور راولي نو په دغه دواړو صورتو کي غلام او مينځي جوړونکي که هغه مسلمان وي يا کفار، د هغه غلامانو او مينځو مالک دی، د هغه غلامانو او مينځو پلورل او رانيول، دهغوی تحفه کول د مينځو سره پرته د نکاح څخه کوروالي کول او همداسي پر هغوی ټول مالکانه تصرف کول جائز دي، او په دې صورت کي د مينځي اولاد هم د هغوی حکم لري، په شرط د دې چي هغه مالک يا د ذي رحم مالک څخه پيدا نه وي که اولاد په هغوی کي د يو چا څخه پيدا وي نو هغه به آزاد وي، په هر حال فقهاء د غلام او مينځي دا دواړه ډولونه ليکلو سره نور ډولونه هم ليکلي دي او په هغوی کي د ځينو په اړه ويل سوي دي چي په دغه صورتو کي شرعي بردي نه وي او د ځينو په باره کي اختلاف دی، مګر صحيح دادی چي د پورتنيو دواړو ډولونو څخه پرته په بل هيڅ صورت کي شرعي بردي نه وي او نه د هغوی پلورل

او رانيول په شرعي توګه جائز کيږي،
نو مسلمانانو ته پکار ده چي هغوی د غلام او مينځي په اړه د احتياط څخه کار واخلي، که شرعي مينځه وي نو هغه دي په خدمت کي راولي کنه داسي دي نه کوي چي پر يو چا د مينځي کېدو داغ ولګيدی که څه هم هغه شرعي مينځه نه وي د حيوانانو په ډول د هغې سره کوروالي کوي چي په حقيقت کي داسي کول حرام او په زنا کي اخته کېدل دي همداسي د هغې سره نور مالکانه تصرفات دي هم نسي کولای.

د امامت څخه عامه تېښته د قيامت نښه ده

﴿۱۰۵۶﴾: وَعَنْ سَلَامَةَ بِنْتِ الْحُرِّ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت سلامة بنت الحر (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

إِنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ يَّتَدَافَعَ أَهْلُ الْمَسْجِدِ لَا يَجِدُوْنَ إِمَامًا يُصَلِّيْ بِهِمْ. رواه أحمد وأبو داود وابن ماجه.

د قيامت د نښو څخه يوه نښه داده چي خلک به د امامت څخه تېښتي او هغوی ته به هيڅوک لمونځ ورکونکی نه پيدا کيږي. احمد

تخريج: الامام احمد في مسنده ۶\۳۸۱ وابوداؤد ۱\۳۹۰، رقم: ۵۸۱ وابن ماجه: ۶\۳۱۴، رقم: ۹۸۲.

تشريح : دا په اصل کي د آخري زمانې د عام جهل او فسق څخه کنايه ده چي قيامت ته نژدې جهل او فسق به په عامه توګه سره دومره خپور سي او خلک به دومره جاهل او نااهل پيداسي چي هيڅ سړی به د امامت اهل نه وي، تهول خلک به د خپل نا اهلۍ او جهالت سره سم د امامت څخه تېښته کوي، او په خپلو کي به يو بل ته د لمانځه ورکولو لپاره وايي، مګر هر سړی به د امام جوړېدو څخه انکار کوي، هو که چيري يو سړی يو بل ثوک د ځان څخه په افضل ګڼلو سره خپله د امامت څخه تېښته کوي او هغه ته د لمانځه ورکولو لپاره وايي نو د هغه تعلق به ددې حديث سره نه وي ځکه چي د دوهم کس په افضل ګڼلو سره خپله د امامت څخه تېښته کول او هغه افضل ته د امامت لپاره په ويلو کي څه پرواه نسته.

د فاسق امامت جائز دی

﴿۱۰۵۷﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْجِهَادُ

د حضرت ابوهريرة رضی الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : پر تاسو جهاد

وَاجِبٌ عَلَيْكُمْ مَعَ كُلِّ أَمِيرٍ بَرًّا كَانَ أَوْ فَاجِرًا وَإِنْ عَمِلَ الْكَبَائِرَ . وَالصَّلاَةُ

واجب دى سره د هر امير كه هغه نيک وي يا بد كه څه هم هغه لويه گناه كوي او پر تاسو لمونځ

وَاجِبَةٌ عَلَيْكُمْ خَلْفَ كُلِّ مُسْلِمٍ بَرًّا كَانَ أَوْ فَاجِرًا وَإِنْ عَمِلَ الْكَبَائِرَ .

واجب دى په هر مسلمان پسي كه هغه نيک وي يا بد وي كه څه هم هغه لويه گناه كوي

وَالصَّلاَةُ وَاجِبَةٌ عَلٰى كُلِّ مُسْلِمٍ بَرًّا كَانَ أَوْ فَاجِرًا وَإِنْ عَمِلَ الْكَبَائِرَ . رواه أبو داود

او جنازه كول واجب دى پر هر مسلمان كه نيک وي يا بد كه څه هم هغه لويه گناه كوي . ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داؤد: ۳/۱۳۰ ،۴۰ رقم: ۲۵۳۳.

تشريح: جهاد واجب دى ، د دې مطلب دا دى چي په ځينو صورتو كي خو جهاد فرض عين دى او په ځينو صورتو كي فرض كفايه ، د دې حديث څخه دا معلومه سوه چي په هر مسلمان پسي لمونځ كيداى سي كه څه هم هغه فاسق وي ، په شرط د دې چي د هغه فسق د كفر حد ته نه وي رسيدلى ، په فاسق پسي لمونځ ادا كيږي مگر په هغه پسي لمونځ كول په هر حال مكروه دي ، علماء ليكي چي د نيک سړي په موجودوالي كي فاسق ته د امامت كول نه دي پكار ، د جنازې د لمانځه د واجب كېدو مطلب دا دى چي پر هر مسلمان د جنازې لمونځ كول فرض كفايه دى .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د نابالغ د امامت مسئله

﴿۱۰۵۸﴾: عَنْ عَمْرِو بْنِ سَلِمَةَ قَالَ كُنَّا بِمَاءٍ مَمَرِّ النَّاسِ يَمُرُّ بِنَا الرُّكْبَانُ

د عمرو بن سلمه رضی الله عنه څخه روايت دى چي موږ د اوبو پر يو غاړه اوسيدو چي د خلكو د تيريدو ځاى وو او پر هغه ځاى به قافلې تيريدې

نَسْأَلُهُمْ مَا لِلنَّاسِ مَا لِلنَّاسِ ؟ مَا هٰذَا الرَّجُلُ فَيَقُوْلُوْنَ يَزْعُمُ أَنَّ اللهَ

موږ به د مسافرو څخه پوښتنه كول چي د هغه سړي (يعني محمد ﷺ) په اړه د خلكو څه خيال

دی ؟ خلکو به موږ ته دا بیان کوی هغه سړی دا خیال لري چي الله ﷻ

أَرْسَلَهُ أَوْحَى إِلَيْهِ كَذَا . فَكُنْتُ أَحْفَظُ ذٰلِكَ الْكَلَامَ فَكَأَنَّمَا يُغْرٰى فِيْ صَدْرِيْ

هغه رسول جوړ کړی دی او پر هغه وحي راځي چي دا ډول وحي وي (او هغوی ته به یې قرآن اوروئ) ما به هغه وحي یادولې او کومې خبرې چي به هغوی د رسول الله ﷺ په اړه کولې هغه به زما په سینه کي ساتل کیدې ،

وَكَانَتِ الْعَرَبُ تَلَوَّمُ بِإِسْلَامِهِمُ الْفَتْحَ فَيَقُوْلُوْنَ اتْرُكُوْهُ وَقَوْمَهُ فَإِنَّهُ إِنْ ظَهَرَ

د عربو خلکو په هغه زمانه کي د مکې د فتح انتظار کوی چي مکه فتح سي نو هغوی به اسلام قبول کړي هر کله چي به هغه د خلکو څخه دا خبري اوریدلې نو ورته ویل به یې هغه او د هغه قوم په خپل منځ کي فیصلې ته پریږدئ که هغه غالب سي

عَلَيْهِمْ فَهُوَ نَبِيٌّ صَادِقٌ فَلَمَّا كَانَتْ وَقْعَةُ الْفَتْحِ بَادَرَ كُلُّ قَوْمٍ بِإِسْلَامِهِمْ

پر خپل قوم نو رښتونی نبي دی ، بیا چي مکه فتحه سوه نو هر یو قوم په اسلام قبلولو کي تلوار وکړی

وَبَدَرَ أَبِيْ قَوْمِيْ بِإِسْلَامِهِمْ فَلَمَّا قَدِمَ قَالَ جِئْتُكُمْ وَاللهِ مِنْ عِنْدِ النَّبِيِّ حَقًّا

او زما پلار د اسلام په راوړلو کي د خپل قوم څخه وړاندي سو هغه چي د سفر څخه راستون سو نو بیان یې وکړ چي په الله دي مي قسم وي زه تاسو ته د نبي بر حق څخه راغلی یم ،

فَقَالَ صَلُّوْا صَلَاةَ كَذَا فِيْ حِيْنَ كَذَا وَصَلُّوْا كَذَا فِيْ حِيْنَ كَذَا فَإِذَا حَضَرَتِ

رسول الله ﷺ موږ ته حکم راکړی دی چي په فلاني وخت دومره او داسي لمونځ کوئ او په فلاني وخت داسي ... او هر کله چي د لمانځه وخت سي

الصَّلَاةُ فَلْيُؤَذِّنْ أَحَدُكُمْ وَلْيَؤُمَّكُمْ أَكْثَرُكُمْ قُرْآنًا فَنَظَرُوْا فَلَمْ يَكُنْ أَحَدٌ

نو په موږ کي دي یو سړی آذان وکړي او کوم څوک چي په تاسو کي په قرآن کریم زیات پوهیږي هغه دي ستاسو امامت وکړي خلکو د امام په اړه فکر وکړ مګر زما څخه زیات

أَكْثَرَ قُرْآنًا مِنِّيْ لِمَا كُنْتُ أَتَلَقّٰى مِنَ الرُّكْبَانِ فَقَدَّمُوْنِيْ بَيْنَ أَيْدِيْهِمْ وَأَنَا ابْنُ

په قرآن کريم پوهيدونکی څوک نه وو ځکه چي ما به د قافلې د خلکو څخه په پوښتنه کولو کولو سره قرآن کريم يادوی نو هغوی زه خپل امام و ټاکلم هغه وخت زما عمر

سِتٍّ أَوْ سَبْعِ سِنِيْنَ وَكَانَتْ عَلَيَّ بُرْدَةٌ كُنْتُ إِذَا سَجَدْتُ تَقَلَّصَتْ عَنِّيْ فَقَالَتِ

شپږ يا اووه کاله وو زما سره يوازي يو څادر وو کله چي به ما سجده کول نو هغه څادر به راشوه سو او زما کوناټي به څرګند سول نو وويل :

امْرَأَةٌ مِنَ الْحَيِّ أَلاَّ تَغُطُّوْنَ عَنَّا اسْتَ قَارِئِكُمْ فَاشْتَرَوْا فَقَطَّعُوْا لِيْ قَمِيْصًا

د قوم يوې ښځي تاسو د خپل امام شرمګاه ولي نه پټوئ ! نو خلکو جامه رانيول او زما لپاره يې قميص جوړ کړ

فَمَا فَرِحْتُ بِشَيْءٍ فَرَحِيْ بِذٰلِكَ الْقَمِيْصِ . رواه البخاري .

او زه په هغه قيمص ډير زيات خوشحاله سوم . بخاري شريف .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۸\ ۲۲ - ۲۳، رقم: ۴۳۰۲.

د لغاتو حل: (يُغرى): اى يلصق (موښتلي). (تلوم): تنتظر (انتظار يې کوی).

تشريح: په عامه توګه سره د مسلمه لفظ د لام په زير دی ، مګر دا عمرو چي د قوم امام جوړ سوی وو د هغه د پلار نوم مسلمه کي لام په زير سره دی ، په دې اړه د علماؤ اختلاف دی چي د عمرو ابن سلمه هم د خپل پلار سره د رسول الله ﷺ په خدمت کي د اسلام قبلولو لپاره تللی وو يا نه، په دې وجه په دې خبره کي اختلاف دی چي ايا دی صحابي دی که يا. په ظاهره خو دا معلوميږي چي د هغه پلار يوازي د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوی وو او دی د هغه سره نه وو تللی .

امام شافعي رحمة الله عليه د ماشوم د امامت په جواز کي ددغه حديث څخه استدلال کوي، د دې څخه معلوميږي چي د نابالغ هلک امامت جائز دی ، البته د جمعې په لمانځه کي د نابالغ هلک د امامت په اړه د امام شافعي رحمه الله دوه قوله دي ، د يوه قول څخه دا ثابتيږي چي هغه د جمعې په لمانځه کي هم د هلک د امامت د جواز قائل دی، او په دوهم قول کي د عدم جواز اثبات کيږي، امام اعظم ابو حنيفة رحمه الله ، امام مالک رحمه الله او امام احمد رحمه الله وايي د نابالغ هلک امامت جائز نه دی ، البته د نفل په اړه د علماء حنفيه په نزد اختلاف دی ، د بلخ

مشائخ په نفل لمانځه کي د نابالغ هلک د امامت د جواز قائل دي او پر دې د هغوی عمل دی، او په مصر او شام کي هم پر دې عمل کیږي، د دوی څخه پرته نورو علماؤ په نفل لمانځه کي د نابالغ هلک د امامت ناجائز ګرځولی دی د ماوراء النهر پر دې عمل دی.

زیلعي رحمة الله عليه په شرح کنز کي ددې مسئلې په اړه ویلي دي چي امام شافعي رحمة الله عليه په دې مسئله چي د نابالغ هلک امامت جائز دی د عمرو ابن سلمه رضي الله عنه دا قول (فقدموني...الخ،) کي چي هغه هلک چي پر هغه حدود واجب سوي نه وي امامت دي نه کوي د نابالغ هلک امامت جائز نه دی، همداسي د ابن عباس رضي الله عنه قول هم دادی چي هلک تر څو پوري بالغ نسي امامت دي نه کوي، نو دا جائز نه ده چي فرض لمونځ کونکی د نابالغ هلک اقتداء وکړي او کوم چي د ابن عمرو ابن سلمه رضي الله عنه د امامت تعلق دی نو د هغه په اړه دا ویل کیږئ چي د هغه امامت د رسول الله ﷺ د ارشاد په وجه نه وو بلکه دا د هغه قوم خپل اجتهاد وو، چي عمرو د قافلې خلکو ته قرآن کریم زده کړی وو ځکه هغه یې امام جوړ کړ.

د آزاد سوي غلام امامت

﴿۱۰۵۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ لَمَّا قَدِمَ الْمُهَاجِرُوْنَ الْأَوَّلُوْنَ الْمَدِيْنَةَ كَانَ يُؤُمُّهُمْ سَالِمٌ مَوْلَى أَبِيْ حُذَيْفَةَ وَفِيْهِمْ عُمَرُ وَأَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الْأَسَدِ. رواه البخاري

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی هر کله چي لومړي مهاجرين مدينې ته راغلل نو د هغوی امامت د ابوحذیفه د یو آزاد سوي غلام سالم کوی حال دا چي په هغوی کي حضرت عمر رضي الله عنه او ابو سلمه بن عبد الاسد رضي الله عنه هم شتون درلود. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۱۸۴، رقم: ٦٩٢.

تشريح: حضرت سالم رضي الله عنه د حضرت حذيفه رضي الله عنه آزاد سوی غلام وو او ډير ښه قاري وو، د هغه شمير په ډير بزرګو او د لوړي درجې په قاريانو کي کيدی، رسول الله ﷺ مسلمانانو ته حکم ورکړی وو چي قرآن کريم د څلورو کسانو څخه تر لاسه کوئ او په هغه څلورو کسانو کي د حضرت سالم رضي الله عنه نوم هم وو، د حضرت عمر رضي الله عنه، حضرت ابو سلمه رضي الله عنه، ابن عبد الاسد رضي الله عنه او د دوی په ډول نور جليل القدر او باعظمت او فضيلت صحابه کرامو په شتون کي د حضرت سالم رضي الله عنه د امام ټاکل کيدو وجه يا خو دا وه چي هغه ډير ښه قاري وو او يا په دې کي يو بل حکمت وو.

هغه خلک چي د هغو لمونځ نه قبليږي

﴿۱۰۶۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةٌ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : درې کسان دي چي

لَا تَرْفَعُ لَهُمْ صَلَاتُهُمْ فَوْقَ رُؤُوْسِهِمْ شِبْرًا رَجُلٌ أَمَّ قَوْمًا وَهُمْ لَهُ كَارِهُوْنَ

د هغوی لمونځ د هغوی د سرو څخه يوه لويشت هم نه پورته کيږي (يعني نه قبليږي) يو خو هغه امام چي د هغه څخه خلک ناخوښه وي

وَامْرَأَةٌ بَاتَتْ وَزَوْجُهَا عَلَيْهَا سَاخِطٌ وَأَخَوَانِ مُتَصَارِمَانِ . رواه ابن ماجه .

دوهم هغه ښځه چي هغه په داسي حال کي شپه تيره کړي چي خپل خاوند ځيني ناراضه وي او دريم هغه دوه ورونه چي په خپل منځ کي يې ناخوښي وي . ابن ماجه .

تخريج: سنن ابن ماجه ۱/ ۳۱۱، رقم: ۹۷۱.

تشريح : د حديث د آخري الفاظو مطلب دادی چي د داسي دوو ورونو لمونځ هم نه قبليږي چي هغوی په خپل مينځ کي ناراضه وي او تر درو ورځو زيات سلام وغيره يې پرې ايښی وي .

============

بَابُ مَا عَلَى الْإِمَامِ

پر امام باندي د لازمو شيانو بيان

په دې باب کي هغه حديثونه نقل کيږي چي د هغو څخه معلوميږي چي د مقتديانو د رعايت په اړه د امام لپاره کوم شيان ضروري دي .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

لمونځ اوږد ول نه دی پکار

﴿۱۰۶۱﴾: عَنْ أَنَسٍ قَالَ مَا صَلَّيْتُ وَرَاءَ إِمَامٍ قَطُّ أَخَفَّ صَلَاةً وَّلَا أَتَمَّ صَلَاةً

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما هيڅکله په يو داسي امام پسي لمونځ نه دی کړی چي

مِّنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِنْ كَانَ لَيَسْمَعُ بُكَاءَ الصَّبِيِّ فَيُخَفِّفُ مَخَافَةَ أَنْ تُفْتَنَ أُمُّهُ . متفق عليه

د رسول الله ﷺ د لمانځه په ډول لنډ او پوره وي، (د رسول الله ﷺ دا عادت وو) چي کله به هغوی په لمانځه کي د کوچني د ژړا آواز واوریدی نو له دې کبله چي د هغه مور پرېشانه نه سي لمونځ لنډ کوی .بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۲۰۱، رقم: ۷۰۸، ومسلم ۱\۳۴۲، رقم: ۱۹۰- ۴۶۹.

تشريح: د حدیث د اول جز مطلب دادی چي د رسول الله ﷺ لمونځ سره د کمال او اتمام به ډېر لنډ وو، او د لنډوالي مطلب دادی چي رسول الله ﷺ به قرائت او تسبیحات تر حد زیات نه ویل ، او په قرائت کي به يې هم بې ځایه مد او شد نه کول بلکه د رسول الله ﷺ قرائت به بې تکلفه او په ترتیل سره وو، او دا خو د رسول الله ﷺ د قرائت ځانګړتیا وه که څه هم هغه به اوږد وو مګر خلکو ته به مختصر معلومیدی، حاصل دا چي د رسول الله ﷺ قرائت به مختصر وو او په رکوع، سجده، تعدیل ارکان وغیره کي به يې هیڅ کمي نه کېدل، په حنفي مذهب کي دا مسئله ده چي د امام لپاره دا مناسب نه ده چي تسبیحات وغیره دومره اوږده کړي چي پر خلکو باندي بوج سي ځکه چي لمونځ زیات اوږدول د لمانځه د لوري د خلکو بې توجه کول دي او دا مکروه دی ، هو که چیري د مقتدیانو خواهش وي چي قرائت، تسبیحات وغیره اوږده وي نو بیا په هغه کي امام زیاتوب کولای سي په دې کي څه پرواه نسته، همدا رنګه امام ته دا هم نه ده پکار چي د مقتدیانو د خوشحاله کولو لپاره په قرائت او تسبیحاتو کي د هغه درجې څخه هم کمي وکړي کوم چي تر ټولو کمه مسنون درجه ده .

د حدیث د آخري جملې مطلب دادی چي رسول الله ﷺ به په لمانځه کي د یو ماشوم د ژړا آواز واوریدی نو لمونځ به يې مختصر کوی چي د ماشوم مور چي په جماعت کي وي خپل ماشوم ته يې فکر ولاړ نسي او د هغه په وجه د هغې د لمانځه حضور، خشوع او خضوع ختم سي ، خطابي رحمة الله علیه د دې جملې په تشریح کي ویلي دي چي په دې کي د دې خبري دلیل دی که امام په رکوع کي د یو چا د قدمونو آواز واوري چي یو څوک په لمانځه کي د ګډون کولو اراده لري نو هغه ته جائز ده چي هغه په رکوع کي د هغه سړي انتظار وکړي چي هغه سړی هم رکعت ونیسي مګر ځینو حضراتو دا مکروه ګرځولی دی بلکه ددې حضراتو وینا ده چي د

داسي كولو په اړه دا بيره ده چي هغه د شرک حد ته ونه رسيږي ، دا مذهب د امام مالک رحمة الله عليه هم دی ، حنفي مذهب دادی که امام رکوع د تقرب الی الله په نيت نه بلکه په دغه مقصد سره يې اوږده کړي چي يو راتلونکی سړی په رکوع کي ګډون کولو سره رکعت ونيسي نو دا مکروه تحريمي دی بلکه تر دې هم د لوی ګناه د مرتکب کېدو احتمال کيدای سي مګر د کفر او شرک حد ته نه رسيږي ، ځکه ددې څخه د هغه نيت د غير الله د عبادت نه وي ، ځيني علماؤ ليکلي دي که امام راتلونکی کس نه پيژني نو په دې صورت کي په رکوع اوږدولو کي څه پرواه نسته مګر صحيح دادی چي ددې پرېښودل غوره دي ، هو که يو امام د تقرب الی الله په نيت رکوع اوږده کړي او د دغه پاکي جذبې څخه پرته بل مقصد يې نه وي نو بيا پرواه نسته ، مګر په دې کي شک نسته چي داسي حالت کېدل نادر دي او بيا دا چي ددې مسئلې نوم (مسئلة الريا) ده ځکه په دې اړه پوره احتياط غوره دی .

﴿۱۰۶۲﴾: وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي

د حضرت ابوقتاده رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : بېله شکه زه

لَأَدْخُلُ فِي الصَّلَاةِ وَأَنَا أُرِيْدُ إِطَالَتَهَا فَأَسْمَعُ بُكَاءَ الصَّبِيِّ فَأَتَجَوَّزُ فِي صَلَاتِي مِمَّا أَعْلَمُ مِنْ شِدَّةِ وَجْدِ أُمِّهِ مِنْ بُكَائِهِ . رواه البخاري .

لمونځ پيل کړم نو اراده وکړم چي اوږد لمونځ وکړم مګر کله چي زه د يو کوچنی د ژړا آواز واورم نو په دې خيال چي د هغه مور د هغه د ژړا له کبله په فکر کي نه سي خپل لمونځ مختصر کړم .بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۲۰۲، رقم: ۷۰۷.

﴿۱۰۶۳﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي لمونځ ورکوي

أَحَدُكُمْ لِلنَّاسِ فَلْيُخَفِّفْ فَإِنَّ فِيْهِمُ السَّقِيْمَ وَالضَّعِيْفَ وَالْكَبِيْرَ .

په تاسو کي يو څوک خلکو ته نو هغه ته پکار دي چي لمونځ مختصر وکړي ځکه چي په دوی

كي ناروغان هم وي كمزوري هم وي سپين ږيري هم وي

وَإِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ لِنَفْسِهِ فَلْيُطَوِّلْ مَا شَاءَ. متفق عليه

خو كله چي څوک د ځان سره لمونځ كوي نو څومره چي وغواړي اوږد لمونځ كولای سي.
بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\ ۱۹۹، رقم: ۷۰۳، ومسلم ۱\ ۳۴۱، رقم: ۱۸۳- ۴۶۷،

تشريح: په دې حديث كي امام ته دا لارښونه سوې ده چي هغه د لمونځ وركولو په وخت كي د مقتديانو رعايت خامخا كوي ددې خبري لحاظ دي ساتي چي په مقتديانو كي ناروغ، سپين ږيری او كمزوري خلک هم وي چي د لمانځه په اوږدوالي سره په تكليف او پرېشاني كي اخته كيږي دا هم كيدای سي چي هغه د پرېشاني او تكليف څخه د ساتني په وجه جماعت پرېږدي ځكه د هغوی د رعايت په خاطر لمونځ مختصر وركول پكار دي، هو كه يو سړی يوازي لمونځ كوي نو هغه ته اختيار دی چي څومره غواړي لمونځ دي اوږد كړي همدارنګه كه ټول مقتديان د حضور قلب حاصل وي او د لمانځه د اوږدوالي څخه نه بيريږي او په پورتنيو خلكو كي ناروغ او كمزوری نه وي نو په دې صورت كي امام چي څومره غواړي اوږد لمونځ وركولای سي.

﴿۱۰۶۴﴾: وَعَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو مَسْعُودٍ أَنَّ رَجُلاً قَالَ

د حضرت قيس بن ابو حازم رضي الله عنه څخه روايت دی چي ابو مسعود زه ددې پېښي څخه خبر كړم چي يو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سو او عرض يې وكړ:

وَاللهِ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي لَأَتَأَخَّرُ عَنْ صَلَاةِ الْغَدَاةِ مِنْ أَجْلِ فُلَانٍ مِمَّا يُطِيلُ بِنَا

اې دالله رسوله! د فلاني سړي له كبله چي اوږد لمونځ كوي زما د سهار په لمانځه كي ځنډ كيږي

فَمَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَوْعِظَةٍ أَشَدَّ غَضَبًا مِنْهُ يَوْمَئِذٍ

د دې پېښي وروسته ما رسول الله ﷺ په هيڅ يو نصيحت كي دومره غضبناک نه وو ليدلی څومره چي په دغه ورځ وو په كومه ورځ چي ما دا پېښه ورته عرض كړه،

ثُمَّ قَالَ إِنَّ مِنْكُمْ مُنَفِّرِينَ فَأَيُّكُمْ مَا صَلَّى بِالنَّاسِ فَلْيَتَجَوَّزْ فَإِنَّ فِيهِمُ

بيا رسول الله ﷺ خلک مخاطب كړل او ورته وه يې فرمايل: په تاسو كي ځيني خلک د اوږده

لمانځه کولو له کبله متنفر کيږي په تاسو کي چي څوک خلکو ته لمونځ ورکوي نو هغه دي تخفيف کوي (يعني لنډ لمونځ دي ورکوي) ځکه چي په لمانځه کي

الضَّعِيفَ وَالْكَبِيرَ وَذَا الْحَاجَةِ. متفق عليه

کمزوري، سپين ږيري او حاجتمند هم وي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۱۹۷، رقم: ۷۰۲، ومسلم ۱\۲۴۰، رقم: ۱۸۲ - ۴۶۶.

غلط لمونځ ورکونکی امام به د خپل غلطي سزا خپلهويني

﴿۱۰۶۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلُّونَ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: امام به لمونځ درکوي

لَكُمْ فَإِنْ أَصَابُوا فَلَكُمْ وَإِنْ أَخْطَئُوا فَلَكُمْ وَعَلَيْهِمْ. رواه البخاري.

تاسو ته که هغه سم لمونځ درکوي نو د هغه ګټه ستاسو لپاره ده او که هغوی غلطي وکړي نو هم ستاسو لپاره ثواب دی او پر هغوی د هغه ذمه واري ده. بخاري،.

وهذا الباب خال عن الفصل الثاني.

په دې باب کي دوهم فصل نسته.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۱۸۷، رقم: ۶۹۴.

تشريح: که امام په ښه ډول او شرعي طريقه سره لمونځ ورکړي نو څرګنده ده چي د هغه ثواب امام او مقتديانو دواړو ته تر لاسه کيږي او که امام لمونځ بې قاعدې او غير شرعي او غير مسنون طريقې سره ورکړي نو د هغه ذمه داري به پر مقتديانو نه وي مقتديان خو به په هغه صورت کي هم ثواب تر لاسه کوي ځکه چي هغوی خو لمونځ په ښه ډول ادا کړ او په جماعت کي د ګډون کولو نيت يې وکړ البته امام د خپل غلطۍ او خطا سزا به خپله تر لاسه کوي ځکه چي هغه په لمونځ ورکولو کي کوتاهي کړې ده، ددې حديث په ذريعه د رسول الله ﷺ مسلمانانو ته وصيت فرمايلی دی چي وروسته کله غلط او خراب حاکمان او اميران پيداسي او امامت کوي نو هغوی به د امامت په ادا کولو کي د احکامو او آدابو رعايت نه کوي نو هغه وخت ټولو مسلمانانو ته پکار ده چي هغوی خپل لمونځ په صحيح طريقه سره ادا کړي که امام په ښه ډول

لمونځ ورکړي نو د هغه ګټه به امام او مقتدي دواړو ته وي کنه د غلط لمونځ ورکولو په صورت کي به پر مقتديانو باندي څه نه وي د غلط لمونځ ورکولو ذمه داري به يوازي پر امام وي او تاوان به د هغه وي.

په دې باب کي دوهم فصل نسته.

اَلْفَصْلُ الثالث　(دريم فصل)

د سپينږيري او ناروغ رعايت پر امام ضروري دی

﴿۱۰۶۶﴾: عَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ قَالَ آخِرُ مَا عَهِدَ إِلَيَّ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى

د عثمان بن ابو العاص رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ ما ته آخري وصيت دا کړی وو

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَمَمْتَ قَوْمًا فَأَخِفَّ بِهِمُ الصَّلَاةَ. رواه مسلم. وَفِيْ رِوَايَةٍ

چي هر کله ته د يو قوم امامت کوې نو لنډ لمونځ ورکوه، مسلم، او د مسلم په يوه روايت کي دي

لَهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ أُمَّ قَوْمَكَ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ

چي رسول الله ﷺ عثمان بن ابو العاص رضي الله عنه ته وفرمايل: ته د خپل قوم امامت کوه، ما عرض وکړ: اې د الله رسوله!

إِنِّيْ أَجِدُ فِيْ نَفْسِيْ شَيْئًا قَالَ أُدْنُهْ فَأَجْلَسَنِيْ بَيْنَ يَدَيْهِ ثُمَّ وَضَعَ كَفَّهُ فِيْ صَدْرِيْ

زما په زړه کي بيا يوه خبره پيدا کيږي (يعني عاجزي او د امامت د حقوقو بيره) رسول الله ﷺ وفرمايل: ما ته رانژدې سه، زه يې د ځان سره نژدې کښينولم بيا يې خپل لاس

بَيْنَ ثَدْيَيَّ ثُمَّ قَالَ تَحَوَّلْ فَوَضَعَهَا فِيْ ظَهْرِيْ بَيْنَ كَتِفَيَّ ثُمَّ قَالَ أُمَّ قَوْمَكَ

زما پر سينه کښېښوو او وه يې فرمايل: شا راوګرځوه بيا يې زما پر شا لاس مبارک را تير کړ او د هغه وروسته يې وفرمايل: ته د خپل قوم امامت کوه

فَمَنْ أَمَّ قَوْمًا فَلْيُخَفِّفْ فَإِنَّ فِيْهِمُ الْكَبِيْرَ وَإِنَّ فِيْهِمُ الْمَرِيْضَ وَإِنَّ فِيْهِمُ

او کوم څوک چي د يو قوم امامت کوي نو هغه ته پکار ده چي لنډ لمونځ کوي ځکه چي په

لمانځه کي سپين ږيري هم وي ناروغان هم وي کمزوري هم وي

اَلضَّعِيفَ وَإِنَّ فِيهِمْ ذَاالْحَاجَةِ فَإِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ وَحْدَهُ فَلْيُصَلِّ كَيْفَ شَاءَ.

او حاجتمند هم وي او څوک چي يوازي لمونځ کوي نو د هغه چي څنګه خوښه وي (يعني که اوږد لمونځ کوي که لنډ).

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۳۴۲، رقم: ۱۸۷- ۴۶۸.

تشريح: د حضرت عثمان رضي الله عنه ارشاد: (اني اجد في نفسي شيئا) يعني ما ته په خپل زړه کي يو اندېښنه محسوس کيږي، ددې مطلب دا وو چي زه د امامت د حقوقو د ادا کولو څخه خپل ځان عاجز وينم، يا وسوسې او شبهات دي چي په زړه کي مي راځي، يا دا چي د امامت په وخت کي زما په زړه کي يو ډول لوړوالی او د غرور کيفيت محسوس کيږي، نو رسول الله ﷺ د هغه کيفياتو ددفع لپاره د هغه پر سينه او ملا خپل لاس مبارک راتير کړ چي د هغه په برکت سره د هغه د زړه څخه اندېښنه ولاړل چي د هغه په شتون کي هغه امامت ته نه اماده کيدی.

فاذا صلى احدکم ... الخ، ددې څخه معلوميږي چي يوازي لمونځ کونکی د خپل لمونځ په اړه مختار دی چي اوږد لمونځ کوي يا مختصر، مګر علماء ليکي چي د يوازي لمونځ کونکي لپاره غوره داده چي هغه اوږد لمونځ وکړي، ددې زمانې د امامانو معامله ډيره عجيبه ده کله چي هغوی خلکو ته لمونځ ورکوي نو د ډير اوږدوالي څخه کار اخلي او کله چي يوازي لمونځ کوي نو يوازي پر دومره لنډوالي باندي اکتفاء کوي چي په هغه سره لمونځ ادا سي، د امامانو دې خوا ته متوجه کول پکار دي.

﴿۱۰۶۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُنَا بِالتَّخْفِيفِ وَيَؤُمُّنَا بِ(الصَّافَاتِ). رواه النسائي.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به مونږ ته په لمانځه کي د تخفيف حکم راکوی او کله چي به رسول الله ﷺ امامت کوي نو سورة صافات به يې وايه. نسائي.

تخريج: سنن النسائي: ۲\۹۵، رقم: ۸۲۵.

تشريح: د حديث په دارو برخو کي په څرګنده توګه معلوميږي چي يوې خوا ته خو رسول الله ﷺ د مختصر لمونځ ورکولو حکم کوي او بلي خوا ته کله چي به يې خپله امامت کوی نو سورة

صافات به يې وايه چي يو اوږد سورت دی ، ددغه ټکر ددفع کولو لپاره د علماؤ جواب دادی چي د رسول الله ﷺ دا ځانګړتيا وه چي اوږده اوږده سورتونه او ډير زيات آياتونه به يې په ډير لږ وخت کي ويل چي په هغه سره به خلکو ته څه بوج يا ستوماني نه محسوس کېدل او دا ځانګړتيا نورو ته تر لاسه کيدای نسي ، په دې ډول په دواړو برخو کي تعارض پاته نه سو .

===========

بَابُ مَا عَلَى الْمَأْمُوْمِ مِنَ الْمُتَابَعَةِ وَحُكْمِ الْمَسْبُوْقِ

د مقتدي دپاره د امام د تابعدارۍ لزوم او د مسبوق بيان

په دې باب کي هغه حديثونه ذکر کيږي چي د هغو څخه دا څرګنديږي چي د مقتديانو لپاره د امام تابعداري څومره ضروري او لازم ده او دا چي مقتديانو ته د امامت متابعت په کومو شيانو کي کول پکار دی ، او په دې باب کي هغه حديثونه هم بيانيږي چي د هغو څخه د مسبوق حکم معلوميږي چي هغه دي خپل لمونځ څرنګه پوره کړي او هغه ته څه طريقه اختيارول پکار ده ، په تيرو مخونو کي په يو ځای کي د مسبوق تعريف سوی دی يعني مسبوق هغه لمونځ کونکي ته وايي چي د پيل څخه په جماعت کي ګډون نه لري بلکه د يوه رکعت يا تر دې زيات کېدو څخه وروسته په جماعت کي ګډون کړی وي ، د امام د متابعت په اړه د راتلونکو حديثونو په ضمن کي حسب موقع د مسائلو وضاحت به کيږي ،

بيا هم په اجمالي توګه سره په دې خبره پوه سئ چي د لمانځه په هغه ارکانو کي چي فرض يا واجب دي ټولو مقتديانو ته د امام متابعت او موافقت کول واجب دي ، هو که چيري په هغه ارکانو کي سنت وغيره وي نو د مقتديانو لپاره د امام متابعت ضروري نه دی که د امام شافعي رحمة الله عليه مذهب وي او رکوع ته د تلو په وخت او د رکوع څخه د پورته کېدو په وخت کي رفع يدين کوي يعني دواړه لاسونه پورته کوي نو حنفي مقتدي ته لاسونه پورته کول ضروري نه دي ځکه چي په دغه دواړو ځايو کي رفع يدين د دوی په نزد هم سنت دی ، همداسي د سهار په لمانځه کي شافعي مذهب امام قنوت وايي نو د حنفي مقتديانو لپاره قنوت ويل واجب نه دي ، مګر په وترو کي قنوت ويل واجب دی، شافعي مذهب امام که د خپل مذهب سره سم قنوت د رکوع څخه وروسته وايي نو حنفي مقتديانو ته هم د امامت د متابعت او موافقت سره سم د رکوع څخه وروسته قنوت ويل پکار دي . علم الفقه .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د امام متابعت

﴿۱۰۶۸﴾: عَنِ الْبَرَاءِ ابْنِ عَازِبٍ قَالَ كُنَّا نُصَلِّي خَلْفَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت براء بن عازب رضي الله عنه څخه روايت دی چي موږ به په رسول الله ﷺ پسي لمونځ کوی

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا قَالَ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ لَمْ يَحْنُ اَحَدٌ مِّنَّا ظَهْرَهُ حَتّٰى

کله چي به هغه مبارک سمع الله لمن حمده وويل نو موږ به تر هغو ملا نه کښته کول تر څو به

يَضَعَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَبْهَتَهُ عَلَى الْأَرْضِ. متفق عليه

رسول الله ﷺ تندی پر مځکه نه وو ايښی . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۲\۲۹۵-۲۹۶، رقم: ۸۱۱ ومسلم: ۱۱\۳۴۵، رقم: ۱۹۷- ۴۷۴.

تشريح: د حضرت براء رضي الله عنه د ارشاد مطلب دادی چي موږ به د رکوع څخه په ولاړېدو سره د رسول الله ﷺ سره سجدې ته نه تلو بلکه ولاړ به وو او کله چي به رسول الله ﷺ خپل تندی مبارک پر مځکه کښېښودی نو موږ به سجدې ته تلو ، مولانا مظهر رحمة الله عليه فرمايي دا حديث پر دې خبره دلالت کوي چي د مقتدي لپاره دا سنت ده چي هغه د خپل لمانځه ارکان د امام د لمانځه د ارکانو څخه دومره وروسته ادا کوي ، که د امام د افعالو او صلوة او د مقتدي د افعالو او صلوة په مينځ کي د ادا کولو دومره وقفه نه وي نو هم جائز دی مګر د تکبير تحريمه په وخت کي مقتدي لپاره دومره توقف کول ضروري دی چي امام د تکبير تحريمه ويلو څخه فارغ سي نو مقتدی دي تکبير تحريمه ووايي ، مګر د حنفي فقهي مسئله داده چي د مقتدي لپاره د امام متابعت په طريقه مواصلت واجب دی يعني مقتديانو ته هر رکن د امام سره بېله ځنډه ادا کول پکار دي تحريمه دي هم د امام سره وکړي رکوع هم د امام د رکوع سره ، قومه هم د امام د قومې سره ، سجده هم د امام د سجدې سره مقصد دا چي هر کار دي د امام د کار سره کوي ، هو که چيري په قعده اولی کي امام تر دې مخکي ودرېږي چي مقتدي التحيات پوره کړي نو مقتديانو ته پکار ده چي د التحيات په پوره کولو سره سلام وګرځوي مګر د رکوع و سجدې په حالت کي که مقتديانو تسبيح درې واره هم نه وي ويلې او امام سر پورته کړي نو صحيح مسئله

داده چي مقتديانو ته پکار ده چي هغوی د تسبيح ويلو څخه پرته د امام سره ودريږي ، که مقتدي په رکوع يا سجده کي خپل سر د امام د سر پورته کولو څخه مخکي پورته کړي نو هغوی ته پکار ده چي هغوی دوهم وار رکوع يا سجدې ته ولاړ سي او بيا د امام سره خپل سر پورته کړي همداسي دا رکوع يا سجده به دوې نه وي بلکه يوه به شميرل کيږي .

مقتدي دي د امام څخه مخکي هيڅ يو رکن نه ادا کوي

﴿۱۰۶۹﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ

د حضرت انس ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ يوه ورځ موږ ته لمونځ راکړی

فَلَمَّا قَضَى الصَّلَاةَ أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ فَقَالَ أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي إِمَامُكُمْ

کله چي د لمانځه څخه فارغ سو نو موږ ته يې مخ کړ او وه يې فرمايل : خلکو زه ستاسو امام يم

فَلَا تَسْبِقُونِي بِالرُّكُوعِ وَلَا بِالسُّجُودِ وَلَا بِالْقِيَامِ وَلَا بِالِانْصِرَافِ فَإِنِّي أَرَاكُمْ أَمَامِي وَمِنْ خَلْفِي . رواه مسلم

تاسو په رکوع کي په سجده کي په دريدو کي او گرځېدو کي زما څخه مه وړاندي کيږئ ځرنگه چي زه مو مخته وينم همداسي د شا څخه هم وينم . مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۳۲۰، رقم: ۱۱۲– ۴۲۶.

﴿۱۰۷۰﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوهريرة ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

لَا تُبَادِرُوا الْإِمَامَ إِذَا كَبَّرَ فَكَبِّرُوا وَإِذَا قَالَ وَلَا الضَّالِّينَ فَقُولُوا آمِينَ وَإِذَا

د امام څخه وړاندي هيڅ کار مه کوئ کله چي امام تکبير ووايي نو تاسو هم تکبير ووايا ست او کله چي امام ولاالضالين ووايي نو تاسو آمين ووايا ست او کله چي

رَكَعَ فَارْكَعُوا وَإِذَا قَالَ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ فَقُولُوا اللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ.

متفق علیه الا ان البخاري لم یذکر و اذا قال ولا الضالين

امام رکوع وکړي نو تاسو هم رکوع وکړئ او کله چي امام سمع الله لمن حمده ووايي نو تاسو اللهم ربنا لک الحمد وایاست. بخاري او مسلم. مګر امام بخاري صاحب د (و اذا قال ولا الضالين) یادونه نه ده کړي.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲۸۳\۱۲، رقم: ۷۶۹، ومسلم ۳۱۰\۱، رقم: ۸۷- ۴۱۵.

تشريح: (فقولوا آمين) ویلو سره دې خوا ته اشاره سوې ده چي کله امام سورة فاتحه وایي نو مقتدی دي په پټه خوله دربېږو سره هغه اوري او د سورة فاتحې قرائت دي نه کوي د حدیث د آخري برخي څخه دا معلومه سوه چي امام د رکوع څخه د پورته کېدو په وخت کي سمع الله لمن حمده ووایي نو مقتدیان دي ربنا لک الحمد ووایي څرنګه چي د امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه مسئله ده.

که امام په ناسته لمونځ ورکوي نو مقتديان به څه کوي؟

﴿۱۰۷۱﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكِبَ فَرَسًا فَصُرِعَ

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ پر آس سپور رسو او آس را وغورزوی

عَنْهُ فَجُحِشَ شِقُّهُ الْأَيْمَنُ فَصَلَّى صَلَاةً مِّنَ الصَّلَوَاتِ وَهُوَ قَاعِدٌ فَصَلَّيْنَا

چي د هغه له کبله د رسول الله ﷺ راسته بغل ژوبل سو او رسول الله ﷺ نه سو دریدلای له دې کبله د یوه وخت لمونځ یې په ناسته راکړ او موږ هم لمونځ وکړ

وَرَاءَهُ قُعُوْدًا فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ إِنَّمَا جُعِلَ الْإِمَامُ لِيُؤْتَمَّ بِهِ فَإِذَا صَلَّى قَائِمًا

په رسول الله ﷺ پسي په ناسته، کله چي رسول الله ﷺ د لمانځه څخه فارغ سو نو وه یې فرمایل: امام د دې لپاره ټاکل سوی دی چي د هغه اقتداء وکړل سي له دې کبله کله چي امام په ولاړه لمونځ کوي

فَصَلُّوْا قِيَامًا فَإِذَا رَكَعَ فَارْكَعُوْا وَإِذَا رَفَعَ فَارْفَعُوْا وَإِذَا قَالَ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ

نو تاسو هم په ولاړه لمونځ کوئ او کله چي رکوع کوي نو تاسو هم رکوع کوئ او کله چي د رکوع څخه پورته کیږي نو تاسو هم پورته کیږئ او کله چي سمع الله لمن

حَمِدَهُ فَقُوْلُوْا رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ وَإِذَا صَلَّى جَالِسًا فَصَلُّوْا جُلُوْسًا أَجْمَعُوْنَ. قَالَ

حمده ووايي نو تاسو ربنا لک الحمد وایاست او کله چي امام په ناسته لمونځ کوي نو تاسو هم په ناسته لمونځ ورسره کوئ ټول، ویلي دي

الْحُمَيْدِيُّ قَوْلُهُ إِذَا صَلَّى جَالِسًا فَصَلُّوْا جُلُوْسًا هُوَ فِيْ مَرَضِهِ الْقَدِيْمِ ثُمَّ صَلَّى

حمید چي د رسول الله ﷺ دا قول چي تاسو هم په ناسته لمونځ کوئ دا د رسول الله ﷺ د لومړۍ ناروغۍ پېښه ده بیا لمونځ وکړ

بَعْدَ ذٰلِكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسًا وَالنَّاسُ خَلْفَهُ قِيَامٌ لَمْ يَأْمُرْهُمْ

د دې وروسته په مرض الموت کي رسول الله ﷺ په ناسته او خلکو په ولاړه لمونځ پسي وکړ او هغوی ته يې حکم ونه کړ

بِالْقُعُوْدِ وَإِنَّمَا يُؤْخَذُ بِالْآخِرِ فَالْآخِرِ مِنْ فِعْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

هذا لفظ البخاري. واتفق مسلم إلى أجمعون. وزاد في رواية فلا تختلفوا عليه وإذا سجد فاسجدوا.

په ناسته د لمانځه کولو حکم نو د نبي کريم ﷺ آخري فعل د لومړني فعل منسوخ کوونکی دی. بخاري، د دې تائید امام مسلم هم کړی دی او یوازي تر (ټول کښېنئ او لمونځ وکړئ) پوري يې حدیث بیان کړی دی او امام مسلم په یوه روایت کي داسي نقل کړی دی چي د امام سره اختلاف مه کوئ کله چي هغه سجده وکړي نو تاسو هم سجده وکړئ.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\۱۷۳، رقم: ۶۸۹ ومسلم ۱\۳۰۸، رقم: ۷۷ - ۴۱۱.

د لغاتو حل: (جُحِش): انخدش (وتوږل سو) (صُرِع): سقط (ولوېدی).

تشريح: د دې روایت په پای کي د کوم حمیدي قول نقل کړل سوی دی، دا هغه حمیدي نه دی چي د جمع بن الصحیحن مؤلف دی بلکه دا د بخاري استاد حمیدی دی، په هر حال د اکثرو امامانو مذهب د حمیدي د قول سره سم دی، که امام د یو عذر په وجه په ناسته لمونځ ورکوي نو مقتدیان دي په ولاړه لمونځ کوي هغوی ته په ناسته لمونځ کول صحیح نه دي.

د رسول الله ﷺ ناروغي او د ابوبكر رضي الله عنه د امامت واقعه

﴿۱۰۷۲﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا ثَقُلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَ

د عائشي (رض) څخه روايت دی كله چي د رسول الله ﷺ ناروغي سخته سول نو راغلی

بِلَالٌ يُؤْذِنُهُ بِالصَّلَاةِ فَقَالَ مُرُوا أَبَا بَكْرٍ أَنْ يُصَلِّيَ بِالنَّاسِ فَصَلّٰى أَبُوبَكْرٍ

حضرت بلال د لمانځه خبرولو لپاره ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه ته ووايه چي خلكو ته لمونځ وركړي نو حضرت ابوبكر ﷺ لمونځ وركوی

تِلْكَ الْأَيَّامَ ثُمَّ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَدَ فِيْ نَفْسِهِ خِفَّةً فَقَامَ

په هغو ورځو كي (اووه لس لمنځونه يې وركړل) بيا د رسول الله ﷺ په ناروغي كي لږ كمي راغلل نو ولاړ سو

يُهَادٰى بَيْنَ رَجُلَيْنِ وَرِجْلَاهُ تَخُطَّانِ فِي الْأَرْضِ حَتّٰى دَخَلَ الْمَسْجِدَ فَلَمَّا

ددوو كسانو په تكيه سره، د كمزورۍ له كبله د رسول الله ﷺ قدمونه پر مځكه ښكېدل، تر دې چي مسجد ته داخل سو ، كله چي

سَمِعَ أَبُو بَكْرٍ حِسَّهُ ذَهَبَ يَتَأَخَّرُ فَأَوْمَأَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

ابوبكر صديق رضي الله عنه (چي لمونځ يې وركوی) د رسول الله ﷺ راتګ محسوس كړی او را شاته سو ، رسول الله ﷺ ابوبكر صديق ته اشاره وكړه

وَسَلَّمَ أَنْ لَا يَتَأَخَّرُ فَجَاءَ حَتّٰى جَلَسَ عَنْ يَسَارِ أَبِي بَكْرٍ وَكَانَ أَبُوبَكْرٍ يُصَلِّي

چي پر خپل ځای اوسه او مه راشاته كېږه نو رسول الله ﷺ ورورانديې سو او د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه چپه طرف ته كښېنستی ، حضرت ابوبكر صديق ﷺ لمونځ كوی

قَائِمًا وَكَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ قَاعِدًا يَقْتَدِيْ أَبُو بَكْرٍ

په ولاړه او رسول الله ﷺ لمونځ كوی په ناسته چي د ابوبكر رضي الله عنه اقتداء يې كول

بِصَلَاةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيَقْتَدِي النَّاسُ بِصَلَاةِ أَبِي بَكْرٍ. متفق

علیه و في رواية لهما يسمع ابوبكر الناس التكبير .

د لمانځه او خلکو د ابوبکر صدیق رضی الله عنه اقتداء کول، بخاري او مسلم ، د بخاري او مسلم په يو بل روايت کي دا الفاظ دي چي حضرت ابوبکر رضی الله عنه په لوړ آواز سره خلکو ته تکبير اوروئ.

تخريج: صحيح البخاري ۲\۱۷۲، رقم: ۶۸۷ ومسلم: ۱\۳۱۱، رقم: ۹۰- ۴۱۸.

تشريح: په شرح السنة کي ليکلي دي چي په دې حديث کي د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد: ابوبکر ته ووايه چي هغه خلکو ته لمونځ ورکړي، پر دې خبره دلالت کوي چي حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د خلافت تر ټولو زيات وړ او تر ټولو غوره دی ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د لوري د حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه د امامت ددې عظيم او تر ټولو اهم منصب اهل او اولی ګرځولو سره سم د ځينو جليل القدر صحابه کرامو دا ارشاد بالکل حقيقت او د رسالت منشا بالکل مطابق وو چي رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه زموږ د دين لپاره خوښ کړ نو ايا هغه به موږ د خپلي دنياوي رهبرۍ د پاره نه خوښوو ، يعني کله چي رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه په خپل ژوند کي د دين تر ټولو لوی اهم منصب امامت عنايت کولو سره دې خبري ته اشاره فرمايلې ده چي زما څخه وروسته ابوبکر رضی الله عنه هغه شخصيت کيدای سي چي د مسلمانانو د دين پيشوائي او رهبري پوره کړای سي ، نو حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه د دنيوي رهبرۍ او پيشوايي په درجه اولی مستحق سو ، نو د خلافت په شان د عظيم الشان منصب تر ټولو زيات اهل هغه دی، د رجلين څخه مراد حضرت علي رضی الله عنه او حضرت عباس رضی الله عنه دي، يعني رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل کمزورۍ په وجه د حجرې مبارکي څخه مسجد نبوي پوري د دوو جليل القدر صحابه کرامو د اوږو په مرسته تشريف راوړ ، د حديث الفاظ (والناس يقتدون بصلوة ابي بكر) او خلکو د حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه د لمانځه اقتدا کول ددې مطلب دا دی .

• رسول الله صلی الله علیه وسلم په ناسته لمونځ ورکوی او حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په څنګ مبارک کي ولاړ وو ، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چي کوم فعل کوی حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه هم هغسي کول او کوم فعل چي ابوبکر صديق رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په څنګ کي ولاړ هم هغسي کول او کوم فعل چي ابوبکر صديق رضی الله عنه کوی نورو مقتديانو هم هغسي کول نو دلته د اقتداء معنی دا سوه چي رسول الله صلی الله علیه وسلم خو د ابوبکر صديق رضی الله عنه امام وو او حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه د نورو مقتديانو امام وو ځکه چي د مقتدي اقتداء کول جائز نه دي په هر حال حاصل دادی چي امام رسول الله صلی الله علیه وسلم وو ، حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم اقتداء کول او نورو خلکو هم د

رسول الله ﷺ په اقتداء كي لمونځ كوى.

ايا د لمانځه په دوران كي په امامت كي بدلون جائز دى؟

دلته يو سوال پيدا كيږي چي ايا د لمانځه په دوران كي په امامت كي بدلون جائز دى؟ يعني لمونځ پيل سوى وي او يو امام خلكو ته لمونځ وركوي يو بل سړى راسي او د لمونځ كونكي امام پر ځاى ودريږي او امامت پيل كړي نو ايا دا جائز ده كه يا؟ څرنگه چي په پورتنيى واقعه كي صورت وړاندي سو چي حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه خلكو ته لمونځ پيل كړى وو چي رسول الله ﷺ تشريف راوړ او د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه په ځاى كي يې د خلكو امامت پيل كړنو په دې اړه علامه ابن عبدالبر رحمة الله عليه فرمايي چي د علماؤ په دې اړه اجماع ده چي پهپورتني صورت كي د رسول الله ﷺ دا فعل د رسول الله ﷺ د ځانگړتياوو څخه وو يعني د نورو لپاره دا جائز نه ده چي په امامت كي دي بدلون وكړي، مگر امام شافعي رحمة الله عليه په دې كي اختلاف كړى دى او ويلي يې دي چي د پورتني صورت په ډول امامت او قتداء جائز ده (شرح مشكوة مرقاة وگورئ).

په دې اړه ځينو حضراتو دا ويلي دي چي ددې حديث څخه دا خبره نه معلوميږي چي حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه لمونځ پيل كړى وو، حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه تر دغه وخته پوري لمونځ نه وو پيل كړى چي رسول الله ﷺ تشريف راوړ او امامت يې پيل كړ. والله اعلم.

د دې حديث څخه دا مسئله څرگنده سوه چي د جمعې، اخترونو او د زيات لمونځ كونكو په صورت كي په عامو لمنځو كي هم مؤذنانو ته جائز ده چي هغوى د امام سره تكبيرات په لوړ آواز سره ووايي كوم چي مقتديان د امام څخه ليري وي تر څو هغوى هم تكبيرات واوري.

د امام څخه مخكي سر پورته كول جائز نه دي

﴿۱۰۷۳﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَا يَخْشَى الَّذِي يَرْفَعُ رَأْسَهُ قَبْلَ الْإِمَامِ أَنْ يُحَوِّلَ اللّٰهُ رَأْسَهُ رَأْسَ حِمَارٍ. متفق عليه

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كوم څوك چي د امام څخه وړاندي سر پورته كوي ايا هغه ددې څخه نه بيريږي چي الله تعالى د هغه سر د خره كړي.
بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۱۸۲، ۱۸۳، رقم: ۶۹۱، ومسلم: ۱\۳۲۰، رقم: ۱۱۴– ۴۲۷.

تشريح : كوم څوک چي د لمانځه اركان د امام سره نه ادا كوي بلكه د امام څخه مخكي يې ادا كوي د مثال په توګه په ركوع او سجده كي د امام سر پورته كولو څخه مخكي خپل سر پورته كوي نو د داسي سړي په باره كي پورته ذكر سوى حديث كي سخته سزا ده كه څه هم علماء وايي چي دا حديث پر حقيقي معنى باندي محمول نه دى يعني د دې مطلب دا دى چي كرم سړى داسي كوي الله تعالى به هغه د خره په ډول كم فهم او كم عقل كړي ځكه چي په ټولو حيوانانو كي خر تر ټولو زيات كم فهم دى نو دا مسخ به حقيقي نه وي بلكه مسخ معنوي به وي ، مګر علماء دا هم ليكي چي دا حديث پر خپل حقيقي معنا باندي محمول كيداى سي ځكه چي په دې امت كي هم مسخ ممكن ده څرنګه چي په باب اشراط الساعة كي مذكور دي او د دې مؤيد د يو روايت دا الفاظ دي چي : ان يحول الله صورته صورة حمار ، يعني د دې څخه نه بيريږي چي الله تعالى د هغه شكل د خره په ډول كړي ، خطابي رحمة الله عليه فرمايي په دې امت كي هم مسخ جائز ده نو دا حديث پر خپل حقيقي معنى باندي محمول كول جائز دي ، علامه ابن حجر رحمة الله عليه فرمايي چي دا مسخ خاص ده او د امت لپاره چي كومه مسخ منعه ده هغه عامه مسخه ده ، د صحيح حديثو څخه هم دا خبره معلوميږي .

د مسخ يو عبرتناک مثال

د علامه ابن حجر رحمة الله عليه د پورتني قول تائيد د يوې عبرتناكي پيښي څخه هم كيږي چي د يو جليل القدر محدث څخه منقول دي چي هغه د علم طلب او حديث تر لاسه كولو لپاره د دمشق يو عالم ته ورسيدى چي د خپل علم او فضل په وجه ډير مشهور وو ، هغه د عالم څخه درس ويل پيل كړل مګر د علم تر لاسه كولو په دوران كي دا واقعه د طالب العلم لپاره ډيره حيرتناكه جوړه سوه چي استاد په ټول وخت كي مخته نه راغلى د درس په وخت كي به د استاد او شاګر په مينځ كي يوه پرده حائله وه ، د هغه دا لوى خواهش وو چي كم تر كمه يو وار خو د خپل استاد د مخ زيارت وكړي ، كله چي د هغه عالم په خدمت كي ډير وخت تير سو او هغه دا محسوسه كړه چي طالب علم د حديث تر لاسه كولو شوق او د تعلق شيخ د جذباتو پوره حامل دى نو استاد يوه ورځ پرده پورته كړه نو د هغه د حيرت او تعجب انتهاء پاته نسوه چي هغه جليل القدر عالم او د هغه استاد چي د هغه د علم او فضل شهرت هري خوا ته خپور سوى دى د انساني مخ څخه محروم دى بلكه د هغه مخ د خره په ډول دى ، استاد د شاګرد حيرت او تعجب ليدو سره چي كومه خبره وكړه هغه واورئ او د هغه څخه عبرت تر لاسه كړئ ، هغه وويل : اې زما زويه ! د

لمانځه د ارکانو په ادا کولو کي د امام څخه مخکي مه کيږه ، ما چي دا حديث واوريدی چي ايا هغه سړی چي د امام څخه مخکي سر پورته کوي د دې خبري څخه نه بيريږي چي الله تعالی د هغه سر د خره په ډول کړي نو ما ته ډير تعجب وسو او ما دا د امکان څخه ليري تصور کړه نو (دا زما بدبختي وه چي ما د تجربې په توګه) د لمانځه د ارکانو په ادا کولو کي د امام څخه مخکي سوم چي د هغه نتيجه زما زويه دا وخت ستا په مخکي ده چي زما مخ واقعي د خره د مخ په ډول سو ، په هر حال ملا علي قاري رحمة الله عليه په دې باره کي فرمايي چي د رسول الله ﷺ دا ارشاد په اصل کي د سخت تهديد او زياتي زوروني په توګه دی يا دا چي داسي سړی به په بزرخ يا په دوږخ کي په دغه عذاب اخته سي .

===========

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

دا امام د موافقت حکم

﴿۱۰۷۴﴾: عَنْ عَلِيٍّ وَّ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا

د حضرت علي او معاذ بن جبل (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي

أَتَى أَحَدُكُمُ الصَّلَاةَ وَالْإِمَامُ عَلَى حَالٍ فَلْيَصْنَعْ كَمَا يَصْنَعُ الْإِمَامُ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب .

په تاسو کي يو ثوک لمانځه ته راسي او امام پر يو حال وي نو څه چي امام کوي هغه ته هم کول پکار دي ، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی

تخريج: سنن الترمذي: ۲\ ۴۸۵ – ۴۸۶، رقم: ۵۹۱،

تشريح: د حديث خلاصه داده چي د لمانځه په افعالو کي هغه سړي ته د امام اقتداء کول پکار دي او هغه ته د لمانځه د ارکانو د ادا کولو په اړه د امام څخه مقدم يا مؤخر کېدل نه دي پکار .

ابن مالک رحمة الله عليه فرمايي چي د دې حديث مطلب دادی چي امام په کوم حالت کي هم وي هغه ته د هغه موافقت کول پکار دي يعني د جماعت پيل کېدو څخه وروسته که يو سړی وروسته په جماعت کي د ګډون لپاره راسي نو امام که د رکوع په حالت کي وي نو هغه ته د هغه موافقت کول پکار دي که امام د قيام په حالت کي وي نو هغه ته هم هغه حالت اختيارول پکار

دي ، كه هغه په ركوع كي وي نو هغه ته هم ركوع ته تلل پكار دي او كه په سجده كي وي نو هغه ته هم سجدې ته تلل پكار دي ، ليدل سوي دي چي ځيني خلک د جماعت پيل کېدو څخه وروسته همداسي ولاړ وي يا په خبرو كي بوخت وي او انتظار كوي چي امام ركوع ته ولاړ سي نو په لمانځه كي به ګډون وكړي دا عمل ډېر غلط او غير شرعي دى ددې څخه پرهيز ضروري دى.

امام ترمذي رحمة الله عليه ويلي دي چي دا حديث غريب دى مګر د علماؤ پر دغه حديث عمل دى او نووي رحمة الله عليه هم ويلي دي چي د حديث اسناد ضعيف دي مګر پر كوم حديث باندي چي د علماؤ عمل كيدى هغه امام ترمذي صحيح ګرځوي او هڅه كوي چي د حديث صحت د علماؤ د عمل څخه ثابت سي څرنګه چي شيخ محي الدين ابن عربي رحمة الله عليه فرمايي چي ما ته د رسول الله ﷺ دا حديث راورسيدى چي كوم سړى لااله الاالله اويا واره ووايي نو د هغه بخښنه كيږي همداسي د كوم سړي لپاره چي ويل كيږي د هغه هم بخښنه كيږي نو ما به دا كلمات د روايت سوي حديث سره سم په خاصه توګه سره د يو چا لپاره د نيت څخه پرته ويل ، اتفاقا يوه ورځ په يو ځاى كي يو بلني ته ورغلم او هلته زما يو څو ملګري هم وو په هغوى كي يو زلمى وو چي د كشف په اړه ډېر مشهور وو ، د خوراک په دوران كي ناڅاپه هغه په ژړا سو ، ما په حيرانتيا كي د هغه د ژړا وجه و پوښتل نو هغه وويل چي زه (د كشف په ذريعه) وينم چي زما مور په عذاب كي اخته ده ، ددې اوريدو سره ما د پورتنى كلمې ثواب په زړه كي د هغه مور ته و بخښى او هغه اوس په خندا سو او وه يې ويل چي زه اوس خپل مور په جنت كي وينم .

ددې پېښي ذكر كولو څخه وروسته شيخ محي الدين ابن عربي رحمة الله عليه وفرمايل چي د هغه زلمي په كشف کېدو كي ما دا حديث صحيح ومنى او ددې حديث په صحيح کېدو سره د هغه زلمي كشف مي هم صحيح ومنى .

په ركوع كي د ګډون كونكي ركعت پوره كيږي

﴿۱۰۷۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جِئْتُمْ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي تاسو راسئ

إِلَى الصَّلَاةِ وَنَحْنُ سُجُودٌ فَاسْجُدُوا وَلَا تَعُدُّوهُ شَيْئًا وَمَنْ أَدْرَكَ رَكْعَةً فَقَدْ أَدْرَكَ الصَّلَاةَ . رواه أبو داود .

لمانځه ته او موږ پر سجده يو نو تاسو هم سجده وكړئ او هغه سجده په حساب كي مه راولئ، چا چي د

لمانځه يو رکعت (د جماعت سره ونيوى) هغه لکه چي پوره لمونځ په جماعت سره وکړ . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داؤد: ۱\۵۵۳، رقم: ۸۹۳.

تشريح: د علماؤ پر دې خبره اتفاق دی که يو سړی جماعت ته په راتلو سره په داسي حال کي ګډون وکړي چي امام په سجده کي وي او هغه هم سجدې ته ولاړ سي نو د هغه رکعت نه پوره کيږي هو که يو سړی په داسي حال کي ګډون وکړي چي امام په رکوع کي وي او هغه رکوع لاندي کړي نو د هغه پوره رکعت ادا کيږي ، ددې حديث د لومړني جز مطلب دادی که يو سړی په جماعت کي په داسي وخت کي ګډون وکړي چي امام په سجده کي وي نو هغه دي سجدې ته ولاړ سي مګر د هغه سجدې په وجه د هغه رکعت نه ادا کيږي لکه څرنګه چي په رکوع کي په ګډون کولو سره پوره رکعت حاصليږي ، همداسي په سجده کي په ګډون کولو سره پوره رکعت نه تر لاسه کيږي ، د دوهم جز علماؤ دوه مطلبه بيان کړي دي :

۱. په حديث کي د لفظ رکعة څخه مراد رکوع ده او د صلوة څخه مراد رکعت ، يعني چا چي امام په رکوع کي لاندي کړ او هغه رکوع هم لاندي کړه نو د هغه رکعت پوره سو .

۲. رکعة او صلوة دواړه په خپل حقيقي معنی کي استعمال سوي دي ، نو په دې صورت کي د حديث ددې جز مطلب به دا وي چي کوم سړی په جماعت کي يو رکعت هم تر لاسه کړي نو هغه د امام سره پوره لمونځ تر لاسه کړ او هغه ته د لمانځه يا جماعت ثواب هم پوره تر لاسه کيږي او د جماعت فضيلت به هم ورته تر لاسه کيږي .

تر څلويښت ورځو پوري په تکبير اولی سره د لمونځ کونکي لپاره زيری

﴿۱۰۷۶﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى لِلّٰهِ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چي لمونځ وکړ يوازي د الله جل جلاله لپاره

أَرْبَعِينَ يَوْمًا فِي جَمَاعَةٍ يُدْرِكُ التَّكْبِيرَةَ الْأُولَى كُتِبَتْ لَهُ بَرَاءَتَانِ بَرَاءَةٌ مِنَ النَّارِ وَبَرَاءَةٌ مِنَ النِّفَاقِ. ترمذي

څلويښت ورځي په جماعت د تکبير سره (يعني چي تکبير اولی ورسره ونيسي) نو د هغه لپاره دوه دوله خلاصون ليکل کيږي يو د دوږخ څخه او بل د نفاق څخه خلاصون. ترمذي .

تخريج: سنن الترمذي: ۲\۷، رقم: ۲۴۱.

تشريح : د حديث مطلب دادی که یو سړی پرله پسې تر څلوېښتو ورځو پوري دا سعادت تر لاسه کړي چي هغه صرف د الله تعالی د خوښۍ او د هغه د رضا لپاره په جماعت سره لمونځ داسي ادا کړي چي تکبیر تحریمه هم ځیني تیره نسي یعني هغه د پیل څخه په لمانځه کي ګډون وکړي او کله چي امام تکبير تحريمه ووايي نو هغه هم تكبير تحريمه ووايي يا د ځينو د علماؤ د قول سره سم د امام سره د سبحانک اللهم ويلو پوري په جماعت کي ګډون وکړي نو د هغه لپاره د الله تعالى د دربار څخه د دوو شيانو د خلاصون زيري ورکول کيږيْ يو خو د دوږخ څخه چي هغه به انشاء الله د دوږخ اور نه ويني او دوهم د نفاق څخه خلاصون.

د نفاق څخه د خلاصون مطلب

د نفاق څخه د خلاصون ورکولو مطلب دادی چي الله تعالی به هغه مؤمن د دې خبري څخه په خپل حفظ او امان کي وساتي چي د هغه څخه د منافقانو په ډول عمل وسي لکه په لمانځه کي سستي او ريا، درواغ ويل، وعده خلافي کول او داسي نور ، او دا چي الله تعالی به هغه ته د اهل حق او اهل اخلاص په ډول د عمل کولو توفيق ورکړي او په آخرت کي به هغه د هغه عذاب څخه چي په هغه کي به منافقان اخته کيږي وساتل سي، په ميدان حشر کي به د هغه په باره کي شاهدي ورکول کيږي چي دا بنده منافق نه بلکه مؤمن او صادق بنده دی او د رحم او کرم دا بارانونه به صرف په دې وجه وي چي دا سړی لمانځه ته دومره مخته راځي چي په تکبير اولی کي ګډون کوي او د زړه په پوره اخلاص او انتهائي خشوع او خضوع سره په لمانځه کي په دربدو سره د خپل رب خوښي او رضا يې تر لاسه کړه ، الله تعالی دي موږ ټولو ته دا سعادت په برخه کړي . آمين .

د جماعت په نيت مسجد ته تلونکي ته د جماعت نه نيولو په صورت کي هم ثواب حاصليږي

﴿۱۰۷۷﴾ : وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَوَضَّأَ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چي اودس وکړ

فَأَحْسَنَ وَضُوءَهُ ثُمَّ رَاحَ فَوَجَدَ النَّاسَ قَدْ صَلَّوْا أَعْطَاهُ اللَّهُ مِثْلَ أَجْرِ مَنْ

په ښه ډول اودس بيا د مسجد په لور ولاړی او خلکو لمونځ (جماعت) کړی وو نو الله تعالى به د هغه خلکو په ډول ثواب ورکړي

صَلاَّهَا وَحَضَرَهَا لاَ يَنْقُصُ ذٰلِكَ مِنْ أُجُوْرِهِمْ شَيْئًا . رواه أبو داود والنسائي

چا چي په جماعت سره لمونځ کړی وي او د هغو خلکو په ثواب کي به هيڅ کمي نه راځي . ابو داؤد .

تخريج: سنن ابي داؤد: ۱\ ۳۸۱، رقم: ۵٦۴ والنسائي ۲\ ۱۱۱، رقم: ۸۵۴.

تشريح: مطلب دادی که یو سړی په جماعت کي د شريک کېدو په نيت سره مسجد ته راسي او په اتفاق سره هغه جماعت لاندي نه کړي نو الله تعالی په خپل فضل او کرم سره هغه ته په جماعت کي د ګډون کونکو په اندازه ثواب ورکوي مګر شرط دادی چي هغه په قصد سره ناوخته کولو سره په جماعت کي د ګډون کولو څخه پاته نسي بلکه اتفاقا يا د يو عذر په وجه د هغه څخه جماعت تير سي ، که یو سړی په قصد سره د جماعت پر وخت حاضر نه وي بلکه د جماعت کېدو وروسته راسي نو هغه ته دا ثواب نه ورکول کيږي .

د حديث د آخري جز مطلب دادی چي هغه ته دا ثواب د هغه لمونځ کونکو د ثواب څخه چي په جماعت کي حاضر وه په کمولو سره نه تر لاسه کيږي چي د هغه په وجه د هغوی په ثواب کي کمي راسي بلکه هغه لمونځ کونکو ته خو د خپل فعل يعني په جماعت کي د ګډون کولو پوره اجر تر لاسه کيږي او هغه ته به د جماعت د نيت او د جماعت تر لاسه کولو د شوق او غلبې په وجه ثواب ورکول کيږي .

د جماعت فضيلت

﴿۱۰۷۸﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ وَقَدْ صَلَّى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی چي يو سړی داسي وخت راغلی چي رسول الله ﷺ لمونځ کړی وو ،

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَلاَ رَجُلٌ يَتَصَدَّقُ عَلٰى هٰذَا فَيُصَلِّيْ مَعَهُ فَقَامَ رَجُلٌ فَصَلّٰى مَعَهُ. رواه الترمذي و ابو داؤد.

رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا داسي څوک سته ؟ چي دې سړي ته د الله جل جلاله لپاره صدقه ورکړي (يعني دده سره لمونځ وکړي) يو سړی ودريدی او د هغه سره يې لمونځ وکړ. ابو داؤد، ترمذي.

تخريج: سنن ابي داؤد: ۱\ ۳۸٦، رقم: ۵۷۴، والترمذي ۱\ ۴۲۷ – ۴۲۸، رقم: ۲۲۰.

تشريح: يتصدق (د الله تعالی په لاره کي ورکړي) مطلب دا وو چي ايا يو څوک داسي سته

چي ددغه سړي سره په دې توګه احسان وکړي چي دد سره لمونځ وکړي چي ده ته د جماعت ثواب حاصل سي او همداسي به هغه سړي ګويا هغه ته صدقه ورکړي، ددې څخه معلومه سوه که يو سړی يو چا ته نيکه لار و ښيي يا د هغه د نيکۍ لاري اختيارولو باعث جوړ سي نو هغه ته هغه اجر او ثواب ورکول کيږي کوم چي د الله تعالی په لار کي د بخښني حاصليږي.

مولانا مظهر رحمة الله عليه فرمايي چي د راتلونکي سړي سره د لمانځه کولو صدقه ځکه تعبير کړل سوه چي د هغه سړي سره د لمونځ کونکي هغه ته شپږ ويشت برابر زيات ثواب صدقه کړ، ځکه که چيري د هغه سره لمونځ نه وو کړی نو د جماعت نه کېدو او د يوازي لمونځ کولو په وجه به هغه ته د يوه لمونځ ثواب حاصليدی او د هغه سړي په باعث د جماعت کولو په وجه هغه ته د اووه ويشت لمنځونو ثواب حاصل سو.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د ابوبکر صديق رضي الله عنه د امامت واقعه

﴿۱۰۷۹﴾: عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ فَقُلْتُ لَهَا أَلَا

د حضرت عبيد الله بن عبد الله رضي الله عنه څخه روايت دی چي زه د بي بي عائشې رضي الله عنها په خدمت کي حاضر سوم او عرض مي وکړ چي:

تُحَدِّثِيني عَنْ مَرَضِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ بَلَى ثَقُلَ النَّبِيُّ

تاسو به ما ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ناروغۍ پېښنه بيان کړئ؟ هغې وفرمايل: بيان به يې کړم، د دې وروسته عائشې رضي الله عنها وويل کله چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم ناروغي زياته سوه

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَصَلَّى النَّاسُ فَقُلْنَا لَا وَهُمْ يَنْتَظِرُونَكَ يَا رَسُولَ

نو پوښتنه يې وکړل چي ايا خلکو لمونځ وکړ؟ موږ وويل: نه، اې د الله رسوله! هغوی ستاسو انتظار کوي،

اللهِ فَقَالَ ضَعُوا لِي مَاءً فِي الْمِخْضَبِ قَالَتْ فَفَعَلْنَا فَاغْتَسَلَ فَذَهَبَ لِيَنُوءَ

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل، ښه دی زما لپاره لوښي د اوبو څخه ډک کړئ، عائشة رضي الله عنها فرمايي موږ لوښي د اوبو څخه ډک کړ او رسول الله صلی الله علیه وسلم غسل وکړ، کله چي يې د دريدلو اراده وکړه

فَأُغْمِيَ عَلَيْهِ ثُمَّ أَفَاقَ فَقَالَ أَصَلَّى النَّاسُ قُلْنَا لاَ وَهُمْ يَنْتَظِرُونَكَ يَا رَسُولَ

نو بې هوښه سو او لږ وروسته په هوښ کي راغلی نو پوښتنه يې وکړه ايا خلکو لمونځ وکړ؟
موږ ورته وويل: نه، اې د الله رسوله! هغوی ستاسو په انتظار دی،

اللهِ فَقَالَ ضَعُوا لِي مَاءً فِي الْمِخْضَبِ فَفَعَلْنَا فَاغْتَسَلَ ثُمَّ ذَهَبَ لِيَنُوءَ فَأُغْمِيَ

رسول الله ﷺ وفرمايل: په لوښي کي اوبه واچوه، بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چي رسول الله ﷺ
کښېنستی او غسل يې وکړ بيا يې د دريدو اراده وکړل او بې هوښه سو

عَلَيْهِ ثُمَّ أَفَاقَ فَقَالَ أَصَلَّى النَّاسُ قُلْنَا لاَ وَهُمْ يَنْتَظِرُونَكَ يَا رَسُولَ اللهِ فَقَالَ

بيا په هوښ کي راغلی او پوښتنه يې وکړه ايا خلکو لمونځ کړی دی موږ عرض وکړ: نه، هغوی
ستاسو انتظار کوي، رسول الله ﷺ وفرمايل:

ضَعُوا لِي مَاءً فِي الْمِخْضَبِ فَقَعَدَ فَاغْتَسَلَ ثُمَّ ذَهَبَ لِيَنُوءَ فَأُغْمِيَ عَلَيْهِ ثُمَّ

په لوښي کي زما لپاره اوبه واچوه، بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چي رسول الله ﷺ کښېنستی او
غسل يې وکړ بيا يې د دريدو اراده وکړل او بې هوښه سو، بيا

أَفَاقَ فَقَالَ أَصَلَّى النَّاسُ فَقُلْنَا لاَ وَهُمْ يَنْتَظِرُونَكَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَتْ وَالنَّاسُ

په هوښ راغلی او پوښتنه يې وکړه: ايا خلکو لمونځ کړی دی؟ موږ عرض وکړ: نه، خلک
ستاسو انتظار کوي، او خلک

عُكُوفٌ فِي الْمَسْجِدِ يَنْتَظِرُونَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِصَلاَةِ الْعِشَاءِ

ترهغه وخته په مسجد کي پاته وه او د ماخستن د لمانځه لپاره يې د رسول الله ﷺ انتظار کوی

الْآخِرَةِ فَأَرْسَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أَبِي بَكْرٍ بِأَنْ يُصَلِّيَ

په پای کي رسول الله ﷺ حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ته پيغام وليږی چي لمونځ ورکړي

بِالنَّاسِ فَأَتَاهُ الرَّسُولُ فَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُكَ أَنْ

خلکو ته، کله چي دا پيغام ابوبکر صديق رضي الله عنه ته ورسيدی او قاصد ورته وويل چي رسول الله

ﷺ تاسو ته حكم دركړى دى

تُصَلِّيَ بِالنَّاسِ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ وَكَانَ رَجُلاً رَقِيقًا يَا عُمَرُ صَلِّ بِالنَّاسِ فَقَالَ

چي لمونځ وركړه خلكو ته، نو ابوبكر صديق رضي الله عنه چي يو ډير نرم زړه والا سړى وو وويل: اې عمره! ته خلكو ته لمونځ وركړه، وويل

لَهُ عُمَرُ أَنْتَ أَحَقُّ بِذَلِكَ فَصَلَّى أَبُو بَكْرٍ تِلْكَ الْأَيَّامَ ثُمَّ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى

ده ته حضرت عمر رضي الله عنه: د دې كار لپاره تاسو غوره ياست، نو په هغو ورځو كي حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه لمونځ وركوى بيا د نبي كريم ﷺ

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَدَ مِنْ نَفْسِهِ خِفَّةً وَخَرَجَ بَيْنَ رَجُلَيْنِ أَحَدُهُمَا الْعَبَّاسُ

په ناروغي كي لږ اندازه كمي راغلل او رسول الله ﷺ د دوو كسانو په تكيه د كور څخه د باندي راغلى چي په هغوى كي يو حضرت عباس رضي الله عنه وو

لِصَلَاةِ الظُّهْرِ وَأَبُو بَكْرٍ يُصَلِّي بِالنَّاسِ فَلَمَّا رَآهُ أَبُو بَكْرٍ ذَهَبَ لِيَتَأَخَّرَ فَأَوْمَأَ

او د ماپښين د لمانځه وخت وو په دغه وخت كي حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه خلكو ته لمونځ وركوي، حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه چي محسوسه كړه چي رسول الله ﷺ تشريف راوړى دى نو هغه اراده وكړه چي شا ته سي، نو اشاره وكړه

إِلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَنْ لَا يَتَأَخَّرَ وَقَالَ أَجْلِسَانِي إِلَى جَنْبِهِ

ده ته نبي كريم ﷺ چي پر خپل ځاى ولاړ اوسه او مه را شا ته كيږه بيا يې هغو خلكو ته چي رسول الله ﷺ يې راويستلى وو حكم وكړ چي ما د ابوبكر صديق رضي الله عنه په څنګ كي كښينوئ

فَأَجْلَسَاهُ إِلَى جَنْبِ أَبِي بَكْرٍ وَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاعِدٌ، قَالَ عُبَيْدُ

نو هغوى د ابوبكر رضي الله عنه په خوا كي كښينوى او رسول الله ﷺ ناست وو، راوي عبيدالله وايي

اللَّهِ فَدَخَلْتُ عَلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ فَقُلْتُ لَهُ أَلَا أَعْرِضُ عَلَيْكَ مَا حَدَّثَتْنِي

د بي بي عائشې رضي الله عنها د دې كيسې په اوريدو سره زه عبد الله بن عباس رضي الله عنه ته ورغلم او هغه ته مي وويل ايا زه ستا مخكي هغه حديث بيان نه كړم كوم چي ما ته بيان كړى دى

بِهِ عَائِشَةُ عَنْ مَرَضِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ هَاتِ فَعَرَضْتُ

بي بي عائشې ﷞ يعني د رسول الله ﷺ د ناروغۍ په اړه، ابن عباس ﷛ وويل: ښه دی بیان يې کړه، نو ما ورته بيان كړ

حَدِيثَهَا عَلَيْهِ فَمَا أَنْكَرَ مِنْهُ شَيْئًا غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ أَسَمَّتْ لَكَ الرَّجُلَ الَّذِي كَانَ

دا حديث او هغه ددې بيان د هيڅ برخي څخه انكار ونه كړ البته هغه دا وويل چي بي بي عائشې ﷞ د هغه سړي نوم څه شي اخيستى وو چي

مَعَ الْعَبَّاسِ قُلْتُ لَا قَالَ هُوَ عَلِيٌّ. متفق عليه

د حضرت عباس ﷛ سره وو، ما ورته وويل هغې راته د هغه نوم نه وو ښودلی، ابن عباس وويل هغه حضرت علي ﷛ وو. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۱۷۲- ۱۷۳، رقم: ۶۸۷ ومسلم ۱\۳۱۱- ۳۱۲، رقم: ۹۰- ۴۱۸

د لغاتو حل: (المِخضب): الاجانة، الاناء تغسل فيها الثياب (تالی). (لينوء): يَنُوء: يقوم. (ولاړيږي).

تشريح: بي بي عائشې رضي الله عنها د حضرت عباس ﷛ نوم واخيستى مگر د دوهم سړي نوم يې نه واخيستى چي د هغه سره رسول الله ﷺ ته په مرسته وركولو سره مسجد ته يې بيولی وو، ددې وجه دا وه چي د رسول الله ﷺ يوې خوا ته خو حضرت عباس ﷛ په مستقله توگه رسول الله ﷺ ته مرسته وركړې وه مگر بلي خوا ته يو سړی ټاكلی نه وو بلكه نوبت پر نوبت به بدليدل كله به حضرت علي ﷛ مرسته وركول، كله به حضرت اسامه ﷛ يا فضل ابن عباس ﷛، دا وجه ده چي په يو بل روايت كي د بي بي عائشې رضي الله عنها الفاظ داسي هم منقول دي چي د احتمال په توگه د ټولو نومان شامل دي هغه الفاظ دا دي چي د رسول الله ﷺ بلي خوا ته د اهل بيت څخه يو سړي مرسته وركول.

د سورة فاتحې په نه ويلو سره د لمانځه نيم ثواب تر لاسه كيږي

﴿۱۰۸۰﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّهُ كَانَ يَقُوْلُ مَنْ أَدْرَكَ الرَّكْعَةَ فَقَدْ أَدْرَكَ السَّجْدَةَ وَمَنْ فَاتَتْهُ قِرَاءَةُ أُمِّ الْقُرْآنِ فَقَدْ فَاتَهُ خَيْرٌ كَثِيْرٌ. رواه مالك.

د حضرت ابو هريرة ﷛ څخه روايت دی چي كوم سړي ركوع لاندي كړه نو هغه ركعت لاندي كړی او د چا څخه چي الحمد لله تيره سوه هغه لوی ثواب د لاسه وركړی. مالک.

تخریج: الامام مالک في الموطا ۱۱\۱۱، رقم: ۱۸.

تشریح: مطلب دادی چي چا په لمانځه کي سورة فاتحه ونه ویل نو هغه په دې وجه د لوی ثواب څخه محروم سو ځکه چي هغه د لمانځه ثواب ناقص دی.

د دې حدیث څخه په څرګنده دا معلومیږي چي په لمانځه کي د سورة فاتحې ویل فرض نه دي که د سورة فاتحې ویل فرض وای نو په لمانځه کي د سورة فاتحې نه ویلو په وجه به کمي او نقصان نه وای بلکه د لمانځه نه کېدو په وجه به ثواب نه تر لاسه کیدای.

د امام څخه پر مخ کېدو باندي سزا

﴿۱۰۸۱﴾: وَعَنْهُ قَالَ الَّذِيْ يَرْفَعُ رَأْسَهُ وَيَخْفِضُهُ قَبْلَ الْإِمَامِ فَإِنَّمَا نَاصِيَتُهُ بِيَدِ الشَّيْطَانِ. رواه مالك.

د حضرت ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی کوم څوک چي د امام څخه وړاندي سر پورته او کښته کوي نو د هغه تندی د شیطان په لاس کي دی. مالک.

تخریج: الامام مالک في الموطا ۱۱\۹۲، رقم: ۵۷.

===========

بَابُ مَنْ صَلّٰى صَلٰوةً مَرَّتَيْنِ

د دوهم وار لمونځ کولو بیان

که یو سړی یو لمونځ دوه واره کوي که حقیقتا وي یا صورة نو په دې اړه څه حکم دی؟ ایا دواړه لمنځونه به یو ډول اداسي یا د هغه په حیثیت کي به فرق وي یعني دواړه واره به فرض لمونځ اداسي یا یو به فرض او دوهم به نفل وي، ددې خبرو ښودلو لپاره دا باب ترتیب سوی دی او د دغه مسئلو سره اړوند حدیثونه په دغه باب کي نقل کیږي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ **(لومړی فصل)**

﴿۱۰۸۲﴾: عَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ كَانَ يُصَلِّي مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ يَأْتِيْ قَوْمَهُ فَيُصَلِّيْ بِهِمْ . متفق عليه

د حضرت جابر رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چې معاذ بن جبل به د رسول الله ﷺ سره لمونځ کوی او بیا به خپل قوم ته ولاړی هغوی ته به یې لمونځ ورکوی . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۱۹۲، رقم: ۷۰۰، ومسلم ۱\۳۴۰، رقم: ۱۸۱- ۴۶۵.

تشريح: د حضرت معاذ ابن جبل رضی اللہ عنہ دا معمول وو چې د ماخستن سنت یا نفل به یې د رسول الله ﷺ سره کول تر څو د رسول الله ﷺ سره او په مسجد نبوي کي د لمانځه کولو فضیلت تر لاسه سي او د رسول الله ﷺ څخه د لمانځه طریقه هم معلومه سي او بیا به د هغه ځای څخه تلی او خپل قوم ته به یې فرض لمونځ ورکوی .

﴿۱۰۸۳﴾: وَعَنْهُ قَالَ كَانَ مُعَاذٌ يُصَلِّيْ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِشَاءَ

د حضرت جابر رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چې معاذ رضی اللہ عنہ به د نبي کریم ﷺ سره د ماخستن لمونځ کوی

ثُمَّ يَرْجِعُ إِلٰى قَوْمِهِ فَيُصَلِّيْ بِهِمُ الْعِشَاءَ وَهِيَ لَهُ نَافِلَةٌ . رواه البيهقي والبخاري

او بیا به خپل قوم ته راغلی هغوی ته به یې د ماخستن لمونځ ورکوی دوهم لمونځ به د هغه لپاره نفل وو . بیهقي او بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۲۶۶، رقم: ۷۰۱، ومسلم ۱\۳۴۰، رقم: ۱۸۰- ۴۶۵.

تشريح: حضرت معاذ رضی اللہ عنہ به د رسول الله ﷺ سره د ماخستن د لمانځه کولو په وخت کي د سنت نیت کوی یا د نفل لمانځه نیت به یې کوی، او بیا به خپل قوم ته په راتلو سره به یې د هغوی امامت کوی، او هغه وخت به یې فرض لمونځ کوی.

د حدیث آخري الفاظ (وهي له نافلة) د مطلب پوهېدو څخه مخکي دا خبره په ذهن کي راوستل پکار ده چې دوه واره د لمانځه کولو دوه صورتونه کیدای سي: یو خو دا چې یو سړی په خپل ځای کي یوازي یا په جماعت سره لمونځ وکړ د هغه وروسته مسجد ته راغلی او وه یې لیدل چې هلته د هغه لمانځه جماعت کیږي کوم چې ده مخکي کړی دی نو هغه په مسجد کي د جماعت فضیلت تر لاسه کولو په نیت په جماعت کي په ګډون کولو سره بیا لمونځ کوي، په دې صورت کي د فرض لمانځه ادا ینه مخکي سوې ده ځکه نو د جماعت دا لمونځ به د هغه لپاره نفل سي ، دوهم صورت دادی چې یو سړی د یو مسجد امام دی هغه په خپل مسجد کي د لمونځ

وركولو څخه مخكې پر يو خاص موقع باندې يا د يو خاص سړي سره د لمانځه كولو فضيلت تر لاسه كولو په نيت د نفل په نيت لمونځ كوي او بيا د هغه وروسته خپل مسجد ته په راتلو سره خلكو ته لمونځ وركوي نو په داسې صورت كې به وروسته لمونځ فرض سي او مخكې لمونځ به نفل سي.

د دې تفصيل پوهېدو څخه وروسته ددې جملې په مطلب په اسانۍ سره پوهېدل كېداى سي او هغه دا چې هغه دوهم لمونځ چې په جماعت سره فرض يا نفل ادا كيږي يا لومړى لمونځ دوه واره د لمونځ كونكي په حق كې نافله يعني د خير او فلاح د زياتوب او د ثواب د كثرت باعث كيږي ، كومو خلكو چې ددې جملې مطلب دا بيان كړى دى چې هغه دوهم لمونځ چې معاذ رضي الله عنه د قوم سره كوى د معاذ رضي الله عنه نفل لمونځ او د هغه د قوم د ماخستن فرض لمونځ كېدى دا حقيقت نه لري ځكه چې دا خبره خو هغه وخت صحيح كېداى سي چې ددې مطلب بيانونكې حضرت معاذ رضي الله عنه يو داسې قوم ته وړاندې كړې چې په هغه كې معاذ رضي الله عنه خپله دا وښيي چې د هغه نيت دواړه واره څه وو، ځكه چې د نيت حقيقت خو تر هغه وخته پورې نه معلوميږي تر څو پورې چې نيت كونكى د خپل نيت په باره كې خپله ونه ښيي چې د هغه نيت څه دى ؟ او ظاهره ده چې معاذ رضي الله عنه د لمونځ كولو په وخت كې نيت په زړه كې كړى دى په ژبه سره يې اظهار نه دى كړى څرنگه چې ابن همام رحمة الله عليه نقل كړي دي چې په ژبه سره نيت كول بدعت دى ځكه چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم او صحابه كرامو په باره كې دا ثابته نه ده چې هغوى به په ژبه سره نيت كوى ، بيا دا خبره دې هم په خيال كې وي چې دا جمله (وهي له نافله) د حديث الفاظ نه دي بلكه اضافه جمله ده چې په صحيح روايتونو كې موجود نه دي ، ځينو حضراتو ليكلي دي چې اما شافعي رحمة الله عليه د خپل اجتهاد او مذهب سره سم ددې جملې اضافه كړې ده بيا دا چې د مشكوة په اصل نسخه كې دا ځاى خالي دى چې د هغه څخه معلوميږي چې د مشكوة مؤلف د سنن هيڅ طريقې سره هم دا جمله نه ده تر لاسه كړې.

علامه توريشتي رحمه الله فرمايي چې د حديث د علماؤ دا قول دى چې وهي نافلة د جابر رضي الله عنه په حديث كې غير محفوظ دى ، په نفل كونكو پسې فرض لمونځ كول صحيح دي كه يا ، په دې مسئله كې د امامانو چې كوم اختلاف دى هغه په پوره وضاحت سره د مظاهر حق په نهم جلد كې د باب القراة في الصلوة د لسم نمبر حديث د تشريح په څنگ كې بيان سوى دى.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

په جماعت سره د دوهم وار لمونځ کولو حکم

﴿۱۰۸۴﴾: عَنْ يَزِيْدَ ابْنِ الْاَسْوَدِ قَالَ شَهِدْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت یزید بن اسود رضی الله عنه څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ سره په حج کي ګډون وکړ

حَجَّتَهُ فَصَلَّيْتُ مَعَهُ صَلَاةَ الصُّبْحِ فِي مَسْجِدِ الْخَيْفِ فَلَمَّا قَضَى صَلَاتَهُ

ما د سهار لمونځ د رسول الله ﷺ سره په مسجد خیف کي وکړ، کله چي رسول الله ﷺ لمونځ وکړ

وَانْحَرَفَ إِذَا هُوَ بِرَجُلَيْنِ فِي أُخْرَى الْقَوْمِ لَمْ يُصَلِّيَا مَعَهُ قَالَ عَلَيَّ بِهِمَا

او راستنېدی نو دوه کسان یې ولیدل چي د خلکو په پای کي ناست وه او د رسول الله ﷺ سره یې لمونځ نه وو کړی، رسول الله ﷺ وفرمایل: دا کسان را وغواړئ

فَجِيءَ بِهِمَا تُرْعَدُ فَرَائِصُهُمَا فَقَالَ مَا مَنَعَكُمَا أَنْ تُصَلِّيَا مَعَنَا فَقَالَا يَا

نو هغوی راوستل سول د رسول الله ﷺ د بیري څخه د هغوی وږي رېږدېدلې رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه تاسو ولي زموږ سره لمونځ ونه کړ، هغوی وویل: اې

رَسُوْلَ اللهِ إِنَّا كُنَّا قَدْ صَلَّيْنَا فِي رِحَالِنَا قَالَ فَلَا تَفْعَلَا إِذَا صَلَّيْتُمَا فِي

دالله رسوله! موږ په خپل ځای کي لمونځ کړی دی، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل بیا داسي مه کوئ هر کله چي تاسو په

رِحَالِكُمَا ثُمَّ أَتَيْتُمَا مَسْجِدَ جَمَاعَةٍ فَصَلِّيَا مَعَهُمْ فَإِنَّهَا لَكُمَا نَافِلَةٌ . رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي .

خپل کور کي لمونځ وکړئ او هغه مسجد ته راسئ چي په هغه کي جماعت کیږي نو د هغه خلکو سره هم لمونځ وکړئ دا لمونځ به ستاسو لپاره نفل وي، ترمذي، ابوداؤد، نسائي.

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\۳۸٦، ۳۸۷، رقم: ۵۷۵، والنسائي: ۲\۱۱۲- ۱۱۳، رقم: ۸۵۷.

تشريح : د حديث د آخري جملې مطلب دادی چې په آخر کې کيدونکی لمونځ به نفل سي که څه هم لومړی لمونځ يې په جماعت سره کړی وي يا يوازي يې کړی وي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

﴿۱۰۸۵﴾: عَنْ بُسْرِ بْنِ مِحْجَنٍ عَنْ أَبِيْهِ أَنَّهُ كَانَ فِيْ مَجْلِسٍ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ

بسر بن محجن د خپل پلار څخه روايت کوي چې هغه په يو مجلس کې د رسول الله ﷺ سره وو

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأُذِّنَ بِالصَّلَاةِ فَقَامَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

کله چې د لمانځه لپاره آذان وسو ، رسول الله ﷺ ودريدی

فَصَلّٰى وَرَجَعَ وَمِحْجَنٌ فِيْ مَجْلِسِهٖ فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

لمونځ يې اداکړ او بيرته راتلی چې محجن يې هلته پرځای ناست وليدی ، رسول الله ﷺ د هغه څخه پوښتنه وکړه

مَا مَنَعَكَ أَنْ تُصَلِّيَ مَعَ النَّاسِ أَلَسْتَ بِرَجُلٍ مُسْلِمٍ فَقَالَ بَلٰى يَا رَسُوْلَ اللهِ

تا د خلکو سره ولي لمونځ ونه کړ ، ايا ته مسلمان نه يې ؟ هغه عرض وکړ : اې د الله رسوله ! زه مسلمان يم

وَلٰكِنِّيْ كُنْتُ قَدْ صَلَّيْتُ فِيْ أَهْلِيْ فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا

مګر ما د خپلي کورنۍ سره لمونځ کړی وو، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : هر کله چې

جِئْتَ الْمَسْجِدَ وَكُنْتَ قَدْ صَلَّيْتَ فَأُقِيْمَتِ الصَّلَاةُ فَصَلِّ مَعَ النَّاسِ وَإِنْ كُنْتَ قَدْ صَلَّيْتَ . رواه مالك والنسائي .

ته مسجد ته راسې او لمونځ دې کړی وي او په مسجد کې لمونځ تيار وي نو د خلکو سره هم لمونځ وکړه که څه هم تا لمونځ کړی وي . مالک او نسائي .

تخريج: الامام مالک في الموطا ۱\۱۳۲، رقم: ۸. والنسائي: ۲\۱۱۲، رقم: ۸۵۶.

دوهم وار لمونځ کول د ثواب باعث دی

﴿۱۰۸۶﴾: وَعَنْ رَجُلٍ مِّنْ أَسَدِ بْنِ خُزَيْمَةَ أَنَّهُ سَأَلَ أَبَا أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيَّ قَالَ

د اسد بن خزیمه د قبیلې د یو سړي څخه روایت دی چې هغه د ابو ایوب انصاري رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه چې

يُصَلِّيْ أَحَدُنَا فِيْ مَنْزِلِهِ الصَّلَاةَ ثُمَّ يَأْتِي الْمَسْجِدَ وَتُقَامُ الصَّلَاةُ فَأُصَلِّيْ

په موږ کې یو سړی په کور کې لمونځ وکړي بیا هغه مسجد ته راسي او هلته لمونځ کیدونکی وي ایا په داسې حالت کې زه هم لمونځ وکړم

مَعَهُمْ فَأَجِدُ فِيْ نَفْسِيْ شَيْئًا مِّنْ ذٰلِكَ فَقَالَ أَبُوْ أَيُّوْبَ سَأَلْنَا عَنْ ذٰلِكَ النَّبِيَّ

د هغوی سره، په دې اړه زما په زړه کې شک او شبه ده، ابو ایوب انصاري رضي الله عنه ورته وفرمایل: په دې اړه موږ د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه کړې ده،

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَذٰلِكَ لَهُ سَهْمُ جَمْعٍ. رواه مالك وأبو داود.

رسول الله ﷺ وفرمایل: چې دا (دوهم جماعت کول) دده قسمت دی چې د جماعت ثواب یې هم تر لاسه کړ. مالک او ابوداؤد.

تخریج: الامام مالک في الموطا ۱\۱۳۳، رقم: ۱۱. وابوداؤد: ۱\۳۸۸، ۳۸۹، رقم: ۵۷۷.

تشریح: (فذالک له سهم جمع) مطلب دادی که یو سړی یو وار په کور کې د فرض لمونځ کولو څخه وروسته بیا دوهم وار په مسجد کې په جماعت سره هغه لمونځ کوي نو د هغه په حق کې بالکل د سعادت خبره ده ځکه چې په دې سره هغه ته د جماعت فضیلت او د هغه ثواب تر لاسه کیږي نو په دې اړه په زړه کې د ننه وسوسه او شبه پیدا کول نه دي پکار.

د دوهم وار لمونځ کولو حکم

﴿۱۰۸۷﴾: وَعَنْ يَزِيْدَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ جِئْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت یزید بن عامر رضي الله عنه څخه روایت دی چې زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سوم،

وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ فَجَلَسْتُ وَلَمْ أَدْخُلْ مَعَهُمْ فِي الصَّلَاةِ فَلَمَّا انْصَرَفَ رَسُوْلُ

او رسول الله ﷺ دا وخت لمونځ کوی، زه کښېنستم او د رسول الله ﷺ سره په لمانځه کي شریک نه سوم، کله چي رسول الله ﷺ د لمانځه څخه فارغ سو

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَآنِيْ جَالِسًا فَقَالَ أَلَمْ تُسْلِمْ يَا يَزِيْدُ قُلْتُ بَلٰى

او زه يې ناست وليدم نو وه يې فرمايل: اې يزيده! ايا ته مسلمان نه يې؟ ما عرض وکړ: هو.

يَارَسُوْلَ اللهِ قَدْ أَسْلَمْتُ قَالَ وَمَامَنَعَكَ أَنْ تَدْخُلَ مَعَ النَّاسِ فِيْ صَلَاتِهِمْ؟

اې د الله رسوله! زه مسلمان يم، رسول الله ﷺ وفرمايل: نو تا د جماعت لمونځ ولي ونه کړ؟

قَالَ إِنِّيْ كُنْتُ قَدْ صَلَّيْتُ فِيْ مَنْزِلِيْ أَحْسِبُ أَنْ قَدْ صَلَّيْتُمْ فَقَالَ إِذَا جِئْتَ

ما ووېل ما په خپل کور کي لمونځ کړی وو او زما خيال وو چي تاسو به هم د لمانځه څخه فارغ سوی یاست، رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله ته راسې

الصَّلَاةَ فَوَجَدْتَّ النَّاسَ فَصَلِّ مَعَهُمْ وَإِنْ كُنْتَ قَدْ صَلَّيْتَ تَكُنْ لَكَ نَافِلَةً وَهٰذِهٖ مَكْتُوْبَةً. رواه أبو داود.

لمانځه ته او خلک پر لمونځ کولو ووينې نو ته هم د هغوی سره په لمانځه کي ګډون کوه او کوم لمونځ چي تا کړی وي هغه به ستا لپاره نفل سي او دا به په فرض کي وشميرل سي. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داؤد: ۱\۳۸۸، رقم: ۵۷۷.

﴿۱۰۸۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَجُلاً سَأَلَهُ فَقَالَ إِنِّيْ أُصَلِّيْ فِيْ بَيْتِيْ ثُمَّ أُدْرِكُ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي د هغه څخه يو سړي پوښتنه وکړه چي زه په خپل کور کي لمونځ کوم بيا

الصَّلَاةَ فِي الْمَسْجِدِ مَعَ الْإِمَامِ أَفَأُصَلِّيْ مَعَهُ قَالَ لَهُ نَعَمْ قَالَ الرَّجُلُ أَيَّتُهُمَا

په مسجد کي لمونځ (جماعت) ولاړ وي نو ايا زه د دې خلکو سره لمونځ وکړم؟ هغه ورته ووېل: هو، هغه سړي پوښتنه وکړه په داسي حالت کي به په دې دواړو لمنځو کي کوم يو لمونځ

أَجْعَلُ صَلاَتِيْ ؟ قَالَ عُمَرَ وَذٰلِكَ إِلَيْكَ إِنَّمَا ذٰلِكَ إِلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ يَجْعَلُ أَيَّتُهُمَا شَاءَ . رواه مالك .

فرض وګڼم؟ ابن عمر رضي الله عنه ورته وويل دا ستا کار نه دی دا الله جل جلاله ته حواله دی چي هغه کوم يو غواړي فرض يې ګرځوي . مالک .

تخريج: الامام مالک في الموطا: ۱\۱۳۳، رقم: ۹.

تشريح: دا حديث د ځينو شوافع او غزالي رحمة الله عليه ددې قول تائيد کوي چي په دغه دواړو لمنځونو کي يو لمونځ بلاتعين فرض ادا کيږي که څه هم لومړی لمونځ وي يا دويم، مګر د اکثرو حديثو څخه دا خبره په وضاحت سره معلوميږي چي په دواړو کي لومړی لمونځ فرض ادا کيږي او دوهم نفل کيږي ، او دا خبره د قياس څخه هم معلوميږي ځکه چي يو سړی داسي کار چي د هغه لپاره په يو وخت کي يوازي يو وار کول ضروري وي که دوه واره يې وکړي نو ځرګنده ده چي د هغه د ذمې څخه په اول وار ليري کيږي نه په دوهم وار، همداسي د فرض لمانځه ادا کول په اول وار کيږي او د دوهم وار لمونځ د هغه لپاره د نفل په صورت کي د فضيلت او سعادت سرمايه جوړيږي .

يو لمونځ دوه واره نه کول

﴿۱۰۸۹﴾: وَعَنْ سُلَيْمَانَ مَوْلٰى مَيْمُوْنَةَ قَالَ أَتَيْنَا ابْنَ عُمَرَ عَلَى الْبَلاَطِ وَهُمْ

د بي بي ميمونې د آزاد سوي غلام سليمان څخه روايت دی چي موږ په بلاط نامي ځای کي ابن عمر رضي الله عنه ته ورغلو او هغوی

يُصَلُّوْنَ فَقُلْتُ أَلاَ تُصَلِّيْ مَعَهُمْ فَقَالَ قَدْ صَلَّيْتُ وَإِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ

هغه وخت لمونځ کوی ، ما ابن عمر رضي الله عنه ته وويل: ايا تاسو ددې خلکو سره لمونځ نه کوئ؟ هغه وويل : ما لمونځ کړی دی او ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوريدلي دي

يَقُوْلُ لاَ تُصَلُّوْا صَلاَةً فِيْ يَوْمٍ مَرَّتَيْنِ . رواه أحمد وأبو داود والنسائي .

چي فرمايل يې: يو لمونځ په يوه ورځ کي دوه ځله مه کوئ . احمد ، ابوداؤد او نسائي .

تخريج: الامام احمد في مسنده ۱۹\۱۳ . وابوداؤد: ۱\۳۸۹، رقم: ۵۷۹ . والنسائي ۲\۱۱۴ .رقم:۸۵۹.

د لغاتو حل: (بِلاط): موضع معروف بالمدينة (په مدينه منوره کي يوه مشهوره سيمه).

تشريح: بلاط په مدينه منوره کي د يو ځای نوم دی چي د امير المؤمنين حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د مسجد څخه د باندي ددې لپاره جوړ کړی وو که چيري خلک خبري وغيره کوي نو د مسجد څخه د باندي په هغه ځای کي دي يې کوي او په مسجد کي دي دنياوي کارونه او خبري نه کوي.

د دوهم وار لمونځ کولو د حکم تطبيق د تيرو حديثو سره

په څرګنده خو دا حديث د تيرو حديثو سره مخالف معلوميږي کوم چي د يوه لمانځه په دوهم وار کولو باندي دلالت کوي نو ددې حديث حکم او په تيرو حديثونو کي تطبيق دادی چي په اصل کي ددې حديث د حکم تعلق د هغه سړي سره دی چي هغه په اول وار په جماعت سره لمونځ کړی وي او د تيرو حديثونو تعلق د هغه سړي سره دی چي هغه په اول وار لمونځ په جماعت سره نه بلکه يوازي کړی وي لکه څرنګه چي د حنفيه مذهب دی ، يا ددې حديث مطلب دادی چي په دوهم وار لمونځ د فرضت په توګه مه کوئ ، يعني دوهم لمونځ که د نفل په نيت کوي نو په دې کي څه پرواه نسته، ددې وضاحت په رڼا کي د ابن عمر رضي الله عنه د الفاظو (قد صليت) کي دا تشريح وکړل سي چي ابن عمر رضي الله عنه کيدای سي په جماعت سره لمونځ کړی وي ځکه هغه دوهم وار په لمانځه کي ګډون ونه کړ ، يا دا چي کوم وخت دا واقعه وه هغه د سهار يا مازديګر او يا ماښام وخت وي چي په دغه وختونو کي دوهم وار لمونځ کول نه دي پکار .

په دې خبره هم پوه سئ چي په دې اړه اکثر حديثونه عام دي يعني د هغه حديثو څخه په ظاهره دا معلوميږي چي دا حکم که يو سړی يوازي لمونځ کولو سره مسجد ته راسي او هلته جماعت کيږي نو هغه دي په جماعت کي ګډون وکړي او دوهم وار دي لمونځ وکړي دا مسئله د ټولو وختونو د لمنځو سره متعلق ده مګر مجتهدين او علماء پر هغه حديثو باندي هم نظر لري چي د هغه څخه په ځينو وختونو کي دوهم وار لمونځ کول مکروه ګرځول سوي دي نو د هغه حديثونو سره سم هغوی هغه وختونه ټاکلي دي چي په هغو کي دوهم وار لمونځ کول پکار دي او هغه وختونه يې هم ټاکلي دي چي په هغو کي دوهم وار لمونځ کول نه دي پکار او په راتلونکي حديث کي دا تخصيص مذکور دی .

هغه وختونه چي په هغو کي دوهم وار لمونځ کول ممنوع دی

﴿۱۰۹۰﴾: وَعَنْ نَافِعٍ قَالَ إِنَّ عَبْدَ اللهِ بْنِ عُمَرَ كَانَ يَقُوْلُ مَنْ صَلَّى الْمَغْرِبَ أَوِ الصُّبْحَ ثُمَّ أَدْرَكَهُمَا مَعَ الْإِمَامِ فَلَا يَعُدْ لَهُمَا . رواه مالك .

د حضرت نافع رضي الله عنه څخه روايت دی چي عبد الله بن عمر رضي الله عنه به ويل : کوم څوک چي د ماښام يا

سهار لمونځ وکړي او بيا يې د امام سره تر لاسه کړي نو دوهم ځل دي يې نه کوي.

تخريج: الامام مالک في الموطا: ۱۱/۱۳۳، رقم: ۱۲.

تشريح: دا حديث د امام مالک رحمة الله عليه د مذهب تائيد کوي ځکه چي د هغه په نزد يوازي د مابښام او سهار لمنځونه دوهم وار کول ممنوع دي، مګر د حنفيه په نزد د مازديګر لمونځ هم په دې حکم کي داخل دی، د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد په ټولو لمنځو کي اعاده (تکرار) کيدای سي، په دې حديث کي دې ته اشاره سوې ده چي پورتنی حکم د هغه سړي په اړه دی چي هغه په لومړي ځل په جماعت سره نه بلکه يوازي لمونځ کړی وي نو په لومړي ځل په جماعت سره د لمانځه کولو په صورت کي خو په طريقه اولی دوهم وار لمونځ کول پکار دي.

============

بَابُ السّنَنِ وَ فَضَائِلِهَا

سنت او د هغه د فضائلو بيان

په اسلامي شريعت کي لمونځ تر ټولو د لوړي درجې عبادت دی، د نورو عباداتو په مقابله کي د دې لوی ارزښت دی او د الله تعالی په دربار کي تر ټولو زيات محبوب دی ځکه په عبادت کي چي څومره زيات کثرت او زياتوب اختيار کړل سي هغومره نه يوازي دا چي بنده سعادت او خير بې پناه رفعتونه او عروج تر لاسه کوي بلکه هغه د خپل پوره عبوديت او د الله تعالی د حاکميت او کبريايي اظهار هم کوي، دا وجه ده چي شريعت نور عبادتونه کوم چي يوازي په فرائضو پوري محدود کړي وي هلته دا عبادت يې د فرائض او واجبات څخه پرته په سنتو سره هم نازولی دی، د هر فرض لمانځه سره يو څو سنت هم ټاکل سوي دي، نه يوازي دا چي هغه فرض په اساني سره اداسي بلکه د فرض لمانځه په ادا کولو کي چي کوم نقصان او کوتاهي واقع سوې وي هغه هم پوره سي.

سنت يعني هغه لمنځونه چي په شپه او ورځ کي د فرض لمنځو سره کول کيږي پر دوه ډوله دي:

۱. رواتب: دا هغه سنت لمنځونه دي چي پر هغه رسول الله ﷺ هميشتوب اختيار کړی دی.

۲. غير رواتب: دا هغه سنت لمنځونه دي چي پر هغه رسول الله ﷺ هميشتوب نه دی اختيار کړی لکه د مازديګر سنت.

د سنت کولو هم طريقه ده کوم چي د فرض لمانځه کولو ده، فرق يوازي دومره دی چي د

فرض لمانځه په یوازي دوو رکعتو کي د سورة فاتحې څخه وروسته یو بل سورت هم ویل کیږئ او د سنت لمانځه په ټولو رکعتو کي د سورة فاتحې وروسته بل سورت هم ویل کیږي، او د سنت لمانځه په رکعتو کي چي کوم سورتونه ویل کیږي د هغه برابر نه کېدل خلاف سنت نه دي ، او سنت لمنځونه په ورځ تر دوو رکعتو پوري او د شپې څلورو رکعتو پوري په یوه سلام سره کیږي مګر د دوو رکعتو وروسته التحیات ویل ضروري دي . علم الفقه .

په دې خبره هم پوه سئ چي سنت، نفل، تطوع، مندوب، مستحب، مرغوب فیه او حسن دا ټول الفاظ مترادف دي ، ددې ټولو معنی یوه ده یعني هغه لمونځ چي د هغه پر کولو باندي شارع پر نه کولو باندي ترجیح ورکړې ده که څه هم په دغه لمنځونو کي ځیني داسي دي چي د ځینو نورو په مقابله کي سنت مؤکده دي .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د سنتو شمیر او د هغه د کولو فضیلت

﴿۱۰۹۱﴾: عَنْ اُمِّ حَبِيْبَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى

د حضرت ام حبیبة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل :چا چي لمونځ وکړ

فِي يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً بُنِيَ لَهُ بَيْتٌ فِي الْجَنَّةِ أَرْبَعًا قَبْلَ الظُّهْرِ

په شپه او ورځ کي دوولس رکعته نو د هغه لپاره په جنت کي کور جوړیږي یعني څلور رکعته د ماپښین څخه مخکي

وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعِشَاءِ وَرَكْعَتَيْنِ

او دوه رکعته د ماپښین وروسته دوه رکعته د ماښام وروسته او دوه رکعته د ماختن وروسته او دوه رکعته

قَبْلَ صَلَاةِ الْفَجْرِ. رواه الترمذي و في رواية مسلم اَنَّهَا قَالَتْ سَمِعْتُ

د سهار څخه مخکي ، ترمذي، د مسلم په یوه روایت کي دي چي هغې وویل ما اورېدلي دي

رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَا مِنْ عَبْدٍ مُسْلِمٍ يُصَلِّي لِلّٰهِ كُلَّ

د رسول الله ﷺ څخه چي فرمايل يې : هيڅ يو مسلمان بنده داسي نسته چي خالص د الله ﷻ لپاره لمونځ کوي په هره

يَوْمٍ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً تَطَوُّعًا غَيْرَ فَرِيضَةٍ إِلاَّ بَنَى اللَّهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ أَوْ إِلاَّ بُنِيَ لَهُ بَيْتٌ فِي الْجَنَّةِ .

ورځ کي دوولس رکعته نفل پرته د فرضو څخه مګر د هغه لپاره الله تعالى په جنت کي کور جوړ نه کړي ، يا دا الفاظ يې وويل چي د هغه لپاره په جنت کي يو کور جوړيږي .

تخريج: سنن الترمذي ۲\ ۲۷۴، رقم: ۴۱۵،الرواية الثانية: صحيح مسلم: ۱\ ۵۰۳، رقم: ۱۰۳– ۷۲۸.

تشريح : په حديث کي چي د ورځي او شپې د سنتو کوم شمير په تفصيل سره ښودل سوى دى هغه ټول سنت مؤکد دي او د سهار دواړه سنت رکعتونه تر ټولو زيات مؤکد دي حتى چي امام حسن بصري رحمة الله عليه او ځيني نور حنفيه حضرات دې ته واجب وايي ، امام حسن رحمة الله عليه خو د ماښام دوو سنتو ته هم واجب ويلي دي مګر ددې حديث سره سم د هغه د قول ترديد سوى دى چي دا واجب نه دي بلکه سنت دي .

﴿۱۰۹۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ سره لمونځ ادا کړ دوه رکعته

قَبْلَ الظُّهْرِ وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ فِي بَيْتِهِ وَرَكْعَتَيْنِ

د ماپښين مخکي او دوه رکعته د هغه وروسته او دوه رکعته د ماښام څخه وروسته د نبي کريم ﷺ په کور کي او دوه رکعته

بَعْدَ الْعِشَاءِ فِي بَيْتِهِ قَالَ وَحَدَّثَتْنِي حَفْصَةُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

د ماخستن څخه وروسته د رسول الله ﷺ په کور کي وکړل ابن عمر رضي الله عنه وايي ما ته بي بي حفصې رضي الله عنها وويل چي رسول الله ﷺ به

وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ حِينَ يَطْلُعُ الْفَجْرُ . متفق عليه

دوه مختصر رکعتونه د صبح صادق راختلو څخه مخکي کول . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\۵۸، رقم: ۱۱۸۰- ۱۱۸۱، ومسلم ۱\ ۵۰۴، رقم: ۱۰۵- ۷۳۰.

تشريح: ابن عمر رضي الله عنه د ماپښين څخه مخکي سنتو لپاره د ركعتين لفظ فرمايلى دى چي د هغه څخه ظاهري مطلب خو دادى چي رسول الله ﷺ د ماپښين څخه مخكي دوه ركعته وكړل مگر د اهل علم قول دادى چي تثنيه د جمع خلاف نه ده مگر كه دلته د ركعتين معنى د دوو ركعتو پر ځاى د ثلورو ركعتو واخيستل سي نو په دې كي څه پرواه نسته، د دې توجيه په ذريعه دغه حديث او په هغه حديث كي چي د هغه څخه د ماپښين د فرض لمانځه څخه مخكي ثلور ركعته سنت ثابتيږي تطبيق كيږي. ملا علي قاري.

شيخ عبدالحق رحمة الله عليه فرمايي چي دا حديث د امام شافعي رحمة الله عليه مستدل دى ځكه چي د هغه په نزد د ماپښين د فرضو څخه مخكي دوه ركعته دي مگر د حنفيه په نزد ثلور ركعته دي، د حنفيه مذهب په مستدل كي ډېر حديثونه روايت دي چي د حضرت علي رضي الله عنه، بي بي عائشې او ام حبيبې رضي الله عنهم څخه نقل دي.

امام ترمذي رحمة الله عليه د حنفيه مذهب په حق كي فرمايلي دي چي پر دغه مذهب باندي د صحابه كرامو وغيره څخه د اكثر اهل علم عمل دى او دا قول د سفيان ثوري، ابن مبارك او اسحاق رحمة الله عليهم هم دى، د امام شافعي او امام احمد قول هم د ثلورو ركعتو په اړه منقول دى مگر داسي چي ثلور ركعته په دوو سلامو سره وكړل سي.

د ابن عمر رضي الله عنه د دې ارشاد يوه توجيه دا هم كيداى سي چي رسول الله ﷺ د ماپښين ثلور ركعته سنت په كور كي كول ځكه نو بيبيانو مباركانو د ثلور ركعته په باره كي ذكر وكړ، او كله چي به رسول الله ﷺ فرض لمونځ وركولو لپاره مسجد ته تشريف راوړ نو هلته به يې تحية المسجد دوه ركعته كول ځكه د تحية المسجد دوه ركعته ابن عمر رضي الله عنه د ماپښين سنت گڼلو سره وفرمايل چي ما د رسول الله ﷺ سره د ماپښين د فرض لمانځه څخه مخكي دوه ركعته سنت كړي دي.

ابن عمر رضي الله عنه دلته د ماپښين، ماښام او ماخستن د سنتو يادونه كړې ده، د سهار د سنتو يادونه يې نه ده كړې د دې وجه داده چي هغه د سهار په وخت كي د رسول الله ﷺ سره لمونځ نه كوى ځكه د سهار سنت يې خپله ذكر نه كړل بلكه د بي بي حفصې رضي الله عنها په روايت كي يې نقل كړل چي د دغه لمنځو سره د سهار سنت هم معلوم سي.

د جمعې سنت

﴿۱۰۹۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُصَلِّيْ بَعْدَ

الْجُمُعَةِ حَتَّى يَنْصَرِفَ فَيُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ فِيْ بَيْتِهِ . متفق عليه

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د جمعې د لمانځه وروسته هيڅ لمونځ نه کوی او کورته به ولاړی بيا چي کورته به داخل سو نو دوه رکعته به يې کول . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۴۲۵، رقم: ۹۳۸، ومسلم ۱\۵۰۴، رقم: ۱۰۴- ۷۲۹.

تشريح : ابن مالک رحمة الله عليه فرمايي چي په دغه حديث کي د رکعتونو څخه مراد د جمعې سنت دی ، د يوه قول سره سم د امام شافعي رحمة الله عليه عمل پر دغه حديث دی چي د جمعې سنت د ماپښين د سنتو په ډول يعني دوه رکعته دي ، په نورو صحيح حديثو کي منقول دي چي رسول الله ﷺ د جمعې د لمانځه څخه مخکي هم او د جمعې د لمانځه وروسته هم څلور څلور رکعته سنت کول، د امام اعظم ابوحنيفة رحمة الله عليه دا مذهب دی، په يو صحيح روايت کي د رسول الله ﷺ څخه د لمانځه وروسته شپږ رکعته سنت کول هم ثابت دي ځکه امام ابويوسف رحمة الله عليه فرمايي چي د جمعې د لمانځه وروسته شپږ رکعته سنت کول پکار دي .

څرنگه چي مخکي يو ځای ښودل سوي دي چي نفل لمنځونه په کور کي کول افضل دي ځکه نو رسول الله ﷺ به د جمعې څخه وروسته سنت په کور کي کول.

د نبي کريم ﷺ د نفلونو شمير

﴿۱۰۹۴﴾ : وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ شَقِيْقٍ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ عَنْ صَلَاةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ

د حضرت عبد الله بن شقيق رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه د رسول الله ﷺ د نفل لمنځو په اړه پوښتنه وکړل،

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ تَطَوُّعِهِ فَقَالَتْ كَانَ يُصَلِّيْ فِيْ بَيْتِيْ قَبْلَ الظُّهْرِ

هغې وويل: رسول الله ﷺ به زما په کور کي لمونځ کوی د ماپښين څخه مخکي

أَرْبَعًا ثُمَّ يَخْرُجُ فَيُصَلِّيْ بِالنَّاسِ ثُمَّ يَدْخُلُ فَيُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ وَكَانَ يُصَلِّيْ

څلور بيا به مسجد ته تلی او خلکو ته به يې لمونځ ورکوی بيا به کورته راغلی او دوه رکعته به يې کول او کله چي به يې لمونځ وکړ

بِالنَّاسِ الْمَغْرِبَ ثُمَّ يَدْخُلُ فَيُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ وَيُصَلِّيْ بِالنَّاسِ الْعِشَاءَ

دخلکو سره د ماښام تو بیا به یې کور ته تشریف راوړی او دوه رکعته به یې کول بیا به یې خلکو ته د ماخستن لمونځ ورکوی

وَيَدْخُلُ بَيْتِي فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ وَكَانَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ تِسْعَ رَكَعَاتٍ فِيهِنَّ

او زما کور ته به راغلی دوه رکعته به یې کول او د شپې د تهجد لمونځ به یې نهه رکعته کوی چې په هغو کې به

الْوِتْرُ وَكَانَ يُصَلِّي لَيْلاً طَوِيلاً قَائِمًا وَلَيْلاً طَوِيلاً قَاعِدًا وَكَانَ إِذَا قَرَأَ وَهُوَ

وتر هم شامل وه او د شپې به یې تر ډیره وخته پورې په ولاړه او تر ډیره وخته پورې په ناسته لمونځ کوی او

قَائِمٌ رَكَعَ وَسَجَدَ وَهُوَ قَائِمٌ وَكَانَ إِذَا قَرَأَ قَاعِدًا رَكَعَ وَسَجَدَ وَهُوَ قَاعِدٌ

په ولاړه چې به یې لمونځ کوی نو رکوع او سجده به یې کول او که په ناسته به یې کوی نو رکوع او سجده به یې کوله

وَكَانَ إِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ. رواه مسلم و زاد ابوداؤد ثم يخرج فيصلي بالناس صلوة الفجر.

او سهار چې به څلانده سو نو دوه رکعته به یې کول، مسلم، ابوداؤد په دې روایت کې دا الفاظ زیات لیکلي دي: د سهار دوه رکعته چې به یې وکړله نو رسول الله ﷺ به مسجد ته تشریف وړی او خلکو ته به یې د سهار لمونځ ورکوی.

تخریج: صحیح مسلم ۱\ ۵۰۴، رقم: ۱۰۵-۷۳۰ وابوداؤد: ۲\ ۴۳، رقم: ۱۲۵۰.

تشریح: دا حدیث دې خبرې په صریحه دلیل دی چې سنت په کور کې کول غوره دي، (فیهن الوتر) مطلب دادی چې کله به رسول الله ﷺ د تهجد لمونځ ادا کړ نو د هغه سره به یې وتر هم درې رکعته یا یو رکعت کوی.

د شپې د رسول الله ﷺ د لمانځه په اړه مختلف روایتونه منقول دي چې کله به رسول الله ﷺ شپږ رکعته کول، کله اته، کله نهه، کله لس، کله یوولس او کله به یې دیارلس رکعته کول.

(رکع و سجد وهو قائم) د دې مطلب دادی چې کله به رسول الله ﷺ د تهجد لمونځ په ولاړه کوی

نو د قیامت د حال څخه به رکوع او سجدې ته تلی داسې به نه وه چې قرآن کریم خو به یې په ولاړه وایه او رکوع او سجده به یې په ناسته کول، همداسې چې رسول الله ﷺ به په ناسته لمونځ کوی نو رکوع او سجده به یې هم په ناسته کول، مگر په دې صورت کې دا هم منقول دي چې رسول الله ﷺ به رکوع او سجدې ته په ولاړه تلی یعني قرائت به یې په ناسته وایه بیا به ودرېدی او په لږ قرائت ویلو سره به بیا رکوع او سجدې ته تلی.

په هر حال د ټولو حدیثو په کتلو سره دا ویل پکار دي چې رسول الله ﷺ به د تهجد لمونځ درې ډوله کوی:

۱. ټول لمونځ به یې په ولاړه کوی.
۲. ټول لمونځ به یې په ناسته کوی.
۳. قرائت به یې په ناسته وایه او بیا به ولاړېدی او رکوع او سجدې ته به تلی.

د دې دریم صورت عکس یې نه فرمایه یعني داسې لمونځ یې نه کوی چې قرائت خو به یې په ولاړه وایه او بیا په کښېنستو سره رکوع او سجدې ته به تلی لکه څرنگه چې دا حدیث د دې نفي کوي.

د سهار د سنتو تاکید

﴿۱۰۹۵﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمْ يَكُنِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى شَيْءٍ مِنَ النَّوَافِلِ أَشَدَّ تَعَاهُدًا مِنْهُ عَلٰى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ. متفق علیه

د حضرت عائشې ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به په نفلو لمنځو کې تر ټولو زیات پاملرنه د سهار د دوو سنتو کول. بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۳\۴۵، رقم: ۱۱۶۹. ومسلم: ۱\۵۰۱، رقم: ۹۴- ۷۲۴.

تشریح: مطلب دادی چې د سهار سنت دومره مهم او مؤکد دي چې رسول الله ﷺ په هیڅ حال کې هم که په سفر کې به وو او که په حضر کې دغه سنت به یې نه پرېښودل، د سهار د سنتو د ارزښت او عظمت اندازه د دې څخه لگول کیدای سي چې فقهاؤ لیکلي دي چې پرته د یو عذر څخه د سهار سنت په ناسته کول صحیح نه دي.

د سهار د سنتو فضیلت

﴿۱۰۹۶﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَا الْفَجْرِ

خَيْرٌ مِّنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيْهَا . رواه مسلم .

د حضرت عائشي ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د سهار دوه رکعته سنت تر دنيا او ددنيا تر ټولو شيانو غوره دي .مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۵۰۱، رقم: ۹۶- ۷۲۵.

تشريح : د سهار سنتو ته پر دنيا او د دنيا پر شيانو فضيلت په دې صورت کي ورکړل سوی دی که د نيا او ددنيا شيان د الله تعالی په لار کي خرڅ کړل سي بيا هم د سهار سنت به غوره وي ځکه چي د دنيا په شيانو کي بخل کولو او هغه د الله تعالی په لار کي نه خرڅ کولو کي ښه والی کله دی چي د سهار سنت ته يې د هغه څخه افضل ويلي دي.

علماؤ ليکلي دي چي تر ټولو زيات مؤکد سنت د سهار دی د هغه څخه وروسته د ماښام سنت او د هغه څخه وروسته د ماپښين د فرض لمانځه څخه وروسته سنت او د هغه څخه وروسته د ماخستن د فرض لمانځه څخه وروسته سنت او بيا په ټولو آخر کي د ماپښين د فرض مخکي سنت .

د ماښام دلمانځه څخه مخکي سنت

﴿۱۰۹۷﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ مُغَفَّلٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن مغفل ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

صَلُّوْا قَبْلَ صَلاَةِ الْمَغْرِبِ رَكْعَتَيْنِ قَالَ فِي الثَّالِثَةِ لِمَنْ شَاءَ كَرَاهِيَةَ أَنْ يَّتَّخِذَهَا النَّاسُ سُنَّةً . متفق عليه

د ماښام د فرضو څخه مخکي دوه رکعته کوئ دري ځله يې دا وفرمايل او دريم ځل يې دا هم وفرمايل چي څوک يې غواړي وه دي يې کړي او که څوک يې نه غواړي نه دي يې کوي، دا يې ځکه وفرمايل چي خلک دا رکعتونه سنت مؤکده ونه ګرځوي .بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\۵۹، رقم: ۱۱۸۳، ومسلم ۱\ ۵۷۳، رقم: ۳۰۴- ۸۳۸.

تشريح : دوه واره خو رسول الله ﷺ دا وفرمايل چي د ماښام د فرض لمانځه څخه مخکي دوه رکعته نفل کوئ مګر بيا په دې ګڼلو سره چي خلک به دغه دوو رکعتو ته د سنت مؤکده درجه ورکړي (لمن شاء) ويلو سره ددې خبري خبرتيا ورکړه چي دا دوه رکعته سنت نه دي بلکه ددې

درجه تر استحباب پوري ده كه يو سړی دا وكړي نو ثواب به تر لاسه كړي او كوم سړی چې يې ونه كړي نو پر هغه به څه نيوكه نه وي.

د ماښام د فرض لمانځه مخكې دوه ركعته نفل لمونځ كولو په اړه مخكې ښودل سوي دي چې اكثر فقهاء ددې د كولو څخه منعه كوي، د باب فضل الاذان د حديث نمبر نهم د تشريح په ضمن كې ددې تفصيل بيان سوی دی او ددې باب په دريم فصل كې به هم ددې څه تفصيل وكړل سي.

د جمعې د لمانځه وروسته سنت

﴿۱۰۹۸﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې

مِنْكُمْ مُصَلِّيًا بَعْدَ الْجُمُعَةِ فَلْيُصَلِّ أَرْبَعًا. رواه مسلم. وَفِيْ أُخْرٰى لَهُ قَالَ:

په تاسو كې د جمعې د لمانځه څخه وروسته لمونځ كول غواړي نو هغه ته پكار دي چې څلور ركعته وكړي، مسلم او په دوهم روايت كې دا الفاظ دي چې ويې فرمايل:

إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمُ الْجُمُعَةَ فَلْيُصَلِّ بَعْدَهَا أَرْبَعًا.

كوم څوک چې په تاسو كې د جمعې لمونځ كوي نو هغه ته پكار دي چې د جمعې د لمانځه څخه وروسته څلور ركعته وكړي.

تخريج: صحيح مسلم: ۱۲/ ۶۰۰، رقم: ۶۹ – ۸۸۱.

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ (دوهم فصل)

د ماپښين د سنتو فضيلت

﴿۱۰۹۹﴾: عَنْ أُمِّ حَبِيْبَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ

د بي بي حبيبې رضي الله عنها څخه روايت دی چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چې فرمايل يې:

مَنْ حَافَظَ عَلٰى أَرْبَعِ رَكْعَاتٍ قَبْلَ الظُّهْرِ وَأَرْبَعٍ بَعْدَهَا حَرَّمَهُ اللهُ عَلَى النَّارِ.

رواه احمد والترمذي وابوداؤد والنسائي وابن ماجه.

کوم څوک چي د ماپښين د لمانځه مخکي او وروسته د څلورو رکعتو پابندي وکړي الله تعالی به پر هغه د دوږخ اور حرام کړي . احمد، ترمذي ابوداؤد، نسائي او ابن ماجه

تخريج: الامام احمد في مسنده ٦\ ٣٢٦، وابوداؤد: ٢\ ٥٢، رقم: ١٢٦٩. والترمذي ٢\ ٢٩٢، رقم: ٤٢٧ والنسائي ٣\ ٢٦٥، رقم: ١٨١٥. وابن ماجه ١\ ٣٦٧، رقم: ١١٦٠.

تشريح: د دې روايت څخه په څرګنده خو معلوميږئ چي د ماپښين څخه وروسته څلور رکعته لمونځ په يوه سلام سره وکړل سي، او په يو بل روايت کي منقول دي چي د ماپښين څخه وروسته څلور رکعته په دوو سلامو سره ادا کړل سي، په هر حال دلته دا بحث دی چي د ماپښين څخه وروسته دا څلور رکعته چي د هغه په اړه حديث ذکر کيږي ايا د سنت دوو رکعتو څخه پرته دي يا د سنت هغه دوه رکعته هم پکښې شامل دي، نو په څرګنده توګه سره دا معلوميږي چي دا څلور رکعته د سنت د هغه دوو رکعتو څخه پرته وي کوم چي د فرضو وروسته کيږي، مګر د ملا علي قاري رحمة الله عليه د الفاظو څخه معلوميږي چي په دغه څلورو رکعتو کي هغه دوه رکعته هم شامل دي هغه فرمايي چي په دغه څلورو رکعتو کي دوه رکعته سنت مؤکده دي او دوه رکعته مستحب او غوره داده چي دا څلور رکعته په دوه سلامو سره ادا کړل سي.

د ماپښين د څلور رکعته سنتو فضيلت

﴿۱۱۰۰﴾: وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو ايوب انصاري رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

أَرْبَعٌ قَبْلَ الظُّهْرِ لَيْسَ فِيهِنَّ تَسْلِيمٌ تُفْتَحُ لَهُنَّ أَبْوَابُ السَّمَاءِ. رواه أبو داود وابن ماجه.

څلور رکعته د ماپښين مخکي دی د هغه په منځ کي سلام نسته کوم څوک چي دا کوي د هغه لپاره د آسمان دروازې خلاصيږي. ابوداؤد. ابن ماجه

تخريج: سنن ابي داؤد ٢\ ٥٣، رقم: ١٢٧٠، وابن ماجه ١\ ٣٦٥، رقم: ١١٥٧.

تشريح: د ماپښين څخه مخکي کيدونکو څلور رکعتو فضيلت څرګند فرمايل کيږي چي کله هغه وکړل سي نو د هغه لپاره د آسمان دروازې خلاصيږي يعني هغه د الله تعالی دربار ته په رسيدو سره د قبوليت درجه تر لاسه کوي او د هغه په سبب د الله تعالی په رحمت سره نازول

کیږي ، د دغه څلور رکعتو په اړه هم اختلاف دی چي ایا ددې څخه مراد هغه سنت دي چي د ماپښین د فرضو څخه مخکي ادا کیږي یا ددې څخه پرته نور دي چي هغه ته لمونځ في الزوال وایي، مختار قول دادی چي دا غیر رواتب یعني د ماپښین د فرضو څخه مخکي د سنت مؤکده څخه پرته د لمونځ في الزوال څلور رکعته دي .

د زوال وروسته دلمانځه کولو فضیلت

﴿۱۱۰۱﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ السَّائِبِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن سائب ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به

يُصَلِّي أَرْبَعًا بَعْدَ أَنْ تَزُولَ الشَّمْسُ قَبْلَ الظُّهْرِ وَقَالَ إِنَّهَا سَاعَةٌ تُفْتَحُ فِيهَا

د زوال څخه وروسته او د ماپښین څخه مخکي څلور رکعته کول او فرمایل یې دا هغه وخت دی چي خلاصیږي په دغه وخت کي

أَبْوَابُ السَّمَاءِ فَأُحِبُّ أَنْ يَصْعَدَ لِي فِيهَا عَمَلٌ صَالِحٌ . رواه الترمذي

د آسمان دروازې او زه غواړم چي زما صالح عمل آسمان ته ولاړ سي . ترمذي

تخریج: سنن الترمذي ۲\۳۴۲ - ۳۴۳، رقم: ۴۷۸

تشریح : د دې حدیث څخه معلومیږي چي د لمر زوال کېدو وروسته وخت د قبولیت وی دا وخت چي کوم نیک عمل وکړل سي هغه د الله تعالی په دربار کي د قبولیت درجه تر لاسه کوي او څرګنده ده چي په ټولو اعمالو کي لمونځ تر ټولو افضل دی ځکه دا وخت به لمونځ کول افضل وي .

د ماز دیګر سنت

﴿۱۱۰۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَحِمَ اللّٰهُ امْرَءًا صَلَّى قَبْلَ الْعَصْرِ أَرْبَعًا . رواه أحمد والترمذي .

د حضرت ابن عمر ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : پر هغه سړي دي الله ﷻ رحمت نازل کړي چي د ماز دیګر څخه مخکي څلور رکعته وکړي. احمد او ترمذي

تخریج: الامام احمد في مسنده ۲\۱۱۷، والترمذي ۲\۲۹۵، ۲۹۶، رقم: ۴۳۰.

تشريح : د مازديگر سنت مؤكده نه دي په دې حديث كي رحمۃ الله په ويلو سره دې ته اشاره فرمايل سوې ده چي د مازديگر څخه مخكي كيدونكي څلور ركعته مستحب لمونځ دى .

د مازديگر سنت دوه ركعته دي كه څلور ؟

﴿۱۱۰۳﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي قَبْلَ الْعَصْرِ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ يَفْصِلُ بَيْنَهُنَّ بِالتَّسْلِيمِ عَلَى الْمَلَائِكَةِ الْمُقَرَّبِينَ وَمَنْ تَبِعَهُمْ مِنَ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُؤْمِنِينَ. رواه الترمذي

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ به لمونځ كوى د مازديگر دلمانځه مخكي څلور ركعته لمونځ كوى چي د هغه په منځ كي به يې پر مقربو ملائكو ، مؤمنانو او مسلمانانو كوم خلک چي د رسول الله ﷺ تابع دي سلام ليږى يعني التحيات به يې ويل. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۲\ ۲۹۴، رقم: ۴۲۹.

تشريح : دلته د تسليم (سلام ليږلو) څخه مراد التحيات ويل دي يعني رسول الله ﷺ به د دوو ركعتو وروسته التحيات ويل او بيا به يې د څلور ركعتو څخه وروسته سلام گرځوى .

﴿۱۱۰۴﴾: وَعَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي قَبْلَ الْعَصْرِ رَكْعَتَيْنِ . رواه أبو داود .

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ به د مازديگر تر لمانځه مخكي دوه ركعته كول . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\ ۵۴، رقم: ۱۲۷۲.

تشريح : د مازديگر د سنتو په اړه ډير روايتونه منقول دي د ځينو څخه معلوميږي چي رسول الله ﷺ به د مازديگر څخه مخكي دوه ركعته سنت كول او په ځينو روايتونو كي د څلور ركعتو ثبوت تر لاسه كيږي ، علماء ليكي چي لمونځ كونكي ته اختيار دى چي دوه ركعته كوي او كه څلور ركعته مگر افضل څلور ركعته كول دي .

د صلوة اوابين فضيلت

﴿۱۱۰۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي لمونځ وکړي

بَعْدَ الْمَغْرِبِ سِتَّ رَكَعَاتٍ لَمْ يَتَكَلَّمْ فِيمَا بَيْنَهُنَّ بِسُوءٍ عُدِلْنَ لَهُ بِعِبَادَةِ

د ماښام څخه وروسته شپږ رکعته او د هغه په منځ کي يو بده خبره د ژبي څخه ونه باسي

ثِنْتَيْ عَشْرَةَ سَنَةً. رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب لا نعرفه الا من حديث عمر ابن ابي خثعم وسمعت محمد ابن اسماعيل يقول هو منكر الحديث و ضعفه جدا.

هغه ته د دولس کالو د عبادت ثواب ورکول کيږي (ترمذي) ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی، موږ دا حديث د عمر بن ابي خثعم په سند سره پيژنو ما د محمد بن اسماعيل بخاري څخه واوريدل چي عمربن ابي خثعم منكر الحديث دی ، دې حديث ته بخاري ډير ضعيف ويلي دي .

تخريج: سنن الترمذي ۲\۲۹۸، ۲۹۹، رقم: ۴۳۵.

تشريح : د ماښام د لمانځه څخه وروسته شپږ رکعته نفل لمونځ په درو سلامو سره کيږي د غه لمانځه ته صلوة اوابين وايي، دا لمونځ سنت دی او ددې لمانځه نوم د ابن عباس رضي الله عنه څخه منقول دی، ددغه لمانځه ډېر زيات فضيلت دی لکه څرنګه چي ددغه حديث څخه معلوميږي، د حديث څخه په څرګنده دا مفهوم اخيستل کيږي چي د ماښام څخه وروسته کوم دوه رکعتونه چي معمولي سنت ادا کيږي هغه هم په دغه شپږ رکعتو کي شامل دي، په راتلونکي حديث کي چي د صلوة اوابين شلير ويشت رکعته ذکر کيږي په هغه کي هم دا دواړه رکعته شامل دي.

علامه يحيى رحمة الله عليه فرمايلي دي چي مخکي دوه رکعته سنت دي بيل وکړل سي ددې وروسته اختيار دی که څلور رکعته وکړي يا دوه رکعته وکړي، دا حديث که څه هم امام ترمذي وغيره ضعيف ګرځولی دی مګر د اعمالو په اړه په ضعيف حديث باندي عمل کول هم جائز دي، او بيا ددې څخه پرته دا حديث ابن حزيمه رحمة الله عليه په خپل صحيح کي او ابن ماجه هم نقل کړی دی او د ميرک رحمة الله عليه قول دی چي د عمار ابن ياسر رضي الله عنه په اړه منقول دي چي هغه به د ماښام

څخه وروسته شپږ رکعته کول او هغه فرمایلي دي چي ما خپل محبوب رسول الله ﷺ لیدلی دی چي د ماښام څخه وروسته به یې شپږ رکعته کول او فرمایل به یې کوم سړی چي د ماښام څخه وروسته شپږ رکعته کوي د هغه ګناه بخښل کیږي که څه هم هغه د دریاب د ځګ په اندازه وي. طبراني.

د شیخ مولانا شاه اسحاق محدث دهلوي رحمة الله علیه قول دی چي زموږ تحقیق دادی چي په دغه حدیث کي چي د صلوة اوابین شپږ رکعته ذکر سوي دي یا دا ډول مخته چي په کوم حدیث کي د څلیرویشت رکعتو ذکر کیږي دا دواړه شمیر د ماښام څخه وروسته سنت مؤکده دوو رکعتو څخه پرته دي.

د صلوة اوابین زیات شمیر شل رکعته دی

﴿۱۱۰۶﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى بَعْدَ الْمَغْرِبِ عِشْرِيْنَ رَكْعَةً بَنَى اللهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ. رواه الترمذي.

د حضرت عائشې ﵂ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي د ماښام دلمانځه وروسته شل رکعته وکړي نو د هغه لپاره الله تعالی په جنت کي کور جوړوي. ترمذي

تخریج: سنن الترمذي ۲۹۹\۲، رقم: ۴۳۵.

تشریح: که څه هم محدثینو دا حدیث ضعیف ګرځولی دی مګر علامه ابن حجر رحمة الله علیه فرمایي په دې باره کي یو حدیث بل هم منقول دی چي نبي کریم ﷺ به دا لمونځ شل رکعته کوی او فرمایل به یې چي دا صلوة اوابین دی نو کوم سړی چي دا لمونځ وکړي نو پوه سئ چي د هغه بخښنه وسول، اکثر علماء سلف او صلحاء امت به دا لمونځ کول خپل سعادت او خوشبختي ګڼل او دا به یې کوی، د علماؤ یو ډله وایي چي د صلوة اوابین د رکعتو په شمیر کي مختلف حدیثونه نقل دي یو حدیث خو تر دې مخکي تیر سوی دی چي په هغه کي د شپږ رکعتو ذکر سوی دی، یو حدیث دادی چي په دې کي د شلو رکعتو ذکر دی نو دغه ټولو حدیثونو ته په کتلو سره به دا وویل سي چي صلوة اوابین کم تر کمه دوه رکعته دی او زیات یې شل رکعته، کوم سړی چي د دوو رکعتو څخه تر شلو پوري څومره زیات کوي د هغه په حق کي به هغومره غوره والی او خیر وي.

د ماخستن سنت

﴿۱۱۰۷﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ مَا صَلَّى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِشَاءَ قَطُّ فَدَخَلَ عَلَيَّ إِلاَّ صَلَّى أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ أَوْ سِتَّ رَكَعَاتٍ. رواه أبو داود.

د حضرت عائشې ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ به د ماخستن د لمانځه وروسته تل ما ته راتلی او څلور يا شپږ رکعته به يې کول. ابو داؤد.

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\۷۱، رقم: ۱۳۰۳.

تشريح: د ماخستن څخه وروسته د سنتو په اړه چي څو مره مشهور روايتونه منقول دي په هغو کي يا خو دوه رکعته کول منقول دي او يا څلور رکعته، يوازي يو داسي حديث دى چي په هغه کي شپږ رکعته ذکر کيږي، په کومو حديثو کي چي څلور رکعته کول معلوميږي د هغه څخه منجمله يو حديث دا هم دى چي سعيد ابن منصور په خپل مسند کي نقل کړي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم سړى چي د ماخستن څخه مخکي څلور رکعته لمونځ وکړي نو ګويا هغه په ليلة القدر کي څلور رکعته وکړل.

په هر حال ددې روايت وضاحت دادى چي رسول الله ﷺ به د ماخستن څخه وروسته کوم څلور رکعته کول نو په هغه کي به دوه رکعته سنت مؤکده وه او دوه رکعته مستحب، البته په (او ست رکعات) کي حرف د او دوه احتماله لري يا خو دا د شک لپاره دى يا د تنويع لپاره دى.

ادبار النجوم او ادبار السجود

﴿۱۱۰۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِدْبَارَ

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د ادبار

النُّجُوْمِ الرَّكْعَتَانِ قَبْلَ الْفَجْرِ وَإِدْبَارَ السُّجُوْدِ الرَّكْعَتَانِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ. رواه الترمذي.

النجوم) څخه د سهار د لمانځه مخکي دوه رکعته مراد دي او د ادبار السجود څخه د ماښام د لمانځه وروسته دوه رکعته مراد دي. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۳٦٦، رقم: ۳۲۷۵.

تشريح : د قرآن كريم په سورة طور كي دا آيت دى :

وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ حِينَ تَقُومُ وَمِنَ اللَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَإِدْبَارَ النُّجُومِ

ژباړه : هر كله چي ته پورته كيږې نو د خپل پروردګار په تعريف سره د هغه پاكي بيانوه او د شپې په ځينو وختونو كي هم او د ستورو د ډوبيدو په وخت كي هم د هغه پاكي بيانوه .

د دې آيت په اړه رسول الله ﷺ وفرمايل : ادبار النجوم يعني د ستورو د ډوبيدو وخت د پروردګار د پاكۍ بيانولو څخه د سهار سنت كول مراد دي چي هغه د ستورو د ډوبيدو په وخت يعني د صبح صادق څخه وروسته كول كيږي .

همدارنګه د قرآن كريم په سورة ق كي دا آيت دى :

وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوبِ . وَمِنَ اللَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَأَدْبَارَ السُّجُودِ

ژباړه : او د لمر ختلو څخه مخكي او د لمر لوېدو څخه مخكي د خپل پروردګار په تعريف سره د هغه پاكي بيانوه او د شپې په ځينو وختونو كي هم او د د سجدې څخه وروسته هم د هغه پاكي بيانوه .

د حديث په دوهمه برخه كي رسول الله ﷺ د دې آيت په اړه وفرمايل چي د دغه سجدې څخه مراد د ماښام درې ركعته فرض دي او ادبار السجود يعني د سجدې څخه وروسته پاكي بيانولو څخه د ماښام د فرضو څخه وروسته دوه ركعته سنت كول مراد دي .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د ماپښين څخه مخكي د څلورو ركعتو لمونځ ثواب

﴿۱۱۰۹﴾ : عَنْ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ أَرْبَعُ

د حضرت عمر رضي الله عنه څخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي فرمايل يې:

رَكَعَاتٍ قَبْلَ الظُّهْرِ بَعْدَ الزَّوَالِ تُحْسَبُ بِمِثْلِهِنَّ فِي صَلَاةِ السَّحَرِ وَمَا مِنْ

د ماپښين څخه مخكي او د زوال څخه وروسته څلور ركعته دي چي د تهجد په حساب كي شميرل كيږي او هيڅ شى داسي نسته

شَيْءٍ إِلَّا وَيُسَبِّحُ اللَّهَ تِلْكَ السَّاعَةَ ثُمَّ قَرَأَ يَتَفَيَّأُ ظِلَالُهُ عَنِ الْيَمِينِ وَالشَّمَائِلِ

چي په دې وخت کي د الله تعالی تسبیح نه کوي بیا رسول الله ﷺ دا آیت تلاوت کړ :(د هر شي سایه راسته لوري ته او چپه لوري ته

سُجَّدًا لِلّٰهِ وَهُمْ دَاخِرُونَ. رواه الترمذي والبيهقي في شعب الايمان.

د الله ﷻ لپاره سجده کوونکي ګرځي او هغه ذلیل وي). ترمذي او بیهقي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\ ۲۷۹، رقم: ۳۱۲۸. البيهقي في شعب الايمان ۲\ ۱۲۲، رقم: ۳۰۷۲.

تشریح: رسول الله ﷺ د دغه وخت د لمانځه کولو د ترغیب لپاره او د خپل ارشاد ددلیل په توګه دا آیت تلاوت کړ، په آیت کي د سجدې څخه مراد تابعداري ده که هغه تبعا وي یا اختیارا، او الله تعالی چي مخلوقاتو ته کوم شی د کوم مقصد لپاره پیدا کړی دی ددې مقصد تکمیل په حقیقت کي د پروردګار تابعداري ده.

د ماز دیګر وروسته دوه رکعته

﴿۱۱۱۰﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا تَرَكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ

د حضرت عائشي رضي الله عنها څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ نه دي پرې ایښي دوه رکعته لمونځ

بَعْدَ الْعَصْرِ عِنْدِيْ قَطُّ. متفق عليه وفي رواية للبخاري قالت والذي ذهب به ما تركهما حتى لقي الله.

د ماز دیګر وروسته زما په کور کي. بخاري او مسلم، د بخاري په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي بي بي عائشې وویل په هغه ذات دي مي قسم وي چي د رسول الله ﷺ روح یې قبض کړه رسول الله ﷺ تر وفات پوري دا دوه رکعته نه وه پرې ایښي.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\ ۶۴، رقم: ۵۹۱، ومسلم ۱\ ۵۷۲، رقم: ۲۹۹،

تشریح: په تیرو مخونو کي یو ځای د ماز دیګر د لمانځه څخه وروسته د لمانځه کولو په اړه ښودل سوي دي چي دا دوه رکعته کول د رسول الله ﷺ ځانګړتیا وه او دا یوازي د رسول الله ﷺ لپاره جائز وه نورو خلکو ته د ماز دیګر څخه وروسته نفل لمونځ کول جائز نه دي ځکه چي ددې په مخالفت کي ډیر حدیثونه منقول دي.

د لمر لوېدو وروسته او د ماښام دلمانځه مخکې د نفل لمونځ کولو مسئله

﴿۱۱۱۱﴾: وَعَنْ مُخْتَارِ بْنِ فُلْفُلٍ قَالَ سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ عَنِ التَّطَوُّعِ بَعْدَ

د حضرت مختار بن فلفل رضی اللہ عنہ څخه روايت دی چې ما د انس بن مالک رضی اللہ عنہ څخه د ماز ديګر وروسته د نفلو په اړه پوښتنه وکړه

الْعَصْرِ فَقَالَ كَانَ عُمَرُ يَضْرِبُ الْأَيْدِي عَلَى صَلَاةٍ بَعْدَ الْعَصْرِ وَكُنَّا نُصَلِّي

هغه وويل، چې حضرت عمر به د هغه سړي لاسونه وهل چې د ماز ديګر څخه وروسته به يې لمونځ کوی (يعني منعه کول به يې) حال دا چې موږ به لمونځ کوی .

عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ غُرُوبِ الشَّمْسِ قَبْلَ

د رسول الله ﷺ په زمانه کې د لمر لوېدو پر وخت د ماښام څخه مخکې دوه رکعته نفل ،

صَلَاةِ الْمَغْرِبِ فَقُلْتُ لَهُ أَكَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيهِمَا قَالَ

بيا ما د انس رضی اللہ عنہ څخه پوښتنه وکړه ايا رسول الله ﷺ به د ماز ديګر څخه وروسته دوه رکعته نفل کول هغه وويل :

كَانَ يَرَانَا نُصَلِّيهِمَا فَلَمْ يَأْمُرْنَا وَلَمْ يَنْهَنَا. رواه مسلم

موږ به رسول الله ﷺ پر دوه رکعته لمونځ کولو ليدی خو نه به رسول الله ﷺ د دې حکم وركوی او نه به يې منعه فرمايل . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱\۵۷۳، رقم: ۳۰۲- ۸۳۷.

تشريح : د حضرت انس رضی اللہ عنہ د قول څخه چې نه خو به يې موږ ته حکم راکوی او نه به يې منعه کول د رسول الله ﷺ تقرير ثابت کړ، يعني رسول الله ﷺ به هغه وخت لمونځ کول صحيح ګڼل که چيرې د رسول الله ﷺ په نزد هغه وخت لمونځ کول مکروه وای نو رسول الله ﷺ به د هغه څخه خامخا منعه فرمايلې وای ، مګر د خلفاء راشدينو په اړه ثابته وه چې هغو به هغه وخت لمونځ کول صحيح نه ګڼل، نو په دې اړه د خلفاء راشدينو اقتداء کافي ده دا وجه ده چې اکثر فقهاء دا وخت لمونځ کولو څخه منعه کړې ده ځکه په دې سره د ماښام په لمانځه کې زنډ لازميږي.

﴿۱۱۱۲﴾: وَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كُنَّا بِالْمَدِينَةِ فَإِذَا أَذَّنَ الْمُؤَذِّنُ لِصَلَاةِ

د حضرت انس بن مالک، ﷺ څخه روایت دی چي موږ په مدینه کي وو کله چي به مؤذن آذان کوی لپاره د لمانځه

الْمَغْرِبِ ابْتَدَرُوا السَّوَارِيَ فَيَرْكَعُونَ رَكْعَتَيْنِ حَتَّى إِنَّ الرَّجُلَ الْغَرِيبَ

د ماښام نو خلک به د سنتو په لور غزېدل او دوه رکعته به يې هلته کول تر دې چي يو پردی سړی به راغلی

لَيَدْخُلُ الْمَسْجِدَ فَيَحْسِبُ أَنَّ الصَّلَاةَ قَدْ صُلِّيَتْ مِنْ كَثْرَةِ مَنْ يُصَلِّيهِمَا.

رواه مسلم

نو دا خیال به يې کوی چي شاید لمونځ د ماښام سوی دی ځکه چي د دې دوو رکعتو کونکي به ډیر خلک وه. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱\ ۵۷۳، رقم: ۳۰۳- ۸۳۷.

تشريح: علامه طيبي شافعي رحمة الله عليه فرمايي د لمر لوېدو څخه وروسته او د ماښام د لمانځه مخکي دوه رکعته لمونځ په اثبات کي دا حديث ظاهري دليل دی، په دې اړه د ملاعلي قاري حنفي رحمة الله عليه د قول مفهوم دا دی چي دا حديث په دې وجه د دې دوو رکعتو د اثبات دليل نسي کیدای چي د دې طريقې نادر کېدو کي هيڅ شک نسته ځکه چي رسول الله ﷺ به د ماښام د لمانځه په ادا کولو کي تلوار کوی نو کله چي د دې دوو رکعته په کولو سره نه يوازي دا چي د ماښام په ادا کولو کي زنډ لازميږي بلکه د ځينو علماؤ د قول سره سم خو د لمانځه د خپل وخت څخه خروج لازميږي ، نو د دې حديث تاويل يا خو به دا کيږي چي حضرت انس ﷺ دا د هميشه طريقه نه نقل کوي بلکه کیدای سي چي يوه ورځ ځينو خلکو دا طريقه اختيار کړې وي چي د ماښام د آذان په اورېدو سره مسجد ته راغلي وي او هلته د ماښام د لمانځه څخه مخکي دوه رکعته نفل يې کړي وي يا د دې تر ټولو غوره تاويل څرنګه چي د ځينو علماؤ خيال دا دی چي مخکي به دا لمونځ کيدی مګر وروسته پرېښودل سو او س د دې لمونځ کول مکروه دي.

﴿۱۱۱۳﴾: وَعَنْ مَرْثَدِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ أَتَيْتُ عُقْبَةَ الْجُهَنِيَّ فَقُلْتُ أَلاَ أُعَجِّبُكَ

د حضرت مرثد بن عبد الله رضي الله عنه څخه روايت دی چي زه عقبه جهني رضي الله عنه ته ورغلم او ورته وه مي ويل ايا ته په تعجب نه کوري

مِنْ أَبِي تَمِيمٍ يَرْكَعُ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ صَلاَةِ الْمَغْرِبِ فَقَالَ عُقْبَةُ إِنَّا كُنَّا نَفْعَلُهُ

د ابوتميم دې کار ته چي هغه د ماښام څخه مخکي دوه رکعته کوي؟ عقبه رضي الله عنه وويل: موږ به هم دا سي کول

عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْتُ فَمَا يَمْنَعُكَ الآنَ ؟ قَالَ الشُّغْلُ . رواه البخاري .

د رسول الله ﷺ په زمانه کي عقبه وويل بيا تاسو يې ولي نه کوئ، هغه وويل د دنيا د بوختيا له کبله. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۵۹، رقم: ۱۱۸۴.

تشريح: د دې حديث څخه دا خبره ثابته سوه چي دا لمونځ سنت نه دی بلکه مباح دی، ځکه که چيري مسنون وای نو عقبه رضي الله عنه چي د صحابيت په ستره مرتبه فائز وو د دنيا بوختيا به د سنت په ادا کولو يعني د دغه لمونځ په کولو به يې منعه نه کول.

نفل په کور کي کول

﴿۱۱۱۴﴾: وَعَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ قَالَ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَى مَسْجِدَ

د حضرت کعب بن عجرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي (يوځل) رسول الله ﷺ راغلی مسجد ته

بَنِي عَبْدِ الْأَشْهَلِ فَصَلَّى فِيهِ الْمَغْرِبَ فَلَمَّا قَضَوْا صَلاَتَهُمْ رَآهُمْ يُسَبِّحُونَ

د بنو عبد الاشهل او هلته يې د ماښام لمونځ وکړ خلکو چي لمونځ وکړ نو رسول الله ﷺ وليدل چي هغوی نفل کوي،

بَعْدَهَا فَقَالَ هٰذِهِ صَلاَةُ الْبُيُوتِ . رواه أبو داود وفي رواية الترمذي والنسائي قام ناس يتنفلون فقال النبي صلى الله عليه وسلم عليكم بهذه الصلاة في البيوت .

وروسته تر لمانځه، رسول الله ﷺ وفرمايل دا لمونځ (يعني نفل) په کورو کي کوئ (ابوداؤد) د ترمذي او نسائي په يوه روايت کي دا الفاظ چي خلک ودريدل او نفل يې کول نو نبي کريم

ﷺ وفرمايل: پر تاسو لازمه ده چي دا لمونځ په كور كي وكړئ.

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\۶۹، رقم: ۱۳۰۰ والترمذي ۲\۵۰۰، رقم: ۶۰۴. والنسائي: ۳\۱۹۹–۲۰۰، رقم: ۱۵۹۹.

تشريح: د حديث خلاصه داده چي نفل لمونځ كه سنت مؤكده وي يا غير مؤكده په كور كي كول افضل دي ځكه چي نه يوازي دا چي په كور كي نفل لمونځ كونكى د ريا او ځان ښوونې څخه ليري او اخلاص او صدق ته نژدې وي بلكه په دې سره په كورو كي د رحمت او بركت نزول كيږي.

او كوم چي د مسئلې تعلق دى نو د ټولو علماؤ په نزد په اتفاق سره په مسجد كي نفل كول مكروه نه دي په مسجد او كور كي د كولو يوازي د افضيلت او غير افضيلت فرق دى، مګر په دې خبره پوه سئ چي په كورو كي د نفل لمونځ كولو دا حكم هغه خلكو لپاره دى چي د فرض لمونځ د ادا كولو وروسته كور ته ځي لكه په مسجد كي د ننه اعتكاف كي ناست خلك نو د هغوى دي په مسجد كي نفل لمونځ هم كوي.

په هر حال د فرض لمونځ څخه پرته نفل لمونځ په كور كي افضل دي، د رسول الله ﷺ دا معمول وو چي فرض لمونځ به يې په مسجد كي وكړ نو بيا به يې خپل حجرې مباركي ته تشريف وړى او هلته به يې نفل كول، مګر د يو خاص عذر او سبب خبره خو بيله ده نو په هغه وخت كي نفل هم په مسجد كي كول بيا هم د ماښام سنت به يې په خاصه توګه سره په كور كي كول او اكثر به يې په كور كي كول دا وجه ده چي د ماښام د سنتو په باره كي ځيني علماء وايي كه يو سړى د ماښام سنت لمونځ په مسجد كي وكړي نو سنت نه ادا كيږي بلكه ځيني علماء خو تر دې پورې وايي چي د ماښام سنت په مسجد كي كونكى ګناه كار كيږي مګر د جمهورو علماؤ رايه داده چي ګناه كار كيږي خو نه ځكه چي هغوى ته په كور كي د ادا كولو حكم امر وجوبي نه دى بلكه امر استحبابي دى، د هدايې په تشريح كي د جامع صغير څخه منقول دي كه يو سړى د ماښام لمونځ په مسجد كي وكړي او د هغه سره دا بيره وي چي كور ته ولاړ سم نو د يو بوختيا په وجه به سنت هلته ونه كړلاى سم نو هغه ته پكار ده چي د ماښام سنت هم د مسجد په غولي كي وكړي او ه كور ته په رسيدو سره په يو كار كي د بوختيا بيره نه وي نو غوره دادى چي په كور كي سنت وكړل سي.

د ماښام په سنتو كي اوږد قرائت

﴿۱۱۱۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُطِيْلُ الْقِرَاءَةَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ حَتّٰى يَتَفَرَّقَ أَهْلُ الْمَسْجِدِ. رواه أبو داود

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د ماښام وروسته په دوو ركعتو (نفل) كي اوږد قرائت وايه تر دې چي د مسجد څخه به خلک ولاړل . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\۷۰، رقم: ۱۳۰۱.

تشريح : د دې حديث څخه معلومه سوه چي رسول الله ﷺ به د ماښام سنت په مسجد كي كول نو په دې اړه څو احتماله دي اول خو دا چي رسول الله ﷺ ته به يو داسي واقعه پېښه سوې وه چي د هغه په وجه حجرې مباركي ته به يې تشريف نه سو وړلای ځكه نو سنت به يې په مسجد كي كړي وي .

دوهم دا چي رسول الله ﷺ به د ماښام سنت په مسجد كي د بيان جواز لپاره كړي وي چي خلكو ته معلومه سي چي په مسجد كي سنت كول هم جائز دي او دا احتمال قوي دی .

دريم دا چي رسول الله ﷺ به هغه وخت په اعتكاف كي وو ځكه د سنت كولو لپاره حجرې مباركي ته نه ولاړی .

څلورم احتمال دا دی چي رسول الله ﷺ سنت په مسجد كي كړي نه وي بلكه په خپل حجره مباركه كي يې كړي وي چي د مسجد سره بالكل پيوسته وه او د هغه دروازه هم مسجد ته وه ، ابن عباس ﷺ به تر مخه رسول الله ﷺ په لمونځ كولو ليدلی وي او هغه به يې دلته بيان كړی وي ، او كوم چي د حديث د دې جز تعلق دی نو د دې څخه معلوميږي چي رسول الله ﷺ د ماښام په سنتو كي اوږد قرائت وايه ، نو د دې په باره كي هم ظاهري احتمال دا دی چي رسول الله ﷺ يو ورځ دومره اوږد قرائت ويلی وي كنه د ماښام په سنتو كي به رسول الله ﷺ اكثر كوچني سورتونه ويل او دا ثابته ده چي رسول الله ﷺ به د ماښام په سنتو كي قل يا ايها الكافرون او قل هو الله احد ويل .

د ماښام وروسته د نفل كولو فضيلت

﴿۱۱۱۶﴾: وَعَنْ مَكْحُوْلٍ يَبْلُغُ بِهِ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ

حضرت مكحول (تابعي) دا روايت رسول الله ﷺ ته رسوي او وايي چي نبي كريم ﷺ فرمايلي دي څوک چي

صَلَّى بَعْدَ الْمَغْرِبِ قَبْلَ أَنْ يَّتَكَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ وفي رواية أَرْبَعَ رَكْعَاتٍ رُفِعَتْ صَلَاتُهُ فِيْ عِلِّيِّيْنَ . مرسلا .

د مابنام وروسته دوه رکعته وکړي، په یوه روایت کي څلور رکعته دي او د مابنام لمونځ او ددې رکعتو په منځ کي دنیاوي خبره ونه کړي نو د هغه دا لمونځ علیین ته رسیږي . رزین.

تخریج: رواه رزین.

تشریح: د دوو رکعتو څخه سنت هم مراد کیدای سي او ددې څخه پرته هم داسي څلور رکعتو کي دوه رکعته سنت او دوه رکعته د هغه څخه پرته یا څلور سره د سنت څخه پرته مراد کیدای سي.

په هر حال دا دواړه رکعته یا څلور رکعته چي د سنت څخه پرته دي صلوة اوابین ورته ویل کیږي ددې لمانځه فضیلت ددې څخه مخکي هم نقل سوی دی دلته هم د هغه فضیلت او عظمت بیانیږي چي ددې نفل لمونځ کونکي سړي دا لمونځ یا ددغه لمانځه سره د هغه فرض هم مقام علیین ته رسولای سي یعني د هغه لمنځونه د قبولیت درجې ته رسوي او هغه سړی بې پناه اجر او ثواب سره نازول کیږي .

علیین څه شي دی ؟

په اوو آسمان کي د یو ځای نوم علیین دی هلته د مؤمنانو روحونه رسول کیږي او هلته د هغوی اعمال لیکل کیږي .

«۱۱۱۷»: وَعَنْ حُذَيْفَةَ نَحْوَهُ وَزَادَ فَكَانَ يَقُولُ عَجِّلُوا الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ فَإِنَّهُمَا تُرْفَعَانِ مَعَ الْمَكْتُوبَةِ. رَوَاهُمَا رَزِينٌ وَرَوَى الْبَيْهَقِيُّ الزِّيَادَةَ عَنْهُ نَحْوَهَا فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

حذیفه هم دا ډول روایت کوي او د هغه په روایت کي دا الفاظ زیات دي چي رسول الله ﷺ به فرمایل: د مابنام وروسته دوه رکعته ژر کوئ ځکه چي هغه د فرض لمانځه سره پورته کیږي . رزین.

تخریج: البیهقي في شعب الایمان ۳\۱۲۱– ۱۲۲، رقم: ۳۰۶۸.

تشریح: مطلب دادی چي دا دواړه رکعتونه د فرض لمانځه سره مقام علیین ته رسول کیږي ځکه دغه د فرض لمانځه څخه وروسته په زیات زنډ سره مه کوئ چي هغه ملائکي چي اعمال علیین ته رسوي په انتظار وي او ظاهره ده چي هغه اوراد او اذکار چي د فرضو څخه وروسته ژر کول ثابت دي په دغه دوو رکعتو پسي ویل یا داسي ویل پکار دي چي هغه اوراد او اذکار د دغه دوو رکعت څخه وروسته ویل بعدیت (یعني د حدیث د دغه حکم چي فرض لمونځ څخه

وروسته اوراد او اذکار ویل کیږي) منافي نه دي ، دا خبره په نور وضاحت سره دا ښودل کیږي چي په مخکني باب کي الذکر بعد الصلوة کي هغه حدیثونه تیر سوي دي چي د هغو څخه ثابتیږي چي د فرض لمانځه وروسته سمدستي وروسته اوراد او اذکار وویل سي نو اوس که دا اوراد او اذکار د فرض لمانځه وروسته سمدستي د ویلو پر ځای ددې حدیث د فضیلت سره سم نظر دوه رکعته سنتو څخه وروسته وویل سي نو ددې حدیثو څخه ثابت سوی تعجیل او بعدیت خلاف به نه وي مګر د دې خبري څخه پرته دلته یو بل اشکار وارد کیږي هغه دا چي دا دواړه رکعته په کور کي د کولو فضیلت هم د حدیثو څخه ثابت دی هو که یو سړی دا دواړه رکعته په کور کي کوي او د هغه کور هم د مسجد څخه لیري وي نو ظاهره ده چي ددې حدیث سرم سم ددې دواړو رکعتو کولو کي تلوار نسي کیدای نو په دې صورت کي څه کول پکار دي ، ایا ددې حدیثو سره سم دا دواړه رکعتونه په کور کي وکړل سي چي په کور کي د کولو فضیلت تر لاسه سي یا ددې حدیث سره سم په مسجد کي وکړل سي چي ددې د ژر کولو فضیلت تر لاسه سي، په دې اړه علماء لیکي چي د نوافل لمونځ په کور کي د کولو فضیلت ډیر زیات دی بیا دا چي ددې تاکید هم زیات سوی دی ځکه نو مناسب داده چي سنت په کور کي وکړل سي . والله اعلم .

د فرض او نفل په مینځ کي فرق کول پکار دی

﴿۱۱۱۸﴾: وَعَنْ عُمَرُ بْنُ عَطَاءٍ قَالَ أَنَّ نَافِعَ بْنَ جُبَيْرٍ أَرْسَلَهُ إِلَى السَّائِبِ

د حضرت عمرو بن عطاء څخه روایت دی چي نافع بن جبیر هغه سائب رضی الله عنه ته ولیږی

يَسْأَلُهُ عَنْ شَيْءٍ رَآهُ مِنْهُ مُعَاوِيَةُ فِي الصَّلاَةِ فَقَالَ نَعَمْ صَلَّيْتُ مَعَهُ الْجُمُعَةَ

چي دا ځیني معلومه کړي چي معاویه د هغه د لمانځه په اړه څه لیدلي دي؟ حضرت سائب په جواب کي وویل ما د معاویه سره د جمعې لمونځ وکړ

فِي الْمَقْصُورَةِ فَلَمَّا سَلَّمَ الإِمَامُ قُمْتُ فِي مَقَامِي فَصَلَّيْتُ فَلَمَّا دَخَلَ أَرْسَلَ

په مقصوره کي کله چي امام سلام وګرځوی نو زه پر خپل ځای ودریدم او لمونځ مي وکړ (یعني د جمعې سنت) ددې وروسته چي معاویه کورته ورسیدی

إِلَيَّ فَقَالَ لاَ تَعُدْ لِمَا فَعَلْتَ إِذَا صَلَّيْتَ الْجُمُعَةَ فَلاَ تَصِلْهَا بِصَلاَةٍ حَتَّى تَكَلَّمَ

نو زه یې راوغوښتلم او وه یې ویل کوم کار چي تا نن وکړ هغه بیا مه کوه (یعني د فرضو وروسته

سمد ستي سنت كول) هر كله چي ته د جمعې لمونځ وكړې نو تر هغه وخته پوري بل لمونځ مه كوه تر څو پوري چي د يو چا سره خبري ونه كړې

أَوْ تَخْرُجَ فَإِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَنَا بِذٰلِكَ أَنْ لاَ تُوصَلَ

يا د هغه ځاى څخه بل ځاى ته ولاړ نه سې ځكه چي رسول الله ﷺ موږ ته دا حكم كړى دى چي موږ يو ځاى نه كړو

صَلاَةٌ بِصَلاَةٍ حَتّٰى نَتَكَلَّمَ أَوْ نَخْرُجَ . رواه مسلم

يو لمونځ د بل سره تر څو پوري چي په منځ كي خبره ونه كړو . يا د مسجد څخه ونه وزو . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۶۰۱\۲ ، رقم: ۷۳- ۸۸۳.

تشريح : په تيره زمانه كي چي كله به پاچاهان او اميران د لمانځه كولو لپاره راتلل نو د هغوى د امتيازي حيثيت سره سم د هغوى لپاره به په مسجد كي دننه يو خاص ځاى جوړيدى چي هغه ته به مقصوره ويل كيدل، پاچا يا خليفه به په د مسجد په هغه ځاى كي لمونځ كوى .

د حديث الفاظ (اذا صليت جمعة) كي د جمعې قيد اتفاقي او د مثال په توګه دى ځه چي د جمعې څخه پرته هم د ټولو لمنځو دا حكم دى چي د فرضو سره دي نوافل لمونځ يو ځاى كولو سره نه كيږي ددې تائيد د امير معاويه ﷺ روايت سوى حديث هم كوي چي په هغه كي د يو خاص لمانځه په اړه نه دي فرمايل سوي بلكه د هر لمانځه په اړه دا حكم وركړل سوى دى چي كله فرض لمونځ وكړل سي نو د نوافل كولو لپاره داسي طريقه اختيار كړل سي چي په سره د فرضو او نفلو په مينځكي بدلون پيدا اسي .

د مثال په توګه په كوم ځاى كي چي فرض لمونځ سوى وي هغه ځاى دي نفل نه كيږي بلكه د هغه ځاى څخه په ايسته كېدو سره بل ځاى دي وكړل سي چي د دواړو لمنځو په مينځ كي فرق پيدا سي او د هغه سره د فرض او نفل په مينځ كي ورته والى پيدا نسي .

د حديث الفاظ (او نخرج) كي دې ته اشاره كيږي، د (او نخرج) څخه د مسجد څخه حقيقي وتل هم مراد كيداى سي يعني د فرض كولو سره به د مسجد څخه په وتلو سره كور وغيره ته ولاړو او هلته به مو نفل كول ، او حكما وتل هم مراد كيداى سي يعني كوم ځاى چي فرض لمونځ كړى وي د هغه ځاى څخه په آخوا كېدو سره نفل دي په دوهم ځاى كي وكړل سي .

د فرض او نفل په مينځ كي د امتياز پيدا كولو لپاره يو بل صورت دى او هغه دادى چي كله

فرض وكړل سي نو د هغه څخه وروسته د يو چا سره خبري وكړل سي چي په هغه سره د دواړو لمنځو په مينځ كي فرق پيداسي نو د (حتى تتكلم) د خبري څخه دومره ياد ساتل پكار دي، دا خبره بايد په فهم كي وي چي د فرضو او نفلو په مينځ كي د كوم فرق لپاره چي ويل كيږي هغه په دنياوي خبرو كولو سره تر لاسه كيږي د الله جَلَّ جَلَالُهُ په ذكر وغيره سره هغه نه حاصليږي.

﴿۱۱۱۹﴾: وَعَنْ عَطَاءٍ قَالَ كَانَ ابْنُ عُمَرَ إِذَا صَلَّى الْجُمُعَةَ بِمَكَّةَ تَقَدَّمَ فَصَلَّى

د حضرت عطاء رَحِمَهُ اللهُ څخه روايت دى چي كله حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په مكه كي د جمعې لمونځ وركړ نو د خپل ځاى څخه به مخكي سو او لمونځ به يې وكړ

رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ يَتَقَدَّمُ فَيُصَلِّيْ أَرْبَعًا وَإِذَا كَانَ بِالْمَدِيْنَةِ صَلَّى الْجُمُعَةِ ثُمَّ رَجَعَ

دوه ركعته ددې وروسته به نور هم مخكي سو او څلور ركعته لمونځ به يې وكړ او كله چي په مدينه كي وو نو د جمعې د لمانځه وروسته به كور ته تلى

إِلَى بَيْتِهِ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ وَلَمْ يُصَلِّ فِي الْمَسْجِدِ فَقِيْلَ لَهُ . فَقَالَ كَانَ رَسُوْلُ

او په كور كي به يې دوه ركعته كول او په مسجد كي به يې نه كول د هغه څخه ددې په اړه پوښتنه وسول نو هغه وويل چي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُهُ . رواه أبو داود وفي رواية الترمذي قال (رأيت ابن عمر صلى بعد الجمعة ركعتين ثم صلى بعد ذلك أربعا)

داسي كول. ابوداؤد، د ترمذي په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي عطاء وويل ما ابن عمر وليدى چي د جمعې وروسته به يې دوه ركعته كول او د هغه وروسته به يې څلور ركعته كول.

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\۶۷۳، رقم: ۱۱۳۰، والترمذي ۲\۳۹۹و ۴۰۱، رقم: ۵۲۲.

تشريح: د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د فرض كولو سره د سنت كولو لپاره مخكي كېدل په منزله د مسجد څخه د وتلو وه څرنګه چي د امير معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په ارشاد كي مذكور دي، علماؤ ليكلي دي چي د مكې او مدينې د معمول په مينځ كي فرق غالبا ځكه وو چي په مدينه كي د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كور مسجد ته نژدې وو او په مكه كي مسافر وو او د اوسيدو ځاى به د حرم څخه ليري وو، ځكه په مدينه كي خو يې دا معمول وو چي د فرض كولو سره كور ته به يې تشريف راوړ او هلته به يې

سنت کول مگر په مکه کي د کور ليري کېدو په وجه سنت به يې هم په مسجد کي کول مگر په ځای بدلولو سره ، د دواړو لمنځو په مينځ کي به يې فرق کوی او همداسي وړاندي کېدل يې د کور قائم مقام کړل، د مکې او مدينې د معمول په منځ کي دوهم فرق دادی چي په مکه کي خو به هغه د جمعې څخه وروسته شپږ رکعته کول او په مدينه کي به يې دوه رکعته کول نو په مکه کي ددې زياتوب وجه داوه چي په حرم کي د لمانځه کولو ثواب ډېر زيات وي ځکه نو هلته يې زيات لمونځ کوی .

د امام اعظم ابو حنيفة رحمه الله په نزد د جمعې څخه وروسته سنت څلور رکعته دي ځکه ملا علي قاري رحمه الله د حديث الفاظ چي حضرت ابن عمر رضي الله عنه به د جمعې څخه وروسته دوه رکعته کول د هغه وروسته به مخکي کېدو سره څلور رکعته کول ، ددې مطلب يې دا ليکلی دی چي ابن عمر رضي الله عنه به اول د جمعې څخه وروسته دوه رکعته کول د هغه وروسته به يې څلور رکعته کول پيل کړل، يعني په هغه دوو رکعتو کي چي د هغوی په نزد د حديث څخه ثابت وه او هغه به يې مخکي کول د دوو رکعتو نورو اضافه يې وکړل او همداسي وروسته څلور رکعته به يې کول ، د صاحبينو يعني امام ابويوسف او امام محمد په نزد د جمعې څخه وروسته شپږ رکعته دي يعني هغوی فرمايي چي د جمعې د فرض کولو مخکي څلور رکعته سنت دي او بيا د هغه څخه وروسته دوه رکعته نور دي.

په فقه حنفيه کي تفصيلي شمير

دا بحث پای ته رسيږي ځکه نو مناسب ده چي دلته د ټولو سنتو لمنځو تفصيلي شمير ذکر کړل سي چي هغه په ذهن کي محفوظ سي ، د سهار په وخت کي د فرضو څخه مخکي دوه رکعته سنت مؤکده دي ددې تاکيد د ټولو مؤکده سنتو څخه زيات دی تر دې چي په ځينو روايتو کي د امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه څخه ددې وجوب نقل دی او ځيني علماء ليکي چي ددې په انکار سره د کفر ببره ده .

د نبي کريم صلى الله عليه وسلم ارشاد دی چي د سهار سنت دي نه پرېښودل کيږي که څه هم آسونه تاسو تر پښو لاندي کوي يعني د سر بايللو بيره وي بيا يې هم مه پرېږدئ، ددې څخه مقصد يوازي تاکيد او ترغيب دی کنه نو د سر د بيرې په وخت کي خو فرض پرېښودل هم جائز دي .

د ماپښين په وخت کي د فرضو څخه مخکي څلور رکعته په يوه سلام سره او د فرضو څخه وروسته دوه رکعته سنت مؤکده دي . د جمعې په وخت کي د فرضو څخه مخکي څلور رکعته

سنت دي او د فرضو وروسته په يوه سلام څلور رکعته سنت دي.

د مازديګر په وخت کي هيڅ سنت مؤکده نسته، مګر د فرضو څخه مخکي څلور رکعته په يوه سلام سره مستحب دي. په ماښام کي د فرضو څخه وروسته دوه رکعته سنت مؤکده دي.

په ماخستن کي د فرضو څخه وروسته دوه رکعته سنت مؤکده دي او د فرضو مخکي څلور رکعته په يوه سلام سره مستحب دي.

د وترو څخه وروسته هم دوه رکعته د نبي کريم ﷺ څخه نقل دي نو د وترو څخه وروسته هم دوه رکعته مستحب دي.

بَابُ صَلٰوةِ اللَّيْلِ (د شپې دلمانځه بيان)

د شپې لمونځ يعني د تهجد وغيره په اړه چي د رسول الله ﷺ څخه کوم روايت د هغه د طريقې وغيره په اړه منقول دي هغه په دغه باب کي ذکر کيږي، د شپې د لمانځه په اړه د رسول الله ﷺ څخه مختلف روايتونه منقول دي، په هغو کي د کوم روايت سره سم چي لمونځ وکړل سي نود اتباع نبوي فضيلت او د سنت د ادا کولو سعادت تر لاسه کيږي.

او که چيري د ټولو روايتو په نظر کي نيولو سره دا طريقه اختيار کړل سي چي کله د يو روايت سره سم وکړل سي او کله به د بل روايت سره سم نو دا طريقه نه يوازي دا چي ډيره مناسب او غوره ده بلکه د سنت عين مطابق به وي.

د شپې د رسول الله ﷺ د لمانځه د رکعتو په اړه مختلف روايتونه منقول دي، ديارلس، يوولس، نهه او اووه رکعتونه منقول دي، ځيني علماؤ پنځه رکعتونه هم روايت کړي دي مګر د ديارلسو څخه زيات ثابت نه دي، ځيني علماؤ دا شمير د سهار د سنتو سره ذکر کړی دی او ځينو د سهار د سنتو څخه پرته، او صحيح قول هم دا دی، همداسي د وترو د شمير په اړه مختلف روايتونه دي په ځينو روايتونو کي خو وتر يو رکعت سره منقول دی او په ځينو کي درې او په ځينو کي د وتر رکعت هم د تهجد د لمانځه په رکعتو کي شاملولو سره هغه شمير کړی دی او په ځينو روايتو کي د وتر رکعتو څخه بيل شمير کړل سوي دي همداسي په ځينو روايتو کي د وتر اطلاق پر يو رکعت باندي سوی دی او په ځينو کي درې، پنځه اووه پوري سوی دی بلکه په ځينو روايتونو کي خو د شپې ټول لمانځه ته وتر ويل سوي دي دا ټول روايات به تاسو په تفصيل سره په دې باب کي ووينئ

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د ماخستن او سهار په مینځ کي یوولس رکعته

﴿۱۱۲۰﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِيمَا

د حضرت عائشي رضي الله عنها څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به د لمونځ کوی

بَيْنَ أَنْ يَفْرُغَ مِنْ صَلَاةِ الْعِشَاءِ إِلَى الْفَجْرِ إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً يُسَلِّمُ مِنْ

د ماخستن د لمانځه وروسته تر سهار پوري په میانه وخت کي یوولس رکعته او سلام به یې ګرځوي

كُلِّ رَكْعَتَيْنِ وَيُوتِرُ بِوَاحِدَةٍ فَيَسْجُدُ السَّجْدَةَ مِنْ ذَالِكَ قَدْرَ مَا يَقْرَأُ

د هر دوو رکعتو وروسته او یو رکعت وتر به یې کول او د وترو په لمانځه کي به یې دومره اوږده سجده کول په څومره وخت کي چي ویل کیدای سي

أَحَدُكُمْ خَمْسِينَ آيَةً قَبْلَ أَنْ يَرْفَعَ رَأْسَهُ فَإِذَا سَكَتَ الْمُؤَذِّنُ مِنْ صَلَاةِ

پنځوس آیاتونه ، بیا چي به مؤذن د سهار د آذان څخه فارغ سو

الْفَجْرِ وَتَبَيَّنَ لَهُ الْفَجْرُ قَامَ فَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ ثُمَّ اضْطَجَعَ عَلَى

او د سهار رڼا به خپره سول نو رسول الله ﷺ به دریدی او دوه مختصر رکعتونه (د سهار سنت) به یې وکړل بیا به پریوتی

شِقِّهِ الْأَيْمَنِ حَتَّى يَأْتِيَهُ الْمُؤَذِّنُ لِلْإِقَامَةِ فَيَخْرُجُ. متفق عليه

پر خپل راسته بغل تر څو چي مؤذن به د رسول الله ﷺ څخه د اقامت کولو اجازه تر لاسه کولو لپاره راغلی او رسول الله ﷺ به لمانځه ته تشریف یووړ. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\۴۷۸، رقم: ۹۹۴، ومسلم ۱\۵۰۸، رقم: ۱۲۲-۷۳۶.

تشريح : د حدیث الفاظ (و یؤتر بواحدة) مطلب دا نه دی چي رسول الله ﷺ به د وتر لپاره یو رکعت بیل کوی بلکه دديې مطلب دا دی چي رسول الله ﷺ به یوولس رکعته داسي کول چي په آخري دوو رکعتو یعني نهم او لسم سره یو رکعت زیاتولو سره دري سره به یې وتر کول.

ابن حجر شافعي رحمۃ اللہ علیہ فرمايي ددې حديث څخه دوې خبرې ثابتيږي يو دا چې د وترو کم از کم يو رکعت دی يعني د وتر يو رکعت يوازې کيدای سي، دوهم دا چې د تهجد په لمانځه کې پر هر دوو رکعتو باندې سلام ګرځول پکار دي، د امام شافعي، امام مالک او امام احمد رحمۃ اللہ علیهم دا مذهب دی.

فسجد السجدة.... الخ، ددې څخه په څرګنده دا معلوميږي چې رسول اللہ ﷺ د هر رکعت سجده اوږده کول مګر ددې مفهوم دا هم اخيستل کيږي چې رسول اللہ ﷺ به يوازې د وترو په سجدو کې يوه سجده يا د وتر ټولې سجدې اوږدې کولې.

په ځينو ځايو کې څه خلک د وتر څخه وروسته کيفيت معروفه سره دوې سجدې کوي او په ځينو ضعيف فقهي رواياتو کې د هغه فضيلت هم مذکور دی نو پوهيدل پکار دي چې د حديثو څخه ددې دواړو سجدو هيڅ ثبوت نسته او نه د فقهي هغه روايات چې معتمد او مختار دي په هغو کې د هغه ذکر دی او په حرمين شريفين کې په ټول عرب کې هيڅ چيرې هم دا سجدې نه کيږي.

په دې اړه يو حديث منقول دی چې په هغه کې دغه سجدو ته اختراع درجه ورکړل سوې ده بيا دا چې په څلورو امامانو کې يو امام هم نه ددې د مسنون کېدو قائل دی او نه ددې د مستحب کېدو بلکه په عربو هيوادو کې اکثر حنفيه خو دا نه پيژني، او ځيني علماؤ دا مکروه ګرځولې دي. په هر حال که چيرې دا طريقه رواج ده نو ددې څخه پرهيز کول پکار دي.

رکعتين خفيفتين يعني د سهار سنت مختصر کولو مطلب دادی چې رسول اللہ ﷺ به په دواړو رکعتو کې قل يا ايها الکافرون او قل هو اللہ احد ويل او دا مستحب دي مګر لازم نه دي.

د سهار سنت کولو څخه وروسته د لږ وخت لپاره به رسول اللہ ﷺ ځکه پريوتی چې ټوله شپه د اللہ تعالی په عبادت او لمانځه کې د بوختيا په وجه به ستړی وو چې په لږ آرام کولو سره هغه ستړيا ختم سي او فرض په ښه توګه سره اداسي، نو مختار قول دادی چې کوم سړی د شپې په عبادت، ذکر وغيره کې مشغول وي نو د هغه لپاره د سهار د سنت کولو وروسته د لږ وخت لپاره د استراحت په نيت پريوتل مستحب دي.

د سهار د فرض او سنت لمنځو په منځ کې خبرې کول

﴿۱۱۲۱﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ فَإِنْ كُنْتُ مُسْتَيْقِظَةً حَدَّثَنِي وَإِلاَّ اضْطَجَعَ. رواہ مسلم

د حضرت عائشې ﷞ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به د سهار دوه رکعته سنت وکړل نو زما په لور به متوجه سو که زه به ویښه وم نو زما سره به یې خبرې کولې او که زه به بیده وم نو رسول الله ﷺ به هم څنګ ووهی. مسلم،

تخریج: صحیح مسلم ۱\۱۱ ۵۱۱، رقم: ۱۲۳- ۷۴۳.

تشریح: ابن مالک رحمة الله علیه فرمایي په دې حدیث کې د دې خبرې دلیل دی چې د سهار د فرض لمانځه او سنتو په مینځ کې فرق کول جائز دي او دا حدیث د دې خبرې دلیل هم دی چې دا وخت (یعني د سهار تر سنتو وروسته او د فرضو مخکې) د خپلې کورنۍ سره په خبرو کې بوخت کېدل مستحب دي، ګویا د ابن مالک رحمة الله علیه د ارشاد مطلب دادی چې کوم خلک دا وایي چې د فرضو او سنتو په مینځ کې خبرې کول لمونځ یا د هغه ثواب ختموي، دا قول غلط دی مګر بیا هم په دې کې شبه نسته چې د رسول الله ﷺ مقصد به دنیا نه وه بلکه د رسول الله ﷺ خبرې به دیني او اخروي وې ځکه دا خو به منل وي چې د فرض او سنت لنځو په مینځ کې دنیاوي خبرو کې بوخت کېدل غوره نه دي ځکه چې د سنت لمنځو د مشروعیت حکمت دادی چې فرض لمونځ کونکی سړی د مخکې په یو څه لمونځ کولو سره د کمال حالت لپاره تیار سي او په دې سره غفلت او سستي لیرې سي چې په فرض لمانځه کې پوره خشوع او خضوع راسي او د هغه زړه او دماغ د دنیا څخه په پوره توګه یوې خوا کېدو سره توجه الی الله کې پوره مستغرق سي، پر خلاف د دې په سنت لمونځ کولو سره د فرض لمونځ پیل کولو مخکې دنیا خبرو کې بوخت کېدل د دې حکمت خلاف دي ځکه چې په داسي کولو سره زړه او دماغ د شوق او حصورۍ څخه په بیل کېدو دنیا او د دنیا د خبرو په بوختیا کې راسي.

شیخ عبدالحق محدث دهلوي ﷫ لیکلي دي چې د صحابه وغیره څخه ځیني علماؤ د سهار کېدو څخه وروسته د سهار لمونځ ادا کولو څخه مخکې په دنیاوي خبرو کې بوخت کېدو ته مکروه ویلي دي هو د الله تعالی ذکر یا داسي دنیاوي خبرې چې د هغه په حقیقت کې هغه وخت ضرورت وي د دې څخه مستثنی دی، داحمد او اسحاق دا قول دی.

د دې حدیث په باره کې ویل کیږي چې رسول الله ﷺ به د سهار سنت کولو سره د بي بي عائشې رضي الله عنها سره خبرې کولې یا به هغه دیني او اخروي وې یا د یو حاجت او ضرورت په وجه به رسول الله ﷺ د هغې سره په خبرو کې بوخت کیدی، په دې اړه د بي بي عائشې رضي الله عنها د دوهم روایت الفاظ (ان کانت له الي حاجة کلمني) یعني کله چې به د رسول الله ﷺ یو ضرورت وو نو زما سره به یې په خبرو کولو کې هم هغه خوا ته اشاره کول.

د سهار د سنتو وروسته آرام

﴿۱۱۲۲﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ اضْطَجَعَ عَلٰى شِقِّهِ الْأَيْمَنِ. متفق عليه

د حضرت عائشې ﷞ څخه روايت دی چي کله به رسول الله ﷺ د سهار دوه رکعته (سنت) وکړل نو پر راسته بغل به پريوتی. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\۱۰۹، رقم: ۶۲۶، ومسلم ۱\۵۰۸، رقم: ۱۲۲- ۷۳۶.

﴿۱۱۲۳﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ مِنَ اللَّيْلِ ثَلَاثَ عَشَرَةَ رَكْعَةً مِّنْهَا الْوِتْرُ وَرَكْعَتَا الْفَجْرِ. رواه مسلم.

د حضرت عائشې ﷞ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د شپې ديارلس رکعته کول چي په هغو کي به وتر هم وه او د سهار دوه رکعته سنت هم. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱\۵۱۰، رقم: ۱۲۸- ۷۳۸.

تشريح: مطلب دادی چي رسول الله ﷺ به د شپې ديارلس رکعته کول او په هغو کي به د وترو دري رکعته او د سهار دوه رکعته سنت هم وه، که څه هم د حديث په الفاظو کي د وتر سره د درو رکعتو يادونه نسته مګر د ټولو علماؤ په نزد د وتر دري رکعته کول افضل دي ځکه نو د درو رکعتو قيد لګولو کي څه پرواه نسته، بيا دا چي په نورو روايتو کي د درو رکعتو صراحت هم سته، ترمذي رحمة الله عليه په شمائل کي يو روايت نقل کړی دی چي د هغه الفاظ دادي: (ثم يصلي ثلثا) يعني بيا به رسول الله ﷺ دري رکعته کول، همداسي د مسلم په روايت کي (ثم اوتر بثلاث) يعني بيا به رسول الله ﷺ دري رکعته کول، الفاظ منقول دي.

په دې حديث کي د رکعتو شمير ديارلس داسي نقل سوی دی چي د سهار دوه رکعته سنت هم په دې کي شميرل سوي دي کنه رسول الله ﷺ به د شپې د وترو سره ټول يوولس رکعته کول څرنګه چي په نورو روايتونو کي مذکور دي، د تهجد لمونځ کولو او د سهار د سنتو کولو درمياني وقفه به زياته نه وه بلکه تقريبا دواړه لمنځونه به يې پرله پسې کول ځکه دا دواړه رکعتونه هم په هغه کي شميرل سوي دي.

﴿۱۱۲۴﴾: وَعَنْ مَسْرُوْقٍ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ عَنْ صَلَاةِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت مسروق رحمه الله څخه روايت دی چي ما د بي بي عائشي رضي الله عنها څخه د رسول الله ﷺ د شپې د لمانځه په اړه پوښتنه وکړه ،

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِاللَّيْلِ فَقَالَتْ سَبْعٌ وَّتِسْعٌ وَإِحْدٰى عَشَرَ رَكْعَةً سِوٰى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ . رواه البخاري

هغې وويل کله اوه رکعته کله نهه رکعته او کله يوولس رکعته د سهار د دوو سنتو ماسيوا . بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\۲۰ ،رقم: ۱۱۳۹.

تشريح : څرگنده ده چي د سهار د سنتو څخه پرته يوولس رکعته به يې کول ، دلته دې ته اشاره ده چي په کومو روايتو کي ديارلس رکعته منقول دي په هغو کي د سهار دوه رکعته هم شامل دي ، ملاعلي قاري رحمة الله عليه فرمايي په يوه روايت کي چي دا منقول دي چي رسول الله ﷺ د شپې پنځلس رکعته هم کړي دي نو ددې محمول دادی چي په پنځلس رکعتو کي د سهار دوه رکعتونه سنت هم شميرل سوي دي يعني ديارلس رکعته د تهجد او دوه رکعته د سهار سنت مگر د دې احتمال څخه هم صرف نظر نسي کيدای چي دوولس رکعته رسول الله ﷺ د تهجد کړي دي او درې رکعته وتر ، ددې دليل يو روايت دی چي د هغه الفاظ دادي چي کله به پر رسول الله ﷺ خوب غلبه وکړل او د تهجد کولو څخه پرته به بيده سو نو بيا د ورځي به يې دوولس رکعته کول .

د تهجد د لومړنيو دوو رکعتو کيفيت

﴿۱۱۲۵﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ لِيُصَلِّيَ افْتَتَحَ صَلَاتَهُ بِرَكْعَتَيْنِ خَفِيْفَتَيْنِ . رواه مسلم .

د حضرت عائشي رضي الله عنها څخه روايت دی چي کله به رسول الله ﷺ د شپې د لمانځه لپاره راپورته کېدی نو اول به يې دوه مختصر رکعتونه کول . مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱\ ۵۳۲، رقم: ۱۹۷- ۷۶۷.

تشريح : په کتاب ازهار کي ليکلي دي چي دوه مختصر رکعتونه د اوداسه رکعتونه دي چي

هغه مختصر کول مستحب دي مګر صحيح دادی چي هغه دواړه رکعتونه به د تهجد وه چي د تحية الوضوء قائم مقام وه او رسول الله ﷺ به هغه وخت د اوداسه لپاره بيل لمونځ نه کوی .

﴿۱۱۲۶﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ أَحَدُكُمْ مِنَ اللَّيْلِ فَلْيَفْتَتِحِ الصَّلَاةَ بِرَكْعَتَيْنِ خَفِيْفَتَيْنِ. رواه مسلم.

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي تاسو د شپې د لمانځه لپاره راپورته کيږي نو اول دي دوه مختصر رکعتونه کوي . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱\ ۵۳۲، رقم: ۱۹۸- ۷۶۸.

﴿۱۱۲۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ بِتُّ عِنْدَ خَالَتِي مَيْمُوْنَةَ لَيْلَةً وَالنَّبِيُّ صَلَّى

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چي يوه شپه زه د خپلي خاله ميمونې کره پاته سوم په هغه شپه رسول الله ﷺ

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَهَا فَتَحَدَّثَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَ أَهْلِهِ

د هغې سره وو، رسول الله ﷺ د خپلي بي بي (ميمونې) سره خبري وکړې

سَاعَةً ثُمَّ رَقَدَ فَلَمَّا كَانَ ثُلُثُ اللَّيْلِ الْآخِرُ أَوْ بَعْضُهُ قَعَدَ فَنَظَرَ إِلَى السَّمَاءِ

د لږ وخت لپاره او بيا بيده سو ، کله چي د شپې آخري دريمه برخه پاته سوه يا د دې څخه څه کمه نو رسول الله ﷺ راپورته سو د آسمان په لوري يې کتل

فَقَرَأَ إِنَّ فِيْ خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ لِأُوْلِي

او دا آيت يې تلاوت کوی (ان في خلق السموات....)، (د آسمانو او مځکو په پيدا کولو او د شپې او ورځي په اختلاف کي د عقلمندو لپاره نښي دي)

الْأَلْبَابِ حَتَّى خَتَمَ السُّوْرَةَ ثُمَّ قَامَ إِلَى الْقِرْبَةِ فَأَطْلَقَ شِنَاقَهَا ثُمَّ صَبَّ فِيْ

دا سورت يې تر پايه تلاوت کړ ، بيا د ژي (د اوبو لوښي) په لور ولاړی د هغه خوله يې خلاصه

کړل او پیاله یې د اوبو څخه ډکه کړه

الْجَفْنَةِ ثُمَّ تَوَضَّأَ وُضُوْءًا حَسَنًا بَيْنَ الْوُضُوْئَيْنِ لَمْ يُكْثِرْ وَقَدْ أَبْلَغَ فَقَامَ

بیا یې په ښه ډول اودس وکړ اوبه یې ډیري ونه بیولې او پوره اودس یې وکړ بیا ودریدی

فَصَلَّى فَقُمْتُ وَتَوَضَّأْتُ فَقُمْتُ عَنْ يَّسَارِهِ فَأَخَذَ بِأُذُنِيْ فَأَدَارَنِيْ عَنْ يَّمِيْنِهِ

او لمونځ یې وکړ (ددې په لیدو سره ابن عباس رضي الله عنه وایي) زه هم راپورته سوم اودس مي وکړ او د رسول الله ﷺ چپه خوا ته ودریدم، رسول الله ﷺ زما غوږ ونیوی او د چپه خوا څخه یې راسته خوا ته کړم،

فَتَتَامَّتْ صَلَاتُهُ ثَلَاثَ عَشَرَةَ رَكْعَةً ثُمَّ اضْطَجَعَ فَنَامَ حَتَّى نَفَخَ وَكَانَ إِذَا

رسول الله ﷺ دیارلس رکعته پوره کړل بیا رسول الله ﷺ بیده سو تر دې چي د رسول الله ﷺ خراری (دخوب آواز) واوریدل سو او د رسول الله ﷺ دا عادت وو چي کله به

نَامَ نَفَخَ فَآذَنَهُ بِلَالٌ بِالصَّلَاةِ فَصَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ وَكَانَ فِيْ دُعَائِهِ اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ

بیده سو نو خراری به یې کوی، ددې وروسته بلال رضي الله عنه آذان وکړ او رسول الله ﷺ یې د لمانځه تیاری ته خبر کړ، رسول الله ﷺ راپورته سو او د اوداسه کولو پرته یې لمونځ وکړ او د رسول الله ﷺ هغه دعاء چي د سنتو او فرضو په منځ کي به یې کوله داوه: (اللهم اجعل ....)، (اې الله

فِيْ قَلْبِيْ نُوْرًا وَفِيْ بَصَرِيْ نُوْرًا وَفِيْ سَمْعِيْ نُوْرًا وَعَنْ يَّمِيْنِيْ نُوْرًا وَعَنْ يَّسَارِيْ

زما په زړه کي نور پیدا کړې زما په سترګو کي نور زما په غوږو کي نور زما راسته خوا ته نور زما چپه خوا ته

نُوْرًا وَفَوْقِيْ نُوْرًا وَتَحْتِيْ نُوْرًا وَأَمَامِيْ نُوْرًا وَخَلْفِيْ نُوْرًا وَاجْعَلْ لِيْ نُوْرًا وَزَادَ

نور، زما سربیره نور، زما لاندي نور، زما مخ ته نور زما شا ته نور او زما دپاره نور پیدا کړې) او په ځیني روایاتو کي دا الفاظ هم لیکل سوي دي چي

بَعْضُهُمْ وَفِيْ لِسَانِيْ نُوْرًا وَذَكَرَ وَعَصَبِيْ وَلَحْمِيْ وَدَمِيْ وَشَعْرِيْ وَبَشَرِيْ.

(زما په ژبه کي نور) او ځینو دا هم لیکلي دي چي زما په دماغ کي نور زما په غوښه کي نور زما

په وينه كي نور زما په وېښتانو كي نور او زما په پوست كي نور پيدا كړې .

متفق عليه . وَفِيْ رِوَايَةٍ لَّهُمَا وَاجْعَلْ فِيْ نَفْسِيْ نُوْرًا وَاَعْظِمْ لِيْ نُوْرًا وَ فِيْ أُخْرٰى لِمُسْلِمٍ اَللّٰهُمَّ اَعْطِنِيْ نُوْرًا.

(بخاري او مسلم) د بخاري او مسلم په يو بل روايت كي دا الفاظ هم دي (زما په نفس كي نور او زما لپاره نور لوى كړې) او د مسلم په يو بل روايت كي دا الفاظ دي : (اې الله ما ته نور راكړې) .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۱۱\۱۱۶، رقم: ۶۳۱۶ ومسلم ۱\ ۵۲۵، رقم: ۱۸۱- ۷۶۳.

د لغاتو حل: (شِنَاقَهَا): اى خيطها الذي يشد به فمها (هغه رسۍ چي د ژي خوله په تړل كيږي). (الجُفْنَة): القصعة من الجفن. (پياله). (نَفَخَ): اى تنفس بصوت حتى يسمع منه صوت التنفخ بالفم كما يسمع من النائم. (خرهاى).

تشريح : كله چي بلال ﷛ راغلى او رسول الله ﷺ ته يې د لمانځه د وخت كېدو خبر وركړ او رسول الله ﷺ د خوب څخه راوېنښ سو نو پرته د اودس كولو څخه د سهار سنت يې وكړل ، دلته دا اشكال نسي پيدا كېداى چي رسول الله ﷺ بيله اودسه لمونځ څنگه وكړ ؟ ځكه چي علماء ليكي چي د بيده كېدو سربيره رسول الله ﷺ اودس ځكه ونه كړ چي فقط په بيده كېدو سره اودس نه ماتيږي بلكه د خوب څخه د وېښېدو وروسته د لمانځه لپاره اودس ځكه ضروري وي چي په خوب كي د اوداسه ماتېدو احتمال وي مگر د رسول الله ﷺ زړه مبارك به هميشه بيداره وو تر دې چي د خوب په حالت كي به هم د رسول الله ﷺ پر زړه غفلت نه راتلى ځكه د رسول الله ﷺ په خوب كي دا گمان نسي كېداى چي د رسول الله ﷺ اودس به مات سوى وي او رسول الله ﷺ ته معلوم سوى نه وي .

دا حديث پر دې خبره دلالت كوي چي د ماخستن د لمانځه څخه وروسته دا سي خبري چي د هغه موضوع دين، آخرت، وعظ او نصيحت وي يا د خپل كوروالا سره په طريقه د اختلاف وي نو هغه مكروه نه دي . دا حديث د بي بي عائشې ﷞ تير سوي حديث سره مخالف معلوميږي ځكه چي دلته د ابن عباس ﷛ د قول څخه دا معلوميږي چي رسول الله ﷺ د شپې ديارلس ركعته وكړل او په هغو كي د وتر درې ركعته هم شامل وه مگر د سهار دوه ركعته په هغه كي شامل نه وه او د بي بي عائشې ﷞ ذ روايت څخه معلوميږي چي په ديارلسو ركعتو كي د وترو سره د سهار دوه ركعته سنت هم شامل وه .

نو په دغه دواړو حديثو کي په دې تاويل سره مطابقت پيدا کيږي چي رسول الله ﷺ به کله ديارلس رکعته داسي کول چي په هغو کي به د سهار دوه سنت هم شامل وه لکه څرنګه چي بي بي عائشې رضي الله عنها ذکر کړی دی او کله به يې داسي کول چي په هغو کي به د سهار دوه سنت شامل نه وه لکه څرنګه چي دلته د ابن عباس رضي الله عنه د الفاظو څخه معلوم سول.

د ابن عباس رضي الله عنه د الفاظو څخه دا هم معلومه سوه چي رسول الله ﷺ به د خوب په حالت کي خرخر کوی، نو ظاهره ده چي داسي کيدل هم پکار وه چي خرخر کول د ساه آخيستو د ناليو د پراختيا او د بدني پاکوالي او روغتيا نښه ده او ددې څخه څوک انکار نسي کولای چي رسول الله ﷺ نه يوازي دا چي په روحاني او باطني توګه سره کامل او اکمل وو بلکه په بدني توګه سره هم زيات صحت مند، قوي، او د پاکو اندامو څښتن وو.

په حديث کي پورتنی دعاء ته دعاء طويل وايي، دا دعاء د اکثرو مشائخو معمول هم دی، د دغه دعاء د تهجد وروسته ويل ثابت دي، ددې دعاء ډير عظمت او فضيلت دی.

شيخ شهاب الدين سهروردي رحمة الله عليه په عوارف کي ليکلي دي چي کوم سړی ما پر دغه دعاء هميشه ويلو باندي ليدلی دی د هغه سره يو برکت محسوس کيږي.

دوتر لمونځ درې رکعته دی

﴿۱۱۲۸﴾: وَعَنْهُ أَنَّهُ رَقَدَ عِنْدَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَيْقَظَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي زه يوه شپه د رسول الله ﷺ په کور کي بيده وم، رسول الله ﷺ د شپې وينښ سو

فَتَسَوَّكَ وَتَوَضَّأَ وَهُوَ يَقُولُ إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ حَتّٰى خَتَمَ السُّوْرَةَ

مسواک يې وکړ او اودس يې وکړ بيا يې دا آيت تلاوت کړ (ان في خلق السموات.....) تر پايه

ثُمَّ قَامَ فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ فَأَطَالَ فِيْهِمَا الْقِيَامَ وَالرُّكُوْعَ وَالسُّجُوْدَ ثُمَّ انْصَرَفَ

بيا رسول الله ﷺ ودريدی او دوه رکعته لمونځ يې وکړ چي په هغه کي يې ولاړه، رکوع او سجده ډيره اوږده وکړل بيا وګرځيدی

فَنَامَ حَتّٰى نَفَخَ ثُمَّ فَعَلَ ذٰلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ سِتَّ رَكَعَاتٍ كُلَّ ذٰلِكَ يَسْتَاكُ

نو رسول الله ﷺ پريوتی او بيده سو او خرارې يې پيل کړ، درې ځله رسول الله ﷺ داسي وکړل

او شپږ رکعته یې وکړل او هر ځل یې مسواک

وَيَتَوَضَّأُ وَيَقْرَأُ هٰؤُلَاءِ الْآيَاتِ ثُمَّ أَوْتَرَ بِثَلَاثٍ. رواه مسلم.

او اودس کوی او ذکر سوي آياتونه یې ويل، بيا يې درې رکعته وتر وکړل. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱۱/۵۳۰، رقم: ۱۹۱- ۷۶۳.

تشريح: دا حديث په ښکاره ډول دليل دی چې د وتر لمونځ درې رکعته دی، د امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه دا مذهب دی که څه هم د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد يو رکعت کيدای سي مگر تر دې حده خو هغه هم د حنفيه سره دی چې د هغه په نزد هم د وتر لپاره يوازې يو رکعت کول مکروه دي.

د نبي کريم ﷺ د تهجد د لمانځه کيفيت

﴿۱۱۲۹﴾: وَعَنْ زَيْدِ ابْنِ خَالِدِ الْجُهَنِيِّ أَنَّهُ قَالَ لَأَرْمُقَنَّ صَلَاةَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى

د حضرت زيد بن خالد الجهني رضي الله عنه څخه روايت دی چې هغه يو ځل اراده وکړه چې زه د رسول الله ﷺ لمونځ وگورم،

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّيْلَةَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ طَوِيلَتَيْنِ

نن شپه، نو لومړی خو رسول الله ﷺ دوه مختصر رکعته وکړل بيا يې دوه اوږده رکعته وکړل

طَوِيلَتَيْنِ طَوِيلَتَيْنِ ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ وَهُمَا دُونَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ

چې اوږده اوږده وه بيا يې دوه رکعته درميانه رکعتونه وکړل بيا يې دوه رکعته

وَهُمَا دُونَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ وَهُمَا دُونَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا ثُمَّ صَلَّى

تر هغو لنډ وکړل بيا يې دوه رکعته تر هغو لنډ وکړل بيا يې دوه رکعته تر هغو لنډ وکړه بيا يې وکړه

رَكْعَتَيْنِ وَهُمَا دُونَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا ثُمَّ أَوْتَرَ فَذٰلِكَ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً. رواه مسلم، قوله ثم صلى ركعتين وهما دون اللتين قبلهما اربع مرات هكذا في صحيح مسلم و افراده من كتاب الحميدي وموطاء مالك و سنن ابي

داؤد وجامع الاصول.

دوه ركعته تر هغو لنډ وكړل بيا يې وتر وكړل او دا ټول ديارلس ركعته سول. ،مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۵۳۱- ۵۳۲، رقم: ۱۹۵- ۷۶۵.

د لغاتو حل: (لارمُقَن): من الرمقة اى النظر اليه. (كتل).

تشريح: د دې حديث څخه په څرګنده دا نه معلوميږي چي رسول الله ﷺ وتر درې ركعته كړې وه يا يو ركعت يې كړى وو ځكه كه دوه مختصر ركعتونه په دې كي شمير نه كړل سي نو د وترو درې ركعته ثابتيږي او كه دا دواړه ركعتونه هم په دې لمانځه كي شامل كړل سي نو د دې مطلب به دا وي چي وتر يې يو ركعت كړي وه، مګر صحيح او ظاهر دادى چي دواړه مختصر ركعتونه په دې لمانځه كي شامل نه وه، همدا سي رسول الله ﷺ د وتر درې ركعته وكړل.

د حميدي په كتاب جمع بين الصحيحين كي درې ډوله حديثونه منقول دي:

۱. متفق عليه يعني د بخاري او مسلم دواړو روايتونه،
۲. افراد بخاري: يعني هغه روايتونه چي هغه يوازي بخاري نقل كړي دي.
۳. افراد مسلم: يعني هغه روايتونه چي هغه يوازي مسلم روايت كړي دي.

نو د روايت د آخري الفاظو مطلب دادى چي د حديث الفاظ (ثم صلى ركعتين و هما دون اللتين قبلهما) دا الفاظ په صحيح مسلم كي څلور واره منقول دي همدا سي په كتاب حميدي كي چي په هغه كي يوازي د مسلم روايات منقول دي، په مؤطا امام مالک، سنن ابي داؤد او جامع الاصول كي هم څلور واره منقول دي، د مشكوة مؤلف دا شيان په دومره شد او مد او مبالغې سره ځكه بيان كړي دي چي د صاحب مصابيح رد وسي چي هغه دا عبارت درې واره نقل كړى دى چي د هغه په وجه د ركعتو شمير يوولس پاته كيږي.

رسول الله ﷺ په اخر عمر كي نفل لمونځ په ناسته كوى

﴿۱۱۳۰﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا بَدَنَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَثَقُلَ كَانَ أَكْثَرُ صَلَاتِهِ جَالِسًا. متفق عليه

د حضرت عائشې ﷺ څخه روايت دىچي په آخر عمر كي، كله چي د رسول الله ﷺ بدن مبارک دروند سو نو نفل لمونځ به يې اكثر په ناسته كوى. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۵۸۹، رقم: ۱۱۱۸ و مسلم ۱\۵۰۶، رقم: ۱۱۷- ۷۳۲.

په تهجد کې رسول الله ﷺ کوم کوم سورتونه ویل

﴿۱۱۳۱﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ لَقَدْ عَرَفْتُ النَّظَائِرَ الَّتِيْ كَانَ النَّبِيُّ

د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی چې د قرآن کریم د هغو سورتونو څخه خبریم چې یو د بل سره مماثل دي او رسول الله ﷺ به

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرِنُ بَيْنَهُنَّ فَذَكَرَ عِشْرِيْنَ سُوْرَةً مِّنْ اَوَّلِ الْمُفَصَّلِ

دا یوځای کول نو هغه شل سورتونه بیان کړل چې مفصل ورته ویل کیږي ،

عَلَى تَأْلِيْفِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ سُوْرَتَيْنِ فِيْ رَكْعَةٍ آخِرُهُنَّ (حٰمٓ الدُّخَانِ وَ عَمَّ يَتَسَاءَلُوْنَ . متفق عليه

رسول الله ﷺ به دا سورتونه داسې یو ځای کول چې په یوه رکعت کې به یې دوه سورتونه ویل او په دې شلو سورتونو کې آخري دوه سورتونه (حم الدخان او عم یتساءلون) دي . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\۳۹، رقم: ۴۹۹۶ و مسلم ۱\۵۶۳، رقم: ۲۷۵- ۷۲۲.

تشريح : په خپلو کې هم مثله سورتونو څخه مراد هغه سورتونه دي چې په اوږدوالي او مختصر والي کې برابر دي ، د مفصل مطلب په باب القراة کې بیان سوی دی .

د مشهور قول سره سم د سورة حجرات څخه تر آخر پورې سورتونو ته مفصل وایي هغه سورتونه په خپلو کې د یو بل برابر دي.

د عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه د ترتیب سره سم چې هغه کلام الله جمع کړی وو یو ځای وو ، ددغه شلو سورتونو تفصیل په ابوداؤد کې همداسې مذکور دی، رسول الله ﷺ به په یوه رکعت کې دوه دوه سورتونه داسې ویل چې سورة رحمان او سورة نجم په یوه رکعت کې،. اقترب الساعة او الحاقة په بل رکعت کې، سورة طور او ذاریات په یوه رکعت کې او اذا واقعت الواقعة او سورة نون په یوه رکعت کې ، سال سائل او والنازعات په یوه رکعت کې ، ویل للمطففین او عبس په یوه رکعت کې ، مدثر او مزمل په بل رکعت کې ، هل اتلی او لا اقسم بیوم القیامة په یوه رکعت کې ، عم یتساءلون او مرسلات په بل رکعت کې ، سورة دخان او اذا

الشمس په یوه رکعت کي ، ابوداؤد ددې خبري وضاحت کړې دی چي دا ترتیب د عبدالله ابن مسعود ﷺ د یوځای کولو سره سم دی.

د حدیث د ظاهري الفاظو مطلب په څرګنده دا معلومیږي چي د پورتنی طریقې سره سم رسول الله ﷺ سورة دخان او عم یتساءلون په یوه رکعت کي ویل حال دا چي داسي نه ده ځکه چي دا دواړه سورتونه نه یوازي دا چي هم مثل او په خپلو کي برابر نه دي بلکه داسي د حدیث ددې آخري جز او د حدیث دظاهري معنی او په مفهوم کي مطابقت نه پاته کیږي ، ددې جز وضاحت دا کول کیږي چي د حدیث ددغه الفاظو حقیقي معنا داده چي په دغه شلو رکعتونو کي آخري سورتونه حم الدخان او ددې هم مثل یعني اذا الشمس کورت او عم یتساء لون او ددې هم مثل یعني والمرسلات دي ، ددې مطلب به اوس دا سي چي رسول الله ﷺ به په یوه رکعت کي حم الدخان او اذا الشمس کورت وایه چي هم مثل او برابر سورتونه دي ، همداسي په یوه رکعت کي عم یتساءلون او والمرسلات به یې وایه چي هم مثل او برابر سورتونه دي.

د قرآن کریم ویلو ترتیب

د علماوو پر دې خبره اجماع او اتفاق دی چي قرآن کریم په دغه ترتیب سره وویل سي کوم چي اوس رواج دي په یو بل ترتیب دي نه ویل کیږي، مګر هو ماشومانو ته د ښوونې په وجه د پای څخه ویل هم جائز دي او که چیري په لمانځه کي د ترتیب څخه خلاف وویل سي نو دا به غوره نه وي بلکه د ځینو علماؤ په نزد دا مکروه دی د امام احمد رحمة الله علیه دا مذهب دی.

په لومړي رکعت کي د سورة والناس ویلو مسئله

دلته یو سوال پیدا کیږي که یو سړی په لومړي رکعت کي سورة والناس ووایي نو په دوهم رکعت کي هم سورة والناس ویل پکار دي ، مګر امام شافعي رحمة الله علیه فرمایي که په لومړي رکعت کي سورة والناس وویل سي نو په دوهم رکعت کي دي سورة بقرة پیل کړل سي په داسي توګه چي د الم څخه تر مفلحون پوري آیاتونه دي ووایي ، په یوه روایت کي د امام اعظم ابوحنیفة رحمة الله علیه څخه دا هم منقول دي بلکه دا قول زیات غوره دی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د رسول کریم ﷺ د تهجد کیفیت

﴿۱۱۳۲﴾: عَنْ حُذَيْفَةَ أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ

د حضرت حذيفة ﷺ څخه روايت دی چي هغه رسول الله ﷺ د شپې پر لمانځه کولو وليدی ،

وَكَانَ يَقُوْلُ اَللّٰهُ أَكْبَرُ ثَلَاثًا ذُو الْمَلَكُوْتِ وَالْجَبَرُوْتِ وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْعَظْمَةِ ثُمَّ

رسول الله ﷺ به درې ځله الله اکبر وايه بيا به يې ويل : (د ملک ، غلبې ،لوئي او برزګي خاونده) تر دې وروسته به يې

اسْتَفْتَحَ فَقَرَأَ الْبَقَرَةَ ثُمَّ رَكَعَ فَكَانَ رُكُوْعُهُ نَحْوًا مِّنْ قِيَامِهِ فَكَانَ يَقُوْلُ فِيْ

شروع په کول سبحانک اللهم..... بيا به يې سورة بقرة ويل او ددې وروسته به يې رکوع کول ، د رسول الله ﷺ رکوع به هم د ولاړې په اندازه وه او رسول الله ﷺ به په رکوع کي

رُكُوْعِهِ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوْعِ فَكَانَ قِيَامُهُ نَحْوًا

سبحان ربي العظيم ويل ، بيا رسول الله ﷺ د رکوع څخه سر پورته کړ او د رسول الله ﷺ قومه يعني د رکوع څخه دريدل د رکوع په اندازه وه ،

مِّنْ رُّكُوْعِهِ يَقُوْلُ لِرَبِّيَ الْحَمْدُ ثُمَّ سَجَدَ فَكَانَ سُجُوْدُهُ نَحْوًا مِنْ قِيَامِهِ فَكَانَ

په قومه کي به رسول الله ﷺ (لِرَبِّي الحمد) ويل ، بيا رسول الله ﷺ سجده وکړه او سجده يې هم د قيام په اندازه وه ،

يَقُوْلُ فِيْ سُجُوْدِهِ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلٰى ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ السُّجُوْدِ وَكَانَ يَقْعُدُ

او په سجده کي يې ويل : سبحان ربي الاعلى ، بيا رسول الله ﷺ د سجدې څخه سر را پورته کړ او کښېنستی

فِيْمَا بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ نَحْوًا مِّنْ سُجُوْدِهِ وَكَانَ يَقُوْلُ رَبِّ اغْفِرْ لِيْ فَصَلّٰى أَرْبَعَ

د دواړو سجدو په منځ کي د يوې سجدې په اندازه او دا يې ويل : رب اغفرلي ، همدارنګه رسول الله ﷺ څلور رکعته وکړل

رَكْعَاتٍ قَرَأَ فِيْهِنَّ الْبَقَرَةَ وَآلَ عِمْرَانَ وَالنِّسَاءَ وَالْمَائِدَةَ أَوِ الْأَنْعَامَ شَكَّ شُعْبَةُ .رواه أبو داود .

چي په هغو کي يې سورة بقرة، سورة آل عمران، سورة نساء او سورة مائده يا سورة انعام وو ايه، شعبه راوي د سورة مائده او سورة انعام په منځ کي شک کړی دی. ابو داؤد.

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\ ۵۴۴- ۵۴۵، رقم: ۸۷۴.

تشريح: د رسول الله ﷺ رکوع د قيام په اندازه وه، ددې مطلب دا نه دی چي حقيقتا د رسول الله ﷺ رکوع تقريبا د قيام برابر وه، يا دا چي رسول الله ﷺ به په رکوع کي دومره وخت وو تر څو مره وخت پوري چي به يې قيام کول، بلکه ددې مطلب دادی چي څرنګه رسول الله ﷺ د معمول څخه څه زيات قيام اوږد کړی وو، همداسي رکوع هم د اندازې د معمول څخه زيات اوږده کړې وه کله دواړه يعني قيام او رکوع به برابر وي څرنګه چي نسائي د عوف بن مالک رضي الله عنه روايت نقل کړی دی، رب اغفرلي دوه واره ذکر سوی دی په دې اړه دا احتمال هم سته چي رسول الله ﷺ به رب اغفرلي دوه واره وايه او دا هم احتمال دی چي په دې احتمال تر دوو زيات واره ويل وي. والله اعلم.

د تهجد په لمانځه کي د زياتي ولاړي فضيلت

《۱۱۳۳》: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ

د حضرت عبدالله بن عمرو بن عاص رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَامَ بِعَشْرِ آيَاتٍ لَّمْ يُكْتَبْ مِنَ الْغَافِلِيْنَ وَمَنْ قَامَ بِمِائَةِ آيَةٍ

څوک چي په لمانځه کي لس آياتونه وو ايي د هغه نوم به په غافلانو کي ونه ليکل سي او څوک چي سل آياتونه وو ايي

كُتِبَ مِنَ الْقَانِتِيْنَ وَمَنْ قَامَ بِأَلْفِ آيَةٍ كُتِبَ مِنَ الْمُقَنْطِرِيْنَ. رواه أبو داود

د هغه نوم په فرمانبردارانو کي ليکل کيږي او څوک چي زر آياتونه وو ايي نو هغه په ډير ثواب تر لاسه کونکو کي ليکل کيږي. ابو داؤد.

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\ ۱۱۸، رقم: ۱۳۹۸.

تشريح: مطلب دادی چي کوم سړی د تهجد په لمانځه کي لس، سل يا زر آياتونه په ترتيل او اطمينان سره وو ايي نو هغه ته پوره ثواب او د سعادت فضيلت تر لاسه کيږي او که يو سړی په خپل لمانځه کي لس آياتونه وو ايي نو د فضيلت او ثواب په اعتبار به د هغه سړي څخه کم وي

چا چې سل آياتونه په خپل لمانځه کي ويلي وي او هغه به د فضيلت او سعادت په اعتبار تر هغه سړي کم وي کوم چا چې په خپل لمانځه کي زر آياتونه ويلي وي ، دلته دوه سوالونه پيدا کيږي اول خو دا چې د آياتونو شمير په يوه رکعت کي د ويلو اعتبار نه دی يا د يو څخه زيات رکعتو کي به دا شمير ويل کيږي ، دوهم دا چې په دغه شمير کي د سورة فاتحه آياتونه شامل دي يا د هغه څخه پرته نور ؟

د لومړني سوال په اړه علامه ابن حجر رحمة الله عليه فرمايي چې د آياتونو شمير په دوو يا د دوو څخه زيات رکعتو کي ويل کيږي .

د دوهم سوال په اړه دا ويل کيږي چې د حديث ظاهري الفاظ خو دا مراد ښيي چې د سورة فاتحې څخه پرته لس آياتونه وي مګر صحيح او ظاهر دا دی چې د حديث پورتنی ثواب په دغه صورت کي هم حاصليږي چې پورتنی شمير د سورة فاتحې په شاملولو سره وکړل سي ، په دې توګه چې اووه آياتونه خو د سورة فاتحې سي او درې آياتونه نور چې د لمانځه د قرائت ادنا درجه ده .

قانتين يعني پر دغه اطاعت باندي هميشه کونکی يا په عبادت کي قيام اوږده کونکی ددې مطلب دادی چې کوم خلک په لمانځه کي سل آياتونه وايي د هغوی نوم د الله تعالی په هميشه اطاعت کونکو کي ليکل کيږي ، يا په عبادت کي د قيام په اوږده کونکو کي ليکل کيږي چې ډيره د سعادت او خوشبختی خبره ده .

د علامه طيبي رحمة الله عليه د الفاظو څخه چې ددې حديث په تشريح کي دي معلوميږي چې دا حديث مطلق دی د ورځي يا شپې سره مقيد نه دی يعني که څه هم هر يو لمونځ وي د ورځي وي يا د شپې وي ، په کوم لمانځه کي هم چې دغه د آياتونو شمير وويل سي ثواب تر لاسه کيږي .

علامه بغوي رحمة الله عليه دا حديث پر پوره موقع باندي يعني په باب صلوة الليل کي نقل کړی او دې ته يې اشاره کړې ده چې د شپې يعني د تهجد په لمانځه کي پورتني شمير کي چې کوم آياتونه وويل سي نو د هغه ثواب به ډېر زيات حاصل سي ، ځيني علماء ليکي چې قيام کول ددې خبري کنايه ده چې مذکور شمېر کي که آياتونه ياد کړل سي او هغه هر وخت ويل کيږي او دا چې ددې په معنی او مقصد کي غور او فکر او په هغه عمل وکړل سي ، والله اعلم .

په تهجد کي د رسول الله ﷺ قرائت

﴿۱۱۳۴﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَتْ قِرَاءَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِاللَّيْلِ

يَرْفَعُ طَوْرًا وَّيَخْفِضُ طَوْرًا . رواه أبو داود .

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ د شپې قرائت به ډول ډول وو کله په لوړ آواز او کله په کښته آواز. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داؤد: ۲\۸۱، رقم: ۱۳۲۸.

﴿۱۱۳۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَتْ قِرَاءَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى قَدْرِ مَا يَسْمَعُهُ مَنْ فِيْ الْحُجْرَةِ وَهُوَ فِي الْبَيْتِ . رواه أبو داود .

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به په دومره آواز سره قرائت وايه که چيري رسول الله ﷺ به په خونه کي دننه وو نو په غولي کي به اوريدل کيدی . ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داؤد: ۲\۸۱– ۸۲، رقم: ۱۳۲۷.

تشريح: يعني نه خو به يې په لوړ آواز قرائت وايه او نه به يې بالکل په کرار آواز سره چي ښوک يې نه اوري بلکه په داسي آواز به يې وايه ، او کله چي به رسول الله ﷺ په حجره کي دننه لمونځ کوی نو کوم خلک چي به د باندي په غولي کي وه هغوی به قرائت اوريدی .

په دې خبره پوه سئ چي د قرائت په اړه څه بيانيږي د هغه تعلق د شپې يعني د تهجد د لمانځه سره دی ځکه چي رسول الله ﷺ به په مسجد کي لمونځ کوی نو د شپې د لمانځه په نبت به يې په زيات لوړ آواز سره قرائت وايه .

د تهجد په قرائت کي د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه طريقه

﴿۱۱۳۶﴾: وَعَنْ أَبِيْ قَتَادَةَ قَالَ إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ لَيْلَةً

د حضرت ابو قتادة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ يوه شپه د باندي راووتی ،

فَإِذَا هُوَ بِأَبِيْ بَكْرٍ يُصَلِّيْ يَخْفِضُ مِنْ صَوْتِهِ وَمَرَّ بِعُمَرَ وَهُوَ يُصَلِّيْ رَافِعًا صَوْتَهُ

نو د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه سره تير سو چي په کښته آواز سره يې لمونځ کوی، بيا د حضرت عمر رضي الله عنه سره نژدې تير سو چي په لوړ آواز سره يې لمونځ کوی،

قَالَ فَلَمَّا اجْتَمَعَا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا أَبَابَكْرٍ مَرَرْتُ بِكَ

ابو قتاده رضي الله عنه وايي كله چي ابوبكر رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه دواړه د رسول الله ﷺ سره يو ځای سول نو رسول الله ﷺ وفرمايل: اې ابوبكر! زه ستا په خوا كي تيريدم

وَأَنْتَ تُصَلِّي تَخْفِضُ صَوْتَكَ قَالَ قَدْ أَسْمَعْتُ مَنْ نَاجَيْتُ يَارَسُوْلَ اللهِ وَقَالَ

او تا په كرار آواز سره لمونځ كوی، ابوبكر رضي الله عنه عرض وكړ اې د الله رسوله! ما هغه ته اوروی د چا سره چي مي مناجات كول، بيا رسول الله ﷺ فرمايل

لِعُمَرَ مَرَرْتُ بِكَ وَأَنْتَ تُصَلِّي رَافِعًا صَوْتَكَ فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللهِ أُوْقِظُ الْوَسْنَانَ

عمر ته چي زه ستا په خوا كي تير سوم نو تا په لوړ آواز سره لمونځ كوی، عمر رضي الله عنه وويل: اې د الله رسوله! ما بيده خلك راوېښول

وَأَطْرُدُ الشَّيْطَانَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَبَا بَكْرٍ ارْفَعْ مِنْ صَوْتِكَ

او شيطان مي تښتوی، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: اې ابوبكر! ته خپل آواز لوړ كړه

شَيْئًا وَقَالَ لِعُمَرَ اخْفِضْ مِنْ صَوْتِكَ شَيْئًا. رواه أبو داود وروى الترمذي نحوه

يو څه او اې عمره! ته خپل آواز لږ كراره كړه. ابوداؤد او ترمذي.

تخريج: سنن ابي داؤد ١٢\٨١- ٨٢، رقم: ١٣٢٧. والترمذي ٢\٣٠٩، رقمگ ٤٤٧.

د يو آيت په ويلو ټوله شپه ولاړه

﴿١١٣٧﴾: وَعَنْ أَبِيْ ذَرٍ قَالَ قَامَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى أَصْبَحَ

د حضرت ابوذر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د تهجد په لمانځه كي تر سهاره پوري ودرېدی

بِآيَةٍ وَالْآيَةُ: إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ. رواه النسائي وابن ماجه.

او دا آيت يې وايه: (ان تعذبهم......) (اې الله! كه ته دوی ته عذاب وركړې نو دا ستا بندګان دي او كه بخښنه ورته وكړې نو ته غالب او د حكمت خاوند يې) (دغه آيت د سورة مائدة په آخر كي دی). نسائي او ابن ماجه.

تخريج: سنن النسائي ۲\۱۷۷، رقم: ۱۰۰۹، وابن ماجه ۱\۴۲۹، رقم: ۱۳۵۰.

تشريح: حضرت عيسى عليه السلام به د قيامت په ورځ د الله تعالى په دربار کي د خپل امت لپاره دا آيت عرض کړي او رسول الله ﷺ د تهجد پر وخت د خپل امت حسب حال دا آيت وايه يعني د پروردګار په دربار کي رسول الله ﷺ د تهجد په لمانځه کي هم په ولاړه تر سهاره پوري په وار وار دعاء کول او د خپل امت مغفرت او بخښنه يې غوښتل. صلى الله عليه الف الف صلوة.

د سهار د سنت کولو وروسته پريوتل

﴿۱۱۳۸﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ فَلْيَضْطَجِعْ عَلَى يَمِيْنِهِ. رواه الترمذي وأبو داود.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي په تاسو کي يو څوک د سهار دوه رکعته سنت وکړي نو پر راسته بغل دي لږ وخت پريوځي. ترمذي او ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\۴۷، رقم: ۱۲۶۱. والترمذي ۲\۲۸۱، رقم: ۴۲۰.

تشريح: د سهار د سنت کولو څخه تر جماعت پيل کېدو پوري پر راسته طرف د پريوتلو لامل ځيني حنفيه علماء دا بيان کوي چي د تهجد لمونځ او په شپه کي د عبادت د بوختيا په وجه په طبيعت کي سستي پيدا کيږي ځکه د سهار سنت کولو وروسته د لږ وخت لپاره پر تکيه کولو حکم يې وکړ چي سستي ختمه سي او راحت او سکون تر لاسه سي چي د هغه په وجه فرض لمونځ په اطمينان سره وسي. ابن مالک رحمة الله عليه فرمايي کوم سړی چي د شپې د الله تعالى په عبادت کي بوخت وي او د تهجد لمونځ کوي د هغه سړي په حق کي دا (يعني د سهار د سنت کولو وروسته پر راسته اړخ د پريوتلو حکم) د استحباب امر دی.

سيد زکريا رحمة الله عليه چي د هغه شمير د حنفيه په نزد د علم حديث د مشائخو څخه کيږي فرمايي: ښه او غوره داده چي دا طريقه په پټه توګه اختيار کړل سي يعني په کور کي داسي کوي په مسجد کي د خلکو په مخکي دي داسي نه کوي او دا چي دا پريوتل دي صرف د پروتي تر حده وي او ځان دي د خوب څخه وساتي داسي نه چي په پروتي سره بيده سي او په راکښېنستو سره په جماعت کي ګډون وکړي او فرض لمونځ بې اودسه وکړي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

پر عمل هميشتوب

﴿۱۱۳۹﴾: عَنْ مَسْرُوْقٍ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ أَيُّ الْعَمَلِ كَانَ أَحَبُّ إِلٰى رَسُوْلِ اللهِ

د حضرت مسروق رحمه الله څخه روايت دی چي ما د بي بي عائشي رضي الله عنها څخه پوښتنه وکړه چي كوم عمل د رسول الله ﷺ زيات خوښ وو ؟

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ اَلدَّائِمُ قُلْتُ فَأَيَّ حِيْنٍ كَانَ يَقُوْمُ مِنَ اللَّيْلِ ؟

هغې وويل: هغه عمل چي تل كيږي، ما بيا پوښتنه وكړه رسول الله ﷺ به څه وخت د شپې د تهجد لپاره راپورته كيدی ؟

قَالَتْ كَانَ يَقُوْمُ إِذَا سَمِعَ الصَّارِخُ. متفق عليه

هغې وويل : كله چي به چرګ آذان وكړ . بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\۱۶، رقم: ۱۱۳۲، ومسلم: ۱\۵۱۱، رقم: ۱۳۱- ۷۴۱.

د لغاتو حل: (الصارخ): ای صورت الديک (د چرګ آذان).

تشريح : د عمل د هميشتوب مطلب دادی چي هغه نيک او بامقصد عمل چي كونكی يې هميشه په پابندي سره كوي او څرنګه چي په ځينو رواياتو كي مذكور دي كه څه هم هغه عمل لږ وي ، زموږ په شاوخوا كي خو په عامه توګه سره چرګ د شپې په آخري برخه كي يعني سهار ته نژدې آذان كوي مګر په عربو كي په عامه توګه سره د نيمي شپې وروسته چرګ آذان كوي ، رسول الله ﷺ به د چرګ د آذان اورېدو سره كښېنستی او هغه وخت به يې تهجد كول .

د رسول كريم ﷺ د شپې معمول

﴿۱۱۴۰﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ مَا كُنَّا نَشَاءُ أَنْ نَّرٰى رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي اللَّيْلِ مُصَلِّيًا إِلاَّ رَأَيْنَاهُ وَلاَ نَشَاءُ أَنْ نَّرَاهُ نَائِمًا إِلاَّ رَأَيْنَاهُ . رواه النسائي

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي كه موږ به دا غوښتل چي رسول الله ﷺ د شپې پر لمانځه كولو ووينو، نو رسول الله ﷺ به مو پر لمونځ كولو وليدی او كه موږ به دا غوښتل چي رسول الله

ﷺ په خوب كولو ووينو نو موږ به هغه مبارك پر خوب كولو وليدى (يعني د تهجد لمونځ به يې هم كوى او خوب به يې هم كوى) . نسائي

تخريج: سنن النسائي ۳\۲۱۳، رقم: ۱۶۲۶.

تشريح : د انس رضي الله عنه د ارشاد مطلب دادى چي رسول الله ﷺ به د شپې د تهجد وغيره كولو په اړه معقوله رويه اختيارول نه خو به يې ټوله شپه په تهجد كي تيرول او نه به ټوله شپه بيده وو بلكه په هره شپه كي به بيده كېدى هم او تهجد به يې هم كوى نو رسول الله ﷺ به د تهجد لمانځه لپاره نه خو ټوله شپه ويښ وو او نه به ټوله شپه بيده وو ځكه رسول الله ﷺ به د شپې تهجد وغيره كي بوخت هم ليدل كيدى او بيده به هم ليدل كيدى .

﴿۱۱۴۱﴾: وَعَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ قَالَ إِنَّ رَجُلاً مِنْ أَصْحَابِ

د حضرت حميد بن عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه څخه روايت دى چي د نبي كريم ﷺ په اصحابو كي

النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قُلْتُ وَأَنَا فِيْ سَفَرٍ مَّعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

يو كس خپلو ملګرو ته يا په خپل زړه كي وويل چي زه د رسول الله ﷺ سره په سفر كي وم

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاللّٰهِ لَأَرْقُبَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلصَّلَاةِ حَتّٰى أَرٰى

او دا اراده مي كړې وه چي زه به قسم په خداى د رسول الله ﷺ د شپې لمونځ وينم تر دې چي وينم

فِعْلَهُ فَلَمَّا صَلّٰى صَلَاةَ الْعِشَاءِ وَهِيَ الْعَتَمَةُ اِضْطَجَعَ هَوِيًّا مِنَ اللَّيْلِ ثُمَّ

دده مبارك فعل په خپلو سترګو سره او خپله هم داسي وكړم، نو ما وليدل چي رسول الله ﷺ د ماخستن لمونځ وكړ او بيده سو او تر ډيره وخته پوري بيده وو بيا

اسْتَيْقَظَ فَنَظَرَ فِي الْأُفُقِ فَقَالَ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلاً حَتّٰى بَلَغَ إِلٰى إِنَّكَ

راويښ سو او آسمان ته يې وكتل او دا آيت يې ووايه : (ربنا ماخلقت ....) تر (انك

لَا تُخْلِفُ الْمِيْعَادَ. ثُمَّ أَهْوٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلٰى فِرَاشِهِ

لاتخلف الميعاد) پوري ، بيا رسول الله ﷺ د بسترې په لور متوجه سو

فَاسْتَلَّ مِنْهُ سِوَاكًا ثُمَّ أَفْرَغَ فِيْ قَدَحٍ مِّنْ إِدَاوَةٍ عِنْدَهُ مَاءً فَاسْتَنَّ ثُمَّ قَامَ

او مسواک يې راوکښې، د پتک څخه يې او به په پياله کي راواخيستې بيا يې مسواک وواهه او اودس يې وکړ او تر دې وروسته ودريدی د لمانځه لپاره

فَصَلّٰى حَتّٰى قُلْتُ قَدْ صَلّٰى قَدْرَ مَا نَامَ ثُمَّ اضْطَجَعَ حَتّٰى قُلْتُ قَدْ نَامَ قَدْرَ مَا

او لمونځ يې وکړ تر دې چي ما په خپل زړه کي وويل چي رسول الله ﷺ دومره بيده سو څومره وخت چي يې

صَلّٰى ثُمَّ اسْتَيْقَظَ فَفَعَلَ كَمَا فَعَلَ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَقَالَ مِثْلَ مَا قَالَ فَفَعَلَ رَسُوْلُ

لمونځ وکړ، بيا رسول الله ﷺ بيدار سو او همدا سي يې وکړل څنګه چي مخکي يې کړی وه او هغه يې وويل کوم چي په لومړي ځل يې ويلي وه، رسول الله ﷺ

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ قَبْلَ الْفَجْرِ . رواه النسائي.

د سهار د لمانځه څخه تر مخه درې واره داسي وکړل. نسائي.

تخريج: سنن النسائي: ۳\۲۱۳، رقم: ۱۶۲۵.

د لغاتو حل: (هَوِيا): اى حينا طويلا. (اِدواة): اناء صغير يحمل فيه الماء (د اوبو کوچنی لوښی). (فاستن): الاستِنان هو استعمال السواک. (مسواک وهل).

تشريح: د آيت د ويلو په اړه دوه احتماله دي: يو خو دا کيدای سي چي رسول الله ﷺ په هغه شپه کي تر (انک لاتخلف الميعاد) پوري ويلي وي، دوهم احتمال دادی چي رسول الله ﷺ دا آياتونه تر آخر سورت پوري ويلي وي مګر اوريدونکي تر انک لاتخلف الميعاد څخه وروسته آياتونه اوريدلي نه وي، همدا رنګه په دې حديث کي او د ابن عباس رضي الله عنه په اتم نمبر حديث کي مطابقت هم پيدا کيږي چي د هغه څخه معلومه سوې ده چي رسول الله ﷺ سورت تر پايه پوري تلاوت کړی وو.

﴿۱۱۴۲﴾: وَعَنْ يَعْلَى بْنِ مَالِكٍ أَنَّهُ سَأَلَ أُمَّ سَلَمَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت يعلي بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چي هغه د رسول الله ﷺ د مېرمني ام سلمه رضي الله عنها څخه پوښتنه وکړه

عَنْ قِرَاءَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصَلَاتِهِ فَقَالَتْ وَمَا لَكُمْ وَصَلَاتَهُ

د رسول الله ﷺ د قرائت په اړه ، هغې وفرمايل : د رسول الله ﷺ د قرائت او لمانځه څخه به تا ته څه په لاس درسي (يعني په تا کي دومره توان نسته)

كَانَ يُصَلِّي ثُمَّ يَنَامُ قَدْرَ مَا صَلَّى ثُمَّ يُصَلِّي قَدْرَ مَا نَامَ، ثُمَّ يَنَامُ قَدْرَ مَا

رسول الله ﷺ به د شپې لمونځ کوی بيا به بيده سو يعني څومره وخت چي به يې لمونځ کوی هغومره وخت به بيده سو بيا څومره وخت چي به بيده سو هغومره وخت به يې لمونځ کوی بيا به هغومره وخت بيده کيدی څومره وخت چي به يې

صَلَّى حَتَّى يُصْبِحَ ثُمَّ نَعَتَتْ قِرَاءَتَهُ فَإِذَا هِيَ تَنْعَتُ قِرَاءَةً مُفَسَّرَةً حَرْفًا حَرْفًا. رواه ابوداؤد والترمذي والنسائي.

لمونځ کوی تر دې چي سهار به سو ، د دې وروسته ام سلمه د رسول الله ﷺ د قرائت بيان وکړ تر دې چي يو يو حرف يې د رسول الله ﷺ د قرائت بيان کړ. ابوداؤد، ترمذي.

تخريج: سنن ابي داؤد: ۲\ ۱۵۴، رقم: ۱۴۶۶. والترمذي ۵\ ۱۶۷، رقم: ۲۹۲۳، والنسائي: ۳\ ۲۱۴، رقم: ۱۶۲۸.

==================

بَابُ مَا يَقُوْلُ اِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ

نبي کريم ﷺ به د شپې په لمانځه کي څه ويل

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د تهجد په لمانځه کي د نبي کريم ﷺ دعاء

﴿۱۱۴۳﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چي کله به رسول الله ﷺ دريدی

مِنَ اللَّيْلِ يَتَهَجَّدُ قَالَ اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ قَيِّمُ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَنْ

د شپې د تهجد لپاره نو دا دعاء به يې كول: (اې الله! ته قائم ساتونكى يې د آسمانونو او مځكې او هغو شيانو

فِيهِنَّ وَلَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ نُورُ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ وَلَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ

چې ددې په منځ كې دي او ټول تعريف يوازې تا لره دي ته د آسمانو، مځكې او هغه څه چې ددوی په منځ كې دي نور يې او ټول تعريف يوازې تا لره دي ته

مَلِكُ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ وَلَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ الْحَقُّ وَوَعْدُكَ الْحَقُّ

د آسمانو او مځكو او څه چې په دې كې دي پاچا يې او ټول تعريف يوازې تا لره دی ته حق يې ستا وعده حق ده

وَقَوْلُكَ الْحَقُّ وَلِقَاؤُكَ حَقٌّ وَالْجَنَّةُ حَقٌّ وَالنَّارُ حَقٌّ وَالنَّبِيُّونَ حَقٌّ وَمُحَمَّدٌ

ستا قول حق دی ستا ملاقات حق دی جنت حق دی او دوږخ حق دی انبياء حق دي او محمد (ﷺ)

حَقٌّ وَالسَّاعَةُ حَقٌّ اللَّهُمَّ لَكَ أَسْلَمْتُ وَبِكَ آمَنْتُ وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْكَ

حق دی او قيامت حق دی، اې الله! زه ستا فرمانبردار يم او پر تا مې ايمان راوړی دی او ما پر تا باور كړی دی او ستا په لور مې

أَنَبْتُ وَبِكَ خَاصَمْتُ وَإِلَيْكَ حَاكَمْتُ فَاغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ وَمَا

رجوع وكړه زه ستا په مرسته سره د خپل د ښمن سره جګړه كوم او ستا و لوري ته مې فرياد راوړی دی نو زما هغه ګناه و بخښې چې ما مخكې كړې ده يا يې وروسته كوم او كوم چې

أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي أَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ وَلَا إِلٰهَ غَيْرُكَ. متفق عليه

ما پټ كړې دي او كومه چې مې په ښكاره كړې ده او ته په هغو ګناهو زما څخه زيات خبر يې ته وړاندې كونكی او ته وروسته كونكی يې ستا څخه پرته بل د عبادت وړ نسته او ستا څخه پرته

بل خداى نسته.) بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\۳، رقم: ۱۱۲۰، ومسلم ۱\ ۵۳۲، رقم: ۱۹۹- ۷۶۹.

تشريح: څرګنده خو داده چي رسول الله ﷺ دغه دعاء د تکبير تحريمه وروسته يا د رکوع څخه وروسته په قومه کي کړې وه لکه څرنګه چي په ځينو روايتو کي د دې وضاحت دى.

﴿۱۱۴۴﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ مِنَ

د حضرت عائشي رضي الله عنها څخه روايت دى چي كله به رسول الله ﷺ د لمانځه لپاره ودريدى

اللَّيْلِ افْتَتَحَ صَلَاتَهُ فَقَالَ اللَّهُمَّ رَبَّ جِبْرَائِيلَ وَمِيكَائِيلَ وَإِسْرَافِيلَ

د شپې نو خپل لمونځ به يې په دغه دعاء پيلوى :اې الله! پروردګاره د جبرائيل، ميکائيل او اسرافيل

فَاطِرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ أَنْتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ

اې د آسمان او ځمکي پرودرګاره، اې د پټ او څرګند پيژندونکې ته به د قيامت په ورځ د خپلو بندګانو په منځ کي پريکړه وکړې

فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ اهْدِنِي لِمَا اخْتُلِفَ فِيهِ مِنَ الْحَقِّ بِإِذْنِكَ إِنَّكَ تَهْدِي

د هر هغه شي چي هغوى پکښي اختلاف کوى په هغه شى کي زما لارښوونه وکړې چي د امر حق څخه پکښي اختلاف کړل سوى دى، بېشکه ته ښيي

مَنْ تَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ. رواه مسلم

چا ته چي ستا خوښه سي سيده لاره. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱\ ۵۳۴، رقم: ۲۰۰- ۷۷۰.

د خوب څخه د کښينستو وروسته تسبيح او د هغه فضيلت

﴿۱۱۴۵﴾: وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبادة بن صامت رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

مَنْ تَعَارَّ مِنَ اللَّيْلِ فَقَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ

څوک چې د شپې د خوب څخه راوېښ سي نو دا دعاء دي غواړي : (د الله څخه پرته بل د عبادت وړ نسته هغه یوازي دی هغه څوک شریک نه لري پاچاهي د هغه ده او د هغه لپاره دي

اَلْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ وَسُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَآ إِلٰهَ إِلاَّ اللهُ وَاللهُ

هر ډول تعریف او هغه پر هر شي واکدار دی او الله ﷻ د هر عیب څخه پاک دی او ټول تعریفونه الله ﷻ لره دي د هغه څخه پرته بل د عبادت وړ نسته او الله ﷻ

أَكْبَرُ وَلاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللهِ ثُمَّ قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِيْ أَوْ قَالَ ثُمَّ دَعَا اسْتُجِيْبَ

ډیر لوی دی د عبادت توان او د ګناه څخه د خلاصون توان د الله ﷻ په مرسته دی) د دې وروسته دي دا ووايي : اې الله ﷻ! ما وبخښې ، بیا رسول الله ﷺ دا وفرمایل چې بیا دي دا دعاء وکړي قبوله به سي

لَهُ فَإِنْ تَوَضَّأَ وَصَلّٰى قُبِلَتْ صَلاَتُهُ. رواه البخاري .

او که اودس وکړي نو لمونځ دي وکړي لمونځ به يې قبول سي . بخاري.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۳۹\۳، رقم: ۱۱۵۴.

د لغاتو حل: (تَعَارَ): انتبه من النوم : (د خوبه را پاڅېدل).

تشریح : د (تعار) معنی ځینو د خوب څخه د کښېښستو او ځینو د اړخ بدلېدو اخیستې ده، او ابن مالک رحمة الله علیه ددې معنی په بړغ سره د کښېنستلو لیکلې ده ځرنګه چې د کښېنستو په وخت کي د خولې څخه آواز وځي نو رسول الله ﷺ دا خوښ کړی او غوره ګرځولی دی چې د وېښېدو څخه وروسته کوم آواز د خولې څخه وځي هغه دي د تسبیح وغیره آواز وي، د الله تعالی سره تعلق لرونکي چې د خوب څخه کښېنيني نو د هغوی د خولې څخه کلمه یا دا ډول د تسبیح او دعاء آواز راوځي ، ځینو حضراتو لیکلي دي چې هغه دعاء چې د خوب څخه د وېښېدو وروسته ویل کیږي هغه ته (درهم الکیس) وایي یعني ځرنګه چې یو سړی درهم او روپۍ په کڅوړه کي اچوي او کله چې غواړي د هغه څخه يې راکاږي چې په هغه سره د هغه اړتیا پوره سي همداسي دا دعاء چې د مؤمن په زړه او دماغ کي محفوظ وي کله چې هغه د خوب څخه راکښېني او دا دعاء هغه د خولې څخه راوباسي نو هغه د الله تعالی په دربار کي د قبولیت درجه تر لاسه کوي .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د ویښېدو په وخت کې د رسول الله ﷺ دعاء

﴿۱۱۴۶﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَيْقَظَ

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چې کله به رسول الله ﷺ را ویښ سو

مِنَ اللَّيْلِ قَالَ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ سُبْحَانَكَ اَللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ اسْتَغْفِرُكَ لِذَنْبِي

د شپې نو دا کلمات به يې ويل: (اې الله! ستا څخه پرته بل د عبادت وړ نسته ته پاک يې، اې الله! زه ستا پاکي بيانوم او د خپلو ګناهونو بخښنه غواړم

وَأَسْأَلُكَ رَحْمَتَكَ اَللّٰهُمَّ زِدْنِيْ عِلْمًا وَلاَ تُزِغْ قَلْبِيْ بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنِيْ وَهَبْ لِيْ مِنْ لَّدُنْكَ رَحْمَةً إِنَّكَ أَنْتَ الْوَهَّابُ . رواه أبو داود .

او ستا څخه ستا د رحمت غوښتونکی يم، اې الله! زما علم زيات کړې د هدايت راکولو څخه وروسته زما په زړه کې کوږوالی پيدا مه کړې او د خپل لوري څخه زما لپاره رحمت راکړې ته ډير بخښونکی يې) ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داؤد: ۳۰۶/۵، رقم: ۵۰۶۱.

د ویښېدو وروسته د ذکر فضيلت

﴿۱۱۴۷﴾: وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

مَامِنْ مُسْلِمٍ يَبِيْتُ عَلَى ذِكْرٍ طَاهِرًا فَيَتَعَارُ مِنَ اللَّيْلِ فَيَسْأَلُ اللهَ خَيْرًا إِلاَّ أَعْطَاهُ اللهُ إِيَّاهُ . رواه أحمد وأبو داود .

کوم څوک چې د اوداسه په حالت کې د الله جل جلاله په ذکر کولو کې بيده سي او بيا د شپې راکښېني او د الله څخه د خير دعاء وغواړي نو الله تعالی به د دين او دنيا خير ورکړي. احمد. ابوداؤد.

تخريج: الامام احمد في مسنده ٥\٢٤١، وابوداؤد ٥\٢٩٦، رقم: ٥٠٤٢.

د تهجد د لمانځه مخکې تسبيح او دعاء

﴿۱۱۴۸﴾: وَعَنْ شَرِيْقِ الْهَوْزَنِيِّ قَالَ دَخَلْتُ عَلٰى عَائِشَةَ فَسَأَلْتُهَا بِمَ كَانَ

د حضرت شريق الهوزني رحمه الله څخه روايت دی چې زه د بي بي عائشې رضي الله عنها په خدمت کې حاضر سوم او پوښتنه مې وکړه چې

رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْتَتِحُ إِذَا هَبَّ مِنَ اللَّيْلِ فَقَالَتْ سَأَلْتَنِيْ

رسول الله ﷺ به د شپې راويښ سو نو د کوم عبادت څخه به يې شروع کول ؟ بي بي عائشې رضي الله عنها ورته وويل: تا زما څخه پوښتنه وکړه

عَنْ شَيْءٍ مَا سَأَلَنِيْ عَنْهُ أَحَدٌ قَبْلَكَ كَانَ إِذَا هَبَّ مِنَ اللَّيْلِ كَبَّرَ عَشْرًا وَّحَمِدَ

د هغه شي چې تر اوسه پوري داسې پوښتنه چا نه وه کړې، رسول الله ﷺ چې به د شپې راکښېنستی نو لس واره به يې الله اکبر وايه،

اللّٰهَ عَشْرًا وَقَالَ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ عَشْرًا وَقَالَ سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْقُدُّوْسِ

لس واره به يې الحمد لله ويل، لس واره به يې سبحان الله وبحمده ويل، او ويل به يې سبحان الملک القدوس

عَشْرًا وَاسْتَغْفَرَ عَشْرًا وَهَلَّلَ عَشْرًا ثُمَّ قَالَ اللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنْ ضِيْقِ

لس واره او استغفار لس واره او لا اله الا الله لس واره بيا به يې لس واره دا کلمات ويل: (اې الله ! زه پناه غواړم د تنګئ څخه

الدُّنْيَا وَضِيْقِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ عَشْرًا ثُمَّ يَفْتَتِحُ الصَّلَاةَ. رواه أبو داود.

د دنيا او د قيامت د ورځې د تنګئ او سختئ څخه د دې وروسته به يې لمونځ پيل کړ ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داؤد ٥\٣٢٢ - ٢٣٢، رقم: ٥٠٨٥.

تشريح: د صوفيانو په نزد دلته لس تسبيحات دي چې اووه اووه واره ويل کيږئ او هغو ته د دوی په اصطلاح کې (مسبعات عشره) وايي، په دې حديث کې اووه تسبيحات دي چې هغه

لس لس واره ويل يې ذكر سوي دي ، د صوفيانو په اصطلاح كي د (مسبعات عشره) په مقابله كي د محدثينو كرامو په نزد په دغه حديث كي ذكر سوي تسبيحات او د هغه شمير ته (معشرات سبعه) وايي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د شپې اذكار

﴿۱۱۴۹﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ

د حضرت ابو سعيد رضي الله عنه څخه روايت دی چي كله به رسول الله ﷺ د لمانځه لپاره راكښېنستی

مِنَ للَّيْلِ كَبَّرَ ثُمَّ يَقُوْلُ سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالَى

د شپې نو الله اكبر به يې وايه او بيا به يې دا ويل : (سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالَى

جَدُّكَ وَلَا إِلٰهَ غَيْرُكَ ثُمَّ يَقُوْلُ اللهُ أَكْبَرُ كَبِيْرًا ثُمَّ يَقُوْلُ أَعُوْذُ بِاللهِ السَّمِيْعِ

جَدُّكَ وَلَا إِلٰهَ غَيْرُكَ) بيا به يې (اَللهُ اَكْبَرُ كَبِيْرًا) وايه او ددې وروسته به يې دا ويل : (أَعُوْذُ بِاللهِ السَّمِيْعِ

الْعَلِيْمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ مِنْ هَمْزِهِ وَنَفْخِهِ وَنَفْثِهِ. رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي و زاد ابوداؤد بعد قوله غيرك ثم يقول لااله الاالله ثلثا وفي آخر الحديث ثم يقرا.

الْعَلِيْمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ مِنْ هَمْزِهِ وَنَفْخِهِ وَنَفْثِهِ). ترمذي، ابوداؤد، نسائي، ابوداؤد د (غيرک) څخه وروسته دا الفاظ زيات كړي دي چي بيا به رسول الله ﷺ درې واره (لااله الاالله) ويل، او حديث په پای كي دي چي بيا به يې قرائت وايه.

تخريج: سنن الترمذي ۲\۹-۱۰، رقم: ۲۴۲، وابوداؤد ۱\۴۹۰، رقم: ۷۷۵. والنسائي: ۲\۱۲۲، رقم: ۸۹۹

﴿۱۱۵۰﴾: وَعَنْ رَّبِيْعَةَ بْنِ كَعْبِ الْأَسْلَمِيِّ قَالَ كُنْتُ أَبِيْتُ عِنْدَ حُجْرَةِ النَّبِيِّ

د حضرت ربيعة رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما به د رسول الله ﷺ د حجرې سره نژدې شپه تيرول،

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكُنْتُ أَسْمَعُهُ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ يَقُوْلُ سُبْحَانَ رَبِّ

رسول الله ﷺ چي به د شپې را كښېنستى نو ما به آواز واوريدى چي رسول الله ﷺ به تر ډيره وخته پوري (سُبْحَانَ رَبِّ

الْعَالَمِيْنَ الْهَوِيَّ ثُمَّ يَقُوْلُ سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ الْهَوِيَّ . رواه النسائي وللترمذي نحوه وقال هذا حديث حسن صحيح .

الْعَالَمِيْنَ) وايه، بيا به يې تر ډيره وخته پوري ويل (سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ) نسائي ،ترمذي.

تخريج: سنن النسائي ۳\۲۰۹، رقم: ۱۷۱۶. والترمذي ۵\۴۴۸، رقم: ۳۴۱۶.

د لغاتو حل: (الهَوِي): هو الزمن الطويل، وقيل: انه مختص بالليل. مرقات. (اوږد مهال).

===========

بَابُ التَّحْرِيْضِ عَلٰى قِيَامِ اللَّيْلِ

د شپې د عبادت د ترغيب بيان

د قيام الليل مطلب دادى چي په شپه كي د الله تعالى په عبادت مثلا تهجد، ذكر وغيره كي بوخت اوسيدل، له دې كبله (قائم الليل) هغه خوشبخته او باسعادت خلكو ته ويل كيږي چي د شپې په پورته كېدو سره د خپل پروردګار عبادت او د هغه په ذكر كي بوخت وي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړى فصل)

د شيطان چمبازي

﴿۱۱۵۱﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْقِدُ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : غوټې وركوي

الشَّيْطَانُ عَلٰى قَافِيَةِ رَأْسِ أَحَدِكُمْ إِذَا هُوَ نَامَ ثَلَاثَ عُقَدٍ يَضْرِبُ عَلٰى كُلِّ

شيطان په تاسو كي د يو چا څټ ته درې غوټې كله چي هغه بيده سي او د هرې غوټې پر وخت دا

(وسوسه) وراچوي چي

عُقْدَةٍ عَلَيْكَ لَيْلٌ طَوِيلٌ فَارْقُدْ فَإِنِ اسْتَيْقَظَ فَذَكَرَ اللّٰهَ انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ فَإِنْ

شپه لا ډېره پاته ده بيده سه ، كه هغه بيده راكښېني او د الله ﷻ ذكر كوي نو يوه غوټه خلاصه سي او كه

تَوَضَّأَ انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ فَأَصْبَحَ نَشِيطًا طَيِّبَ النَّفْسِ وَإِلاَّ أَصْبَحَ خَبِيثَ النَّفْسِ كَسْلاَنَ. متفق عليه

هغه اودس كوي نو د وهمه غوټه هم خلاصه سي بيا چي هغه لمونځ كوي نو دريمه غوټه هم خلاصه سي نو دى سهار ښه خوشحاله او پاك نفس وي او كه نه راكښيني د الله ﷻ ذكر ونه كړي نو هغه په دې حالت كي سهار راكښيني چي سست او ناپاك وي . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۲۴، رقم: ۱۱۴۲. ومسلم ۱\ ۵۳۸، رقم: ۲۰۷- ۷۷۶.

تشريح : د غوټي په معنى او مطلب كي اختلاف دى ، د ابن مالك رحمة الله عليه قول دا دى چي د غوټي څخه مراد د سستى. غوټه ده يعني شيطان په خپل چمو سره په شپه كي د الله تعالى د عبادت لپاره پورته كېدونكو لپاره د سستى. باعث جوړېږي ، د ميرك شاه رحمة الله عليه د قول سره سم ځيني علماء دا وايي چي دا پر حقيقت باندي محمول دى يعني شيطان مردود واقعا د بيده كيدونكي غاړه غوټه كوي لكه څرنګه چي جادوګر د جادو كولو په وخت كي يو تا ته غوټه وركوي د دې تائيد د يوه روايت څخه هم كيږي چي په مرقات كي منقول دى .

د ځينو حضراتو وينا ده چي دا پر مجاز باندي محمول دى لكه څرنګه چي غوټه وركول د ساحر كار دى هغه د دې په ذريعه مسحور د هغه د مراد څخه منعه كوي په دې سره بيده كيدونكي ته په شپه كي د لمانځه كولو او د الله ﷻ په ذكر كي د بوخت كېدو سره د شيطان په منعه كولو سره مشابهت وركړل سوى دى يعني څرنګه چي يو ساحر د سحر په وخت كي يو تا ته په غوټه وركولو سره هغه د خپل مقاصدو څخه منعه كوي په دې توګه چي د مسحور عملي قوتونه مفلوج سي همداسي شيطان هم په شپه كي بيده د خپلو مكرو په ذريعه د ذكر الله او په عبادت كي د بوخت كېدو لپاره د پورته كولو څخه منعه كوي .

د ځينو علماؤ قول دا دى چي د دې څخه مراد د زړه غوټه او د شيطان له خوا بيده سړي پر يو شي مصمم او قائمول دي يعني شيطان د بيده په زړه كي دا وسوسه اچوي او د دې خبري يقين

ورکوي چي اوس لا شپه ډيره پاته ده بيده سه نو هغه د شيطان په فريب کي اخته سي او په پورته کېدو سره د لمانځه څخه منعه سي.

د حديث د آخري برخي مطلب دا دی چي کوم سړی په شپه کي د شيطان په مکر او فريب کي نه وموښلي بلکه پر وخت پورته کېدو سره تهجد لمونځ او د الله په ذکر کي بوخت سي نو هغه سهار د ځان سره خوشبختي، پاک نفسي او د پاکۍ سعادتونه راوړي چي د هغه په وجه هغه ټول ورځ د الله تعالی د رحمتونو په سايه کي وي او د هغه زړه او د ماغ د هر ډول بيري او خطرې څخه بې پرواه او ددين او دنيا په امورو کي په اطمينان سره وي، ددې بر خلاف کوم سړی چي د شيطان د فريب ښکار سي او د هغه د مکر په جال کي وموښلي چي د هغه په وجه نه خو هغه د شپې په پورته کېدو د الله تعالی ذکر کوي او نه په تهجد لمانځه کي بوخت کيږي بلکه بيده وي نو د هغه لپاره سهار په خپل لمن کي سستي، غفلت او د چټل نفس بار راوړي چي د هغه په وجه هغه ټوله ورځ چټل نفس، غمجن، متفکر او د خپلو کارو په پای ته رسولو کي حيران او پريشان وي، يعني د سستۍ او غفلت په وجه هغه چي د کوم کار اراده کوي نو په هغه کي ناکام او بد زړه وي ځکه چي هغه د شيطان د مکر او فريب په جال کي مقيد او د قرب الهي د رحمتونو څخه ليري وي.

دنبي کريم ﷺ اکثر عبادت د شکر لپاره وو

﴿۱۱۵۲﴾: وَعَنِ الْمُغِيْرَةَ قَالَ قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى تَوَرَّمَتْ

د حضرت مغيرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د شپې دومره اوږده ولاړه وکړه چي

قَدَمَاهُ فَقِيلَ لَهُ لِمَ تَصْنَعُ هٰذَا وَقَدْ غَفَرَ اللّٰهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا

پښې مبارکي يې وپړسيدلې، صحابه کرامو عرض وکړ اې د الله رسوله! تاسو داسي ولي کوئ ستاسو خو مخکي او

تَأَخَّرَ قَالَ أَفَلَا أَكُونُ عَبْدًا شَكُورًا. متفق عليه

وروسته ټول گناهونه بخښل سوي دي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ايا زه شکر گزار بنده جوړ نه سم. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۸/۵۸۴، رقم: ۴۸۲۶. ومسلم ۱۴/۲۱۷۱، رقم: ۷۹-۲۸۱۹.

تشریح : د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب دادی چي الله تعالی زما ټول ګناهونه بخښلي دي او زه د دين او دنيا تر ټولو اعلی مقام باندي فائز کړی يم نو ايا زما حق دادی چي زه د عبادت په محنت او مشقت کولو سره د هغه الله جل جلاله چي زه يې په خپل بې شميره رحمتونو او نعمتونو مشرف کړی يم شکر کوونکی جوړ نسم، نه بلکه الله جل جلاله چي د مغفرت او بخښني کوم نعمت ما ته راکړی دی او کوم لامحدوده او بې پايه نعمتونو سره يې زه نازولی يم د هغه سره سم پر ما فرض دي چي زه د هغه د خوښۍ او رضا تر لاسه کولو لپاره زيات محنت او مشقت وکړم او زيات عبادت وکړم چي د هغه شکر کونکی بنده جوړ سم.

د عبادت په اړه د حضرت علي رضي الله عنه مقوله

د حضرت علي رضي الله عنه ذات په علم، فضل، ذهانت او عقل په اعتبار په پوره امت کي د امتياز مقام ورته حاصل دی، د عبادت په اړه چي هغه کومه تجزيه فرمايلې ده او کومه رايه يې قائمه کړې ده هغه واورئ او د ځان لپاره يې دلاري مشال وګرځوئ، فرمايي : کومو خلکو چي د نعمتونو طلب يعني د جنت ارزو او ثواب په ارمان کي عبادت وکړنو داسي عبادت د سوداګرو عبادت دی او کومو خلکو چي د عذاب الهي او د دوږخ د بيري څخه عبادت وکړنو هغه د غلامانو عبادت دی او کومو خلکو چي د خپل مولی د ورکړي نعمتونو د شکر ادا کولو لپاره عبادت وکړنو هغه د آزادو خلکو عبادت او دا عبادت تر ټولو د لوړي درجي عبادت دی.

د شپې د عبادت نه کوونکي بدي

﴿۱۱۵۳﴾ : وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ ذُكِرَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ په وړاندي د يو سړي يادونه وسول چي

فَقِيْلَ لَهُ مَا زَالَ نَائِمًا حَتّٰى اَصْبَحَ مَا قَامَ اِلَى الصَّلٰوةِ قَالَ ذَالِكَ رَجُلٌ بَالَ

هغه ټوله شپه بيده پروت وي او تر سهاره نه کښيني او نه لمانځه ته کښيني، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : بولي کوي

الشَّيْطَانُ فِيْ اُذُنِهٖ اَوْ قَالَ فِيْ اُذُنَيْهِ. متفق عليه

شيطان د هغه په غوږ کي يا د هغه په دواړو غوږو کي بولي کوي. بخاري او مسلم.

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\۲۸، رقم: ۱۱۴۴، ومسلم: ۱\۵۳۷، رقم: ۲۰۵- ۷۷۴.

تشريح : د لمانځه څخه مراد د تهجد لمونځ هم کیدای سي او د سهار لمونځ هم یعني یا خو به هغه سړی د تهجد د لمانځه لپاره نه پورته کیدی یا دا چي د سهار لمونځ به ځیني قضا کیدی ، په هر حال د شیطان د بولو په باره کي ځیني علماؤ ویلي دي چي حقیقتا داسي کیږي ، د ځینو صالحینو په اړه منقول دي چي یو وار د هغه سترګي ولغړیدلې چي د هغه په وجه لمونځ یې نه وکړ نو هغه په خوب کي ولیدل چي یو سړی چي تور رنګ یې وو راغلی خپل پښه یې پورته کړه او د هغه په غوږ کي یې بولي وکړې.

ځیني حضرات وایي چي د شیطان بولي کول د دې خبري کنایه ده چي شیطان داسي سړی حقیر او ذلیل ګڼي ځکه چي دا قاعده ده ځکه چي کوم سړی یو شي حقیر او کم ګڼي نو پر هغه بولي کوي.

د ښځو لپاره د تهجد لمونځ

﴿۱۱۵۴﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ اسْتَيْقَظَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةً

د حضرت ام سلمة رضي الله عنها څخه روایت دی چي یوه شپه رسول الله ﷺ د خوب څخه راکښېنستی

فَزِعًا يَّقُوْلُ سُبْحَانَ اللهِ مَاذَا أُنْزِلَ اللَّيْلَةَ مِنَ الْخَزَائِنِ وَمَاذَا أُنْزِلَ مِنَ

په بیره کي او داسي یې ویل : (الله پاک دی په نن شپه کي څومره خزاني او څومره فتنې نازلي کړل سوې)

الْفِتَنِ مَنْ يُّوْقِظُ صَوَاحِبَ الْحُجُرَاتِ يَرِيْدُ أَزْوَاجَهُ لِكَيْ يُصَلِّيْنَ رُبَّ كَاسِيَةٍ

بیا رسول الله ﷺ وفرمایل : څوک نسته چي حجرې والا را پورته کړي (یعني خپلي بیبیاني) چي هغوی لمونځ وکړي ځکه ډیري ښځي دي

فِي الدُّنْيَا عَارِيَةٌ فِي الآخِرَةِ. رواه البخاري.

چي په دنیا کي به جامې اغوستونکي وي مګر په آخرت کي به لوڅي وي. بخاري.

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۲۰، رقم: ۷۰۶۹.

تشريح : د حدیث د لومړنۍ برخي مطلب دا دی چي کومي خزانې او مال او دولت د رسول الله ﷺ د امت تر لاسه کیدل سوي وو چي د کوم امتي په قسمت کي څومره دولت لیکلی دی په دې شپه کي د هغه نازلیدل رسول الله ﷺ ته معلوم سوي وه ، همداسي په دې امت کي چي څومره فتنې مقدر

سوي وي هغه هم په دغه شپه کي رسول الله ﷺ ته معلومي سوي وي.
ملا علي قاري رحمة الله عليه او نور علماء فرمايي چي په حديث کي د خزانو څخه مراد د الله تعالی رحمت او د فتنو څخه مراد د هغه عذاب دی.

د ښځو لپاره سزا

د حديث د آخري برخي څو مطلبه دي:

۱. اول دا چي اکثر ښځي په دنيا کي ډول ډول او ښه جامې اغوندي او په هغه فخر کوي حال دا چي د هغوی به دا حال وي چي د الله تعالی د حکم نه منلو په وجه هغوی به په آخرت کي د نيکو اعمالو څخه خالي وي.

۲. دوهم دا چي اکثر ښځي د خوب جامې اغوندي يعني د خوب د غفلت په وجه د الله تعالی د ياد څخه غافلي وي او د هغه نتيجه دا وي چي په آخرت کي به د ښه او لوړو درجو څخه خالي وي.

۳. دريم دا چي اکثر ښځي بدن ښکاره کوونکي داسي جامې اغوندي چي هغوی به په دنيا کي او حقيقتا بدن پټ کړی وي مګر د آخرت د حکم په اعتبار به هغوی لوڅي وي يعني کومي جامې چي په ليدو کي ښکلي او نازکي معلوميږي لکه د جالۍ نائيلو وغيره جامې چي د هغه د ښځو لپاره استعمال د شريعت له مخي ممنوع دی داسي جامو والا ښځي به په آخرت کي لوڅي وي.

د دې حديث څخه هغه ښځو ته په خاصه توګه عبرت تر لاسه کول پکار دي چي د نن سبا د فيشن په زمانه کي د جامو په اړه د زيات بې لاري کېدو او غير شرعي طريقې يې اختيار کړي دي او داسي جامي استعمالوي چي د الله تعالی او د هغه د رسول د مرضۍ خلاف او د آخرت د عذاب سبب دي، ميندي او خويندي دي په خلاصو غوږو سره واوري چي دنيا که څه هم زياته فيشن والا سي تهذيب او تمدن که هر څومره عروج ته ورسيږي او د انسان ذهني او فکري او عملي ترقي که څه هم سپوږمۍ تابع کړي مګر اسلام او د پيغمبر اسلام هغه فرمان چي څلورلس سوه کاله مخکي جاري سوی وو نن هم په پوره توګه سره موجود دی د هغه ارزښت او پر هغه د عمل کولو سختوالی په هيڅ حالت کي هم ختميدای نسي، د اسلامي او شرعي احکامو د قيانوسيت په الفاظو سره په مخصرو کولو سره د فيشن په نوم اخيستلو سره که يوه ښځه خپل ظاهري ژوند او د دنيا په نظر کي جاذب نظر او عصري او معزز جوړ کړي مګر هغې ته ياد ساتل

پکار دي چي ددنيا په دغه يو څو ورځو ژوند او د اوسني فيشن فاني کېدو سره يوه ورځ هغې ته د الله تعالى په دربار کي رسيدل دي چي غفار او رحيم ذات جبار او قهار هم دی او بيا به هلته هغوی د خپلو بد عملو جواب ورکوي.

د الله تعالى د رحمت د نزول وخت

﴿۱۱۵۵﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْزِلُ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: نزول کوي

رَبُّنَا تَبَارَكَ وَتَعَالَى كُلَّ لَيْلَةٍ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا حِينَ يَبْقَى ثُلُثُ اللَّيْلِ الْآخِرُ

الله جل جلاله هره شپه د دنيا آسمان ته د شپې په آخري دريمه برخه کي

يَقُولُ مَنْ يَدْعُونِي فَأَسْتَجِيبَ لَهُ وَمَنْ يَسْأَلُنِي فَأُعْطِيَهُ وَمَنْ يَسْتَغْفِرُنِي

او فرمايي: څوک سته چي زما څخه سوال وکړي چي زه يې سوال قبول کړم، څوک سته چي زما څخه بخښنه وغواړي

فَأَغْفِرَ لَهُ. متفق عليه ، و في رواية لمسلم ثم يبسط يديه يقول من يقرض غير عدوم و لاظلوم حتى ينفجر الفجر .

او زه يې و بخښم، (بخاري او مسلم) د مسلم په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي بيا الله جل جلاله د (لطف او رحمت) لاسونه خلاص کړي او وايي څوک دی چي داسي ذات ته پور ورکړئ چي نه خو فقير او نه ظالم دی نو تر سهار کيدو پوري الله جل جلاله داسي فرمايي.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۳\۲۹، رقم: ۱۱۴۵ ومسلم ۱\۵۲۱، رقم: ۱۶۸- ۷۵۸.

تشريح: د (ينزل ربنا) مطلب څرګند دی، داسي نسي کيدای چي الله تعالى خپله د دنيا آسمان ته راکښته کيږي ځکه چي هغه د جسم د ثقالت څخه پاک دی او يو داسي نور دی چي هر وخت د کائناتو پر ذره ذره باندي محيط دی او د يو خاص ځای او وخت پابند نه دی.

لکه څرنګه چي علامه ابن حجر او امام مالک رحمة الله عليهما ددې په تاويل کولو سره دا مطلب بيان کړی دی چي د الله تعالى رحمت يا د هغه ملائکي هغه وخت د دنيا آسمان ته راکښته کيږي او د الله تعالى د لوري دا اعلان کوي، ددې تائيد د يو صحيح حديث څخه هم کيږي چي

په مرقات كي مذكور دى ، يا دا به ويل كيږئ چي دا ارشاد د متشابهاتو څخه دى چي د هغه حقيقي معنى او مطلب باندي الله تعالى ښه پوهيږي .

(من يدعوني) د دعاء په معنى دى ، بلل، آواز، نعرې، خواهش، غوښتنه ، زارى، فرياد ، استغاثه لكه بنده ووايي يارب ددې په مقابله كي اجابت او قبوليت كيږئ لكه څرنګه چي پروردګار د بنده ددې نارې په جواب كي فرمايي : لبيک عبدي .

من يسالني د سوال په معنى دى ، يو شى غوښتل او د هغه طلب كول او ددې په مقابله كي د سوال پوره كول وي يعني كوم شى چي وغوښتل سي او طلب كړل سي د هغه وركول ، دا حديث د هغه روايت خلاف نه دى چي په هغه كي منقول دي چي الله تعالى د دنيا آسمان ته نزول فرمايي كله چي اوله برخه شپه تيريږي او د هغه روايت هم خلاف نه دى چي په هغه كي منقول دي چي هغه وخت نزول فرمايي كله چي نيمه شپه يا دريمه برخه شپه تيريږي ځكه احتمال دى چي په ځينو صورتو كي نزول د شپې په آخري برخه كي وي او په ځينو شپو كي په اوله برخه كي وي او په ځئنو شپو كي د شپې د نيمي برخي يا دريمه برخي تيرېدو وروسته وي .

من يقرض : يعني څوک سته چي قرض وركړي، ددې مطلب دادى چي څوک سته چي د قرض په توګه او د جزا اخيستو په توګه بدني او مالي عبادت الله تعالى ته وركړي چي نه خو فقير دى او نه د بخښني څخه عاجز دى او دا چي نه ظلم كونكى دى چي خپل عهد پوره نه كړي يا كم ثواب وركړي ، يعني په دې طريقې سره مسلمانانو ته په دنيا كي د نيكو او صالح عملو كولو ترغيب وركول كيږي چي هغه څوک خوشبخته او باسعادت مسلمان دى چي د آخرت سعادتونه او راحتونه او د هغه ځاى د ثواب په اميد كي د هغه غني پروردګار لپاره په دنيا كي نيک عمل وكړي چي د هغه حق يعني په آخرت كي د دنيا د نيک عمل په ثواب وركولو كي عاجز نه دى او كوم خوشبخته او باسعادت مؤمن دى چي هغه د عادل الله لپاره په دنيا كي نيک عمل وكړي چي د پور وركونكي سره د ظلم معامله نه كوي يعني كوم شى چي د هغه په دربار كي وړاندي كيږي په هغه كي كمي او نقصان كولو سره نه ستنيږي بلكه د هغه شان عدل او رحمت خو دادى چي په هغه كي څو برابر زياتوب وركوي .

په دې اړه دا خبره په خاصه توګه د فكر وړ ده چي دلته د الله تعالى تعريف په دې توګه سوى دى چي د هغه ذات څخه ددې دواړو صفتو فقر او ظلم نفي سوې ده ځكه چي د پور د ستنېدو په اړه دا دواړه صفتونه حائل كيږي كه څوک عاجز او فقير وي نو هغه د پور د ستنېدو څخه معذور وي كه يو سړى ظالم وي نو هغه د خپل ظلم په وجه د پور پوره ادا كول نه كوي بلكه

په هغه کي کمي او تاوان کولو سره ستنوي او د الله تعالى ذات مبارک ددې دواړو صفتونو څخه پاک دی نه خو هغه ظالم دی او نه هغه عاجز او فقير دی بلکه عادل او غني دی ، نو ددې مطلب دا سو چي کوم سړی په دنيا کي نيکي کوي او نيک عمل کوي هغه به الله تعالى سره په عقبا کي پوره جزا او ثواب تر لاسه کوي .

په هره شپه کي د قبوليت يو ساعت

﴿۱۱۵۶﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَقُوْلُ إِنَّ فِي اللَّيْلِ لَسَاعَةً

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي فرمايل يې: په شپه کي يو ساعت راځي

لاَ يُوَافِقُهَا رَجُلٌ مُسْلِمٌ يَسْأَلُ اللّٰهَ فِيْهَا خَيْرًا مِنْ اَمْرِ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ إِلاَّ

که په هغه کي يو مسلمان د دين او دنيا د خير د عاء وکړي

أَعْطَاهُ إِيَّاهُ وَذَالِكَ كُلَّ لَيْلَةٍ. رواه مسلم

نو الله تعالى يې ورکوي او دا ساعت هره شپه وي . مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۵۲۱، رقم: ۱۶۶- ۷۵۷.

تشريح: مطلب دا دی چي په هره شپه کي يو ساعت خامخا راځي چي د قبوليت زيری په لمن کي راوړي د کوم باسعادت او خوشبخت مسلمان چي هغه ساعت په برخه سي او په هغه کي د الله تعالى په وړاندي يو دنياوي يا اخروي خير لپاره درخواست وړاندي کړي نو هغه قبول او کامياب کيږي او د هغه درخواست د الله تعالى په دربار کي د قبوليت درجه تر لاسه کوي .

د قبوليت او د الله تعالى د لوري ورکړه او بخښنه حکما هم کيدای سي او حقيقتا هم ، د قبوليت د ساعت په تعين کي د علماؤ اختلاف دی ، ځيني حضرات وايي چي دا ساعت مبهم دی لکه ليلة القدر او د جمعې ساعت چي په هغه کي د يو خاص وخت په باره کي څه نسي ويل کيدای چي هغه ساعت په فلاني وخت کي راځي ، همداسي په هره شپه کي هم د قبوليت د ساعت يو خاص وخت ټاکلی نه دی بلکه يو وخت هم راتللای سي ، او ځيني علماء وايي چي د نيمي شپې وخت د قبوليت ساعت دی . والله اعلم .

د حضرت داؤد علیه السلام لمونځ او روژه

﴿۱۱۵۷﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل :

أَحَبُّ الصَّلَاةِ إِلَى اللّٰهِ صَلَاةُ دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَأَحَبُّ الصِّيَامِ إِلَى اللّٰهِ صِيَامُ

د الله تعالی په نزد تر ټولو غوره لمونځ د حضرت داؤد علیه السلام او تر ټولو غوره روژه هم د حضرت داؤد علیه السلام ده ،

دَاوُدَ كَانَ يَنَامُ نِصْفَ اللَّيْلِ وَيَقُوْمُ ثُلُثَهُ وَيَنَامُ سُدُسَهُ وَكَانَ يَصُوْمُ يَوْمًا وَيُفْطِرُ يَوْمًا . متفق عليه

حضرت داؤد علیه السلام به نیمه شپه خوب کوی او دریمه برخه د شپې به یې عبادت کوی او بیا د شپې شپږمه برخه به یې ارام کوی او یوه ورځ به یې روژه نیول او یوه ورځ به یې ماتول. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۳\۱۶، رقم: ۱۱۳۱، ومسلم ۲\۸۱۶، رقم: ۱۸۹- ۱۱۵۹.

تشریح: مطلب دادی چي الله تعالی ته د حضرت داؤد علیه السلام د لمانځه او روژې طریقه ډیره خوښه وه ځکه په دې طریقه سره نفل لمونځ کول او نفل روژې نیول د الله تعالی په نزد ډیر خوښ دي ، په پورتنۍ طریقه سره د شپې لمونځ الله تعالی ته ډیر خوښ ځکه دی چي کله یو سړی د شپې دوې حصې خوب وکړي او د هغه نفس دومره آرام وکړي نو د هغه عبادت په پوره فرحت او د زړه او دماغ په پوره خوشحالي سره ادا سي ، همداسي په پورتنۍ طریقې سره روژې نیول هم ځکه خوښي دي چي په دې کي نفس ته ډیر زیات مشقت وي کوم چي د عبادت حاصل دی .

د شپې په عبادت کي د رسول کریم ﷺ طریقه

﴿۱۱۵۸﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ تَعْنِيْ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنَامُ

د حضرت عائشې رضی الله عنها څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به بېدېدی

أَوَّلَ اللَّيْلِ وَيُحْيِيْ آخِرَهُ ثُمَّ إِنْ كَانَتْ لَهُ حَاجَةٌ إِلَى أَهْلِهِ قَضٰى حَاجَتَهُ ثُمَّ

په اول د شپې کي او آخري برخه د شپې به ویښ وو ، بیا که به د رسول الله ﷺ خپلو ازواجو ته د

ورتلو ضرورت وو نو خپل ضرورت به يې پوره کوى او بيا به

يَنَامُ فَإِنْ كَانَ عِنْدَ النِّدَاءِ الْأَوَّلِ جُنُبًا وَثَبَ فَأَفَاضَ عَلَيْهِ الْمَاءَ وَإِنْ

بېدېدى او د لومړي آذان پر وخت كه به رسول الله ﷺ د جنابت په حال كي وو نو ولاړېدى به غسل به يې كوى

لَمْ يَكُنْ جُنُبًا تَوَضَّأَ لِلصَّلَاةِ ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ. متفق عليه

او كه به د جنابت په حال كي نه وو نو اودس به يې كوى او بيا به يې دوه ركعته لمونځ كوى. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\۳۲، رقم: ۱۱۴۶، ومسلم ۱\۵۱۰، رقم: ۱۲۹- ۷۳۹.

تشريح: په شمائل ترمذي كي د بي بي عائشې ؓ څخه دا روايت په تفصيلي توګه داسي بيان سوى دى چي رسول الله ﷺ به د شپې په لومړنى برخه كي (يعني د ماخستن د لمانځه څخه وروسته تر نيمي شپې پوري) بيده كيدى، په ثلورمي، پنځمي او شپږمي برخه كي به د تهجد د لمانځه لپاره پورته كيدى او كله چي سهار به نژدې سو نو وتر به يې كول او بيا به يې بسترې ته د آرام كولو لپاره تشريف راوړ ځكه چي د تهجد د لمانځه وغيره څخه وروسته د سهار د لمانځه مخكي تر يو څه وخت پوري آرام كول مستحب دي چي د سهار لمونځ او د هغه وروسته اوراد او وظائفو لپاره قوت تر لاسه سي، او بيا كه چيري به رسول الله ﷺ ته به د خپل بي بي سره د كوروالى ضرورت وو نو هغه به يې پوره كړ تر دې چي د سهار د آذان په اورېدو سره به پورته كيدى او كه چيري د ناپاكى په حالت كي به وو نو پر خپل بدن به يې اوبه واچولې او كه به په حالت د ناپاكى كي نه وو اودس به يې كوى او د سهار دوه ركعته سنت په كور كي كولو سره د لمانځه لپاره به يې مسجد ته تشريف وړى.

ددغه تفصيل په رڼا كي د پورتني حديث په لومړنى برخه كي د شپې په لومړنى برخه كي به بيده كيدى او د شپې په آخري برخه كي به پورته كيدى، ددې معنى واضحه سول.

په څرګنده دا معلوميږى چي رسول الله ﷺ د زوجيت د وظيفې څخه د فارغه كېدو وروسته به اودس كوى او د هغه وروسته به بيده كيدى.

د اول آذان څخه مراد آذان متعارف دى او د دوهم آذان څخه اقامت مراد دى.

د حديث د ظاهري الفاظو څخه دا مفهوم اخيستل كيږي چي رسول الله ﷺ به تر نيمي شپې پوري

بیده وو او تر نیمي شپې پوري به د خپل پروردګار په عبادت کي بوخت وو ځکه چي د شپې په لومړنۍ شپږمه برخه کي تر ماخستن پوري به ویښ وو، او بیا د ماخستن څخه وروسته په دوهم او دریم سدس کي به یې آرام کوی، بیا په څلورم او پنځم سدس کي به بیده کیدی، همداسي دړې سدس خو به رسول الله ﷺ بیده کیدی او دړې سدس به ویښ وو.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د تهجد د لمانځه تاکید او فضیلت

﴿۱۱۵۹﴾: عَنْ اَبِيْ اَمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْكُمْ

د حضرت ابو امامه رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: تاسو پر ځان لازم کړئ

بِقِيَامِ اللَّيْلِ فَإِنَّهُ دَأْبُ الصَّالِحِينَ قَبْلَكُمْ وَهُوَ قُرْبَةٌ لَّكُمْ اِلٰى رَبِّكُمْ وَمَكْفَرَةٌ

د شپې لمونځ (تهجد) ځکه دا طریقه د هغه نیکانو خلکو ده چي ستاسو څخه وړاندي وه او د شپې عبادت الله جل جلاله ته د نژدې والي سبب دی او کفاره ده

لِلسَّيِّئَاتِ وَمَنْهَاةٌ عَنِ الْاِثْمِ. رواه الترمذي

د ګناهو او د ګناهو څخه منعه کونکی دی. ترمذي

تخریج: سنن الترمذي ۵\۵۱٦، رقم: ۳۵۴۹.

تشریح: د نیکانو خلکو څخه مراد د مخکنۍ زمانې انبیاء او اولیاء دي، ګویا داسي رسول الله ﷺ د خپل امت خلکو ته تنبیه فرمایي چي تاسو ته دا لمونځ کول پکار دي ځکه چي تاسو د مخکنیو ټولو امتونو څخه غوره او اعلی یاست، دا حدیث دې ته اشاره کوي چي کوم خلک ټول فرض لمنځونه خو کوي مګر د تهجد لمونځ نه کوي نو هغوی د صالحینو په ډله کي شامل نه دي بلکه د هغوی درجه داسي ده لکه څرنګه چي په ظاهري توګه سره د زکوة ورکونکو درجه وي د هغه خلکو په مقابله کي چي په پټه توګه سره هم زکوة ورکوي.

د تهجد کونکي خوشبختي

﴿۱۱٦۰﴾: وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوسعید خدري رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

ثَلَاثَةٌ يَضْحَكُ اللهُ إِلَيْهِمُ الرَّجُلَةُ إِذَا قَامَ بِاللَّيْلِ يُصَلِّيْ وَالْقَوْمُ إِذَا صَفُّوْا فِي

درې کسان دي چي د هغو څخه الله تعالی خوشحاله کيږي او راضي وي يو هغه کس چي د شپې لمونځ وکړي دوهم هغه خلک چي دلمانځه لپاره صفونه برابر کړي

الصَّلَاةِ وَالْقَوْمُ إِذَا صَفُّوْا فِيْ قِتَالِ الْعُدُوِّ. رواه في شرح السنة.

او دريم هغه خلک چي د دښمن په مقابله کي د جنګ لپاره صفونه ترتيب کړي. شرح السنة.

تخريج: البغوي في شرح السنة ۱۴\۴۲، رقم: ۹۲۹.

د شپې په آخره برخه کي د ذکر فضيلت

﴿۱۱۶۱﴾: وَعَنْ عَمْرِو ابْنِ عَنْبَسَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عمرو بن عنبسه رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

أَقْرَبُ مَا يَكُوْنُ الرَّبُّ مِنَ الْعَبْدِ فِي جَوْفِ اللَّيْلِ الْآخِرِ فَإِنِ اسْتَطَعْتَ أَنْ

الله تعالی بنده ته په منځ د شپې په آخري برخه کي زيات نژدې وي که ستا په وس وي چي

تَكُوْنَ مِمَّنْ يَذْكُرُ اللهَ فِي تِلْكَ السَّاعَةِ فَكُنْ. رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن صحيح غريب اسنادا.

ته په دې ساعت کي د الله جل جلاله ذکر وکړې نو ته داسي وکړه، ترمذي ويلي دي چي دا حديث د سند په لحاظ حسن صحيح غريب دی.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۳۲، رقم: ۳۵۷۹.

تشريح: د دې حديث څخه معلومه سوه چي د شپې په آخري برخه له دې کبله افضل او اشرف ده چي هغه په خپل لمن کي د الله تعالی د رحمتونو او مهربانيو خزانې يو ځای کړي وي اوس دا د همت او قسمت خبره ده چي څوک د دغه خزانو څخه مستفيد کيږي او څوک ځيني محروم کيږي، څوک چي سعادت مند وي هغه د شپې په دغه برخه کي په پورته کېدو سره د الله تعالی د رحمت څخه خپل لمن ډکوي او څوک چي بد نصيب وي هغوی د شيطان په مکر او فريب کي راتلو سره

نه یوازي خپل زړه او د ماغ خوب ته حواله کوي بلکه د هغوی سعادت او د هغوی خوشبختي هم د غفلت او سستي نذر کیږي.

په هر حال د پروردګار خپل بنده ته د نژدې کېدو مطلب دادی چي د هغه رضا او خوښي بنده ته نژدې کیږي او د هغه د رحمتونو سایه د بنده سربیره وي.

د آخري نیمي شپې څخه د شپې هغه برخه مراد ده چي د هغه پیل د آخري دریمي برخي څخه کیږئ او هغه وخت د تهجد د لمانځه لپاره د پورته کېدو دی.

عمروبن عنبسه رضي الله عنه چي حدیث روایت کوي د الله تعالی د دربار یو مجذوب او د رسول کریم کریم ﷺ یو مقرب او ذي شان خادم وو د هغه ډېر عظمت او فضیلت دی د نبوت په پیل کي چي کله رسول الله ﷺ په مکه کي د کفر او شرک غاړي د یوه الله په حضور کي د کښېنته کولو په هڅه کي بوخت وو او د رسول کریم ﷺ د تبلیغ پیل سوی وو نو عمروبن عنبسه رضي الله عنه په خپل هیواد کي وو ناڅاپه د هغه په زړه کي د توحید نور وځلیدی او د شرک او بت پرستی نفرت ناکراره کړ او وا یې وریدل چي په مکه کي یو سړی پیدا سوی دی چي خلک د توحید خوا ته رابولي او د بتانو د عبادت څخه یې منعه کوي د دې په اورېدو سره هغه سمدستي قلب مضطر مکې ته په تلو مجبور کړ، مکې ته په رسیدو سره د رسول الله ﷺ په دربار کي یې پوښتنه وکړه، رسول الله ﷺ په هغه زمانه کي د کفارو د سخت مخالفت په وجه د الله تعالی په حکم سره د خپلو دښمانو څخه پټ د الله تعالی د دین تبلیغ او د هغه په عبادت کي بوخت وو، عمرو بن عنبسه رضي الله عنه د خلکو څخه پوښتنه وکړه چي په تاسو کي هغه کوم سړی پیدا سوی دی چي ستاسو د لاري څخه په آخوا کېدو سره بل دین ته خلک رابولي خلکو وویل هو هغه یو لیونی دی چي د خپل پلار او نیکه طریقه یې پرې ایښې ده او یو نوی رواج یې را ایستلی دی،

دیوانه تو هر دو جهان را چه کند　　　دیوانه کني هر دو جهانش بخشي

هغه پوښتنه وکړه چي هغه به چیري وي؟ خلکو ورته وویل هغه سړی نیمه شپه د باندي راوځي او د بیت الله شا خوا ګرځي.

عمروبن عنبسه رضي الله عنه په نیمه شپه کي حرم شریف ته راغلی او د کعبه الله په پرده مبارکه کي پټ و دریدی ناڅاپه یې ولیدل چي یو سړی د تیارو د پردو څیرلو سره د نور یوه دنیا په خپل اړخ کي اخیستې ظاهر سو د هغه سړي سر تر پایه نوراني مخ او د بدن دا عالم وو چي لمر او سپوږمی د هغه په وړاندي شرمنده وه، عمرو سمدستي د پردې د باندي راووتی او څرګند سو، سړي ته یې سلام وکړ او پوښتنه یې وکړه چي تاسو څوک یاست؟ او ستاسو دین څه دی؟

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل زه د الله رسول يم او زما دين لااله الاالله دی، د دې خوشحالۍ څخه عمرو سمدستي وويل زه هم دادين خوښوم نو د رسول الله ﷺ په مخکي يې ايمان راوړ ، همداسي عمرو بن عنبسه رضي الله عنه دريم يا څلورم مسلمان دی يعني د هغه څخه مخکي يوازي دوه يا درې کسانو ايمان راوړی وو .

د دې څخه وروسته رسول الله ﷺ هغه رخصت کړ او وه يې فرمايل : زما پروردګار زما سره وعده کړې ده کله چي هغه پوره سي نو ماته راسه ، نو کله چي رسول الله ﷺ مدينې منورې ته په هجرت تشريف راوړ نو عمرو بن عنبسه مدينې منورې ته راغلی او د رسول الله ﷺ په خدمت کي د اوسيدو سعادت يې ترلاسه کړ .

په عبادت کي د يو بل مرسته وکړئ

﴿١١٦٢﴾ : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَحِمَ اللهُ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله ﷻ دي رحم وکړي

رَجُلاً قَامَ مِنَ اللَّيْلِ فَصَلَّى وَأَيْقَظَ امْرَأَتَهُ فَصَلَّتْ فَإِنْ أَبَتْ نَضَحَ فِيْ وَجْهِهَا

پر هغه چا چي د شپې را پورته سي او لمونځ وکړي او خپله ښځه راويښه کړي او هغه هم لمونځ وکړي بيا که ښځه راويښه نه سي نو د هغې پر مخ وپاشي

الْمَاءَ رَحِمَ اللهُ امْرَأَةً قَامَتْ مِنَ اللَّيْلِ فَصَلَّتْ وَأَيْقَظَتْ زَوْجَهَا فَصَلَّى فَإِنْ

د اوبو څاڅکي او پر هغه ښځي دي الله ﷻ رحمت نازل کړي چي د شپې راکښيني او لمونځ وکړي او خپل خاوند هم راويښ کړي او هغه هم لمونځ وکړي او که

أَبَى نَضَحَتْ فِيْ وَجْهِهِ الْمَاءَ . رواه أبو داود والنسائي .

هغه انکار وکړي نو د هغه پر مخ د اوبو څاڅکي وپاشي . ابوداؤد او نسائي .

تخريج: سنن ابي داؤد ٢\٧٣، رقم: ١٣٠٨، والنسائي: ٣\٢٠٥، رقم: ١٦٠٩.

تشريح : د شپې په پورته کېدو سره د لمونځ کولو څخه مراد د تهجد لمونځ دی مګر که چيري په سرې يا ښځه کي د يو چا څخه هم يو لمونځ قضا سوی وي او هغه وخت د هغه پر ذمه قضاء وي نو قضا لمونځ کول به هغه وخت غوره وي .

پر مخ د اوبو پاشلو مطلب دادی چي د هغه د لمانځه کولو او د پروردګار عبادت د بيداره

كولو لپاره څرنګه چي هم ممکن وي سعي او هڅه وکړي.

په هر حال د حديث خلاصه داده چي ښځه او خاوند څرنګه چي په دنياوي ژوند کي د يو بل مرسته کونکي وي همداسي په ديني امورو ، اطاعت الهي او عبادت کي هم د يو بل مرسته کونکي جوړېدل پکار دي ، او که يو وخت ښځه لمونځ ونه کړي نو د خاوند دا حق دی چي څرنګه ممکن وي پر لمانځه کولو يې مجبوره کړي همداسي که سړی په لمانځه کولو کي سستي کوي يا په يو داسي وجه د لمانځه کولو څخه پاته سي چي د لمانځه په ادا کولو کي بنديز سوی وي نو د ښځي دا حق دی چي هغه ته په پوره قوت سره د لمانځه کولو لپاره ووايي او کوم شی چي د هغه په لمانځه کولو کي خنډ جوړ سوی دی هغه ختم کړي ، مثلا که چيري په ښځه او خاوند دواړو کي يو په داسي د خوب په غفلت کي پروت وي چي د هغه لمونځ که فرض وي يا تهجد وغيره لمونځ وي نو نو په دواړو کي چي هر يو ويښ سي هغه دي دوهم هم د خوب څخه را پورته کوي او که چيري هغه نه پورته کيږي نو داسي طريقه دي وکړي چي په هغه سره خوب ختم سي او هغه ولاړ سي لمونځ وکړي ، همدارنګه په اجتماعي توګه سره هم د خلکو لپاره ضروري دي چي هغوی په خپل مينځ کي د يو بل مرسته کونکي جوړ سي او د يو بل د لمانځه کولو او په عبادت کي د بوخت ساتلو هڅه کوي ، ددې حديث څخه دا خبره معلومه سوه چي پر يو سړي باندي د خير په معامله کي زور کول نه يوازي دا چي جائز دی بلکه مستحب دی.

د دعاء د قبلېدو وخت

﴿۱۱۶۳﴾: وَعَنْ اَبِيْ اَمَامَةَ قَالَ قِيلَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الدُّعَاءِ

د حضرت ابو امامه رضی الله عنه څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چي د دعاء د قبلېدو وخت کوم وخت دی؟

أَسْمَعُ قَالَ جَوْفَ اللَّيْلِ الْآخِرِ وَدُبُرَ الصَّلَوَاتِ الْمَكْتُوبَاتِ . رواه الترمذي

هغه ورته وفرمايل: د شپې د آخري برخي منځ او د فرض لمانځه وروسته. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۴۹۲، رقم: ۳۴۹۹.

د نيکو کارو کوونکي لپاره زيري

﴿۱۱۶۴﴾: وَعَنْ اَبِيْ مَالِكِ الْاَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو مالک اشعري رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَغُرَفًا يُرَى ظُهُورُهَا مِنْ بُطُونِهَا وَبُطُونُهَا مِنْ ظُهُورِهَا أَعَدَّهَا

په جنت کي داسي خوني دي چي د هغو دننه د باندي شيان معلوميږي او د باندي څخه د ننه شيان نه معلوميږي دا د هغو خلکو لپاره جوړي سوي دي

اللهُ لِمَنْ أَلَانَ الْكَلَامَ وَأَطْعَمَ الطَّعَامَ وَتَابَعَ الصِّيَامَ وَصَلَّى بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ . رواه البيهقي في شعب الايمان و روي الترمذي عن علي نحوه و في روايته لمن اطاب الكلام .

چي په نرمۍ سره خبري کوي خلکو ته ډوډۍ ورکوي او پرله پسې روژې نيسي او د شپې هغه وخت لمونځ کوي چي نور خلک بيده وي، د حضرت علي په يوه روايت کي دا الفاظ هم دي چي د يوچا لپاره ښه خبره کوي . بيهقي .

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۳\۴۰۴، رقم: ۳۸۹۲. سنن الترمذي ۴\۵۸۱، رقم: ۲۵۲۷.

تشريح : ځيني علماء وايي په حديث کي چي د پرله پسې نفل روژو په اړه فرمايل سوي دي نو د هغه آخري درجه داده چي په هره مياشت کي کم تر کمه دري روژې د نفل په نيت ونيول سي .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د تهجد د پرېښودو ممانعت

﴿۱۱۶۵﴾: عَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ عَمْرٍو ابْنِ الْعَاصِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَا

د حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : اې

عَبْدَ اللهِ لَا تَكُنْ بِمِثْلِ فُلَانٍ كَانَ يَقُومُ اللَّيْلَ فَتَرَكَ قِيَامَ اللَّيْلِ. متفق عليه

عبد الله ! د فلاني کس په ډول مه کيږه چي د شپې به يې لمونځ کوی بيا يې پرېښود ی . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۳\۳۷، رقم: ۱۱۵۲، ومسلم ۲\۸۱۴، رقم: ۱۸۵ - ۱۱۵۹.

تشريح : يو صحابي وو چي مخکي به يې تهجد کول او وروسته بيله يو عذره د خپل نفس په خواهش کي په اخته کېدو سره ددغه لوی سعادت څخه بې برخي سوی وو ، رسول الله ﷺ

عبدالله بن عمرو رضي الله عنه خبردار کړ چي فهم کوه ته هم د هغه په ډول د تهجد د لمانځه په پرېښودو سره د نفس په فریب کي اخته نه سې ځکه چي دا خلک چي د نیک عمل عادت او خپل دیني طریقې بیله یو عذره او بې مجبورۍ پرېږدي نو هغه خلکو د هغه خلکو په ډله کي سي چي د هغو په اړه صحیح فیصله داده چي (تارک الورد ملعون) یعني دیني معمول پرېښودونکی ملعون دی . په دې حدیث کي لکه چي دې ته اشاره ده چي د الله تعالی عبادت پرېښودل او د نفسانیت غلطي لاري ته ګرځېدل په حقیقت کي په سعادت او فلاح کي د پرمختګ څخه وروسته په تاوان کي واقع کېدل دي چي د هغه څخه رسول الله ﷺ په دا ډول پناه غوښتې ده چي نعوذبالله من الحور بعد الکور، یعني موږ د پرمختګ څخه وروسته په تاوان کي واقع کېدو څخه د الله تعالی پناه غواړو.

د طریقت او شریعت سالک ته پکار ده چي هغه نه یوازي دا چي د الله تعالی عبادت او د هغه ذکر نه پرېږدي او په هغه کي کمي اختیار نه کړي بلکه په هغه کي د زیاتوب غوښتونکی وي ځکه ویل یسوي دي چي کوم سړی د زیاتوب غوښتونکی نه وي نو هغه د تاوان پر لاره دی .

د حضرت داؤد علیه السلام د شپې عبادت

﴿۱۱۶۶﴾: وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت عثمان بن ابو العاص رضي الله عنه څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي

وَسَلَّمَ يَقُوْلُ كَانَ لِدَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَامُ مِنَ اللَّيْلِ سَاعَةٌ يُوْقِظُ فِيْهَا أَهْلَهُ

چي فرمایل یې: حضرت داؤد علیه السلام د شپې یو وخت ټاکلی وو هغه به په دغه وخت کي د خپل کور خلک راوېښول

يَقُوْلُ يَا آلَ دَاوُدَ قُوْمُوْا فَصَلُّوْا فَإِنَّ هٰذِهِ سَاعَةٌ يَسْتَجِيْبُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ فِيْهَا الدُّعَاءَ إِلَّا لِسَاحِرٍ أَوْ عَشَّارٍ . رواه أحمد .

او ورته ویل به یې : اې د داؤد کورنۍ ! پورته سئ او لمونځ وکړئ ځکه چي په دې ساعت کي الله تعالی دعاء قبلوي خو د جادوګرانو او په ظلم د محصول اخیستونکو دعاء نه قبلیږي. احمد

تخریج: الامام احمد في مسنده ۴\۲۲.

د لغاتو حل: (عشار): هو الذي ياخذ العشر من اموال الناس (هغه كس چي د خلكو د مالونو څخه عشر يعني لسمه برخه اخلي).

تشريح: د عشار څخه هغه غل مراد دی چي په لاره كي ناست وي او د خلكو څخه په ظلم مال اخلي، ددې هغه څخه حكومتي خلک هم مراد كيدای سي چي د محصول وغيره د تر لاسه كولو لپاره تاكل سوي وي او هغوی په ناجائزه او غلطه طريقه باندي د خلكو څخه مال او اسباب غصب كوي، په هر حال حاصل دادی چي په دغه مقدس ساعت كي او د الله تعالی د عام فيضان په دغه بركتناكه موقع باندي هم د ساحر يعني جادوګر او عشار دعاء قبليږي ، ځكه چي ددغه خلكو څخه د الله تعالی مخلوق ته تكليف رسيږي او پروردګار د داسي خلكو سره هيڅكله هم غوره معامله نه كوي چي د هغه د مخلوق لپاره د ضرر او تكليف سبب جوړيږي ، په دې وجه د ځينو عارفينو دا عارفانه ارشاد دی چي كمال عبوديت يعني په پوره توګه سره د الله تعالی بنده جوړيدل دادی چي د الله تعالی د حكم تعظيم وكړل سي او د الله تعالی د مخلوق سره د مهربانی او شفقت چلن وكړل سي .

د تهجد د لمانځه فضيلت

(۱۱۶۷): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ أَفْضَلُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الْمَفْرُوْضَةِ صَلَاةٌ فِيْ جَوْفِ اللَّيْلِ . رواه أحمد .

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي : د فرض لمانځه وروسته په ټولو لمنځو كي غوره لمونځ د نيمي شپې لمونځ دی . احمد .

تخريج: الامام احمد في مسنده ۲\۳۴۲.

تشريح: ميرک شاه رحمة الله عليه فرمايي دا حديث د ابي اسحاق مروزي شافعي رحمة الله عليه د دې قول دليل دی چي د تهجد لمونځ د سنن رواتب څخه افضل دی ، هر كله چي د اكثرو علماؤ دا قول دی چي سنن رواتب افضل دي د ابو اسحاق مروزي رحمة الله عليه قول قوي دی ځكه چي دا حديث په وضاحت سره د هغه د قول تائيد كوي .

په هر حال ددې مسئلې تحقيق دادی چي تهجد لمونځ په دې توګه افضل دی چي په دغه لمانځه كي نفس ډير زيات په سختۍ كي اخته وي او لمونځ كونكی د ريا او ځان ښوونی څخه ليري وي ، او سنن رواتب په دې وجه افضل دي چي د فرض لمنځو سره د هغه د كولو ډير تاكيد

سوی دی او دا چي سنن رواتب د فرض لمنځو لپاره متمم دي يعني ددې په ذريعه فرض لمنځونه درجه كمال او اتمام ته رسيږي همداسي د دواړو فضيلتونو پر خپل خپل ځای مسلم دي او په دواړو اقوالو كي څه مخالفت نسته، يا دا چي د شپې د لمانځه د فضيلت په اړه داهم ويل كيدای سي چي د شپې لمونځ ځكه افضل دی چي دا پر وترو باندي مشتمل دي او وتر واجب دي، د سيد الطائفه حضرت جنيد بغدادي رحمة الله عليه په اړه منقول دي چي د وفات څخه وروسته هغه يو چا په خوب كي وليدی او پوښتنه يې ځيني وكړه چي پروردگار ستاسو سره څه معامله وكړه؟ هغه جواب وركړ:

(تاهت العبادات وفنيت الاشارات وما نفعنا الا ركعات صليناها في جوف الليل)

ژباړه: هغه خبري چي د حقائق او معارف په بيان كي مي ويلې هغه ولاړې او هغه نكات چي مي بيانول هغه ختم سول ما ته خو يوازي د لمانځه هغه څو ركعتو گټه راكړه چي ما به په نيمه شپه كي كول.

يعني د حق طالبينو او د شريعت سالكينو ته ترغيب وركړل سوی دی چي د تصوف او طريقت حكمات او نكات پسي مه گرځئ او د گفتار څخه د كردار غازي جوړ سئ عملي ژوند جوړ كړئ او د الله تعالى د بندگی پر لار په تللو كي پوره هڅه كوئ او د رياضت او عبادت پوره اهتمام كوئ ځكه چي په دې كي د دنيا هم خير دی او د آخرت هم خير دی.

كار كن كار بگزر از گفتار كاندرين راه كار دارد كار

د تهجد لمونځ د بدی څخه منعه كوي

﴿۱۱۶۸﴾: وَعَنْهُ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ إِنَّ فُلَانًا يُصَلِّي بِاللَّيْلِ فَإِذَا أَصْبَحَ سَرَقَ فَقَالَ إِنَّهُ سَتَنْهَاهُ مَا تَقُوْلُ. رواه أحمد والبيهقي في شعب الإيمان

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي يو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سو او عرض يې وكړ: فلانی سړی د شپې لمونځ كوي او كله چي سهار سي نو غلا كوي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: لمونځ به يې ژر د هغه كار څخه منعه كړي د كوم چي تا يادونه كړې ده. احمد او بيهقي په شعب الايمان كي.

تخريج: الامام احمد في مسنده ۲\۴۴۷.

تشريح: د لمانځه دا ځانگړتيا ده چي هغه انسان د بدی د لاري څخه منعه كوي او د نيكی پر

لاريې روانوي لكه چي د الله تعالى ارشاد دى :

إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ

ژباړه : بيشكه لمونځ د بې حيايي او خرابو خبرو څخه منعه كوي .

د رسول الله ﷺ په وړاندي چي د يو سړي يادونه وسول چي د شپې به په عبادت كي بوخت وو او سهار به يې د غلا په ډول بد عمل كوى نو رسول الله ﷺ دا وفرمايل كه چيري هغه په خلوص نيت او خالص جذبې سره د شپې پر لمانځه هميشتوب كوي نو انشاء الله تعالى ډير ژر به الله تعالى د هغه لمانځه په بركت هغه د دغه قبيح عمل څخه د توبې توفيق وركړې او په خپل زړه او دماغ كي د لمانځه د بركت او نورانيت د اثر په وجه به هغه د غلا كولو څخه منعه سي .

د كورنۍ سره يو ځاى د تهجد كولو فضيلت

﴿۱۱۶۹﴾ : وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ وَّأَبِي هُرَيْرَةَ قَالَا قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوسعيد رضي الله عنه او ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

إِذَا أَيْقَظَ الرَّجُلُ أَهْلَهُ مِنَ اللَّيْلِ فَصَلَّيَا أَوْ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ جَمِيْعًا كُتِبَا فِي الذَّاكِرِيْنَ وَالذَّاكِرَاتِ . رواه أبو داود وابن ماجه .

كله چي يو څوك د شپې خپله ښځه راوېښوي او دواړه لمونځ وكړي يا دواړه دوه ركعته يو ځاى وكړي نو دا دواړه په ذاكرين او ذاكرات كي ليكل كيږي . ابو داؤد ، ابن ماجه .

تخريج : سنن ابي داؤد ۲\۷۳ ، رقم: ۱۳۰۹ وابن ماجه: ۱\۲۲۳ ، رقم: ۱۳۳۵ .

تشريح : په حديث كي د اهل څخه مراد يوازي ښځه هم اخيستل كيداى سي او ښځه ، اولاد ، غلام او مينځي هم مراد اخيستل كيداى سي ، د روايت په مينځ كي راوي ته شک سوى دى چي رسول الله ﷺ لفظ د فصليا يعني هغوى دواړه لمونځ وكړي فرمايلى دى يا لفظ د صلى يعني هر يو دوه ركعته يو ځاى وكړي فرمايلى دى ، په هر حال دا يوازي لفظي اختلاف دى د دواړو مطلب يو دى د ذكر كونكو خلكو او د ذكر كونكو ښځو څخه د قرآن كريم دې آيت ته اشاره ده :

وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتِ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا

ژباړه : او د الله تعالي ډير زيات يادونكي خلک او ښځي چي الله تعالى د هغوى لپاره مغفرت او ډير زيات ثواب تيار كړى دى .

مطلب دادی چي کوم سړی د شپې خپله هم پورته کیږي د تهجد لمونځ وکړي او د الله تعالی په ذکر کي بوخت وي او خپله ښځه او نوره کورنۍ هم په وېښولو سره د الله تعالی په عبادت کي بوخت ساتي نو ددغه ټولو شمیر به په هغه نیکو او باسعادت خلکو او ښځو کي وي چي د هغوی د فضیلت په اړه په دې آیت کي بیان سوی دی .

د امت غوره خلک څوک دی؟

﴿۱۱۷۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَشْرَافُ أُمَّتِيْ حَمَلَةُ الْقُرْآنِ وَأَصْحَابُ اللَّيْلِ . رواه البيهقي في شعب الإيمان .

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : زما د امت لوړي مرتبي والا هغه خلک دي چي قرآن مجید پورته کوونکی او د شپې لمونځ کوونکی وي . بیهقي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۲\۵۵٦، رقم: ۲۷۰۳.

تشریح : د قرآن پورته کونکو څخه مراد هغه خلک دي چي قرآن کریم یادوي او د هغه په احکامو عمل کوي په دې توګه چي قرآن کریم د کومو کارو حکم کړی دی هغه کوي او د کومو کارو څخه چي یې منعه کړې ده د هغه څخه ځان ساتي .

د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب دادی چي داسي خلک زما د امت د لوړي مرتبې او باسعادت کسان دي، د قرآن کریم یادونکو او د هغه د احکامو د پابند خلکو فضیلت په یو بل روایت کي داسي بیان سوی دی چي کوم سړی قرآن کریم یاد کړي نو بیشکه پر هغه د فیضان نبوت دروازې خلاصیږي مګر هغه ته وحي نه راځي، البته وحي خفي هغه ته راځي (یعني د وحي جلي مطالب او معارفو فیضان د هغه په زړه او دماغ کیږئ) مطلب دادی چي قرآن کریم یادونکی سړی په دې وجه د ډېر زیات فضیلت او سعادت وړ منل کیږي چي د هغه په زړه کي دننه د قرآن کریم د الفاظ، په صورت کي نور نبوت اېښودل کیږي د هغه اثر دا وي چي وحي خفي یعني د قرآن ریم د ظاهري الفاظو مطالب او معارف فیضان د هغه پر زړه او دماغ کي روښانه کوي ، او د قرآن کریم د الفاظو د نور په برکت په وحي جلي باندي چي د هغه انبیاؤ مخصوصه برخه ده د هغه ایمان او ایقان قوي کیږي ، علامه یحیی رحمة الله علیه وایي چي د قرآن یادولو مطلب دادی چي قرآن کریم یاد کړي او خپل عملي ژوند د هغه مطابق کړي داسي چي قرآن کریم کوم احکام ورکړي دي پر هغه په پوره قلبي خلوص او همیشتوب سره عمل وکړي

كنه محض قرآن يادونكى او پر هغه عمل نه كونكى په هغه خلكو كي شميرل كيږي چي د هغو په اړه الله تعالى فرمايلي دي :

كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا

ژباړه : يعني (كوم خلك چي حافظ قرآن خو وي مگر عامل قرآن نه وي نو) هغوى داسي دي لكه څرنگه چي پر خره باندي كتابونه واچول سي .

يعني څرنگه چي پر خره باندي كتابونو اچولو سره خره ته هيڅ گټه نه رسيږي بالكل همداسي په قرآن كريم باندي عمل نه كونكي حافظ ته هم د قرآن كريم د حفظ كولو هيڅ گټه نه وي او هغه د سعادت او مرتبې په اعتبار په هيڅ حيثيت كي نه وي .

د اصحاب الليل څخه مراد هغه خلك دي چي د لمانځه او قرآن كريم ويلو لپاره د شپې پر بيداره كېدو باندي هميشوب كوي يعني په پابندي سره هره ورځ د شپې پورته كيږي او د الله تعالى په عبادت او ذكر كي بوخت وي ، داسي خلك د الله تعالى او د هغه د رسول په نظر كي د لوى فضيلت والا دي، او د رسول الله ﷺ د ارشاد سره سم د امت مرحومه د غټې درجې والا په كسانو كي شميرل كيږي .

د شپې په عبادت كي د حضرت عمر رضي الله عنه طريقه

﴿۱۱۷۱﴾ : وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ أَبَاهُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ كَانَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ مَا

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دى چي د هغه پلار حضرت عمر رضي الله عنه به د شپې لمونځ كوى

شَاءَ اللهُ حَتّٰى إِذَا كَانَ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ أَيْقَظَ أَهْلَهُ لِلصَّلَاةِ يَقُوْلُ لَهُمُ الصَّلَاةَ

څومره چي به الله جل جلاله ته منظوره وه كله چي به د شپې آخري برخه سوه نو خپله كورنۍ به يې د لمانځه لپاره راوېښول او ويل به يې لمونځ وكړئ ،

ثُمَّ يَتْلُوْ هٰذِهِ الْآيَةَ (وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا لَا نَسْأَلُكَ رِزْقًا نَحْنُ نَرْزُقُكَ وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوٰى) رواه مالك .

بيا به يې دا آيت تلاوت كړ : (خپلي كورنۍ ته د لمانځه كولو حكم وركوه او پر د صبر كوه موږ ستا څخه روزي نه غواړو بلكه موږ تا ته رزق دركوو او آخرت د پرهيزگارو لپاره دى) مالك .

تخريج: الامام مالک في الموطا ۱۱۹/۱۱، رقم: ۵.

تشريح: د آيت مطلب دادی چي د خپل قريبانو او کورنی ته د لمانځه کولو هدايت کوه او خپله هم د لمانځه کولو پر مشقت او محنت باندي صبر کوه او په دې اړه چي ستا خپلوان کوم مشقت پورته کوي هغه هم زغمه او د هغوی سره د الله تعالی په عبادت او بندګۍ کي بوخت اوسه د الله تعالی پر ذات توکل لره د هغه څخه د ظاهري او باطني عناء لپاره د مرستي غوښتونکی اوسه د خپل رزق او معاش فکر مه کوه ، موږ ستا څخه رزق نه غواړو چي د خپل رزق او اسباب معيشت د تر لاسه کولو او د نورو لپاره د رزق ذمه داري پر تا واچوو چي ستا لپاره د لمانځه په ادا کولو خنډ سي لکه څرنګه چي موږ نورو ته رزق ورکوو همداسي تا ته هم رزق در کوو ستا کار خو يوازي دادی چي د دنيا او مافيها څخه په مخ اړولو سره خپل زړه او دماغ يوازي د آخرت خير او د خپلو قريبانو په اصلاح کي مصروف وساتې . او په دې پوه سه چي عاقبت محموده يعني د دنيا او آخرت دواړو ځايو انجام پر خېر کېدل يوازي د متقيانو او د الله تعالی د نيکو بندګانو لپاره دی .

============

بَابُ الْقَصْدِ فِي الْعَمَلِ

په اعمالو کي د ميانه روي او استقامت بيان

په دې باب کي هغه حديثونه نقل کيږي چي د هغو څخه څرګنديږي چي څرنګه په دنياوي چارو کي افراط او تفريط يعني تر حد زياتوب او تر حد کمي کتهور نه ده همداسي په ديني کارو يعني په نفل اعمالو کي هم افراط او تفريط مطلوب نه دی بلکه ميانه روي او په هغو کي اعتدال اختيارول ضروري دي .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

﴿۱۱۷۲﴾: عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُفْطِرُ مِنَ الشَّهْرِ

د انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د مياشتي په اکثرو ورځو کي روژه نه نيول

حَتّٰى نَظُنَّ أَنْ لَا يَصُوْمُ مِنْهُ شَيْئًا وَيَصُوْمُ حَتّٰى نَظُنَّ أَنْ لَا يُفْطِرَ مِنْهُ شَيْئًا

تر دې چې زمونږ به دا خيال سو چې رسول الله ﷺ په دې مياشت كې روژې نه نيسي ، او رسول الله ﷺ به په اكثرو ورځو كې روژې نيولې تر دې چې زمونږ به دا خيال سو چې اوس به رسول الله ﷺ روژې نه پرېږدي ،

وَكَانَ لاَ تَشَاءُ أَنْ تَرَاهُ مِنَ اللَّيْلِ مُصَلِّيًا إِلاَّ رَأَيْتَهُ وَلاَ نَائِمًا إِلاَّ رَأَيْتَهُ . رواه البخاري .

كه ته غواړې چې د شپې رسول الله ﷺ پر لمانځه كولو ووينې نو پر لمانځه كولو به يې ووينې او كه ته غواړې چې پر خوب كولو يې ووينې نو پر خوب كولو به يې هم ووينې . بخاري .

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\۲۲، رقم: ۱۱۴۱.

تشريح : مطلب دادی چې رسول الله ﷺ به په نفل اعمالو كې د اعتدال لار اختيارول نه خو به يې هميشه روژې نيولې چې افراط يعني زياتوب لازم سي او نه به يې هميشه روژې خوړلې چې تفريط يعني كمي لازم سي بلكه د رسول الله ﷺ طريقه دا وه چې په هره مياشت كې به يې يو څو ورځې روژې وې او يو څو ورځې بيله روژې به وو ، همداسي د نفل لمانځه په اړه هم د رسول الله ﷺ طريقه دا وه چې د شپې به بيده كيدی هم او لمونځ به يې هم كوی نه خو به ټوله شپه بيده وو او نه به يې ټوله شپه لمونځ كوی ، مقصد دا چې په ټولو كارو كې د رسول الله ﷺ عمل د اوسط درجې وو .

د هميشه عمل فضيلت

﴿۱۱۴۳﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَبُّ الْأَعْمَالِ إِلَى اللهِ أَدْوَمُهَا وَإِنْ قَلَّ . متفق عليه

د حضرت عائشې ﵂ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله په نزد غوره اعمال هغه دی چې تل كول كيږي كه څه هم لږ وي . بخاري او مسلم

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۱\۱۰۱، رقم: ۴۳ ، ومسلم ۱\۵۴۰، رقم: ۲۱۵- ۷۸۲.

تشريح : حضرت مظهر رحمة الله عليه فرمايي چې اهل تصوف او طريقت د دې حديث سره سم اوراد او وظائف پرېښودل داسي بد ګني لكه څرنګه چې فرض پرېښودل ، مګر صحيح دادی چې دا پرېښودل يو بهتره پرېښودل دي، يعني د فرضو پرېښودلو او وظائفو په پرېښودلو كې فرق دی د فرضو پرېښودل ګناه كبيره ده ، او د اورادو او وظائفو پرېښودل د اولی بهتر دی ، او

ځرګنده ده چي د اولی پرېښودل د فرضو د پرېښودو په درجه کي نسي راتلای او ددې وجه داده چي بنده اطاعت بیله ضرورته ترک کړي نو ګویا هغه د مولی د عبادت څخه مخ واړوی نو هغه د عتاب مستحق سو ، پر خلاف د مداومت کونکي چي هغه ددې خبري مستحق وي چي د پروردګار محبوب وي.

وان قل : ددې مطلب دادی چي لږ عمل وکړه مګر پرهغه همیشتوب اختیار کړه نو هغه د زیات عمل څخه کله چي د هغه د آدابو او شرطونو رعایت نه کیږي او همیشه یې نه کوي غوره دي.

د توان سره سم عمل

﴿۱۱۷۴﴾: وَ عَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُذُوْا مِنَ الْأَعْمَالِ مَا تُطِيْقُوْنَ فَإِنَّ اللهَ لَا يَمَلُّ حَتّٰى تَمَلُّوْا . متفق علیه

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د اعمالو څخه چي څومره کولای سئ هغه غوره کړئ ځکه چي الله تعالی (په ثواب ورکولو کي) نه ستړی کیږي ترڅو پوري چي تاسو ستړي نه سئ. بخاري او مسلم

تخریج : صحیح البخاري (فتح الباري): ۳\۳۶ رقم: ۱۱۵۱ ، ومسلم ۱\۵۴۲ رقم: ۲۲۰- ۷۸۵.

تشریح : مطلب دادی چي د ځان لپاره دومره زیات عبادت ضروري مه ګرځوئ چي همیشه په پابندي سره نه کول کیږي ځکه چي الله تعالی په ثواب ورکولو کي تنګي نه کوي یعني ثواب ورکول نه پرېږدي تر دې چي تاسو خپله د عبادت د زیاتوب څخه په پریشانه کېدو سره عبادت نه پرېږدئ ، خلاصه داده چي الله تعالی عبادت کونکي ته ثواب ورکول ، هو که یو سړی د زیاتوب په سبب په ستړي کېدو سره عبادت پرېږدي نو الله تعالی ثواب ورکول هم پرېږدي نو د عبادت په اړه د اعتدال لاره اختیارول پکار ده چي همیشه عبادت جاري وي، او د الله تعالی د لوري د ثواب لړی هم قائمه وي.

عبادت د خوښي تر حده کوئ

﴿۱۱۷۵﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيُصَلِّ أَحَدُكُمْ نَشَاطَهُ وَإِذَا فَتَرَ فَلْيَقْعُدْ . متفق علیه .

د انس رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : تر څو پوري چي تاسو په خوښي او

اطمینان سره لمونځ کولای سئ نو وه يې کړئ او کله چې سست سئ نو کښېنئ. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\۳۶، رقم: ۱۱۵۰، ومسلم ۱\۵۴۱، ۵۴۲، رقم: ۲۱۹-۷۸۴.

تشريح: د حديث خلاصه داده چې د آخرت د سعادت لار اختيارونكي ته پكار ده چې په عبادت كي د خپل توان سره سم هڅه کوي د طاعت په اړه دي ميانه روي اختيار کړي او په تنگ زړه سره د عبادت کولو څخه دي پرهيز کوي، عبادت دي هغه وخت کوي چې د زړه سکون او اطمينان ورته تر لاسه وي كه يو سړى په عبادت كولو كي ستړى سي او سست سي او په عبادت پرېښودو سره په يو مباح امر كي بوخت سي مثلاً بيده سي يا په خبرو وغيره كي بوخت سي چې د عبادت لپاره اطمينان او سکون تر لاسه کړي نو د هغه دا بوختيا په عبادت او طاعت كي شمېرل كيږي ځكه چې فرمايل سوي دي د عالم خوب هم عبادت دى.

د طبيعت د نه کېدو په وخت کي د نفل اعمالو د پرېښودو په اړه ډېر حديثونه راغلي دي په داسي وخت كي چې په طبيعت كي سستي پيدا سي د نفل اعمالو پرېښودلو اجازه ځكه وركړل سوې ده چې د عمل پر نفس مشكل كيدل آخر د عمل پرېښودو يا په هغه كي د نقصان واقع کېدو سبب جوړيږي.

مگر په دې خبره پوه سئ چې په نفس كي د ډېر زيات عبادت كولو عادت اچول پكار دي چې طبيعت د عبادت مشقت او رياضت سره عادت سي، د كاهل طبيعت او سست مزاج خلكو په ډول کېدل نه دي پكار چې لنډ عبادت او لږ عمل سره هم ستړي كيږي د هغه نتيجه داسي چې د هغوى عبادت، رياضت او مجاهده نيم گړې پريږدي مگر كه د ډېر زيات عبادت كولو عادت وي نو زيات عبادت هم پر طبيعت مشكل نه وي، اكثر داسي كيږي چې كومو خلكو ته مخكي دوه ركعته لمونځ كول او د قرآن كريم د يوې پارې تلاوت هم مشكل وه او د هغه په وجه د هغو په طبيعت كي سستي پيدا كړه هغوى چې د زيات عبادت، رياضت او مجاهدې عادت پيدا كړى او خپل نفس او خپل طبيعت يې د الله تعالى په لاره كي د نيک بختيو تر لاسه كولو لپاره د مشقت او محنت عادي جوړ كړى نو هغوى ته سل ركعته لمونځ كول او د قرآن كريم لس پارو تلاوت كول هم آسان وي.

په ستړيا كي لمونځ مه كوئ

﴿۱۱۷۶﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِذَا نَعَسَ أَحَدُكُمْ وَهُوَ

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چې پر تاسو په لمانځه

كي خوب غلبه وکړي

يُصَلِّيْ فَلْيَرْقُدْ حَتّٰى يَذْهَبَ عَنْهُ النَّوْمُ فَإِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا صَلّٰى وَهُوَ نَاعِسٌ لاَ يَدْرِيْ لَعَلَّهُ يَسْتَغْفِرُ فَيَسُبَّ نَفْسَهُ. متفق عليه

نو هغه ته پکار ده چي بيده سي تر څو چي خوب ځيني ولاړ سي ځکه چي د خوب د غلبې په حالت کي هغه په. دې نه پوهيږي چي څه وايي ممکن ده چي هغه د مغفرت غوښتونکی وي او د هغه د ژبي څخه بده دعاء ووزي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱\ ۳۱۵، رقم: ۲۱۲ ومسلم ۱\ ۵۴۲، ۵۴۳، رقم: ۲۲۲- ۷۸۶.

تشريح: مطلب دادی چي د خوب د غلبې او سستۍ په حالت کي دي لمونځ نه کوي ځکه چي داسي وخت نه خو زړه او د ماغ حاضر وي او نه پر ژبه واک وي، دا وجه ده چي په داسي حالت کي ويل يو څه غواړي او د ژبي څخه بل څه وځي، د لمانځه په حالت کي که زړه، دماغ او ژبه خطا سي نو ښکاره ده چي ددې پای ډېر خراب کېدای سي، د مثال په توګه داسي پوه سئ چي يو سړی لمونځ کوي او پر هغه د خوب غلبه راغلل او هغه د خوب څخه زانګي چي د هغه په وجه د هغه زړه، دماغ او ژبه باندي د غفلت او سستی واک دی اوس هغه په دغه حالت کي ويل غواړي چي: اللهم اغفرلي (اې الله ! ما و بخښې). مګر د خوب د غفلت په وجه د هغه د ژبي څخه دا الفاظ ووځي: (اللهم اعفر لي) اې الله ! ما په خاورو ولړې.

تاسو ولېدل چي د خوب غفلت يوازي د يوه لفظ په وجه څه وکړل چيري چي د خپل مغفرت او آخرت د خپل عزت او کاميابۍ دعاء يې غوښتل او چيري چي د خپل نفس لپاره د بنيرا الفاظ سره ذلت او خوارۍ يې وغوښتل ځکه منعه کيږي چي هر کله د خوب غلبه وي او سستي راسي نو هغه وخت لمونځ کول پکار نه دي.

اسلام يو اسان دين دی

﴿۱۱۷۷﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الدِّيْنَ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: بېله شکه دين

يُسْرٌ وَلَنْ يُّشَادَّ الدِّيْنَ أَحَدٌ إِلاَّ غَلَبَهُ فَسَدِّدُوْا وَقَارِبُوْا وَأَبْشِرُوْا وَاسْتَعِيْنُوْا

يو آسانه شی دی او په دين کي چي څوک سختي کوي دين پر هغه غالب کيږي له دې کبله ميانه

روي غوره کړئ د توان سره سم عمل کوئ خوښ اوسئ او مرسته غواړئ د الله ﷻ څخه

بِالْغَدْوَةِ وَالرَّوْحَةِ وَشَيْءٍ مِّنَ الدُّلْجَةِ. رواه البخاري.

سهار، ماښام او د شپې لږ برخه . بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۹۳، رقم: ۳۹.

تشريح: په دغه حديث شريف کي په څرګنده اعلان کيږي چي دين ډير آسان دی، د انساني مزاج او فطرت عين مطابق دی او د انساني ذهني، فکري، او عملي قوتونه ډير په سکون سره د هغه همنوا جوړيدلای سي، هو ددې خبري هيڅ علاج نسته چي يو سړی د خپل لوري په بې ځايه پابندي کولو سره په اعمالو کي زياتوب وکړي او په دين او شريعت کي د خپل لوري څخه د خبرو زياتولو سره خپله پر ځان ستونزي او تنګی مسلط کړي، دلته په صراحت سره حکم ورکول کيږي چي الله تعالیٰ د دين احکام ډير آسان ټاکلي دي ځکه د رهبانيت په توګه دا احکام د ځان لپاره سخت او هيبتناک مه جوړوئ.

(دين پر هغه غالب سي): ددې مطلب دادی چي کوم سړی پر خپل ځان غير واجب خبري واجب کوي او په ستونزمنو طريقو سره د عبادت بوختيا اختياروي نو دين پر هغه غالب کيږي يعني هغه وروسته د دين د حق د ادا کولو څخه عاجز کيږي همدا سي هغه مغلوب او دين غالب سي.

(قاربوا): ددې مطلب دادی چي په سهولت او آسانيو سره ديني امورو ته نژدې سئ او پر خپل ځان باندي بې ځايه پابندۍ لګولو سره او په سختيو او مشکلاتو کي د ځان اخته کولو سره د دين څخه ليري والی مه غوره کوئ.

علامه طيبي رحمة الله عليه فرمايي چي قاربوا په اصل کي د سددو (ميانه روي اختيار کړئ) تاکيد دی، کوم معنی چي د (سددوا) ده هغه معنی د (قاربوا) ده.

ځينو حضراتو ددې معنی دا ليکلې ده چي د الله تعالی قرب لټوئ، په هر حال د حديث مطلب دادی چي ډير زيات عبادت مه کوئ چي هر وخت خپل ځان د عبادت په محنت او مشقت کي اخته ساتئ بلکه په دغه درو وختونو کي عبادت کول غنيمت وګڼئ: (۱) يعني د ورځي په لومړنۍ برخه کي. (۲) د ورځي په آخري برخه کي (۳) او د شپې په آخري برخه کي چي دا د تهجد په لور اشاره ده.

د شپې پاته وظيفه د ورځې پوره كول پكار ده

﴿۱۱۷۸﴾: وَعَنْ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ نَامَ عَنْ

د حضرت عمر رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كوم څوك چې بيده سي

حِزْبِهِ أَوْ عَنْ شَيْءٍ مِّنْهُ فَقَرَأَهُ فِيْمَا بَيْنَ صَلَاةِ الْفَجْرِ وَصَلَاةِ الظُّهْرِ كُتِبَ لَهُ كَأَنَّمَا قَرَأَهُ مِنَ اللَّيْلِ. رواه مسلم

د خپلي وظيفې د پوره والي څخه پرته يا څه وظيفه ځيني پاته سي او خوب ورسي او بيا هغه د سهار او ماپښين په لمونځ كي وكړي نو هغه به په دې حساب كي شميرل كيږي لكه هغه چي د شپې ويلي وي. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱\ ۵۱۵، رقم: ۱۴۲- ۷۴۷.

تشريح: مطلب دا دى كه يو سړي د كلام الله، لمونځ او اذكارو څخه يو وظيفه ټاكلې وي چي هغه يې د شپې كوي مگر د شپې بيده سو پوره وظيفه يا يو څه برخه ځيني پاته سوه او هغه د سهار د لمانځه او د ماپښين د لمانځه په مينځ كي يعني د زوال څخه مخكي پوره كړل نو د هغه لپاره په شپه كي د كولو ثواب ليكل كيږي.

همدا سي د ورځي د وظيفي حكم دى كه په ورځ كي وظيفه ځيني پاته سوه بيا د شپې يې وكړه نو د هغه لپاره د ورځي د كولو ثواب ليكل كيږي، شپه او ورځ په خپلو كي د يو بل خليفه دى، په حديث كي يوازي د شپې د وظيفې په باره كي ځكه ذكر سوى دى چي اكثر د شپې وظيفه پاته كيږي يعني د خوب د غلبې په وجه د تهجد لمونځ، اوراد او اذكار فوت كيږي دا وجه ده چي دا حديث په دغه باب كي ذكر سوى دى.

د معذورۍ په حالت كي په ناسته او پروته لمونځ كول

﴿۱۱۷۹﴾: وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلِّ قَائِمًا فَإِنْ لَّمْ تَسْتَطِعْ فَقَاعِدًا فَإِنْ لَّمْ تَسْتَطِعْ فَعَلٰى جَنْبٍ. رواه البخاري

د حضرت عمران بن حصين رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په ولاړه لمونځ وكړه كه د ولاړي توان دي نه وي نو په ناسته يې وكړه او كه د ناستي توان دي نه وي نو په پروتي

يې وکړه . بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۵۸۷، رقم: ۱۱۱۷.

تشريح: كه يو سړى د سخت عذر مثلا ناروغى وغيره په وجه په ولاړه لمونځ نسي كولاى نو په ناسته دي لمونځ وكړي او كه عذر دومره سخت وي چي په ناسته لمونځ كول هم د قدرت څخه وتلي وي نو بيا آخري مرحله داده چي په پروته او اړخ دي د قبلې و طرف ته په مخ كېدو سره وكړي، بيا په دې كي هم دومره آساني ده كه يو سړى قبلې ته مخ كولاى نسي او داسي څوك ورسره نه وي چي د معذور مخ قبلې ته كړي نو كومي خوا ته چي وي هغه خوا ته دي لمونځ وكړي لمونځ يې جائز دى .

حنفيه وايي چي په پروته لمونځ كولو كي غوره داده چي مخ پر قبله كېدو سره دي پريوځي او د اوږو لاندي تكيه اېښودو سره دي سر پورته كړي او په اشاره سره دي لمونځ وكړي .

دار قطني يو حديث نقل كړى دى چي د هغه څخه په پروته د لمانځه كولو اثبات كيږي، دلته چي كوم حديث ذكر سوى دى د هغه په باره كي د حنفيه د خوا ويل كيږي چي رسول الله ﷺ دا حكم په خاصه توګه د حضرت عمران رضي الله عنه لپاره كړى وو ځكه چي هغه د بواسير په ناروغى اخته وو او هغه سم نسو پريوتلاى ، نو دا حديث د نورو لپاره حجت نسي كيداى .

په پاى كي په دې خبره هم پوه سئ چي رسول الله ﷺ دا حكم د فرض لمانځه لپاره فرمايلى دى ځكه نو د نفل لمنځو لپاره په طريقه اولى جائز دى .

بيله عذره په ناسته نفل كونكي ته نيم ثواب وركول كيږي

﴿۱۱۸۰﴾: وَعَنْهُ أَنَّهُ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ صَلَاةِ الرَّجُلِ قَاعِدًا

د حضرت عمران بن حصين رضي الله عنه څخه روايت دى چي هغه د رسول الله ﷺ څخه د هغه كس په اړه پوښتنه وكړه چي (نفل) لمونځ په ناسته كوي ،

قَالَ إِنْ صَلَّى قَائِمًا فَهُوَ أَفْضَلُ وَمَنْ صَلَّى قَاعِدًا فَلَهُ نِصْفُ أَجْرِ الْقَائِمِ

رسول الله ﷺ وفرمايل : كه په ولاړه يې وكړي نو غوره ده او په ناسته د نفل كولو ثواب د ولاړي په نيمه دى

وَمَنْ صَلَّى نَائِمًا فَلَهُ نِصْفُ أَجْرِ الْقَاعِدِ . رواه البخاري

او څوک چې په پروتې نفل وکړي نو د هغه ثواب د ناستې تر ثواب په نيمه دی . بخاري .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۵۸۶، رقم: ۱۱۱۶.

تشريح: دا حديث پر نفل لمانځه محمول دی ځکه چې فرض لمونځ خو بيله عذره په ناسته کول صحيح نه دی ، هو که يو عذر وي نو ولاړه ساقط کيدای سي او معذور په ناسته هم فرض لمونځ کولای سي . په هر حال د حديث مطلب دا دی چې نفل لمونځ بيله عذره په ناسته کونکي د لمانځه پوره ثواب نه تر لاسه کيږي بلکه څومره ثواب چې په ولاړه لمانځه کي تر لاسه کيږي نو د هغه نيم ثواب هغه ته تر لاسه کيږي ، هو که د يو چا عذر وي او پر ولاړي باندي قادر نه وي نو بيا په ناسته لمونځ کونکي ته هم په ولاړه لمونځ کونکي په نسبت نيم ثواب نه ورکول کيږي بلکه پوره ثواب ورکول کيږي .

بيله عذره په پروته نفل لمونځ کول جائز دي که يا ؟

علامه طيبي رحمة الله عليه فرمايي کوم سړی چې په ولاړه يا ناسته لمونځ کولای سي او هغه ته د قيام او قعود قدرت نه وي نو ايا د داسي سړي لپاره نفل مونځ کول په پروته جائز دی که يا ؟ د ځينو حضراتو دا قول دی چې بيله عذر په پروته لمونځ کول جائز نه دي ، مګر د علماؤ د يو ډلي رايه داده چې بيله عذره په پروته نفل لمونځ کول جائز دی ، او د يو ډلي دا قول هم دی چې بيله عذره په پروته نفل مونځ کونکي ته په ناسته لمونځ کونکي په نسبت نيم ثواب ورکول کيږي .

څرنګه چې د دې حديث څخه معلوميږي د حسن بصري رحمة الله عليه قول هم دادی او د حديث د ثابت کېدو په وجه دا قول صحيح او اولی دی، مګر امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه فرمايي چې دا جائز نه دی ، او د دې حديث په باره کي د هغه د لوري دا ويل سوي دي چې دا حديث د فرض لمانځه په باره کي دی که يو سړی دومره ناروغ وي چې د مرض د زياتوب او سختوالي سربيره په ولاړه يا په ناسته لمونځ کول د هغه لپاره ممکن وي نو هغه ته په پروته د لمانځه کولو په صورت کي په ناسته لمونځ کونکي په نسبت نيم ثواب ورکول کيږي .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

تر خوب راتلو پوري په اوداسه باندي د الله تعالی په ذکر کي بوختيا

﴿۱۱۸۱﴾: عَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ

د حضرت ابو امامه رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي څوک چي

أوى إلى فِرَاشِهِ طَاهِرًا وَذَكَرَ اللهَ حَتّٰى يُدْرِكَهُ النُّعَاسُ لَمْ يَتَقَلَّبْ سَاعَةً مِنَ

په اوداسه خپلي بسترې ته ولاړ سي او د الله جل جلاله ذكر كوي تر څو چي خوب ورسي او هر كله چي د شپې اړخ بدلوي

اللَّيْلِ يَسْأَلُ اللهَ فِيهَا خَيْرًا مِنْ خَيْرِ الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ إِلاَّ أَعْطَاهُ إِيَّاهُ. ذكره النووي في كتاب الأذكار برواية ابن السني.

نو د الله تعالى څخه د دين او دنيا خير غواړي نو الله جل جلاله د دين او دنيا خير وركوي. كتاب الاذكار

تخريج: عمل اليوم والليلة لابن السني ص ۳۰۴، رقم: ۷۱۷.

دوه خوشبخته انسانان

﴿۱۱۸۲﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

عَجِبَ رَبُّنَا مِنْ رَّجُلَيْنِ رَجُلٌ ثَارَ عَنْ وِطَائِهِ وَلِحَافِهِ مِنْ بَيْنِ حِبِّهِ وَأَهْلِهِ إِلَى

زموږ رب د دوو خلكو ته تعجب كوي (راضي كيږي) هغه كس چي د خپل نرم تلتک او خپلي خوښي ښځي څخه د شپې د لمانځه لپاره بيليږي

صَلاَتِهِ فَيَقُوْلُ اللهُ لِمَلاَئِكَتِهِ انْظُرُوْا إِلَى عَبْدِيْ ثَارَ عَنْ فِرَاشِهِ وَوِطَائِهِ مِنْ

نو الله تعالى د ددې كس په اړه خپلو ملائكو ته وايي زما بنده ته وګورئ چي يوازي د لمانځه لپاره د خپل نرم او ګرم تلتک

بَيْنِ حِبِّهِ وَأَهْلِهِ إِلَى صَلاَتِهِ رَغْبَةً فِيْمَا عِنْدِيْ وَشَفَقًا مِمَّا عِنْدِيْ وَرَجُلٌ غَزَا

او خوښي ښځي څخه بيل سو او د هغه شي د غوښتوني لپاره بيل سو كوم چي زما سره دی (يعني جنت او ثواب) او د هغه شي د خوف څخه چي زما سره دی (يعني دوږخ او عذاب)، او دوهم هغه كس چي وجنګيږي

فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَانْهَزَمَ مَعَ أَصْحَابِهِ فَعَلِمَ مَا عَلَيْهِ فِي الْاِنْهِزَامِ وَمَا لَهُ فِي

يوازي د الله ﷻ په لار کي او د خپلو ملګرو سره د ښمن په مقابله کي تښتني ته تيار سو بيا هغه دا محسوسه کړه چي په تښتنه کي څومره لويه ګناه ده او په جنګېدو کي څومره ثواب دی

الرُّجُوْعِ فَرَجَعَ حَتّٰى اُهْرِيْقَ دَمُهُ فَيَقُوْلُ اللهُ لِمَلَائِكَتِهِ انْظُرُوْا إِلٰى عَبْدِيْ

د دې په حس کولو سره بيرته ستون سو تر دې چي شهيد سي نو الله تعالى د هغه په اړه ملائكو ته وايي زما بنده ته وګورئ

رَجَعَ رَغْبَةً فِيْمَا عِنْدِيْ وَشَفَقًا مِّمَّا عِنْدِيْ حَتّٰى اُهْرِيْقَ دَمُهُ . رواه في شرح السنة

چي بيرته راغلی خاص د دې شي د غوښتني لپاره چي زما سره دی او د هغه شی د بيري څخه چي زما سره دی، تر دې چي د هغه وينه وبيول سي. (يعني شهيد سي). شرح السنه.

تخريج: البغوي في شرح السنة ۴\۴۲-۴۳، رقم: ۹۳۰.

تشريح: مطلب دادی چي د شپې د سکون او آرام په وخت کي د يو سړي لپاره نرم بستر، آرام، تلتک او محبوبي ښځي قرب تر ټولو زيات خواږه او خوښ شيان دي مګر د دې سربيره هغه سړی د خپل رب عبادت او د هغه د جزا او انعام په شوق کي دا ټول شيان پرېږدي او د پروردګار په حضور کي د خپل بندګۍ او عبوديت نذرانه وړاندي کوي ځکه چي هغه پوهيږي چي د دنيا ټول خوښ شيان په دنيا کي د زړه او د ماغ د سکون او د انساني عيش او مشرت سامان جوړيدای سي مګر دا نه خو په قبر کي ګټه رسولای سي او نه په حشر کي د کاميابۍ ضامن کيږي، په قبر او حشر کي خو يوازي د پروردګار اطاعت او د هغه عبادت په کار راځي او هغه يې د سعادت او کاميابۍ منزل ته رسوي.

په دې حديث کي دې ته اشاره ده چي د الله تعالى لپاره عبادت کول او پر هغه د ثواب اميد لرل د اخلاف او کمال خلاف نه دي که څه هم د اکمل درجې خلاف دی ځکه چي د عبادت په اړه اکمل درجه داده چي عبادت صرف د الله تعالى د رضا او د هغه د خوښي تر لاسه کولو لپاره وکړل سي او د دې سره هيڅ غرض مثلا د ثواب تر لاسه کېدل يا د عذاب بيره تړلې نه وي مګر هو که يو سړی عبادت صرف د ثواب لپاره يا د عذاب د بيري څخه کوي نو هغه نه ګڼي چي د هغه دا عبادت عبادت نه دی يوازي وخت ضائع کول دي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

﴿۱۱۸۳﴾: عَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ عَمْرٍو قَالَ حُدِّثْتُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روايت دى چي ما ته دا حديث بيان كړل سو چي رسول الله ﷺ

وَسَلَّمَ قَالَ صَلاَةُ الرَّجُلِ قَاعِدًا نِصْفُ الصَّلاَةِ قَالَ فَأَتَيْتُهُ فَوَجَدْتُهُ يُصَلِّي

وفرمايل: د سړي لمونځ (نفل) په ناسته كول نيم لمونځ دى، راوي وايي يوه ورځ زه د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سوم نو رسول الله ﷺ مي وليدى چي لمونځ كوي يې

جَالِسًا فَوَضَعْتُ يَدِي عَلَى رَأْسِهِ فَقَالَ مَا لَكَ يَا عَبْدَ اللهِ بْنَ عَمْرٍو قُلْتُ

په ناسته نو ما خپل لاس د رسول الله ﷺ پر مبارك سر كښېښنودى، رسول الله ﷺ وفرمايل: اې د عمرو زويه! په تا څه سوي دي؟ ما عرض وكړ

حُدِّثْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَنَّكَ قُلْتَ صَلاَةُ الرَّجُلِ قَاعِدًا عَلَى نِصْفِ الصَّلاَةِ وَأَنْتَ

اې دالله رسوله! ما ته دا ويل سوي دي چې تاسو فرمايلي دي چي په ناسته لمونځ كول د نيم لمانځه برابر دى او تاسو په خپله

تُصَلِّي قَاعِدًا قَالَ أَجَلْ وَلَكِنِّي لَسْتُ كَأَحَدٍ مِنْكُمْ. رواه مسلم

په ناسته لمونځ كوئ، رسول الله ﷺ وفرمايل: هو، تا چي څه وويل صحيح دي مگر زه ستاسو په ډول نه يم. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱/۵۰۷، رقم: ۱۲۰-۷۳۵.

تشريح: د عربو عادت دى چي كله د يو چا څخه د تعجب خبره واوري نو د هغه پر سر لاس ايږدي او د هغوى په نزد داسي كول د ادب خلاف نه دى بلكه دا د زياتي مينې او زياتي بې تكلفي سبب دى، د عبدالله بن عمرو رضي الله عنه د رسول الله ﷺ سره د زياتي درجې مينه او بې تكلفي وه ځكه رسول الله ﷺ چي لمونځ وكړ نو د حيرانتيا له مخي هغه هم خپل لاس د رسول الله ﷺ پر سر مبارك كښېښنود او هغه ته تعجب پر دې خبره وسو چي رسول الله ﷺ خو به پر افضل خبره باندي عمل كوى نو بيا رسول الله ﷺ ولي په ناسته لمونځ وكړ، د رسول الله ﷺ د جواب خلاصه

داوه چي نه خو نور پر ما او نه ما پر نورو قیاس کوه ځکه چي دا خو یوازي زما ځانګړتیا ده چي زه په ناسته هم لمونځ کوم او زما لمونځ ناقص نه وي زه چي هر ډول لمونځ کوم زما لمونځ پوره کیږي .

په لمانځه کي راحت دی

﴿۱۱۸۴﴾: وَعَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ قَالَ قَالَ رَجُلٌ مِنْ خَزَاعَةَ لَيْتَنِي صَلَّيْتُ

د سالم بن ابو جعد رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي د خزاعة قبیلې یو سړي وویل کاشکي زه لمونځ وکړم

فَاسْتَرَحْتُ فَكَأَنَّهُمْ عَابُوا ذٰلِكَ عَلَيْهِ فَقَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

نو پر آرام به سم، صحابه کرامو د هغه پر دې خبره غیب ولګوی هغه وویل ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي

وَسَلَّمَ يَقُولُ أَقِمِ الصَّلَاةَ يَا بِلَالُ أَرِحْنَا بِهَا . رواه أبو داود .

چي فرمایل یې: اې بلاله ! اقامت وکړه چي موږ راحت تر لاسه کړو . ابو داؤد.

تخریج: سنن ابي داؤد: ۵\۲۶۲، رقم: ۴۹۸۵.

تشریح : د لمانځه تاثیر انساني راحت، اطمینان او د زړه سکون دی ، کوم څوک چي د زړه په اخلاص سره لمونځ کوي نو هغه ته یو عجیب ډول راحت تر لاسه کیږي او د هغه زړه او دماغ د سکون او اطمینان د خزانو څخه ډکیږي .

د خزاعه قبیلې د یاد سوي سړي د ویلو مطلب دا وو چي زه غواړم لمونځ وکړم او بیا د خپل پروردګار عبادت ، د هغه مناجات، حمد او د هغه د کلام پاک د ویلو د خوند څخه راحت او سکون تر لاسه کړم، خلکو د هغه خبره بده وګڼل نو یوه وجه دا چي د هغه د قول دوې معناوي کیدای سي : لومړی خو دا چي د لمانځه په ذریعه راحت تر لاسه کړم ، دوهم دا چي د لمانځه څخه راحت تر لاسه کړم، یعني لمونځ وکړم او په ارامه سره کښېنم، د هغه مراد خو اوله معنی وه مګر خلکو د دوهمي معنی مراد واخیستی چي د هغو خوښه نه سول ځکه هغه د خلکو غلط فهمي لیري کولو لپاره او د خپل مراد څرګند کولو لپاره د رسول الله ﷺ دا ارشاد چي بلال رضی اللہ عنہ ته یې فرمایلی وو نقل کړ چي اې بلاله ! اقامت وکړه چي موږ ددې په ذریعه راحت تر لاسه کړو ځکه چي د رسول الله ﷺ لپاره یوازي د الله تعالی په عبادت کي راحت وو او په لمانځه کي بوخت کېدل د رسول الله ﷺ د آرام او سکون لویه ذریعه وه ، د لمانځه څخه پرته د دنیا ټول

اعمال رسول الله ﷺ د رنځ او عدن په لمانځه کي دننه د خپل پروردګار لوئي او د خپل خالق مناجات او حمد بيانيږي چي د يو کامل او اکمل بنده د خپل پروردګار په مناجاتو کي بوخت کېدل د هغه لپاره تر ټولو لوی راحت دی ځکه رسول الله ﷺ فرمايلي دي :

(قُرَّةُ عَيْنِيْ فِي الصَّلٰوةِ)

ژباړه : زما د سترګو يخوالی په لمانځه کي دی .

============

بَابُ الْوِتْـرِ (دوتر لمانځه بيان)

وِتر[1] هغه لمانځه ته وايي چي په هغه کي طاق رکعتونه وي مګر د فقهاؤ په نزد وتر هغه خاص لمانځه ته وائي چي د هغه وخت د ماخستن د لمانځه وروسته وي چي په عامه توګه د ماخستن وروسته بې وکړي او په دې باب کي د دغه وتر بيان کيږي .

ايا وتر لمونځ واجب دې که سنت ؟

د وتر لمانځه په اړه د امامانو په نزد په دوو شيانو کي اختلاف دی: اول شی خو دا چي ايا وتر لمونځ واجب دی که سنت؟ امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه فرمائي چي وتر لمونځ واجب دی، امام شافعي رحمة الله عليه او قاضي ابويوسف رحمة الله عليه فرمائي چي وتر سنت دی .

وتر يو رکعت دی که درې رکعته ؟

د علماؤ په نزد دوهم دا اختلاف دی چي وتر لمونځ يو رکعت دی که درې؟ د حنفيه په نزد وتر درې رکعته دي او د اکثرو امامانو مذهب دادی چي وتر لمونځ يو رکعت دی مګر د دې حضراتو په نزد هم د وتر لپاره يوازي يو رکعت کول مکروه دی بلکه دا حضرات وايي چي اول دي په دوو رکعتو کولو سره سلام وګرځوي د هغه وروسته دي وتر وکړي .

د وتر لمانځه طريقه څرنګه ده ؟

د حنفيه په نزد د وتر لمونځ د ماښام د لمانځه په ډول درې رکعته کيږي، د دې د کولو هغه طريقه ده کومه چي د فرض لمانځه وروسته ده خو فرق يوازي دادی چي د فرض لمانځه يوازي

---

[1] - د (وتر) په لفظ کي واو په زور او زېر دواړو ويل کيدای سي مګر په زير سره ويل بې ډېر مشهور دي

په دوو رکعتو کي د سورة فاتحه وروسته دوهم سورت ویل کیږي او په وتر لمانځه کي په درو سره رکعتو کي د دوهم سورت ویلو حکم دی او په دریم رکعت کي د دوهم سورت وروسته دواړه لاسونه په تکبیر ویلو سره غوږو ته پورته کړل سي او په کرار اواز سره دي دعاء قنوت ووایي، دعاء قنوت دا دی.

(اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْتَعِينُكَ وَنَسْتَهْدِيكَ وَنَسْتَغْفِرُكَ وَنَتُوبُ اِلَيْكَ وَنُؤْمِنُ بِكَ وَنُثْنِيْ عَلَيْكَ الْخَيْرَ وَنَشْكُرُكَ وَلَا نَكْفُرُكَ وَنَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَنْ يَّفْجُرُكَ اَللّٰهُمَّ اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَلَكَ نُصَلِّيْ وَنَسْجُدُ وَاِلَيْكَ نَسْعٰى وَنَحْفِدُ وَنَرْجُوا رَحْمَتَكَ وَنَخْشٰى عَذَابَكَ اِنَّ عَذَابَكَ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ.)

ژباړه: اې الله! موږ ستا څخه مرسته غواړو، او ستا څخه د هدایت غوښتونکي یو ستا څخه د خپلو ګناهو معافي غواړو موږ ستا په وړاندي توبه کوو، پر تا باندي ایمان راوړو ستا ښه تعریف کوو موږ ستا شکر ادا کوو ناشکري نه کوو او کوم څوک چي ستا ناشکري او نافرماني کوي موږ هغه پریږدو، اې پروردګاره! موږ ستا عبادت کوو تا ته لمونځ کوو تا ته سجده کوو ستا په لور درځغلو ستا په عبادت کي ژر مستعد کیږو ستا د رحمت امید لرو، ستا د عذاب څخه ییریږو بیشکه ستا عذاب پر کافرانو نازلېدونکی دی.

که ددې څخه وروسته دغه دعاء هم ووایي نو غوره ده:

اَللّٰهُمَّ اهْدِنِيْ فِيْمَنْ هَدَيْتَ وَ عَافِنِيْ فِيْمَنْ عَافَيْتَ وَ تَوَلَّنِيْ فِيْمَنْ تَوَلَّيْتَ وَ بَارِكْ لِيْ فِيْمَا اَعْطَيْتَ وَ قِنِيْ شَرَّ مَا قَضَيْتَ فَاِنَّكَ تَقْضِيْ وَ لَا يُقْضٰى عَلَيْكَ اِنَّهُ لَا يَذِلُّ مَنْ وَالَيْتَ وَلَا يَعِزُّ مَنْ عَادَيْتَ تَبَارَكْتَ رَبَّنَا وَتَعَالَيْتَ.

ژباړه: اې الله! د هغه کسانو سره ما ته هدایت وکړې چي هغوی ته تا هدایت کړی دی ما د هغه کسانو سره د مصیبتو او آفتو څخه وساتې کوم چي تا ساتلي دي د هغه کسانو سره زما مینه پیدا کړې د کوم چا سره چي ته مینه کوې او څه چي تا راکړي دي په هغه کي ما ته برکت راکړې او ما د هغه بدیو څخه وساتې کوم چي مقدر دي بیشکه ته حاکم یې محکوم نه یې او د چا سره چي ته مینه وکړې هغه ذلیل کیدای نسي او د چا سره چي ستا عداوت وي هغه عزت نسي تر لاسه کولای، اې الله ستا ذات بزرګ او لوړ دی.

که د چا دعاء قنوت په یاد نه وي نو هغه دي د دعاء قنوت پر ځای دغه دعاء وایي:

(رَبَّنَا اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ)

ژباړه: اې زموږ پروردګاره! موږ ته په دنيا او آخرت کې نيکي راکړې او موږ د دوږخ د عذاب څخه وساتې . او که يو څوک دغه دعاء هم نه سي ويلای نو بيا دي (اللهم اغفرلي) يا (يارب) درې ځله وو ايي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

دوتر لمانځه رکعتونه

﴿۱۱۸۵﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ صَلَاةُ اللَّيْلِ مَثْنٰى مَثْنٰى

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د شپې لمونځ دوه دوه

فَإِذَا خَشِيَ أَحَدُكُمُ الصُّبْحَ صَلّٰى رَكْعَةً وَاحِدَةً تُوتِرُ لَهٗ مَا قَدْ صَلّٰى . متفق عليه

رکعته دی هر کله چي په تاسو کې د يو چا د سهار کېدو بيره وي نو يو رکعت دي بل وکړي چي هغه لمونځ وتر جوړ سي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۴۷۷، رقم: ۹۹۰، ومسلم: ۱\۵۱۶، رقم: ۱۴۵- ۷۴۹.

تشريح : د حديث د اولي برخي مطلب دادی چي په شپه کې کونکي نفل لمنځونه دي دوه دوه رکعته وکړل سي، امام شافعي رحمة الله عليه ، امام ابويوسف رحمة الله عليه او امام محمد رحمة الله عليه د دغه حديث په رڼا کې ويلي دي: غوره داده چي په شپه کي نفل لمنځونه دي داسي وکړل سي چي د هرو دوو رکعتو وروسته دي سلام وګرځول سي يعني دوه دوه رکعتونه دي کوي.

د حديث د دوهمي برخي مطلب دادی: چي په شپه کي په لمانځه بوخت کېدونکی سړی چي دا ويني چي شپه ختميږي او سهار پيل کيدونکی دی نو د دغه لمنځو وروسته دي يو رکعت وکړي چي دا يو رکعت مخکي وکړي چي لمونځ طاق سي همداسي دا حديث د امام شافعي رحمة الله عليه دليل دی ځکه د هغه په نزد وتر يو رکعت دی.

امام طحاوي (حنفي) رحمة الله عليه د (رکعة واحد) مطلب دا بيان کړی دی چي يو رکعت دي داسي وکړي چي د هغه مخکي دي دوه رکعته وکړي چي دا رکعت دي مخکي شفع يعني د

یوه رکعت مخکي دي دواړه رکعتونه طاق کړي ګویا یو رکعت نسي کولای بلکه دوه رکعته په یو ځای کولو سره دي وکړل سي.

علامه ابن همام رحمة الله علیه فرمائي چي د دغه حدیث څخه دا ثابتیږي چي وتر یو رکعت دی ځکه نو ددي لپاره دي بیل تکبیر تحریمه وکړل سي نو د دې په ذریعه د وتر په یو رکعت کیدو باندي استدلال کول صحیح نه دی، بیا د وتر د درو رکعتو په اړه د حنفیه یو دلیل دا هم دی چي رسول الله ﷺ صلوة بتیرا یعني یو اځي یو رکعت د لمانځه کولو څخه منعه فرمایلې ده.

او کوم چي د صحابه کرامو او سلفو عمل دی نو د دې په باره کي په شوق سره ویل کیدای سي چي اکثرو فقهاؤ، صحابه کرامو او د سلفو معمول وتر دزې رکعته کول وه، د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په باره کي بیانیږي چي د هغه به په دې اړه ډیره زیاته پابندي وه، هغه یو وار سعید بن مسیب رحمة الله علیه د وتر پر یو رکعت کولو باندي ولیدی نو ورته وه یې فرمایل: څرنګه نیمګړی لمونځ کوې دوه رکعته نور وکړه کنه نو سزا به درکړم (نهایه).

امام ترمذي رحمة الله علیه د حضرت علي رضی الله عنه څخه د وتر درې رکعته نقل کړي دي او دا یې د عمران بن حصین رحمة الله علیه، بي بي عائشې رضی الله عنها، ابن عباس رضی الله عنه او ابو ایوب رضی الله عنه خوا ته منسوب کړی دی او په اخر کي یې صراحت کړی دی چي د صحابه کرامو او تابعینو ډله دې خوا ته دي.

د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه او ابن مسعود رضی الله عنه په اړه ذکر دی چي د هغوی په نزد وتر درې رکعته دي، امام حسن بصري رحمة الله علیه فرمايي چي د پخوانیو بزرګانو پر دې معمول وو (هدایه).

درې رکعته وتر په صحابه کرامو کي مشهور وه، یو رکعت وتر خو په عامه توګه خلکو پېژندل هم نه د ابن عباس یو وار معاویه رضی الله عنه یو رکعت په وتر کولو باندي ولیدی نو هغه ته ډیر تعجب وسو هغه د حضرت ابن عباس رضی الله عنه په خدمت کي حاضر سو هغه ته یې ډیر په اهتمام سره بیان وکړ، ابن عباس رضی الله عنه د هغه وحشت او حیرت په دې ویلو سره ختم کړ چي معاویه رضی الله عنه دیني عالم دی د رسول الله ﷺ د صحبت څخه مشرف سوی دی پر هغه اعتراض مه کوئ (بخاري).

په هرحال د دې ټولو خبرو په دلیل سره فیصله کیږي چي د وتر درې رکعته دي کوم حدیثونه چي د وتر د یوه رکعت څخه ثابتیږي هغه ټول د تاویل قابل دي چي پر وخت باندي به انشاءالله بیان کړل سي، یا دا چي په هغه کي د رسول الله ﷺ د مخکنیو حالاتو ذکر سوی دی په پای کي د رسول الله ﷺ درې رکعته وه چي په صحابه کرامو کي ډیر مشهور وه، او څرګنده ده چي د امت لپاره د رسول الله ﷺ هغه فعل حجت او دلیل جوړیدای سي پر کوم چي رسول الله ﷺ په پای کي عمل اختیار کړی وي.

﴿۱۱۸۶﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْوِتْرُ رَكْعَةٌ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ. رواه مسلم

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: وتر د شپې د آخري برخي يو رکعت دی. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱۱ ۵۱۸۱، رقم: ۱۵۳- ۷۵۲.

تشريح: د (الوتر ركعة) مطلب دا دی چي د مخکي سورو دوو رکعتونو سره يو ځای د وتر يو رکعت دی ګويا د دې مفهوم داسو چي د وتر لپاره درې رکعته يعني دوه رکعته مخکي او د سلام ګرځولو وروسته بيا يو رکعت دي وکړل سي، د حديث د ښکاره الفاظو څخه په آخوا کيدو د تاويل په اختيارولو سره دا معنی ځکه بيان سوې ده چي په هغه حديثو کي چي د هغه څخه د وتر درې رکعته ثابت دي او په هغه حديثو کي چي د هغه څخه د يوه رکعت اثبات کيږي تطبيق پيدا سي او د حديث حقيقي معنی او په مفهوم کي مخالفت نه پيدا کيږي، د وتر کولو غوره وخت د شپې اخري وخت دی کله چي د تهجد وغيره لمونځ وکړل سي مګر په عامه توګه سره خلک د تهجد د لمانځه لپاره نه ولاړيږي ځکه د ماخستن د لمانځه څخه سمدستي وروسته وتر هم کوی، شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمة الله عليه ليکلي دي چي دا حديث پر دې خبره دلالت کوي چي د وتر يو رکعت دی، په کومو حديثونو کي چي د وتر درې رکعتونه ثابت دي هغه مخکي ذکر کيږي.

په يوه تشهد سره د پنځو رکعتو مسئله

﴿۱۱۸۷﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ مِنَ اللَّيْلِ ثَلَاثَ عَشَرَةَ رَكْعَةً يُوتِرُ مِنْ ذٰلِكَ بِخَمْسٍ لَا يَجْلِسُ فِيْ شَيْءٍ إِلَّا فِيْ آخِرِهَا. متفق عليه

د حضرت عائشي رضي الله عنها څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به لمونځ ادا کوی د شپې ديارلس رکعته او په هغو کي پنځه رکعته به يې وتر کول او دهغو په منځ کي به يوازي په آخري رکعت کي د تشهد لپاره کښېنستی. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\۲٦، رقم: ۱۱۴۰، ومسلم ۱\۵۰۸، رقم: ۱۲۳- ۷۳۷.

تشريح: په شپه كي د رسول الله ﷺ لمونځ په څو طريقو سره ذكر سوی دی په هغه كي يوه طريقه دا هم ده چي رسول الله ﷺ به اته ركعته په څلور واره سلام ګرځولو سره يعني دوه دوه ركعته كول بيا په اخر كي پنځه ركعته په يوه تشهد او يوه سلام سره به يې داسي كول چي په هغه كي به يې د وتر نيت هم كوی يعني وتر لمونځ به يې هم په هغه پنځو ركعتو كي ګډوی او په هغه پنځو ركعتو كي په يوه ركعت كي هم نه خو د تشهد لپاره كښېنستی او نه به يې سلام ګرځوی نو دا حديث په صحيح توګه د دې خبري دليل دی چي پنځه ركعته داسي په يوځاي كولو سره چي په هغه كي په هيڅ يو ركعت كي هم د تشهد لپاره نه كښېني بلكه يوازي اخري يعني د پنځم ركعت وروسته قعده وكړل سي مګر د فقهاؤ په نزد دا مسئله مخالفه ده د كومو حضراتو په نزد چي دا جائز نه ده هغوی د نه كښېنستو او سلام نه كولو سره كوي يعني د هغوی په نزد (لا يجلس في شيئ الا في آخرها) مطلب دا بيانوي چي رسول الله ﷺ به په دغه پنځو ركعتو كي يوازي د آخري ركعت وروسته سلام ګرځوی او په مينځ كي به يې د هيڅ ركعت وروسته سلام نه ګرځوی، په ځينو روايتو كي ذكر دي چي (لم يسلم لا في الآخرين) ځيني حضراتو دا تاويل هم كړی دی چي په دغه پنځو ركعتو كي پرته د اخري ركعت څخه په هيڅ يو ركعت كي اوږده قعده نه كول يوازي په اخري ركعت كي به يې اوږده قعده كول په هرحال تر څلورو زيات ركعتونه په يوځاي كولو سره په يوه سلام سره كول په متفقه توګه د ټولو علماؤ په نزد جائز دي مګر د حنفيه په نزد دومره فرق دی چي د هغوی په نزد تر اتو ركعتو پوري په يو ځاي كولو سره په يوه سلام سره كول بلاكراهيته جائز دی خو د اتم ركعت وروسته په كراهت سره جائز دي.

د نبي كريم ﷺ تهجد او وتر لمونځ

﴿۱۱۸۸﴾: وَعَنْ سَعْدِ ابْنِ هِشَامٍ قَالَ انْطَلَقْتُ اِلٰى عَائِشَةَ فَقُلْتُ يَا اُمَّ الْمُؤْمِنِينَ

د حضرت سعد بن هشام رضي الله عنه څخه روايت دی چي زه بي بي عائشي رضي الله عنها ته ورغلم او عرض مي وكړ چي اې د مؤمنانو موري!

اَنْبِئِينِي عَنْ خُلُقِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ اَلَسْتَ تَقْرَاُ الْقُرْآنَ

د رسول الله ﷺ د اخلاقو حال راته بيان كړئ، هغې وفرمايل ايا تا قرآن نه دی ويلي ؟

قُلْتُ بَلٰى قَالَتْ فَاِنَّ خُلُقَ نَبِيِّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ الْقُرْآنُ قُلْتُ يَا

ما عرض وکړ: هو، هغې وفرمايل: د نبي کريم ﷺ اخلاق قرآن وه، ما بيا عرض وکړچې اې

أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ أَنْبِئِينِي عَنْ وِتْرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ كُنَّا

ام المؤمنين ! د رسول الله ﷺ د وترو حال راته بيان کړه، هغې وفرمايل : موږ به

نُعِدُّ لَهُ سِوَاكَهُ وَطَهُورَهُ فَيَبْعَثُهُ اللهُ مَا شَاءَ أَنْ يَبْعَثَهُ مِنَ اللَّيْلِ فَيَتَسَوَّكُ

د رسول الله ﷺ لپاره د مسواک او اوبو انتظام کوی الله تعالی به رسول الله ﷺ د شپې را بيداره کړی، کله چې به رسول الله ﷺ وېښ سو نو مسواک به يې وهی

وَيَتَوَضَّأُ وَيُصَلِّي تِسْعَ رَكَعَاتٍ لاَ يَجْلِسُ فِيهَا إِلاَّ فِي الثَّامِنَةِ فَيَذْكُرُ اللهَ

او اودس به يې کوی او د هغه وروسته به يې نهه رکعته کول چې په هغو کې په اتم رکعت کې به د تشهد لپاره کښېنستی، د الله جَلَّ جَلَالُهُ ذکر به يې کوی

وَيَحْمَدُهُ وَيَدْعُوهُ ثُمَّ يَنْهَضُ وَلاَ يُسَلِّمُ فَيُصَلِّ التَّاسِعَةَ ثُمَّ يَقْعُدُ فَيَذْكُرُ

او د الله تعريف به يې کوی او دعاء به يې غوښتل تر دې وروسته به ولاړ سو سلام به يې نه ګرزوی تر هغو چې نهم رکعت باندې به کښېنستی نو ياد به يې کړی

اللهَ وَيَحْمَدُهُ وَيَدْعُوهُ ثُمَّ يُسَلِّمُ تَسْلِيمًا يُسْمِعُنَا ثُمَّ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ مَا

الله جَلَّ جَلَالُهُ او حمد به يې ووايه د الله جَلَّ جَلَالُهُ او دعاء به يې غوښتل، تر دې وروسته به يې موږ ته د اورولو لپاره په لوړ آواز سره سلام وګرځوی بيا به يې دوه رکعته وکړل وروسته تر

يُسَلِّمُ وَهُوَ قَاعِدٌ وَتِلْكَ إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً يَا بُنَيَّ فَلَمَّا سَنَّ نَبِيُّ اللهِ ﷺ

سلام ګرځولو په ناسته، زويه! دا يوولس رکعته سول بيا چې د رسول الله ﷺ عمر مبارک زيات سو

وَأَخَذَهُ اللَّحْمُ أَوْتَرَ بِسَبْعٍ وَصَنَعَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ مِثْلَ صَنِيعِهِ الأَوَّلِ فَتِلْكَ

بدن يې دروند سو نو رسول الله ﷺ به اووه رکعته وتر کول او دوه رکعته به يې وروسته په ناسته کول

تِسْعٌ يَا بُنَيَّ وَكَانَ نَبِيُّ اللهِ ﷺ إِذَا صَلَّى صَلاَةً أَحَبَّ أَنْ يُدَاوِمَ عَلَيْهَا وَكَانَ إِذَا

نو (زویه!) دا نهه رکعته سول، د نبي کریم ﷺ دا عادت وو چي کوم لمونځ به یې کوی نو هغه به یې همیشه کول خوښول او کله چي به

غَلَبَهُ نَوْمٌ أَوْ وَجَعٌ عَنْ قِيَامِ اللَّيْلِ صَلَّى مِنَ النَّهَارِ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً

د خوب د غلبې له کبله یا د وظیفې له کبله به یې د شپې لمونځ ونه کړ نو د ورځي به یې دوولس رکعته کول

وَلاَ أَعْلَمُ نَبِيَّ اللَّهِ ﷺ قَرَأَ الْقُرْآنَ كُلَّهُ فِي لَيْلَةٍ وَلاَ صَلَّى لَيْلَةً إِلَى الصُّبْحِ

او زما دا په یاد نه دي چي رسول الله ﷺ ټول قرآن په یوه شپه یا ټوله شپه کي ویلي وي او یا د ماخستن څخه تر سهاره پوري یې لمونځ کړی

وَلاَ صَامَ شَهْرًا كَامِلاً غَيْرَ رَمَضَانَ. رواه مسلم

یا د رمضان د میاشتي څخه پرته په بله میاشت کي د پوره میاشتي روژې نیولي وي. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم: ۱/ ۵۱۲- ۵۱۴، رقم: ۱۳۹- ۷۴۶،

تشریح: لکه څرنګه چي مخکي ښودل سوي دي چي رسول الله ﷺ به هغه عمل زیات خوښوی چي همېشه به یې کوی، د رسول الله ﷺ مبارک عادت وو چي کله به ېې نفل لمونځ یا یو بل نفل عبادت به ېې کوی نو پر هغه به ېې همېشتوب اختیاروی، هو که عذر به وړاندي سو یا د بیان جواز مقصد به وو نو کله کله به ېې پرېښودل هم، دلته خو بي بي عائشه ﷺ فرمایي چي: رسول الله ﷺ د روژې څخه پرته په هیڅ میاشت کي هم پوره روژې نه نیولې، او د یو بل روایت څخه معلومیږي چي رسول الله ﷺ به د شعبان پوره روژې نیولې مګر د بي بي عائشې ﷺ د دغه دواړو روایتونو څرګنده اختلاف د هغې یو دریم روایت ختموي چي په هغه کي صراحت سوی دی چي رسول الله ﷺ به په شعبان کي یوه میاشت نه بلکه د هغه میاشتي په اکثرو ورځو کي روژې نیولې.

دوتر وروسته دوه رکعته نفل لمونځ

د وتر وروسته د دوو رکعتو نفل کولو اثبات نه یوازي دا چي د روایت څخه کیږي بلکه نور هم ډېر روایتونه وارد دي چي د هغو څخه ثابتیږي چي د وتر وروسته دوه رکعته نفل کیدای سي، مګر اوس تر دې وروسته یو بل روایت راځي چي د هغه الفاظ دا دي (اجعلوا آخر صلاتکم

باللیل وترا) یعني د شپې په لمانځه کي اخري لمونځ وتر کوئ، په څرګند خو په ټولو روایتونو کي ډیر سخت ټکر معلومیږي دا وجه ده چي د ټکر رفع کولو لپاره علماؤ هڅي کړي دي، امام مالک رحمة الله علیه خو د سره د دې حدیث څخه انکار کړی دی چي د هغه څخه د وتر وروسته دوه رکعته نفل ثابتیږي هغه فرمایلي دي چي دا حدیث صحیح نه دی، امام احمد رحمة الله علیه د یو درمیاني لاري را ایستلو لپاره هڅه کړې ده او فرمائي چي د وتر وروسته دوه رکعته لمونځ نه خو زه خپله کوم او نه بل څوك د کولو څخه منعه کوم.

د جمهور علماؤ وینا ده چي د وتر وروسته دوه رکعته نفل کول د حدیث څخه ثابت دي ځکه دا بالکل پرېښودل کیدای هم نسي، نو کوم حضرات چي د دوو رکعتو کولو قائل دي او کوم چي د احادیثو په خپلو کي د ټکر د پورته کولو سوال دی نو د دې حضراتو لخوا په دغه حدیثونو کي دوه ډوله تطبیق پیدا کیږي یو خو دا چي په (اجعلوا اخر صلاتکم باللیل وترا) کي د صلوة څخه مراد د دوو رکعتو څخه پرته نور نفل لمنځونه دي همدا سي د دې حدیث مطلب به دا وي چي د شپې د وتر کولو وروسته د دوو رکعتو وروسته نور نفلونه مه کوئ.

دوهم تطبیق د جمهور علماؤ لخوا دا بیانیږي چي په دې اړه غوره طریقه دا ده چي کله خو د وتر وروسته دوه رکعته کول کیږي او کله نه، چي په دواړو حدیثونو باندي عمل وکړل سي ګویا داسي ویل پکار دي چي حدیث (اجعلوا آخر صلوتکم ....الخ) پر استحباب باندي محمول دی نه پر وجوب باندي، یعني په دې کي چي کوم حکم ورکړل سوئ دی هغه د استحباب په توګه دی د وجوب په توګه نه دی، د دې وروسته دا خبره هم اختلافي ده چي ایا رسول الله ﷺ د وتر لمانځه وروسته دوه رکعته په داسي صورت کي کول چي رسول الله ﷺ به د شپې په لومړنۍ برخه کي یعني د ماخستن وروسته به یې ادا کول یا په دې شکل کي به یې کول چي رسول الله ﷺ به وتر د شپې په آخر کي د تهجد وروسته ادا کول، په دې اړه دا ابوامامه رحمة الله علیه څخه چي کوم حدیث نقل دی هغه خو مطلق دی په هغه کي یوازي دومره مذکور دی چي رسول الله ﷺ به د وتر وروسته دوه رکعته په ناستي کول دا هیڅ ذکر نه دی چي په اوله برخه د شپې کي به یې کول یا د شپې په اخري برخه کي، مګر د ثوبان رضی الله عنه څخه چي کوم حدیث نقل دی هغه پر دې خبره دلالت کوي چي رسول الله ﷺ د وتر وروسته دوه رکعته کول په دې صورت کي چي د شپې په اوله برخه کي به یې وتر اداء کول دا دواړه حدیثونه د دې باب په اخر کي راځي.

د بخاري، مسلم او موطا روایتونه پر دې خبري دلالت کوي چي دا د قیام لیل په صورت کي وو یعني رسول الله ﷺ به د شپې تهجد لمونځ وکړ نو د وتر وروسته به یې دوه رکعته کول او

دا صحیح هم دی .

ځيني علماء فرمايي چي دا دوه رکعته د وتر سره تړلي دي او وتر د سنتو قائم مقام دي يعني څرنګه چي د فرض لمانځه سنت وي چي هغه د فرض لمانځه مخکي يا وروسته وکړل سي همداسي د دواړو رکعتونو وتر د سنتو قائم مقام دي چي د وتر څخه وروسته کول کيږي .

وتر دي د شپې په آخر کي وسي.

﴿۱۱۸۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِجْعَلُوْا آخِرَ صَلاَتِكُمْ بِاللَّيْلِ وِتْرًا . رواه مسلم .

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د خپل شپې په لمانځه کي آخري لمونځ وتر ولرئ . مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۵۱۷، رقم: ۱۵۱ – ۷۵۱.

تشريح : د دې حديث په اړه مخکي په تفصيل سره بيان سوی دی مګر په دې باندي يو وار بيا پوه سئ چي په دې حديث کي چي کوم حکم ورکول کيږي هغه د واجب کېدو په توګه نه دی بلکه د مستحب کېدو په توګه دی .

﴿۱۱۹۰﴾: وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَادِرُوْا الصُّبْحَ بِالْوِتْرِ . وراه مسلم .

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د سهار کيدو څخه مخکي پر وتر کولو تلوار کوئ . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۱\۵۱۷، رقم: ۱۴۹–۷۵۰.

تشريح : مطلب دا دی چي د سهار کېدو څخه مخکي وتر کوئ د حنفيه په نزد دا حکم د وجوب لپاره دی که په شپه کي وتر لمونځ پاته سي نو د ورځي د هغه قضاء راوړل واجب ده .

د وتر لمانځه وختونه

﴿۱۱۹۱﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ خَافَ أَنْ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د چا چي دا بيره وي چي

لَا يَقُوْمَ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ فَلْيُوْتِرْ أَوَّلَهُ وَمَنْ طَمَعَ أَنْ يَقُوْمَ آخِرَهُ فَلْيُوْتِرْ آخِرَ

د شپې په آخره کې د وترو لپاره نه سې پورته کېدلای نو هغه ته پکار دي چې د شپې په اول کې وتر وکړي او د چا چې دا امید وي چې د شپې په آخر کې راپورته کېدای سي نو هغه دي وتر په آخر کې ادا کړي

اللَّيْلِ فَإِنَّ صَلَاةَ آخِرِ اللَّيْلِ مَشْهُوْدَةٌ وَذٰلِكَ أَفْضَلُ . رواه مسلم .

د شپې، ځکه چې د شپې دآخري برخې لمونځ مشهود او افضل دی . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱\ ۵۲۰، رقم: ۱۶۲- ۷۵۵.

تشريح : د شپې د اخري برخې د فضيلت او برکتونو په باره کې تاسو په تېرو صفحو کې وويل چې د شپې په دغه برخه کې چې کوم عبادت وکړل سي هغه د ثواب او سعادت په اعتبار ډېر زيات غوره دی ځکه چې د شپې په اخر کې وتر لمونځ کول افضل دی، نه يوازي دا چې په افضل وخت کې وتر ادا کيږي بلکه په دې وخت کې د رحمت ملائکې او د الله تعالی د انوارو او برکتونو د نزول په وجه ثواب هم زيات تر لاسه کيږي .

﴿۱۱۹۲﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مِنْ كُلِّ اللَّيْلِ أَوْتَرَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَوَّلِ اللَّيْلِ وَأَوْسَطِهِ وَآخِرِهِ وَانْتَهٰى وِتْرُهُ إِلَى السَّحَرِ . متفق عليه

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ د شپې په هره برخه کې وتر کړي دي يعني د شپې په لومړۍ برخه کې هم او د شپې په منځنۍ برخه کې هم او د شپې په آخره برخه کې هم، د رسول الله ﷺ د وترو آخري وخت د شپې آخري شپږمه برخه وه . بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\ ۴۸۶، رقم: ۹۹۶، ومسلم ۱\ ۵۱۲، رقم: ۱۳۶- ۷۴۵.

﴿۱۱۹۳﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ أَوْصَانِيْ خَلِيْلِيْ بِثَلَاثٍ صِيَامِ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ وَرَكْعَتَيِ الضُّحٰى وَأَنْ أُوْتِرَ قَبْلَ أَنْ أَنَامَ . متفق عليه

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې زما دوست (محمد ﷺ) ما ته د درو خبرو وصيت کړی دی په مياشت کې د درو روژو ساتل، دويم د لمر ختلو وروسته دوه رکعته لمونځ کول او

دريم دا چي د بيده كيدو څخه وړاندي وتر وكړم. مسلم او بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۴\۲۲٦، رقم: ۱۹۸۱، ومسلم ۱\۴۹۹، رقم: ۸۵- ۷۲۱.

تشريح: د هري مياشتي د درو روژو په تعين كي مختلف قولونه دي ځينو علماؤ ويلي دي چي د مياشتي د درو روژو څخه مراد ايام بيض يعني د هري مياشتي د ديارلسمي، څورلسمي او پنځلسمي نېټي روژې مراد دي، د ځينو حضراتو لخوا ويل سوي دي چي يوه روژه د مياشتي په سر كي او يوه روژه د مياشتي په مينځ كي او يوه روژه د مياشتي په پای كي ونيول سي، د ځينو محققينو رايه ده چي په ټوله مياشت كي كله چي وغواړي درې روژې دي ونيسي، د ضحی د دوو ركعتو څخه د اشراق يا څاښت لمونځ مراد دی چي د لمر پورته كېدو وروسته دي وكړل سي د دې لمنځونو ادنا درجه دوه ركعته دي مگر د اشراق د لمانځه زياته درجه شپږ ركعته او د څاښت د لمانځه دوولس ركعته دي، ابوهريره رضي الله عنه ته يې د شپې په اول كي د وتر كولو لپاره ځكه وفرمايل چي هغه به د شپې په شروع كي د رسول الله ﷺ حديثونه يادول او د هغه په تكرار كي به بوخت وو او دا لړۍ به د شپې تر ډيره وخته پوري پيل وه په دې وجه د هغه لپاره په شپه كي راپورته كېدل ډير گران كار وو د علم د دې مصروفيت په وجه هغه ته يې د اشراق يا څاښت دوه ركعته كولو لپاره هم وفرمايل، نو د دې څخه دا خبره معلومه سوه چي د علم دين د حاصلولو او د هغه ترويج او اشاعت كي مصروفېدل د نفل عبادت د بوختيا څخه غوره دی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د رسول الله ﷺ د وتر وختونه

(۱۱۹۴): عَنْ غُضَيْفِ بْنِ الْحَارِثِ قَالَ قُلْتُ لِعَائِشَةَ أَرَأَيْتَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى

د حضرت غضيف بن حارث رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه پوښتنه وكړه چي ايا تا رسول الله ﷺ ليدلی دی

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَغْتَسِلُ مِنَ الْجَنَابَةِ فِيْ أَوَّلِ اللَّيْلِ أَمْ فِيْ آخِرِهِ؟ قَالَتْ

چي د جنابت غسل به يې سمدستي د شپې په اول كي كوی كه د شپې په آخر كي؟ هغې وويل:

رُبَّمَا اغْتَسَلَ فِيْ أَوَّلِ اللَّيْلِ وَرُبَّمَا اغْتَسَلَ فِيْ آخِرِهِ قُلْتُ اَللهُ أَكْبَرُ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ

زيات وخت به رسول الله ﷺ د شپې په اول کي غسل کوی او زيات وخت به يې د شپې په آخر کي هم غسل کوی، ما وويل: (الله ﷻ ډير لوی دی، ټول تعريفونه الله ﷻ لره دي

الَّذِيْ جَعَلَ فِي الْأَمْرِ سَعَةً قُلْتُ كَانَ يُوْتِرُ أَوَّلَ اللَّيْلِ أَمْ فِيْ آخِرِهِ؟ قَالَتْ رُبَّمَا

چي د دين په امر کي يې پراخي کړې ده) ما بيا پوښتنه وکړه چي ايا رسول الله ﷺ به وتر د شپې په اول کي کول که د شپې په آخر کي؟ بي بي عائشې ؓ وفرمايل: کله به يې

أَوْتَرَ فِيْ أَوَّلِ اللَّيْلِ وَرُبَّمَا أَوْتَرَ فِيْ آخِرِهِ قُلْتُ اَللّٰهُ أَكْبَرُ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ جَعَلَ

د شپې په اول کي کول او کله به يې د شپې په آخر کي هم، ما وويل: (الله ﷻ ډير لوی دی ټول تعريفونه الله ﷻ لره دي چي

فِي الْأَمْرِ سَعَةً قُلْتُ كَانَ يَجْهَرُ بِالْقِرَاءَةِ أَمْ يَخْفِتُ؟ قَالَتْ رُبَّمَا جَهَرَ بِهِ

د دين په امر کي يې پراخي کړې ده) ما بيا پوښتنه وکړه ايا د تهجد په لمانځه کي به رسول الله ﷺ په لوړ آواز قرائت وايه که کرار؟ بي بي عائشې ؓ وفرمايل: کله به يې په لوړ آواز وايه

وَرُبَّمَا خَفَتَ قُلْتُ اَللّٰهُ أَكْبَرُ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ جَعَلَ فِي الْأَمْرِ سَعَةً. رواه أبو داود وروى ابن ماجه الفصل الأخير.

او کله په کښته آواز وايه، ما وويل: (الله ﷻ ډير لوی دی ټول تعريفونه الله ﷻ لره دي چي د دين په امر کي يې پراخي کړې ده) ابو داؤد او ابن ماجه اخيري برخه روايت کړې ده.

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\ ۱۵۲- ۱۵۳، رقم: ۲۲۶، وابن ماجه ۱\ ۴۳۰، رقم: ۱۳۵۴.

د تهجد او وتر لمانځه رکعتونه

﴿۱۱۹۵﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِيْ قَيْسٍ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ بِكَمْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ

د حضرت عبد الله بن ابو قيس ؓ څخه روايت دی چي ما د بي بي عائشې ؓ څخه پوښتنه وکړه چي رسول الله ﷺ به په څو رکعته سره

ﷺ يُوْتِرُ؟ قَالَتْ كَانَ يُوْتِرُ بِأَرْبَعٍ وَّثَلَاثٍ وَسِتٍّ وَّثَلَاثٍ وَثَمَانٍ وَّثَلَاثٍ وَعَشْرٍ

وتر کول؟ هغې وفرمايل: نبي کريم ﷺ به وتر کول د څلورو رکعتو او درو رکعتو (يعني اووه رکعتو) او شپږ او درې رکعتو (يعني نهه رکعتو) او اته او درې رکعتو (يعني يوولس رکعتونه) او لس او درې رکعتو (ديارلس رکعتو)

وَّثَلاَثَ وَلَمْ يَكُنْ يُوتِرُ بِأَنْقَصَ مِنْ سَبْعٍ وَّلاَ بِأَكْثَرَ مِنْ ثَلاَثَ عَشَرَةَ. رواه أبو داود

او رسول الله ﷺ هيڅکله د اوو رکعتو څخه کم او د ديارلسو څخه زيات وتر نه دي کړي. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\۷۹، رقم: ۱۳۲۶.

تشريح: د څلورو او درو رکعتو مطلب دادی چي څلور رکعته به د تهجد وه او درې رکعته وتر، همداسي په مجموعي توګه اووه رکعته سول ګويا مخکي څلور رکعته هم مجازا په وتر کي شمېر کړل همداسي شپږ رکعته د تهجد او درې رکعته د وتر د دې مجموعي شمېر نهه سو، اته رکعته د تهجد او درې رکعته د وتر د دې مجموعي شمېر يوولس رکعته سو او لس رکعته د تهجد او درې رکعته د وتر د دې مجموعي شمير ديارلس رکعته سوه.

په هر حال دا حديث په صراحت سره دلالت کوي چي وتر يو رکعت نه دی بلکه درې رکعته دي د حديث د اخري الفاظو مطلب دانه دی چي رسول الله ﷺ هيڅ کله هم وتر لمونځ تر اوو رکعتو کم او تر ديارلسو رکعتو زيات نه دی کړي بلکه مطلب دادی چي اکثر به رسول الله ﷺ تر اوو رکعتو کم وتر نه کول، د رسول الله ﷺ څخه پنځه رکعته کول هم ثابت سوي دي همدارنګه رسول الله ﷺ به اکثر تر ديارلسو رکعتو زيات وتر نه کول، پنځلس رکعته هم د رسول الله ﷺ څخه ثابت دي.

وتر لمونځ واجب دی

﴿۱۱۹۶﴾: وَعَنْ أَبِيْ أَيُّوْبَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَلْوِتْرُ حَقٌّ عَلٰى كُلِّ مُسْلِمٍ

د حضرت ابو ايوب رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: وتر پر هر مسلمان حق دي (يعني لازم دي)

فَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُّوتِرَ بِخَمْسٍ فَلْيَفْعَلْ وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُّوتِرَ بِثَلاَثٍ فَلْيَفْعَلْ

د چا چي په پنځو رکعتو سره وتر کول خوښ وي نو هغه دي پنځه رکعته وکړي او چا ته چي په درو رکعتو سره کول منظور وي هغه دي درې رکعته وکړي

وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُّوتِرَ بِوَاحِدَةٍ فَلْيَفْعَلْ . رواه أبو داود والنسائي وابن ماجه .

او څوک چي يو رکعت کول غواړي نو هغوی دي يو رکعت وکړي . ابوداؤد، نسائي او ابن ماجه

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\۱۳۲، رقم: ۱۴۲۲، والنسائي ۳\۲۳۸، رقم: ۱۷۱۰، وابن ماجه ۱\۳۷۶، رقم: ۱۱۹۰.

تشريح : دحق معنی د واجب او ثابت ده، امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله خو د حق معنی واجب اخستې ده ځکه هغه فرمائي چي وتر لمونځ واجب دی، امام شافعي رحمه الله د حق معنی ثابت اخلي يعني وتر لمونځ سنت ثابت دی نو هغه فرمائي چي وتر لمونځ سنت دی، په دې حديث کي د وترو د رکعتو شمير پنځه هم ثابت سوی دی،درې هم او يو هم، ځکه سفيان ثوري رحمة الله عليه او نورو امامانو خو د پنځو شمېر اختيار کړی دی، امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله د درو شمير قبول کړی دی او امام شافعي رحمه الله د يوه شمير په اختيارولو سره ويلي دي چي وتر يو رکعت دی .

دوتر فضيلت

﴿۱۱۹۷﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ وِتْرٌ يُحِبُّ الْوِتْرَ فَأَوْتِرُوْا يَا أَهْلَ الْقُرْآنِ . رواه الترمذي وأبو داود والنسائي .

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : الله تعالی وتر (طاق) دی او وتر خوښوي نو اې د قرآن منونکو وتر کوئ . ترمذي ، ابوداؤد او نسائي .

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\ ۱۲۷۰ ۱۲۸، رقم: ۱۴۱۶، والترمذي ۲\ ۲۱۶، رقم: ۴۵۳، والنسائي ۳\ ۲۲۸، رقم: ۱۶۷۴.

تشريح : (الله تعالی وتر (طاق) دی) د دې مطلب دادی چي الله تعالی په خپل ذات او صفاتو کي يواځنی دی د هغه هيڅ مثال نسته همداسي په خپلو افعالو کي هم هغه يو دی چي هيڅ څوک د هغه مرسته کونکی او شريک نسته، طاق خوښوي مطلب دادی چي وتر لمونځ کونکی په ډير ثواب سره نازول کيږي او د هغه لمونځ قبلوي، د حديث خلاصه داده چي الله تعالی په خپل ذات، صفاتو او افعالو کي يوازي دی هيڅوک د هغه مثل، شريک او مرسته کونکی نسته ځکه هغه طاق عدد خوښوي او وتر هم طاق دی ځکه دا خوښوي د دې کونکی په ډير ثواب او سعادت سره نازوي .

﴿۱۱۹۸﴾: وَعَنْ خَارِجَةَ ابْنِ حُذَافَةَ قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ

د حضرت خارجه بن حذافه رضي الله عنه څخه روايت دی چي يوه ورځ رسول الله ﷺ زموږ په لور تشريف راوړ او وه يې فرمايل:

إِنَّ اللّٰهَ أَمَدَّكُمْ بِصَلاَةٍ هِيَ خَيْرٌ لَكُمْ مِنْ حُمْرِ النَّعَمِ الْوِتْرُ جَعَلَهُ اللّٰهُ لَكُمْ

الله تعالى په يوه لمانځه سره ستاسو مرسته کړې ده يعني د پنځو لمنځو څخه يې يو زيات تاسو ته درکړی دی چي ستاسو لپاره د سرو اوښانو څخه غوره دی او هغه لمونځ وتر دی چي د هغه لپاره الله تعالى وخت ټاکلی دی

فِيمَا بَيْنَ صَلاَةِ الْعِشَاءِ إِلَى أَنْ يَطْلُعَ الْفَجْرُ. رواه الترمذي و ابوداؤد.

د ماخستن د لمانځه څخه وروسته تر سهاره پوري، ترمذي او ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\ ۱۲۸، ۱۲۹، رقم: ۱۴۱۸. والترمذي ۲\ ۳۱۴، رقم: ۴۵۲.

تشريح: په عربو کي سره اوښان ډير ارزښتناک وه او عربو ته په مالونو کي دا تر ټولو زيات خوښ وه ځکه رسول الله ﷺ د شوق ورکولو لپاره وفرمايل چي وتر لمونځ تر سرو اوښانو هم غوره دي، د دې مراد دادی چي وتر لمونځ د دنيا تر ټولو سامانونو غوره دی. دا حديث پر دې خبره دلالت کوي چي وتر لمونځ واجب دی او دا د ماخستن د لمانځه څخه مخکي کول جائز نه دی.

د وتر قضائي

«۱۱۹۹»: وَعَنْ زَيْدِ ابْنِ اَسْلَمَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ نَامَ عَنْ وِتْرِهِ فَلْيُصَلِّ إِذَا أَصْبَحَ. رواه الترمذي مرسلا.

د حضرت زيد بن اسلم رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم څوک چي د وتر لمانځه څخه بيده سي نو هغه ته پکار دي چي د سهار په وخت کي يې ادا کړي. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۲\ ۳۳۰، رقم: ۴۶۶.

تشريح: که چيري د يو داسي سړي څخه وتر لمونځ په شپه کي پاته سي چي صاحب ترتيب وي نو د سهار په راپورته کېدو سره که د هغه لپاره ممکن وي يعني دومره وخت وي چي وتر وکړي نو د سهار د لمانځه څخه مخکي د وترو قضا دي وکړي او که د سهار د لمانځه څخه مخکي د هغه کول ممکن نه وي يعني دومره وخت نه وي نو بيا د سهار د فرض لمانځه وروسته دي يې ادا کړي هو که د يو داسي سړي څخه وتر پاته سي چي صاحب ترتيب نه وي نو هغه ته اختيار دی که

څه هم د سهار د لمانځه څخه مخکي بې وکړي.

دوتر لمانځه قرائت

﴿۱۲۰۰﴾: وَعَنْ عَبْدِالْعَزِيْزِ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ سَأَلْنَا عَائِشَةَ بِأَيِّ شَيْءٍ كَانَ

د حضرت عبدالعزیز بن جریج څخه روایت دی چي موږ د بي بي عائشې ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي کوم سورت وایه

يُوتِرُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَتْ كَانَ يَقْرَأُ فِي الْأُولَى بِسَبِّحِ اسْمَ

رسول الله ﷺ به په وترو کي؟ بي بي عائشې ﷺ وفرمايل: رسول الله ﷺ به په لومړي رکعت کي (سبح اسم

رَبِّكَ الْأَعْلَى وَفِي الثَّانِيَةِ بِقُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُوْنَ وَفِي الثَّالِثَةِ بِقُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ وَالْمُعَوِّذَتَيْنِ. رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي عن عبدالرحمن ابن ابزي و رواه احمد عن ابي ابن كعب والدارمي عن ابن عباس و لم يذكر والمعوذتين

ربک الاعلی) وایه، په دوهم رکعت کي (قل یاایها الکافرون) او په دریم رکعت کي (قل هو الله احد، قل اعوذ برب الفلق، قل اعوذ برب الناس) وایه. (ترمذي، ابوداؤ)

تخريج: سنن ابي داؤد: ۲\۱۳۳، رقم: ۱۴۲۴، والترمذي ۲\۳۲۶، رقم: ۴۶۳، والنسائي: ۳\۲۴۴، رقم: ۱۷۲۹، الامام احمد في مسنده ۵\۱۲۳. و سنن الدارمي ۱\۴۴۹، رقم: ۱۵۸۶.

تشريح: محقق علامه ابن همام رحمة الله عليه فرمائي چي احنافو پر آخري روايت يعني د دارمي رحمة الله عليه پر نقل سوي روايت باندي عمل کړی دی د دې څخه معلومېږي چي رسول الله ﷺ د وترو په دریم رکعت کي قل هو الله احد وايه، حنفي حضرات د وتر په دريم رکعت کي يوائحي قل هو الله وائي د حنفي حضراتو د رايي سره سم يوازي دا روايت نه دی بلکه د بي بي عائشې رضي الله عنها يو بل روايت هم د هغه د مذهب دليل دی چي په هغه کي نقل دي چي رسول الله ﷺ به په دريم رکعت کي قل هو الله وايه او کوم چي د بي بي عائشې ﷺ د دې روايت تعلق دی چي دلته نقل سوی دی او د هغه څخه د وتر په دريم رکعت کي د قل هو الله احد څخه پرته معوذتين يعني قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس ويل هم ثابت دي نو په دې

حنفيه ځکه عمل نه کوي چي اول خو د دې روايت په سند کمزورتيا ده دوهم دا چي په دې کي چي کومه طريقه ذکر سوې ده هغه د رسول الله ﷺ د عادت خلاف معلوميږي ځکه چي د رسول الله ﷺ په باره کي خودا په صراحت سره ثابت دي چي رسول الله ﷺ به وروسته رکعت د مخکني رکعت په نسبت مختصر کوی، کله چي د دې روايت سره سم دريم رکعت د مخکني دوو رکعتو په نسبت زيات اوږديږي نو ملا علي قاري رحمة الله عليه په دې اړه په تفصيل سره بحث کړی دی او د حنفيه له خوا يې نور دليلونه هم وړاندي کړي دي چي اهل علم يې د هغوی په کتاب مرقاة کي کتلای سئ، دا حديث په وضاحت سره پر دې خبري دلالت کوي چي رسول الله ﷺ به د وتر دري رکعته په يو سلام سره کول.

د وترو دعاء

﴿۱۲۰۱﴾: وَعَنِ الْحَسَنِ ابْنِ عَلِيٍّ قَالَ عَلَّمَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت حسن بن علي رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ ما ته يو څو کلمات ښوولي دي

كَلِمَاتٍ أَقُولُهُنَّ فِي الْوِتْرِ اللَّهُمَّ اهْدِنِي فِيمَنْ هَدَيْتَ وَعَافِنِي فِيمَنْ عَافَيْتَ

چي زه يې د وتر په قنوت کي وايم او هغه کلمات دادي: (اې الله! ما په هغه خلکو کي ګډ کړې چا ته چي تا هدايت کړی دی او د هغو خلکو سره عافيت راکړې چي تا په عافيت کي ساتلي دي

وَتَوَلَّنِي فِيمَنْ تَوَلَّيْتَ وَبَارِكْ لِي فِيمَا أَعْطَيْتَ وَقِنِي شَرَّ مَا قَضَيْتَ فَإِنَّكَ

او زما کار د هغو خلکو سره جوړ کړې چي د هغوی کار تا جوړ کړی دی او ما ته په هغه شي کي برکت راکړې چي تا ما ته راکړی دی او ما د هغه شي د شر څخه وساتې چي په هغه کي تا شر مقدر کړی دی يقينا ستا حکم

تَقْضِي وَلَا يُقْضَى عَلَيْكَ وَإِنَّهُ لَا يَذِلُّ مَنْ وَالَيْتَ تَبَارَكْتَ رَبَّنَا وَتَعَالَيْتَ. رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي وابن ماجه والدارمي

پر هر شي چليږي او پر تا د هيچا حکم نه سي چليدلای ته چي د چا دوست يې هغه څوک ذليل کولای نه سي، اې زموږ پروردګاره ته د برکت خاوند او لوړ ذات يې). ترمذي، ابوداؤد، نسائي، ابن ماجه، دارمي.

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\ ۱۳۳، رقم: ۱۴۲۵، والترمذي ۲\ ۳۲۸، رقم: ۴۶۴، والنسائي ۳\ ۲۴۸، رقم: ۱۷۴۴، وابن ماجه ۱\ ۳۷۲، رقم: ۱۱۷۸، والدارمي ۱\ ۴۵۲، رقم: ۱۵۹۳.

تشريح : د حضرت حسن رضي الله عنه الفاظ (اقولهن في قنوت الوتر) معنى داده چي زه يې د وتر په قنوت كي وايم . د دې څخه داخبره معلوميږي چي قنوت الوتر مطلقا ذكر كول دې خبري ته اشاره ده چي دا دعاء ټول كال يعني په ټولو ورځو كي ويل ځيني مراد دي ځرنګه چي د حنفيه مذهب دى، مګر شافعيان دعاء قنوت د روژې په ورځو كي په وتر سره مقيد كوي ګويا د شافعي حضراتو په نزد خو يوازي د روژې په نصف اخر ورځو كي په وتر لمانځه كي دعاء قنوت ويل كيږي .

اللهم اهدني : اې الله ماته هدايت وكړې، يعني د هدايت پر لاړ ما ثابت قدم ولرې د هدايت اسباب او ذريعي زياتي ماته راكړې چي د هغه په اختيارولو سره لوړي مرتبې او درجې ته ورسيږم .

(انه لا يذل من واليت) ځوك چي ته دوست لرې هغه ذليل كيداى نسي د دې مطلب دادى چي ځوك تا خپل دوست جوړ كړ په دې توګه چي هغه ته د نيكۍ پر لار د تلو او د صالح عمل اختيارولو توفيق وركړې په سعادت او خوش بختۍ ته فائز كړې هغه په اخر كي شرمنده او ذليل كېداي نسي بيا دلته مطلقا ذلت مراد دى چي الله تعالى مطيع او فرمانبرداره بنده چي هغه يې محبوب لري نه په اخرت كي پښېمان او شرمنده كېداى سي او نه په دنيا كي د ذلت او رسوائي هغه ته نژدې كيداى سي كه ځه هم په ښكاره د دنيا په نظر كي هغه په درد او مصيبت كي راچاپيره وي يا يو سړى هغه ذليل او خوار كړي خوپه حقيقت كي هغه د الله تعالى په نزد باعظمت او باعزت وي ځرنګه چي د دنيا خلكو د الله تعالى پېغمبر او نبي حضرت زكريا عليه السلام په اره سره پرې كړى او حضرت يحيي عليه السلام ذبح كړل سو نو دغه جليل القدر پيغمبرانو د ظلم او ستم د دې پړاو څخه تېرېدل چي معاذ الله هغوى د الله محبوب او دوستان نه وه بلكه په حقيقت كي هغوى يې په ازموينه او امتحان كي واچول غرض دا چي د دنيا والا په ذليل كولو سره د الله نيک او محبوب بندګان نه ذليل كيږي د الله تعالى په نزد هغوى ډېر عزت والا دي .

په ځينو روايتونو كي د (انه لا يذل من واليت) څخه وروسته ولا يعز من عاديت او د چا سره چي ستا عداوت وي هغه عزت نسي ترلاسه كولاى دا الفاظ هم نقل دي همداسي په ځيني روايتونو كي وتعاليت څخه وروسته نستغفرک ونتوب اليک اې الله موږ د خپلو ګناهونو

معافي غواړو او ستا مخ ته توبه کاږو او په ځینې روایتونو کي د دې وروسته وصلي الله علیه وسلم الفاظ ذکر دي.

په هر حال د شوافع حضراتو دعاء قنوت دادی دغه حضرات دا دعا په وتر او سهار په لمانځه کي کوي د حنفي حضراتو په نزد په لمانځه کي چي کوم دعاء قنوت ویل کیږي هغه: اللهم انا نستیعنک ....الخ او اللهم اهدني ....الخ دواړي دعاوي ویل ہې افضل دي څرنګه چي د دې باب په پیل کي مونږ دواړي دعاګاني نقل کړي دي.

د دعاء قنوت په اړه د امامانو په نزد اختلافي شیان

محقق علامه ابن همام رحمة الله علیه فرمائي چي د دعاء قنوت په اړه د امامانو په نزد دلته دري خبري مختلف فیه دي: اول خو دا چي دعاء قنوت د رکوع څخه مخکي ویل کیږي یا وروسته، دوهمه خبره دا ده چي دعاء قنوت د وتر لمانځه کي په ټولو ورځو کي ویل کیدای سي یا یوازي د روژې په اخري نیمه برخه کي، دریم شی دا چي دعاء قنوت د وتر لمانځه څخه ماسوا په نورو لمونځو کي ویل کیدای سي که یا؟

امام شافعي رحمة الله علیه وایي چي دعاء قنوت د رکوع څخه وروسته ویل کیږي لیکن د امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه دلیل ډیر زیات قوي دی په دې اړه اهل علم او محققینو حضراتو په مرقاة کي په ډیر تفصیل سرہ لیکلي دي، او کوم چي د دویمي او دریمي خبري اړه ده نو موږ به انشاء الله دا دواړي مسئلې په راتلونکي باب یعني باب القنوت کي په تفصیل سره بیان کړو.

په وتر کي د سلام وروسته تسبیح

﴿۱۲۰۲﴾: وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَلَّمَ فِيْ الْوِتْرِ قَالَ سُبْحَانَكَ الْمَلِكِ الْقُدُّوْسِ. رواه أبو داود والنسائي وزاد ثلاث مرات يطيل وفي رواية للنسائي عن عبدالرحمن ابن ابزى عن ابيه قال كان يقول اذا سلم سبحان الملك القدوس ثلثا و يرفع صوته بالثالثة.

د حضرت ابی بن کعب رضي الله عنه څخه روایت دی چي کله به رسول الله صلی الله علیه وسلم د وترو سلام وګرځوی نو دا کلمات به یې ویل: (پاک دی پاچاه چي ډیر پاک دی). ابوداؤد، نسائي. نسائي ویلي دي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم به دا الفاظ دري ځله ویل او د نسائي په یوه روایت کي دي چي عبدالرحمن بن

ابزى د خپل پلار څخه روايت کوي چي هغه به ويل : چي کله به يې سلام وګرځوى نو سبحان الملک القدوس به يې درې ځله ويل او په دريم ځل به يې په لوړ آواز سره ويل .

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\۱۳۷، رقم: ۱۴۳۰، والنسائي ۳\۲۳۵، رقم: ۱۶۹۸

تشريح : دار قطني رحمة الله عليه چي کوم روايت نقل کړى دى په هغه کي (رب الملائكة والروح) الفاظ هم ذکر دي ګويا پوره تسبيح دا دى: سبحان الملك القدوس رب الملائكة والروح .

په وتر کي د رسول کريم ﷺ دعاء

﴿۱۲۰۳﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ اِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُوْلُ فِيْ آخِرِ

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ به د وترو په آخر کي دا دعاء ويل :

اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ أَعُوْذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوْبَتِكَ وَاَعُوْذُ بِكَ

(اې الله ! زه ستا د رضا او خوښي په ذريعه ستا د غصې څخه او ستا د عافيت په ذريعه ستا د عذاب څخه پناه غواړم او ستا د خاص ذات په ذريعه پناه غواړم

مِنْكَ لاَ أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ. رواه ابوداؤد والترمذي والنسائي وابن ماجه

ستا د غضب څخه پناه غواړم ستا تعريف د شمير څخه وتلى دى ته هم هغسي يې څنګه چي تا خپل تعريف کړى دى). ابوداؤد، ترمذي، نسائي، ابن ماجه .

تخريج: سنن ابي داؤد ۲ \ ۱۳۴، رقم: ۱۴۲۷، والترمذي ۵ \ ۵۲۴، رقم: ۳۵۶۶، والنسائي ۳ \ ۲۴۷، ۲۴۹، رقم: ۱۷۴۶، وابن ماجه ۱\ ۳۷۳، رقم: ۱۱۷۹.

تشريح : رسول الله ﷺ به دا دعا په دريم رکعت کي د رکوع وروسته په قومه کي کول لکه څرنګه چي امام مالک رحمة الله عليه دا اختيار کړې ده، ځيني حضرات وايي چي رسول الله ﷺ به دا دعا د سلام وروسته کول او د ځينو علماؤ قول دى چي د سلام څخه مخکي په التحيات کي به يې کول همدا سي د ځينو محققينو قول دى چي رسول الله ﷺ به دا دعا په سجده کي کول .
نسائي په يو بل روايت کي نقل کړى دى چي په هغه کي دا وضاحت سوى دى چي رسول الله ﷺ به کله د خپل لمانځه څخه فارغ سو او بسترې ته به يې تشريف يووړ نو دا دعا به يې کول .

په خاصه توګه د يو خاص دعاء قنوت اختيارولو مسئله

علامه ابن همام رحمة الله عليه فرمائي چي د علماؤ د يو بلي ډلي څخه نقل دي چي د دعاء قنوت په اړه توقيف نسي کېدلای يعني د يوې دعاء ويل په خاصه توګه نسي ټاکلای ځکه چي د دعا ټاکل او بيا هغه په خاصه توګه د ويلو مطلب دادی چي هغه دعاء په ژبه داسي وکړي چي زړه د ژبي د همنوائي څخه محروم کيږي يعني د هغه د عا ويلو په وخت کي د عادت سره سم يوازي ژبه کار کوي په زړه کي نه خو د دعاء مقصود او مطلوب وي کوم چي د هغه څخه حاصليږي ځکه دعا خو هغه کار کوي چي ژبه همنواوي، مګر ځينو علماؤ دا هم فرمايلي دي چي دا حکم د (اللهم انا نستعينک ....الخ) څخه پرته د نورو دعاګانو په باره کي دی يعني دا دعاء په خاصه توګه د ويلو لپاره ټاکل منعه نه دي البته د دې څخه پرته نوري دعاګاني په مستقله توګه اختيارول کيږي بلکه کله کله دي يوه او کله دي بله دعا کوي ځکه چي صحابه کرامو پر (اللهم انا نستعينک ....الخ باندي اتفاق کړی دی او دا دعاء به ېې په خاصه توګه ويل که څه هم د دې څخه پرته د وهمه دعاء دعاء قنوت هم جائز دی همداسي په محيط کي اللهم اهدني ....الخ هم مستثنی ګرځولی دی يعني د دې دعا توقيف هم ممنوع نه دی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ (دريم فصل)

دامير معاويه يو رکعت وتر کول

﴿۱۲۰۴﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قِيْلَ لَهُ هَلْ لَكَ فِيْ أَمِيْرِ الْمُؤْمِنِيْنَ مُعَاوِيَةَ مَا أَوْتَرَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي هغه ته وويل سول چي د امير المؤمنين حضرت امير معاوية په اړه ستا څه خيال دی چي د وترو لمونځ

إِلاَّ بِوَاحِدَةٍ ؟ قَالَ أَصَابَ إِنَّهُ فَقِيْهٌ . وفي رواية قال ابن أبي مليكة أوتر

يوازي يو رکعت کوي، هغه وويل امير معاويه صحيح دی هغه فقيه دی، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي ابن ابی مليکه بيان کړی دی چي

معاوية بعد العشاء بركعة وعنده مولى لابن عباس فأتى ابن عباس فأخبره

فقال دعه فإنه قد صحب النبي صلى الله عليه وسلم . رواه البخاري .

معاويه د ماخستن څخه وروسته يو ركعت وتر وكړل هغه وخت د ابن عباس آزاد سوى غلام هم موجود وو هغه خپل بادار ته ددې خبري يادونه وكړه نو هغه وويل دا معامله پرېږدئ ځكه چي هغه د رسول الله ﷺ ملګرتيا كړې ده. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۱۰۳، رقم: ۳۷۶۴.

تشريح: په ځرګنده خو دا معلومېږي چي حضرت معاويه ؓ به وتر يوو ركعت كوى چي په هغه سره ليدونكي ته تعجب وسو چي نور صحابه كرام وتر درې ركعته كوي نو دى يو ركعت ولي كوي؟ بيا هغه د دې تذكره ابن عباس ؓ ته وكړه مګر دا هم احتمال كېداى سي چي حضرت معاويه ؓ مخكي كړي د دوو ركعتو سره وتر يو ركعت كړى وي په دې صورت كي ليدونكي ځكه اعتراض وكړ چي حضرت معاويه ؓ پر وتر باندي اكتفاء وكړه او د ماخستن لمونځ يا د تهجد لمونځ به يې پرې ايښى وو.

د وتر كولو ټينګار

﴿۱۲۰۵﴾: وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ

د حضرت بريدة ؓ څخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي فرمايل يې:

اَلْوِتْرُ حَقٌّ فَمَنْ لَّمْ يُوْتِرْ فَلَيْسَ اَلْوِتْرُ حَقٌّ فَمَنْ لَّمْ يُوْتِرْ فَلَيْسَ مِنَّا اَلْوِتْرُ حَقٌّ فَمَنْ لَّمْ يُوْتِرْ فَلَيْسَ مِنَّا. رواه أبو داود

وتر حق دى او چا چي ونه كړل هغه زموږ څخه نه دى، وتر حق دى او چا چي ونه كړل هغه زموږ څخه نه دى، وتر حق دى او چا چي ونه كړل هغه زموږ څخه نه دى. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\۱۲۹-۱۳۰، رقم: ۱۴۱۹.

تشريح: د وتر ارزښت او د دې حقيقت په داسي انداز سره ځو ځو واره بيانول او بيا د هغه څخه د كونكي په باره كي ويل چي كوم سړى وتر نه كوي هغه زموږ د پيروانو څخه نه دى، دا پر دې خبره ښكاره دليل دى چي وتر لمونځ واجب دى لكه څرنګه چي د حنفيه مذهب دى.

د وتر قضائي

﴿۱۲۰۶﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ نَامَ عَنِ الْوِتْرِ أَوْ

نَسِيَهُ فَلْيُصَلِّ إِذَا ذَكَرَهُ أَوْ إِذَا اسْتَيْقَظَ . رواه الترمذي أبو داود وابن ماجه .

د حضرت ابو سعید رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوک چي د وترو څخه بیده سي یا وتر کول ځیني هیر سي نو هغه ته پکار دي چي کوم وخت وربه یاد سي هغه وخت یې وکړي یا کوم وخت چي راوېښ سي هغه وخت یې وکړي . ترمذي .ابو داؤد .ابن ماجه.

تخریج: سنن الترمذي ۲\ ۳۳۰، رقم: ۴۶۵، وابوداؤد: ۲\ ۱۳۷، رقم: ۱۴۳۱، وابن ماجه: ۱\ ۳۷۵، رقم: ۱۱۸۸.

تشریح : دا حدیث پر دې خبري دلالت کوي چي وتر لمونځ واجب دی، که چیري واجب نه وای نو د قضاء کولو حکم به یې نه کېدی .

ایا وتر واجب دي که سنت؟

﴿۱۲۰۷﴾: وَعَنْ مَالِكٍ بَلَغَهُ أَنَّ رَجُلاً سَأَلَ ابْنَ عُمَرَ عَنِ الْوِتْرِ أَوَاجِبٌ هُوَ ؟

د حضرت مالک رحمه الله څخه روایت دی چي یو سړي د ابن عمر رضی الله عنه څخه پوښتنه وکړه چي ایا وتر واجب دي ؟

فَقَالَ عَبْدُ اللهِ قَدْ أَوْتَرَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَوْتَرَ الْمُسْلِمُوْنَ

حضرت ابن عمر رضی الله عنه ورته وویل : رسول الله ﷺ وتر کړي دي او مسلمانانو هم وتر کړي دي،

فَجَعَلَ الرَّجُلُ يُرَدِّدُ عَلَيْهِ وَعَبْدُ اللهِ يَقُوْلُ أَوْتَرَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَوْتَرَ الْمُسْلِمُوْنَ . رواه في الموطأ .

هغه سړي به څو ځله دا پوښتنه کول او ابن عمر به په جواب کي دا ویل چي رسول الله ﷺ او اصحابو وتر کړي دي . مؤطا.

تخریج: الامام مالک في الموطا ۱\ ۱۲۴، رقم: ۱۷.

تشریح : د یو سوال د جواب ورکولو بلیغه طریقه دا هم وي چي د یو خاص حکمت په وجه اصل جواب ذکر نه کړل سي او یوازي دلیل بیان کړل سي، د حضرت عبدالله ابن عمر رضی الله عنه څخه چي یو سړي د وتر لمانځه د وجوب یا سنت په باره کي پوښتنه وکړه نو هغه د مدلول پر ځای یوازي پر دلیل باندي اکتفاء وکړه که څه هم د هغه مطلب دا وو چي وتر واجب دي ځکه چي د رسول الله

ﷺ په مستقله توګه د همېشتوب په وجه وتر لمونځ کول او د اهل اسلام پر دې اجماع کېدل د دې خبري دلیل دی .

پاته سو دا سوال چي کله پوښتنه کونکی د ابن عمر رضي الله عنه څخه د واضح جواب غوښتلو لپاره د هغه څخه بې په وار وار پوښتنه کول نو هغه ورته په څرګنده ولي و نه ویل چي وتر لمونځ واجب دی د دې وجه داده چي د هغه انداز بیان او د وجوب دا طریقه د احتیاط په وجه اختیار کړل ځکه چي هغه په دې باره کي د رسول الله ﷺ څخه یو ښکاره خبره نه وه اورېدلې ځکه نو هغه په ښکاره جواب ورکول هم مناسب ونه ګڼل .

په وتر کي قرائت

﴿۱۲۰۸﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوْتِرُ بِثَلَاثٍ يَقْرَأُ فِيْهِنَّ بِتِسْعِ سُوَرٍ مِّنَ الْمُفَصَّلِ يَقْرَأُ فِيْ كُلِّ رَكْعَةٍ بِثَلَاثِ سُوَرٍ آخِرُهُنَّ (قُلْ هُوَاللهُ أَحَدٌ) . رواه الترمذي .

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به درې رکعته وتر کول چي په هغو کي به یې نهه مفصل سورتونه ویل یعني په هر رکعت کي درې درې سورتونه او آخري سورت به یې قل هو الله احد وو . ترمذي

تخریج: سنن الترمذي ۲\۳۲۳، رقم: ۴۶۰.

تشریح : په ځیني روایتونو کي د دې اجمال په تفصیل سره داسي بیان سوی دی چي رسول الله ﷺ به په اول رکعت کي الهاکم التکاثر، انا انزلناه او اذا زلزلت الارض وایه او په دوهم رکعت کي به یې اذاجاء نصر الله او انا اعطیناک الکوثر وایه او په دریم رکعت کي به یې قل یا ایها الکافرون، تبت یدا او قل هو الله ویل .

د ابن عمر ﷺ واقعه

﴿۱۲۰۹﴾: وَعَنْ نَافِعٍ قَالَ كُنْتُ مَعَ ابْنِ عُمَرَ بِمَكَّةَ وَالسَّمَاءُ مُغَيِّمَةٌ فَخَشِيَ

د حضرت نافع رضي الله عنه څخه روایت دی چي زه په مکه کي د ابن عمر رضي الله عنه سره ملګری وم ، یوه شپه پر آسمان وریځ خپره سول د هغه سره اندېښنه سوه

الصُّبْحَ فَأَوْتَرَ بِوَاحِدَةٍ ثُمَّ انْكَشَفَ فَرَأَى أَنَّ عَلَيْهِ لَيْلاً فَشَفَعَ بِوَاحِدَةٍ ثُمَّ

د سهار كېدو نو هغه يو ركعت وتر وكړل بيا وريځ تړوله سول نو وه يې ليدل چي شپه پاته ده نو هغه يو ركعت بل ورسره يو ځای كړی بيا يې

صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ فَلَمَّا خَشِيَ الصُّبْحَ أَوْتَرَ بِوَاحِدَةٍ . رواه مالك .

دوه دوه ركعته لمونځ كوی تر څو چي د سهار كېدو بيره سوه نو يو ركعت يې وكړ . مالك .

تخريج: الامام مالك في الموطا ۱\۱۲۵، رقم: ۱۹.

په ناسته د لمانځه ادا كولو يوه طريقه

﴿۱۲۱۰﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّيْ جَالِسًا

د حضرت عائشي ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به په ناسته لمونځ كوی

فَيَقْرَأُ وَهُوَ جَالِسٌ فَإِذَا بَقِيَ مِنْ قِرَاءَتِهِ قَدْرَ مَا يَكُوْنُ ثَلَاثِيْنَ أَوْ أَرْبَعِيْنَ آيَةً

او په ناسته به يې قرائت وايه هر كله چي به په قرائت كي ديرش يا څلوېښت آيا تونه پاته سول

قَامَ وَقَرَأَ وَهُوَ قَائِمٌ ثُمَّ رَكَعَ ثُمَّ سَجَدَ ثُمَّ يَفْعَلُ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ مِثْلَ ذٰلِكَ .

رواه مسلم

نو ولاړ به سو او دغه آيا تونه به يې په ولاړه وويل، بيا به ركوع ته تلی او بيا به يې سجده كول او همداسي به يې دوهم ركعت كوي . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۱\۵۰۵، رقم: ۱۱۲- ۷۳۱.

تشريح : داسي لمونځ كول په اتفاق سره جائز دی مگر د دې پر خلاف جائز نه دی د دې تفصيل په باب السنن كي بيان سوی دی په ښكاره د دې خبري سره د حديث هيڅ تعلق نه معلوميږي هو دا ويل كيدای سي چي په دې حديث كي شفع ذكر دی چي د وتر مقدمه ده نو د دې وجهي څخه هې دغه باب كي نقل سوی دی .

دوتر وروسته دوه ركعته

﴿۱۲۱۱﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّيْ بَعْدَ الْوِتْرِ رَكْعَتَيْنِ . رواه الترمذي وزاد ابن ماجه خفيفتين وهو جالس .

د حضرت ام سلمة رضي الله عنها څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د وترو څخه وروسته دوه رکعته کول. ترمذي، ابن ماجه دا هم ليکلي دي چي دا رکعتونه به مختصر وه او په ناسته به يې کول. ترمذي او ابن ماجه

تخريج: سنن الترمذي ۲\ ۳۳۵، رقم: ۴۷۱، وابن ماجه ۱\ ۳۷۷، رقم: ۱۱۹۵.

﴿۱۲۱۲﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُوْتِرُ بِوَاحِدَةٍ ثُمَّ يَرْكَعُ رَكْعَتَيْنِ يَقْرَأُ فِيْهِمَا وَهُوَ جَالِسٌ فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَّرْكَعَ قَامَ فَرَكَعَ. رواه ابن ماجه

د حضرت عائشي رضي الله عنها څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د وترو يو رکعت کوی او ددې وروسته به يې دوه رکعته نور په ناسته کول چي په هغو کي به يې قرآن کريم وايه کله چي به رسول الله ﷺ د رکوع اراده کول نو ولاړ به سو او رکوع به يې کول. ابن ماجه.

تخريج: سنن ابن ماجه ۱\ ۳۷۷ - ۳۷۸، رقم: ۱۱۹۶.

تشريح: علامه ابن حجر رحمة الله عليه فرمائي چي دا حديث د اول حديث خلاف نه دی ځکه چي کله به رسول الله ﷺ د وتر وروسته دواړه رکعته د ولاړي څخه پرته مطلقا په ناستي کول او کله به يې داسي په ناسته سره کول چي د قرائت وروسته رکوع ته به يې د تلو اراده کول نو ولاړېدی به او رکوع به يې کول.

دوتر وروسته دوه رکعته

﴿۱۲۱۳﴾: وَعَنْ ثَوْبَانٍ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ إِنَّ هٰذَا السَّهَرَ جُهْدٌ وَثِقْلٌ فَإِذَا أَوْتَرَ أَحَدُكُمْ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ فَإِنْ قَامَ مِنَ اللَّيْلِ وَإِلَّا كَانَتَا لَهُ. رواه الترمذي

د حضرت ثوبان رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د شپې پورته کېدل يو ستونزمن او دروند کار دی هر کله چي په تاسو کي يو څوک د شپې په پيل کي وتر وکړي نو دوه رکعته دي وکړي بيا که راوېښ سي نو غوره ده او کنه نو دا دوه رکعته بس دی. ترمذي.

تخريج: سنن الدارمي ۱\ ۴۵۲ - ۴۵۳، رقم: ۱۵۹۴.

دوتر لمانځه وروسته په دوو رکعتو کې قرائت

﴿۱۲۱۴﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّيهِمَا بَعْدَ الْوِتْرِ وَهُوَ جَالِسٌ يَقْرَأُ فِيهِمَا إِذَا زُلْزِلَتْ وَ قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ. رواه أحمد.

د حضرت ابو امامه رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به د وتر څخه وروسته دوه رکعته په ناسته کول او په هغو کي به يې (اذا زلزلت الارض) او (قل يا ايها الكافرون) ويل. احمد

تخريج: الامام احمد في مسنده ۵\۲۶۰.

=============

بَـابُ الْقُنُـوْت (د قنوت بيان)

د قنوت په لغت کي څو معناوي دي: اوله معنی يې اطاعت کول، دوهمه معنی يې په لمانځه کي درېدل، دريمه معنی يې د الله تعالی په مخکي عاجزي کول، څلورمه معنی يې همداسي دعا ته هم قنوت وائي، په اصطلاح کي قنوت خاص دعاء ته وائي کومه چي دلته مراد ده، د شوافع حضراتو په نزد دعاء قنوت اللهم اهدني ....الخ ده، او د حنفيه حضراتو په نزد دعائ قنوت: اللهم انا نستعينک ......الخ دی دا دواړي دعاگاني په مکمله توگه په مخکني باب کي نقل سوي دي چي حنفي علماء په صحيح سند او طريقې سره د طبراني وغيره څخه نقل کړي دي.

علامه ابن همام رحمه الله د ابوداود څخه نقل کړی دی چي رسول الله ﷺ يوه ورځ د قبيله مضر خلکو د ظلم او ستم او د هغوی د دهشت او بربريت هغوی ته بد دعا کول چي حضرت جبرائيل عليه السلام تشريف راوړ او رسول الله ﷺ ته يې د ارام کېدو اشاره وکړه او وه يې فرمايل چي:

يا محمد ان الله لم يبعثک سبابا ولا لعانا انما بعثک رحمة

اې محمد! (ﷺ) الله پاک تاسو بد ويونکي او لعنت جوړونکي نه ياست را استولي بلکه تاسو يې د دواړو جهانو لپاره د رحمت باعث را استولي ياست. بيا جبرائيل عليه السلام دا آيت ووايه: (ليس من الامر شيء) يعني په دې شي کي تاته هيڅ دخل نسته، بيا حضرت جبرائيل عليه السلام رسول الله ﷺ ته دا دعا اللهم انا نستعينک ...الخ وروښودل. شيخ جلال الدين سيوطي رحمه الله هم په خپل کتاب در المنشور کي دا دعا په بيلو الفاظو سره نقل کړې ده.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

نبي كريم ﷺ ته د ښېرا كولو څخه منعه

﴿۱۲۱۵﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَرَادَ أَنْ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي كله به رسول الله ﷺ اراده وكړه دا چي

يَدْعُوَ عَلَى أَحَدٍ أَوْ يَدْعُوَ لِأَحَدٍ قَنَتَ بَعْدَ الرُّكُوْعِ فَرُبَّمَا قَالَ إِذَا قَالَ سَمِعَ اللهُ

يو چا ته د بدي دعاء وكړي او يا ښه دعاء كولو اراده به يې وكړ نو (په وتركي) به يې د ركوع وروسته قنوت وايه او ځيني وخت به يې كله چي سمع الله

لِمَنْ حَمِدَهُ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ اَللّٰهُمَّ أَنْجِ الْوَلِيْدَ بْنَ الْوَلِيْدِ وَسَلَمَةَ ابْنَ هِشَامٍ

لمن حمده ربنالک الحمد وويل نو دا دعاء به يې كول: (اې الله! خلاصون و ركړې وليد بن وليد، سلمه بن هشام

وَّعَيَّاشَ بْنَ أَبِي رَبِيْعَةَ اَللّٰهُمَّ اشْدُدْ وَطْأَتَكَ عَلَى مُضَرَ وَاجْعَلْهَا سِنِيْنَ كَسِنِيْ

او عياش بن ربيعه ته او اې الله! پر مضر قوم خپل سخت عذاب نازل كړې او دا دعذاب د قحط په شكل پر راولې داسي قحط

يُوْسُفَ يَجْهَرُ بِذٰلِكَ وَكَانَ يَقُوْلُ فِيْ بَعْضِ صَلَاتِهِ اَللّٰهُمَّ الْعَنْ فُلَانًا وَّفُلَانًا

چي د حضرت يوسف ﷺ د قحط په دول وي) دا دعاء به يې په لوړ آواز سره كول او كه به يې بده دعاء كوله (اې الله ته پر فلاني او فلاني لعنت وكړې)

لِأَحْيَاءٍ مِّنَ الْعَرَبِ حَتّٰى أَنْزَلَ اللهُ (لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ). متفق عليه

دا به رسول الله ﷺ د عربو د قبائلو لپاره كول تر دې چي الله پاک دا آيت نازل كړ: (ستا لپاره د حكم څخه هيڅ نسته) يعني رسول الله ﷺ د بد دعاء (ښيرا) كولو څخه منعه كړل سو. بخاري اومسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\۲۲۶، رقم: ۴۵۹۰. ومسلم ۱\۴۶۶، رقم: ۲۹۴-۶۷۵.

تشریح: ځیني صحابه کرام چي د کفارو په بند کي وه د هغوی د ظلم او ستم تخت د مشق جوړ سوی وو د هغوی د آزادي او خلاصون لپاره رسول الله ﷺ د الله پاک څخه دعا وغوښتل او په عربو کي قبائل چي د مسلمانانو قافله یې تنګه کړې وه هغوی ته به یې ښیرا کول، ولید بن ولید قریشي مخزومي رحمة الله علیه چي د اسلام د نازولی فرزند او د اسلامي فوج د سالار حضرت خالد بن ولید رضی الله عنه ورور وو د جنګ بدر په وخت د مکې کفارو لخوا څخه د حضرت عبدالله بن حجش رضی الله عنه په لاس ونیول سو د هغه وړونه خالد او هشام د رسول الله ﷺ په دربار کي حاضر سول او د خپل بندي ورور لخوا څخه یې څلورزره درهمه د فدیې په توګه ورکړه او هغه یې ایله کړ او مکې ته یې یووړ، ولید چي په ایله کېدو سره مکې ته ورسېدی نو هلته د اسلام مقدسي رڼا د هغه زړه او د ماغ منور کړ او هغه مسلمان سو خو خلکو هغه ته وویل چي کله ته د مسلمانانو سره په مدینې کي بندي وې نو هغه وخت د فدیه ورکولو څخه مخکي ولي نه سوې مسلمان ځکه چي هلته د مسلمانېدو په صورت کي به زموږ څلور زره درهم چي په فدیه کي مو ورکړل هغه به هم ساتل سوي وای او مسلمان سوی به هم وای.

هغه وویل چي ما ته دا خبره ښه نه معلومېدل چي خلک به وائي چي د بند د بیري څخه یې اسلام راوړ د مکې کفارو او د قبلې خلګو دا چیري زغملای سول چي ولید اسلام راوړی او د هغه سزا هغه ته نه ورکړل سي نو ورونو په بند کي واچوی او څومره ظلم چي پر هغه باندي کیدای سو ورسره وه یې کړ، رسول الله ﷺ ته چي د هغه د مظلومیت حال معلوم سو نو د پروردګار په دربار کي یې د هغه د خلاصون لپاره دعا وغوښتل همدا سې هغه د مکې شریفي د کفارو د پنجو څخه په راوتلو سره مدینې ته د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو، سلمه بن هشام رحمة الله علیه د ابوجهل ورور وو بالکل په اوله زمانه کي یې اسلام راوړ د مکې کفارو هغه هم بندي کړی وو پر هغه یې ډیر زیات ظلم وکړ دی هم د هغوی د لاسه څخه خلاص سو او د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو عیاش ابن ابي ربیعه هم د ابوجهل د مور لخوا اخیافي ورور چي د پلار څخه جلا وو او مور یې یوه وي قدیم الاسلام دی په ابتدائي دور کي د اسلام په دولت سره په مشرف کېدو سره په هجرت حبشه باندي تللی وو بیا مدینې ته راغلی ابوجهل د هغه سره دا سې دوکه وکړه چي هغه مدینې ته راغلی نو ده ته وویل سول چي ستا مور ستا لپاره سخته یې ارامه ده او هغې قسم خوړلی دی چي تر څو پوري تا ونه ویني په سایه کي به نه کښیني، عیاش د مور په مینه کي د ابوجهل په ډول ظالم سړي سره مکې ته یې وغوښتی مکې ته په رسېدو سره ابوجهل هغه وتړی په بندیخانه کي یې واچوی او پر هغه یې په ظلم کولو سره د

وحشت او بربریت د جذبې تسکین یې حاصلوی تر دې چې دی هم د هغه بند څخه په تښتېدو کي کامیاب سو بیا د رسول الله ﷺ په خدمت کي مدینې شریفي ته راغلی په اخر کي د معرکه تبوک په وخت کي د کفارو سره په مقابله کي د شهادت جام یې نوش کړ. انا الله وانا الیه راجعون.

دا هغه خوشبخته اصحاب وه چي د هغه د خلاصون لپاره د رسول الله ﷺ ژبه مبارکه په دعا کي مصروفه سوې وه ګویا د حدیث اوله دعاء اللهم انج ....الخ) د دې خبري مثال دی چي رسول الله ﷺ به د مؤمنانو لپاره په دعاء قنوت کي دعا غوښتل د حدیث دوهمه دعاء اللهم اشد ....الخ د دې خبري مثال دی چي رسول الله ﷺ به په قنوت کي د ظلم او ستم او د کفارو لپاره ښیرا غوښتل، د رسول الله ﷺ د ښېرا اثر دا سو چي مکې والاوو تر اووه کالو پوري په پرله پسې وچ کالۍ کي راچاپېره سوه تر دې چي هغوی مردار هډوکي خوړل شروع کړل.

د آیت شریف (لیس لک من الامر شیئ) مقصد دادی چي د رسول الله ﷺ د شان رحمت مناسب دا نه وو چي ښیرا وکړي ځکه د الله تعالی له لوري رسول الله ﷺ منعه کړل سو چي د چا لپاره د هغه په نامه اخیستو سره ښېرا وکړي، او د باب په پیل کي د دې تفصیل سوی دی.

د کوم آفت او مصیبت پر وخت دعاء قنوت په فرض لمنځو کي ویل پکار دی

علامه طیبي رحمة الله علیه فرمائي که یو ه پېښه ناڅاپه وړاندي سي مثلا دښمن حمله در باندي وکړي یا وچ کالي راسي او یا ډیر لوند کال راسي یا دا ډول نور صورتونه چي د هغه په وجه مسلمانان په مصیبت، درد او تکلیف کي اخته سي نو بیا خلکو ته پکار دي چي په ټولو فرضو لمنځو کي د دعاء قنوت ویلو پابندي وکړي. د حنفیه حضراتو په نزد هم دلته د یو پیښي یا د یو وبا د راتلو په وخت کي په فرض لمنځو کي دعاء قنوت ویل جائز دي.

د قنوت ویلو وخت

﴿۱۲۱۶﴾: وَعَنْ عَاصِمِ الْأَحْوَلِ قَالَ سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ عَنِ الْقُنُوْتِ فِي

د حضرت عاصم الاحول څخه روایت دی چي ما د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه څخه په لمانځه کي د قنوت پوښتنه وکړه

الصَّلَاةِ كَانَ قَبْلَ الرُّكُوْعِ أَوْ بَعْدَهُ ؟ قَالَ قَبْلَهُ إِنَّمَا قَنَتَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ

یعني دا چي قنوت د رکوع څخه مخکي یا وروسته ویل کیږي، حضرت انس رضي الله عنه وویل د رکوع څخه وړاندي دي وویل سي ځکه چي رسول الله ﷺ

بَعْدَ الرُّكُوعِ شَهْرًا إِنَّهُ كَانَ بَعَثَ أُنَاسًا يُقَالُ لَهُمُ الْقُرَّاءُ سَبْعُوْنَ رَجُلاً

د ركوع وروسته يوازي يوه مياشت لوستى دى او ددې سبب دا وو چي نبي كريم ﷺ يو څو قاريان چي د هغوى شمير اويا تنه وو

فَأُصِيْبُوْا فَقَنَتَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بَعْدَ الرُّكُوعِ شَهْرًا يَّدْعُوْ عَلَيْهِمْ . متفق عليه

دباندي ليږلي وه هغوى شهيدان سول لهٖ دې كبله د قاتلانو لپاره د ښيرا كولو په مقصد رسول الله ﷺ تريوې مياشتي پوري د ركوع وروسته قنوت وايه چي په هغه كي به رسول الله ﷺ هغه قاتلانو ته ښيرا كول. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٢\٤٨٩، رقم: ١٠٠٢. ومسلم ١١\٤٦٩، رقم: ٣٠١- ٦٧٧.

تشريح: دا حديث پر دې خبره دلالت كوي چي د ركوع وروسته دعاء قنوت ويل منسوخ سوى دى د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه دا مذهب دى.

د اويا قاريانو د شهادت پېښه

(قراء سبعون): يعني اويا قاريان د اصحاب صفه څخه وه، هغوى ته قراء ځكه ويل سوي دي چي دغه خلكو به قرآن كريم ډير زيات وايه او ډير زيات به يې يادوى حال دا چي دا حضرات ډير زيات غريبان او زاهدان وه د هغوى كار يوازي دا وو چي په صفه كي هر وخت د قرآن او علم په زده كولو كي به بوخت وه مگر د دې سربېره كله چي مسلمانان په يو پېښه كي اخته سوه نو دا حضراتو به په پوره مېړانه او بهادرۍ سره د پېښي مقابله كول او د مسلمانانو مرسته به يې كول.

په دوى كي ځيني حضرات داسي وه چي ټوله ورځ به يې د ځنگل څخه لرگي راټولول او هغه به يې خرخول او د اهل صفه لپاره به يې د خورک سامان رانيوى، او د شپې به د قرآن كريم په تلاوت كي مصروف وه، يو ځل رسول الله ﷺ دغه صحابه كرام (اصحاب صفه) د اهل نجد خوا ته واستول چي هلته په رسېدو سره هغه خلک د اسلام خوا ته را وبولي او د هغوى مخكي قرآن كريم ووايي چي په كفر، شرک، ظلم او جهل كي له لوېدو سره د تباهۍ او بربادۍ پر لار روان وه كله چي دا خلک بير معونه چي د مكې او عسفن په مينځ كي يو كلى دى هلته ورسيده نو عامر بن طفيل، رعل ذكوان او قار پر دغه قراء صحابه كرامو باندي په ډيره بې دردۍ سره حمله وكړه او ټوله ډله يې شهيدان كړل په هغوى كي يوازي يو صحابي حضرت كعب انصاري رضي الله عنه خوندي پاته سو هغه هم داسي چي په زخمي كېدو سره ولاړى او بدن مبارک يې زيات كمزورى سوى وو.

نو دغه بد بختو په دا ګڼلو سره چي د هغه روح به هم د بدن څخه وتللې وي د هغه څخه ليري سوه خو په خوشبختئ سره اوس لا په هغه کي د ژوند اثار موجود وه هغه په څه نا څه طريقې سره وساتل سو او په وتلو کي کامياب سو او الله تعالى هغه ته صحت او روغتيا ورکړل، تر دې چي په غزوه خندق کي شهيد سو.

په هر حال رسول الله ﷺ ته د دغه ستري پيښي او د ظالمانو کفارو د ظلم او ستم علم وسو نو ډير زيات غمجن سو د حضرت انس رضي الله عنه بيان دی چي مونږ رسول الله ﷺ د هيڅ چا لپاره دومره غمجن نه وو ليدلی څومره چي رسول الله ﷺ د دغه مظلومو صحابه کرامو لپاره غمجن سو نو رسول الله ﷺ پرله پسې تر يوې مياشتي پوري په دعاء قنوت کي د دغه بدبختو کفارو لپاره ښېرا کول، دغه پيښه په څلورم هجري کال کي رامنځته سوې ده.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

دعاء قنوت کله ويل کيږي

﴿۱۲۱۷﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَنَتَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَهْرًا

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ قنوت وايه تر يوې مياشتي پوري

مُتَتَابِعًا فِيْ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ وَالْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ وَصَلاَةِ الصُّبْحِ إِذَا قَالَ سَمِعَ

د پنځو لمنځو (ماپښين، مازديګر، ماښام، ماخستن او د سهار په آخري رکعت کي) د سمع

اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ مِنَ الرَّكْعَةِ الآخِرَةِ يَدْعُوْ عَلٰى أَحْيَاءٍ مِّنْ بَنِيْ سُلَيْمٍ عَلٰى

الله لمن حمده څخه وروسته او په هغو کي به يې ښېرا کول د قبيله بني سليم

رِعْلٍ وَّذَكْوَانَ وَعُصَيَّةَ وَيُؤَمِّنُ مَنْ خَلْفَهُ. رواه أبو داود.

(رعل، ذکوان او عصيه) لپاره او مقتديانو به آمين ويل. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\۱۴۳، رقم: ۱۴۴۳.

تشريح: دا حديث پر دې خبره دلالت کوي چي هميشه په فرض لمنځو کي دعاء قنوت ويل نه دي پکار بلکه کله چي مسلمانانو ته يو پيښه رامنځته سي مثلا يو دښمن حمله باندي وکړي يا وچ کالي راسي او يا يو وباء خپره سي نو هغه وخت په فرض لمنځو کي دعاء قنوت ويل پکار دي.

﴿۱۲۱۸﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَنَتَ شَهْرًا ثُمَّ تَرَكَهُ .

رواه أبو داود والنسائي

د حضرت انس ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ تر یوې میاشتي پوري د رکوع وروسته قنوت وایه او بیا یې پرېښودی . ابوداؤد او نسائي

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\۱۴۳، رقم: ۱۴۴۵، والنسائي: ۲\۲۰۴، رقم: ۱۰۷۸.

تشريح: ډیر عالمان دا فرمائي چي دعاء قنوت نه خو د سهار په لمانځه کي مشروع دی او نه د وتر څخه پرته په بل یو لمانځه کي، دا حضرات د دې حدیث څخه استدلال کوي او د دې څخه پرته نور ډیر حدیثونه هم سته چي په فرض لمنځو کي د قنوت په پرېښودو باندي دلالت کوي، عالمان او محقیقین ددې تفصیل په مرقاة کي کتلای سي، امام مالک او امام شافعي رحمة الله علیهما فرمایي چي د سهار په لمانځه کي دعاء قنوت باید همېشه وویل سي، او په ټولو لمنځو کي د یو پېښې یا وباء پر وخت باندي ویل یې پکار دي .

﴿۱۲۱۹﴾: وَعَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ قَالَ قُلْتُ لِأَبِي يَا أَبَةِ إِنَّكَ قَدْ صَلَّيْتَ

د ابو مالک اشجعي ﷛ څخه روایت چي ما د خپل پلار څخه پوښتنه وکړه چي اې پلاره! تاسو

خَلْفَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ وَعُثْمَانَ وَعَلِيِّ بْنِ

په رسول الله ﷺ ، ابوبکر﷛، عمر﷛، او عثمان﷛ پسي لمونځ کړی دی او په علي ابن

أَبِي طَالِبٍ هَاهُنَا بِالْكُوفَةِ نَحْوًا مِنْ خَمْسِ سِنِينَ أَكَانُوا يَقْنُتُونَ قَالَ أَيْ بُنَيَّ

مُحْدَثٌ . رواه الترمذي والنسائي وابن ماجه .

ابي طالب ﷛ پسي دې په کوفه کي پنځه کاله لمونځ کړی دی ایا دوی به قنوت وایه ؟
ابو مالک وایي د دې په جواب کي زما پلار دا وویل چي قنوت بدعت دی . ترمذي، نسائي، ابن ماجه.

تخريج: سنن الترمذي ۲\۲۵۳، رقم: ۴۰۲، والنسائي ۲\۲۰۴، رقم: ۱۰۷۹، وابن ماجه ۱\۳۹۳، رقم: ۱۲۴۱.

تشريح: حضرت ابو مالک رحمة الله علیه د خپل پلار څخه دا معلومول غوښتل چي ایا رسول الله ﷺ او خلفاء راشدینو هم د سهار په لمانځه کي او په نورو لمنځو کي قنوت وایه لکه څرنګه

چي اوس ځيني خلک په دغه لمنځو کي قنوت وايي؟ ددې جواب د هغه پلار محترم دا ورکړ
چي کوم خلک د سهار په لمانځه کي او په نورو لمنځو کي په ځانګړې توګه يعني همېشه دعاء
قنوت وايي هغوی په بدعت کي اخته دي ځکه چي رسول الله ﷺ خو د وتر څخه پرته د سهار په
لمانځه کي يوازي يوه مياشت قنوت ويلی وو د هغه وروسته يې پرې ايښی وو څرنګه چي اوس
په مخکني حديث ذکر سول ګويا دا حديث د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه دليل دی.

شافعيان حضرات فرمايي چي په کومو حديثو د سهار په لمانځه کي دعاء قنوت ويل نه
دی ذکر سوی هغه ټول ضعيف دي مګر ملا علي قاري رحمه الله ددې قول جواب ډير معقول او په
مدللي طريقې سره ورکړی دی هغه د خلفاء اربعه څخه هم همدا سي روايتونه نقل کړي دي د دې
بحث تفصيل د هغه په شرح (مرقات) کي کتلای سئ.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د قنوت مقام

﴿۱۲۲۰﴾: عَنِ الْحَسَنِ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ جَمَعَ النَّاسَ عَلٰى أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ

د حسن څخه روايت دی چي عمر بن خطاب رضي الله عنه به د ابی بن کعب په امامت کي خلک يو ځای کول

فَكَانَ يُصَلِّيْ لَهُمْ عِشْرِيْنَ لَيْلَةً وَلَا يَقْنُتُ بِهِمْ إِلَّا فِي النِّصْفِ الْبَاقِيْ فَإِذَا

او ابی به تر شلو ورځو پوري (په روژه کي) تراويح ورکولې او قنوت به يې يوازي د رمضان په
آخري نيمه برخه کي وايه

كَانَتِ الْعَشْرُ الْأَوَاخِرُ يَتَخَلَّفُ فَصَلّٰى فِيْ بَيْتِهِ فَكَانُوْا يَقُوْلُوْنَ أَبَقَ أُبَيٌّ. رواه أبو

او کله چي به د رمضان آخري لسيزه سوه نو بيا به يې پرېښودل او په خپل کور کي به يې لمونځ
کوی او خلکو به دا ويل چي ابی و تښتېدی. ابو داؤد،

داود. وَسُئِلَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ عَنِ الْقُنُوْتِ فَقَالَ قَنَتَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د انس بن مالک رضي الله عنه څخه د قنوت په اړه پوښتنه وسول نو هغه وفرمايل: رسول الله ﷺ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ الرُّكُوْعِ وَفِيْ رِوَايَةٍ قَبْلَ الرُّكُوْعِ وَبَعْدَهُ. رواه ابن ماجه.

د رکوع وروسته قنوت ویلی دی او په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي د رکوع مخکي او د رکوع وروسته په دواړو صورتو کي رسول الله ﷺ قنوت ویلی دی. ابن ماجه.

تخریج: سنن ابي داؤد: ۲\۱۳۶، رقم: ۱۴۲۹، سنن ابن ماجه: ۱\ ۳۷۴، رقم: ۱۱۸۳.

تشریح: أبی بن کعب رضي الله عنه یو جلیل القدر او ستر صحابي وو د هغه ډیرو ځانګړتیاوو سربیره دا ځانګړتیا هم وه چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي هغه پوره قرآن کریم یاد کړی وو او دا هم چي په صحابه کرامو کي د لوړي درجې قاري منل سوی وو له دې کبله د سید القراء په لقب سره یادیږي حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ددغه ځانګړتیاوو په وجه هغه په روژه کي د تراویح د لمانځه لپاره امام وټاکی چي خلک د هغه په اقتداء کي تراویح وکړي دا دواړه حدیثونه چي د حسن بصري رحمه الله څخه نقل دی د شوافع حضراتو مستدل دي، اول حدیث خو د دې خبري دلیل دی چي دعاء قنوت دي یوازي د روژې په اخري نیمه برخه کي وویل سي، احناف علماء فرمایي چي اول خو مطلقا په وتر کي دعاء قنوت ویل مشروع سوی دی، دوهم دا چي زیات داسي حدیثونه راغلي دي چي په هغه کي بیله خاصوالي د روژې د وتر په لمانځه کي دعاء قنوت ویل به اولی او راجح وي، دریم حدیث د شوافع حضراتو لپاره د دې خبري دلیل دی چي دعاء قنوت دي د رکوع وروسته وویل سي د دې جواب د حنفیه علماؤ لخوا دا ورکول سوی دی چي د رکوع څخه مخکي د دعاء قنوت ویلو په اړه حدیثونه ډیر زیات نقل دي او بیا دا چي د صحابه کرامو عمل هم د هغه حدیث سره سم نقل سوی دی ځکه پر هغه حدیثو باندي عمل کول پکار دي.

او کوم چي د هغه حدیثو تعلق دی چي د هغه څخه د رکوع وروسته دعاء قنوت ویل ثابتیږي نو د دې په باره کي ښودل سوي دي چي د هغه حدیثو تعلق یوازي د یوې میاشتي سره دی، رسول الله ﷺ د رکوع وروسته دعاء قنوت ویلی دی په مستلقه توګه د رکوع وروسته په دعاء قنوت ویلو سره د دې تعلق نسته.

ملا علي قاري رحمة الله علیه فرمایي چي حضرت أبی بن کعب رضي الله عنه د روژې په اخري نیمه برخه کي د الله جل جلاله او د هغه د رسول ﷺ د باغیانو لپاره د ښېرا کولو په وجه دعاء قنوت وایه، ځکه چي په صحیح سند سره د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه څخه نقل دي چي کله نیمه روژه تېره سي نو د روژې په اخري نیمه برخه کي په وتر کي پر کفارو باندي لعنت کول سنت دی.

د (ابق ابي) الفاظ په ویلو سره خلکو حضرت ابي څخه د تښتېدونکي غلام سره تشبیه وکړه د دې وجه داده چي د هغه خلکو په نظر کي د حضرت أبی دا عمل چي په اخري لس ورځو کي مسجد ته نه راغلی مکروه معلوم سول حال دا چي حضرت أبی رضي الله عنه به د یو عذر په وجه د

روژې په اخري لسيزه کي مسجد ته نه وي راغلی او عذر دا کېدای سي چي هغه به په دغه ورځو کي خلوت اختيار وی چي د عبادت هغه کمال په خلوت کي حاصل سي کوم چي په جلوت کي نه حاصليږي، د حديث الفاظ: رسول الله ﷺ دعاء قنوت ويلی دی او په دې دليل د بخاري او مسلم هغه روايت دی کوم چي د عاصم احول څخه نقل دی د دې باب په دوهم نمبر حديث کي ېې وګوری، د اخري روايت مفهوم دادی چي په وتر کي خو رسول الله ﷺ دعاء قنوت د رکوع څخه مخکي وايه او د يو ميښتي په وخت کي به يې د رکوع څخه وروسته وايه، په دې مفهوم سره په هغه ټولو شيانو کي سمون پيدا کيږي چي د هغه څخه ځيني روايتونه خو د رکوع وروسته پر ويلو باندي دلالت کوي او د ځيني روايتونو څخه ثابتيږي چي رسول الله ﷺ به د رکوع څخه مخکي دعاء قنوت وايه.

==========

بَابُ قِيَامِ شَهْرِ رَمَضَانَ

د روژې په مياشت کي د قيام (تراويح) بيان

د روژې په مياشت کي د قيام څخه مراد ددغه برکتمني مياشتي په مقدسو شپو کي د الله پاک د عبادت يعني د تراويح د لمانځه لپاره او د قرآن کريم د تلاوت وغيره لپاره ويښ اوسېدل دي.

د تراويح لمونځ:

په دغه باب کي د تراويح د لمانځه سره تړلي حديثونه بيانيږي او ددې لمانځه فضيلت، احکام او مسائل بيانيږي، دلته د تراويح د لمانځه يو څو احکام بيانيږي:

۱. اول په روژه کي د تراويح لمونځ د نر او ښځي دواړو لپاره سنت مؤکده دی.

۲. په کومه شپه چي د روژې مياشت وليدل سي د هغه شپې څخه دي تراويح پيل کړل سي او هر کله چي د اختر مياشت وليدل سي نو تراويح دي پريږدي.

۳. د تراويح لمونځ د روژې تابع نه دی کوم خلک چي په يو وجه روژه نسي نيولای د هغوی لپاره هم د تراويح لمونځ کول سنت دی که يې ونه کړي نو د سنت پرېښودو ګناه به پر وي.

۴. د تراويح لمونځ د ماخستن د لمانځه وروسته شروع کيږي، که چيري د ماخستن د لمانځه وروسته تراويح وکړي او د هغه وروسته معلومه سي چي د ماخستن په لمانځه کي يو سهوه وسوه نو د لمانځه وروسته د تراويح دوهم وار کول پکار دي.

۵. که چیري د ماخستن لمونځ ېې په جماعت سره نه وي کړی نو تراویح دي هم په جماعت سره نه کوي ځکه چي تراویح د ماخستن د لمانځه تابع دي، هو کوم خلک چي په جماعت سره د ماخستن لمونځ وکړي تراویح به په جماعت سره کوي، د هغوی سره په ګډون کولو سره هغه سړي ته هم تراویح په جماعت سره صحیح کیږي چي هغه د ماخستن لمونځ بېله جماعت څخه کړی وي ځکه چي هغه به د هغه خلکو تابع ګڼل کیږي چي د هغوی جماعت صحیح دی.

۶. که یو څوک مسجد ته داسي وخت ورسیږي چي د ماخستن لمونځ سوی وي نو هغه ته پکار ده چي مخکي د ماخستن لمونځ وکړي بیا دي په تراویح کي ګډون وکړي او که په دې مینځ کي د تراویح څو رکعته تېر سي نو هغه دي د وتر کولو وروسته وکړل سي.

۷. په میاشت کي یو وار د قرآن کریم په ترتیب سره په تراویح کي ویل سنت مؤکده دی د خلکو د سُستۍ په وجه دا پرېښول نه دي پکار، که چیري دا ېېره وي چي پوره قرآن کریم وویل سي نو خلک به لمانځه ته نه راځي او جماعت به مات سي یا هغوی ته به ډیر ناخوښه وي نو غوره ده چي څومره پر خلکو باندي مشکل نه وي په هغه اندازه دي وویل سي یعني په هر رکعت کي یو سورت وویل سي او بیا هر کله چي لس رکعته پوره سي نو هغه سورتونه دي دوهم وار بیا وواییي یا نور کوم سورتونه چي غواړي وه دي ېې وایي.

۸. یو قران کریم یعني تر یوه ختم زیات دي نه ویل کیږي تر څو د خلکو شوق مات نسي.

۹. په یوه شپه کي پوره قرآن کریم ویل جائز دی په شرط د دې چي خلک شوقین وي او هغوی ته ګرانه نه وي او که ورته ګرانه وي نو بیا مکروه دی.

۱۰. په تراویح کي د یوه سورت پر شروع باندي یو وار بسم الله الرحمن الرحیم په لوړ اواز سره ویل پکار ده ځکه چي بسم الله هم د قرآن کریم یو آیت دی که څه هم د یو سورت جزء نه دی، که بسم الله بالکل ونه وایي نو د مقتدیانو قرآن ګریم نه دی پوره.

۱۱. تراویح د روژې په ټوله میاشتو کي کول سنت دي که قرآن کریم په یوه میاشت کي د پوره کېدو څخه مخکي ختم سي مثلاً په پنځلسو ورځو کي یا په شلو ورځو کي پوره قرآن کریم وویل سي نو په پاته لس یا پنځلسو ورځو کي تراویح کول سنت مؤکده دي.

۱۲. صحیح دادی چي په تراویح کي قل هو الله درې واره ویل لکه څرنګه چي نن سبا رواج دی داسي کول مکروه دي.

۱۳. د تراویح د لمانځه نیت دې داسې وکړل سي (نویت ان اصلي رکعتي صلوة التراویح سنة النبي صلي الله علیه وسلم و اصحابه) یعني زه دوه رکعته د تراویح د لمانځه کولو نیت کوم، کوم چي د رسول الله ﷺ او د هغه اصحابو سنت دی .

۱۴. د تراویح د لمانځه کولو هغه طریقه ده کومه چي د نورو لمنځو ده .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د تراویح لمونځ په جماعت سره ادا کول سنت دي

﴿۱۲۲۱﴾: عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اتَّخَذَ حُجْرَةً فِي

د حضرت زید بن ثابت رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ یوه حجره جوړه کړه په

الْمَسْجِدِ مِنْ حَصِيرٍ فَصَلَّى فِيهَا لَيَالِيَ حَتَّى اجْتَمَعَ إِلَيْهِ نَاسٌ ثُمَّ فَقَدُوْا

مسجد کي د خرماوو د پاڼو څخه او څو شپې يې په هغه کي نفلونه کول هر کله چي به خلک د لمانځه لپاره يو ځای سول نو رسول الله ﷺ به د حجرې څخه راووتی او د خلکو سره به يې لمونځ کوی ، يو ځل په حجره کي خلکو د رسول الله ﷺ آواز نه واوریدی

صَوْتَهُ لَيْلَةً وَظَنُّوْا أَنَّهُ قَدْ نَامَ فَجَعَلَ بَعْضُهُمْ يَتَنَحْنَحُ لِيَخْرُجَ إِلَيْهِمْ فَقَالَ

د شپې په وخت کي نو خیال يې وکړ چي رسول الله ﷺ بیده سوی دی د دې خیال پر بنا خلک د رسول الله ﷺ د وېښولو لپاره و ټوخېدل او غاړې يې تازه کړې چي رسول الله ﷺ د باندې تشریف راوړي او د مخکي په ډول لمونځ راکړي، رسول الله ﷺ چي دا آوازونه واوریدل نو وه يې فرمایل :

مَا زَالَ بِكُمُ الَّذِيْ رَأَيْتُ مِنْ صَنِيعِكُمْ حَتَّى خَشِيْتُ أَنْ يُكْتَبَ عَلَيْكُمْ وَلَوْ

الله دې وکړي چي په تاسو کي دا جذبه د تراویح کولو همیشه وي کوم چي زه په دې وخت کي وینم ، بیا رسول الله ﷺ وفرمایل : زما سره دا ویره پیدا سول چي تراویح لمونځ پر تاسو فرض نه سي که چیري

كُتِبَ عَلَيْكُمْ مَا قُمْتُمْ بِهِ فَصَلُّوْا أَيُّهَا النَّاسُ فِيْ بُيُوتِكُمْ فَإِنَّ خَيْرَ صَلَاةِ

فرض سي نو تاسو به يې ادا نه کړلای سئ ، نو ای خلکو ! تاسو دا لمونځ د نورو نفلو لمنځو سره په خپلو کورو کي کوئ ځکه چي په نفل کي، غوره لمونځ هغه دی

الْمَرْءِ فِي بَيْتِهِ إِلاَّ الصَّلاَةَ الْمَكْتُوبَةَ. متفق عليه

چي په كور كي وكړل سي مگر فرض په مسجد كي كول غوره دي . بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۲۱۴، رقم: ۷۳۱، ومسلم ۱\۵۳۹، رقم: ۲۱۳- ۷۸۱.

تشريح: رسول الله ﷺ په مسجد نبوي كي د اعتكاف لپاره د ټاټ يوه خونه جوړه كړې وه په هغه كي به رسول الله ﷺ د روژې په بركتمنو او مقدسو ساعتونو كي د الله تعالى په عبادت او ذكر كي بوخت وو، د دې څخه معلومه سوه چي په مسجد كي د ټاټ يا دا ډول نورو شيانو څخه د اعتكاف لپاره ځاى جوړول جائز دي مگر شرط دا دى چي د خپل حاجت او ضرورت څخه زيات ځاي و نه نيول سي كنه نو په دې صورت كي دا به حرام وي ځكه چي په زيات ځاى نيولو سره نورو لمونځ كونكو ته تكليف وي په شرط د دې چي ځاى داسي وي چي د هغه خلكو اړتيا او ضرورت ورته وي كه څه هم كله كله ورته ضرورت وي هو كه يو سړى په قرينه سره معلومه كړي كه خلك په ډير شمير هم مسجد ته راسي بيا هم د معتكف لپاره په نيول سوي ځاى كي به هغوى ته اړتيا نه وي نو په داسي صورت كي تر ضرورت زيات ځاى نيول به حرام نه وي دا تفصيل پر دې خبره دلالت كوي چي د حج په ورځو كي په مسجد حرام كي د ننه خلك په تنگۍ كي اخته كول حرام دي.

دا حديث چيري چي د رسول الله ﷺ د امت په حق كي د ډير زيات رحمت ښوونه كوي چي رسول الله ﷺ پر تراويح لمانځه باندي ځكه همېشتوب نه وكړ چي دا لمونځ چيري د امت لپاره فرض ونه گڼل سي چي په هغه سره د امت خلك په تنگۍ او پريشاني كي اخته سي هلته دا حديث د دې خبري هم صراحت كوي چي تراويح لمونځ په جماعت سره كول سنت دى، فصلوا ايها الناس ....الخ : نو اې خلكو تاسو په خپلو كورونو كي لمونځ كوئ په دې كي امر استحابي دى يعني رسول الله ﷺ دا حكم د وجوب او لزوم په توگه نه دى وركړى بلكه مقصد دادى چي د فرض لمنځو پرته نور سنتونه او نفلونه په كورونو كي كول غوره او مناسب دي او د دې وجه داده چي د عام نظر څخه د ساتلو سره په كورونو كي سنت او نوافل په لمونځ كولو كي د ريا او ځان ښووني يو ادنا جذبه هم ښكاره نه وي چي په څرگنده د عبادت په اړه ډير مستحسن او مطلوب شى دى (فان افضل الصلوة ......الخ) د انسان غوره لمونځ هغه دى چي هغه په كور كي كړى وي دا حكم د ټولو سنتو او نفلو لمنځو په باره كي دى، كوم چي سنت يا نفل وي تر ټولو غوره هغه لمونځ دى چي لمونځ كونكى د عامي ليدني څخه د ساتلو لپاره په كور كي

لمونځ وکړي خو هغه نوافل په دې حکم کې نه دي کوم چې د شعار اسلام څخه وي مثلاً د لمر تندري نيولو لمونځ ، د باران کېدو لپاره لمونځ، او د اخترونو لمونځ ځکه چې دا لمنځونه په مسجد کې کول افضل او غوره دي.

او د مسافرو لپاره کعبة الله او مسجد نبوي هم په دې حکم کې ګډ نه دی يعني که چيرې يو خوشبخته ته د کعبة الله او مسجد نبوي د زيارت شرف حاصل سي او هغه مسافر وي نو د هغه لپاره افضل دادی چي هغه د فرض لمنځو سره سره سنتونه او نفلونه هم په مسجد حرام يا په مسجد نبوي کې وکړي ځکه چي مسافر ته دا موقع کله کله په برخه کيږي چي هغوی ته په مسجد حرام او مسجد نبوي کي د لمانځه کولو سعادت تر لاسه سي ځکه مسافر دي دا موقع غنيمت وګڼي او زيات تر زيات لمنځونه دې په مسجد حرام يا مسجد نبوي کې کوي، يعني مسجد حرام او مسجد نبوي د دغه حکم څخه مستثنی کول پر دې خبره قياس کيږي چي مشائخو فرمايلي دي :چي د مسافر لپاره د کعبة الله طواف کول تر نفل لمونځ کولو افضل دی. والله تعالى اعلم.

دروژې په شپو کې د عبادت کولو فضيلت

﴿۱۲۲۲﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُرَغِّبُ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به خلکو ته د عبادت شوق ورکوی

فِي قِيَامِ رَمَضَانَ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَأْمُرَهُمْ فِيهِ بِعَزِيمَةٍ فَيَقُولُ مَنْ قَامَ رَمَضَانَ

د رمضان په مياشت کي مګر په ټينګار سره يې حکم نه ورکوی ، رسول الله ﷺ به دا فرمايل ځوک چي د رمضان په مياشت کي قيام (تراويح) عبادت

إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ فَتُوُفِّيَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ وَالْأَمْرُ

په اعتقاد صحيح سره او د ثواب لپاره يې وکړي نو د هغه مخکي ګناه بخښل کيږي ، د راوي بيان دي چي د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته په دې طريقه عمل وسو

عَلَى ذٰلِكَ ثُمَّ كَانَ الْأَمْرُ عَلَى ذٰلِكَ فِي خِلَافَةِ أَبِي بَكْرٍ وَصَدْرًا مِنْ خِلَافَةِ عُمَرَ عَلَى ذٰلِكَ. رواه مسلم

يعني چا چي غوښتل تراويح به يې يوازي کولې، د حضرت ابوبکر صديق په خلافت کي هم پر دې طريقه عمل وو او د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت په لومړۍ کي هم داسي کيدل. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۱\۵۲۳، رقم: ۱۷۴- ۷۵۹.

تشريح: په صحيح عقيده او د ثواب تر لاسه کولو لپاره په روژه کي د قيام کولو مطلب دادی چي د روژې په مقدسو او برکتمنو شپو کي د الله تعالی د عبادت لپاره د شپې وېښېدل يا د دې څخه دا هم مراد دی چي کوم سړی په صحيح عقېده سره د تراويح لمونځ وکړي يعني د الله تعالی پر ذات او صفاتو باندي ايمان ولري او دا خبره حق وګڼي چي د روژې په شپو کي د الله تعالی په عبادت کي بوخت کېدل مثلاً تراويح وغيره کول د الله تعالی د قُرب او د هغه د رضا او خوښۍ سبب دی نو د هغه صغيره (کوچنۍ) ګناه کومه چي د هغه څخه سوې وي معاف کيږي.

سنت او نفل په کور کي کول او د هغه اثر

﴿۱۲۲۳﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَضَى

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي

أَحَدُكُمُ الصَّلَاةَ فِي مَسْجِدِهِ فَلْيَجْعَلْ لِبَيْتِهِ نَصِيبًا مِنْ صَلَاتِهِ فَإِنَّ اللهَ جَاعِلٌ فِي بَيْتِهِ مِنْ صَلَاتِهِ خَيْرًا. رواه مسلم

تاسو په مسجد کي لمونځ وکړئ نو هغه ته پکار دي چي د لمانځه څخه د کور برخه هم وکړي (يعني سنت او نفل دي په کور کي وکړي) ځکه چي الله تعالی په کور کي دلمانځه کولو له کبله خير او برکت اچوي. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۵۳۹، رقم: ۲۱۰- ۷۷۸.

تشريح: د دې حديث په ذريعه په کورونو کي د سنتو او نفلو کولو فضيلت او په کور کي چي پر دغه لمنځو کولو باندي کوم اثرات مرتب کيږي هغوی ته ښودل سوي دي نو وه يې فرمايل چي کوم سړې فرض لمونځ په مسجد کي کوي او سنت او نفل په کور کي کوي د هغه په کور کي الله تعالی د هغه لمانځه په وجه خير پيدا کوي يعني کورنۍ ته يې نېک توفيق ورکوي او د اوسېدونکو په رزق او عمر کي برکت اچوي.

تراويح لمونځ په دې حکم کي نه دی ګډ ځکه چي په اتفاق سره دا ثابته ده چي رسول الله ﷺ به تراويح لمونځ په مسجد کي کوی او د صحابه کرامو هم پر دې اجماع ده، دا حديث چي په

ښکاره د دې باب سره تړلی نه دی په دې باب کې په نقل سره ګویا دې خواته اشاره کیږي چې په روژه کې هم څه لمنځونه په کور کې کول پکار دي .

اَلْفَصْلُ الثاني (دوهم فصل)

د روژې په آخري لسیزه کې د نبي کریم ﷺ عبادت

﴿۱۲۲۴﴾: عَنْ اَبِيْ ذَرٍ قَالَ صُمْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَقُمْ

د حضرت ابوذر رضي الله عنه څخه روایت دی چې موږ د رسول الله ﷺ سره روژې نیولې نو قیام (تراویح) یې ونه کړې

بِنَا شَيْئًا مِنَ الشَّهْرِ حَتّٰى بَقِيَ سَبْعٌ فَقَامَ بِنَا حَتّٰى ذَهَبَ ثُلُثُ اللَّيْلِ فَلَمَّا

زموږ سره د میاشتې په زیاتو ورځو کې کله چې اووه شپې پاتې سوې نو رسول الله ﷺ زموږ سره تراویح وکړې و دریدی تر هغه وخته چې د شپې دریمه حصه تیره سول بیا چې

كَانَتِ السَّادِسَةُ لَمْ يَقُمْ بِنَا فَلَمَّا كَانَتِ الْخَامِسَةُ قَامَ بِنَا حَتّٰى ذَهَبَ شَطْرُ

شپږ شپې پاتې سوې نو رسول الله ﷺ تراویح ونه کړې بیا چې پنځه شپې پاتې سوې نو زموږ سره یې تر نیمه شپه پورې تراویح وکړې

اللَّيْلِ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ لَوْ نَفَّلْتَنَا قِيَامَ هٰذِهِ اللَّيْلَةِ فَقَالَ اِنَّ الرَّجُلَ اِذَا

نو ما عرض وکړ اې د الله رسوله ! کاشکې په دې شپه تاسو زموږ سره زیاتې تراویح کړې وای ، رسول الله ﷺ وفرمایل : کله چې یو څوک

صَلّٰى مَعَ الْاِمَامِ حَتّٰى يَنْصَرِفَ حُسِبَ لَهُ قِيَامُ لَيْلَةٍ فَلَمَّا كَانَتِ الرَّابِعَةُ لَمْ يَقُمْ

د امام سره (فرض) وکړي او بیا کور ته ولاړ سي نو د هغه لپاره د ټولې شپې عبادت ثواب لیکل کیږي ، بیا چې څلور شپې پاتې سوې نو رسول الله ﷺ زموږ سره تراویح ونه کړې

بِنَا حَتّٰى بَقِيَ ثُلُثُ اللَّيْلِ فَلَمَّا كَانَتِ الثَّالِثَةُ جَمَعَ اَهْلَهُ وَنِسَاءَهُ وَالنَّاسَ فَقَامَ

تر دې چې دریمه برخه شپه پاته سوه بیا چې درې شپې تیرې سوې نو رسول الله ﷺ خپله کورنۍ

او نور خلک يو ځای کړل او زموږ سره يې تراويح وکړې

بِنَا حَتّٰى خَشِيْنَا اَنْ يَّفُوْتَنَا الْفَلَاحُ قُلْتُ وَمَا الْفَلَاحُ قَالَ السُّحُوْرُ ثُمَّ لَمْ

د شپې تر دومره وخته پوري چي زموږ سره دا اندېښنه سوه چي فلاح را څخه تير نه سي، راوي وايي ما پوښتنه وکړه چي فلاح څه شي دی؟ ابوذر رضي الله عنه وويل: د فلاح څخه مراد پېشلمی دی،

يَقُمْ بِنَا بَقِيَّةَ الشَّهْرِ. رواه ابوداؤد والترمذي والنسائي و روي ابن ماجه نحوه

الا ان الترمذي لم يذكر ثم لم يقم بنا بقية الشهر

د دې وروسته ابوذر وويل بيا د مياشتي په پاته ورځو کي رسول الله ﷺ زموږ سره تراويح ونه کړې. ابوداؤد، ترمذي، نسائي، ابن ماجه.

تخريج: سنن ابي داؤد: ۲\ ۱۰۵، رقم: ۱۳۷۵، والترمذي ۳\ ۱۶۹، رقم: ۸۰۶ والنسائي ۳\ ۸۳- ۸۴، رقم: ۱۳۶۳، وابن ماجه: ۱\ ۴۲۰- ۴۲۱، رقم: ۱۳۲۷.

تشريح: د دې حديث څخه معلومه سوه چي رسول الله ﷺ د روژې په اولو دوو لسيزو کي د تراويح لمونځ صحابه کرامو ته نه دی ورکړی د دې سبب هغه دی کوم چي په مخکني حديث کي تېر سوی دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل زما سره دا اندېښنه ده چي دا لمونځ فرض نسي

د حديث الفاظ (حتي يقي سبع ....الخ): يعني تر دې چي اووه شپې پاته سوې، په دې اړه علامه طيبي رحمة الله عليه فرمايي چي دا شمېر د يقين په اعتبار سره دی يعني د نهه ويشتو (۲۹) ورځو مياشت يقيني ده، لکه څرنګه چي د ترجمې په دوران کي په قوسينو کي د دې په وضاحت کولو سره دې خوا ته اشاره سوې ده.

پېشلمي کولو ته هم فلاح ځکه ويلي دي چي د دې باب په ذريعه د روژې نيولو قوت او طاقت حاصلېدل د فلاح سبب دی.

په اخري شپو کي د قيام فرق د فضيلت د فرق په اعتبار وو يعني د کومو شپو فضيلت چي کم وو په هغه شپو کي يې قيام هم کم وکړ او د کومو شپو چي فضيلت زيات وو په هغو کي يې د فضيلت د زياتوب سره سم قيام هم زيات وکړ تر دې چي په اوويشتمه شپه کي يې د ټولو شپو قيام وکړ، ځکه د اکثرو علماؤ د قول سره سم ليلة القدر په اووه ويشتمه شپه کي وي دا وجه ده چي رسول الله ﷺ په دې شپه کي خپل کورنۍ يعني بيبياني مبارکاني را جمع کړي او د ټولو سره د الله تعالی په عبادت کي بوخت وو.

د شعبان د پنځلسمي شپې فضيلت

﴿۱۲۲۵﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ فَقَدْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةً

د حضرت عائشې ﷞ څخه روایت دی چې یوه شپه ما رسول الله ﷺ و نه لیدی

فَإِذَا هُوَ بِالْبَقِيعِ فَقَالَ أَكُنْتِ تَخَافِينَ أَنْ يَحِيفَ اللّٰهُ عَلَيْكِ وَرَسُولُهُ قُلْتُ يَا

ناڅاپه ما ولیدل چې رسول الله ﷺ په بقیع (هدیره) کې دی کله چې رسول الله ﷺ تشریف راوړ نو وه یې فرمایل: اې عائشې! ته بیرېدې چې الله ﷻ او رسول ﷺ به پر تا ظلم وکړي؟ عائشې ﷞ عرض وکړ: اې

رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي ظَنَنْتُ أَنَّكَ أَتَيْتَ بَعْضَ نِسَائِكَ فَقَالَ إِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ يَنْزِلُ

دالله رسوله! زما دا خیال وو چې تاسو شاید نورو ازواجو ته تشریف وړی وي، رسول الله ﷺ وفرمایل: الله تعالی نزول کوي

لَيْلَةَ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا فَيَغْفِرُ لِأَكْثَرَ مِنْ عَدَدِ شَعْرِ

د شعبان پر پنځلسمه شپه د دنیا آسمان ته او د قبیله بنو کلب د پسو د رمې د وړېښتانو څخه زیاته بخښنه کوي.

غَنَمِ كَلْبٍ. رواه الترمذي وابن ماجة وزاد رزين ممن استحق النار وقال الترمذي سمعت محمدا يعني البخاري يضعف هذا الحديث.

ترمذي، ابن ماجه. او رزین په دې حدیث کې دا الفاظ زیات کړي دي چې الله تعالی د هغو خلکو ګناه بخښي کوم چې د دوږخ مستحق سوي دي، امام ترمذي وفرمایل چې بخاري د دې حدیث تضعیف کړي دي.

تخريج: سنن الترمذي ۳\۱۱۶، رقم: ۷۳۹، وابن ماجه ۱\۴۴۴، رقم: ۱۳۸۹.

تشريح: بقیع په مدینه منوره کې د یوې هدیرې نوم دی او جنت البقیع هم ورته ویل کیږي، دلته دا واقعه په تفصیل سره نه ده بیان سوې په یو بل روایت کې بي بي عائشه صدیقه رضي الله تعالی عنها دا واقعه په زیات تفصیل سره بیان کړې ده، چې کله ما رسول الله ﷺ د شپې په

وخت كي د خپل وار پر وخت په بستره كي نه وليدى نو ما پر خپل بدن باندي خپل جامې واچولې او د رسول الله ﷺ د پيدا كولو لپاره دباندي راووتلم نا څاپه ما وليدل چي رسول الله ﷺ په هديره بقيع كي پر سجده پروت دى او سجده ېې هم دومره اوږده وكړل چي زما سره شک پيدا سو چي خداى مه كړه رسول الله ﷺ وفات سوى دى، كله چي رسول الله ﷺ د ډير زنډ وروسته د سر په پورته كېدو سره سلام وګرځوى نو زما خوا ته متوجه سو او وه يې ويل ته بېرېدې چي الله تعالى او د هغه رسول به ستا سره د ظلم معامله وكړي يعني ايا ستا دا خيال وو چي ما ستا وار پرېښودى او بلي بي بي ته ولاړم، په دې جمله كي د الله پاک ذکر د زينت او حسن كلام لپاره دى د دې وروسته د بي بي عائشې رضي الله عنها د جواب خلاصه داده چي اې د الله رسوله ! زما دا ګمان نه وو چي نعوذ بالله، الله تعالى او د هغه رسول به زما سره د ظلم معامله وكړى بلكه زما سره دا خيال پيدا سو چي يا خو ته د الله تعالى په حكم سره يا په خپل اجتهاد سره زما څخه د پورته كېدو څخه دويمي بي بي ته تللى يې.

علامه ابن حجر رحمة الله عليه د بي بي عائشې ﷺ د دې جواب په باره كي فرمايي كه بي بي عائشې ﷺ رسول الله ﷺ د ارشاد په جواب كي نعم يعني هو فرمايلي واى نو معامله دومره نازكه وه چي د بي بي عائشې رضي الله عنها دا معامله به كفر شمېرل كېده خو بي بي عائشې رضي الله تعالى عنها په خپل فراست او ذهانت سره په صورت حال پوه سول ځكه هغې په داسي ذهانت سره جواب وركړ چي د خپل پرېشانۍ او حيرانۍ عذر يې ورته بيان كړ، بيا رسول الله ﷺ د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه د راپورته كېدو عذر بيان كړ چي د شعبان په پنځلسمه شپه كي الله تعالى د دنيا اسمان ته نزول فرمايي يعني د خپل رحمت كامله او په رحمت عامه سره په دې شپه كي چي دا مباركه شپه ده د دنيا اسمان خوا ته متوجه كيږي او پر دنيا والاوو باندي د هغه د رحمت كامله فيضان دومره زيات وي چي د قبيله بنو كلب د بزو ځومره وربښتان وي تر هغه زيات د خلكو ګناوي بخښي نو دا وخت د بركات رباني او تجليات رحماني د نازلېدو وخت وو ځكه ما وغوښتل چي په داسي بركت ناک او مقدس وخت كي د خپل امت لپار د بخښني دعا وغواړم نو زه جنت البقيع ته په رسېدو سره د خپل پروردګار مناجات او د هغه څخه په دعا غوښتلو كي بوخت سوم.

دا حديث ضعيف دى ځرنګه چي په اخري روايت كي د امام ترمذي رحمة الله عليه د قول څخه معلومه سوه مګر ځرنګه چي مخكي هم ځو ځايه وښودل سوه چي د اعمالو د فضائلو په اړه په ضعيف حديث باندي هم عمل كول په اتفاق سره جائز دى دا حديث كه څه هم د دې باب

سره ښکاره مناسبت نه لري مگر په معنوي توګه د حديث د دې باب سره مناسبت دادی چې د شعبان په پنځلسمه شپه کي د خپل فضيلت او بزرگۍ د زياتوب په وجه قيام د روژې د مقدمې په مثل دی .والله اعلم .

نفل لمونځ په کور کي کول

﴿۱۲۲۶﴾: وَعَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ صَلاَةُ الْمَرْءِ فِيْ بَيْتِهِ أَفْضَلُ مِّنَ صَلاَتِهِ فِيْ مَسْجِدِيْ هٰذَا إِلاَّ الْمَكْتُوْبَة . رواه أبو داود والترمذي .

د حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : پرته د فرضو څخه د سړي لمونځ (نفل) تر مسجد زما په کور کي غوره دی . ابوداؤد، ترمذي

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\ ۶۳۲، رقم: ۱۰۴۴، والترمذي ۲\ ۳۱۲، رقم: ۴۵۰.

تشريح : د دې سربېره چې په مسجد نبوي کي د يوه لمانځه ثواب د زرو لمنځو د ثواب سره برابر دی مگر نفل لمنځونه په کورو کي کول په مسجد نبوي کي د نفل لمونځ کولو څخه افضل گرځول سوی دی ځکه چې په کورونو کي کړل سوی لمونځ د ريا او ځان ښوونې څخه بالکل خالي او پاک وي، د رسول الله ﷺ دا ارشاد د هغه وخت دی کله چې رسول الله ﷺ په روژه کي يو څو شپې قيام پرې ايښی وو او د هغه عذر په بيانولو سره په کورونو کي د لمانځه کولو فضيلت يې بيان کړ بيا يې وفرمايل ځيني لمنځونه په خپلو کورو کي وکړئ .

د تراويح لمونځ په کور کي غوره دی که په مسجد کي؟

د دغه حديث څخه په استنباط کولو سره امام مالک رحمة الله عليه امام ابويوسف رحمة الله عليه او ځيني شوافع حضراتو دا ويلي دي چې د تراويح د لمانځه په اړه افضل دادی چې دا لمونځ په کورو کي يوازي وکړل سي او کوم چې د رسول الله ﷺ د عمل سوال دی نو رسول الله ﷺ تراويح لمونځ په مسجد کي کړی دی په دې باره کي د دې حضراتو وينا ده چې د رسول الله ﷺ په مسجد کي تراويح لمونځ کول د بيان جواز لپاره وو دوهم دا چې رسول الله ﷺ معتکف وو .

امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه، امام شافعي رحمة الله عليه او د شوافع علماؤ اکثريت او ځيني مالکيه حضرات په اتفاق توګه سره دا مذهب دی چې تراويح لمونځ په مسجد کي کول افضل دی ځرنګه چې اميرالمومنين حضرت عمر فاروق رضي الله عنه او د هغوی وروسته نورو صحابه کرامو دا لمونځ په مسجد کي کول وټاکل او بيا پر دې د ټولو مسلمانانو عمل دی ځکه

چي تراويح لمونځ د دين د شعار څخه دی او د اخترو لمنځونه مشابه دي د فقې په کتابونو کي په دې مسئله کي مختار او غوره طريقه دا ښودل سوې ده که يو سړی داسي وي چي د مسلمانانو د امامت او رهبرۍ پر مرتبه باندي وي او د هغه په وجه په مسجد کي زياتوب وي نو هغه ته پکار ده چي تراويح لمونځ په مسجد کي وکړي او که داسي نه وي نو بيا جائز ده چي په کور کي يې وکړي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د حضرت عمر رضي الله عنه د تراويحو د لمانځه لپاره د جماعت مقرر کول

﴿۱۲۲۷﴾: عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَبْدِ الْقَارِيِّ قَالَ خَرَجْتُ مَعَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ

عبدالرحمن بن عبدالقاري وايي زه يو وار د عمر بن خطاب سره د رمضان په مياشت کي ووتم

لَيْلَةً إِلَى الْمَسْجِدِ فَإِذَا النَّاسُ أَوْزَاعٌ مُتَفَرِّقُوْنَ يُصَلِّيْ الرَّجُلُ لِنَفْسِهِ وَيُصَلِّي

د شپې مسجد ته، ما وليدل چي خلکو جلا جلا (تراويح) کولې، سړي به يوازې لمونځ کوی

الرَّجُلُ فَيُصَلِّيْ بِصَلَاتِهِ الرَّهْطُ فَقَالَ عُمَرُ إِنِّيْ لَوْ جَمَعْتُ هٰؤُلَاءِ عَلٰى قَارِئٍ

او ځينو د خپلو قبيلو سره کوی، د دې په ليدو سره حضرت عمر رضي الله عنه وفرمايل: که دا ټول خلک زه د يو قاري په امامت کي يو ځای کړم

وَّاحِدٍ لَكَانَ أَمْثَلَ ثُمَّ عَزَمَ فَجَمَعَهُمْ عَلٰى أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ ثُمَّ خَرَجْتُ مَعَهُ

نو غوره به وي، نو د دې اراده يې وکړل او حضرت ابی بن کعب يې امام جوړ کړی، راوي وايي بيا يو ځل داسي په رمضان کي زه د حضرت عمر سره ولاړم

لَيْلَةً أُخْرٰى وَالنَّاسُ يُصَلُّوْنَ بِصَلَاةِ قَارِئِهِمْ. قَالَ عُمَرُ نِعْمَتِ الْبِدْعَةُ هٰذِهِ

او وه مي ليدل چي خلک په مسجد کي په خپل امام پسې لمونځ کوي، د دې په ليدو سره حضرت عمر رضي الله عنه وويل دا ډير ښه بدعت دی

وَالَّتِيْ تَنَامُوْنَ عَنْهَا أَفْضَلُ مِنَ الَّتِيْ تَقُوْمُوْنَ. يُرِيْدُ آخِرَ اللَّيْلِ وَكَانَ النَّاسُ

يَقُوْمُوْنَ أَوَّلَهُ. رواه البخاري

او هغه (تراويح) لمونځ چي تاسو يې وكړئ او بيده سئ د هغې څخه غوره دى چي د هغه لپاره تاسو بيدار ياست يعني په آخري شپه كي او داسي تراويح به خلكو په اول وخت كي كولې. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲۵۰\۱۴، رقم: ۲۰۱۰.

تشريح: (نعمت البدعة) يعني دا ښه بدعت دى ددې مطلب دادى چي دا جماعت تاكل ښه بدعت دى نه اصل جماعت، گويا حضرت عمر ﷜ جماعت تاكلو ته ښه بدعت ووايه د ښه بدعت څخه د هغه مراد اصل جماعت نه وو، ځكه رسول الله ﷺ تراويح لمونځ په جماعت سره كړى دى ځرنگه چي په تېرو حديثو كي تير سول همدا سي كه حقيقت ته وكتل سي نو معلومېږي چي دا جماعت تاكل ښه بدعت څخه د وړاندي كېدو سره د سنت په درجه كي راځي ځكه چي د خلفاء راشدينو قائم كړل سوې طريقه هم سنت ده.

په هرحال حاصل دادى چي دلته د بدعت د لغوي معنى اعتبار دى نه دا چي د هغه معنى چي د فقهاؤ په اصطلاح كي مفهوم كيږي.

د تراويح ركعتونه

﴿۱۲۲۸﴾: وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيْدَ قَالَ أَمَرَ عُمَرُ أُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ وَتَمِيْمًا الدَّارِيَّ

د حضرت سائب بن يزيد څخه روايت دى چي حضرت عمر ﷜ ابى بن كعب او تميم داري ته حكم وركړى چي

أَنْ يَقُوْمَا لِلنَّاسِ فِيْ رَمَضَانَ بِإِحْدٰى عَشَرَةَ رَكْعَةً فَكَانَ الْقَارِئُ يَقْرَأُ بِالْمِئِيْنَ

هغوى په رمضان كي خلكو ته يوولس ركعته وركړي او په هغه زمانه كي به قاري په لمانځه كي هغه سورتونه ويل چي ترسلو آياتو به زيات وه

حَتّٰى كُنَّا نَعْتَمِدُ عَلَى الْعَصَا مِنْ طُوْلِ الْقِيَامِ فَمَا كُنَّا نَنْصَرِفُ إِلاَّ فِيْ فُرُوْعِ الْفَجْرِ. رواه مالك

تر دې چي موږ به د ولاړي د اوږدوالي څخه مجبور سو د لكړي مرسته به مو اخيستل او موږ چي به د هغه لمانځه څخه فارغ سو نو سهار به نژدې وو. مالك.

تخریج: الامام مالک في الموطا ۱\۱۱۵، رقم: ۴.

تشريح : أبی بن کعب ﷺ او تمیم داري ﷺ دواړو ته د امامت د حکم مطلب دا وو چي کله یو امام جوړ سي کله بل، په دې کي دا احتمال هم دی چي حضرت عمر ﷺ دواړو ته په وار وار د لمانځه ورکولو داسي حکم ورکړی وو چي یو څو رکعتونه دي ابی ﷺ ورکړي او یو څو دي تمیم داري ﷺ ورکړی په دې توګه چي په څو شپو کي یو امامت کوي او په څو شپو کي بل ددغه حدیثو څخه دا معلومیږي چي د تراویح یوولس رکعته دي څرنګه چي حضرت عمر ﷺ حکم ورکړ حال دا چي علماء لیکي چي دا خبره ثبوت صحت ته رسېدلې ده چي د حضرت عمر فاروق ﷺ په عهد خلافت کي تراویح لمونځ به شل رکعته وو نو د دې حدیث په باره کي به دا وویل سي چي حضرت عمر ﷺ به کله شل رکعته کول او کله پر یوولسو رکعتو باندي به ېې اکتفاء کول یا دا چي د رسول الله ﷺ څخه د تراویح یوولس رکعته کول ثابت سوي دي ځکه د رسول الله ﷺ د عمل مبارک د مشابهت په قصد سره حضرت عمر ﷺ په ځیني شپو کي د یوولسو رکعتو کولو حکم ورکړ بیا د هغه وروسته تراویح شل رکعته په مستقله توګه وټاکل سوې لکه څرنګه چي د رسول الله ﷺ څخه هم په یوه روایت کي د رویشت رکعته کول نقل سوي دي چي په هغه کي درې وتر ګڼل دي.

په نفل لمانځه کي تکیه لګول جائز دي

د حدیث الفاظ (کنا نعتمد علی العصا) ددې مطلب دا دی چي هغه وخت به په تراویح کي دومره اوږد قرائت ویل کېدی چي موږ به په قیام کي په ولاړه ستړي سوو چي د هغه په وجه به موږ پر خپل لکړه تکیه لګولو سره پر دربدو باندي مجبور وو، په دې اړه مسئله داده چي په نفل لمنځو کي هسي په عامه توګه سره هم مګر په خاصه توګه سره د ضعف په حالت کي تکیه لګول یا د یو شي مرسته اخیستل جائز دي.

﴿۱۲۲۹﴾: وَعَنِ الْأَعْرَجِ قَالَ مَا أَدْرَكْنَا النَّاسَ إِلاَّ وَهُمْ يَلْعَنُوْنَ الْكَفَرَةَ فِيْ

د حضرت اعرج څخه روایت دی چي د روژې په میاشت کي به خلکو پر کافرانو لعنت وایه او په

رَمَضَانَ قَالَ وَكَانَ الْقَارِئُ يَقْرَأُ سُوْرَةَ الْبَقَرَةِ فِيْ ثَمَانِيْ رَكَعَاتٍ وَإِذَا قَامَ بِهَا

رمضان کي به قاري سورة بقرة په اته رکعتو کي ویل او هر کله چي به یې ختم کړل

فِيْ ثِنْتَيْ عَشَرَةَ رَكْعَةً رَأَى النَّاسُ أَنَّهُ قَدْ خَفَّفَ . رواه مالك .

په دوولس رکعتو کي نو خلک به پوه سول چي مختصر لمونځ يې وکړ. مالک

تخريج: الامام مالک في الموطا: ۱۱۵/۱، رقم: ٦.

تشريح: که څه هم د دې حديث څخه په وضاحت سره دا نه معلومېږي چي پر کفارو باندي لعنت د روژې د وترو سره مخصوص وه، په داسي توګه په ټولو حديثو کي تطبيق پيدا کيږي د دا مفهوم اختيارولو وروسته دا حديث به د حضرت عمر رضي الله عنه د هغه حديث خلاف نه وي چي د هغه څخه ثابتيږي چي کله به د روژې نيمه برخه تېره سوه نو په وترو کي پر کفارو باندي لعنت استول سنت دي پر کفارو باندي د لعنت استولو سبب دا وو چي کله به کفارو د دغه بابرکتي مقدسي او باعظمتي مياشتي تعظيم نه وکړ چي د هغه عظمت او بزرګي خپله الله تعالى بيان فرمايلې ده او د هدايت چينه او فيضان کلام الله څخه به يې ذره هدايت حاصل نه کړو چي په دې باعظمته مياشت کي نازل سوي دي نو هغوی د دې خبري مستحق سوه چي پر هغوی باندي لعنت واستول سي د تراويح لمانځه د رکعتو د شمير په باره کي مخکی ذکر سوی دی يو وار بيا هم پوه سئ چي رسول الله ﷺ د تراويح لمانځه د رکعتو شمير نه وو ټاکلی بلکه په دې اړه د رسول الله ﷺ عمل مختلف راغلی دی رسول الله ﷺ اته رکعته هم کړي دي او دا هم راځي چي رسول الله ﷺ يوولس رکعته کړي دي همداسي ديارلس او شل رکعته هم د رسول الله ﷺ څخه نقل دي خو حضرت عمر رضي الله عنه د خپل خلافت په زمانه کي د تراويح شل رکعته وټاکل د هغه وروسته د ټولو صحابه کرامو پر دې عمل وو، حضرت عثمان رضي الله عنه او حضرت علي رضي الله عنه هم په خپل زمانه خلافت کي همداسي انتظام وساتی د رسول الله ﷺ ارشاد دی زما سنت او زما د خلفاء راشدينو سنت پر خپل ځان باندي لازم وګرځوئ هغه په خپلو غاښونو سره ټينګ ونيسئ.

نو ددې وجه که يو سړی د رسول الله ﷺ د دغه حکم په شتون کي د تراويح د شلو رکعتو ځکه نه قائل کيږي چي د دې ثبوت د رسول الله ﷺ څخه ثابت نه دی نو په دې اړه د دې څخه پر ته نور څه ويل کېدای سي چي هغه د منشاء نبوت او حقيقت سنت څرګنده مخالفت کوي.

د تراويح اخيري وخت

﴿۱۲۳۰﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ قَالَ سَمِعْتُ أُبَيًّا يَقُوْلُ كُنَّا نَنْصَرِفُ فِيْ

د حضرت عبدالله بن ابوبکر رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د اُبی څخه اوريدلي دي چي کله به موږ په روژه کي د تراويح څخه فارغ سو نو

رَمَضَانَ مِنَ الْقِيَامِ فَنَسْتَعْجِلُ الْخَدَمَ بِالطَّعَامِ مَخَافَةَ فَوْتِ السُّحُوْرِ . وَفِيْ أُخْرٰى مَخَافَةَ الْفَجْرِ . رواه مالك .

خادمانو ته به مو ژر د ډوډۍ خوړلو لپاره ويل د دې بيرې څخه چې د پېشلمي وخت ختم نه سي ، او په دوهم روايت کي دا الفاظ دي چي د سهار کېدو د بيرې څخه . مالک .

تخريج: الامام مالک في الموطا: ۱۱۶/۱، رقم: ۷.

د شعبان په پنځلسمه د انسان مرګ او ژوند ليکل کيږي

﴿۱۲۳۱﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ هَلْ تَدْرِيْنَ مَا فِيْ

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ و فرمايل : ايا تا ته خرګنده ده چي په

هٰذِهِ اللَّيْلَةِ ؟ يَعْنِيْ لَيْلَةَ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ قَالَتْ مَا فِيْهَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ

دې شپه (د شعبان پنځلسمه) کي څه کيږي؟ بي بي عائشې رضي الله عنها عرض وکړ : نه ، اې د الله رسوله! په دې کي څه کيږي ؟

فَقَالَ فِيْهَا أَنْ يُكْتَبَ كُلُّ مُوْلُوْدٍ مِنْ بَنِيْ آدَمَ فِيْ هٰذِهِ السَّنَةِ وَفِيْهَا أَنْ يُكْتَبَ

رسول الله ﷺ و فرمايل : په دې کي دا کيږي چي په انسانانو کي هر څوک چي په دې کال پيدا کېدونکی وي ليکل کيږي او څوک چي په دې کال

كُلُّ هَالِكٍ مِنْ بَنِيْ آدَمَ فِيْ هٰذِهِ السَّنَةِ وَفِيْهَا تُرْفَعُ أَعْمَالُهُمْ وَفِيْهَا تُنْزَلُ

مړ کيږي په دې شپه ليکل کيږي او په دې شپه اعمال نامې پورته کيږي او په دې شپه نازليږي

أَرْزَاقُهُمْ . فَقَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَا مِنْ أَحَدٍ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلاَّ بِرَحْمَةِ اللّٰهِ

د بندګانو رزق ، عائشې رضي الله عنها عرض وکړ : اې د الله رسوله ! هيڅوک داسي نسته چي د الله جل جلاله د رحمت پرته جنت ته داخل سي ؟

تَعَالٰى ؟ فَقَالَ مَا مِنْ أَحَدٍ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلاَّ بِرَحْمَةِ اللّٰهِ تَعَالٰى ثَلاَثًا قُلْتُ

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : هيڅوک د الله ﷻ د رحمت څخه پرته جنت ته نه سي داخليدلای
درې ځله يې دا الفاظ وفرمايل ، بي بي عائشي رضي الله عنها عرض وکړ :

وَلاَ أَنْتَ يَارَسُوْلَ اللهِ ؟ فَوَضَعَ يَدَهُ عَلٰى هَامَتِهِ فَقَالَ وَلاَ أَنَا إِلاَّ أَنْ يَّتَغَمَّدَنِيَ

اې د الله رسوله ! ايا تاسو هم نه ؟ رسول الله ﷺ پر خپل سر مبارک لاس کښېښودی او وه يې
فرمايل : زه هم د الله ﷻ د رحمت څخه پرته په جنت کي نه سم داخليدلای خو دا چي الله تعالی په
خپل فضل او کرم سره

اللهُ مِنْهُ بِرَحْمَتِهِ . يَقُوْلُهَا ثَلاَثَ مَرَّاتٍ . رواه البيهقي في الدعوات الكبير .

د خپل رحمت په سايه کي ما پټ کړي، رسول الله ﷺ دا الفاظ درې ځله وفرمايل . بيهقي .

تخريج : رواه البيهقي في الدعوات الكبير.

تشريح : په دنيا کي چي څومره انسانان پيدا کيږي يا مړه کيږي د هغوی ټولو د زېږېدني او د مرګ په باره کي ډېر مخکي په عمومي توګه سره په لوح محفوظ کي ليکل کيږي د هر شعبان په پنځلسمه شپه کي بيا دوهم وار د خلکو د زېږېدني او مرګ وخت ليکل کيږي چي په هغه کال کي پيدا کېدونکی يا مړ کېدونکی دي .

اعمال پورته کيږي: د دې مطلب دادی چي په دغه کال کي د بنده څخه کوم نېک اعمال کېدونکی وي هغه په دغه شپه کي ليکل کيږي چي هر ورځ پېښېدلو څخه وروسته د الله تعالی په دربار کي حاضر کيږي .

د رزق راکښته کولو څخه مراد د رزق ليکل دي په هغه کال کي چي د کوم بنده په برخه کي څومره رزق راځي د هغه تفصيل په دغه شپه کي ليکل کيږي څرنګه چي په يوه حديث کي نقل دي چي په دغه شپه کي مرګ او رزق ليکل کيږي او په دې کال کي د حج نوم هم په دغه شپه کي ليکل کيږي .

کله چي بي بي عائشه رضي الله عنها واورېدل چي هغه اعمال چي په کال کي د بنده څخه کيږي د کولو څخه مخکي ليکل کيږي نو هغه پوه سوه چي په جنت کي د داخلېدو دار او مدار يوازي پر تقدير او د الله پاک پر فضل او کرم باندي دی ، جنت ته داخلېدل پر عمل باندي موقوف نه دي نو هغې وفرمايل (يارسول الله مامن يدخل ....الخ) د دې په جواب کي رسول الله ﷺ وفرمايل بېشکه په جنت کي داخلېدل خو يوازي د الله تعالی د رحمت او د هغه په

فضل او کرم موقوف دی هغه چي څرنګه غواړي په خپل فضل او کرم سره به يې په جنت کي داخل کړي او چا ته چي وغواړي داخل به يې نه کړي د رسول الله ﷺ دا ارشاد د قرآن کريم دا آيت دی .(تلک الجنة التي اورثتموها بما کنتم تعملون) : دا هغه جنت دی چي تاسو ته د هغه شي په بدل کي درکړل سو چي تاسو به کوی، يعني په دنيا کي چي به تاسو کوم نيک اعمال کول. معارض خلاف نه دی ځکه چي نيک اعمال خو په جنت کي د داخلېدو ښکاره سبب دی خو د دخول جنت حقيقي سبب د الله تعالی فضل او کرم او د هغه رحمت دی نه نېک اعمال بيا دا چي نېک اعمال هم د الله تعالی رحمت دی، که د يوه بنده سره د الله تعالی توفيق نه وي او د هغه فضل او کرم او د هغه د رحمت سايه پر هغه باندي نه وي نو هغه نېک اعمال څرنګه کولای سي نيک او صالح اعمال خو بنده هلته کولای سي کله چي د الله تعالی توفيق او د هغه رحمت د بنده لارښوونه کوي نو داسي به هم وويل سي چي په جنت کي داخلېدل يوازي د پروردګار پر رحمت موقوف دی ځيني علماؤ ليکلي دي چي په جنت کي داخلېدل خو يوازي د پروردګار د رحمت سبب دی او په جنت کي د راتلو فرق د اعمالو پر فرق موقوف دی يعني بنده خو به په جنت کي داخل د الله تعالی د رحمت په جه سي هو د اعمالو کار فرمايي به د دې درجې وي د کوم بنده نېک اعمال چي د کومي درجې وي په جنت کي به د هغه سره سم درجه ترلاسه کوي.

د برات په شپه کي کينه کوونکی او مشرک د الله ﷻ د عام رحمت څخه محروم کيږي .

﴿۱۲۳۲﴾: وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو موسی اشعري رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

قَالَ إِنَّ اللهَ تَعَالَى لَيَطَّلِعُ فِي لَيْلَةِ النِّصْفِ مِنْ شُعْبَانَ فَيَغْفِرُ لِجَمِيْعِ خَلْقِهِ

الله تعالی د شعبان په پنځلسمه شپه کي د بندګانو په لور متوجه کيږي او خپل ټول مخلوق ته بخښنه کوي

إِلاَّ لِمُشْرِكٍ أَوْ مَشَاحِنٍ . رواه ابن ماجه ورواه أحمد عن عبد الله بن عمرو بن العاص وفي روايته إلا اثنين مشاحن وقاتل نفس .

خو نه مشرک او کينه ګر ته، ابن ماجه، احمد د حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص د روايت

څخه داسي نقل کړی دی چي الله تعالی په دې شپه د وه خلک مشرک او قاتل د خپل ځان نه بخښي .

تخریج: سنن ابن ماجه ۱\۴۴۵، رقم: ۱۳۹۰، الامام احمد في مسنده ۲\۱۷۶.

تشریح: د حدیث خلاصه داده چي الله تعالی کله په دې برکت ناکي او مقدسي شپې کي په خپل رحمت کامله سره دنیا والاوو ته متوجه کیږي نو د هغه د رحمت دریاب دومره په جوش کي وي چي هغه خپل حقوق هم معاف کوي او په خپل بندګۍ، عبادت ،اطاعت او فرمانبرداری کي کړل سوي ګناوي هم ورمعافوي خو کفر او د بندګانو حقوق نه معاف کوي او په دې معامله کي دومره مهلت ورکوي که هغه توبه وکاږي نو توبه به یې قبوله سي او که توبه نه وکاږي او خپله بداعتقادي او د بدعملي څخه نسي منعه نو په عذاب کي به اخته سي .

د کینه کونکي څخه مراد هغه سړی دی چي د شرعي لوري څخه نه بلکه د نفس اماره په فریب او چمو کي په اخته کېدو سره خامخا د نورو خلکو لپاره په خپله سینه کي د بغض او حسد اور بلوي داسي بد سړی هم په دې برکت ناکه شپه کي د پروردګار د عامي بخښني څخه هیڅ برخه نه سي تر لاسه کولای، د برات په شپه کي چي کوم بدبخت د رحمت الهي په سایه کي نه وي په دې توګه چي د هغه بخښنه نه کیږي نو د دې تفصیل په بیلو بیلو روایتونو کي ذکر دی دلته د کفرکونکي، کینه لرونکي او په ناحقه د چا قتلونکی ذکر سوی دی .

په ځیني روایتونو کي دا هم نقل دي چي الله تعالی قرابت ماتونکی هم نه بخښي همداسي په ځیني روایتونو کي پرتوګ یا لونګ د زنګنو څخه لاندي کښته کونکی، د مور او پلار نافرمان، همیشه شراب څیښونکی او په ځینو راویتونو کي زنا کونکی او په ظلم سره محصول اخیستونکی، جادو کونکی، کاهن، د غیب خبري ښودونکی او باجه ویونکی هم ذکر سوی دی یعني دا هغه بد بخته خلک دي چي په دغه مقدسه شپه کي د پروردګار د عام رحمت څخه محروم وي .

د شعبان په پنځلسمه د روژې او عبادت حکم

﴿۱۲۳۳﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِذَا كَانَتْ لَيْلَةُ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ

د حضرت علي رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله چي د شعبان پنځلسمه شپه سي

فَقُوْمُوْا لَيْلَهَا وَصُوْمُوْا يَوْمَهَا فَإِنَّ اللهَ تَعَالٰى يَنْزِلُ فِيْهَا لِغُرُوْبِ الشَّمْسِ

نو تاسو د شپې عبادت کوئ او د ورځې روژه نيسئ ځکه چې الله تعالى په دې شپه کې د لمر لوېدو وروسته نزول فرمايي

إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا فَيَقُوْلُ أَلَا مِنْ مُسْتَغْفِرٍ فَأَغْفِرَ لَهُ؟ أَلَا مُسْتَرْزِقٍ فَأَرْزُقَهُ

د دينا آسمان ته ، او فرمايي څوک بخښنه غوښتونکی سته چې زه يې و بخښم، ځوک رزق غوښتونکی سته چې زه رزق ورکړم ،

؟ أَلَا مُبْتَلًى فَأُعَافِيَهِ؟ أَلَا كَذَا أَلَا كَذَا حَتَّى يَطْلُعَ الْفَجْرَ . رواه ابن ماجه .

څوک په مصيبت اخته سته چې سلامتي ورکړم او داسي فرمايي تر څو چې د سهار رڼا سي . ابن ماجه

تخريج: سنن ابن ماجه: ۱\ ۴۴۴، رقم: ۱۳۸۸.

تشريح : د برات د شپې د عظمتونو او فضيلتونو حد په څومره وي، دا هغه مقدسه شپه ده چې د پرودرگار عالم خپل رحمت کامله او رحمت عامه سره د دنيا خواته متوجه کيږي دنيا والا خپل رحمت ته رابولي د هغوى لمن د رحمت ، بخښني او د ورکړي د خزانو څخه ډکوي .

زيری دي وي هغه پاکو نفسو ته او هغه خوشبختو ته چې په دغه مقدسه شپه کي د خپل پرورد گار د رحمت سايه پيدا کوي عبادت او بندگي کوي د خپل مولى په دربار کي د خپلو اړتياوو او حاجتونو خواست وړاندي کوي او مولى کريم د هغوى خواستونه په خپل رحمت کامله سره قبلوي، افسوس پر هغو بدنصيبو چې د دغه برکتناکي او باعظمتي شپې د تقدس استقبال په لهو او لعب سره کوي د آتش بازي په ډول بد کار کي په اخته کېدو سره خپل نيک بختي او سعادت بربادوي، د بازيو په بوختيا سره د رحمت خداوندي څخه ليري والى اختياروي، الله تعالى دي مونږ ته توفيق راکړي چې موږ د برات د شپې د عظمت او فضيلت احساس وکړو او د دغه شپې د تقدس احترام وکړو او د عبادت او بندگي مخلصانه نذرانه د پروردگار په دربار کي په وړاندي کولو سره د هغه د رحمت څخه د خپل دين او دنيا سعادتونه او بريا ليتوب تر لاسه کړو .

زياتو صحابه کرامو مثلا حضرت عمر فاروق رضي الله عنه او حضرت ابن مسعود رضي الله عنه او د داسي نورو څخه نقل دي چې هغوى به د شپې دا دعا کول :

اللهم ان کنت کتبنا اشقياء فامحه واکتبنا سعداء وان کنت کتبنا سعداء فاثبتنا فانک تمحوا من تشاء و تثبت عندک ام الکتاب .

ژباړه : اې الله ! كه تا (په لوح محفوظ كې) موږ بدبخته ليكلي يو نو هغه خراب كړې او موږ نيكبخته وليكې او كه تا موږ سعيد او نيک بخته ليكلي يو نو هغه قائم ولرې بيشكه ته چې څه غواړې ختموې يې او څه ته چې وغواړې قائم يې لرې او ستا سره ام الكتاب دی.

د پنځلسم شعبان په شپه كې د دغه دعا ويل په حديث كې نقل دي مگر هغه حديث قوي نه دی د دې دعا الفاظ :ان كنت كتبنا اشقياء كې د كتابت څخه مراد كتاب معلقه دي او په هغه كې تغير او تبدل ممكن دی دلته كتاب محكمه مراد نه دی ځكه چې په لوح محفوظ كې په اخري توګه چې كومه خبره محكمه ليكل سوې ده په هغه كې تغير او تبديل ممكن نه دی.

د پنځلسم شعبان په شپه د صلوة الفيه كولو حقيقت

په كتاب الالى كې ليكلي دي چې په دغه شپه كې صلوة الفيه يعني سل ركعته نفل لمونځ داسي دي وكړل سي چې په هر ركعت كې لس لس د قل قرائت وي لكه څرنګه چې ديلمي وغيره روايت كړې دي مگر دا روايت موضوع دی په دې اړه په ځينو رسالو كې ليكلي دي، علي بن ابراهيم رحمة الله عليه فرمائي: دا كومه طريقه چې رواج كړل سوې ده چې د پنځلسم شعبان په شپه كې صلوة الفيه كيږي يعني سل ركعته دي داسي وكړې چې په هر ركعت كې لس لس قل قرائت وسي او هغه په جماعت سره ادا كوي بيا دا چې په هغه كې د جمعې د اخترونود لمنځو هم زيات اهتمام كيږي په دې باره كې نه څه صحيح حديث ثابت دی نه د يو صحابي او تابعي يو قوي ارشاد نقل دی خو داچې په دې اړه ضعيف او موضوع روايتونه ضرور نقل كيږي نو هيڅ سړی دي د صاحب قوت القلوب او صاحب اخبار وغيره نقلولو څخه دي په دې اړه په غلط فهمي كې نه اخته كيږي يعني دا لمونځ دي نه كوي ځكه چې عوام د دې لمانځه په وجه په ډېرو زياتو فتنو كې اخته سوی دی تر دې چې د دې لمانځه د اداء كولو په وخت رڼا ضروري ګرځول سوې ده چې د هغه په وجه اكثر د فسق او فجور كارونه صادرېدل شروع سول ډېر اولياء الله د دغه كارونو د وجې څخه بېرېدل چې د الله ﷻ ادبار او عذاب نازل نسي نو هغوی دومره خوف زده او پرېشانه سوه چې هغوی په ابادي پرېښودو سره او د الله تعالی عبادت په رڼا كې كېدونكی فسق او د فجور څخه په مخ اړولو سره ځنګل ته ولاړل.

د دې لمانځه د ابتداء په باره كې ليكلي دي چې اول دا لمونځ په بيت المقدس كې په څلورسوه اته څلوېښت كې شروع سو او د دې طريقې د رواج كېدو وجه دا وه چې د هغه زمانې جاهل او اقتدار طلب امامان مساجد د خپل جذبه اقتدار وجاه طلبي د تسكين لپاره او د عوامو څخه زيات تعداد ځان ته راچاپېره د جمع كولو لپاره دا طريقه راوښودل همدا سي هغوی ډېري

فائدې هم حاصلي کړي دي تر دې چي الله تعالی نیک او صالح امامان پیدا کړل هغوی د دغه بدعت په مینځ کي هیڅ کمي نه وکړل د الله پاک د دغه نیکو بندګانو په سعي او هڅه سره دا طریقه ختمه سوه تر دې چي د اته سوه هجري په شروع کي د مصر او شام په ښارونو کي دا بدعت بالکل ختم سو.

ملا علي قاري رحمة الله علیه د پورتني مضمون نقل کولو وروسته لیکي دي چي په دې اړه زه دا وایم چي دومره خبره خو فیصله سوې ده چي د صلوة الفیه په اړه ضعیف حدیث نقل دی او د نفل د اعمالو په اړه په ضعیف حدیث باندي عمل کول جائز دی، علماء چي د دغه لمانځه کولو څخه منعه فرمایلې ده نو هغه ځکه چي د دې سره دېر زیات منکرات کېده نو که یو سړی یوازي د پورتنیو منکراتو څخه پرته دا لمونځ کول وغواړي نو جائز دی، کېدای سي چي د دغه لمانځه وخت د څراغو په شروع کي او د هغه د وجهي په باره کي نقل وي چي اول د څراغو رواج په برالکه قوم کي وسو ځکه چي دا قوم مخکي آتش پرستان وه کوم وخت چي دا خلک مسلمانان سوه نو د هغوی د زړه ژروالی ایمان او اسلام په پوره توګه نه وو قبول کړی او د هغوی په زړه کي د خپل قدیم مذهب په څه نا څه حیثیت کي محبت پاته وو هغوی یو داسي شی په اسلام کي داخل کړ چي په دې وهم کي بې اخته کړه چي دا د سنت او شعار دین څخه نه دی یعني د دې لمانځه په وخت بې څراغونه بلول چي د هغه څخه په اصل کي د هغوی مقصد د زور عبادت کول وو ځکه چي هغوی به د عامو مسلمانانو سره د دې څراغ په شکل کي د اور خواته رکوع کول او سجده به بې کول.

د هیڅ عمل په وخت څراغ لګول مستحب نه دي:

د یو بل ضرورت او حاجت په وخت په هیڅ ځای کي هم څراغ لګول په شریعت کي مستحب نه دي ځیني حاجیان چي ناپوهه وي په جبل عرفات مشعر حرام او منی کي څراغ وغیره بلوي د دې هم څه حقیقت نسته بلکه دا یو اختراع ده چي پرهیز بې لازم دی.

د تراویح د ختم په شپه کي اجتماع بدعت دی

د علامه طرطوسي رحمة الله علیه تحقیق دا دی چي په کومه شپه تراویح ختمیږي په هغه ورځ یوازي په ختم کي د ګډون لپاره د عوامو اجتماع یا منبر وغیره نصب کول یا څراغونه وغیره بلول بدعت دی.

ملا علي قاري رحمة الله علیه د علامه طرطوسي رحمة الله علیه د دې تحقیق په باره کي لیکلي دي چي الله تعالی دي پر د غه طرطوسي رحمة الله علیه خپل رحمت نازل کړي ځکه چي

ډېر ښه تحقيق يې کړی دی او لوی تعجب دادی چي دا غلطه طريقه اهل حرمين شريفين اختيارکړې ده هلته چي په کومه شپه تراويح ختميږي نو هغه وخت د خلکو ،ښځو ،هلکانو او غلامانو دومره په پابندي سره اجتماع کيږي چي د اخترونو لمنځونه، د جمعې لمونځ او د لمر تندري نيولو په لمانځه کي دومره خلک نه جمع کيږي د دې اجتماع پر کېدو ډېر زيات نوي نوي منکرات او غلط او فاسد اعمال او افعال کيږي خلک د ځراغونو خوا ته مخ کوي او د بيت الله خوا ته شا کوي او د مطاف په مينځ کي بالکل د آتش پرستانو په ډول دومره په ګڼه ګوڼه سره دريږي چي هلته د طواف کونکو لپاره ځای تنګ او پرېشان سي چي د هغه په وجه طواف کونکي د الله تعالی په ذکر کي مصروفه کېدونکي لمونځ کونکي او د قرآن کريم تلاوت کونکي په زيات تکليف او پرېشانۍ کي اخته کيږي، فسال الله العفو والعافيه والغفران والرضوان والله المستعان.

=========

بَابُ صَلٰوةِ الضُحٰی

د ځابښت د لمانځه بيان

ضحیٰ مشتق دی د(الضحوا والضحوة) څخه، ددې معنی ده د لمر لوړېدل د ورځي راختل، د ځابښت وخت، د لمر لوړېدو او پورته کېدو وروسته لمونځ کولو ته د ضحی لمونځ وايي.

د ضحیٰ دوه لمنځونه دي د اشراق لمونځ او د ځابښت لمونځ :

اول لمانځه ته اشراق او دوهم ته د ځابښت لمونځ وايي يعني په اندازه د يوې نېزې يا دوو نېزو د لمر لوړېدو وروسته کله چي مکروه وخت ختم سي او د لمانځه کولو وخت شروع سي نو په اول کوم لمونځ کيږي هغه ته په اصطلاح کي د اشراق لمونځ وايي او کله چي لمر ښه پورته سي او ګرمي دومره زياته سي چي دوهمه غرمه شروع سي نو د زوال څخه مخکي د ضحی لمونځ کيږي دې ته په اصطلاح کي د ځابښت لمونځ وايي او په عربي کي دغه دواړو لمنځو ته ضحوة صغری او ضحوة کبرای وايي.

نسائي يو بل روايت نقل کړی دی چي د هغه مفهوم دادی چي کله لمر د مشرق خوا ته داسي وي لکه څرنګه چي د مازديګر وخت د مغرب خوا ته وي نو رسول الله ﷺ به دوه رکعته کول او کله چي لمر د مشرق خوا ته داسي وي لکه څرنګه چي د ماپښين وخت د مغرب خوا ته

وي نو رسول الله ﷺ به څلور رکعته لمونځ کوی د دې حديث څخه معلومه سوه چي د ضحی دوه لمنځونه دي.

د اشراق د لمانځه کم شمېر دوه رکعته دي او زيات شمېر يې شپږ رکعته دی، همداسي د څاښت د لمانځه کم شمېر دوه رکعته او زيات شمير يې دوولس رکعته دي مګر د علماؤ په نزد مختار څلور رکعته کول دي د کومو حديثو څخه چي د رسول الله ﷺ څلور رکعته کول ثابت دي هغه حديثونه زيات صحيح دي بيا دا چي زيات حديثونه او اثار د څلورو رکعتو په باره کي نقل دي، د ضحیٰ د لمانځه ډېر زيات فضيلت نقل دی دا لمونځ د اکثرو علماؤ په نزد مستحب دی، دا لمونځ دي په دې نيت سره کوي:

نويت ان اصلي اربع رکعات صلوة الضحی سنة النبي صلی الله عليه وسلم

ژباړه: ما دا اراده وکړه چي څلور رکعته د ضحی لمونځ چي د رسول الله ﷺ سنت دی ادا کړم. شيخ ولي الدين ابن عراقي رحمة الله عليه فرمايي چي د صلوة الضحی په باره کي صحيح او مشهور حديثونه ډېر زيات نقل دي تر دې چي محمد ابن جرير طبراني رحمة الله عليه ويلي دي چي په دې اړه کوم حديثونه نقل دي هغه د تواتر درجې ته رسېدلي دي، قاضي ابوبکر رحمة الله عليه فرمايي چي دا لمونځ د مخکنيو انبياؤ او رسولانو لمونځ دی، علامه سيوطي رحمة الله عليه د ديلمي رحمة الله عليه څخه د حضرت ابو هريره ؓ دا حديث نقل کړی دی چي ضحی لمونځ د حضرت داود عليه السلام لمونځ دی، ابن نجار رحمة الله عليه د حضرت ثوبان ؓ دا حديث نقل کړی دی چي ضحی لمونځ هغه لمونځ دی چي حضرت آدم ؑ ،حضرت نوح ؑ ،حضرت ابراهيم ؑ ،حضرت موسی ؑ او حضرت عيسی ؑ به تل کوی.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د څاښت د لمانځه اته رکعته

﴿۱۲۳۴﴾: عَنْ أُمِّ هَانِئٍ قَالَتْ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ بَيْتَهَا يَوْمَ

د حضرت ام هاني ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د هغې کور ته تشريف راوړ

فَتْحِ مَكَّةَ فَاغْتَسَلَ وَصَلَّى ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ فَلَمْ أَرَ صَلَاةً قَطُّ أَخَفَّ مِنْهَا غَيْرَ أَنَّهُ

د مكې د فتح په ورځ غسل يې وكړ او اته ركعته يې وكړل، ما هيڅ يو لمونځ تر دې لنډ نه دی ليدی مگر

يُتِمُّ الرُّكُوْعَ وَالسُّجُوْدَ. وَقَالَتْ فِيْ رِوَايَةٍ أُخْرٰى وَذٰلِكَ ضُحًى. متفق عليه

رسول الله ﷺ به ركوع او سجده پوره كول، په يو بل روايت كې يې دا هم ويلي دي چې دا د ځاښت لمونځ وو. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱\۴۶۹، رقم: ۳۵۷ ومسلم: ۱\۴۹۸، رقم: ۸۲- ۳۳۶.

تشريح: حضرت ام هاني ﷺ د حضرت علي كرم الله وجهه خور ده د هغې نوم فاخته وه د لوئ عظمت او فضيلت خاونده او صحابيه وه، په مكه مكرمه كې د رسول الله ﷺ د تبليغ او دعوت د هڅو لوی مركز ددې مباركي كور وو، د ځاښت لمونځ به رسول الله ﷺ اته ركعته يا په دوه سلامه سره يعني څلور څلور ركعته كول يا دا هم احتمال دی چې په څلورو سلامو سره يعني دوه دوه ركعته به يې كول.

په هرحال د مختصر لمونځ كولو مطلب دادی چې هغه وخت رسول الله ﷺ د زياتو اوږدو سورتونو قرائت نه كوی، همداسې تسبيحات وغيره يې هم زيات نه ويل.

د ځاښت د لمانځه ركعتونه

﴿۱۲۳۵﴾: وَعَنْ مُعَاذَةَ قَالَتْ سَأَلْتُ عَائِشَةَ كَمْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُصَلِّي صَلَاةَ الضُّحٰى قَالَتْ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ وَيَزِيْدُ مَا شَاءَ اللهُ. رواه مسلم

د حضرت معاذة څخه روايت دی چې ما د بي بي عائشې ﷺ څخه پوښتنه وكړه چې رسول الله ﷺ به د ځاښت لمونځ څو ركعته كوی؟ هغې جواب راكړ څلور ركعته او ددې څخه هم زيات څومره چې الله ﷻ ته منظوره وه. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۱\۴۹۷، رقم: ۷۸- ۷۱۹.

تشريح: د حديث اخري الفاظ (ويزيد ماشاء الله) په باره كې علماء ليكي چې ضحى لمونځ به رسول الله ﷺ زيات تر زيات دوولس ركعته كول تر دوولسو زيات په هيڅ حديث كې نه دي نقل سوی، دا حديث د دواړو وختو لمانځه ته محتمل دی يعني كېدای سي چې په حديث كې د پورتني سوال او جواب اړه د اشراق دلمانځه سره وي او دا هم ممكنه ده چې د ځاښت د لمانځه

سره وي، په کتاب احبار کي ليکلي دي چي غوره داده چي په دغه لمنځو کي سورة والشمس، سورة والليل، سورة والضحی او سورة الم نشرح وويل سي.

د څاښت د لمانځه فضيلت

﴿۱۲۳۶﴾: وَعَنْ اَبِيْ ذَرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصْبِحُ عَلَى

د حضرت ابوذر ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د سهار کېدو سره

كُلِّ سُلَامَى مِنْ أَحَدِكُمْ صَدَقَةٌ فَكُلُّ تَسْبِيحَةٍ صَدَقَةٌ وَكُلُّ تَحْمِيدَةٍ صَدَقَةٌ

ستاسو پر هر هډوکي صدقهٔ لازمیږي، ستاسو هر تسبيح صدقه ده او الحمدلله ويل صدقه ده

وَكُلُّ تَهْلِيلَةٍ صَدَقَةٌ وَكُلُّ تَكْبِيرَةٍ صَدَقَةٌ وَأَمْرٌ بِالْمَعْرُوفِ صَدَقَةٌ وَنَهْيٌ عَنْ

او هر تهليل صدقه ده او هر تکبير صدقه ده، د نيک کار حکم کول صدقه ده او منعه کول

الْمُنْكَرِ صَدَقَةٌ وَيُجْزِئُ مِنْ ذٰلِكَ رَكْعَتَانِ يَرْكَعُهُمَا مِنَ الضُّحَى. رواه مسلم

بدي خبري څخه صدقه ده او ددې ټولو په مقابله کي دوه رکعته د څاښت لمونځ بس کيږي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۱۱ ۴۹۸- ۴۹۹، رقم: ۸۴- ۷۲۰.

تشريح: مطلب دادی چي کله پر انسان باندي سهار سي او د هغه د بدن يو يو هډوکی او يو يو بند د افت او بلا څخه سلامت کيږي نو له دې کبله هغه د کاروبار او د دنيا په نورو بوختياوو کي د بوخت کېدو قابل وي نو پر دې عظيم نعمت باندي د شکر د ادايني لپاره د يوه هډوکي په عوض کي پر هغه باندي صدقه کول لازمه ده او دا صدقه يو څو کلمې دي چي د هغه په ويلو سره د يوه هډوکي او بند له خوا صدقه ادا کيږي او هغه کلمات ډير سخت او ګران هم نه دي بلکه ډير اسانه او بېله تکلفه ادا کېدونکي دي هغه دا دي: سبحان الله الحمد لله او الله اکبر.

د (ويجزي من ذٰلک) مطلب دادی چي د دغه کلمو ويلو پر ځای که د ضحی دوه رکعته وکړل سي نو شکرانه ادا کيږي او د دغه کلمو ويلو ضرورت نه پاته کيږي ځکه چي لمونځ خو د ټول بدن او ټولو اندامو عمل دی چي د هغه په ذريعه د بدن يو يو اندام په عبادت کي په بوخت کېدو سره خپل شکرانه ادا کوي نو مناسب او غوره داده چي دا لمونځ دي هميشه وکړل سي.

د څاښت د لمانځه غوره وخت

﴿۱۲۳۷﴾: وَعَنْ زَيْدِ بْنَ أَرْقَمَ أَنَّهُ رَأَى قَوْمًا يُصَلُّونَ مِنَ الضُّحَى فَقَالَ لَقَدْ

د حضرت زيد بن ارقم رضي الله عنه څخه روايت دی چي هغه يو قوم د څاښت پر لمانځه كولو وليدی نو هغه وويل

عَلِمُوا أَنَّ الصَّلاَةَ فِي غَيْرِ هَذِهِ السَّاعَةِ أَفْضَلُ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

دا خلك پوهيږي چي ددې وخت څخه پرته په بل وخت كي لمونځ تر دې غوره دی، رسول الله ﷺ

وَسَلَّمَ قَالَ صَلاَةُ الأَوَّابِينَ حِينَ تَرْمَضُ الْفِصَالُ . رواه مسلم

فرمايلي دي د پوره توجه كونكو د لمانځه وخت هغه دی كله چي د اوښانو بچي گرم سي .مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱\ ۵۱۵، رقم: ۱۴۳- ۷۴۸.

د لغاتو حل: (ترمض): تحترق، والمراد : حين يجد الفصيل حر الشمس ، فيبرك من حدة حرها واحراقها اخفافها. مرقات.

تشريح: حضرت زيد رضي الله عنه يو څو خلك وليدل چي هغوی د څاښت د لمانځه د مختار او غوره وخت انتظار نه وكړ بلكه په اول وخت كي يې لمونځ شروع كړ نو هغه ته ډير تعجب وسو او د هغوی په باره كي يې وفرمايل كه څه هم دغه خلكو د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي او دوی ته علم دی چي دا وخت د څاښت د لمانځه افضل وخت نه دی مگر افضل او بهتر وخت خو د دې وروسته شروع كيږي د دې سربېره دا خلكو ته دا وخت نه دی معلوم چي ولي لمونځ كوي نو هغه د رسول الله ﷺ د ارشاد په رڼا كي وښودل چي د څاښت غوره او افضل وخت هغه دی چي كله د اوښانو بچيان گرمېدل شروع سي يعني لمر پورته سي او گرمي دومره خپره سي چي د گرمۍ د سختي څخه مځكه گرمه سي چي د هغه په وجه د اوښانو پښې سوزي او په گرمي كي دومره سخت والی تر يوې نيمي برخي تېرېدو وروسته راځي.

په هرحال د دې حديث څخه په صحيح توگه معلومه سوه چي د څاښت وخت دا دی چي لمر ښه لوړ او خپور سي او د اولي برخي په ختمېدو سره دوهمه برخه شروع سي همداسي د دې لمانځه اخري وخت تګنده غرمه يعني د زوال څخه مخكي وخت دی.

د څاښت د لمانځه پورتنی وخت افضل ځكه دی چي په دې وخت كي په عامه توگه په طبيعت كي سستي پيدا كيږي او زړه غواړي چي ارام وكړي نو په داسي وخت كي د ارام او

طبيعت غوښتنه شا ته غورځولو سره د الله بندګان د لمانځه کولو لپاره ودريږي چي د الله تعالى د دربار خواته پوره رجوع او توجه ولري.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د څاښت د لمانځه برکت

﴿۱۲۳۸﴾: عَنْ اَبِي الدَّرْدَاءِ وَاَبِيْ ذَرٍ قَالَا قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابودرداء رضي الله عنه او ابوذر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

عَنِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ اَنَّهُ قَالَ يَا ابْنَ آدَمَ ارْكَعْ لِي مِنْ اَوَّلِ النَّهَارِ اَرْبَعَ رَكَعَاتٍ

الله جل جلاله فرمائي : اې د آدم زويه ! ته د ورځي په اول کي زما لپاره څلور رکعته وکړه

اَكْفِكَ آخِرَهُ. رواه الترمذي و ابوداؤد والدارمي عن نعيم بن همار الغطفاني واحمد عنهم.

زه به ستا د ورځي تر اخيره کفايت کوم. ترمذي، ابوداؤد، دارمي

تخريج: سنن الترمذي ۲\۳۴۰، رقم: ۴۷۵. والامام احمد في مسنده ۵\۲۸۶، رقم: ۱۲۸۹، والدارمي ۱\۴۰۱، رقم: ۱۴۵۱.

تشريح : د الله تعالى د ارشاد مطلب دادی چي اې بنده! ته د ورځي په لومړنۍ برخه کي يوازي زما د رضا او خوښۍ لپاره څلور رکعته لمونځ کوه چي د هغه په بدله کي به زه د ورځي په اخري برخه کي يعني تر ماښامه پوري ستا ضرورتونه پوره کوم او ستا په زړه کي چي څه خرابي يعني پرېشاني او تنګي ده هغه به ختمه کړم ګويا د ورځي په لومړنۍ برخه کي زما د عبادت لپاره خپل زړه فارغ کړه زه به د ورځي تر آخري برخي پوري ستا حاجتونه او ضرورتونه پوره کولو سره ستا زړه ته اطمينان او فراغت بخښم، من كان لله كان الله له کوم سړی چي د الله سي نو الله د هغه سي، د ورځي په شروع کي څلور رکعته لمانځه څخه هم دا مراد اخيستل کيږي او د څاښت لمونځ هم ځني مراد اخيستل کيږي .والله اعلم

د اشراق د لمانځه فضيلت

﴿۱۲۳۹﴾: وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ فِي

د حضرت بريدة رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي فرمايل يې:

الْإِنْسَانِ ثَلاثُمِائَةٍ وَّسِتُّوْنَ مَفْصِلاً فَعَلَيْهِ أَنْ يَّتَصَدَّقَ عَنْ كُلِّ مَفْصِلٍ مِّنْهُ

د انسان په بدن کي درې سوه شپيته بندونه دي له دې کبله پر انسان لازم ده چي د هر بند په بدله کي

بِصَدَقَةٍ قَالُوْا وَمَنْ يُّطِيْقُ ذٰلِكَ يَا نَبِيَّ اللهِ؟ قَالَ النُّخَاعَةَ فِي الْمَسْجِدِ تَدْفَنُهَا

صدقه ورکړي، صحابه کرامو عرض وکړ اې د الله رسوله! څوک د دې توان لري؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: په مسجد کي پرتې نارې په خاورو کي ښخول صدقه ده

وَالشَّيْءُ تُنَحِّيْهِ عَنِ الطَّرِيْقِ فَإِنْ لَّمْ تَجِدْ فَرَكْعَتَا الضُّحٰى تُجْزِئُكَ. رواه أبو داود

او مضر شی د لاري څخه ايسته کول هم صدقه ده او که ته په دې شيانو کي يو شی تر لاسه نه کړې نو د څاښت دوه رکعته ستا لپاره بس دي. ابو داؤد.

تخريج: سنن ابي داؤد ۵\۴۰٦، رقم: ۵۲۴۲.

تشريح: د لازم څخه مراد وجوب شرعي نه دی چي د هغه پر پرېښوونکی ګناه کاره کيږي مګر تاکيد مراد دی ځکه چي نه خو د ضحی دوه رکعته که هغه د اشراق لمونځ وي يا د څاښت لمونځ هيڅ امام يا عالم ورته واجب نه دي ويلي او نه د چا په نزد پورتنی ذکر سوي دواړي صدقې واجب دي که څه هم يوازي دا چي د شريعت له نظره بلکه عقلا هم که وکتل سي نو فيصله دا کول پکاريږي چي د الله تعالی پر دغه عظيم نعمت باندي اجمالي او تفصيلي په دواړو طريقو سره شکر اداء کول پر هر انسان باندي واجب دی.

﴿۱۲۴۰﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى الضُّحٰى

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي د څاښت په وخت کي

ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً بَنَى اللهُ لَهُ قَصْرًا مِنْ ذَهَبٍ فِي الْجَنَّةِ. رواه الترمذي وابن ماجه وقال الترمذي هذا حديث غريب لا نعرفه الا من هذا الوجه.

دوولس رکعته وکړي الله تعالی به د هغه لپاره په جنت کي د سروزرو ماڼۍ جوړه کړي. ترمذي، ابن ماجه.

تخريج: سنن الترمذي ۲\۳۳۷، رقم: ۴۷۳، وابن ماجه ۱\۴۳۹، رقم: ۱۳۸۰.

﴿۱۲۴۱﴾: وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ أَنَسِ الْجُهَنِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ مَنْ قَعَدَ فِيْ

د معاذ بن انس الجهني رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي کښېني

مُصَلَّاهُ حِيْنَ يَنْصَرِفُ مِنْ صَلَاةِ الصُّبْحِ حَتّٰى يُسَبِّحَ رَكْعَتَيِ الضُّحٰى لَا يَقُوْلُ

د سهار د لمانځه څخه وروسته په مسجد کي پر خپل ځای تر څو چي لمر راخيژي او د اشراق دوه رکعته وکړي او په منځ کي

إِلَّا خَيْرًا غُفِرَ لَهُ خَطَايَاهُ وَإِنْ كَانَتْ أَكْثَرَ مِنْ زَبَدِ الْبَحْرِ. رواه أبو داود.

د خير د خبرو پرته بل څه ونه وايي نو د هغه ګناهونه بخښل کيږي که څه هم د درياب تر ځګ زيات وي. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\۶۲، رقم: ۱۲۸۷.

تشريح: د حديث د اولي برخي: من قعد ....الخ، په تشريح کي ملا علي قاري رحمة الله عليه چي څه ليکلي دي د هغه څخه دا معلوميږي چي دلته مراد دادی که يو سړی د سهار په لمانځه کولو سره په ذکر او فکر کي مشغول او په نيکو کارونو کي مثلا علم زده کولو، ښودلو، وعظ او نصيحت، او د بيت الله شريفي په طواف کي مصروف وي او کله چي لمر پورته سي هغه که په کور کي وي که په مسجد کي د ضحی د لمانځه دوه رکعته دي وکړي اول دا چي د سهار لمونځ او د ضحی لمونځ په مينځ کي د ښک او صالح کلام څخه پرته بل څه کلام نه وکړل سي نو د هغه صغيره ګناه وربخښل کيږي او دا هم احتمال دی چي الله تعالی د خپل فضل او کرم په صدقه کي کبيره ګناه هم وربخښي.

د ملا علي قاري رحمة الله عليه د دغه تقرير څخه معلومه سوه چي نبوي ارشاد: من قعد کم يعني سړی چي ناست وي د تمثيل په توګه فرمايل سوي دي کنه دلته ذکر الله په نيکو کارونو کي بوخت کېدل ځيني مراد دي.

شيخ عبد الحق محدث دهلوي رحمة الله عليه د دغه حديث په تشريح کي فرمايي چي دلته

د ضحی د لمانځه څخه د اشراق لمونځ مراد دی او حال دا چي په نورو حديثو کي د ضحی څخه د اشراق او څاښت دواړه لمنځونه مراد دي او په ښکاره د حديث څخه دا معلومېږي چي دا ثواب هغه سړي ته حاصلېږي چي د سهار د لمانځه څخه د فارغېدو سره پر هغه ځای ناست وي کوم ځای چي يې لمونځ کړی وي او که يو سړی د هغه ځای څخه په پورته کېدو سره ولاړ سي او په خلوت کي کښېنستی او هلته په ذکر الله او عبادت کي مصروف سو نو هغه ته پورتنی ثواب نه حاصلېږي که څه هم ځينو علماؤ ليکلي دي که چيري د يو پرېشانۍ ښېره وي يا دا چي د ريا او ځان ښوونې د وسوسې پيدا کېدو ګمان وي نو په داسي صورت کي خلوت ته په تلو سره په عبادت او ذکر الله کي بوخت کېدل دي اختيار کړل سي علماؤ دا هم ليکلي دي چي پر داسي وخت باندي مخ پر قبله ناسته دي ضروري وګڼل سي که چيري د خوب غلبه وي نو هغه دي پورته کړل سي . شيخ الاسلام شهاب الدين سهروردي رحمة الله عليه ويلي دي چي داسي کار چي د هغه اجزاء په دنيا کي في الوقت د باطن د نورانيت په شکل کي حاصلېږي دا عمل دی .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

﴿۱۲۴۲﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ حَافَظَ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي پابندي وکړي

عَلَى شُفْعَةِ الضُّحَى غُفِرَ لَهُ ذُنُوْبُهُ وَاِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ . رواه احمد والترمذي وابن ماجة .

د څاښت د دوو رکعتو نو د هغه ګناه بخښل کيږي که څه هم هغه د درياب د ځګ برابر وي .
احمد، ترمذي، ابن ماجه.

تخريج: الامام احمد في مسنده ۲\۴۹۹، والترمذي ۲\۴۳۱، رقم: ۴۷۶، وابن ماجه ۱\۴۴۰، رقم: ۱۳۸۲.

حضرت عائشه رضي الله عنها او د څاښت لمونځ

﴿۱۲۴۳﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ اَنَّهَا كَانَتْ تُصَلِّيْ الضُّحٰى ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ ثُمَّ تَقُوْلُ لَوْ نُشِرَ لِيْ اَبَوَايَ مَا تَرَكْتُهَا . رواه مالك .

د حضرت عائشې ﷞ څخه روایت دی چې هغې به د څاښت لمونځ اته رکعته کوی او ویل به یې که زما مور او پلار ژوندي سي نو هم زه دا نه پرېږدم . مالک

تخریج: الامام مالک في الموطا ۱\۱۵۳، رقم: ۳۰.

تشریح : د حضرت عائشې ﷞ دا ارشاد د مبالغې لپاره تعلیق بالمحال دی یعني ددې مطلب دادی چې زه په دا لمونځ کولو سره دومره خوند حاصلوم او دومره خوشحاله کېږم که زما مور او پلار هم را ژوندي سي سره ددې چې د هغوی ژوندي کېدل محال دي نو د هغوی سره د ملاقات خوشحالي هم ما د دې لمانځه څخه منعه کولای نسي ګویا بي بي عائشې ﷞ د دې په ذریعه خلکو ته شوق ورکړی دی چې دا لمونځ دي همیشه په پابندي سره وکړي .

د رسول الله ﷺ د څاښت لمونځ

﴿۱۲۴۴﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ كَانَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الضُّحَى حَتَّى نَقُولَ لاَ يَدَعُ وَيَدَعُهَا حَتَّى نَقُولَ لاَ يُصَلِّيْهَا. رواه الترمذي

د حضرت ابوسعید ﷛ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به د څاښت لمونځ کوی تر دې چې موږ به ویل اوس به یې هیڅکله نه پرېږدي او کله به یې پرېښودل نو موږ به ویل چې اوس به یې بیا نه کوي . ترمذي

تخریج: سنن الترمذي ۲\۳۴۲، رقم: ۴۷۷.

تشریح : څرنګه چې د نفلي اعمالو په اړه د رسول الله ﷺ عادت مبارک وو چې هیڅ نفلي عمل به یې همېشه نه کوی ددې لپاره چې د هغه د التزام په وجه هغه عمل فرض نسي همداسې د ضحی د لمانځه په باره کي هم د رسول الله ﷺ دا معمول وو چې د امت په حق کي به یې زیات شفقت فرمایه دا لمونځ به یې کله کله پرېښودی هم ددې لپاره چې د التزام په توګه دد غه لمانځه په کولو سره د فرضیت حکم نازل نسي چې په هغه سره به د امت خلک په تنګۍ کي اخته سي .

دلته په دې خبره هم پوه سئ چې دا د رسول الله ﷺ ځانګړتیا وه چې یو کار به پر رسول الله ﷺ د التزام په وجه فرض کېدی که چیري د امت خلک یو کار په التزام سره کوي نو هغه نه فرض کیږي که اوس ټول مسلمانان د څاښت لمونځ په التزام سره کوي نو دا لمونځ فرض کیږي نه بلکه مستحب به وي .

﴿۱۲۴۵﴾: وَعَنْ مُوَرِّقٍ الْعِجْلِيِّ قَالَ قُلْتُ لِابْنِ عُمَرَ تُصَلِّي الضُّحٰى ؟ قَالَ لاَ

د حضرت مورق العجلي رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د ابن عمر رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه چي ته د څاښت لمونځ کوې؟ هغه وويل :يا،

قُلْتُ فَعُمَرُ ؟ قَالَ لاَ . قُلْتُ فَأَبُو بَكْرٍ ؟ قَالَ لاَ . قُلْتُ فَالنَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؟ قَالَ لاَ اَخَالُهُ . رواه البخاري .

ما بيا پوښتنه وکړه عمر رضي الله عنه به کوی؟ هغه وويل :يا، ما بيا پوښتنه وکړه چي ايا ابوبکر رضي الله عنه به کوی ؟ هغه وويل :يا، ما بيا پوښتنه وکړه نبي کريم ﷺ به کوی ؟ هغه وويل زما خيال دی چي هغه به هم نه کوی . بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\۵۱، رقم ۱۱۷۵.

تشريح : حضرت ابن عمر رضي الله عنه چي د رسول الله ﷺ په اړه د ضحی د لمانځه کولو څخه کومه نفي فرمايلې ده د هغه تاويل دا کيږي چي د ابن عمر رضي الله عنه دا انکار پر دې خبره مبني دی چي رسول الله ﷺ به همېشه په مسجد کي د ضحی لمونځ نه کوی، يا دا چي ابن عمر رضي الله عنه به د رسول الله ﷺ په عمل مبارک او د دې لمونځ کولو په باره کي د رسول الله ﷺ په ارشاد خبر سوی نه وي يا دا چي ابن عمر رضي الله عنه مطلقا نفي ونه فرمايل بلکه د هغه مطلب داوو چي رسول الله ﷺ به دا لمونځ په ځانګړې توګه همېشه نه کوی ددې لپاره چي دا لمونځ فرض ونه ګرځول سي . په هرحال د رسول الله ﷺ د دغه لمانځه نه کول او نورو ته يې په کولو تاکيد کول د ډېرو روايتونو څخه ثابت دی ځکه د دې لمانځه په اثبات کي په دې روايت سره په يو غلط فهمي کي اخته کېدل نه دي پکار . ملا حنفي رحمة الله عليه فرمايي چي د رسول الله ﷺ وروسته د دغه لمانځه د فرض کېدو هيڅ اندېښنه پاته نه سوه ځکه دا ويل زيات مناسب او غوره دي چي ټولو مسلمانانو ته دا لمونځ همېشه او په پابندي سره کول مستحب دی د اکثرو علماؤ په نزد او د مشائخو مذهب هم دادی .

=========

بَابُ التَّطَوّعِ

(د نفلي لمنځو بيان)

لفظ د تطوع د طوع او طاعت څخه اخيستل سوى دى، د دې معنى ده انقياد او فرمانبرداري كول، نفلي عبادت ته تطوع او نفل كونكي ته متوطع وايي په دغه باب كي د هغه لمنځو په اړه حديثونه نقل كيږي كوم چي نفل دي هسي خو د فرض او واجب څخه پرته هر لمانځه ته نفل وايي كه هغه سنت وي كه مستحب. د تطوع اطلاق اكثر پر هغو لمنځو باندي كيږي كوم چي غير رواتب يعني غير سنت مؤكده دي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړى فصل)

د تحية الوضوء فضيلت

﴿۱۲۴۶﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِبِلَالٍ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ بلال ته وفرمايل

عِنْدَ صَلَاةِ الْفَجْرِ يَا بِلَالُ حَدِّثْنِي بِأَرْجَى عَمَلٍ عَمِلْتَهُ فِي الْإِسْلَامِ فَإِنِّي

د سهار د لمانځه پر وخت: اې بلاله! ته خپل هغه عمل بيان كړه چي تر ټولو زيات اميد لرونكى وي او تا د اسلام په حالت كي په هغه عمل كړى وى ځكه چي ما

سَمِعْتُ دَفَّ نَعْلَيْكَ بَيْنَ يَدَيَّ فِي الْجَنَّةِ قَالَ مَا عَمِلْتُ عَمَلاً اَرْجٰى عِنْدِي أَنِّي

په جنت كي تر خپل ځان مخكي ستا د څپليو آواز اوريدلى دى، حضرت بلال رضي الله عنه عرض وكړ ما هيڅ يو اميد لرونكى عمل د دې څخه زيات نه دى كړى

لَمْ أَتَطَهَّرْ طُهُوْرًا تَامًّا فِي سَاعَةٍ مِنْ لَيْلٍ وَلَا نَهَارٍ إِلَّا صَلَّيْتُ بِذٰلِكَ الطُّهُوْرِ مَا

مگر كله چي زه پاكي تر لاسه كړم (يعني اودس يا غسل وكړم) نو ما په هغه پاكۍ سره لمونځ كړى دى

كَتَبَ اللّٰهُ لِي أَنْ أُصَلِّيَ. متفق عليه

ځو مره چي الله ته منظوره وي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\۳۴، رقم: ۱۱۴۹، ومسلم: ۴\۱۹۱۰، رقم: ۱۰۸- ۲۴۵۸.

تشريح: د رسول الله ﷺ په جنت كي خپل وړاندي د بلال رضي الله عنه د قدمونو اواز اورېدل د مكاشفې په ذريعه وو چي عالم غيب ته پر رسول الله ﷺ د خوب په حالت كي يا د بيداري په حالت كي دا څرګنده سوه يا دا چي رسول الله ﷺ د معراج په شپه په جنت كي خپل مخكي د حضرت بلال رضي الله عنه د څپليو آواز اورېدلی وو د حضرت بلال رضي الله عنه د رسول الله ﷺ مخكي تلل څرنګه چي رسول الله ﷺ د هغه د څپليو آواز واورېدی دا په هغه درجه كي وو په كومه درجه كي چي د خادمانو د مخدوم وړاندي تلل وي.

د پاكي څخه مراد اودس هم كېدای سي او غسل او تيمم هم همداسي دا درې سره هم مراد ځيني اخستل كېدای سي په دې حديث كي چي د كوم لمانځه فضيلت بيان سوی دی هغه لمونځ دی چي د اوداسه وروسته كول كېږي دې لمانځه ته په اصطلاح كي تحية الوضوء يا د اوداسه شكر ويل كېږي.

د استخارې لمونځ او دعاء

﴿۱۲۴۷﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت جابر بن عبدالله رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به

يُعَلِّمُنَا الْاِسْتِخَارَةَ فِي الْأُمُوْرِ كَمَا يُعَلِّمُنَا السُّوْرَةَ مِنَ الْقُرْآنِ يَقُوْلُ إِذَا هَمَّ

په ټولو كارو كي موږ ته د استخارې كول داسي راښودل لكه د قرآن كريم يو سورت، رسول الله ﷺ به فرمايل هر كله چي اراده وكړي

أَحَدُكُمْ بِالْأَمْرِ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ مِنْ غَيْرِ الْفَرِيْضَةِ ثُمَّ لِيَقُلِ اللّٰهُمَّ إِنِّيْ

په تاسو كي يو څوک د يو كار نو هغه ته پكار دي چي د فرض لمانځه څخه پرته دوه ركعته لمونځ وكړي او بيا دا دعاء وغواړي (اللهم اني استخيرک......) (اې الله جل جلاله

أَسْتَخِيْرُكَ بِعِلْمِكَ وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ وَأَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِيْمِ فَإِنَّكَ

زه ستا څخه ستا د علم په مرسته خير غواړم او ستا په قدرت سره د عمل قدرت غواړم او ستا

ځخه لوی فضل غواړم ته

تَقْدِرُ وَلاَ أَقْدِرُ وَتَعْلَمُ وَلاَ أَعْلَمُ وَأَنْتَ عَلاَّمُ الْغُيُوْبِ اَللّٰهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ

پر هر شی واکدار يې او زه په هيڅ شي واک نه لرم ته په هر شي پوهېدونکی يې او زه په هيڅ شي نه پوهيږم او ته په غيب پوهېدونکی يې ، اې الله ﷻ! که ستا په علم کي

أَنَّ هٰذَا الأَمْرَ خَيْرٌ لِّيْ فِيْ دِيْنِيْ وَمَعَاشِيْ وَعَاقِبَةِ أَمْرِيْ أَوْقَالَ فِيْ عَاجِلِ أَمْرِيْ

دا کار چي زه يې کول غواړم زما لپاره د دين معاش او انجام په اعتبار غوره وي (يا دا الفاظ) اې الله ! که ستا په علم کي هغه کار چي زه يې کول غواړم زما لپاره په دنيا

وَآجِلِهِ فَاقْدِرْهُ لِيْ وَيَسِّرْهُ لِيْ ثُمَّ بَارِكْ لِيْ فِيْهِ وَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هٰذَا الأَمْرَ

او آخرت کي غوره وي نو هغه زما مقدر جوړ کړې او زما لپاره يې آسان کړې بيا زما لپاره په دې کي برکت راکړې او که ستا په علم کي زما لپاره دا کار

شَرٌّ لِّيْ فِيْ دِيْنِيْ وَمَعَاشِيْ وَعَاقِبَةِ أَمْرِيْ أَوْقَالَ فِيْ عَاجِلِ أَمْرِيْ وَآجِلِهِ فَاصْرِفْهُ

زما د دين ،ژوند او انجام د لحاظه خراب وي (يا دا الفاظ) په دې دنيا کي او په آخرت کي نو زما توجه د دې لوري ځخه واړوې

عَنِّيْ وَاصْرِفْنِيْ عَنْهُ وَاقْدِرْ لِيَ الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ ثُمَّ أَرْضِنِيْ بِهِ . قَالَ وَيُسَمِّيْ حَاجَتَهُ . رواه البخاري

او د دې خيال زما د زړه ځخه ليري کړې او زما لپاره غوره انتظام وکړې کوم ځای چي هغه وي او بيا ما پر هغه راضي کړې) د دې وروسته دي خپل حاجت بيان کړي .بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۴۸،رقم: ۱۱۶۲.

تشريح : که د يو داسي کار اراده وکړل سي چي مباح وي او د هغه په کاميابي او خير کي شک وي مثلا د سفر اراده کوي د تجارت شروع کولو خيال يې وي نکاح کول غواړي يا د دې ډول بل مباح کار کوي نو پر داسي وخت باندي مناسب او غوره داده چي استخاره خپل رهبر او مشوره جوړه سي، .خوراک، چيښاک يا دا ډول د نورو تاکلو او متعينو کارونو لپاره استخاره

کول نه ده پکار، که یو کار خیر محض وي نو په هغه کي به استخاره د تعین وخت او حالت مخصوص په اعتبار وي، د واجب او مستحب کارو د ادایني یا د حرام او مکروه شیانو د پرهېزولو په اړه استخاره کول نه ده پکار، د استخارې برکت دادی چي د کار شروع کونکي په حق کي چي کومه خبره غوره وي هغه بې په زړه کي ځای ونیسي او زړه په خپل حق کي د غوره خبري فیصله کوي

د استخارې طریقه داده چي په اوداسه سره یو وخت د مکروه وختونو څخه پرته د استخارې په نیت دوه رکعته لمونځ وکړي او د هغه وروسته دي دا دعا وکړي، که چیري د تحیة المسجد یا تحیة الوضوء دوه رکعته کولو وروسته د استخارې دعا وکړي نو دا هم جائز دي، مګر غوره داد چي بیل دوه رکعته په خاصه توګه سره د استخارې په نیت سره وکړل سي ، په دغه لمانځه کي چي کوم سورت غواړي ویلای بې سي د یو خاص سورت تعاکل نسته بیا هم په ځیني روایتونو کي راغلي دي چي قل یا ایها الکافرون او قل هو الله ویل غوره دي .

د دعا په الفاظو (او عاجل امري) کي د راوي شک ښکاره دی، یعني راوي ته شک واقع دی چي رسول الله ﷺ في دیني ومعاشي وعاقبة امري الفاظ فرمایلي دي یا ددغه الفاظو پر ځای بې (عاجل امري و آجله) فرمایلي دي .

په هرحال غوره داده چي په دغه دعاء کي دا دواړي جملې وویل سي، د حدیث د اخري الفاظو (ویسمی حاجته) مطلب دادی چي په دعا کي لفظ د (هذا الامر) عام راغلی دی، استخاره کونکی دي په خپله دعاء کي خپل مقصد او خپل مراد څرګند کړي د مثال په توګه د هذا الامر پر ځای دي داسي ووایي هذا السفر یا هذا الاقامة یا کوم مقصد چي بې وي هغه دي ذکر کړي، او دا هم جائز ده چي په هذا الامر ویلو سره د هغه وروسته خپل مقصد او خپل مراد ذکر کړي .

په یو بل روایت کي دا لنډه استخاره هم نقل ده که د یو سړي تلوار وي او یو ناڅاپه او تلواري کار کوي نو هغه ته پکار ده چي هغه یوازي دا دعا وغواړي :

اللهم اخزلي واخترلي ولاتکلني الی اختیاري .

ژباړه: اې الله! زما په حق کي ستا په نزد چي کوم بهتر او مناسب وي هغه زما دپاره خوښ او هغه زما لپاره اختیار کړې او ما د خپل اختیار پابند مه جوړوې .

حضرت انس رضي الله عنه په یو بل روایت کي فرمایي چي رسول الله ﷺ ماته وفرمایل: اې انس! هر کله چي ته د یو کار اراده وکړې نو د هغه په باره کي د الله تعالی څخه اووه واره استخاره کوه

بیا د هغه وروسته د هغه نتیجه وګوره او ستا په زړه کي چي څه واچول سي يعني د استخارې په نتیجه کي د الله تعالی له خوا چي کوم شی القاء کړل سي هغه اختیار کړه چي ستا لپاره هغه غوره دی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د توبې لمونځ

﴿۱۲۴۸﴾: عَنْ عَلِيٍّ قَالَ حَدَّثَنِي اَبُوْبَكْرٍ وَّ صَدَّقَ اَبُوْبَكْرٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ

د حضرت علي ﷺ څخه روایت دی چي حضرت ابوبکر صدیق ﷺ ما ته حدیث بیان کړی او رېښتیا یې وویل چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوریدلي دي

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَا مِنْ رَجُلٍ يُذْنِبُ ذَنْبًا ثُمَّ يَقُوْمُ فَيَتَطَهَّرُ

چي فرمایل یې: څوک ګناه وکړي بیا ودرېږي اودس وکړي

ثُمَّ يُصَلِّي ثُمَّ يَسْتَغْفِرُ اللهَ إِلاَّ غَفَرَ اللهُ لَهُ ثُمَّ قَرَأَ هٰذِهِ الْاٰيَةَ وَالَّذِينَ إِذَا

او د هغه وروسته د الله جلاله څخه بخښنه و غواړي نو الله تعالی هغه بخښي، بیا رسول الله ﷺ دا آیت تلاوت کړ: (هغه خلک چي

فَعَلُوا فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللهَ فَاسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ. رواه الترمذي و ابن ماجة الا ان ابن ماجة لم يذكر الاية.

د بې حیایي ګناه کوي یا پر خپلو ځانو ظلم کوي بیا الله یادوي او د خپلو ګناهو بخښنه غواړي). ترمذي، ابن ماجه

تخریج: سنن الترمذي ۵\۲۱۲- ۲۱۳، رقم: ۳۰۰۶، وابن ماجه ۱\۴۴۶، رقم: ۱۳۹۵.

تشریح: (صدق ابوبکر) یعني حضرت ابوبکر صدیق ﷺ بالکل ریشتیا وفرمایل، دا معترضیه جمله ده چي د هغه په ذریعه حضرت علي ﷺ د حضرت ابوبکر ﷺ د بزرګۍ، د هغه د عظمت او د هغه د ډېر زیات رېښتنتوب په ښکاره کړی دی چي د هغه رشتیا او صداقت د دې درجې وو چي خپله رسول الله ﷺ هغه د صدیق په لقب سره نازولی وو.

د حضرت علي ﷺ په باره كي نقل دي چي هغه به د هيڅ راوي نقل سوی حديث تر هغه وخته پوري نه قبلوی تر څو پوري چي به راوي قسم نه وو خوړلی، كله چي به راوي هغه ته وويل چي زه قسم خورم چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا حديث داسي اورېدلی دی نو امير المومنين به هغه قبلوی مګر كله چي به بې د صديق اكبر ﷺ څخه يو حديث واورېدی نو بېله قسمه به بې قبلوی.

د لفظ (فيتهر) مطلب دادی چي ګناه كونكی دي په اودا سه سره لمونځ وكړي مګر غوره غسل كول دي نه يوازي دا بلكه په يخو اوبو سره غسل كول تر ټولو زيات غوره دی.

د (يصلي) مطلب دادی چي دوه ركعته لمونځ وكړي چي په هغه كي په يوه ركعت كي سورة قل يا ايهاالكافرون ووايابست او په دوهم ركعت كي د سورة فاتحې سره قل ياايها الكافرون ووايابست او په دريم ركعت كي قل هوالله ووايابست او دغه لمانځه ته د توبې لمونځ وايي.

د حديث الفاظ (ثم يستغفرالله) يعني بيا د پروردګار په دربار كي توبه وكاږئ، نه يوازي دا چي هغه ګناه پرېږدي بلكه په راتلونكي كي هيڅ كله په ګناه كي د نه اخته كېدو پخه اراده وكړي او پر هغه ثابت قدمه سي او بيا داچي كه چيري د چا پر ذمه د چا څه حق وي نو د هغه ادا ينه كوئ، رسول الله ﷺ د خپل ارشاد وروسته د دليل په توګه دا آيت تلاوت كړ چي زه څه وايم دا الله تعالى هم وايي، د (لذبونهم) وروسته د آيت پاته برخه داده:

وَمَن يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلاَّ اللهُ وَلَمْ يُصِرُّواْ عَلَى مَا فَعَلُواْ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ١٣٥ أُوْلَئِكَ جَزَآؤُهُم مَّغْفِرَةٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَجَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَنِعْمَ أَجْرُ الْعَامِلِينَ ١٣٦

ژباړه: او څوک دی چي ګناهونه بخښي بيله الله څخه، او دا خلک چي پر خپل فعل (ګناه) باندي اصرار نه كوي او پوهيږي نو ددغه خلكو جزا بخښنه ده د هغوی د رب دلوري او داسي باغونه دي چي ويالي يې لاندي بهيږي چي هميشه به پكښي وي او د نيک كار كونكي بدله ډيره ښه ده.

د دغه آيت كريمه شان نزول د ځينو مفسرينو د روايت سره سم يوه واقعه ده چي د يوه صحابي څخه يو د بشريت د غوښتني سره سم يوه خطا وسوه او هغه سمدستي خبردار سو او ډير زيات پښېمانه او شرمنده سو د هغه د شرمندګی او د پښېماني او د الله تعالى په دربار كي هغه د ښوئېدلو څخه د هغه د زړه په صدق سره د توبې او استغفار په خاطر دا آيت نازل سو، دا سورة اووه اياتونه دي چي په اول آيت كي لفظ د (والذين) مبتداء ده او په دوهم آيت كي اولائک خبر

دى، يعني د اول آيت مطلب دادى چي مؤمنان د الله ﷻ څخه ببربدونكى او د هغه پر ثواب او عذاب باندي يقين لرونكى چي د بشريت په غوښتنه په يو خطاء او گناه كي اخته سي نو د ايمان او يقين څخه ډک د هغوى ضمير سمدستي خبردار كوي هغوى پر داسي وخت باندي د خپل الله ﷻ خوا ته رجوع كوي د هغه عبادت او په شرمندگۍ كولو سره د هغه څخه د خپل خطا معافي غواړي پر خپل خطا او گناه باندي د شرمندگۍ په اظهار كولو سره توبه كوي نه يوازي دا چي هغوى پر يو گناه باندي عمل كونكي نه يي بلكه د راتلونكي لپاره په يو گناه كي د نه اخته كېدو پخه اراده كوي او پر هغه قائم او دائم اوسي.

په دوهم آيت كي د داسي خلكو جزاء بيانيږي چي الله تعالى د خپل رحمت په صدقه كي د دغه خلكو توبه قبلوي غلطي يې ورمعاف كوي او د هغوى د گناهونو څخه د زړه په صدق سره د معافي غوښتونكي كيږي د هغوى بخښنه فرمايي چي د هغه په نتيجه كي هغوى د جنت او د جنت د نعمتونو وړ وگرځوي.

د يو مصيبت پر وخت لمونځ

﴿۱۲۴۹﴾: وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا حَزَبَهُ أَمْرٌ صَلَّى . رواه أبو داود .

د حضرت حذيفه ﷺ څخه روايت دى چي كله به رسول الله ﷺ ته غم يا ستونزه څرگنده سوه نو لمونځ به يې كوى . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داؤد ۲/ ۷۸، رقم: ۱۳۱۹.

تشريح: مطلب دادى چي كله به رسول الله ﷺ ته يو تكليف او غم ورسېدى يا يو مصيبت به ښكاره سو نو رسول الله ﷺ به د هغه غم او مصيبت څخه د خلاصون لپاره دالله تعالى د فرمانبردارۍ په توگه لمونځ كوى لكه څرنگه چي د الله تعالى فرمان دى :

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ

ژباړه : اي مؤمنانو ! د الله تعالى څخه په صبر او لمانځه سره مرسته غواړئ.

علماء ليكلي چي د يو غم او مصيبت پر وخت د نفل لمانځه كولو حكمت دادى چي كله انسان په لمانځه كي مصروف سي نو د هغه په وړاندي عالم ربوبيت خلاص سي او كله چي پر هغه عالم ربوبيت منكشف سي نو دنيا خپله د هغه په نظر كي حقيره او هيڅ سي نو د هغه نتيجه

دا سي چي د هغه په زړه کي د دنيا كېدو يعني د دنيا راحت او اسانتياوي او د دنيا كېدو تكليف او مصيبت هيڅ احساس هم نه پاته كيږي كه دنيا هغه ته نه تر لاسه كيږي، په دې توګه چي هغه د دنيا غم، تكليف او مصيبت كي اخته وي نو پرېشانه نه وي او كه دنيا ورته حاصليږي په دې توګه چي د دنيا راحت، ارام او اسانتياوي هغه ته حاصليږي نو هغه خوشحاله نه وي ځرنګه چي دا عارفانه مقوله ويل سوې ده كه وي نو خوشحالي نسته او كه نه وي نو غم نسته.

د تحية الوضو فضيلت

﴿۱۲۵۰﴾: وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ أَصْبَحَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَعَا

د حضرت بريدة رضي الله عنه ځخه روايت دى چي د سهار د لمانځه وروسته رسول الله ﷺ حضرت بلال رضي الله عنه

بِلاَلاً فَقَالَ بِمَا سَبَقْتَنِي إِلَى الْجَنَّةِ مَا دَخَلْتُ الْجَنَّةَ قَطُّ إِلاَّ سَمِعْتُ خَشْخَشَتَكَ

را وغوښتى او ورته وه يې فرمايل: ته كوم شي زما ځخه مخكي جنت ته ورسولې ځكه چي زه كله هم په جنت كي داخل سوى يم نو خپل تر مخه مي ستا د څپليو آواز اوريدلى دى،

أَمَامِي قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا أَذَّنْتُ قَطُّ إِلاَّ صَلَّيْتُ رَكْعَتَيْنِ وَمَا أَصَابَنِي حَدَثٌ

بلال رضي الله عنه عرض وكړ اې دالله رسوله! ما د آذان كولو ځخه وروسته هميشه دوه ركعته لمونځ كړى او كله چي زما اودس مات سوى دى

قَطُّ إِلاَّ تَوَضَّأْتُ عِنْدَهَا وَرَأَيْتُ أَنَّ لِلَّهِ عَلَيَّ رَكْعَتَيْنِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهِمَا. رواه الترمذي

او بيا مي اودس كړى دى نو دا كار مي پر ځان لازم كړى دى چي د الله جل جلاله لپاره پر ما دوه ركعته ضروري دي، رسول الله ﷺ وفرمايل: د دې دوو شيانو له كبله. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۷۹، رقم: ۳۶۸۹.

تشريح: په حديث كي د پورتني مضمون وضاحت د دې باب په پيل كي د اول حديث په تشريح كي سوى دى هلته دا ښودل سوي دي چي په جنت كي د حضرت بلال رضي الله عنه تر رسول الله ﷺ مخكي كېدل د خادم په حيثيت سره وه چي خپله د يوې ډېري غټي درجې او فضيلت خبره ده، په دې وجه رسول الله ﷺ د هغه ځخه پوښتنه وكړه چي ته هغه كوم كار كوې چي د هغه په وجه تا ته

د خاص خدمت دا ستره درجه حاصله سوه، دا د حدیث حقیقي معنی ده ددې په ښکاره معنی او مفهوم اخیستو سره په یو غلط فهمی کې اخته کېدل نه دي پکار چي د دې حدیث څخه خو دا ثابتیږي چي نعوذبالله حضرت بلال رضی الله عنه ته پر رسول الله ﷺ په دې وخت کي فضیلت حاصل وو چي هغه د رسول الله ﷺ مخکي په جنت کي داخل سو ځکه چي دا مرتبه خو هیڅ نبي او پیغمبر ته هم نه وه حاصله چي د رسول الله ﷺ مخکي دي جنت ته ولاړ سي نو څه چي د رسول الله ﷺ د امت یو بنده ته دا امتیاز حاصل سي چي د دغه دواړو شیانو یعني همېشه په اوداسه سره اوسېدل او د تحیة الوضوء لمونځ کولو په وجه د رسول الله ﷺ مخکي هغه په جنت کي داخل سي.

د حاجت لمونځ

﴿۱۲۵۱﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ اَبِيْ اَوْفٰى قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن ابي اوفی رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

مَنْ كَانَتْ لَهُ إِلَى اللّٰهِ حَاجَةٌ أَوْ إِلَى أَحَدٍ مِنْ بَنِي آدَمَ فَلْيَتَوَضَّأْ فَلْيُحْسِنِ

څوک چي د الله جل جلاله څخه یو حاجت لري یا د یو چا دیني یا دنیاوي حاجت وي نو هغه ته پکار دي چي اودس وکړي او په ښه ډول اودس وکړي

الْوُضُوءَ ثُمَّ لِيُصَلِّ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ لِيُثْنِ عَلَى اللّٰهِ وَلْيُصَلِّ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ

بیا دوه رکعته لمونځ وکړي بیا د الله جل جلاله تعریف وکړي او پر نبي ﷺ درود ولیږي

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ لِيَقُلْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيمُ الْكَرِيمُ سُبْحَانَ اللّٰهِ رَبِّ الْعَرْشِ

او بیا دا دعاء وکړي (لااله الاالله الحلیم .....)، (د الله څخه پرته بل د عبادت وړ نسته داسي معبود چي بردبار او بخښونکی دی الله پاک دی د عرش عظیم خاوند دی

الْعَظِيمِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ أَسْأَلُكَ مُوجِبَاتِ رَحْمَتِكَ وَعَزَائِمَ مَغْفِرَتِكَ

او ټول تعریفونه هغه الله لره دي چي د ټولو کائناتو پروردګار دی، اې الله! زه ستا څخه د داسي عمل توفیق غواړم چي د هغه په سبب ستا د رحمت د نزول وړ وګرځم او هغه عمل غواړم چي ستا د بخښني سبب وي

وَالْغَنِيمَةَ مِنْ كُلِّ بِرٍّ وَالسَّلَامَةَ مِنْ كُلِّ إِثْمٍ لاَ تَدَعْ لِي ذَنْبًا إِلاَّ غَفَرْتَهُ وَلاَ هَمًّا

او د هري نيكۍ څخه ګټه غواړم او د هري ګناه څخه سلامتي غواړم زما هيڅ يو ګناه بې بخښني پرې نه ږدې او نه يو فكر

إِلاَّ فَرَّجْتَهُ وَلاَ حَاجَةً هِيَ لَكَ رِضًا إِلاَّ قَضَيْتَهَا يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ . رواه الترمذي وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث غريب .

مګر خلاص يې كړې او نه زما يو مشكل پاته كړې او زما هيڅ حاجت بند نه كړې چې ستا په نزد غوره وي ، اې د ټولو رحم كونكو څخه زيات رحم كونكې) . ابن ماجه ، ترمذي .

تخريج : سنن الترمذي ۲\۳۴۴ ، رقم: ۴۷۹ ، وابن ماجه ۱\۴۴۱ ، رقم: ۱۳۸۴ .

تشريح : كه چيري يو چا ته يو اړتيا را منځته سي كه څه هم هغه اړتيا بيله واسطې د الله تعالى سره وي يا بالواسطه د يوه بنده سره اړوند وي مثلا د يو د مزدورۍ خواهش وي يا د يو چا سره نكاح كول غواړي يا يو بل ضرورت وي چې د يوه سړي څخه پوره كول يې مقصد وي نو د هغه لپاره مستحب داده چې هغه په ښه طريقه په اوداسه كولو سره دوه ركعته لمونځ وكړي بيا د الله تعالى تعريف وكړي او درود شريف ووايي كوم چې په لمانځه كي د التحيات وروسته ويل كيږي د هغه وروسته دې په حديث كي ذكر سوې دعا ووايي ، د دعا وروسته چې د هغه څه حاجت او ضرورت وي هغه دې د الله تعالى په دربار كي وړاندې كړي يعني د الله تعالى څخه دې د خپل مقصد تر سره كېدل وغواړي ، دا لمونځ چې په اصطلاح كي صلوة الحاجة (د حاجت تر سره كولو لمونځ) ورته وايي ډېر تجربه سوى دى ، د ځينو بزرګانو په باره كي نقل سوي دي دي چې هغوى په خپلو اړتياوو كي په دغه طريقه لمونځ كولو سره الله تعالى ته خپل حاجت بيانوى او الله تعالى به د هغوى مقصد او حاجت پوره كوى. (علم الفقه)..

علامه ابن حجر رحمة الله عليه فرمايي چې حاجتمند ته د خپل حاجت تر سره كولو او د دغه لمانځه او دعا كولو لپاره د شنبې سهار اختيارول پكار دي ځكه چې د رسول الله ﷺ ارشاد دى كوم سړى چې د شنبې په ورځ د سهار په وخت كي د حاجت په لمانځه او دعاء كولو سره خپل حلال او جائز حاجت وغواړي نو د هغه د حاجت تر سره كېدو ضامن زه يم . (ملا علي قاري رحمة الله عليه)

هسي خو دا لمونځ او دعا د ټولو حاجتونو او ضرورتونو لپاره ده مګر چيري د ثوت حافظي حاجت وي نو د هغه لپاره په خاصه توګه بيل لمونځ دی چي هغه ته صلوة الحافظه وايي چي په حسن حسين کي ذکر دی د هغه په اردو تشريح کي د دغه لمانځه روايت په تفصيل سره ليکل سوی دی هلته يې کتلای سئ .

===========

صَلٰوةُ التَّسْبِيْح

د تسبيح د لمانځه بيان

صلوة التسبيح (د تسبيح لمونځ) مستحب دی چي بې شمېره اجر او ثواب لري، دغه لمونځ څلور رکعته کول د رسول الله ﷺ څخه نقل دي، غوره داده چي څلورسره رکعته په يوه سلام سره وکړل سي که په دوو سلامو سره يې وکړي نو هم صحيح دی په هر رکعت کي پنځه اويا واره تسبيح ويل پکار دي او په پوره لمانځه کي درې سوه واره ويل پکار دي .

د تسبيح د لمانځه کولو طريقه

د تسبيح د لمانځه نيت دي داسي وکړل سي (نويت ان اصلي اربع رکعت صلوة التسبيح) ما د څلورو رکعتو تسبيح کولو اراده وکړه، د نيت وروسته د تکبير تحريمې په ويلو سره دي لاس وتړي او په سبحانک اللهم ويلو سره دي پنځلس واره دا تسبيح ووايي (سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اکبر) بيا په اعوذ بالله او بسم الله ويلو سره دي الحمد لله او سورت ووايي د دې وروسته دي لس واره دا تسبيح ووايي بيا د رکوع څخه د راپورته کېدو په وخت کي په سمع الله لمن حمده او ربنا لک الحمد ويلو سره دي لس واره دا تسبيح ووايي بيا سجدې ته په تلو سره او د داوړو سجدو په مينځ کي د سبحان ربي الاعلی وروسته او د دواړو سجدو په مينځ کي دي لس واره دا تسبيح ووايي بيا په دوهم رکعت کي د الحمد لله مخکي دي پنځلس واره دغه تسبيح او په دوهم رکعت کي د سورت وروسته لس واره د رکوع، قومې او دواړو سجدو په مينځ کي لس لس واره دي دا تسبيح ووايي همداسي دريم او څلورم رکعت دي وکړي او په هغه کي دي دا تسبيح په دغه شمېر ووايي .

د تسبيح د لمانځه کولو فضيلت

﴿۱۲۵۲﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِلْعَبَّاسِ بْنِ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ حضرت عباس ﷺ ته وويل:

عَبْدِ الْمُطَّلِبِ يَا عَبَّاسُ يَا عَمَّاهُ أَلاَ أُعْطِيكَ أَلاَ أَمْنَحُكَ أَلاَ أُخْبِرُكَ أَلاَ أَفْعَلُ

اې عباسه! اې اكا! ايا زه تا ته ونه بښيم، ايا زه تا ته يو تحفه درنه كړم ، ايا زه تا خبر نه كړم

بِكَ عَشْرَ خِصَالٍ إِذَا أَنْتَ فَعَلْتَ ذٰلِكَ غَفَرَ اللّٰهُ لَكَ ذَنْبَكَ أَوَّلَهُ وَآخِرَهُ قَدِيمَهُ

د لس داسي خصلتو څخه كه عمل په وكړې نو الله تعالی به ستا ټول مخكني ، وروستني، زاړه ،

وَحَدِيثَهُ خَطَأَهُ وَعَمَدَهُ صَغِيرَهُ وَكَبِيرَهُ سِرَّهُ وَعَلاَنِيَتَهُ أَنْ تُصَلِّيَ أَرْبَعَ

نوي ، په قصد سره، په هيره سره، كوچني ، لوی، او ښكاره ټول ګناهونه و بخښي، ته څلور ركعته لمونځ كوه

رَكَعَاتٍ تَقْرَأُ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ وَسُورَةً . فَإِذَا فَرَغْتَ مِنَ الْقِرَاءَةِ فِي

په هر يوه ركعت كي الحمدلله او يو سورت وايه كله چي د قرائت څخه فارغ سې

أَوَّلِ رَكْعَةٍ وَأَنْتَ قَائِمٌ قُلْتَ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ

په اول ركعت كي نو په ولاړه دا كلمات وايه : (سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ)

خَمْسَ عَشْرَةَ مَرَّةً ثُمَّ تَرْكَعُ فَتَقُولُهَا وَأَنْتَ رَاكِعٌ عَشْرًا ثُمَّ تَرْفَعُ رَأْسَكَ مِنَ

پنځلس واره بيا ركوع وكړه او په ركوع كي هم لس واره دا كلمات وايه بيا د ركوع څخه سر پورته كړه

الرُّكُوعِ فَتَقُولُهَا عَشْرًا ثُمَّ تَهْوِي سَاجِدًا فَتَقُولُهَا وَأَنْتَ سَاجِدٌ عَشْرًا ثُمَّ

او لس واره دغه كلمات وايه بيا سجده وكړه او د سبحان ربي الاعلی وروسته لس واره دغه كلمات وايه بيا

تَرْفَعُ رَأْسَكَ مِنَ السُّجُودِ فَتَقُولُهَا عَشْرًا ثُمَّ تَسْجُدُ فَتَقُولُهَا عَشْرًا ثُمَّ

د سجدې څخه سر پورته كړه او لس واره دا كلمات وايه بيا دوهمه سجده وكړه او د سبحان

ربي الاعلى وروسته لس واره بيا دا كلمات ووايه بيا

تَرْفَعُ رَأْسَكَ فَتَقُوْلُهَا عَشْرًا فَذٰلِكَ خَمْسٌ وَسَبْعُوْنَ فِيْ كُلِّ رَكْعَةٍ تَفْعَلُ ذٰلِكَ

د سجدې څخه سر پورته کړه او لس واره دا كلمات ووايه دا ټول په هر ركعت كي پنځه اويا واره سول، په څلورو ركعتو كي داسي وكړه

فِيْ أَرْبَعِ رَكَعَاتٍ إِنِ اسْتَطَعْتَ أَنْ تُصَلِّيَهَا فِيْ كُلِّ يَوْمٍ مَرَّةً فَافْعَلْ فَإِنْ لَّمْ تَفْعَلْ

او كه ستا په وسه وي نو هره ورځ يو وار دا لمونځ كوه او كه ممكن نه وي

فَفِيْ كُلِّ جُمُعَةٍ مَرَّةً فَإِنْ لَّمْ تَفْعَلْ فَفِيْ كُلِّ شَهْرٍ مَرَّةً فَإِنْ لَّمْ تَفْعَلْ فَفِيْ كُلِّ

نو بيا د هري جمعې په ورځ دا لمونځ كوه كه دا هم ممكن نه وي نو په مياشت كي يو وار يې كوه او كه دا هم ممكن نه وي نو په

سَنَةٍ مَرَّةً فَإِنْ لَّمْ تَفْعَلْ فَفِيْ عُمُرِكَ مَرَّةً . رواه أبو داود وابن ماجه والبيهقي في الدعوات الكبير، وروى الترمذي عن أبي رافع نحوه .

كال كي يو وار يې كوه او كه دا هم ممكن نه وي نو په ټول عمر كي دا لمونځ يو وار وكړه . ابوداؤد، ابن ماجه، بيقهي او ترمذي د ابو رافع څخه هم داسي روايت كړى دى . او كه ستا په وسه وي نو هره ورځ يو وار دا لمونځ كوه او كه ممكن نه وي نو بيا د هري جمعې په ورځ دا لمونځ كوه كه دا هم ممكن نه وي نو په مياشت كي يو وار يې كوه او كه دا هم ممكن نه وي نو په كال كي يو وار يې كوه او كه دا هم ممكن نه وي نو په ټول عمر كي دا لمونځ يو وار وكړه . ابوداؤد، ابن ماجه، بيقهي او ترمذي د ابو رافع څخه هم داسي روايت كړى دى .

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\۶۷ – ۶۸، رقم: ۱۲۹۷، وابن ماجه ۱\۴۴۲، رقم: ۱۳۸۶.

تشريح : ايا تا د لسو عادتونو خاوند جوړ كړم ؟: د دې مطلب دادى چي تا ته به داسي شيان در وښيم كه ته هغه غوره كړې نو ستا لس ډوله ګناوي به و بخښل سي كومي چي په حديث كي ذكر سوي دي، د ځينو حضراتو قول دادى چي د لسو عادتونو څخه مراد په دغه لمانځه كي د قيام (ولاړي) پنځلس واره تسبيح ويلو څخه پرته په نورو حالتو كي لس لس واره ويل پكار دي.

په حديث كي د لفظ علانيه څخه وروسته عشر خصال الفاظ په مشكوة كي ذكر سوي نه دي مگر په اصول كي موجود دي په حسن حسين كي هم دا الفاظ نقل سوي دي ځكه طيبي رحمة الله عليه ليكلي دي چي د سياق حديث له كبله دا ويل زيات مناسب دي چي د لسو عادتونو څخه مراد دا شيان دي :

اول : څلور ركعته لمونځ كول، دويم: په هر ركعت كي سورة فاتحه ويل، دريم: د سورة فاتحې سره يو بل سورة ويل، څلورم: د قيام په حالت كي پنځلس واره تسبيحات ويل، پنځم: دا تسبيحات په ركوع كي لس واره ويل، شپږم: دا تسبيحات په قومه كي لس واره ويل، اووم: دا تسبيحات په سجده كي لس لس واره ويل، اتم: د دې تسبيحاتو لس واره په ناسته كي ويل، نهم: د دغه تسبيحاتو لس واره په سجده كي ويل، لسم : ددغه تسبيحاتو لس واره په جلسه استراحت كي ويل .

د دې روايت څخه خو دا معلوميږي چي په قيام كي د قرائت وروسته پنځلس واره دي دا تسبيح وويل سي همداسي د دې روايت څخه دا هم معلوميږي چي د دويمي سجدې څخه په راپورته كېدو سره دي هم دا تسبيح وويل سي، كله چي موږ په ابتدايي باب كي دا طريقه نقل كړې ده چي د قيام په حالت كي د سبحانک اللهم وروسته پنځلس واره دي وويل سي بيا د قرائت وروسته دي لس وراه تسبيح وويل سي او د دويمي سجدې څخه د راپورته كېدو وروسته د تسبيح د ويلو ذكر نه دی كړی نو دا دواړې طريقې په بيلو بيلو روايتونو كي ذكر دي بيا دا چي په دواړو طريقو كي د تسبيح په شمېر كي څه فرق نسته يوازې د ويلو په وخت كي فرق ځكه اختيار كړل سوی دی چي په دغه دواړو طريقو كي چي كومه طريقه غواړي هغه دي اختياره كړل سي او غوره داده چي كله د يوې كله د بلې طريقې سره سم تسبيحات وويل سي چي په قعدو كي دا تسبيحات بخلاف د نورو اركانو د التحيات مخكي ويل كيږي .

د ابن عباس ﷺ څخه نقل دي چي په لمانځه كي دي دا سورتونه وويل سي الهاكم التكاثر، والعصر، قل يا ايها الكافرون ، قل هو الله احد،په ځيني روايتونو كي اذا زلزلت الارض، والعاديات ، اذا جاء نصرالله الفتح او سورة اخلاص ويل هم نقل دي .

جلال الدين سيوطي رحمة الله عليه د امام احمد رحمة الله عليه څخه دا نقل كړی دی چي د تسبيح په لمانځه كي د سلام گرځولو څخه مخكي دادعا كول هم پكار ده :

اللهم اني اسئلك التوفيق اهل الهدى واعمال اهل اليقين و من اصحة اهل التوبة وعزم اهل الصبر

وجد اهل الخشية وطلب اهل الرغبة وتعبد اهل الورع و عرفان اهل العلم حتى اكفاك، اللهم اني اسئلك مخافة تحجزني عن معاصيك و حتى اعمل بطاعتك عملا استحق به رضاءك و حتى اناصحك بالتوبة خوفا منك و حتى اخلص لك النصيحة حياء منك و حتى اتوكل عليك في الامور كلها و حسن ظن بك سبحان خالق النور .

ژباړه : اې الله ! زه ستا څخه غواړم د اهل هدايت په ډول توفيق د اهل يقين په ډول اعمال د اهل توبه په ډول خالص توبه ، د اهل صبر په ډول پوخوالی، د اهل حيثيت په ډول سخت محنت، د طالبين حق په ډول طلب، د پرهيزګار په ډول عبادت او د اهل په ډول معرفت ، تر دې چي زه ستا د ذات څخه بيره پيل کړم ، اې الله ! زه ستا څخه د خوف غوښتونکی يم چي ما ستا د نافرمانو څخه منعه کړي تر دې چي زه ستا د فرمانبرداری او رضا هغه عمل پيل کړم کوم چي ما ستا د رضا مستحق وګرځوي او ستا د خوف څخه ريښتونې توبه وباسم تر دې چي ستاپر ذات باندې په ښه ګمان لرلو سره په ټولو کارونو کي ستا پر ذات باندي باور کول پيل کړم او اې نور پيدا کونکې ! ته د هر عيب څخه پاک يې ،

د دغه لمانځه د فضيلت په باره کي عبدالعزيز (ابن داؤد) رحمة الله عليه ليکي چي کوم سړی په جنت کي داخلېدل غواړي نو هغه دي د تسبيح لمونځ پر ځان باندي لازم وګرځوي .

ابو عثمان زاهد رحمة الله عليه فرمايلي دي چي د مصيبت ، پرېشانی، غم او حزن ليري کولو لپاره د دغه لمانځه څخه پرته هيڅ شی نه دی ترلاسه سوی يعني د تسبيح د لمونځ په کولو سره دا ټولي پرېشانئ او غمونه وغيره ختميږي د دغه لمانځه د ستر فضيلتونو سره سم اکثرو امامانو او بزرګانو دا لمونځ کوئ، د جمعې په ورځ د زوال وروسته د دغه لمانځه کول مستحب دي که په دغه لمانځه کي د سجده سهو ضرورت پېښ سي نو په سجده سهو کي دننه دي دا تسبيحات نه وايي ځکه چي بيا د تسبيحاتو مقدار تر درو سوو زياتيږي کومو مسلمانانو ته چي الله تعالی د خپل عبادت او اطاعت توفيق ورکړی دی او هغوی د خير د عمل کولو په سعادت سره نازول سوي دي د هغوی لپاره د دې لمانځه کولو په اړه د اعتدال درجه داده چي دا لمونځ هره جمعه کوي د حضرت عبدالله ابن عباس ﷠ پر دې عمل وو چي هغه به هره جمعه د زوال وروسته دا لمونځ کوی او هغه سورتونه به يې به پکښي ويل کوم چي مخکي نقل سوي دي .

د قيامت په ورځ د لمانځه پوښتنه

﴿۱۲۵۳﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي

إِنَّ أَوَّلَ مَا يُحَاسَبُ بِهِ الْعَبْدُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ عَمَلِهِ صَلاَتُهُ فَإِنْ صَلُحَتْ

د قيامت په ورځ په اعمالو کي تر ټولو ترمخه چي د کوم عمل سوال کيږي هغه لمونځ دی که لمونځ سم ادا سوی وي

فَقَدْ أَفْلَحَ وَأَنْجَحَ وَإِنْ فَسَدَتْ فَقَدْ خَابَ وَخَسِرَ فَإِنِ انْتَقَصَ مِنْ فَرِيْضَتِهِ

نو خلاصون به تر لاسه کړي او نجات به پيدا کړي او که سم نه وي لمونځ دده نو نا اميدي ده بيا که چيري په فرض لمانځه کي څه کمي وي

شَيْءٌ قَالَ الرَّبُّ تَبَارَكَ وَتَعَالَى انْظُرُوْا هَلْ لِعَبْدِيْ مِنْ تَطَوُّعٍ؟ فَيُكَمَّلُ بِهَا مَا

نو الله تعالى ملائكو ته حكم وركړي چي زما د بنده په سنت او نفلو کي وګورئ او

انْتَقَصَ مِنَ الْفَرِيْضَةِ ثُمَّ يَكُوْنُ سَائِرَ عَمَلِهِ عَلَى ذٰلِكَ . وفي رواية ثُمَّ الزَّكَاةُ

په فرضو کي چي څومره کمي ده هغه په پوره کړئ بيا داسي نور اعمال حسابيږي . او په يوه روايت کي دي چي بيا زکوة

مِثْلَ ذٰلِكَ ثُمَّ تُؤْخَذُ الْأَعْمَالُ عَلَى حَسَبِ ذٰلِكَ . رواه أبو داود. ورواه أحمد عن رجل

همدارنګه بيا نور اعمال همدارنګه حسابيږي . ابوداؤد، امام احمد دا حديث د غير معروف سړي څخه روايت کړی دی .

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\۵۴۰، رقم: ۸۶۴ و ۸۶۶.

تشريح: په يو بل روايت کي ښودل سوي ده چي د قيامت په ورځ به د بنده څخه تر ټولو وړاندي چي د کوم شي په باره کي پوښتنه کيږي هغه به وينه وي او دلته فرمايل سوي دي تر ټولو مخکي به د لمانځه حساب کيږي نو په دغه دواړو اياتو کي تطبيق پيدا کيږي چي د الله تعالى په حقوقو کي تر ټولو مخکي د ويني حساب اخيستل کيږي.

